بسم الله الرحمن الرحیم

تفسیر دیوبندی

مرتب

الحاج مولوی عبد الحنان

فاضل جامعه علوم اسلامیه بنوری تاؤن

معاون

احمد یاسین

[illegible]

مکتبه حبیبیه

کندهار

١

تفسیر دیوبندی

هذا بيان للنّاس وهدی ورحمة وموعظة للمتقين

تفسير ديوبندي

ترجمه اوتفسير دبيان القران، معارف القران ، تعليم القران اوتفسيركابلي ، څخه منتخب

مرتب: الحاج مولوی عبد الحنان صاحب مدظلهم

فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري ټاون

مهتمم مدرسه عربيه اسلاميه جامع مسجد رحماني

معاون: احمد یاسین عفا الله عنه

خلیفه مجاز

حضرت حاجی احمد الله صاحب دامت برکاتهم عالیه

مدرسه عربيه اسلاميه جامع مسجد رحماني لښکرګاه، هلمند

www.jamairahmani.org

انتساب

دخپل مشفق اومحترم استاذبلکه استاذ الاساتذه امام المجاهدین شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتي نظام الدین شامزی شهید رحمه الله پر نامه هغه شخصیت چي خپل دعمر قیمتي سرمایه یي دالله جل جلاله ددین دترویج اوتبلیغ په هرمیدان کي لکه جهاد ، تبلیغ ، تدریس ، افتاء اوتصنیف اوتالیف کي مصرف اودژوند آخري لمحاتي یي پر شهادت غوندي مقام باندي پای ته ورسیدې روح دي تل اباد وي همداشان دخپل گران او مشفق اوپالونکي پلارالحاج ډاکټر مولوي مختاراحمدصاحب په خدمت کي دکم ذات چي داحقر دپاره دیو مثالي پلار اووالد حیثیت لري کم چي زما په دیني تربیت کي تر خپله وسه پوري ځاني اومالي قرباني ورکړي دی ده اوهمداشان دخپلو ټولواستاذانوپه خدمت کي پیش کوم کومو چي زما ظاهري او باطني تربیه راکړیده اوهمداشان دخپل مخلص ملگري او همکار احمد یاسین صاحب په خدمت کي او دغه ادنی خدمت ددغو اشخاصو داجازت څخه بغیر ددوی په خدمت کي پیش کوم الله جل جلاله دي قبول اومقبول وگرځوي. آمین:

www.jamairahmani.org

روز قیامت هرکسی باخویش دارد نامه
من نیز حاضر شوم تفسیر قران دربغل

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله الذی نزّل الفرقان علی عبده ورسوله النذیر وزیّن القرآن بالمعنی والتفسیر وجعل لهذا العمل المبارک من العلمآء الجمّ الغفیر والصلوة والسلام علی من جآء الی عباد الله بالتبشیر وعلی آله وصحبه الذین قاموا لنصرة الدین المنیر وفازوا فی هذا العمل بالفوز الکبیر : امّا بعد فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم :(ولقد یسّر نا القرآن للذکر فهل من مدّکر) وقال النبیّ ﷺ خیرکم من تعلّم القرآن وعلّمه الحدیث

عزتمندو مسلمانانو ورونړو دغه موجوده تفسیر چي ستاسي په لاسو کښي دی مسمی په **تفسیر دیوبندي** سره داځه نوی او نااشناتفسیر نه دی بلکي دا یو انتخاب ددیوبندي علماوو دتفاسیرو څخه : دبنده په زړه او دماغ کي ډېره وخته داسي یو فکر راګرځیدی چي کاشکي په ساده اوآسانه افغانی پښتو کي یوداسي خدمت قرآن کریم ته سوی وای چي دهرلفظ ترجمه په جدول اوخانه کي ورسره بنده وای او بیا لاندي روانه ترجمه په څه وضاحت ورسره وای او دتلاوت دپاره یي جلا حروف اورسم الخط دقرآن کریم ورسره وای اوبیا ددغو شیانو سره سره یي پر بیاض باندي یوه حاشیه دتفسیري فوائدو په عنوان هم ورسره مل وای خودایوه تمنا دوخته څخه وه او الله ﷻ هغه ذات دی چي هغه ته هیڅ شی مشکل نه دی هم ددغه الله ﷻ توفیق وو چي دا تمنا آخر کار په عملي جذبه سره بدله سوه او دا کار تر یوه حده دغه ځای ته ورسیدی چي اوس یي تاسي وینی او داصرف یوازی دیوه کس کار نه وو نو هغه وو چي پسله ډیري مودي مي یو مخلص او خوږ او په کار پوه هوښیار ملګری پیدا کړي جناب احمد یاسین صاحب چي ددغه ترجمي او تفسیر شریف په لیکلو کي زما سره دومره زیاته او پیاوړي نه ستړي کیدونکي ملګرتیا وکړه که یي چیري سره پر تله کړی نو ترمازیات کار د دغه تفسیرشریف په لیکلو کي ده تر سره کړی دی الله ﷻ دي دده په عمر، عمل ،اولاد ،اودنیا ،کي بېشمیره برکتونه کښېږدي : مخکي هم ددغه تفسیر آخره سیپاره موږ علیحده چاپ کړې وه او اوس مو هغه آخري سیپاره ور سره یوځای چاپ کړه نورو هم ډیرودوستانوزموږ سره په دغه دخیر په کار او دقرآن کریم په خدمت کي خصوصاً په چاپ کي مالي او ځاني مرستي کړي دي الله ﷻ دي ورته بې انتها اجرونه ورکړی.

دتفسیر دیوبندي یو څو خصوصیات او امتیازات

اوله لیکه اوکرښه : چي په ژړ رنګ ده او په غټ رسم الخط سره لیکل سویده داد قرآن کریم دتلاوت دپاره ده : دوهمه لیکه او کرښه : چي هره جمله یا کلمه دقرآن کریم په خانه کښي په تور رنګ لیکل سوي اوبنده ده دا مو دمعنی اوترجمي دهوسایي لپاره په خانه کي رابندي کړي. دریمه لیکه یا کرښه : چي هغه هم په رنګ سره توره ده او په خانه کښي بنده ده دالفظي ترجمه ده هر لفظ اودهغه معنی مو په خانه کي دآسانتیا لپاره په خانه کي بنده کړیده چي بیا پر ویونکي باندي ترجمه ګډه وډه نه سي. څلورمه لیکه یا کرښه : چي په سره رنګ لیکل

www.jamairahmani.org

سویده دادایاتونو روانه او آسانه او وضاحت والا ترجمه ده چي په آسانی سره دآیت یا دجملې مطلب ځيني تر لاسه کيږي. پنځم : پر بیاض باندي او دصفحې پریوه طرف باندي مختصر تفسیر لیکل سوی دی دبعضي جملو یا دځینو ایآتونو یعني دومره اندازه تفسیر ي فوائد چي دهغه گنجایش په حاشیه کي وو لکه دځیني ایاتونو شان نزول ، یا فضیلت ، یا مهمه فائده او مطلب وغیره .

دتفسیر دیوبندي ماخذ اومرجع یا هغه تفاسیر چي دده په جوړولو کي اخیستل ځیني سوي وي

دتفسیر دیوبندي په جوړولو اولیکلو کي مو ددغه تفاسیرو او تراجمو څخه اخذ کړی دی: **تفسیر کابلي** چي په اردو کي په تفسیر عثماني سره شهرت لري ترجمه یې دمولانا محمود الحسن دیوبندي رَحِمَهُ الله ده توری او ترجمه اوروانه ترجمه موټوله دتفسیر کابلي څخه رااخیستي ده او ځیني ځایونه چي ډیر کم دي هغه مو بیا د **تعلیم القران** چي دډاکټر محمد دین صاحب دی دهغه څخه اخذ کړی دی او ځیني ځایونه مو د **بیان القران** څخه اخذ کړی دی چي دحضرت مولانا اشرف علی تهانوي صاحب رَحِمَهُ الله تفسیر او ترجمه دی داخو دترجمې خبره سوه : اوپاته سوه دبیاض حاشیه یا تفسیري فوائد مو ټوله د **معارف القران** څخه چي دحضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رَحِمَهُ الله مقبول او معتمد اومشهور بین العلماء والعوام تفسیر دی دهغه څخه رااخیستي دي:

نوم موولي تفسیر دیوبندي پر کښیښووی ؟

تاسي ته اوس تیره سول چي دکومو تراجمو یا تفاسیر وڅخه موږ په دغه ترجمه او تفسیر کي اخذ کړی دی هغه ټوله دهغه علماوو دي کم چي په مذهب او مشرب سره احناف دي او عقیدةً ددیوبندي مسلک سره تعلق لري او دادوخت علماء عاملین بزرگان اوشیخان اومقبول صاحب نسبت والا کسان تیر سوي دي نو موديوي ښې نیک فالی داخیستلو په خاطر پر دغه تفسیر باندي دتفسیر دیوبندي نوم کښیښووی او دالله ﷻ څخه مو داارزوا و دعا ده لکه څنگه چي الله ﷻ ددغه علماوو وخدمتونو او تصانیفو اوعلومو ته قبولیت ورکړی وو همداشان دي الله ﷻ زموږ دغه ادنی کوښښ ته هم داسي قبولیت ورپه نصیب کړي هم په دنیا کي او هم په آخرت کي اودغه کوشش دي الله ﷻ دخپل رضا اوخوښي سبب وگرځوي آمین ثمّ آمین.

یو عاجزانه درخواست

بنده ضعیف او ملگرویي ترخپل بندگي وسعت او طاقته پوري پوره پوره کوشش کړی دی چي څه خطا که لفظي وي او که معنوي وي هغه اصلاح کړي اوځو واره مو ټوله ترجمه او تفسیر او رسم الخط دقرآن کریم تر نظر ایستلی دی خو بیا هم انسان فطرة او خلقة کمزوری دی که چیري تاسي ته خدا نخواسته څه لفظي خطا یا معنوي خطا په نظر درته راغله چي ځیني وختونه دچاپ یا کمپیوټري سبب او مشکل دوجي پیښیږي نو دهغې داصلاح کوشش وکړی او زموږ سره پر لاندي لیکل سوو شمیرو باندي رابطه وکړی چي په آینده چاپ کي یې اصلاح کړو. والسلام

www.jamairahmani.org

يو اهم خبرداری

موږ مخکي داخبره ذکر کړل چي دځلورو معتمدو تفاسيرو څخه موږ په دغه ترجمه او تفسير کي اخذ کړی دی : **بيـان القـران** دمولانـا اشـرف علـي تهـانوي رحمه الله .**معـارف القـران** دمفتـي محمـد شـفيع صـاحب رحمه الله **تفسير کابلی** دمولانا محمود الحسن ديو بندي رحمه الله او **تعليم القران** دداکتر محمد دين صاحب : که چيري چاته ديوې جملې يا لفظ په معنی او ترجمه کي څه اشکال ورپيدا کيدی نو دې دجذباتو او احساساتو څخه کار نه اخلي موجوده تفاسير اوتراجمو ته دې رجوع وکړي او بايد خپله تسلي حاصله کړي او که ددغو تراجمو اوتفاسيرو دتاييد باوجود هم تسلي نه سوه ورته حاصله نو والی الله المشتکی ځکه چي موږ دخپل ځان اوطرف څخه کمه معنی اوترجمه نه ده په کښي کړي ترڅه وخته چي يي تاييد ددغه تفاسيرواوتراجمو څخه نه وي سوی. والله هوالهادی وهويهدی السبيل .

حـرّره العبد الضـعيف عبـد الحنان خـادم المدرسـة العربيـة الاسـلامية هلمنـد
لشکرکاه سابقاً وخطيب جامع مسجد العزيز کندهار حالاً
١٤٣٢/ ١٧/٩ رمضان المبارک ليلة اليوم الخميس

داړيکوشميره : ٠٧٥٣٠١١٢٩٠ --- ٠٧٩٦٨١٦١٩٣ ---- ٠٧٠٤٩٦٢١٦٣

يو څه د احمد ياسين له طرفه

عزتمندو ويونکو دمذکوره تفسير شريف دکمپيوټرچاري چي محترم **الحاج مولوي عبد الحنان صاحب** يي نسبت وما ناچيز بنده ته کړی دی په دی کښی زه دالله جل جلاله څخه ډير شکر گزاريم چي ، دداسی عظمت خاوند شخصيت چي دخپل عمرتوله حصه يئ دالله جل جلاله ددين په زده کړه ، تدريس، تبليغ، تصنيفاتو او داسلام ددين د خدمت په چا رو کښی تيرکړی دی، دداسی شخصيت سره د تعلق باعث ؤ چي ما ته الله جل جلاله دا توان راکړی چی زه پر سر دمځکی د قرآن کريم مقدس کتاب خدمت وکړم الله جل جلاله دی د الحاج مولوی عبدالحنان صاحب په علم، عمر او عمل کښی پوره خير او برکت او فيوضات ور نصيب کړی، داپه حقيقت کښي زما کمال نه دی، بلکه دالله جل جلاله فضل وکرم او زما د والد **قاری احمد جان نظامی صاحب** هغه شخصيت چی زما په ښوونه ، روزنه او تربيت کښی پوره ونډه لری او هم دارنگه زما د شيخ اومرشد حضرت صوفي **الحـاج احمـد الله صـاحب** دامت برکاته چي دحضرت اقدس مولانا شاه **حکيم محمـد اختـر صـاحب** دامت برکاتـه خليفـه مجاز دی د داسی عزتمند ، مشفق شخصيت چي دخپل ژوند يو حصه يئ داسلام دين ديراختيا ، تبليغ ،اصلاحی بياناتو او وخپل اهل صحبتو ته د ملغلرو غوندو په اصلاحی مشورو کښی تير کړی دی دهغوی دعاوی ، فيض اوبرکت دی، دداسی شخصيت دصحبت باعث ؤ چی الله جل جلاله ماته دداسی خدمت توان راکړی، او داخبره هم دذکر کولو قابله گنم چی زما مشر ورور اوماته قابل د احترام جناب **محمود جان نظامی** هم زما سره په دغه مقدس خدمت کښی په پوره جذبه او اخلاص و همدردئ سره کومک کړی دئ، الله جل جلاله دي زموږ دټولو څخه دغه کوشش او عمل قبول او مقبول وگرځوی او په آينده کښی دی هم موږ ته دداسی محبوبو اعمالو او داسلام د دين او دالله جل جلاله دکتاب او دنبی کريم ﷺ دتعليماتو دخدمت کولو توفيق دژوند تر آخيری سلگئ پوری رانصيب کړی. آمين

www.jamairahmani.org

دقران کريم په اړه اهم معلومات

۱ دتفسير شريف پيژندنه او دهغه دماخذمختصر بيان ۲ دتلاوت اداب

۳ دځينوسورتونوفضائل ۴ قراني معلومات

بسم الله الرحمن الرحيم

امابعد فقدقال الله تعالی فی القرآن المجيد والفرقان الحميد انزل الله عليک الکتاب والحکمة وعلّمک مالم تکن تعلم وکان فضل الله عليک عظيماً (سورة النساء) ۱۱۳

وعن عثمان قال قال رسول الله ﷺ خيرکم من تعلم القرآن وعلّمه (رواه البخاری)

دتفسير شريف علم

په عربي ژبه کي دتفسير لفظي معنی ده: ښکاره کول. او په اصطلاح کي علم تفسير هغه علم ته وايي په کم کي چي دقرآن کريم معنی بيان کړه کيږي او احکام او حکمتونه يي په ډاګه واضح کړل کيږي . البرهان . په قرآن کريم کي نبي کريم ﷺ ته په خطاب کولو سره ارشاد دی. وانزلنا اليک الذکر لتبيّن للنّاس ما نزّل اليهم : او موږ پر تا نازل کړی دی قرآن ددي دپاره چي ته خلګو ته هغه خبري په وضاحت سره بيان کړې کومي چي دوی ته نازلي کړی سوي دي :

علم تفسير دي امّت څنګه محفوظ کړی ؟ په دي لاره کي دوی څنګه تکليفونه برداشت کړه ؟ او داکوشش تر څو مرحلو تير سو ؟

ددي ډير اوږد او زړه کښوونکی تاريخ دی چي دايي ځای نه دی دلته په لنډه توګه سره داښوول مقصود دي چي دقرآن کريم دتفسير ماخذ (يعني هغه ځايونه چي دهغو څخه تفسير رااخيستل کيږي) کوم کوم دي ؟ او پر علم تفسير چي کوم بي شميره کتابونه په هره ژبه کي پيدا کيږي دوی دقرآن کريم په تشريح کي دکومو سرچينو څخه استفاده کړې ده دغه سرچيني ټولي شپږ ۶ دي .

۱ اولنی ماخذقران کريم : دعلم تفسيراولنی ماخذ قرآن کريم دی ځکه چي داسي ډير کيږي چي په يوه آيت کي څه خبره مجمله او تشريح طلب وي نو دقرآن کريم بل آيت ددي مفهوم واضح کړي مثلاً دسورت فاتحي په دعا کي داجمله موجوده ده چي. صراط الذين انعمت عليهم يعني موږ ته دهغو خلګو دلاري هدايت وکي پر کوموچي ستا انعام وسو : اوس دلته داخبره واضحه نه ده چي هغه کوم خلګ دي پر کومو چي الله ﷻ انعام وفرمايي ليکن په يوه بل آيت کي دا په واضح ډول سره متعين کړه سوه لکه چي ارشاد دی : فاولئک مع الذين انعم الله عليهم من النبيين والصديقين والشهدآء والصالحين : داهغه خلګ دي پر کومو چي الله ﷻ انعام کړی دی يعني انبيآء ، صديقين ، شهدآء ، او صالحين خلګ : لکه چي مفسرين کرام چي کله ديوه آيت تفسير

www.jamairahmani.org

کوي نو ترټولو اول داګوري چي ددې آيت تفسير په خپله په قرآن کريم کي بل ځای سته او که نه ؟ که موجود وي نو تر ټولو اول دوی دغه اختيار وي . **معارف القران ج ۱ ص۳۸ مکتبه حبيبيه**

۲دوهم ماخذ حديث شريف : حديث دنبي کريم ﷺ اقوالو او افعالوته وايي او دا مخکي بيان سوي دي چي الله ﷻ دقرآن کريم سره ځکه دی ﷺ مبعوث کړی وو چي خلګو ته دقرآن کريم تشريح ښکار ښکاره بيان کړي لکه چي ده ﷺ په خپل قول او عمل دواړو سره دغه فرض په ښه شان سره پوره کړی او په حقيقت کي دنبي کريم ﷺ پوره ژوند مبارک دقرآن کريم عملي تفسير دی په دې وجه مفسرينو په قرآن کريم دپوهيدو دپاره په دوهمه درجه کي ترټولو زيات زور پر حديث ورکړی دی او دحديثو په رڼا کي يې دقرآن کريم معنى متعينه کړيده الخ .

۳دريم ماخذ دصحابه کرامو اقوال : صحابه کرامو رضي الله عنهم دقرآن کريم تعليم سيدا په سيدا دنبي کريم ﷺ څخه حاصل کړی وو او پر دې سربيره دوحي دنزول په وخت کي دوی په خپله موجود وه په دې وجه دکومو آيتونو تفسير چي دقرآن او حديث څخه نسي معلوميدای په دغو کي تر ټولو زيات اهميت دصحابه کرامو رضي الله عنهم واقوالوته حاصل دی البته که ديوه آيت په تفسير کي دصحابه کرامو رضي الله عنهم اقوال مختلف وي نو وروسته مفسرين بيا دنورو دليلونو په رڼا کي وه يوه ته پر بل باندي ترجيح ورکوي چي هغه خپل ځان ته اصول او قواعد لري :

څلورم ماخذ دتابعينو رحمة الله عليهم اقوال : دصحابه کرامو رضي الله عنهم څخه وروسته بيا دتابعينورحمة الله عليهم درجه راځي دا هغه حضرات دي کومو چي دقرآن کريم تفسير دصحابه کرامو رضي الله عنهم څخه زده کړی دی په دې وجه ددوی اقوال هم په علم تفسير کي دلوی اهميت لرونکي دي که څه هم په دې باره کي دعلماوو اختلاف دی چي ده تابعينورحمة الله عليهم اقوال په تفسير کي حجت دي که نه دي ؟ ليکن دا اهميت څخه يې انکار نه سي کيدای : الاتقان ، **معارف القران ج ۱ ص۴۱ مکتبه حبيبيه**

پنځم ماخذ دعربو لغت : قرآن کريم کله چي په عربي ژبه کي نازل سوی دی په دې وجه دقرآن کريم دتفسير دپاره په دې ژبه مکمل عبور حاصلول ضروري دي . دقرآن کريم ډير اياتونه داسي دي چي دهغوتر شا کوم شان نزول يا څه بله فقهي يا کلامي مسئله نه وي . په دې وجه ددغو په تفسير کي دنبي کريم ﷺ ياصحابه کرامو رضي الله عنهم يا تابعينو رحمة الله عليهم اقوال منقول نه وي ځکه نو ددغه اياتونودتفسير ذريعه يوازي دعربو لغت وي او دلغت پر بنياد باندي ددغو تشريح کيدای سي الخ .

شپږم ماخذ تدبّراو استنباط : دتفسير شريف آخري ماخذ تدبر او استنباط دی دقرآن کريم نکتې او اسرار يو داسي بې پايانه درياب دی چي هيڅ طرف او پای يې نسته ځکه نو چي کوم سړي ته الله ﷻ په اسلامي علومو کي بصيرت ورکړی وي هغه چي څومره په دې کي غور او فکرکوي دغومره په دې کي نوي رازونه او نکتې مخ ته راځي ځکه نو مفسرينوکرامو رحمة الله عليهم دخپل تدبر نتيجې هم په خپلو تفسيرونو کي بيان کړي دي . ليکن دارازونه او نکتې هغه وخت دقبليدو قابلې دي کله چي ددغه لوړو ذکر سوو ماخذونوسره يې ټکر او اختلاف نه وي او يا ديوبل شرعي اصول سره په ټکر کي نه وي واقع الخ تفصيل په معارف القرآن کي وګوری . الاتقان ، **معارف القران ج ۱ ص۴۱ مکتبه حبيبيه**

www.jamairahmani.org

فائده : داسرائيلي روایاتو حکم په حواله دتفاسیرو

اسرآئلیات هغه روایتونو ته وايي کم چي داهل کتابو یهودواو نصاراوو څخه موږ ته رارسیدلي دي په اوله زمانه کي دمفسرینورحمة الله علیهم عادت وو چي دوی به تر یوه آیت لاندي هر هغه قسم روایتونه لیکل کوم چي به دوی ته په سند سره رسیدلي وه په دي کي ډیر روایتونه داسرآئلیاتوهم وه په دي وجه ددغو دحقیقت څخه خبریدل هم ضروري دي : ددي حقیقت دادی چي ځینو اصحابو رضي الله عنهم او تابعینو رحمة الله علیهم او ل داهل کتابو دمذهب سره تعلق ساتی بیا چي کله دوی په اسلام باندي مشرف سول او دقرآن کریم تعلیم يي حاصل کړی نو دوی ته په قرآن کریم کي دتیرو امتونوډیر هغه واقعات په نظر راغلل کوم چي دوی دتیرو مذهبونو په کتابونو کي ویلي وه ځکه نو هغو به دقرآني واقعاتو په سلسله کي هغه تفصیلونه مسلمانانو ته بیانول کوم چي به دوی دخپل مذهب په کتابونو کي لیدلي وه دغه داسرآئلیاتو په نامه سره دتفسیر په کتابونو کي داخل سوي دي :

حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه لیکلي دي چي داسرآئلیاتو دري قسمونه دي : ١اول : هغه روایتونه دي دکومو صداقت چي په قرآن ،سنت او نورو دلائلو سره ثابت دی مثلا دفرعون غرقیدل او دحضرت موسی عليه السلام کوه طور ته تشریف وړل اونور .

٢دوهم : هغه روایتونه دي دکومو دروغوالی چي په قرآن او سنت او نورو دلائلو سره ثابت دی مثلا په اسرآئیلي روایتونوکي دا ذکر دي چي حضرت سلیمان عليه السلام په خپل آخري عمر کي العیاذ بالله مرتد سوی وو ددي تردید په قرآن کریم سره ثابت دی : وما کفر سلیمان ولکنّ الشیاطین کفروا : یعني سلیمان عليه السلام نه وو کافرسوی شیطانان کافران سوي وه اویانور داسي خرافات الخ .

٣دریم : هغه روایتونه دي دکومو په باره کي چي قرآن کریم او سنت او نور شرعي دلیلونه پته خوله دي لکه دتورات احکام او نور. دداسي روایتونو په باره کي دنبي کریم صلى الله عليه وسلم تعلیم دادی چي ددي په باره کي سکوت اختیاره کړی سي نه دي تکذیب وسي نه دي تصدیق وسي . اختلاف دعلماوو په دغه کي دی چي دداسي روایتونو نقل کول جائز دي که یا ؟ ابن کثیر رحمة الله علیه لیکلي دي چي نقل کول يي جائز دي خو فائده نسته په کښي ځکه چي په شرعي اعتبار سره دغه حجت نه دي. مقدمه ابن کثیر الاتقان ، معارف القران ج ١ ص ٤١ مکتبه جیبیبه

مشهور تفاسیراو دهغو نومونه

١ تفسیر ابن جریر : دعلامه ابو جعفر محمد بن جریر طبري رحمة الله علیه متوفی س ٣١٠ هج تالیف دی : ٢ تفسیر ابن کثیر : دحافظ عماد الدین ابوالفدآء اسماعیل ابن کثیر دمشقي شافعي رحمة الله علیه متوفی س ٧٧٥ هج تصنیف دی :٣ تفسیر القرطبي : داد علامه ابو عبدالله محمد ابن احمد ابن ابي بکر فرح القرطبي رحمة الله علیه متوفی س ٦٧١ هج تصنیف دی :٤ تفسیر کبیر : داد امام فخر الدین رازي رحمة الله علیه متوفی س ٦٠٦ هج تصنیف دی :٥ تفسیرالبحر المحیط : داامام ابوبکر جصاص رازي رحمة الله علیه متوفی

www.jamairahmani.org

س ۳۷۰ هج تصنیف دی :۶ تفسیر الدر المنثور : داد علامه جلال الدین سیوطي رحمة الله علیه متوفی س ۹۱۱ ه تصنیف دی :۷ تفسیر مظهري : داد علامه قاضي ثنآء الله صاحب پاني پتي رحمة الله علیه متوفی ۱۲۲۵هج تصنیف دی :۸ روح المعاني : داد بغداد دآخري دور دمشهور غټ عالم علامه محمود آلوسي رحمة الله علیه متوفی ۱۲۷۰ هج تصنیف دی الخ : ، معارف القران ج ۱ ص ۴۵ مکتبه حبیبیه

دقرآن مجید دتلاوت ادبونه

آداب جمع د ادب ده ادب وښه حالت او ښه عادت ته ویل کیږي قرآن مجید ځان لره خاص ادبونه لري که ده هغه ادبو سره دقرآن مجید تلاوت سم وکړل سي نو هغه ثواب به دتلاوت کوونکي په برخه کیږي کم چي په حدیثو کښي راغلی دی، هسي خو دتلاوت ادبونه ډیر دي خو موږ دلته یو څو اهم ادبونه وخیلو مسلمانانو متیدونو وروڼو ته وړاندي کوو خدای پاک ﷻ دي دعملي کولو توفیق موږ او تاسو ټولو ته را په برخه کړي.

(۱) دمخارجو اوصفاتو زده کړه (۲) په ښه او اوازسره ویل (۳) خاص دالله ﷻ درضا لپاره ویل ریا به نه وي پکښي (۴) په معنی کي فکر کول (۵) اودس ورته کول (۶) مسواک ورته وهل (۷) عطر ورته پاشل (۸) دارږمی په وخت کي تلاوت درول (۹) په عام بازارونو او دجاهلانو په مجلسو کي نه ویل (۱۰) دتلاوت په منځ کی دخندا اوخبرو ځخه ځان ساتل (۱۱) پاکه او ښه جامه ورته په تن کول (۱۲) په ډیري عاجزی سره مخ پرقبله ورته کښینستل (۱۳) مخکي تر قرأت اعوذبالله او بسم الله په درمیانه اواز کښی ویل (۱۴) که چیري دلوړ اواز دتلاوت کولو څخه وچاته تکلیف رسیدی هلته قرار ویل (۱۵) دتلاوت په وخت کی داخیال پیدا کول چی زه قرآن په الله اوروم که دا نه وي دومره فکر خو باید ووهي چی الله ﷻ زما تلاوت اوري (۱۶) دسورة تین په اخرکي (بلی وانا علی ذالک من الشاهدین) (۱۷) دسورت مرسلات په اخرکي امنّا بالله ویل (۱۸) دفبای الاربکما تکذبان) وروسته (ولا بشی من نعمک ربنا نکذّب فلک الحمد) (۱۹) دسورت الملک په اخرکي الله رب العلمین ویل (۲۰) دوالضّحی سورت څخه بیا تر اخره پوري دهرسورت پرختمیدو باندي الله اکبر ویل (۲۱) دسجدي ایت چی کله راسي سجده کول : سجده تلاوت په ټول قرآن کریم کي دحنفي مذهب موافق څوارلس ځایه ده :

دسجده تلاوت طریقه

دسجده تلاوت طریقه داسی ده چي نیت دسجدي تلاوت کولو وکړه بیله لاسو دپورته کولو وغورځه بیا وسجدي ته ولاړسه په الله اکبرویلو سره په سجده کي دلمانځه په ډول تسبیحات ووایه بیا الله اکبر ووایه سر راپورته کړه بس سجده خلاصه سوه سلام ګرځول او التحیات ویل نه غواړي (۲۲) دتلاوت په اخرکي صدق الله العظیم ویل.
(خلاصة التجوید معلم التجوید خاتمه فصل اول)

www.jamairahmani.org

دقرآن مجيد د بعضي سورتونو فضائل

هسي خو په بعضو تفاسيروكي دهر سورت فضيلت ليكلئ دئ ليكن دصحيح احاديثو څخه دڅو شميرلو سورتو فضيلت ثابتېږي چې په لنډه توګه يې موږ لاندي په ترتيب سره درته وړاندي کوو :

دسورة بقرى او سورة ال عمران فضيلت

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل چي خپل دكورو څخه قبرونه مه جوړوی (دالله ﷻ ذكراوتلاوت پكښي كوی)بيايی وفرمايله چي بلكي په كوموكوروكي چي سورة بقره ويل كيږي دهغه څخه شيطان په تيښته ځئ ۲ رسول الله ﷺ فرمايی چي دوه روښانه سورتونه واياست(سورة بقره او سورة ال عمران) ځكه چي دا دواړه دقيامت په ورځ د دوو سائبانانو په ډول سره راځي او وه خپل ويونكي ته به دبخښي اود درجو دلوړلو لپاره دخدای پاک ﷻ په حضوركي ډيرزيات سفارش اوشفاعت كوي.

داية الكرسي شريفي فضيلت

۳په يوه حديث شريف كي راغلي دي چي كله تاسو دشپې لخوا وخپل بسترې ته دخوب لپاره ولاړسئ نوايت الكرسي وواياست كچيري داسي وكړئ نو دالله ﷻ لخوا به پرتاسو باندي يو څو كيدار وټاكل سي اوستاسی وخواته به نژدې شيطان نه راځي (بخاري شريف)اوپه بعضو احاديثوكی راغلي دي چي ايت الكرسي دټوله قرآن كريم داياتونو سردار دی (حصن حصين)

دسورة بقرې دآخري دوو اياتونو فضيلت

دسورة بقرې اخري دوه اياتونه (په دې دواړو كي چي كمي دعاګاني دي) ددې په هكله دالله پاک ﷻ داوعده ده چي له دوئ څخه ددعاءهره حصه چي تاسي وواياست الله پاک ﷻ به ددې موافق ضرورتاسي ته هغه شئ دركوي. (مسلم شريف)

دسورة يس شريف فضيلت

دحضرت عطاء بن ابی رباح رحمه الله څخه روايت دي چي چادورځي په اول كی سورة يس تلاوت كړئ دهغه ټوله حاجتونه به وړپوره كيږي (مشكوة شريف) په بل حديث شريف كي دي چي چاسورة ياسين دالله ﷻ درضا په نيت ووايه دهغه مخكني ګناهونه به بخښل كيږي لهذا خپل پرمړوباندي يې واياست(مشكوة شريف) يعني كوم كسان چي ومرګ ته نژدې وي.

www.jamairahmani.org

د سورة الواقعه فضيلت

په حديث شريف کي راغلي دي چاچي سورة واقعه د هرماښام دلمانځه وروسته تلاوت کړه پر هغه به هيڅ کله لوږه اونيستي هم رانسي . (شعب الايمان)

د سورة کهف فضيلت

دا حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل چاچي د جمعې په ورځ سورة کهف تلاوت کړئ د هغه لپاره به د دوجمعو په مينځ کی نور روښانه کيږی (الدعوات الکبير) يعنی د هغه زړه به روښانه وی.

د سورة الملک فضيلت

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دي چی ما په قرآن کريم کي يو سورة ليدلئ دئ چي د هغه ديرش اياتونه دي د غه ديوه سړي شفاعت وکړی تردي اندازې چي هغه وبخښل سو هغه سورة الملک دی. (ترمذی شريف)

د سورة الم سجده فضيلت

دا سورة چی سړی تلاوت کوي الله پاک ﷻ به هغه د قبر د عذاب څخه خلاصوي (مشکوة شريف)

د سورة الحشر اخري دري ايتونه او د هغه فضيلت

هر څوک چی دري ځله اعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم ووائی وروسته ورپسي د سورة الحشر اخري دري ايتونه ووائی نو الله پاک ﷻ د هغه لپاره اويا زره ملائکی مقرره وي چي په د غه ورځ تر ماښامه پوري وده ته درحمت دعاء کوي او که په د غه ورځ مړسو د شهيد مرتبه به الله ﷻ ورکوي او که يی ماښام داسي وکړه تر سهاره به بيا د غه وعده ورسره وی (ترمذي دارمي)

د سورة الزلزال سورة الکافرون سورة الاخلاص فضيلت

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دي چي سرورد وعالم ﷺ وفرمايله چي سورة زلزال د نيمائی قرآن سره برابر دئ او سورة قل هو الله د قرآن د دريمی سره برابر دی او سورة الکافرون د قرآن د څلورمي سره برابر دی .

(ترمذي شريف)

د سورة التکاثر فضيلت

که څوک غواړي چي دورځي د زروايتونو ثواب ترلاسه کي هغه دي يو ځل سورة الهکم التکاثر تلاوت کړي

(شعب الايمان)

www.jamairahmani.org

د سورت الفلق او سورت الناس فضیلت

دا سورتونه ویل او پرځان دمول دهرقسم ناځاپه مرض او سحرجادو تعویذ کوډو او شیطاني اثراتو څخه د ژغورني یوه لاثاني دوا ء ده دحضرت عایشي ﷺ څخه روایت دی چي هره شپه چي به کله رسول الله ﷺ بستري ته دخوب لپاره راغلئ نوسورة قل هوالله او قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذبرب الناس به یی ویل پرلاسونو به یي دم کړه بیا به یي ټوله بدن په مسح کوئ (بخاري شریف)

د ختم صحیح طریقه

دقرآن مجید دختم سنت طریقه داده چي کله سورة الناس پای ته ورسیږي نوبیرته داول څخه دقرآن مجید تلاوت تر (اولئک هم المفلحون) پوري وکړی وبس. (معلم التجوید)

دقرآن کریم دتلاوت فضایل داحادیثو په رڼا کښي

ابو هریره ﷺ فرمایی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چاچي دقرآن کریم څخه یوایات تلاوت کړی نوهغه ایات به دقیامت په ورځ دده لپاره نور اورڼاسي او چاچي غوږدقرآن کریم دایاتونو داوریدلو لپاره ونیوئ هغه ته به څونیکی لیکل کیږي. روا ه احمد و البیهقی فی شعب الایمان کنزالعمال ج ۱ ص ۵۴۳ جمع الفوایدج ۲ ص ۱۲۴

دیوه ایت تلاوت دعرش څخه علاوه دهر څه څخه افضل دی

دحضرت صهیب ﷺ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل زمادي قسم په هغه ذات وي چي دچا په قبضه کښي زما روح دی بي شکه دقرآن کریم یو ایت اوریدل دډیري غټي ډوډی تر خیرات کولو هم ثواب لري او دالله ﷻ دکتاب یو ایت تلاوت کول دعرش څخه علاوه تر هر شی افضل دئ.

کنزالعمال ج ۱ ص ۱۵۳۵ خرجه ابو الشیخ و الدیلمی

دیوه ایت په تلاوت سره په جنت کښي لوړه درجه

دحضرت عبدالله ابن عمربن العاص ﷺ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چاچي دقرآن کریم یو ایت تلاوت کړی دابه دده لپاره په جنت کښي سبب دلوړوالي ددرجوسي او درڼا او نور ځراغ به سي.

روا ه البیهقی فی شعب الایمان کنزالعمال ج ۱ ص ۵۴۷

ددیرشو ایاتونو پرتلاوت دهر مشکل څخه نجات

دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دي چي نبی کریم ﷺ وفرمایل چاچي په شپه کښي دیرش ایاتونه تلاوت کړل ده ته په دغه شپه کښي هیڅ درِنده تکلیف نه سي رسولای اونه کوم غل ده ته تاوان رسولای سي دده ذات او دده اهل خاني ته او دده مال او دولت ته به هیڅ تاوان نه رسیږي او سلامتي به ورکول کیږی. کنزالعَمال ج ۱ ص ۵۳۷

www.jamairahmani.org

د څلویښتو ،سلو ،اودوه سوو ، اوپنځه سوه ایاتونودتلاوت فضایل

دحضرت انس ﷺ څخه روایت دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل چاچي څلويښت اياتونه په شپه کښي تلاوت کړل هغه به دغافلينو څخه نه ليکل کيږي اوچاچي سل اياتونه تلاوت کړل هغه به د ادبناکه اوتابعداره خلګو څخه ليکل کيږي اوچاچي دوه سوه اياتونه تلاوت کړل دقيامت په ورځ به قرآن کريم دده سره جګړه نه کوي اوچاچي پنځه سوه اياتونه تلاوت کړل دهغه لپاره دثواب يوه خزانه ليکل کيږي.

روا ه البيهقى فى شعب الايمان ،كنزالعمال ج۱ص۵۳۷

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل دقرآن کريم تعليم حاصل کړئ اودهغه تلاوت وکړئ اوبيا بيده سئ ارام وکړئ بي شکه دقرآن کريم مثال دهغه کس لپاره چي تلاوت يي کوي اوزده يي کړئ دهغه لوښي په شان دئ چي دمشکو څخه ډک وي اودهغه څخه هرځای معطر اوخوشبوداره وي اوچاچي دقرآن تعليم حاصل کړی اوبيايي ارام وکړی عمل يي ونه کړی باندي حال داچي قرآن کريم دده په زړه کښي موجودوي دده مثال دپوست دهغه برتن اولوښي په شان دي چي په هغه کښي مشک وي ليکن خو سريي بند اوتړلی وي چي خوشبو نه ځني راوځي. روا ه الترمذی والنسايي وابن ماجه وابن حبان مشكوة المصا بيح ج۱ص۱۸۷ج۱ص۷۸

ځينی قرآنی معلومات

دقرآن کريم دنزول تاريخ

قرآنکريم په اصل کښي کلام الهي دی په دې وجه داول څخه په لوح محفوظ کښي موجود دی په قرآن کريم کي دالله ﷻ ارشاد دی (بل هو قرآن مجيد فى لوح محفوظ) بلکه دغه قرآن دئ په لوح محفوظ کښي بيا دلوح محفوظ څخه دده نزول دوه واره سوی دئ يو وارټوله پوره ددنيا اسمان ته په بيت العزت کښي نازل سوی دی : بيت العزت ته بيت المعمور هم وائی دامقام دکعبي شريفي پر برابري په اسمان کښي دملايکو دعبادت ځای دئ اودغه نزول په ليلة القدر کښي سوی دی۲ بيا دوهم وار پرنبي کريم ﷺ باندي لږلږ دضرورت په اندازه نازيليدی تردي چي په ۲۳ درويشت کاله کښي ددغه مقدس کتاب تکميل وسو اودادوهم ځل نازليدل دقرآن کريم ووا ودهغه شروع هغه وخت وسوه چي عمرمبارک دنبی کريم ﷺ ۴۰ کاله سؤددغه نزول ابتدا هم دصحيح تاريخ په حساب په روژه کښي وه په کوم کښي چي څوکاله وروسته دبدر غزا راپيښه سوه ليکن دا شپه دروژې په کوم تاريخ کښي وه په دې کښي اختلاف دی هيڅ يقيني خبره نسته په ځينو روايتونو کښي دروژې اوولسمه په ځينو کښي ۱۹نولسمه اوپه ځينو کښي ۲۷اويشتمه شپه معلوميږي.(تفسير ابن جرير)

www.jamairahmani.org

ترټولو اول نازل سوی ایاتونه

صحیح قول دادی چي پرنبي کریم ﷺ باندي دقرآن کریم ترټولو اول چي کوم ایاتونه نازل سوه هغه دسورة علق ابتدایي ایاتونه دي چي دواقعي پوره تفصیل یې په صحیح بخاري شریف کښې دحضرت عایشې رضي الله عنها په روایت سره ذکردی هغه اولني ایاتونه دغه دي (اقرا باسم ربک الذی خلق : خلق الانسان من علق : اقرأ وربک الاکرم : الذی علّم بالقلم : علّم الانسان مالم یعلم) تر دې وروسته بیا تردرو کالو پوري دوحی سلسله بنده وه دغي زمانې ته دفترت وحي زمانه وائي،

د مکي او مدني ایاتونو پیژندنه

تاسی به دقرآن کریم دسورتونو په عنوان کښی لیدلي وي چي دځینو سورتونو سره مکي او دځینو سره مدني لیکل سوي وي ددغه الفاظو په صحیح مفهوم باندي پوهیدل ضروري دي

(۱) دتفسیر شریف دعلماوو په اصطلاح کښې دمکي ایات مطلب هغه ایت وي چي پرنبي کریم ﷺ دمدینې منورې دهجرت څخه مخکښې نازل سوي وي .

(۲) اوځینی مفسرین بیا دمکي مطلب دا بولي چي دا دمکې مکرمې په ښارکښې نازل سوي وي لیکن دا مطلب صحیح نه دی ځکه چي ډیر ایاتونه داسي دي کوم چي دمکې مکرمې په ښار کي نه دي نازل سوي لیکن دهجرت مخکښې نازل سوي دي خو بیا هم مکي دي تر دې چي هغه ایاتونه هم مکي دي کوم چي ومدینې منورې ته دسفر په دوران کښې پر نبي کریم ﷺ نازل سوي دي دغه شان ډیر ایاتونه داسي دي چي دمدینې منورې په ښار کي نه دي نازل سوي مګر هغه مدني دي لکه چي دهجرت وروسته نبي کریم ﷺ ته ډیر سفرونه مخ ته راغلي دي ددغه سفرو په دوران کښې چي کوم ایاتونه نازل سوي دي داټوله مدني دي ځکه چي تر هجرت وروسته نازل سوي دي تر دې چي هغه ایاتونه هم مدني دي کوم چي دمکې مکرمې دفتحې پرموقع باندي دمکې په ښارکښې نازل سوي دي لکه دقرآن کریم دغه ایت (اِن اللهَ یامرکُم ان تؤدوا الامانات الی اهلها) دا ایات مدنی دی او حال دا چي په مکه مکرمه کښې نازل سوی دی. البرهان ج۱ ص۸۸ مناهل العرفان ج۱ ص۱۸۸ معارف القران ج۱ ص۱۳

او بیا ځینی سورتونه داسی دي چي ټوله پوره مکي یا مدني وي او ځیني سورتونه بیا داسي دي چي پوره سورت مکي وي فقط یو څو ایاتونه مدني وي او ځیني وختونه ددې بر عکس وي او ددې څخه دا هم واضحه سول چي دیو سورت مکي او مدني کیدل عموماً داکثرو ایاتونو په اعتبار سره وي ، مناهل العرفان ج۱ ص۱۹۲ معارف القران ج۱ ص۱۳

دمکي او مدني ایاتونو خصوصیات

دعلم تفسیر عالمانو دمکي او مدني سورتونو پلټنه کړې ده او ددوئ یو څه داسي خصوصیات یې بیان کړي دي چي دهغو څخه په اول نظر کښې دا معلومیږي چي دا سورت مکي دی که مدني دی او په هغو کښې ځیني خصوصیات

www.jamairahmani.org

دقاعدې کليې حيثيت لري او ځينې بيا دقاعدې اکثري حيثيت لري.

کلي قاعدې دادي

(۱) هرهغه سورت چې په هغه کښې لفظ د (کلا) راغلئ وي هغه مکي دئ دغه لفظ په پنځلس سورتونو کښې ۳۳واره راغلي دي او داټول اياتونه دقرآن کريم په اخري نيمايي حصه کښې دي (۲)هرهغه سورت په کوم کښې چې دسجدې آيت راسي هغه سورت مکي دي (۳)دسورت بقرې څخه ماسوا هرهغه سورت په کوم کښې چې دادم عليه السلام او ابليس واقعه ذکر ده مکي دي (۴) هرهغه سورت په کوم کښې چې دجهاد اجازه ياد هغه داحکامو ذکر دئ هغه مدني دي (۵) هرهغه ايات په کوم کښې چې دمنافقينو ذکر راغلئ دئ هغه مدني دي اوڅه نور خصوصيات بيا عمومي او اکثري دي کلي نه دي داختصار په وجې مود هغو ذکر پريښو وو. معارف القرآن ج۱ص۱۴

دقرآن کريم اهسته اهسته نازليدل

مخکې داخبره تيره سويده چې پرنبي کريم ﷺ باندې قرآن کريم دفعةً اوپه يو وارنه دی نازل سوی بلکې لږلږ تقريباً په درويشت کاله کښې نازل سو ځيني وختونه به جبرائيل امين ديو کوچني ايت سره بلکې دايت ديوه جزسره تشريف راوړئ او ځيني وختونه به يې څوڅو اياتونه راوړل:

ولې قرآن کريم ټوله په يوه ځل او يو وارسره نه نازليدئ ؟ :

امام رازي رحمة الله عليه په تفسير کبير کښې دقرآن کريم دتدريجي او اهسته اهسته دنازليدو ډير حکمتونه بيان کړي دي چې څه يې دادي (۱)نبي کريم ﷺ امي وو ليکل او لوستل يې نه وه زده کړي په دې وجه که ټول قرآن پريوه ځای نازل سوی وای نوياد ول او په ضبط کښې راوستل به يې ډير ګران وای او ددې برخلاف حضرت موسٰی عليه السلام په ليکلو او ويلو پوهيدی نو ځکه ټول تورات پرده په يو وارسره نازل سو (۲)که پوره قرآن کريم پريوه ځای نازل سوی وای نو دټولو احکامو پابندي به فوراً لازمه سوی وای او دابه ددې حکيمانه تدريج خلاف وای کوم چې په شريعت محمدي ﷺ کښې لحاظ سوی دی (۳)نبی کريم ﷺ به دخپل قوم له طرفه څخه روزانه نوي تکليفونه برداشتول دجبرائيل امين په باربار نازل کيدلو سره او دقرآن کريم په راوړلو سره به نبی کريم ﷺ ته ددغه تکليفونو مقابله اسانه وه اودده راتلل به دده دزړه دتقويت سبب جوړيدی (۴)دقرآن کريم يوه لويه حصه دخلګو دسوالونو دجوابونو سره تعلق لري په دې وجه ددغه اياتونو نزول هغه وخت مناسب وو کوم وخت چې دغه سوالونه وسوه ياد غه واقعات راپيښ سول. تفسير کبير ج ۶ ص ۳۳۶ معارف القرآن ج۱ ص۱۶

شان نزول

دقرآن کريم اياتونه پر دوه قسمه دي يو هغه اياتونه دي کم چې الله جل جلاله دخپل طرف څخه نازل کړي دي کومه خاصه واقعه يا کوم خاص سوال او نور څه دهغه دنزول سبب نه وي جوړ سوی : دوهم هغه آياتونه دي دکوم نزول چې ديوې

www.jamairahmani.org

خاصي واقعې په وجه سره یا دیو سوال په جواب کښې نازل سوي وي کوم ته چې ددغه ایاتونو پس منظر او دبیان اصلي طریقه ویل پکار ده دغه پس منظر ته ده مفسرینو په اصطلاح کښې سبب دنزول یا شان نزول وایي.
(معارف القرآن ج ۲ ص ۱۷)

اووه قاریان

دعلامه ابن مجاهد رحمه الله دکوشش اوزیار په نتیجه کي اوه قاریان کوم چی زیات مشهورسول هغه دادی ۱ عبدالله ابن کثیر الداری رحمه الله متوفی سنة ۱۲۰ ده په اصحابو کښی دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه اوعبدالله ابن زبیر رضي الله عنه او ابوایوب انصاری رضي الله عنه زیارت کړی وو اودده قرات په مکه مکرمه کښی زیات مشهوردی ۲: نافع بن عبدالرحمن بن ابی نعیم متوفی سنة (۱۶۹) ده داویا تابعینو څخه استفاده کړې وه کوم کسان چی دابوهریرة رضي الله عنه او ابی ابن کعب رضي الله عنه اودعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما شاګردان وه دده قرات په مدینه منوره کښی زیات مشهورسو ۳ عبدالله الحصبی رحمه الله کوم چی دابن عامرپه نامه سره معروف دی متوفی سنة ۱۱۸ ده په اصحابو کښی دحضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه اوواثله بن اسقع زیارت کړی وو دده دقرآت زیات رواج په شام کښی وسو ۴ ابوعمروزبان بن العلاء متوفی سنة ۱۵۴ ده دحضرت مجاهد او سعید بن جبیر په واسطه سره دحضرت ابن عباس رضي الله عنه او ابی ابن کعب رضي الله عنه څخه روایت کړی دی اودده قرات په بصره کښی ډیر مشهور سو ۵ حبیب بن خبیب الزیات مولی عکرمه بن ربیع التیمی متوفی سنة ۱۸۸ دی دحضرت سلیمان اعمش شاګرد وو اوده دحضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه یې استفاده کړی وه ۶ عاصم بن ابی النجود الاسدی متوفی سنة ۱۲۷ دی دزربن حبیش په واسطه سره ده حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه اودابوعبدالرحمن سلمی رضي الله عنه په واسطه سره دحضرت علی رضي الله عنه شاګرد دی ۷ ابوالحسن علی بن حمزه الکسایي النحوی متوفی سنة ۱۸۹ ده دی وروسته ذکرسوو دروسرو حضراتو قراتونه زیات تره په کوفه کی رواج سول : (معارف القرآن ج ۱ ص ۲۲)

دحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کی دقرآن کریم جمع کول

کله چی حضرت عثمان رضي الله عنه داسلام خلیفه سونو اسلام دعربو څخه وتلی وو اودروم او ایران لیری لیری علاقوته رسیدلی وو دهری علاقی خلګ چی مسلمانیدل نو هغوی به دهغو مجاهد ینو څخه یا دهغو تاجرانو څخه قران کریم زده کوی دکوموپه برکت سره چی دوی مسلمانان سوي وه مخکی تاسی ویلی دی چی قرآن کریم په اوو حرفونو باندي نازل سوی دی او مختلفو صحابو کرامو رضي الله عنهم دادنبی کریم څخه په مختلفو قرآءتونو سره زده کړی وو په دی وجه سره هرصحابی به خپلو شاګردانو ته ددغه قراءت مطابق ورزده کوی پرکومه طریقه چی به ده دنبی کریم څخه زده کړی و ودغه رنګه دقراءتونو دا اختلاف لیری لیری ملکونو ته ورسیدی ترکومه پوری چی خلګ ددی حقیقت څخه خبروه چی قرآن کریم پراوو حرفونو نازل سوی دی تر هغوپوری ددی اختلاف څخه څه خرابی نه وې پیدا سوي لیکن هرکله چي دا اختلاف لیري ملکونو ته ورسیدی او دا خبره په هغوی کښي پوره مشهوره نه کړل سوه

www.jamairahmani.org

چې قران کريم پراووحرفونونازل سوی دی نودغه وخت په خلګو کښې جګړې پيدا کول شروع سوې ځينو خلګو به خپل قرآت ته صحيح ويل او دبل هغې ته به يې غلط ويل ځکه نو حضرت عثمان ﷺ خلګ راجمع کړل او وې فرمايل چې تاسې په مدينه منوره کښې زما په ښنګ کښې دقرآن کريم په باره کښې ديو بل تکذيب او اختلاف کوی نو ټول راجمع سی او دقرآن کريم يوه داسی نسخه تياره کړی چې دټولو لپاره واجب الاقتداوي اودا کار حضرت عثمان ﷺ شلورو صحابه کراموته وسپاری زيد بن ثابت ﷺ عبدالله بن زبير ﷺ سعيد بن العاص ﷺ عبدالرحمن بن حارث بن هاشم ﷺ چې تاسې دابو بکرصديق ﷺ دصحيفو څخه نقل وکړی اوداسې مصاحف تيار کړی په کمو کښې چې سورتونه هم مرتّب وي اونورو صحابه کراموبه هم کومک وکړئ اودغه لاندې کارونه دوی په خپل زيار او کوښښ سره ترسره کړل :

١ :دحضرت ابوبکرصديق ﷺ په زمانه کښې چې کومه نسخه تياره سوې وه په هغه کښې سورتونه مرتب نه وه بلکې هر سورت جلاجلا ليکل سوې وو دغه صحابه کرامو ﷺ ټول سورتونه په ترتيب سره په يوه مصحف کښې وليکل فتح الباری ج٩ص١٣تاص١٥مستدرک ج٢ص٢٢٩

٢ دقرآن کريم اياتونه يې داسې وليکل چې په رسم الخط کښې يې ټول متواترقرآءتونه ځای سې په دې وجه يې پردې نه نقطې ولګولې اونه حرکات يعنې زورزېرپېښ چې دټولو متواترو قرآتونو مطابق وويل سي. مناهل العرفان ج١ص ١٥٣تا ص ٢٥٤

(٣) تر اوسه چې کومه نسخه دقرآن کريم مکمله او معياري نسخه وه چې دټول امت په اجتماعي تصديق تياره سوې وې يوازې يوه وه دغه حضراتو ددې نوې تيار سوې مصحف تر يوه زيات نقلونه تيار کړل تقريباً پنځه نسخې مصاحف تيارسول اويا اووه نسخی مصاحف تيارسول چې ددنيا مختلفو اطرافو ته وليږل سول (۴) دقرآن کريم دبې شميره معياري نسخو دتيارولو څخه وروسته حضرت عثمان ﷺ دغه ټولې انفرادي نسخې وسوځلې کومې چې دمختلفو صحابه کراموسره موجودوې په دې خاطرچې درسم الخط دمسلمه قرآءتونو اجتماع او د سورتونو دترتيب په اعتبار سره ټول مصاحف يو ډول او اختلاف په کښې باقي پاته نه سی دحضرت عثمان ﷺ دغې کارنامې ته ټول امت داستحسان په نظر وکتل او ټولو اصحابو په دې کار کښې دده تائيد او حمايت وکړی فتح الباری ج٩ص١٥معارف القرآن ج١ص٣٣

دحضرت عثمان ﷺ دلومړی بيان سوي کارنامې څخه وروسته دامت پردغه اجماع سوه چې قرآن کريم درسم عثماني خلاف په بله طريقه سره ليکل جائزنه دی ځکه نو ددې څخه وروسته ټول مصاحف ددی طريقې مطابق وليکل سول او اصحابو او تابعينو دمصاحف عثماني نقلونه تيار کړل اودقرآن کريم خپريدل او نشريې په زياته کچه سره وکړی ليکن څونکې دانسخې دنقطو، زور، زېر، پېښ ، څخه خالي وې په دې وجه عجميانو ته ددې ويل ګران وه نو هرکله چې اسلام په عجمي ملکونو کښې منتشرسو نو ددې خبرې ضرورت محسوس سو چې پردې دې د

www.jamairahmani.org

نقطو او حرکتو نو اضافه وکړل سي چي ټول خلک یه په اساني سره تلاوت وکړي ددغه مقصد لپاره مختلف اقدامات وسول چی مختصر تاریخ یه داسي دی :

نقطې ټکي : په دې کښې روایتونه مختلف دي چي د قرآن کریم پرنسخو ترټولو مخکې چا نقطې او ټکي واچول ځینې روایتونه وایی چی دا کارنامه ترټولو مخکښې ابو الاسود دولی پوره کړه او ځینې بیا وایی دا کار دوی د حضرت علي رضي الله عنه ترهدایت لاندې وکړی، او ځیني وايي چي دا کارنامه حجاج بن یوسف د حسن بصري رحمه الله، یحیی بن یعمر رحمه الله او نضر بن عاصم اللیثی رحمه الله په ذریعه سرته ورسول . تفسیر القرطبی ج۱ص۶۳ صبح الاعشی ج۳ص۱۵۵ البرهان ج۱ص۲۵ معارف القرآن ج۱ص۳۳

حرکتونه

د نقطو په شان سره په شروع کی په قرآن کریم کښې حرکات، زور، زېر، پیښ، هم نه وه او په دې کي هم د روایتونو لوی اختلاف دئ چی ترټولو اول حرکتونه چاکښېښول د ځینو حضراتو وینا ده چی ترټولو مخکی ابو الاسود دولي دا کار وکړی ځینی وایی چی دا کار حجاج بن یوسف په یحیی بن یعمر رحمه الله او نضر بن عاصم لیثی رحمه الله باندی وکی تفسیر قرطبی (۶۳)

احزاب یا منزلونه

د اصحابو او تابعینو عادت وو چی په هره هفته کي به یی قرآن کریم ختموي د دې مقصد دپاره دوی د روزانه تلاوت دپاره یو مقدار مقرر کړی وو چی حزب یا منزل ورته ویل کیږي دغه رنګه ټول ه قرآن کریم پر اوو حزبونو باندي تقسیم سوی وو. البرهان ج ۱ ص ۲۵۰

اجزاء یا سیپاري

نن سبا قرآن کریم پر دیرشو ۳۰ اجزاوو باندي تقسیم دی کوموته چي ۳۰ پارې یا سیپاری وایی دا تقسیم دپارو د معنی په اعتبار سره نه دئ بلکه کوچنیانو ته د ویلو د اسانۍ دپاره پردیرشو مساوي حصو باندي تقسیم کړی سوی دی لکه چي ځیني وختونه بلکل پرنیمګړی خبره باندي سیپاره ختمه سي په یقین سره دا خبره کول مشکله ده چي دا ده دیرشو سیپارو تقسیم چا کړی دئ ده ځینو حضرات خیال دا دی چي د حضرت عثمان رضي الله عنه د مصاحفو د نقل کو لو پروخت ده په دیرشو مختلفو صحیفو کي لیکلی وو په دې وجه دا تقسیم دهغوی د زماني دی لیکن د متقد مینو په کتابونو کي د دې هیڅ دلیل احقر ته نه دی پیدا سوی البته علامه بدر الدین زرکشي رحمه الله لیکلي دي چي د قرآن کریم دیرش سیپاری رارواني دی او د مدارسو په قرآني نسخو کښې ددی رواج دی په ظاهره داسی معلومیږی چي دا تقسیم د اصحابو کرامو رضي الله عنهم د دور څخه وروسته د تعلیم د اسانۍ دپاره سوی دی والله اعلم: البرهان ج۱ ص ۲۵۰ مناهل العرفان ج ۱ ص ۴۰۲

www.jamairahmani.org

ركوع

يوه بله علامه كمه چي ترننه پوري رواج ده د ركوع علامه ده او ددې تعين د قرآن كريم د مضامينو په لحاظ كم چي سوى دئ يعني كم ځاى چې يوه سلسله د كلام ختمه سوه هلته به پر حاشيه باندي د (ع) علامه جوړه كړه احقرته د پلټنې سره سره په مستند ډول سره دا معلومه نه سوه چي د ركوع ابتدا چا او په كم دور كى وكړه البته دا خبره تقريباً يقيني ده چي ددې علامې مقصد دا يتونو ديو داسي متوسط مقدار تعين دى چي په يوه ركعت كي وويل سى او دې ته (ركوع) ځكه وايي چه په لمانځه كي دې ته وورسيږي نو دي ركوع وكړي په ټوله قرآن كي ۵۴۰ ركوع ګاني دي د غه رنګه كه د تراويحو په هر ركعت كي يوه ركوع ووايى نو په اوه ويشتمه شپه د روژې قرآن كريم ختميږى.
فتاوى عالمكيريه فصل التراويح ۱۹۴۱

رموز اوقاف

د تلاوت او تجويد دا سانۍ د پاره يو بل مفيد كار دا وسو چي په مختلفو قرآني جملو باندي داسي اشارې وليكل سوي د كوموڅخه چى دا معلومه سي چي دلته وقف كول (ساه) اخيستل څنګه ده ؟ دې اشاروته رموزاوقاف وايى او مقصدي دادى چي يو غير عربي دان انسان هم چى كله تلاوت كوي نو چي پر صحيح ځاى وقف وكړي او پر غلط ځاى د ساه اخيستلو څخه ځه تبديلي پيدا نه سي په دې كي اكثره رموز تر ټولو مخكي علامه ابو عبد الله محمد بن طيفور سجاوندى رحمه الله وضع كړل النشر في القرآت العشر ج۱ ص ۲۲۵ : ددې رموزو تفصيل دادى ط: داده وقف مطابق مخفف دى او ددې مطلب دادى چي دلته خبره پوره سول نو دلته وقف كول بهتره دى ح: دا وقف جائز مخفف دى او مطلب يى دادى چي دلته وقف كول جائز دى :ز: داده وقف مجوز مخفف دى چي مطلب يى دادى چي دلته وقف كول صحيح خودى ليكن بهتره داده چي وقف ونكړل سي. ص: دا وقف مرخص مخفف دى او ددې مطلب دادى چي دلته خبره پوره نه سوه ليكن كله چي جمله اوږده سوه په دې وجه د ساه اخيستلو د پاره د نورو ځايونو پر ځاى دلته وقف كول پكاردى (المنح الفكريه ص ۶۳)

م: دا وقف لازم مخفف دى او ددې مطلب دادى چي دلته كه وقف ونسي نو د آيت په معنى كى د فحش او ډيري بدي غلطى امكان دى په دې وجه دلته وقف كول زيات بهتره دى ځيني حضرات دې ته وقف واجب هم وايى ليكن ددې څخه مراد فقهي واجب نه دى چي په پريښولويى ګناه وي بلكه مقصد يوازي دادئ چي په ټولو اوقافو كي دلته وقف كول زيات بهتره دى . (النشر ج۱ ص۲۳۱)

لا : داد لا تقف مخفف دئ مطلب يى دادئ چى دلته مه دريږه ليكن منشايى دانه ده چي دلته وقف كول ناجائز دى بلكه په دې كي ډير ځايونه داسى دي چي په هغوكي د وقف كولو څه منع نسته او تر دې د وروسته لفظ څخه شروع كول هم جائزدى په دې وجه ددې صحيح مطلب دادئ چي كه دلته وقف وسي نو بهتره داده چي دوهم وار بيرته پر را وګرځي او تر دې وروسته لفظ څخه شروع كول ښه نه دى : النشر ج۱ ص ۲۳۳ :ددې رموزو په باره كي خوپه يقيني طور سره ثابته ده چي دا علامه سجاوندي رحمه الله وضع كړى ده پر دې علاوه هم ځيني رموز د قرآن كريم په نسخو كي موجود دي مثلاً مع دا د معانقى مخفف دى دا علامه په هغه ځاى كي ليكل كيږي كم ځاى چي په يوه ايت كي دوه تفسيرونه ممكن وي ديوه تفسير مطابق وقف يو ځاى وي او د بل مطابق بل ځاى په دې وجه په دغه كي يو

www.jamairahmani.org

ځای وقف کول کیږي لیکن دیوه ځای وقف کولو څخه وروسته بل ځای وقف کول صحیح نه دی سکته: دادسکوت علامه ده او ددې مقصد دادی چې دلته دریدل پکاردي لیکن چې ساه بنده نسي داعموماً هغه ځای راوړل کیږي کم ځای چې په متصل ویلو سره دغلط فهمۍ بیره وي وقف: دلته ترسکتې لږزیات دریدل پکاردي لیکن چې ساه دلته هم بنده نسي :

ق: داد قیل علیه الوقف مخفف دئ مطلب یي دادئ چې دځینو په نزد دلته وقف دئ او دځینو په نزد نه دئ قف: دالفظ قِف دی چې معنی یی داده ودریږه او دا هغه ځای راوړل کیږي کوم ځای چې ویونکو ته داخیال کیدای سي چې دلتهٔ وقف صحیح نه دی صلی: دادالوصل اولی مخفف دی چی معنی یی دمتصل ویل بهتره بولي (صلِ) دادقدیوصل مخفف دی یعنی دلته خلک دریږي.

وقف النبی ﷺ: داپر هغه ځایونو باندي لیکل کیږي کم ځای چې دیوه روایت په وجه سره داثابته وی چی نبی کریم ﷺ دتلاوت کولو په وخت کي دلته وقف کړی وو.

یو ځل بیا قرآني معلومات دسوال او جواب په شکل کي

سوال: په قرآن کریم کښې څو ایاتونه څو سورتونه څو تکي څور کوع ګاني څو زوره، زېره، او پیښه او څو کلمې دی؟

الجواب: ۵۵۸ رکوعاتي دي ۱۱۴ سورتونه دي ۱۲۵۳ شدونه دي ۱۷۷۱ مدونه دي ۱۰۵۶۸۴ تکي دي ۳۹۵۸۲ زیرونه دی ۸۸۰۴ پیښونه دی ۵۳۲۴۳ زورونه دي ۳۲۳۶۷۰ حرفونه دي ۸۶۴۳۰ کلمي دي ۶۶۶۶ عام ایاتونه دي ۶۲۱۴ عراقي ایاتونه دي ۶۲۱۲ مکي ایاتونه دي ۶۲۵۰ شامي ایاتونه دي ۶۲۳۶ کوفي ایاتونه دي ۶۲۱۶ بصري ایاتونه دي (معلومات قرآني خزینه الاسرار ص ۹۰) سوال: ټوله قرآن کریم په څومره وخت کښې نازل سوی دی. او دڅو انبیاو و ذکر په کښې سوی دئ؟

جواب: ټوله قرآن کریم په ۲۲ کاله ۵ میاشتي او ۱۴ ورځو کښې نازل سوی دئ او په ټوله قرآن کریم کښې دڅلیرویشتو انبیاوو ذکر سته

سوال: په قرآن کریم کښې دحروف هجاء تعداد او شمیر څومره دئ او تر ټولو زیات او کم کوم حروف مستعملیږي؟

جواب: دحروفو شمیر او تعداد په لاندي ډول سره دی:

الف ۴۸۸۷۲ ب ۱۱۴۲۸ ت ۱۱۹۹ ث ۱۲۷۶ ج ۳۲۷۳ ح ۹۷۳ خ ۲۴۱۶ د ۵۶۴۲ ذ ۴۶۹۷ ر

www.jamairahmani.org

۱۱۷۹۳ز۱۵۹۰س۵۸۹۱ش۳۲۲۵۳ص۲۰۱۳ض۱۶۰۷ط۱۲۷۴ظ۸۴۲ع۹۳۲۰۰غ۲۲۰۸ف۸۴۹۹ ق۶۸۱۳ک۹۵۲۲ل۳۴۳۲م۲۶۵۳۵ن۲۶۵۶۰و۲۵۵۳۶ه۱۹۰۷۰ی۲۵۹۱۹لا۳۷۲۰=ترټولو زيات چي استعمال سوی حرف دئ هغه حرف عين دئ ۹۳۲۰۰واره راغلئ دئ اوترټولو کم حرف چی استعمال سوئ دئ هغه حرف ظ ده ۸۴۲واره استعمال سوي ده .(خزينة الاسرار ومعلومات قرآنی ص ۹۱)

سوال :دقرآن کريم اول مصحف چاجوړ کړی دئ؟

الجواب :حضرت ابوبکرصديقؓ جوړکړی دي

سوال :سورت فاتحه په کومي سيپاری کښي ده ؟

جواب :په هيڅ سيپاره کښی نه ده بلکي په طور دمقدمي دقرآن کريم په شروع کښي ذکرسوې ده .

سوال :هغه کوم صحابي دئ چي نوم يی په قرآن کريم کښي په ښکاره سره ذکر سوی دئ ؟

الجواب :حضرت زيد ؓ دئ (فلماقضی زيد منهاوطرا) (سورة الاحزاب ، پ ۲۲،آيت ۳۷)

خزينه الاسرارص۹۱

www.jamairahmani.org

فهرست

د تفسیر دیوبندي اصل په دوو (۲) ټوکو کښي چاپ سوی دی، البته د ډېر حجم پر بنیاد مو دغه پي ډي ایف کاپي په څلورو ټوکو باندي وویشی.

جلد اول (۱)

شمېره	د سورت نوم	د پاڼي شمېره	شمېره	د سورت نوم	د پاڼي شمېره
۱	الفاتحه	۱	۴	النسآء	۲۱۸
۲	البقرة	۲	۵	المآئدة	۳۰۳
۳	آل عمران	۱۳۸	۶	الانعام	۳۶۵

جلد دوهم (۲)

شمېره	د سورت نوم	د پاڼي شمېره	شمېره	د سورت نوم	د پاڼي شمېره
۷	الاعراف	۴۳۱	۱۳	الرعد	۷۱۵
۸	الانفال	۵۰۸	۱۴	ابراهیم	۷۳۴
۹	التوبة	۵۳۷	۱۵	الحجر	۷۵۳
۱۰	یونس	۵۹۶	۱۶	النحل	۷۷۰
۱۱	هود	۶۳۶	۱۷	بنی اسرآئیل	۸۱۲
۱۲	یوسف	۶۷۷	۱۸	الکهف	۸۴۵

جلد دریم (۳)

شمېره	د سورت نوم	د پاڼي شمېره	شمېره	د سورت نوم	د پاڼي شمېره
۱۹	مریم	۱۰	۳۰	الروم	۲۹۹
۲۰	طٰه	۳۰	۳۱	لقمان	۳۱۷
۲۱	الانبیاء	۵۹	۳۲	السجدة	۳۲۸
۲۲	الحج	۸۷	۳۳	الاحزاب	۳۳۷
۲۳	المؤمنون	۱۱۷	۳۴	سبا	۳۶۶
۲۴	النور	۱۴۰	۳۵	فاطر	۳۸۵
۲۵	الفرقان	۱۶۸	۳۶	یس	۴۰۳
۲۶	الشعرآء	۱۸۸	۳۷	الصفات	۴۱۹
۲۷	النمل	۲۱۷	۳۸	ص	۴۳۹
۲۸	القصص	۲۴۳	۳۹	الزمر	۴۵۴
۲۹	العنکبوت	۲۷۵			

جلد خلورم (۴)

شميره	د سورت نوم	د پاڼي شميره
۴۰	المؤمن	۴۸۰
۴۱	حم السجدة	۵۰۸
۴۲	الشورى	۵۲۶
۴۳	الزخرف	۵۴۴
۴۴	الدخان	۵۶۴
۴۵	الجاثية	۵۷۰
۴۶	الاحقاف	۵۸۱
۴۷	محمد	۵۹۴
۴۸	الفتح	۶۰۷
۴۹	الحجرات	۶۱۹
۵۰	ق	۶۲۷
۵۱	الذاريات	۶۳۵
۵۲	الطور	۶۴۳
۵۳	النجم	۶۵۰
۵۴	القمر	۶۵۸
۵۵	الرحمن	۶۶۶
۵۶	الواقعة	۶۷۴
۵۷	الحديد	۶۸۴
۵۸	المجادلة	۶۹۷
۵۹	الحشر	۷۰۷
۶۰	الممتحنة	۷۱۷
۶۱	الصف	۷۲۵
۶۲	الجمعة	۷۳۰
۶۳	المنافقون	۷۳۴
۶۴	التغابن	۷۳۸
۶۵	الطلاق	۷۴۳
۶۶	التحريم	۷۴۹
۶۷	الملك	۷۵۵
۶۸	القلم	۷۶۱
۶۹	الحاقة	۷۶۸
۷۰	المعارج	۷۷۴
۷۱	نوح	۷۷۹
۷۲	الجن	۷۸۴
۷۳	المزمل	۷۸۹
۷۴	المدثر	۷۹۳
۷۵	القيامة	۷۹۹
۷۶	الدهر	۸۰۳
۷۷	المرسلات	۸۰۸

شميره	د سورت نوم	د پاڼي شميره
۷۸	النبأ	۸۱۳
۷۹	النزعات	۸۱۷
۸۰	عبس	۸۲۱
۸۱	التكوير	۸۲۴
۸۲	الانفطار	۸۲۷
۸۳	المطففين	۸۲۹
۸۴	الانشقاق	۸۳۳
۸۵	البروج	۸۳۵
۸۶	الطارق	۸۳۸
۸۷	الاعلى	۸۳۹
۸۸	الغاشية	۸۴۱
۸۹	الفجر	۸۴۳
۹۰	البلد	۸۴۷
۹۱	الشمس	۸۴۹
۹۲	الليل	۸۵۰
۹۳	الضحى	۸۵۲
۹۴	الم نشرح	۸۵۳
۹۵	التين	۸۵۴
۹۶	العلق	۸۵۵
۹۷	القدر	۸۵۷
۹۸	البينة	۸۵۸
۹۹	الزلزال	۸۶۰
۱۰۰	العاديات	۸۶۱
۱۰۱	القارعة	۸۶۲
۱۰۲	التكاثر	۸۶۳
۱۰۳	العصر	۸۶۴
۱۰۴	الهمزة	۸۶۵
۱۰۵	الفيل	۸۶۶
۱۰۶	قريش	۸۶۷
۱۰۷	الماعون	۸۶۷
۱۰۸	الكوثر	۸۶۸
۱۰۹	الكافرون	۸۶۹
۱۱۰	النصر	۸۶۹
۱۱۱	اللهب	۸۷۰
۱۱۲	الاخلاص	۸۷۱
۱۱۳	الفلق	۸۷۱
۱۱۴	الناس	۸۷۲

۱ سُورَةُ الْفَاتِحَةِ مَكِّيَّةٌ ۵

ایاتونه ۷ — ركوعي ۱

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

بِسۡمِ	اللّٰهِ	الرَّحۡمٰنِ	الرَّحِيۡمِ
(شروع کوم) په نامه	دالله	چي ډير زيات مهربان	پوره رحم لرونکی دی

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۙ﴿۱﴾ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۙ﴿۲﴾

اَلۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ	رَبِّ	الۡعٰلَمِيۡنَ	الرَّحۡمٰنِ	الرَّحِيۡمِ
ټول تعريفونه	خاص الله لره دی	چي پالونکئ	د ټولو مخلوقاتو دی	ډير زيات مهربان	پوره رحم کوونکی

ټولی ستاینی خاص الله لره دی چي پالونکئ د ټولو مخلوقاتو دی. هغه چي ډير مهربانه پوره رحم کوونکی دی،

مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ ؕ﴿۳﴾ اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ ؕ﴿۴﴾

مٰلِكِ	يَوۡمِ	الدِّيۡنِ	اِيَّاكَ	نَعۡبُدُ	وَاِيَّاكَ	نَسۡتَعِيۡنُ
څښتن (مالک)	د ورځی	د جزاء دی	خاص تاته	عبادت کوو	او خاص ستاڅخه	کومک غواړو

خاوند دی دورځی د جزاء (قيامت). خاص تالره (تاته) عبادت کوو او خاص له تا څخه مرسته (کومک) غواړو (الله).

اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ۬

اِهۡدِنَا	الصِّرَاطَ	الۡمُسۡتَقِيۡمَ	صِرَاطَ	الَّذِيۡنَ	اَنۡعَمۡتَ	عَلَيۡهِمۡ
وښيه موږته	لاره	سيده (سمه)	لاره	دهغو کسانو	چي انعام کړی دی تا	پر هغو باندی

وښيه موږ ته سيده لاره. لاره دهغو کسانو چي انعام (احسان) کړی دی (تا) پر هغوی باندی

غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ ﴿۷﴾

غَيۡرِ	الۡمَغۡضُوۡبِ	عَلَيۡهِمۡ	وَلَا الضَّآلِّيۡنَ
نه (لاره دهغه بدو کسانو)	چي غضب کړی سوی دی	پر هغو باندی	او نه (لار دهغه بدو کسانو) چي ګمراهان دی

نه لار دهغه کسانو چي غضب کړل سوی دی پر هغوی باندی او نه لار دهغه کسانو چي ګمراهان دي

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ په اسلام کښي دهرښه کارد شروع کولو په وخت کښي دبسم الله ويلو تعليم: داددي وجي څخه مقرر کړه سويدی چي په داسي کولو سره به مسلمان په هر وخت کي دخپل دغه حلف (قسم) دوفاداری تجديد وکړي چي دهغه وجود او دهغه هر کار دالله ﷻ دارادی څخه بغير نه سي کيدلای او داکار که هر څومره کوچنی وي او نه دومره وخت په کښي لګيږي او نه څه تکليف ته په کښي ضرورت وي ليکن فايده يي څومره کيمياوي او لويه ده ؟ چي دنيوي کار يي ددين کار ګرځي مثلاً يو کافر هم ډوډی خوري او مسلمان هم ليکن مسلمان ترخپلي ډوډی مخکي چي بسم الله ووايي نو دااقرار وکړي چي پر دی ډوډی باندي دمځکي څخه دپيدا کيدلو دوخت څخه تر پخيدو پوري دمځکي اود اسمان دستورو اوهوا دمخلوقاتو او بيا دلکونو انسانانو څومره محنت سويدی دداسي ډوډی حاصلول زما په قدرت کښي نه وه داخو دالله ﷻ ذات دی چي دا ډوډی يي ترداسي مراحلو را تيره کړه او بيا يي ماته راکړه (معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۶۶ مکتبه حبيبيه.

ع ۱

www.jamairahmani.org

اٰیاتونه۲۸۶ ۲ سُوۡرَۃُ الۡبَقَرَۃِ مَدَنِیَّۃٌ ۸۷ ۷ ركوعي۴۰

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمّٓ ۞ ذٰلِکَ الۡکِتٰبُ لَا رَیۡبَ ۛۚ فِیۡهِ ۛۚ هُدًی

الٓمّٓ	ذٰلِکَ	الۡکِتٰبُ	لَا رَیۡبَ	فِیۡهِ	هُدًی
الف لام میم	دا	کتاب (قرآن کریم)	نسته شک او شبه	په دغه کښې	لاربنوونکی دی

الف لام میم دا کتاب (قرآن کریم) دی ، نسته شک او شبه په دغه کتاب کښې، لاربنوونکی دی (هدایت کوونکی دی)

لِّلۡمُتَّقِیۡنَ ۞ الَّذِیۡنَ یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡغَیۡبِ وَ یُقِیۡمُوۡنَ

لِّلۡمُتَّقِیۡنَ	الَّذِیۡنَ	یُؤۡمِنُوۡنَ	بِالۡغَیۡبِ	وَ	یُقِیۡمُوۡنَ
دپرهیزګارانو دپاره	هغه کسان	چې ایمان لری	په پټو باندی	او	سم دروی

دپرهیزګارانو دپاره. (دغه پرهیزګاران) هغه کسان دی چې ایمان (یقین ، باور) لری په پټو باندی، او سم دروی (اداء کوی)

الصَّلٰوۃَ وَ مِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ یُنۡفِقُوۡنَ ۞ وَ الَّذِیۡنَ

الصَّلٰوۃَ	وَمِمَّا	رَزَقۡنٰهُمۡ	یُنۡفِقُوۡنَ	وَ	الَّذِیۡنَ
لمونځ	او ځینې له هغو شیانو	چې موږ ورکړی دی دوی ته	خرڅوی یې	او	هغه کسان

لمونځ، او دهغه مالو څخه چې موږ ورکړی دی دوی ته خرڅوی یې. او دا پرهیزګاران هغه کسان دی چې

یُؤۡمِنُوۡنَ بِمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَیۡکَ وَ مَاۤ اُنۡزِلَ

یُؤۡمِنُوۡنَ	بِمَاۤ	اُنۡزِلَ	اِلَیۡکَ	وَمَاۤ	اُنۡزِلَ
چې ایمان لری	پر هغه باندی	چې نازل کړل سوی دی	وتاته	او پر هغه باندی	چې نازل کړل سوی دی

ایمان لری پر هغه (کتاب) باندی چې نازل کړل سوی دی پر تا باندی، او پر هغه (کتاب) باندی چې نازل سوی دی د

مِنۡ قَبۡلِکَ ۚ وَ بِالۡاٰخِرَۃِ هُمۡ یُوۡقِنُوۡنَ ۞

مِنۡ قَبۡلِکَ	وَبِالۡاٰخِرَۃِ	هُمۡ	یُوۡقِنُوۡنَ
دمخه ترتا	او په آخرت باندی	دوی	یقین کوی

دمخه (لکه :زبور، تورات او انجیل)، او (دغه پرهیزګاران) هغه کسان دی چې په ورځ د آخرت باندی دوی یقین (باور) لری

هُدًی لِّلۡمُتَّقِیۡنَ ۞ الَّذِیۡنَ یُؤۡمِنُوۡنَ

قران کریم دهدایت څخه ډک کتاب دی :دغه قرآن هدایت دی دالله ﷻ له طرفه څخه دبیریدونکو لپاره یعني خاص هدایت دی چې دآخرت دخلاصون لپاره ذریعه ګرځي دمتقیانو برخه ده که څه هم چې دقرآن هدایت نه یوازي دانسانانو لپاره دی بلکه دعالم دټولو کایناتو لپاره دی او علماوو لیکلي دي چې دهدایت درې درجې دي یوه درجه هدایت دټولو انسانانو لپاره بلکه دټولو حیواناتو اونورو لپاره او بله درجه په مومنانو پوري خاص ده او دریمه درجه په مقربینو پوري خاص ده او بیا ددې درجې څه حد او انتهاء هم نسته :دقرآن کریم په مختلفوځایونو کښې یو ځای دعام هدایت ذکر راغلی دی او یو ځای دخاص هدایت ذکر راغلی دی اودلته دخاص هدایت ذکر راغلی دی نو په دې وجه دمتقیانو تخصیص وسو او دمتقیانو دتخصیص څخه دا نه لازمیږي چې قرآن دغیر متقیانو لپاره هدایت نه دی: الله ﷻ دې موږ او تاسې ته دمتقیانو غوندې هدایت رانصیب کړي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۹۸)
(مکتبه حبیبیه)

www.jamairahmani.org

اُولٰٓىِٕكَ عَلٰى هُدًى مِّنۡ رَّبِّهِمۡ ۚ وَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ

اُولٰٓىِٕكَ	عَلٰى	هُدًى	مِّنۡ	رَّبِّهِمۡ	وَ	اُولٰٓىِٕكَ	هُمُ
دغه کسان	پر	هدایت باندی دی	د طرفه	درب د دوی	او	دغه کسان	دوی

دغه (ستایل سوی) کسان په هدایت (او سمی لاری) باندی دی له جانبه دخپل رب او هم دغه (ستایل سوی) کسان دی

الۡمُفۡلِحُوۡنَ ۞ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ

الۡمُفۡلِحُوۡنَ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	سَوَآءٌ	عَلَيۡهِمۡ
کامیابه دی	بیشکه	هغه کسان	چی کافران سوی دی	برابره ده	پرهغو باندی

په مراد رسیدلی (کامیابه دی) بیشکه! هغه کسان چی کافران سوی دی (ابو جهل، ابو لهب) نو دا برابره خبره ده پر دوی باندی

ءَاَنۡذَرۡتَهُمۡ اَمۡ لَمۡ تُنۡذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۞ خَتَمَ

ءَاَنۡذَرۡتَهُمۡ	اَمۡ	لَمۡ تُنۡذِرۡهُمۡ	لَا يُؤۡمِنُوۡنَ	خَتَمَ
که وبېروې ته دوی	یا	نه وبېروې ته دوی	ایمان نه راوړی	مهر وهلئ دی

که چیری ته (ای! محمده) وبېروې دوی او یا یئ نه وبېروې ته دوی، دوی به ایمان نه راوړی. (ځکه) مهر وهلئ (لګولئ) دی

اللّٰهُ عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ وَعَلٰى سَمۡعِهِمۡ ؕ وَعَلٰٓى اَبۡصَارِهِمۡ

اللّٰهُ	عَلٰى	قُلُوۡبِهِمۡ	وَ	عَلٰى	سَمۡعِهِمۡ	وَعَلٰٓى	اَبۡصَارِ	هِمۡ
الله	پر	زړونو د دوی	او	پر	غوږونو د دوی	او پر	سترګو	د دوی

الله پر زړونو د دوی. او همدارنګه پر غوږونو د دوی باندی. او پر سترګو د دوی (یو څو غټ مشرکین) باندی

غِشَاوَةٌ وَّلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۞ ع وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ

غِشَاوَةٌ	وَّلَهُمۡ	عَذَابٌ	عَظِيۡمٌ	وَ	مِنَ	النَّاسِ	مَنۡ
پرده ده	او (سته) د دوی دپاره	عذاب	ډیر لوی	او	(ځینی) د	خلقو	هغه دی

پرده ده (حقه لار نه وینی)، او سته د دغسی کسانو لپاره عذاب ډیر لوی (عظیم)، او ځینی د خلقو څخه هغه کسان دی

يَّقُوۡلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَمَا هُمۡ

يَّقُوۡلُ	اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ	وَ	بِالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ	وَمَا	هُمۡ
چی وایی	موږ ایمان راوړی دی	پر الله	او	پر وروځ	دآخرت	او نه دی	دوی

چی دوی وایی په خوله سره چی موږ ایمان راوړی دی، په ذات د الله او په ورځ د قیامت، حال دا دی چی دوی نه دی

اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَاَنۡذَرۡتَهُمۡ

دکفر تعریف او پیژندنه:

دکفر لفظي معنی ده پټول ناشکري ته هم کفر په دي وجه ویل کیږي چي په دي کښي داحسان پټول دي دشریعت په اصطلاح کښي کفر دي ته وایي چي دیوه داسي شي څخه انکار وسي چي پر هغه باندي ایمان لرل ضروري او فرض وي مثلا دایمان خلاصه داده چي نبي کریم ﷺ چي څه دالله جل جلاله دطرفه څخه راوړي دي او دهغه ثبوت قطعي او یقیني وي دهغه په زړه سره منل او حق یي ګڼل ایمان دی او په دوی کښي دیوه څخه انکار کول او حق نه ګڼل کفر دی (دانذار معنی) انذار داسي خبر ورکولو ته وایي چي دهغه څخه بیره پیدا سي لکه څنګه چي ابشار داسي خبر ته وایي چي دهغه څخه خوشحالي پیدا کیږي لیکن دانذار معنی مطلق بیرول نه دي بلکه داسي بیرول دي چي هغه دشفقت له وجي وي لکه یو پلار چي اولاد داورلړم او مار څخه بیروي ډاکو او غله او دظالم بیرولو ته انذار نه ویل کیږي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ص ۱۰۵)

مکتبه حبیبیه

ع

www.jamairahmani.org

بِمُؤْمِنِيْنَ ⑧ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا

بِمُؤْمِنِيْنَ	يُخٰدِعُوْنَ	اللّٰهَ	وَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَمَا
مؤمنان	تېګی کوی دوی	د الله سره	او	دهغو کسانو (سره)	چي ایمان یئ راوړی دی	او نه

مؤمنان، تېګی کوی دوی په (خپل ګمان) د الله سره. او دهغو کسانو سره چي ایمان یئ راوړی دی. او حال دا چي نه

يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ⑨ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

يَخْدَعُوْنَ	اِلَّآ	اَنْفُسَهُمْ	وَ	مَا يَشْعُرُوْنَ	فِيْ	قُلُوْبِهِمْ
کوی تېګی دوی	مګر	دخپلو ځانو سره	او	شعور نه لری (دوی)	په	زړونو کښی د دوی

کوی تېګی دوی، مګر د خپلو ځانو سره، او حال دا چي دوی نه پوهیږی، په زړونو کښی د دوی

مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ

مَّرَضٌ	فَزَادَهُمُ	اللّٰهُ	مَرَضًا	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ
مرض دی	نو زیات کړ دوی ته	الله	مرض	او سته د دوی دپاره	عذاب	درد ناک

یو مرض دی (دشک او نفاق)، نو پس ډیر کړ دوی لره الله دا مرض د دوی، او حال دا چي سته د دوی د پاره عذاب درد ناک

بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ⑩ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا

بِمَا	كَانُوْا	يَكْذِبُوْنَ	وَاِذَا	قِيْلَ	لَهُمْ	لَا تُفْسِدُوْا
په سبب د دی	چي وه دوی	دروغ یئ ویل	او هر کله چي	وویل سی	دوی ته (منافقینو ته)	فساد مه کوی

په سبب د دې چي دوی دروغ ویل. او هر کله چي وویل سی دغه منافقینو ته چي: فساد مه کوی

فِي الْاَرْضِ ۙ قَالُوْٓا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ ⑪ اَلَآ اِنَّهُمْ

فِي	الْاَرْضِ	قَالُوْٓا	اِنَّمَا	نَحْنُ	مُصْلِحُوْنَ	اَلَآ	اِنَّهُمْ
په	مځکه کښی	نو وایی دوی	بیشکه! همدا خبره ده	موږ (چي یو)	اصلاح کوونکی یو	خبردار	بیشکه دوی (منافقین)

په مځکه کښی، نو وایی دوی چي: بیشکه موږ اصلاح کوونکی یو. خبردار اوسئ بیشکه! هم دوی دی

هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ⑫ وَاِذَا قِيْلَ

هُمُ	الْمُفْسِدُوْنَ	وَلٰكِنْ	لَّا يَشْعُرُوْنَ	وَاِذَا	قِيْلَ
هم دوی	فساد کوونکی دی	او لیکن	نه لری شعور (دوی)	او هر کله چي	وویل سی

فساد کوونکی، او دوی نه پوهیږی. (په خپل فساد) . او هر کله چي وویل سی

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ.. ایا نفاق دنبي کریم ﷺ په زماني پوري خاص وو که اوس هم سته؟ په دي باره کښي صحیح خبره داده چي دمنافق پیژندل او دته منافق ویل ددوو طریقو شخه کیږي یوه دا چي الله جل جلاله خپل رسول ته د وحي په ذریعه ښوولي وي چي فلانی سړی منافق دی او په زړه مسلمان نه دی دوهم دا چي دهغه یوه خبره یا عمل داسي وي چي دهغه شخه د اسلامي عقیدي یا داسلام دمخالفت ثرګندیدنه کیږي دنبي کریم ﷺ تر وصال وروسته دوحي په ذریعه دمنافقانو دپیژندګلوی لاره خو بنده سوه ځکه چي وحي بندي سوي مګر دادوهمه لاره خو اوس هم آزاده او خلاصه ده دکم سړي وینا او عمل که داسي وي چي په هغه کښي داسلام دیقیني او قطعي عقیدو مخالفت وي یا دده په وینا او عمل سره ددغو عقیدو سپکاوی وي او داسړی داسلام او ایمان هم دعوی کوي نو داسړی دشریعت دنګاه شخه منافق بلل کیږي (اعاذنا الله وایاکم من النفاق والشقاق وسوء الاخلاق ومن الریاء فی الاعمال) (معارف القرآن ج١ پ١ ص ١١٤)

www.jamairahmani.org

لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ

لَهُمْ	اٰمِنُوْا	كَمَآ	اٰمَنَ	النَّاسُ	قَالُوْٓا	اَنُؤْمِنُ
دوی ته	چي ایمان راوړی	لکه څنګه چي	ایمان راوړی دی	خلګو	(نو) وایي دوی	آیا موږ آیمان راوړو

دوی ته چي ایمان راوړی، لکه څنګه چي ایمان راوړی دی نورو خلګو، نو وایي دوی آیا موږ آیمان راوړو؟

كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ

كَمَآ	اٰمَنَ	السُّفَهَآءُ	اَلَآ	اِنَّهُمْ	هُمُ	السُّفَهَآءُ	وَلٰكِنْ
لکه څنګه چي	ایمان راوړی دی	ناپوهانو	خبردار	بیشکه دوی	هم دوی	ناپوهان دی	او لیکن

لکه څنګه چي آیمان راوړی دی ناپوهانو، (الله فرمایي): خبردار اوسئ بیشکه! هم دوی دی ناپوهان او نه

لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ

لَّا يَعْلَمُوْنَ	وَاِذَا	لَقُوا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا
نه پوهیږی دوی	او هرکله چي	ملاقات وکړی	دهغو کسانو سره	چي ایمان یې راوړی دی	وایي دوی	ایمان راوړی دی موږ

پوهیږی دوی، او کله چي ملاقات وکړی (منافقان) د هغو کسانو سره چي ایمان یې راوړی دی، نو وایي چي ایمان مو راوړی دی

وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا

وَاِذَا	خَلَوْا	اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ	قَالُوْٓا	اِنَّا	مَعَكُمْ	اِنَّمَا
او هرکله چي	یوازی سی	له شیطانانو خپلو سره	وایي دوی	بیشکه! موږ	ستاسو سره یو	بیشکه! همدا (خبره ده)

او کله چي بیا یوازی سی له شیطانانو (مشرانو) خپلو سره، نو وایي دوی چي بیشکه! موږ ستاسی سره یو. (او وایي) بیشکه!

نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٤﴾ اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِيْ

نَحْنُ	مُسْتَهْزِءُوْنَ	اَللّٰهُ	يَسْتَهْزِئُ	بِهِمْ	وَيَمُدُّهُمْ	فِيْ
موږ (چي یو)	توکی کوونکی یو	الله	سزا د توکو ورکوی	و دوی ته (منافقینو ته)	او مهلت ورکوی دوی ته	په

موږ توقی (مسخری) کوونکی یو (پر مؤمنانو). الله سزا ورکوی د توکو د دوی، (ودی منافقینو ته)، او مهلت ورکوی دوی ته په دی

طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا

طُغْيَانِهِمْ	يَعْمَهُوْنَ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	اشْتَرَوُا
سرکشی د دوی کښی	حال دا چي دوی حیران دی (سرګردانه)	دغه خلګ (منافقین)	هغه کسان (دی)	چي غوره کړی یې ده

سرکشی د دوی کښی، حال دا چي دوی حیران دی. دا هغه کسان (منافقان) دی چي اخیستی یې ده (غوره کړی)

قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ... (دکفر او ایمان ضابطه) دقرآن په اصطلاح او ژبه کښي ایمان هغه شی دی چي دهغه ذکر لوړ په دغه آیت کښي راغلی دی ددی آیت څخه داسي معلومیږي چي دایمان ددعوې دصحت یا دغلطی دمعلومولو لپاره معیار دصحابه کرامو ایمان دی کم ایمان چي دصحابه کرامو دایمان برابر او دهغه سره موافق نه وي هغه دالله ﷻ او د رسول ﷺ په نزد ایمان نه دی که چیري یو سړی یوه قرآني عقیده په داسي شان مني چي دهغه مطلب او مفهوم د خپل خواهش مطابق او دقرآن دښکاره وینا او درسول ﷺ دتشریح څخه خلاف بیانوي نو دده دغه منل ددغه عقیدي په باره کښي شرعا معتبر نه دی بلکی دا داسي ده لکه چي ده داعقیده منلی نه ده لنډ مطلب دادی که چیري یو سړی دیوي عقیدي یو نوی داسي مطلب جوړ کړي چي هغه دصحابه کرامو دایمان څخه خلاف وي او پر دغه عقیده ټینګ او محکم پاته سي نو داسړی مومن مسلمان نه دی.
(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ١١٥)

www.jamairahmani.org

الضَّلٰلَةَ بِالۡهُدٰى فَمَا رَبِحَتۡ تِّجَارَتُهُمۡ وَمَا كَانُوۡا

الضَّلٰلَةَ	بِالۡهُدٰى	فَمَا رَبِحَتۡ	تِّجَارَتُهُمۡ	وَمَا كَانُوۡا
ګمراهي	په (بدل) د هدايت سره	پس ګټه يې ونه کړه	سوداګرئ د دوى	او نه وه دوى

ګمراهي په بدل د هدايت سره ، پس هيڅ فائده يې ونه کړل سوداګرئ د دوى (بلکه تاوان يې وکړ). او نه وو دوى (منافقان)

مُهۡتَدِيۡنَ ⑯ مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ الَّذِى اسۡتَوۡقَدَ نَارًا

مُهۡتَدِيۡنَ	مَثَلُهُمۡ	كَمَثَلِ	الَّذِى	اسۡتَوۡقَدَ	نَارًا
لارى پيدا کوونکى	(مثال) حال د دوى (منافقينو)	په شان د حال	دهغه چا دى	چې بل کړى يئ وى	اور

لار پيدا کوونکى. مثال د منافقينو (په نفاق کښى) په شان د هغو کسانو دى چې بل کړى يئ وى اور (ځانوته)،

فَلَمَّاۤ اَضَاۤءَتۡ مَا حَوۡلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوۡرِهِمۡ

فَلَمَّاۤ	اَضَاۤءَتۡ	مَا	حَوۡلَهٗ	ذَهَبَ	اللّٰهُ	بِنُوۡرِهِمۡ
پس کله چې	چې روښانه کړى دغه (اور)	هغه (ځايونه)	چې شاه وخوا دهغه دى	مړه کړل	الله	روښنايى د دوى

نوکله چې روښانه کړى دغه (اور) شاه وخوا د دوى، نو بيا ختم (مړ) کړى الله دا اور (روښنانى) د دوى

وَتَرَكَهُمۡ فِىۡ ظُلُمٰتٍ لَّا يُبۡصِرُوۡنَ ⑰ صُمٌّۢ بُكۡمٌ عُمۡىٌ

وَتَرَكَهُمۡ	فِىۡ	ظُلُمٰتٍ	لَّا يُبۡصِرُوۡنَ	صُمٌّۢ	بُكۡمٌ	عُمۡىٌ
او پريښوولى يې دوى	په	تيارو کښى	چې نه وينى (هيڅ شئ)	کاڼه دى	ګونګيان دى	ړانده دى

او پريږدى دوى په تيارو کښى په داسى حال کښى چې هيڅ شئ نه وينى. (دوى) کاڼه دى، ګونګيان دى، ړانده دى

فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُوۡنَ ⑱ اَوۡ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاۤءِ

فَهُمۡ	لَا يَرۡجِعُوۡنَ	اَوۡ	كَصَيِّبٍ	مِّنَ	السَّمَاۤءِ
پس دوى	نه راګرځى (دمنافقت څخه)	يا	په شان د ډير باران دى	(چې) د طرفه	د آسمان څخه (اوريږى)

پس دوى بيرته نه راګرځى (دګمراهى) څخه. او يا مثال د دوى په شان دهغه چا دى چې ډير باران پر اوريږى دآسمان څخه

فِيۡهِ ظُلُمٰتٌ وَّرَعۡدٌ وَّبَرۡقٌ يَجۡعَلُوۡنَ اَصَابِعَهُمۡ فِىۡۤ

فِيۡهِ	ظُلُمٰتٌ	وَّرَعۡدٌ	وَّبَرۡقٌ	يَجۡعَلُوۡنَ	اَصَابِعَهُمۡ	فِىۡۤ
(وى) په دغه کښى	تيارى	او تالندى (تندر) وى	او بريښنا وى	ننه باسى دوى	ګوتى خپلى	په

چې وى په هغه کښى تيارى، تالندى او بريښنا وى نو ننه باسى دوى ګوتى خپلى په

فَمَا رَبِحَتۡ تِّجَارَتُهُمۡ

دانبياوو او اولياوو سره بده معامله دالله ﷻ سره بدي کول دي: په مخکښي آياتونو کښي دمنافقينو دغه حال ذکر سوى دى چي دا خلق الله ﷻ ته دوکه ورکوي حال دا دى چي دمنافقينو په فرقه کښي داسي يو نفر به لاهم نه وو چي هغه الله ﷻ ته ددوکى او چم ورکولو اراده کړى وي يا يي دا ګڼلي وي چي دى الله ﷻ ته دوکه ور کولاى سي بلکي حقيقت داوو چي دى خلګو به رسول ﷺ او مومنانو ته دوکه ورکوله او په دى لړ کښي به يي بد بد حرکتونه کوله الله ﷻ په دي آيت کښي وښووله څوک چي ديوه رسول يا ولي سره کمه بده معامله کوي او دى په دغه سره آزاروي هغه په حقيقت کښي دغه شان معامله دخداى ﷻ سره کوي بل طرف ته په دى آيت کښى دنبي کريم ﷺ دشان لوړوالى ته اشاره وسوه هغه داچى دنبي په شان کښي څه ګستاخي او بې عزتي کول داسي جرم دى لکه څرنګه چي دالله ﷻ په شان کښي ګستاخي جرم دى.

(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ١١٠)

www.jamairahmani.org

اِذَا نِهِمۡ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الۡمَوۡتِ ؕ وَاللّٰهُ مُحِيۡطٌۢ

اِذَانِهِمۡ	مِّنَ الصَّوَاعِقِ	حَذَرَ	الۡمَوۡتِ	وَاللّٰهُ	مُحِيۡطٌۢ
غوږونو خپلو کښې	له وجې د سخت آواز د تالندو	د بيرې	د مرګ څخه	او الله	(شاوخوا) احاطه کوونکی دی

غوږونو خپلو کښې له سببه د سخت آواز د تالندو د بيرې د مرګه، او الله احاطه کوونکی دی شاوخوا (په علم او قدرت خپل)

بِالۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۱۹﴾ يَكَادُ الۡبَرۡقُ يَخۡطَفُ اَبۡصَارَهُمۡ ؕ كُلَّمَآ

بِالۡكٰفِرِيۡنَ	يَكَادُ	الۡبَرۡقُ	يَخۡطَفُ	اَبۡصَارَهُمۡ	كُلَّمَآ
پر کفارو باندې	نږدې ده	بريښنا	چې وتښتوي	سترګې د دوی	کله چې

پر کفارو باندې. نږدې ده چې بريښنا به په چابکۍ سره يو سې (نور) د سترګو د دوی (هيڅ شئ به نه وينې). نو هر کله چې

اَضَآءَ لَهُمۡ مَّشَوۡا فِيۡهِ ۙ وَاِذَآ اَظۡلَمَ عَلَيۡهِمۡ قَامُوۡا ؕ

اَضَآءَ لَهُمۡ	مَّشَوۡا فِيۡهِ	وَاِذَآ	اَظۡلَمَ	عَلَيۡهِمۡ	قَامُوۡا ؕ
رڼا وکړي دوی ته	(نو) روان سی (دوی) په هغه کښې	او هر کله چې	تياره کړي	پر دوی باندې	نو ودريږي

(بريښنا) رڼا وکړي دوی ته نو روان به سی دوی په دا رڼا کښې، او هر کله چې تياره کړي پر دوی باندې نو وبه دريږي

وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمۡعِهِمۡ وَاَبۡصَارِهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

وَلَوۡ شَآءَ	اللّٰهُ	لَذَهَبَ	بِسَمۡعِهِمۡ	وَاَبۡصَارِهِمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ
او که چيرې اراده کړې وای	الله	خامخا بيولی (زائل کړي) به وايي	غوږونه د دوی	او سترګې د دوی	بيشکه!	الله

او که چيرې اراده کړې وای الله نو خامخا زائل کړي به يې وايي غوږونه د دوی، او سترګې د دوی، بيشکه الله

عَلٰى كُلِّ شَیۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۲۰﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اعۡبُدُوۡا رَبَّكُمُ

عَلٰى	كُلِّ	شَیۡءٍ	قَدِيۡرٌ	يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	اعۡبُدُوۡا	رَبَّكُمُ
پر	هر	شئ باندې	ښه قدرت لرونکی دی	ای!	خلګو	عبادت وکړی	د رب خپل

پر هر شئ باندې (چې اراده وفرمايي) ښه قادر دی (چې ځينې کانه او رانده کړي). ای! خلګو عبادت وکړی د رب خپل

الَّذِیۡ خَلَقَكُمۡ وَالَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴿۲۱﴾

الَّذِیۡ	خَلَقَكُمۡ	وَالَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِكُمۡ	لَعَلَّكُمۡ	تَتَّقُوۡنَ
دهغه (ذات)	چې پيدا کړي يې ياست تاسې	او هغه کسان	چې د مخه ستاسو څخه وه	د پاره د دې چې تاسې	ځانونه وساتې

هغه ذات چې پيدا کړي يې ياست تاسې، او هغه کسان چې د مخه ستاسو څخه وه، (پس) ښايي تاسو ته چې ځانونه وساتې (د عذابه)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اعۡبُدُوۡا رَبَّكُمۡ...درب معنى او

مطلب: درب معنى ده پالونکى هغه ذات چي دانسان دپاللو ذمه يې اخيستې ده او ديوه ځاځکي مني څخه يي غټ مټ اوريدونکى او ليدونکى عاقل ماهر انسان جوړ کړيدی او بيا يي دبقاء او ترقى لپاره هغه ته ذريعي ورکړي دي نو هم دغه ذات دعبادت مستحق کيدای سي نه بل څوک او په دي هر سړی پوهيږي چي دغه دربوبيت شان دالله ﷻ دذات څخه ماسواه بل چاته نه دی حاصل او پر انسان باندي انعامات هم دغه الله ﷻ کړي دي نه دډبرې څخه تراشل سوي بتانو او نه يوه بل مخلوق او دوی به يي څرنګه وکړي چي دوی په خپله په خپل وجود او بقاء کښي دغه يو ذات ته محتاجه دي نو يو محتاج به د بل محتاج څخه څه حاجت حاصل کړي او که چيري په ظاهره څه وکي هم نو هغه په حقيقت او اصل کښي دهغه ذات کار دی چي هغه ته دواړه محتاجه دي خلاصه دا سوه چي درب لفظ دا واضحه کړه چي دعبادت مستحق صرف الله ﷻ دی.

(معارف القرآن ج۱ پ۱ ص ۱۲۰)

ع ٣
٢

www.jamairahmani.org

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً ۪

الَّذِیْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الْاَرْضَ	فِرَاشًا	وَّالسَّمَآءَ	بِنَآءً
هغه (ذات) دی	چي ګرځولی یی ده	ستاسو دپاره	مځکه	فرش (هواره)	او ګرځولی یی دی آسمان	چت

هغه رب چي ګرځولی یی ده ستاسو دپاره مځکه فرش (هواره) او ګرځولی یی دی آسمان چت

وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ

وَّاَنْزَلَ	مِنَ	السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَخْرَجَ	بِهٖ	مِنَ الثَّمَرٰتِ
او را ورولی یئ دی	د (طرفه)	آسمان څخه	اوبه	پس راوی ایستلی	په دغه (اوبو سره)	د میوو څخه

او نازلي کړی یئ دی د آسمان د طرفه څخه اوبه (باران)، چي را وباسی په دغه اوبو سره هر ډول (قسم) میوی دپاره د

رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾

رِزْقًا	لَّكُمْ	فَلَا تَجْعَلُوْا	لِلّٰهِ	اَنْدَادًا	وَّاَنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ
خوراک	ستاسو دپاره	پس مه ګرځوی	دالله سره	شریکان	او (حال داچي) تاسی	نبه پوهیږی

دخوراک ستاسو، پس مه ګرځوی دالله سره شریکان حال داچي تاسی پوهیږی. (چي الله شریک نه لری)

وَاِنْ كُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰی عَبْدِنَا

وَاِنْ	كُنْتُمْ	فِیْ رَیْبٍ	مِّمَّا	نَزَّلْنَا	عَلٰی	عَبْدِنَا
او که چیری	یاست تاسی	په شک کښی	دهغه څخه	چي مونږ نازل کړی دی	پر	خپل بنده باندی

او که چیری یاست تاسی په شک کښی دهغه (قرآن) څخه چي مونږ نازل کړی دی پر بنده خپل (محمد باندی) پس راوړی

فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۪ وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ

فَاْتُوْا	بِسُوْرَةٍ	مِّنْ مِّثْلِهٖ	وَادْعُوْا	شُهَدَآءَكُمْ	مِّنْ دُوْنِ
پس راوړی (تاسی)	یو سورت	په شان د دی (قرآن)	او راوبولی	ملګری خپل	ماسواء د

تاسی یو سورت په شان د دغه قرآن، او را وبولئ (ای مشرکانو!) مددګاران (ملګری) خپل ماسواء (بیله د)

اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۳﴾ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا

اللّٰهِ	اِنْ	كُنْتُمْ	صٰدِقِیْنَ	فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا	وَلَنْ تَفْعَلُوْا
الله څخه	که چیری	یاست تاسی	ربنتنی	پس که چیری ونه کړی تاسو (داکار)	او د سره به یی ونه کړی تاسی

الله څخه، که چیری یاست تاسی ربنتنی. پس که چیری نه سوائ کولای تاسو (داکار) او هیڅ کله به ونه کولای سئ تاسی

وَاِنْ كُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا دټولو پیغمبرانو علیهم السلام معجزي دهغوی تر ژونده پوري وي: لیکن دا یوازي دقرآن معجزه ده چي دنبي کریم ﷺ تر وصال وروسته هم هغه شان دمعجزی په حیثیت باقي دی چي څه رنګه دنبي ﷺ په زمانه کي وو نن هم یو معمولي مسلمان دټولي دنیا وعالمانو او پوهانو ته په دعوه سره ویلای سي چي دده مثال نه چا مخکي راوړی دی او نه یي څوک راوړی سي او په چا کي که طاقت وي نو پیش دي کړي. جلال الدین سیوطي په خپل کتاب خصایص کبری کښي دحدیث په حواله دنبي کریم ﷺ ددوو معجزو متعلق دا لیکلي دي چي دا به تر قیامته پوري وي یوه دقرآن معجزه او بله معجزه ددرو جمرو یعني د شیطانانو ډبري چي ورکي سي (یعني فرشتي دهغه چا ډبري پورته کوي چي الله پاک جل جلاله یه حج قبول کړی وي دادوی معجزی به تر قیامته پوري وي ځوارلس نیم سوه کاله وروسته خولادادي سته نوربي انتظار کوی.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۱۲۸ مکتبه حبیبیه)

www.jamairahmani.org

فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ

فَاتَّقُوا	النَّارَ	الَّتِیْ	وَقُوْدُهَا	النَّاسُ
پس وبیرېږی	د اور ځخه	هغه (اور)	چې خاشاک (بوټی، پیلوزی) د هغه	خلګ

پس وبیرېږی (وساتئ ځانونه) د هغه اور ځخه چې پیلوزئ (بوټی) د هغه اور خلګ (بنی آدمان)

وَالْحِجَارَةُ ۚ اُعِدَّتْ لِلْکٰفِرِیْنَ ﴿۲۴﴾ وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ

وَ	الْحِجَارَةُ	اُعِدَّتْ	لِلْکٰفِرِیْنَ	وَ	بَشِّرِ	الَّذِیْنَ
او	کاڼی دی	تیار کړل سوی دی (دا اور)	دکافرانو دپاره	او	زیرئ ورکړه	هغوکسانو ته

او کاڼی دی، چې دا تیار کړل سوی دی د پاره د کافرانو. او زیرئ ورکړه (ای محمده) هغه کسانو ته (خلقو ته)

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ

اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	اَنَّ	لَهُمْ	جَنّٰتٍ	تَجْرِیْ
چې ایمان یې راوړی دی	او کړی یې دی عملونه	د نیکو	بیشکه!	(سته) دوی ته	باغونه	بهیږی

چې ایمان یې راوړی دی او عمل یې کړی دی د نیکو، (داچې) بیشکه! سته د دوی دپاره جنتونه (باغونه) چې بهیږی د

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ کُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ

مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	کُلَّمَا	رُزِقُوْا	مِنْهَا	مِنْ ثَمَرَةٍ	رِّزْقًا
لاندی تر هغه	ویالی (ځلور قسمه)	کله چې	ورکړل سی دوی ته	د دی (جنتو) ځخه	ځه میوه	دپاره دخوراک

هغه (ترمانیو او ونو) لاندی ویالی او هر کله چې ورکړل سی و دی جنتیانو ته ځه میوه د دی جنت د پاره د خوراک نو

قَالُوْا هٰذَا الَّذِیْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ وَاُتُوْا بِهٖ

قَالُوْا	هٰذَا	الَّذِیْ	رُزِقْنَا	مِنْ قَبْلُ	وَاُتُوْا بِهٖ
وبه وایی	دغه	هغه (میوه ده)	چې راکړل سوی ده موږ ته	دمخه (تردی)	او وربه کړل سی هغوی ته دغه میوه

وبه وایی دغه (جنتیان) دا همغسی میوه ده چې راکړل سوی وه موږ ته پخوا له دی ځخه، او ورابه ورل سی دوی ته

مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ فِیْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِیْهَا

مُتَشَابِهًا	وَلَهُمْ	فِیْهَآ	اَزْوَاجٌ	مُّطَهَّرَةٌ	وَّهُمْ	فِیْهَا
همرنګه	او (سته) دوی ته	په دغه (جنتو کښی)	ښځی	پاکی	او دوی (به)	په دغه (باغو کښی)

همرنګه میوه، او وی به دوی ته په دغو جنتو کښی ښځی ښی پاکی، او وی به دوی (اوسیدونکی) په دی جنت کښی

وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ فِیْهَآ اَزْوَاجٌ

جنتیانو ته دمختلفو میوو دورکولو په یوه شکل او صورت کښي:

ددې میوو ورکولو مقصد او غرض دادی چې لذت خوند او خوشحالي یې زیاته سي او بعضي مفسرینو دمیوو دمتشابه کیدلو دامطلب او مراد اخیستی دی چې دجنت میوی به په شکل کښي ددنیا دمیوو په شان وي چې کله جنتیانو ته ورکړه سي نو دوی به ووایي چې دا خو هغه میو ي دي چې موږ ته به په دنیا کښي حاصلیدلی لیکن په خوند کي به دا داسي وي چې ددنیا میوه به یي ګرځ ته هم نه رسیږي یوازي دنوم اود شکل په اعتبار به دا دواړه یو شان وي:

په جنت کښي د پاکو بیبیانو ځخه مطلب دادی

چي دا بیبیاني به ددنیا دټولو ظاهري اواخلاقي پلیتو ځخه پاکي وي لکه بولي ګندګي حیض او نفاس او دهرهغه شي ځخه به پاکي وي چې دکم شي ځخه دانسان نفرت کیږي او داشان دبد خویي بي وفایي او دنورو باطني عیبو ځخه به هم پاکي وي الله ﷻ دي موږ او تاسي ته دا سعادت رانصیب کړی۔

(معارف القرآن ج۱ ص ۱۴۹)

خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَسْتَحْیٖۤ اَنْ یَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا

خٰلِدُوْنَ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا یَسْتَحْیٖۤ	اَنْ یَّضْرِبَ	مَثَلًا مَّا
همیشه (اوسیږی)	بیشکه!	الله	نه پرېږدی	دا چې بیان کړی	یو مثال د مثالو څخه

همیشه (تل ترتله). بیشکه! الله نه پرېږدی (نه شرمیږی په دی خبره) چې بیان کړی یو مثال د مثالو څخه که (په اندازه)

بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا ؕ فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا فَیَعْلَمُوْنَ

بَعُوْضَةً	فَمَا فَوْقَهَا	فَاَمَّا	الَّذِیْنَ	اٰمَنُوْا	فَیَعْلَمُوْنَ
که د غوماشی وی	یا لوړ د هغه څخه	پس هر چې	هغه کسان	چې ایمان یئ راوړی دی	دوی پوهیږی

د غوماشی وی او یا لوړ (غټ) د هغه څخه وی، پس هغه کسان چې ایمان یئ راوړی دی، دوی پوهیږی (په یقین سره)

اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ وَاَمَّا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فَیَقُوْلُوْنَ

اَنَّهُ	الْحَقُّ	مِنْ رَّبِّهِمْ	وَاَمَّا	الَّذِیْنَ	كَفَرُوْا	فَیَقُوْلُوْنَ
بیشکه دغه	حق دی	د طرفه د رب د دوی	او هر چې	هغه کسان	چې کافران سوی دی	پس دوی وایی

بیشکه! دا مثال حق دی د طرفه د رب د دوی څخه او هغه کسان چې کافران سوی دی نو دوی وایی (له ناپوهئ څخه)

مَاذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ یُضِلُّ بِهٖ كَثِیْرًا ۙ وَّیَهْدِیْ

مَاذَآ	اَرَادَ	اللّٰهُ	بِهٰذَا	مَثَلًا	یُضِلُّ	بِهٖ	كَثِیْرًا	وَّیَهْدِیْ
د څه شئ	اراده کړی ده	الله	په دغه	مثال سره	بی لاری کوی (الله)	په دی (مثالو سره)	ډیر (خلق)	او لاربنئ

چې د څه شئ اراده کړی ده الله په دغه مثال سره (داسی چې) بی لاری کوی په دی مثالو سره ډیر خلق او لار ښئ

بِهٖ كَثِیْرًا ؕ وَمَا یُضِلُّ بِهٖۤ اِلَّا الْفٰسِقِیْنَ ﴿۲۶﴾ الَّذِیْنَ

بِهٖ	كَثِیْرًا	وَمَا یُضِلُّ	بِهٖۤ	اِلَّا	الْفٰسِقِیْنَ	الَّذِیْنَ
په دی (مثالو سره)	ډیروته	او نه بی لاری کوی	په دی (مثالو سره)	مگر	فاسقان	هغه کسان (فاسقان)

د (حق) په دی مثالو سره ډیرو خلقو ته، نه گمراه کوی (الله) په دی مثالو سره مگر (فاسقان). هغه فاسقان

یَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِیْثَاقِهٖ ۪ وَیَقْطَعُوْنَ

یَنْقُضُوْنَ	عَهْدَ	اللّٰهِ	مِنْۢ بَعْدِ	مِیْثَاقِهٖ	وَیَقْطَعُوْنَ
چې ماتوی	وعده د	الله	وروسته تر	محکم والی د دی وعدی	او پری کوی

چې ماتوی عهد (وعده) د الله وروسته تر محکم والی د دی وعدی او (دا فاسقان) پری کو ی

وَمَا یُضِلُّ بِهٖۤ اِلَّا الْفٰسِقِیْنَ

د فاسق تعریف اوپیژندنه

فاسق دفسق څخه جوړ دی او دفسق لفظي معنی ده وتل او د شرعی په اصطلاح کښي د الله ﷻ دطاعت څخه وتلو ته فسق وایي او دطاعت الهیه څخه وتل دکفر او انکار په ذریعه هم کیږي او په عملي نافرمانی سره هم کیږي د دې وجې څخه دفاسق لفظ دکافر لپاره هم ویل کیدی سي په قرآن کښي دفاسقین لفظ ډیر دکافرانو لپاره استعمال سوی دی او مومن گناهکار ته هم فاسق ویل کیږي: دفقهاوو په اصطلاح کښي په عام طور باندي دفاسق لفظ دمومن گناهکار لپاره استعمال سوي دی همدغه لفظ دفقهاوو په اصطلاح کښي یعني فاسق دکافر په مقابل کښي واقع دی او دهغه ضد او قسیم دی څوک چي گناه کبیره وکي او دهغه څخه توبه ونه کي یا پر صغیره باندي همیشه والی وکړي او داخپل عادت جوړ کړي نو دی دفقهاوو په اصطلاح کښي فاسق دی لکه چي دا خبره په تفسیر مظهري کښي راغلی ده الله ﷻ مودي دفسقه او نافرمانی څخه وساتي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۱۵۱)

www.jamairahmani.org

مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ یُّوۡصَلَ وَیُفۡسِدُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ

مَاۤ	اَمَرَ	اللّٰهُ	بِهٖۤ	اَنۡ یُّوۡصَلَ	وَیُفۡسِدُوۡنَ	فِی الۡاَرۡضِ
هغه څه	چي امر کړی دی	الله	په هغه سره	دا چي پیوند کړل سي	او فساد کوی (دوی)	په مځکه کښي

هغه چي امر کړی دی الله په هغه سره ، دا چي پیوند کړل سي، او فساد کوی دوی په مځکه کښي

اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿٢٧﴾ کَیۡفَ تَکۡفُرُوۡنَ بِاللّٰهِ وَ کُنۡتُمۡ

اُولٰٓئِكَ	هُمُ	الۡخٰسِرُوۡنَ	کَیۡفَ	تَکۡفُرُوۡنَ	بِاللّٰهِ	وَ	کُنۡتُمۡ
دغه کسان	دوی دی	زیان کاره	څنګه به	تاسی منکره کیږی	په الله سره	او	وی تاسی

او دغه کسان هم دوی دی زیان کاران، څرنګه به تاسی منکره کیږی په الله سره (څنګه به کافران کیږی په الله سره) او حال

اَمۡوَاتًا فَاَحۡیَاکُمۡ ۚ ثُمَّ یُمِیۡتُکُمۡ ثُمَّ یُحۡیِیۡکُمۡ ثُمَّ

اَمۡوَاتًا	فَاَحۡیَاکُمۡ	ثُمَّ	یُمِیۡتُکُمۡ	ثُمَّ	یُحۡیِیۡکُمۡ	ثُمَّ
مړه	پس ژوندیئ در کړی تاسو ته	بیا به	مرګ در کړی تاسو ته	بیا	ژوندی کوی تاسی	بیا

داچي وی تاسی مړه پس ژوندیئ درکړی تاسو ته (الله) وروسته به مرګ درکړی،او بیا ژوندی کوی تاسی (الله) وروسته

اِلَیۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿٢٨﴾ هُوَ الَّذِیۡ خَلَقَ لَکُمۡ مَّا

اِلَیۡهِ	تُرۡجَعُوۡنَ	هُوَ	الَّذِیۡ	خَلَقَ	لَکُمۡ	مَّا
وطرفته د هغه به	وګرځول سئ تاسی	هغه (الله)	هغه ذات دی	چي پیدا کړی دی	ستاسو دپاره	هغه چي

بیا به هم خاص وطرفته د هغه (الله) تاسی ورځئ، دا الله هغه ذات دی چي پیدا کړی یئ دی ستاسو د پاره هغه شیان چي په

فِی الۡاَرۡضِ جَمِیۡعًا ۚ ثُمَّ اسۡتَوٰۤی اِلَی السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ

فِی الۡاَرۡضِ	جَمِیۡعًا	ثُمَّ	اسۡتَوٰۤی	اِلَی	السَّمَآءِ	فَسَوّٰىهُنَّ
په مځکه کښي دی	ټوله	بیا یئ	اراده وکړل (الله)	و طرفته	دآسمان	پس برابریئ کړل دغه (آسمانونه)

مځکه کښي دی ټوله، وروسته اراده وکړل الله وطرفته د آسمان (دپیدا کولو) نو برابریئ کړل دغه آسمانونه چي

سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ ؕ وَهُوَ بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ﴿٢٩﴾ ؏ وَاِذۡ قَالَ

سَبۡعَ	سَمٰوٰتٍ	وَهُوَ	بِکُلِّ	شَیۡءٍ	عَلِیۡمٌ	وَاِذۡ	قَالَ
اوه (٧)	آسمانونه	او هغه ذات	په هر	شئ	ښه عالم دی	او هغه وخت چي	وویل

اوه (٧) آسمانونه دی، او هم دغه ذات په هر شئ ښه عالم (پوه) دی، او (یاد کړه ای! محمده) هغه وخت چي و فرمایل

هُوَ الَّذِیۡ خَلَقَ لَکُمۡ مَّا فِی الۡاَرۡضِ...ددی ایت څخه دبعضی عالمانو استدلال: ځیني علماوو دادلیل نیولی دی چي ددنیا په ټولو شیانو کي اصل دانسان لپاره ددی شیانو حلالوالی او مباحوالی دی ځکه چي داهم دده لپاره پیدا سویدي البتّه په استثناء دهغه شیانو چي کوم په شریعت کښي حرام سویدی نو په دي وجه چي تر څو دیو شي حرمت دقرآن او سنت څخه ثابت نه وي هغه حلال ګڼل کیږي خو ددی په مقابله کښي بعضی علماوو دا ویلي دي چي دانسان دفایدی لپاره دپیدا کیدلو څخه دیو شي حلالیدل نه ثابتیږي ځکه چي اصل په شیانو کښي حرمت دی تر څو چي دقرآن او سنت څخه یي جواز ثابت نه وي نو هغه شی حرام ګڼل کیږي څه علماء خاموشه پاته سویدي (یعني نه یي دا ویلي دي چي اصل اباحت دی او نه یي دا ویلي دي چي اصل په شیانو کښي حرمت دی) ابو حیان صاحب دتفسیر بحر محیط وایي چي صحیح داده چي په دی آیت کښي دیوه قول دلیل هم نسته: دتفصیل لپاره معارف القرآن ته رجوع وکړی.
(معارف القرآن ج ١ پ ١ص ١٥٦) (مکتبه حبیبیه)

ربع

www.jamairahmani.org

رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً ؕ قَالُوْٓا

رَبُّكَ	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	اِنِّيْ	جَاعِلٌ	فِي الْاَرْضِ	خَلِيْفَةً	قَالُوْٓا
رب ستا	ملائیکو ته	بیشکه! زه یم	گرځوونکی	په مځکه کښی	یو خلیفه (نایب)	ورته یې وویل (ملائیکو)

رب ستا ملائیکو ته چی بیشکه زه گرځوونکی یم په مځکه کښی یو خلیفه. (پس) ورته یې وویل ملائیکو (و الله ته)

اَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ

اَتَجْعَلُ	فِيْهَا	مَنْ	يُّفْسِدُ	فِيْهَا	وَيَسْفِكُ	الدِّمَآءَ
آیا گرځوی ته	په دغه (مځکه کښی)	هغه څوک چی	فساد به کوی	په دغه (مځکه کښی)	او تویوی به	وینی

آیا گرځوی ته په مځکه کښی هغه څوک چی فساد به کوی په دی مځکه کښی، او تو یوی به (په ناحقه سره) وینی

وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ؕ قَالَ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ

وَنَحْنُ	نُسَبِّحُ	بِحَمْدِكَ	وَنُقَدِّسُ	لَكَ	قَالَ	اِنِّيْٓ	اَعْلَمُ
او موږ	پاکی وایو	سره د ثناء ستا	او بزرگی بیانوو	تالره	وویل (الله)	بیشکه! زه	پوهیږم

حال دا چی موږ تسبیح وایو سره د ثناء ستا او نسبت د پاکی کوو تاته، وفرمایل الله بیشکه! زه پوهیږم

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ

مَا	لَا تَعْلَمُوْنَ	وَعَلَّمَ	اٰدَمَ	الْاَسْمَآءَ	كُلَّهَا	ثُمَّ
په هغه	چی تاسی نه پوهیږی	او وښوول (الله)	آدم ته	نومونه	ټولو	وروسته

په هغه څه چی تاسی نه پوهیږئ. او وښوول الله آدم ته نومونه د ټولو (دلوړو او دمځکو دشیانو) بیا یې

عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ ۙ فَقَالَ اَنْۢبِئُوْنِيْ بِاَسْمَآءِ

عَرَضَهُمْ	عَلَى	الْمَلٰٓئِكَةِ	فَقَالَ	اَنْۢبِئُوْنِيْ	بِاَسْمَآءِ
پیش کړل (الله) دغه نومونه	پر	ملائیکو باندی	پس وویل	وښیئ (ملائیکو) ماته	نومونه

وړ پیش کړل الله هغه نومونه و ملائیکو ته پس وفرمایل (الله و ملائیکوته) چی وښیاست ماته نومونه

هٰٓؤُلَآءِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ

هٰٓؤُلَآءِ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	قَالُوْا	سُبْحٰنَكَ	لَا عِلْمَ
د دغه شیانو	که چیری یئ تاسی	رښتنی	وویل (ملائیکو)	پاکی ده تالره	نشته علم

د دغه شیانو که چیری یاست تاسی رشتیا ویونکی. وویل (ملائیکو الله ته) پاکی ده تالره نشته علم موږ ته

اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً ؕ... دلته یوه خبره دغور او فکر وړده: هغه دا چی الله ﷻ ددی خبری اظهار دملایکو په مجلس کښی په کوم حیثیت سره کړی وو ؟ ایا دهغوی څخه مشوره اخیستل مقصود وه او که یوازی دوی ته خبر ورکول وو یا دملایکو په ژبه دملایکو درایی څرگندول مراد وه دا خبره ظاهره ده چی دمشوری ضرورت خو په هغه ځای کی پیښیږی چیری چی دمشوری ټول اړخونه چاته واضح نه وی : خبره داده چی په اصل کښی دلته مشوره اخیستل مقصود نه وه او نه ددی ضرورت وو لیکن صورت یی دمشوری جوړ کی داددی لپاره چی مخلوق ته دمشوری دسنت او طریقی تعلیم وسی لکه چی رسول الله ﷺ ته په قرآن کی هدایت سوی دی چی دی دی دخپلو اصحابو څخه مشوره اخلی حال دادی چی ده ﷺ ته به وحی الهی راتلی ټولی معاملی او دهغو هر اړخ ده ﷺ ته دوحی په ذریعه ښوول کیدی لیکن بیا هم دوی ته د مشوری کولو تاکید وسو (معارف القرآن ج ۱ پ۱ص ۱۶۰)

www.jamairahmani.org

لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۳۲﴾ قَالَ

لَنَآ	اِلَّا مَا	عَلَّمْتَنَا	اِنَّكَ	اَنْتَ	الْعَلِيْمُ	الْحَكِيْمُ	قَالَ
موږ ته	مګر د هغه	چې راښوولی دی تا موږ ته	بیشکه! ته	هم ته	ښه پیژندونکئ	ښه د حکمت خاوند یی	وویل (الله)

موږ ته مګر د هغه چې راښوولی دی تا موږ ته بیشکه! هم ته ښه عالم او د حکمت خاوند یی، وفرمایل الله

يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۚ فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ

يٰٓاٰدَمُ	اَنْۢبِئْهُمْ	بِاَسْمَآئِهِمْ	فَلَمَّآ	اَنْۢبَاَهُمْ
ای آدم	وښیه دوی ته (ملائیکو ته)	نومونه د دوی	پس کله چې	وښوول (آدم) دوی ته (ملائیکو ته)

ای! آدمه خبر کړه دوی (ملائیکی) په نومونو د دی شیانو، پس کله چې وښوول آدم و ملائیکو ته

بِاَسْمَآئِهِمْ ۙ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ غَيْبَ

بِاَسْمَآئِهِمْ	قَالَ	اَلَمْ اَقُلْ	لَّكُمْ	اِنِّيْٓ	اَعْلَمُ	غَيْبَ
نومونه د هغوی	وفرمائیل (الله)	آیا ما نه وو ویل	تاسی ته	بیشکه! زه	پیژنم	پټ شیان

نومونه د هغو شیانو، نو وفرمایل الله آیا نه وو ویلی ما تاسو ته چې بیشکه! زه پوهیږم په پټو شیانو د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا كُنْتُمْ

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاَعْلَمُ	مَا	تُبْدُوْنَ	وَمَا	كُنْتُمْ
د آسمانو	او مځکو	او پیژنم زه	هغه څه	چې ښکاره کوی یئ تاسی	او هغه څه	چې یئ تاسی

آسمانونو او مځکو او پوهیږم په هغو شیانو چې ښکاره کوی یئ تاسی (په ژبه) او په هغو شیانو چې یاست تاسی

تَكْتُمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ

تَكْتُمُوْنَ	وَاِذْ	قُلْنَا	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	اسْجُدُوْا	لِاٰدَمَ
پټوی یی	او کله چې	وویل موږ	ملائیکو ته	چې سجده وکړی	و آدم ته

پټوونکی د هغو (په زړونو کښی) او (یاد کړه ای! محمده) کله چې موږ وویل ملائیکو ته چې سجده وکړی آدم ته (د تعظیم)

فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ ۫ وَكَانَ مِنَ

فَسَجَدُوْٓا	اِلَّآ	اِبْلِيْسَ	اَبٰى	وَاسْتَكْبَرَ	وَكَانَ	مِنَ
پس سجده یی وکړه دوی	مګر ونه کړه	ابلیس	انکار یئ وکړ	او لوئی یئ وکړه	او سو	د

پس سجده وکړه دوی ټولو مګر سجده ونه کړه ابلیس، انکار یئ وکړ (د سجدی څخه) او لوئی یئ وکړه، او سو دی (ابلیس) د

قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ

د آدم علیه السلام لوړوالی پر ملایکو باندي: په دي واقعه کښي د قرآن دا بلیغ الفاظ هم د فکر وړ دی چي کم وخت ملایکو ته وایي چي د دي شیانو نومونه وښیاست نو د (انبؤنی) لفظ وایی چي معنی یه ده ماته وښیاست او چي کم وخت آدم علیه السلام ته وایي چي د دي شیانو نومونه وښیه نو یه د (انبأهم) لفظ یي استعمال کړی چي معنی یه ده ملایکو ته دا نومونه ور وښیه د دی بیان څخه په ډاګه سوه چي آدم علیه السلام ته د معلّم درجه ورکول سوه او ملایکو ته د شاګردانو او طالب علمانو درجه ورکړه سوه او په داسي کولو سره د آدم علیه السلام فضیلت او لوړوالی په یوه مهم شکل کي څرګند سو د دی واقعې څخه دا هم معلومه سوه چي د ملایکو په معلوماتو کي هم کمی او زیاتی راتلی سي ځکه چي د کومو شیانو علم دوی ته نه وو حاصل سوی هغه د آدم علیه السلام په ذریعه په اجمالي طور سره د دی شیانو علم ودوی ته وښوول سو او دا یو قسم فضیلت د آدم علیه السلام هم سو پر فرشتو باندي: (وذلک فضل الله یوتیه من یشاء) (معارف القرآن ج۱ پ۱ ص ۱۶۴)

www.jamairahmani.org

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ وَقُلْنَا يٰۤاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ

الْكٰفِرِيْنَ	وَقُلْنَا	يٰۤاٰدَمُ	اسْكُنْ	اَنْتَ	وَزَوْجُكَ
كافرانو څخه	او وويل موږ	اى آدم	واوسيږه	ته	او ښځه ستا

د كافرانو څخه، او وويل موږ اى! آدم اوسيږه ته او ښځه ستا (بى بى حواء)

الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ۠ وَلَا تَقْرَبَا

الْجَنَّةَ	وَكُلَا	مِنْهَا	رَغَدًا	حَيْثُ	شِئْتُمَا	وَلَا تَقْرَبَا
په جنت كښى	او خورى	د دى جنت څخه (ميوى)	پراخه	د هر هغه ځاى څخه	چې ستاسى خوښه وى	او مه نژدى كيږى

په جنت كښى او خورئ د دغه جنت څخه ميوى پريمانه ، د هر ځاى څخه چې ستاسى خوښه وى، او مه نژدى كيږى

هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ

هٰذِهِ	الشَّجَرَةَ	فَتَكُوْنَا	مِنَ	الظّٰلِمِيْنَ	فَاَزَلَّهُمَا	الشَّيْطٰنُ
ودغى	درختى ته	سئ به تاسى	د	ظالمانو څخه	پس وښويول دوى (دواړه)	شيطان

و دغى درختى ته (دميوو خوړلو لپاره) كه نژدى سولاست نو سئ به تاسى د خطاء كارانو څخه. پس وښويول دوى

عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۠ وَقُلْنَا

عَنْهَا	فَاَخْرَجَهُمَا	مِمَّا	كَانَا	فِيْهِ	وَقُلْنَا
ددى (جنت) څخه	پس وويى ايستل دواړه	دهغه (جنت څخه)	چې وه (دوى دواړه)	په هغه كښى	او وفرمائيل موږ (الله)

شيطان، د دى جنت څخه (د درختى د نژديوالى په سبب)، نو وويئ ايستل دوى د هغه جنت څخه، او و فرمايل الله دوى ته

اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ

اهْبِطُوْا	بَعْضُكُمْ	لِبَعْضٍ	عَدُوٌّ	وَلَكُمْ	فِي الْاَرْضِ
كښته سئ (ومځكى ته)	په تاسو كښى به ځينى	د ځينو	دښمنان وى	او ستاسى ته	په مځكه كښى

كښته سى تاسو (دجنت څخه)، حال داچې ځينى ستاسى به له ځينو نورو سره دښمنان وى، او ستاسى ته په مځكه كښى

مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۳۶﴾ فَتَلَقّٰۤى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ

مُسْتَقَرٌّ	وَّمَتَاعٌ	اِلٰى حِيْنٍ	فَتَلَقّٰۤى	اٰدَمُ	مِنْ رَّبِّهٖ
ځاى د اوسيدو	او فايده اخستل دى	تر يو وخته	پس زده كړه	آدم	د خپل رب څخه

ځاى د اوسيدلو او اسباب دفائدى اخستلو تر يوه وخته پورى. پس زده كړه آدم د خپل رب څخه

وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ

د تعظيم سجده په مخكنيو امتونو كښي رواه وه او په دى امت كښي منع ده: ددى خبري خلاصه داده چي تعظيمي سجده كومه چي د پخوانيو پيغمبرانو په شريعتونو كښي رواه وه په شريعت محمدي كښي په دى وجه منع سوه چي شريعت محمدي دكفر او شرک دبوى څخه هم پاک او محفوظ پاته سي نو په دى وجه په شريعت محمدي كښي دالله ﷻ څخه ما سواه بل چاته دتعظيم په اراده سجده يا ركوع كول جايز نه ده بعضى عالمان وايى لمونځ اصل عبادت دى چي دڅلورو اركانو څخه جوړ دى ،ولاړه ؛ ناسته ؛ ركوع او ؛ سجده ؛ په دوى كښي مخكني دوه يعني ولاړه او ناسته خو داسي كارونه دي چي عادةً يي انسان دخپل حاجت لپاره هم كوي او عبادةً يه په لمانځه كښي هم كوي ليكن ركوع او سجده داسي كارونه دي دا انسان عادة نه كوي بلكي دادواړه دعبادت سره خاص دي نو ځكه دا دبل چا لپاره منع كړى سوه فقط به دالله ﷻ لپاره وي ځكه چي معبود بر حق هم هغه دى.

(معارف القرآن ج۱ پ۱ ص۱۷۰)

www.jamairahmani.org

كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيۡهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿۳۷﴾

كَلِمٰتٍ	فَتَابَ	عَلَيۡهِ	اِنَّهٗ	هُوَ	التَّوَّابُ	الرَّحِيۡمُ
يو څو خبرې	پس رجوع يې وکړه (الله)	پر (آدم) باندې	بيشکه! دی (الله)	هم دی	بنه توبه قبلوونکی	پوره رحم کوونکی دی

يو څو کلمې، پس رجوع يې وکړه الله پر آدم باندې (په رحمت سره) بيشکه! هم دی (الله) بنه توبه قبلونکی او پوره رحم کوونکی دی.

قُلۡنَا اهۡبِطُوۡا مِنۡهَا جَمِيۡعًا ۚ فَاِمَّا يَاۡتِيَنَّكُمۡ مِّنِّىۡ

قُلۡنَا	اهۡبِطُوۡا	مِنۡهَا	جَمِيۡعًا	فَاِمَّا	يَاۡتِيَنَّكُمۡ	مِّنِّىۡ
وويل موږ	کښته سئ	د دغه څخه	ټوله	پس که چيرې	راسي تاسو ته	زما د طرف څخه

بيا وويل موږ چې کښته سئ د دغه جنت څخه ټوله، پس که چيرې راغلی تاسو ته زما د طرفه څخه

هُدًى فَمَنۡ تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ

هُدًى	فَمَنۡ	تَبِعَ	هُدَاىَ	فَلَا خَوۡفٌ	عَلَيۡهِمۡ	وَلَا هُمۡ
هدايت	پس چا چې	پيروی وکړه	زما د هدايت	پس نه به وی خوف (بيره)	پر دوی باندې	او نه به وی دوی

هدايت پس هر چا چې پيروی وکړه د هدايت زما نو نه به وی هيڅ قسم بيره پر دوی باندې او نه به وی دوی (هيڅيرې)

يَحۡزَنُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَاۤ اُولٰٓئِكَ

يَحۡزَنُوۡنَ	وَ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	وَ	كَذَّبُوۡا	بِاٰيٰتِنَاۤ	اُولٰٓئِكَ
چې غمجن کيږې	او	هغه کسان	چې انکاريي کړی دی	او	درواغ ګڼي	آياتونه زموږ	دغه کسان

غمجن. او هغه کسان چې کافران سوی دی او نسبت د درواغو کوی آياتونو ته زموږ نو هم دغه کسان به

اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۳۹﴾ يٰبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ

اَصۡحٰبُ	النَّارِ	هُمۡ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	يٰبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ
خاوندان	د اور دی	دوی به	په دغه (اور) کښې	هميشه وی	ای بنی اسرائيلو

صاحبان د اور وی او هم دوی به په هغه (اور د دوږخ) کښې هميشه وی، ای! بنی اسرائيلو (اولادې د يعقوب)

اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِىَ الَّتِىۡۤ اَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَاَوۡفُوۡا

اذۡكُرُوۡا	نِعۡمَتِىَ	الَّتِىۡۤ	اَنۡعَمۡتُ	عَلَيۡكُمۡ	وَ	اَوۡفُوۡا
درياد کړې	نعمتونه زما	هغه	چې انعام کړی وه ما	پر تاسی باندې	او	وفاء وکړې

درياد کړې نعمتونه زما هغه چې انعام کړی دی ما پر تاسی نو پس وفاء وکړې

فَـلَا خَـوۡفٌ عَلَـيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ. دفکر اوغم څخه يوازې هغه خلک خلاصی پيداکوي چې دالله ﷻ فرمان برداره وي: په دی آيت کښې دآسماني هدايت دتابعداری کوونکو لپاره ددوو انعامونو ذکر دی يو دا چې پر دوی به څه بيره نه وي او دوهم دا چې دوی به غمجن نه وي (خوف) دهغه تکليف او مصيبت داندېښنې نوم دی کم چې په آينده کښې راتلونکی وي او (حزن) هغه غم ته ويل کيږي چې دڅه مقصد او مراد دفوت کيدو څخه پيداسي اوس که چيرې فکر وسي نو معلومه به سي چې دراحت او ارام چې څه قسمونه دي هغه ټول يې په دوو ټکو کښې جمع کړي دي او ددی دوو ټکو څخه د راحت او ارام يو قسم هم دباندې نه دی پاته او بيا ددی دوو لفظو په تعبير کښې يو خاص قسم فرق سوی دی هغه دا چې دخوف نفی په عام انداز سره سوې دي ليکن دحزن متعلق يې دانه دي ويلي چې (لاحزن عليهم) بلکې هغه يې دجملې فعليې په صورت کې ذکر کړه نکته ددی خبرې په معارف القرآن کې وګورې.
(معارف القرآن ج١ پ١ ص ١٨٢)

ع

www.jamairahmani.org

بِعَهۡدِیۡۤ اُوۡفِ بِعَهۡدِكُمۡ ۚ وَاِیَّایَ فَارۡهَبُوۡنِ ﴿۴۰﴾

بِعَهۡدِیۡۤ	اُوۡفِ	بِعَهۡدِكُمۡ	وَ	اِیَّایَ	فَارۡهَبُوۡنِ
پروعده زما	چی پوره کړم	وعده ستاسو	او	زما څخه	و بیرېږئ (تاسی)

پر وعده زما (په متابعت دنبی) پس چی زه هم وفا وکړم په وعده ستاسی (په دخول د جنت) او خاص زما څخه وبیرېږی

وَاٰمِنُوۡا بِمَاۤ اَنۡزَلۡتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمۡ وَلَا تَكُوۡنُوۡۤا

وَ	اٰمِنُوۡا	بِمَاۤ	اَنۡزَلۡتُ	مُصَدِّقًا لِّمَا	مَعَكُمۡ	وَلَا تَكُوۡنُوۡۤا
او	ایمان راوړی	په هغه باندی	چی ما نازل کړی دی	تصدیق کوی د هغه چی	ستاسو سره دی	او مه کیږی

او ایمان راوړی په هغه کتاب باندی چی نازل کړی دی ما، حال دا چی تصدیق کوی د هغه کتاب چی ستاسو سره دی او مه کیږی

اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ ۪ وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِاٰیٰتِیۡ ثَمَنًا قَلِیۡلًا ۫ وَّاِیَّایَ

اَوَّلَ	كَافِرٍ	بِهٖ	وَلَا تَشۡتَرُوۡا	بِاٰیٰتِیۡ	ثَمَنًا	قَلِیۡلًا	وَّاِیَّایَ
اول	انکار کوونکی	په دی (قرآن باندی)	او مه اخلی	زما په آیاتونو	قیمت	لږ	او خاص زما څخه

اول کافران په دی قرآن باندی، او مه اخلی په آیاتونو زما هیڅ قیمت لږ او خاص زما څخه

فَاتَّقُوۡنِ ﴿۴۱﴾ وَلَا تَلۡبِسُوا الۡحَقَّ بِالۡبَاطِلِ وَتَكۡتُمُوا

فَاتَّقُوۡنِ	وَلَا تَلۡبِسُوا	الۡحَقَّ	بِالۡبَاطِلِ	وَ	تَكۡتُمُوا
وبیرېږئ	او مه ګډوی	حق (رښتیا)	په درواغو سره	او	مه پټوی

وبیرېږی! (دا کار مه کوی) . او مه ګډوی حق (رښتیا) د باطل (درواغو) سره او مه پټوی

الۡحَقَّ وَاَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۲﴾ وَاَقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

الۡحَقَّ	وَاَنۡتُمۡ	تَعۡلَمُوۡنَ	وَ	اَقِیۡمُوا	الصَّلٰوةَ	وَاٰتُوا
حق (رښتیا)	او تاسی	ښه پوهیږی	او	ودروی (سم آداء کړی)	لمونځ	او ورکوی

حق (رښتیا) حال دا چی تاسی پوهیږی، او سم قایموئ (په ښه ترتیب سره اداء کوی) لمونځ او ورکوی

الزَّكٰوةَ وَارۡكَعُوۡا مَعَ الرّٰكِعِیۡنَ ﴿۴۳﴾ اَتَاۡمُرُوۡنَ النَّاسَ

الزَّكٰوةَ	وَارۡكَعُوۡا	مَعَ الرّٰكِعِیۡنَ	اَتَاۡمُرُوۡنَ	النَّاسَ
زکوة	او رکوع کوی	د رکوع کوونکو سره	آیا امر کوی تاسی	خلګو ته

زکوة، او رکوع وکړی د رکوع کوونکو سره (لمونځ کوونکو مسلمانانو سره). آیا امر کوی تاسی نورو خلګو ته

اُوۡفِ بِعَهۡدِكُمۡ ۚ دوعدی پورا کول واجب او وعده ماتول حرام دي: ددی آیت څخه معلومه سوه چي دعهد او معاهدې پورا کول ضروري دی او وعده ماتول حرامه ده دسورة مایدي په آیت کښي تر دی زیات په وضاحت سره دا مضمون راغلی دی الله جَلَّ جَلَالُهُ هلته فرمايي (واوفوا بالعقود) يعني تاسي پر وعدو باندي وفا وکړی په حديث شريف کښي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي وعده ماتوونکوته به په آخرت کښي چي کومه سزا ورکول کيږي دهغه څخه به مخکي دا سزا ور کول کيږي چي دمحشر په ميدان کښي په کم کي چي ټول مخکني او وروستني خلق به موجود وي پر وعدي ماتوونکي باندي به دعلامي په ډول يوه جنډه ولګول سي او چا چي څومره لويه وعده ماته کړي وي لويه جنډه به دهغه وي په دي طريقه دغه وعده ماتوونکي دحشر په ميدان کي به رسوا او شرمنده سي او دلوی ذلت سره به مخ سي: الله جَلَّ جَلَالُهُ دي مو دداسي ذلت څخه وساتي. (مسلم شريف) (معارف القرآن ج۱ پ۱ ص۱۸۶ مکتبه حبيبيه)

www.jamairahmani.org

بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ

بِالْبِرِّ	وَ	تَنْسَوْنَ	اَنْفُسَكُمْ	وَ	اَنْتُمْ	تَتْلُوْنَ	الْكِتٰبَ
په نیکی سره	او	تاسی هیروی	ځانونه خپل	او	تاسی یاست	تلاوت کوی	د کتاب (تورات)

په نیکی سره او هیروئ تاسی ځانونه خپل حال دا چې تاسی تلاوت کوی (لولئ) دا تورات کتاب

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ	وَ	اسْتَعِيْنُوْا	بِالصَّبْرِ	وَ	الصَّلٰوةِ
نو آیا تاسی عقل نه لری	او	کومک وغواړی	په صبر سره	او	په لمانځه سره

نو آیا تاسی نه پوهیږی (دخپلو افعالو په بدئ)، او کومک وغواړی (په هره سختئ کښی د الله څخه) په صبر او په لمانځه سره

وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿۴۵﴾ ۙ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ

وَ	اِنَّهَا	لَكَبِيْرَةٌ	اِلَّا	عَلَى	الْخٰشِعِيْنَ	الَّذِيْنَ	يَظُنُّوْنَ
او	بیشکه دا لمونځ	ډیر درووند دی	مګر (نه دی)	پر	بیریدونکو باندی	(بیریدونکی) هغه کسان دی	چې یقین لری

او په تحقیق سره خامخا دا لمونځ ډیر درووند دی، مګر (نه دی درووند) پر عاجزی کوونکو باندی. هغه کسان چې یقین لری

اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۴۶﴾ ع

اَنَّهُمْ	مُّلٰقُوْا	رَبِّهِمْ	وَ	اَنَّهُمْ	اِلَيْهِ	رٰجِعُوْنَ
بیشکه! دوی	ملاقات کوونکی دی	د رب خپل سره	او	بیشکه! دوی	خاص وطرف ته (د الله)	بیا ورتلونکی دی

چې بیشکه! دوی مخامخ کیدونکی دی د رب خپل سره او بیشکه! دوی خاص وطرفته د الله بیا ورتلونکی دی،

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	اذْكُرُوْا	نِعْمَتِيَ	الَّتِيْٓ	اَنْعَمْتُ	عَلَيْكُمْ	وَاَنِّيْ
ای! بنی اسرائیلو	دریاد کړی	نعمت زما	هغه (نعمت)	چې ما انعام کړی وو	پر تاسی باندی	او بیشکه! ما

ای! بنی اسرائیلو دریاد کړی نعمت زما هغه نعمت چې ما انعام کړی وو، پر تاسی باندی او (یاد کړی) چې بیشکه! ما

فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ

فَضَّلْتُكُمْ	عَلَى	الْعٰلَمِيْنَ	وَ	اتَّقُوْا	يَوْمًا	لَّا تَجْزِيْ
برتری درکړی وه تاسی ته	پر	خلګو د زمانی ستاسی	او	وبیریږی	د هغی ورځی څخه	چې بدله به ورنه کړی

برتری درکړی وه تاسی ته پر خلګو د زمانی خپلی، او وبیریږی (د عذابه) د هغی ورځی چې پکار به رانه سی

وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ. په زړه کي چي خشوع وي پر هغه ځه ګران نه دي: په دي کي د لمونځ دآسانولو طريقه وښوول سوه حاصل دا چي دلمونځ دسختی او سبب په وجه که فکر وسي نومعلومه به سي چي دانسان زړه دهر قسم خيالاتو لپاره ميدان دی او دانسان زړه آموخته دی چي په هر قسم خيالونو کښي بغير دځه منعی ځخه مصروف و ګرځي او دانسان نور ټول اندامونه دزړه تابع دي نو په دي وجه د زړه تقاضا داوی چي دده ټول اندامونه دي ازاد وي او لمونځ خو ټول ددی آزادی خلاف دی چي مه خانده ؛ مه وايه ؛ مه خوره ؛مه چيښه ؛او مه ځه نو په دي وجه زړه ددی پابند يو ځخه تنګيږي اودده تابع اندامونه هم ددی ځخه تکليف محسوسوي (خلاصه دا سوه چي ددی سختی او دشواری سبب دزړه حرکت فکريه دی نوددی علاج په سکون سره کول په کار دی نو په دی وجه الله ﷻ خشوع دلمانځه دآسانوولو لپاره ذريعه وښوولة الله ﷻ دي موږ ته را نصيب کړي (معارف القرآن ج ۱ پ ۱ص ۱۹۳)

ع ۵

www.jamairahmani.org

نَفۡسٌ عَنۡ نَّفۡسٍ شَيۡـًٔا وَّلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا

نَفۡسٌ	عَنۡ نَّفۡسٍ	شَيۡـًٔا	وَّلَا يُقۡبَلُ	مِنۡهَا	شَفَاعَةٌ	وَّلَا
یو انسان	بل انسان لره	دهیڅ شی	او نه به سی قبول	د دی (نفس) څخه	شفاعت	او نه به

یو انسان بل انسان لره یوه ذره، او نه به ومنل سی د هغه نفس څخه شفاعت (سپارښت دهیڅا) او نه به

يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٌ وَّلَا هُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَاِذۡ

يُؤۡخَذُ	مِنۡهَا	عَدۡلٌ	وَّلَا	هُمۡ	يُنۡصَرُوۡنَ	وَاِذۡ
واخیستل سی	ددی (نفس) څخه	بدل (فدیه)	او نه به	د دوی سره	کومک وسی	او هغه وخت

واخیستل سی د دی نفس څخه بدل (فدیه) او نه به هم د دوی سره کومک وکړل سی (په دفع دعذاب کښی). او کله چی

نَجَّيۡنٰكُمۡ مِّنۡ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ سُوۡٓءَ

نَجَّيۡنٰكُمۡ	مِّنۡ اٰلِ	فِرۡعَوۡنَ	يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ	سُوۡٓءَ
چی موږ نجات درکړی تاسی ته	له قوم څخه	دفرعون	رسول به یی تاسو ته	سخت (بد)

موږ خلاصون درکړی تاسو ته د فرعون د قوم څخه، چی رسول به یی تاسو ته ډیر سخت (بد)

الۡعَذَابِ يُذَبِّحُوۡنَ اَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُوۡنَ نِسَآءَكُمۡ ؕ

الۡعَذَابِ	يُذَبِّحُوۡنَ	اَبۡنَآءَكُمۡ	وَ	يَسۡتَحۡيُوۡنَ	نِسَآءَكُمۡ
عذاب	حلالول به یئ	زامن ستاسی	او	ژوندی به یئ پریښودلی	ښځی ستاسی

عذاب، ذبح (حلالول) به یئ زامن ستاسی او ژوندی به یئ پریښودلی (دخدمت دپاره) ښځی ستاسو

وَفِيۡ ذٰلِكُمۡ بَلَآءٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ عَظِيۡمٌ ﴿۴۹﴾ وَاِذۡ فَرَقۡنَا

وَ	فِيۡ	ذٰلِكُمۡ	بَلَآءٌ	مِّنۡ	رَّبِّكُمۡ	عَظِيۡمٌ	وَاِذۡ	فَرَقۡنَا
او	په	دغه کار کښی ستاسو	ازمایښت وو	دطرفه	درب ستاسو	چی ډیر لوی دی	او هغه وخت	چی څیری کړی موږ

او په دی کار کښی تاسو ته ازمایښت وو، د طرفه څخه د خپل رب، چی ډیر لوی دی. او هغه وخت چی څیری کړی موږ

بِكُمُ الۡبَحۡرَ فَاَنۡجَيۡنٰكُمۡ وَاَغۡرَقۡنَآ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ وَاَنۡتُمۡ

بِكُمُ	الۡبَحۡرَ	فَاَنۡجَيۡنٰكُمۡ	وَاَغۡرَقۡنَآ	اٰلَ	فِرۡعَوۡنَ	وَ	اَنۡتُمۡ
ستاسی دپاره	دریاب	پس موږ خلاصون درکړی تاسو ته	او غرق مو کړی	قوم	دفرعون	او	تاسو

ستاسی دپاره بحر پس نجات درکړی موږ تاسی ته او غرق مو کړی قوم د فرعون (سره د فرعون). حال دا چی تاسی ورته

وَاِذۡ فَرَقۡنَا بِكُمُ الۡبَحۡرَ

داقصه هغه وخت وسوه چي موسی عليه السلام پیدا سو:

او وروسته بیا پیغمبر سو او تر ډیره وخته پوري یه فرعون پوهوی کم وخت چي هغه په هیڅ صورت کښي منلو ته نه سو تیار نو موسی ته حکم وسو چي ته په پټه بني اسرائیل ددی ځایه څخه بوزه په لاره کښي دریاب راغی او په دغه وخت کښي فرعون سره دلښکرو راورسیدی دالله جل جلاله په حکم سره دریاب وشلیدی او بني اسرائیلو ته دتیریدو لار پیدا سوه دوی خو پوري وتل دفرعون تر رارسیدو پوري دریاب همدغه شان وو هغه هم په دوی پسی دتګ په غرض په دریاب کښي ورګډ سو نو په دغه وخت کښي دریاب دټولو طرفو څخه بیا سره را یو ځای سو او پر خپل مخکني حالت سو او فرعون سره دټولو ملګرو هلته غرق سو: نو ځکه الله جل جلاله دلته فرمايي ای مسلمانانو هغه وخت درپه یاد کړی چي کم وخت څیري کړی موږ تاسي ته دلاري ور کولو په غرض تریو دریاب او تاسي ته مو نجات درکړی او فرعون غرق سو.

(معارف القرآن ج ۱ ص ۲۰۴)

www.jamairahmani.org

تَنْظُرُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِذْ وٰعَدْنَا مُوْسٰٓى اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ثُمَّ

تَنْظُرُوْنَ	وَاِذْ	وٰعَدْنَا	مُوْسٰٓى	اَرْبَعِيْنَ	لَيْلَةً	ثُمَّ
ورته کتل	او هغه وخت	چې وعده وکړه موږ	دموسی سره	څلوېښت	شپې	وروسته

کتل. او (یاد کړی!) هغه وخت چې موږ وعده وکړه د موسی سره څلوېښت شپې وروسته

اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ

اتَّخَذْتُمُ	الْعِجْلَ	مِنْۢ بَعْدِهٖ	وَاَنْتُمْ	ظٰلِمُوْنَ	ثُمَّ
ونیوئ تاسی	ګلګی (خپل معبود)	پسله (تللو) د موسی	او (واست) تاسی	ظالمان	وروسته

ونیوئ تاسی ګلګی (خپل معبود) پسله تللو د موسی (طور غرته) او تاسی واست (په دی کار کښې) ظالمان. وروسته

عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاِذْ

عَفَوْنَا	عَنْكُمْ	مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ	لَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ	وَاِذْ
بخښنه وکړه موږ	تاسو ته	وروسته تر هغه	دپاره ددی چی تاسی	د (الله) شکر اداء کړی	او هغه وخت

بخښنه وکړه موږ تاسو ته دهغه وروسته (په عبادت کولو د ګلګی) دپاره د دی چی تاسی د الله شکر اداء کړی، او هغه وخت

اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿٥٣﴾

اٰتَيْنَا	مُوْسَى	الْكِتٰبَ	وَ	الْفُرْقَانَ	لَعَلَّكُمْ	تَهْتَدُوْنَ
چی ورکړی وو موږ	موسی ته	کتاب (تورات)	او	جلا کوونکی (دحق او باطل)	دپاره ددی چی تاسی	پر سمه لار روان سی

چی موږ ورکړی موسی ته کتاب (تورات) چی جلا کوونکی دی (دحق او باطل) دپاره د دی چی تاسی پر سمه لار روان سی

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ

وَاِذْ	قَالَ	مُوْسٰى	لِقَوْمِهٖ	يٰقَوْمِ	اِنَّكُمْ	ظَلَمْتُمْ
او هغه وخت	چی وویل	موسی	و قوم خپل ته	ای! قومه زما	بیشکه! تاسی	ظلم کړی دی تاسی

او (یاد کړئ) هغه وخت چی وویل موسی قوم خپل ته ، ای قومه زما! بیشکه! تاسی ظلم کړی دی

اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِىِٕكُمْ

اَنْفُسَكُمْ	بِاتِّخَاذِكُمُ	الْعِجْلَ	فَتُوْبُوْٓا	اِلٰى بَارِىِٕكُمْ
پر ځانو خپلو	په سبب د دی چی نیولی دی تاسو	ګلګی (په خدائی سره)	پس توبی وباسی	و پیدا کوونکی ستاسو ته

پر ځانو خپلو په سبب د دی چی نیولی دی تاسو ګلګی په خدائی سره، پس توبه وباسی تاسی ټول و پیدا کوونکی ذات خپل ته

فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ.. دبني اسرائيلو دتوبې دقبلولو طريقه: حضرت موسی علیه السلام چې کله دتورات په راوړلو پسې دطور غر ته ولاړی نود قوم سرپرستي يې وهارون علیه السلام ته پريښوول دآخوا چې موسی علیه السلام تورات راوړی نو قوم دګيلګي په عبادت مبتلا سوی وو نو الله پاک جل جلاله ددوی دتوبی دقبلولو لپاره يوه طريقه مقرره کړه دهغی طريقی بيان په دغه آيت کښي الله جل جلاله کړی دی چي مجرم او ګناهګار خلګ دي قتل سي لکه زموږ په شريعت کښي هم د بعضو ګناهونو سزا دتوبی سره سره هم قتل او هلاکول دي مثلا په قصدا قتل کښي قتل دی او همدا شان چي دزنا ثبوت په شاهدانو سره وسي هلته رجم دی ځکه چي دتوبی دکښلو سره بيا هم داسزا نه ساقطيږي نو بني اسرائيلو هم په دغه حکم الهي سره عمل وکړی اويو او بل يي سره قتل کړه چي ددغه امتثال او فرمانبرداری دوجی په آخرت کښي درحمت او مهرباني مستحق وګرځيدل او الله جل جلاله يه توبه قبوله کړه. (معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۰۶) مكتبه حبيبيه

www.jamairahmani.org

فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ ؕ

فَاقْتُلُوْٓا	اَنْفُسَكُمْ	ذٰلِكُمْ	خَيْرٌ لَّكُمْ	عِنْدَ بَارِئِكُمْ
پس قتل کړئ تاسی	ځانونه خپل	دغه کار	خیر (بهتره) دی ستاسو دپاره	په نزد د پیداء کوونکی ستاسی

پس (یا) ووژنئ تاسی ځانونه خپل، دغه (ځان وژل) بهتره دی تاسی ته په نزد د پیداء کوونکی ستاسی

فَتَابَ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿٥٤﴾ وَاِذْ قُلْتُمْ

فَتَابَ	عَلَيْكُمْ	اِنَّهٗ	هُوَ	التَّوَّابُ	الرَّحِيْمُ	وَاِذْ	قُلْتُمْ
پس توبه یی قبوله کړه	ستاسو	بیشکه! الله	هم دغه ذات دئ	ښه توبه قبلوونکی	ډیر مهربانه دی	او هغه وخت	چی تاسی وویل

پس الله قبوله کړل توبه ستاسی بیشکه الله ښه توبه قبلوونکئ ښه مهربانه دی، او (یاد کړی) هغه وخت چی وویل تاسی

يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً

يٰمُوْسٰى	لَنْ نُّؤْمِنَ	لَكَ	حَتّٰى	نَرَى	اللّٰهَ	جَهْرَةً
ای! موسی	هیڅکله به موږ ایمان را نه وړو	پر تا باندی	تر هغه پوری	چی موږ ووینو	الله	مخامخ (ښکاره)

ای موسی! هیڅکله به موږ ایمان رانه وړو پر تا باندی تر هغه وخته پوری چی موږ و وینو الله ښکاره مخامخ،

فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ

فَاَخَذَتْكُمُ	الصّٰعِقَةُ	وَ	اَنْتُمْ	تَنْظُرُوْنَ	ثُمَّ	بَعَثْنٰكُمْ
پس ونیولاست تاسی	تالندی (تندر)	او	تاسی	یو بل ته کتل (دسوځلو په وخت)	وروسته	موږ را ژوندی کړی تاسی

پس ونیولاست تاسی تالندی د آسمان (او) حال داچی تاسی یو بل ته کتل د سوځلو په وخت، بیا مو ژوندی کړاست تاسی

مِّنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلْنَا

مِّنْ بَعْدِ	مَوْتِكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ	وَ	ظَلَّلْنَا
وروسته	تر مرګ ستاسو	دپاره ددی چی تاسی	شکر اداء کړی (دالله)	او	موږ سایه وکړه

تر مرګ وروسته د دی دپاره چی ښایی تاسی شکر اداء کړی (شکر ګزاره سئ) د الله. او (یاد کړی!) کله چی موږ سایه وکړه

عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ

عَلَيْكُمُ	الْغَمَامَ	وَ	اَنْزَلْنَا	عَلَيْكُمُ	الْمَنَّ	وَ	السَّلْوٰى
پر تاسو باندی	د وریځی	او	موږ نازل کړه	پر تاسو باندی	ترنجبین (خواږه خواږه)	او	غوښی د کرکانو

د وریځی پر تاسو باندی (دتیه په میدان کښی) او نازل مو کړه پر تاسو باندی من (خواږه خواږه) او سلوا (غوښی د کرکانو)

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ... ددي قصي تفصيل او دهغې بيان:

دادی چي کم وخت موسی ؑ د طور دغره څخه بیرته راغی او تورات یي دځانه سره راوړی او وي ویل چي دا دالله ﷻ کتاب دی نو ځینو بی ادبو خلګو وویل چي الله ﷻ دي په خپله موږ ته وو ایي چي دا زما کتاب دی نو بیا به زموږ یقین راسي موسی (ؑ) ورته دخدای ﷻ په اجازت وویل چي دطور غره ته درځی دا خبره به هلته وسي بني اسرائیلو ددې کار لپاره اویا کسان منتخب کړل او دموسی سره یي دطور غره ته ولیږل هلته چي ورسیدل دالله ﷻ کلام دي خلګو پخپله واوریدی نو بیا یي داوویل چي یوازي په کلام اوریدو سره موږ نه قانع کیږو ترڅو چي موږ خدای ﷻ په سترګو لیدلي نه وي ځکه چي بغیر دلیدلو څخه دخبر و په اوریدو زموږ یقین په دی وجه نسي راتلی چي خدای خبر دی چي خبري کوونکی به څوک وي نو هغه ووچي تندره باندي نازله سوه او هلاک سول او بیا ژوندي سول دالله ﷻ په امر سره الخ.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۰۶)

www.jamairahmani.org

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ.. په کلام کښي دلفظي تغیر او تبدل شرعي حکم:

ددي آیت څخه دا معلومه سوه چي بني اسراییلو ته دا حکم سوی وو چي دي ښارته دداخلیدو په وخت کي (حطة) یعني توبه توبه وو ایاست نو دوی دشرارت په وجه دا الفاظ بدل کړل او (حنطة) ویل یي شروع کړل چي ددی په وجه پر دوی آسماني عذاب نازل سو: دالفاظو دا بدلول داسي وه چي په هغه کښي یوازي دا الفاظ نه وه بدل سوي بلکه معنی یه هم بدله سوی وه دحطة (معنی ده) توبه او دحنطة معنی ده غنم چي دا معنی دهغی بلي سره هیڅ قسم تړون اوسمون نه لري دالفاظو دا قسم تبدیلي او بدلول برابره ده که په قرآن کریم کښي وي او که په حدیث شریف کښي وي او که په بل امرالهي کښي وي نو دا بیله کم شک او شبهي ناروادي په اتفاق سره ځکه چي دا یو قسم خندا او تحریف دی پاته سوه داخبره چي معنی او مطلب باقي وي یوازي په الفاظو کښي تبدیلي راسي نو دهغه څه حکم دی ؟ امام قرطبي په خپل تفسیر کي ددی متعلق لیکي چي په بعضو کلمواو اقوالو کښي دمعنی په شان الفاظ هم مقصوددي لکه په یوروایت کي نبي کریم ﷺ دیو صحابي څخه ښوولي الفاظ طلب کړه.
(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ٢١٠)

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ۭ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ

كُلُوْا	مِنْ طَيِّبٰتِ	مَا	رَزَقْنٰكُمْ	وَمَا ظَلَمُوْنَا	وَلٰكِنْ
خورئ تاسی	د پاکو	هغه شیانو څخه	چی مونږ درکړی دی تاسو ته	او ظلم و نه کړی دوی پر مونږ	او لیکن

پس وخورئ هغه رزق د پاکیزه شیانو چی مونږ در کړی دی تاسی ته او ظلم نه وو کړی دوی پر مونږ باندی، مگر کاوه به یئ

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝٥٧ وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ

كَانُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	يَظْلِمُوْنَ	وَاِذْ	قُلْنَا	ادْخُلُوْا	هٰذِهِ
وه هغوی	پر خپلو ځانو باندی	ظلم کړئ وو	او هغه وخت	چی وویل مونږ	ننوزئ (ای! بنی اسرائیلو)	ودغه

ظلم پخپله پر خپلو ځانو باندی، (او یاد کړئ) هغه وخت کله چی وویل مونږ بنی اسرائیلو ته د موسی په ژبه، چی ننوزئ و دغه

الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا

الْقَرْيَةَ	فَكُلُوْا	مِنْهَا	حَيْثُ	شِئْتُمْ	رَغَدًا	وَّادْخُلُوا
کلی ته	پس خورئ تاسی	د دغه څخه	د هر هغه ځای څخه	چی غواړی تاسی	په فراخئ سره	او ننوزئ (بنی اسرائیلو)

کلی (اریحا) ته پس خورئ (میوی) د دغه کلی څخه د هر هغه ځای څخه چی مو خوښه وی ستاسی په پریمانئ سره، او ننوزئ

الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ۭ

الْبَابَ	سُجَّدًا	وَّ	قُوْلُوْا	حِطَّةٌ	نَّغْفِرْ	لَكُمْ	خَطٰيٰكُمْ
ودروازی ته	سجده کوونکی	او	وو وایاست	(ای! الله) مونږ ته بخښنه وکړی	وبه بخښو مونږ	تاسو ته	گناهونه ستاسو

و دروازی د دی ښار ته سجده کوونکی، او و وایاست چی ای! الله مونږ ته بخښنه وکړه نو مونږ به وبخښو گناهونه ستاسی

وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ۝٥٨ فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ

وَ	سَنَزِيْدُ	الْمُحْسِنِيْنَ	فَبَدَّلَ	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	قَوْلًا	غَيْرَ
او	مونږ به زیات کړو	نیکئ کوونکو ته	پس بدله کړل	هغه کسانو	چی ظلم یئ کړی وو	خبره	ماسواء

او مونږ به ډیر کړو اجرونه (نیکانو ته) ستاسو، پس بدل یی کړی فرمان د الله هغه کسانو چی ظلم یئ کړی وو (په خپلو ځانو)

الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

الَّذِيْ	قِيْلَ	لَهُمْ	فَاَنْزَلْنَا	عَلَى	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا
دهغه (خبری څخه)	چی ویل سوی وه	دوی ته	پس مونږ نازل کړی	پر	هغه کسانو باندی	چی ظلم یی کړی وو

هغه فرمان چی وویل سوی وو دوی ته، پس نازل کړ مونږ پر هغه کسانو باندی چی ظلم یی کړی وو (د ځانو خپلو سره)

www.jamairahmani.org

ع٦ ١٣ ٦

رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ﴿٥٩﴾ وَاِذِ

رِجۡزًا	مِّنَ السَّمَآءِ	بِمَا	كَانُوۡا	يَفۡسُقُوۡنَ	وَاِذِ
عذاب (مو نازل کړی)	د آسمان څخه	په سبب د هغه	چې وه دوی	نافرمانی کوونکی	او هغه وخت

عذاب له طرفه څخه د آسمان په سبب د دی چې کړی وه دوی نافرمانی د الله. او (یاد کړئ) هغه وخت

اسۡتَسۡقٰى مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ فَقُلۡنَا اضۡرِبْ بِّعَصَاكَ

اسۡتَسۡقٰى	مُوۡسٰى	لِقَوۡمِهٖ	فَقُلۡنَا	اضۡرِبْ	بِّعَصَاكَ
چې وغوښتلی (اوبه)	موسی	د قوم خپل دپاره	پس مونږ وویل	ووهه (ای! موسی)	لکړه خپل

چې اوبه وغوښتلې موسی د خپل قوم دپاره (په میدان د تیه کښې) پس وویل مونږ موسی ته چې ووهه لکړه خپل

الۡحَجَرَ ؕ فَانۡفَجَرَتۡ مِنۡهُ اثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنًا ؕ قَدۡ

الۡحَجَرَ	فَانۡفَجَرَتۡ	مِنۡهُ	اثۡنَتَا عَشۡرَةَ	عَيۡنًا	قَدۡ
پر کاڼی	پس روانی سولی	د دی کاڼی څخه	دولس ۱۲	چینې	په تحقیق سره

پر کاڼی (ډبره باندی)، (کله چې ووهله لکړه پر ډبره) پس روانی سولی د دی ډبری څخه دولس ۱۲ چینې، په تحقیق سره

عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشۡرَبَهُمۡ ؕ كُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا مِنۡ رِّزۡقِ

عَلِمَ	كُلُّ	اُنَاسٍ	مَّشۡرَبَهُمۡ	كُلُوۡا	وَاشۡرَبُوۡا	مِنۡ رِّزۡقِ
وپیژندی	هری	قبیلی	ځای د اوبو چښلو خپل	خورئ تاسی	او چښئ تاسی	دروزی (رزق) د

وپیژندی هری قبیلی ځای د اوبو چښلو خپلو، نو پس خورئ او چښئ تاسی (روزی د الله بیله د اسبابو) د رزق څخه

اللّٰهِ وَلَا تَعۡثَوۡا فِى الۡاَرۡضِ مُفۡسِدِيۡنَ ﴿٦٠﴾ وَاِذۡ قُلۡتُمۡ

اللّٰهِ	وَلَا تَعۡثَوۡا	فِى الۡاَرۡضِ	مُفۡسِدِيۡنَ	وَاِذۡ	قُلۡتُمۡ
الله	او مه ګرځئ	په ځمکه کښې	فساد کوونکی	او هغه وخت	چې وویل تاسی

الله او مه ګرځوی ځانونه خپل په ځمکه کښې فساد کوونکی او (یاد کړئ!) هغه وخت چې وویل تاسی

يٰمُوۡسٰى لَنۡ نَّصۡبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ فَادۡعُ لَنَا رَبَّكَ

يٰمُوۡسٰى	لَنۡ نَّصۡبِرَ	عَلٰى طَعَامٍ	وَّاحِدٍ	فَادۡعُ	لَنَا	رَبَّكَ
ای! موسی	هیڅکله به مونږ صبر ونه کړو	پر خوراک باندی	یو قسم	پس دعاء وکړه	زمونږ دپاره	درب خپل څخه

ای! موسی هیڅکله به مونږ صبر ونه کړو پر یو خوراک (من او سلوی) پس وغواړه زمونږ دپاره په دعاء سره د رب خپل څخه

وَاِذِ اسۡتَسۡقٰى مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ... دا قصه او واقعه هم د تیه دشلې ده: هلته چې بني اسرائیل تږي سول نو اوبه یي وغوښتې موسی علیه السلام دعا وکړه نو دخاص کاڼي څخه دخدای جل جلاله په قدرت سره د لکړې په وهلو سره دوولس چینې روانې سوې او ددوی دوولس خاندانونه داسي وه چي ده حضرت یعقوب علیه السلام دوولس زامن وه دهر یوه اولاد څخه یو یو خاندان جوړ سوی وو او ددوی انتظامي معاملات هم جلا جلا وه دټولو مشران هم جلا جلا وه په دې وجه هم دوولس چینې وبهیدې او دخوراک څخه مراد دلته من او سلوی دي او دچیښلو څخه مراد دغه اوبه دي ددوی نافرماني کولو حکمونو پرېښوولو ته یي فتنه او فساد ویلي دي: قاضي بیضاوي رحمة الله علیه وایي چي د داسي معجزو څخه انکار کول لویه غلطي ده ځکه چي کله په بعضو کاڼو کښې الله جل جلاله دعقل څخه ډیرلیري یو داسي اثر ایښی وي چي هغه او سپنه ځان ته راکشوي نو که اوبه راکش کړي څه ګرانه خبره خو نه ده داهم د الله جل جلاله د قدرت څخه دباندي نه ده.
(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ٢١٣)

www.jamairahmani.org

يُخۡرِجۡ لَنَا مِمَّا تُنۡۢبِتُ الۡاَرۡضُ مِنۡۢ بَقۡلِهَا وَقِثَّآئِهَا

يُخۡرِجۡ	لَنَا	مِمَّا تُنۡۢبِتُ	الۡاَرۡضُ	مِنۡۢ بَقۡلِهَا	وَ	قِثَّآئِهَا
چي راوباسي (الله)	زموږ دپاره	دهغه څخه چي شنه کوي يې	ځمکه	د سابو ددې ځمکې	او	دبادرنگ د دې

چي را وباسي الله زموږ دپاره د ځمکې څخه شنه شيان (سبزيجات) د دې ځمکې او بادرنگ د دې ځمکې

وَفُوۡمِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ؕ قَالَ اَتَسۡتَبۡدِلُوۡنَ

وَ	فُوۡمِهَا	وَ	عَدَسِهَا	وَ	بَصَلِهَا	قَالَ	اَتَسۡتَبۡدِلُوۡنَ
او	غنم ددې ځمکې	او	دال ددې ځمکې	او	پیاز ددې ځمکې	وویل (موسی)	آیا تاسې اخیستل غواړۍ

او غنم د دې ځمکې او دال د دې ځمکې او پیاز د دې ځمکې ، نو وویل موسی آیا تاسې بدلوئ (اخلئ)

الَّذِيۡ هُوَ اَدۡنٰى بِالَّذِيۡ هُوَ خَيۡرٌ ؕ اِهۡبِطُوۡا مِصۡرًا

الَّذِيۡ	هُوَ	اَدۡنٰى	بِالَّذِيۡ	هُوَ	خَيۡرٌ	اِهۡبِطُوۡا	مِصۡرًا
هغه شئ	هغه چي	ناکاره دئ	په مقابل کښې د هغه	چي هغه	بهتر او اعلی دی	کښته سئ	يو ښار ته

هغه شئ چي کم دی په مقابل کښې د هغه شئ چي بهتر او اعلی دی، (کله چي مو داسې وکړه) نو پس ولاړ سئ يو ښار ته

فَاِنَّ لَكُمۡ مَّا سَاَلۡتُمۡ ؕ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ

فَاِنَّ	لَكُمۡ	مَّا	سَاَلۡتُمۡ	وَ	ضُرِبَتۡ	عَلَيۡهِمُ	الذِّلَّةُ
پس بیشکه!	(سته) تاسې ته	هغه څه	چي غواړۍ يئ تاسې	او	مقرره سوله	پر دوی باندی	خواری (ذلت)

پس بیشکه! سته تاسې ته هر هغه شئ چي غواړۍ يئ تاسې او مقرر سول پر دوی باندی (په سبب د نعمت د کفران) ذلت

وَالۡمَسۡكَنَةُ ۚ وَبَآءُوۡ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ

وَالۡمَسۡكَنَةُ	وَبَآءُوۡ	بِغَضَبٍ	مِّنَ	اللّٰهِ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمۡ
او فقیری	او اخته سول	په غضب	د	الله	دغه (غضب)	په سبب ددې چي بیشکه دوی

فقیری او اخته سول دوی په غضب (له جانبه) د الله، دغه (خواری، فقیری، ذلالت) پر دوی باندی په سبب د دی وه چي

كَانُوۡا يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقۡتُلُوۡنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ؕ

كَانُوۡا	يَكۡفُرُوۡنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَ	يَقۡتُلُوۡنَ	النَّبِيّٖنَ	بِغَيۡرِ الۡحَقِّ
وه دوی	انکار کوونکی	په اياتونو	د الله	او	وژل به يې	انبياء	په ناحقه سره

دوی وه انکار کوونکی (کافران) په اياتونو د الله او وژل به يې انبياء (لکه ، شعيب، زکريا او يحی) په ناحقه سره

وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ وَالۡمَسۡكَنَةُ ۚ. يهود به همیشه دبل غلامان وي:

مطلب دادی چي يهود به همیشه دبل په غلامی کښی وي او بل ته به ټیکس او مالیه ورکوي او په خپله به دوی ته هیڅ اقتدار او قوت حاصل نه وي ددغه مضمون يو آيت په سورت آل عمران کښي ديو څه زيات والي سره دا رنگه راغلی دی)(ضربت عليهم الذلة اين ما ثقفوا الا بحبل من الله وحبل من الناس)(يعني کلکه سويده پر دوی باندي بی قدري او ذلت هر ځای چي وي دوی البته خو په يوه داسي ذريعه سره چي دالله ﷻ د طرفه وي يا په داسي ذريعی سره چي دخلگو له طرفـــــه وي د الله ﷻ د ذريعی مطلب دادی چي کمو خلگو ته الله ﷻ په خپل قانون کښي امن ورکړی وي لکه نا بالغ کوچنی ښځي يا داسي عبادت کوونکي ته چي دمسلمانانو سره جنگ نه کوي نو هغه محفوظ او په امن دي او دخلگو دذريعی څخه مراد دصلحي وعده ده چي دهغی يو صورت دادی چي دمسلمانانو سره صلح وکړل سي يا جزيه ورکړل سي دهغو په ملک کښي داوسيدو په خاطرالخ.
(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ٢١٦)

www.jamairahmani.org

ع ٧

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٦١﴾ اِنَّ

ذٰلِكَ	بِمَا	عَصَوْا	وَّ	كَانُوْا	يَعْتَدُوْنَ	اِنَّ
دغه (غضب)	په سبب ددې وو	چې سرکشي يې کړې وه	او	دوی وه	تيريدل به (دحدودو د شريعت څخه)	بيشکه!

دغه (کفر او قتل) په سبب د دې وجې وو چې دوی نافرماني وکړه او تير سوي وه د شريعت د احکامو څخه. بيشکه!

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٕيْنَ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَ	الَّذِيْنَ	هَادُوْا	وَالنَّصٰرٰى	وَ	الصّٰبِـِٕيْنَ
هغه کسان	چې ايمان يې راوړی دی	او	هغه کسان	چې يهوديان دي	او چې نصارا دي	او	چې بې دينه دي

هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هغه کسان چې يهوديان دي او هغه کسان چې نصرانيان دي او هغه چې بې دينه دي

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ

مَنْ	اٰمَنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	وَ	عَمِلَ	صَالِحًا	فَلَهُمْ
هغه (کس)	چې ايمان يې راوړی دی	پر الله باندې	او په ورځ	د آخرت	او	عمل يې کړی دی	د نيکو	پس سته دوی ته

او هغه کس (له دوی څخه) چې ايمان يې راوړی دی پر الله او په ورځ د قيامت او عمل کوي د نيکو پس سته دوی ته

اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

اَجْرُهُمْ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	وَلَا	خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ	وَلَا هُمْ
مزدوري د دوی	په نزد	د رب د دوی	او نه (به وي)	هيڅ بيره	پر دوی باندې	او نه (به وي) دوی

مزدوري د دوی (ثوابونه) په نزد د رب د دوی او نه به وي هيڅ ډول بيره پر دوی باندې او نه به وي دوی

يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ

يَحْزَنُوْنَ	وَاِذْ	اَخَذْنَا	مِيْثَاقَكُمْ	وَرَفَعْنَا	فَوْقَكُمُ	الطُّوْرَ
چې غمجن کيږي	او هغه وخت	چې واخيستل موږ	محکمه وعده ستاسي څخه	او پورته مو کړی	لوړ پر تاسي باندې	د طور غر

غمجن ،او هغه وخت چې واخيستل موږ وعده محکمه ستاسي څخه او پورته مو کړی لوړ پر تاسي باندې د طور غر

خُذُوْا مَاۤ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ

خُذُوْا	مَاۤ	اٰتَيْنٰكُمْ	بِقُوَّةٍ	وَّاذْكُرُوْا	مَا	فِيْهِ
ونيسئ	هغه (حکمونه)	چې در کړي دي موږ تاسو ته	په کوښښ سره	او ياد کړئ	هغه	چې په هغه کښې دي

نو ونيسئ هغه حکمونه چې در کړي دي موږ تاسي ته په ښه کوښښ سره او ياد کړئ هغه حکمونه چې په هغه کښې دي

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا..

دالله ﷻ دقانون حاصل بالکل څرګند دی: هغه داچي دالله ﷻ په دربار کښي دچا تخصيص نسته څوک چي پورا اطاعت اعتقاد او ښه عملونه اختيار کړي د مخه چي هر رکم وي دالله ﷻ په دربار کښي مقبول او دهغه دخدمت اجر به هغه ته ورکول کيږي او دا ظاهره خبره ده چي د قرآن دنازليدو څخه وروسته پورا اطاعت هغه دی چي هغه اطاعت محمدي وي مطلب دا چي سړی مسلمان سي نو هغه دنجات اخروي مستحق کيدای سي په دي خبره سره ددی خيال جواب هم وسو چي ددې شرارتونو روسته که دوی مسلمانان سي نو الله ﷻ به ورته عفوه وکړي (صائبين) يوه ډله ده چي دهغو دعملونو او عقيدو په هکله چاته پورا علم نه وو نو په دی وجه ددوی په باره کښي دمختلف اقوال دي والله اعلم: په دی قانون کښي خو په ظاهره دمسلمانانو دذکر کولو څه حاجت نه وو ليکن په دی سره په کلام کښي يو خاص قسم بلاغت پيدا سو او په مضمون کښي وقعت پيدا سو.
(معارف القرآن ج١ پ١ ص ٢١٨)

www.jamairahmani.org

لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴿۶۳﴾ ثُمَّ تَوَلَّيۡتُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوۡلَا

لَعَلَّكُمۡ	تَتَّقُوۡنَ	ثُمَّ	تَوَلَّيۡتُمۡ	مِّنۡۢ بَعۡدِ	ذٰلِكَ	فَلَوۡلَا
دپاره ددی چی تاسی	پرهیزګاره جوړ سی	بیا	مخ وګرځوئ تاسی	وروسته د	هغه (اقرار څخه)	پس که نه وایی

دپاره د دی چی ښایی تاسی پرهیزګاره جوړ سی، بیا مخ وګرځوئ تاسی وروسته د هغه وعدی څخه نو که چیری نه وایی

فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهٗ لَكُنۡتُمۡ مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۶۴﴾

فَضۡلُ	اللّٰهِ	عَلَيۡكُمۡ	وَ	رَحۡمَتُهٗ	لَكُنۡتُمۡ	مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ
فضل	دالله	پر تاسو باندی	او	رحمت د الله پر تاسو	خامخا وای به تاسی	د زیان کارانو څخه

فضل د الله پر تاسی او رحمت (مهربانی) دالله (د توبی په قبلولو سره) نو خامخا به تاسی وایی د زیان کارانو څخه

وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ الَّذِيۡنَ اعۡتَدَوۡا مِنۡكُمۡ فِى السَّبۡتِ

وَ	لَقَدۡ	عَلِمۡتُمُ	الَّذِيۡنَ	اعۡتَدَوۡا	مِنۡكُمۡ	فِى السَّبۡتِ
او	په تحقیق سره	وپیژندل تاسی	هغه کسان	چی زیاتئ یئ کړی وو	له تاسی څخه	په (ورځ) د شنبی

او خامخا په تحقیق سره وپیژندل تاسی هغه کسان چی زیاتئ یئ کړی وو له تاسی څخه (دماهیانو په ښکار) په ورځ د شنبی

فَقُلۡنَا لَهُمۡ كُوۡنُوۡا قِرَدَةً خٰسِئِيۡنَ ﴿۶۵﴾ فَجَعَلۡنٰهَا نَكَالًا لِّمَا

فَقُلۡنَا	لَهُمۡ	كُوۡنُوۡا	قِرَدَةً	خٰسِئِيۡنَ	فَجَعَلۡنٰهَا	نَكَالًا	لِّمَا
پس موږ وویل	و دوی ته	چی سئ تاسی	بیزوګان	خوار (ذلیله)	پس وګرځول موږ دا واقعه	عبرت	د هغو دپاره

نو پس و فرمایل موږ و دوی ته چی سئ تاسی بیزوګان خوار ذلیله. پس وموګرځول دا (عقوبت او مسخه) عبرت د هغو دپاره

بَيۡنَ يَدَيۡهَا وَمَا خَلۡفَهَا وَمَوۡعِظَةً لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۶۶﴾

بَيۡنَ يَدَيۡهَا	وَمَا	خَلۡفَهَا	وَ	مَوۡعِظَةً	لِّلۡمُتَّقِيۡنَ
چی په مخکی ددی قصی وه	او د هغه (خلګو دپاره)	چی وروسته راتلونکی دی	او	نصیحت	د پرهیزګارانو دپاره

چی موجود (حاضر) وه، او هغه خلګ چی وروسته راتلونکی دی، او دغه نصیحت دی د پار د پرهیزګارانو.

وَاِذۡ قَالَ مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖۤ اِنَّ اللّٰهَ يَاۡمُرُكُمۡ اَنۡ تَذۡبَحُوۡا

وَاِذۡ	قَالَ	مُوۡسٰى	لِقَوۡمِهٖۤ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَاۡمُرُكُمۡ	اَنۡ	تَذۡبَحُوۡا
او هغه وخت	چی وویل	موسی	و قوم خپل ته	بیشکه!	الله	حکم کوی تاسو ته	داچی	حلا له کړی تاسی

او (یاد کړه محمده!) کله چی وویل موسی قوم خپل ته چی بیشکه حکم کوی الله تاسی ته ددی خبری چی حلاله کړی تاسی

فَقُلۡنَا لَهُمۡ كُوۡنُوۡا قِرَدَةً خٰسِئِيۡنَ... په دیني کارو کښې داسې حیلې جوړول چې دهغه په ذریعه سره شرعي حکم باطلیږي:

په دی آیت کښې چې دیهودو څخه کم تر حد تجاوز سوی دی دهغه ذکر دی او هغه تجاوز ددوی لپاره دعذاب سبب هم وګرځیدی لکه څنګه چې درواياتو څخه ثابته ده دغه تجاوز ددوی په ډاګه سره دشرعي حکم خلاف ورزي نه وه بلکې داسې حیلې او بهانې وې چې په هغه سره حکم شرعي باطل کیدی مثلا دشنبې په ورځ به یې دماهې په لکی کې د یوه تار غوټه واچوله او په دریاب کښې به یې ایله کړی او دا تار به یې پر مځکه دڅه شي سره وتړی او بیا به یې دیکشنبې په ورځ ونیوی خوړی به یې دا خو یو داسې حیله ده چې په دې سره دشرعي حکم باطلول خو پریږده دشرعي حکم سره ټوکې کول دي نو په دی وجه داسې حیله کوونکې ډیر لوی سر کشه او نافرمانه وګرځول سوه او دالله ﷻ داسې عذاب پر نازل سو چې خنزیران او بیزوګان ځنې جوړ سول په دی دنیا کښې یې دا ذلت په برخه سو الخ.

(معارف القرآن ج۱ پ۱ ص ۲۲۱)

www.jamairahmani.org

بَقَرَةً ۭ قَالُوْٓا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۭ قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ

بَقَرَةً	قَالُوْٓا	اَتَتَّخِذُنَا	هُزُوًا	قَالَ	اَعُوْذُ	بِاللّٰهِ	اَنْ
یوه غوا	وویل دوی (بنی اسرائیلو)	آیا ته گرځوی موږ	مسخره	وویل (موسی)	زه پناه غواړم	په الله سره	دا چی

یوغوا (چی قاتل درمعلوم سی) وویل بنی اسرائیلو آیا ته گرځوی موږ مسخره، بیا موسی وویل: زه پناه غواړم په الله سره

اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ۝۶۷ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ یُبَیِّنْ

اَكُوْنَ	مِنَ الْجٰهِلِیْنَ	قَالُوا	ادْعُ	لَنَا	رَبَّكَ	یُبَیِّنْ
چی سم زه	د جاهلانو څخه	وویل دوی	دعاء وکړه	زموږ دپاره	درب خپل څخه	چی وښئی

دهغه څخه چی سم زه د جاهلانو څخه، وویل بنی اسرائیلو موسی ته چی وغواړه د الله څخه زموږ دپاره چی وښئی (بیان کړی)

لَّنَا مَا هِیَ ۭ قَالَ اِنَّهٗ یَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ

لَّنَا	مَا هِیَ	قَالَ	اِنَّهٗ	یَقُوْلُ	اِنَّهَا	بَقَرَةٌ	لَّا فَارِضٌ
موږ ته	چی څنګه ده هغه (غوا)	وویل (موسی)	بیشکه! الله	فرمایی	بیشکه! دغه	غوا ده	نه ده ډیره زړه

موږ ته چی څنګه ده دا غوا، وویل موسی بیشکه! الله فرمایی: بیشکه! دغه یوه غوا ده چی نه ده ډیره زړه

وَّلَا بِكْرٌ ۭ عَوَانٌۢ بَیْنَ ذٰلِكَ ۭ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ۝۶۸

وَّلَا بِكْرٌ	عَوَانٌ	بَیْنَ ذٰلِكَ	فَافْعَلُوْا	مَا	تُؤْمَرُوْنَ
او نه ده ډیره وړه	میانه حاله ده	په مینځ کښی ددغه (دوو حالتو ده)	پس وکړی	هغه کار	چی تاسو ته یی حکم کیږی

او نه ده ډیره کوچنی، میانه حاله ده په مینځ کښی د دغو (زوړوالی او کوچنیوالی) پس وکړی هغه کار چی تاسی ته حکم کیږی

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ یُبَیِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۭ قَالَ اِنَّهٗ

قَالُوا	ادْعُ	لَنَا	رَبَّكَ	یُبَیِّنْ	لَّنَا	مَا لَوْنُهَا	قَالَ	اِنَّهٗ
وویل دوی	دعاء وکړه	زموږ دپاره	درب خپل څخه	چی وښئی	موږ ته	چی څنګه رنګ دی ددی غوا	وویل موسی	بیشکه! الله

وویل بنی اسرائیلو چی وغواړه د رب خپل څخه زموږ دپاره چی وښئی موږ ته رنګ د هغه غوا، وویل موسی: بیشکه! الله

یَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِیْنَ ۝۶۹

یَقُوْلُ	اِنَّهَا	بَقَرَةٌ	صَفْرَآءُ	فَاقِعٌ	لَّوْنُهَا	تَسُرُّ	النّٰظِرِیْنَ
فرمایی	بیشکه دغه	غوا ده	ژړه	تک ژړ دی	رنګ ددی غوا	چی خوشحاله کوی	کتونکی

فرمایی: بیشکه! هغه غوا ژړه ده رنګ د هغی غوا تک ژړ دی، چی خوشحاله کوی (زړونه) د لیدونکو

قَالُوْٓا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۭ قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ...په بني اسرائیلو کي یو قتل:

داواقعه داسي وسوه چي په بني اسرائیلو کي یو قتل وسو چي دهغه وجه داوه چي یو سړي ددی وژل سوي شخص څخه لور په نکاح غوښتي وه لیکن دی سړي انکار کړی وو چي زه خپله لورتاته نه درکوم په دی وجه دغه سړي دانجلی پلار قتل کړی بیا دقتل پته ونه لګیده چي دا سړی چا مړ کړی او معالم دکلبي ﷺ څخه دانقل کړي دي چي تر دغه وخته په تورات کښي ددی متعلق څه شرعي قانون نه وونازل سوی نو ددی څخه دا معلومیږي چي دا قصه دتورات تر نازلیدو مخکي وه خیر بني اسرائیلو موسی ﷺ ته عرض وکړی چي موږ داغواړو چي قاتل معلوم سي ددې مقتول: نو موسی ﷺ بني اسرائیلو ته دالله ﷻ په حکم دیوې غوا دذبح کولو او حلالو حکم ورکړی نو دوی دخپل مزاج او عادت موافق په دي کښي چینجي راایستل شروع کړه او ژر ددې امر دپر ځای کولو ته نه سوه تیار ددې قصې پورا تفصیل راروان دی.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۲۲)

www.jamairahmani.org

وَاِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسًا فَادّٰرَءۡ تُمۡ فِيۡهَا ؕ (یــوه فایــده)

کلـه چي ددي مـړي سره داکـار وسـو نـو هغـه ژوندی سو او دهغه قاتل نوم يي وښووی او بيا ژر مړ سو دلته دمقتول بيان يوازي پـه دی وجه کافي سو چي حضرت موسی علیه السلام ته دوحي پـه ذريعـه معلومـه سـوې وه چـي دا مقتول به رشـتيا وايـي او کـه داسـي نـه وی نـو بيـا يـوازي دمقتـول پـه بيـان سـره بغيـر دڅـه شـرعـي شـهادت څخـه پـر چـا بانـدي دقتــل ددعــوې ثبـوت کـافي نـه وو دلتـه دا شبـه هـم نـه ده صحيح چــي الله جل جلاله دمــړي دژوندي کولو خو دغسي هـم قـدرت درلـودی يـا دمقتـول دژونـدي کولـو څخه بيله دقاتل نوم يي ښـوولی سـوای بيـا ددې دومـره معـاملې ضـرورت څه وو؟ خبره داسي ده چي دالله جل جلاله يــو کــار هــم دضرورت او مجبوری پـه وجــه نـــه وي بلكـــه دمصـــلحت او دحكمـــت لپـاره وي او دهـري واقعـي حكمـت دالله جل جلاله دعلـم پـه احا طه کـي راتلـی سـي او نـه مـوږ مكلـف يـو چـي دهـري واقعــي حكمـــت معلــوم کــړو او نـــه دا ضــروري ده چــي د هــري واقعــې حكمـت ز مـوږ تـر پـــوهي لانـــدي را ســـي

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۲۴)

قَالُوا ادۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنۡ لَّنَا مَا هِيَ ؕ اِنَّ الۡبَقَرَ

قَالُوا	ادۡعُ	لَنَا	رَبَّكَ	يُبَيِّنۡ	لَّنَا	مَا هِيَ	اِنَّ	الۡبَقَرَ
وويل دوی	دعاء وکړه	زموږ دپاره	درب خپل څخه	چي وښئي	موږته	چي کوم قسم ده هغه	بيشکه!	غوا

بيا وويل دوی چي وغواړه د رب خپل څخه زموږ دپاره چي وښئي موږته چي کوم قسم ده (کورنئ که صحرايي)، بيشکه غوا

تَشٰبَهَ عَلَيۡنَا ؕ وَاِنَّاۤ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۷۰﴾ قَالَ

تَشٰبَهَ	عَلَيۡنَا	وَ	اِنَّآ	اِنۡ شَآءَ	اللّٰهُ	لَمُهۡتَدُوۡنَ	قَالَ
ګډه وډه سويده	پر موږ باندی	او	بيشکه! موږ	که چيری اراده وکړي	الله	خامخا پرسمه لار تلونکی يو	وويل موسی

ګډه وډه سويده موږته، او بيشکه که چيری الله اراده وکړه خامخا پرسمه لار تلونکی يو ، (پس) وويل موسی

اِنَّهٗ يَقُوۡلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُوۡلٌ تُثِيۡرُ الۡاَرۡضَ

اِنَّهٗ	يَقُوۡلُ	اِنَّهَا	بَقَرَةٌ	لَّا ذَلُوۡلٌ	تُثِيۡرُ	الۡاَرۡضَ
بيشکه! الله	فرمايي	بيشکه! دا	غوا	نه ده يوی کوونکی	چي واړوی	مځکه

بيشکه! الله فرمايي: بيشکه دا غوا نه ده يوی کوونکی چي واړوی مځکه او نه هم دا غوا

وَلَا تَسۡقِي الۡحَرۡثَ ۚ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيۡهَا ؕ قَالُوا الۡـٰٔنَ

وَلَا تَسۡقِي	الۡحَرۡثَ	مُسَلَّمَةٌ	لَّا شِيَةَ	فِيۡهَا	قَالُوا	الۡـٰٔنَ
او اوبه نه ورکوی	کښت ته	دا سلامته ده	نسته داغ	په هغه (غوا) کښی	دوی وويل	اوس

کښت اوبه کوی، دا سلامته ده او نسته هيڅ داغ په دی غوا کښی (د کارونو، عيبونو او رنګونو)، (پس) دوی وويل اوس

جِئۡتَ بِالۡحَقِّ ؕ فَذَبَحُوۡهَا وَمَا كَادُوۡا يَفۡعَلُوۡنَ ﴿۷۱﴾ وَاِذۡ قَتَلۡتُمۡ

جِئۡتَ	بِالۡحَقِّ	فَذَبَحُوۡهَا	وَمَا كَادُوۡا	يَفۡعَلُوۡنَ	وَاِذۡ	قَتَلۡتُمۡ
راغلی ته	دسمی خبری سره	پس حلاله يي کړه هغه غوا	او نه وه نژدی دوی	چي دا کار وکړی	او هغه وخت	چي مړ کړی تاسو

دی راوړه روښانه خبره، پس حلاله کړه دوی هغه غوا او نه وه نژدی دوی (دی خبری ته) چي دا کار وکړی ، هغه وخت چي

نَفۡسًا فَادّٰرَءۡتُمۡ فِيۡهَا ؕ وَاللّٰهُ مُخۡرِجٌ مَّا كُنۡتُمۡ

نَفۡسًا	فَادّٰرَءۡتُمۡ	فِيۡهَا	وَ	اللّٰهُ	مُخۡرِجٌ	مَّا	كُنۡتُمۡ
يو انسان	پس اختلاف وکړی تاسی	په هغه کښی	او	الله	ښکاره کوونکی دی	د هغه څه	چي وئ تاسی

مړ کړی تاسی يو انسان پس جنګ (اختلاف) وکړی تاسی په هغه کښی او الله ښکاره کوونکی دی د هغه څه چي تاسی

ع ۸

www.jamairahmani.org

تَكۡتُمُوۡنَ ﴿٧٢﴾ فَقُلۡنَا اضۡرِبُوۡهُ بِبَعۡضِهَا ؕ كَذٰلِكَ يُحۡيِ

تَكۡتُمُوۡنَ	فَقُلۡنَا	اضۡرِبُوۡهُ	بِبَعۡضِهَا	كَذٰلِكَ	يُحۡيِ
پټول به مو	پس موږ وويل	ووهئ دا مړی	په ځينې حصې سره د دغې غوا	هم دغه شان	ژوندی کوی

پټول، پس وويل موږ چې ووهئ دا مړی په ځينې حصې سره د دغې غوا (نو ژوندی سو مړئ)، هم دغه شان ژوندی کوی

اللّٰهُ الۡمَوۡتٰی ۙ وَيُرِيۡكُمۡ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ

اللّٰهُ	الۡمَوۡتٰی	وَ	يُرِيۡكُمۡ	اٰيٰتِهٖ	لَعَلَّكُمۡ	تَعۡقِلُوۡنَ	ثُمَّ
الله	مړی	او	دربنئ تاسی ته	نښې خپلې	دپاره د دی چې تاسی	غور (فکر) وکړی	وروسته

الله مړی (په قيامت کښې) او دربنئ تاسی ته نمونې (د قدرت خپل) نو ښايي تاسی ته چې فکر وکړی. وروسته

قَسَتۡ قُلُوۡبُكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالۡحِجَارَةِ اَوۡ اَشَدُّ

قَسَتۡ	قُلُوۡبُكُمۡ	مِّنۡۢ بَعۡدِ	ذٰلِكَ	فَهِيَ	كَالۡحِجَارَةِ	اَوۡ	اَشَدُّ
سخت سول	زړونه ستاسی	وروسته د	هغه (مړی تر ژوندی کولو)	پس دا (زړونه ستاسی)	په شان د کاڼو دی	يا	زيات دی

سخت سول زړونه ستاسی وروسته د هغه مړی تر ژوندی کولو، پس دا زړونه ستاسی په شان د کاڼو دی بلکه ډير سخت دی

قَسۡوَةً ؕ وَاِنَّ مِنَ الۡحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنۡهُ

قَسۡوَةً	وَ	اِنَّ	مِنَ الۡحِجَارَةِ	لَمَا	يَتَفَجَّرُ	مِنۡهُ
په سختۍ کښې (ترهغو)	او	بيشکه!	ځينې د کاڼو څخه	خامخا هغه دی	چې بهيږی	د دی کاڼو څخه

په سختۍ کښې تر کاڼو، او بيشکه ځينې د کاڼو څخه هغه دی چې بهيږی د هغو کاڼو څخه

الۡاَنۡهٰرُ ؕ وَاِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخۡرُجُ مِنۡهُ الۡمَآءُ ؕ

الۡاَنۡهٰرُ	وَ	اِنَّ	مِنۡهَا	لَمَا	يَشَّقَّقُ	فَيَخۡرُجُ	مِنۡهُ	الۡمَآءُ
ويالی	او	بيشکه!	ځينې د دی (کاڼو) څخه	خامخا هغه دی	چې وچوی	پس راوزی	د دی کاڼو څخه	اوبه

ويالی، بيشکه! ځينې د دئ کاڼو څخه خامخا هغه دی چې وچوی پس راوزی د هغه څخه اوبه

وَاِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَهۡبِطُ مِنۡ خَشۡيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ

وَ	اِنَّ	مِنۡهَا	لَمَا	يَهۡبِطُ	مِنۡ خَشۡيَةِ	اللّٰهِ	وَمَا	اللّٰهُ
او	بيشکه!	ځينې د دی (کاڼو) څخه	خامخا هغه دی	چې رالغړی	ديرې څخه	د الله	او نه دی	الله

او بيشکه! ځينې د دی کاڼو څخه خامخا هغه دی چې رالغړی (د غره د سره څخه) ديرې د الله، او نه دی الله

وَاِنَّ مِنَ الۡـحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنۡهُ الۡاَنۡهٰرُ ؕ

دکاڼو دري قسمونه دي:

دلته دکاڼو دري اثره بيان سوي دي اول دا چي ددوی څخه زياتي او به بهيدل دوهم لږ غونډي اوبه راوتل او بهيدل په دي دوو کي چاته هيڅ قسم شک او شبه نسته دريم دا چي دالله ﷻ دبيري څخه کښته را رغړيدل په دي دريم کي ممکنه ده چي چاته شک او شبه عارضه سي ځکه چي دکاڼي خو عقل او حس نه وي نو بيا څنګه دی دالله ﷻ دبيري څخه رغړي ليکن دلته بيا دا خيال اچول په کار دي چي دبيري لپاره دعقل ضرورت نسته لکه په حيواناتو کي چي هغه عقل نه لري خو بيا هم دبيري مشاهده ليدل کيږي البتّه دحس ضرورت سته ليکن په کاڼو کښي ددومره حس نه لرلو لپاره هم څه دليل نسته او حس پر ژوند بانديي ولاړ وي او ډيره ممکنه ده چي په دوی کښي داسي باريک ژوند وي چي هغه دي زموږ دعلم څخه دبانديي وي لکه ددماغ داحساس ډيرو عقلمندانو ته پته نسته ليکن هغوی پوازي ددليلو په وجي ددي قائل دي.

(معارف القرآن ج١ پ١ ص ٢٢٦)

www.jamairahmani.org

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٧٤﴾ اَفَتَطۡمَعُوۡنَ اَنۡ يُّؤۡمِنُوۡا لَكُمۡ

بِغَافِلٍ	عَمَّا	تَعۡمَلُوۡنَ	اَفَتَطۡمَعُوۡنَ	اَنۡ	يُّؤۡمِنُوۡا	لَكُمۡ
بی خبره	دهغه ښخه	چی تاسی یی کوی	آیا پس تاسو امید لری	داچی	ایمان به راوړی دوی	ستاسو پر (وینا)

بی خبره دهغه ښخه چی کوی یی تاسی. آیا پس امید لری (ای محمده) چی دوی (اهل کتاب) به ایمان راوړی ستاسو پر خبره

وَقَدۡ كَانَ فَرِيۡقٌ مِّنۡهُمۡ يَسۡمَعُوۡنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوۡنَهٗ

وَ	قَدۡ	كَانَ	فَرِيۡقٌ	مِّنۡهُمۡ	يَسۡمَعُوۡنَ	كَلٰمَ	اللّٰهِ	ثُمَّ	يُحَرِّفُوۡنَهٗ
او	په تحقیق سره	وه	یوه ډله	د دوی ښخه	اوریدلی به یی	خبری	د الله	بیا	بدلوئ به یی هغه کلام

او په تحقیق سره وه یوه ډله (دیخوانیو) د دوی ښخه چی اوریدئ به یی کلام د الله بیا به یی بدلول هغه خبره

مِنۡۢ بَعۡدِ مَا عَقَلُوۡهُ وَهُمۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٧٥﴾ وَاِذَا لَقُوا

مِنۡۢ بَعۡدِ	مَا	عَقَلُوۡهُ	وَ	هُمۡ	يَعۡلَمُوۡنَ	وَاِذَا	لَقُوا
وروسته تر	هغه	چی دوی پوه سوی وه په هغه	او	دوی	پوهیدل	او هغه وخت	چی ملاقات وکړی دوی

وروسته د هغه چی دوی به پوه سوی وه په هغه خبره ، حال داچی دوی پوهیدل. او هغه وخت چی ملاقات وکړی (یهودیان)

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا قَالُوۡۤا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَا بَعۡضُهُمۡ

الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	قَالُوۡۤا	اٰمَنَّا	وَاِذَا	خَلَا	بَعۡضُهُمۡ
دهغه کسانو سره	چی ایمان یی راوړی دی	وایی دوی	موږ ایمان راوړی دی	او هغه وخت	یوازی سی	بعضی د دوی

دهغو کسانو سره چی ایمان یئ راوړی دی، پس دوی وایی موږ ایمان راوړی دی او کله چی یوازی سی بعضی د دوی

اِلٰى بَعۡضٍ قَالُوۡۤا اَتُحَدِّثُوۡنَهُمۡ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيۡكُمۡ

اِلٰى	بَعۡضٍ	قَالُوۡۤا	اَتُحَدِّثُوۡنَهُمۡ	بِمَا	فَتَحَ	اللّٰهُ	عَلَيۡكُمۡ
د	بعضو سره	وایی دوی	آیا تاسی خبروی دوی (مسلمانان)	په هغه سره	چی ښکاره کړی دی	الله	پر تاسی باندی

د بعضو سره نو وایی دوی: آیا تاسی خبروئ مسلمانان په هغه سره چی ښکاره کړی دی الله پر تاسی باندی (په تورات کښی)

لِيُحَآجُّوۡكُمۡ بِهٖ عِنۡدَ رَبِّكُمۡ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿٧٦﴾ اَوَلَا

لِيُحَآجُّوۡكُمۡ	بِهٖ	عِنۡدَ	رَبِّكُمۡ	اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ	اَوَلَا
چی مباحثه وکړی دوی ستاسو سره	په دغه خبره	په نزد	د رب ستاسی	آیا تاسی نه پوهیږی؟	آیا نه

ددی دپاره چی مباحثه وکړی دوی ستاسی سره ، په هغه خبره سره په نزد د رب ستاسی ، پس آیا تاسی نه پوهیږی. آیا نه

يَسۡمَعُوۡنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوۡنَهٗ. يــوه اهمــه

فائده: مطلب داسو چي کم خلگ دومره بی باکه وي او دنفسي خواهشاتو بندیان سي هغه بیا دچا په وینا کله منع کیږي دناروا کارو ښخه او هغه بیا کله دچا داوري دالله ﷻ دکلام تحریف دوی وکړی: دکلام الله ښخه مراد یا خو تورات دی او دسماع یعني داوریدو ښخه مراد دپیغمبرانو په واسطه اوریدل دي او دتحریف ښخه مراد ددی کلام په بعضو الفاظو یاتفسیر کي او یا په دواړو کي بدلول دي: او یا مراد دکلام الله ښخه هغه کلام دی چي کمو اویا کسانو دموسی علیه السلام دتصدیق په باره کښي په کوه طور کښي اوریدلی وو او دسماع ښخه مراد بغیر دواسطي اوریدل دي او دتحریف ښخه مراد دادی چي دوی قوم ته داوویل چي په آخر کښي الله ﷻ دا هم وفرمایل چي په کم حکم باندي ستاسي ښخه عمل نه کیږي هغه تاسي ته معاف دی نو په دغه آیت کښي الله ﷻ د مسلمانانو هغه امید قطع کړی چي دوی دیهودو دمسلمانولو کړی وو چي دوی ایمان نه راوړي.
(معارف القرآن ج۱پ۱ص۲۲۷)

www.jamairahmani.org

وَقَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ۭ. يوه

بله فايده: د تفسير شريف علماوو ددي خبري مختلف بيانونه كړي دي چي په هغه كښي يو بيان دادی چي دا خبره ثابته ده چي مومن كه چيري گناهگار وي نو دگناه په اندازې او قدر به ددوزخ په عذاب عذاب وركول كيږي ليكن د ايمان په وجه به هغه ددوزخ په هميشه عذاب كي نه وي څه زمانه وروسته به خلاصون پيدا كوي: نو ديهودو ددعوې حاصل داوو چي كله ددوی په خيال دموسی عليه السلام دين منسوخ نه دی نو په دی وجه دوی مومنان دي دحضرت عيسی عليه السلام او دحضرت محمد صلى الله عليه وسلم د نبوت څخه دانكار كولو په وجه كافران نه دي نو كه چيري دگناه په وجه دوزخ ته ولاړ هم سي نو بيا به راويستل سي: او كله بيا دادعوی داسې ده لكه لور چي پر لوته تيره كوي ځكه چي دموسی عليه السلام ددين دهميشه والي دعوی خو غلطه ده نو دحضرت عيسی عليه السلام او دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دنبوت دانكار دوجې دوی بيرته كافران دي او دوزخ ته به ځي الخ.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۲۹)

يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۷﴾

يَعْلَمُوْنَ	اَنَّ	اللّٰهَ	يَعْلَمُ	مَا	يُسِرُّوْنَ	وَ	مَا	يُعْلِنُوْنَ
پوهيږي دوی	بيشكه!	الله	پيژني	هغه څه	چي دوی يې پټوي	او	هغه څه	چي دوی يئ ښكاره كوي

پوهيږي دغه (يهوديان) چي بيشكه! الله عالم (پيژني) هغه څه چي دوی يې پټوي او هغه څه چي دوی يئ ښكاره كوي

وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَ

وَ	مِنْهُمْ	اُمِّيُّوْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ	الْكِتٰبَ	اِلَّآ	اَمَانِيَّ	وَ
او	ځيني د دوی	عاميان دی	نه پوهيږي	په كتاب (تورات)	مگر	پوهيږي په هيلو ارزوگانو باندی	او

او ځيني د دوی (ديهوديانو) څخه عاميان دی چي نه پوهيږي په تورات مگر (پوهيږي) په دروا غو ارزوگانو خيلو او

اِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۷۸﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ

اِنْ	هُمْ	اِلَّا	يَظُنُّوْنَ	فَوَيْلٌ	لِّلَّذِيْنَ	يَكْتُبُوْنَ	الْكِتٰبَ
نه دی	دوی	مگر	گمان كوونكی	پس هلاكت دی	هغه كسانو لره	چي ليكی	كتاب

نه دی دوی مگر بی دليله گمان كوونكی. پس هلاكت دی هغه كسانو لره چي ليكی كتاب (د خپله ځانه څخه)

نصف

بِاَيْدِيْهِمْ ۗ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا

بِاَيْدِيْهِمْ	ثُمَّ	يَقُوْلُوْنَ	هٰذَا	مِنْ عِنْدِ	اللّٰهِ	لِيَشْتَرُوْا
په لاسو خپلو سره	وروسته	وايي دوی	دغه دئ	د طرفه د	الله	چي دوی واخلي

په لاسو خپلو سره بيا وايي دوی چي دا (ليكل سوی دی) د طرفه څخه د الله، (دپاره د دی چي) واخلي دوی

بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ

بِهٖ	ثَمَنًا	قَلِيْلًا	فَوَيْلٌ	لَّهُمْ	مِّمَّا	كَتَبَتْ	اَيْدِيْهِمْ
په دغه سره	پيسی	لږ	پس هلاكت دی	دوی ته	په سبب د هغه	چي ليكلی يی دی	لاسو د دوی

په دغه (ليكلو) سره لږ پيسی، پس هلاكت دی دوی ته له سببه د هغه چي ليكلی دی په لاسو نو خپلو

وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ

وَ	وَيْلٌ	لَّهُمْ	مِّمَّا	يَكْسِبُوْنَ	وَ	قَالُوْا	لَنْ تَمَسَّنَا	النَّارُ
او	هلاكت دی	دوی ته	په سبب د هغه	چي دوی يئ كوی	او	وايي دوی	هيڅكله به نه ورسيږی موږ ته	اور

او هلاكت دی وی پر دوی باندی د سببه د هغه چي دوی يئ كوی. او وايي دوی (يهوديان) چي نه به ورسيږی موږ ته دا اور

www.jamairahmani.org

اِلَّآ اَيَّامًا مَّعۡدُوۡدَةً ؕ قُلۡ اَتَّخَذۡتُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ عَهۡدًا فَلَنۡ يُّخۡلِفَ

اِلَّآ	اَيَّامًا	مَّعۡدُوۡدَةً	قُلۡ	اَتَّخَذۡتُمۡ	عِنۡدَ اللّٰهِ	عَهۡدًا	فَلَنۡ يُّخۡلِفَ
مگر	ورځې	شمیرلې	وواېه (اې محمده)	آیا اخیستې ده تاسې	دالله څخه	وعده	پس هیڅکله به مخالفت نه کوې

مگر څو ورځې حساب سوې، وواېه (محمده!) دوې ته) آیا اخیستې ده تاسې وعده د الله څخه (چې عذاب به نه در کوې) پس

اللّٰهُ عَهۡدَهٗۤ اَمۡ تَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۰﴾

اللّٰهُ	عَهۡدَهٗۤ	اَمۡ	تَقُوۡلُوۡنَ	عَلَى اللّٰهِ	مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ
الله	دوعدې خپلې	یا	وایاست تاسې	پر الله	هغه چې نه پرې پوهیږئ

هیڅ وخت مخالفت نه کوې الله په وعدې خپلې سره، او یا وایاست تاسې پر الله باندې (درواغ) هغه چې نه پرې پوهیږئ تاسې

بَلٰى مَنۡ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّ اَحَاطَتۡ بِهٖ خَطِيۡٓـئَتُهٗ

بَلٰى	مَنۡ	كَسَبَ	سَيِّئَةً	وَّ	اَحَاطَتۡ	بِهٖ	خَطِيۡٓـئَتُهٗ
ولې نه	هغه چاچې	وکړئ	بد عمل	او	شاوخوا را وگرځې	پر ده باندې	گناه د ده

بلکه (وې به تاسې ته دایمي اور) هغه چا چې وکړې بد عمل او شاوخوا را وگرځېدل پر ده باندې گناه د ده

فَاُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۸۱﴾

فَاُولٰٓـئِكَ	اَصۡحٰبُ	النَّارِ	هُمۡ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ
پس دغه کسان	ملگرې دې	د اور	دوې دې	په دغه (اور) کښې	همیشه اوسیدونکې

پس هم دغه کسان ملگرې (صاحبان) د اور (دوږخ) دې، وې به دوې په هغه د دوږخ په اور کښې همیشه اوسیدونکې

وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ

وَ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَ	عَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	اُولٰٓـئِكَ	اَصۡحٰبُ
او	هغه کسان چې	ایمان یئ راوړې دې	او	عمل یئ کړې دې	د نیکو	هم دغه کسان	ملگرې دې

او هغه کسان چې ایمان یئ راوړې دې (مؤمنان دې) او عمل یئ کړې دې د نیکو پس هم دغه کسان ملگرې (صاحبان) دې

الۡجَـنَّةِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۸۲﴾ وَاِذۡ اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَ

ع ۹ ۹

الۡجَـنَّةِ	هُمۡ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	وَاِذۡ	اَخَذۡنَا	مِيۡثَاقَ
د جنت	دوې دې	په دغه (جنت) کښې	همیشه اوسیدونکې	او هغه وخت	چې واخیستل موږ	محکمه وعده

د جنت او هم دوې دې په دې جنت کښې همیشه اوسیدونکې. او هغه وخت چې موږ واخیستل محکمه وعده

بَلٰى مَنۡ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّ اَحَاطَتۡ بِهٖ خَطِيۡٓـئَتُهٗ

(فایده) دلته داحاطې چې کمه معنی سویده دا په کافرانو پورې خاص ده ځکه چې ددوی دکفر په وجه څه نیک عمل او کار قبول نه وي بلکه که چیرې دکفر څخه مخکې یې څه ښه کار کړی وي هغه هم دکفر په وجه ضایع کیږي نو په دې وجه په کافرتوب کښې دسر څخه تر پښو پورې بد کار ونه وي چې دهغه جزاء به ابدي جهنم وي برخلاف دمومنانو ځکه چې اول دهغوی ایمان پخپله یو لوی عمل صالح دی او نور فرعي عملونه ددوی په عملنامو کښې درج کیږي نو په دې وجه دوی دنیکۍ داثره خالي نه وي نو دغه ذکر سوې احاطه به پر مسلمانانو باندې نه وي لنډه دا چې کله کافرته ددې له مخې ابدي جهنم ثابت سو او کله چې حضرت موسی علیه السلام خاتم الانبیا نه دی تر ده وروسته حضرت عیسی علیه السلام او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم پیغمبران دي یهودو چې ددوی څخه انکار وکړی نو په کافرانو کښې شامل سوه لهذا همیشه به په اور کښې وي.
(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ٢٣٠)

www.jamairahmani.org

بَنِيٓ اِسۡرَآءِيۡلَ لَا تَعۡبُدُوۡنَ اِلَّا اللّٰهَ ۟ وَ بِالۡوَالِدَيۡنِ اِحۡسَانًا

بَنِيٓ اِسۡرَآءِيۡلَ	لَا تَعۡبُدُوۡنَ	اِلَّا	اللّٰهَ	وَ بِالۡوَالِدَيۡنِ	اِحۡسَانًا
د بني اسرائيلو څخه	چې تاسو به عبادت نه کوی	مګر	د الله	او کوی د مور او پلار سره	نیک سلوک

د بني اسرائيلو (اولاده ديعقوب) څخه چې تاسي به عبادت نه کوی ماسواء د الله څخه او نیک سلوک کوی د مور او پلار سره

وَّذِي الۡقُرۡبٰى وَالۡيَتٰمٰى وَالۡمَسٰكِيۡنِ وَقُوۡلُوۡا لِلنَّاسِ

وَّذِي	الۡقُرۡبٰى	وَ	الۡيَتٰمٰى	وَ	الۡمَسٰكِيۡنِ	وَ	قُوۡلُوۡا	لِلنَّاسِ
او دخاوندانو سره	د خپلوی	او	دیتیمانو سره	او	مسکینانو سره	او	او وایاست	خلګو ته

او (نیک سلوک کوی) خپل د خپلوانو سره او د یتیمانو سره او مسکینانو سره ، او وایاست خلګو ته

حُسۡنًا وَّاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ ثُمَّ تَوَلَّيۡتُمۡ

حُسۡنًا	وَّ	اَقِيۡمُوا	الصَّلٰوةَ	وَ	اٰتُوا	الزَّكٰوةَ	ثُمَّ	تَوَلَّيۡتُمۡ
ښه خبری	او	سم دروی	لمونځ	او	ورکوی	زکوة	وروسته	وګرځیدلئ تاسی

ښه خبری (خوږې خبری) او سم قایموئ (اداء کوی) لمونځ او ورکوی زکوة ، بیا وګرځیدلاست تاسی (له عهده څخه)

اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡكُمۡ وَاَنۡتُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿٨٣﴾ وَاِذۡ

اِلَّا	قَلِيۡلًا	مِّنۡكُمۡ	وَ	اَنۡتُمۡ	مُّعۡرِضُوۡنَ	وَاِذۡ
مګر	لږ خلک	ستاسو څخه	او (حال داچې)	تاسی یئ	مخ ګرځوونکی	او هغه وخت چې

مګر (ونه ګرځیدل) لږ خلک په تاسی کښې ، او هم تاسی یاست مخ ګرځوونکی (دالهی احکامو څخه) ، او کله چې

اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَكُمۡ لَا تَسۡفِكُوۡنَ دِمَآءَكُمۡ وَلَا تُخۡرِجُوۡنَ

اَخَذۡنَا	مِيۡثَاقَكُمۡ	لَا تَسۡفِكُوۡنَ	دِمَآءَكُمۡ	وَ	لَا تُخۡرِجُوۡنَ
واخیستل موږ	محکمه وعده ستاسو څخه	نه به تویوئ	وینی خپل	او	نه به باسئ

واخیستل موږ محکمه وعده ستاسی څخه چې نه به تو یوئ وینی خپل (په قتلولو سره) او نه به باسئ

اَنۡفُسَكُمۡ مِّنۡ دِيَارِكُمۡ ثُمَّ اَقۡرَرۡتُمۡ وَاَنۡتُمۡ تَشۡهَدُوۡنَ ﴿٨٤﴾

اَنۡفُسَكُمۡ	مِّنۡ دِيَارِكُمۡ	ثُمَّ	اَقۡرَرۡتُمۡ	وَ	اَنۡتُمۡ	تَشۡهَدُوۡنَ
ځانونه خپل	د کورو خپلو څخه	وروسته	اقرار وکړی تاسی	او (حال داچې)	وی تاسی	شاهدان

ځانونه خپل (په ظلم سره) د کورو خپلو څخه، بیا اقرار وکړی تاسی (او پلرونو ستاسی) حال داچې تاسی شاهدان وی

وَقُوۡلُوۡا لِلنَّاسِ حُسۡنًا

دقولوا للناس مطلب هم دغه دی: چې کله دخلګو سره خبري کوی نو خبره په نرمي سره يي کوی په خندا او خلاص زړه يه کوی برابره خبره ده که مخاطب نیک وي که بد وي که سني وي که بدعتي وي البتّه ددين په معامله کښې سستي او د حق پټول مه کوی وجه داده چې کله موسی او هارون (علیهم السلام) الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرعون ته ولیږل نو دا هدایت یه ورته وکړی چې (قولا له قولا لیّنا)تاسي دواړه ده ته په تبلیغ کولو کښې پستې او نرمي خبري وکړی نن چې کوم خبري کوونکي دي هغه خو تر حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَام غوره نه دي او مخاطب که هر څومره بد سي تر فرعون خو زیات بد او خبیث کیدای نه سي:

طلحه بن عمر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ فرمايي چې ما دتفسیر او حدیث امام عطا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ ته وویل چې تاته دفاسدې عقیدې خلګ راځي لیکن زما په مزاج کښې خو تیزي ده ما ته چې داسي خلق راسي نو زه هغو ی ته سختې خبري کوم حضرت عطاء وفرمایل چې داسي مه کوه ځکه چې د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ حکم دی چې خلګو ته نرمي خبري کوی.

(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ٢٣١)

www.jamairahmani.org

اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ

پـه دی قصه کښي دیهودو دهغه بدو اعمالو ذکر الله پاک ﷻ کړی دی: کومو بدو اعمالو ته چي دوی لاس اچولی ووهغه داچي په بعضو احکامو الهي عمل کول او په بعضو نه کول ددغو اعمالو تعبیر الله پاک ﷻ په کفر سره کړی دی ځکه چي دا ګناه ډیره سخته وه په شرعي محاورو کي دغه شان دګناه دغتوالي او سخت والي تعبیر په کفر سره کیږي لکه په حدیث شریف کښي چي راځي (من ترک الصلوة متعمّدا فقد کفر) که چا لمونځ په قصدا پریښووی نو هغه کافر دی حالانکي په ګناه کولو سره انسان نه کافر کیږي تر څه وخته چي یي حلاله ونه بولي دلته چي کومي دوي سزاوي الله ﷻ ذکر کړي دي په هغوی کښي مخکښی سزا یعني په دنیا کښي ذلت او رسوایي دهغې واقع کیدل داسي وسوه چي دنبي کریم ﷺ په زمانه کښي دمسلمانانو سره دمعاهدې دخلاف ورزی په وجه بنو قریظه قتل او قید کړل سوه او بنو نضیر دشام دملک څخه په ذلت او خواری سره وایستل سول.

(معارف القرآن ج۱پ۱ص۲۳۴)

ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا

ثُمَّ	اَنْتُمْ	هٰٓؤُلَآءِ	تَقْتُلُوْنَ	اَنْفُسَكُمْ	وَ	تُخْرِجُوْنَ	فَرِيْقًا
وروسته	تاسي	هغه خلګ یاست	چې قتلوی	ځانونه خپل	او	باسئ تاسي	یوه ډله

وروسته (ددی عهده) یاست تاسی هغه خلګ چی قتلوی ځانونه خپل (یو بل سره) او تاسی باسئ یوه ډله

مِّنْكُمْ مِّنْ دِيَارِهِمْ ۡ تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْاِثْمِ

مِّنْكُمْ	مِّنْ دِيَارِهِمْ	تَظٰهَرُوْنَ	عَلَيْهِمْ	بِالْاِثْمِ
ستاسی څخه	د کورو څخه خپل	یو د بله کومک کوی	پر دوی باندی	په ګناه سره

ستاسی د کورو خپلو څخه (چی مغلوبه سی) ، یو د بله کومک او مرسته کوی پر دوی باندی په ګناه سره

وَالْعُدْوَانِ ۭ وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى تُفٰدُوْهُمْ

وَ	الْعُدْوَانِ	وَ	اِنْ	يَّاْتُوْكُمْ	اُسٰرٰى	تُفٰدُوْهُمْ
او	په ظلم سره	او	که چیری	راسی دوی تاسی ته	بندیان	تاسی خلاصوی دا بندیان

او په ظلم سره او که چیری راسی تاسی ته بندیان نو خلاصوی تاسی دا بندیان (په فدیه د بندیانو سره)

وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ ۭ اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ

وَهُوَ	مُحَرَّمٌ	عَلَيْكُمْ	اِخْرَاجُهُمْ	اَفَتُؤْمِنُوْنَ	بِبَعْضِ
او حال دا دی چی دغه کار	حرام دی	پر تاسو باندی	ایستل د دغو خلګو	آیا پس تاسی ایمان لرئ	پر ځینی (حصو)

حال دا چی دغه کار حرام دی پر تاسی باندی ایستل د دغه خلګو ، آیا پس تاسی ایمان راوړی پر ځینی (احکامو) د

الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَنْ يَّفْعَلُ

الْكِتٰبِ	وَ	تَكْفُرُوْنَ	بِبَعْضٍ	فَمَا	جَزَآءُ	مَنْ	يَّفْعَلُ
د کتاب	او	تاسی انکار کوی	د ځینو څخه	پس نه ده	بدله	د هغه کس	چې وکړی

کتاب (چی فدیه ده) او انکار کوی د ځینو (احکامو) څخه، پس نه ده سزاء د هغه کس چی کوی

ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَيَوْمَ

ذٰلِكَ	مِنْكُمْ	اِلَّا	خِزْيٌ	فِي	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَ	يَوْمَ
دغه کار	ستاسو څخه	مګر (بیا خو ده)	رسوائی	په	ژوند کښی	د دغه دنیا	او	په ورځ

دغه کار (انکار د بعضو احکامو څخه) په تاسی کښی، مګر خو رسوائی ده په ژوند کښی د دغه دنیا او په ورځ

www.jamairahmani.org

الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰۤى اَشَدِّ الْعَذَابِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ

الْقِيٰمَةِ	يُرَدُّوْنَ	اِلٰى	اَشَدِّ	الْعَذَابِ	وَمَا اللّٰهُ	بِغَافِلٍ
دقيامت به	وګرځول سي دوى	وطرفته	د سخت	عذاب	او نه دى الله	بى خبره

دقيامت كښې به وګرځول سي دوى وطرفته د سخت عذاب (د دوږخ)، او نه دى الله بى خبره (اى! يهوديانو)

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ

عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	اشْتَرَوُا	الْحَيٰوةَ
دهغه څخه	چي تاسي يئ کوى	دغه كسان	هغه دى	چي اخيستئ يې دى	ژوند د

دهغه څخه چي كوى يئ تاسى. (دغه يهوديان) هغه كسان دى چي اخيستئ يې دى ژوند د

الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ

الدُّنْيَا	بِالْاٰخِرَةِ	فَلَا يُخَفَّفُ	عَنْهُمُ	الْعَذَابُ	وَ	لَا هُمْ
دى دنيا	په مقابل كښې د آخرت	سپک به نه کړى سى	د دوى څخه	عذاب	او	نه به وى دوى

دى دنيا په مقابل كښې د آخرت، پس سپک به نه سى د دوى څخه (دنيوى او اخروى) عذاب او نه به د دوى سره

يُنْصَرُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا

يُنْصَرُوْنَ	وَ	لَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوْسَى	الْكِتٰبَ	وَ	قَفَّيْنَا
چي كومک ورسره وسى	او	په تحقيق سره	وركړى مونږ	موسى ته	كتاب (تورات)	او	پرله پسى راوليږل مونږ

هيڅ كومک وسى (په دفع د عذاب). او په تحقيق سره مونږ وركړى موسى ته كتاب (تورات) او پرله پسى استولى وه مونږ

مِنْۢ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ

مِنْۢ بَعْدِهٖ	بِالرُّسُلِ	وَ	اٰتَيْنَا	عِيْسَى	ابْنَ	مَرْيَمَ
وروسته تر وفات دموسى	انبياء (پيغمبران)	او	وركړى وى مونږ	عيسى ته	چي زوى	د مريمى دى

پسله موسى نور رسولان (لكه: داؤد، سليمان، يحيى او زكريا)، او وركړى وى مونږ عيسى ته چي زوى دمريمى دى

الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ

الْبَيِّنٰتِ	وَ	اَيَّدْنٰهُ	بِرُوْحِ الْقُدُسِ	اَفَكُلَّمَا	جَآءَكُمْ
ښكاره معجزى	او	قدرت وركړى وو مونږ ده ته	په روح القدس (جبرئيل ؑ) سره	آيا پس هر كله چي به	راغلئ تاسو ته

معجزى ښكاره او قدرت وركړى وو مونږ عيسى ته په روح القدس سره، پس كله چي به راغلئ تاسى ته

(وايدنه بروح القدوس) (فايده) حضرت جبراييل عليه السلام په قرآن او حديث كښي ځاى پر ځاى د روح القدس په نامه بلل سوى دى لكه د قرآن كريم په دغه آيت كښي چي راغلي دي (قل نزّله روح القدس) او په حديث كښي د حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه په دغه شعر كښي ((وجبريل رسول الله فينا، وروح القدس ليس له اكفاء) او د حضرت عيسى عليه السلام مدد او تائيد په جبرئيل عليه السلام سره په خو طريقو سوى دى اول خو د پيدا كيدو په وخت كي د شيطان د مسح كيدو څخه ساتل سوى دى بيا دهغه يعني د جبرئيل عليه السلام د چف كولو څخه د حضرت عيسى عليه السلام حمل د مور په خيټه كي سوى دى بيا د يهودو څخه چي ډير د حضرت عيسى عليه السلام مخالف وه جبرئيل عليه السلام به دده حفاظت كوى تر دي چي په آخره كښي حضرت جبرائيل ؑ دى آسمانو ته پورته كړى يهودو د ډيرو پيغمبرانو تكذيب كړى دى د حضرت عيسى عليه السلام تكذيب يه هم كړى دى او يهودو دده قتل كوشش او سازش هم كړى وو الله جل جلاله دده حفاظت وكړى. والله اعلم

(معارف القرآن ج۱پ۱ص۲۳۵)

www.jamairahmani.org

رَسُوۡلٌۢ بِمَا لَا تَهۡوٰۤی اَنۡفُسُکُمُ اسۡتَکۡبَرۡتُمۡ ۚ فَفَرِیۡقًا

رَسُوۡلٌۢ	بِمَا	لَا تَهۡوٰۤی	اَنۡفُسُکُمُ	اسۡتَکۡبَرۡتُمۡ	فَفَرِیۡقًا
یو پیغمبر	دهغه (احکامو) سره	چې نه یې خوښول	ځانو ستاسي	لوئي کوله تاسي	پس یوه ډله (تاسو)

یو رسول په احکامو سره چې نه به خوښول تاسي (او) لويي مو وکړه تاسي (په نه منلو د احکامو)، پس یوه ډله تاسو

کَذَّبۡتُمۡ ۫ وَ فَرِیۡقًا تَقۡتُلُوۡنَ ﴿۸۷﴾ وَ قَالُوۡا قُلُوۡبُنَا غُلۡفٌ ؕ بَلۡ

کَذَّبۡتُمۡ	وَ	فَرِیۡقًا	تَقۡتُلُوۡنَ	وَ	قَالُوۡا	قُلُوۡبُنَا	غُلۡفٌ	بَلۡ
درواغجن وګڼل (انبیاء)	او	یوه ډله	قتلول تاسو (انبیاء)	او	وایي دوی	زړونه زموږ	په پرده کښې دی	داسی نه ده

درواغجن ګڼل انبیاء او بلی ډلې ستاسو قتلول انبیاء او وایي دوی چې زړونه زموږ په پرده کښې دی، داسی نه ده بلکه

لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِکُفۡرِهِمۡ فَقَلِیۡلًا مَّا یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۸۸﴾ وَ لَمَّا

لَّعَنَهُمُ	اللّٰهُ	بِکُفۡرِهِمۡ	فَقَلِیۡلًا مَّا	یُؤۡمِنُوۡنَ	وَ	لَمَّا
لعنت کړی دی پر دوی	الله	په سبب د انکار د دوی	پس ډیر لږ په دوی کښې	ایمان راوړی	او	هر کله

بلکه لعنت کړی دی پر دوی باندی الله په سبب د انکار د دوی پس ډیر کم په دوی کښې ایمان راوړی. او کله چې

جَآءَهُمۡ کِتٰبٌ مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمۡ ۙ

جَآءَهُمۡ	کِتٰبٌ	مِّنۡ عِنۡدِ	اللّٰهِ	مُصَدِّقٌ	لِّمَا	مَعَهُمۡ
چې راغلی دوی ته	کتاب (قرآن کریم)	د طرفه څخه	الله	چې تصدیق کوونکی دی	دهغه (کتابو)	چې د دوی سره دی

راغلی دوی ته (اهل کتابو ته) کتاب (قرآن کریم) د طرفه څخه د الله چې تصدیق کوی د هغه کتابو چې د دوی سره دی

وَ کَانُوۡا مِنۡ قَبۡلُ یَسۡتَفۡتِحُوۡنَ عَلَی الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا ۚۖ

وَ	کَانُوۡا	مِنۡ قَبۡلُ	یَسۡتَفۡتِحُوۡنَ	عَلَی	الَّذِیۡنَ	کَفَرُوۡا
او	وه دوی	د مخه	چې کامیابی یې غوښتلې	پر	هغه کسانو باندی	چې کفر (شرک) یې کړی وو

او حال دا چې دوی پخوا لا کامیابی غوښتله (د الله څخه په قرآن او محمد سره) پر هغه کسانو باندی چې کفر یې کړی وو

فَلَمَّا جَآءَهُمۡ مَّا عَرَفُوۡا کَفَرُوۡا بِهٖ ۫ فَلَعۡنَةُ اللّٰهِ عَلَی

فَلَمَّا	جَآءَهُمۡ	مَّا	عَرَفُوۡا	کَفَرُوۡا	بِهٖ	فَلَعۡنَةُ	اللّٰهِ	عَلَی
پس کله چې	راغلی دوی ته	هغه څه	چې پیژندلی وه دوی	انکار یې وکړ	د هغه څخه	پس لعنت	د الله دی	پر

پس کله چې راغلی دوی ته (رسول او قرآن) هغه چې دوی پیژندلی وه نو انکار یې وکړ د هغه څخه، نو لعنت د الله دی پر

مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمۡ ۙ...قران کریم تصدیق کوونکی کلام دی: قرآن ته دتورات تصدیق کوونکی په دې وجه ویل سویدي چې په تورات کښې دنبي کریم ﷺ او دقرآن دنازلیدو چې کومي پیش ګویاني سوي وې دقرآن څخه دهغو رشتیاوالی څرګند سو نو څوک چې دتورات په حقله منونکی وي هغه دقرآن او صاحب قرآن تکذیب نه سي کولی په حقیقت کښې او که نه وي داسي او تکذیب دقرآن یي وکړی نو دا خامخا دتورات تکذیب به هم وي ځکه چې د تورات تکذیب د قرآن دتکذیب سره لازم دی **(یو سوال او دهغه جواب)** که یو څوک دا ووایي کچیري دوی حق حق ګڼي نو بیا خو دوی ته مومن ویل پکار دي کافران ورته بیا ځنګه ویل کیږي ؟ نو ددې جواب دادی چې ایمان صرف دګڼلو نوم نه دی که داسي سي نو بیا خو شیطان تر ټولو زیات حق ښه ګڼي لیکن دګڼلو با وجود دنه منلو په وجه په کفر کښې مضبوط سوی دی همدا وجه ده چې په ورپسي راتلونکي آیت کښې ددوی دکفر وجه ددوی عناد وضد د اسلام او مسلمانانو سره ښوول سوی دی. (معارف القرآن ج۱ پ۱ ص۲۳۷)

www.jamairahmani.org

الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا

الْكٰفِرِيْنَ	بِئْسَمَا	اشْتَرَوْا	بِهٖٓ	اَنْفُسَهُمْ	اَنْ يَّكْفُرُوْا
كفارو باندى	ډير بد دى هغه شه	چې دوى خرڅ كړل	په هغه سره	ځانونه خپل	دا چې دوى انكار كوى

كفارو باندى (چې حق يې پټ كړى). ډير بد دى هغه شه چې خرڅ كړل په هغه سره دوى ځانونه خپل (هغه چې) دوى كافران كيږى

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ

بِمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ	بَغْيًا	اَنْ يُّنَزِّلَ	اللّٰهُ	مِنْ فَضْلِهٖ	عَلٰى	مَنْ
د هغه شخه	چې نازل كړى دى	الله	په سبب د كينى	دا چې نازلوى	الله	په خپل فضل سره	پر	هغه چا باندى

په هغه قرآن چې نازل كړى دى الله، (داكفر) په سبب د كينى دى چې (ولې) نازلوى الله په خپل فضل سره پر هغه چا باندى

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ

يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ	فَبَآءُوْ	بِغَضَبٍ	عَلٰى غَضَبٍ	وَلِلْكٰفِرِيْنَ
چې وغواړى	د خپل بندګانو شخه	وګرځيدل دوى	په غضب سره	سربيره پر غضب	او سته د كفارو دپاره

چې اراده وفرمايى د خپل بندګانو شخه، نو اخته (وګرځيدل) په غضب سر بيره پر بل غضب او سته د كفارو دپاره

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٩٠﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ

عَذَابٌ	مُّهِيْنٌ	وَاِذَا	قِيْلَ	لَهُمْ	اٰمِنُوْا	بِمَآ	اَنْزَلَ
عذاب	سپكوونكى	او هر كله چې	وويل سى	دوى ته	چې ايمان راوړى	پر هغه باندى	چې نازل كړى دى (قرآن)

عذاب د ذلت (سپكوالى). او كله چې وويل سى دوى ته چې ايمان راوړى پر هغه (قرآن) چې نازل كړى دى

اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ

اللّٰهُ	قَالُوْا	نُؤْمِنُ	بِمَآ	اُنْزِلَ	عَلَيْنَا	وَيَكْفُرُوْنَ
الله	وايى دوى	موږ ايمان لرو	په هغه باندى	چې نازل كړه سوى دى	پر موږ باندى	او انكار كوى دوى

الله ، وايى دوى موږ ايمان لرو په هغه باندى چې نازل سوى دى پر موږ باندى (تورات) او انكار كوى دوى

بِمَا وَرَآءَهٗ ۚ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۭ

بِمَا	وَرَآءَهٗ	وَهُوَ	الْحَقُّ	مُصَدِّقًا لِّمَا	مَعَهُمْ
دهغه شخه	چې ماسوا ددى (تورات) شخه دى	او حال دادى	چې دا (قرآن) حق دى	تصديق كوونكى د هغه دى	چې د دوى سره دى

د هغه شخه د ماسوا ، او حال دادى چې دا قرآن حق دى تصديق كوى د هغه چې د دوى سره دى

فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ

ديهودو دغه وينا دكفر ده

چي موږ فقط پر تورات باندي ايمان راوړو پر نورو كتابونو باندي يي نه راوړو په ډاګه دغه وينا دكفرده او ورسره دا وينا چي هغه كتاب چي پر موږ باندي نازل سوى دى (يعني تورات) ددې وينا شخه ددوى حسد معلوميږي چي دهغه صفا مطلب دادى چي كله نور كتابونه پر موږ نازل نه دي نو پر دې ايمان نه راوړو الله ﷻ ددوى دغه وينا په درې قسمه رد كړه اول داچي كله دنورو كتابونو حق والى هم په دليل يقيني سره ثابت دى نو بيا دهغه شخه دانكار كولو شه وجه ده ؟ خامخا كه په دليل كي شه خبره واى نوهغه به يه پيش كړې واى او خپله تسلي به يي كړې واى انكار په شه وجه ؟. دويم داچي نور كتابونه مثلا قرآن مجيد دتورات تصديق كوونكي كتابونه دي نو بيا ددى شخه په انكار كولو سره پخپله دتورات شخه انكار كول پيدا كيږي دريم داچي پيغمبران وژل د ټولو آسماني كتابو په رڼا كښي كفر دى او دوى بدبختانو دغه دكفر عمل تر سره كړى دى.

(معارف القرآن ج١ پ١ ص ٢٣٨)

www.jamairahmani.org

قُلۡ فَلِمَ تَقۡتُلُوۡنَ اَنۡۢبِيَآءَ اللّٰهِ مِنۡ قَبۡلُ اِنۡ كُنۡتُمۡ

قُلۡ	فَلِمَ تَقۡتُلُوۡنَ	اَنۡۢبِيَآءَ	اللّٰهِ	مِنۡ قَبۡلُ	اِنۡ	كُنۡتُمۡ
ووایه	پس ولی قتلولتاسی	انبیاء	دالله	د مخه تر دغه	که چیری	یاست تاسی

وو ایه (ای! محمده) نو ولی به قتلول تاسی انبیاء (شعیب، زکریا او یحیی) د الله پخوا له دی څخه که چیری یاست تاسی

مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۹۱﴾ وَلَقَدۡ جَآءَكُمۡ مُّوۡسٰى بِالۡبَيِّنٰتِ ثُمَّ

مُّؤۡمِنِيۡنَ	وَلَقَدۡ	جَآءَكُمۡ	مُّوۡسٰى	بِالۡبَيِّنٰتِ	ثُمَّ
مسلمانان (مؤمنان)	او (خامخا) په تحقیق سره	راغلی وو تاسوته	موسی	په ښکاره معجزو سره	وروسته

ایمان راوړونکی، او خامخا په تحقیق سره راغلی وو موسی تاسی ته په ښکاره معجزو سره، بیا

اتَّخَذۡتُمُ الۡعِجۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِهٖ وَاَنۡتُمۡ ظٰلِمُوۡنَ ﴿۹۲﴾ وَاِذۡ

اتَّخَذۡتُمُ	الۡعِجۡلَ	مِنۡۢ بَعۡدِهٖ	وَ	اَنۡتُمۡ	ظٰلِمُوۡنَ	وَاِذۡ
ونیوئ تاسو	ګلګئ	وروسته تر (تللو د موسی)	او	یاست تاسی	ظالمان	او هغه وخت

ونیوئ تاسی ګلګئ (په خدای سره) وروسته د موسی د تلو (د طور غر ته). حال دا چې وی تاسی ظالمان. او هغه وخت چې

اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ الطُّوۡرَؕ خُذُوۡا مَآ

اَخَذۡنَا	مِيۡثَاقَكُمۡ	وَ	رَفَعۡنَا	فَوۡقَكُمُ	الطُّوۡرَ	خُذُوۡا	مَآ
چې واخیستل موږ	محکمه وعده ستاسو څخه	او	پورته کړی موږ	لوړ پر تاسو	د طور غر	ونیسئ	هغه حکمونه

موږ واخیستل محکمه وعده ستاسی څخه (په منلو د تورات) او پورته کړی موږ لوړ پر تاسی د طور غر، واخلی هغه احکام

اٰتَيۡنٰكُمۡ بِقُوَّةٍ وَّاسۡمَعُوۡاؕ قَالُوۡا سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا

اٰتَيۡنٰكُمۡ	بِقُوَّةٍ	وَّاسۡمَعُوۡا	قَالُوۡا	سَمِعۡنَا	وَ	عَصَيۡنَا
چې درکړی دی موږ تاسو ته	په کوښښ سره	او واورئ خبره (د پیغمبر)	وویل دوی	واوریدل موږ	او	ونه منل موږ

چې درکړی دی موږ تاسی ته په ښه کوښښ سره، او واورئ خبره د پیغمبر، وویل (یهودیانو) موږ واوریدل او ونه منل موږ

وَاُشۡرِبُوۡا فِىۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡؕ قُلۡ بِئۡسَمَا

وَاُشۡرِبُوۡا	فِىۡ قُلُوۡبِهِمُ	الۡعِجۡلَ	بِكُفۡرِهِمۡ	قُلۡ	بِئۡسَمَا
او ور ځښل سوی وه	په زړونو د دوی کښی	مینه د ګلګی	په سبب د کفر د دوی	ووایه	بد ده هغه خبره

او په ځښل سوی وه په زړونو د دوی مینه د ګلګی په سبب د کفر د دوی، وو ایه (ای محمده! دوی ته) ډیره بده ده هغه خبره

وَلَقَدۡ جَآءَكُمۡ مُّوۡسٰى بِالۡبَيِّنٰتِ. فایده: دبینات څخه څه مراد دي؟

دبینات څخه هغه دلیلونه مراد دي کم چي ددې واقعې مخکې وه او لا تورات هم ودوی ته نه وو ور کړه سوی دموسی عليه السلام پر حقه دنبي کیدلو لپاره قایم سوي وه مثلا هغه لکړه، او تک سپین لاس، ددریاب شلیدل، او نوري دغه ته ورته معجزې. ددغه رد دبیان حاصل او خلاصه ځرګنده ده چي تاسي خو دایمان دعوی کوی او په صریح شرک کښي اخته یاست چي ددې څخه دموسی عليه السلام بلکه دالله جل جلاله تکذیب پیدا کیږي پاته سوه دګیلګي دعبادت کولو واقعه او معامله که څه هم په هغه یهودو کښي نه وه پیدا سوې کم چي دنبي کریم صلى الله عليه وسلم په زمانه کښي وه خو لیکن کله چي دوی دخپلو نیکه ګانو حامیان او طرفداران وه نو په دې وجه یو قسم دوی هم شامل سوه او ددې څخه دا خبره هم معلومه سوه چي دکمو خلګو تیرو سوو مشرانو دموسی عليه السلام تکذیب کړی وو اوس که دهغو خلګو لمسیان او کشران که دنبي کریم صلى الله عليه وسلم تکذیب وکړي څه لیري خبره خونه ده او نه د تعجب ده.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۳۹)

www.jamairahmani.org

يَأْمُرُكُمْ بِهٖٓ اِيْمَانُكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٩٣﴾

يَأْمُرُكُمْ	بِهٖٓ	اِيْمَانُكُمْ	اِنْ	كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ
چی امر کوی تاسی ته	په هغه	ایمان ستاسی	که چیری	یاست تاسی	ایمان لرونکی

چی امر کوی تاسی ته په هغه چی (کفر په محمد او قرآن دی) ایمان ستاسی دی، که چیری یاست تاسی ایمان راوړونکی.

قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً

قُلْ	اِنْ	كَانَتْ	لَكُمُ	الدَّارُ	الْاٰخِرَةُ	عِنْدَ	اللّٰهِ	خَالِصَةً
ووایه (ای! محمده)	که چیری	وی	ستاسو دپاره	کور	دآخرت	په نزد	دالله	یوازی

ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه! که چیری وی ستاسی د پاره کور د آخرت په نزد د الله یوازی (خالص)

مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٤﴾

مِّنْ دُوْنِ	النَّاسِ	فَتَمَنَّوُا	الْمَوْتَ	اِنْ	كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ
ماسواء	دخلکو څخه	راسئ تمناء وکړی	دمرګ	که چیری	یاست تاسی	ربښتنی

بیله د نورو خلګو څخه پس راسئ تمناء (هیله) وکړی د مرګ که چیری یاست تاسی ربښتنی (په دعوه د خالصوالی د جنت کی)

وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ	اَبَدًا	بِمَا	قَدَّمَتْ	اَيْدِيْهِمْ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌۢ
او دسره به خواهش ونه کړی دوی دمرګ	هیڅکله	په سبب د هغه	چی مخته لیږلی دی	لاسو د دوی	او الله	بنه پوهه دی

او هیڅ کله به هیله ونه کړی دوی د مرګ په سبب د هغه (عملونو) چی د مخه استولی دی لاسونو د دوی او الله بنه خبر دی

بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۚ

بِالظّٰلِمِيْنَ	وَلَتَجِدَنَّهُمْ	اَحْرَصَ	النَّاسِ	عَلٰى حَيٰوةٍ
په ظالمانو باندی	او خامخا به تاسی پیدا کړی دوی (یهودیان)	زیات حریصان	په خلګو کښی	د ژوند

په (احوالو) د ظالمانو او خامخا به تاسی پیدا کړی دغه یهود ډیر حریصان په خلګو کښی د ژوند

وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ

وَمِنَ	الَّذِيْنَ	اَشْرَكُوْا	يَوَدُّ	اَحَدُهُمْ	لَوْ	يُعَمَّرُ
او همدارنګه تر	هغه کسانو	چی کفر او شرک یئ کړی دی	خوښوی	هر یو د دوی (اهل کتاب)	کاشکی	عمر ورکړل سی

او همدارنګه (حریصان) تر هغه خلګو چی کفر او شرک یئ کړی دی، خوښوی به هر یو د دوی (یهودیانو) کاشکی عمر ورکړل سی

بِئْسَمَا يَأْمُرُكُمْ بِهٖٓ اِيْمَانُكُمْ

فائده: په دغه آیت کښي چي کم اسباب او مسببات ذکر دي دهغوی دترتیب حاصل دادی چي کم وخت دوی دمالګین دریاب څخه راووتل نو ددوی څخه دکفر دیوې کلمې صادریدل وسوه دحضرت موسی علیه السلام په تر تلو سره اګر چي دوی توبه وکښه لیکن دتوبې هم مختلفي درجې دي کله چي دا توبه داعلی درجي توبه نه وه نو ددغه کفر دکلمې څه خیره ددوی په زړونو کښي پاته سوې وه چي دغه خیري بیا ترقي وکړه او دګیلګي دعبادت کولو سبب جوړ سو بیا په توبه کولو کښي بعضي قتل سوه او بعضو ته غالبا بغیر دقتل کولو څخه معافي وسوه لکه چي بعضي مفسرینو ذکر هم دي چي ددوی څه قدر کمزوري به هم وه او څوک چي دګیلګي دعبادت کولو څخه خلاص پاته سوي وه نو هغوی ته پکاروه چي دګیلګي دعبادت کوونکو څخه یي نفرت کړی وای لیکن دوی په دغه نفرت کولو کښي سستي وکړه او یو قسم معصیت شرکیه او غفلت ددوی په زړونو کښي پاته سو.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۴۰)

www.jamairahmani.org

اَلْفَ سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ

اَلْفَ سَنَةٍ	وَ	مَا	هُوَ	بِمُزَحْزِحِهٖ	مِنَ	الْعَذَابِ	اَنْ يُّعَمَّرَ
زر کاله	او	نه دی	دغه عمر	خلاصوونکی د ده	د	(الله) د عذاب څخه	داچې عمر ورکړل سی

زر کاله او نه دی عمر د ده خلاصوونکی د ده د عذاب څخه (چې الله يې ورکوی) داچې عمر ورکړل سی ده ته (دوی ته)

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا

وَ	اللّٰهُ	بَصِيْرٌ	بِمَا	يَعْمَلُوْنَ	قُلْ	مَنْ	كَانَ	عَدُوًّا
او	الله	ښه ليدونکی دی	په هغه څه باندی	چې دوی يې کوی	ووايه (ای! محمده)	هغه څوک	چې وی	دښمن

او الله ښه ليدونکی عالم دی په هر هغه څه باندی چې دوی يې کوی. ووايه (ای محمده! دوی ته) هر څوک چې وی دښمن

لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلْبِكَ بِاِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا

لِّجِبْرِيْلَ	فَاِنَّهٗ	نَزَّلَهٗ	عَلٰى قَلْبِكَ	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	مُصَدِّقًا	لِّمَا
د جبرئيل	پس بيشکه! دا (جبرئيل)	نازل کړی دی (قرآن)	پر زړه ستا	په حکم	د الله	چې تصديق کوی	د هغه (کتابو)

د جبرئيل، پس بيشکه! دا جبرئيل نازل کړی دی دا قرآن پر زړه ستا په حکم د الله، حال دا چې تصديق کوی دا قرآن د هغه کتابو

بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۷﴾ مَنْ

بَيْنَ يَدَيْهِ	وَ	هُدًى	وَّ	بُشْرٰى	لِلْمُؤْمِنِيْنَ	مَنْ
چې د ده څخه د مخه وه	او	هدايت دی	او	زيرئ ورکوونکی دی	د مؤمنانو دپاره	هغه څوک

چې د ده څخه د مخه وه او لار ښوونکی او زيرئ ورکوونکی دی د مؤمنانو دپاره (په جنت او د الله په لقاء سره). هغه څوک

كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰلَ

كَانَ	عَدُوًّا	لِّلّٰهِ	وَ	مَلٰٓئِكَتِهٖ	وَ	رُسُلِهٖ	وَ	جِبْرِيْلَ	وَ	مِيْكٰلَ
چې وی	دښمن	د الله	او	د ملائيکو د الله	او	د رسولانو د الله	او	د جبرئيل	او	د ميکائيل

چې وی دښمن د الله او د ملائيکو د الله او د رسولانو د الله او د جبرئيل او د ميکائيل

فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ اٰيٰتٍ

فَاِنَّ	اللّٰهَ	عَدُوٌّ	لِّلْكٰفِرِيْنَ	وَلَقَدْ	اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	اٰيٰتٍ
پس بيشکه!	الله	دښمن دی	د کفارو (مشرکينو) دپاره	او خامخا په تحقيق سره	موږ نازل کړی دی	و تاته	اياتونه

پس بيشکه! الله دښمن دی د کافرانو (مشرکينو). او خامخا په تحقيق سره موږ نازل کړی دی و تاته آياتونه

وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ.. **فايده:** دلته پر يهودو باندي دتعجب او حيرانتيا خبره داده چي دعربو مشركان چي هغه دآخرت څخه هم منكره دي اود هغوی عيش اوعشرت كه څه هم دی خو دنيوي دی دغه مشركان كه چيري داوږده عمر تمنا وكړي نو څه دتعجب خبره خونه ده ځكه چي هغه آخرت ته عقيده نه لري ليكن يهود چي دآخرت قائله دي او ددوی په وينا دآخرت دعيش او عشرت مستحق هم دي بيا ولي په دنيا كښي دپاته كيدو تمنا كوي او دادحيرانتيا او دتعجب خبره ده نو دآخرت دعقيدي دلرلو سره داوږده عمر تمنا كول ددی خبري دليل دی چي دوی خپل ځان دآخرت دنعمتونو مستحق ګڼلو چي كمه دعوه كوي هغه صرف دعوی ده حقيقت يي نسته او كه حقيقت دی هغه خو دادی چي دوی ته ښه معلومه ده چي هلته ددوی لپاره دجهنم څخه ماسواه بل ځای نسته نو په دي وجه دوی دا تمنا كوي دزړه څخه چي تر څومره پوري ژوندون وي نو زموږ لپاره به ښه وي تر آخرت. اللهم انا نعوذبک من النار.
(معارف القرآن ج۱ پ۱ ص ۲۴۲)

www.jamairahmani.org

بَيِّنٰتٍۚ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ ۝۹۹ اَوَكُلَّمَا

بَيِّنٰتٍ	وَ مَا يَكْفُرُ	بِهَآ	اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ	اَوَ كُلَّمَا
چې روښانه دی	او نه کوی انکار	د دغه څخه	مګر فاسقان (نافرمانه)	آیا هر کله چې

چې روښانه دی او نه به کوی انکار د دغه څخه مګر (کوی به یې) فاسقان (نافرمانه) او هر ځلی (هر کله) چې

عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

عٰهَدُوْا	عَهْدًا	نَّبَذَهٗ	فَرِيْقٌ	مِّنْهُمْ	بَلْ	اَكْثَرُهُمْ
وکړله دوی	یو وعده	ویې غورځول دغه وعده	یوی ډله	د دوی څخه	بلکه	ډیرئ د دوی

به دوی وکړه یو ه وعده پس ماته به یې کړل هغه وعده یوی ډلی په دوی کښی ، بلکه ډیرئ د دوی

لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۱۰۰ وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَ	لَمَّا	جَآءَ	هُمْ	رَسُوْلٌ	مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ
نه لری ایمان (یقین)	او	هرکله	چې راغلئ	دوی ته	یو پیغمبر	د طرفه څخه د الله

نه لری ایمان (یقین). او هر کله چې راغلئ دوی ته یو رسول (محمد !) د طرفه څخه د الله

مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

مُصَدِّقٌ	لِّمَا	مَعَهُمْ	نَبَذَ	فَرِيْقٌ	مِّنَ الَّذِيْنَ	اُوْتُوا
تصدیق کوی	دهغه (کتابو)	چې دی د دوی سره	وغورځوی	یو ډلی	د هغو کسانو څخه	چې ورکړل سوی وو

چې تصدیق کوی دهغه کتابو چې د دوی سره دی نو وغورځوی یوی ډلی د هغه کسانو څخه چې ورکړل سوی وو دوی ته

الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۱۰۱

الْكِتٰبَ	كِتٰبَ	اللّٰهِ	وَرَآءَ	ظُهُوْرِهِمْ	كَاَنَّهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ
کتاب	کتاب	دالله	وروسته	ترشا وو خپل	ګوا کی دوی چې دی	نه پوهیږی

کتاب، کتاب د الله وروسته ترشا وو خپل (هیڅ عمل یی پری ونه کړی) لکه چې دوی نه پوهیږی

وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ

وَ	اتَّبَعُوْا	مَا	تَتْلُوا	الشَّيٰطِيْنُ	عَلٰى مُلْكِ
او	پیروی وکړه دوی	دهغه څه	چې ویل به	شیطانانو	په پاچاهی

او پیروی وکړه دوی (یهودیانو) د هغه څه چې شیطانانو (پیریانو) به ویل په پاچاهی کښی (د پاچاهی په زمانه کښی)

وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ
دیـو څـو شـبهاتو لیـري

کول: دذکرسوي آیتونو په تفسیر اوشان نزول چي کم اسرائیلي روایتونه نقل سوي دي دهغه څخه خلګو ته قسم قسم وسوسې ور پیدا کیږي ددغو شبهاتو حل حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په ډیره آسانه او واضحه طریقه سره کړی دی نو په دي خاطر تاسي د پورا معلوماتو لپاره ده هغه **تفسیر بیان القرآن:** ته رجوع وکړی البته څه ناڅه چي دلته ځاییږي هغه موږ دلته ذکر کوو په حواله دمعارف القرآن

اول دا کم عقله خلګ چي سلیمان عليه السلام ته به یي دجادو نسبت کوی یهودوه په دي وجه الله جل جلاله دآیت په مینځ کښي دحضرت سلیمان عليه السلام ددي خبري څخه پاکوالی بیان کړی دی

دوهم ددي آیاتونو څخه دیهودو بدي بیانول غرض دي ځکه چي په دوی کښي دجادو شهرت وو ددي آیتونو په باره کښي **دزهره یوه اوږده قصه** هم مشهوره ده چي دا څه په معتبر روایت ثابته نه ده او ددي آیاتونو دتفسیر لپاره دهغي قصي څه ضرورت نسته او نه تفسیر پر دي موقوف دی.

(معارف القرآن ج ۱ ص ۲۴۷)

www.jamairahmani.org

سُلَيۡمٰنُ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيۡنَ كَفَرُوۡا

سُلَيۡمٰنُ	وَ	مَا كَفَرَ	سُلَيۡمٰنُ	وَ	لٰكِنَّ	الشَّيٰطِيۡنَ	كَفَرُوۡا
د سلیمان	او	کفرئ نه وو کړی	سلیمان	او	لیکن	شیطانانو	کفر کړی وو

دسلیمان او نه وو کړی کفر سلیمان (دسحر د عمل په تحلیل سره) لیکن شیطانان کافران سوی وه

يُعَلِّمُوۡنَ النَّاسَ السِّحۡرَ وَمَآ اُنۡزِلَ عَلَى الۡمَلَكَيۡنِ

يُعَلِّمُوۡنَ	النَّاسَ	السِّحۡرَ	وَ	مَآ اُنۡزِلَ	عَلَى	الۡمَلَكَيۡنِ
ښو وئ به دغه (شیطانانو)	خلکو ته	جادو	او	هغه چې نازل سوی وو	پر	دوو ملائیکو باندی

شیطانانو به ښوول خلکو ته جادو (سحر) او (متابعت به یې کاوه) دهغه شئ چې نازل کړل سوی وو پر دوو ملائیکو باندی

بِبَابِلَ هَارُوۡتَ وَمَارُوۡتَ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنۡ اَحَدٍ

بِبَابِلَ	هَارُوۡتَ	وَ	مَارُوۡتَ	وَ	مَا يُعَلِّمٰنِ	مِنۡ اَحَدٍ
د بابل په ښار کښی	(چی یو) هاروت	او	(بل) ماروت (نومیدل)	او	نه به ښو دئ دوی	هیڅ یو کس ته

په ښار د بابل کښی چی نوم د یوه هاروت او دبل دا ماروت دی، او نه به ښودل دوی (هاروت او ماروت) هیڅ یو کس ته

حَتّٰى يَقُوۡلَآ اِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٌ فَلَا تَكۡفُرۡ فَيَتَعَلَّمُوۡنَ

حَتّٰى	يَقُوۡلَآ	اِنَّمَا نَحۡنُ	فِتۡنَةٌ	فَلَا تَكۡفُرۡ	فَيَتَعَلَّمُوۡنَ
تر هغه پوری	چی ورته به ویل دوی	بیشکه! موږ چی یو	د امتحان دپاره یو	پس مه کافر کیږئ	پس زده کول به دوی

تر هغه پوری چی ورته به ویل دوی دواړو: بیشکه! موږ د ازمیښت (امتحان) دپاره یو پس مه کافران کیږئ. نو زده کول به دوی

مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُوۡنَ بِهٖ بَيۡنَ الۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهٖ وَمَا هُمۡ

مِنۡهُمَا	مَا	يُفَرِّقُوۡنَ	بِهٖ	بَيۡنَ الۡمَرۡءِ	وَ	زَوۡجِهٖ	وَمَا هُمۡ
د دوی څخه (ملائیکو)	هغه څه	چی جلا والی به یئ راوستی	په دغی (جادو سره)	په مینځ کښی دخاوند	او	د ښځی د ده	او نه وه دوی

د دی دواړو ملائیکو څخه هغه چی جلا والی به یئ کاوه د دغی جادو په ذریعه سره د خاوند او د ښځی د ده او نه وه دوی

بِضَآرِّيۡنَ بِهٖ مِنۡ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ وَيَتَعَلَّمُوۡنَ مَا

بِضَآرِّيۡنَ	بِهٖ	مِنۡ اَحَدٍ	اِلَّا	بِاِذۡنِ اللّٰهِ	وَ	يَتَعَلَّمُوۡنَ	مَا
ضرر رسوونکی	په دی جادو سره	وهیڅ یوه ته	مګر	په حکم د الله	او	زده کول به یی دوی	هغه څه

ضرر رسوونکی په دغه جادو سره وهیڅ یوه ته (کس ته) مګر په حکم د الله سره، او زده کول به دوی (یهودیانو) هغه څه

يُعَلِّمُوۡنَ النَّاسَ السِّحۡرَ
(دسحر حقیقت) سحر دسین په زیر سره په لغت کښي هر هغه اثر ته وایي چي د هغه سبب څرګند او ښکاره نه وي برابره خبره ده که دهغه سبب معنوي وي لکه دخاصو کلمو اثر او که دغیر محسوسي شیانو اثر وي لکه دپیریانو شیطانانو اثر او که دمحسوساتو وي لیکن هغه محسوسات پټ وي لکه داوسپني را ایستلو اثر په مقناطیس باندي چي کم وخت مقناطیس دسترګو څخه پټ وي یا لکه ددواګانو اثر کم وخت چي دواګاني پټي وي یا دستورو اثرنو په دغي وجه دجادو قسمونه ډیر دي. لیکن په عرف عام کښي جادو هغه شیانو ته ویل کیږي چي په هغه کښي دپیریانو او شیطانانو دخل وي یا دڅه الفاظو یا کلمو دخل وي ځکه چي دا خبره دعقل او تجربې څخه ثابته ده او زړه اونوي فلسفه یي هم مني چي په حروفو او کلموکښي دڅه خاصیت په وجه څه اثرونه وي: دقرآن او حدیث په اصطلاح کښي سحر هغه عجیبه شي ته ویل کیږي چي په هغه کښي دشیطانانو په خوشحاله کولو سره کومک حاصل سوی وي (معارف القرآن ج ۱پ ۱ص ۲۵۰)

www.jamairahmani.org

يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنۡفَعُهُمۡ ؕ وَلَقَدۡ عَلِمُوۡا لَمَنِ اشۡتَرٰىهُ

يَضُرُّهُمۡ	وَلَا يَنۡفَعُهُمۡ	وَ	لَقَدۡ	عَلِمُوۡا	لَمَنِ	اشۡتَرٰىهُ
چی تاوان به یئ رسوی دوی ته	او نه یئ فائده رسول دوی ته	او خامخا	په تحقیق سره	پوهیدل دوی	هغه کس	چی اختیاره کړی دا (جادو)

چی تاوان به یئ رسوی او نه به یئ رسول فائده دوی ته په تحقیق سره دوی پوه سول خامخا هغه کس چی اختیار کړی جادو کول

مَا لَهٗ فِی الۡاٰخِرَةِ مِنۡ خَلَاقٍ ۛ ؕ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡا بِهٖۤ

مَا لَهٗ	فِی الۡاٰخِرَةِ	مِنۡ خَلَاقٍ	وَلَبِئۡسَ	مَا	شَرَوۡا	بِهٖۤ
نسته دلره	په آخرت کښی	څه برخه	او خامخا ډیر خراب دی	هغه څه	چی دوی خرڅ کړل	په هغه سره

نسته ده لره په آخرت کښی څه (دنیکئ) برخه، او خامخا ډیر بد دی هغه څه چی دوی خرڅ کړل په هغه سره

اَنۡفُسَهُمۡ ؕ لَوۡ كَانُوۡا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۰۲﴾ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اٰمَنُوۡا

اَنۡفُسَهُمۡ	لَوۡ	كَانُوۡا	يَعۡلَمُوۡنَ	وَ	لَوۡ	اَنَّهُمۡ	اٰمَنُوۡا
ځانونه خپل	کاشکی	وایی دوی	پوهیدلای	او	که چیری	بیشکه! دوی	ایمان راوړی وای

ځانونه خپل، کاشکی دوی پوهیدلای (په بد انجام د سحر). او په تحقیق سره که چیری دوی ایمان راوړئ وای

وَاتَّقَوۡا لَمَثُوۡبَةٌ مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ خَيۡرٌ ؕ لَوۡ كَانُوۡا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۰۳﴾ ع

وَ	اتَّقَوۡا	لَمَثُوۡبَةٌ	مِّنۡ عِنۡدِ	اللّٰهِ	خَيۡرٌ	لَوۡ	كَانُوۡا	يَعۡلَمُوۡنَ
او	تقوایی کړی وای	خامخا ثواب	د طرفه څخه	دالله	بهتر دی	کاشکی	وای دوی	پوهیدلای

او تقوایی کړی وای (دسحر او دیهودیت څخه) نو خامخا به ثواب وای دجانبه د الله بهتر کاشکی دوی پوهیدلای

ع ۱۲ ۷ ۱۲

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقُوۡلُوۡا رَاعِنَا وَقُوۡلُوا

يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	لَا تَقُوۡلُوۡا	رَاعِنَا	وَ	قُوۡلُوا
ای!	هغه کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	مه وایاست (خپل پیغمبر ته)	د راعنا لفظ	او	وایاست

ای! هغه کسانو چی ایمان یئ راوړی دی ، مه وایاست لفظ د (راعنا) و خپل پیغمبر ته او وایاست

انۡظُرۡنَا وَاسۡمَعُوۡا ؕ وَلِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۰۴﴾ مَا يَوَدُّ

انۡظُرۡنَا	وَ	اسۡمَعُوۡا	وَ	لِلۡكٰفِرِيۡنَ	عَذَابٌ	اَلِيۡمٌ	مَا	يَوَدُّ
وګوره موږ ته	او	خبری په غور اورئ	او	سته د کافرانو دپاره	عذاب	دردناک	نه	خوښوی

پر ځای د راعنا (انظرنا) او واورئ خبری په غور سره ، او حال دا چی سته د کافرانو دپاره عذاب دردناکه. نه خوښوی

لَا تَقُوۡلُوۡا رَاعِنَا وَقُوۡلُوا انۡظُرۡنَا...(مسـئله) ددې آیت څخه معلومه سوه چي که چیري دیوه سړي دخپل یو جایز کار څخه دنورو لپاره دناجایزو کارونو موقع راوتل نو دغه جایز کار بیا ددغه سړي لپاره جایز نه سو لکه چي دیوه عالم دروا کار څخه ناپوه خلګ په مغالطه کښي لویږي او په ناروا وو کښي دمبتلا کیدو خطره وي نو ددی عالم لپاره دا رواه کار کول هم ښه نه دی لیکن شرط دادی چي دغه کار به دشریعت له طرفه ضروري نه وي ددې مثالونه په شریعت کښي ډیر دي ددې یو دلیل او مثال هغه حدیث شریف دی چي په هغه کښي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي دبیت الله شریفي تعمیر چي قریشو دجاهلیت په زمانه کښي کړی دی په دې کښي ډیر شیان دابراهیمي تعمیر څخه خلاف سوي دي زما زړه غواړي چي دا وران کړم او دنوي سره څخه یې دابراهیم عليه السلام پر طریقه جوړه کړم لیکن په داسي کولو سره دناپوهانو عوامو په فتنه کښي دمبتلا کیدو خطره ده نو په دې وجه سره سمدستي داسي نه کوم.
(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ٢٥٦)

www.jamairahmani.org

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ	وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ	اَنْ
هغه کسان	چي کفريئ کړی دی	د اهل کتابو څخه	او نه (خوښوی) مشرکين	دا چي

(دوست نه گڼی) هغه کسان چي کافران سوی دی د اهل کتابو څخه او نه خوښوی مشرکين هغه چي

يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ

يُّنَزَّلَ	عَلَيْكُمْ	مِّنْ خَيْرٍ	مِّنْ رَّبِّكُمْ	وَ	اللّٰهُ	يَخْتَصُّ
نازل کړل سی	پر تاسی باندی	څه خير	د طرفه درب ستاسی	او	اللّٰه	خاص کوی

نازل سی پرتاسی باندی يو څه خير (ښه خبره) د طرفه څخه د رب ستا او خاص کوی

بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۰۵﴾ مَا نَنْسَخْ

بِرَحْمَتِهٖ	مَنْ	يَّشَآءُ	وَ	اللّٰهُ	ذُو الْفَضْلِ	الْعَظِيْمِ	مَا	نَنْسَخْ
په رحمت خپل سره	هغه څوک	چي وغواړي	او	اللّٰه	خاوند دی د فضل	ډير لوی	هغه څه	چي منسوخ کړو موږ

په رحمت سره خپل هغه څوک چي وغواړي (اراده وکړي) او اللّٰه خاوند د فضل دی ډير لوی. هغه څه چي منسوخ کړو موږ

مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ؕ

مِنْ اٰيَةٍ	اَوْ نُنْسِهَا	نَاْتِ	بِخَيْرٍ	مِّنْهَآ	اَوْ	مِثْلِهَا
يو ايت	آو يا هير کړو دا (آيت د پيغمبر څخه)	موږ راوړو	بهتره	تر هغه (آيت)	يا	په شان د هغه

يو ايت او يا هير کړو دا ايت موږ (د پيغمبر د زړه څخه)، را ليږو موږ بهتر تر هغه آيت او يا په شان د هغه

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۶﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ

اَلَمْ تَعْلَمْ	اَنَّ	اللّٰهَ عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	اَلَمْ تَعْلَمْ
آيا تا ته نه ده معلومه	بيشکه!	اللّٰه پر	هر شئ باندی	ښه قدرت لری	آيا تا ته نه ده معلومه

آيا نه ده معلومه تاسی ته چي بيشکه! اللّٰه پر هر شئ باندی قدرت لری (قادر ذات دی). آيا تاسی ته نه ده معلومه

اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا لَكُمْ

اَنَّ	اللّٰهَ	لَهٗ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا	لَكُمْ
چي بيشکه!	اللّٰه	خاص ده لره	پاچاهي ده	د آسمانو	او د مځکی	او نه سته	تاسی ته

بيشکه! اللّٰه (چي دی) هم ده لره خاص ده پاچاهی د آسمانو او د مځکی ، او نسته تاسی ته

مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا.. دنسخ معنی په لغت کښي زايل کيدل اوليکل دي: پر دې دټولو مفسرينو اتفاق دی چي دلته په دې آيت کښي دنسخ څخه مراد ديوه حکم زايل کول يعني منسوخ کول دي او په دې وجه دکتاب الله او سنت په ژبه او اصطلاح کښي نسخ دې ته وايي چي ديو حکم پر ځای دويم حکم جاري سي بيا نو برابره خبره ده که هغه دوهم حکم داسي وي چي اول حکم پر مخ بالکل ختم سي او که داوي چي دهغه پر ځای بل عمل او کار وښوول سي : ددنيا په حکومتونو او ادارو کښي دا مشهوره او عامه ده چي يو حکم منسوخ کوي او دهغه پر ځای بل جاري کوي ليکن دانسانانو په حکمونو کښي نسخ په دې وجه کيږي چي مخکي دغلط فهمي په وجه جاري سوی وو وروسته چي بيا ورته حقيقت معلوم سي نو حکم بدل سي او کله په دې وجه کيږي چي هغه دوخت او موقع سره مناسب وي او انسان ته دمستقبل حال نه وي معلوم نو کله چي حالات بدل سي نو ددغه حکم پر ځای بل جاري کړي دغه دواړه صورتونه دالله ﷻ په حکمونو کښي نه سي کيدای.
(معارف القرآن ج ١پ١ص٢٥٨)

www.jamairahmani.org

مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۱۰۷﴾ اَمۡ تُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ

مِّنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مِنۡ وَّلِيٍّ	وَّلَا	نَصِيۡرٍ	اَمۡ تُرِيۡدُوۡنَ	اَنۡ
ماسواء	دالله څخه	هیڅ (یو) دوست	او نه	مدد ګار	آیا تاسی اراده لری	داچی

غیر د الله څخه هیڅ یو دوست او نه هم مددګار (کومک کوونکئ). آیا تاسی اراده لری دا چی

تَسۡـَٔلُوۡا رَسُوۡلَكُمۡ كَمَا سُئِلَ مُوۡسٰى مِنۡ قَبۡلُ ؕ وَمَنۡ

تَسۡـَٔلُوۡا	رَسُوۡلَكُمۡ	كَمَا سُئِلَ	مُوۡسٰى	مِنۡ قَبۡلُ	وَ	مَنۡ
سوال وکړی	د پیغمبر خپل څخه	لکه چی سوال سوی وو	د موسی څخه	د مخه دد غه څخه	او	هغه کس

سوال وکړئ د پیغمبر خپل څخه (محمد څخه) لکه څنګه چی سوال سوی وو د موسی څخه پخوا له دی ، او هر هغه کس

يَّتَبَدَّلِ الۡكُفۡرَ بِالۡاِيۡمَانِ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيۡلِ ﴿۱۰۸﴾

يَّتَبَدَّلِ	الۡكُفۡرَ	بِالۡاِيۡمَانِ	فَقَدۡ	ضَلَّ	سَوَآءَ	السَّبِيۡلِ
چی واخلی	کفر	په بدل د ایمان کښی	پس په تحقیق سره	ورکه کړل (دغه کس)	سیده	لار

چی بدل کړی (واخلی) کفر په بدل کښی د ایمان پس په تحقیق سره ورکه کړل دغه کس سمه (سیده) لاره .

وَدَّ كَثِيۡرٌ مِّنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ لَوۡ يَرُدُّوۡنَكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ

وَدَّ	كَثِيۡرٌ	مِّنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ	لَوۡ يَرُدُّوۡنَكُمۡ	مِّنۡۢ بَعۡدِ
د زړه څخه غواړی	ډیرئ	د اهل کتابو څخه	کاشکی واړوی تاسی	وروسته تر

خوښوی (او دوست ګنی) ډیر کسان د اهل کتابو څخه داچی واړوی (وګرځوی) دوی تاسی پسله

اِيۡمَانِكُمۡ كُفَّارًا ۖۚ حَسَدًا مِّنۡ عِنۡدِ اَنۡفُسِهِمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ

اِيۡمَانِكُمۡ	كُفَّارًا	حَسَدًا	مِّنۡ عِنۡدِ	اَنۡفُسِهِمۡ	مِّنۡۢ بَعۡدِ
ایمان راوړلو ستاسی	کافران	په سبب د حسد	د طرفه	دزړونو د دوی	وروسته تر

ایمان راوړلو ستاسی کافران په سبب د حسد د طرفه (خپلو) نفسونو د دوی (چی پیدا سوی دئ نه له بل سببه) ، وروسته تر

مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الۡحَقُّ ۚ فَاعۡفُوۡا وَاصۡفَحُوۡا حَتّٰى يَاۡتِىَ اللّٰهُ

مَا تَبَيَّنَ	لَهُمُ	الۡحَقُّ	فَاعۡفُوۡا	وَاصۡفَحُوۡا	حَتّٰى	يَاۡتِىَ	اللّٰهُ
هغه چی ښکاره سو	دوی ته	حق	پس عفوه کوی	او مخ اړوی د دوی څخه	تر هغه پوری	چی راوړی	الله

هغه چی ښکاره سو دوی ته حق پس عفوه کوی دوی ته او مخ اړوی د دوی څخه تر هغه پوری چی راوړی الله

كَمَا سُئِلَ مُوۡسٰى مِنۡ قَبۡلُ ؕ ..دبنی اسرائیلو بې ځایه سوالونه: مثلا دوی په ډاګه دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دلیدلو درخواست کړی وو اوداسې نور درخواستونه چې دهغه څخه غرض صرف پر رسول باندې اعتراض کول او دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دحکمتونو مزاحمت کول دي او بیا یه دایمان راوړلو اراده هم نه وه دا دیو عجیبه قسم کفر خبرې دي دغه خبروته الله جَلَّ جَلَالُهٗ بې ځایه سوالونه وویل دایه یا ددې وجې ورته وویل چې په هر کار کښې دالله جَلَّ جَلَالُهٗ مصلحت او حکمت جلا جلا وي بنده ته هیڅ حق نسته چې دهغه دطریقې دمعلومولو لپاره دا خبره وکړي چې دا کار داسې کول په کار وه دهغه کار فقط (آمنّا او صدّقنا) دی یعنې ای الله جَلَّ جَلَالُهٗ موږ ایمان راوړی دی او تصدیق مو پر کړی دی دشیخ الهند رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِ په ترجمه کښې ددغه آیت مخاطب مسلمانان ګرځول سوي دي دهغه حاصل دادی چې چې مسلمانانو ته دمخه څخه اګاهي ورکړه سې چې دپیغمبر څخه بې موقع او بې ځایه او بې فایدې سوالونه ونه کړي اوهغه په داسې شیانو تنګ اوازار نه کړي ځکه چې دا ګناه ده.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۶۲)

www.jamairahmani.org

بِاَمۡرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۱۰۹﴾ وَاَقِیۡمُوا

بِاَمۡرِهٖ	اِنَّ	اللّٰهَ عَلٰی	كُلِّ شَیۡءٍ	قَدِیۡرٌ	وَ	اَقِیۡمُوا
حکم خپل	بیشکه!	الله پر	هر شئ باندی	بنه قدرت لرونکی دی	او	سم دروئ

حکم خپل، بیشکه! الله پر هر شئ باندی قدرت لرونکی ذات دی، او سم دروئ (کوی، سره د پوره ارکانو او فرضو سره)

الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوۡا لِاَنۡفُسِكُمۡ

الصَّلٰوةَ	وَ	اٰتُوا	الزَّكٰوةَ	وَ	مَا	تُقَدِّمُوۡا	لِاَنۡفُسِكُمۡ
لمونځ	او	ورکوئ	زکوة	او	هغه څه	چی دمخه یی استوئ تاسی	دځانو خپلو دپاره

لمونځونه او ورکوئ زکوة او هغه څه چی دمخه یی استوئ تاسی د خپلو ځانو دپاره (لکه صدقه)

مِّنۡ خَیۡرٍ تَجِدُوۡهُ عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِیۡرٌ ﴿۱۱۰﴾

مِّنۡ خَیۡرٍ	تَجِدُوۡهُ	عِنۡدَ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِیۡرٌ
د نیکئ څخه	پیدا به یی کړئ د هغه نیکی	په نزد	د الله	بیشکه	الله	په هغه څه	چی کوئ یئ تاسی	بنه لیدونکی دی

د یو څه نیکئ څخه، نو پس پیدا به یی کړی په نزد د الله بیشکه! الله په هغه څه چی کوئ یئ تاسی بنه لیدونکی دی

وَقَالُوۡا لَنۡ یَّدۡخُلَ الۡجَنَّةَ اِلَّا مَنۡ كَانَ هُوۡدًا اَوۡ

وَ	قَالُوۡا	لَنۡ یَّدۡخُلَ	الۡجَنَّةَ	اِلَّا	مَنۡ	كَانَ	هُوۡدًا	اَوۡ
او	وایی دوی	هیڅکله به داخل نه سی	جنت ته	مګر	هغه څوک	چی وی	یهودی وی	یا

او وایی دوی (اهل کتاب) چی داخل به نه سی دوی (مؤمنان) جنت ته مګر داخل به سی هغه څوک چی وی یهودی او

نَصٰرٰی ؕ تِلۡكَ اَمَانِیُّهُمۡ ؕ قُلۡ هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ اِنۡ

نَصٰرٰی	تِلۡكَ	اَمَانِیُّهُمۡ	قُلۡ	هَاتُوۡا	بُرۡهَانَكُمۡ	اِنۡ
نصرانی وی	دغه چی دی	ارزوګانی دی د دوی	وو ایه (ای محمده!) دوی ته	راوړی	دلیل خپل	که چیری

نصرانی، دغه ټوله ارزوګانی دی د دوی، وو ایه ای محمده! دوی ته چی راوړی دلیل خپل که چیری

كُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ﴿۱۱۱﴾ بَلٰی ۚ مَنۡ اَسۡلَمَ وَجۡهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ

كُنۡتُمۡ	صٰدِقِیۡنَ	بَلٰی	مَنۡ	اَسۡلَمَ	وَجۡهَهٗ	لِلّٰهِ	وَ هُوَ
یاست تاسی	ربښتنی	ولی نه	هغه څوک	چی وسپاری	ځان خپل	والله ته	او حال دا چی دئ

تاسی ربښتنی (صادقان) یاست، ولی به نه (داخلیږی جنت ته) هغه څوک چی وسپاری ځان خپل والله ته، او حال دا چی دی

وَقَالُوۡا لَنۡ یَّدۡخُلَ الۡجَنَّةَ اِلَّا مَنۡ كَانَ هُوۡدًا اَوۡ نَصٰرٰی. **دیهودو او نصاراوو دنا معقول اختلاف تتیجه:** هغه دا سوه چي مشرکانو ته ددې خبرو موقع په لاس ورغله چي عیسائیت هم بې بنیاده دی او یهودیت هم: حق او صحیح خو زموږ بت پرستي ده الله پاک ﷻ ددې قومونو دجهالت او ګمراهی متعلق وفرمایل چي دادواړه قومونه جنت ته دتلو داصلي سبب څخه غافله دي صرف ددین په نوم په قومیت پسې لګیدلي دي حقیقت دادی که دیهودو مذهب وي او که دنصاراوو وي او یا که د اسلام مذهب وي ددې ټولو اصلي روح دوه شیان دي **اول:** دا چي بنده دزړه داخلاصه ځان الله پاک ﷻ ته وسپاري او دهغه تابعداري خپله عقیده او مذهب وګڼي برابره خبره ده که دا په کم یوه مذهب کې وي ددین حقیقت هیرول یا شاته غورځول او دیهودیت او نصرانیت په نامه قومیت جوړول ددین او مذهب څخه بې خبري ده **دوهم:** دا چي هغه طریقې راخپلې کړي کومې چي الله ﷻ دخپل رسول په ذریعه وخپلو بندګانو ته ښوولي دي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۶۶)

www.jamairahmani.org

مُحۡسِنٌ فَلَهٗۤ اَجۡرُهٗ عِنۡدَ رَبِّهٖ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ

مُحۡسِنٌ	فَلَهٗۤ	اَجۡرُهٗ	عِنۡدَ	رَبِّهٖ	وَلَا خَوۡفٌ	عَلَيۡهِمۡ
نيکی کوونکی دی	پس ده ته	اجر د ده	په نزد	رب د ده	او نه به وی هیڅ ویره	پر دوی باندی

نيکی کوونکی دی، پس ده دغه کسانو ته اجر (ثواب) د ده، د طرفه د رب د ده او نه به وی هيڅ ډول ويره پر دوی باندی

وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾ وَقَالَتِ الۡيَهُوۡدُ لَيۡسَتِ النَّصٰرٰى

ع ١٣ ١٤

وَلَا	هُمۡ	يَحۡزَنُوۡنَ	وَ	قَالَتِ	الۡيَهُوۡدُ	لَيۡسَتِ	النَّصٰرٰى
او نه به وی	دوی	چې غمجن کيږی	او	وايي	يهود	نه دی	نصارا

او نه به وی دوی غمجن (هيڅکله) . حال دا چې وايي يهودو و نصرانيانو ته چې نه دی نصارا

عَلٰى شَيۡءٍ ۪ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيۡسَتِ الۡيَهُوۡدُ عَلٰى

عَلٰى	شَيۡءٍ	وَّقَالَتِ	النَّصٰرٰى	لَيۡسَتِ	الۡيَهُوۡدُ	عَلٰى
پر	هيڅ شئ	او وويل (په جواب کښی)	نصارا وو	نه دی	يهود	پر

پر هيڅ دين باندی، او همدارنګه وويل په جواب کښی نصرانيانو چې نه دی يهود پر

شَيۡءٍ ۙ وَّهُمۡ يَتۡلُوۡنَ الۡكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيۡنَ

شَيۡءٍ	وَّهُمۡ	يَتۡلُوۡنَ	الۡكِتٰبَ	كَذٰلِكَ	قَالَ	الَّذِيۡنَ
هيڅ شئ باندی	او دوی	وايي	کتاب	همدغه شان	ويل	هغه کسانو

هيڅ دين باندی، (الله فرمايي) حال دا چې دوی کتاب وايي، (الله فرمايي) همدغه شان ويلی وه هغه کسانو

لَا يَعۡلَمُوۡنَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡ ۚ فَاللّٰهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ

لَا يَعۡلَمُوۡنَ	مِثۡلَ	قَوۡلِهِمۡ	فَاللّٰهُ	يَحۡكُمُ	بَيۡنَهُمۡ	يَوۡمَ
چې نه پوهيدل	په شان	دخبری د دغو (اهل کتابو)	پس الله به	فيصله وکړی	په مينځ کښی د دوی	په ورځ

چې نه پوهيدل (بې علمه) په شان د خبرو د دغو اهل کتابو، پس الله به فيصله وکړی د دوی تر مينځ په ورځ

الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا كَانُوۡا فِيۡهِ يَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنۡ

الۡقِيٰمَةِ	فِيۡمَا	كَانُوۡا	فِيۡهِ	يَخۡتَلِفُوۡنَ	وَ	مَنۡ	اَظۡلَمُ	مِمَّنۡ
دآخرت	په هغه څه کښی	چې وه دوی	په هغه کښی	اختلاف يې کاوه	او	څوک دی	لوی ظالم	تر هغه چا

دقيامت په هغه څه باندی چې دوی اختلاف پکښی کاوه، او څوک دی لوی ظالم (بلکه نشته) تر هغه چا

مُحۡسِنٌ فَلَهٗۤ اَجۡرُهٗ عِنۡدَ رَبِّهٖ.. نن صبا د ټولي دنيا مسلمانان په قسم قسم تکليفونو او مصيبتونو کي ګير دي: دا چي نا واقفه او بې عمله خلق ووينې نو دايي خيال ته راځي چي شايد د دې ټولو تکليفونو سبب زموږ اسلام دی ليکن دلوړ ذکر سوي بيان څخه واضحه سوه چي د دې اصلي سبب زموږ اسلام نه دی بلکه د اسلام پريښوول دي موږ د نامه مسلمانان يو نه په موږ کي د اسلام عقيدې سته او نه اخلاق او نه عملونه په صحيح معنی نو بيا زموږ کم حق دی چي موږ دهغه وعدو انتظار کوو چي کمي د اسلام او دمسلمانانو سره سوي دي البتّه دا سوال کيږي چي موږ هر څه يو نوم خو د اسلام اخلو د الله جَلَّ جَلَالُهٗ او دهغه درسول ﷺ نوم اخلو او کافر چي هغه په ډاګه د الله جَلَّ جَلَالُهٗ او دهغه درسول ﷺ مخالف دی او د اسلام نوم اخيستل ښه نه ګڼي هغه خو نن سبا په دنيا کښي په هر قسم ترقی کي دي جواب په لنډو الفاظو دادی چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ د دوست او دښمن سره په يوه شان معامله نه کوي تفصيل يې په معارف القرآن کښي دی.

(معارف القرآن ج ١ پ ١ ص ٢٦٨)

www.jamairahmani.org

مَنَّعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنۡ يُّذۡكَرَ فِيۡهَا اسۡمُهٗ وَسَعٰى فِيۡ

مَنَّعَ	مَسٰجِدَ	اللّٰهِ	اَنۡ	يُّذۡكَرَ	فِيۡهَا	اسۡمُهٗ	وَسَعٰى	فِيۡ
چې منع کوی	کورونه	د الله	دا چې	یاد کړل سی	په دی (کورو) کښی	نوم د الله	او کوښښ کوی	په

چې منع کوی مسجدونه د الله او منع کوی د هغه څخه چې یاد کړل سی په دی مسجدو کښی نوم د الله او کوښښ کوی په

خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمۡ اَنۡ يَّدۡخُلُوۡهَآ اِلَّا

خَرَابِهَا	اُولٰٓئِكَ	مَا كَانَ	لَهُمۡ	اَنۡ يَّدۡخُلُوۡهَآ	اِلَّا
خرابی کښی د الله د کورو	دغه کسان	نه ښایئ	دوی ته	داچې ننوځی ومسجدو ته	مګر

خرابولو کښی د مسجدونو ، (نه ښایئ) دغه کسانو ته چې ننوځی و مسجدو ته مګر

خَآئِفِيۡنَ ؕ لَهُمۡ فِي الدُّنۡيَا خِزۡىٌ وَّلَهُمۡ فِي الۡاٰخِرَةِ

خَآئِفِيۡنَ	لَهُمۡ	فِي الدُّنۡيَا	خِزۡىٌ	وَّ	لَهُمۡ	فِي الۡاٰخِرَةِ
بیریدونکی	(سته) دوی ته	په دنیا کښی	رسوایئ	او	(سته) دوی ته	په آخرت کښی

بیریدونکی ، حال داچې سته دغه کسانو ته په دنیا کښی رسوایئ (ذلالت) او هم سته دوی ته په آخرت کښی

عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۱۴﴾ وَلِلّٰهِ الۡمَشۡرِقُ وَالۡمَغۡرِبُ ۚ فَاَيۡنَمَا

عَذَابٌ	عَظِيۡمٌ	وَ	لِلّٰهِ	الۡمَشۡرِقُ	وَالۡمَغۡرِبُ	فَاَيۡنَمَا
عذاب	ډیر لوی	او	د الله دپاره دی	مشرق	او مغرب	پس هر طرفته

عذاب ډیر لوی (دردناکه). او خاص الخاص د الله دپاره دئ د مشرق طرف او د مغرب طرف پس هر طرفته ته چې

تُوَلُّوۡا فَثَمَّ وَجۡهُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۱۱۵﴾ وَقَالُوا

تُوَلُّوۡا	فَثَمَّ	وَجۡهُ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	وَاسِعٌ	عَلِيۡمٌ	وَقَالُوا
چې مخ وګرځوی	پس هلته	مخ د	الله دی	بیشکه!	الله	پراخه دی (رحمت د الله)	ښه پیژندونکی دی	وایی دوی

تاسی مخ وګرځوی (په لمانځه کی) پس هلته متوجه دی الله، بیشکه! پراخه دی رحمت د الله او ښه عالم دی. او وایی دوی

اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ سُبۡحٰنَهٗ ؕ بَلۡ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

اتَّخَذَ	اللّٰهُ	وَلَدًا	سُبۡحٰنَهٗ	بَلۡ	لَّهٗ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ
نیولئ دی	الله	زوئ	پاک دی دا (الله)	بلکه دی	د ده لره (الله)	هغه څه	چې په آسمانو کښی دی

نیولئ دئ (دوی) الله ته زوئ ، (حال داچې) پاک دی الله بلکه دی د الله دپاره هغه څه چې په آسمانو کښی دی

وَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنۡ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ... فایده د مسجد په ورانولو کي کوشش کوونکو فرقوته په دنیا کي دارسوایي ورکړل سوه چي دا ټول قومونه د اسلامي ریاست رعیت او دهغه تر باراو امر لاندي راغلل او دآخرت عذاب خو ورلره د کافر کیدلو په وجه ښکاره دی **مسئله** دا معلومه سوه چي په مسجد کښي د ذکر او لمونځ د منع کولو چي څومره صورتونه دي هغه ټوله نا جایز او حرام دي په دوی کښي یو صورت خو واضح دادی چي یو مسجد ته د تلو څخه او هلته د لمونځ او تلاوت څخه په ښکاره منع سي **دوهم** صورت دا دی چي په مسجد کښي شور جوړ سي یا د مسجد په څنګ کي د باجو ماجو په ږغولو سره د خلګو په لمانځه او ذکر کښي خلل واچول سي دا هم د الله ﷻ د ذکر څخه منع کول دي هم دا شان د لمانځه په وختونو کښي چي کله خلګ په خپلو نفلونو کښي یا تسبیحاتو کي یا تلاوت ذکراونورو کښي مشغول وي په مسجد کښي په لوړ آواز تلاوت کول یا په زوره په ذکر کولو سره هم په یو حیث خلق د ذکر الله څخه منع کول دي.

(معارف القرآن ج۱ ص ۲۷۴)

www.jamairahmani.org

وَالْاَرْضِ ۭ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ

وَالْاَرْضِ	كُلٌّ	لَّهٗ	قٰنِتُوْنَ	بَدِيْعُ	السَّمٰوٰتِ
او هغه چې په مځکه کښې دي	دغه ټوله	د الله دپاره	فرمانبرداره دي	نوی (بیله نمونې) پیدا کوونکی دی	د آسمانو

او هغه څه چې په مځکه کښې دي دغه ټول د الله فرمانبرداره (تابع داره) دي. بیله نمونې پیدا کوونکی دی د آسمانو

وَالْاَرْضِ ۭ وَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ

وَ	الْاَرْضِ	وَاِذَا	قَضٰٓى	اَمْرًا	فَاِنَّمَا	يَقُوْلُ	لَهٗ	كُنْ
او	د مځکې	او هر کله چې	اراده وکړي	د یو کار	پس بیشکه!	(الله) وایي	و دغه کار ته	چې وسه

او د مځکې او هر کله چې اراده وکړي د یو کار پس بیشکه! الله وفرمايي و دغه کار ته چې وسه

فَيَكُوْنُ ﴿۱۱۷﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا

فَيَكُوْنُ	وَ	قَالَ	الَّذِيْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ	لَوْلَا يُكَلِّمُنَا
پس هغه وسي	او	وایي	هغه کسان	چې نه پوهیږي	ولې نه کوی خبرې زموږ سره

پس هغه وسي. او وایي هغه کسان چې نه پوهیږي ، چې ولې نه کوی خبرې زموږ سره

اللّٰهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ ۭ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

اللّٰهُ	اَوْ	تَاْتِيْنَآ	اٰيَةٌ	كَذٰلِكَ	قَالَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
الله	او	ولې نه راځي موږ ته	یو نښه	همدغه شان	ویل	هغه کسانو	چې دمخه تر دوی وه

الله او ولې نه راځي تر موږ پورې یو نښه ، (الله فرمايي) همدغه شان ویلي وه هغه کسانو چې دمخه تر دوی تیر سوي دي

مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ۭ تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ ۭ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ

مِّثْلَ	قَوْلِهِمْ	تَشَابَهَتْ	قُلُوْبُهُمْ	قَدْ	بَيَّنَّا	الْاٰيٰتِ
په شان	دخبرې د دوی	مشابهه (یو رنګه دي)	زړونه د دوی	په تحقیق سره	موږ بیان کړي دي	نښانې

په شان د خبرې د دوی، یو رنګه دي زړونه د دوی (کافرانو)، په تحقیق سره موږ بیان کړي دي نښانې (دوحدت او نبوت)

لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا

لِقَوْمٍ	يُّوْقِنُوْنَ	اِنَّآ	اَرْسَلْنٰكَ	بِالْحَقِّ	بَشِيْرًا
دپاره دهغه قوم	چې ایمان او باور لري	بیشکه! موږ	لیږلئ یې ته	په حق (رښتیا) سره	زیرئ ورکوونکی

دیو داسې قوم دپاره چې ایمان او باور لري. بیشکه! لیږلئ یې موږ ته په حق (په رښتیا) سره زیرئ ورکوونکئ یې (د جنت)

لَـــوْلَا يُكَلِّـــمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ... یوه احمقانه اوجاهلانـــه غوښـــتنه:

بعضي جاهل یهود او نصارى او مشركانو د رسول الله ﷺ په مقابله کښي داسي ویل چي په خپله الله ﷻ ولي زموږ سره خبري نه کوي بیا نوبرابره خبره ده که دملایکو څخه بغیر وي لکه الله ﷻ چي یه په خپله دملایکو سره کوي یا دملایکو په ذریعه وي لکه دپیغمبرانو سره یي دوحي په طور کوي او بیا دي الله ﷻ موږ ته په خپله خپل حکمونه راوښیي چي بیا زموږ بل پیغبرته ضرورت نه سي پیدا یا کم از کم دی دومره ووایي چي محمد ﷺ زموږ پیغمبر دی نو موږ به دده رسالت ومنو او تابعداري به یه شروع کړو او که خبره نه کوي نو دي موږ ته یو بل دلیل درسالت دثابتولو لپاره راسي الله ﷻ اول خو دا خبره جاهلانه رسم وښووی چي دغه رنګه دا جاهلان خلګ هم وایي څه رنګه چي تر دوی مخکي خلګو ویله ددوی په شان جاهلانه هغه مخکنیو کفارو هم داسي سوالونه کول او سبب یه الله ﷻ دا وښووی چي داددوی نا فهمي او کم عقلي ده چي خپل ځان دملایکو سره برابروي.

(معارف القرآن ج۱پ۱ص ۲۷۹)

www.jamairahmani.org

وَّنَذِيْرًا ۙ وَّلَا تُسْـَٔلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۹﴾ وَلَنْ تَرْضٰى

وَّ	نَذِيْرًا	وَّ	لَا تُسْـَٔلُ	عَنْ اَصْحٰبِ	الْجَحِيْمِ	وَلَنْ تَرْضٰى
او	بیرونکی یئ	او	پوښتنه به ونسی ستا څخه	د خاوندانو	د دوږخ	او هیڅ کله به راضی نه سی

او بیرونکئ یئ (د دوږخ څخه) او پوښتنه به ونه سی (ستا څخه محمده!) د خاوندانو د دوږخ په باره کښې، او هیڅ کله به راضی نه سی

عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ

عَنْكَ	الْيَهُوْدُ	وَ	لَا النَّصٰرٰى	حَتّٰى	تَتَّبِعَ	مِلَّتَهُمْ	قُلْ
ستا څخه	یهود	او	نه هم نصارا	تر هغه پوری	چی پیروی ونه کړی ته	د دین د دوی	وو ایه

ستا څخه (ای محمده!) یهود او نصارا تر هغه وخته پوری چی پیروی ونه کړی د دین د دوی، وو ایه (ای محمده! دوی ته)

اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ

اِنَّ	هُدَى	اللّٰهِ	هُوَ	الْهُدٰى	وَلَئِنِ	اتَّبَعْتَ	اَهْوَآءَهُمْ
بیشکه!	هدایت د	الله	هم هغه	کامل هدایت دی	او که چیری	پیروی وکړه تا	د خواهشاتو د دوی

بیشکه! هدایت د الله (دین اسلام دی) هم دغه هدایت کامل دی، او که چیری ته پیروی وکړی د خواهشاتو د دوی

بَعْدَ الَّذِيْ جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ

بَعْدَ	الَّذِيْ	جَآءَكَ	مِنَ الْعِلْمِ	مَا لَكَ	مِنَ	اللّٰهِ	مِنْ وَّلِيٍّ
وروسته	تر هغه	چی راغلی دی تاسی ته	د علم څخه	نو نه به وی تالره	د جانبه	د الله	دوست

وروسته تر هغه چی راغلی دی تا ته دا علم (د قرآن او حدیث)، پس نسته تا ته د جانبه د الله څخه هیڅ دوست

وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۲۰﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ

وَّلَا نَصِيْرٍ	اَلَّذِيْنَ	اٰتَيْنٰهُمُ	الْكِتٰبَ	يَتْلُوْنَهٗ
او نه هم کومک کوونکی	هغه کسان	چی موږ ورکړی دی دوی ته	کتاب (تورات)	وایی دوی (دا قرآن)

او نه هم کومک کوونکی. هغه کسان چی موږ ورکړی دی دوی ته کتاب (تورات)، وایی دوی دا قرآن

حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ

حَقَّ	تِلَاوَتِهٖ	اُولٰٓئِكَ	يُؤْمِنُوْنَ	بِهٖ	وَ	مَنْ	يَّكْفُرْ	بِهٖ
په حقه	ویلو سره د هغه	دغه کسان (اهل کتاب)	ایمان لری	په دغه (قرآن)	او	هغه کس	چی انکار وکړی	د دغه څخه

په حقه سره د ویلو د دغه قرآن، دغه کسان (اهل کتاب) ایمان لری په دغه قرآن، او هغه کس چی انکار وکړی د دغه څخه

وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى... الله ﷻ فرمايي چي يهود اونصاری به ستاسي څخه راضي نه سي: تر هغه وخته چي تاسي دهغوی ددين پيروي ونه کړی او ددوی دمذهب بالکل تابعداره نسی او داخو بالکل ممکن نه ده نو ددوی راضي کيدل هم ممکن نه دي اوکه چيري داسي کومه خبره ددوی دژبي يا دحالت څخه وخيژي نو تاسي صفا ورته وواياست چي وروره دهدايت خو هغه لار ده کمه چي الله ﷻ دهدايت لاره ښوولې ده او ددلايلو څخه دا ثابته سويده چي داسي لاره يوازي اسلام دی نو دهدايت لاره هم اسلام دی او داخبره چي تاسي ددوی دمذهب تابعداري کوونکي سی په دې وجه ممکنه نه ده چي ددې څخه يو بل محال شی لازميږي ځکه که چيري تاسي ددوی دغلطو خيالاتو تابعداري شروع کړی چي هغه دوی خپل مذهب ګڼي او هغه څه دتحريف د وجي او څه دمنسوخ کيدو دوجي اوس يوازي دخو غلطو خيالونو مجموعه جوړه سويده او بيا هم ددوی تابعداري کول خو يوه لويه ګمراهي ده.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۲۸۰

www.jamairahmani.org

ع ١٤

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٢١﴾ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا

فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْخٰسِرُوْنَ	يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	اذْكُرُوْا
پس دغه کسان	دوی دی	په تاوان کښې	ای بني اسرائيلو	درياد کړی

پس همدغه کسان په تاوان کښې دی (چې ايمان په کفر بدلوی)، ای بني اسرائيلو درياد کړی

نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ

نِعْمَتِيَ	الَّتِيْٓ	اَنْعَمْتُ	عَلَيْكُمْ	وَ	اَنِّيْ	فَضَّلْتُكُمْ
نعمت زما	هغه نعمت	چې انعام کړی دی ما	پر تاسو باندی	او	بيشکه! ما	فضيلت درکړی دی تاسو ته

نعمت زما هغه نعمت چې انعام کړی دی ما پر تاسی باندی او بيشکه! زه فضيلت درکوونکی يم تاسی ته

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ	وَاتَّقُوْا	يَوْمًا	لَّا تَجْزِيْ	نَفْسٌ	عَنْ نَّفْسٍ
پر ټولو خلګو (دزمانی)	او ويريږی	دهغی ورځی څخه	بدله به ورنه کړی	هيڅ انسان	د بل انسان دپاره

پر ټولو خلګو د زمانی ستاسی. او ويريږی د هغه ورځی څخه چې پکار به رانه سی هيڅ انسان (کافر) د بل انسان (کافر) دپاره

شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ

شَيْئًا	وَّلَا يُقْبَلُ	مِنْهَا	عَدْلٌ	وَّلَا تَنْفَعُهَا	شَفَاعَةٌ
هيڅ شئ هم	او نه به سی قبول	د دغه (انسان) څخه	بدل (فديه)	او نفع به ورنه رسوی ودغه نفس ته	شفاعت

يو ه زره، او نه به سی قبول د دغه انسان څخه هيڅ فديه په بدل کښې، او نفع به ورنه رسوی و دغه نفس ته هيڅ شفاعت

وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ

وَّ	لَا	هُمْ	يُنْصَرُوْنَ	وَاِذِ	ابْتَلٰٓى	اِبْرٰهٖمَ	رَبُّهٗ	بِكَلِمٰتٍ
او	نه به وی	دوی	چې کومک ورسره وسی	او هغه وخت چې	و ازمايه	ابراهيم	رب د ده	په يو څو خبرو سره

او نه به هم د دوی سره هيڅ کومک وسی (په دفع د عذاب). او کله چې امتحان کړئ ابراهيم رب د ده په يو څو خبرو سره

فَاَتَمَّهُنَّ ۭ قَالَ اِنِّيْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ۭ قَالَ وَمِنْ

فَاَتَمَّهُنَّ	قَالَ	اِنِّيْ	جَاعِلُكَ	لِلنَّاسِ	اِمَامًا	قَالَ	وَمِنْ
نو پوره يئ کړی دده دغه خبری	وويل (الله)	بيشکه زه	ګرځوونکی يم ستا	دخلګو دپاره	پيشواء	وويل (ابراهيم)	او د

نو پوره يئ کړی دغه خبری دده ، (الله وفرمايل) بيشکه زه ګرځوونکی يم تا دخلګو دپاره پيشواء وويل ابراهيم او د

وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ.. الله جَلَّ جَلَالُهٗ دحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ څخه مختلف امتحانونه واخيستل: او حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ په دې امتحانونو کښې کامیابه هم سو او پر دې کامیابی باندې الله جَلَّ جَلَالُهٗ دی دخلګو پيشواء هم جوړ کړی دا يه انعام سو ددې کامیابی بیا حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ دشفقت دوجې دخپل اولاد لپاره ددې انعام غوښتنه وکړه نو ددې انعام دحاصليدو لپاره الله جَلَّ جَلَالُهٗ ديوې قاعدې ارشاد وکړی چې په هغه کښې دحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د درخواست دمنظورولو لپاره يو شرط ولګول سو چې دا انعام به ستا اولاد ته هم ورکول کيږي ليکن کم خلګ چې ستا په اولاد کښې نافرمانه او ظالمان دي نو هغه ته به دا انعام نه ورکول کيږي: دلته يو څو خبري دغور او فکر کولو وړ دي اول دا چې امتحان ددې لپاره اخيستل کيږي چې په دې سره ديو سړي قابليت معلوم سي او الله جَلَّ جَلَالُهٗ خو عليم او خبير دی د هر څه ورته درک او علم سته نو بيا دامتحان اخيستلو غرض څه وو؟ جواب يه په معارف القرآن کښې په تفصيل سره وګوری.

(معارف القرآن ج١پ١ص ٢٨٢)

www.jamairahmani.org

ذُرِّيَّتِيْ ۭ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ۝۱۲۴ وَاِذْ

ذُرِّيَّتِيْ	قَالَ	لَا يَنَالُ	عَهْدِي	الظّٰلِمِيْنَ	وَاِذْ
اولادی می هم	وفرمایل الله	نه رسیږی	وعده زما	ظالمانو ته	او هغه وخت چي

اولادی څخه می هم امامان جوړ کړه، الله وفرمایل چی نه رسیږی وعده (امانت) زما و ظالمانو ته، او هغه وخت چي

جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ۭ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ

جَعَلْنَا	الْبَيْتَ	مَثَابَةً	لِّلنَّاسِ	وَاَمْنًا	وَ	اتَّخِذُوْا	مِنْ مَّقَامِ
وګرځول موږ	کعبه شریفه	ځای د عبادت	د خلګو دپاره	او ځای د امن	او	ونیسئ (حاجیانو)	ځای د دریدو

موږ وګرځول کعبه شریفه ځای د جمع کیدو د خلګو دپاره او ځای د امن او ونیسئ (ای حاجیانو) دغه ځای د دریدو

اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ۭ وَعَهِدْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ

اِبْرٰهٖمَ	مُصَلًّى	وَعَهِدْنَآ	اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ	وَ	اِسْمٰعِيْلَ
د ابراهیم	ځای د لمانځه	او امر وکړی موږ	و ابراهیم ته	او	اسماعیل ته

د ابراهیم ځای د لمانځه، او امر مو وکړی موږ و ابراهیم ته او اسماعیل ته (دوی دواړو پلار او زوی ته)

اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّآىِٕفِيْنَ وَالْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ

اَنْ	طَهِّرَا	بَيْتِيَ	لِلطَّآىِٕفِيْنَ	وَ	الْعٰكِفِيْنَ	وَ	الرُّكَّعِ
دا چی	پاک وساتئ	کور زما	د طواف کوونکو دپاره	او	د اعتکاف کوونکو دپاره	او	د رکوع کوونکو دپاره

دا چی پاکه وساتئ کعبه زما د طواف کوونکو دپاره او د اعتکاف کوونکو (اوسیدونکو) دپاره او د رکوع کوونکو دپاره

السُّجُوْدِ ۝۱۲۵ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا

السُّجُوْدِ	وَاِذْ	قَالَ	اِبْرٰهٖمُ	رَبِّ	اجْعَلْ	هٰذَا بَلَدًا
او د سجدی کوونکو دپاره	او هغه وخت چي	وویل	ابراهیم	ای ربه زما	وګرځوه	دغه ښار

او د سجدی کوونکو دپاره، او کله چي وویل ابراهیم! ای ربه زما وګرځوه دغه ښار (کعبه)

اٰمِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ

اٰمِنًا	وَّارْزُقْ	اَهْلَهٗ	مِنَ الثَّمَرٰتِ	مَنْ	اٰمَنَ	مِنْهُمْ
امن والا	او رزق ورکړه	اوسیدونکو د دغه ځای ته	د میوو څخه	هغه چاته	چی ایمان یئ راوړی دی	د دوی څخه

ځای د امن او ورکړه (رزق) اوسیدونکو د دغه ځای ته د قسم قسم میوو څخه هغه چاته چي ایمان یئ راوړی دی د دوی څخه

وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ۭ دحضرت ابراهیم عليه السلام هجرت دشام څخه وحجاز ته: په تفسیر ابن کثیر کښي راغلي دي چي حضرت ابراهیم عليه السلام په شام کښي مقیم وو او حضرت اسماعیل عليه السلام دتي ماشوم ووکم وخت چي ده ته دالله جل جلاله دا حکم ورسیدی چي موږ تاته دکعبي شریفي ځای درښیو دا ځای پاک او صاف کړه او په طواف او لمونځ سره یي آباد کړه نو ددي کار دتکمیل او پورا کیدو لپاره جبرائیل امین عليه السلام دبراق سره حاضر سو او حضرت ابراهیم عليه السلام او حضرت اسماعیل عليه السلام یه سره دهغه دموره دځان سره واخیسته او سفر یه شروع کړی په لاره کي چي به کله یو کلی ښکاره سو نو حضرت ابراهیم عليه السلام به دحضرت جبرائیل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چي آیا دلته دکښته کیدلو حکم سوی دی؟ جبراییل عليه السلام به ورته وفرمایل چي نه ستا منزل مخ ته دی تر دي حده چي دمکې مکرمي ځای مخ ته راغی چي په هغه کښي دغنو دبوټو او دکیکردونو څخه بغیر بل څه نه وه نه هلته دوی واړول الخ تفصیل په معارف القرآن کښي وګوری.
(معارف القرآن ج۱ ص ۲۸۹)

www.jamairahmani.org

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا

بِاللّٰهِ	وَ	الْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	قَالَ	وَ	مَنْ	كَفَرَ	فَاُمَتِّعُهٗ	قَلِيْلًا
په الله سره	او	په ورځ	د آخرت سره	الله وفرمایل	او	هغه کس	چي کافر سوی دی	پس زه نفع وررسوم ده ته	لږ

په الله سره او په ورځ د آخرت سره (قیامت) ، الله فرمایي هغه کس چي کافر سوی دی پس زه نفع ور رسوم ده ته لږ

ثُمَّ اَضْطَرُّهٗٓ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٢٦﴾ وَاِذْ

ثُمَّ	اَضْطَرُّهٗٓ	اِلٰى عَذَابِ	النَّارِ	وَ	بِئْسَ	الْمَصِيْرُ	وَاِذْ
وروسته به	راکش کړم دئ	و طرفته د عذاب	د اور (دوږخ)	او	چي ډیر بد دی	ځای د ورتلو	او هغه وخت

(حال داچي) وروسته یې راکشوم و طرفته د دوږخ (د اور د عذاب) چي ډیر بد ځای دی د هستو ګنی، او کله چي

يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ ۭ رَبَّنَا

يَرْفَعُ	اِبْرٰهٖمُ	الْقَوَاعِدَ	مِنَ	الْبَيْتِ	وَ	اِسْمٰعِيْلُ	رَبَّنَا
چي پورته کول	ابراهیم	بنیادونه	د	کعبی شریفی	او	اسماعیل	(وویل) ای ! ربه زموږ

پورته کول ابراهیم او اسماعیل بنیادونه (دیوالونه) د کعبی شریفی، (وی فرمایل) ای ربه زموږ

تَقَبَّلْ مِنَّا ۭ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا

تَقَبَّلْ	مِنَّا	اِنَّكَ	اَنْتَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ	رَبَّنَا
قبول کړی	زموږ څخه	بیشکه ته	هم ته	ښه اوریدونکی یئ	ښه پوهیدونکی یئ	ای ربه زموږ

قبوله کړی (دا دعاء) زموږ څخه بیشکه ته هم ته چي یئ ښه اوریدونکی ذات یئ، ښه پوهیدونکی ذات یئ ، ای ربه زموږ

وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً

وَ	اجْعَلْنَا	مُسْلِمَيْنِ	لَكَ	وَ	مِنْ ذُرِّيَّتِنَآ	اُمَّةً	مُّسْلِمَةً
او	وګرځوی موږ	حکم منونکی	تاله	او	زموږ د اولادو څخه هم وګرځوی	یو ډله	حکم منونکی

او وګرځوی موږ حکم منونکی (فرمانبرداره) تاله او همدا رنګه زموږ د اولادو څخه هم وګرځوی یو ډله حکم منونکی

لَّكَ ۠ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ

لَّكَ	وَ	اَرِنَا	مَنَاسِكَنَا	وَ	تُبْ	عَلَيْنَا	اِنَّكَ	اَنْتَ
تاله	او	وښیه موږته	طریقی د حج اداء کولو زموږ	او	توبه قبوله کړی	زموږ	بیشکه ته	هم ته

تاله او وښیه موږته طریقی د حج د اداء کولو زموږ او توبه قبوله کړی زموږ ، بیشکه (ای الله) ته هم ته

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۭ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

حضرت ابراهیم علیه السلام دخپل رب دحکم په تعمیل کي دشام ملک پریښووی : او دمکې په وچوغرونوکي یي خپل اهل او عیال ځای کی او دبیت الله په جوړولو کي یي خپل ټول قوت صرف کی داداسي موقع وه چي دداسي مجاهده کوونکي په زړه کي یو لویي پیدا سي او په خپل عمل او کار باندي فخر کوونکی سي لیکن دلته په دې موقعه کښي حضرت ابراهیم علیه السلام خلیل الله دی درب العزت ددربار عزت او جلال پیژندونکی شخص دی چي یو انسان دالله جل جلاله دشان برابر عبادت او اطاعت کولی نسي هر سړی دخپل قوت او همت برابر عمل کوي نو په دې وجه هیڅاته پکارنه دي چي هغه په خپل تر لوی لا لوی عمل فخر وکي بلکه هغه ته دا پکار دي چي په ډیري زاری او منت سره دعا وکی چي ای الله جل جلاله زما عمل قبول کړه ددې خبري تلقین او تعلیم حضرت ابراهیم علیه السلام په دې دعا کولو کي کوي وامت ته چي پام کوی دخپلو نیکو اعمالو دوجې څخه په غرور او لویي کښي مبتلا نه سی.

(معارف القرآن ج۱پ۱ص۲۸۹)

www.jamairahmani.org

رَبَّنَا وَابۡعَثۡ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا

دامام احمد رحمة الله عليه **د مسند کتاب څخه يو حديث دی:** هغه دادی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي زه دالله جل جلاله په نزد هغه وخت خاتم النبيين وم کله چي حضرت ادم علیه السلام لا نه وو پيدا بلکه هغه وخت چي دهغه خمير جوړيدی او زه تاسي ته دخپلي معاملي شروع بنيم چي زه دخپل پلار حضرت ابراهيم علیه السلام ددعا او دحضرت عيسی علیه السلام د زيري او دخپلي مور مبارکي دخوب مظهر يم دحضرت عيسی علیه السلام دزيري څخه مراد دهغه داقول مراددی (مبشرا برسول ياتي من بعدی اسمه احمد) چي زه ديوه داسي نبي زيری تاسي ته درکوم چي زما څخه وروسته به را ځي نوم دهغه به احمد وي او مور مبارکي يه دحمل په وخت کنبي خوب ليدلی وو چي زما دنس څخه يو نور ووتی چي په هغه سره دشام دملک لوی لوی مانی وځليدلی او ابراهيم علیه السلام دغه دعا وکړه چي ای الله جل جلاله زما په اولاد کنبي داسي يوه هستي راوليږه چي دوی ستا دهدایاتو تعليم ورکوي ستا بندګانوته او ددوی اصلاح کوي. (معارف القرآن ج۱ص ۳۰۳)

التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابۡعَثۡ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا

التَّوَّابُ	الرَّحِيۡمُ	رَبَّنَا	وَابۡعَثۡ	فِيۡهِمۡ	رَسُوۡلًا
ښه توبه قبلولونکی يئ	او پوره رحم کوونکی يئ	ای! ربه زمونږ	وليږه	په دغه اولادو کښې زما	يو پيغمبر

توبه قبلوونکی ذات يې او پوره رحم کوونکی ذات يې. ای ربه زمونږ! وليږه په دغه اولادو کښې زما يو پيغمبر

مِّنۡهُمۡ يَتۡلُوۡا عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الۡكِتٰبَ

مِّنۡهُمۡ	يَتۡلُوۡا	عَلَيۡهِمۡ	اٰيٰتِكَ	وَ	يُعَلِّمُهُمُ	الۡكِتٰبَ
د دوی څخه	چي وايي	و دوی ته	اياتو نه ستا	او	ور وبنئی دوی ته	کتاب

د دوی څخه، چي وايي و دوی ته اياتونه ستا (دوحدت او نبوت دلايل) او ور وبنئی دوی ته کتاب (قرآن، حکمونه)

وَالۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيۡهِمۡ ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿١٢٩﴾ ع

وَ	الۡحِكۡمَةَ	وَ	يُزَكِّيۡهِمۡ	اِنَّكَ	اَنۡتَ	الۡعَزِيۡزُ	الۡحَكِيۡمُ
او	خبری د حکمت	او	پاک کړی دوی	بيشکه ته	هم ته	ښه غالب يئ	خاوند د حکمتونو يئ

او خبری د حکمت، چي پاکوی به دوی د ګناهو څخه (د شرک) بيشکه هم ته چي يئ غښتلئ ذات يئ او خاوند د حکمتونو يئ

وَمَنۡ يَّرۡغَبُ عَنۡ مِّلَّةِ اِبۡرٰهٖمَ اِلَّا مَنۡ سَفِهَ نَفۡسَهٗ ؕ

وَ	مَنۡ	يَّرۡغَبُ	عَنۡ مِّلَّةِ	اِبۡرٰهٖمَ	اِلَّا	مَنۡ	سَفِهَ	نَفۡسَهٗ
او	هغه څوک (دی)	چي مخ اړوی	له دينه څخه	د ابراهيم	مګر	هغه څوک	چي بی عقل يې جوړ کړی دی	ځان خپل

او څوک دی هغه چي مخ اړوی د دين څخه د ابراهيم، مګر هغه څوک به وی چي بی عقل يې جوړ کړی دی ده ځان خپل

وَلَقَدِ اصۡطَفَيۡنٰهُ فِى الدُّنۡيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِى الۡاٰخِرَةِ لَمِنَ

وَ	لَقَدِ	اصۡطَفَيۡنٰهُ	فِى الدُّنۡيَا	وَاِنَّهٗ	فِى الۡاٰخِرَةِ	لَمِنَ
او	په تحقيق سره	غوره کړی وو موږ دی (ابراهيم)	په دنيا کښې	او بيشکه! دئ به	په آخرت کښې	خامخا د

او خامخا په تحقيق سره غوره کړئ مو دئ ابراهيم په دنيا کښې او بيشکه ابراهيم به په آخرت کښې خامخا د (خاصو)

الصّٰلِحِيۡنَ ﴿١٣٠﴾ اِذۡ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗۤ اَسۡلِمۡ ۙ قَالَ اَسۡلَمۡتُ

الصّٰلِحِيۡنَ	اِذۡ قَالَ	لَهٗ	رَبُّهٗۤ	اَسۡلِمۡ	قَالَ	اَسۡلَمۡتُ
نيکانو څخه وی	کله چي وويل	ده ته (ابراهيم ته)	رب د ده	ځان وسپاره زما حکمونو ته	وويل (ابراهيم)	ځان می سپارلئ دی

نيکانو څخه وی. کله چي وويل ابراهيم ته رب د ده چي ځان وسپاره زما حکمونو ته، وفرمايل ابراهيم ځان می سپارلئ دی

١٥ ع ٨ ١٥

www.jamairahmani.org

لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ

لِرَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	وَ	وَصّٰى	بِهَآ	اِبْرٰهٖمُ	بَنِيْهِ
دپاره د رب	د ټولو مخلوقاتو	او	وصيت کړی وو	د دی خبرې	ابراهيم	زامنو خپلو ته

دپاره د رب چې د تمام جهان د خلګو دی، او وصيت کړی وو په پاته کيدو د دين خپل سره ابراهيم خپلو زامنو ته

وَيَعْقُوْبُ ۭ يٰبَنِيَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ

وَ	يَعْقُوْبُ	يٰبَنِيَّ	اِنَّ	اللّٰهَ	اصْطَفٰى	لَكُمُ	الدِّيْنَ
او	يعقوب (هم نصيحت وکړی)	ای زامنو زما	بيشکه !	الله	غوره کړی يی دی	ستاسی دپاره	دين اسلام

او (وصيت کړی وو) يعقوب، (ويل به يی) ای زامنو زما بيشکه! الله غوره کړی دی ستاسی دپاره دا سلام دين

فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ

فَلَا تَمُوْتُنَّ	اِلَّا	وَاَنْتُمْ	مُّسْلِمُوْنَ	اَمْ	كُنْتُمْ	شُهَدَآءَ	اِذْ
پس مه مرئ تاسی	مګر	چې يئ تاسی	مسلمانان	آيا	وی تاسی	حاضر	هغه وخت

پس هيڅکله مه مرئ (ای زما اولادو) مګر په هغه حال کښې چې تاسی به مسلمانان ياست. آيا تاسی حاضر وی کله چې

حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ۙ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ

حَضَرَ	يَعْقُوْبَ	الْمَوْتُ	اِذْ	قَالَ	لِبَنِيْهِ	مَا	تَعْبُدُوْنَ
چې راغلئ	يعقوب ته	مرګ	هغه وخت	چې وويل (يعقوب)	زامنو خپلو ته	د څه شئ	عبادت به کوئ

راغلئ يعقوب ته مرګ، کله چې وويل يعقوب خپلو زامنو ته چې د څه شئ عبادت به کوئ (تاسی)

مِنْۢ بَعْدِيْ ۭ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهٖمَ

مِنْۢ بَعْدِيْ	قَالُوْا	نَعْبُدُ	اِلٰهَكَ	وَ	اِلٰهَ اٰبَآئِكَ	اِبْرٰهٖمَ
وروسته تر ما	وويل (زامنو يئ)	عبادت به کوو	د معبود ستا	او	د معبود د پلرونو ستا	چې ابراهيم دی

وروسته زما تر مرګ، زامنو يئ وويل چې عبادت به کوو د رب ستا او عبادت کوو د رب د پلرونو ستا چې د ابراهيم (رب دی)

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۳﴾

وَ	اِسْمٰعِيْلَ	وَ	اِسْحٰقَ	اِلٰهًا	وَّاحِدًا	وَّنَحْنُ	لَهٗ	مُسْلِمُوْنَ
او	اسماعيل	او	اسحق دی	چې معبود دئ	يو	او موږ يو	دغه الله ته	غاړه ايښودونکی

او د اسماعيل رب دی او د اسحق رب دی، هغه ذات چې معبود دی يو دی او حال دا چې موږ يو د غه الله ته غاړه ايښوونکی

وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ...

دملت ابراهيمي پر بنيادي اصولو باندي دتللو تاکيد: په دغه اياتونو کي سوی دی او ددي اصولو څخه چي څوک مخ اړوي دهغه خرابي بيان سويده او په ضمن کښي ديهودو او نصاراوو دهغه دعوې ترديدهم سوی دی چي دوی به کوله چي موږ دحضرت ابراهيم عليه السلام پر دين او ملت باندي يو او دا خبره هم بيان سويده چي يوازي اسلام دملت ابراهيمي موافق ملت دی او بله داچي يوازي اسلام د ټولو پيغمبرانو شريک دين دی او داهم ذکر دي چي انبياوو به دخپلو اولادو نوديني او روحاني تربيت ته توجه کوله او مخکي داهم بيان سوي دي چي ددغه ملت او دين په وجه حضرت ابراهيم عليه السلام ته ددنيا او آخرت دواړو بزرګي ورکړه سويده او څوک چي دملت ابراهيمي څخه مخ اړوي هغه احمق او جاهل دی او دا ځکه چي ابراهيمي ملت او دين بالکل يو فطري دين دی دچاچي فطرت صحيح وي هغه ددي دين څخه انکار نه سي کولای وروسته بيا الله جل جلاله ددي ملت اودين د فضيلت وجه هم بيا نوي:
(معارف القرآن ج۱ پ۱ ص۳۱۳)

www.jamairahmani.org

تِلۡكَ اُمَّةٌ قَدۡ خَلَتۡ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُمۡ

تِلۡكَ	اُمَّةٌ	قَدۡ خَلَتۡ	لَهَا	مَا	كَسَبَتۡ	وَ	لَكُمۡ
دغه	یوه ډله وه	په تحقیق سره چي تیره سول	ستهٔ دوی ته (جزاء)	دهغه څه	چي دوی کول	او	ستاسو دپاره (ده جزاء)

دغه یوه ډله دبزرګانو وه چي تیره سول، ستهٔ د دوی دپاره جزاء دهغه څه چي دوی به کول او هم ستهٔ ستاسی دپاره جزاء

مَّا كَسَبۡتُمۡ ۚ وَلَا تُسۡـَٔلُوۡنَ عَمَّا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٣٤﴾ وَقَالُوۡا

مَّا	كَسَبۡتُمۡ	وَ	لَا تُسۡـَٔلُوۡنَ	عَمَّا	كَانُوۡا	يَعۡمَلُوۡنَ	وَقَالُوۡا
دهغه څه	چي تاسو وکړل	او	پوښتنه به ونه سی ستاسی څخه	دهغه په باره کښې	چي وه دوی	چي کول یې	او وایې دوی

دهغه څه چي تاسې وکړل، او پوښتنه به ونه سی ستاسې څخه دهغه څه چي وه دوی، کول به یئ او وا یې هغوی (مسلمانانو ته)

كُوۡنُوۡا هُوۡدًا اَوۡ نَصٰرٰی تَهۡتَدُوۡا ؕ قُلۡ بَلۡ مِلَّةَ اِبۡرٰهٖمَ

كُوۡنُوۡا	هُوۡدًا	اَوۡ	نَصٰرٰی	تَهۡتَدُوۡا	قُلۡ	بَلۡ	مِلَّةَ اِبۡرٰهٖمَ
چي سئ	یهودیان	او	نصرانیان	سمه لار به پیدا کړی	ووایه (ای محمده)	بلکه	د دین دابراهیم به پیروی کوو

چي سئ وطرفته د یهودیانو او نصرانیانو سمه لار به پیدا کړی، ووایه چي بل هیڅ دین نه منو بیله د ابراهیم د دین څخه

حَنِيۡفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿١٣٥﴾ قُوۡلُوۡۤا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

حَنِيۡفًا	وَمَا كَانَ	مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ	قُوۡلُوۡۤا	اٰمَنَّا بِاللّٰهِ
چي په یوه لوری وو	او نه وو دئ	د مشرکانو څخه	ووایاست (دوی ته)	چي موږ ایمان راوړی دی پر الله

چي په یوه لوری وو، او نه وو دئ د مشرکینو څخه. ووایاست (مسلمانانو دوی ته) چي موږ ایمان راوړی دی (په الله)

وَمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡنَا وَمَاۤ اُنۡزِلَ اِلٰۤى اِبۡرٰهٖمَ وَاِسۡمٰعِيۡلَ

وَ	مَاۤ اُنۡزِلَ	اِلَيۡنَا	وَ	مَاۤ اُنۡزِلَ	اِلٰۤى اِبۡرٰهٖمَ	وَاِسۡمٰعِيۡلَ
او	پر هغه چي نازل سوی دی	زموږ وطرفته	او	په هغه چي نازل سوی دی	ابراهیم ته	او اسماعیل ته

او په هغه څه چي نازل سوی دی زموږ وطرفته (قرآن) او په هغه چي نازل سوی دی پر ابراهیم او پر اسماعیل

وَاِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ وَالۡاَسۡبَاطِ وَمَاۤ اُوۡتِىَ مُوۡسٰى

وَ	اِسۡحٰقَ	وَ	يَعۡقُوۡبَ	وَ	الۡاَسۡبَاطِ	وَ	مَاۤ	اُوۡتِىَ	مُوۡسٰى
او	اسحق ته	او	یعقوب ته	او	اولادی د دوی ته	او	پر هغه چي	چي ورکړل سوی وه	وموسی ته

او په اسحق او په یعقوب او په اولاده باندی د دوی، او په هغه (کتابو او معجزو) چي ورکړل سوی دی و موسی ته

قُلۡ بَلۡ مِلَّةَ اِبۡرٰهٖمَ حَنِيۡفًا.. دپیغمبرانو په دې خاص طرز کښې دعامو انسانانو لپاره هدایت دی: چي دوی څرنګه دخپل اولاددنیوي پرورش انتظام کوي او ددوی ددنیوي ارام او راحت خیال ساتي دغه رنګه بلکه تر دې زیات پر دوی باندې لازمه ده چي دخپل اولاد علمي او عملي او اخلاقي تربیت وکړي ځکه چي داولاد سره رښتیا خیر خواهي او ددوی سره اصلي محبت هم دغه دی چي پلار دوی ددایمي اور او عذاب څخه وساتي اودا بیا داولاده سره خیر خواهي او محبت نه دی چي پلار اولاد ددنیا دیخنی او ګرمی څخه ساتي او د آخرت دسخت عذاب څخه دساتلو ددوی هیڅ خیال نه ساتي دپیغمبرانو ددغه طرز عمل څخه یوه بنیادي خبره داهم معلومه سوه چي دکوچنیانو پر مور او پلار باندې دا حق دی چي تر ټولو اول مور او پلار ددوی داصلاح او فلاح خیال وساتي او تر دې وروسته بیا دکوچنیانو لپاره ونورو شیانو ته توجه ورکړي او په داسې کولو کښې ډیرحکمتونه سته: تفصیل په معارف القرآن کښې وګوری.
(معارف القرآن ج ١ ص ٣١٨)

www.jamairahmani.org

وَعِيْسٰى وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ لَا نُفَرِّقُ

وَعِيْسٰى	وَ	مَآ	اُوْتِيَ	النَّبِيُّوْنَ	مِنْ رَّبِّهِمْ	لَا نُفَرِّقُ
او هغه چې عيسى ته يې ورکړې وه	او	پر هغه	چې ورکړل سوي وه	نبيانو ته	د طرفه څخه د رب د دوی	موږ فرق نه کوو

او په هغه (ايمان لرو) چې ورکړل سوی وه عيسى ته او په هغه چې ورکړل سوی وه وپيغمبرانو ته د جانبه د رب د دوی، موږ فرق نه کوو

بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ

بَيْنَ	اَحَدٍ	مِّنْهُمْ	وَنَحْنُ	لَهٗ	مُسْلِمُوْنَ	فَاِنْ	اٰمَنُوْا	بِمِثْلِ
په مينځ	د يوه	د دغه انبياوو	او موږ يو	دغه الله لره	غاړه اېښودونکي	پس که چيرې	ايمان راوړی دوی	په شان

په مينځ کښې د يوه د دغه انبياوو او موږ يو دغه الله لره غاړه اېښودونکي. پس که چيرې ايمان راوړي (دوی) په شان

مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ

مَآ	اٰمَنْتُمْ	بِهٖ	فَقَدِ	اهْتَدَوْا	وَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَاِنَّمَا	هُمْ
د هغه	چې تاسي ايمان راوړی دی	په هغه باندی	پس په تحقيق سره	دوی لاره پيدا کړه	او که چيرې	دوی مخ واړوی	پس بيشکه!	دوی دی

د هغه چې تاسي ايمان راوړی دی په هغه باندی، پس دوی لاره پيدا کړه او که چيرې دوی مخ واړوی (د ايمانه) پس بيشکه! دوی دی

فِيْ شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳۷﴾

فِيْ شِقَاقٍ	فَسَيَكْفِيْكَهُمُ	اللّٰهُ	وَهُوَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ
په مخالفت کښې	پس ژر ده کافي به سی تا لره د دوی د طرفه	الله	او هغه ذات	ښه اوريدونکی	او ښه پيژندونکی دی

په مخالفت کښې نو ژر ده کافي به سی تا لره د دوی د طرفه الله هغه ذات چې اوريدونکی او پيژندونکی دی

صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿۱۳۸﴾

صِبْغَةَ	اللّٰهِ	وَمَنْ	اَحْسَنُ	مِنَ اللّٰهِ	صِبْغَةً	وَّنَحْنُ	لَهٗ	عٰبِدُوْنَ
زموږ قبول دی رنګ	د الله	او څوک دی	ډير ښايسته	تر الله	په اعتبار د رنګ	او موږ يو	دغه الله لره	عبادت کوونکی

زموږ قبول دی رنګ (راکړل سوی د) الله او څوک دی ډير ښايسته تر الله په اعتبار د رنګ او موږ هم دغه الله ته عبادت کوو

قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِي اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ

قُلْ	اَتُحَآجُّوْنَنَا	فِي اللّٰهِ	وَهُوَ	رَبُّنَا	وَرَبُّكُمْ	وَلَنَآ
ووايه	آيا تاسي جګړه کوی زموږ سره	په (دين) د الله کښې	او دغه الله	رب زموږ دی	او رب ستاسی دی	او موږ ته سته

ووايه (ای محمده!) آيا تاسی زموږ سره جګړه کوی په دين د الله کښې، (حال دا چې) دغه الله رب زموږ او رب ستاسی دی، موږ ته سته

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ

فايده: د حضرت يعقوب ؑ او اولاد ته يې په قرآن کريم کښې اسباط وويل او اسباط د سبط جمع ده او د سبط معنى قبيله او جماعت ده دوی ته سبط ددې وجې وايي چې د يعقوب ؑ دوولس زامن وه بيا د هر يوه زوی څخه يو مستقله قبيله جوړه سوه او الله جل جلاله د يعقوب ؑ د زامنو په نسل کښې دومره برکت کښېښوی چې کم وخت د حضرت موسى ؑ په زمانه کښې د مصر څخه دوی ووتله نو د دغو هر يوه ورور د اولادو څخه مستقلي قبيلي جوړې سوي وې او د هرې قبيلې په زرګونو افراد وه او بل برکت الله جل جلاله د يعقوب ؑ په اولاد کښې دا واچوی چې د لسو پيغمبرانو څخه علاوه باقي ټوله نبيان او رسولان دده په اولاده کښې پيدا سوه د بني اسرائيلو څخه علاوه باقي نبيان د حضرت آدم ؑ څخه وروسته په لاندې ډول دي (نوح ؑ شعيب ؑ هود ؑ صالح ؑ لوط ؑ ابراهيم ؑ اسحاق ؑ يعقوب ؑ اسماعيل ؑ او حضرت محمد ﷺ خاتم النبيين دی.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۱ ص ۳۲۱)

www.jamairahmani.org

وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ...فايده داخـلاص حقيقـت : پـه دغـه آيـت کښـي دامـت مسـلمه يـو خصوصيت دا ښوول سوی دی چي امـت مسـلمه يعنـي داشـرف المرسـلين (فـداه نفسـي وامي وابي) دامت سره يو خصوصيت دا ښوول سوی دی چـي امـت مسـلمه دالله ﷻ لپاره مخلص دی . **او اخلاص څه ته وايي ؟ :** داخـلاص معنـی حضـرت جبير ﵁ دا ښوولي ده چي انسـان پـه خپـل ديـن کښـي مخلـص وي او دالله ﷻ سره څوک شريک نـه کـړي او خپـل اعمـال صـالحه د الله ﷻ لپـاره کـوي ددې لپاره يه نه کوي چي خلگو ته يه ورښکاره کـړي يعني دريـا او ښـووني لپـاره او دنامه لپاره نه وي يا خلگ دده مـدح او صفت بيـان کـړي او يـا دده شـکر گذاره سي بعضي بزرگـانو ددين داسـي فرمـايلي دي چـي اخلاص يو داسي عمل دی چـي هغـه نـه ملايکـي پيژندای سي او نـه شـيطان دافقـط يـوازي دالله ﷻ او دبنـده پـه مـابين کښـي رازدی (ميــان عاشــق ومعشـوق رمزيسـت ،کـه کـرام الکـاتبين را هـم خبـر نيسـت) الله ﷻ دي مـوږ او تاسـي تـه پـه ټولـو اعمـالو او افعـالو کښـي اخـلاص رانصـيب کـړي آمــين ثــمّ آمــين.
(معارف القرآن ج١پ١ص ٣٢٦)

اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ

اَعْمَالُنَا	وَلَكُمْ	اَعْمَالُكُمْ	وَنَحْنُ	لَهٗ	مُخْلِصُوْنَ	اَمْ تَقُوْلُوْنَ
عملونه زموږ	او تاسی ته دی	عملونه ستاسی	او موږ يو	دغه الله لره	په اخلاص عبادت کوونکی	آيا وايا ست تاسی

عملونه زموږ او هم سته تاسی لره عملونه ستاسی او (حال دا چي) موږ دغه الله ته په اخلاص عبادت کوو .آيا وايا ست تاسی

اِنَّ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطَ كَانُوْا

اِنَّ	اِبْرٰهٖمَ	وَاِسْمٰعِيْلَ	وَاِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ	وَالْاَسْبَاطَ	كَانُوْا
بيشکه !	ابراهيم	او اسماعيل	او اسحق	او يعقوب	او اولادونه د دوی	وه دوی

چي بيشکه ابراهيم او اسماعيل او اسحاق او يعقوب او اولادونه د دوی دا ټول وه

هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ

هُوْدًا	اَوْ	نَصٰرٰى	قُلْ	ءَاَنْتُمْ	اَعْلَمُ	اَمِ اللّٰهُ	وَمَنْ
يهود	يا	نصارا	ووايه (ای محمده)	آيا تاسی به	ښه پوهيږی	يا الله	او څوک دی

يهود يا نصاریٰ، (نو پس) ووايه ای محمده دوی ته آيا تاسی به ښه پوهيږی او يا که د الله ذات؟ او څوک دی

اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ

اَظْلَمُ	مِمَّنْ	كَتَمَ	شَهَادَةً	عِنْدَهٗ	مِنَ اللّٰهِ	وَمَا	اللّٰهُ	بِغَافِلٍ
لوی ظالم	تر هغه چا	چي پټوی	شاهدی	چي سته دده سره	د طرفه د الله	او نه دی	الله	بی خبره

لوی ظالم تر هغه چا چي پټوی شاهدی چي سته د ده سره د طرفه د الله (په تورات کښی) ، نه دئ الله بی خبره

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ

عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ	تِلْكَ	اُمَّةٌ	قَدْ	خَلَتْ	لَهَا	مَا	كَسَبَتْ
د هغه څخه	چي تاسی يئ کوی	دغه وه	يوه ډله	په تحقيق سره	چي تيره سول	سته دوی ته	هغه څه	چي کړی وه دوی

د هغه څخه چي تاسی يئ کوی. دغه وه يوه ډله په تحقيق سره چي تيره سول (پس) سته دوی لره هغه څه چي کړی وه دوی

وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤١﴾ ع ١٦ ١٢ ١٦

وَلَكُمْ	مَّا	كَسَبْتُمْ	وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ	عَمَّا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ
او سته تاسی لره	هغه څه	چي تاسی کړی دی	او پوښتنه به ونه سی ستاسی څخه	د هغه څه په باره کی	چي وه دوی	کوله يې

او سته تاسی لره هغه څه چي تاسی کړی دی او پوښتنه به ونه سی ستاسی څخه د هغه څه په برابر چي کوله دوی

www.jamairahmani.org

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ

سَيَقُوْلُ	السُّفَهَآءُ	مِنَ	النَّاسِ	مَا وَلّٰىهُمْ	عَنْ
ژر ده چې وبه وايي	ناپوهان	د	خلکو څخه	څه شي وګرځول دوی	د

ژر ده چې وبه وايي ناپوهان دخلګو څخه چې څه شي وګرځول دوی (رسول او مؤمنان) د

قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ

قِبْلَتِهِمُ	الَّتِيْ	كَانُوْا	عَلَيْهَا	قُلْ	لِّلّٰهِ	الْمَشْرِقُ
قبلې څخه د دوی	هغه (قبله)	چې وه دوی	پرهغې باندې	ووايه (اې محمده)	خاص الله لره دی	مشرق

د دوی د قبلې څخه هغه قبله چې وه دوی پرهغې باندې، ووايه (اې! محمده دوی ته) چې خاص الله لره دی مشرق

وَالْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾

وَالْمَغْرِبُ	يَهْدِيْ	مَنْ يَّشَآءُ	اِلٰى	صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ
او مغرب	هدایت کوی	هغه چا ته چې اراده وکړی	وطرفته	دلارې	سیده

او مغرب (بلکه ټول جهان) هدایت کوی هغه چاته چې اراده (ده هدایت یې) وکړی، وطرفته د سمې لارې (چې اسلام دی)

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى

وَكَذٰلِكَ	جَعَلْنٰكُمْ	اُمَّةً	وَّسَطًا	لِّتَكُوْنُوْا	شُهَدَآءَ	عَلَى
او هم داسې	ګرځولې یاست موږ تاسې	یو ډله	غوره	چې سئ تاسې	شاهدان	پر

او هم داسې (چې هدایت مو درته کړی دی) ګرځولې یاست موږ تاسې یوه ډله غوره د پاره د دې چې سئ تاسې شاهدان پر

النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ؕ وَمَا جَعَلْنَا

النَّاسِ	وَيَكُوْنَ	الرَّسُوْلُ	عَلَيْكُمْ	شَهِيْدًا	وَ	مَا جَعَلْنَا
خلګو باندې	او چې سی	رسول	پرتاسې باندې	شاهد	او	نه ده ګرځولې موږ

پر نور خلګو (د جزاء په ورځ) او چې سی محمد رسول الله پر تاسې باندې (اې محمدی امته!) شاهد، او نه ده ګرځولې موږ

الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ

الْقِبْلَةَ	الَّتِيْ	كُنْتَ	عَلَيْهَآ	اِلَّا لِنَعْلَمَ	مَنْ
قبله	هغه (قبله)	چې وې ته	پر هغې باندې	مګر چې موږ معلوم کړو	هغه څوک

دا قبله هغه چې وې ته (پخوا له هجرت څخه) په هغې باندې، مګر (ګرځولې مو ده) د پاره د دې چې معلوم کړو هغه څوک

مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ
دقبلې لفظي معنی دمخ کولو دطرف راڅرخي: او دا ظاهره ده چې د مومن دمخ لپاره طرف په هر عبادت کښې دیوه الله ﷻ **لاشریک له** طرف وي او د الله ﷻ ذات دمشرق او مغرب شمال او جنوب دپابندیو او اړخونو څخه لوړ او پاک دی دهغه ذات په کوم خاص طرف کښې نه دی ددې حقیقي طبعي اثر خو دا وو چې یو عبادت کوونکی کم خاص طرف ته دمخ کولو پابیند نه وي چې کم طرف ته یې زړه غوښتلای په لمانځه کښې یه هغه طرف ته مخ کولای لیکن دالله ﷻ یوه بل حکمت بیا دا وغوښتله چې دټولو عبادت کوونکو مخ دي یوه طرف ته وي او دا حکمت دادی چې دعبادت ډیر قسمونه دي بعضي داسې عبادتونه چې سړی یه یوازې کوي او ځیني داسې دي چې یوازې یه نه کوي بلکه دنورو په ملګرتیا کښې یه کوي په دې کې مسلمانانو ته په ګډه دژوند کولو آداب ښوول هم مقصود دي او دا هم بالکل ښکاره ده چې په ګډه دژوند تیرولو دنظام لپاره تر ټولو لوی بنیادي اصل دادی چې په ډیرو افرادو کښې یووالی او وحدت وي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲)

www.jamairahmani.org

يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ ؕ وَاِنْ كَانَتْ

يَّتَّبِعُ	الرَّسُوْلَ	مِمَّنْ	يَّنْقَلِبُ	عَلٰى	عَقِبَيْهِ	وَاِنْ	كَانَتْ
چي پيروي كوي	د رسول	د هغه چاڅخه	چي بيرته ګرځي	پر	پوندو خپلو	او بيشكه!	دى دا (ګرځيدل)

چي پيروي كوي د رسول د هغه چا څخه چي بيرته ګرځي پر پوندو خپلو (كفرته) ، او بيشكه دى دا ګرځيدل

لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ

لَكَبِيْرَةً	اِلَّا عَلَى	الَّذِيْنَ	هَدَى	اللّٰهُ	وَمَا كَانَ	اللّٰهُ
خامخا درانه	مګر نه دى پر	هغو كسانو	چي هدايت كړى دى	الله	او نه دئ	الله

خامخا ډير درانه مګر نه دى (درانه) هغو كسانو ته چي سمه لار ورته ښوولى ده الله او نه دئ الله

لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۳﴾

لِيُضِيْعَ	اِيْمَانَكُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	بِالنَّاسِ	لَرَءُوْفٌ	رَّحِيْمٌ
چي ضايع كړي	ايمان ستاسي	بيشكه!	الله	پر خلګو باندي	ډير مهربان	پوره رحم لرونكى دى

چي ضايع كړي ايمان (لمونځ) ستاسي، (اى! مؤمنانو) بيشكه الله پر خلګو باندي ډير مهربانه او پوره رحم لرونكى ذات دى

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً

قَدْ نَرٰى	تَقَلُّبَ	وَجْهِكَ	فِي السَّمَآءِ	فَلَنُوَلِّيَنَّكَ	قِبْلَةً
په تحقيق سره وينو موږ	ګرځول	د مخ ستا	په (لورى) د آسمان	پس موږ به وګرځوو تا	قبلې هغې ته

په تحقيق سره وينو موږ (بيا بيا) ګرځول د مخ ستا په (لورى) د آسمان پس وبه ګرځوو موږ خامخا تا قبلې هغې ته

تَرْضٰىهَا ۠ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ

تَرْضٰىهَا	فَوَلِّ	وَجْهَكَ	شَطْرَ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ
چي خوښوى يې ته	پس وګرځوه	مخ خپل	په لورى	د مسجد الحرام (كعبې ته)

چي ته يې خوښوى، پس وګرځوه مخ خپل په لورى (وطرفته) د مسجد الحرام (كعبې ته په لمانځه كښې)

وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ وَاِنَّ

وَحَيْثُ مَا	كُنْتُمْ	فَوَلُّوْا	وُجُوْهَكُمْ	شَطْرَهٗ	وَاِنَّ
او په هر هغه ځاى كښې	چي ياست تاسي	پس وګرځوئ	مخونه خپل	په لورى د هغې	او بيشكه!

او په هر هغه ځاى كښې چي ياست تاسي پس وګرځوئ مخونه خپل (په لمانځه كښې) په لورى د هغې (كعبې) او بيشكه!

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ..دنبي كريم ﷺ محبت دكعبې شريفي

سره : ددې آيت په اولنى جمله كښې دنبي كريم ﷺ كعبې شريفي ته په لمانځه كښې دمخ كولو دشوق ذكر دى ددې شوق مختلفي وجې بيان سوي دي او په دې ټولو وجو كي ديو بل سره څه ټكر هم نسته نو دا ټولي ددې شوق وجې كيداى سي مثلا دا چي نبي كريم ﷺ دپيغمبر كيدلو څخه مخكي په خپل طبيعت او فطرت سره دملت ابراهيمي تابع وو او دپيغمبر كيدلو څخه وروسته هم دده شرافت دملت ابراهيمي مطابق وګرځول سو او دحضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام قبله كعبه وه نو په دې وجه دده ده زړه ارزو داوه چي دده او دمسلمانانو قبله دي دغه كعبة الله مقرره سي دا وجه هم وه چي دعربو قبيلې هم په ژبه خو ملت ابراهيمي مني او ددې دتابعدارى دعوه يې كوله دمسلمانانو قبله په كعبه كيدلو كي ددوى اسلام ته دمائل كيدلو اميد ووچي مسلمانان به سي پر هر حال دنبي كريم ﷺ داده دزړه ارزو وه چي د مسلمانانو قبله دي بيت الله كعبه مباركه مقرره سي (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۱)

www.jamairahmani.org

الَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ لَيَعۡلَمُوۡنَ اَنَّهُ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّهِمۡ

الَّذِيۡنَ	اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ	لَيَعۡلَمُوۡنَ	اَنَّهُ	الۡحَقُّ	مِنۡ	رَّبِّهِمۡ
هغه کسان	چي ورکړل سوی دی دوی ته کتاب	خامخا پوهيږي دوی	بيشکه! دا	حق دی	د طرفه	د رب د دوی

هغه کسان چي ورکړل سوئ دي دوی ته کتاب (پس) خامخا پوهيږي دوی چي بيشکه ! داحق دی، دطرفه څخه د رب د دوی

وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٤٤﴾ وَلَئِنۡ اَتَيۡتَ الَّذِيۡنَ

وَمَا	اللّٰهُ	بِغَافِلٍ	عَمَّا	يَعۡمَلُوۡنَ	وَلَئِنۡ	اَتَيۡتَ	الَّذِيۡنَ
او نه دی	الله	بې خبره	د هغه څخه	چي کوئ يي تاسي	او که چيری	راوړې ته	هغو کسانو ته

او نه دی الله غافل (بې خبره) دهغه کارو څخه چي کوی يي دوی. او قسم دی خامخا که چيری راوړې ته هغو کسانو ته

اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوۡا قِبۡلَتَكَ ۚ وَمَاۤ اَنۡتَ

اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ	بِكُلِّ اٰيَةٍ	مَّا تَبِعُوۡا	قِبۡلَتَكَ	وَمَاۤ اَنۡتَ
چي ورکړل سوئ دي دوی ته کتاب	په هر قسم دليل (معجزه) سره	نه به سي تابع دوی	د قبلې ستا	او نه يي ته

چي ورکړل سوئ دي دوی ته کتاب په هر قسم دليل سره (پس) نه به سي تابع دوی د قبلې ستا او نه يي ته (ای! محمده)

بِتَابِعٍ قِبۡلَتَهُمۡ ۚ وَمَا بَعۡضُهُمۡ بِتَابِعٍ قِبۡلَةَ بَعۡضٍ

بِتَابِعٍ	قِبۡلَتَهُمۡ	وَ	مَا بَعۡضُهُمۡ	بِتَابِعٍ	قِبۡلَةَ	بَعۡضٍ
تابع کيدونکئ	د قبلې د دوی	او	نه دی ځينې د دوی	تابع کيدونکی	د قبلې	د ځينو

تابع کيدونکئ د قبلې د دوی او نه دی ځينې د دوی تابع کيدونکی د قبلې د ځينو (نورو)

وَلَئِنِ اتَّبَعۡتَ اَهۡوَآءَهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الۡعِلۡمِ ۙ

وَلَئِنِ	اتَّبَعۡتَ	اَهۡوَآءَهُمۡ	مِّنۡۢ بَعۡدِ مَا	جَآءَكَ	مِنَ الۡعِلۡمِ
او که چيری	تابع سې ته	د آرزوګانو د دوی	وروسته تر هغه	چي راغلی دی تاته	د علمه څخه

او که چيری خامخا (بالفرض) تابع سې ته د آرزوګانو د دوی وروسته تر هغه چي راغلی دی تاته دعلمه (چي وحی دی) څخه

اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿١٤٥﴾ اَلَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ

اِنَّكَ	اِذًا	لَّمِنَ	الظّٰلِمِيۡنَ	اَلَّذِيۡنَ	اٰتَيۡنٰهُمُ
بيشکه! ته	دغه وخت	خامخا يې	د ظالمانو څخه	هغه کسان	چي ورکړی دی مونږ دوی ته

بيشکه! ته به په دغه وخت کښې خامخا يې د ظالمانو څخه. هغه کسان چي ورکړی دی مونږ دوی ته

وَمَا بَعۡضُهُمۡ بِتَابِعٍ قِبۡلَةَ بَعۡضٍ.. اسلامي شريعت تر قيامته پوري دراتلونکو انسانانو لپاره دی: نو په دې وجه شرعي حکمونه دژوند په هره څانګه کښي دومره آسانه مقرر سوي دي چي په هرکلي او ځنګل غر او جزيره کښي او سيدونکي مسلمانان په دې باندي په خپلي مشاهدې سره عمل وکړلای سي اوپه هيڅ مرحله کښي درياضي د باريکو حسابونو يا د اصطرلاب او غيره آلاتو ضرورت پاته نه سي په مشرقي وطنونو کي داوسيدونکو لپاره تراته خلويښتو درجو پوري دلمر دډوبيدو طرف قبله مقرره سويده که په دې کښي دپنځو يا دلسو درجو فرق راسي نو په دې سره په لمانځه کښي فرق نه راځي او دنبي کريم ﷺ دحديث څخه ددې نور و وضاحت کيدای سي نبي کريم ﷺ فرمايي (مابين المشرق والمغرب قبلة) دمشرق او مغرب په مابين کښي قبله ده دنبي کريم ﷺ دا وينا مبارکه د مديني منورې دخلګو لپاره وه څکه چي دمديني منورې دخلګو قبله دمشرق او مغرب په مابين کي دسهيل پر طرف وه چي دمسجد حرام پر طرف مخ کول کافي دي دې حديث ګواکي دشطر المسجد الحرام دلفظ تشريح کړيده (معارف القرآن ج ١ پ ٢ ص ٢٣)

www.jamairahmani.org

الۡكِتٰبَ يَعۡرِفُوۡنَهٗ كَمَا يَعۡرِفُوۡنَ اَبۡنَآءَهُمۡ ؕ وَاِنَّ

الۡكِتٰبَ	يَعۡرِفُوۡنَهٗ	كَمَا	يَعۡرِفُوۡنَ	اَبۡنَآءَهُمۡ	وَاِنَّ
کتاب	پیژنی دوی هغه	لکه څنګه چې	پیژنی دوی	ځامن خپل	او بیشکه!

کتاب، پیژنی دوی هغه (محمد او اسلام د دوی د کتابو په تعریف) لکه څنګه چې پیژنی دوی ځامن خپل او بیشکه

فَرِيۡقًا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُوۡنَ الۡحَـقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۴۶﴾ اَلۡحَـقُّ

فَرِيۡقًا	مِّنۡهُمۡ	لَيَكۡتُمُوۡنَ	الۡحَـقَّ	وَهُمۡ	يَعۡلَمُوۡنَ	اَلۡحَـقُّ
یوه ډله	د دوی څخه	خامخا پټوی	حق	او حال دا چې دوی	پوهیږی	حق (ثابت دی)

یوه ډله د دوی څخه (کتابیانو) خامخا پټوی حق (وصف د محمد) حال دا چې دوی پوهیږی. حق ثابت دی

مِنۡ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ ﴿۱۴۷﴾ وَلِكُلٍّ

مِنۡ رَّبِّكَ	فَلَا تَكُوۡنَنَّ	مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ	وَلِكُلٍّ
د طرفه د رب ستا سو	پس مه کیږه ته	د شک کوونکو څخه	او د هریوه (امت) دپاره

د طرفه څخه د رب ستا پس مه کیږه ته د شک کوونکو څخه. او هر یوه (امت) لره

وِّجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّيۡهَا فَاسۡتَبِقُوا الۡخَيۡرٰتِ ؕ اَيۡنَ مَا

وِّجۡهَةٌ	هُوَ مُوَلِّيۡهَا	فَاسۡتَبِقُوا	الۡخَيۡرٰتِ	اَيۡنَ مَا
یوه قبله ده	هغه (امت) مخ کرځوونکئ دی هغې ته	پس تاسی مخته سئ	نیکیو ته	هر چیرې چې

یوه قبله ده، چې هغه امت مخ کرځوونکئ دی هغې (قبلې) ته، نو تاسی مخته سئ (یو تربله) نیکیو ته هر چیرې چې

تَكُوۡنُوۡا يَاۡتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيۡعًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

تَكُوۡنُوۡا	يَاۡتِ بِكُمُ	اللّٰهُ	جَمِيۡعًا	اِنَّ اللّٰهَ	عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ
یاست (تاسی)	رابه ولی تاسی	الله	ټوله	بیشکه! الله	پر هر شئ باندی

یاست تاسی، رابه ولی تاسی الله ټوله (په قیامت کښی دپاره د جزاء د اعمالو)، بیشکه! چې الله په هر شئ باندی

قَدِيۡرٌ ﴿۱۴۸﴾ وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ

قَدِيۡرٌ	وَمِنۡ حَيۡثُ	خَرَجۡتَ	فَوَلِّ	وَجۡهَكَ	شَطۡرَ
ښه قدرت لرونکی دی	او د هر ځای څخه	چې ووزی ته (محمده!)	پس وګرځوه ته	مخ خپل	په لوری

ښه قادر دی. او له هر ځایه څخه چې ووزی ته (محمده!) پس وګرځوه ته مخ خپل په لوری

يَعۡرِفُوۡنَهٗ كَمَا يَعۡرِفُوۡنَ اَبۡنَآءَهُمۡ ؕ يهودو نبي كريم ﷺ پيژندی: په دې آيت کښي د رسول کريم ﷺ په حيثيت د رسول پيژندګلوی د خپلو زامنو د پيژندګلوی سره تشبيه ورکول سويده هغه داسي چې دا خلګ لکه څنګه چې خپل زامن په ښه او مکمله طريقه سره پيژني او په دې پيژند ګلوی کي دوی ته څه قسم اشتباه او شک نه راځي دغه رنګه په تورات او انجيل کښي چې کم زيری او واضحي نښي نښانې د نبي کريم ﷺ راغلي دي د هغه په ذريعه دوی رسول ﷺ په يقين سره پيژني او انکار خو صرف د عناد په وجه کوي دلته دا خبره هم د فکر کولو وړده چې د پوره او مکمل پيژندګلوی لپاره د زامنو مثال ورکول سوی دی د مور او پلار مثال نه دی ورکول سوی او حال دا دی چې سړی خپل مور او پلار هم ښه پيژني وجه د دې خبري داده چې د زامنو پيژندل د مور او پلار د پيژندلو په نسبت ډير زيات دی ځکه چې انسانان خپل زامن د پيدا کيدلو د وخت څخه په خپلو لاسونو پالی د دوی د بدن داسي حصه کيدای نه سي چې هغه د مور او پلار د نظر څخه غايبه پاته سوی وي الخ.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۷)

ع ۱۷

www.jamairahmani.org

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَاِنَّهٗ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَمَا اللّٰهُ

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	وَاِنَّهٗ	لَلْحَقُّ	مِنْ	رَّبِّكَ	وَ	مَا	اللّٰهُ
د مسجد الحرام	او بیشکه! دا گرځیدل خامخا	حق دی	د طرفه	درب ستا	او	نه دی	الله

د مسجد حرام (په لمانځه کښې) او بیشکه! دا مخ گرځیدل کعبې ته خامخا حق دی، د طرفه څخه د رب ستا او نه دی الله

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۹﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ

بِغَافِلٍ	عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ	وَمِنْ حَيْثُ	خَرَجْتَ	فَوَلِّ
بی خبر	دهغه څخه	چې تاسې يې کوئ	او د هر ځای څخه	چې ووزې ته (محمده!)	نو وگرځوه ته

بی خبر د هغه شئ څخه چې تاسې يې کوئ. او د هر ځایه (په هر وخت کښې) چې ووزې ته (ای! محمده!) نو وگرځوه ته

وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ

وَجْهَكَ	شَطْرَ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	وَحَيْثُ مَا	كُنْتُمْ
مخ خپل	په لوری	د مسجد الحرام	او په هر هغه ځای کښې	چې یاست تاسې

مخ خپل په لوری د مسجد الحرام (په لمانځه کښې) او په هر ځای (او هر وخت کښې) چې یاست (ای! مؤمنانو)

فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ

فَوَلُّوْا	وُجُوْهَكُمْ	شَطْرَهٗ	لِئَلَّا يَكُوْنَ	لِلنَّاسِ
پس وگرځوی	مخونه خپل	په لوری د هغې (کعبې)	د دې دپاره چې نه وی	خلکو ته

نو وگرځوئ (تاسې) مخونه خپل په لوری د هغې (کعبې) د دې دپاره چې نه وی خلکو ته (یهودانو او مشرکانو ته)

عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ ۚ فَلَا تَخْشَوْهُمْ

عَلَيْكُمْ	حُجَّةٌ	اِلَّا	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	مِنْهُمْ	فَلَا تَخْشَوْهُمْ
پر تاسو	اعتراض	مگر	دهغو کسانو	چې ظالمان دی	له دوی څخه	پس مه بیریږئ د دوی څخه

پر تاسې هیڅ اعتراض مگر (اعتراض) د هغو کسانو چې ظالمان دی له دوی څخه نو مه بیریږئ له (اعتراضو) د دوی څخه

وَاخْشَوْنِيْ ۚ وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾

وَاخْشَوْنِيْ	وَلِاُتِمَّ	نِعْمَتِيْ	عَلَيْكُمْ	وَلَعَلَّكُمْ	تَهْتَدُوْنَ
او وبیریږئ زما څخه	او دپاره د دې چې زه پوره کړم	نعمت زما	پر تاسو باندی	او دپاره د دې چې تاسې	لار پیدا کړئ

او وبیریږئ زما څخه او دپاره د دې چې زه پوره کړم نعمت خپل پر تاسو باندی، او دپاره د دې چې تاسې لار پیدا کړئ.

لِـئَلَّا يَكُـوْنَ لِلنَّـــاسِ عَلَـيْكُمْ حُجَّـةٌ ۙ. يعنـــي کعبې ته مخ گرځول ددې لپاره دي چې په تورات کښې ذکر سوي وه : چې د حضرت ابراهيم عليه السلام قبله بيت الحرام دی او دآخري زماني نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته به هم دهغه پر لوري دمخ گرځولو حکم کيږي که په محمد صلى الله عليه وسلم باندي دقبلې د تحويل حکم کيږي نو يهوديانو به خا مخا پر دوی الزام اړاوه له بل طرفه به دمکې مشرکينو داسي ويل دحضرت ابراهيم عليه السلام قبله خو کعبه نه وه دا نبي چي دابراهيمي دين دعواه کوي نود هغه دقبلې څخه ولي مخالفت کوي نو اوس چې دقبلې دگرځيدلو حکم راغی دوی دواړو فرقوته سوال او اعتراض پاته نه سو مگر بې انصافه خلگ اوس هم پر تاسي باندي په څه ناڅه الزام اړولو کښي بوخت دي مثلا قريشو به ويل چي مسلمانانو ته زموږ دقبلې حقانيت اوس ورښکاره سو چي غور يي وکړی او آهسته آهسته به زموږ نور حکمونه هم مني نو الله جل جلاله فرمايي چي دداسي بې انصافه خلگو داعتراضاتو هيڅ پرواه هم مه کوی او تل زما دحکمونو تابع اوسی.

(تفسير کابلي ج۱ ص۱۰۴)

www.jamairahmani.org

فَــاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُــرْكُمْ

دذکر اصلي معنی يادول دي چي دهغه تعلق دزړه سره دی: پـه ژبـي سـره ذکـر کولوتـه هم ذکـر پـه دې وجـه ويـل کيـږي چي ژبـه دزړه ترجمـاني کـوي او ددې څخه معلومه سوه چي دژبـي ذکـر هغـه وخت معتبـر دی چي دهغـه سـره پـه زړه کـي هـم دالله ﷻ يـادول وي مولانـا رومـي رحمة الله عليه په دې اړوند فرمايي **(برزبـان تسـبيح در دل گاوخر ــ اين چنين تسبيح کي دارد اثـر)** لـيکن ددې سره دا هم ياد لرل پکار دي چي که چيري يـو سـړی پـه ژبه سره په ذکر او تسـبيح کـي مشـغول وي نـو داهـم دفايدې څخه خالي نه دی حضرت ابو عثمان رحمة الله عليه تـه چا ددغـه رنـگ حالـت شـکايت وکـړی چي مـوږ خـو پـه ژبـه بانـدي ذکـر کوو لـيکن پـه زړو کـښـي ددې هـيڅ قسم خوږوالی نـه احساسـوو ده ورتـه وفرمايل پر دې باندي هم دالله شـکر کـوه چـي هغـه ستا يو اندام يعني ژبه پـه خپـل طاعـت کـښـي اختـه کړيـده او دالله ﷻ دذکـر فضيلتونه خو بيخي ډير دي او دايو لـوی فضيلت يه تر ټولوغټ دی چي کم بنـــده الله ﷻ يـــادوي الله ﷻ هغـه لـره يـادوي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۳۲)

كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ

كَمَآ اَرْسَلْنَا	فِيْكُمْ	رَسُوْلًا	مِّنْكُمْ	يَتْلُوْا	عَلَيْكُمْ
لکه څنگه چی ليږلی دی موږ	په تاسی کښی	رسول	ستاسو څخه	چی ووايی	تاسو ته

لکه څنگه چی ليږلی دی موږ په تاسی کښی رسول (له جنس) ستاسو څخه (لپاره داتمام دنعمت خپل) چی ووايی تاسو ته

اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

اٰيٰتِنَا	وَيُزَكِّيْكُمْ	وَيُعَلِّمُكُمُ	الْكِتٰبَ	وَالْحِكْمَةَ
اياتونه زموږ	او پاکوی تاسی	او ښيئ تاسو ته	کتاب	او احکام

اياتونه (قرآن) زموږ او پاکوی تاسی (له کفره) او ښيئ تاسو ته کتاب (قرآن او حلال او حرام) او احکام (حکمونه)

وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ فَاذْكُرُوْنِيْٓ

وَيُعَلِّمُكُمْ	مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا	تَعْلَمُوْنَ	فَاذْكُرُوْنِيْٓ
او ښيئ تاسو ته	هغه چی نه وئ تاسی	چی پری پوهيدای	پس ياد کړی (تاسی) ما

او ښيئ تاسوته هغه شيان چی نه واست تاسی په هغه باندی پوهيدای. نو ياد کړی تاسی ما (په قلبی او بدنی طاعت سره)

ع ۱۸ ۵ ۲ اَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿۱۵۲﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اَذْكُرْكُمْ	وَاشْكُرُوْا لِيْ	وَ	لَا تَكْفُرُوْنِ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
زه به هم ياد کړم تاسی	او شکر وباسئ ما ته	او	مه کافران کيږی پر ما باندی	ای!	هغه کسانو

(نو) زه به هم ياد کړم تاسی (په ثواب سره) او شکر وباسئ! ماته، او مه کافران کيږی پر ما باندی. ای! هغه کسانو

اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اٰمَنُوا	اسْتَعِيْنُوْا	بِالصَّبْرِ	وَالصَّلٰوةِ	اِنَّ	اللّٰهَ
چی ايمان يی راوړی دی	کومک وغواړئ	په صبر سره	او په لمانځه سره	بيشکه!	الله

چی ايمان يی راوړی دی کومک (مرسته) وغواړئ (تاسی د الله څخه) په صبر سره او په لمانځه سره بيشکه چی الله

مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

مَعَ الصّٰبِرِيْنَ	وَلَا تَقُوْلُوْا	لِمَنْ	يُّقْتَلُ	فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ
د صبر کوونکو سره دی	او مه وايا ست تاسی	هغه چاته	چی ووژل سی	په لاره	د الله کښی

د صبر کوونکو سره دی. او مه وايا ست تاسی هغه چاته چی ووژل سی په لاره دالله (په جهاد کښی)

www.jamairahmani.org

اَمۡوَاتٌ ؕ بَلۡ اَحۡيَآءٌ وَّلٰكِنۡ لَّا تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾ وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ

اَمۡوَاتٌ	بَلۡ	اَحۡيَآءٌ	وَّلٰكِنۡ	لَّا تَشۡعُرُوۡنَ	وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ
چې مړه دي	بلکه	ژوندي دي	و ليکن	تاسې نه پوهيږئ	او خامخا موږ امتحانوو تاسې

چې مړه دي (دوی مړه نه دي) بلکه ژوندي دي وليکن تاسې نه پوهيږئ (د دوی په ژوند). او خامخا موږ ازمويو تاسې

بِشَيۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَالۡجُوۡعِ وَنَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ

بِشَيۡءٍ	مِّنَ الۡخَوۡفِ	وَالۡجُوۡعِ	وَنَقۡصٍ	مِّنَ الۡاَمۡوَالِ
په يوه شئ	(د دښمن) د ويرې	او د لوږې (قحط)	او د کموالي	د مالونو (په راز راز آفتونو سره)

په يوه شئ چې هغه عبادت دی، (د دښمن) په ويرې او په لوږې (قحطی) سره، او د کموالي د مالونو (په راز راز آفتونو سره)

وَالۡاَنۡفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيۡنَ ۙ﴿۱۵۵﴾

وَالۡاَنۡفُسِ	وَالثَّمَرٰتِ	وَبَشِّرِ	الصّٰبِرِيۡنَ
او په نفسونو (په قتل، مرض او نورو)	او په ميوو (په آفتونو سره)	او زيرئ ورکړه	صبر کوونکو ته

او د نفسونو (په قتل، مرض) او د ميوو (په آسمانی او ځمکنی آفتونو سره) او زيرئ ورکړه صبر کوونکو ته (په جنت سره)

الَّذِيۡنَ اِذَآ اَصَابَتۡهُمۡ مُّصِيۡبَةٌ ۙ قَالُوۡۤا اِنَّا لِلّٰهِ

الَّذِيۡنَ	اِذَآ	اَصَابَتۡهُمۡ	مُّصِيۡبَةٌ	قَالُوۡۤا	اِنَّا	لِلّٰهِ
هغه کسان	کله چې	وررسيږي دوی ته	څه مصيبت	وايي دوی	بيشکه! موږ	د الله يو

هغه کسان (دی) کله چې وررسيږي دوی ته مصيبت، نو وايي دوی بيشکه! موږ (مملوک) د الله يو

وَاِنَّاۤ اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ ﴿۱۵۶﴾ اُولٰٓـئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوٰتٌ مِّنۡ

وَاِنَّاۤ	اِلَيۡهِ	رٰجِعُوۡنَ	اُولٰٓـئِكَ	عَلَيۡهِمۡ	صَلَوٰتٌ	مِّنۡ
او بيشکه! موږ	هم ده ته (الله ته)	بيا ورتلونکي يو	دغه کسان	پر هم دوی دی	عنايتونه (بخښنې)	د طرف څخه

او بيشکه! موږ هم ده (الله) ته بيا ورتلونکي يو (په آخرت کښې). دغه کسان پر هم دوی دی مهربانيانې د طرف څخه

رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٌ ۚ وَاُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۵۷﴾ اِنَّ الصَّفَا

رَّبِّهِمۡ	وَرَحۡمَةٌ	وَاُولٰٓـئِكَ	هُمُ	الۡمُهۡتَدُوۡنَ	اِنَّ	الصَّفَا
د رب د دوی	او رحمت دی	او دغه کسان	هم دوی دی	سمه لار پيدا کوونکی	بيشکه!	صفا

د رب د دوی او مهربانی ده، او دغه کسان هم دوی دی سمه لار پيدا کوونکی. بيشکه ! صفا

وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيۡنَ دالله ﷻ دطرفه څخه په بندګانو چې کم امتحانونه کيږي دهغه حقيقت او بيان

د(واذبتلى ابراهيم ربه) په تفسيرکښي تير سوی دی او دحوادثو او دغمو دراتلو څخه مخکي ددوی خبر ورکولو فايده داسوه چې صبر کول آسانه کيږي او که چيري داسي نه سي نو په ناڅاپه صدمې سره زياته پريشاني راځي او دا خطاب ټول امت ته دی نو ټولو ته پوهيدل په کار دي چې دنيا د تکليفونو ځای دی او په دې وجه ددې ځای حوادث عجيب او غريب بايدونه ګڼل سي که داسي وي نو بې صبري به راځي او کله چې داخلګ يوازې دصبر په عمل کښي سره مشترک دي ټوله نو په دې وجه ددوی بدله هم مشترکه سوه چې هغه عام رحمت دی او ددغه عام رحمت وعده يوازې پر صبر باندي سويده او هر کله چې دهر صبر کوونکي دصبر مقدار جلا جلا دی نو ددغه جلاوالي بدله به هم په جلا جلا مهربانيو سره وي لکه په دنيا کي چې دانعامونو دورکولو پر موقع دخوراک دعوت عام وي ليکن روپی او جوړې هر يوه ته دخدمت او حيثيت پر قدر ورکول کيږي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۳۹)

www.jamairahmani.org

وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ

وَالْمَرْوَةَ	مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ	فَمَنْ	حَجَّ	الْبَيْتَ	اَوِ اعْتَمَرَ
او مروه	له نخښو څخه دالله دى	پس هغه څوک	چې حج وکړی	د بيت (الله تعالى)	يا عمره وکړی

او مروه (چې په مکه کښې دوه غرونه دى) د نخښو (د عبادته) څخه د الله دى، پس هغه څوک چې حج وکړی د بيت الله يا د عمرى

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ وَمَنْ تَطَوَّعَ

فَلَا	جُنَاحَ	عَلَيْهِ	اَنْ	يَّطَّوَّفَ	بِهِمَا	وَمَنْ	تَطَوَّعَ
پس نشته	ګناه	پر ده باندى	دا چې	طواف وکړی	په دى دواړو	او هغه څوک	چې پخپله خوښه وکړی

پس نشته هيڅ ګناه پر ده باندى (په دى کښې) دا چې طواف وکړی په دى دواړو، او هغه څوک چې وکړی پخپله خوښه

خَيْرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ

خَيْرًا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	شَاكِرٌ	عَلِيْمٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يَكْتُمُوْنَ
نيکى	پس بيشکه!	الله	شکر قبلوونکى	ښه عالم دى	بيشکه!	هغه کسان	چې پټوى

نيکى پس بيشکه! الله شکر قبلوونکى (ډير قدر دان) ښه عالم دى. بيشکه! هغه کسان چې پټوى (دوى د خلکو څخه)

مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ

مَآ اَنْزَلْنَا	مِنَ الْبَيِّنٰتِ	وَالْهُدٰى	مِنْۢ بَعْدِ	مَا	بَيَّنّٰهُ
هغه چې نازل کړی دی موږ	د ښکاره وو (دلايلو) څخه	او د هدايت (خبرى)	وروسته تر	هغه	چې بيان کړی دی موږ هغه

هغه شئ چې نازل کړی دی موږ د ښکاره وو (احکامو) څخه، او د هدايت (خبرى) وروسته تر هغه چې بيان کړی دی موږ هغه

لِلنَّاسِ فِى الْكِتٰبِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ

لِلنَّاسِ	فِى الْكِتٰبِ	اُولٰٓئِكَ	يَلْعَنُهُمُ	اللّٰهُ	وَيَلْعَنُهُمُ
د پاره د خلکو	په کتاب کښې	دغه کسان چې دی	لعنت کوی پر دوی باندى	الله	او لعنت کوی پر دوی باندى

د پاره د خلکو (بنی اسرايلو) په کتاب (تورات) کښې، دغه کسان چې د ى لعنت کوی پر دوی باندى الله او لعنت کوی پر دوی باندى

اللّٰعِنُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا

اللّٰعِنُوْنَ	اِلَّا	الَّذِيْنَ	تَابُوْا	وَاَصْلَحُوْا	وَبَيَّنُوْا
لعنت ويونکی	مګر	هغه کسان چې	توبه يې وکړل	او نيک يې کړی عمل خپل	او بيان يې کړه (حقه خبره)

لعنت ويونکی، مګر هغه کسان چې بيرته وګرځيدل (له شرکه) او نيک يې کړی عمل خپل او بيان يې کړه (حقه خبره)

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا.. دځينو

الفاظو تشريح: شعائر الله **شعائر جمع دشعيرة ده** او دشعيرة معنى ده علامه او دشعائر الله څخه مراد هغه عملونه دي چې کم الله جَلَّ جَلَالُهُ ددين دپاره علامې مقرري کړي دي: دحج لفظي معنى ده قصد کول او دقرآن کريم او سنت رسول په اصطلاح او ژبه کښي کي دخانه کعبې زيارت کول او هلته خاص عملونو اداکولو ته حج ويل کيږي. **دصفاء او مروه په مابين کښي سعى کول دامام ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مذهب کښي واجب ده:** دعمرې لفظي معنى ده زيارت کول او دشرع په ژبه کښي مسجد حرام ته حاضريدل او پر هغې طواف کولو او سعى کولو ته عمره وايي دحج عمرې او دسعى کولو طريقې دفقهې په کتابونو کي ذکردي: پاته سو سعى کول دامام احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نزد مستحب يا سنت ده او دامام مالک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نزد فرض ده او دامام ابوحنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نزد داسي واجب دي چي په پريښوولو سره يي يو پسه يا بزه ذبح کول او حلالول لازميږي چي دم ورته وايي.
(معارف القرآن ج ١ پ ٢ ص ٤١)

www.jamairahmani.org

فَاُولٰٓـئِكَ اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٠﴾ اِنَّ

فَاُولٰٓـئِكَ	اَتُوْبُ	عَلَيْهِمْ	وَاَنَا	التَّوَّابُ	الرَّحِيْمُ	اِنَّ
پس دغه کسان دي	چې توبه يې قبلوم	د هغوی	او هم دا زه يم	ښه توبه قبلوونکی	پوره رحم لرونکی	بيشکه!

نو دغه کسان دي چې رجوع به وکړم زه په رحمت سره په دوی باندې او همدا زه ښه توبه قبلوونکی پوره رحم لرونکی يم. بيشکه!

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ اُولٰٓـئِكَ عَلَيْهِمْ

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَمَاتُوْا	وَهُمْ	كُفَّارٌ	اُولٰٓـئِكَ	عَلَيْهِمْ
هغه کسان	چې کافران سوي دي	او مړه سوي دي	او دوی	کافران وه (د مرګ په وخت)	دغه کسان	پر دوی باندې (دی)

هغه کسان چې کافران سوي او مړه سوي دي او حال دا چې دوی کافران وه (په وخت د مرګ) پر دغو کسانو باندې دی

لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓـئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٦١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

لَعْنَةُ	اللّٰهِ	وَالْمَلٰٓـئِكَةِ	وَالنَّاسِ	اَجْمَعِيْنَ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا
لعنت	د الله	او د ملائيکو	او د خلګو	د ټولو	هميشه به وي دوی	په دی (لعنت کښی)

لعنت د الله او (لعنت) د ملائيکو او (لعنت) د ټولو خلګو . حال دا چې هميشه به وي دوی په دی لعنت (يا اور) کښی

لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿١٦٢﴾

لَا يُخَفَّفُ	عَنْهُمُ	الْعَذَابُ	وَلَا هُمْ	يُنْظَرُوْنَ
سپک به نه سی	د دوی څخه	عذاب	او نه به دوی (ته)	مهلت ورکړی سی

سپک به نه سی د دوی څخه عذاب او نه به هم دوی ته مهلت ورکړل سی . (د توبې، يا به په رحمت سره ورته ونه کتل سی)

وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٣﴾ ع

وَاِلٰهُكُمْ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ	الرَّحْمٰنُ	الرَّحِيْمُ
او معبود ستاسی	معبود	يو دی	نشته	بل څوک (لايق د عبادت)	مګر هم دی	ډير مهربان	پوره رحم لرونکئ دی

او معبود ستاسی معبود يو دی نشته بل څوک لايق د عبادت مګر هم دی خورا (ډير) مهربان پوره رحم لرونکئ دی.

ع ١٩ ٣

اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ

اِنَّ	فِيْ	خَلْقِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاخْتِلَافِ	الَّيْلِ
بيشکه!	په	پيدا کولو	د آسمانو	او ځمکی کښی	او په تلو راتلو	د شپې

بيشکه! په پيدا کولو د آسمانو او (په پيدا کولو) د ځمکی کښی او په اختلاف (تلو راتلو) د شپې

اُولٰٓـئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ

علماء کرامو د (وماتوا وهم کفار) دلفظ څخه دامسئله راايستلې ده :

چي د کم کافر پر کفر باندي دمړ کيدو يقين چاته حاصل نه وي نو پر هغه باندي لعنت ويل نه دی جايز او کله چي موږ ته د چا د خاتمې حالت نه دی معلوم په يقين سره نو په دې وجه ديوه کافر نوم اخيستل او بيا پر هغه باندي لعنت ويل رواه نه دي او نبي کريم ﷺ چي د کومو کافرانو نومونه اخيستي وه او لعنت يي پر ويلی وونو دا هغه ته د وحي په ذريعه ورښوول سوې وه چي دوی به د کفر پر حالت مري البته پر عامو کافرانو ظالمانو بغير د نوم د اخيستلو څخه لعنت ويل صحيح دی : د دې څخه دا هم معلومه سوه چي کله د لعنت معامله دومره سخته ده چي دا پر يوه کافر باندي هم تر هغه وخته ويل نه دی رواه چي تر څو پوري په يقين سره معلومه نه وي چي دی پر کفر باندي مري که يا؟ نو پر يو مسلمان باندي يا پر يوه حيوان باندي لعنت ويل به څنګه رواسي؟ عوام او خاص بيا ښځي په دې معامله کښي ډيري مبتلا دي.

(معارف القرآن ج ١ پ ٢ ص ٤٦)

www.jamairahmani.org

لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ

دالله ﷻ توحيد او يووالی په مختلفو حيثيتونو سره ثابت دی: مثلا هغه ذات يودی په مخلوقاتو کښي دده څوک نظيراو مثال نسته او نه څوک دده برابر دی نو په دې وجه هغه ددې حقدار دی چي هغه ته يو وويل سي (دوهم) په دې حيثيت چي هغه يو دی دعبادت په حقداری کښي يعني دده څخه ماسواه بل څوک دعبادت مستحق نه دی (دريم) په دې حيثيت چي هغه يو دی يعني اجزاء يه نسته هغه داجزاوو او اندامونو څخه پاک دی او نه دهغه تقسيم ويش او تجزيه کيدای سي (څلورم) هغه يو دی په دې حيثيت يعني په خپل ازلي کيدلو کښي يو دی هغه وخت هم موجود وو کله چي هيڅ شی موجود نه وو او هغه وخت به هم وي چي کله څه شی موجود پاته نه سي نو په دې وجه هغه ددې حقداره دی چي ورته واحد وويل سي دواحد په لفظ کښي دا ټول حيثيتونه دتوحيد پراته دي دغه بيان مفتي شفيع رحمة الله عليه په معارف القرآن کښي نقل کړی دی تفصيل نور هم هلته کتلای سی.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۴۱)

وَالنَّهَارِ وَالۡفُلۡكِ الَّتِيۡ تَجۡرِيۡ فِي الۡبَحۡرِ بِمَا يَنۡفَعُ

وَالنَّهَارِ	وَالۡفُلۡكِ	الَّتِيۡ	تَجۡرِيۡ	فِي الۡبَحۡرِ	بِمَا	يَنۡفَعُ
او دورځی کښی	او په کشتيو کښی	هغه چي	روانی وی	په درياب کښی	په هغه سره	چي فائده رسوی

او د ورځی کښی (چي لنډی او اوږدی دی) او په کشتيو کښی هغه کشتي چي روانی وی په درياب کښی دپاره د دی چي فائده رسوی

النَّاسَ وَمَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنۡ مَّآءٍ فَاَحۡيَا

النَّاسَ	وَمَآ	اَنۡزَلَ	اللّٰهُ	مِنَ السَّمَآءِ	مِنۡ مَّآءٍ	فَاَحۡيَا
خلګوته	او هغه څه چي	نازل کړی دی	الله	دطرفه څخه د آسمانه	د اوبو څخه	نو ژوندی (زرغونه) کړی يئ ده

خلګوته او هغه څه چي نازل کړي دی الله له طرفه څخه د آسمان او به پس ژوندی (زرغونه) کړی يئ ده

بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَبَثَّ فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ دَآبَّةٍ

بِهِ	الۡاَرۡضَ	بَعۡدَ	مَوۡتِهَا	وَبَثَّ	فِيۡهَا	مِنۡ كُلِّ دَآبَّةٍ
په هغه (اوبو) سره	مځکه	وروسته د	مرګه دهغی	او هوار کړی يئ دی	په دی مځکه کښی	د هر قسمه حيواناتو څخه

په هغه اوبو سره مځکه وروسته د مرګه (وچوالی) د هغی او پاشلی يئ دی په دی مځکه کښی د هر قسمه حيواناتو څخه

وَّتَصۡرِيۡفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الۡمُسَخَّرِ بَيۡنَ السَّمَآءِ

وَّتَصۡرِيۡفِ	الرِّيٰحِ	وَالسَّحَابِ	الۡمُسَخَّرِ	بَيۡنَ	السَّمَآءِ
او په ګرځولو	د بادو کښی	او په وريځو کښی	چي مسخره کړل سوی ده	په مينځ	د آسمان

او په ګرځولو د بادو کښی او په وريځو کښی چي مسخره کړل سوی ده په مينځ د آسمان

وَالۡاَرۡضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۶۴﴾ وَمِنَ النَّاسِ

وَالۡاَرۡضِ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوۡمٍ	يَّعۡقِلُوۡنَ	وَمِنَ النَّاسِ
او د مځکی کښی	خامخا دليلونه دی	د پاره د هغه قوم	چي دعقل خاوندان دی	او ځينی د خلګو

او د مځکی کښی خامخا دليلونه دی (په وحدانيت باندی) دپاره دهغه قوم چي د عقل خاوندان دی او ځينی د خلګو

مَنۡ يَّتَّخِذُ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَنۡدَادًا يُّحِبُّوۡنَهُمۡ كَحُبِّ اللّٰهِ

مَنۡ	يَّتَّخِذُ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	اَنۡدَادًا	يُّحِبُّوۡنَهُمۡ	كَحُبِّ	اللّٰهِ
هغه دی	چي نيسی	بی له	الله څخه	شريکان	چي مينه کوی دوی دهغو سره	په شان د مينی	د الله

هغه څوک دی چي نيسی بی له الله څخه شريکان (په عبادت کښی)، چي مينه کوی دوی دهغو سره په شان د مينی د الله

www.jamairahmani.org

وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ یَرَی الَّذِیْنَ ظَلَمُوْٓا

وَالَّذِیْنَ	اٰمَنُوْٓا	اَشَدُّ	حُبًّا	لِّلّٰهِ	وَلَوْ یَرَی	الَّذِیْنَ	ظَلَمُوْٓا
او هغه کسان	چې ایمان یې راوړی دی	ډیر زیاته ده	مینه د هغوی	د الله سره	او که ووینی	هغه کسان	چې ظلم یې کړی دی

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی ډیر ټینګ دی له جهته د مینې د الله سره او که ووینی هغه کسان چې ظلم یې کړی دی

اِذْ یَرَوْنَ الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِیْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ

اِذْ یَرَوْنَ	الْعَذَابَ	اَنَّ	الْقُوَّةَ	لِلّٰهِ	جَمِیْعًا	وَّاَنَّ	اللّٰهَ
کله چې ووینی دوی	عذاب	بیشکه!	قوت	خاص الله لره دی	ټول	او بیشکه!	الله

(په خپلو نفسونو) په هغه وخت کښې چې ووینی دوی عذاب چې بیشکه! قوت (طاقت) ټول خاص د الله دپاره دی، او بیشکه! الله

شَدِیْدُ الْعَذَابِ ﴿۱۶۵﴾ اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِیْنَ اتُّبِعُوْا

شَدِیْدُ	الْعَذَابِ	اِذْ	تَبَرَّاَ	الَّذِیْنَ	اتُّبِعُوْا
سخت	عذاب ورکوونکی دی	کله چې	بیزاره سی	هغه کسان	دکومو چې پیروی سوی وه

سخت عذاب ورکوونکی دی. کله چې بیزاره سی هغه کسان چې متبوعان (مشران) دی

مِنَ الَّذِیْنَ اتَّبَعُوْا وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ

مِنَ الَّذِیْنَ	اتَّبَعُوْا	وَرَاَوُا	الْعَذَابَ	وَتَقَطَّعَتْ	بِهِمُ
دهغو کسانو څخه	چې پیروی یې کړی وه	او ووینی دوی	عذاب	او قطع سی	پر دوی باندی

دهغو کسانو څخه چې تابعان (کشران) دی او ووینی دوی عذاب او قطع (پرې) سی پر دوی باندي (هغه ټول

الْاَسْبَابُ ﴿۱۶۶﴾ وَقَالَ الَّذِیْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا کَرَّةً

الْاَسْبَابُ	وَقَالَ	الَّذِیْنَ	اتَّبَعُوْا	لَوْ	اَنَّ	لَنَا	کَرَّةً
اسبابونه (تعلقات)	او وایی	هغه کسان	چې تابعان وه	کاشکې	بیشکه!	وای موږ ته	بیا ورتلل

اسبابونه (دخپلوۍ). او وایی (به) هغه کسان چې تابعان وه چې کاشکې وای موږ ته بیا (دنیا ته) ورتلل

فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ کَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ کَذٰلِكَ یُرِیْهِمُ اللّٰهُ

فَنَتَبَرَّاَ	مِنْهُمْ	کَمَا تَبَرَّءُوْا	مِنَّا	کَذٰلِكَ	یُرِیْهِمُ	اللّٰهُ
پس بیزاره به سو موږ	د دوی څخه	لکه څنګه چې بیزاره سوی دی دوی	زموږ څخه	همداسې	وبه ښیئ دوی ته	الله

نو بیزاره به سو موږ د دې متبوعانو څخه لکه څنګه چې بیزاره سوی دی (وه) دوی زموږ څخه. همداسې به وښیئ الله

وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعَذَابِ

په مخکنیو ایاتو کښي دالله ﷻ دتوحید د ثبوت اویووالي بیان وو: او اوس په دې آیت کښي د مشرکینو دغلطۍ او د وعیداو سزا بیان دی الله ﷻ فرمایي څه کسان هغه هم دي چې دخدای څخه علاوه نور هم دخدای شریکان ګرځوي او دوی خپل کارسازان ګڼي او ددوی سره داسي محبت کوي لکه چې دالله ﷻ سره محبت کول ضروري دي دغه حالت خو دمشرکینو دی او چې کم مومنان دي دهغوی یوازي دالله ﷻ سره ډیر محبت دی ځکه که چیري یو مشرک ته داثا بته سي چې ماته زما دمعبود څخه څه ضرر رسیږي نو محبت به یه فورا قطع سي او مومن سره ددې چې دنفع او نقصان ورکولو عقیده یوازي پر خدای ﷻ لري لیکن بیا هم دهغه پرمحبت اوپه رضا باندي ټینګ وي اوداهم ده چې اکثره مشرکان دسخت مصیبت په وخت کښي خپل خدایان پریږدي او مومنان دایمان په حیث په مصیبت کښي هم الله ﷻ نه پریږدي او دهغه الله ﷻ څخه دهغه مصیبت دلیري کولو دعاوي کوي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۴۹)

www.jamairahmani.org

كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا

طَيِّبًا ج دحل دلفظ اصلي معنی ده غوټه خلاصول
:چي کم شي دانسان لپاره حلال سو نو گواکي غوټه خلاصه سوه او پابندي لیري سوه حضرت سهل بن عبدالله رحمة الله عليه فرمايي چي خلاصی اونجات پر دروشیانو باندي ولاړ دی اول حلال خوړل دوم دفرضو اداء کول دریم درسول الله صلى الله عليه وسلم دسنتو پیروي کول او دطیب دلفظ معنی ده پاک چي په دي کښي شرعي حلال هم داخل دي او هغه حلال هم داخل دي چي طبیعت یه هم غواړي (خطوات) دخطوة جمع ده دومره مقدار ته خطوة ویل کیږي چي ددوو قدمونو په مابین کښي فاصله ده دخطوات الشیطان څخه مراد شیطاني عملونه او کارونه دي (السوء والفحشاء) سوء هغه شی دی چي دهغه په لیدلو سره یو شریف عاقل ته غم اودرد رسیږي فحشاء دبې حیايي کارته وايي ځیني علماء کرام حضرات فرمايي چي دلته دسوء څخه مراد مطلق گناه ده او دفحشاء څخه مراد لویه گناه ده الله جل جلاله دي موږ او تاسي دناروا وو او فحشاوو څخه په خپل سره فضل وساتي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۵۳)

أَعۡمَالَهُمۡ حَسَرَٰتٍ عَلَيۡهِمۡۖ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿١٦٧﴾

أَعۡمَالَهُمۡ	حَسَرَٰتٍ	عَلَيۡهِمۡ	وَمَا	هُم	بِخَٰرِجِينَ	مِنَ ٱلنَّارِ
عملونه دوی	افسوسونه دی	پر دوی باندی	او نه به وی	دوی	وتونکی	د اور څخه

(ناکاره) عملونه دوی افسوسونه دی پر دوی باندی او نه به وی دوی وتونکی د اور څخه (د دوزخ).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا

يَٰٓأَيُّهَا	ٱلنَّاسُ	كُلُواْ	مِمَّا	فِي ٱلۡأَرۡضِ	حَلَٰلٗا
ای !	خلکو	خورئ تاسی	له هغه شیانو څخه	چی په مځکه کښی دی	حلال

ای! خلکو خورئ تاسی د هغه (شیانو څخه) چی په مځکه کښی دی حلال (بی شبهی)

طَيِّبٗا ۚ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ

طَيِّبٗا	وَلَا تَتَّبِعُواْ	خُطُوَٰتِ	ٱلشَّيۡطَٰنِ	إِنَّهُۥ	لَكُمۡ	عَدُوّٞ
پاک	او پیروی مه کوی تاسی	د قدمونو	دشیطان	بیشکه! هغه	ستاسو دپاره	دښمن دی

پاک. او پیروی مه کوی تاسی د قدمونو (داثر) دشیطان ، بیشکه! چی هغه شیطان ستاسو دپاره د ښمن دی

مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن

مُّبِينٌ	إِنَّمَا	يَأۡمُرُكُم	بِٱلسُّوٓءِ	وَٱلۡفَحۡشَآءِ	وَ	أَن
ښکاره	بیشکه! هم دا خبره ده	امر کوی شیطان تاسی ته	په بدکارئ	او بی حیایی سره	او	دا چی

ښکاره. بیشکه! همدا خبره ده چی حکم کوی شیطان تاسی ته په بد او قبیح کار سره ، او چی

تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿١٦٩﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ

تَقُولُواْ	عَلَى	ٱللَّهِ	مَا	لَا تَعۡلَمُونَ	وَإِذَا	قِيلَ	لَهُمُ	ٱتَّبِعُواْ
وایاست تاسی	پر	الله باندی	هغه چی	تاسی نه پری پوهیږئ	او کله چی	وویل سی	دوی ته	چی پیروی وکړی تاسی

وایاست تاسی پر الله هغه خبری چی تاسی پری نه پوهیږئ. او کله چی وویل سی دوی ته چی پیروی وکړی تاسی

مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَآ أَلۡفَيۡنَا عَلَيۡهِ

مَآ أَنزَلَ	ٱللَّهُ	قَالُواْ	بَلۡ نَتَّبِعُ	مَآ أَلۡفَيۡنَا	عَلَيۡهِ
دهغه (حکم) چی نازل کړی دی	الله	(نو) وایی	بلکه پیروی کوو	دهغه چی پیدا کړی دی موږ	پر هغه باندی

دهغه چی نازل کړی دی الله (قرآن) ، نو وایی (دقرآن پیروی نه کوو) بلکه پیروی کوو دهغه چی پیدا کړی دی موږ پر هغه باندی

www.jamairahmani.org

اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ شَيْـًٔا وَّ

اٰبَآءَنَا	اَوَلَوْ	كَانَ	اٰبَآؤُهُمْ	لَا يَعْقِلُوْنَ	شَيْـًٔا	وَّ
پلرونه خپل	که څه هم	وه	پلرونه د دوی	چې نه پوهیدل	په هیڅ شئ	او

پلرونه خپل که څه هم وه پلرونه د دوی چې نه پوهیدل په هیڅ شئ (د دین له احکامو څخه) او

لَا يَهْتَدُوْنَ ۝۱۷۰ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ

لَا يَهْتَدُوْنَ	وَمَثَلُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	كَمَثَلِ	الَّذِيْ
نه یې لار پیدا کړې وه	او حال	د هغو کسانو	چې کافران سوي دي	لکه حال د	هغه چا دی

نه یې لار پیدا کړې وه (حق ته). او حال (د حق ته بلونکو) هغو کسانو چې کافران سوي دي لکه حال د هغه چا دی

يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ

يَنْعِقُ	بِمَا	لَا يَسْمَعُ	اِلَّا دُعَآءً	وَّنِدَآءً	صُمٌّۢ	بُكْمٌ	عُمْيٌ
چې ناري وهي	هسې یو شي ته	چې نه اوري هیڅ	مګر تشه بلنه	او ږغ	(دوی) کاڼه دي	ګونګیان دي	ړانده دي

چې ناري وهي هسې یو شي ته چې نه اوري هیڅ مګر تشه بلنه او ږغ، دوی کاڼه دي ګونګیان دي ړانده دي

فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝۱۷۱ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ

فَهُمْ	لَا يَعْقِلُوْنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	كُلُوْا	مِنْ
پس دوی	هیڅ عقل نه لري	ای	هغه کسانو	چې ایمان یئ راوړی دی	خورئ (تاسی)	د

پس دوی هیڅ عقل نه لري (حق ته) . ای هغه کسانو چې ایمان یئ راوړی دی خورئ (تاسی) د

طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ

طَيِّبٰتِ	مَا	رَزَقْنٰكُمْ	وَاشْكُرُوْا	لِلّٰهِ	اِنْ	كُنْتُمْ	اِيَّاهُ
پاکو حلالو	هغه شیانو څخه	چې درکړي دي موږ تاسی ته	او شکر وباسئ	الله ته	که چیرې	یاست تاسی	چې خاص ده ته

پاکو حلالو هغه شیانو څخه چې درکړي دي موږ تاسی ته، او شکر وباسئ الله ته ، که چیرې یاست تاسی چې خاص ده (الله) ته

تَعْبُدُوْنَ ۝۱۷۲ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ

تَعْبُدُوْنَ	اِنَّمَا	حَرَّمَ	عَلَيْكُمُ	الْمَيْتَةَ	وَالدَّمَ
عبادت کوی	بیشکه ! همدا خبره ده	حرام کړې دی	پر تاسی باندی	مرداری	او وینی

عبادت کوی. بیشکه ! همدا خبره ده چې حرام کړې دی (الله) په تاسی باندی (خوراک) د مرداری او وینی (بهیدونکی)

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ.. د حلالو د خوړلو ترغیب: په دې آیاتونو کښې لکه چې څنګه د حرام خوراک څخه منع سویده نو هم دغه شان د حلالو د خوراک او پر هغه باندې د شکر د اداء کولو ترغیب سوی دی او دا ځکه چې څنګه په حرام خوراک سره بداخلاقي را پیدا کیږي د عبادت خوند ختمیږي او دعا نه قبلیږي نو دغه شان د حلال خوراک څخه یو نور را پیدا کیږي د خرابو اخلاقو څخه نفرت پیدا کیږي او د ښو اخلاقو څخه مینه پیدا کیږي په عبادت کښې زړه لګیږي د ګناه څخه زړه بیزیږي دعا قبلیږي د دغه وجه ده چې الله ﷻ خپلو پیغمبرانو ته دا هدایت کوي (یاأیها الرسل کلوا من الطیبت واعملوا صالحا) ای پیغمبرانو خوری پاک شیان او ښه عملونه کوی په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې په ښو کارونو کولو کښې د حلال رزق ډیر زیات لاس دی هم دغه شان په دعا قبلیدو کښې حلال خوراک ډیر امداد کوي او حرام خوراک دعا د قبلیدو څخه منع کوي او دا مضمون په صراحت سره په حدیث شریف کښې هم راغلی دی.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۵۶)

www.jamairahmani.org

وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِۚ فَمَنِ اضْطُرَّ

وَلَحْمَ	الْخِنْزِيرِ	وَمَآ اُهِلَّ	بِهٖ	لِغَيْرِ اللّٰهِ	فَمَنِ	اضْطُرَّ
او غوښې	دخنزير	او هر هغه (حلال کړل سوی) چې ویل سوی وی	په هغه باندی	بيله د الله نوم	پس هغه څوک	چې اړ سی

او (حرام دی خوراک) د خنزير غوښې. او په حلا ل کړل سوی چې ویل سوی وی په هغه باندی بيله د الله نوم، پس هغه څوک چې اړ سی

غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

غَيْرَ بَاغٍ	وَّلَا عَادٍ	فَلَآ اِثْمَ	عَلَيْهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ
داچې نه سرکشي کوونکی	او نه تجاوز کوونکی وی	پس نسته ګناه	پر هغه باندی	بيشکه!	الله	لوی بخښونکی

(دی حرامو خوړلو ته) حال داچې نه ظلم کوونکی او نه تجاوز کوونکی وی پس نسته ګناه پرهغه باندی. بيشکه ! الله لوی بخښونکی

رَّحِيْمٌ ﴿۱۷۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ

رَّحِيْمٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يَكْتُمُوْنَ	مَآ اَنْزَلَ	اللّٰهُ	مِنَ الْكِتٰبِ
پوره رحم لرونکی دی	بيشکه!	هغه کسان	چې پټوی (دوی)	هغه څه چې نازل کړی د ی	الله	چې کتاب دی

پوره رحم لرونکی ذات دی. بيشکه! هغه کسان چې پټوی دوی هغه څه چې نازل کړی دی الله چې کتاب دی

وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ

وَيَشْتَرُوْنَ	بِهٖ	ثَمَنًا	قَلِيْلًا	اُولٰٓئِكَ	مَا يَاْكُلُوْنَ
او اخلی	په دی سره	قيمت	لږ	دغه کسان	نه خوری

او اخلی په دی سره (دپټولو په عوض سره) لږ قيمت ، نو دغه کسان (چې دحق پټوونکی دی) نه خوری

فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

فِيْ بُطُوْنِهِمْ	اِلَّا	النَّارَ	وَ	لَا يُكَلِّمُهُمُ	اللّٰهُ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ
په نسو (ګيډو) خپلو کښی	مګر	اور	او	نه به خبری وکړی د دوی سره	الله	په ورځ	د قيامت کښی

په نسو خپلو کښی مګر اور (د دوزخ) او نه به خبری وکړی له دوی سره الله په ورځ د قيامت کښی (په خوښۍ سره)

وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۖۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۴﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

وَ	لَا يُزَكِّيْهِمْ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ
او	نه به پاک کړی دوی	او دی د دوی دپاره	عذاب	درد ناک	دغه خلک	هغه کسان دی

او نه به پاک کړی (الله) دوی (له کفره)، او دی دوی لره عذاب درد ناک . دوی هغه کسان دی

وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِۚ.. دريم شی چي په ايت کي حرام سوی دی هغه دخنزير غوښه ده : په آيت کښي دخنزير دحرام والي سره دلحم (يعني غوښي) قيد ولګول سو امام قرطبي رحمة الله عليه فرمايي چي ددې څخه غرض داخبره ده چي دغوښي په ګوته کول مقصود نه دي بلکه دده ټول شيان هډوکي څرمن ويښته پلې او نور ټول دامت په اجماع سره حرام دي ليکن دلحم دلفظ په زياتولو سره ودې خبري ته اشاره ده چي خنزير دنور و حرامو حيواناتو په شان نه دی چي هغه په ذبح کولو سره پاکيږي که څه هم خوړل يي حرام وي ځکه چي دخنزير غوښه په ذبح کولو سره هم نه پاکيږي او خنزير نجس العين دی (يعني په اصل کښي پليت هم او حرام هم دی يوازي دڅرمني دګنډلو لپاره دده دويښتانو استعمال په حديث کښي رواه ښوول سوی دی او حديث شريف قرطبي په دغه الفاظو سره ذکر کړی دی (وقد روي ان رجلا سأل رسول الله ﷺ عن الخزارة بشعر الخنزير فقال لابأس بذلک) احکام القرآن للجصاص. (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۶۱)

www.jamairahmani.org

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ
دمسلمانانو قبله دبيت المقدس پرځای بيت الله شريفه مقرره سوه : کله چي دمسلمانانو قبله دبيت المقدس پرځای بيت الله شريفه مقرره سوه نو يهود اونصارا او مشرکان چي په مسلمانانو کښي دعيب لټولو په کوشش کي اخته وه په شور او شغب سوه او قسم قسم اعتراضونه يي پر رسول الله ﷺ او پر اسلام باندي شروع کړل چي دهغه جوابونه په مخکني آياتونو کښي په وضاحت سره ذکر سوي دي په دې آياتونو کښي چي اوس ذکر سوه دغه بحث په يوه خاص طريقه سره ختم سو چي دهغه بحث مطلب دادی چي تاسي دين هم په يوه خبره کښي رابند کړی دی يعني يوه خاص طرف ته په لمانځه کښي مخ کول او ګواکي په شريعت کښي بل حکم نسته اودا هم کيدای سي چي په آيت کښي خطاب يهودو او نصاراوو او مسلمانانو ټولو ته وي او غرض او مطلب يي دادی چي اصل بر او(نيکي) د الله جل جلاله دحکم په منلو کښي ده هغه چي کم طرف ته دمخ کولو حکم وکي هغه دثواب او اوصحيح کار دی اوهغه منل پکار دي. (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۷۰)

اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ

اشْتَرَوُا	الضَّلٰلَةَ	بِالْهُدٰى	وَالْعَذَابَ	بِالْمَغْفِرَةِ	فَمَآ
چي اخيستې يې ده	ګمراهي	په بدل د هدايت	او عذاب	په بدل د مغفرت کښې	پس څومره

چي اخيستې يې ده (غوره کړې ده) ګمراهي په بدل د هدايت او عذاب په بدل د مغفرت کښې، نو څومره (ځای د تعجب دی)

اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ۝١٧٥ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ

اَصْبَرَهُمْ	عَلَى النَّارِ	ذٰلِكَ	بِاَنَّ	اللّٰهَ	نَزَّلَ	الْكِتٰبَ
صبر کوونکی دی دوی	پر اور باندی	دا (ځکه چې)	بیشکه!	الله	نازل کړی دی	کتاب

چي صبر کوونکی دی دوی په اور (دوزخ) کښې دا (عذاب دوی لره) ځکه دی چې بیشکه! نازل کړی دی الله کتاب

بِالْحَقِّ ۗ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍ

بِالْحَقِّ	وَاِنَّ	الَّذِيْنَ	اخْتَلَفُوْا	فِي	الْكِتٰبِ	لَفِيْ شِقَاقٍ
په رښتيا سره	او بیشکه!	هغه کسان	چې اختلاف يې کړی دی	په	کتاب کښې	خامخا په مخالفت کښې دی

په رښتيا سره، او بیشکه! هغه کسان چې اختلاف يې کړی دی په کتاب کښې خامخا په مخالفت کښې دی

بَعِيْدٍ ۝١٧٦ ۧ لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ

بَعِيْدٍ	لَيْسَ	الْبِرَّ	اَنْ	تُوَلُّوْا	وُجُوْهَكُمْ	قِبَلَ
چې ليری دی	نه ده (يواځې دا)	نيکي	داچې	وګرځوئ	مخونه خپل (په لمانځه کښې)	طرف ته د

چي (دحقه) ليری دی. نه ده نيکي (يواځې دا کار) چې وګرځوئ مخونه خپل (په لمانځه کښې) طرف ته د

الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

الْمَشْرِقِ	وَالْمَغْرِبِ	وَلٰكِنَّ	الْبِرَّ	مَنْ	اٰمَنَ	بِاللّٰهِ
مشرق	او مغرب	او ليکن	غوره نيکي	دهغه چا ده	چې ايمان يې راوړی دی	په الله سره

مشرق او مغرب، او ليکن غوره نيکي دهغه چا ده چې ايمان يې راوړی دی په الله (پاک) سره

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى

وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	وَالْمَلٰٓئِكَةِ	وَالْكِتٰبِ	وَالنَّبِيّٖنَ	وَاٰتَى
او په ورځ	د آخرت	او په ملائيکو	او په کتابو	او په انبياؤ	او ورکوی

او (ايمان يې راوړی دی) په ورځ د آخرت او په (ټولو) ملائيکو او په (ټولو) کتابو او په (ټولو) انبياؤ او ورکوی (خپل)

الربع

www.jamairahmani.org

الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ

وَالْمَسٰكِيْنَ	وَالْيَتٰمٰى	الْقُرْبٰى	ذَوِي	عَلٰى حُبِّهٖ	الْمَالَ
او مسکینانو ته	او یتیمانو ته	د خپلولی	و خاوندانو ته	په محبت د الله کښی	مال

مال په محبت (مینه) دالله (فقیرانو) خپلوانو ته او (ورکوی په محبت سره) یتیمانو ته او (ورکوی په محبت) مسکینانو ته

وَابْنَ السَّبِيْلِ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ وَاَقَامَ

اَقَامَ	وَ	الرِّقَابِ	وَفِي	وَالسَّآئِلِيْنَ	وَابْنَ السَّبِيْلِ
سم دروی	او	آزادولو (دمریو) کښی	او په	او سوالګرو ته	او مسافرانو ته

او مسافرانو ته او نادارو سوالګرو ته او په آزادولو (دمریو) کښی او سم دروی (آداء کوی)

الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا

اِذَا	بِعَهْدِهِمْ	وَالْمُوْفُوْنَ	الزَّكٰوةَ	وَاٰتَى	الصَّلٰوةَ
کله چی	په وعدو خپلو سره	او وفا کوونکی دی	زکوة	او ورکوی	لمونځ

لمونځ (خپل) او ورکوی زکوة او وفا کوونکی دی په وعدو خپلو سره کله چی

عٰهَدُوْا وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ

حِيْنَ	وَ	وَالضَّرَّآءِ	فِي الْبَاْسَآءِ	وَالصّٰبِرِيْنَ	عٰهَدُوْا
په وخت	او	او په رنځو کښی	په سختیو کښی	او صبر کوونکو	دوی وعده کوی

دوی وعده کوی (له خالق یا مخلوق سره) او (صفت کوو) دصبر کوونکو په سختیو کښی او په رنځو کښی او په وخت

الْبَاْسِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

هُمُ	اُولٰٓئِكَ	وَ	صَدَقُوْا	الَّذِيْنَ	اُولٰٓئِكَ	الْبَاْسِ
هم دوی دی	دغه کسان	او	چی رښتینی دی	هغه کسان دی	دغه خلک	جنګ کښی

جنګ (په لاره د الله) کښی. دغه (ستایل سوی) کسان هغه دی چی صداقت یې کړی دی (په دین کښی) او دغه کسان هم دوی

الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ

عَلَيْكُمُ	كُتِبَ	اٰمَنُوْا	الَّذِيْنَ	يٰۤاَيُّهَا	الْمُتَّقُوْنَ
پر تاسی باندی	فرض کړل سوی دی	چی ایمان یې راوړی دی	هغو کسانو	ای!	پرهیزګاران

پرهیزګاران دی (ځان ساتونکی دبد و څخه). ای! هغه کسانو چی ایمان یې راوړی دی فرض کړل سوی ده پر تاسی باندی

وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ

فایده: پر کمو خلګو باندې چې مال لګول دي مثلا ذوي القربی مساکین مسافر او سوال کوونکي او فقیران دا ټول یې په یوه انداز بیان کړه بیا یې په **وَفِي الرِّقَابِ** کښې د لفظ (في) په زیاتولو سره دې خبرې ته اشاره وکړه چې غلامانو ته په مال ورکولو کې مقصد دا نه دی چې دوی د مال مالکان سي بلکه مقصد دا دی چې دوی دې د مالکانو څخه واخیستل سي او ازاد دې کړل سي او تر دې وروسته د **وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ** ذکر هم په هغه طریقه راغی لکه چې څنګه د نورو شیانو وړ پسې چې کله د معاملاتو ذکر وو نو په دې کښې یې د بیان طریقه بدله کړه پر ځای د ماضي یې د اسم فاعل صیغه راوړه په دې کښې دې خبرې ته اشاره وسوه چې د وعدې د پورا کولو عادت دې په سړي کښې د همیشه لپاره وي په اتفاقي طور سره که چیرې یو سړی وعده پوره کې نو دا خو هر کافر او فاجر هم کله کله کوي نو د دغه اتفاقي وعدې د پورا کولو هیڅ اعتبار نسته باید دایمي وي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۷۲)

www.jamairahmani.org

الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى ؕ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ

الْقِصَاصُ	فِي	الْقَتْلٰى	اَلْحُرُّ	بِالْحُرِّ	وَالْعَبْدُ	بِالْعَبْدِ
قصاص (برابروالی)	په	وژل سوو کښې	ازاد	په ازاد باندی	او مریی	په مریی باندی

قصاص (برابروالی) په وژل سوو کښې ، اصیل په اصیل باندی (قصاصیږی)، او مریی په مریی باندی (قصاصیږی)

وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ؕ فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ

وَالْاُنْثٰى	بِالْاُنْثٰى	فَمَنْ	عُفِيَ	لَهٗ	مِنْ اَخِيْهِ	شَيْءٌ
او ښځه	په ښځه باندی	پس هغه څوک	چی عفوه وکړی سی	ده ته	د طرفه څخه د وررور ده	دڅه شئ

او ښځه په ښځه باندی (قصاصیږی) پس هغه څوک چی عفوه وکړی سی ده ته د طرفه څخه د (اسلامی) وررور ده څه شئ

فَاتِّبَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ؕ ذٰلِكَ

فَاتِّبَاعٌ	بِالْمَعْرُوْفِ	وَاَدَآءٌ	اِلَيْهِ	بِاِحْسَانٍ	ذٰلِكَ
نو مطالبه د دیت کول ده	د دستور په مطابق	او ورکول	هغه ته	په نیکی سره	دا کار (قصاص یا عفوه یا دیت)

نو (پردی عفوه کوونکی) مطالبه د دیت کول ده (له قاتله) په ښه وجه سره او ورکول هغه ته (عفوه کوونکی) ته په ښه وجه، دا کار

تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ

تَخْفِيْفٌ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	وَرَحْمَةٌ	فَمَنِ	اعْتَدٰى	بَعْدَ ذٰلِكَ
آسانی ده	د طرفه څخه	د رب ستاسی	او مهربانی ده	پس هر څوک	چی زیاتوالی وکړی	وروسته د دی (فیصلی)

آسانی ده له طرفه څخه د رب ستاسی او مهربانی ده ، پس هر چا چی زیاتوالی وکړی (په وژلو د قاتل کی) وروسته د دی (فیصلی)

فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ

فَلَهٗ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	وَلَكُمْ	فِي الْقِصَاصِ	حَيٰوةٌ
پس سته ده ته	عذاب	درد ناک	او تاسی ته دی	په قصاص کښې	ژوندون

پس سته ده ته عذاب درد ناک (د دوزخ په عقبی کښې او قصاص په دنیا کښې) ، او تاسی ته دی په قصاص کښې ژوندون

يّٰاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ

يّٰاُولِي	الْاَلْبَابِ	لَعَلَّكُمْ	تَتَّقُوْنَ	كُتِبَ	عَلَيْكُمْ
ای ! خاوندانو	د عقلونو	د پاره د دی چی تاسی	ځان وساتی	فرض کړل سوی دی	پر تاسی باندی

ای خاوندا او د عقلونو! د پاره د دی چی تاسی ځان وساتئ (د ناحقه قتل څخه). فرض کړل سوی ده پر تاسی باندی

الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى ؕ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ.. **مسئله: قتل عمد یعني قصدا قتل څه ته وايي؟**: قتل عمد یعني قصدا قتل دې ته وايي: چي په اراده سره په اوسپنه یا په وسله یا په یوه داسي شي سره قتل وسي چي په هغه سره غوښه او پوست پریکړل سي او وینه وبهیږي قصاص یعني دساه کښلو په بدل کښي ساه کښل دداسي قتل لپاره سزاده (مسئله) په داسي قتل کښي لکه چي آزاد انسان دآزاد په بدله کښي قتلول کیږي نو دغه شان آزاد دغلام مریي په بدله کښي هم قتلول کیږي او څنګه چي ښځه دښځي په بدله کښي وژل کیږي نو دغه شان سړی هم دښځي په بدله کښي وژل کیږي او په آیت کښي دازاد په بدله کښي آزاد او دښځي په مقابل کښي ښځه راغلې ده دادهغي خاص واقعې پر بناء ده دکوم په باره کښي چي داآیت نازل سوی دی هغه داچي ددوو قبیلو تر مابین جنګ وسو دجاهلیت په زمانه کښي وروسته تر اسلام راوړلو زوروري قبیلې وویل چي موږ هغه وخت راضي کیږو چي دغلام په مقابل کي آزاد او دښځي په مقابل کي نر قتل کړو ددوی په رد کي دآیت نازل سو (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۷۴)

اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۚ الْوَصِيَّةُ

اِذَا	حَضَرَ	اَحَدَكُمُ	الْمَوْتُ	اِنْ	تَرَكَ	خَيْرًا	الْوَصِيَّةُ
كله چي	حاضر سی	یو ته په تاسی کښی	مرگ	که چیری	پری ایښنی وی	څه مال	وصیت کول

کله چي حاضر سی یو ته په تاسی کښی مرگ که چیری پری ایښنی وی څه مال، وصیت کول د پاره د

لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٨٠﴾

لِلْوَالِدَيْنِ	وَالْاَقْرَبِيْنَ	بِالْمَعْرُوْفِ	حَقًّا	عَلَى	الْمُتَّقِيْنَ
دپاره د مور او پلار	او خپلوانو ته	په ښه انصاف سره	دا لازم دی	پر	پرهیزگارانو باندی

مور او پلار او (نورو) خپلوانو ته، په ښه انصاف سره دا حکم لازم دی په پرهیزگارانو باندی

فَمَنْ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَا اِثْمُهٗ عَلَى

فَمَنْ	بَدَّلَهٗ	بَعْدَ	مَا	سَمِعَهٗ	فَاِنَّمَا	اِثْمُهٗ	عَلَى
پس هغه څوک	چي بدل کړی دا وصیت	وروسته	دهغه چي	وایي وریدی هغه	نو بیشکه! هم دا خبره ده	چي گناه د دی	پر

نو هغه څوک چي بدل کړی دا وصیت وروسته دهغه چي وایي وریدی هغه نو هم دا خبره ده چي گناه د دی (بدلولو) پر

الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٨١﴾ فَمَنْ خَافَ

الَّذِيْنَ	يُبَدِّلُوْنَهٗ	اِنَّ	اللّٰهَ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ	فَمَنْ	خَافَ
هغو کسانو باندی ده	چي بدلوی دا	بیشکه	الله	ښه اوریدونکی	ښه پوهیدونکی دی	پس هغه څوک	چي ویریږی

هغو کسانو باندی ده چي بدلوی دا (وصیت) بیشکه! چي الله ښه اوریدونکی ښه پوهیدونکی دی، پس هغه څوک چي ویریږی

مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ

مِنْ	مُّوْصٍ	جَنَفًا	اَوْ اِثْمًا	فَاَصْلَحَ	بَيْنَهُمْ	فَلَآ	اِثْمَ
د	وصیت کوونکی څخه	د ظلم	یا د گناه	نو اصلاح وکړی	په مینځ د دوی کښی	نو نسته هیڅ	گناه

د وصیت کوونکی څخه د ظلم (په خطا سره) یا د گناه (په قصد سره) نو اصلاح وکړی په مینځ کښی د دوی، پس نسته هیڅ گناه

عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٨٢﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

عَلَيْهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
پر ده باندی	بیشکه!	الله	ښه بخښونکی	پوره رحم لرونکی دی	ای!	هغو کسانو	چي ایمان یئ راوړی دی

پر ده باندی، بیشکه! الله ښه بخښونکی پوره رحم لرونکی ذات دی. ای هغو کسانو چي ایمان یئ راوړی دی

الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ... دقران کریم داحکم یعني ومیراث خوروته وصیت کول داهم په اجماع دامت سره منسوخ دی: اوددې حکم ناسخ هغه متواتر حدیث دی چي دهغه اعلان رسول کریم ﷺ دحجة الوداع پر موقع باندي په خطبه کي تقریبا دیونیم لکو صحابه کرامو په حضور او مخ کښي وکړی الفاظ دحدیث داسي دي (ان الله اعطى لكل ذى حق حقه فلا وصية لوارث . اخرجه الترمذي) الله ﷻ دهر حق خاوند ته دهغه حق ورکړی دی نو په دې وجه اوس دیوه میراث خور لپاره وصیت کول نه دی رواه . همدغه حدیث دابن عباس په روایت سره په دې الفاظو سره راغلی دی (لاوصية لوارث الا ان تجيزه الورثة)یعني دیوه وارث لپاره وصیت کول تر هغه وخته نه دی رواه تر څو چي نوروباقي وارثانو اجازه ورکړې نه وي) دحدیث شریف حاصل دادی چي الله ﷻ دوارثانو حصې په خپله مقرري کړي دي نو په دې وجه ددوی لپاره دوصیت کولو ضرورت پاته نه سو بلکه دوارث په حق کښي دوصیت کولو اجازت هم نسته مگر که نورو وارثانو اجازه ورکړه.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۷۸)

ع ۲۲

www.jamairahmani.org

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ

كُتِبَ	عَلَيْكُمُ	الصِّيَامُ	كَمَا	كُتِبَ	عَلَى	الَّذِيْنَ
فرض کړل سوی ده	په تاسی باندی	روژه	لکه څنګه چی	فرض کړل سوی وه	پر	هغو کسانو

فرض کړل سوی ده په تاسی باندی روژه لکه څنګه چی فرض کړل سوی ده پر هغو کسانو

مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٨٣﴾ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ فَمَنْ

مِنْ قَبْلِكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تَتَّقُوْنَ	اَيَّامًا	مَّعْدُوْدٰتٍ	فَمَنْ
چی دمخه ستاسو څخه وه	دپاره د دی چی تاسی	ځان وساتئ	یو څو ورځی	شمیرلی سوی	پس هغه څوک

چی پخوا د تاسی څخه وه دپاره د دی چی تاسی ځان وساتئ (دګناهونو څخه) یو څو ورځی شمیرلی سوی، پس هغه څوک

كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ

كَانَ	مِنْكُمْ	مَّرِيْضًا	اَوْ عَلٰى سَفَرٍ	فَعِدَّةٌ	مِّنْ اَيَّامٍ
چی وی	ستاسی څخه	ناجوړه	یا وی په سفر کښی	نو په شمار (روژه نیولدی)	د ورځو (خوړل سویو)

چی وی د تاسی څخه ناجوړه یا (روان) وی په سفر (او روژه وخوړئ) نو (پرده روژه نیولدی) په شمار د (خوړل سویو) ورځو

اُخَرَ ؕ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ؕ

اُخَرَ	وَعَلَى	الَّذِيْنَ	يُطِيْقُوْنَهٗ	فِدْيَةٌ	طَعَامُ	مِسْكِيْنٍ
نورو	او پر	هغو کسانو	چی د روژی نیولو طاقت نه لری	فدیه ورکول دی	خوراک	د یوه مسکین

نورو، او پر هغو کسانو چی د روژی نیولو طاقت نه لری فدیه ورکول دی طعام (ډوډئ) د یوه مسکین (دیوی روژی په برابر)

فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ ؕ وَاَنْ تَصُوْمُوْا

فَمَنْ	تَطَوَّعَ	خَيْرًا	فَهُوَ	خَيْرٌ	لَّهٗ	وَاَنْ	تَصُوْمُوْا
پس هغه څوک	چی پخپله خوښه وکړی	کومه نیکی	نو دغه	بهتره ده	ده لره	او دا چی	روژه نیول ستاسی

پس هر څوک چی پخپله خوښه (زیادت) وکړی کومه نیکی نو دغه بهتره ده ده لره، او دا چی روژه نیول ستاسی

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٤﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْٓ

خَيْرٌ	لَّكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ	شَهْرُ	رَمَضَانَ	الَّذِیْٓ
ډیره بهتره ده	تاسی ته	که چیری یاست تاسی	چی پوهیږی	میاشت	د روژی	هغه (میاشت ده)

ډیره بهتره ده تاسی ته (له خوړو څخه) که چیری یاست تاسی چی پوهیږئ (د روژی په فضیلت). میاشت د روژی هغه ده

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ

دصوم لفظي معنی ده امساک یعني بندیدل او بچ کیدل : او دشریعت په اصطلاح کي روژه د خوراک او چیښاک او دښځي سره دنژدیکت څخه دبندیدلو او لیري کیدلو نوم دی په دې شرط چي دغه عمل به دصبح صادق څخه شروع وي او دلمر تر ډوبیدو پوري به وي او ورسره نیت دروژې به هم وي دغه وجه ده که چیري دلمر تر ډوبیدو یوه دقیقه مخکي هم څه وخوړل سي یا وڅیښل سي نو روژه ونه سوه او هم دغه شان که چیري ددغه ټولو شیانو څخه ټوله ورځ پرهیز وسي خو نیت یه دروژې نه وي نو دا هم روژه نه ده : روژه د اسلام د هغو عبادتونو څخه یو عبادت دی کم چي د اسلام لپاره ستني او نبناني دي ددې فضایل هم ډیر دي خو دا ځای دهغو دبیان ګنجایش نه لري دروژې حکم مسلمانانو ته په یو خاص مثال سره ورکړه سوی دی دحکم سره داویل سوي دي چي ددې روژې فرضیت په تاسي پوري څه خاص نه دی پر مخکې امتونو باندي هم روژه فرض وه په دې خبره سره دروژې خاص اهمیت هم معلوم سو۔ (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۸۰)

www.jamairahmani.org

اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ هُدًی لِّلنَّاسِ وَ بَیِّنٰتٍ مِّنَ

اُنۡزِلَ	فِیۡهِ	الۡقُرۡاٰنُ	هُدًی	لِّلنَّاسِ	وَ بَیِّنٰتٍ	مِّنَ
چې نازل کړی سوی دی	په دی کښې	قرآن	چې هدایت دی	دپاره د خلګو	او د لیلونه دی ښکاره	د

چې نازل سوی دی په دی (میاشت) کښې قرآن چې هدایت دی دپاره د خلګو او دلیلونه دی ښکاره (له جنسه دهغو شیانو)، هغه چې

الۡهُدٰی وَالۡفُرۡقَانِ فَمَنۡ شَهِدَ مِنۡكُمُ الشَّهۡرَ

الۡهُدٰی	وَالۡفُرۡقَانِ	فَمَنۡ	شَهِدَ	مِنۡكُمُ	الشَّهۡرَ
هدایت څخه	او بیلوونکی دی	پس هغه څوک	چې پیدا کړی	په تاسو کښې	دا میاشت

لاره ښیئ او بیلوونکی دی (دحق او باطل) پس هغه څوک چې ومومي په تاسو کښې (ای مکلفینو) دا میاشت

فَلۡیَصُمۡهُ وَمَنۡ كَانَ مَرِیۡضًا اَوۡ عَلٰی سَفَرٍ فَعِدَّةٌ

فَلۡیَصُمۡهُ	وَمَنۡ	كَانَ	مَرِیۡضًا	اَوۡ عَلٰی سَفَرٍ	فَعِدَّةٌ
نو روژه دې ونیسی د هغې (میاشتې)	او هغه څوک	چې وی	ناجوړه	یاوی په سفر کښې	نو په شمار (روژه نیول دی)

نو ضرور دې روژه ونیسی دهغې (میاشتې) او هغه څوک چې وی ناجوړه یا په سفر کښې وی نو پر ده باندې د ده روژه نیول په شمار

مِّنۡ اَیَّامٍ اُخَرَ یُرِیۡدُ اللّٰهُ بِكُمُ الۡیُسۡرَ وَلَا یُرِیۡدُ بِكُمُ

مِّنۡ اَیَّامٍ	اُخَرَ	یُرِیۡدُ	اللّٰهُ	بِكُمُ	الۡیُسۡرَ	وَ	لَا یُرِیۡدُ بِكُمُ
دورځو (خوړل سویو)	نورو	اراده لری	الله	پر تاسو باندی	د آسانتیا	او	اراده نه لری پر تاسی

(دخوړل سویو) ورځو نورو، اراده لری الله پر تاسو باندی د آسانتیا او اراده نه لری پر تاسی باندی

الۡعُسۡرَ وَلِتُكۡمِلُوا الۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰی مَا

الۡعُسۡرَ	وَلِتُكۡمِلُوا	الۡعِدَّةَ	وَلِتُكَبِّرُوا	اللّٰهَ	عَلٰی مَا
د سختی	او دپاره د دی چې پوره کړی تاسی	شمار	او چې په لوئی سره یاد کړئ	الله	پر هغه چې

دسختی او دپاره د دی چې پوره کړی (تاسی) شمار (دروژې) او چې په لوئی سره یاد کړی الله پر هغه چې

هَدٰىكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۝۱۸۵ وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیۡ

هَدٰىكُمۡ	وَلَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ	وَاِذَا	سَاَلَكَ	عِبَادِیۡ
هدایت یې کړی دی تاسی ته	او دپاره ددی چې تاسی	شکر وباسئ	او کله چې	پوښتنه وکړی ستا څخه	بندګان زما

هدایت یې کړی دی تاسی ته او دپاره د دی چې تاسی شکر وباسئ، او کله چې پوښتنه وکړی (ای محمده!) ستا څخه بندګان زما

اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ هُدًی لِّلنَّاسِ..په دې ایت کښې درمضان شریف دمیاشتې دېښه والي ذکر سوی دی: هغه دارنګه چې الله ﷻ دخپلو وحیو او اسماني کتابونو دنازلولو لپاره هم دا میاشت چاڼ کړې ده چې په کښې قرآن کریم هم نازل سوی دی په مسند احمد کښې دواثله ابن اسقع ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې دحضرت ابراهیم علیه السلام صحیفې ددې رمضان په اولنۍ نیټه کښې نازلې سوې دي تورات پر شپږمه نیټه نازل سوی دی انجیل په دیارلسمه او قرآن کریم په څلیرویشتمه نیټه نازل سوی دی او دحضرت جابر ﷺ په روایت کښې داهم دي چې زبور په دوولسم درمضان او انجیل په اتلسم نازل سو (ابن کثیر ج۱ ص ۳۸۰) فرق یوازې دومره دی چې نور تول اسماني کتابونه درمضان په دغه نیټو تول په یووار پر انبیاوو باندې نازل سوي دي یوازې دقرآن کریم خصوصیت دی چې دا درمضان شریف په یوه شپه کې تول په یووار دلوح محفوظ څخه اولنې اسمان ته نازل سو خو پر حضور ﷺ باندې بیا په درویشت کاله کښې لږ لږ نازل سو. (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۸۶)

www.jamairahmani.org

عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ؕ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا

عَنِّيْ	فَاِنِّيْ	قَرِيْبٌ	اُجِيْبُ	دَعْوَةَ	الدَّاعِ	اِذَا
زما	نو بیشکه! زه	نژدی یم	قبلوم زه	سوال	دغوښتونکی	په هغه وخت کښې

زما، پس بیشکه! زه نژدی یم (دوی ته په علم او اجابت سره)، قبلوم زه سوال د غوښتونکی په هغه وخت کښې

دَعَانِ ۙ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ

دَعَانِ	فَلْيَسْتَجِيْبُوْا	لِيْ	وَلْيُؤْمِنُوْا	بِيْ	لَعَلَّهُمْ
چی وبولی ما	نو ښایی چی دوی هم ومنی	حکم زما	او ایمان دی ولری	پر ما	ښایی چی دوی

چی وبولی ما نو ښایی چی دوی هم ومنی حکم زما (طاعت) او ټینګ دی اوسی په ایمان باندی پر ما، ښایی چی دوی

يَرْشُدُوْنَ ﴿۱۸۶﴾ اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ

يَرْشُدُوْنَ	اُحِلَّ	لَكُمْ	لَيْلَةَ	الصِّيَامِ	الرَّفَثُ
پر سمه لار پاتی سی	حلال کړل سوی دی	تاسی ته	په شپه کښې	د روژی	یوځای والئ (جماع)

پر سمه لاره محکم پاتی سی. حلال کړل سوی دی تاسی ته په شپه کښې د روژی یو ځای والی (جماع)

اِلٰى نِسَآئِكُمْ ؕ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ؕ عَلِمَ

اِلٰى نِسَآئِكُمْ	هُنَّ	لِبَاسٌ	لَّكُمْ	وَاَنْتُمْ	لِبَاسٌ	لَّهُنَّ	عَلِمَ
دخپلو ښځو سره	دوی	لباس دی	تاسی ته	او تاسی یاست	لباس	دوی لره	معلوم دی

د ښځو خپلو سره، دوی لباس (پرده) دی تاسی ته او تاسی لباس (پرده) یاست دوی ته، معلوم دی

اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ

اللّٰهُ	اَنَّكُمْ	كُنْتُمْ	تَخْتَانُوْنَ	اَنْفُسَكُمْ	فَتَابَ	عَلَيْكُمْ
الله ته	بیشکه! تاسی	یاست (تاسی)	چی خیانت کوئ	د خپلو ځانو سره	پس رجوع یی په رحمت وکړه	پر تاسی باندی

الله ته بیشکه! تاسی یاست چی خیانت کوی په ځانو خپلو سره، پس رجوع یی په رحمت سره وکړه پر تاسی باندی

وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْئٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ

وَعَفَا	عَنْكُمْ	فَالْئٰنَ	بَاشِرُوْهُنَّ	وَابْتَغُوْا	مَا كَتَبَ
او عفوه یئ وکړه	تاسو ته	نو اوس	یوځای والئ کوی (جماع) د دوی سره	او وغواړی	هغه شئ چی لیکلی دی

او عفوه یئ وکړه تاسو ته نو اوس جماع کوئ (د ښځو خپلو سره د روژی په شپو کی) او وغواړی هغه شئ چی لیکلی (مقرر کړی دی)

اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ..دا حل لکم دلفظ څخه معلومه سوه چي کم شی ددې ایت په واسطه حلال سوی وو هغه تر دې مخکي حرام وو: د براء بن عازب رضي الله عنه په روایت په صحیح بخاري او نورو کي ذکر دي چي د رمضان د روژو د فرض کیدو په شروع کي تر روژه مات وروسته د خوراک چیښاک او د بیبیانو سره د یوځای کیدو یوازي تر هغه وخته اجازه وه چي بیده سوي به نه وای کله چي به بیده سوه نو دا ټول شیان به تر بل روژه ماته پوري حرام وه څه صحابه کرامو ته په دې کښي ډیر ګرانی پیښ سو قیس ابن مصرمه انصاري رضي الله عنه ټوله ورځ مزدوري کړې وه او د روژه مات په وخت کښي چي کله کورته راغی په کور کښي د خوراک لپاره هیڅ نه وه ښځي یه ورته وویل چي ته کښینه زه د ډوډۍ انتظام کوم او څه راوړم کله چي ښځه واپس راغله نو دغه صحابي د ستوماني او ستړیا دوجي بیده سوی وو چي راکښینستی نو خوراک باندي حرام سوی وو صبا ته یي په نهاره روژه ونیول او غرمې ته بیهوښه سونو بیا دغه ایت نازل سو هغه مخکي حکم منسوخ سو.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۹۱)

www.jamairahmani.org

اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ

اللّٰهُ	لَكُمْ	وَ كُلُوْا	وَاشْرَبُوْا	حَتّٰى	يَتَبَيَّنَ	لَكُمُ	الْخَيْطُ
الله	ستاسی دپاره	او خورئ	او څښئ يئ تاسی	ترهغه پوری	چی ښکاره سی	تاسو ته	تار

الله ستاسی دپاره ، او خورئ او څښئ يئ تاسی ترهغه پوری چی ښکاره سی تاسو ته تار

الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۠ ثُمَّ اَتِمُّوا

الْاَبْيَضُ	مِنَ الْخَيْطِ	الْاَسْوَدِ	مِنَ الْفَجْرِ	ثُمَّ	اَتِمُّوا
سپين	له تاره	توره	د صبا (سهار)	بيا	پوره کړی

سپين (جلا، جدا) له تاره توره څخه (چی سپين تار) د صبا (دسهار) څخه دی، بيا پوره کړی

الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ ۙ

الصِّيَامَ	اِلَى	الَّيْلِ	وَ	لَا تُبَاشِرُوْهُنَّ	وَاَنْتُمْ	عٰكِفُوْنَ
روژه	تر	شپی پوری	او	يوځای والئ مه کوی (دښځو خپلو سره)	او حال داچی تاسی	اعتکاف کوونکی ياست

روژه (خپله) تر شپی پوری او جماع مه کوئ دښځو خپلو سره او حال داچی تاسی معتکفان ياست (اعتکاف کوونکی)

فِي الْمَسٰجِدِ ۭ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ۭ كَذٰلِكَ

فِي الْمَسٰجِدِ	تِلْكَ	حُدُوْدُ	اللّٰهِ	فَلَا تَقْرَبُوْهَا	كَذٰلِكَ
په مسجدو کښی	دا	احکام	د الله دی	نو مه نژدی کيږی دوی ته	همدارنګه

په مسجدو کښی، دا احکام (حدود) د الله دی نو مه نژدی کيږی دوی ته (په ماتولو سره) هم داسی

يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ۝١٨٧

يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	اٰيٰتِهٖ	لِلنَّاسِ	لَعَلَّهُمْ	يَتَّقُوْنَ
بيانوی	الله	آيا تونه خپل	دپاره دخلګو	ښايئ چی دوی	ځان وساتی

بيانوی الله آيا تونه خپل دپاره د خلګو چی ښايئ دوی ځان وساتی (د دی حدودو له مخالفته) .

وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَآ

وَ لَا تَاْكُلُوْٓا	اَمْوَالَكُمْ	بَيْنَكُمْ	بِالْبَاطِلِ	وَتُدْلُوْا	بِهَآ
او مه خورئ	مالونه خپل	په خپل مينځ کښی	په ناحقه سره	او مه رسوئ	دا (مالونه)

او مه خورئ! مالونه خپل (چی واقع دی) په منځو کښی ستاسو په ناحقه سره او مه رسوئ! دا مالونه

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ... دسهار سپينوالی او دشپې تورووالی: په دغه ايت کي الله ﷻ دسهار سپينوالي ته په سپينه ليکه او دشپې توروالي ته په توره ليکه ويلو سره دروژې دشروع کيدو او دخوراک او چيښاک دحراميدو صحيح وخت وټاکی او په دې کي يـه دکمـي او زيـاتوب دختمولو لپاره د(حتی يتبين) لفظ زيات کړی مطلب يي دادی چي نه خو دوهمي او سودايي خلګو په شان دسهار تر راختو څخه مخکي چيښاک او نور حرام ګڼل په کاردي او نه دبې پروايي دې حد ته رسيدل په کار دي چي دسپيدو په راختو ځان نا غرضه کي او دسهار درڼا دليدلو با وجود بې غمه خوراک او چيښاک کوي بلکه دمينځ او ميانه لاره اختيارول پکار ده چي دصبح صادق په يقيني کيدو سره خوراک او چيښاک بندول پکاردي يعني دسهار دراختو څخه مخکي خوراک او چيښاک حرام ګڼل هم نه کار نه دی او دسپيدو تر راختو وروسته خوراک او چيښاک کول حرام دی او روژه ماتوونکی دی که څه هم يوه دقيقه وخت وي په داسي شيانو کي احتياط په کار دی.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۹۱)

www.jamairahmani.org

اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ

اِلَى الْحُكَّامِ	لِتَاْكُلُوْا	فَرِيْقًا	مِّنْ اَمْوَالِ	النَّاسِ	بِالْاِثْمِ
ترحاکمانو پورې	دپاره د دې چې وخورئ تاسې	يوه حصه	د مالو څخه	د خلګو	په ظلم سره

ترحاکمانو پورې دپاره د دې چې وخورئ (تاسې په دې رسولو سره) يوه څه د مالو د خلګو څخه په ظلم (ناحقه) سره

وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ؕ قُلْ هِيَ

وَاَنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ	يَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ الْاَهِلَّةِ	قُلْ	هِيَ
او تاسې	پوهيږئ	پوښتنه کوي دوی ستا څخه	د حاله دنويو مياشتو	ووايه (اې! محمده)	چې دا (مياشتې)

او تاسې پوهيږئ (چې دا ظلم دی). پوښتنه کوي دوی ستا څخه (محمده!) د حاله د نويو مياشتو ، ووايه دوی ته چې دا مياشتې

مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ؕ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ

مَوَاقِيْتُ	لِلنَّاسِ	وَالْحَجِّ	وَلَيْسَ	الْبِرُّ بِاَنْ	تَاْتُوا	الْبُيُوْتَ
ټاکل سوي وختونه دي	دپاره د خلګو	او د حج	او نه ده	نيکي داچې	راځئ (تاسې)	کورو ته

ټاکلي (مقرر) سوي وختونه دي د خلګو دپاره او د حج دپاره، او نه ده نيکي (داکار) داچې راځئ (تاسې) کورو ته

مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ وَاْتُوا

مِنْ ظُهُوْرِهَا	وَلٰكِنَّ	الْبِرَّ	مَنِ	اتَّقٰى	وَاْتُوا
د شا د طرفه څخه د هغو	او ليکن	نيکي	دهغه ده	چې بيريږي (دالله څخه)	او راځئ

د شا د طرفه څخه د هغو ، او ليکن (خاوند) د نيکۍ هغه څوک دی چې وبيريږي (دالله څخه) په ترک د مخالفت کښې او راځی

الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا ص وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾

الْبُيُوْتَ	مِنْ اَبْوَابِهَا	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ
کورو ته	د طرفه د دروازو د هغوی	او وبيريږئ	د الله څخه	د دې دپاره چې تاسې	په خپل مراد ورسيږئ

کورو ته د طرفه د دروازو دهغوی او وبيريږئ د الله څخه د دې دپاره چې خلاص سئ (دالله دعذاب څخه) او په مراد ورسيږئ.

وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَ

وَ	قَاتِلُوْا	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	الَّذِيْنَ	يُقَاتِلُوْنَكُمْ	وَ
او	جنګ کوئ	په	لاره	دالله کښې	د هغو کسانو سره	چې جنګ کوي ستا سي سره	او

او جنګ کوئ (اې مؤمنانو) په لاره د الله کښې د هغو کسانو سره چې جنګ کوي ستاسې سره او

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ
دمياشتي داولو شپو په باره کي سوال: په دغه اوسني آيت کښي دصحابه کرامو رضي الله عنه دهغه سوال ذکر دی کم چي دوی دنبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه کړی وو داهله په باره کښي (يعني داولو شپو دمياشتي په باره کي) سوال يي په دا ډول کړی وو چي ددې شکل دلمر څخه مختلف دی ځکه چي داخو مخکي نری وي بيا کرار کرار غټيږي چي پورا ګول سي نو بيا کرار کرار دغه شان په کميدو سي اوس دا سوال پر دې بنا کيدی سي چي صحابه کرامو رضي الله عنهم ددې حقيقت پوښتی او پر دې هم بنا کيدای سي چي ددې حکمت او مصلحت يي پوښتی مګر په جواب کي دحکمت او مصلحت بيان دی اوس که دا پوښتنه دحکمت او مصلحت په باره کښي وي نو داجواب هم دسوال مطابق سو او که داسوال دحقيقت په باره کي وي خو بيا هم دحقيقت ښوولو پر ځاي يه يوازي دحکمت او مصلحت په بيانولو کي دې خبري ته اشاره وکړه چي دآسماني شيانو لکه لمر او سپوږمی اونورو شيانو حقيقتونه معلومول دانسان دطاقت څخه وتلي دي بلکه ددغو شيانو دفايدو په اړه بايد سوال وسي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۰۳)

ع ۲۳

www.jamairahmani.org

لَا تَعْتَدُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝۱۹۰ وَاقْتُلُوْهُمْ

لَا تَعْتَدُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	الْمُعْتَدِيْنَ	وَ	اقْتُلُوْهُمْ
مه کوئ زياتئ (تيرئ)	بيشکه!	الله	نه خوښوی	تيريدونکی د حده	او	وژنئ دوی

مه کوئ زياتئ (پر هيچا باندی ای! مؤمنانو) بيشکه الله نه خوښوی تيريدونکی د حده او وژنئ دوی!

حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَاَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ

حَيْثُ	ثَقِفْتُمُوْهُمْ	وَ	اَخْرِجُوْهُمْ	مِّنْ حَيْثُ
په هغه ځای کښی	چی مومئ (پيداکوی) دوی	او	باسئ دوی	د هغه ځای څخه

په هر هغه ځای کښی چی مومئ (پيداکوی) دوی او باسئ! دوی د هغه ځای څخه

اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَ

اَخْرَجُوْكُمْ	وَالْفِتْنَةُ	اَشَدُّ	مِنَ الْقَتْلِ	وَ
چی ايستلی دی دوی تاسی	او فتنه	ډير سخت دی	تر وژلو	او

چی ايستلی دی دوی تاسی او فتنه (شرک او د دين څخه اړول) ډير سخت دی د وژلو څخه او

لَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ ۚ

لَا تُقٰتِلُوْهُمْ	عِنْدَ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	حَتّٰى	يُقٰتِلُوْكُمْ	فِيْهِ
جنګ مه کوی د دوی سره	په نزد	د مسجد الحرام کښی	تر هغه پوری	چی وجنګيږی دوی ستاسی سره	په دغه (حرم) کښی

جنګ مه کوی د دوی سره په (نزد) د مسجد الحرام کښی تر هغه پوری چی وجنګيږی دوی ستاسی سره په دغه حرم کښی

فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ۭ كَذٰلِكَ جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ ۝۱۹۱

فَاِنْ	قٰتَلُوْكُمْ	فَاقْتُلُوْهُمْ	كَذٰلِكَ	جَزَاۗءُ	الْكٰفِرِيْنَ
پس که چيری	جنګ وکړی دوی ستاسی سره	نو وژنئ دوی هم	هم داسی ده	جزاء	د کافرانو

پس که چيری جنګ وکړی دوی ستاسی سره نو وژنئ! دوی ، هم داسی ده (لکه تيری سوی جزاوی) جزاء د کافرانو د پاره

فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۱۹۲

فَاِنِ	انْتَهَوْا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ
پس که چيری	منع راوړی دوی	پس بيشکه!	الله	ډيربه بخښونکی	پوره رحم لرونکی دی

پس که چيری منع راوړی دوی (له شرکه نو الله به يی وبخښی) پس بيشکه! الله ډير بخښونکی پوره رحم لرونکی ذات دی

وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ... دجهاد او دجنګ حکم: دټول امت پر دې اتفاق دی چي مدينې منورې ته تر هجرت کولو څخه مخکي مسلمانانو ته دکفارو سره دجهاد کولو بنديز او دصبر معافی او درګزرکولو ښوونه وه دهجرت دوخت څخه دا اولنی آيت دی چي په کښي دجهاد کولو حکم وسو لکه چي ربيع بن انس او نورو اکثرو صحابه وو او تابعينو فرمايلي دي په دې کښي که څه هم دا حکم دی چي مسلمانان دي يوازي دهغه کفارو سره جنګ کوي کم چي دجنګ لپاره راغلي وي داسي کفار په جنګ کي وژل ناروا دي چي هغوی ګوډ، شل او معذوره وي دغه دکفارو سره خواری او مزدوری کوي خو په جنګ کي ورسره شريک نه وي دکفارو ماشومان ښځي، دهغوی راهبان، پادريان، بامبران، اونور چي په جنګ کي نه شريکيږي.. دا شرط ځکه ضروري دی چي فقهاء کرام دهغه ښځو بوډاګانو پادريانو بامبړانو اونورو قتلول هم رواه ګڼي کم چي دکفارو سره په جنګ کي دمسلمانانو په مقابله کي شريک وي يا دځه قسم ملاتړ يا امداد ورسره په جنګ کي کوي ځکه چي دوی په (الذين يقاتلونکم) کي داخل دي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۰۴)

www.jamairahmani.org

وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ

وَ	قٰتِلُوْهُمْ	حَتّٰى	لَا تَكُوْنَ	فِتْنَةٌ	وَّيَكُوْنَ	الدِّيْنُ	لِلّٰهِ
او	جنګ کوئ! تاسی د دوی سره	ترهغه پورې	چې پاته نسی	فتنه	او سی	دین	خاص الله لره

او جنګ کوئ! تاسی د دوی سره ترهغه پورې چې پاته نسی فتنه (شرک او فساد) او سی دین (حکم) خاص الله لره

فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾ اَلشَّهْرُ

فَاِنِ	انْتَهَوْا	فَلَا عُدْوَانَ	اِلَّا	عَلَى	الظّٰلِمِيْنَ	اَلشَّهْرُ
پس که چیرې	وګرځیدل دوی	نو نسته هیڅ تیرئ	مګر	پر	ظالمانو	میاشته

پس که چیرې وګرځیدل (دوی د شرکه) نو نسته هیڅ تیرئ (پر دوی باندی) مګر پر ظالمانو باندی(سته جزاء). میاشته

الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ

الْحَرَامُ	بِالشَّهْرِ	الْحَرَامِ	وَالْحُرُمٰتُ	قِصَاصٌ	فَمَنِ
حرامه	په بدل د میاشتی	حرامی کښې ده	او تعظیمونه	برابری	پس هغه څوک چې

حرامه په بدل د میاشتی حرامی کښې ده او تعظیمونه (د دی شیانو) سره برابری دی پس هغه څوک چې

اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى

اعْتَدٰى	عَلَيْكُمْ	فَاعْتَدُوْا	عَلَيْهِ	بِمِثْلِ	مَا	اعْتَدٰى
تیرئ وکړی	پر تاسی باندی	نو تاسی هم تیرئ کوئ!	په هغوی باندی	په شان	د هغه	چې تیرئ یې کړی وو هغه

تیرئ وکړی پر تاسی باندی نو تاسی هم تیرئ کوئ! په هغو ی باندی په شان د هغه چې تیرئ یې کړی وو

عَلَيْكُمْ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾

عَلَيْكُمْ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	مَعَ الْمُتَّقِيْنَ
پر تاسی باندی	او وییریږئ	د الله څخه	او پوه سئ! چې	بیشکه!	الله	د پرهیزګارانو سره دی

پر تاسی باندی او وییریږئ د الله څخه! او پوه سئ! چې بیشکه! الله د پرهیزګارانو سره دی (په علم او نصرت سره).

وَاَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى

وَ	اَنْفِقُوْا	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	وَلَا تُلْقُوْا	بِاَيْدِيْكُمْ	اِلَى
او	خرڅوئ (مالونه خپل)	په لاره د الله کښې	او مه غورځوئ	ځانونه خپل	په

او صرفوئ (خرڅوئ مالونه خپل) په لاره د الله کښې ! او مه غورځوئ ځانونه خپل په

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ..مسئله: حرمت والا میاشتي څلور دي: ذي القعده د میانی میاشت ذي الحجه (دلوی اختر میاشت) محرم (د حسن او حسین میاشت) دادرې سره میاشتي پرله پسي دي او رجب (دخدای تعالی میاشت). تر اسلام مخکي هم په دې څلورو میاشتو کي جنګ حرام ګڼل کیدی او دمکي مشرکین هم ددې پایبنده وه او په اسلام کښي تر اووکالو دهجرت پوري هم داقانون جاري وو نو صحابه کرامو ﷺ ته داګرانه تمامه سوه تر دې وروسته دجنګ داحرمت منسوخه سو او په اجماع دامت سره دعام جنګ اجازت ورکول سو مګر اوس هم دابهتره ده چي په دې څلورو میاشتوکي جنګ شروع نه سي یوازي دفاعي جنګ دي کول کیږي پردې بنیاد به داوینا صحیح وي چي دمیاشتو حرامودا حرمت اوس هم باقي دی منسوخ نه دی لکه چي یوازي داسي صورت په حرم مکه کي دضرورت پر بنیاد جایز سوی وو او په عام ډول ددغه میاشتو حرمت اوس هم منسوخ نه دی وګوری معارف القرآن.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۰۸)

www.jamairahmani.org

وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ...
په سورت ال عمران کي يــوازي دحـج دفرضـيت بيان دی: دعمرې پکښي گرد سره ذکر نسته او په دې آيت کي دعمرې دذکر کولو مطلب دادی چي په احـرام ترلـو سـره دحـج اوعمـرې پـورا کـول اوسـرته رسـول داسـي فرض سوه لکه څنگه چي دنورو نفلي عبـادتونو (لمـونځ ، روژې اونـورو) دغـــه حکـــم دی ددې آيت څخه دا مسئله هيڅکله نه ثابتيږي چي عمره اداء کول واجب دي يوازي دا معلوميږي چي څوک يي شروع کړي نو پوراه کول يي واجب دي دحضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه دنبي کـريم صلى الله عليه وسلم څخـه پوښـتنه وکړه چي عمره واجب ده؟ هغـه ورتـه وفرمايـل واجب خو نه ده ليکن که دي وکړه غوره او افضله ده (رواه الترمذی) همدا وجـه ده چـي دامـام ابوحنيفـه رحمة الله عليه او امـام مالک رحمة الله عليه) او نورو په نـزد عمـره واجـب نـه ده لهذا داحنافو مذهب دادی چي عمره دشروع څخه نه ده واجب بلکه سنت ده البتّه که چا شروع په وکړه نو بيا واجبيږي او دحـديث شـريف مضـمون هـم دغـه دی.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۱۵)

التَّهْلُكَةِ ۛ وَاَحْسِنُوْا ۛ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۹۵﴾

التَّهْلُكَةِ	وَ	اَحْسِنُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ
هلاکت کښي	او	نيکي کوئ	بيشکه!	الله	دوستي کوي	د نيکو کارانو سره

هلاکت کښي، (چي جهاد ترک او مالونه په غزا کښي ورنه کړې). او نيکي کوئ، بيشکه! چي الله دوستي کوي دنيکو کارانو سره

وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ

وَاَتِمُّوا	الْحَجَّ	وَالْعُمْرَةَ	لِلّٰهِ	فَاِنْ	اُحْصِرْتُمْ	فَمَا اسْتَيْسَرَ
او پوره اداء کړئ	حج	او عمره	خاص الله لره	پس که چيرې	منع کړل سوی تاسې	پس (واجب دی) هغه څه چي اسان دی

او پوره اداء کړئ حج او عمره خاص الله لره، پس که چيرې منع کړل سوي تاسې پس (واجب دي پر تاسې) هغه څه چي اسان دي

مِنَ الْهَدْيِ ۚ وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْىُ

مِنَ الْهَدْيِ	وَلَا تَحْلِقُوْا	رُءُوْسَكُمْ	حَتّٰى	يَبْلُغَ	الْهَدْىُ
د قرباني څخه	او مه خريي !	سرونه خپل	تر هغه پورې	چي ورسيږی	دا قرباني

د هديه څخه (چي مذبوحه ده) او مه خريي! (اې! محصرانو) سرونه خپل تر هغه پورې چي ورسيږي د هديه (مذبوحه)

مَحِلَّهٗ ؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ

مَحِلَّهٗ	فَمَنْ	كَانَ	مِنْكُمْ	مَّرِيْضًا	اَوْ بِهٖ	اَذًى	مِّنْ رَّاْسِهٖ
ځای خپل ته	پس هغه څوک	چي وی	ستاسی څخه	ناجوړه	يا وی په ده پورې	ضرر	د سر دده څخه

ځای د حلاليدو خپل ته، پس هغه څوک چي وي په تاسي کښي ناجوړه يا وي په ده پوري ضرر له طرفه د سر دده څخه

فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ ۟ وقفة

فَفِدْيَةٌ	مِّنْ	صِيَامٍ	اَوْ صَدَقَةٍ	اَوْ نُسُكٍ	فَاِذَآ	اَمِنْتُمْ
نو ده پر ده باندی فديه	د	روژې	يا خيرات	يا حلالول (ديسه)	پس هر کله چي	په امن سی تاسی

نو لازمه ده پر ده باندي فديه د روژې (نيول) يا خيرات (ورکول) يا حلالول (ديسه)، پس هر کله چي په امن سي تاسي

فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ

فَمَنْ	تَمَتَّعَ	بِالْعُمْرَةِ	اِلَى الْحَجِّ	فَمَا اسْتَيْسَرَ
پس هغه چاچي	چي نفع واخيستل	په عمری سره	د حج سره	پس (واجب) دی پر ده باندی هغه چي اسان وی

پس هر هغه چا چي نفع واخيستله په عمري سره (چي يو ځای يي کړه) د حج سره نو (واجب) دی پر ده باندی هغه چي اسان وی

www.jamairahmani.org

مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ

مِنَ الْهَدْيِ	فَمَنْ	لَّمْ يَجِدْ	فَصِيَامُ	ثَلٰثَةِ	اَيَّامٍ	فِي الْحَجِّ
د قربانی څخه	پس هغه چاچي	پیدا نه کړل هدیه	نو پر ده روژه ده	د درو	ورځو	په (ورځو د) حج کښی

د هديي څخه، پس هر هغه چاچي ونه مونده (پيدا نه کړل) هديه نو (واجب ده) پر ده روژه ده د درو ورځو په حج کښې

وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ۭ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۭ ذٰلِكَ لِمَنْ

وَسَبْعَةٍ	اِذَا رَجَعْتُمْ	تِلْكَ	عَشَرَةٌ	كَامِلَةٌ	ذٰلِكَ	لِمَنْ
او اووه ورځی نوری	کله چي وګرځی تاسی	دا	لس (ورځی) دی	پوره کړی	دا (حکم د تمتع)	د هغه دپاره دی

او اووه ورځې (نورې) کله چې وګرځئ تاسې کورونه ته دا لس ورځې دي پوره کړې. دا (حکم د تمتع) د هغه چا دپاره دی

لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

لَّمْ يَكُنْ	اَهْلُهٗ	حَاضِرِي	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ
چی نه وی	عیال د ده	اوسیدونکی	په مسجد الحرام کښی	او بیریږئ	د الله څخه

چې نه وي عيال د ده اوسيدونکي په (په احاطه د) مسجد الحرام کښې. او بيريږئ د الله څخه

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ

وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	شَدِيْدُ	الْعِقَابِ	اَلْحَجُّ	اَشْهُرٌ	مَّعْلُوْمٰتٌ
او پوه سئ	بیشکه!	الله	سخت	عذاب ورکوونکی دی	د حج	څو میاشتی	معلومی دی

او پوه سئ! چې بيشکه! الله ډير سخت عذاب ورکوونکی دی. (وخت) د حج (څو) مياشتې معلومې دي

فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ ۙ

فَمَنْ	فَرَضَ	فِيْهِنَّ	الْحَجَّ	فَلَا رَفَثَ	وَ	لَا فُسُوْقَ
نو هر چاچي	فرض کړی	په دی میاشتو کښی	حج	نو نه دی کوی جماع	او	نه ګناهونه

نو هر چا چې فرض کړی (په خپل ځان) په دې مياشتو کښې حج نو نه دې کوي جماع او نه (هم) ګناهونه

وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۭ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ

وَ	لَا جِدَالَ	فِي الْحَجِّ	وَمَا تَفْعَلُوْا	مِنْ خَيْرٍ
او	نه جنګونه	په (ورځو) د حج کښی	او هغه چی کوی تاسی	د نیک کار څخه

او نه (هم) جګړه (جنګونه) په ورځو د حج کښې. او هر څه چې کوی تاسی د نیک کار څخه

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ... **تمتع او قران**: دحج په میاشتوکي دحج سره عمره یوځای کول په دوو طریقو کیږي یوداچي دمیقات څخه دحج او عمرې په یوه وار احرام وتړي دې ته په اصطلاح دحدیثو کښي قِران وایي کله چي دحج احرام ماتیږي نو دعمرې ده به خپله ورسره ماتیږي تر دې مخکي دا احرام هیڅکله نه ماتیږي **دوهمه** طریقه داده چي دمیقات څخه یوازي دعمرې احرام وتړي په مکه مکرمه کښي دعمرې دافعالو داداکولو څخه وروسته دغه احرام مات کي کله چي دترویې (اتمه ورځ دذی الحجې) په ورځ منی ته وزي دحرم شریف دننه دي احرام وتړي دې ته په اصطلاح کښی **تمتع** ویل کیږي دغسې دتمتع لفظي معنی دحج او عمرې پر یوځای کولو فایده اخیستل دي چي تمتع او قران دواړو صورتونو ته شاملیږي او په دغه آیت کښي د (فمن تمتع) څخه مراد هم دغه دي او دآیت په اخر کښي اول دتقوی کولو حکم دی معنی یي داده چي دالله ﷻ په احکامو کي دخلاف کولو څخه بیره او ځان ساتل پکار دي.
(معارف القرآن ج ١ پ ٢ ص ١١٧)

٢٤ ع ٨

www.jamairahmani.org

يَّعۡلَمۡهُ اللّٰهُ ؕ وَتَزَوَّدُوۡا فَاِنَّ خَيۡرَ الزَّادِ التَّقۡوٰى ۡ

يَّعۡلَمۡهُ	اللّٰهُ ؕ	وَ	تَزَوَّدُوۡا	فَاِنَّ	خَيۡرَ	الزَّادِ	التَّقۡوٰى ۡ
نوپوهيږی په هغه باندی	الله	او	توښه واخلئ (دځانو سره)	پس بيشکه!	بهتره	د توښی	ځان ساتل دی

نو پوهيږی په هغه باندی الله، او توښه واخلئ (دځانو سره) نو بيشکه! بهتره د توښی ځان ساتل دی د سواله

وَاتَّقُوۡنِ يٰۤاُولِى الۡاَلۡبَابِ ۝١٩٧ لَيۡسَ عَلَيۡکُمۡ جُنَاحٌ

وَاتَّقُوۡنِ	يٰۤاُولِى	الۡاَلۡبَابِ	لَيۡسَ	عَلَيۡکُمۡ	جُنَاحٌ
او وبيريږئ زما څخه	ای! خاوندانو	دعقلونو	نسته	پر تاسو باندی	هيڅ ګناه

او بيريږئ! زما څخه ای خاوندانو د (صافو) عقلو. نسته په تاسی باندی هيڅ ګناه

اَنۡ تَبۡتَغُوۡا فَضۡلًا مِّنۡ رَّبِّکُمۡ ؕ فَاِذَآ اَفَضۡتُمۡ

اَنۡ	تَبۡتَغُوۡا	فَضۡلًا	مِّنۡ رَّبِّکُمۡ	فَاِذَآ	اَفَضۡتُمۡ
داچی	وغواړئ تاسی	روزی	له فضله د رب خپل څخه	پس هرکله چی	راکښته سی تاسی

داچی وغواړئ تاسی روزی په فضل سره د رب خپل، نو هرکله چی راکښته سئ (دبيت الله طواف ته) تاسی

مِّنۡ عَرَفٰتٍ فَاذۡکُرُوا اللّٰهَ عِنۡدَ الۡمَشۡعَرِ الۡحَرَامِ ۪ وَاذۡکُرُوۡهُ

مِّنۡ عَرَفٰتٍ	فَاذۡکُرُوا	اللّٰهَ	عِنۡدَ	الۡمَشۡعَرِ الۡحَرَامِ	وَاذۡکُرُوۡهُ
دعرفات څخه	نو يادوی	الله	په نزد	د مشعر الحرام	او يادوئ دی (الله)

دعرفات څخه نو يادوی الله په نزد د مشعر الحرام (آخر دمزدلفی کښی) او يا د وئ الله

کَمَا هَدٰىکُمۡ ۚ وَاِنۡ کُنۡتُمۡ مِّنۡ قَبۡلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيۡنَ ۝١٩٨

کَمَا	هَدٰىکُمۡ ۚ	وَاِنۡ	کُنۡتُمۡ	مِّنۡ قَبۡلِهٖ	لَمِنَ الضَّآلِّيۡنَ
لکه څنګه چی	لاره يئ دربنوولی ده تاسی ته	او بيشکه!	وئ تاسی	دمخه تر دی (هدايته)	د ګمراهانو څخه

لکه څنګه چی لاره يئ دربنودلی ده تاسی ته او بيشکه! چی واست تاسی دمخه تر دی هدايته د ګمراهانو څخه.

ثُمَّ اَفِيۡضُوۡا مِنۡ حَيۡثُ اَفَاضَ النَّاسُ

ثُمَّ	اَفِيۡضُوۡا	مِنۡ حَيۡثُ	اَفَاضَ	النَّاسُ
وروسته	راکښته سئ	د هغه ځای څخه	چی راکښته کيږی	خلک

وروسته راکښته سئ (ای قريشو د طواف دپاره) د هغه ځای څخه (دعرفات څخه) چی راکښته کيږی (نور) خلک

لَيۡسَ عَلَيۡکُمۡ جُنَاحٌ اَنۡ تَبۡتَغُوۡا..دحج په سفر کي دتجارت يا مزدوری کولو حکم: يعني پر تاسي ددې خبري هيڅ ګناه نسته چي دحج په سفر کي دتجارت يا مزدوری کولو څه روزي يا دالله ورکړی رزق حاصل کړی ددې آيت دنزول واقعه داده چي دجاهليت په زمانه کي دعربو خلګو ټول عبادتونه او معاملات په خپلو رسمونو او رواجونو شاملولو سره ګډوډ کړي وه او لوبي اوټوکي يي ور څخه جوړي کړي وې هم دغه طريقه دحج په عباداتو کي به دوی کوله دمنی په لويه ټولنه کي به ددوی خاص خاص بازارونه لګيدل نمايشونه به کيدل او دتجارتي ترقی طريقې به پکښې لټول کيدې داسلام په راتلو سره پر مسلمانانو حج فرض سو ددغه ټولو عبثو رسمونو ريښې پريکړل سوې نو دالله ﷻ درضا په لټون او دنبي کريم ﷺ پر تعليماتو ځان قربانوونکو صحابه کرامو ﷺ ته داخيال ور پيدا سو چي ګوندي دحج په ورځو کي په تجارت يا مزدوری کولو سره به څه ګټل هم بند او حرام وي نو داآيت نازل سو الله ﷻ دحج په موسم کي دتجارت ورکولو اجازه ورکړه او دا يي خپل فضل او ورکړه وګڼله.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۲۰)

www.jamairahmani.org

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾ فَاِذَا

وَ	اسْتَغْفِرُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	فَاِذَا
او	مغفرت وغواړئ	دالله څخه	بیشکه!	الله	بښه مغفرت کوونکی	پوره رحم لرونکی دی	پس هرکله چي

او مغفرت غواړئ د الله څخه (خپلو گناهونو) بیشکه! چي الله بښه مغفرت کوونکی پوره رحم لرونکی دی. نو هرکله چي

قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ

قَضَيْتُمْ	مَّنَاسِكَكُمْ	فَاذْكُرُوا	اللّٰهَ	كَذِكْرِكُمْ	اٰبَآءَكُمْ
اداء کړل تاسی	افعال د حج خپل	پس یادوئ	الله	لکه تاسی چي یادول	پلرونه خپل

اداء کړل تاسی افعال د حج خپل نو یادوئ الله لکه تاسی چي یادول پلرونه خپل (په جاهلیت کښی په فخر سره)

اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ۭ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ

اَوْ اَشَدَّ	ذِكْرًا	فَمِنَ	النَّاسِ	مَنْ	يَّقُوْلُ	رَبَّنَآ
بلکه ډیر زیات	یادول	نو ځینی	د خلگو	هغه څوک دی	چي وایی	ای! ربه زموږ

بلکه ډیر زیات یادول نو ځینی د خلگو هغه څوک دی چي وایی ای! ربه زموږ !

اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾

اٰتِنَا	فِي الدُّنْيَا	وَمَا	لَهٗ	فِي الْاٰخِرَةِ	مِنْ خَلَاقٍ
راکړه موږته	په دنیا کښی (ژوند)	او نسته	ده ته	په آخرت کښی	هیڅ برخه

راکړه موږته! په دنیا (لړژوند) کښی (زموږ برخه مال او جاه) او نسته ده ته په آخرت کښی هیڅ برخه

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ

وَمِنْهُمْ	مَّنْ	يَّقُوْلُ	رَبَّنَآ	اٰتِنَا	فِي الدُّنْيَا	حَسَنَةً	وَّ
او ځینی د دوی	هغه څوک دی	چي وایی	ای! ربه زموږ	راکړه موږته	په دنیا کښی	نیکی	او

او ځینی د دوی هغه څوک دی چي وایی، ای! ربه زموږ راکړه موږته! په دغه دنیا (لړژوند) کښی نیکی (نعمت) او

فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ

فِي الْاٰخِرَةِ	حَسَنَةً	وَّقِنَا	عَذَابَ	النَّارِ	اُولٰۗىِٕكَ	لَهُمْ
په آخرت کښی	نیکی	او وساته موږ	د عذابه څخه	د اور	دغه کسان	سته دوی ته

په آخرت کښی نیکی (جنت) او وساته موږ د عذابه څخه د اور (د دوزخ) . دغه کسان سته دوی ته

فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ... دجاهلیت په زمانه کي یو عبث رسم داهم وو:
چي په دې مبارکو ورځو کي به يي خپل پلرونه او نیکونه یادول او مشاعرې به يی هم کولې هم داشان دځینو خلگو دا عادت وو چي دحج په ورځو کي به يـي دالله ﷻ ذکر او دعاگاني کولې لیکن دا ټولي دعاگاني به ددنیا دحاجتونو راحتونو عزتونو او دولتونو لپاره کولې دآخرت فکر به نه وو ورسره دداسي قسم خلگو داصلاح لپاره دآیت په آخر کښي ارشاد سوی دی چي څه خلگ هغه دي چي په حج کي یوازي ددنیا دګټو دعاگاني کوي دآخرت غم ورسره نه وي ددغه خلگو به په آخرت کي هیڅ برخه نه وي ځکه چي داعمل ښيي چي ددوی داحج درسم پر ډول وو یاددنیا دفخر او بدایي لپاره وو دالله ﷻ رضا او دآخرت خلاصی هیڅ ددوی په فکر کښي نه وو یوازي ددنیاوي دعاغوښتلو والا ذکر په دې آیت کي سوی دی او په دنیا کي هم ددغه خواست سره د(حسنة) لفظ نسته اشاره دې ته ده چي دوی بنه والی نه غواړي فقط دا چي خواهشات يي څنګه پورا سي.
(معارف القرآن ج۱ پ ۲ ص ۱۲۴)

نصف

www.jamairahmani.org

نَصِيۡبٌ مِّمَّا كَسَبُوۡا ؕ وَاللّٰهُ سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾

نَصِيۡبٌ	مِّمَّا	كَسَبُوۡا	وَ	اللّٰهُ	سَرِيۡعُ	الۡحِسَابِ
یوه برخه	په سبب دهغو	چي کړي یئ دي دوی (نېه اعمال)	او	الله	ژر اخستونکی	د حساب دی

یوه برخه په سبب د هغو چي کړي یئ دي دوی (نېه اعمال) او الله ژر اخستونکی د حساب دی .

وَاذۡكُرُوا اللّٰهَ فِيۡۤ اَيَّامٍ مَّعۡدُوۡدٰتٍ ؕ فَمَنۡ تَعَجَّلَ

وَاذۡكُرُوا	اللّٰهَ	فِيۡۤ اَيَّامٍ	مَّعۡدُوۡدٰتٍ	فَمَنۡ	تَعَجَّلَ
او یادوئ!	الله	په څو ورځو	شمیرلیو سویو کښې	پس هغه څوک	چي تلواره یئ وکړه

او یادوئ! الله (د تکبیراتو په ویلو سره) په څو ورځو شمیرلیو سویو کښې ، نو هر چا چي تلواره وکړه (د منی څخه مکی ته)

فِيۡ يَوۡمَيۡنِ فَلَاۤ اِثۡمَ عَلَيۡهِ ۚ وَمَنۡ تَاَخَّرَ فَلَاۤ اِثۡمَ عَلَيۡهِ ۙ

فِيۡ يَوۡمَيۡنِ	فَلَاۤ اِثۡمَ	عَلَيۡهِ	وَمَنۡ	تَاَخَّرَ	فَلَاۤ	اِثۡمَ	عَلَيۡهِ
په دوو ورځو کښې	نو نسته هیڅ گناه	پر دغه باندی	او هغه څوک	چي تاخیر وکړی	نو نسته	هیڅ گناه	پر دغه باندی

په دوو ورځو کښې ، نو نسته هیڅ گناه پر دغه تلوار کوونکي او هغه څوک چي تاخیر وکړی نو نسته هیڅ گناه پر دغه باندی

لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّكُمۡ اِلَيۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۲۰۳﴾

لِمَنِ اتَّقٰى	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاعۡلَمُوۡۤا	اَنَّكُمۡ	اِلَيۡهِ	تُحۡشَرُوۡنَ
دهغه چا دپاره چي پرهیز یئ کړی وی	او ویریږی	د الله څخه	او پوه سئ	بیشکه! تاسی	وطرفته د الله	ورټولیږئ

دغه بې گناهی د هغه چا دپاره ده چي پرهیز یئ کړی وی او ویریږی د الله څخه او پوه سئ چي بیشکه! تاسی وطرفته د الله ورټولیږئ

وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّعۡجِبُكَ قَوۡلُهٗ فِي الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا

وَمِنَ	النَّاسِ	مَنۡ	يُّعۡجِبُكَ	قَوۡلُهٗ	فِي الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا
او ځینې	د خلگو څخه	هغه دی	چي په تعجب کښې تا اچوی	خبره د ده	په (کارو د دی) ژوند د	دنیا کښې

او ځینې د خلگو څخه هغه څوک دی چي په تعجب کښې تا اچوی خبره د ده (په کارو) د دی ژوند د دنیا کښې

وَيُشۡهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيۡ قَلۡبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الۡخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾

وَ	يُشۡهِدُ	اللّٰهَ	عَلٰى مَا	فِيۡ قَلۡبِهٖ	وَهُوَ	اَلَدُّ	الۡخِصَامِ
او	شاهد کوی دی	الله	پر هغه چي	په زړه د ده کښې دی	او حال دا چي دی	سخت دی	په جگړه او عداوت کښې

او شاهد کوی دی الله پر هغه شئ چي په زړه د ده کښې دی او حال دا چي دی ډیر سخت دی د جگړه کوونکو

وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّكُمۡ اِلَيۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ.. علماوو لیکلي دي چي دقبول سوي حج نښه داده: چي د حج څخه دارنگه راسي چي زړه یي د دنیا څخه لوړ سوی وي او په آخرت پوري تړلی وي د داسي سړي حج او دعا قبوله گناه یي معاف وي که څوک دا یاد ولري چي د بیت الله شریفي مخ ته هغه د الله ﷻ سره ځای پر ځای دهغه د اطاعت او فرمانبرداری وعده او لوظ کړی دی نو د دې پوره کول په راتلونکي کي څه گران نه دي **حکایت** : یو بزرگ فرمایي چي د حج څخه په واپسی کي زما په زړه کي دیوې گناه وسوسه راغله د غیبو څخه اواز راته وسو چي تا حج نه دی کړی ؟ دغه اواز زما او دهغه گنا په مابین کي یو دیوال جوړ سو او الله ﷻ زه دهغه گناه څخه وساتلم **حکایت** : یو ترکي بزرگ به هر وخت پر خپل سرباندي لوړیو نور لیدی د حج کولو څخه وروسته هغه نور بیخي ورک سو د خپل پیر مولانا جامي رحمة الله علیه څخه یي پوښتنه وکړه هغه ورته وفرمایل چي د حج څخه مخکي تاته خپل ځان گناهکار ښکاریدی مگر د حج څخه وروسته دي ځان بزرگ او نیک وگڼی مغروره سوی د دغه غرور په خاطر دا نور در څخه ورک سو.

(معارف القرآن ج ١ پ ٢ ص ١٢٨)

www.jamairahmani.org

وَإِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ

وَإِذَا	تَوَلّٰى	سَعٰى	فِي الْأَرْضِ	لِيُفْسِدَ	فِيهَا	وَ	يُهْلِكَ
او کله چي	بیرته وګرځي	کوښښ کوي	په مځکه کښې	د پاره د دې چي فساد وکړي	په دی (مځکه) کښې	او	هلاکوي

او کله چي بيرته وګرځي نو ګرځي په چټکۍ سره په مځکه (دمديني) کښې دپاره د دې چي فساد وکړي په مځکه کښې او هلاکوي

الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ

الْحَرْثَ	وَالنَّسْلَ	وَاللّٰهُ	لَا يُحِبُّ	الْفَسَادَ	وَإِذَا	قِيلَ
کښت	او ساه کښان (ذی روح)	حال دا چي الله	نه خوښوي	فساد	او کله چي	وويل سی

کښت (فصل) او ساه کښان (په سوځولو او وژلو سره) حال دا چي الله نه خوښوي فساد (او معصيت) او کله چي وويل سی

لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ ۚ

لَهُ	اتَّقِ	اللّٰهَ	أَخَذَتْهُ	الْعِزَّةُ	بِالْإِثْمِ	فَحَسْبُهُ	جَهَنَّمُ
ده ته	چي وېرېږه	دالله څخه	نيسي دی	غرور	په ګناه سره	پس کافي دی ده لره	دوزخ

ده ته چي وېرېږه د الله څخه، نيسي دی غرور (عار او ننګ) په ګناه سره پس کافي دی ده ته دوزخ (عذاب د اور)

وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ

وَلَبِئْسَ	الْمِهَادُ	وَمِنَ	النَّاسِ	مَنْ	يَشْرِي	نَفْسَهُ
او خامخا بد	بستر دی	او ځيني د	خلګو څخه	هغه څوک دی	چي خرڅوي	نفس خپل

او هرو مرو بد بستر دی (دا اور). او ځيني له خلګو څخه هغه څوک دی چي خرڅوي نفس خپل

ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ يَا أَيُّهَا

ابْتِغَاءَ	مَرْضَاتِ	اللّٰهِ	وَاللّٰهُ	رَءُوفٌ	بِالْعِبَادِ	يَا أَيُّهَا
دپاره د طلب	درضاء	د الله	او الله	ډير مهربان دی	پر بندګانو باندی	ای!

دپاره د طلب د رضاء د الله (چي د خپل ځان او مال څخه تيرېږي)، او الله ډيير مهربان دی پر بندګانو باندی. ای!

الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً ۠ وَلَا تَتَّبِعُوا

الَّذِينَ	آمَنُوا	ادْخُلُوا	فِي السِّلْمِ	كَافَّةً	وَ	لَا تَتَّبِعُوا
هغو کسانو	چي ايمان يې راوړی دی	ننوځی!	په اسلام کښې	ټول	او	مه کوی پيروی

هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی ننوځی! په اسلام کښې (د هغه ټولو شرايطو سره) ټول او مه کوئ پيروی

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ.. حضرت صهيب رومي ﷺ دمکي څخه مديني منورې ته هجرت کوی: کفارو لار ورته بنده کړې وه ده چي داوکتل نو دسپرلی څخه راکښته سو او دخپلي توبرې څخه يې ټول غشي راوکښل او هغو ته يې وفرمايل ای دقريشو قبيلې تاسي ټول پوه ياست چي زه په غشو ويشتو کی تر تاسو ټولو زيات ماهر يم زما غشی کله هم نه خطا کيږي اوس زه په الله ﷻ قسم خورم چي تاسي ماته تر هغه نسی رارسيدلای تر څو چي زما په توبره کي يو غشی لا هم پاته وي دهغه څخه وروسته به زه دتوري څخه کار اخلم تر څو چي په ما کي ساه چليږي بيا چي تاسي څه کوی هغه کوی که دفايدې سودا کول غواړی نو زه دخپل مال ادرس درکوم په مکه کي هغه واخلی او زما لار پريږدی په دې وړانديز دقريشو هغه ټولی راضي سوه او حضرت صهيب رومي ﷺ جوړ او روغ درسول الله ﷺ خدمت کي حاضر سو او ټول حال يي رسول الله ﷺ ته بيان کی نبي کريم ﷺ دوه واره وفرمايل (ربح البيع ابا يحي) ستاسي تجارت فايده مند سوابا يحی او دا آيت نازل سو. (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۲۹)

www.jamairahmani.org

خُطُوٰتِ الشَّيۡطٰنِؕ اِنَّهٗ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ ﴿۲۰۸﴾ فَاِنۡ

خُطُوٰتِ	الشَّيۡطٰنِ	اِنَّهٗ	لَكُمۡ	عَدُوٌّ	مُّبِيۡنٌ	فَاِنۡ
د قدمونو	د شيطان	بيشکه! دا (شيطان)	ستاسی دپاره	دښمن دی	ښکاره	پس که چيری

د (اثرد) قدمونو د شيطان بيشکه! دا (شيطان) ستاسی دپاره (ستاسی) دښمن دی ښکاره. بيا که چيری

زَلَلۡتُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ الۡبَيِّنٰتُ فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ

زَلَلۡتُمۡ	مِّنۡۢ بَعۡدِ	مَا	جَآءَتۡكُمُ	الۡبَيِّنٰتُ	فَاعۡلَمُوۡۤا	اَنَّ
وښوئيدی تاسی	وروسته تر	هغه چی	راغلی دی تاسی ته	ښکاره معجزی	نو پوه سی چی	بيشکه !

وښوئيدی تاسی وروسته تر هغه چی راغلی دی تاسی ته ښکاره معجزی نو پوهيږئ چی بيشکه !

اللّٰهَ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ﴿۲۰۹﴾ هَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡ يَّاۡتِيَهُمُ

اللّٰهَ	عَزِيۡزٌ	حَكِيۡمٌ	هَلۡ	يَنۡظُرُوۡنَ	اِلَّاۤ	اَنۡ	يَّاۡتِيَهُمُ
الله	ډير غالب	لوی حکمت والا دی	نه کوی	انتظار دوی	مګر	داچی	راسی دوی ته

الله ډير غالب (په انفاذ د احکامو) لوی حکمت والا دی. انتظار نه کوی دوی مګر داچی راسی دوی ته

اللّٰهُ فِىۡ ظُلَلٍ مِّنَ الۡغَمَامِ وَالۡمَلٰٓـئِكَةُ وَقُضِىَ الۡاَمۡرُؕ

اللّٰهُ	فِىۡ ظُلَلٍ	مِّنَ الۡغَمَامِ	وَالۡمَلٰٓـئِكَةُ	وَقُضِىَ	الۡاَمۡرُ
(عذاب د) الله	په سايو کښی	د وريځو څخه	او (راسی) ملائيکی	او خلاص سی	کار

(عذاب د) الله په سايو (سيورو) کښی د وريځو څخه او (راسی دوی ته) ملائيکی (دعذاب) او خلاص سی کار (دهلاکت د دوی)

وَاِلَى اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۲۱۰﴾ ع سَلۡ بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ كَمۡ

وَاِلَى اللّٰهِ	تُرۡجَعُ	الۡاُمُوۡرُ	سَلۡ	بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ	كَمۡ
او الله ته	بيرته ګرځول کيږی	ټول کارونه	پوښتنه وکړه (محمده!)	د بنی اسرائيلو څخه	چی څومره

او خاص الله ته بيرته ګرځول کيږی ټول کارونه (په قيامت کښی)، پوښتنه وکړه (محمده!) د بنی اسرائيلو څخه چی څومره

اٰتَيۡنٰهُمۡ مِّنۡ اٰيَةٍۢ بَيِّنَةٍؕ وَمَنۡ يُّبَدِّلۡ نِعۡمَةَ اللّٰهِ

اٰتَيۡنٰهُمۡ	مِّنۡ اٰيَةٍۢ	بَيِّنَةٍ	وَمَنۡ	يُّبَدِّلۡ	نِعۡمَةَ	اللّٰهِ
ورکړی دی موږ دوی ته	د معجزو	ښکاره وو څخه	او هر هغه څوک چی	بدل کړی	نعمت	د الله

ورکړی دی موږ دوی ته د معجزاتو ښکاره وو څخه، او هر هغه څوک چی بدل کړی نعمت د الله (په ناشکری سره)

ع ۲۵ ۱۴ ۹

اِنَّهٗ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ.

الله ﷻ فرمايي چي تاسي پورا پورا په اسلام کي داخل سی: مطلب داچي ستاسي لاس پښي، غوږونه، سترګي، زړه، او دماغ ټول داسلام په دايره او دالله ﷻ په فرمانبرداری کي داخليدل پکار دي داسي نه چي په لاس او پښو باندي خو داسلام عمل وي ليکن په زړه او دماغ کي داسلام پورا ځای نه وي او يا خو په زړه او دماغ کي اسلام وي مګر په ظاهري اندامونو يه عمل نه وي او دآيت دا مطلب هم کيدای سي چي تاسي په مکمل او پورا اسلام کي داخل سی داسي نه چي داسلام څه احکام خو قبلوی او څه آخوا ديخوا ته کوی کله چي اسلام دژوند دمکمل هغه نظام نوم دی کم چي په قرآن او سنت کي بيان سوی دی دهغه ترون دعقايدو او عباداتو سره وي او که دمعاملاتو سره وي او که دمعاشرت سره وي دا جتماعيت او سياست سره يي تعلق وي او که دتجارت او کار او کسب سره يي تعلق وي نو په دې وجه دا ټول قبلول او عملي کول په مکمل ډول په اسلام کي داخل بلل کيږي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۳۱)

www.jamairahmani.org

مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ

مِنۢ بَعۡدِ	مَا	جَآءَتۡهُ	فَإِنَّ	ٱللَّهَ	شَدِيدُ	ٱلۡعِقَابِ	زُيِّنَ
وروسته تر	هغه چي	راغلي وو دا ده ته	پس بيشکه!	الله	سخت دی	عذاب (د ده)	ښايسته کړل سوی دی

وروسته تر هغه چي راغلي وو دا (نعمت) ده ته نو بيشکه! الله سخت دی عذاب (د ده) . ښايسته کړل سوی دی

لِلَّذِينَ كَفَرُوا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ

لِلَّذِينَ	كَفَرُوا	ٱلۡحَيَوٰةُ	ٱلدُّنۡيَا	وَيَسۡخَرُونَ	مِنَ	ٱلَّذِينَ
د هغو کسانو دپاره	چي کافران سوی دی	دغه ژوندون	د دی دنيا	او مسخري کوی دوی	پر	هغو کسانو

د هغو کسانو دپاره چي کافران سوی دی دغه ژوندون لږ(په دنيا کښی) او مسخري کوی دوی پر هغو کسانو

ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡا۟ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ

ءَامَنُوا۟	وَٱلَّذِينَ	ٱتَّقَوۡا۟	فَوۡقَهُمۡ	يَوۡمَ	ٱلۡقِيَٰمَةِۗ	وَ	ٱللَّهُ
چي ايمان يئ راوړی دی	او هغه کسان	چي پرهيزگاره دی	سربيره به وی پر دوی	په ورځی	د قيامت کښی	او	الله

چي ايمان يئ راوړی دی او هغه کسان چي پرهيزگاره دی ، سربيره به وی پر دوی (يعنی کفارو) په ورځ د قيامت کښی. او الله

يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾ كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً

يَرۡزُقُ	مَن	يَشَآءُ	بِغَيۡرِ	حِسَابٍ	كَانَ	ٱلنَّاسُ	أُمَّةً
روزی ورکوی	هغه ته چا ته	چي اراده وکړی	بی له	حسابه	وه	تول خلک	تولی

روزی ورکوی هغه چا ته چي اراده وکړی بی له حسابه (ډيره پراخه).. وه تول خلک (په ابتداء کښی) تولی

وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ

وَٰحِدَةً	فَبَعَثَ	ٱللَّهُ	ٱلنَّبِيِّـۧنَ	مُبَشِّرِينَ	وَ	مُنذِرِينَ
په يوه دين	پس وليږل	الله	انبياء	زيرئ ورکوونکی	او	بيروونکی

يو په يوه حق دين، پس وليږل الله انبياء زيرئ ورکوونکی (مؤمنانو ته په نعيم سره) او بيروونکی (کافرانو ته په جحيم سره)

وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ

وَ	أَنزَلَ	مَعَهُمُ	ٱلۡكِتَٰبَ	بِٱلۡحَقِّ	لِيَحۡكُمَ	بَيۡنَ	ٱلنَّاسِ
او	راويی ليږی	د دوی سره	کتاب	په حقه سره	دپاره د دی چي حکم وکړی	په مينځ	د خلګو کښی

او راويی ليږی د دوی سره کتاب په حقه سره دپاره د دی چي حکم وکړی (الله يا نبی يا کتاب) په مينځ د خلګو کښی

كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً

په يوه زمانه کي دټولو انسانانو يو مذهب او يو دين يوه عقيده او يو خيال وو: چي هغه دحق او فطرت دين دی بيا دهغوی دطبيعتونو شوقونو او دسوچ اوفکر داختلاف په وجه ډير مختلف خيالات او عقيدې پيدا سوې په کمو کي چي دحق او ناحق بيلتون کول گران وو چي په دې کي حق کم يو دی او باطل کم يو دی نو الله ﷻ ددې بيلتون دښوولو دپاره پيغمبران راوليږل او پر هغوی يې وحي او کتابونه نازل کړل دانبياوو دکوشش اصلاح او تبليغ څخه وروسته خلگ دوې ډلې سول يو هغه خلگ سوه چا چي دالله ﷻ راليږل سوي هدايات قبول کړل او دپيغمبرانو منونکي سوه چي مومن بلل کيږي دوهم هغه خلگ سوه چا چي آسماني هدايات او پيغمبران درواغجن وگڼل دهغوی خبره يې ونه منله داسي خلگ کافران بلل کيږي: او امة داسي هري ډلي ته ويل کيږي په کمه کي چي په څه وجه تړون او يووالی وي او دا تړون بيا عام دی خيالاتو اوعقيدو ته هم شامل دی او ژبي او رنگ ته هم شامل دی.

(معارف القرآن ج ١ پ ٢ ص ١٣٥)

www.jamairahmani.org

فِيۡمَا اخۡتَلَفُوۡا فِيۡهِ‌ؕ وَمَا اخۡتَلَفَ فِيۡهِ اِلَّا الَّذِيۡنَ

فِيۡمَا	اخۡتَلَفُوۡا	فِيۡهِ	وَ	مَا اخۡتَلَفَ	فِيۡهِ	اِلَّا	الَّذِيۡنَ
په هغه کار کښې	چې اختلاف کړی دی دوی	په هغه کښې	او	اختلاف نه دی کړی	په هغه کښې	مګر	هغه کسانو

په هغه کار کښې چې اختلاف کړی دی دوی په هغه کښې او اختلاف نه دی کړی په هغه کښې مګر هغه کسانو

اُوۡتُوۡهُ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ الۡبَيِّنٰتُ بَغۡيًا

اُوۡتُوۡهُ	مِنۡۢ بَعۡدِ	مَا	جَآءَتۡهُمُ	الۡبَيِّنٰتُ	بَغۡيًا
چې ورکړل سوی وو دوی ته کتاب	وروسته تر	هغه	چې راغلی وه دوی ته	دلیلونه ښکاره	په سبب د کینې

چې ورکړل سوی وو دوی ته کتاب وروسته تر هغه چې راغلی وه دوی ته دلیلونه ښکاره په سبب د کینې

بَيۡنَهُمۡ‌ۚ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لِمَا اخۡتَلَفُوۡا

بَيۡنَهُمۡ	فَهَدَى	اللّٰهُ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	لِمَا اخۡتَلَفُوۡا
په مینځ د دوی کښې	پس سمه لار وښوول	الله	هغه کسانو ته	چې ایمان یې راوړی دی	هغه شی ته چې اختلاف کړی وو دوی

په مینځ د دوی کښې پس سمه صافه لار وښوول الله هغه کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی هغه شی ته چې جنګ کړی وو دوی

فِيۡهِ مِنَ الۡحَـقِّ بِاِذۡنِهٖ‌ؕ وَاللّٰهُ يَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ

فِيۡهِ	مِنَ الۡحَـقِّ	بِاِذۡنِهٖ	وَاللّٰهُ	يَهۡدِىۡ	مَنۡ يَّشَآءُ	اِلٰى	صِرَاطٍ
په هغه کښې	د حق	په حکم خپل سره	او الله	هدایت کوی	هغه ته چې اراده وکړی	طرف	د لاری

په هغه کښې (چې عبادت دی) د حق په اذن (حکم) خپل سره او الله هدایت کوی هغه چا ته چې اراده وکړی و طرفته د لاری

مُّسۡتَقِيۡمٍ ۝۲۱۳ اَمۡ حَسِبۡتُمۡ اَنۡ تَدۡخُلُوا الۡجَـنَّةَ وَلَمَّا يَاۡتِكُمۡ

مُّسۡتَقِيۡمٍ	اَمۡ حَسِبۡتُمۡ	اَنۡ	تَدۡخُلُوا	الۡجَـنَّةَ	وَلَمَّا يَاۡتِكُمۡ
سمی ته	بلکه آیا ګمان کوی تاسی	دا چې	چې ننه به وځی تاسو	جنت ته	دا چې راغلی به نه وی په تاسی باندی

سمی ، بلکه آیا ګمان کوی تاسی (مؤمنانو) دا چې ننه به وځی تاسو جنت ته حال دا چې راغلی به نه وی په تاسی باندی

مَّثَلُ الَّذِيۡنَ خَلَوۡا مِنۡ قَبۡلِكُمۡ‌ؕ مَسَّتۡهُمُ

مَّثَلُ	الَّذِيۡنَ	خَلَوۡا	مِنۡ قَبۡلِكُمۡ	مَسَّتۡهُمُ
په مثل (دښختیو)	د هغو کسانو	چې تیر سوی دی	د مخه ستاسی څخه	چې رسیدلی وی دوی ته

په مثل (دښختیو) د هغو کسانو چې تیر سوی دی پخوا ستاسی څخه چې رسیدلی وی دوی ته

اَمۡ حَسِبۡتُمۡ اَنۡ تَدۡخُلُوا الۡجَـنَّةَ.. په دغه ایت کي ځو خبري قابل دغور دي:

اوله خبره ددې ایت څخه دا معلومیږي چي بې مشقته بې محنته او مصیبتونو او په تکلیفونو کي دراګیریدو څخه بغیر جنت ته څوک نسي تللی سره ددې چي دډیرو آیتونو څخه دا معلومیږي چي ډیر ګناهګاران به یوازي دالله ﷻ په مهرباني او بخښني سره په جنت کي داخلیږي پر هغوی به څه مشقت نه وي وجه داده چي د محنت او مشقت مختلفي درجي دي کمه درجه داده چي دنفس او شیطان سره مقابله وکړی یا دحق دین دمخالفینو په خلاف کولو سره خپله عقیده صحیح کړي لکه چي هر مومن یي کوي څومره چي محنت او مشقت وي هغومره به جنت ته دداخلیدو درجه وي خلاصه دا چي په هره درجه کي محنت او مشقت سته په څه کي کم او په څه کي زیات لکه چي نبي کریم ﷺ فرمایي تر ټولو زیات غمونه او مصیبتونه انبیاوو ته رسیږي بیا هغو ته څوک چي دوی ته زیات نژدي وي نو الله ﷻ دي موږ ته دصبر اوزغم توفیق را نصیب کړي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۴۰)

www.jamairahmani.org

اَلْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ

اَلْبَاْسَآءُ	وَالضَّرَّآءُ	وَزُلْزِلُوْا	حَتّٰى	يَقُوْلَ	الرَّسُوْلُ	وَالَّذِيْنَ
سختئ	او رنځ	او ښوروول سوي وه	ترهغه پوري	چي ويل به	رسول	او هغو کسانو

سختئ او رنځ او ګرځول سوي وو دوی (په سختيو سره) ترهغه پوري چي ويل به (هم) رسول او (هم) هغو کسانو

اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ

اٰمَنُوْا	مَعَهٗ	مَتٰى	نَصْرُ	اللّٰهِ	اَلَآ	اِنَّ	نَصْرَ	اللّٰهِ
چي ايمان يي راوړی وو	سره له ده	چي کله به وی	کومک	د الله	خبردار سئ! واورئ!	بيشکه	کومک	د الله

چي ايمان يي راوړی وو سره له ده چي کله به وی نصرت د الله؟ خبردار سئ! واورئ! چي بيشکه! نصرت د الله

قَرِيْبٌ ﴿٢١٤﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ

قَرِيْبٌ	يَسْـَٔلُوْنَكَ	مَاذَا يُنْفِقُوْنَ	قُلْ	مَآ	اَنْفَقْتُمْ
نژدې دی	پوښتنه کوی ستا څخه	چي څه شی مصرف کړي دوی	ووايه (ای! محمده)	هر شئ	چي مصرفوئ تاسی

نژدې دی. پوښتنه کوی ستا څخه (ای محمده! مؤمنان) چي څه شی مصرف کړي دوی، ووايه هرشئ چي مصرفوئ تاسی

مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى

مِّنْ	خَيْرٍ	فَلِلْوَالِدَيْنِ	وَالْاَقْرَبِيْنَ	وَالْيَتٰمٰى
د	مالو څخه	دپاره د مور او پلار	او د خپلوانو (دپاره)	او د يتيمانو (دپاره)

د مالو څخه نو يي (مصرف کړی) دپاره د مور او د پلار او دپاره د خپلوانو او د پاره د يتيمانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ

وَالْمَسٰكِيْنِ	وَابْنِ السَّبِيْلِ	وَ	مَا	تَفْعَلُوْا	مِنْ خَيْرٍ
او د مسکينانو (دپاره)	او د مسافرانو (دپاره)	او	هرهغه څه	چي کوی يي تاسی	د نيک کاره څخه

او دپاره د مسکينانو او دپاره د مسافرانو او هر هغه څه چي کوی يي تاسی دنيک کار څخه

فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ

فَاِنَّ	اللّٰهَ	بِهٖ	عَلِيْمٌ	كُتِبَ	عَلَيْكُمُ	الْقِتَالُ	وَهُوَ
پس بيشکه!	الله	په هغه باندی	ښه عالم دی	فرض کړل سوی دی	پرتاسی باندی	جنګ کول	حال دا چي دغه

نو بيشکه! الله په هغه باندی ښه عالم دی. فرض کړل سوی دی پرتاسی باندی جنګ کول (د کفارو سره) حال دا چي دغه

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ

دمال لګولو په باره کي

څو مسئلې: ددې آيت څخه يو هدايت دا معلوم سو چي مور او پلار او نورو خپلوانو او عزيزانو ته په څه ډالی ورکولو يا په دوی خوړلو او چيښلو کي که چيري دالله ﷻ دحکم دپر ځای کولو نيت وسي نو اجر او ثواب به ورکول کيږي او دا به دالله ﷻ په لاره کي لګول (انفاق فی سبيل الله) حسابيږي: او بل داهدايت حاصل سو چي په نفلي خيرات کولو کي به هلته ثواب ورکول کيږي چي دادهغه شخص تر ضرورت په زيات مال کي وي او که چيري خپل ځان تنګ کي يا پرخپل اهل او عيال باندي تنګي راولي يا قرض اداء نه کړي او نفلي خيرات وکړي نو دالله ﷻ په نزد دا ښه کار نه دی حضرت ابوذر غفاري ؓ او څه نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم دزيات مال دلګولو دا مطلب اخيستی دی چي تر خپل ضرورت زيات ټول مال دالله ﷻ په لار کي لګول واجب دي مګر جمهور صحابه رضي الله عنهم او تابعين رحمة الله عليه فرمايي چي دنفلي خيرات لپاره شرط دادی چي تر ضروورياتو به زيات وي نه دا چي ټول خيرات ټول واجب دی.

(معارف القرآن ج۱ پ۲ ص۱۴۳)

www.jamairahmani.org

كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ

كُرْهٌ	لَّكُمْ	وَعَسٰٓى	اَنْ	تَكْرَهُوْا	شَيْـًٔا	وَّهُوَ	خَيْرٌ	لَّكُمْ
بد ښکارى	تاسى ته	او ښايي	داچي	بد ګڼئ تاسى	يو شئ	حال دا چي هغه	ډير بهتر وى	تاسى لره

بد ښکارى تاسى ته او ښايي چي بد ګڼئ تاسى يو شئ حال دا چي هغه ډير بهتر وى ستاسى دپاره

وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

وَعَسٰٓى	اَنْ	تُحِبُّوْا	شَيْـًٔا	وَّهُوَ	شَرٌّ	لَّكُمْ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ
او ښايي	داچي	ښه وګڼئ تاسى	يو شئ	حال داچي هغه	به ډير بد وى	تاسى ته	او الله	پوهيږى

او ښايي چي ښه وګڼئ تاسى يو شئ حال دا چي هغه به ډير بد وى تاسى ته او الله عالم دى

وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢١٦﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ

وَ	اَنْتُمْ	لَا تَعْلَمُوْنَ	يَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ	قِتَالٍ
او	تاسى	نه پوهيږئ (په خير خپل)	پوښتنه کوى دوى ستا څخه	د مياشتى حرامى په باره کښى	د جنګ کولو

او تاسى نه پوهيږئ (په خپل خير). پوښتنه کوى دوى ستا څخه (اى! محمده) د مياشتى حرامى څخه د جنګ کولو

فِيْهِ ۭ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ۭ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ

فِيْهِ	قُلْ	قِتَالٌ	فِيْهِ	كَبِيْرٌ	وَصَدٌّ	عَنْ سَبِيْلِ
په دى کښى	ووايه (محمده!)	چي جنګ کول	په دى کښى	لويه ګناه ده	او منع کول	له لارى (دين)

په دى کښى . ووايه (اى محمده!) چي جنګ کول په دى (اشهر الحرام) کښى لويه ګناه ده . او منع کول له لارى (دين)

اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۤ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ

اللّٰهِ	وَكُفْرٌ	بِهٖ	وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	وَاِخْرَاجُ	اَهْلِهٖ	مِنْهُ
د الله څخه	او کافر کيدل	په الله	او (منع کول) د مسجد الحرام څخه	او ايستل	د اهل د مسجد الحرام	له ده څخه

د الله څخه او کافر کيدل په الله او (منع کول) د مسجد الحرام څخه او ايستل د اهل د مسجد الحرام څخه

اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُوْنَ

اَكْبَرُ	عِنْدَ	اللّٰهِ	وَالْفِتْنَةُ	اَكْبَرُ	مِنَ الْقَتْلِ	وَلَا يَزَالُوْنَ
ډيره لويه (ګناه) ده	په نزد	د الله	او فتنه	ډيره لويه (ګناه) ده	تر وژلو	او هميشه به وى دوى

ډيره لويه ګناه ده په نزد د الله او فتنه (له دين څخه خلک ايستل) ډيره لويه ګناه ده له جنګ څخه، او هميشه به وى دوى

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ

يو څو شرعي مسائل :

(**مسئله**) فرض كفايي جهاد ته دمور او پلار داجازت څخه بغير تلل رواه نه دي .(**مسئله**) يو قرض دار چي قرض نه وي اداء کړى په فرض كفايي جهاد کي ورته شريکيدل نه دي رواه البتّه که چيري دعام جهاد اعلان وسو نو بيا پر ټولو مسلمانانو جهاد فرض عين سو په دي کي دشريکيدو لپاره د هيڅ چا څخه داجازت غوښتلو ضرورت نسته دلته بيا خونه دقرضدارى څه عذر دى او نه طلب دعلم دين او نه بل څه ديني ضرورت : ددې ايت په آخر کي دجهاد دشوق د راپورته کولو لپآره فرمايي چي که څه هم ستاسي پر طبيعتونو جهاد درونـد لګيږي ليکن ښه په ياد ولرى چي انساني مهارت عقلمندى او تدبير او محنت دانجام او نتيجې په باره کي اکثره پاته او ناکامه راځي ډير عقلمند خلک فايده مند شيان مضر او مضر شيان فايده مندګڼي لکه چي دهر يوه سړي عامه تجربه هم ددې خبري شاهده ده شاعر فرمايي: (**خويش راديدم ورسوايي خويش**) الله ﷻ دي دعمل توفيق را نصيب کړي.

(معارف القرآن ج ١ پ٢ ص ١٤٧)

ربع ٢٦ / ١٠

www.jamairahmani.org

يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ

يُقَاتِلُوْنَكُمْ	حَتّٰى	يَرُدُّوْكُمْ	عَنْ دِيْنِكُمْ	اِنِ
چې جنګ به کوی دوی ستاسی سره	ترهغه پورې	چې بیرته وګرځوی دوی تاسی	د دینه ستاسی شخه	که چیرې

چې جنګ به کوی دوی ستاسی سره تر هغه پورې چې بیرته وګرځوی دوی تاسی د دینه ستاسی شخه که چیرې

اسْتَطَاعُوْا ۭ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ

اسْتَطَاعُوْا	وَمَنْ	يَّرْتَدِدْ	مِنْكُمْ	عَنْ دِيْنِهٖ	فَيَمُتْ
توان او طاقت يئ وی	او هغه څوک	چې ګرځی	ستاسی شخه	د دینه خپله	پس مر سی

لاس ورسیږی (او موقع پیدا کړی). او هغه څوک چې ګرځی ستاسی شخه د دینه خپله (او) پس مر سی

وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا

وَهُوَ	كَافِرٌ	فَاُولٰٓئِكَ	حَبِطَتْ	اَعْمَالُهُمْ	فِي الدُّنْيَا
حال دا چې دی	کافر (به) وی	دغه کسان	ضایع سوی دی	عملونه د دوی	په دنیا

حال دا چې دی (به) کافر وی (نو) دغه کسان ضایع سوی دی (تیر) عملونه د دوی په دنیا

وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢١٧﴾

وَالْاٰخِرَةِ	وَاُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ	النَّارِ	هُمْ	فِيْهَا	خٰلِدُوْنَ
او آخرت کښی	او دغه کسان	ملګری	د اور دی	هم دوی به	په دی اور کښی	همیشه وی

او آخرت کښی او دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دی. هم دوی به په دی اور کښی همیشه (تل) وی

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ

اِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَالَّذِيْنَ	هَاجَرُوْا	وَجٰهَدُوْا	فِيْ
بیشکه!	هغه کسان	چې ایمان یی راوړی دی	او هغه کسان	چې هجرت یی کړی دی	او جهاد یی کړی دی	په

بیشکه! هغه کسان چې ایمان یی راوړی دی او هغه کسان چې هجرت یی کړی دی او جهاد یی کړی دی په

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اُولٰٓئِكَ	يَرْجُوْنَ	رَحْمَتَ	اللّٰهِ	وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ
لاره	د الله کښی	دغه کسان	امید لری دوی	د رحمت	د الله	او الله	ښه مغفرت کوونکی

لاره (دین) د پاک الله کښی دغه کسان امید لری دوی د رحمت د الله او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو)

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ دداسي خلګو عملونه به په دنيا او اخرت دواړو کي سر ترپايه لوټ او برباد سي:
(مسئله) په دنيا دعمل لوټ کيدل دنکاح شخه يي دبي بي وتل دي دمسلمان (مورث) دميراث شخه محرومه کيدل دي په اسلام کي ټول کړي لمونځونه روژې اونور عبادتونه بيکاره او نيست کيدل دي پر داسي مړي به جنازه نه کول کيږي او دمسلمانانو په هديره کي به نه ښخول کيږي :اوپه آخرت کي دعمل ده لوټ کيدلو مطلب دادی چي دهيڅ عبادت ثواب به ورته نه ورکول کيږي او تل تر تله به په دوزخ کي وي
(مسئله) که چيري داسي سړی بيا مسلمان سي نو په اخرت کي دعذاب څخه دده بچ کيدل او په دنيا کي دراتلونکي وخت لپاره پر داسي سړي اسلامي احکام جاري کيدل يقيني دي خو امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په اولني ځل په اسلام کي دده کړی حج ختم بولي چي وس يي وسو فرض حج به بيا کوي او دمخکي وار اسلام دروژو لمونځو او نورو عبادتونو ثواب هم په آخرت کي دده لپاره نه مني
(معارف القرآن ج١ ب٢ ص ١٤٩)

www.jamairahmani.org

رَّحِيۡمٌ ﴿۲۱۸﴾ يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡخَمۡرِ وَالۡمَيۡسِرِ‌ؕ قُلۡ

رَّحِيۡمٌ	يَسۡـَٔلُوۡنَكَ	عَنِ	الۡخَمۡرِ	وَالۡمَيۡسِرِ	قُلۡ
پوره رحم لرونکی دی	پوښتنه کوی دوی ستا څخه	د	شرابو	او قمار	وو ایه (ای! محمده) (دوی ته)

پوره رحم لرونکی دی. پوښتنه کوی دوی ستا څخه (ای! محمده) د شرابو (دڅښلو) او د قمار (دکولو)، وو ایه (محمده!) دوی ته

فِيۡهِمَاۤ اِثۡمٌ كَبِيۡرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثۡمُهُمَاۤ اَكۡبَرُ

فِيۡهِمَاۤ	اِثۡمٌ	كَبِيۡرٌ	وَّمَنَافِعُ	لِلنَّاسِ	وَاِثۡمُهُمَاۤ	اَكۡبَرُ
په دی دواړو کښی	ګناه	لویه ده	او ګټی دی	دپاره د خلکو	او ګناه د دی دواړو	ډیره لویه ده

چی په دی دواړو کښی ګناه لویه ده او ګټی دی د پاره دخلکو او ګناه د دی دواړو ډیره لویه ده تر

مِنۡ نَّفۡعِهِمَا‌ؕ وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ مَاذَا يُنۡفِقُوۡنَ ؕ قُلِ الۡعَفۡوَ‌ؕ

مِنۡ نَّفۡعِهِمَا	وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ	مَاذَا	يُنۡفِقُوۡنَ	قُلِ	الۡعَفۡوَ
تر ګټی د دی دواړو	او پوښتنه کوی دوی ستا څخه	چی څومره	مصرف کړی دوی	وو ایه (! محمده)	هغه چی زیات وی

ګټی د دی دواړو او پوښتنه کوی دوی چی څومره مصرف کړی دوی (په لاره د الله کی) وو ایه (دوی ته) مصرف کړی هغه چی زیات

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَـكُمُ الۡاٰيٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَتَفَكَّرُوۡنَ ۙ﴿۲۱۹﴾

كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَـكُمُ	الۡاٰيٰتِ	لَعَلَّكُمۡ	تَتَفَكَّرُوۡنَ
همداسی	بیانوی	الله	تاسی ته	ایاتونه (احکام)	د پاره د دی چی تاسی	فکر وکړی

وی (ستاسی د خرڅ څخه) همداسی بیانوی الله تاسی ته احکام (ایاتونه) د پاره د دی چی تاسی فکر وکړی (دالله په احکامو)

فِى الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ‌ؕ وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡيَتٰمٰى‌ؕ قُلۡ

فِى الدُّنۡيَا	وَالۡاٰخِرَةِ	وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ	عَنِ	الۡيَتٰمٰى	قُلۡ
په (باره کښی) د دنیا	او آخرت کښی	او پوښتنه کوی دوی ستا څخه	د	یتیمانو	وو ایه (محمده!)

په (باره کښی) د دنیا او آخرت کښی او پوښتنه کوی دوی (ستا څخه ای محمده!) د یتیمانو ، وو ایه (ای! محمده! دوی ته)

اِصۡلَاحٌ لَّهُمۡ خَيۡرٌ‌ؕ وَاِنۡ تُخَالِطُوۡهُمۡ فَاِخۡوَانُكُمۡ‌ؕ

اِصۡلَاحٌ	لَّهُمۡ	خَيۡرٌ	وَ	اِنۡ	تُخَالِطُوۡهُمۡ	فَاِخۡوَانُكُمۡ
اصلاح د مال	د دوی	بهتر دی	او	که چیری	تاسی یو ځای کړی دوی	نو وروڼه ستاسی دی

(چی سمول، برابرول) اصلاح د مال د دوی بهتر دی (له بیزاری څخه) او که چیری تاسی یو ځای کړی دوی نو وروڼه ستاسی دی

يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡخَمۡرِ وَالۡمَيۡسِرِ‌ؕ.. دشرابو حرمت

داسلام په شروع کي دنورو جاهلي طریقو په شان شراب نوشي عامه وه کله چي رسول الله ﷺ دهجرت کولو څخه وروسته مديني منورې ته تشريف راوړی نو دلته هم دشرابو چيښلو او خمار کولو رواج وو عام خلګ ددې دواړو شيانو پر ظاهري فايدو عاشقان وه په دې کي دننه ډيرو خرابيو او بيکاريّو ته دهغو فکر نه وو ليکن دالله ﷻ دعادت په مناسب په هر قوم او ملک کي څه عقلمند خلګ هم وي چي عقل ته پر طبيعت غلبه ورکوي اودعقل په مقابل کي خواهش پريږدي په دې معامله کي دنبي کريم ﷺ مقام ډير زيات لوړ وو کم شی چي وروسته حرام کيدونکی وو نبي کريم ﷺ دمخکي څخه لا ورڅخه کرکه کوله په صحابه کرامو ﷺ کي هم څه داسي صاحبان وه کمو چي دحلالوالي په زمانه کي هم کله شرابو ته لاس نه وو وروړی مديني منورې ته په رسيدوسره څه صحابه کرامو ﷺ ته ددې دخرابيّو او بي کاريّو زيات احساس وسونوهغه صحابه کرامو ﷺ دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو داآيت نازل سو.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۵۰)

www.jamairahmani.org

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ الۡمُفۡسِدَ مِنَ الۡمُصۡلِحِ ؕ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ

وَاللّٰهُ	يَعۡلَمُ	الۡمُفۡسِدَ	مِنَ الۡمُصۡلِحِ	وَلَوۡ شَآءَ	اللّٰهُ
او الله	ته معلوم دی	ضایع کوونکی	د اصلاح کوونکی څخه	او که چیری اراده کړی وای	الله

او الله ته معلوم دی ضایع کوونکی (دمال) د اصلاح کوونکی څخه، او که چیری اراده کړی وای الله (دمشقت ستاسی)

لَاَعۡنَتَكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ﴿۲۲۰﴾ وَلَا تَنۡكِحُوا

لَاَعۡنَتَكُمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَزِيۡزٌ	حَكِيۡمٌ	وَ	لَا تَنۡكِحُوا
خامخا مشقت به یی راوستی وایی پر تاسی	بیشکه!	الله	ښه غالب	ښه تدبیر والا دی	او	مه اخلی په نکاح سره

خامخا به یی مشقت راوستی وایی پر تاسی باندی، بیشکه الله ښه غالب ښه تدبیر والا دی. او مه اخلی په نکاح سره

الۡمُشۡرِكٰتِ حَتّٰى يُؤۡمِنَّ ؕ وَلَاَمَةٌ مُّؤۡمِنَةٌ خَيۡرٌ مِّنۡ مُّشۡرِكَةٍ

الۡمُشۡرِكٰتِ	حَتّٰى	يُؤۡمِنَّ	وَلَاَمَةٌ	مُّؤۡمِنَةٌ	خَيۡرٌ	مِّنۡ	مُّشۡرِكَةٍ
مشرکی ښځی	ترهغه پوری	چی ایمان راوړی دوی	او خامخا وینځه	مؤمنه	بهتره ده	تر	مشرکی

مشرکی ښځی تر هغه پوری چی ایمان راوړی دوی او خامخا وینځه مؤمنه بهتره ده تر مشرکی اصیلی

وَّلَوۡ اَعۡجَبَتۡكُمۡ ۚ وَلَا تُنۡكِحُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ حَتّٰى

وَّلَوۡ	اَعۡجَبَتۡكُمۡ	وَ	لَا تُنۡكِحُوا	الۡمُشۡرِكِيۡنَ	حَتّٰى
اگر که	ښه دربښکاره سی تاسی ته هغه	او	په نکاح مه ورکوئ (مؤمنی ښځی)	کافرانو ته	تر هغه پوری

اگر که ښه در ښکاره سی تاسی ته هغه (کافره) او په نکاح مه ورکوئ (مسلمانانی ښځی) کافرانو ته تر هغه پوری

يُؤۡمِنُوۡا ؕ وَلَعَبۡدٌ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٌ مِّنۡ مُّشۡرِكٍ وَّلَوۡ اَعۡجَبَكُمۡ ؕ

يُؤۡمِنُوۡا	وَلَعَبۡدٌ	مُّؤۡمِنٌ	خَيۡرٌ	مِّنۡ مُّشۡرِكٍ	وَّلَوۡ	اَعۡجَبَكُمۡ
چی ایمان راوړی دوی	او مریی	مؤمن	بهتر دی	تر کافر سړی	اگر که	ښه دربښکاره سی تاسی ته هغه

چی ایمان راوړی دوی او خامخا مریی مؤمن بهتر دی تر کافر سړی اگر که ښه ښکاره سی تاسی ته (هغه کافر)

اُولٰٓـئِكَ يَدۡعُوۡنَ اِلَى النَّارِ ۖۚ وَاللّٰهُ يَدۡعُوۡۤا اِلَى

اُولٰٓـئِكَ	يَدۡعُوۡنَ	اِلَى	النَّارِ	وَ	اللّٰهُ	يَدۡعُوۡۤا	اِلَى
دغه کسان	بلنه کوی	وطرفته	د اور	او	الله	بلنه ورکوی	وطرفته

دغه کسان بولی (خلگ په بد عمل سره) په لوری د اور (دوزخ) او الله (او دوستان یی) بولی (خلق) په لوری (وطرفته)

وَلَا تَنۡكِحُوا الۡمُشۡرِكٰتِ حَتّٰى يُؤۡمِنَّ: الله ﷻ مسلمانان دکفارو سره دنکاح کولو څخه منع کړي دي:

اودابندیز یي په دې وجه لگولی دی چي کافران نر او ښځي دجهنم طرف ته بلل کوي. تفصیل یه دادی چي دښځي او خاوند په مابین کي د ژور تعلق اوتړون او میني او محبت په وجه دمسلمان نر یا ښځي په زړه کي دکفر شوق پیدا کیږي یا لږ تر لږه دکفر سره کرکه دمسلمان نر یا ښځي دزړه څخه وزي نتیجه به یه داراوزي چي دغه مسلمان نر یاښځه به مشرک او کافرسي چي جهنم دتللو باعث جوړیږي همدغه وجه ده چي الله ﷻ وفرمایل چي داخلگ دجهنم طرف ته بلنه ور کوي او الله ﷻ دجنت او دبخښي طرف ته بلنه ورکوي او خپل احکام صفا صفا بیانوي چي خلگ په نصیحت عمل وکړي په نن سبا آخري او دفتنوپه دور کي دالله ﷻ دغه خبره په تجربه سره دنړی خلگوته په عملي ډول سره ثابته سوه چي کومو ضعیف الایمانه خلگو دکفارو سره نکاح کړي وي هغه ددوی دارتداد سبب هم گرځیدلې وي. (اعاذنا الله منه)

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۶۵)

www.jamairahmani.org

الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ

الْجَنَّةِ	وَالْمَغْفِرَةِ	بِاِذْنِهٖ	وَيُبَيِّنُ	اٰيٰتِهٖ	لِلنَّاسِ	لَعَلَّهُمْ
د جنت	او مغفرت	په حکم خپل سره	او بیانوی	ایاتونه خپل	خلگو ته	دپاره د دی چی دوی

د جنت او مغفرت په اذن (حکم او ارادی) خپلی سره او بیانوی (ایاتونه) احکام خپل خلگو ته، دپاره د دی چی دوی

يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٢١﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ۭ قُلْ هُوَ

ع ۲۷ ۵ ۱۱

يَتَذَكَّرُوْنَ	وَ	يَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ الْمَحِيْضِ	قُلْ	هُوَ
نصیحت واخلی	او	پوښتنه کوی (دوی) ستا څخه	د (احکامو) د حیض	ووایه (ای محمده!)	دا

نصیحت ومومی (پند واخلی). او پوښتنه کوی (دوی ستا څخه محمده!) د (احکامو د) حیض څخه، ووایه (دوی ته) دا

اَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ

اَذًى	فَاعْتَزِلُوا	النِّسَآءَ	فِي الْمَحِيْضِ	وَ	لَا تَقْرَبُوْهُنَّ
یو گندگی ده	پس (په څنگ) جداء سی	د ښځو څخه	په حیض کښی	او	مه نژدی کیږی دوی ته

یو پلیتی ده پس جداء سی (په جماع سره) د ښځو (خپلو) څخه په وخت د حیض کښی او مه نژدی کیږی (په جماع سره) دوی ته

حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ

حَتّٰى	يَطْهُرْنَ	فَاِذَا	تَطَهَّرْنَ	فَاْتُوْهُنَّ	مِنْ حَيْثُ
تر هغه پوری	چی پاکی سی دوی	پس هر کله چی	ښه پاکی سی دوی	پس راځی دوی ته	د هغه ځای څخه

تر هغه وخته پوری چی (ښه) پاکی سی، نو هر کله چی ښه پاکی سی دوی نو راځی دوی ته (په جماع سره) د هغه ځای څخه

اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ

اَمَرَكُمُ	اللّٰهُ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	التَّوَّابِيْنَ	وَيُحِبُّ
چی حکم کړی دی تاسی ته	الله	بیشکه!	الله	خوښوی	(بیا بیا) توبه ایستونکی	او خوښوی

چی حکم کړی دی تاسی ته الله ، بیشکه ! الله خوښوی (بیا بیا) توبه ایستونکی (د گناهو څخه) او خوښوی

الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۠ فَاْتُوْا

الْمُتَطَهِّرِيْنَ	نِسَآؤُكُمْ	حَرْثٌ	لَّكُمْ	فَاْتُوْا
پاکی حاصلوونکی	ښځی ستاسی	ځای د کرلو	ستاسی دی	نو راځی

ځان ساتونکی د (پلیتیو څخه). ښځی ستاسی ځای د کرلو (دنسل) ستاسی دی، نو راځی

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ۭ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ...نولسم حکم په حیض کي دکوروالي حرامـوالي او دپـاکی شرطونه : حیض هغه وینو ته وايي چي دښځوڅخه دهغو دعادت سره سم بهيږي په دغه حالت کي دښځوسره نژدیکت ، لمونځ ،روژه ، طواف ، دقرآن مجید تلاوت ، مسجد ته ننوتل دا ټوله حرام دي اوهغه وینه چي بیله عادته څخه لیدل کیږي هغه مریضي ده نو په دې مریضی کښي چي دفقهاوو په اصطلاح کي ورته دم استحاضه وايي دغه لوړ ذکر سوي ټوله شیان چي په حیض کي ناروا وه دا استحاضې په حالت کي رواه دي او ددې ويني حالت بيا داسي دی لکه ديو تپ یا زخم یا دپزي یا درگ وهلو څخه چي وينه راځي یهودو اومجوسیانو دحيض په حالت کي له ښځو سره ډوډی خوړل او په یوه کور کي هستوگنه کول اوداسي نورشیان هم نارواه گڼل مگر نصاراوو بیا دحیض په حالت کي دښځو سره دنژدیکته څخه هم ځان نه ساتی مسلمانانو بیا په دې مورد کي درسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه الله جل جلاله دغه آیتونه نازل کړه او دوی ته یې تسلي بخش جواب ورکړی.
(تفسیرکابلي)

www.jamairahmani.org

حَرۡثَكُمۡ اَنّٰى شِئۡتُمۡ وَقَدِّمُوۡا لِاَنۡفُسِكُمۡ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

حَرۡثَكُمۡ	اَنّٰى	شِئۡتُمۡ	وَقَدِّمُوۡا	لِاَنۡفُسِكُمۡ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ
ځای د کرلو خپلو ته	څنګه چې	خوښه وی ستاسی	او په مخ کښی واستوی	دپاره د ځانو خپلو	او وییریږی	دالله څخه

ځای د کرلو خپلو ته څنګه چې خوښه وی ستاسی او په مخ کښی واستوی دپاره د ځانو خپلو (نیک عمل) او بیریږی د الله څخه

وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّكُمۡ مُّلٰقُوۡهُ ؕ وَبَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۲۳﴾ وَلَا تَجۡعَلُوا

وَاعۡلَمُوۡۤا	اَنَّكُمۡ	مُّلٰقُوۡهُ	وَبَشِّرِ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَ	لَا تَجۡعَلُوا
او وپوهیږی	چې بیشکه! تاسی	ملاقات کوونکی یاست دهغه سره	او زیرئ ورکړه	مؤمنانو ته	او	مه ګرځوی

او وپوهیږئ! چې بیشکه! تاسی ملاقات کوونکی یاست (دالله سره) او زیرئ ورکړه (محمده!) مؤمنانو ته (دجنت) او مه ګرځوی

اللّٰهَ عُرۡضَةً لِّاَيۡمَانِكُمۡ اَنۡ تَبَرُّوۡا وَتَتَّقُوۡا وَتُصۡلِحُوۡا

اللّٰهَ	عُرۡضَةً	لِّاَيۡمَانِكُمۡ	اَنۡ	تَبَرُّوۡا	وَتَتَّقُوۡا	وَتُصۡلِحُوۡا
الله	نښانه (نښه)	دپاره د قسمونو خپلو	داچې	نیکی به نه کوی	او پرهیزګاری به نه کوی	او روغه به نه کوی

(نوم د) الله نښانه دپاره د قسمونو خپلو داچې نیکئ به نه کوی او پرهیز ګاری به نه کوی او روغه به نه کوی

بَيۡنَ النَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۲۴﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ

بَيۡنَ	النَّاسِ	وَ	اللّٰهُ	سَمِيۡعٌ	عَلِيۡمٌ	لَا يُؤَاخِذُكُمُ
په مینځ کښی	دخلکو	او	الله	ښه اوریدونکی	ښه عالم دی	نه نیسی تاسی

په مینځ د خلکو کښی او الله ښه اوریدونکی (دټولو اقوالو) ښه عالم (ذات) (دټولو اعمالو) دی. نه نیسی تاسی

اللّٰهُ بِاللَّغۡوِ فِىۡۤ اَيۡمَانِكُمۡ وَلٰكِنۡ يُّؤَاخِذُكُمۡ بِمَا كَسَبَتۡ

اللّٰهُ	بِاللَّغۡوِ	فِىۡۤ اَيۡمَانِكُمۡ	وَ	لٰكِنۡ	يُّؤَاخِذُكُمۡ	بِمَا كَسَبَتۡ
الله	په لغو	په قسمونو ستاسی کښی	او	لیکن	نیسی تاسی	په هغه چې قصد کړی وی

الله په لغو (او په ګمان سره) په قسمونو ستاسی کښی او لیکن نیسی (الله) تاسی په هغه (قسم) چې قصد کړی وی

قُلُوۡبُكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ﴿۲۲۵﴾ لِلَّذِيۡنَ يُؤۡلُوۡنَ

قُلُوۡبُكُمۡ	وَاللّٰهُ	غَفُوۡرٌ	حَلِيۡمٌ	لِلَّذِيۡنَ	يُؤۡلُوۡنَ
زړونو ستاسی	او الله	ښه مغفرت کوونکی	ښه تحمل کوونکی دی	ستهدهغو کسانو دپاره	چې قسمونه کوی

(دهغه) زړونو ستاسی او الله ښه مغفرت کوونکی ښه تحمل کوونکی دی . دی د هغو کسانو دپاره چې قسمونه کوی

وَقَدِّمُوۡا لِاَنۡفُسِكُمۡ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۔ څه مسئلي دبیان القران څخه: اول: که چیري دشهوت دغلبې له وجې دحیض په حالت کي کوروالی وسونوښه توبه کول واجب ده او که څه خیرات دالله ﷻ په نامه باندي ورکړي نو ډیره ښه به وي: دوهم: دښځي په وروستني اندام کي کوروالی حرام دی. دریم: د(لغوه) عبث قسم دوي معناوي دي یو خودا چي دتیري سوي خبري په باره کي ددرواغو قسم بې له ارادې دخولې څخه ووزي یا خوپه اراده ووزي لیکن دی یه په خپل خیال کي صحیح ګڼي مثال به یي داوي چي یو سړي په خپل ګمان دزید دراتلو قسم وخوړی مګر هغه په واقع کي نه وي راغلی یا پر راتلونکي خبره یه بې اختیاره قسم دخولې څخه ووزي په دې قسم کي هیڅ ګناه نسته نو ځکه ورته لغوه قسم وایي په آخرت کي به هم پر دې قسم باندي ګرفت او تینګول نه وي ددغه قسم پر ضد قسم چي پرهغه باندي ګرفت او تینګول سته هغه ته یمین غموس وایي داهغه قسم دی چي پر تیري سوي خبري باندي قصدا قسم په درواغو وخوړل سي ددې ګناه سته. (معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۷۰)

www.jamairahmani.org

مِنۡ نِّسَآٮِٕهِمۡ تَرَبُّصُ اَرۡبَعَةِ اَشۡهُرٍ‌ۚ فَاِنۡ فَآءُوۡ

مِنۡ	نِّسَآٮِٕهِمۡ	تَرَبُّصُ	اَرۡبَعَةِ	اَشۡهُرٍ	فَاِنۡ	فَآءُوۡ
د	ښځو خپلو څخه	انتظار	د څلورو	مياشتو	پس كه چيرى	رجوع وكړه دوى

د ښځو خپلو څخه (په جماع سره) انتظار كوى د څلورو مياشتو پس كه چيرى بيا رجوع وكړه دوى

فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۲۲۶﴾ وَاِنۡ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ

فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ	وَاِنۡ	عَزَمُوا	الطَّلَاقَ	فَاِنَّ
پس بيشكه! چې	الله	ښه بخښونكى	پوره رحم لرونكى دى	او كه چيرى	قصد وكړ دوى	د طلاق	پس بيشكه!

پس بيشكه! چې الله ښه بخښونكى پوره رحم كوونكى دى. او كه چيرى قصد وكړ دوى د طلاق پس بيشكه!

اللّٰهَ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۲۷﴾ وَالۡمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِاَنۡفُسِهِنَّ

اللّٰهَ	سَمِيۡعٌ	عَلِيۡمٌ	وَ	الۡمُطَلَّقٰتُ	يَتَرَبَّصۡنَ	بِاَنۡفُسِهِنَّ
الله	ښه اوريدونكى	ښه عالم دى	او	طلاقې كړل سوى ښځې	انتظار به كوى	په ځانو خپلو سره

الله ښه اوريدونكى ښه عالم دى او طلاقې كړل سوى ښځې دى انتظار وكړي په ځانو خپلو (تر بلې نكاح پورې)

ثَلٰثَةَ قُرُوۡٓءٍ‌ؕ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنۡ يَّكۡتُمۡنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ

ثَلٰثَةَ	قُرُوۡٓءٍ	وَلَا يَحِلُّ	لَهُنَّ	اَنۡ يَّكۡتُمۡنَ	مَا	خَلَقَ	اللّٰهُ
تر دريو	حيضو پورې	او نه دى	روا دوى ته	داچې پټوى به دوى	هغه چې	پيدا كړى دى	الله

تر دريو حيضو (كاملو) پورې او نه دى روا دوى ته چې پټوى به دوى هغه چې پيدا كړى دى الله

فِىۡۤ اَرۡحَامِهِنَّ اِنۡ كُنَّ يُؤۡمِنَّ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ‌ؕ

فِىۡۤ	اَرۡحَامِهِنَّ	اِنۡ	كُنَّ	يُؤۡمِنَّ	بِاللّٰهِ	وَالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ
په	ارحامو د دوى كښې	كه چيرى	وى دوى	ايمان لرونكى	په الله سره	او په ورځى	آخرى

په ارحامو د دوى كښې (د ولده يا حيضه) كه چيرى دوى وى ايمان لرونكى په الله سره او په ورځى د آخرى سره (د قيامت).

وَبُعُوۡلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ اِنۡ اَرَادُوۡۤا

وَبُعُوۡلَتُهُنَّ	اَحَقُّ	بِرَدِّهِنَّ	فِىۡ ذٰلِكَ	اِنۡ	اَرَادُوۡۤا
او ميړونه (خاوندان) د دوى	ښه لائق دى	په بيا كولو (ددى ښځو)	په دى (موده كښې)	كه چيرى	اراده لرى دوى

او ميړونه (خاوندان) د دوى ښه لائق دى په بيا راګرځولو (واپس كولو) د ښځو په دى موده كښې كه چيرى اراده لرى دوى

وَاِنۡ عَزَمُوا الطَّلَاقَ

تراسلام په مخكي معاشره كي دښځي

مرتبه: دجاهليت دزماني ټولو قومونو ښځي ته دكورني استعمال ديوشي حيثيت وركړی وو دحيوانانو په شان به خرڅيدلي دخپل واده او ښادي كولو هيڅ اختيار به يه نه درلودی ددوی اختيار درلودونكو به چي چاته ور په غاړه كړه دهغه څخه بغير به يي بل درک نه وو دخپلوانو په ميراث كي ددوی برخه نه وه بلكه دنوروشيانو په شان به دوی دسړو په ميراث كي راتلې او دسړو ملكيت به ګڼل كيدې ددوی په ملكيت او قبضه كي به هيڅ نه وه او كه تش په نوم به څه وه نو دسړو داجازت څخه بغير به يي په دغه مال كي هيڅ دخل نه سو كولای ددې خاوند ته پورا اختيارو و چي ددې مال يي په څه ډول غوښتلای په هر ځای كي لګولای سو او دې به دپوښتني حق هم نه درلودی تردې چي په ځيني مغربي ملكونو كي چي ډير ترقي يافته هم ګڼل كيدل هغو به ښځه ګرد سره انسان نه بلل په دين او مذهب كي دښځي برخه نه وه اسلام دغه ظالمانه دستور اورواج دهميش لپاره ختم كړی.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۷۲)

www.jamairahmani.org

ع ۲۸ ۷ ۱۲

إِصْلَاحًا ۭ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ

إِصْلَاحًا	وَلَهُنَّ	مِثْلُ	الَّذِيْ	عَلَيْهِنَّ	بِالْمَعْرُوْفِ
د جوړښت	او سته دی ښځو لره	په شان	دهغو	چې پر دوی دی	په معروف (ښه وجه) سره

د جوړښت او سته دی ښځو لره (حقوق په میړو باندې) په شان د هغو (حقوقو) چې پر دوی دی (دخاوندانو) په ښه وجه سره

وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۸﴾ اَلطَّلَاقُ

وَلِلرِّجَالِ	عَلَيْهِنَّ	دَرَجَةٌ	وَ	اللّٰهُ	عَزِيْزٌ	حَكِيْمٌ	اَلطَّلَاقُ
او سته نارینه وو لره	په دې ښځو باندې	فضیلت	او	الله	ښه غالب	او ډیر تدبیر والا دی	طلاق

او سته د نارینه وو دپاره په دې ښځو باندې بهتر والی (فضیلت) او الله ښه غالب او ډیر تدبیر والا دی. (رجعی) طلاق

مَرَّتٰنِ ۠ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ۭ

مَرَّتٰنِ	فَاِمْسَاكٌ	بِمَعْرُوْفٍ	اَوْ	تَسْرِيْحٌ	بِاِحْسَانٍ
دوه کرته دی	پس بیا ساتنه ده (د ښځو)	په معروف (ښه وجه) سره	یا	پرېښودل دی (د دې ښځو)	په ښه وجه سره

دوه کرته دی نو بیا ساتنه (د ښځو) ده (په رجوع سره) په معروف (ښه وجه) سره یا پرېښودل دی (د دې ښځو) په ښه وجه سره،

وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـــًٔا

وَلَا يَحِلُّ	لَكُمْ	اَنْ	تَاْخُذُوْا	مِمَّآ	اٰتَيْتُمُوْهُنَّ	شَيْـــًٔا
او روا نه دی	تاسو ته	داچې	واخلی تاسی	دهغه (مال) څخه	چې ورکړی وی تاسی دوی ته	هیڅ شئ

او روا نه دی تاسو ته (ای خاوندانو) داچې واخلی تاسی د هغه مال څخه چې ورکړی وی تاسی دوی ته (په مهر کښې) هیڅ شئ،

اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۭ فَاِنْ خِفْتُمْ

اِلَّآ	اَنْ	يَّخَافَآ	اَلَّا يُقِيْمَا	حُدُوْدَ	اللّٰهِ	فَاِنْ	خِفْتُمْ
مګر	داچې	که وېرېږی دوی	چې و به نسی ساتلای دوی دواړه	احکام	د الله	نو که چیرې	وېرېږئ تاسی

مګر داچې که وېرېږی دوی دواړه (مېړه او مانېنه) چې و به نسی ساتلای دوی دواړه احکام د الله نو که وېرېږئ تاسی

اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ

اَلَّا يُقِيْمَا	حُدُوْدَ	اللّٰهِ	فَلَا جُنَاحَ	عَلَيْهِمَا	فِيْمَا	افْتَدَتْ
چې و به نسی ساتلای دوی دواړه	احکام	د الله	پس نسته هیڅ ګناه	په دوی دواړو باندې	په هغه کښې چې	فدیه ورکړی

چې و به نسی ساتلای دوی دواړه حکمونه د الله نسته هیڅ ګناه په دوی دواړو باندې په هغه کښې چې فدیه ورکړی

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ.. یعني ښځو لره هم حق سته لکه چي څنګه دسړو پرهغوی دی دقانون مطابق: یعني په معروفه طریقه سره او دغه خبره یعني په معروفه طریقه ددې دا معنی ده چي هغه دي هم شرعا بد او ناجایز نه وي او په عامو عادتونو او رواجونو کي هم په دې کي سختي او زیاتی نه وي حاصل دا سو چي دښځي او خاوند په خپل مینځ کي کورني حقونه پوره کول او یو بل دضرر څخه ساتل او بچ کول یوازي په ضابطې پوري تړل نه دي پکار بلکه دعام عرف او عادت په اعتبار سره هم کتل پکار دي چي یوبل ته ضرر او نقصان خو نسته مثلا بې طرفي اوبي اتفاقي یا داسي نوري خبري خونسته کمي چي په عرف اوعادت کي نا مناسبي او بدي ګڼل کیږي کمي چي تر قاعدې لاندي نه راځي مګر د بالمعروف لفظ ددوی احاطه کړېده تر دي وروسته فرمایي (وللرجال علیهنّ درجة)چي مشهور مطلب یه دا اخیستل کیږي چي دواړه اړخیزه حقونه برابر دي خو بیا هم الله ﷻ نارینه وو لره پر زنانو یو قسم لوړوالی او حاکمیت ور کړی دی.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۷۶)

www.jamairahmani.org

بِهٖ ؕ تِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ فَلَا تَعۡتَدُوۡهَا ۚ وَمَنۡ يَّتَعَدَّ

بِهٖ	تِلۡكَ	حُدُوۡدُ	اللّٰهِ	فَلَا تَعۡتَدُوۡهَا	وَمَنۡ	يَّتَعَدَّ
په هغه سره	دا (ذکر سوی)	حدود	دالله دی	پس تاسی مه تیریږئ د حدود د الله څخه	او هغه څوک	چې تیریږی

په هغه سره دا (ذکر سوی) حدود د الله دی نو تاسی مه تیریږئ د حدود د الله څخه او هر هغه څوک چې تیریږی

حُدُوۡدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝۲۲۹ فَاِنۡ طَلَّقَهَا

حُدُوۡدَ	اللّٰهِ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الظّٰلِمُوۡنَ	فَاِنۡ	طَلَّقَهَا
د حدود څخه	دالله	پس دغه کسان	هم دوی دی	ظالمان	پس که چیری	بیا یی طلاقه کړه دا ښځه

د حدود څخه د الله نو دغه کسان هم دوی دی ظالمان. پس که چیری (وروسته دی دوو طلاقو څخه) بیا یی طلاقه کړه دا ښځه

فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنۡۢ بَعۡدُ حَتّٰى تَنۡكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهٗ ؕ فَاِنۡ

فَلَا تَحِلُّ	لَهٗ	مِنۡۢ بَعۡدُ	حَتّٰى	تَنۡكِحَ	زَوۡجًا	غَيۡرَهٗ	فَاِنۡ
پس نه ده حلاله (دا ښځه)	ده لره	وروسته	تر هغه	چې په نکاح واخلی (دا ښځه)	میړه بل	پرته له ده نه	پس که

(دریم ځلی) پس نه ده حلاله (دا ښځه) ده لره وروسته تر هغه چې په نکاح واخلی دا ښځه میړه بل پرته له ده نه، پس که چیری

طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ اَنۡ يَّتَرَاجَعَآ اِنۡ ظَنَّآ

طَلَّقَهَا	فَلَا جُنَاحَ	عَلَيۡهِمَآ	اَنۡ	يَّتَرَاجَعَآ	اِنۡ ظَنَّآ
طلاقه کړه دا ښځه (دوهم میړه)	پس نسته هیڅ ګناه	پر دغو دواړو	داچې	بیا سره رجوع وکړی	که چیری ګمان وی د دواړو

طلاقه کړه دوهم میړه دا ښځه، پس نسته هیڅ ګناه پر دغو دواړو (ښځه او اول میړه) داچې بیا سره رجوع وکړی دواړه که ګمان وی

اَنۡ يُّقِيۡمَا حُدُوۡدَ اللّٰهِ ؕ وَتِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٍ

اَنۡ يُّقِيۡمَا	حُدُوۡدَ	اللّٰهِ	وَتِلۡكَ	حُدُوۡدُ	اللّٰهِ	يُبَيِّنُهَا	لِقَوۡمٍ
داچې دواړه به قایم کړی	احکام	دالله	او دا	احکام	دالله دی	چې بیانویې هغه	د قوم د پاره

د دواړو دا چې دوی دواړه به قایم کړی احکام دالله او دا احکام د الله دی چې بیانوی یې (دهغه) قوم د پاره

يَّعۡلَمُوۡنَ ۝۲۳۰ وَاِذَا طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ اَجَلَهُنَّ

يَّعۡلَمُوۡنَ	وَاِذَا	طَلَّقۡتُمُ	النِّسَآءَ	فَبَلَغۡنَ	اَجَلَهُنَّ
چې پری پوهیږی	او کله چې	طلاقې کړی تاسی	ښځې	پس چې ورسیږی دوی	آخر د عدت خپل ته

چې پری پوهیږی. او کله چې طلاقې کړی تاسی ښځې نو چې ورسیږی دوی (آخر د عدت) خپل ته

طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ

دري طلاقه او دهغه تفصیل: دقرآن کریم په انداز بیان کي دژوري کتنې په نتیجه کي داخبره ښه ښکاره کيږي چې دطلاق ورکولو اصلي شرعي طریقه یوازي دوه طلاقه ورکول دي او دریم طلاق ته خبره رسول مناسب نه دي لکه چي تر (الطلاق مرّتان) وروسته داخبره په ان شرطیه سره داسي بیانول (فان طلقها) دې خبري ته اشاره کوي کنه نو سمدم به یې داسي فرمایلي وای چي (الطلاق ثلث) هم دا وجه ده چي امام مالک رحمة الله علیه او نورو ډیرو فقهاوو یوازي په دې شرط دري طلاقه جایز کړي دي چي ځان ځانته په درو پاکیو کي دري طلاقه ورکول سي دغه فقهاوو په خپله اصطلاح کي دطلاقو دې طریقې ته هم سنت طریقه ویلې ده مګرپه دوی کي یو فقیه هم ددې څخه هیڅکله دا مطلب نه اخلي چي داسي ډول دري طلاقه ورکول سنت طریقه اوښه کاردی بلکه دطلاق بدعت په مقابله کي دې ته په دې معنی طلاق سنت ویل سوي دي چي داصورت هم په بدعت کي نه دی داخل (تفصیل ددغه مسئلې په معارف القرآن کي وګوری) (معارف القـــــــرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۸۲)

www.jamairahmani.org

فَاَمۡسِكُوۡهُنَّ بِمَعۡرُوۡفٍ اَوۡ سَرِّحُوۡهُنَّ بِمَعۡرُوۡفٍ وَلَا تُمۡسِكُوۡهُنَّ

فَاَمۡسِكُوۡهُنَّ	بِمَعۡرُوۡفٍ	اَوۡ سَرِّحُوۡهُنَّ	بِمَعۡرُوۡفٍ	وَ	لَا تُمۡسِكُوۡهُنَّ
نو وساتئ دوی	په ښه ډول سره	یا ایله کړئ دوی	په ښه ډول سره	او	مه ساتئ تاسو دا ښځې

نو وساتئ دوی په ښه ډول (طریقه) سره یا ایله کړئ دوی په ښه ډول سره او مه ساتئ تاسو! دا ښځې (په رجعت سره)

ضِرَارًا لِّتَعۡتَدُوۡا ۚ وَمَنۡ يَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ فَقَدۡ

ضِرَارًا	لِّتَعۡتَدُوۡا	وَمَنۡ	يَّفۡعَلۡ	ذٰلِكَ	فَقَدۡ
د پاره د ضرر د رسولو	چې تیری وکړی تاسی (پردوی)	او هغه څوک	چې وکړي	داسې (کار)	پس په تحقیق سره

دپاره د ضرر د رسولو په وجه دا چې (پر دوی) تیری وکړی، او هر هغه څوک چې وکړي داسې کار نو په تحقیق سره

ظَلَمَ نَفۡسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۚ وَّاذۡكُرُوۡا

ظَلَمَ	نَفۡسَهٗ	وَ	لَا تَتَّخِذُوۡۤا	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	هُزُوًا	وَّاذۡكُرُوۡا
ظلم یې وکړ	د خپل ځان سره	او	مه ګرځوئ	آیاتونه	د الله	مسخری (ټوکې)	او یاد کړئ

ظلم یې وکړ د خپل ځان سره او مه ګرځوئ! آیاتونه د الله (په اعراض او تهاون سره) مسخری (پرې کوئ) او یاد کړئ!

نِعۡمَتَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَمَاۤ اَنۡزَلَ عَلَيۡكُمۡ مِّنَ الۡكِتٰبِ

نِعۡمَتَ	اللّٰهِ	عَلَيۡكُمۡ	وَمَاۤ	اَنۡزَلَ	عَلَيۡكُمۡ	مِّنَ الۡكِتٰبِ
نعمت (اسلام)	د الله	پر تاسې باندې	او هغه	چې نازل کړی دی	پر تاسې باندې	چې کتاب دی

نعمت د الله (چې اسلام دی) په تاسې باندې او (یاد کړئ) هغه چې نازل کړی دی (الله) په تاسې باندې چې کتاب دی

وَالۡحِكۡمَةِ يَعِظُكُمۡ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ

وَالۡحِكۡمَةِ	يَعِظُكُمۡ	بِهٖ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاعۡلَمُوۡۤا	اَنَّ
او حکمت دی	پند درکوی تاسې ته (الله)	په هغه سره	او ویریږئ	د الله څخه	او پوه سې تاسې	چې بیشکه!

او حکمت (احکام د کتاب) دی، پند درکوی الله تاسې ته په هغه سره او ویریږئ د الله څخه او پوه سئ! تاسې چې بیشکه!

اللّٰهَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴿۲۳۱﴾ وَاِذَا طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ

اللّٰهَ	بِكُلِّ	شَىۡءٍ	عَلِيۡمٌ	وَاِذَا	طَلَّقۡتُمُ	النِّسَآءَ	فَبَلَغۡنَ
اللّٰہ	په هر شئ	باندې	ښه پوه دی	او کله چې	طلاق کړی تاسې	ښځې	پس چې ورسیږي دوی

الله په هر شئ باندې ښه پوه دی. او کله چې طلاق کړی تاسې ښځې نو چې ورسیږي دوی

وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا

په دې ایت کې دوهمه مسئله دا بیان سوه: چې دالله ﷻ دآیتونو څخه لوبې مه جوړوئ (وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا) دلوبې جوړولو تفسیر خو دادی چې دنکاح او طلاق لپاره دالله ﷻ ټاکلي حدودمات سي او دوهم تفسیر یې د حضرت ابو الدراء رضی الله عنه څخه داسې منقول دی چې دجاهلیت په زمانه کې به ځینو خلګود طلاق ورکولو وروسته یا دمریي تر آزادولو وروسته به یې ویل چې ما ټوقي کولې او دخپلي خبري څخه به په دې رنګ واوښتی نو پردې دا آیت نازل سو کم چې دا فیصله وکړه چې طلاق یا نکاح که چا په لوبه یا ټوقه کې هم پوراه کې نو هغه به نافذ سي دنیت نه کولو عذر به په دې کې نسې قبول کیدای حضور اکرم ﷺ فرمایي چې په دروشیانو کې ټوقي او رشتیا دواړه برابر دي، یو **نکاح**، دوهم (**اعتاق**) مریي ازادول، **دریم** طلاق په دې درو شیانو کې شرعي حکم دادی چې دوه کسه (سړی او ښځه) په ټوقه سره ددوو شاهدانو په مخکې که چیري د نکاح ایجاب او قبول وکړي نو دانکاح وسوه.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۱۹۴)

ع ۲۹ الثلثة ۱۳

www.jamairahmani.org

اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعۡضُلُوۡهُنَّ اَنۡ يَّنۡكِحۡنَ اَزۡوَاجَهُنَّ اِذَا

اَجَلَهُنَّ	فَلَا تَعۡضُلُوۡ	هُنَّ	اَنۡ	يَّنۡكِحۡنَ	اَزۡوَاجَهُنَّ	اِذَا
آخر د عدت خپل ته	پس مه منع کوی	دوی	داچې	په نکاح واخلی دوی	میړونه خپل	کله چې

آخر د عدت خپل ته نو تاسی مه منع کوی دوی داچې په نکاح واخلی دوی میړونه (خاوندان) خپل ، کله چې

تَرَاضَوۡا بَيۡنَهُمۡ بِالۡمَعۡرُوۡفِ‌ؕ ذٰلِكَ يُوۡعَظُ بِهٖ مَنۡ

تَرَاضَوۡا	بَيۡنَهُمۡ	بِالۡمَعۡرُوۡفِ	ذٰلِكَ	يُوۡعَظُ	بِهٖ	مَنۡ
راضي وی دوی	په خپلو منځو کښې	په معروف (دستور) سره	دا (حکم)	پند ورکول کیږی	په ده سره	هغه چاته

راضی (خوښ) وی په خپلو منځو کښې په معروف (سم له دستوره) سره ، په دا (حکم) سره پند ورکول کیږی هغه ته

كَانَ مِنۡكُمۡ يُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ‌ؕ ذٰلِكُمۡ اَزۡكٰى

كَانَ	مِنۡكُمۡ	يُؤۡمِنُ	بِاللّٰهِ	وَالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ	ذٰلِكُمۡ	اَزۡكٰى
چې وی دی	ستاسی څخه	چې ایمان لری	په الله سره	او په ورځې	آخری باندی	دا	ډیر غوره دی

چې وی دی ستاسی څخه چې ایمان لری په الله او په ورځې آخری باندی، دا (د نه منع او ضرر ترک) ډیر غوره دی

لَكُمۡ وَاَطۡهَرُ‌ؕ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۳۲﴾

لَكُمۡ	وَاَطۡهَرُ	وَ	اللّٰهُ	يَعۡلَمُ	وَاَنۡتُمۡ	لَا تَعۡلَمُوۡنَ
تاسی ته	او ښه پاکیزه دی	او	الله	عالم دی (پر هر شئ)	او تاسی	نه پوهیږئ

تاسی (او دوی) ته او ښه پاکیزه دی او الله عالم دی (پر هرشئ) ا و تاسی نه پوهیږئ (په خپل خیر هم)

وَالۡوَالِدٰتُ يُرۡضِعۡنَ اَوۡلَادَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِ‌ لِمَنۡ اَرَادَ

وَ	الۡوَالِدٰتُ	يُرۡضِعۡنَ	اَوۡلَادَهُنَّ	حَوۡلَيۡنِ	كَامِلَيۡنِ	لِمَنۡ	اَرَادَ
او	میندی دی	شیدی ورکوی	اولاد خپل ته	دوه کاله	پوره	دا دهغه چا دپاره	چې اراده لری

او میندی (مورګانی) دی شیدی ورکوی اولاد خپل ته دوه کاله پوره دا (حکم) د هغه چا دپا ره دی چې اراده لری

اَنۡ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ‌ؕ وَعَلَى الۡمَوۡلُوۡدِ لَهٗ رِزۡقُهُنَّ

اَنۡ يُّتِمَّ	الرَّضَاعَةَ	وَعَلَى الۡمَوۡلُوۡدِ لَهٗ	رِزۡقُهُنَّ
داچې پوره کړی (وخت)	د تی ورکولو	او (ده) پر هغه چا چې زیږول سوی دی ورته (پلار ته)	روزی د دوی

د دی چې پوره کړی (نیتهٔ د) تی ورکولو ، او د ه پر هغه چا چې زیږول سوی دی ورته (پلار ته) روزی د دوی (دمیندو)

وَالۡوَالِدٰتُ يُرۡضِعۡنَ اَوۡلَادَهُنَّ.. تی ورکول دمور پر ذمه واجب دي :

اوله خبره داچي تی ورکول دمور پر ذمه دیانةً واجب دی دڅه ضد یاخفګان په وجه بې له عذره که تی نه ورکوي نو ګناهګاره به وي تر څو چي په نکاح کي وي نو دخپل خاوند څخه دتي ورکولو بدله یا مزدوري نسي غوښتی ځکه چي دا دهغې خپل فرض اوذمه داري ده (دتي ورکولو پوره وخت) دوهمه مسئله دامعلومه سوه چي دتي ورکولو پوره موده دوه کاله ده تر څو چي یو خاص عذر نه وي را پیښ سوی نو دکوچني دا حق دی چي ورته دومره موده تی ورکول سي ددې څخه دا هم معلومه سوه چي دتي ورکولو موده دوه کاله تاکل سوې ده تردې وروسته تی مه ورکوی البتّه دځینو قرآني آیتونو او احادیثو پر بنا امام اعظم ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ ددې خبرې قایل دی چي ددوه نیم کاله عمر په موده کي په تي ورکولو سره درضاعت احکام ثابتیدی سي او دکوچني دکمزوری یا دبل څه عذر په وجه ددوه نیم کالوتر عمره پوري ماشوم ته دتي ورکولو څه ګناه نسته ددغه عمر څخه وروسته بچي ته دمور تی ورکول په اتفاق دعلماوو سره حرام دي (معارف القرآن ج ۱ پ۲ ص ۲۰۰)

www.jamairahmani.org

وَ كِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ

وُسْعَهَا	اِلَّا	نَفْسٌ	لَا تُكَلَّفُ	بِالْمَعْرُوْفِ	كِسْوَتُهُنَّ	وَ
په اندازه د توان سره د ده	مګر	په هیڅ نفس باندی	زور نسی کولای	په معروف (ښه دستور) سره	کالی د دوی	او

او کالی د دوی په معروف (په سم دستور) سره زور نسی کولای په هیڅ نفس باندی مګر په اندازه د توان د ده سره

لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۚ وَعَلَى

وَعَلَى	بِوَلَدِهٖ	لَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ	وَ	بِوَلَدِهَا	وَالِدَةٌ	لَا تُضَآرَّ
او (سته) پر	په وجه د اولاد د ده	نه دی پلار ته	او	په وجه د اولاد د دی	مورته	نه دی ضرر رسول کیږی

نه دی ضرر رسول کیږی مور ته په وجه د اولاد د دی او نه دی (ضرر سول کیږی) پلار ته په وجه د اولاد د ده، او (سته) پر

الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ

عَنْ تَرَاضٍ	فِصَالًا	اَرَادَا	فَاِنْ	ذٰلِكَ	مِثْلُ	الْوَارِثِ
په خوښئ سره	پری کول د تی څخه	وغواړی دوی دواړه	پس که چیری	دهغه	په شان	وارث باندی

وارث (دپلار) باندی په شان دهغه (نفقه چی په پلار وه) پس که وغواړی دوی دواړه (مور او پلار) پری کول د تی څخه په خوښئ سره

مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۭ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ

اَنْ	اَرَدْتُّمْ	وَاِنْ	عَلَيْهِمَا	فَلَا جُنَاحَ	وَتَشَاوُرٍ	مِّنْهُمَا
داچی	قصد وکړی تاسی	او که چیری	پر دوی دواړو	پس نشته هیڅ ګناه	او په مشوری د دواړو سره	د دوی دواړو

د دوی دواړو، او په مشوری (د دواړو) سره، پس نشته هیڅ ګناه پر دوی دواړو باندی، او که چیری قصد وکړی تاسی داچی

تَسْتَرْضِعُوْٓا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِذَا سَلَّمْتُمْ

سَلَّمْتُمْ	اِذَا	عَلَيْكُمْ	فَلَا جُنَاحَ	اَوْلَادَكُمْ	تَسْتَرْضِعُوْٓا
وسپارئ تاسی	کله چی	پر تاسی باندی	نو نشته هیڅ ګناه	و اولاد خپل ته	دایی ونیسئ دتی ورکولو

دایی ونیسئ (بله ښځه دپاره) د تی ورکولو و اولاد خپل ته نو نشته هیڅ ګناه پر تاسی باندی کله چی وسپارئ تاسی !

مَّآ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ

اَنَّ	وَاعْلَمُوْٓا	اللّٰهَ	وَاتَّقُوا	بِالْمَعْرُوْفِ	مَّآ اٰتَيْتُمْ
چی بیشکه !	او پوه سئ	دالله څخه	او بیریږئ	په ښه دستور سره	هغه چی قصد د ورکولو کړی وی تاسی دوی ته

هغه چی قصد د ورکولو کړی وی تاسی دوی ته په (معروف) سم دستور سره او بیریږئ د الله څخه او پوه سئ چی بیشکه !

لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا

دښځي نفقه دخاوند دحیثیت مناسب پکار ده که دښځي ؟: پر دې خودټولو علماوو اتفاق دی چي ښځه او خاوند دواړه امیران وي نو دښځي نفقه به امیرانه واجب وي او که دواړه غریبان وي نو نفقه به غریبانه واجب وي البتّه که ددواړو مالي حالت بدل بدل وي نو په دې کي دفقهاوو اختلاف دی صاحب هدایه دخصاف رحمة الله علیه پر دې قول فتوی ورکړیده چي که چیري ښځه غریبه او سړی مالداروي نو دهغه نفقه دي درمیانه داسي وي چي تر غریبانو دي پورته او تر مالدارو دي کښته وي او دکرخي رحمة الله علیه په نزد نفقه به دخاوند دحال مطابق ورکول کیږي لکه چي په فتح القدیر کي دډیرو فقهاوو فتوی هم پر دغه نقل سوي ده په آیت کي داحکامو تر بیانولو وروسته ارشاددی: لاتضارّ والدة بولدها ولامولودله بولده) چي دکوچني په وجه نه څوک موراو نه څوک پلار په تکلیف کي اچول رواه دي مطلب دادی چي مور او پلار دي خپل په مینځ کي ضد ضدایي نه کوي چي یو اوبل ودې کار ته په زور سره مجبوره کړي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۰۱)

www.jamairahmani.org

اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۲۳۳﴾ وَالَّذِيۡنَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنۡكُمۡ

اللّٰهَ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِيۡرٌ	وَ	الَّذِيۡنَ	يُتَوَفَّوۡنَ	مِنۡكُمۡ
الله	په هغو شيانو	چې کوئ يئ تاسې	ښه ليدونکې دې	او	هغه کسان	چې مړه سې	ستاسې څخه

الله په هغو شيانو چې کوئ يئ تاسې ښه ليدونکې دې، او هغه کسان چې مړه سې ستا سې څخه

وَيَذَرُوۡنَ اَزۡوَاجًا يَّتَرَبَّصۡنَ بِاَنۡفُسِهِنَّ اَرۡبَعَةَ اَشۡهُرٍ

وَ	يَذَرُوۡنَ	اَزۡوَاجًا	يَّتَرَبَّصۡنَ	بِاَنۡفُسِهِنَّ	اَرۡبَعَةَ	اَشۡهُرٍ
او	پرېږدي دوی	ښځې	انتظار به کوی (دا ښځې)	په ځانو خپلو سره	څلور	مياشتې

او پرېږدي دوی ښځې انتظار دې کوی دا ښځې (دنکاح کولو څخه) په ځانو خپلو څلور مياشتې

وَّعَشۡرًا ۚ فَاِذَا بَلَغۡنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيۡمَا

وَّ	عَشۡرًا	فَاِذَا	بَلَغۡنَ	اَجَلَهُنَّ	فَلَا جُنَاحَ	عَلَيۡكُمۡ	فِيۡمَا
او	لس (ورځې)	نو کله چې	ورسيږي دوی	مودې د عدت خپل ته	پس نسته هيڅ ګناه	پر تاسې باندې	په هغه کښې

او لس (ورځې) نو کله چې ورسيږي دوی مودې د عدت خپل ته پس نسته هيڅ ګناه پر تاسې باندې په هغه کار کښې

فَعَلۡنَ فِيۡۤ اَنۡفُسِهِنَّ بِالۡمَعۡرُوۡفِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ

فَعَلۡنَ	فِيۡۤ اَنۡفُسِهِنَّ	بِالۡمَعۡرُوۡفِ	وَ	اللّٰهُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ
چې کوی يې (دا ښځې)	په نفسونو خپلو کښې	په ښه توګه سره	او	الله	په هغو شيانو	چې کوئ يئ تاسې

چې کوی يې دا ښځې په (حق د) نفسونو خپلو کښې په ښه توګه (په معروف سره) سره، او الله په هغو شيانو چې کوئ يئ تاسې

خَبِيۡرٌ ﴿۲۳۴﴾ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيۡمَا عَرَّضۡتُمۡ بِهٖ

خَبِيۡرٌ	وَ	لَا جُنَاحَ	عَلَيۡكُمۡ	فِيۡمَا	عَرَّضۡتُمۡ	بِهٖ
ښه خبردار دی	او	نسته هيڅ ګناه	پر تاسې باندې	په هغه کښې	چې اشاره کوی تاسې	په هغه سره

ښه خبردار دی . او نسته هيڅ ګناه پر تاسې باندې په هغه (کار) کښې چې اشاره کوی تاسې په هغه سره

مِنۡ خِطۡبَةِ النِّسَآءِ اَوۡ اَكۡنَنۡتُمۡ فِيۡۤ اَنۡفُسِكُمۡ ؕ عَلِمَ اللّٰهُ

مِنۡ خِطۡبَةِ	النِّسَآءِ	اَوۡ اَكۡنَنۡتُمۡ	فِيۡۤ اَنۡفُسِكُمۡ	عَلِمَ	اللّٰهُ
چې غوښتل	(دهغو) ښځو دی	يا يې پټ ساتئ	په زړونو خپلو کښې	معلوم دی	الله ته

چې غوښتل (دهغو) ښځو دی (چې په عدت کښې وی)، يا يې پټ ساتئ په زړونو خپلو کښې، معلوم دی الله ته

وَالَّذِيۡنَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنۡكُمۡ

(دعدې ځينې احکام)

دچاچې خاوند مړسي نو دهغې لپاره په عده کې خوشبويي لګول، ډول سنګارکول، رانجه او تيل بېله ضرورته ددوا او علاج لګول نوکروزي پوري کول ،رنګيني جامې اغوستل ښه نه دي او ددوهمې نکاح په جهر خبري کول هم ښه نه دي لکه چې په راتلونکي آيت کې به راسي په بل کور کې شپه تيرول هم رواه نه دي په ترجمه کې د(نکاح) سره د(اونور) دلفظ د لګولو څخه مطلب هم دا خبري دي او داحکم دهغه ښځې لپآره هم دی چاته چې طلاق باين ورکول سوی وي په کم کې چې رجوع کول رواه نه دي مګر دداسي ښځې لپاره د ورځې هم بغير دسختې مجبورى څخه وتل ښه نه دي(۲)که چيري دسپوږمی په شپه يې خاوند مړ سوی وي نو دعدې دا څلور مياشتې اولس ورځې به هم د سپوږمی په حساب پوره کول کيږي چې کله به ديرش او کله به يو کم ديرش ورځې وي او که چيري د سپوږمی تر شپې وروسته وفات سوی وي نو بيا تولـه مياشتې ديرش ديرش ورځې شميرل کيږي

(معارف القرآن ج۱ پ۲ ص۲۰۵)

www.jamairahmani.org

اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا

اَنَّكُمْ	سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ	وَلٰكِنْ	لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ	سِرًّا
بیشکه! تاسی	ژر به یاد کړی په غوښتلو سره دنکاح (دابنځی)	او لیکن	وعده مه کوی د دوی سره (دنکاح)	په پټه سره

چی بیشکه! تاسی ژر به یاد کړی په غوښتلو سره د نکاح دابنځی او لیکن وعده مه کوی د دوی سره (دنکاح) په پټه مگر

اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ؕ وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ

اِلَّآ اَنْ	تَقُوْلُوْا	قَوْلًا	مَّعْرُوْفًا	وَ	لَا تَعْزِمُوْا	عُقْدَةَ
مگر داچی	وواياست تاسی	ويل (خبره)	ښه (د دستور سره سم)	او	مه کوی قصد (دتړلو)	دغوټی

داچی ووایاست تاسی ویل (خبره) ښه (د دستور سره سم) او مه کوی قصد (دتړلو) دغوټی

النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ؕ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

النِّكَاحِ	حَتّٰى	يَبْلُغَ	الْكِتٰبُ	اَجَلَهٗ	وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ
دنکاح (د دوی)	تر هغه پوری	چی ورسیږی	تاکلی عدت	انتها د نیتی خپلی ته	او پوه سئ تاسی	چی بیشکه!	الله

دنکاح (د دوی) تر هغه پوری چی ورسیږی تاکلی (مقرر) عدت انتها د نیتی خپلی ته ، او پوه سئ تاسی ! چی بیشکه! الله

يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

يَعْلَمُ	مَا	فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ	فَاحْذَرُوْهُ	وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ
ته معلوم دی	هغه څه چی	په زړونو ستاسی کښی دی	نو ویریږی دده څخه	او پوه سی تاسی	چی بیشکه!	الله

ته معلوم دی هغه څه چی په زړونو ستاسی کښی دی نو ویریږی! د ده څخه (دالله څخه) او پوه سی تاسی ! چی بیشکه! الله

غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۳۵﴾ ع لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ

غَفُوْرٌ	حَلِيْمٌ	لَا جُنَاحَ	عَلَيْكُمْ	اِنْ	طَلَّقْتُمُ	النِّسَآءَ
ښه بخښونکی	ډیر تحمل والا دی	نسته هیڅ گناه	پر تاسی باندی	که چیرې	طلاقی کړی تاسی	ښځی (خپلی)

ښه بخښونکی (دخطیئاتو) ډیر تحمل والا دی. نسته هیڅ گناه (تکلیف) په تاسی باندی که طلاقی کړی تاسی ښځی

مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۖ

مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ	اَوْ	تَفْرِضُوْا	لَهُنَّ	فَرِيْضَةً
تر څو چی لاس مو وروړی نه وی تاسی دوی ته	یا	مقرر کړی مو (نه) وی	د دوی دپاره	یو څه مهر

(خپلی) ترڅو چی صحیح خلوت مو نه وی کړی د دوی سره او (یا) مقرر کړی مو (نه) وی د دوی دپاره تاکلی (یوڅه) مهر

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ.. دمهر او جماع په نسبت دطلاق ځلور صورته کیدای سي:
ددوو حکم په دې آیتونو کې بیان سوی دی **(اول)** یو دا چې نه مهر ټاکل سوی وي او نه دښځې سره جماع او خلوت سوی وي **(دوهم)** داچې مهرخو ټاکلی وي مگر جماع او خلوت نه وي سوی **(دریم)** دا چې مهرهم ټاکلی وي او جماع هم سوی وي نو ټاکلی پوره مهر به دلته ورکول کیږي داحکم دقرآن کریم په بل ځای کې بیان سوي دي **(ځلورم)** صورت دادی چې مهر خو ټاکلی نه وي مگر تر جماع یاخلوت صحیحه وروسته طلاق ورکول سوی وي په دې صورت کې پوره مهر مثل ورکول دي ددې بیان هم په یو بل ایت کې راځي: **مهر مثل هغه دی** چې دښځې په قوم کې چې کم رواج وي: په تیر سوي ایت کې دمخکې دوو قسمونو حکم بیان سوی دی په دې کې دمخکني صورت حکم دادی چې مهر خو هیڅ هم واجب نه دی مگر پر خاوند دا واجب دي چې خپلې ښځې ته دخپله ځانه څخه څه ورکې کم تر کمه یوه جوړه کالي ورکي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۰۷)

ع ۳۰/۱۴

www.jamairahmani.org

وَّ مَتِّعُوْهُنَّ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ

وَّ	مَتِّعُوْهُنَّ	عَلَى	الْمُوْسِعِ	قَدَرُهٗ	وَعَلَى	الْمُقْتِرِ	قَدَرُهٗ
او	يو څه خرڅ ورکړی دوی ته	پر	غنی (ميړه) باندی	په اندازه د ده	او پر	فقير (ميړه) باندی	په اندازه د ده

او يو څه خرڅ ورکړی دوی ته (واجب دی) پر غنی (ميړه) باندی په اندازه (دتوان) د ده او پر فقير (ميړه) په اندازه(دتوان) د ده

مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۳۶﴾ وَاِنْ

مَتَاعًا	بِالْمَعْرُوْفِ	حَقًّا	عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ	وَ	اِنْ
خرڅ	په ښه توګه سره	حق دی	پر نيکی کوونکو باندی	او	که چيری

خرڅ چی په معروف (سم له اصولو) سره وی حق (لازم) دی پر نيکی کوونکو (مسلمانانو) باندی. او که چيری

طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ

طَلَّقْتُمُوْهُنَّ	مِنْ قَبْلِ	اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ	وَقَدْ	فَرَضْتُمْ
طلاقی کړی تاسی دوی	د مخه	تر مسه کولو د دوی	او په تحقيق سره (که)	تاکلی وو تاسو

طلاقی کړی تاسی دوی (ښځی) د مخه تر مسه کولو د دوی او په تحقيق سره (که) (مقرر) تاکلی وو تاسو

لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ

لَهُنَّ	فَرِيْضَةً	فَنِصْفُ	مَا	فَرَضْتُمْ	اِلَّآ	اَنْ	يَّعْفُوْنَ
د دوی دپاره	مهر	پس دئ نيمايی	دهغه څه	چی تاکلی وو تاسو	مګر	داچی	عفوه وکړی (داښځی)

د دوی دپاره مهر نو (لازم) د ی (پرتاسی باندی) نيمايی د هغه څه چی تاکلی وو تاسو ، مګر که چيری عفوه وکړی داښځی

اَوْ يَعْفُوَا الَّذِيْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ؕ وَاَنْ تَعْفُوْٓا

اَوْ يَعْفُوَا	الَّذِيْ	بِيَدِهٖ	عُقْدَةُ	النِّكَاحِ	وَاَنْ	تَعْفُوْٓا
يا عفوه وکړی	هغه (ميړه)	چی په لاس د ده کښی ده	غوټه	دنکاح	او داچی	عفوه وکړی تاسی

يا عفوه وکړی هغه (ميړه) چی په لاس د ده کښی ده غوټه د نکاح او داچی عفوه وکړی تاسی (ای ښځو او ميړونو)

اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ؕ وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اَقْرَبُ	لِلتَّقْوٰى	وَ	لَا تَنْسَوُا	الْفَضْلَ	بَيْنَكُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ
ډيره نژدی ده	پرهيزګاری ته	او	مه هيروی تاسی	احسان کول	پخپلو منځو کښی	بيشکه!	چی الله

ډيره نژدی ده پرهيزګاری ته او مه هيروی تاسی فضل (احسان کول) پخپلو منځو کښی، بيشکه! چی الله

وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ.. که چيري يو شخص وخپلي ښځي ته تر جماع او خلوت مخکي طلاق ورکړي: او مهر يي دنکاح په وخت کي ټاکل سوی وي نو ددغه ټاکلي نيمه برخه ادا کول به دسړي پر ذمه واجب وي البتّه که چيري ښځه داهم وبخښي يا يه سړی پوره ورکي نو دادخوښي خبره ده لکه دآيت (الاان يعفون او يعفوالذي بيده عقدة النكاح) ثخه چي معلوميږي دسړي دطرفه پورا مهر اداکولو ته يي معاف کول دعربودرواج په مطابق وفرمايل چي هغوی به هم دواده پر موقع ټول مهر ادا کوي کله چي ده به تر جماع يا تر خلوت صحيحه مخکي طلاق ورکی نوبه دشرعي حکم مطابق دی دهغه نيم ورکړي مهر واپس غوښتلوحقداروو نوځکه دغه واپس نه غوښتلوته يي معاف کول وفرمايل دي قسم معاف کولو او بخښلوته يي ډير ښه او تقوی ته ډير نژدې ځکه وفرمايل چي دنکاح تعلق شکيدل هم په احسان او ښه سلوک سره وسوه چي دشريعت مراداو دعظيم ثواب موجب دی برابره خبره ده چي معافي دسړي دطرفه وي او که دښځي له طرفه.
(معارف القرآن ج۱ پ۲ ص ۲۰۸)

www.jamairahmani.org

بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿٢٣٧﴾ حٰفِظُوۡا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ

بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِيۡرٌ	حٰفِظُوۡا	عَلَى الصَّلَوٰتِ	وَالصَّلٰوةِ
پر هغه باندی	چې کوئ یې تاسی	ښه لیدونکی دی	ساتنه کوئ! تاسی	پر لمونځونو باندی	او (خصوصا) په لمانځه

پر هغه باندی چې کوئ یې تاسی ښه لیدونکی دی. ساتنه کوئ! تاسی پر (ټولو) لمونځو نو باندی او (خصوصا) په لمانځه

الۡوُسۡطٰى ۚ وَقُوۡمُوۡا لِلّٰهِ قٰنِتِيۡنَ ﴿٢٣٨﴾ فَاِنۡ خِفۡتُمۡ

الۡوُسۡطٰى	وَ	قُوۡمُوۡا	لِلّٰهِ	قٰنِتِيۡنَ	فَاِنۡ	خِفۡتُمۡ
د منځنی باندی	او	ودریږی تاسی	الله ته	بیریدونکی	پس که چیری	بیریدلی تاسی

د منځنی باندی (مازدیگر) او ودریږی تاسی! الله ته بیریدونکی (په ادب) نو که چیری بیریدلاست تاسی (د دښمن یا د بل شئ څخه)

فَرِجَالًا اَوۡ رُكۡبَانًا ۚ فَاِذَاۤ اَمِنۡتُمۡ فَاذۡكُرُوا اللّٰهَ كَمَا

فَرِجَالًا	اَوۡ رُكۡبَانًا	فَاِذَاۤ	اَمِنۡتُمۡ	فَاذۡكُرُوا	اللّٰهَ	كَمَا
نو (لمونځ کوئ) په پیاده تګ	یا په سورلی سره	نو کله چی	په امن سئ تاسی	نو یادوئ تاسی	الله	لکه څنګه چی

نو (لمونځ کوئ تاسی) په پیاده تګ یا په سورلی سره نو کله چی په امن سئ تاسی نو یادوئ تاسی ! الله لکه څنګه چی

عَلَّمَكُمۡ مَّا لَمۡ تَكُوۡنُوۡا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٢٣٩﴾ وَالَّذِيۡنَ يُتَوَفَّوۡنَ

عَلَّمَكُمۡ	مَّا	لَمۡ تَكُوۡنُوۡا	تَعۡلَمُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	يُتَوَفَّوۡنَ
ښوولی یې دی تاسی ته	هغه څه	چی نه وئ تاسی	چی پری پوهیدای	او هغه کسان	چی مره سی

ښوولی یې دی تاسی ته هغه څه چی نه واست تاسی چی (پری) پوهیدای. او هغه کسان چی مره سی

مِنۡكُمۡ وَيَذَرُوۡنَ اَزۡوَاجًا ۖۚ وَّصِيَّةً لِّاَزۡوَاجِهِمۡ مَّتَاعًا

مِنۡكُمۡ	وَ	يَذَرُوۡنَ	اَزۡوَاجًا	وَّ	صِيَّةً	لِّاَزۡوَاجِهِمۡ	مَّتَاعًا
له تاسی څخه	او	پریږدی دوی	ښځی (خپلی)	او	وصیت دی وکړی	دپاره د ښځو خپلو	دخرڅ ورکولو

له تاسی څخه او پریږدی دوی (خپلی) ښځی (لازم دی پر دوی باندی چی) وصیت دی وکړی دپاره د ښځو خپلو دخرڅ ورکولو

اِلَى الۡحَوۡلِ غَيۡرَ اِخۡرَاجٍ ۚ فَاِنۡ خَرَجۡنَ فَلَا جُنَاحَ

اِلَى	الۡحَوۡلِ	غَيۡرَ اِخۡرَاجٍ	فَاِنۡ	خَرَجۡنَ	فَلَا جُنَاحَ
تر	یو کاله پوری	بیله ایستلو	پس که چیری	پخپله ووتلی دوی	پس نسته هیڅ ګناه

تر یو کاله پوری بیله ایستلو (دخپلو کورونو څخه) نو که پخپله ووتلی (دا ښځې دخپلو کورونو څخه) نو نسته هیڅ ګناه

حٰفِظُوۡا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الۡوُسۡطٰى تر دي مخکي اووروسته دطلاق احکام دي : په منځ کي دلمونځ احکام بیانول دي خبري ته اشاره ده چي اصلي مقصد دحق تعالی ﷻ طرف ته توجه کول دي او دمعاشرې او معاملاتو داحکامو مطلب دنورو مصلحتونو او ګټو څخه علاوه دی: دځینو احادیثو په دلیل سره اکثرو علماوو منځنی لمونځ مازدیګر ته ویلي دي ځکه چي ددې یوه طرف ته دوه دورځې (دسهار اوماپښین) لمونځونه دي ددې تاکید په خصوصیت سره ځکه سوی دی چي اکثره خلګ په دې وخت کي ډیر بوخت وي :اوپه حدیث کي دعاجزی تفسیر چپ او سیدلو سره سوی دی ددې آیت له مخي په لمونځ کي دخبرو کولو بندیز دی اول به په لمانځه کي خبري کیدی سوې : او لمونځ دولاړې په اشاره به هلته درست وي چي پر یوه ځای ولاړوي خو دسجدې اشاره به درکوع تر اشارې زیاته ټیټه کوي او په تلو کي لمونځ کول رواه نه دي البتّه که چیري پر یوه ځای ولاړه نسوای کیدای (مثلا خاص دجنګ په وخت کي) نو بیا به یي بل وخت قضا کوي بیان القرآن.
(معارف القرآن ج ١ پ٢ص ٢٠٨)

www.jamairahmani.org

عَلَيۡكُمۡ فِيۡ مَا فَعَلۡنَ فِيۡٓ اَنۡفُسِهِنَّ مِنۡ مَّعۡرُوۡفٍ ؕ وَاللّٰهُ

عَلَيۡكُمۡ	فِيۡ مَا فَعَلۡنَ	فِيۡٓ اَنۡفُسِهِنَّ	مِنۡ مَّعۡرُوۡفٍ	وَاللّٰهُ
پر تاسي باندی	په هغه کښې چې کوی یې دوی	په خپلو ځانو کښې	د معروف (له ښو کارونو)	او الله

پر تاسې باندی په هغه شئ کښې چې کوی یې دوی په خپلو ځانو کښې د معروف (له ښو کارونو) او الله

عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ۝٢٤٠ وَلِلۡمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌ ۢ بِالۡمَعۡرُوۡفِ ؕ حَقًّا

عَزِيۡزٌ	حَكِيۡمٌ	وَ	لِلۡمُطَلَّقٰتِ	مَتَاعٌ	بِالۡمَعۡرُوۡفِ	حَقًّا
ډیر غالب	ښه حکمت والا دی	او	سته طلاقی کړل سویو ته	خرڅ ورکول	په نیکی طریقی سره	چې مقرر کړل سوی دی

ډیر غالب ښه حکمت والا دی. او سته طلاقی کړل سویو ښځو ته خرڅ ورکول په نیکی طریقی سره، چې مقرر کړل سوی دی

عَلَى الۡمُتَّقِيۡنَ ۝٢٤١ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمۡ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمۡ

عَلَى	الۡمُتَّقِيۡنَ	كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمۡ	اٰيٰتِهٖ	لَعَلَّكُمۡ
پر	پرهیزګارانو باندی	همداسی	بیانوی	الله	تاسی ته	آیاتونه خپل	د پاره د دی چې تاسی

پر پرهیزګارانو باندی. همداسی (لکه ذکر سوی احکام) بیانوی الله تاسی ته آیاتونه (احکام) خپل د پاره د دی چې تاسی

تَعۡقِلُوۡنَ ۝٢٤٢ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ خَرَجُوۡا

تَعۡقِلُوۡنَ	اَلَمۡ تَرَ	اِلَى الَّذِيۡنَ	خَرَجُوۡا
وپوهیږئ	آیا نه دی کتلی تا	هغو کسانو ته چې	وتلی وه

وپوهیږئ. آیا نه ده لیدلی تا (ای عبرت اخیستونکه! قصې) د هغو کسانو ته چې وتلی وه

مِنۡ دِيَارِهِمۡ وَهُمۡ اُلُوۡفٌ حَذَرَ الۡمَوۡتِ فَقَالَ لَهُمُ

مِنۡ دِيَارِهِمۡ	وَهُمۡ	اُلُوۡفٌ	حَذَرَ	الۡمَوۡتِ	فَقَالَ	لَهُمُ
د کورونو خپلو څخه	حال دا چې دوی	په زرګونو وه	د ډیری څخه	د مرګ	وفرمایل	دوی ته

د کورونو خپلو څخه حال دا چې دوی په زرګونو وه، د ډیری څخه د مرګ پس وفرمایل دوی ته

اللّٰهُ مُوۡتُوۡا ثُمَّ اَحۡيَاهُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوۡ فَضۡلٍ

اللّٰهُ	مُوۡتُوۡا	ثُمَّ	اَحۡيَاهُمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَذُوۡ	فَضۡلٍ
الله	چې مره سئ	وروسته	ژوندی کړل دوی	بیشکه!	الله	خامخا څښتن	د مهربانی دی

الله چې مره سئ (پس مره سول) بیا یې ژوندی کړل دوی بیشکه! الله خامخا څښتن (خاوند) د فضل (مهربانی) دی

ع ۳۱ / ۱۵

وَاللّٰهُ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ...
د جاهلیت په زمانه کې د خاوند د مرګ عده یو کال وه: او په اسلام کې دیوه کال پر ځای دا څلور میاشتې او لس ورځې وټاکل سوه لکه چې د مخکښې یو ایت (یتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشرا) څخه معلومه سویده مګر په دې کې د ښځې دومره خیال ساتل سوی وو کله چې تر دغه وخته د میراث حکم نه وو نازل سوی او د ښځې په میراث کې څه حصه ټاکل سوې نه وه د نورو حقداری یوازې د مړي پر وصیت بناوه لکه چې د آیت (کتب علیکم اذا حضر) د تفسیر څخه معلومه سوي ده ددې وجې دا حکم سوی وو که چیری ښځه د خپل خیر او ګټې په خاطر د خاوند څخه په پاته کور کې او سیږي نو تر یوه کال پوري دا حق لري: او هم دومره وخت به د مړي د پاته مال څخه خرڅ او خوراک ورکول کیږي په دې ایت کې دا بیان دی او خاوندانو ته حکم دی چې دا رنګه وصیت دې کوي او کله چې دا د ښځې حق وو د دې اخیستل یا پریښوول د هغې په اختیار کې وه نو وارثانو ته دا نه ده رواه چې دا د کوره وباسي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۱۰)

www.jamairahmani.org

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۲۴۳﴾ وَقَاتِلُوْا

عَلَى	النَّاسِ	وَ	لٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَشْكُرُوْنَ	وَقَاتِلُوْا
پر	خلکو	او	ليکن	ډير	دخلکو ښخه	نه باسي شکر	او جنګ کوی

پر خلکو باندی او ليکن ډير دخلکو شکر نه باسي. (لکه چی ښايي او پند تری نه اخلی) . او جنګ کوی (ای! مؤمنانو)

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۴﴾

فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ
په	لاره	دالله کښی	او پوه سی تاسی	چی بيشکه!	الله	ښه اوريدونکی	ښه عالم دی

په لاره د الله کښی (د دين د ترقی دپاره) او پوه سی تاسی، چی بيشکه! الله ښه اوريدونکی ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ

مَنْ	ذَا الَّذِيْ	يُقْرِضُ	اللّٰهَ	قَرْضًا	حَسَنًا	فَيُضٰعِفَهٗ
څوک دی	هغه سړی	چی قرض ورکوی	الله ته	قرض	نيک (ښه)	نو زيات به کړی (الله) هغه قرض

څوک دی هغه سړی چی قرض ورکوی الله ته قرض نيک (مصرفول د الله په لاره کښی) نو زيات به کړی الله هغه قرض

لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ۭ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۠ وَاِلَيْهِ

لَهٗٓ	اَضْعَافًا	كَثِيْرَةً	وَ	اللّٰهُ	يَقْبِضُ	وَ	يَبْصُۜطُ	وَاِلَيْهِ
هغه ته	په زياتوالی	ډير	او	الله	تنګوی (رزق)	او	فراخوی (رزق)	او خاص بيا به ده ته

(ثواب د قرض) هغه ته په زياتوالی ډير او الله تنګوی (رزق) او فراخوی (رزق) او هم (خاص) بيا به ده ته

تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ

تُرْجَعُوْنَ	اَلَمْ تَرَ	اِلَى الْمَلَاِ	مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ
بيولی کيږئ تاسی	آيا نه دی کتلی تا	ډلی ته	د بنی اسرائيلو

بيولی کيږئ. (داعمالو د جزاء د پاره). آيا نه دی کتلی تا ډلی ته د بنی اسرائيلو (اولادی د يعقوب ته)

مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ

مِنْۢ بَعْدِ	مُوْسٰى	اِذْ	قَالُوْا	لِنَبِيٍّ	لَّهُمُ	ابْعَثْ
وروسته د	موسی ښخه	کله چی	وويل دوی	يوه نبی ته (چی راغلی وو)	دوی ته	چی مقرر کړه

وروسته د موسی ښخه، کله چی وويل دوی يوه نبی ته (چی راغلی وو) دوی ته چی مقرر کړه

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا..د قرض ښخه مراد نيک عمل کول او دالله ﷻ په لار کي مال لګول دي : دې ته يي مجازاً قرض وويل هسي خو تول هم دالله ﷻ ملکيت دي مطلب يي داسو چي ددې بدله به خامخا ورکول کيږي دزياتولو بيان په يوه حديث شريف کي داسي راغلی دی چي ديوې خرما (دالله ﷻ په لاره کي) ثواب به الله ﷻ داحد تر غره هم زيات کي الله ﷻ ته دقرض ورکولو دا مطلب هم بيان سوی دی چي دهغه بندګانو ته قرض ورکول سي او دهغوی حاجتونه پوره سي لکه چي په حديث شريف کي دقرض ورکولو ډير فضيلت راغلی دی رسول کريم ﷺ فرمايلي دي(ما من مسلم يقرض مسلما قرضا مرّة الا كان كصدقته مرّتين) رواه ابن ماجة کم يو مسلمان چي بل مسلمان ته قرض ورکوي دا قرض ورکول دالله ﷻ په لار کي ددغه مال دوه واره صدقي (خيرات) کولو برابر دی او دقرض حسن مطلب دادی چي دغه قرض ور کول په اخلاص سره وي نام او ريا نه وي په کښي دالله درضا لپاره وي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۱۸)

www.jamairahmani.org

لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ

لَنَا	مَلِكًا	نُّقَاتِلْ	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	قَالَ	هَلْ
موږ ته	یو پاچاه	چې جنګ وکړو	په لاره د الله کښې	وویل (نبی)	آیا

موږ ته یو پاچاه چې جنګ وکړو (موږ په تدبیر او اتفاق د هغه) په لاره د الله کښې (نو) وویل (نبی) آیا

عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ

عَسَيْتُمْ	اِنْ	كُتِبَ	عَلَيْكُمُ	الْقِتَالُ	اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ
نژدې ده چې تاسې	که چیرې	فرض کړل سی	پر تاسو باندې	جنګ	چې ونه کړی جنګ

نژدې ده چې تاسې (یعنی توقع سته) که چیرې فرض کړل سی پر تاسو باندې جنګ چې ونه کړی جنګ (بلکه دا توقع سته)

قَالُوْا وَمَا لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

قَالُوْا	وَمَا لَنَآ	اَلَّا نُقَاتِلَ	فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ
وویل دوی	څه (سوی) دی موږ ته	چې و به نه کړو جنګ	په لاره	د الله کښې؟

وویل دوی څه (سوی، مانع) دی موږ ته چې و به نه کړو جنګ په لاره د الله کښې؟

وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ

وَقَدْ	اُخْرِجْنَا	مِنْ دِيَارِنَا	وَ	اَبْنَآئِنَا ؕ	فَلَمَّا	كُتِبَ
او په تحقیق سره	ایستلی سوی یو موږ	د کورونو خپلو څخه	او	د ځامنو خپلو څخه	پس کله چې	فرض کړل سو

حال دا چې په تحقیق سره ایستلی سوی یو موږ د کورونو خپلو او د ځامنو خپلو څخه (په ظلم سره)، نو کله چې فرض کړل سو

عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

عَلَيْهِمُ	الْقِتَالُ	تَوَلَّوْا	اِلَّا	قَلِيْلًا	مِّنْهُمْ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌۢ
پر دوی	جنګ (کول)	نو وګرځېدل دوی	مګر	(ونه ګرځېدل) لږ	د دوی څخه	او الله	ښه عالم دی

پر دوی جنګ نو وګرځېدل دوی (تول له جنګه) مګر (ونه ګرځېدل) لږ د دوی څخه او الله ښه عالم دی

بِالظّٰلِمِيْنَ ۝٢٤٦ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ

بِالظّٰلِمِيْنَ	وَ	قَالَ	لَهُمْ	نَبِيُّهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	قَدْ بَعَثَ
په ظالمانو باندې	او	وویل	دوی ته	نبی د دوی	بیشکه!	الله	په تحقیق سره مقرر کړی دی

په ظالمانو باندې (نو جزا ورکوی دوی ته). او وویل دوی ته نبی د دوی چې بیشکه! الله په تحقیق سره مقرر کړی دی

نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ...
په دې ځای کې مقصود د جنګ کولو شوق پیدا کول دي: تیره سوې قصه ددې تمهید دی دا الله ﷻ په لار کې مال لګول ددې تایید دی بیا ور پسې د طالوت او جالوت قصه ددې تاکید دی دا رنګه په دې قصه کې الله ﷻ د قبض او بسط مشاهده وکړه کم یې چې په تیر سوې آیت کې (واللہ یقبض ویبسط) سره کړې وه مطلب دا چې باچا جوړول او د باچا څخه باچهي اخیستل ټول د الله ﷻ په اختیار کې دي
د حضرت موسی علیه السلام: څخه وروسته تر یوې مودې پورې د بنی اسراییلو چارې ښې وې او بیا کله چې ددوی نیتونه خراب سول نو پر دوی باندې الله ﷻ یو غلیم کافر باچا مسلطه کی دوی یې له ښارونو ویستل او ددوی کورونه یې لوټ او تاراج کړل او ددوی څخه یې مریان جوړ کړل بني اسرائیل وتښتیدل او په بیت المقدس کې سره ټول سول په دې وخت کې حضرت شمویل علیه السلام نبي وو او دوی د هغه څخه وغوښتل چې موږ ته یو باچا مقرر کړه چې د هغه په ملګرتیا کې موږ جهاد وکړو الخ.
(معارف القرآن ج ١ ب ٢ ص ٢٢٤)

www.jamairahmani.org

لَكُمۡ طَالُوۡتَ مَلِكًا ؕ قَالُوۡۤا اَنّٰى يَكُوۡنُ لَهُ الۡمُلۡكُ

لَكُمۡ	طَالُوۡتَ	مَلِكًا	قَالُوۡۤا	اَنّٰى	يَكُوۡنُ	لَهُ الۡمُلۡكُ
تاسي ته	طالوت	پاچاه	وويل دوى	چي څنګه	وى به	ده (طالوت) ته پاچاهي

تاسي ته طالوت پاچاه وويل دوى (بنى اسرائيلو) چي څنګه به وى ده (طالوت) ته پاچاهي

عَلَيۡنَا وَنَحۡنُ اَحَقُّ بِالۡمُلۡكِ مِنۡهُ وَلَمۡ يُؤۡتَ سَعَةً

عَلَيۡنَا	وَنَحۡنُ	اَحَقُّ	بِالۡمُلۡكِ	مِنۡهُ	وَلَمۡ يُؤۡتَ	سَعَةً
پر موږ باندى	حال دا چي موږ	ډير مستحق يو	په پاچاهي سره	د ده څخه	او نه ده ورکړل سوى (ده ته)	پراخي

پر موږ باندى؟ حال دا چي موږ ډير مستحق يو په پاچاهي سره له ده څخه او نه ده ورکړل سوى (ده ته) پراخي

مِّنَ الۡمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصۡطَفٰٮهُ عَلَيۡكُمۡ وَزَادَهٗ

مِّنَ الۡمَالِ	قَالَ	اِنَّ	اللّٰهَ	اصۡطَفٰٮهُ	عَلَيۡكُمۡ	وَزَادَهٗ
د مال څخه	وويل (نبى)	بيشكه!	الله	غوره كړى دى دا طالوت	پر تاسى باندى	او زياته كړى يى ده هغه ته

د مال څخه وويل (نبى) چي بيشكه! الله غوره كړى دى دا طالوت پر تاسى باندى او زيات كړى يى دى هغه

بَسۡطَةً فِى الۡعِلۡمِ وَالۡجِسۡمِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤۡتِىۡ مُلۡكَهٗ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ

بَسۡطَةً	فِى الۡعِلۡمِ	وَالۡجِسۡمِ	وَاللّٰهُ	يُؤۡتِىۡ	مُلۡكَهٗ	مَنۡ يَّشَآءُ
پراخي	په علم	او په جسم كښى	او الله	وركوى	ملک (سلطنت)خپل	هغه چاته چي اراده وكړى

له جهته د پراخي په علم او (په) جسم كښى او الله وركوى ملک (سلطنت) خپل هغه چا ته چي اراده كړى (د وركولو يى)

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۴۷﴾ وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ

وَاللّٰهُ	وَاسِعٌ	عَلِيۡمٌ	وَ	قَالَ	لَهُمۡ	نَبِيُّهُمۡ
او الله	پراخ دى (احسان، فضل رحمت د ده)	ښه عالم دى	او	وويل	دوى ته	نبى د دوى

او الله پراخ دى (احسان، فضل رحمت د ده) ښه عالم دى. او وويل دوى ته (بني اسرائيلو ته) نبى د دوى

اِنَّ اٰيَةَ مُلۡكِهٖۤ اَنۡ يَّاۡتِيَكُمُ التَّابُوۡتُ فِيۡهِ

اِنَّ	اٰيَةَ	مُلۡكِهٖۤ	اَنۡ	يَّاۡتِيَكُمُ	التَّابُوۡتُ	فِيۡهِ
بيشكه!	علامه	د پاچاهي د ده	دا ده	چي رابه سى تاسى ته	يو صندوق	(چي وى به) په هغه كښى

چي بيشكه! علامه د پاچاهي د ده (د طالوت) دا ده چي رابه سى تاسى ته (يو) صندوق (چي وى به) په هغه كښى

اَنۡ يَّاۡتِيَكُمُ التَّابُوۡتُ. په بني اسرائيلوكي يو تابوت راروان وو: په كم كي چي د حضرت موسى عليه السلام او د نورو انبياوو عليهم السلام تبركات وه بني اسرائيلو به دغه صندوق په جنگ كي مخكي مخكي وړى الله جل جلاله به ورلره ددغه صندوق په بركت سره برى وركاوه كله چي جالوت پر بني اسرائيلو باندي برى پيدا كى نو هغه صندوق يي هم ورڅخه يووى بيا چي كله الله جل جلاله ته ددغه صندوق بيرته واپس كول منظور سوه نو داسي يي وكړل چي په كم ځاى كي به دغه صندوق كافرانو (عمالقه وو) كښيښوى هلته به وبا اوغمونه مصيبتونه راتلل په دغه دوران كي پنځه ښارونه وران او برباد سول آخر كار هغوى مجبوره سول دغه صندوق يي پر دوو غوايانو باندي بار كى او هغه يي ايله كړل ملايكو بيا دغه دوه غوايان په ښړلو ښړلو د طالوت دروازي ته راورسول بني اسرآئيلو ددغه نښاني په ليدو د طالوت په باچا كيدو سره يقين وكړى او طالوت اخته سو پر جالوت يي فوجونه وروغورځول حمله يي پر وكړه او موسم د سختي گرمي وو الخ.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۲۴)

www.jamairahmani.org

قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ.. **دامتحان حکمت او توجيه**: مفتي شفيع صاحب رحمة الله عليه فرمايي چي ددې امتحان حکمت او توجيه داحقر په ذوق کي دامعلوميږي چي په داسي پيښو کي دجوش او خروش له وجي ډيره ګڼه ګوڼه پيښه سي ليکن په اصلي وخت کي مستقل مزاجه خلګ ډير کم پاته کيږي او په دغه وخت کي پښي ښوييدونکي خلګ دنورو پښي هم ښويوي الله جل جلاله ته داسي خلګو بيلول منظور وه نو يه ورته امتحان داسي مقرر کړی کم چي ډير زيات مناسب دی ولي چي په جنګ کي داستقلال او دسختی دګاللواو تيرولو ضرورت وي نو په داسخته تنده کي داوبو درلودلوسره سره بيا هم ځان راګيرول دمستقل مزاجی دليل دی اوس ورپسي ديو خلاف عادت خبري بيان دی چي ډيري زياتي اوبه چيښونکي خلګ په غيبي ډول هم زيات بيکاره سول او تفاسيرو راوړي دي چي داخلګ پر درې قسمه سول **ناقص الايمانه** او **کامل الايمانه** چي دلړوالي فکر ورسره وو خو په امتحان کي کاميابه سول او **اکمل الايمانه** چي دلړوالي فکر هم نه وو ورسره.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۲ ص ۲۲۴)

ع ۳۲ ۱۲

سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى

سَكِيْنَةٌ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	وَبَقِيَّةٌ	مِّمَّا	تَرَكَ	اٰلُ مُوْسٰى
آرام د زړه	د طرفه څخه	د رب ستاسي	او باقي پاتي سوی	د هغه شيانو څخه	چي پری ايښي وه	اولادی د موسی

آرام د زړه د طرفه څخه د رب ستاسي او باقي پاتي سوی له هغه شيانو چي پری ايښي وه اولادی د موسی

وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

وَ	اٰلُ هٰرُوْنَ	تَحْمِلُهُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً
او	اولادی د هارون	چي بار کړی به وی هغه	ملائيکو	بيشکه!	چي په دی کښې (په صندوق)	خامخا علامه ده

او اولادی د هارون حال دا چي بار کړی به وی هغه (صندوق) ملائيکو ، بيشکه! چي په دی کښې خامخا علامه ده د

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ

لَّكُمْ	اِنْ	كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ	فَلَمَّا	فَصَلَ	طَالُوْتُ	بِالْجُنُوْدِ
تاسی ته	که چيری	ياست تاسی	مؤمنان	نو کله چي	را ووتی	طالوت	سره د لښکرو

(په پاچاهی د طالوت) تاسی ته که چيری ياست تاسی مؤمنان. نو کله چي راووتی طالوت سره د لښکرو

قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ

قَالَ	اِنَّ	اللّٰهَ	مُبْتَلِيْكُمْ	بِنَهَرٍ	فَمَنْ	شَرِبَ	مِنْهُ
وويل (طالوت)	بيشکه!	الله	ازمايونکی دی ستاسی	په يوه وياله سره	نو هر هغه څوک چي	وچښی	د هغی څخه

وويل طالوت چي بيشکه! الله ازموونکی ستاسی دی په يوه وياله سره نو هر هغه څوک چي (اوبه) وچښی د هغی ويالی څخه

فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ اِلَّا مَنِ

فَلَيْسَ	مِنِّيْ	وَ	مَنْ	يَطْعَمْهُ	فَاِنَّهٗ	مِنِّيْ	اِلَّا مَنِ
پس نه دی	(دتابعانو) زما	او	هغه څوک	چي ونه څکی ادا	نو بيشکه دی دی	(دتابعانو) زما	مګر هغه څوک چي

نو نه دی (د تابعانو) زما ، او هر هغه څوک چي ونه څکی دا (اوبه) نو بيشکه! دی له (تابعانو) زما دی مګر هغه څوک چي

اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِيْلًا

اغْتَرَفَ	غُرْفَةً	بِيَدِهٖ	فَشَرِبُوْا	مِنْهُ	اِلَّا	قَلِيْلًا
اخلی (اوبه)	يو ورغوی (لپه)	په لاس خپل سره	پس ويی څښلی دوی	د هغه څخه	مګر	لږ (خلګو ونه څښلی)

اخلی يو ورغوی اوبه په لاس خپل سره نو ويی څښلی دوی د هغه څخه (ټولو) مګر لږ دوی څخه (ونه څښلی د لپی څخه زيات)

www.jamairahmani.org

مِّنۡهُمۡ ؕ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ ۙ قَالُوۡا

مِّنۡهُمۡ	فَلَمَّا	جَاوَزَهٗ	هُوَ	وَالَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	مَعَهٗ	قَالُوۡا
د دوی څخه	پس کله چي	تیر سو د هغه ویالی څخه	دی (طالوت)	او هغه کسان چي	ایمان لرونکی وه	د ده سره	وویل دوی

د دوی څخه پس کله چي تیر سو د هغه ویالی څخه دی (طالوت) او هغه کسان چي ایمان لرونکی وه د ده سره، وویل دوی

لَا طَاقَةَ لَنَا الۡيَوۡمَ بِجَالُوۡتَ وَجُنُوۡدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيۡنَ

لَا طَاقَةَ	لَنَا	الۡيَوۡمَ	بِجَالُوۡتَ	وَجُنُوۡدِهٖ	قَالَ	الَّذِيۡنَ
چي نسته طاقت	موږ ته	نن ورځ	د جالوت سره	او لښکرو د ده سره	وویل	هغو کسانو

(مخالفینو) چي نسته طاقت موږ ته نن ورځ د جالوت سره او لښکرو د ده سره (دجنګ کولو) وویل هغو کسانو

يَظُنُّوۡنَ اَنَّهُمۡ مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمۡ مِّنۡ فِئَةٍ قَلِيۡلَةٍ

يَظُنُّوۡنَ	اَنَّهُمۡ	مُّلٰقُوا	اللّٰهِ	كَمۡ مِّنۡ فِئَةٍ	قَلِيۡلَةٍ
چي یقین یی وو	چي بیشکه! دوی	ورتلونکی دی	الله ته	ډیر د ډلو	لږو (دمؤمنانو)

چي یقین یی وو (په دی) چي بیشکه! دوی ورتلونکی دی الله ته. ډیر د لږو ډلو (دمؤمنانو)

غَلَبَتۡ فِئَةً كَثِيۡرَةًۢ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿۲۴۹﴾

غَلَبَتۡ	فِئَةً	كَثِيۡرَةًۢ	بِاِذۡنِ	اللّٰهِ	وَاللّٰهُ	مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ
غلبه کړی وه	پر ډلی	ډیری باندی	په حکم	د الله سره	او الله	د صابرانو سره دی

غلبه کړی وه په ډلی ډیری (دکفارو سرکښانو) په اذن (حکم) د الله سره . او الله سره د صابرانو دی (په نصرت او اثابت سره)

وَلَمَّا بَرَزُوۡا لِجَالُوۡتَ وَجُنُوۡدِهٖ قَالُوۡا رَبَّنَاۤ

وَلَمَّا بَرَزُوۡا	لِجَالُوۡتَ	وَ	جُنُوۡدِهٖ	قَالُوۡا	رَبَّنَاۤ
او کله چي راووتل دوی	دپاره دجالوت	او	د لښکر د ده	وویل	ای! زموږ ربه

او کله چي راووتل (مخامخ سول) دوی لپاره (دجنګ) د جالوت او لښکر د ده نو وویل دوی (یعنی مؤمنانو) ای زموږ ربه

اَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرًا وَّثَبِّتۡ اَقۡدَامَنَا وَانۡصُرۡنَا

اَفۡرِغۡ	عَلَيۡنَا	صَبۡرًا	وَّ	ثَبِّتۡ	اَقۡدَامَنَا	وَ	انۡصُرۡنَا
نازل کړه	پر موږ باندی	صبر	او	کلک کړه	قدمونه زموږ	او	مرسته وکړه زموږ سره

نازل کړه (راتوی کړه) پر موږ صبر او کلک کړه قدمونه زموږ (په جنګ کښی) او مرسته (مدد) وکړه زموږ سره

وَلَمَّا بَرَزُوۡا لِجَالُوۡتَ وَجُنُوۡدِهٖ.. کله چي دجالوت سره مخامخ سول: یعني دغه دري سوه دیارلس کسان ۳۱۳ چي په هغوی کي د حضرت داوود علیه السلام پلار هم وو او دده شپږ ورونه هم وه او په خپله داوود علیه السلام هم وو او په لاره کي درو کانو پر داوود علیه السلام باندي ږغ وکړ چي موږ درسره واخله ځکه چي موږ دري سره دجالوت پر ککری باندي موښلیدونکي او لګیدونکي یو او دهغه وژونکي یو نو ده هم راواخیستي نو کله چي دداړو ډلو فوجونه سره مخ سول په خپله میدان ته جالوت راووتی او اعلان یي وکړی چي زه ستاسي دجنګ لپاره بس او کافي یم او تاسي به ټوله مات او مغلوبه سی نو یو یو ماته راتیر سی حضرت شمویل علیه السلام دداوود علیه السلام پلار راوغوښتی او ورته یه وویل چي خپل ټول زامن دي ماته راوښیه دده هم خپل شپږ سره هلکان چي ډیر جګ او پیاوړي او قوي ځوانان وه وروښوول او حضرت داوود علیه السلام یي ور سره مخ نه کی ځکه چي هغه یو ټیټ او ګردی شپون او چوپان وو پسونه یي کتل (پاته قصه پر راتلونکي مخ وګوری)

www.jamairahmani.org

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ (٢٥٠) فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ

عَلَى	الْقَوْمِ	الْكٰفِرِيْنَ	فَهَزَمُوْهُمْ	بِاِذْنِ	اللّٰهِ
پر	قوم	د کافرانو	نو مات کړل مؤمنانو دوی	په حکم	دالله سره

پر قوم د کافرانو. مات کړل مؤمنانو دوی (یعنی کافران) په اذن (حکم) د الله سره

وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ

وَ	قَتَلَ	دَاوٗدُ	جَالُوْتَ	وَاٰتٰىهُ	اللّٰهُ	الْمُلْكَ
او	مړ کړ	داوؤد	جالوت لره	او ورکړ ده ته (داؤد ته)	الله	سلطنت (ملک)

او مړ کړ داؤد جالوت او ورکړ ده ته (یعنی داؤد ته) الله سلطنت

وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ

وَ	الْحِكْمَةَ	وَعَلَّمَهٗ	مِمَّا	يَشَآءُ	وَلَوْ	لَا دَفْعُ	اللّٰهِ
او	حکمت	او ویې ښوول ده ته	دهغو شیانو څخه	چې اراده یې کوله	او که چیرې	نه وایې دفع کول	د الله

او حکمت او ویې ښوول ده ته د هغو شیانو څخه چه اراده یې کوله او که چیری نه وایی دفع (منع) کول د الله

النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ

النَّاسَ	بَعْضَهُمْ	بِبَعْضٍ	لَّفَسَدَتِ	الْاَرْضُ	وَلٰكِنَّ
خلکو ته	ځینو د دوی ته	په ځینو نورو سره	خامخا به خرابه سوی وای	مځکه	و لیکن

خلکو ته ځینو د دوی لره په ځینو نورو سره (نو) خامخا به خرابه سوی وی ځمکه (هیواد په ظلم سره) او لیکن

اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ (٢٥١) تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ

اللّٰهَ	ذُوْ فَضْلٍ	عَلَى	الْعٰلَمِيْنَ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	اللّٰهِ
الله	څښتن د فضل دی	پر	خلکو باندی	داچې (تیر سول)	آیاتونه (د لائل د قدرت)	د الله دی

الله څښتن (خاوند) د فضل (احسان) دی پر خلکو باندی. داچې (تیر سول) آیاتونه (دلائل دقدرت) د الله دی

نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ (٢٥٢)

نَتْلُوْهَا	عَلَيْكَ	بِالْحَقِّ	وَاِنَّكَ	لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ
چې موږیې وایو هغه	پر تا باندی	په حقه سره	او بیشکه! ته یې	خامخا د رالیږل سوو څخه

چې موږیې وایو هغه پر تا باندی (ای محمده!) په حقه سره او بیشکه! ته چې یې (محمده!) هرومرو (زموږ) د مرسلانو څخه یې

دتیر مخ پاته قصه دلته

وګوری: نو شمویل عليه السلام هغه هم راوغوښتی او ورته یې وویل چې ته جالوت وژلای سې؟ داوود عليه السلام وفرمایل چې هو وژلای یې سم بیا دجالوت مخې ته ورووتی او هغه درې سره کاڼي یې په میچیلوغي کې کښیښوول او جالوت یې پر تندي داسې په وویشت چې هغه درې سره کاڼي یې د څټ خوا ته ووتل دا ځکه چې دطالوت نور ټوله بدن په اوسپنه کې پټ وو نو ددې سره سم دجالوت لښکر وتښتیدی او مسلمانان کامیابه سول بیا طالوت خپله لور وداوود عليه السلام ته ورپه نکاح کړه او دطالوت څخه وروسته همدغه داوود عليه السلام باچا سودی په عین باچهي کې نبي هم وو او او سپنه یې په لاس کې موم غوندې ګرځیدلې وه دادده مبارک معجزه وه او ډیرې ښایسته ځغرې یې جوړولې او دمرغانو په خبرو باندې هم پوهیدی او دنورو ښو ستاینو او مناقبو خاوند هم وو ددې څخه دا هم ښکاره سوه چې دجهاد حکم دپخوانیو پیړیو څخه راروان دی او په جهاد کې دالله جل جلاله ډیر لوی احسان او رحمت دی خو ناپوهان وایي چې جهاد دانبیاوو کار نه دی **(ابن کثیر او مظهري او عام تفاسیر)**

www.jamairahmani.org

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ

تِلْكَ	الرُّسُلُ	فَضَّلْنَا	بَعْضَهُمْ	عَلٰى بَعْضٍ	مِنْهُمْ
دا ټول	رسولان	فضلیت ورکړی دی موږ	ځینی د دوی ته	پر ځینو نورو	ځینی له دوی څخه

داټول رسولان (چي د آدم څخه تر محمد پوري یاد سول) فضلیت ورکړی دی موږ ځینی د دوی ته پر ځینو نورو

مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ وَاٰتَيْنَا

مَّنْ	كَلَّمَ	اللّٰهُ	وَرَفَعَ	بَعْضَهُمْ	دَرَجٰتٍ	وَاٰتَيْنَا
هغه دی	چي خبری کړی دی	الله (د دوی سره)	او پورته کړی ئی دی	ځینو د دوي ته	درجی	او ورکړی دی موږ

ځیني له دوی څخه هغه دی چي خبری کړی دی الله د دوی سره او پورته کړی ئی دی ځینو د دوی ته درجي او ورکړی دی موږ

عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ

عِيْسَى	ابْنَ مَرْيَمَ	الْبَيِّنٰتِ	وَاَيَّدْنٰهُ	بِرُوْحِ الْقُدُسِ
عیسی	زوی د مریمی ته	ښکاره معجزی	او قوی کړی دی موږ هغه	په روح القدوس سره

عیسی زوی د مریمی ته ښکاره معجزی او قوی کړی دی موږ هغه په روح القدوس (جبریل یا انجیل یا عیسوي روح) سره

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

وَلَوْ شَآءَ	اللّٰهُ	مَا اقْتَتَلَ	الَّذِيْنَ	مِنْۢ بَعْدِ	هِمْ
او که اراده کړی وی	الله	نه به وو کړی جنګ	هغو کسانو	چي وروسته	له دی (رسولانو) څخه وو

او که اراده کړی وی الله (د ټولو خلقو د هدایت) نو نه به وو کړی جنګ هغو کسانو چي وروسته له دی رسولانو څخه وو

مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ

مِّنْۢ بَعْدِ	مَا	جَآءَتْهُمُ	الْبَيِّنٰتُ	وَلٰكِنِ	اخْتَلَفُوْا	فَمِنْهُمْ
وروسته له	هغه څخه چي	راغلی دوی ته ښکاره	معجزی	او لیکن	دوی جګړی سره وکړی	نو ځینی له دوی څخه

وروسته له هغه څخه چي راغلی دوی ته ښکاره معجزی او لیکن دوی اختلاف (او جګړی) سره وکړی نو ځینی له دوی څخه

مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

مَّنْ	اٰمَنَ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	كَفَرَ	وَلَوْ شَآءَ	اللّٰهُ
هغه څوک دی	چي ثابت پاتی سوی په ایمان کی	او ځینی له دوی څخه	هغه څوک دی	چي کافران سول	او که اراده کړی وی	الله

هغه څوک دی چي ثابت پاتی سوی دی په ایمان او ځینی له دوی څخه هغه څوک دی چي کافران سول، او که اراده کړی وی الله

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ: **په دغه مضمون کي یو قسم تسلي نبي کریم ﷺ ته ورکړه سویده** : ځکه چي کله دهغه ﷺ پیغمبري په دلیل سره ثابته وه کمه چي یي په (انّک لمن المرسلین) سره فرمایلي ده داو بیا هم منکرو خلګو نه منله نو په دې سره به نبي کریم ﷺ ته ډیر تکلیف او غم رسیدی په دې وجه الله ﷻ دا خبره ورته واوروله چي دمختلفو مرتبو نور پیغمبران هم تیر سویدي لیکن دیوه پیغمبر په زمانه کي هم ټول امتیان په جمع نه دي مومنان سوي چایي خبره منلې ده او چا نه ده منلې او په دې کي هم دالله ﷻ حکمتونه دي چي هر څوک نه پوهیږي البتّه دومره عقیده لرل ضروري ده چي په دې کي به خامخا څه جکمت وي (منهم من کلم الله) دحضرت موسی علیه السلام که څه هم خبري دملایکي په ذریعه نه وې مګر حجاب او پرده وه دالله ﷻ او دموسی علیه السلام تر مابین: او ځیني نبیان یي په دوی کي په ډیرو مرتبو په لوړ مقام سره لوړ کړي دي چي تر ټولو غټه او اعلی مرتبه یي ونبي کریم ﷺ ته ورکړي ده.
(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١)

www.jamairahmani.org

ع ٣٤ ٥

مَا اقْتَتَلُوْا ۟ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿٢٥٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

مَا اقْتَتَلُوْا	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	يَفْعَلُ	مَا	يُرِيْدُ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
نو دوی به نه ؤ کړی جنګ	او لیکن	الله	کوی	هغه (کار)	چی اراد يي ولری	ای!	هغو کسانو

(د دوي د هدايت) نو دوی به نه ؤ کړی مخالفت (او مجادله) او لیکن الله کوی هغه کار چی اراده ولری، ای! هغو کسانو

اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ

اٰمَنُوْٓا	اَنْفِقُوْا	مِمَّا	رَزَقْنٰكُمْ	مِّنْ قَبْلِ	اَنْ يَّاْتِيَ
چي ايمان ئی راوړی دی	خرڅ کړی	ځینی له هغو مالونو څخه	چي درکړی دی موږ تاسی ته	پخوا د	راتلو د هغی

چي ايمان ئی راوړی دی خرڅ کړی ځینی له هغو مالونو څخه چي درکړی دی موږ تاسی ته پخوا د راتلو د هغی

يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ۭ وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ

يَوْمٌ	لَّا بَيْعٌ	فِيْهِ	وَلَا خُلَّةٌ	وَّلَا شَفَاعَةٌ	وَالْكٰفِرُوْنَ	هُمُ
ورځی څخه	چی نسته خرڅول	په هغی کښی	او نه دوستی	او نه شفاعت	او کافران	هم دوی

ورځی څخه چی نه اخیستل او نه خرڅول پکښی سته او نه دوستی او نه شفاعت (بی له د الله د سپارښت څخه)، او کافران هم دوی

الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٥٤﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ

الظّٰلِمُوْنَ	اَللّٰهُ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	اَلْحَيُّ	الْقَيُّوْمُ
دی ظالمان	الله	نسته هیڅوک لایق د عبادت	مګر	هم دی (الله) دی	چی تل ژوندی	په یو حال قایم دی

دی ظالمان. الله (چی دی) نسته هیڅوک لایق د عبادت مګر هم دی دی چی تل ژوندی، په یو حال باقی، قایم، تدبیر والا دی

لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ۭ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

لَا تَاْخُذُهٗ	سِنَةٌ	وَّلَا نَوْمٌ	لَهٗ	مَا فِي	السَّمٰوٰتِ	وَمَا
نه نیسی هغه (الله)	پرکالی د خوب	او نه په خپله خوب	ده لره دی	هر هغه څه چی	په آسمانونو کښی دی	او هر هغه څه چی

نه نیسی ده (الله) لره پرکالی د خوب او نه په خپله خوب، ده لره دی هر هغه څه چی په آسمانونو کښی دی او هر هغه څه چی

فِي الْاَرْضِ ۭ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۭ

فِي الْاَرْضِ	مَنْ	ذَا الَّذِيْ	يَشْفَعُ	عِنْدَهٗٓ	اِلَّا	بِاِذْنِهٖ
په مځکه کښی دی	څوک به وی	هغه چی	سپارښت وکړی	په نزد د ده	مګر	په حکم د ده سره

په مځکه کښی دی، څوک به وی هغه چی سپارښت (سفارش) وکړی په نزد د ده؟ مګر په اذن (حکم) د ده سره.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ۔۔ د اية الكرسي **خاص فضيلتونه:** دا آيت دقرآن مجيد تر ټولو يو عظيم الشان ايت دی په احاديثو کي ددې ډير لوی فضيلتونه او برکتونه ذکرسوي دي **دمسند احمد** **په روايت کي دي** چي نبي کريم ﷺ دي ته تر ټولو زيات ښه ايت فرمايلي دي او په يو بل روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ دابي ابن کعب رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي په قرآن مجيد کي تر ټولو عظيم ايت کم يو دی؟ ابي بن کعب عرض وکړی چي اية الکرسي نبي کريم ﷺ دهغه تصديق وکړی او وي فرمايل چي ای ابو المنذره تاته دي دعلم مبارکي وي: حضرت ابو ذر رضي الله عنه دحضور ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي يا رسول الله په قران کريم کي تر ټولو عظيم ايت کم يو دی هغه ﷺ ورته وفرمايل چي اية الکرسي: حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي په سورت بقره کي يو ايت دی چي دقرآن کريم د اياتونو سردار دی دا چي په کم کور کي وويل سي شيطان دهغه کوره څخه تښتي او هغه پريږدي.
(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ٤)

www.jamairahmani.org

يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ ۚ وَلَا يُحِيۡطُوۡنَ

يَعۡلَمُ	مَا	بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ	وَمَا	خَلۡفَهُمۡ	وَ	لَا يُحِيۡطُوۡنَ
عالم دی	په هغه شیانو	چی په مخ د مخلوقاتو کښی دی	او په هغو شیانو	چی وروسته له دوی دی	او	نه سی احاطه کولی دوی

عالم دی په هغه شیانو چی په مخ د مخلوقاتو کښی دی او په هغو شیانو چی وروسته له دوی دی او نه سی احاطه کولی دوی

بِشَیۡءٍ مِّنۡ عِلۡمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ

بِشَیۡءٍ	مِّنۡ	عِلۡمِهٖۤ	اِلَّا	بِمَا شَآءَ ۚ	وَسِعَ	كُرۡسِيُّهُ
په هیڅ شی	له	معلوماتو د ده	مګر	په هغه شی چی اراده وکړی	پراخه (محیطه) ده	کرسی د ده

په هیڅ شی له معلوماتو د ده مګر (احاطه کولی سي) په هغه شی چی اراده وکړی (الله)، پراخه (محیطه) ده کرسی د ده

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ ۚ وَلَا يَـُٔوۡدُهٗ حِفۡظُهُمَا ۚ وَهُوَ

السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	وَلَا يَـُٔوۡدُهٗ	حِفۡظُهُمَا	وَ	هُوَ
پر ټولو آسمانونو	او مځکی باندي	او نه ستړی کوی ده لره	ساتنه د آسمانو او مځکی	او	هم دی (الله) دی

پر ټولو آسمانو نو او مځکی باندی، او نه ستومانه کوی ده لره ساتنه د آسمانونو او مځکی او هم دی (الله) دی

الۡعَلِیُّ الۡعَظِيۡمُ ﴿۲۵۵﴾ لَاۤ اِكۡرَاهَ فِی الدِّيۡنِ ۙ قَدۡ تَّبَيَّنَ

الۡعَلِیُّ	الۡعَظِيۡمُ	لَاۤ اِكۡرَاهَ	فِی	الدِّيۡنِ	قَدۡ تَّبَيَّنَ
ډیر پورته	ډیر لوی	نسته هیڅ زور	په (منلو)	د دین کښی	په تحقیق سره ښکاره سوی ده

(دټولو څخه) ډیر پورته ډیر لوی (په کمالیه ؤصفاتو کښی). نسته هیڅ زور په (منلو) د دین کښی په تحقیق سره ښکاره سوی ده

الرُّشۡدُ مِنَ الۡغَیِّ ۚ فَمَنۡ يَّكۡفُرۡ بِالطَّاغُوۡتِ وَيُؤۡمِنۡۢ

الرُّشۡدُ	مِنَ الۡغَیِّ	فَمَنۡ	يَّكۡفُرۡ	بِالطَّاغُوۡتِ	وَ	يُؤۡمِنۡۢ
سمه لاره	له ګمراهي څخه	پس هغه څوک	چی منکر سو	د بتانو څخه	او	ایمان ئی راوړی

سمه لاره (دایمان) له ګمراهی (کفر) څخه، پس هغه څوک چی کافر (منکر) سو له بتانو (عبادت د شیطان) څخه او ایمان ئی راوړی

بِاللّٰهِ فَقَدِ اسۡتَمۡسَكَ بِالۡعُرۡوَةِ الۡوُثۡقٰی ۗ لَا انۡفِصَامَ لَهَا ؕ

بِاللّٰهِ	فَقَدِ	اسۡتَمۡسَكَ	بِالۡعُرۡوَةِ	الۡوُثۡقٰی	لَا انۡفِصَامَ	لَهَا
په الله سره	پس په تحقیق سره ئی	ټینګه نیولی ده	کړئ	کلکه	چی نسته پری کیدل	هغی لره

په (وحدانیت) د الله باندی، نو په تحقیق سره ئی ټینګه نیولی ده کړئ کلکه چی له سره نسته پری کیدل هغی لره

لَاۤ اِكۡرَاهَ فِی الدِّيۡنِ ۙ قَدۡ تَّبَيَّنَ الرُّشۡدُ مِنَ الۡغَیِّ ۚ

دا ایت چي څوک وويني نو ځيني خلګ اعتراض کوي: چي ددې ايت څخه معلوميږي چي په دين کي زور او زبردستي نسته او حال دا دی چي په اسلام کي خو دجهاد کولو او جنګ کولو تعليم ورکول سوی دی چي ددې څخه مخالف دی: اصل خبره داده که په غور سره وکتل سي نو معلومه به سي چي دا اعتراض صحيح نه دی ځکه چي په اسلام کي دجهاد او جنګ کولو تعليم ددې لپاره نه دی چي خلګ پر ايمان راوړلو باندي مجبوره کي که داسي وای نو بيا خو دکفارو څخه جزيه اخيستل او ددوی دجان او مال دحفاظت احکام به څنګه جاري کيدلای بلکه جهاد او جنګ خو دفساد ددفع کولو لپاره دی ځکه چي فساد دالله ﷻ خوښ نه دی او کافران فساد خپروي په مځکه کي لکه چي الله ﷻ فرمايي (ويبتغون في الارض فسادا والله لايحب المفسدين) يعني دغه کافران بدبختان په مځکه کي فساد خپروي او الله ﷻ فساد کوونکي نه خوښوي په دې وجه الله ﷻ دجهاد په ذريعه ددوی فساد دفع کوي.
(معارف القرآن ج۱ پ۳ ص۸)

www.jamairahmani.org

وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿٢٥٦﴾ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيۡنَ

وَاللّٰهُ	سَمِيۡعٌ	عَلِيۡمٌ	اَللّٰهُ	وَلِيُّ	الَّذِيۡنَ
او الله	ښه اوریدونکی	ښه عالم دی	الله	دوست دی	د هغو کسانو

او الله ښه اوریدونکی ښه عالم دی (پر ټولو احوالو) . الله دوست (مدد ګار) دی د هغو کسانو

اٰمَنُوۡا يُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ ؕ وَالَّذِيۡنَ

اٰمَنُوۡا	يُخۡرِجُهُمۡ	مِّنَ	الظُّلُمٰتِ	اِلَى	النُّوۡرِ	وَالَّذِيۡنَ
چي ایمان ئې راوړی دی	چي باسی دوی	له	تیارو څخه	د رڼا	طرف ته	او هغه کسان

چي مؤمنان دی، چي باسی دوی له تیارو (دکفر او ګمراهی څخه) د رڼا (د ایمان او هدایت) لوری (طرف) ته او هغه کسان

كَفَرُوۡۤا اَوۡلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوۡتُ ۙ يُخۡرِجُوۡنَهُمۡ مِّنَ النُّوۡرِ

كَفَرُوۡۤا	اَوۡلِيٰٓـُٔهُمُ	الطَّاغُوۡتُ	يُخۡرِجُوۡنَهُمۡ	مِّنَ	النُّوۡرِ
چي کافران سوی دی	دوستان د دوی	شیطانان دی	چي باسی دوی	له	رڼا څخه

چي کافران (منکران) سوی دی، دوستان د دوی شیطانان دی چي باسی دوی له رڼا (دفطري ایمان او هدایت) څخه

اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٢٥٧﴾ ع

اِلَى	الظُّلُمٰتِ	اُولٰٓـئِكَ	اَصۡحٰبُ	النَّارِ	هُمۡ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ
وطرفته	د تیارو	دغه کسان	صاحبان	د اور دی	هم دوی	په دی اور کښی	تل پاتی کیدونکی دی

د تیارو (د کفر او ګمراهی) لوری ته ، دغه کسان صاحبان د اور (دوزخ) دی هم دوی په دی اور کښی تل پاتی کیدونکی دی.

ع ٣٤
٢

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِىۡ حَآجَّ اِبۡرٰهٖمَ فِىۡ رَبِّهٖۤ

اَلَمۡ تَرَ	اِلَى الَّذِىۡ	حَآجَّ	اِبۡرٰهٖمَ	فِىۡ	رَبِّهٖۤ
آیا نه دی لیدلی تا	هغه سړی	چي جګړه ئی کړی وه	د ابراهیم سره	په (حق د)	رب د ده کښی

آیا نه دی لیدلی تا (محمده) هغه سړی (نمرود) چي جګړه (حجت بازی) ئی کړی وه د ابراهیم سره په (حق د) رب د ده کښی

اَنۡ اٰتٰٮهُ اللّٰهُ الۡمُلۡكَ ۘ اِذۡ قَالَ اِبۡرٰهٖمُ رَبِّىَ الَّذِىۡ يُحۡىٖ

اَنۡ اٰتٰٮهُ	اللّٰهُ	الۡمُلۡكَ	اِذۡقَالَ	اِبۡرٰهٖمُ	رَبِّىَ	الَّذِىۡ	يُحۡىٖ
له جهته ددی چي ورکړی ؤ ده ته	الله	ملک	کله چي وویل	ابراهیم	رب زما	هغه ذات دی	چي ژوندی کوی

له جهته چي ورکړی ؤ ده ته الله ملک (سلطنت)، کله چي وویل ابراهیم : رب زما هغه ذات دی چي ژوندی کوی

اَنۡ اٰتٰـهُ اللّٰهُ الۡمُلۡكَ.. ددې ایت څخه داخبره معلومه

سوه: چي کله الله ﷻ چا کافر ته عزت او شرافت مُلک او حکومت ورکړي نو په دغه نوم سره یي یادول رواه دي دارنګه ددې څخه داهم معلومه سوه چي دضرورت په وخت کي مباحثه او مناظره هم رواه ده چي په حق او ناحق کي فرق ښکاره سي (قرطبي) دځینو خلګو په دې ځای کي داشبه پیدا کیږي چي کیدای سوه چي ده دلته په دغه وخت کي دا ویلي وای چي که خدای ﷻ موجود دی نو هغه دي لمر دمغرب څخه راوخیژوي نو ددې شبهي دفع او جواب دادی چي دده په زړه کي داخبره بې اختیاره راغله چي خدای ﷻ ضرور سته او دا دمشرق څخه راخیژول دهغه کار دی او هغه ذات یي دمغرب څخه هم راخیژولی سي او داسړی پیغمبر دی او دده په وینا به ضرور داسي وسي او په داسي کیدو سره به په دنیا کي یو لوی بدلون راسي او داسي نه چي دفایدې پر ځای نقصان اوتاوان وسي مثلا که خلګ دا معجزه ووینی زما څخه به واوړي او دده سره به سي او حکومت به مي هم ولاړ سي.

(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١١)

www.jamairahmani.org

وَيُمِيْتُ ۙ قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ۭ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ

وَيُمِيْتُ	قَالَ	اَنَا	اُحْيٖ	وَاُمِيْتُ	قَالَ	اِبْرٰهٖمُ	فَاِنَّ
او مره کوی	وویل (نمرود)	چی زه (هم)	ژوندی کوم	او مړ کوم	وویل	ابرهیم	نو بیشکه!

او مره کوی، وویل (نمرود) چی زه (هم) ژوندی کوم (په عفوی سره) او مړ کوم (په ظلم سره) ، وویل ابراهیم پس بیشکه!

اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ

اللّٰهَ	يَاْتِيْ	بِالشَّمْسِ	مِنَ الْمَشْرِقِ	فَاْتِ	بِهَا	مِنَ
الله	راولی	لمر	د طرفه څخه د مشرق	نو ته (ای نمروده!) راوله	هغه (لمر)	د طرفه (لوری) څخه

الله راولی (راخیږیی، راپورته کوی) لمر (له لوری) د مشرقه، نو ته (ای نمروده!) راوله هغه (لمر) د (لوری) څخه

الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

الْمَغْرِبِ	فَبُهِتَ	الَّذِيْ	كَفَرَ	وَاللّٰهُ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ
د مغرب	نو حیران سو	هغه چی	کافر سوی ؤ	او الله	نه ښئی	قوم

د مغربه، نو حیران (او شرمنده) سو هغه چی کافر سوی ؤ (یعنی نمرود)، او الله نه ښئی (دخیر سمه صافه لاره) قوم

الظّٰلِمِيْنَ ۲۵۸ اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰي قَرْيَةٍ وَّهِىَ خَاوِيَةٌ

الظّٰلِمِيْنَ	اَوْ كَالَّذِيْ	مَرَّ	عَلٰي	قَرْيَةٍ	وَّهِىَ	خَاوِيَةٌ
ظالمانو ته	یا هغه سړی (عزیر) ته	چی تیر سو	پر	یوی قریی	او هغه (قریی)	پریوتلی وه (دیوالونه ئی)

ظالمانو ته (په سبب د ظلم د دوی). یا هغه سړی (عزیر) ته چی تیر سو پر یوی قریی او هغه (قریی) پریوتلی وه (دیوالونه ئی)

عَلٰي عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ

عَلٰي	عُرُوْشِهَا	قَالَ	اَنّٰى	يُحْيٖ هٰذِهِ	اللّٰهُ	بَعْدَ	مَوْتِهَا
پر	بامو د دوی باندی	وویل (عزیر)	څنګه به	ژوندی کړی دا	الله	وروسته له	مړکیدو د هغی

پر بامو د دوی باندی، نو (عزیر) وویل څنګه به (بیا ودانه او) ژوندی کړی الله دا وروسته له مړکیدو (داهل) د هغی؟

فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ۭ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۭ

فَاَمَاتَهُ	اللّٰهُ	مِائَةَ عَامٍ	ثُمَّ	بَعَثَهٗ	قَالَ	كَمْ	لَبِثْتَ
نو مړ کړی دی (عزیر)	الله	سل کاله	وروسته	پورته (ژوندی) کړ دی	وویل (الله)	څومره	ځنډ (تاخیر) کړی دی تا

نو مړ کړی دی الله (او مړئی پریښود) سل کاله بیا ئی ژوندی کړ دی، وویل (الله عزیر ته چی) څومره ځنډ (تاخیر) کړی دی تا (دلته)

اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰي قَرْيَةٍ

داوكالذي مرّعلى قرية ځخه بيا تر ان الله على كل شئ قدير پوري : ايا تاسي ته دا قسم قصه هم معلومه ده لکه چي يو سړی وو چي په تلو تلو کي پر يو کلي په داسي حالت کي تير سو چي کورونه يي پر خپلو چتونو باندي پراته وه يعني اول يي چتونه پراته وه بيا سربيره ديوالونه پر پراته وه: مطلب دادی چي په يوې حادثي سره دا کلی وران سوی وو او ټول خلګ يي مړه سوي پراته وه دغه سړي چي دا حال وليدی نو يي په حيرانتيا سره وويل چي معلومه نه ده الله ﷻ به دا کلی يعني ددې ښار دا مړي ددوی تر مرګ وروسته په څه طريقه سره په قيامت کي ژوندي کړي دا يقين خو يي وو چي الله ﷻ به په قيامت کي مړي ژوندي کوي مګر دا وخت ددې وران ښار او مړو په ليدو سره دځه حيران غوندي سو او څه عجيبه غوندي حيراني يي پر زړه غالبه سوه او کله چي الله ﷻ يو کار په هر آن سره کولی سي په دې وجه دده خيال ددې خبري په لټون کي سو چي خدای خبر دا ژوندي کول به په څه شکل سره وي الله ﷻ هغه وده ته وروښوول.

(معارف القرآن ج ١ پ٣ ص ١٢)

www.jamairahmani.org

قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۭ قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ

قَالَ	لَبِثْتُ	يَوْمًا	اَوْ بَعْضَ	يَوْمٍ	قَالَ	بَلْ لَّبِثْتَ
وويل	ځنډ مې كړى دى	يوه ورځ	يا يوه برخه	د ورځې	وويل (الله)	بلكه ځنډ كړى دى تا دلته

وويل (عزير) ځنډ (تاخير) مې كړى دى يوه ورځ يا يوه برخه د ورځې، وويل (الله) بلكه ځنډ (تاخير) كړى دى تا دلته

مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ

مِائَةَ عَامٍ	فَانْظُرْ	اِلٰى طَعَامِكَ	وَشَرَابِكَ
سل كاله	نو وګوره	و خوړو خپلو ته (چې انځر او انګور دى)	او (شيانو د) څښلو خپلو ته

سل كاله نو وګوره و خوړو خپلو ته (چې انځر او انګور دى) او (شيانو د) څښلو خپلو ته (چې شيدى او عصير دى)

لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ

لَمْ يَتَسَنَّهْ	وَانْظُرْ	اِلٰى حِمَارِكَ	وَلِنَجْعَلَكَ	اٰيَةً	لِّلنَّاسِ
چې هيڅ نه دى خراب سوى هغه	او وګوره	خره ته دى	او د پاره د دى چې موږ وګرځوو تا	دليل	له پاره د خلګو

چې هيڅ نه دى خراب سوى ، او وګوره خره ته دى (چې هډوكى دى)، او د پاره د دى چې موږ وګرځوو تا دليل له پاره د خلګو

وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا

وَانْظُرْ	اِلَى	الْعِظَامِ	كَيْفَ	نُنْشِزُهَا	ثُمَّ	نَكْسُوْهَا
او وګوره	طرف ته	د هډوكو ته (دخره)	چې څنګه	راپورته كوو	بيا	ورآغوندو هغوى ته

او وګوره طرف ته د هډوكو (دخره خپل) ته چې څنګه راخوځوو (هغه) (موږ) هغه بيا ورآغوندو هغوى ته

لَحْمًا ۭ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

لَحْمًا	فَلَمَّا	تَبَيَّنَ	لَهٗ	قَالَ	اَعْلَمُ	اَنَّ اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ
غوښه	نو كله چې	ورښكاره سو	ده ته	وويل	پوهيږم چې	بيشكه! الله	په	هر

غوښه ، نو كله چې ورښكاره سو د ده ته (دا حال په مشاهده سره)، نو وويل (عزير چې اوس) پوهيږم چې بيشكه! الله په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٥٩﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِيْ كَيْفَ

شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	وَاِذْ قَالَ	اِبْرٰهٖمُ	رَبِّ	اَرِنِيْ	كَيْفَ
شى باندى	ښه قادر دى	او هغه وخت چې وويل	ابراهيم	اى! ربه زما	وښيه ماته	چې څنګه

شى باندى ښه قادر دى (چې اراده وفرمائى). او (ياد كړه) هغه وخت چې وويل ابراهيم : اى ! ربه زما وښيه ماته چې څنګه

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِيْ كَيْفَ... حضرت ابراهيم عليه السلام الله جل جلاله ته دا درخواست وكى : چې ماته په ظاهره سره داسي وښيه چې ته به مړي څنګه ژوندي كوې ؟ الله جل جلاله ورته وفرمايل چې دا درخواست دي ولي وكى؟ ولي ستا زما پر كامل قدرت باندي يقين نسته ؟ چې هغه هر څه كولى سي حضرت ابراهيم خليل الله ورته خپل اصلي حال ووايه چې يقين مي ولي نسته ستا د كامل قدرت او طاقت نښې او نښاني خو زه هر وخت او هر ساعت ډاګ په ډاګه ښه ښكاره وينم او ښه فكر كوونكي ته خو په خپل وجود كي او د دنيا او د كايناتو په يوه يوه ذره كي ظاهري ليدل كيږي ليكن بني ادم پيدا ايښي داسي دى چې د كم كار كيدل دده د سترګو په مخكي ښكاره په ښكاره نه وي ليدلي نو كه دا ډير يقيني هم وي خو دده فكر په كښي ګډ وډ كيږي چې دا به څنګه او په څه شان سره وي او د دې ګډو وډو خيالاتو او فكرونو په وجه زړه ته ارام او اطمينان نه وي نو ځكه مي دا درخواست وكړى يا الله ستاسي څخه چې زړه ته مي اطمينان حاصل سي.

(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١٤)

www.jamairahmani.org

تُحۡيِ الۡمَوۡتٰى ؕ قَالَ اَوَلَمۡ تُؤۡمِنۡ ؕ قَالَ بَلٰى وَلٰـكِنۡ

تُحۡيِ	الۡمَوۡتٰى	قَالَ	اَوَلَمۡ تُؤۡمِنۡ	قَالَ	بَلٰى	وَلٰـكِنۡ
ژوندی کوی ته	مړی	وویل (الله)	آیا ستا لا باور نسته	وویل (ابراهیم)	چې هو! (باور می سته!)	او لیکن

ژوندی کوی ته مړی؟ وویل (الله) آیا ستا لا باور نسته (په ژوندي کولو د مړو؟ بیا) وویل ابراهیم چې هو! او لیکن

لِّيَطۡمَٮِٕنَّ قَلۡبِىۡ ؕ قَالَ فَخُذۡ اَرۡبَعَةً مِّنَ الطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ

لِّيَطۡمَٮِٕنَّ	قَلۡبِىۡ	قَالَ	فَخُذۡ	اَرۡبَعَةً	مِّنَ	الطَّيۡرِ	فَصُرۡهُنَّ
د دې له پاره چې مطمئن سی	زړه زما	وویل (الله)	نو ونیسه !	څلور	له	مرغانو څخه	پس رانژدې کړه دوی

(غواړم دا) د دې له پاره چې مطمئن سی زړه زما. وویل (الله) نو ونیسه! څلور له مرغانو څخه پس رانژدې کړه! دوی

اِلَيۡكَ ثُمَّ اجۡعَلۡ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنۡهُنَّ جُزۡءًا ثُمَّ

اِلَيۡكَ	ثُمَّ	اجۡعَلۡ	عَلٰى	كُلِّ	جَبَلٍ	مِّنۡهُنَّ	جُزۡءًا	ثُمَّ
ځان خپل ته	بیا ئې	کښیږده	په	هر یوه	غره باندې	له دوی څخنې	یو یو برخه	بیا

ځان خپل ته (چې وپیژنې بیا ئې حلال کړه!) بیائې کښیږده! په هر یوه غره باندې له دوی څخنې یو یو برخه بیا (ای! ابراهیمه)

ادۡعُهُنَّ يَاۡتِيۡنَكَ سَعۡيًا ؕ وَاعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ؑ ﴿۲۶۰﴾

ادۡعُهُنَّ	يَاۡتِيۡنَكَ	سَعۡيًا	وَاعۡلَمۡ	اَنَّ	اللّٰهَ	عَزِيۡزٌ	حَكِيۡمٌ
راوبوله! دوی	رابه سی دوی تا ته	په منډو (ځغستا)	او پوه سه!	چې بیشکه!	الله	ډیر غالب دی	بنه حکمت والا دی

راوبوله ! دوی (مرغان) رابه سی دوی تا ته په منډو، او پوه سه ! چې بیشکه! الله ډیر غالب دی بنه حکمت والا دی.

مَثَلُ الَّذِيۡنَ يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ

مَثَلُ	الَّذِيۡنَ	يُنۡفِقُوۡنَ	اَمۡوَالَهُمۡ	فِىۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ
مثال د	هغو کسانو	چې خرڅوی	مالونه خپل	په	په لاره د	الله کښې

مثال د هغو کسانو چې خرڅوی مالونه خپل په لاره د الله (جهاد او نورو عبادتونو) کښې

كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنۡۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ فِىۡ كُلِّ سُنۡۢبُلَةٍ

كَمَثَلِ	حَبَّةٍ	اَنۡۢبَتَتۡ	سَبۡعَ	سَنَابِلَ	فِىۡ كُلِّ	سُنۡۢبُلَةٍ
په مثل د	یوې دانې دی	چې زرغونه کړي دا (دانه)	اوه	وږی	په هر (یوه)	وږي کښې

په مثل د یوې دانې (دتخم) دی چې زرغونه کړي دا (دانه) اوه وږی په هر یوه وږی کښې

فَخُذۡ اَرۡبَعَةً مِّنَ الطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ... الله ﷻ د ابراهیم عليه السلام درخواست قبول کړی: او داسي حکم يه ورته وکړی چي څلور مرغان دځان سره جمع کړی بیا یي دځان سره وساتی او عادت یي کړه او داسي یي عادت کړه چي کله یي ته راوبلې نو دوی درته راسي چي ته یي هم ښه وپیژني چي بیا داشک درته پیدا نه سي چي دا به کم يو مرغه وي بیا دا څلور سره حلال کړه او بیا یي دهډوکو او وزرونو څخه ښه قیمه او کوفته جوړه کړه او بیا یي څو حصې کړه او په خپله خوښه سره یه بیا پر مختلفو غرونو باندي ددغه غورمې او کفتې یوه یوه حصه کښیږده بیا دوی ځان ته راوبله نو دالله ﷻ په کامل قدرت سره به دوی ژوندی سي په منډه منډه به تاته راځي او ابراهیم عليه السلام هم داسي وکړل او بیا یه مرغان ځان ته راوبلل نو فورا دهډوکو سره وزر او دوزرو سره وینه او دویني سره غوښه دغوښي سره یو ځای سوه ټول په خپل اصلي شکلونو سره ژوندي سوه په منډه دابراهیم عليه السلام خواته راغلل: نو دغه نظاره الله ﷻ په خپل خلیل باندي ولیدل.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۴)

ع ۳۵ ۴

www.jamairahmani.org

مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ

مِّائَةُ	حَبَّةٍ	وَاللّٰهُ	يُضٰعِفُ	لِمَنْ يَّشَآءُ	وَاللّٰهُ	وَاسِعٌ
سل	دانې وی	او الله	زیاتوی (اجر)	دهغه چاچې اراده وکړی	او الله	پراخ دی (فضل او رحمت د ده)

سل دانې وی، او الله زیاتوی (اجر) د پاره دهغه چا چې اراده وکړی (اجر دزیاتولو) او الله پراخ دی (فضل او رحمت د ده)

عَلِيْمٌ ﴿٢٦١﴾ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ

عَلِيْمٌ	اَلَّذِيْنَ	يُنْفِقُوْنَ	اَمْوَالَهُمْ	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	ثُمَّ
ښه عالم دی	هغه کسان چې	خرڅوی	مالونه خپل	په	لاره کښې	د الله	بیا

ښه عالم دی (په ټولو احوالو). هغه کسان چې خرڅوی مالونه خپل په لاره د الله (په جهاد او نورو عبادتونو) کښې بیا

لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ لَّهُمْ

لَا يُتْبِعُوْنَ	مَآ	اَنْفَقُوْا	مَنًّا	وَّلَآ اَذًى	لَّهُمْ
نه وریسې کوی (دوی)	په هغه شی پسې	چې خیرات کړی ئې وی	احسان	او نه ضرر	(سته) دپاره د دوی

نه وریسې کوی (دوی) په هغه شی پسې چې خیرات کړی ئې وی (باروِل د) احسان او نه (رسونه د) ضرر (سته) دپاره د دوی

اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٦٢﴾

اَجْرُهُمْ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	وَلَا خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ	وَلَا هُمْ	يَحْزَنُوْنَ
اجر د دوی	په نزد	د رب د دوی	او نه به وی هیڅ ډول ویره	په دوی باندی	او نه به دوی	غمجن کیږی

اجر (دنفقې ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی او نه به وی هیڅ ډول ویره په دوی باندی او نه به دوی (هیڅکله) غمجن کیږی

قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ

قَوْلٌ	مَّعْرُوْفٌ	وَّمَغْفِرَةٌ	خَيْرٌ	مِّنْ	صَدَقَةٍ	يَّتْبَعُهَآ
خبره	معروفه (په ښه توګه)	او عفوه	ډیره ښه ده	له	خیراته	چې پسې وی په هغه

خبره معروفه (په ښه توګه) نیکه، او عفوه (د ده ته که الحاح یا شور وکړی) ډیره ښه ده له خیراته چې په هغه پسې وی

اَذًى ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿٢٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اَذًى	وَاللّٰهُ	غَنِيٌّ	حَلِيْمٌ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
ضرر	او الله	غنی دی	نهایت تحمل والا	ای	هغو کسانو!	چې ایمان ئې راوړی دی

ضرر (رسونه په منت یا په پیغور دسؤال سره) ، او الله غنی دی نهایت تحمل والا . ای هغو کسانو! چې ایمان ئې راوړی دی

مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ دالله ﷻ په لار کي دخرڅولو يو مثال: په ايت کي الله ﷻ دافرمايلي دي چي کم خلګ دالله ﷻ په لاره کي مالونه خرڅوي يعني يا په جهاد کي يا پر فقيرانو او مسکينانو باندي يا پر کونډو او يتيمانو باندي يا په نيت دامداد پرخپلو خپلوانو او دوستانو باندي نو ددې مثال داسي دی لکه يو سړی چي دغنمو يوه دانه پر ښه مځکه باندي وکري ددې داني څخه دغنمو يو بوټی وسي او په هغه کي اووه داني وږی پيداسي او په هروږي کي سل داني وي چي نتيجه يي داسوه چي ديوې داني څخه اووه سوه داني پيدا سوې نو مطلب يه داسو چي دالله ﷻ په لاره کي دخرڅ کوونکي اجر او ثواب ديوه څخه واخله تر اووه سوه پوري رسيږي په صحيح او معتبرو احاديثو کي دي چي ديوې نېکی ثواب به لس چنده ورکول کيږي او تر اوو سوه چنده به رسيږي حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چي په جهاد او حج کي په يوه روپۍ خرڅولو سره ثواب داووه سوه روپو برابر دی: الله دي موږ ته ددغه نيکی توفيق رانصيب کړي. (معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ٢٢)

www.jamairahmani.org

لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰىۙ كَالَّذِىْ

لَا تُبْطِلُوْا	صَدَقٰتِكُمْ	بِالْمَنِّ	وَالْاَذٰىۙ	كَالَّذِىْ
مه باطلوئ تاسی	خیراتونه خپل	په احسان بارولو	او ایذا (ضرر رسولو) سره	په شان د هغه (سړی)

مه باطلوئ تاسی خیراتونه خپل (مه ضایع کوئ ثوابونه ئی) په احسان بارولو او ایذا (او ضرر رسولو) سره په شان د هغه

يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِؕ

يُنْفِقُ	مَالَهٗ	رِئَآءَ	النَّاسِ	وَلَا يُؤْمِنُ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِؕ
چي خرڅوی	مال خپل	دښوونی دپاره	د خلکو	او ایمان نه لری	په الله سره	او په ورځي	آخری باندی

(سړی) چي خرڅوی مال خپل دپاره د ښودنی د خلکو او ایمان نه لری په الله او په ورځی آخری باندی (قیامت باندی).

فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ

فَمَثَلُهٗ	كَمَثَلِ	صَفْوَانٍ	عَلَيْهِ	تُرَابٌ	فَاَصَابَهٗ
نو مثال د دی	په شان	د صفت د هغی ښوئی تیږی دی	چي پر ته وی په هغی باندی	خه خاوره	پس ورسیږی هغی ته

نو مثال د دی (ریاء کار) په شان د صفت د هغی ښوئی تیږی (کاڼی) دی چي پر ته وی په هغی باندی خه خاوری پس ورسیږی هغی ته

وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًاؕ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَىْءٍ مِّمَّاؕ

وَابِلٌ	فَتَرَكَهٗ	صَلْدًاؕ	لَا يَقْدِرُوْنَ	عَلٰى	شَىْءٍ	مِّمَّا
زورور باران	نو پریږدی دغه تیږه	پاکه (صافه)	نه به قادریږی (دا ریاء کاران)	په	هیڅ شی باندی	د هغه شی چي

زورور باران نو پریږدی دغه تیږه پاکه (صافه) نه به قادریږی (دا ریاء کاران) په هیڅ شی باندی (له ثوابه) د هغه شی چي

كَسَبُوْا وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ

كَسَبُوْا	وَاللّٰهُ	لَا يَهْدِى	الْقَوْمَ	الْكٰفِرِيْنَ	وَمَثَلُ	الَّذِيْنَ
کسب کړی دی دوی	او الله	نه ښئی (سمه لاره د خیر)	قوم	د کافرانو ته	او مثال	د هغو کسانو

کسب کړی دی دوی، او الله نه ښئی (سمه صافه لاره د خیر) قوم کافرانو ته (په سبب د ظلم د دوی). او مثال د هغو کسانو

يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا

يُنْفِقُوْنَ	اَمْوَالَهُمُ	ابْتِغَآءَ	مَرْضَاتِ	اللّٰهِ	وَتَثْبِيْتًا
چي خرڅوی	مالونه خپل	له پاره د طلب	د رضاء	د الله	او له پاره د ثبات

چي خرڅوی مالونه خپل له پاره د طلب د رضاء د الله او له پاره د مضبوط والی (د زړه او صدق چي پیدا دی)

لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰىۙ خپل صدقات د ژبي په احسان اچولو سره یا په ضرر رسولو سره مه برباد وی: ددې ښخه داخبره هم معلومه سوه چي تر کمي صدقې او خیرات وروسته احسانونه یا چالره چي یې څه ورکړي وي هغه ته د ضرر رسولو څه قسم صورت وسي نو هغه صدقه باطله او د نیست برابره ده پر هغه هیڅ ثواب نه ورکول کیږي په دغه ایت کي الله جل جلاله د صدقې د قبلیدو بل شرط بیان کړی دی چي کم سړی خلکو ته د ځان د ښوولو او د نوم او نمایش لپاره خرڅ کوي او پر الله جل جلاله او پر ورځ د قیامت ایمان نه لري دده مثال داسي دی لکه پر یوه صافه او هواره ډبره باندي چي څه خاوره ولویږي او په دغه کي ځوک تخم وکري او بیا پر دې ډبره باندي د باران شیبه راسي او هغه ډبره بالکل صفا کي داسي خلکو ته به د خپل ګټې ښخه هیڅ هم په لاس ورنه سي او الله جل جلاله کافرانو ته لار نه ښیي نو معلومه سوه چي هغه صدقه الله جل جلاله ته منظوره ده چي خالص د الله جل جلاله د رضا لپاره وي او د آخرت د ثواب نیت په کښي وي.
(معارف القرآن ج ١ پ٣ ص ٢٤)

www.jamairahmani.org

مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ

مِّنْ	اَنْفُسِهِمْ	كَمَثَلِ	جَنَّةٍۭ	بِرَبْوَةٍ	اَصَابَهَا	وَابِلٌ
له	نفسونو د دوی څخه	په شان	د یوه باغ دی	په لوړه مځکه باندی	چی ورسیږی دی (باغ) ته	زورور باران

له نفسونو د دوی څخه (په ایمان باندی) په شان د یوه باغ دی په لوړه مځکه باندی چی ورسیږی دی (باغ) ته زورور باران

فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ

فَاٰتَتْ	اُكُلَهَا	ضِعْفَيْنِ	فَاِنْ	لَّمْ يُصِبْهَا	وَابِلٌ	فَطَلٌّ
نو ورکړی	میوی خپلی	دوچنده	نو که	ونه رسیږی دی (باغ) ته	زورور باران	نو نری باران

نو ورکړی میوی خپلی دوچنده نو که ونه رسیږی دی (باغ) ته زورور باران نو نری باران (یا پرخه پری اوری هم) کافی ده

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٦٥﴾ اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ

وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	بَصِيْرٌ	اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ	اَنْ	تَكُوْنَ
او الله	په هغو شیانو	چی تاسی ئی کوئ	ښه لیدونکی دی	آیا خوښوی یو د تاسي	داچی	وی دی

او الله په هغو شیانو چی تاسی ئی کوئ ښه لیدونکی دی. آیا خوښوی یو د تاسی داچی وی دی

لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

لَهٗ	جَنَّةٌ	مِّنْ نَّخِيْلٍ	وَّاَعْنَابٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا
ده لره	یو باغ	له خرماؤ څخه	او له انګورو څخه	چی بهیږی	له لاندی (د ونو) د هغو

ده لره یو باغ له خرماؤ څخه او له انګورو څخه چی بهیږی له لاندی (د ونو) د هغو

الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ

الْاَنْهٰرُ	لَهٗ	فِيْهَا	مِنْ	كُلِّ	الثَّمَرٰتِ	وَاَصَابَهُ	الْكِبَرُ
ویالی	چی وی ده لره	په دغه (باغ) کښی	له	هر ډوله	میوه	او ورسیږی	ده ته زوړوالی

ویالی چی وی ده لره په دغه (باغ) کښی له (نورو) هر ډوله (قسمه) میوو او ورسیږی ده ته زوړوالی

وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ

وَلَهٗ	ذُرِّيَّةٌ	ضُعَفَآءُ	فَاَصَابَهَآ	اِعْصَارٌ	فِيْهِ
او وی ده لره	اولاد	ضعیفان	پس ورسیږی هغه (باغ) ته	سخت باد	چی وی په هغه کښی

او وی ده لره اولاد ضعیفان پس ورسیږی هغه (باغ) ته سخت باد چی وی په هغه کښی

كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ... الله ﷻ د قبولي سوي صدقې او خرڅ یو مثال بیان کړی دی: چي کم خلګ خپل مال خالص د الله ﷻ د رضا د حاصلولو په نیت سره خرڅ کوي چي په خپلو نفسونو کي پوخوالی پیدا کي ددوی مثال داسي دی لکه چي یو باغ وي پر لوړ ځای باندي او پر دې باغ باندي په شیبو باران راسي بیا هغه باغ خپله میوه دوچنده ونیسي او که داسي په شیبو باران هم پرو نه سي نو څه لږ پرخه او نری باران هم ورته کافي دی او الله ﷻ ستاسي کارونه ښه ویني او پوه دی: په دې کي د اخلاص او د نیت او شرطونو په پورا کولو سره سره د الله ﷻ په لاره کي د خرڅ کوونکي لوی ښه والی په دې مثال سره واضح سو چي په نیک نیتي او اخلاص سره که لږ خرڅ هم وسي نو هغه ډیر دی او د اخرت د فایدې او نفعي سبب دی: بعضي کمزوري ایمان والا خلګ په نن دور کي دزړه سوي وړدي چي په لکهاوو روپی مصرفوي خو نیت یي د الله ﷻ رضا نه وي فقط نوم او نښان او ښوول وي. اعاذنا الله من هذا البلاء (معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۲۵)

www.jamairahmani.org

ع ۳٦

نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ

نَارٌ	فَاحْتَرَقَتْ	كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمُ	الْاٰيٰتِ
او ر	نو وسوځی دا (باغ)	همداسی	بیانوی	الله	تاسی ته	دلایل

او ر نو وسوځی دا (باغ) هم داسی (په شان د دی تیر سوی بیان) بیانوی الله تاسی ته دلایل (د خپل قدرت)

لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲٦٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا

لَعَلَّكُمْ	تَتَفَكَّرُوْنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْۤا	اَنْفِقُوْا
له‌پاره د دی چی تاسی	فکر وکړئ	ای !	هغو کسانو !	چی ایمان ئی راوړی دی	خرڅوی

له‌پاره د دی چی تاسی فکر وکړئ! (په هغه کښی او پند واخلئ). ای هغو کسانو! چی ایمان ئی راوړی دی لګوئ!

مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّاۤ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ

مِنْ	طَيِّبٰتِ	مَا	كَسَبْتُمْ	وَمِمَّاۤ	اَخْرَجْنَا	لَكُمْ	مِّنَ
له	حلالو (پاکو)	دهغو (مالونو)	چی تاسی ګټلی دی	او له هغو	چی را ایستلی دی	موږ تاسی لره	له

له حلالو (پاکو) دهغو مالونو چی (په کسب سره) تاسی ګټلی او له هغو (شیانو) چی ایستلی دی موږ تاسی لره له

الْاَرْضِ ۠ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ

الْاَرْضِ	وَلَا تَيَمَّمُوا	الْخَبِيْثَ	مِنْهُ	تُنْفِقُوْنَ
مځکی څخه	او قصد مه کوئ تاسی	د خبیثو (حرامو شیانو)	له هغه (ماله څخه)	چی لګوئ ئی تاسی

مځکی څخه (له حلالو شیانو) او قصد مه کوئ تاسی (ورکولو) د خبیثو (حرامو) له هغه ماله څخه چی لګوئ ئی تاسی

وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ اِلَّاۤ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ وَاعْلَمُوْۤا

وَلَسْتُمْ	بِاٰخِذِيْهِ	اِلَّاۤ	اَنْ	تُغْمِضُوْا	فِيْهِ	وَاعْلَمُوْۤا
حال دا چی نه یئ تاسی	اخیستونکی د هغه	مګر	چی	سترګی پټی کړئ	په هغه کښی	او پوه سئ !

حال دا چی نه یئ تاسی اخیستونکی د هغه (ناکاره شی) مګر چی سترګی پټی کړئ په (اخیستو) هغه کښی او پوه سئ!

اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿۲٦٧﴾ اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ

اَنَّ	اللّٰهَ	غَنِيٌّ	حَمِيْدٌ	اَلشَّيْطٰنُ	يَعِدُكُمُ	الْفَقْرَ	وَيَاْمُرُكُمْ
چی بیشکه !	الله	غنی دی	ثنا ویلی سوی	شیطان	وعده درکوی تاسی ته	د خواری	او حکم کوی تاسی ته

چی بیشکه! الله غنی دی ثنا ویل سوی ده دهغه. شیطان وعده درکوی تاسی ته د خواری (چی خوار به سئ) او حکم کوی تاسی ته

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا په شان نزول کي يي دطيب معنى په عمده شي کړيده: داځکه چي ځينو خلګو به دخيرات پروخت باندي خراب شيان راوړه نو دا ايت نازل سو او ځينو بيا دلفظ دعموم په وجي سره دطيب معنى په حلال شي سره کړيده ځکه چي پورا بنه والى هلته راځي چي حلال هم وي نو په دې وجه په ايت کي ددې هم تاکيدوسو او دا هم ياد وساتى چي داحکم دهغه سړي لپاره دى چي دچاسره عمده شى وي او ددې سره بيا هم دى خراب او بيکاره شى خيراتوي لکه څنګه چي لفظ د مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّاۤ اَخْرَجْنَا دښه شي پر سته والي دلالت کوي اولفظ د وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ قصدا دبيکاره شي پر خرڅولو دلالت کوي اودچاسره چي ښه شى ګردسره نه وي هغه ددې ممانعت څخه ازاد دى او دهغه دغه بيکاره شى مقبول دى دلفظ (ماكسبتم) څخه علماوو دا مسئله راايستلې ده چي پلار ته دخپل زوى دګټې څخه خوړل جايزدي په وجه دقول دنبي کريم ﷺ چي ستاسي اولادونه ستاسي دګټې يوه پاکيزه حصه ده نودخپل اولاد دګټې څخه يي په خوند خورى.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۳۰)

www.jamairahmani.org

بِالْفَحْشَآءِۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًاؕ

بِالْفَحْشَآءِ	وَاللّٰهُ	يَعِدُكُمْ	مَّغْفِرَةً	مِّنْهُ	وَفَضْلًا
په (کولو د) ناوړو کارونو	او الله	وعده کوی له تاسی سره	د مغفرت	له خپله (لوری)	او د فضل

په (کولو د) ناوړو (غلطو) کارونو او الله وعده کوی له تاسی سره د مغفرت (دګناهونو) له خپله (لوری) او د فضل

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُّؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُۚ وَمَنْ

وَاللّٰهُ	وَاسِعٌ	عَلِيْمٌ	يُّؤْتِي	الْحِكْمَةَ	مَنْ	يَّشَآءُ	وَمَنْ
او الله	پراخ دی	ښه عالم دی	ورکوی (الله)	حکمت	هر چا ته چې	اراده وکړی	او هر چا ته

او الله پراخ دی (رحمت او احسان د ده) ښه عالم دی. ورکوی (الله) حکمت هر چا ته چې اراده وکړی او هر چا ته

يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًاؕ وَمَا يَذَّكَّرُ

يُّؤْتَ	الْحِكْمَةَ	فَقَدْ	اُوْتِيَ	خَيْرًا	كَثِيْرًا	وَمَا	يَذَّكَّرُ
چې ورکړ سو	حکمت	نو په تحقيق سره	ورکړی سو	خير	ډير	او نه	اخلی پند

چې ورکړ سو حکمت (نافع علم سره له عمله) نو په تحقيق سره ورکړی سو (ده ته) خير ډير، او نه اخلی پند

اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ

اِلَّآ اُولُوا	الْاَلْبَابِ	وَمَآ	اَنْفَقْتُمْ	مِّنْ	نَّفَقَةٍ	اَوْ نَذَرْتُمْ
مګر خاوندان	د عقلونو	او هغه شی	چې خرڅ کړئ تاسی	له	نفقی	يا لازم کړئ (پخپل ځان)

مګر خاوندان د عقلونو. او هغه شی چې خرڅ کړئ تاسی له نفقی (زکوة، او خيرات) يا (ئی) لازم کړئ (پخپل ځان)

مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٢٧٠﴾

مِّنْ	نَّذْرٍ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	يَعْلَمُهٗ	وَمَا	لِلظّٰلِمِيْنَ	مِنْ اَنْصَارٍ
له کوم	نذره	نو بيشکه!	الله	پيژنی هغه	او نسته	له پاره د ظالمانو	هيڅ مدد کوونکی

له کوم نذره نو بيشکه! الله ته معلوم دی هغه (لکه نور شيان)، او نسته له پاره د ظالمانو هيڅ مدد کوونکی (له عذابه د الله).

اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِيَۚ وَاِنْ تُخْفُوْهَا

اِنْ	تُبْدُوا	الصَّدَقٰتِ	فَنِعِمَّا	هِيَ	وَاِنْ	تُخْفُوْهَا
که	ښکاره کوئ تاسی	خيراتونه	پس ښه کار دی	هغه	او که	پټوئ تاسی هغه

که ښکاره کوئ تاسی خيراتونه پس ښه کار دی (ښکاره کول د) هغه او که پټوئ ئی تاسی (په وخت د ورکولو کښی)

يُّؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ

لفظ دحکمت په قران کريم کي وار وار راغلی دی: او هر ځای ددې په تفسير کي مختلفي معناوي بيان سوي دي په تفسير بحر محيط کي يي په دې ځای کي دتفسير کوونکو ټوله اقوال رااخيستي دي چي تقريبا عدد يي ديرش دی ليکن په اخر کي فرمايي چي په حقيقت کي دا ټول قولونه يوبل ته نژدې دي په دوی کي اختلاف نسته يوازي دتعبيرونو فرق دی ځکه چي لفظ دحکمت داحکام دالف په زير سره مصدر دی چي معنی يه داده (**يو کار ياوينا دهغه دټولو صفتونو سره پوره اومکمله کول**) نو په دې وجه دحکمت اصلي معنی هر شی په خپل محل کي ايښوول دي اوددې کمال يوازي په نبوت سره کيږي نو ځکه دلته دحکمت تفسير يوازي په نبوت سره سوی دی امام راغب اصفهاني رح په مفردات القرآن کي فرمايي چي لفظ دحکمت کله چي دالله ﷻ لپاره استعمال سي نو معنی يه دټولو شيانو پيژندګلوي او محکم ايجاددی او کله چي يي نسبت غير الله ته وسي نو دموجوداتو صحيح پيژندګلوي او دهغه مطابق عمل ور څخه مراد دی.
(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ٣٢)

www.jamairahmani.org

وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۗ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ

وَتُؤْتُوْهَا	الْفُقَرَآءَ	فَهُوَ	خَيْرٌ لَّكُمْ	وَيُكَفِّرُ	عَنْكُمْ
او ورکوئ ئې تاسی هغه	فقیرانو ته	نو دا	خیر دی تاسی ته	او لری به کړی (الله)	له تاسی څخه

او ورکوئ ئې تاسی هغه فقیرانو ته نو دا (پټ ورکول بهتر او) خیر دی تاسی ته، او لری به کړی (الله) له تاسی څخه

مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٧١﴾ لَيْسَ

مِّنْ	سَيِّاٰتِكُمْ	وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرٌ	لَيْسَ
ځینی	دګناهونو ستاسی	او الله	په هغو (کارونو)	چی کوئ ئې تاسی	ښه خبردار دی	نسته

ځینی دګناهونو ستاسی، او الله په هغو کارونو چی کوئ ئې تاسی ښه خبردار دی (او هیڅ شی تری پټ نه دی) . نسته

عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَمَا

عَلَيْكَ	هُدٰىهُمْ	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	يَهْدِيْ	مَنْ يَّشَآءُ	وَمَا
پرتاباندی	برابرول د دوی	او لیکن	الله	برابروی	هغه څوک چی اراده وکړی	او هر هغه

پر تا باندی (پر سمه صافه لاره) برابرول د دوی او لیکن الله (په سمه لاره) برابروی هغه څوک چی اراده وکړی، او هر هغه

تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْنَ

تُنْفِقُوْا	مِنْ خَيْرٍ	فَلِاَنْفُسِكُمْ	وَمَا	تُنْفِقُوْنَ
شی چی خرڅوئ (ئې) تاسی	له خیره	پس له پاره د نفسونو ستاسی دی	او نه	خرڅوئ تاسی

شی چی خرڅوئ (ئې) تاسی له خیره (له مال څخه) پس له پاره د نفسونو (ځانونو) ستاسی دی، او نه خرڅوئ تاسی

اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ

اِلَّا	ابْتِغَآءَ	وَجْهِ	اللّٰهِ	وَمَا	تُنْفِقُوْا	مِنْ خَيْرٍ
مګر	خاص له پاره د طلب	درضا	دالله	او هر هغه شی	چی خرڅوئ (ئې) تاسی	له خیره

مګر (خرڅوئ ئې) خاص له پاره د طلب د رضا د الله، او هر هغه شی چی خرڅوئ (ئې) تاسی له خیره (له مال څخه)

يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٢﴾ لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ

يُّوَفَّ	اِلَيْكُمْ	وَاَنْتُمْ	لَا تُظْلَمُوْنَ	لِلْفُقَرَآءِ	الَّذِيْنَ
پوره به درکړ سی	تاسی ته	او په تاسی به	ظلم ونه کړ سی	له پاره د فقیرانو دی	دهغو (فقیرانو)

نو پوره به درکړ سی تاسی ته (ثواب دهغه) او په تاسی به ظلم ونه کړ سی (دثواب په کموالی سره). له پاره دهغو فقیرانو دی

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ

نیت هم ستاسي په اصل کي دخپلي فايدي دحاصلولو لپاره دی: په دې ایت کي همدا خبره ښوول سویده او په حقیقت کي به هم فایده ستاسي وي نوبیا ولي دې زیاتو خبروته ګوری چي دا فایده دي هم خاص په دې طریقه سره حاصله سي چي صدقه دي خاص ومسلمان ته ورکړه سي کافر ته دي نه ورکول سي: دلته په دې خبره هم پوه سه چي ددې صدقې څخه مراد نفلي صدقه ده چي ذمي کافر ته يي هم ورکول رواه دي واجب صدقه ور څخه مراد نه ده ځکه چي واجب صدقه ماسواه دمسلمان څخه وبل چاته ورکول نه ده رواه (مظهري (**مسئله**) حربي کافر ته هیڅ قسم صدقه او نورشی ورکول نه دي رواه: (**مسئله**) کافر ذمي یعني غیر حربي ته یوازي زکوة او عشر ورکول جایز نه دي اونوري واجب صدقي او نفلي صدقي ورکول ورته جایز دي: دانفاق في سبیل الله مثلا خیرات زکواة عشر او نذر دهغو دمصارفو پورا تفصیل په معارف القرآن کښي مفتي شفیع صاحب رحمة الله علیه په تفصیل سره بیان کړي دي هلته يي وګوری.

(معارف القرآن ج ۱ پ۳ ص ۳۳)

www.jamairahmani.org

أُحۡصِرُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ ضَرۡبًا فِي

أُحۡصِرُوۡا	فِيۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ	ضَرۡبًا	فِي
چي بند کړی سوی دی	په	په لاره د	الله کښې	چي توان نه لری دوی	د گرځيد لو	په

چي بند کړی سو ی دی په لاره د الله (په جهاد او نورو طاعاتو) کښې چي توان نه لری دوی د گرځيد لو په

الۡاَرۡضِ يَحۡسَبُهُمُ الۡجَاهِلُ اَغۡنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعۡرِفُهُمۡ

الۡاَرۡضِ	يَحۡسَبُهُمُ	الۡجَاهِلُ	اَغۡنِيَآءَ	مِنَ التَّعَفُّفِ	تَعۡرِفُهُمۡ
مځکه کښې	گمان کوی په دوی باندی	ناپوه	دغنیانو	په سبب د نه سوال کولو په کوښښ سره	پیژنی به ته دوی

مځکه کښې گمان کوی په دوی باندی ناپوه، دغنیانو په سبب د نه سوال کولو په کوښښ سره پیژنی به ته (ای سامعه!) دوی

بِسِيۡمٰهُمۡ لَا يَسۡـَٔلُوۡنَ النَّاسَ اِلۡحَافًا

بِسِيۡمٰهُمۡ	لَا يَسۡـَٔلُوۡنَ	النَّاسَ	اِلۡحَافًا
په ځیرو د دوی سره	نه کوی دوی سوال	له خلگو ځنی	په سختی سره

په ځیرو (علائمو د تواضع او اثر د مجاهدی) د دوی سره، نه کوی دوی سوال له خلگو ځنی په سختی (الحاح او کوښښ) سره

وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ خَيۡرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيۡمٌ ﴿٢٧٣﴾ اَلَّذِيۡنَ

وَمَا	تُنۡفِقُوۡا	مِنۡ خَيۡرٍ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	بِهٖ	عَلِيۡمٌ	اَلَّذِيۡنَ
او هر شی	چي تاسی خرڅوئ	له خیره	پس بیشکه!	الله	په هغه باندی	ښه عالم دی	هغه کسان

او هر شی چي تاسی خرڅوئ له خیره (له مال ځنې) پس بیشکه! الله په هغه باندی (هم) ښه عالم دی. هغه کسان

يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

يُنۡفِقُوۡنَ	اَمۡوَالَهُمۡ	بِالَّيۡلِ	وَالنَّهَارِ	سِرًّا	وَّعَلَانِيَةً
چي خرڅوی	مالونه خپل	په شپه	او ورځ کښې	په پټه	او په ښکاره

چي خرڅوی مالونه خپل (د الله په لاره کښې) په شپه او په ورځ کښې په پټه او په ښکاره

فَلَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَ

فَلَهُمۡ	اَجۡرُهُمۡ	عِنۡدَ	رَبِّهِمۡ	وَلَا خَوۡفٌ	عَلَيۡهِمۡ	وَ
پس سته دوی ته	اجر د دوی	په نزد	د رب د دوی	او نشته بیره	پر دوی	او

پس (سته) د وی ته اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی، او نشته (هیڅ ډول) بیره په دوی او

أُحۡصِرُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ دفقیرانو څخه مراد څوک دي؟: دلته دفقیرانو څخه مراد ټول هغه خلگ دي چي ددیني شغل دوجي څخه بل کار نه سي کولای یعني په دیني کارونو کي مشغوله وي کاراو روزگار ته نه خلاصیږي: يَحۡسَبُهُمُ الۡجَاهِلُ اَغۡنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ ددې ایت څخه معلومه سوه چي که یو فقیر قیمتي جامې اغوستي وي نو په دې وجه هغه ته غني نه سي ویل کیدای بلکه دته به فقیر ویل کیږي او داسي سړي ته به زکوة ورکول صحیح وي (تعرفهم بسیماهم) ددې څخه معلومه سول چي په نښو او نښانو سره به هم حکم لگول صحیح وي (قرطبي) نو په دې وجه که چیري یو مړی په داسي حالت کي پیدا سو چي زنار (لِکتهایي) یې په غاړه وه او سنت سوی هم نه وو نو دی به دمسلمانانو په مقبره کي نه ښخول کیږي (قرطبي) لَا يَسۡـَٔلُوۡنَ النَّاسَ اِلۡحَافًا ددې ایت څخه په ظاهره داسي معلومیږي چي دی دسوال کولو په وخت کي په چا پسي نه منبلي دجمهورو په نزد یه معنی داده چي دغه شخص سوال نه کوي او ځان ساتي دسواله څخه (معارف القرآن ج ١ پ٣ ص ٣٤)

ع ٣٧ ٧ ٥

www.jamairahmani.org

لَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿٢٧٤﴾ اَلَّذِيۡنَ يَاۡكُلُوۡنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوۡمُوۡنَ

لَا هُمۡ	يَحۡزَنُوۡنَ	اَلَّذِيۡنَ	يَاۡكُلُوۡنَ	الرِّبٰوا	لَا يَقُوۡمُوۡنَ
نه به دوی هیڅکله	غمجن کیږی	هغه کسان چی	خوری	سود (له خلکو) څخه	نه راپورته کیږی دوی

نه به دوی هیڅکله غمجن کیږی. هغه کسان چی خوری (یعنی اخلی) سود (له خلکو) څخه نه پاڅیږی دوی (دقیامت په ورځ)

اِلَّا كَمَا يَقُوۡمُ الَّذِىۡ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيۡطٰنُ مِنَ الۡمَسِّ ذٰلِكَ

اِلَّا	كَمَا يَقُوۡمُ	الَّذِىۡ	يَتَخَبَّطُهُ	الشَّيۡطٰنُ	مِنَ الۡمَسِّ	ذٰلِكَ
مګر	لکه چی پاڅیږی	هغه څوک	چی حواس ئی خراب کړی وی دهغه	شیطان	له اثره	دا (حال د دوی)

مګر (پاڅیږی داسی) لکه چی پاڅیږی هغه څوک چی حواس ئی خراب کړی وی شیطان له (خپله) اثره. دا (حال د دوی)

بِاَنَّهُمۡ قَالُوۡۤا اِنَّمَا الۡبَيۡعُ مِثۡلُ الرِّبٰوا

بِاَنَّهُمۡ	قَالُوۡۤا	اِنَّمَا	الۡبَيۡعُ	مِثۡلُ	الرِّبٰوا
په سبب د دی چی دوی	ویل چی	بیشکه! هم دا خبره ده	چی تجارت	هم داسی دی (په جواز کښی)	په شان د سود

په سبب د دی چی دوی ویل چی بیشکه! هم دا خبره ده چی تجارت خو هم داسی دی (په جواز کښی) لکه سود

وَاَحَلَّ اللّٰهُ الۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ فَمَنۡ جَآءَهٗ مَوۡعِظَةٌ مِّنۡ

وَاَحَلَّ	اللّٰهُ	الۡبَيۡعَ	وَحَرَّمَ	الرِّبٰوا	فَمَنۡ	جَآءَهٗ	مَوۡعِظَةٌ	مِّنۡ
حال دا چی حلال کړی دی	الله	تجارت	او حرام کړی ئی دی	سود	پس هر څوک	چی راسی ده ته	پند	له (طرفه)

حال دا چی حلال کړی دی الله تجارت او حرام کړی ئی دی سود؛ پس هر څوک چی راسی ده ته پند له (طرفه)

رَّبِّهٖ فَانۡتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ ؕ وَاَمۡرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ

رَّبِّهٖ	فَانۡتَهٰى	فَلَهٗ	مَا سَلَفَ	وَاَمۡرُهٗۤ	اِلَى اللّٰهِ
رب د ده	پس منع سو	پس دی ده ته	هغه شی چی پخوائی اخیستی دی	او معامله ئی	الله ته (سپارلی سوی) ده

رب د ده پس منع سو (له سوده) پس دی ده ته هغه شی چی پخوائی اخیستی دی، او معامله ئی الله ته (سپارلی سوی) ده.

وَمَنۡ عَادَ فَاُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٢٧٥﴾

وَمَنۡ	عَادَ	فَاُولٰٓئِكَ	اَصۡحٰبُ	النَّارِ	هُمۡ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ
او هر څوک چی	بیرته وګرځیده	نو دغه کسان	صاحبان	د اور دی	چی دوی به	په دی اور کښی	تل وی

او هر څوک چی بیرته وګرځیده (سود ته) نو دغه کسان صاحبان د اور (دوزخ) دی، چی دوی به په دی اور کښی تل وی

اَلَّذِيۡنَ يَاۡكُلُوۡنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوۡمُوۡنَ. په دغه ایتونو کي دسود حراموالی او دهغه داحکامو بیان شروع دی:

دغه مسئله په څو اړخونو سره ډیره مهمه او ضروري ده ځکه چي نن سبا مسلمان قوم هم په اخته سوی دی یو طرف ته پر سود باندي دقران او احادیثو څخه سختي سختي سزاګاني او بل طرف ته ددنیا په کاروبار کي ددې یو لازمي حصه جوړیدل او ددې څخه دځان خلاصولو دمشکلاتو یوه اوږده مسئله ده او په ډیرو اړخونو سره په دې باندي غور کول دي اول په دې باره کي دقرآن دایتونو صحیح تفسیر او دصحیح احادیثو په رڼا کي دا مقررول چي دقران او سنت په اصطلاح کي ربا څه شی دی او کمو کمو معاملو ته شامله ده اوددې په حراموالي کي کم کم حکمتونه او مصلحتونه دي او ددې څه قسم نقصانونه دي :دوهم حیثیت ددې عقلي او معاشي دی چي آیا په حقیقت کي ربا (یعني سو داسي شی دی چي ددنیا دکاروبار دترقی ضمانت ورکوي او که یا دا تولي خبري یوازي دخدای جَلَّ جَلَالُهُ او داخرت څخه دغافله دماغو دځانه جوړ شی دی.

(معارف القرآن ج۱ پ۳ ص ۳۷)

www.jamairahmani.org

يَمۡحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرۡبِي الصَّدَقٰتِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ

يَمۡحَقُ	اللّٰهُ	الرِّبٰوا	وَيُرۡبِي	الصَّدَقٰتِ	وَاللّٰهُ	لَا يُحِبُّ
ورک کوی	الله (برکت)	سود	او زیاتوی (ثواب د)	خیراتو نو	او الله	دوستی نه کوی

ورک کوی الله (برکت) سود او زیاتوی (ثواب د) خیراتو نو، او الله دوستی نه کوی

كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيۡمٍ ﴿۲۷۶﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

كُلَّ	كَفَّارٍ	اَثِيۡمٍ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا
له هر	سخت کافر	گنهگار سره	بیشکه!	هغه کسان چی	ایمان ئی راوړی دی	او کوی دوی

له هر سخت کافر گنهگار سره. بیشکه! هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او کوی دوی

الصّٰلِحٰتِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمۡ

الصّٰلِحٰتِ	وَاَقَامُوا	الصَّلٰوةَ	وَاٰتَوُا	الزَّكٰوةَ	لَهُمۡ
ښه (عملونه)	او قائموی دوی	لمونځ	او ورکوی دوی	زکوة	سته دوی لره

ښه (عملونه) او قائموی دوی (سم اداء کوی سره له ټولو حقوقو په ترتیب) لمونځ او ورکوی دوی زکوة سته دوی لره

اَجۡرُهُمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ۚ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ

اَجۡرُهُمۡ	عِنۡدَ	رَبِّهِمۡ	وَ	لَا خَوۡفٌ	عَلَيۡهِمۡ	وَلَا هُمۡ
اجر (ثواب) د دوی	په نزد	د رب د دوی	او	نشته (هیڅ ډول) بیره	په دوی باندی	او نه به دوی

اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی، او نشته (هیڅ ډول) بیره په دوی باندی او نه به دوی (هیڅکله)

يَحۡزَنُوۡنَ ﴿۲۷۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوۡا

يَحۡزَنُوۡنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	اتَّقُوا	اللّٰهَ	وَ	ذَرُوۡا
غمجن کیږی	ای	هغو کسانو	چی ایمان ئی راوړی دی	وبیریږئ	له الله څخه	او	پریږدئ

غمجن کیږی. ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی وبیریږئ له الله څخه او پریږدئ

مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰٓوا اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۷۸﴾ فَاِنۡ

مَا بَقِيَ	مِنَ	الرِّبٰٓوا	اِنۡ	كُنۡتُمۡ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	فَاِنۡ
هغه چی پاتی سوی دی	له	سوده	که	ئی تاسی	مؤمنان	پس که

هغه چی پاتی سوی دی له سوده که یئ تاسی مؤمنان (یقین لرونکی په شریعت په ربنتیا سره). پس که

يَمۡحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرۡبِي دسود په باره کي دنبي کریم ﷺ ارشادات:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي داوو هلاکوونکو شیانو څخه ځان وساتی صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي یارسول الله هغه څه شی دي؟ دمبارک وفرمایل یو د الله ﷻ سره په عبادت کي یا دده په خاصو صفتونو کي څوک شریک جوړول. دوهم جادو کول. دریم ناحق قتل کول. څلورم سود خوړل. پنځم دیتیم مال خوړل. شپږم دجهاد په وخت کي دمیدان څخه تښتیدل. اووم پر پاک لمني ښځي باندي دزنا تهمت لګول (رواه البخاري ومسلم) نبي کریم ﷺ پر سود اخیستونکي هم لعنت ویلی دی او پر سود ورکوونکي هم او په ځینو روایاتو کي یې دسود په معامله کي پر شاهدي ورکوونکي او پرلیکونکو هم لعنت ویلی دی او دصحیح مسلم شریف په یو روایت کي یې فرمایلي دي چي دا ټول په ګناه کي برابر دي او په ځینو روایاتو کي دا لعنت هغه وخت فرمایلی دی پر شاهدي او لیکلو والا باندي چي دوی په خبر وي چي داد سود معامله ده. (معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۷۰)

www.jamairahmani.org

لَّمۡ تَفۡعَلُوۡا فَاۡذَنُوۡا بِحَرۡبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ ۚ وَاِنۡ تُبۡتُمۡ

لَّمۡ تَفۡعَلُوۡا	فَاۡذَنُوۡا	بِحَرۡبٍ	مِّنَ	اللّٰهِ	وَرَسُوۡلِهٖ	وَاِنۡ	تُبۡتُمۡ
ونه کړ تاسی (داکار)	نو آگاه سئ تاسی	په جنګ	له (طرفه د)	الله	او رسول د ده	او که	توبه ګاره سوئ تاسی

ونه کړ تاسی (داکار) نو آگاه سئ (او ځان تیار کړی) تاسی په جنګ له (طرفه د) الله او رسول د ده، او که توبه ګاره سوئ تاسی

فَلَكُمۡ رُءُوۡسُ اَمۡوَالِكُمۡ ۚ لَا تَظۡلِمُوۡنَ وَلَا تُظۡلَمُوۡنَ ﴿٢٧٩﴾

فَلَكُمۡ	رُءُوۡسُ	اَمۡوَالِكُمۡ	لَا تَظۡلِمُوۡنَ	وَلَا تُظۡلَمُوۡنَ
نو ستهٔ تاسو لره	اصل	دمالونو ستاسی	ظلم به نه کوی تاسی	او نه دی ظلم کاوه سی پر تاسی

(له اخیستلو د سود) نو ستهٔ تاسو لره اصل د مالونو ستاسی، مه کوئ تاسی ظلم او نه دی ظلم کاوه سی پر تاسی

وَاِنۡ كَانَ ذُوۡ عُسۡرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيۡسَرَةٍ ؕ وَاَنۡ

وَاِنۡ	كَانَ	ذُوۡ عُسۡرَةٍ	فَنَظِرَةٌ	اِلٰى مَيۡسَرَةٍ	وَاَنۡ
او که	ؤ (پوروړی)	خاوند د ناداری	نو پر تاسی دی انتظار (پوروړی) ته	تر وخته د پراخی د پوروړی	او دا چې

او که ؤ پوروړی (قرض وړونکی) خاوند د ناداری نو پر تاسی دی انتظار پوروړی ته تر وخته دپراخی د پوروړی او داچې

تَصَدَّقُوۡا خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٢٨٠﴾ وَاتَّقُوۡا

تَصَدَّقُوۡا	خَيۡرٌ لَّكُمۡ	اِنۡ	كُنۡتُمۡ	تَعۡلَمُوۡنَ	وَاتَّقُوۡا
بخښنه وکړئ تاسی	خیر (بهتره) ده تاسی ته	که	یئ تاسی	چې پوهیږئ	او وبیریږئ تاسی

بخښنه وکړئ تاسی (دی پور وړی ته)، خیر (ډیره بهتره) ده تاسی ته که یئ تاسی چې پوهیږئ. او وبیریږئ تاسی له (عذابه)

يَوۡمًا تُرۡجَعُوۡنَ فِيۡهِ اِلَى اللّٰهِ ۗ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفۡسٍ

يَوۡمًا	تُرۡجَعُوۡنَ	فِيۡهِ	اِلَى	اللّٰهِ	ثُمَّ	تُوَفّٰى	كُلُّ	نَفۡسٍ
دهغی ورځی چې	بیرته بیول کیږئ تاسی	په هغی کښی	طرف ته	د الله ته	بیا به	پوره ورکړی سی	هر	نفس ته

دهغی ورځی چې بیرته بیول کیږئ تاسی په هغی کښی طرف ته د الله ته بیا به پوره ورکړی سی هر نفس ته (جزا)

مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ﴿٢٨١﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا

مَّا	كَسَبَتۡ	وَهُمۡ	لَا يُظۡلَمُوۡنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡۤا
دهغه عمل	چې کړی وی ده	او په دوی به	ظلم ونه کړسی	ای!	هغو کسانو	چې ایمان ئی راوړی دی

دهغه عمل چې (ده له خیره یا شره) کړی وی او په دوی به ظلم ونه کړسی. ای! هغو کسانو چې ایمان ئی راوړی دی

فَاۡذَنُوۡا بِحَرۡبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ ...دسود په باره کي سخت وعید او سزا :

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي ما ننه شپه دوه سړي ولیدل چي ماته راغلل او زه یي بیت المقدس ته بوتلم بیا موږ مخکي ولاړونو دوینو یوه واله مو ولیده چي یو سړی په کښي ولاړدی او بل سړی دولې پرغاړه ولاړ دی دغه دباندي شخص دغه سړی په کانو او ډبروپر مخ ولي چي په اوبو کي ولاړ دی هغه وخت چي دی داوبو څخه دراوتلو اراده وکړي په دغه ویشتلو سره هغه بیا ولې ته ورشوه سي بیا هغه دراوتلو اراده کوي او دغه دباندي شخص یي بیا ولي نبي کریم ﷺ فرمایي چي ما ددغه خپلو دوو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چي دازه څه واقعه وینم دوی راته وویل چي دا په واله کي بند سړی سود خوره دی چي دخپل عمل سزاویني : دغه حدیث شریف په صحیح بخاري کتاب البیوع کي موجود دی: دسود او ربا دمسئلې پوره تحقیق او تفصیل او دزړه اطمینان که غواړی نو دحضرت مفتي شفیع صاحب رحمة الله علیه یوه رساله وګوری چي په نامه د(مسئله سود) ده.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۷۰)

ع ٣٨ ٨ ٢

www.jamairahmani.org

إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ

إِذَا	تَدَايَنْتُمْ	بِدَيْنٍ	إِلَىٰ	أَجَلٍ	مُّسَمًّى	فَاكْتُبُوهُ
کله چې	یو له بله سره معاملې کوئ تاسې	په پور سره	تر	نیټې	ټاکلې سوې پورې	نو ولیکئ تاسې هغه

کله چې یو له بله سره معاملې کوئ تاسې په پور (قرض) سره تر نیټې ټاکلې (مقرر کړې) سوې پورې نو ولیکئ تاسې هغه

وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ ۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ

وَلْيَكْتُبْ	بَّيْنَكُمْ	كَاتِبٌ	بِالْعَدْلِ	وَلَا يَأْبَ	كَاتِبٌ
او ودې لیکي	په مینځ ستاسو کښې	یو لیکونکی	په عدل سره	او منع دې نه راوړي (هیڅ یو)	لیکونکی

او ودې لیکي (کاغذ د پور -قرض) په مینځ ستاسو کښې یو کاتب په عدل سره او منع د ی نه راوړي (هیڅ یو) کاتب

أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ ۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي

أَنْ يَكْتُبَ	كَمَا عَلَّمَهُ	اللَّهُ	فَلْيَكْتُبْ	وَلْيُمْلِلِ	الَّذِي
له لیکلو څخه	هغسې چې (ښوونه کړې ده) کاتب ته	الله	نو ودې لیکي	او بیان دې وکړي	هغه څوک

(د دې کاغذ) له لیکلو څخه هغسې چې ښوونه کړې ده کاتب ته الله نو ودې لیکي، او بیان دې وکړي (کاتب ته)هغه څوک

عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ

عَلَيْهِ	الْحَقُّ	وَلْيَتَّقِ	اللَّهَ	رَبَّهُ	وَلَا يَبْخَسْ	مِنْهُ
چې په ده باندې	حق دی	او ودې بیریږي	له الله څخه	چې رب د ده دی	او نه دې کموي	له هغه

چې په ده باندې حق (قرض) دی او ودې بیریږي (کاتب) له الله چې رب د ده دی او نه دې کموي له هغه (حقه)

شَيْئًا ۚ فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ

شَيْئًا	فَإِنْ	كَانَ	الَّذِي	عَلَيْهِ	الْحَقُّ	سَفِيهًا	أَوْ	ضَعِيفًا	أَوْ
هیڅ شی	پس که	ؤ	هغه څوک	چې په ده باندې	حق دی	کم عقل	یا	ضعیف	یا

هیڅ شی، پس که ؤ هغه څوک چې په ده باندې حق (پور) دی کم عقل (بې وقوف او لیونی) یا ضعیف (معذور، ډېر زوړ) یا

لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ ۚ

لَا يَسْتَطِيعُ	أَنْ	يُمِلَّ	هُوَ	فَلْيُمْلِلْ	وَلِيُّهُ	بِالْعَدْلِ
یا ئې توان نه وي	داچې	اقرار وکړي دی	پخپله	نو بیان دې وکړي	ولي د ده	په عدل سره

یا ئې توان نه وي چې اقرار وکړي دی پخپله نو بیان دې وکړي ولي (واکدار) د ده په عدل (انصاف سره)

إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ... په دغه ذکر سوو ایتونوکي دمعاملو قانون بیان سوی دی: چي نن سبا ورته دمعاهدې قانون وايي ددې ضروري اصول بیان سوي دي او تر دې وروسته بیا دشهادت دقانون خاص اصول ذکر دي نن صبا خو دلیکلو زمانه ده لیک دانسان دژبې پر ځای دریدلی دی لیکن دنن څخه څوارلس سوه کاله مخکي زمانې ته چي وکتل سي نو دغه وخت ددنیا ټوله کاروبار یوازي زباني وو دلیکلو او اقرارنامې اصول گردسره نه وه تر ټولو مخکي قرآن کریم دې طرف ته دخلګو فکر راواړوی او وې فرمایل چي (اذاتداینتم بدین الی اجل مسمی فاکتبوه) یعني کله چي تاسي په خپل مینځ کي دقرض معامله کوی تر یوې مقررې نیټې پوري نو هغه لیکی په دې کي یو اصول داوښوول سوچي دقرض دمعاملو اقرارنامه لیکل په کار دي چي دهیریدو یا دانکار په وخت کي په کار راځي. دوهمه مسئله دا بیان سوه چي کله دقرض معامله کول کیږي نو نیټه دي پکښي خامخا په کښي مقرر کوي تر غیري مقررې نیټې پوري قرض ورکول اخیستل نه دي جایز.

(معارف القرآن ج ا پ۳ ص ۷۴)

www.jamairahmani.org

وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا

وَاسْتَشْهِدُوْا	شَهِيْدَيْنِ	مِنْ	رِّجَالِكُمْ	فَاِنْ	لَّمْ يَكُوْنَا
او شاهد ونیسئ تاسی	دوه شاهدان	له	سړیو ستاسی	پس که	نه وو دوه

او شاهد ونیسئ تاسی (په خپلو معاملو کښې) دوه شاهدان له سړیو ستاسی پس که نه وو دوه

رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ

رَجُلَيْنِ	فَرَجُلٌ	وَّامْرَاَتٰنِ	مِمَّنْ	تَرْضَوْنَ	مِنَ	الشُّهَدَآءِ
نارینه	نو یو سړی دی وی	او دوی ښځی	له هغو کسانو	چی تاسی تری راضی یئ	له	شاهدانو

نارینه (شاهدان) نو یو سړی دی وی او دوی ښځی له هغو کسانو چی تاسی تری راضی یئ (دعدالت له کبله) له شاهدانو

اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا

اَنْ تَضِلَّ	اِحْدٰىهُمَا	فَتُذَكِّرَ	اِحْدٰىهُمَا
که هیره کړی (دا شاهدی)	یوه له دی دواړو	نو وروپه یاد به کړی	هغه یوه له دی دواړو

(دا شمیر دښځو ، ددی له پاره دی که) هیره کړی (دا شاهدی) یوه له دی دواړو نو وروپه یاد به کړی هغه یوه له دی دواړوو

الْاُخْرٰى ۭ وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا دُعُوْا ۭ وَ

الْاُخْرٰى	وَلَا يَاْبَ	الشُّهَدَآءُ	اِذَا	مَا دُعُوْا	وَ
هغی بلی (ته)	او نه دی منع راوړی	شاهدان	کله چی	وبلل سی دوی (شاهدی ته)	او

هغی بلی (هیر زړی ته)، او نه دی منع راوړی شاهدان کله چی وبلل سی دوی (شاهدی ته) او

لَا تَسْــَٔـمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ ۭ ذٰلِكُمْ

لَا تَسْــَٔـمُوْٓا	اَنْ	تَكْتُبُوْهُ	صَغِيْرًا	اَوْ	كَبِيْرًا	اِلٰٓى	اَجَلِهٖ	ذٰلِكُمْ
مه خوابدی کیږئ	له دی	چی ولیکئ دا (حق که)	لږ وی	او که	ډیر وی	تر	نیتی دهغه پوری	دا (لیکل) ستاسی

مه خوابدی کیږئ (معامله دارانو) له دی چی ولیکئ دا (حق که) لږ وی او که ډیر وی تر نیتی د هغه پوری دا (لیکل) ستاسی

اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَاَدْنٰٓى

اَقْسَطُ	عِنْدَ	اللّٰهِ	وَاَقْوَمُ	لِلشَّهَادَةِ	وَاَدْنٰٓى
پوره عدل دی	په نزد	دالله	او ښه مرسته کوونکی دی	دپاره (د اداء) د شاهدی	او ډیر نژدی دی

پوره عدل دی په نزد د الله او ښه مرسته (مدد) کوونکی (ډیر محکم) دی دپاره (د اداء) دشاهدی او ډیر نژدی دی

وَلَا تَسْــَٔـمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ

دپور نیته به معلومه وي :

فقهاوو فرمایلي دي چي دپور نیته به داسي وي چي په هغه کي څه پټ والی نه وي میاشت او تاریخ به دواړه مقرروي څه پته او مبهمه به نه وي لکه مثلاً دفصل د پرې کولو تر وخته پورې ځکه چي په دې کي دموسم په وجه مخکي والی یا وروسته والی راتلی سي او کله چي لیکل په دغه زمانه کي عام نه وه او نن هم که عام دي خو ددنیا ډیره ابادي داسي ده چي په لیکلونه پوهیږي نو داکیدای سوه چي لیکونکی بل څه ولیکي چي دچا فایده او دچا نقصان وسي په دې وجه یي تردې وروسته وفرمایل (ولیکتب بینکم کاتب بالعدل) یعني داضروري ده چي ستاسي په مینځ کي یو څوک لیکونکی په انصاف سره ولیکي په دې کي خو یوه داخبره وسول چي لیکونکی دي دیوې فریقې خاص سړی نه وي بلکه غیرجانبداره دي وي چي دچا وربانډي شک اوشبه نه وي دطرف کولو: دوهم هدایت لیکونکي ته داوسو چي په انصاف سره دي لیکي دبل دفاني نفعي لپاره دي خپل دهمیشه تاوان نه کوي.

(معارف القرآن ج١ پ٣ ص٧٥)

www.jamairahmani.org

اَلَّا تَرۡتَابُوۡٓا اِلَّآ اَنۡ تَكُوۡنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيۡرُوۡنَهَا

اَلَّا تَرۡتَابُوۡٓا	اِلَّآ	اَنۡ	تَكُوۡنَ	تِجَارَةً	حَاضِرَةً	تُدِيۡرُوۡنَهَا
دی ته چې شکمن نه سئ تاسی	مګر	که	وی ستاسی	تجارت	په حضور	چې چلوئ ئی تاسی هغه

دی ته چې شکمن نه سئ تاسی ، مګر که وی (دا معامله) ستاسی تجارت په حضور (لاس په لاس) چې چلوئ ئی تاسی

بَيۡنَكُمۡ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ اَلَّا تَكۡتُبُوۡهَا ؕ وَاَشۡهِدُوۡٓا ؕ

بَيۡنَكُمۡ	فَلَيۡسَ	عَلَيۡكُمۡ	جُنَاحٌ	اَلَّا تَكۡتُبُوۡهَا	وَاَشۡهِدُوۡٓا
په خپلو منځو کښی	پس نسته	پر تاسی باندی	هیڅ ګناه	چې و نه لیکئ تاسی دا	او شاهدان ونیسئ تاسی

په خپلو منځو کښی پس نسته پر تاسی باندی هیڅ ګناه چې و نه لیکئ تاسی دا (معامله) او شاهدان ونیسئ تاسی!

اِذَا تَبَايَعۡتُمۡ ۪ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيۡدٌ

اِذَا	تَبَايَعۡتُمۡ	وَلَا يُضَآرَّ	كَاتِبٌ	وَّلَا شَهِيۡدٌ
کله چې	یو له بل سره اخیستل یا پیرودل کوئ تاسی	او نه دی رسول کیږی نقصان	لیکونکی ته	او نه شاهد ته

کله چې یو له بل سره اخیستل یا پیرودل (خرڅول) کوئ تاسی او نه دی رسول کیږی نقصان (ضرر) کاتب ته او نه شاهد ته،

وَاِنۡ تَفۡعَلُوۡا فَاِنَّهٗ فُسُوۡقٌ ۢ بِكُمۡ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

وَاِنۡ	تَفۡعَلُوۡا	فَاِنَّهٗ	فُسُوۡقٌ	بِكُمۡ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ
او که	وکړ تاسی (داکار)	نو بیشکه!	دا ګناه ده	په تاسی پوری	او ویریږئ تاسی	له الله څخه

او که وکړ تاسی (داکار داضرار) نو بیشکه! دا ګناه ده (لاحقه) په تاسی پوری، او ویریږئ تاسی له الله څخه

وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴿۲۸۲﴾ وَاِنۡ كُنۡتُمۡ

وَيُعَلِّمُكُمُ	اللّٰهُ	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ	شَيۡءٍ	عَلِيۡمٌ	وَاِنۡ	كُنۡتُمۡ
او ښوونه کوی تاسی ته	الله	او الله	په هر	شی باندی	ښه عالم دی	او که	یئ تاسی

او ښوونه (د احکامو) کوی تاسی ته الله او الله په هر شی باندی ښه عالم دی او که یئ تاسی

عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمۡ تَجِدُوۡا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقۡبُوۡضَةٌ ؕ فَاِنۡ

عَلٰى	سَفَرٍ	وَّلَمۡ تَجِدُوۡا	كَاتِبًا	فَرِهٰنٌ	مَّقۡبُوۡضَةٌ	فَاِنۡ
په	سفر باندی	او پیدا مو نه کړی	لیکونکی	نو ګروی	قبض کړی سوی	پس که

په سفر باندی او مو نه موند کوم کاتب نو (واخلئ) ګروی قبض کړی سوی پس که

وَاَشۡهِدُوۡٓا اِذَا تَبَايَعۡتُمۡ

دشهادت دقاعدې یو څواصول: تر دې ځایه پورې په معاملو کې داقرارنامې دلیکلو د مهمو اصولو بیان وو اوس مخکې دا ښوول کیږي چې داقرارنامې یوازې لیکل کافي مه ګڼی بلکه پردې باندې شاهدان هم جوړوی چې که چیرې څه وخت په مینځ کې جګړا هم راسې نو په عدالت کې به ددې شاهدانو په شاهدی سره فیصله وسې په دې وجه فقهاوو فرمایلي دي چې محض لیکلی شی شرعي دلیل نه دی تر څو پورې چې پردغه لیکلي باندې شرعي شهادت موجود نه وي په خالي لیکلو باندې هیڅ فیصله نسي کیدای نن سبا دعامو عدالتونو هم دادستوردی چې په لیکلو باندې بغیر دزباني تصدیق او شهادت څخه څه فیصله نه کوي او دشاهدی لپاره دوه سړي یا یو سړی او دوې ښځې موجود کیدل ضروري دي یو یوازې سړی یا یوازې دوې ښځې په عامو معاملو کې دشاهدی لپاره کافي نه دي. **دوهم:** داچې شاهدان دې مسلمانان وي **دریم:** داچې ثقه او عادلان دې وي فاسقان او فاجران دې نه وي. (معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۷۶)

www.jamairahmani.org

اَمِنَ بَعۡضُكُمۡ بَعۡضًا فَلۡيُؤَدِّ الَّذِى اؤۡتُمِنَ

اَمِنَ	بَعۡضُكُمۡ	بَعۡضًا	فَلۡيُؤَدِّ	الَّذِى	اؤۡتُمِنَ
امين وګڼل	ځينو ستاسی	ځينی	نو اداء دی کړی	هغه څوک	چي امين ګرځولی سوی وی

امين (معتبر) وګڼل ځينو ستاسی ځينی (چی ګروی ئی وانه خيستله) نو اداء دی کړی هغه څوک چي امين ګرځولی سوی وی

اَمَانَتَهٗ وَلۡيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكۡتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ وَمَنۡ

اَمَانَتَهٗ	وَلۡيَتَّقِ	اللّٰهَ	رَبَّهٗ	وَلَا	تَكۡتُمُوا	الشَّهَادَةَ	وَمَنۡ
امانت د ده	او ودی ويريږی	له الله څخه	چی رب د ده دی	او مه	پټوئ	شهادت	او هر چاچي

امانت د ده (ديوروركوونكی) او ودی ويريږی له الله څخه چي رب د ده دی او مه پټوئ شهادت او هر چا چي

يَّكۡتُمۡهَا فَاِنَّهٗۤ اٰثِمٌ قَلۡبُهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ عَلِيۡمٌ ۝٢٨٣ ع

يَّكۡتُمۡهَا	فَاِنَّهٗۤ	اٰثِمٌ	قَلۡبُهٗ	وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	عَلِيۡمٌ
پټه كړه دا	نو بيشكه! دی	ګنهګار دی	زړه د ده	او الله	په هغو كارونو	چی كوئ ئی تاسی	ښه عالم دی

پټه كړه دا (شاهدی) نو بيشكه! دی ګنهګار دی زړه د ده او الله په (هغو كارونه) چي كوئ (ئی تاسی) ښه عالم دی.

لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ وَاِنۡ تُبۡدُوۡا

لِلّٰهِ	مَا	فِى	السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِى الۡاَرۡضِ	وَاِنۡ	تُبۡدُوۡا
خاص الله لره دی	هر هغه څه چي	په	آسمانونو كښی دی	او هر هغه څه چي	په ځمكه كښی دی	او كه	ښكاره كړئ تاسی

(خاص) الله لره دی هر هغه څه چي په آسمانونو كښی دی او هر هغه څه چي په ځمكه كښی دی او كه ښكاره كړئ تاسی

مَا فِىۡۤ اَنۡفُسِكُمۡ اَوۡ تُخۡفُوۡهُ يُحَاسِبۡكُمۡ بِهِ اللّٰهُ ؕ

مَا	فِىۡۤ	اَنۡفُسِكُمۡ	اَوۡ	تُخۡفُوۡهُ	يُحَاسِبۡكُمۡ	بِهِ	اللّٰهُ ؕ
هغه چي	په	زړونو ستاسی كښی دی	يا	پټ كړئ تاسی هغه	حساب به وكړی له تاسی سره	په هغه باندی	الله

هغه چي په زړونو ستاسی كښی دی يا پټ كړئ تاسی هغه، حساب به وكړی له تاسی سره په هغه باندی الله پس مغفرت كوی

فَيَغۡفِرُ لِمَنۡ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

فَيَغۡفِرُ	لِمَنۡ	يَّشَآءُ	وَيُعَذِّبُ	مَنۡ	يَّشَآءُ	وَاللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ	شَىۡءٍ
پس مغفرت كوی	هغه چاته	چي اراده وكړی	او په عذابوی به	هغه څوک	چي اراده وكړی	او الله	په	هر	شی باندی

هغه چاته چي اراده وكړی (الله د مغفرت ئی) او په عذابوی به هغه څوک چي اراده وكړی او الله په هر شی باندی

وَاِنۡ تُبۡدُوۡا مَا فِىۡۤ اَنۡفُسِكُمۡ اَوۡ تُخۡفُوۡهُ... دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه مشهور قول: ددې ايت په تفسير كي دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه مشهور قول دادی او دايت معنی داسې ده چې الله جل جلاله به دخپل مخلوق دټولو عملونو حساب كوي و دهغو هم چې ده كړي دي او دهغو هم دكوموچې دده په زړه كي پخه اراده راغلې وي او په زړه كي يې پټه ساتلې وي ليكن دكولو موقع يې نه وي راغلې لكه چې دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې مادنبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې مومن به دقيامت په ورځ خپل رب ته چې لوی او غالب دی نږدې سي تر دې چې الله جل جلاله به دده يوه يوه ګناه دته ورپه ياد كړي او پوښتنه به ورڅخه وكړي چې تاته معلومه چې تا دا ګناه كړي ده بنده مومن به اقرار وكړي الله جل جلاله به وفرمايي چې ما په دنيا كي پر تا پرده اچولې وه او ستا ګناه مې خلګوته نه وه ښوولې او نن دې هم معاف كوم او دنيكو عمل نامه به دلره وركړل سي ليكن دكافرانو اومنافقانو ګناهونه به په عامو خلګو كي بيان سي: الله جل جلاله دې راته اسانه كړي

(معارف القرآن ج١ پ٣ ص ٧٩)

ع ٣٩ ٧

www.jamairahmani.org

قَدِيْرٌ ﴿٢٨٤﴾ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ

قَدِيْرٌ	اٰمَنَ	الرَّسُوْلُ	بِمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْهِ	مِنْ	رَّبِّهٖ
ښه قادر دی	تصدیق کړی دی	رسول	په هغه شی	چې نازل کړی سوی دی	ده ته	له (طرفه)	رب د ده

ښه قادر دی. تصدیق (باور) کړی دی رسول په هغه شی چې نازل کړی سوی دی ده ته له (طرفه) رب د ده

وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۭ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰۗىِٕكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ

وَالْمُؤْمِنُوْنَ	كُلٌّ	اٰمَنَ	بِاللّٰهِ	وَمَلٰۗىِٕكَتِهٖ	وَكُتُبِهٖ
او مؤمنانو	ټولو	تصدیق کړی دی	په الله باندی	او په ملائیکو د ده	او په کتابو د ده

او مؤمنانو (تصدیق او باور کړی دی) ټولو (د دوی) تصدیق کړی دی په الله باندی او په ملائیکو د ده او په کتابو د ده

وَرُسُلِهٖ ۣ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۣ وَقَالُوْا

وَرُسُلِهٖ	لَا نُفَرِّقُ	بَيْنَ	اَحَدٍ	مِّنْ	رُّسُلِهٖ	وَقَالُوْا
او په رسولانو د ده	فرق نه کوو	په مینځ	د هیڅ یو (رسول)	له	رسولانو د الله کښې	او وائی

او په رسولانو د ده (په داسی حال کښې چې وائی دوی) فرق نه کوو په مینځ د هیڅ یو (رسول) له رسولانو د الله کښې او وائی

سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ڭ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨٥﴾

سَمِعْنَا	وَاَطَعْنَا	غُفْرَانَكَ	رَبَّنَا	وَاِلَيْكَ	الْمَصِيْرُ
واوریده موږ	او قبول کړ موږ	مغفرت ستا	ای ربه زموږ	او (خاص) تاته دی	در تلل (د هرچا)

واوریده موږ (پیغام ستا) او قبول کړ موږ (حکم ستا غواړو) مغفرت ستا ای ربه زموږ او (خاص) تاته دی درتلل (دهرچا).

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۭ لَهَا مَا كَسَبَتْ

لَا يُكَلِّفُ	اللّٰهُ	نَفْسًا	اِلَّا	وُسْعَهَا	لَهَا	مَا كَسَبَتْ
نه کوی تکلیف	الله	پر هیڅ نفس باندی	مګر (په اندازه)	د طاقت د ده	دی نفس لره	هغه چې کړی ئی دی

نه کوی تکلیف الله پر هیڅ نفس باندی مګر (په اندازه) طاقت د ده (دی) دی نفس لره (ثواب د) هغه چې کړی ئی دی

وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۭ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ

وَعَلَيْهَا	مَا اكْتَسَبَتْ	رَبَّنَا	لَا تُؤَاخِذْنَآ	اِنْ	نَّسِيْنَآ
او په ده باندی	د هغه چې کړی (ئی) دی	ای ربه زموږ	مه نیسه موږ	که	هیر کړو (حکم ستا)

او (سته) په ده باندی (وبال) د هغه (عمل) چې کړی (ئی) دی. ای ربه زموږ مه نیسه موږ که هیر کړو (حکم ستا)

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ .. ددې دوو ایتو خاص فضیلتونه: دادسورت بقرې آخري دوه ایتونه دي په صحیح احادیثو کې ددې دوو ایاتونو خاص اولوی لوی فضیلتونه راغلي دي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې کم سړي دشپې دغه دوه ایاتونه تلاوت کړه نو داده لپاره کافي او بس دي او دابن عباس رضی الله عنه په روایت کې دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله جل جلاله دوه ایاتونه دجنت دخزانو څخه نازل کړي دي چې دټول مخلوق دپیداکیدو څخه یه دوه زره کاله مخکې په خپله رحمن جل جلاله په خپلولاسو سره لیکلي دي کم سړی چې داد ماخوستن دلمانځه څخه وروسته ووایي نو دا به ورته دتهجدو پر ځای ودریږي او په بل روایت کې دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله جل جلاله سورت بقره په دې دوو ایاتو باندې ختمه کړې ده کم چې ماته دخاص خزانې څخه راکول سوي دي هغه خزانه چې تر عرش لاندې ده په دې وجه تاسي په خاص طور سره دغه ایاتونه زده کړی او خپلو ښځو او کوچنیانو ته یې ورپه یا دکړی.
(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ٨٣)

www.jamairahmani.org

اَوۡ اَخۡطَاۡنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَاۤ اِصۡرًا كَمَا حَمَلۡتَهٗ

اَوۡ اَخۡطَاۡنَا	رَبَّنَا	وَ	لَا تَحۡمِلۡ	عَلَيۡنَاۤ	اِصۡرًا	كَمَا	حَمَلۡتَهٗ
یا په خطا سره وکړو	ای ربه زموږ	او	مه باروه	پر موږ باندی	درونډ بار	لکه چی	بار کړی ؤ تا دغه

یا په خطا سره وکړو (ګناه) ای ربه زموږ او مه باروه پر موږ باندی درونډ بار لکه چی بار کړی ؤ تا دغه (بار)

عَلَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ

عَلَى	الَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِنَا	رَبَّنَا	وَلَا تُحَمِّلۡنَا	مَا	لَا طَاقَةَ
پر	هغو کسانو باندی	چی وو پخوا له موږ	ای ربه زموږ	او مه باروه پر موږ باندی	هغه (تکلیف)	چی نه وی هیڅ طاقت

پر هغو کسانو باندی چی وو پخوا له موږ ای ربه زموږ! او مه باروه پر موږ باندی هغه (تکلیف) چی نه وی هیڅ طاقت

لَنَا بِهٖ ۚ وَاعۡفُ عَنَّا ۗ وَاغۡفِرۡ لَنَا ۗ وَارۡحَمۡنَا ۗ اَنۡتَ

لَنَا	بِهٖ	وَاعۡفُ	عَنَّا	وَاغۡفِرۡ لَنَا	وَارۡحَمۡنَا	اَنۡتَ
موږ ته	په هغه سره	او محوه کړه	له موږ	او مغفرت وکړه موږ ته	او رحم وکړه پر موږ باندی	هم ته ئی

موږ ته په هغه سره او محوه کړه (ګناهونه) له موږ او مغفرت وکړه موږ ته، او رحم وکړه پر موږ باندی، هم ته ئی

مَوۡلٰنَا فَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲۸۶﴾ ع

مَوۡلٰنَا	فَانۡصُرۡنَا	عَلَى	الۡقَوۡمِ	الۡكٰفِرِيۡنَ
مولی (مدد ګار) زموږ	نو مدد وکړه له موږ سره	پر	قوم	کافرانو باندی

مولی (مددګار) زموږ نو مدد وکړه له موږ سره پر قوم کافرانو باندی.

آیاتونه ۲۰۰ — ۳ سُوۡرَةُ اٰلِ عِمۡرٰنَ مَدَنِيَّةٌ ۸۹ — ۲ کوعوي ۲۰

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمّٓ ﴿۱﴾ اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ الۡحَيُّ الۡقَيُّوۡمُ ﴿۲﴾

الٓمّٓ	اللّٰهُ	لَاۤ	اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ	الۡحَيُّ	الۡقَيُّوۡمُ
الف لام میم	الله (چی دی)	نسته هیڅوک	لایق د عبادت	مګر هم دی دی	چی تل ژوندی	په یو حال باقی تدبیر والا دی

الف لام میم. الله (چی دی) نسته هیڅوک لایق د عبادت مګر هم دی دی چی تل ژوندی په یو حال باقی (قایم) تدبیر والا دی

اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ الۡحَيُّ الۡقَيُّوۡمُ... دلته الله ﷻ د توحید مضمون دیوې دعوې په صورت کې پیش کړی دی: معنی یې داده چې الله ﷻ داسې دی چې دهغه څخه ماسواه بل څوک دمعبود جوړولو قابل نسته تر دې وروسته یې په لفظ د **الۡحَيُّ الۡقَيُّوۡمُ** سره یې دتوحید عقلي دلیل بیان کړی چې ددې تشریح داده چې عبادت ددې خبرې نوم دی چې خپل ځان دچاپه مخکې انتهایي ذلیل اوعاجزه پیش کړې اودا بیا ددې خبرې غوښتنه کوي چې دچا عبادت کول کیږي هغه دې دلویې او بلندې تر ټولو دلوړ مقام مالک او په هر اعتبار سره کامل وي او دا خو ښکاره خبره ده چې کم شی خپل وجود قایم نسي ساتلی په خپل وجود او خپله بقا کې دبل چا محتاج وي دهغه دعزت او لویې څه مقام کیدای سي نو په دې وجه دا خبره ښکاره سوه چې په دنیا کې څومره شیان چې نه په خپله دخپل وجود مالکان دي او نه خپل وجود قایم ساتلی سي هغه نو که بت وي یا درخته یا ملایکې او یا پیغمبر وي په دوی کې هیڅوک هم دعبادت لایق نسته او نه کیدای سي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۸۹)

ع ۸

www.jamairahmani.org

نَزَّلَ عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ بِالۡحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ

نَزَّلَ	عَلَيۡكَ	الۡكِتٰبَ	بِالۡحَقِّ	مُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيۡنَ يَدَيۡهِ
نازل کړی دی	په تا باندی	کتاب	په حقه	حال دا چی تصدیق کوونکی دی	دهغو	چی پخوا له ده څخه دی

نازل کړی دی په تا باندی کتاب (قرآن) په حقه حال دا چی تصدیق کوونکی دی د هغو (کتابونو) چی پخوا له ده څخه دی

وَاَنۡزَلَ التَّوۡرٰىةَ وَالۡاِنۡجِيۡلَ ۙ﴿۳﴾ مِنۡ قَبۡلُ هُدًى لِّلنَّاسِ

وَاَنۡزَلَ	التَّوۡرٰىةَ	وَالۡاِنۡجِيۡلَ	مِنۡ قَبۡلُ	هُدًى	لِّلنَّاسِ
او نازل کړی دی	توریت	او انجیل	پخوا (له دی قرآنه)	له پاره د هدایت	دخلګو

او نازل کړی (یوځلی لیږل) دی توریت او انجیل پخوا (له دی قرآنه) له پاره د هدایت دخلګو،

وَاَنۡزَلَ الۡفُرۡقَانَ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ

وَاَنۡزَلَ	الۡفُرۡقَانَ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	بِاٰيٰتِ
او نازل کړئ ئی دی	فرقان	بیشکه!	هغه کسان	چی کافران سوی دی	په آیاتونو

او نازل کړی ئی دی فرقان (کتابونه چی دحق او باطل بیلوونکی دی) بیشکه! هغه کسان چی کافران سوی دی په آیاتونو

اللّٰهِ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيۡزٌ ذُو انۡتِقَامٍ ﴿۴﴾

اللّٰهِ	لَهُمۡ	عَذَابٌ	شَدِيۡدٌ	وَاللّٰهُ	عَزِيۡزٌ	ذُو انۡتِقَامٍ
د الله سره	سته دوی لره	عذاب	سخت	او الله	ډیر غالب	څښتن د انتقام دی

د الله سره (چی قرآن او نور کتابونه دی) سته دوی لره عذاب سخت، او الله ډیر غالب څښتن (خاوند) د انتقام دی.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخۡفٰى عَلَيۡهِ شَىۡءٌ فِى الۡاَرۡضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ ﴿۵﴾

اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَخۡفٰى	عَلَيۡهِ	شَىۡءٌ	فِى الۡاَرۡضِ	وَلَا	فِى	السَّمَآءِ
بیشکه!	الله	پټ نه دی	په ده باندی	هیڅ شی	په مځکه کښی	او نه	په	آسمان کښی

بیشکه! الله پټ نه دی په ده باندی هیڅ شی په مځکه او نه په آسمان کښی (دمخلوقاتو له ټولو احوالو)

هُوَ الَّذِىۡ يُصَوِّرُكُمۡ فِى الۡاَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُ ؕ

هُوَ	الَّذِىۡ	يُصَوِّرُكُمۡ	فِى	الۡاَرۡحَامِ	كَيۡفَ يَشَآءُ
هغه الله	هغه (ذات) دی	چی جوړوی صورتونه ستاسی	په	رحمو کښی	هر ډول چی اراده وکړی

الله هغه (ذات) دی چی جوړوی صورتونه ستاسی په رحمو (دمیندو) کښی هر ډول (طریقه) چی اراده وکړی (دجوړولو ئی)

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ....

په دغه ایت کي الله جَلَّ جَلَالُهٗ دتوحید نقلي دلیل پیش کړی دی : تشریح یه داده چي پرکمه خبره دډیرو خلګو اتفاق وي او بیا خاص چي هغه دمختلفو ملکونو اوسیدونکي وي او په جلا جلا وختونو کي پیدا سوي وي او په مینځ کي یي په سوونو او په زرګونوکلونو فاصله وي او دیوه دخبري بل ته د رسیدوڅه ذریعه هم نه وي په دغه مابین کي او سره ددي چي کم یورا پورته کیږي هم هغه یوه خبره کوي کمه چي هغه مخکي ویلې ده اوټول ددغه یوې خبري او یوې عقیدې پایینده وي نو ضمیر دهغه خبري پر قبلولو مجبوروي چي هغه به مني مثلا د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دوجود او دهغه دیووالي بیان په مخلوق کي تر ټولو مخکي حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام راوړی وو او دده په اولاد کي پرلپسې ددې خبري چلیدل خو څه لیري خبره نه وه لیکن دډیري زماني په تیریدوسره او دحضرت ادم عَلَيۡهِ السَّلَام په اولاد کي دهغوټولو طریقو تر بدلیدووروسته بیا حضرت نوح عَلَيۡهِ السَّلَام راځي او دهغه شي دعوت ورکوي کم چي حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام خلګو ته دعوت ورکړی وواو بیا نورو انبیاء کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام الخ (معارف القرآن ج ١ پ٣ ص ٩١)

www.jamairahmani.org

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ⑥ هُوَ الَّذِيْٓ

لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	هُوَ	الَّذِيْٓ
نسته	بل هيڅ لايق د عبادت	مګر هم دی دی	ډير غالب	ښه تدبير والا	الله	هغه (ذات) دی

نسته بل هيڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی ډير غالب ښه تدبير والا. الله هغه (ذات) دی

اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ

اَنْزَلَ	عَلَيْكَ	الْكِتٰبَ	مِنْهُ	اٰيٰتٌ	مُّحْكَمٰتٌ	هُنَّ	اُمُّ
چي نازل کړی دی	پر تا باندی	کتاب (قرآن)	چي ځنی له ده څخه	آياتونه	محکمات دی	دا (آيات)	اصل

چي نازل کړی (ليږلی) دی پر تا باندی کتاب (قرآن) چي ځنی له ده څخه آيا ت محکمات دی دا (محکم آيات) اصل

الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

الْكِتٰبِ	وَاُخَرُ	مُتَشٰبِهٰتٌ	فَاَمَّا	الَّذِيْنَ	فِيْ	قُلُوْبِهِمْ
د کتاب دی	او نور (ځينی آيات)	متشابهات دی	نو هر څه	هغه کسان چي	په	زړونو د دوی کښی

د کتاب دی او نور (ځينی آيات) متشابهات دی، نو هر څه هغه کسان چي په زړونو د دوی کښی

زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ

زَيْغٌ	فَيَتَّبِعُوْنَ	مَا	تَشَابَهَ	مِنْهُ	ابْتِغَآءَ	الْفِتْنَةِ
کوږوالی دی	پس پيروی کوی د وی	د هغو	چي متشابه وی	له دی (قرآنه)	له پاره د طلب	د فتنې

کوږوالی دی پس پيروی کوی دوی د هغو (کلماتو) چي متشابه وی له دی (قرآنه) له پاره د طلب د فتنې (او ګمراهی)

وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ

وَابْتِغَآءَ	تَاْوِيْلِهٖ	وَمَا	يَعْلَمُ	تَاْوِيْلَهٗٓ	اِلَّا	اللّٰهُ
او د پاره د طلب	د معنی د هغو	او حال دا چي	نه پوهيږی په	مطلب د هغه	مګر	الله

او د پاره د طلب د معنی د هغو حال دا چي نه پوهيږی په (حقيقی معنی او) مطلب د هغه مګر الله

وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ

وَالرّٰسِخُوْنَ	فِي	الْعِلْمِ	يَقُوْلُوْنَ	اٰمَنَّا	بِهٖ	كُلٌّ	مِّنْ عِنْدِ
او هغه کسان چي پاخه دی	په	علم کښی	وائی دوی چي	ايمان راوړی دی موږ	په دی	دا ټول	له طرفه

او هغه کسان چي پاخه دی په علم کښی وائی دوی چي ايمان راوړی دی موږ په دی، دا ټول (محکم او متشابه) له طرفه

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ... په دغه ايت کي دتوحيد خلاف دځينو شبهاتو جواب دی: واقعه داده چي يووار دنجران وطن څخه څه نصارا دنبي کريم په خدمت کي حاضر سول او دمذهب په باره کي يي خبري شروع کړې حضور اکرم ﷺ دنصاراوو دتثليث (يعني ددرو خدايانو) دعقيدې ردډير په تفصيل سره وکی او دالله ﷻ يووالی يي ثابت کړی حضور ﷺ پر خپله دعوی باندي دالله ﷻ صفتونه لکه هميشه ژوند ، کامل قدرت، احاطه کوونکی علم ، اوډپيدا کولو قدرت، بيان کړل دالله ﷻ پر يووالي يي په دليل کي راوړه او دا ټولو نصاراوو، ومنل. چي توحيد ثابت سونو په دې سره دتثليث دعقيدې باطلوالی هم ثابت سو نو دي خلګو دقرآن پر هغه الفاظو څه شکونه پيش کړل په کمو کي يي چي حضرت عيسى عليه السلام ته روح يا کلمة الله ويلي دي چي په دې الفاظو سره خو د حضرت عيسى عليه السلام په خدايي کي شريکوالی ثابتيږي الله ﷻ په دې ايت کي دا شبه ختمه کړه چي دا کلمې متشابهات دي ددې ظاهري معنى نه ده مراد.
(معارف القرآن ج١ پ٣ ص ٩٣)

www.jamairahmani.org

رَبِّنَا ۚ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٧ رَبَّنَا

رَبِّنَا	وَمَا يَذَّكَّرُ	اِلَّآ	اُولُوا	الْاَلْبَابِ	رَبَّنَا
درب زموږ دی	او پند نه اخلی (په دی)	مګر (خوپند اخلی)	خاوندان	دعقلونو	ای ربه زموږ!

د رب زموږ دی او پند نه اخلی (په دی) مګر (خوپند اخلی) خاوندان د عقلونو. (وائی دغه راسخون) ای ربه زموږ!

لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ

لَا تُزِغْ	قُلُوْبَنَا	بَعْدَ	اِذْ هَدَيْتَنَا	وَهَبْ	لَنَا	مِنْ
مه کږوه!	زړونه زموږ	وروسته له دی څخه	چی په سمه صافه لاره دی برابر کړی یو	او وبخښه	موږ ته	له

مه کږوه! زړونه زموږ وروسته له دی څخه چی په سمه صافه لاره دی برابر کړی یو او وبخښه (عنایت وکړه) موږ ته له

لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۝٨ رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ

لَّدُنْكَ	رَحْمَةً	اِنَّكَ	اَنْتَ	الْوَهَّابُ	رَبَّنَآ	اِنَّكَ	جَامِعُ
نزده خپله	رحمت	بیشکه!	ته هم دا ته	ډیر بخښونکی ئی	ای ربه زموږ	بیشکه! ته	یو ځای کوونکی

نزده خپله رحمت بیشکه! ته هم دا ته ډیر بخښونکی ئی (دنعمت او رحمت) . ای ربه زموږ! بیشکه! ته یو ځای کوونکی

النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

النَّاسِ	لِيَوْمٍ	لَّا رَيْبَ	فِيْهِ	اِنَّ	اللّٰهَ
د مخلوقاتو ئی دپاره د (حساب)	(دهغی) ورځی	چی نسته هیڅ شک شبهه	په (راتلو) دهغی کښی	بیشکه!	چی الله

د (ټولو) مخلوقاتو ئی دپاره د (حساب د هغی) ورځی چی نسته هیڅ شک شبهه په (راتلو) دهغی کښی، بیشکه! چی الله

ع ١ ٩
لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۝٩ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ

لَا يُخْلِفُ	الْمِيْعَادَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَنْ تُغْنِيَ	عَنْهُمْ
نه کوی مخالفت	له وعدی (خپلی) څخه	بیشکه!	هغه کسان	چی کافران سوی دی	له سره به دفعه نه کړی	له دوی څنی

نه کوی مخالفت له وعدی (خپلی) څخه. بیشکه! هغه کسان چی کافران سوی دی له سره به دفعه نه کړی له دوی څنی

اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَاُولٰٓئِكَ

اَمْوَالُهُمْ	وَلَآ	اَوْلَادُهُمْ	مِّنَ	اللّٰهِ	شَيْـًٔا	وَاُولٰٓئِكَ
مالونه د دوی	او نه	اولاد د دوی	له (عذابه)	الله	هیڅ شی	او دا کسان

مالونه د دوی او نه اولاد د دوی له (عذابه) الله نه هیڅ شی (نه لږ، نه ډیر، نه په دنیا او نه په عقبی کښی) . او دا کسان

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا. ددغه ایت څخه معلومیږي چي هدایت او ګمراهي دالله جل جلاله له طرفه څخه دي: الله جل جلاله چي چاته وغواړي هدایت ورکوي اوزړه یي دنیکی طرف ته مایله کوي او خپل بندګي ورته محبوبه ګرځوي اوچي چاته وغواړي چي ګمراه یي کړي نو دهغه زړه دنیکی دلاري څخه راګرځوي دغه رنګه په یوه حدیث شریف کښي راغلي دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي یو زړه داسي نسته چي د الله جل جلاله دګوتو څخه ددوه ګوتو په مینځ کي نه وي هغه چي ترڅو وغواړي پر حق یي قایم ساتي او کله چي وغواړي دحق څخه یي ګرځوي هغه قادر مطلق ذات دی چي څه وغواړي هم هغه کوي په دې وجه دکمو خلګو سره چي پر دین دپاته کیدو فکر وي هغه همیشه دخپل خدای جل جلاله څخه داستقامت دعا کوي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم به همیشه دالله جل جلاله څخه داستقامت دعا غوښتله لکه په یوه حدیث شریف کي چي راځي (یا مقلب القلوب ثبت قلوبنا علی دینک) ای ددزړو اړوونکې ذاته زموږ زړنه پر خپل دین باندي قایم وساتې. (معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ٩٦)

www.jamairahmani.org

هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ ⑩ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ

هُمْ	وَقُوْدُ	النَّارِ	كَدَاْبِ	اٰلِ	فِرْعَوْنَ	وَالَّذِيْنَ
هم دوی دی	پیلوزی	د اور (دوزخ)	(حال د دوی) لکه حال	د تابعانو	د فرعون	او (لکه) دهغو کسانو

هم دوی دی خس او اور (د دوزخ). (حال د دوی داسی دی) لکه حال (عادت) د تابعانو د فرعون او (لکه) دهغو کسانو

مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ

مِنْ قَبْلِهِمْ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا	فَاَخَذَهُمُ	اللّٰهُ
چي پخوا له دوی څنی وو	چی نسبت د دروغو به ئی کاوه	آیتونو زموږ ته	پس ونیول دوی لره	الله

چی پخوا له دوی څنی وو، (لکه عادیان ثمودیان) چی نسبت د د روغو به ئی کاوه آیتونو زموږ ته پس ونیول دوی لره الله

بِذُنُوْبِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ⑪ قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

بِذُنُوْبِهِمْ	وَاللّٰهُ	شَدِيْدُ	الْعِقَابِ	قُلْ	لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
په سبب د ګناهونو د دوی	او الله	سخت دی	عذاب (د ده)	ووایه (محمده)	هغو کسانو ته	چی کافران سوی دی

په سبب د ګناهونو د دوی، او الله سخت دی عذاب (د ده). ووایه (ای! محمده) هغو کسانو ته چی کافران سوی دی

سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ⑫

سَتُغْلَبُوْنَ	وَ	تُحْشَرُوْنَ	اِلٰى	جَهَنَّمَ	وَبِئْسَ	الْمِهَادُ
ژر به مغلوب کړی سئ تاسی	او	جمع به کړی سئ تاسی	طرف	د دوزخ ته	او بد	ځای د هستوګنی دی

ژر به مغلوب کړی سئ تاسی او جمع به کړی سئ تاسی طرف د دوزخ ته، او بد ځای د هستوګنی د ی(دغه دوزخ)

قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَاتِلُ

قَدْ	كَانَ	لَكُمْ	اٰيَةٌ	فِيْ	فِئَتَيْنِ	الْتَقَتَا	فِئَةٌ	تُقَاتِلُ
په تحقیق سره	دی	تاسی ته	لوی عبرت	په هغو	دوو فرقو کښی	چی سره مخامخ سولی	یوه فرقه وه	چی جنګ ئی کاوه

په تحقیق سره دی تاسی ته لوی عبرت په هغو دوو فرقو کښی چی سره مخامخ سولی (په بدر کښی) یوه فرقه وه چی جنګ ئی کاوه

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَاْيَ

فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	وَاُخْرٰى	كَافِرَةٌ	يَّرَوْنَهُمْ	مِّثْلَيْهِمْ	رَاْيَ
په	لاره	د الله کښی	او بله فرقه وه	چی کافره وه	لیدل به دوی هغو لره	دوه چنده دهغو	په لیدلو

په لاره د الله کښی او بله فرقه وه چی کافره وه. لیدل به دوی هغوی لره دوه چنده دهغو په لیدلو

هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ ⑩ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ...

امام رازي رحمة الله عليه د محمد ابن اسحاق رحمة الله عليه د سيرت څخه نقل کوي: چي دنجران وطن هغه وفد مخ دمديني منورې پرخواه راروان سو نوددوی لوی پادري ابوحارثه ابن علقمه پر غاتري باندي سپورسو دده غاتري څه لچري وکړه او وتريدله دده دورور کرز ابن علقمه) دخولې څخه زمونږ دنبي کريم عليه السلام په باره کي يوه بنراه راووتله چي(تعس الابعد) چي هلاک دي وي داليري دعزته څخه دده مقصد د ابعد څخه نبي کريم صلى الله عليه وسلم وو ابو حارثه په جواب کي ورته وويل چي (تعس امک) چي ستا مور دي مړه سي چي تا غوندي زوی يي زيږولی دی کرز په دې خبره باندي حيران پاته سو او دورور ددې بنرا سبب يې وپوښتی ابوحارثه ورور يې ورته وويل چي وروره موږ ښه پوهيږو چي دا محمد صلى الله عليه وسلم هم هغه نبي دی چي دهغه زيری زمونږ په کتابونو کي راغلی دی کرز ورته وويل نو يه ولي نه منو؟ ابو حارثه ورته وويل که موږ پر محمد صلى الله عليه وسلم باندي ايمان راوړو نو دغه باچاهان چي دا زيات مالونه يي راکړي دي موږ ته دا به راڅخه واخلي دغه خبره کرز په زړه کي پټه ساتلې وه چي آخر دده دايمان سبب جوړه سو (تفسيركابلي ج ١ ص ٢٥٢)

www.jamairahmani.org

الْعَيْنِ ۭ وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۭ اِنَّ فِيْ

الْعَيْنِ	وَاللّٰهُ	يُؤَيِّدُ	بِنَصْرِهٖ	مَنْ يَّشَآءُ	اِنَّ	فِيْ
د سترګو سره	او الله	قوت ورکوی	په نصرت مرسته خپله سره	هر چاته چي اراده وکړی	بيشکه!	په

د سترګو سره ، او الله قوت ورکوی په نصرت مرسته خپله سره هر چاته چي اراده وکړی (دنصرت)، بيشکه! په

ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ⑬ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ

ذٰلِكَ	لَعِبْرَةً	لِّاُولِي	الْاَبْصَارِ	زُيِّنَ	لِلنَّاسِ	حُبُّ
دی کښي	خامخا عبرت دی	له پاره د خاوندانو	د بصيرت	ښائسته کړی سوی دی	خلکو ته	محبت (مينه)

دی کښي خامخا عبرت (پند) دی له پاره د خاوندانو د بصيرت. ښائسته کړی سوی دی خلکو ته محبت (مينه)

الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ

الشَّهَوٰتِ	مِنَ النِّسَآءِ	وَالْبَنِيْنَ	وَالْقَنَاطِيْرِ	الْمُقَنْطَرَةِ
مرغوبو خوندورو شيانو	چي ښځي دی	او ځامن دی	او ډير مالونه	چي راټول کړی سوی دی

د مرغوبو خوندورو شيانو چي ښځي دی ، او ځامن دی او ډير مالونه چي راټول کړی سوی دی

مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ

مِنَ	الذَّهَبِ	وَالْفِضَّةِ	وَالْخَيْلِ	الْمُسَوَّمَةِ
له	سرو زرو څخه	او سپينو زرو څخه	او آسونو څخه چي	نښان داره کړی سوی دی

له سرو زرو څخه او سپينو زرو څخه او آسونو څخه چي نښان داره (يا ښائسته) کړی سوی دی .

وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۭ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

وَالْاَنْعَامِ	وَالْحَرْثِ	ذٰلِكَ	مَتَاعُ	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا
او نورچارپايان دی	او کښت دی	دغه	فائده اخيستل	د ژوندون	د دنيا دی

او نور چارپايان دی (لکه اوښ، غوئی، پسه) او کښت دی، دغه (شيړ واړه شهوتونه) فائده اخيستل د ژوندون د دنيا دی

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ⑭ قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ

وَاللّٰهُ	عِنْدَهٗ	حُسْنُ	الْمَاٰبِ	قُلْ	اَؤُنَبِّئُكُمْ	بِخَيْرٍ
او (خاص) الله	سته په نزد د ده	ښه ځای	د ورتللو	ووايه (محمده)	آيا خبر درکړم تاسی ته	په بهتره

او (خاص) الله سته په نزد د ده ښه ځای د ورتللو (چي جنت دی). ووايه (ای محمده دوی ته) آيا خبر درکړم تاسی ته په بهتر

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ

ددنيا محبت خو فطري دی خوبه دي کي ډويدل هلاکت دی: په حديث شريف کي ارشاددی (حبّ الدنياراس کل خطيئة) يعني ددنيا محبت دهرې بدی سر دی دايت په اول کي ددنيا دخو خوندوروشيانونومان اخيستل سوي دي او دا ښوول سوي ده چي دخلګو په نظرو کي داشيان او ددوی محبت ښايسته جوړ سوی دی په دې وجه ډير خلګ يي په دې ظاهري رونق او ښايست باندي خطاء کيږي اوآخرت هيروي دکمو شيانو نومان چي دلته اخيستل سوي دي داشيان په عام طور سره دانسان دخواهشاتود ميني مرکزونه دي چي تر ټولو اول په کښي ښځه او بيا اولاد بيان سوی دی ځکه انسان چي په دنيا کي دڅومره شيانو دحاصلولو په فکر کي پروت وي ددې ټولو اصلي سبب دښځي يا داولاد محبت وي او ددې ضرورت وي تر دې وروسته دسرو اوسپينو زرو حيوانانو او فصلونو ذکر دی چي دابيا په دوهم نمبر کي دانسان دخواهش مرکزونه دي او په دې کي هم په زرګونو حکمتونه دي چي ددې شيانو محبت طبعا دانسان په زړه کي اچول سوی دی.

(معارف القرآن ج ١ پ٣ ص ١٠٠)

www.jamairahmani.org

مِّنْ ذٰلِكُمْ ۭ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ

مِّنْ	ذٰلِكُمْ	لِلَّذِيْنَ	اتَّقَوْا	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	جَنّٰتٌ
له	دغو څخه	له پاره دهغو کسانو	چې متقیان دی	په نزد	د رب د دوی	جنتونه

له دغو (شیړو اړو دنیوی خوندونو) څخه؟ (سته) له پاره دهغو کسانو چې متقیان دی په نزد د رب د دوی جنتونه

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَاَزْوَاجٌ

تَجْرِيْ	مِنْ	تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	وَاَزْوَاجٌ
چې بهیږی	له	لاندی دهغو	ویالی	چې تل به وی	په دی (جنتونو کښی)	او ښځی به وی

چې بهیږی لاندی له (ماڼیو او ونو د) هغوی ویالی چې تل به وی (دوی) په دی (جنتونو کښی) او ښځی به وی

مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝۱۵

مُّطَهَّرَةٌ	وَّرِضْوَانٌ	مِّنَ	اللّٰهِ	وَاللّٰهُ	بَصِيْرٌۢ	بِالْعِبَادِ
پاکی	او رضامندی	له جانبه	دالله	او الله	ښه لیدونکی دی	د بندګانو

پاکی، او رضا مندی (لویه به وی له کریمه ربه دوی ته) له جانبه د الله، او الله ښه لیدونکی دی د بندګانو

اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا

اَلَّذِيْنَ	يَقُوْلُوْنَ	رَبَّنَآ	اِنَّنَآ	اٰمَنَّا	فَاغْفِرْ لَنَا
هغه (متقیان)	چې وائی	ای ربه زموږ	موږ	ایمان راوړی دی	نو مغفرت وکړه موږ ته

هغه (متقیان) چې وائی ای! ربه زموږ موږ ایمان راوړی دی (په ټولو مؤمن به شیانو) نو مغفرت وکړه موږ ته

ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝۱۶ اَلصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰدِقِيْنَ

ذُنُوْبَنَا	وَقِنَا	عَذَابَ	النَّارِ	اَلصّٰبِرِيْنَ	وَالصّٰدِقِيْنَ
د ګناهونو زموږ	او وساته موږ	له عذابه	د اور (دوزخ)	(هسی متقیان چې) صبر کوونکی دی	او صادقان دی

د ګناهونو زموږ او وساته موږ له عذابه د اور (دوزخ) . (هسی متقیان چې) صبر کوونکی دی او صادقان دی

وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْمُنْفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ۝۱۷

وَالْقٰنِتِيْنَ	وَالْمُنْفِقِيْنَ	وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ	بِالْاَسْحَارِ
او په ځای راوړونکی دی د حکم (د الله)	او خیرات کوونکی دی په رضا د (الله)	او مغفرت غوښتونکی دی	په آخر د شپو کښی

او په ځای راوړونکی دی د حکم (د الله) او خیرات کوونکی دی په رضا د (الله) او مغفرت غوښتونکی دی په آخر د شپو کښی

لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ

په دې ایت کې نبي کریم ﷺ ته خطاب دی: چې دې خلګو ته چې ددنیا په فاني او ناقصو نعمتو کې مست سوي دي وفرمایه چې زه تاسي ته تر دې ښه نعمتونو پته درکوم چې دالله جل جلاله سره دي او دهغه څخه د بیریدونکو او فرمان برداره بندګانو لپاره دي هغه نعمتونه شنه باغونه دي او دالله جل جلاله رضامندي او خوشحالي ده په تیر ایت کې ددنیا دشیړو لویو نعمتونو شمیر کړی دی چې خلګ ددوی په محبت کې مست دي یعني ښځې، اولاد، دسرو، او سپینو، کوټې او ښه آسونه، حیوانان، او فصلونه ددې په مقابل کې یې داخرت په نعمتونو کې په ظاهره ددروشیانو بیان وکی اول دجنت دشنو باغو دوهم دپاکو صافو ښځو دریم دخدای جل جلاله رضا مندي په باقي شیانو کې یې داولاد ذکر ځکه ونه کی چې په دنیا کې خو انسان داولاد محبت په دې وجه کوي چې داولاده څخه وده ته په خپلو کارونو کې کومک رسیږي او په دوی سره دده نوم ژوندی پاته کیږي پسله مرګه او په اخرت کې نه دچا دکومک ضرورت سته او نه هم هلته فنا کیدل سته.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۰۳)

www.jamairahmani.org

نصف

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ

شَهِدَ	اللّٰهُ	اَنَّهٗ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ	وَالْمَلٰٓئِكَةُ	وَاُولُوا الْعِلْمِ
شاهدی اداکړې ده	الله	په دې شان چې	نشته مستحق	دعبادت	مګر هم دی دی	او ملائیکو	او خاوندانو د علم

شاهدي اداء کړې ده الله په دې شان چې نشته مستحق د عبادت مګر هم دی دی او ملائیکو او خاوندانو د علم

قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾ اِنَّ

قَآئِمًۢا	بِالْقِسْطِ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	اِنَّ
په دې حال کښې چې ثابت دی	په عدل سره	نشته هیڅ مستحق دعبادت	مګر هم دی دی	ښه غالب	ښه حکمت والا	بیشکه!

په دې حال کښې چې ثابت دی په عدل سره، نشته هیڅ مستحق د عبادت مګر هم دی دی ښه غالب ښه حکمت والا . بیشکه!

الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۗ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

الدِّيْنَ	عِنْدَ	اللّٰهِ	الْاِسْلَامُ	وَمَا اخْتَلَفَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا
دین	په نزد	دالله	د اسلام دی	او اختلاف نه دی کړی	هغو کسانو	چې ورکړی سوی دی دوی ته

دين په نزد د الله دين د اسلام (يعنې محمدی شريعت) دی ، او اختلاف نه دی کړی هغو کسانو چې ورکړی سوی دی دوی ته

الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا

الْكِتٰبَ	اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِ	مَا	جَآءَهُمُ	الْعِلْمُ	بَغْيًۢا
کتاب	مګر	وروسته له	هغه	چې راغی دوی ته	علم	په سبب د ضد چې وو

کتاب (يهوديان او نصرانيان دی) مګر وروسته له هغه چې راغی دوی ته علم په سبب د ضد ، حسد ، کينې چې وو

بَيْنَهُمْ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹﴾

بَيْنَهُمْ	وَمَنْ	يَّكْفُرْ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	سَرِيْعُ	الْحِسَابِ
په مینځ د دوی کښې	او هرڅوک چې	کافر کیږی	په آیتونو	دالله	پس بیشکه!	الله	ډیر زر	حساب والا دی

په مينځ د دوی کښې، او هر څوک چې کافر کيږی (انکار کوی) په آيتونو د الله پس بيشکه! الله ډير زر حساب والا دی

فَاِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ

فَاِنْ	حَآجُّوْكَ	فَقُلْ	اَسْلَمْتُ	وَجْهِيَ	لِلّٰهِ
پس که	بیا جګړه کوی دا (کافران) له تاسره	پس وو ایه (دوی ته)	ما تابع کړی دی	مخ خپل	الله ته

پس که بيا جګړه کوی دا (کافران) له تاسره ، پس وو ايه (محمده) دوی ته ما تابع کړی دی مخ خپل (ځان خپل احکامو د) الله ته

اَنَّـهٗ لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُـوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ..دايت شهدالله فضيلتونه: داده دشهادت ايت يو خاص شان لري دتفسيرشريف امام بغوي رحمة الله عليه نقل کړي دي چې ديهودو دوه لوی عالمان دشام څخه مديني طيبې ته راغلل دمديني کلي چې يې وليدی نوديوبل سره يې په خبرو کې وويل چې داکلی خو داسي دی لکه په تورات کي چي يي پيش ګويي سوی ده چي په دې کي به دآخري زماني نبي اوسيږي تر دې وروسته دوی ته يو چاوويل چې دلته يو بزرګ دی چې خلګ ورته نبي وايي دوی دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول پر د ﷺ چي يې کله نظر ولګيدی هغه ټول صفتونه يې مخ ته راغله چې دوی په تورات کي ليدلي وه دنبي کريم ﷺ په باره کي. چي حاضر سوه نو يه عرض وکی چي تاسي محمد ﷺ ياست نو حضور ﷺ ورته وفرمايل هو زه احمد ﷺ او محمد ؑ يم بيا يي وويل موږ ستا څخه يوه پوښتنه کوو که دي صحيح جواب راکي ايمان راوړو پوښتنه يې داسي وکړه چې دالله ﷻ په کتاب کي تر ټولو لوی شهادت کم يو دی نو په جواب کي دغه ايت نازل سواودوی مسلمانان سول. (معارف القرآن باختصار يسيرج ١پ٣ ص ١٠٧)

www.jamairahmani.org

اِنَّ الَّذِيۡنَ يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ.. دسورت په شروع کي دخبري زيات مخ دنصاراوو طرف ته وو: بيا په لوړ ايت کي په (الذين اوتوالكتاب) سره يهود اونصاردواړه شامل وه اوس په دې اياتونوکي ديهودودځينو خاصو حالاتو بيان دی . په تفسير روح المعاني کي په روايت دابن ابي حاتم ددې ايت په تفسير کي په خپله دنبي كريم ﷺ څخه روايت دی چي بني اسرائيلو دروځلويښت ۴۳ نبيان په يو وخت کي قتل کړه ددوی دنصيحت لپاره يو سل او درواويا ۱۷۳ بزرگان پورته سوه په دغه ورځ يي دهغو هم کارورو کی او په شهادت يي ورسول (بيان القرآن) الله ﷻ فرمايي بيشکه کم خلگ چي کفر کوي دالله ﷻ داياتونو سره لکه يهود چي انجيل او قرآن نه مني او په شهادت رسوي پيغمبران او حال دا چي دغه قتلول ددوی په نزد هم ناحقه دي او قتلوي داسي خلگ چي په افعالو او اخلاقو کي داعتدال تعليم ورکوي نو داسي خلگو ته خبر واوروه ديوه دردناکي سزااو دا هغه خلگ دي چي دذکر سووکارونو په سبب سره ددوی ټول نيک عملونه عبث سوه په دنيا کي او په اخرت کي به هم کومکيان نه لري.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۱۲)

ع ۱۰ / ۲

وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلۡ لِّلَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ وَالۡاُمِّيّٖنَ

وَمَنِ	اتَّبَعَنِ	وَقُلۡ	لِّلَّذِيۡنَ	اُوۡتُوا	الۡكِتٰبَ	وَالۡاُمِّيّٖنَ
او هر هغه چي	متابعت کوی زما	او وو ايه (محمده!)	هغو کسانو ته	چي ورکړی سوی دی دوی ته	کتاب	او ناپوهانو ته

او هر هغه چي متابعت کوی زما او وو ايه (ای محمده!) هغو کسانو ته چي ورکړی سوی دی دوی ته کتاب او ناپوهانو ته

ءَاَسۡلَمۡتُمۡ ؕ فَاِنۡ اَسۡلَمُوۡا فَقَدِ اهۡتَدَوۡا ۚ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا

ءَاَسۡلَمۡتُمۡ	فَاِنۡ	اَسۡلَمُوۡا	فَقَدِ	اهۡتَدَوۡا	وَاِنۡ	تَوَلَّوۡا
آيا اسلام راوړئ تاسی؟	پس كه	اسلام راوړی دوی	پس په تحقيق	چي پيدا کړله دوی سمه صافه لاره	او كه	وګرځيدل دوی

آيا اسلام راوړئ تاسی؟ پس که اسلام راوړ دوی پس په تحقيق چي وموندله دوی سمه صافه لاره او که وګرځيدل دوی (له اسلامه)

فَاِنَّمَا عَلَيۡكَ الۡبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيۡرٌۢ بِالۡعِبَادِ ۞۲۰ اِنَّ

فَاِنَّمَا	عَلَيۡكَ	الۡبَلٰغُ	وَاللّٰهُ	بَصِيۡرٌۢ	بِالۡعِبَادِ	اِنَّ
پس بيشكه!	هم دا خبره ده	چي پرتا تش تبليغ دی	او الله	ښه ليدونکی دی	دبندګانو	بيشكه!

پس بيشكه! هم دا خبره ده چي پرتا تش تبليغ (دهدايت) دی، او الله ښه ليدونكی دی د بندګانو . بيشكه!

الَّذِيۡنَ يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقۡتُلُوۡنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيۡرِ حَقٍّ ۙ

الَّذِيۡنَ	يَكۡفُرُوۡنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَيَقۡتُلُوۡنَ	النَّبِيّٖنَ	بِغَيۡرِ حَقٍّ
هغه كسان چي	كافران كيږی	پر آياتونو	د الله باندی	او وژنی دوی	انبياء	په ناحقه سره

هغه كسان چي كافران كيږی پر آياتونو (احكامو) د الله باندی او وژنی دوی انبياء په ناحقه سره (پخپل اعتقاد كښی هم)

وَّيَقۡتُلُوۡنَ الَّذِيۡنَ يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡقِسۡطِ مِنَ النَّاسِ ۙ

وَّيَقۡتُلُوۡنَ	الَّذِيۡنَ	يَاۡمُرُوۡنَ	بِالۡقِسۡطِ	مِنَ	النَّاسِ
او وژنی	هغه كسان	چي حكم كوی هغوی	په عدل (انصاف) سره	له	خلګو څخه

او وژنی هغه كسان چي حكم كوی هغوی په عدل (او انصاف) سره له خلګو څخه

فَبَشِّرۡهُمۡ بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۞۲۱ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ

فَبَشِّرۡهُمۡ	بِعَذَابٍ	اَلِيۡمٍ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيۡنَ
پس زيری وكړه دوی ته	په عذاب	دردناك سره	دا هم	هغه كسان دی

پس زيری وكړه دوی ته په عذاب دردناك سره. دا هم غه كسان دی

www.jamairahmani.org

حَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ فِي الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ ۫ وَمَا لَهُمۡ

لَهُمۡ	وَمَا	وَالۡاٰخِرَةِ	الدُّنۡيَا	فِي	اَعۡمَالُهُمۡ	حَبِطَتۡ
دوی ته	او نشته	او (هم) په اخرت کښې	دنیا کښې	په	(نیک) عملونه ددوی	چې باطل سوی دی

چې باطل (ضائع) سوی دی (نیک) عملونه دوی په دنیا کښې او (هم) په آخرت کښې او نشته دوی ته

مِّنۡ نّٰصِرِيۡنَ ﴿٢٢﴾ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ اُوۡتُوۡا نَصِيۡبًا مِّنَ الۡكِتٰبِ

الۡكِتٰبِ	مِّنَ	نَصِيۡبًا	اُوۡتُوۡا	اِلَى الَّذِيۡنَ	اَلَمۡ تَرَ	نّٰصِرِيۡنَ	مِّنۡ
کتابو څخه	له	څه برخه	چې ورکړې سوې وه دوی ته	هغو کسانو ته	آیا نه ګوری ته	مدد ګاران	هیڅ

هیڅ مدد ګاران (دعذاب په دفعه) آیا نه ګوری ته هغو کسانو ته چې ورکړې سوې وه دوی ته څه برخه له کتابه (توریت) څخه.

يُدۡعَوۡنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ

ثُمَّ	بَيۡنَهُمۡ	لِيَحۡكُمَ	اللّٰهِ	كِتٰبِ	اِلٰى	يُدۡعَوۡنَ
بیا	په مینځ د دوی کښې	له پاره د دې چې حکم وکړی	د الله ته	دکتاب	طرف	حال داچې وبالہ سی دوی

حال داچې وبالہ سی دوی طرف د کتاب د الله ته له پاره د دې چې حکم وکړی (دا کتاب) په مینځ د دوی کښې بیا

يَتَوَلّٰى فَرِيۡقٌ مِّنۡهُمۡ وَهُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿٢٣﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ

بِاَنَّهُمۡ	ذٰلِكَ	مُّعۡرِضُوۡنَ	وَهُمۡ	مِّنۡهُمۡ	فَرِيۡقٌ	يَتَوَلّٰى
په سبب د دې دی چې بیشکه! دوی	دغه	تل څنګ کوونکی دی	حال داچې دوی	له دوی څخه	یوه ډله	مخ ګرځوی

مخ ګرځوی یوه ډله له دوی څخه حال داچې دوی تل څنګ کوونکی دی . دغه (ګرځیدل د دوی) په سبب د دې دی چې بیشکه! دوی

قَالُوۡا لَنۡ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّاۤ اَيَّامًا مَّعۡدُوۡدٰتٍ ۪

مَّعۡدُوۡدٰتٍ	اَيَّامًا	اِلَّاۤ	النَّارُ	لَنۡ تَمَسَّنَا	قَالُوۡا
شمیرلی سوی	یو څو ورځی	مګر	اور (د دوزخ)	له سره به ونه رسیږی موږ ته	وائی

(یهودان) وائی له سره به ونه رسیږی موږ ته اور (د دوزخ) مګر یو څو ورځی شمیرلی سوی (لږی)

وَغَرَّهُمۡ فِيۡ دِيۡنِهِمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿٢٤﴾

يَفۡتَرُوۡنَ	كَانُوۡا	مَّا	دِيۡنِهِمۡ	فِيۡ	وَغَرَّهُمۡ
چې دروغ به ئې جوړول	چې وو دوی	هغه شی	دین خپل کښې	په	او غره کړی دی دوی

او غره کړی (تیر ایستلی) دی دوی په دین خپل کښې هغه شی چې وو دوی چې دروغ به ئې جوړول (په دین کښې).

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ اُوۡتُوۡا نَصِيۡبًا... دا یاتونو لنډ

تفسیر: الله ﷻ فرمایي اي محمّد ﷺ ایا تا داسي خلګ ونه لیدل چاته چي داسماني کتاب یعني دتورات یوه حصه پوره ورکول سویده چي که دوی هدایت طلب کولای نو دغه ورته کافي وو او دغه د الله ﷻ دکتاب طرف ته دوی په دې غرض سره رابلل کیږي چي هغه ددوی په مینځ کي دمذهبي اختلاف فیصله وکي بیاهم په دوی کي ځیني خلګ مخ اړوي بې مخي کوي او دا بې مخي په دې سبب سره چي دغه خلګ داسي وایي او داددوی عقیده ده چي موږ ته به یوازي دګوتو په شمیر لږ ورځي ددوزخ اور ور سیږي بیا به وبخښل سواو حال دا چي دوی غولولي دي ددوی جوړو کړو خبرو او امیدونو هغه داسي چي دوی دا خبره کوي چي موږ دانبیاوو اولاده یو او په دې خانداني بزرګۍ سره به موږ خلاص سو اوددې په نتیجه کي دوی دالله ﷻ دکتاب څخه بې پرواهي شروع کړه نو ددغه حال اوکار او وینادکفرپه سبب به ددوی څنګه بد حال وي دقیامت په ورځ ؟ (اعاذنا الله من حالهم ومآلهم)
(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١١٢)

www.jamairahmani.org

فَكَيۡفَ اِذَا جَمَعۡنٰهُمۡ لِيَوۡمٍ لَّا رَيۡبَ فِيۡهِ

فَكَيۡفَ	اِذَا	جَمَعۡنٰهُمۡ	لِيَوۡمٍ	لَّا رَيۡبَ	فِيۡهِ
نو څه حال به وی	هغه وخت	کله چې یو ځای کړو موږ دوی	له پاره د ورځی چې	نشته هیڅ شک	په (راتلو د) هغی کښی

نو څه حال به وی هغه وخت کله چې یو ځای کړو موږ دوی له پاره د ورځی چې نشته هیڅ شک په (راتلو د) هغی کښی

وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٍ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ

وَوُفِّيَتۡ	كُلُّ	نَفۡسٍ	مَّا	كَسَبَتۡ	وَهُمۡ	لَا يُظۡلَمُوۡنَ	قُلِ
او پوره به ورکړه سی	هر	نفس ته (جزا)	د هغه عمل	چې کړی ئی وی	حال دا چې په دوی به	ظلم ونه کړی سی	ووایه (محمده!)

او پوره به ورکړه سی هر نفس ته جزا د هغه عمل چې کړی ئی وی، حال دا چې په دوی به ظلم ونه کړی سی. ووایه (محمده!)

اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الۡمُلۡكِ تُؤۡتِى الۡمُلۡكَ مَنۡ تَشَآءُ وَتَنۡزِعُ الۡمُلۡكَ

اللّٰهُمَّ	مٰلِكَ	الۡمُلۡكِ	تُؤۡتِى	الۡمُلۡكَ	مَنۡ تَشَآءُ	وَتَنۡزِعُ	الۡمُلۡكَ
یا الله	(ای) مالکه	د سلطنت	ورکوی ته	سلطنت	هر هغه چا ته چې اراده وکړې	او بیرته اخلی	سلطنت

یا الله (ای) مالکه د سلطنت ورکوی ته سلطنت هر هغه چا ته چې اراده وکړې (یا الله د ورکولو ئی) او بیرته اخلی سلطنت

مِمَّنۡ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنۡ تَشَآءُ وَتُذِلُّ

مِمَّنۡ تَشَآءُ	وَتُعِزُّ	مَنۡ تَشَآءُ	وَتُذِلُّ
له هر هغه چا څخه چې اراده وکړې	او عزت ورکوی	هر هغه چا ته چې اراده وکړې	او خوار ذلیل کوی

له هر هغه چا څخه چې اراده وکړې (دبیرته اخیستو ئی) او عزت ورکوی هر هغه چا ته چې اراده وکړې، او خوار ذلیل کوی

مَنۡ تَشَآءُ بِيَدِكَ الۡخَيۡرُ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿٢٦﴾

مَنۡ تَشَآءُ	بِيَدِكَ	الۡخَيۡرُ	اِنَّكَ	عَلٰى	كُلِّ	شَىۡءٍ	قَدِيۡرٌ
هر هغه څوک چې اراده وکړې	په لاس ستا	خیر دی	بیشکه! ته	پر	هر	شی باندی	ښه قادر ئی

هر هغه څوک چې اراده وکړې (دذلت ئی) په لاس (دقدرت) ستا (هر راز) خیر دی، بیشکه! ته پر هر شی باندی ښه قادر ئی.

تُوۡلِجُ الَّيۡلَ فِى النَّهَارِ وَتُوۡلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيۡلِ وَتُخۡرِجُ

تُوۡلِجُ	الَّيۡلَ	فِى	النَّهَارِ	وَتُوۡلِجُ	النَّهَارَ	فِى الَّيۡلِ	وَتُخۡرِجُ
ننه باسی	شپه	په	ورځ کښی	او ننه باسی	ورځ	په شپه کښی	وباسی

ننه باسی (ته یا الله) شپه په ورځ کښی او ننه باسی (ته یا الله) ورځ په شپه کښی وباسی (ته یا الله!)

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الۡمُلۡكِ
دبدر او احد په غزاګانو
کې دمکې مشرکینو پر له
پسې ماتې وخوړې: او
دمسلمانانو خلاف په هر
کوشش کې ناکامه سول او
ددې سره سره مسلمانانو
پرله پسې ترقې کوله
او ورځ په ورځ اسلام
خپریدی دغه خبرې قریش
دمکې او نور ټول غیر
مسلمانان په یوې
پریشانی او حیرانی کې
اچولي وه چې په دې باندې
دوی ده خپل هر څه
قربانولو ته تیار وه چې
ددې نتیجه دیو عام
سازش په صورت کې
داسې ښکاره سوه چې
دعربو مشرکین او ټول
یهود او نصارا مسلمانانو
ته یوه ډله سوه او ټول
یوځای سوه پر مدینې
منورې باندې دیو وار
حملې کولو او دیو فیصله
کوونکې جنګ قصدیه
وکی او ددوی دا بې پناه
لښکر اسلام او مسلمانان
ددنیا څخه دورکولو په
اراده پر مدینه راوختی
دې ته په قرآن کریم کې
غزوه احزاب او د تاریخ
په اصطلاح کې ورته
غزوه خندق وایې ځکه
چې په دې کې نبي
کریم ﷺ د اصحابو رضي الله عنهم په
مشوره سره ددښمن په
لاره کې دمدینې منورې
څخه بهر دیو خندق
کیندلو اراده کړې وه چې
خندق دې وکښل سي.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۱۴)

www.jamairahmani.org

الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

الْحَيَّ	مِنَ	الْمَيِّتِ	وَتُخْرِجُ	الْمَيِّتَ	مِنَ	الْحَيِّ
ژوندی	له	مړی شخه	وباسې	مړی	له	ژوندی شخه

ژوندی له مړی شخه(لکه حیوان له نطفی شخه)، وباسې (ته یا الله!) مړی له ژوندی شخه (لکه نطفه له حیوان، هګی له مرغه)

وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾ لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ

وَتَرْزُقُ	مَنْ تَشَآءُ	بِغَيْرِ	حِسَابٍ	لَا يَتَّخِذِ	الْمُؤْمِنُوْنَ
او روزی ورکوی	هرهغه چاته چې اراده وفرمائی	بی	حسابه	نه دی نیسی	مؤمنان

او روزی ورکوی (ته یا الله) هر هغه چاته چې اراده وفرمائی بی حسابه (دروزی ورکولو ئی ډیره زیاته). نه دی نیسی مؤمنان

الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ

الْكٰفِرِيْنَ	اَوْلِيَآءَ	مِنْ دُوْنِ	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَمَنْ	يَّفْعَلْ
کافران	دوستان	بی له	مؤمنانو	او هرڅوک چې	وکړی

کافران دوستان بی له مؤمنانو (مؤمنان دی یو له بله سره دوستی وکړی) او هرڅوک چې وکړی (کار یعنی دوستی له کفارو سره)

ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ

ذٰلِكَ	فَلَيْسَ	مِنَ	اللّٰهِ	فِيْ شَيْءٍ	اِلَّآ	اَنْ	تَتَّقُوْا	مِنْهُمْ
دا (کار)	نو نه دی	له	الله سره	په هیڅ شی کښی	مګر	که	ځان ساتئ تاسی	له دوی شخه

دا نو نه دی (د ده تعلق) له (دین د الله) الله سره په هیڅ شی کښی مګر که ځان ساتئ تاسی له دوی شخه

تُقٰىةً ۭ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨﴾

تُقٰىةً	وَيُحَذِّرُكُمُ	اللّٰهُ	نَفْسَهٗ	وَاِلَى	اللّٰهِ	الْمَصِيْرُ
په ځان ساتنه سره	او بیروی تاسی	الله له	نفس خپل شخه	او (خاص) طرف	د الله ته دی	ورتله

په ځان ساتنه سره ، او بیروی تاسی الله له (عذابه د) نفس خپل شخه، او (خاص) طرف د الله ته دی ورتله (ستاسی او د ټولو)

قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ

قُلْ	اِنْ	تُخْفُوْا	مَا فِيْ	صُدُوْرِكُمْ	اَوْ تُبْدُوْهُ	يَعْلَمْهُ
ووایه (ای! محمده)	که	پټ کړئ تاسی	هغه شی	چې په سینو ستاسی کښی دی	یا ښکاره کړئ تاسی هغه	معلوم دی هغه

ووایه (محمده!) که پټ کړئ تاسی هغه شی چې په سینو (زړونو) ستاسی کښی دی یا ښکاره کړئ تاسی هغه معلوم دی هغه

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ.. دکفارو سره دمسلمانانو تعلقات څنګه په کاردي؟: خبره داده چې ددووسړویا دوو جماعتونو دیو بل سره دتعلقاتو مختلفي درجې وي دتعلق یوه درجه دزړه خپلولي ده یا دزړه مینه او محبت دی داسي تعلق یوازي دمومنانو سره خاص دی دغیر مومن سره دمومن دا تعلق په هیڅ حال کي هم قطعا جایز نه دی دوهمه درجه د مواسات (غم خوردګي)ده چي معنی یي ده همدردي او خیرخواهي او نفع رسول دا بغیر دحربي کافرانو څخه چي د مسلمانانو سره یي جنګ وي دهغو سره نه درواه دباقي ټولو غیرمسلمو سره جایز ده دسورت ممتحنه په اتم ایت کي ددې تفصیل موجود دی هلته دي وکتل سي په هغه کي الله ﷻ فرمایي (چي الله تاسي نه منع کوي دهغوی څخه چي جنګ نه کوي ستاسي سره په دین کي او نه یاست دوی ایستلي تاسي ستاسي دکورونو څخه چي ددوی سره احسان اودانصاف سلوک وکړی) دریمه او ځلورمه درجه یي هم سته چي دځای دکمي په خاطر یي نه سو ذکر کولای رجوع وکړی معارف القرآن ته.
(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۲۰)

www.jamairahmani.org

اللّٰهُ ۗ وَیَعۡلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ؕ وَاللّٰهُ

اللّٰهُ	وَیَعۡلَمُ	مَا	فِی	السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِی	الۡاَرۡضِ ؕ	وَاللّٰهُ
(هم) پاک الله ته	او معلوم دی	هغه شیان	په	آسمانونو کښې دی	او هغه شیان چې	په	مځکه کښې دی	نو الله

(هم) پاک الله ته، او معلوم دی (الله ته ټول) هغه شیان چې په آسمانونو کښې دی او هغه شیونه چې په مځکه کښې دی نو الله

عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۲۹﴾ یَوۡمَ تَجِدُ کُلُّ نَفۡسٍ

عَلٰی	کُلِّ	شَیۡءٍ	قَدِیۡرٌ	یَوۡمَ	تَجِدُ	کُلُّ	نَفۡسٍ
پر	هر	شی باندی (چې اراده وکړی)	ښه قادر دی	(او ییریږئ له) هغې ورځې چې	پیدا به کړی	هر	نفس (پکښې)

پر هر شی باندی (چې اراده) وکړی ښه قادر دی. (او ییریږئ له) هغې ورځې چې مومی به هر نفس (پکښې)

مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَیۡرٍ مُّحۡضَرًا ۖۚ وَّمَا عَمِلَتۡ مِنۡ سُوۡٓءٍ ۚۛ تَوَدُّ

مَّا عَمِلَتۡ	مِنۡ	خَیۡرٍ	مُّحۡضَرًا	وَّمَا	عَمِلَتۡ	مِنۡ سُوۡٓءٍ	تَوَدُّ
هر هغه څه چې کړی وی	له	خیره	حاضر کړی سوی	او هر هغه څه چې	کړی وی ده	له بدی څخه	آرزو به کوی دا (نفس) د دی

هر هغه څه چې کړی وی له خیره حاضر کړی سوی او هر هغه څه چې کړی وی ده له بدی څخه آرزو به کوی دا (نفس) د دی

لَوۡ اَنَّ بَیۡنَهَا وَبَیۡنَهٗۤ اَمَدًۢا بَعِیۡدًا ؕ وَیُحَذِّرُکُمُ اللّٰهُ

لَوۡ	اَنَّ	بَیۡنَهَا	وَبَیۡنَهٗۤ	اَمَدًۢا	بَعِیۡدًا	وَیُحَذِّرُکُمُ	اللّٰهُ
کاشکی چې	بیشکه!	په مینځ د دی	او په مینځ د دغه	کښې مسافه وی	لری	او بیروی تاسی	الله له (عذابه د)

چې کاشکی په مینځ د دی (نفس کښې) او په مینځ د دغه (بد عمل) کښې مسافه وی لری، او بیروی تاسی الله له (عذابه د)

نَفۡسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوۡفٌۢ بِالۡعِبَادِ ﴿۳۰﴾ قُلۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ

نَفۡسَهٗ ؕ	وَاللّٰهُ	رَءُوۡفٌۢ	بِالۡعِبَادِ	قُلۡ	اِنۡ	کُنۡتُمۡ
نفس خپل څخه	او الله	ډیر مهربان دی	پر بندګانو (خپلو)	ووایه (ای! محمده!)	که چیری	یئ تاسی

نفس خپل څخه او الله ډیر مهربان دی پر بندګانو (خپلو). ووایه (ای! محمده دوی ته) که چیری یئ تاسی

تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ یُحۡبِبۡکُمُ اللّٰهُ وَیَغۡفِرۡ لَکُمۡ

تُحِبُّوۡنَ	اللّٰهَ	فَاتَّبِعُوۡنِیۡ	یُحۡبِبۡکُمُ	اللّٰهُ	وَ	یَغۡفِرۡ لَکُمۡ
چې محبت کوئ	له الله سره	پس متابعت وکړئ زما	چې محبت به وکړی	الله له تاسی سره	او	مغفرت به وکړی تاسی ته

چې محبت کوئ له الله سره پس متابعت وکړئ زما چې محبت به وکړی الله له تاسی سره او مغفرت به وکړی تاسی ته

قُلۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ... محبت یو پټ شی دی: دچا سره دچا محبت سته او که نسته کم دی که زیات دی ددې هیڅ پیمانه بغیر ددي څخه نسته چې ده حالاتو او معاملو څخه اندازه واخیستل سي او کمي نښانې او علامې چې دي په هغه سره دی پیژندل کیږي. داخلګ کم چې دالله ﷻ سره دمحبت دعوی کوونکي اودمیني ارزومند وه الله ﷻ دوی ته په دې ایتونو کې دخپل محبت اندازه وښووله یعني که په دنیا کي نن یو سړی دخپل حقیقي مالک دمحبت دعوی کوونکی وي نو ددکره (ښه) او کوټه (خراب) به دمحمد ﷺ په تابعداری سره معلومیږي کم سړی چي ثومره په خپله دعوی کي رښتینی وي دومره به دی دنبي کریم ﷺ په تابعداری کي زیات اهتمام کوونکی وي او دهغه راوړې رڼا به دخپلي لاري شمع جوړوي او ثومره چي په خپله دعوی کي کمزوری وي دومره به دهغه په تابعداری کي سست او کمزوری لیدل کیږي الله ﷻ دي موږ او تاسي ته دنبي کریم ﷺ دسنت طریقو کامله اتباع رانصیب کړي.

(معارف القرآن ج۱ پ۳ ص ۱۲۵)

www.jamairahmani.org

ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۱﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ

ذُنُوْبَكُمْ	وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	قُلْ	اَطِيْعُوا	اللّٰهَ
گناهونه ستاسي	او الله	مغفرت كونكى دى	ډير رحم والا دى	ووايه (محمده!)	چي اطاعت كوئ تاسي	د الله

گناهونه د تاسي، او الله مغفرت كونكى دى (دخطياتو) ډير رحم والا. ووايه (اى محمده) چي اطاعت كوئ تاسي د الله

وَالرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾

وَالرَّسُوْلَ	فَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	الْكٰفِرِيْنَ
او د رسول	پس كه	وګرځيدل دوى	پس بيشكه!	الله	دوستي نه كوى	له كافرانو سره

او د رسول (د الله چي محمد دى) پس كه وګرځيدل دوى (له اطاعت څخه) پس بيشكه ! الله دوستي نه كوى له كافرانو سره

اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰۤى اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرٰنَ

اِنَّ	اللّٰهَ	اصْطَفٰۤى	اٰدَمَ	وَنُوْحًا	وَّاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ	وَاٰلَ عِمْرٰنَ
بيشكه!	الله	غوره كړى دى	آدم	او نوح	او اولاده د ابراهيم	او اولاده د عمران

بيشكه! چي الله غوره كړى دى آدم او نوح او اولاده د ابراهيم (او ابراهيم) او اولاده د عمران (اوعمران)

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۳﴾ ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ؕ وَاللّٰهُ

عَلَى	الْعٰلَمِيْنَ	ذُرِّيَّةً	بَعْضُهَا	مِنْ	بَعْضٍ	وَاللّٰهُ
پر	ټولو خلكو	حال دا چي اولاده ۆ	ځينې د دوى	له	ځينو نورو څخه	او الله

پر ټولو خلكو (دزمانې خپلې په رسالت سره) حال دا چي اولاده ۆ ځينې د دوى له ځينو نورو څخه، او الله

سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾ اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّىْ

سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ	اِذْ	قَالَتِ	امْرَاَتُ	عِمْرٰنَ	رَبِّ	اِنِّىْ
ښه اوريدونكى دى	ښه عالم	هغه وخت چي	وويل (حنى)	ښځى	د عمران	چي اى ربه زما	بيشكه ما

ښه اوريدونكى دى ښه عالم. (ياد كړه محمده!) هغه وخت چي وويل (حنى) ښځى دعمران چي اى ربه زما بيشكه ما

نَذَرْتُ لَكَ مَا فِىْ بَطْنِىْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّىْ ۚ

نَذَرْتُ	لَكَ	مَا فِىْ	بَطْنِىْ	مُحَرَّرًا	فَتَقَبَّلْ	مِنِّىْ
نذر كړى مى دى	تا ته	هغه چي په	ښ زما كښې دى	حا دا چي هغه به آزاد وى	پس قبوله كړه ته	(اى ربه) له ما څخه

نذر كړى مى دى تاته هغه شي چي په ګيډه زما كښې دى، حال دا چي هغه به آزاد وى پس قبوله كړه ته (اى ربه) له ماڅخه

اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰۤى اٰدَمَ وَنُوْحًا

دتيرو پيغمبرانوذكر لپاره دتسلى دنبي كريم ﷺ

كموخلګو چي دنبي كريم ﷺ دفرمانبردارى څخه په دې وجه منع كوله چي ددوى دده په رسالت او نبوت كي شك وو ددوى دهدايت لپاره په دې ايتونوكي مثالونه دتيرو پيغمبرانو بيان سوه چي داشكونه وربانديٍ ليري سي ددې تيرو پيغمبرانو په ذكر كي دحضرت آدم عليه السلام دحضرت نوح عليه السلام آل ابراهيم عليه السلام او آل عمران ذكر په لنډه توګه سره وسوتر دې وروسته په اصل كي ذكر دحضرت عيسى عليه السلام كول دي تر دې مخكي دهغه دانا او دمور هم په تفصيل سره ذكروسو خو دحضرت عيسى عليه السلام په ذكر كي تفصيل زيات سوى دى چي ددې بيان به په مسئله دژوند دعيسى عليه السلام كي راسي لنډه داده چي دامت محمديه په اخره زمانه كي دحضرت مسيح عليه السلام سره كار كول دي اودهغه راكښته كيدل دي داسمانه څخه په دې وجه دهغه دپيژندلو او نښانو بيانولو اهتمام په قرآن كريم كښي ترنورو ټولو انبياوو زيات سوى دى او دغه ذكر دانبياوو دنبي كريم ﷺ دتسلى لپاره دى.

(معارف القرآن ج۱ پ۳ ص ۱۲۵)

www.jamairahmani.org

اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ

اِنَّكَ	اَنْتَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ	فَلَمَّا	وَضَعَتْهَا	قَالَتْ	رَبِّ
بيشكه ته چې ئې	هم دا ته ئې	ښه اوريدونكى	ښه عالم	پس كله چې	وئې زيږاوه هغه	نو وويل	چې اى ربه زما

بيشكه ته چې ئې هم دا ته ئې ښه اوريدونكى ښه عالم. پس كله چې وئې زيږاوه هغه (نذر) نو وويل (حنى) چې اى ربه زما

اِنِّيْ وَضَعْتُهَآ اُنْثٰى ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ؕ

اِنِّيْ	وَضَعْتُهَآ	اُنْثٰى ؕ	وَاللّٰهُ	اَعْلَمُ	بِمَا	وَضَعَتْ
بيشكه! زه چې يم	ومې زيږاوه هغه	حال دا چې ښځه ده	او الله	ښه پوه دى	په هغه شى	چې زيږولى ؤ دى

بيشكه! زه چې يم ومې زيږاوه هغه (نذر) حال دا چې ښځه (جينئ) ده، او الله ښه پوه دى په هغه شى چې زيږولى ؤ دى

وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى ۚ وَاِنِّيْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَاِنِّيْٓ

وَلَيْسَ	الذَّكَرُ	كَالْاُنْثٰى ۚ	وَاِنِّيْ	سَمَّيْتُهَا	مَرْيَمَ	وَاِنِّيْٓ
او نه دى	نارينه	په شان د دى ښځى	او بيشكه! ما	نوم كيښود د دى	مريمه	او بيشكه زه

او نه دى نارينه په شان د دى ښځى (جينئ)، او بيشكه! ما نوم كيښود د دى مريمه او بيشكه زه

اُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿٣٦﴾

اُعِيْذُهَا	بِكَ	وَذُرِّيَّتَهَا	مِنَ	الشَّيْطٰنِ	الرَّجِيْمِ
پناه وركوم دى ته	په تا پورى	او اولاد د دى	له	شيطان	مردود (رټلى سوى) شخه

پناه وركوم دى ته په تا پورى او اولاد د دى (مريمى ته) له شيطان مردود (رټلى سوى) ځخه.

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ

فَتَقَبَّلَهَا	رَبُّهَا	بِقَبُوْلٍ	حَسَنٍ	وَّاَنْۢبَتَهَا	نَبَاتًا	حَسَنًا
پس قبوله كړه دا (مريمه)	رب د دى	په قبلولو	ښو سره	او زرغونه ئې كړه هغه	په زرغونولو	ښو سره

پس قبوله كړه دا (مريمه) رب د دى (د نارينه په ځاى) په قبلولو ښو سره او زرغونه (لويه) ئې كړه په زرغونولو (لويولو) ښو سره

وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۚؕ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ

وَّكَفَّلَهَا	زَكَرِيَّا	كُلَّمَا	دَخَلَ	عَلَيْهَا	زَكَرِيَّا	الْمِحْرَابَ
او (الله) كفيل وګرځاوه دى لره	زكريا	هر كله به چې	ننوت	دى ته	زكريا	په محراب كښې

او (الله) كفيل وګرځاوه دى لره زكريا عليه السلام هر كله به چې ننوت دى ته زكريا په محراب (په عبادت خانه) كښې

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ.. د تيرو پيغمبرانو په شريعت كې يوه خاص طريقه د عبادت دا هم وه:
چې په خپل اولاد كې به يې يو كوچنى د الله جل جلاله لپاره خاص كړى چې دده شخه به د دنيا څه خدمت نه اخلي د حضرت مريمي بي بي مور هم ددې قاعدې مطابق د خپل حمل متعلق دا منته ومنل چې دا به خاص د بيت المقدس خدمت كوي او د هغه لپاره به يې ساتم د دنيا په څه كار كې به يې نه لګوم ليكن كله چې د حمل څخه انجلۍ پيدا سوه نو په دې خيال سره يې افسوس وكړى چې انجلۍ خو دا كار نسي كولاى ليكن الله جل جلاله ددې د اخلاص د بركته هم هغه انجلۍ قبوله كړه او دا يې د دنيا تر ټولو ښځو يو لوړ شان والا كړه. ددې څخه دا خبره هم معلومه سوه چې مورته د كوچني د تعليم او تربيت يو قسم ولايت (تصرف) حاصل دى ځكه چې كه مور ته پر كوچني ولايت حاصل نه واى نو د حضرت مريي بي بي نذر به الله جل جلاله نه منى د غه شان دا هم ثابته سوه چې مورته دا حق هم حاصل دى چې د خپل كوچني نوم په خپله مقرر او كښيږدي
(احكام القرآن للجصّاص)
(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١٢٧)

www.jamairahmani.org

وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ؕ

وَجَدَ	عِنْدَهَا	رِزْقًا	قَالَ	يٰمَرْيَمُ	اَنّٰى	لَكِ	هٰذَا ؕ
نو پیدا به ئې کړه	له دی (مریمی) سره	څه روزی	وویل (زکریا)	ای مریمی	له کومه (راغلی) ده	تا ته	دا روزی؟

نو موندله به ئې له دی (مریمی) سره څه روزی، وویل (زکریا) ای مریمی له کومه (راغلی) ده تا ته دا روزی؟

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ

قَالَتْ	هُوَ	مِنْ	عِنْدِ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَرْزُقُ	مَنْ يَّشَآءُ
وویل (مریمی)	چې دا (روزی)	له	طرفه د	الله ده	بیشکه! چې	الله	روزی ورکوی	هغه چاته چې اراده وفرمائی

وویل (مریمی) چې دا (روزی) له طرفه د الله ده بیشکه چې الله روزی ورکوی هغه چاته چې اراده وفرمائی

بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾ هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ

بِغَيْرِ	حِسَابٍ	هُنَالِكَ	دَعَا	زَكَرِيَّا	رَبَّهٗ	قَالَ	رَبِّ
بی	حسابه	په دغه ځای کښی	دعا وکړه	زکریا	له ربه خپله	وویل	ای ربه

بی حسابه. په دغه ځای (یا وخت) کښی دعا (غوښتنه) وکړه زکریا له ربه خپله، وویل (زکریا) ای ربه

هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۸﴾

هَبْ	لِيْ	مِنْ	لَّدُنْكَ	ذُرِّيَّةً	طَيِّبَةً	اِنَّكَ	سَمِيْعُ	الدُّعَآءِ
راوبخښه!	ماته	له	نزده خپله	اولاده	ښه پاکیزه	بیشکه! ته	ښه اوریدونکی	د دعائی

راوبخښه! (راکړه) ماته له نزده خپله اولاد ښه پاکیزه! بیشکه! ته ښه اوریدونکی (قبلوونکی) د دعائی.

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ

فَنَادَتْهُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	وَهُوَ	قَآئِمٌ	يُّصَلِّيْ	فِي	الْمِحْرَابِ
نو ورناری کړی ده ده ته	ملائیکو	حال دا چې دی	ولاړ ؤ	لمونځ ئې کاوه	په	محراب کښی

نو ورناری کړی ده ته (زکریا ته) ملائیکو (جبرئیل) حال دا چې دی ولاړ ؤ لمونځ ئې کاوه په محراب (عبادت خانه) کښی چې

اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًا ۢ بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

اَنَّ	اللّٰهَ	يُبَشِّرُكَ	بِيَحْيٰى	مُصَدِّقًا	بِكَلِمَةٍ	مِّنَ	اللّٰهِ
چې بیشکه!	الله	زیری کوی په تا	د یحیی	حال دا چې تصدیق کوونکی به وی	په یوه کلمه سره	چې له (طرفه د)	الله ده

بیشکه! الله زیری کوی په تا د یحیی (ستا زوی به وی)، حال دا چې تصدیق کوونکی به وی په یوه کلمه سره چې له (طرفه د) الله ده

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ

د حضرت زکریا علیه السلام تردې وخته پورې اولاد نه وو:

او زمانه یې د سپین ږیرتوب راغلې وه چې عادتا په دې وخت کې اولاد نه سي پیدا کیدای که څه هم د الله جل جلاله پر قدرت باندې ددوی پوره عقیده وه چې هغه ذات په دې زوړوالي کې هم اولاد ورکولای سي لیکن ده د الله جل جلاله دداسي عادت په ډاګه ننداره نه وه کړې چې هغه بې موقعې او بې موسمه شیان ورکوي په دې وجه ده څخه د اولاد لپاره د دعا کولو جرات نه ووسوی (یعني زړه یې نه وو) لیکن په دې وخت کې چې کله ده ولیده چې الله جل جلاله حضرت مریمې ته بې موسمه میوې ورکړې نو اوس دی هم په سوال کولو باندې زړه ورسو چې کم قادر مطلق ذات بې موسمه میوې ورکولای سي هغه ذات بې موقعې اولاد هم ورکولای سي او داسې دعا یې وکړه (ای ربه زما ماته د خپل طرفه څخه پاکیزه اولاد راکړې بیشکه ته ډیر ښه اوریدونکی ذات یې او ددې څخه دا هم معلومه سوه چې د نیک اولاد دعا د پیغمبرانو او نیکانو سنت دی.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۲۸)

www.jamairahmani.org

وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا وَّنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝۳۹ قَالَ رَبِّ

وَسَيِّدًا	وَّحَصُوْرًا	وَّنَبِيًّا	مِّنَ	الصّٰلِحِيْنَ	قَالَ	رَبِّ
حال دا چې سردار به وی	او ډیر منع راوړونکی به وی	او نبی به وی	له	صالحانو څخه	وویل (زکریا)	ای ربه زما

حال دا چې سردار به وی (دخپل قوم په علم) او ډیر منع راوړونکی به وی او نبی به وی له صالحانو څخه. وویل ای ربه زما

اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ

اَنّٰى	يَكُوْنُ	لِيْ	غُلٰمٌ	وَّقَدْ	بَلَغَنِيَ	الْكِبَرُ	وَامْرَاَتِيْ
څنګه به	پیدا کیږی	مالره	هلک	حا دا چې په تحقیق	رسیدلی دی ماته	زوړوالی	او ښځه می (هم)

څنګه به پیدا کیږی ما لره هلک؟ حال دا چې په تحقیق رسیدلی دی ماته زوړوالی او ښځه می (هم)

عَاقِرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۝۴۰ قَالَ رَبِّ

عَاقِرٌ	قَالَ	كَذٰلِكَ	اللّٰهُ	يَفْعَلُ	مَا يَشَآءُ	قَالَ	رَبِّ
شنډه ده	وویل (جبرئیل)	همداسی	الله	کوی	هغه کار چې اراده وفرمائی	وویل (زکریا)	ای ربه زما

شنډه ده، وویل (جبرئیل) همداسی الله کوی هغه کار چې اراده وفرمائی (دکولو ئی) . وویل (زکریا) ای ربه زما

اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ

اجْعَلْ	لِّيْٓ	اٰيَةً	قَالَ	اٰيَتُكَ	اَلَّا	تُكَلِّمَ	النَّاسَ	ثَلٰثَةَ
وګرځوه	مالره	څه علامه	نو وویل (جبرئیل)	علامه ستا	دا ده چې	خبری به نه کوی ته	له خلکو سره	دری

وګرځوه مالره څه علامه نو وویل (جبرئیل) علامه ستا دا ده چې خبری به نه کوی ته له خلکو سره دری

اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ

اَيَّامٍ	اِلَّا	رَمْزًا	وَاذْكُرْ	رَّبَّكَ	كَثِيْرًا	وَّسَبِّحْ	بِالْعَشِيِّ
ورځی	مګر	په اشاره سره	او یاد وه	رب خپل	ډیر	او تسبیح وایه	په آخر د ورځی کښنی

ورځی (او شپی) مګر په اشاره سره، او یادوه رب خپل ډیر (له پاره د شکر) او تسبیح وایه (لمونځ کوه!) په آخر د ورځی کښنی

وَالْاِبْكَارِ ۝۴۱ وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ

وَالْاِبْكَارِ	وَاِذْ	قَالَتِ	الْمَلٰٓئِكَةُ	يٰمَرْيَمُ	اِنَّ	اللّٰهَ
او په اول د ورځی کښنی	او هغه وخت	چې وویل	ملائیکو	ای مریمی !	بیشکه! چې	الله

او په اول د ورځی کښنی. او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چې وویل ملائیکو (یعنی جبرئیل) ای مریمی! بیشکه! چې الله

وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا.. یعني دی به دکلمة الله (عیسی عليه السلام) تصدیق کوي:

عیسی عليه السلام ته کلمة الله په دې وجه سره وایي چې دی محض دالله جل جلاله په حکم سره دعادت څخه خلاف بې له واسطې دپلار څخه پیدا سوی دی **(حصوراً)** دحضرت یحی عليه السلام دا دریم صفت بیان سوی دی چي دی به دخپل نفس دخوندونو څخه ډیر بندوونکی وي اود خوندونو څخه په ځان ساتلو کي د مباحو او رواووخواهشاتو څخه ځان ساتل هم داخل دي مثلا ښه خوراک ښه جامه او نکاح او نورکول ددې وصف دصفت پر موقع باندي دبیانولو څخه په ظاهره داسي معلومیږي چي دا ښه طریقه ده او حال دادی چي په احادیثو کي دنکاح ښه والی ثابت دی نو ددې تحقیق دادی چي دکم سړي حالت دحضرت یحي عليه السلام په شان وي چي پرده دآخرت فکردومره غالبه وي چي ددې غلبې په وجه نه د ښځي ضرورت محسوس کوي او نه ورته داهل او عیال دحقونو داداءکولو فرصت وي نو دداسي سړي لپاره بیا نکاح نه کول ښه ده او په احادیثو کي داسي قید ستته چي دنکاح قدرت به لري اودخاوندوالي حقونه به اداء کولی سي: (معارف القرآن ج۱ پ۳ ص۱۳۰)

ع ۴ ۱۱ ۱۲

www.jamairahmani.org

اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ

اصْطَفٰىكِ	وَ	طَهَّرَكِ	وَ	اصْطَفٰىكِ	عَلٰى	نِسَآءِ
غوره کړی ئی ته	او	پاکه کړی ئی ته	او	غوره کړی ئی ته	پر	ګردو ښځو

غوره کړی ئی ته (په کرامت او عبادت) او پاکه کړی ئی ته (له بدو ځخه) او غوره کړی ئی ته پر ګردو (ټول) ښځو

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۲﴾ يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ

الْعٰلَمِيْنَ	يٰمَرْيَمُ	اقْنُتِيْ	لِرَبِّكِ	وَاسْجُدِيْ	وَارْكَعِيْ
د مخلوقاتو	ای مريمې	فرمانبرداره سه	له پاره د رب خپل	او سجده کوه!	او رکوع کوه!

د عالميانو . ای مريمې فرمان برداره سه! (ولاړه سه! بندګی کوه!) له پاره د رب خپل! او سجده کوه! او رکوع کوه!

مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ

مَعَ الرّٰكِعِيْنَ	ذٰلِكَ	مِنْ	اَنْۢبَآءِ	الْغَيْبِ	نُوْحِيْهِ
له نورو رکوع کوونکو سره	دا (ذکر سوی قصی)	له	اخبارونو	د غيبو ځخه دی	چی موږ ئی په وحی سره درليږو هغه

له نورو رکوع کوونکو سره . دا (ذکر سوی قصی) له اخبارونو د غيبو ځخه دی چی موږ ئی په وحی سره درليږو

اِلَيْكَ ؕ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ

اِلَيْكَ	وَمَا	كُنْتَ	لَدَيْهِمْ	اِذْ	يُلْقُوْنَ	اَقْلَامَهُمْ
تا ته (محمده!)	او نه	وې ته (محمده! حاضر)	په نزد د دوی	کله چی	دوی غورځول	قلمونه خپل

تاته (ای محمده!) او نه وی ته (ای محمده! حاضر) په نزد د دوی کله چی دوی غورځول قلمونه خپل (په اوبو کښی)

اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۪ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ

اَيُّهُمْ	يَكْفُلُ	مَرْيَمَ	وَمَا	كُنْتَ	لَدَيْهِمْ	اِذْ
چی کوم يو له دوی ځينی	تربيه وکړی	د مريمې	او نه	وی ته	په نزد د دوی	کله چی

(چی په دی قرعی سره معلوم کړی) چی کوم يو له دوی ځينی تربيه وکړی د مريمې او نه وی ته په نزد د دوی کله چی

يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۴﴾ اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ

يَخْتَصِمُوْنَ	اِذْ	قَالَتِ	الْمَلٰٓئِكَةُ	يٰمَرْيَمُ	اِنَّ	اللّٰهَ
دوی جګړی سره کولی	هغه وخت چی	وويل	ملائيکو (جبرئيل)	ای مريمې	بيشکه!	الله

دوی جګړی سره کولی (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چی وويل ملائيکو (يعني جبرئيل) ای مريمې ، بيشکه! الله

اِذْ يُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ اَيُّهُمْ

دهسکي او قرعه کشی

مسئله: په شريعت محمّدي کي داحنافو پرمذهب دهسکي حکم دادی چي دکمو حقونو اسباب په شريعت کي معلوم او متعين وي په هغه کي هسکه کول نا جايز دي او په خمار کي داخل دي مثلاً يو مشترک شی دی چي دټولو حقونه پکښي برابردي او پر هغه هسکه کوي چي دچا هسکه وخته هغه به يي واخلي او نور به ورځخه محرومه سي يا ديو کوچني په نسب کي اختلاف وي نو چي دچا دنامه هسکه وخيژي هغه به يي واخلي او هغه به يي پلار ګڼل کيږي البتّه دغه صورت رواه دی مثلاً شريک کور دی زيد او عمر يي تقسيموي نو هسکه دي پر دې وکي چي که دچا هسکه وخته هغه به مشرقي حصه اخلي او دچادا چي پاته سوه هغه به مغربي حصه اخلي دا ځکه جايزده چي بغير دهسکي ځخه هم که دواړه شريکان متفق سي نو داسي کيدای سي او دقاضي په فيصله هم داسي کيدای سي يا داسي ووايه چي کم ځای دټولو شريکانو حقونه برابر وي هلته يو طرف ديوه سړي لپاره په هسکه متعين کول جايز دي.

(معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۳۳)

www.jamairahmani.org

وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ
په دې ایت کې د حضرت عیسی علیه السلام یو صفت دا هم ښوول سوی دی : چې دی به په کوچنیوالي په ځانګو کې چې کله یو کوچنی د خبرو کولو صلاحیت او طاقت نه لري په دغه حالت کې به هم دی خبري کوي چې په یو بل ایت کې داسې راغلي دي چې کله خلګو د ده تر پیدا کیدو وروسته پر حضرت مریمې باندې د تهمت لګولو په وجه بدې ردې ویل شروع کړل نو دې نوې پیدا سوي ماشوم حضرت عیسی علیه السلام وفرمایل (انّی عبد الله ....) چې زه د الله جل جلاله بنده یم ... او ددې سره یې دا هم وفرمایل چې کله دی د زوړوالي په عمر کې سي دغه وخت به هم دی د خلګو سره خبري کوي : دلته دا خبره د غور کولو قابله ده چې په کوچنیوالي کې خبري کول خو یوه معجزه او نښانه ده د دې ذکر خو مناسب دی لیکن په زوړوالي کې خبري کول دا څه معنی لري ؟ دا خو هر څوک کولی سي د دې جواب په بیان القرآن داسې ورکړه سوی دی چې د اسلامي او قرآني عقیدې په مطابق حضرت عیسی ع ژوندی اسمانو ته پورته سوی دی او بیا به راکښته کیږي د خلګو سره به خبري کوي دا هغه ته اشاره ده.
(معارف القرآن ج۱ پ۳ ص ۱۳۴)

يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ

يُبَشِّرُكِ	بِكَلِمَةٍ	مِّنْهُ	اسْمُهُ	الْمَسِيحُ	عِيسَى	ابْنُ
زیری درکوی تاته	په یوی کلمی سره	چی له طرفه د ده	نوم د هغه	مسیح	عیسٰی	زوی

زیری درکوی تاته په یوی کلمی سره چی له طرفه د ده نوم د هغه مسیح عیسٰی زوی

مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾

مَرْيَمَ	وَجِيهًا	فِي	الدُّنْيَا	وَالْآخِرَةِ	وَمِنَ	الْمُقَرَّبِينَ
د مریمی دی	په دی حال کښی چی مرتبه والا دی	په	دنیا کښی	او آخرت کښی	او له	مقربانو څخه دی

د مریمی دی په دی حال کښی چی مرتبه والا دی ، په دنیا کښی (په طاعت او نبوت) او آخرت کښی او له مقربانو څخه دی

وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٤٦﴾

وَيُكَلِّمُ	النَّاسَ	فِي	الْمَهْدِ	وَكَهْلًا	وَمِنَ	الصَّالِحِينَ
او خبری به کوی	له خلکو سره	په	ځانګو کښی	او په کهولت (پوره عمر) کښی	او له	صالحانو څخه به وی

او خبری به کوی له خلکو سره په مهد (د مور په غیږ، یا په طفولیت) کښی او په کهولت کښی او له صالحانو څخه به وی

قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ۖ قَالَ

قَالَتْ	رَبِّ	أَنَّىٰ	يَكُونُ	لِي	وَلَدٌ	وَلَمْ	يَمْسَسْنِي	بَشَرٌ	قَالَ
وویل (مریمی)	ای ربه زما	څنګه به	پیدا سی	ما لره	زوی؟	حال دا چی	مسه کړی نه یم زه	هیڅ بشر	وویل (جبرئیل)

وویل (مریمی) ای ربه زما! څنګه به پیدا سی ما لره زوی؟ حال دا چی مسه کړی نه یم هیڅ بشر (نارینه) وویل (جبرئیل)

كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ إِذَا قَضَىٰ

كَذَٰلِكِ	اللَّهُ	يَخْلُقُ	مَا يَشَاءُ	إِذَا	قَضَىٰ
هم داسی (بی د نارینه له مس څخه)	الله	پیدا کوی	هغه چی اراده وفرمائی	هر کله چی	اراده (حکم) وکړی

هم داسی (بی د نارینه له مس څخه) الله پیدا کوی هغه چی اراده وفرمائی (د پیدا کولو) هر کله چی اراده (حکم) وکړی (الله)

أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾ وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ

أَمْرًا	فَإِنَّمَا	يَقُولُ	لَهُ	كُن	فَيَكُونُ	وَيُعَلِّمُهُ	الْكِتَابَ
دیوه کار	پس بیشکه! هم داخبره ده	چی ووائی	هغه شی ته چی	پیدا سه	پس (پیدا) سی	او ورزده کوی هغه ته	کتاب

دیوه کار پس بیشکه! هم داخبره ده چی ووائی هغه شی ته چی (پیدا) سه! پس (پیدا) سی، او ورزده کوی هغه ته (الله) کتاب

www.jamairahmani.org

وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ

وَالْحِكْمَةَ	وَالتَّوْرٰىةَ	وَالْاِنْجِيْلَ	وَرَسُوْلًا	اِلٰى	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
او حکمت	او توریت	او انجیل	او (لیږوئی) رسول	طرف د	بنی اسرآئیلو

او حکمت (دشرعی احکامو) او توریت او انجیل. او (لیږوئی) رسول طرف د بنی اسرآئیلو (اولادی د یعقوب) ته

اَنِّيْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّيْٓ اَخْلُقُ

اَنِّيْ	قَدْ	جِئْتُكُمْ	بِاٰيَةٍ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	اَنِّيْٓ	اَخْلُقُ
بیشکه! زه	په تحقیق	راغلی یم تاسی ته	په لویه علامه	له	ربه ستاسی څخه	بیشکه! زه	جوړوم

(چی ووائی دوی ته) بیشکه! زه په تحقیق راغلی یم تاسی ته په لویه علامه له ربه ستاسی څخه بیشکه! زه جوړوم

لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ

لَكُمْ	مِّنَ	الطِّيْنِ	كَهَيْـَٔةِ	الطَّيْرِ	فَاَنْفُخُ	فِيْهِ
تاسی ته	له	ختهٔ ځنی	په شان د شکل	د مرغه	نو پو کوم	په دی (شکل) کښی

تاسی ته (ای بنی اسرآئیلو) له ختهٔ ځنی په شان د شکل د مرغه نو پو کوم په دی (شکل) کښی

فَيَكُوْنُ طَيْرًۢا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ

فَيَكُوْنُ	طَيْرًۢا	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	وَاُبْرِئُ	الْاَكْمَهَ	وَالْاَبْرَصَ
پس کیږی هغه	مرغه (الوتونکی)	په اذن (حکم)	د اللّٰه سره	او روغوم	مور زاده ړوند	او پیس (برګ)

پس کیږی (هغه شکل) مرغه (الوتونکی) په اذن (حکم) د اللّٰه سره. او روغوم مور زاده (پیدائشی) ړوند او پیس (برګ)

وَاُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا

وَاُحْيِ	الْمَوْتٰى	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	وَاُنَبِّئُكُمْ	بِمَا	تَاْكُلُوْنَ	وَمَا
او ژوندی کوم	مړی	په اذن (حکم) د	اللّٰه سره	او خبروم زه تاسی	په هغه شی	چی تاسی (ئی) خورئ	او په هغه شی

او ژوندی کوم مړی په اذن (حکم) د اللّٰه سره، او خبروم زه تاسی په هغه شی چی تاسی (ئی) خورئ! او په هغه شی

تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِيْ بُيُوْتِكُمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ

تَدَّخِرُوْنَ	فِيْ	بُيُوْتِكُمْ	اِنَّ	فِيْ	ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	لَّكُمْ	اِنْ
چی تاسی (ئی) ساتی	په	کورونو خپلو کښی	بیشکه!	په	دی کښی	هرومرو نښانه ده	تاسی ته	که

چی تاسی (ئی) ساتئ په کورونو خپلو کښی ، بیشکه! په دی (معجزو) کښی هرومرو (خامخا،پوره) نښانه ده تاسی ته که

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

(**مسئله**) دمرغه یا بل ذي روح شي تصویر جوړول:
دبني اسرائیلو په دین کي دمرغه یا بل ذي روح شي تصویر جوړول رواه وو زموږ په شریعت کي ددې جا یزوالی منسوخ سوی دی او تصویر جوړول اوس ناروا ه دي
:(**تفسیر**) او ای مریمي ددې نیک بخت کوچني به دافضیلتونه وي چي الله ﷻ به وده ته اسماني کتابونه ورازده کړي او دپوهي خبري به ورازده کړي او خاص بیاتورات اوانجیل او دی به ټولوبني اسرائیلوته پیغمبر جوړ کړي اوددې مضمون سره به یي ورولیږي چي ای خلګو ماتاسي ته خپل دلیلونه راوړي دي هغه داچي زه ستاسي دیقین کولو لپاره دختو څخه یوداسي شکل جوړوم لکه دمرغه دشکل په شان بیا په دې جوړ سوي شکل کي دننه پوف کوم چي په هغه سره به دده څخه په رشتیا سره روح لرونکی مرغه جوړ سي دخدای ﷻ په حکم سره یوه معجزه خو دا سوه .او زه بنه کومه دالله ﷻ په حکم سره دمور څخه پیدا سوی مور زاده ړوند اوپیس او مړي ژوندي کومه دخداي په حکم سره.
(معارف القرآن ج۱پ۳ ص ۱۳۷)

www.jamairahmani.org

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ

كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ	وَمُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيَّ	مِنَ التَّوْرٰىةِ
يئ تاسى	مؤمنان	حال دا چي تصديق كوونكى يم	دهغه (كتاب)	چي پخوا له ما (نازل سوى) دى	چي توريت دى

يئ تاسي مؤمنان. حال دا چي مصدق يم د هغه (كتاب) چي پخوا له ما (نازل سوى) دى چي توريت دى

وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ

وَلِاُحِلَّ	لَكُمْ	بَعْضَ	الَّذِيْ	حُرِّمَ	عَلَيْكُمْ
او له پاره د دى چي حلال كړم	له پاره ستاسى	ځنى له	هغو شيانو	چي حرام كړى سوى وو	په تاسى باندى

او (يم تاسى ته) له پاره د دى چي حلال كړم له پاره ستاسى ځنى له هغو شيانو چي حرام كړى سوى وو په تاسى باندى

وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿٥٠﴾

وَجِئْتُكُمْ	بِاٰيَةٍ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوْنِ
او راغلى يم تاسى ته	په معجزى	له (طرفه د)	رب ستاسى	نو وبيريږئ تاسى	له الله	او منئ (وينا) زما

او راغلى يم تاسى ته په (هر قسم) معجزى له (طرفه د) رب ستاسى، نو وبيريږئ تاسى له الله او منئ (وينا) زما (دالله).

اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٥١﴾

اِنَّ	اللّٰهَ	رَبِّيْ	وَرَبُّكُمْ	فَاعْبُدُوْهُ	هٰذَا	صِرَاطٌ	مُّسْتَقِيْمٌ
بيشكه!	الله	رب زما دى	او رب ستاسى دى	نو بندگي كوئ تاسى د ده	هم دا	لاره ده	سمه صافه

بيشكه! چي الله رب زما دى او رب ستاسى دى نو بندگي كوئ تاسى د ده! هم دا لاره ده سمه صافه.

فَلَمَّاۤ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ

فَلَمَّاۤ	اَحَسَّ	عِيْسٰى	مِنْهُمُ	الْكُفْرَ	قَالَ
نو كله چي	معلوم كړ	عيسى	له بنى اسرائيلو څخه	كفر	وويل (عيسى)

نو كله چي معلوم كړ عيسى په محسوس ډول (طريقه) له بنى اسرائيلو څخه كفر (چي د مسيح د قتل اراده ئى وكړه) وويل

مَنْ اَنْصَارِيْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ

مَنْ	اَنْصَارِيْۤ	اِلَى	اللّٰهِ	قَالَ	الْحَوَارِيُّوْنَ	نَحْنُ	اَنْصَارُ
ځوك دى	مدد گاران زما	په طرف (لاره)	د الله كښى	وويل	حواريونو	موږ يو	مددگاران د

ځوك دى مددگاران زما په طرف (لاره) د الله كښى؟ وويل حواريونو موږ يو مددگاران د (دين د)

قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ... لفظ دحواري دحور څخه جوړ دى چي معنى يه په لغت كي سپينوالى دى: او په اصطلاح كي دحضرت عيسى عليه السلام مخلصو ملگرو ته ددوى داخلاص او دصفايي زړه په وجه سره يا ددوى دسپينو جامو په وجه سره دحواري لقب وركړه سوى دى لكه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ملگروته چي دصحابه كرامو لقب وركړه سوى دى: ځينو مفسرينو دحواريينو شمير دوولس كسه ښوولى دى او كله لفظ دحواري مطلق دمددگار په معنى سره هم استعماليږي په دې معنى سره په يوه حديث شريف كي ارشاد فرمايي: چي دهر نبي حواري يعني مخلص ملگري وي زما حواري زبير رضي الله عنه دى (تفسير قرطبي) (فايده) په دې ايت كي يي فرمايلي دي چي حضرت عيسى عليه السلام ته چي كله دخلگو كفر او مخالفت معلوم سو نو دغه وخت دمددگارانو په تلاش كي سو وې فرمايل (من انصاري) چي ځوك دي زما مددگاران كه دې ته لږ فكر وسي نو هر يو كار داسي ډول قصد او همت غواړي چي كله ضرورت پيښ سي نوبيا يو جماعت جوړول پكاردي چي انفرادي كار پر مخ نه ځي (معارف القرآن ج١پ٣ص ١٣٨)

www.jamairahmani.org

اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۵۲﴾ رَبَّنَآ

اللّٰهِ	اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ	وَاشْهَدْ	بِاَنَّا	مُسْلِمُوْنَ	رَبَّنَآ
د الله	ایمان موراوړی دی	په الله	او شاهد سه ته	په دی چې بیشکه! موږ	مسلمانان یو	ای ربه زموږ

الله! ایمان مو راوړی دی په الله او شاهد سه ته (ای عیسی!) په دی چې بیشکه! موږ مسلمانان یو، ای ربه زموږ

اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ

اٰمَنَّا	بِمَآ	اَنْزَلْتَ	وَاتَّبَعْنَا	الرَّسُوْلَ	فَاكْتُبْنَا	مَعَ
ایمان راوړی دی موږ	په هغه کتاب (انجیل)	چې نازل کړی دی تا	او پیروی مو کړی ده	د رسول	نو ولیکه موږ	سره له

ایمان راوړی دی موږ په هغه کتاب (انجیل) چې نازل کړی دی تا او پیروی مو کړی ده د رسول نو ولیکه موږ سره له

الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرُ

الشّٰهِدِيْنَ	وَمَكَرُوْا	وَمَكَرَ	اللّٰهُ	وَاللّٰهُ	خَيْرُ
شاهدانو	او مکر وکړ کفارو	او مکر وکړ	الله (له دوی سره په سزا ورکولو)	او الله	خیر (بهتر)

شاهدانو. او مکر وکړ کفارو (په عیسی باندی) او مکر وکړ الله (له دوی سره چې سزا ئې دوی ته ورکړه) او الله خیر (بهتر)

الْمٰكِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ

الْمٰكِرِيْنَ	اِذْ	قَالَ	اللّٰهُ	يٰعِيْسٰٓى	اِنِّىْ	مُتَوَفِّيْكَ
د ماکرینو دی	هغه وخت چې	وویل	الله	عیسی	بیشکه! زه	اخیستونکی یم ستا

د ماکرینو دی (مکاران). (یاد کړه محمده!) هغه وخت چې وویل الله ای عیسی بیشکه! زه اخیستونکی یم ستا (له مځکی)

وَرَافِعُكَ اِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

وَرَافِعُكَ	اِلَيَّ	وَمُطَهِّرُكَ	مِنَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
او پورته بیوونکی یم ستا	طرف زما ته	او پاکوونکی (لری کوونکی) یم ستا	له	هغو کسانو څخه	چې کافران سوی دی

او پورته بیوونکی یم ستا طرف زما ته او پاکوونکی (لری کوونکی) یم ستا له هغو کسانو څخه چې کافران سوی دی

وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ

وَجَاعِلُ	الَّذِيْنَ	اتَّبَعُوْكَ	فَوْقَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِلٰى	يَوْمِ
او ګرځوونکی یم	دهغو کسانو	چې متابعت ئې کړی دی ستا	دپاسه	دهغو کسانو	چې کافران سوی دی	تر	ورځی

او ګرځوونکی یم د هغو کسانو چې متابعت ئې کړی دی ستا د پاسه دهغو کسانو چې کافران (منکران) سوی دی تر ورځی

وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ... لفظ دمکر په عربي ژبه کي باریک او پټ تدبیر ته ویل کیږي: نو که دښه مقصد لپاره وي خوښه دی او که دبد مقصد لپاره وي نو بد دی په دې وجه یي په (ولایحیق المکر السئ) کي دمکر سره دالسئ قید لګولی دی یعني بد: په پښتو او اردو ژبو او محاورو کي مکر صرف دسازش او بیکاره تدبیر او حیلې لپاره استعمالیږي نو پر عربي محاورو ددې شبه نسي کیدای په دې وجه یي دلته خدای پاک ﷻ ته خیر الماکرین ویلي دي مطلب دادی چي یهودو دحضرت عیسی ؑ خلاف قسم قسم سازشونه او پټ تدبیرونه شروع کړل تر دې چي دباچا په غوږ کي یي دا خبره ورسوله او واچوله چي دا سړی (معاذالله) ملحد دی تورات بدلول غواړي او ټول خلګ بد دینه کوي نو هغه باچا دحضرت عیسی ؑ دګرفتاری حکم ورکړی هلته دا کیده دلته دیخواته بیا الله ﷻ باریک او پټ تدبیر ددې سازش دماتولو او ددوی دتدبیر دناکامه کولو لپاره وکړی چي ذکر یي په راتلونکي ایت کي راروان دی.
(معارف القرآن ج۱ پ۳ ص ۱۳۹)

الثلثة ۱۳ ع۵

www.jamairahmani.org

الْقِبْ [redacted]

[redacted] أَمَّــا الَّــذِيْنَ كَفَــرُوْا
[redacted] اُعَــذِّبُهُمْ.. ددنيـــا
[redacted] صيبتونه دكفارولپاره نه
[redacted] جيبره كيږي او دمومن
[redacted] پاره كفاره او فايده كيږي
[redacted] دي ايت پر مضمون
[redacted] اندي يو سپک غوندي
[redacted] شكال راځي چي بيان
[redacted] اخرت دفيصلې دی نو
[redacted] ه دي كي ددنيا دعذاب
[redacted] ه معنى ده؟ ځكه چي په
[redacted] غه وخت كي خو نه
[redacted] دنيا سزا بيا نه وي.
[redacted] وددي جواب دادی چي
[redacted] دي وينا داسي مثال دی
[redacted] كه چي حاكم يوه مجرم
[redacted] ه داسي ووايي چي دا
[redacted] خت خو زه تاته يوكال
[redacted] يد دركوم خو په جيل
[redacted] انه كي دي كه څه
[redacted] رارت وكړی نو دوه كاله
[redacted] زا به دركوم فقط دي
[redacted] طلب به داوي چي داوه
[redacted] دنن دتاريخ څخه
[redacted] يقيني
[redacted] ت څخه

إِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ؕ خَلَقَهٗ

إِنَّ	مَثَلَ	عِيْسٰى	عِنْدَ	اللّٰهِ	كَمَثَلِ	اٰدَمَ ؕ	خَلَقَهٗ
بيشكه!	مثل	دعيسى	په نزد	دالله	په شان د مثل	د آدم دى	چې (الله) جوړ كړ هغه

بيشكه! مثل (صفت) دعيسى په نزد دالله په شان د مثل (صفت) د آدم دى، چې (الله) جوړ كړ هغه (آدم)

مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٥٩﴾ اَلْحَقُّ مِنْ

مِنْ	تُرَابٍ	ثُمَّ	قَالَ	لَهٗ كُنْ	فَيَكُوْنُ	اَلْحَقُّ	مِنْ
له	خاورو څخه	بيا ئى	وويل	ده ته (بشر) سه	پس (بشر) سو	حق (هغه دى چې) راغلى دى	له جانبه

له خاورو څخه بيا ئى وويل ده (آدم) ته (بشر) سه! پس (بشر) سو. حق (هغه دى چې) راغلى دى له جانبه د

رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ

رَّبِّكَ	فَلَا	تَكُنْ	مِّنَ	الْمُمْتَرِيْنَ	فَمَنْ	حَآجَّكَ	فِيْهِ
د رب ستا	نو مه	كيږه	له	شک كوونكو څخه	نو هر څوک	چې جګړه كوى له تاسره	په (باره د) عيسى كښى

رب ستا (دعيسى په شان كى) نو مه كيږه له شک كوونكو څخه. نو هر څوک چې جګړه كوى له تا سره په (باره د) عيسى كښى

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ

مِنْۢ بَعْدِ	مَا	جَآءَكَ	مِنَ الْعِلْمِ	فَقُلْ	تَعَالَوْا	نَدْعُ
وروسته له	هغه	چې حاصل سو تاته	(صحيح) علم	نو ووايه (محمده!)	راځئ	چې راوبولو

وروسته له هغه چې حاصل سو تا ته (صحيح) علم نو ووايه (اى محمده! دوى ته!) راځئ چې راوبولو

اَبْنَآءَنَا وَاَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَاَنْفُسَنَا

اَبْنَآءَنَا	وَاَبْنَآءَكُمْ	وَنِسَآءَنَا	وَنِسَآءَكُمْ	وَاَنْفُسَنَا
زامن زموږ	او زامن ستاسى	او ښځې زموږ	او ښځې ستاسى	او ځانونه خپل

زامن زموږ او زامن ستاسى او ښځې زموږ او ښځې ستاسى او ځانونه خپل

وَاَنْفُسَكُمْ ۟ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى

وَاَنْفُسَكُمْ	ثُمَّ	نَبْتَهِلْ	فَنَجْعَلْ	لَّعْنَتَ	اللّٰهِ	عَلَى
او ځانونه ستاسى	بيا به	التجا عاجزى وكړو	نو وبه ګرځوو موږ	لعنت	دالله	په

او ځانونه ستاسى بيا به التجا عاجزى وكړو (په دعا كښى) نو وبه ګرځوو موږ (وبه وايو) لعنت دالله په

إِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ... قياس هم شرعي دليل دى: د دې ايت څخه معلومه سوه چې قياس هم په شرعي دليلونو كې داخل دى ځكه چې الله جل جلاله وفرمايل چې د حضرت عيسى عليه السلام پيدايښ داسې دى لكه د حضرت آدم عليه السلام ده يعني لكه څنګه چې حضرت آدم عليه السلام بغير د پلار او مور څخه پيدا سو دغه ډول يې حضرت عيسى عليه السلام هم بغير د پلار څخه پيدا كى نو دلته الله جل جلاله د حضرت عيسى عليه السلام پيدايښ د حضرت آدم عليه السلام پر پيدايښ باندې د قياس و طرف ته اشاره وفرمايله (مظهري) (**مباهله**) يعني يو او بل ته ښېراوي كول په دې ايت سره الله جل جلاله نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته د مباهلې حكم وركړى دى چې د هغې تعريف دادى چې كه چيرې ديو كار په حقوالي او باطل والي كې د دواړو فريقينو جګړه وسوه او په دليلونو سره جګړه ختمه نه سي نو بيا دا طريقه اختيارول پكار دي چې ټول يوځاى سي او الله عليه السلام ته سوال وكړي چې څوک په دې كار كې پر باطله باندې وي پر هغه دې د الله جل جلاله له طرفه وبال او هلاكت ولويږي يعني پر در واغجن دې قهر نازل سي. (معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص

www.jamairahmani.org

الْكٰذِبِيْنَ ۝٦١ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ

الْكٰذِبِيْنَ	اِنَّ	هٰذَا	لَهُوَ	الْقَصَصُ	الْحَقُّ	وَمَا	مِنْ
دروغجنانو باندی	بیشکه!	دا	خامخا هم دا	بیان	حق دی	او نشته	هیڅ

دروغجنانو باندی بیشکه! دا (حال د عیسی او مریمی) خامخا دا بیان حق دی او نشته هیڅ

اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٦٢

اِلٰهٍ	اِلَّا	اللّٰهُ	وَاِنَّ	اللّٰهَ	لَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ
برحق معبود	مګر یوازی	الله دی	او بیشکه!	الله	خامخا هم دی	ډیر غالب قوی دی	ښه حکمت والا

برحق معبود مګر یوازی الله دی، او بیشکه! الله خامخا هم دی ډیر غالب قوی دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا .

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ ۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ ۝٦٣ قُلْ

فَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيْمٌ	بِالْمُفْسِدِيْنَ	قُلْ
نو که	وګرځیدل دوی	پس بیشکه!	الله	ښه پوه دی	په فساد کوونکو	ووایه (محمده!)

نو که وګرځیدل دوی (ایمان ته ئی شا کړه) پس بیشکه! الله ښه پوه دی په فساد کوونکو . ووایه (ای محمده!)

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ ۢ بَيْنَنَا

يٰٓاَهْلَ	الْكِتٰبِ	تَعَالَوْا	اِلٰى	كَلِمَةٍ	سَوَآءٍ	بَيْنَنَا
چې ای اهل	کتابو	راځئ تاسی	په طرف	د یوی کلمی	چې برابره ده	په مینځ زمونږ

چې ای اهل کتابو! راځئ تاسی په طرف د یوی کلمی (خبری) چې برابره ده په مینځ زمونږ

وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا

وَبَيْنَكُمْ	اَلَّا نَعْبُدَ	اِلَّا	اللّٰهَ	وَلَا نُشْرِكَ	بِهٖ	شَيْئًا
او ستاسی کښی	چې عبادت به نه کوو	مګر یوازی	د الله	او شریک به نه نیسو	په الله پوری	هیڅ شی

او ستاسی کښی (او هغه دا ده) چې عبادت به نه کوو مګر یوازی د الله او شریک به نه نیسو په الله پوری هیڅ شی

وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ فَاِنْ تَوَلَّوْا

وَّلَا يَتَّخِذَ	بَعْضُنَا	بَعْضًا	اَرْبَابًا	مِّنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	فَاِنْ	تَوَلَّوْا
او نه به نیسی	ځینی زمونږ	ځینی نور	خدایان	غیر له	الله	نو که	وګرځیدل دوی

او نه به نیسی ځینی زمونږ ځینی نور خدایان غیر له الله (لکه چې تاسی کتابیان احبار او رهبان نیسئ) نو که وګرځیدل دوی

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا (دتبليغ او دعوت خاص اصـول) ددې ايت څخه دتبليغ اودعوت يو خاص اصول معلوميداى سي هغه داچي كه يو سړى يو داسي جماعت او ټولګى ته ددعوت وركولو خواهشمند وي چي په عقيدو اونظريوكي دده څخه مختلف وي نو دهغه طريقه داده چي دغه دعقيدې مخالف جماعت ته دي يوازي پر دې خبره دجمع كيدو دعوت وركړي پر كمه چي ددواړو اتفاق راتلى سي لكه نبي كريم ﷺ چي كله دروم پاچا هرقل ته داسلام دعوت وركى نو دداسي مسئلې طرف ته يې وركړى چي پرهغه ددواړو اتفاق وو يعني دالله ﷻ دوحدانيت او يووالي طرف ته دهغې دعوت نامې دڅه الفاظو ترجمه داده : زه شروع كوم دالله ﷻ په نوم سره چي ډير زيات مهربانه دى او پوره رحم كوونكى دى دا خط دي دمحمد ﷺ له طرفه چي دالله ﷻ بنده او دهغه رسول دى دروم باچا هرقل ته ورسيږي سلامتي دي وي پر هغه چا چي دهدايت دلاري تابعداري وكړي وروسته تر دې زه تاته داسلام دعوت دركوم اسلام راوړه ته به سلامت پاته سې الخ. (معارف القرآن ج١ پ٣ ص ١٥٣)

ع

www.jamairahmani.org

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تُحَآجُّوْنَ

(لنډ تفسير) ای اهل کتابو ولي دليل بازي کوی دحضرت ابراهيم عليه السلام په باره کي چي هغه پر طريقه ديهوديت وو او که دنصرانيت وو حال دادی چي نه دی نازل سوی تورات او انجيل مګر دهغه ترزماني ډير وروسته او دادواړي طريقي ددې دواړو کتابونو تر نازليدو وروسته ښکاره سوې مخکي خو ددې وجود هم نه وو نو بيا حضرت ابراهيم عليه السلام پردې طريقو باندي څنګه کيدای سي؟ ولي آيا داسي دعقل څخه خلاف خبره تر خولې باسی او بيا پوهيږی نه البته تاسي داسي ياست چي په داسي خبره کي مو دليل بازي کړي ده چي تاسي ته وربانددي څه قدر خبرداری خو وو که څه هم په دي کي مو غلطه دعوه جوړه کړه غلطه نتيجه مو ورڅخه ويسته چي مراد ددې څخه معجزې دحضرت عيسی عليه السلام دي چي دا خو دواقع سره مطابق دي خو ددې سره يه غلطه دعوه ګډه کړه چي دداسي معجزو ښوونکی الله يا دالله زوی به وي نو په دې سره ستاسي غټه غلطي ښکاره سوه نو بيا ولي دليل بازي کوی. (معارف القرآن ج١ پ٣ ص ١٥٤)

فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ

فَقُوْلُوا	اشْهَدُوْا	بِاَنَّا	مُسْلِمُوْنَ	يٰٓاَهْلَ	الْكِتٰبِ	لِمَ
پس ووايئ تاسی	شاهدان سئ تاسی	په دی چی په تحقيق موږ	مسلمانان يو	ای اهل	دکتابو	ولی

پس ووايئ تاسی (ای مؤمنانو) شاهدان سئ تاسی په دی چی په تحقيق موږ مسلمانان يو . ای اهل د کتابو ! ولی

تُحَآجُّوْنَ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمَآ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ

تُحَآجُّوْنَ	فِيْٓ	اِبْرٰهِيْمَ	وَمَآ	اُنْزِلَتِ	التَّوْرٰىةُ	وَالْاِنْجِيْلُ
جګړه کوئ تاسی	په (شان د)	ابراهيم کښې	حال داچې	نه دی نازل کړی سوی	تورات	او انجيل

جګړه کوئ تاسی (په شان د) ابراهيم کښې حال داچې نه دی نازل کړی سوی تورات او انجيل

اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٥﴾ هٰٓاَنْتُمْ

اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِهٖ	اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ	هٰٓاَنْتُمْ
مګر	وروسته له ده	آيا نو هيڅ عقل نه لرئ تاسی	واورئ تاسی خبردار سئ

مګر (په سلهاؤ کلونو) وروسته له ده آيا نو هيڅ عقل نه لرئ تاسی (چی داسی بيکاره خبرئ کوی) واورئ خبردار سئ تاسی

هٰٓؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ

هٰٓؤُلَآءِ	حَاجَجْتُمْ	فِيْمَا	لَكُمْ	بِهٖ	عِلْمٌ	فَلِمَ	تُحَآجُّوْنَ
هغه کسان يئ	چی جګړه مو کړی ده	په هغه شی کښی	چي ؤ تاسی ته	په هغه کښی	څه علم	نو ولی	جګړه کوئ تاسی

هغه کسان يئ چی جګړه مو کړی ده په هغه شی کښی چی ؤ تاسی ته په هغه کښی څه علم نو ولی جګړه کوئ تاسی

فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾

فِيْمَا	لَيْسَ	لَكُمْ	بِهٖ	عِلْمٌ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	وَاَنْتُمْ	لَا تَعْلَمُوْنَ
په هغه شی کښی	چی نسته	تاسی لره	په هغه کښی	هيڅ علم	حال داچی الله	پوهيږی	او تاسی	نه پوهيږئ

په هغه شی کښی چی نسته تاسی لره په هغه کښی هيڅ علم، حال داچی الله پوهيږی او تاسی نه پوهيږئ (جاهلان يئ)

مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا

مَا كَانَ	اِبْرٰهِيْمُ	يَهُوْدِيًّا	وَّلَا نَصْرَانِيًّا	وَّلٰكِنْ	كَانَ	حَنِيْفًا
نه ؤ	ابراهيم	يهودی	او نه نصرانی	وليکن	ؤ دی	مايله

نه ؤ ابراهيم يهودی او نه نصرانی وليکن ؤ دی حنيف (مائل له ټولو باطلو مذاهبو څخه حق دين ته)

www.jamairahmani.org

مُّسْلِمًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦٧﴾ اِنَّ

مُّسْلِمًا	وَمَا كَانَ	مِنَ	الْمُشْرِكِيْنَ	اِنَّ
مسلمان	او نه ؤ (ابراهيم)	له	مشركانو څخه	بيشكه!

مسلمان (حكم منونكى د الله)، او نه ؤ (ابراهيم) له مشركانو څخه. بيشكه!

اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ

اَوْلَى	النَّاسِ	بِاِبْرٰهِيْمَ	لَلَّذِيْنَ	اتَّبَعُوْهُ	وَهٰذَا	النَّبِيُّ
ډير نژدى	له خلكو څخه	ابراهيم ته	هرومرهغه كسان دى	چي متابعتئ كړى ؤ دده	او دا	نبى (محمد) دى

ډير نژدى له خلكو څخه ابراهيم ته هرومرهغه كسان دى چي متابعتئ كړى ؤ دده (خپل امت) او دا نبى (محمد) دى

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٨﴾

وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَاللّٰهُ	وَلِيُّ	الْمُؤْمِنِيْنَ
او هغه كسان دى	چي ايمانئ راوړى دى	او الله	ولى (دوست)	د مؤمنانو دى

او هغه كسان دى چي ايمانئ راوړى دى (له محمدى امته) او الله ولى (دوست ناصر حافظ) د مؤمنانو دى.

وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ

وَدَّتْ	طَّآئِفَةٌ	مِّنْ	اَهْلِ	الْكِتٰبِ	لَوْ	يُضِلُّوْنَكُمْ
دوست ګڼى هيله كوى	يوه طائفه	له	اهل	كتابو څخه	(ددى چي) كاشكى	ګمراه كړى تاسى

دوست ګڼى هيله (اميد) كوى يوه طائفه له اهل كتابو څخه ددى چي (په كوم قسم وبنويوى) ګمراه كړى تاسى

وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَهْلَ

وَمَا يُضِلُّوْنَ	اِلَّآ	اَنْفُسَهُمْ	وَمَا	يَشْعُرُوْنَ	يٰٓاَهْلَ
او نه ګمراه كوى دوى	مګر	نفسونه خپل	او نه	پوهيږى دوى	اى! اهل

او نه ګمراه كوى دوى مګر نفسونه خپل (چي عذاب او وبال هم دوى ته راجع كيږى) او (په دى) نه پوهيږى دوى . اى ! اهل

الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٧٠﴾

الْكِتٰبِ	لِمَ	تَكْفُرُوْنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَاَنْتُمْ	تَشْهَدُوْنَ
د كتابو	ولى	كافران كيږئ	په آيتونو	د الله باندى	حال دا چي تاسى	شاهدان يئ

د كتابو ! ولى كافران (منكران) كيږئ تاسى په آيتونو د الله (قرآن) باندى حال دا چي تاسى شاهدان يئ .

وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ... **لنډ تفسير:** په زړه سره غواړي خلګ داهل كتابو څخه دا كار چي تاسي ددين حق څخه ګمراه كي نه ګمراه كوي مګر خپل ځانونه دګمراه كولو په ګناه كي يي اخته كوى او خبر نه دي وربانديي اى اهل كتابو ولي كفركوى دهغه ايتونو سره چيي په تورات او انجيل كي پرنبوت محمدي ﷺ باندي دلالت كوي ځكه چي دنبي كريم ﷺ دنبوت څخه انكار كول ددغه ايتونو درواغجن كول دي چي كفر دى حالانكه تاسي په خپله ژبه سره اقرار كوى چي دغه ايتونه حق دي داخوبيي ملامت كول دي په ګمراه كولوباندي: مخكي اوس ددوى پر ګمراهى باندي دوى ملامت كوي فرمايي چي اى اهل كتابو ولي خلط كوى واقعي مضمون يعني نبوت محمديه دغير واقعي يعني عبارت بدل سوي يا تفسير فاسد سره او ولي پټوى واقعي خبري حالانكي تاسي وربانديي پوه ياست چي موږ حق خبره پټوو: او دانتم تشهدون او انتم تعلمون څخه دا مطلب ځوک نسي اخيستلاى چي كه دوى ته علم نه واى يا يه اقراورنه كړي نو ددوى لپاره به كفر جايزواى : (معارف القرآن ج ١ پ٣ ص١٥٥)

www.jamairahmani.org

ع ٨
١٥

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ

يٰٓاَهْلَ	الْكِتٰبِ	لِمَ	تَلْبِسُوْنَ	الْحَقَّ	بِالْبَاطِلِ
ای اهل	دکتابو	ولې	ګډوئ تاسې	حق	له باطلو سره

ای اهل د کتابو! ولې ګډوئ تاسې حق له باطلو سره؟ (خپل دروغ له ربنتیا آسمانی کتابونو سره.)

وَتَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٧١﴾ وَقَالَتْ طَّآىِٕفَةٌ

وَتَكْتُمُوْنَ	الْحَقَّ	وَاَنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ	وَقَالَتْ	طَّآىِٕفَةٌ
او پټوئ تاسې	حق	حال داچې تاسې	پوهیږئ	او وویل	یوی طائفې

او پټوئ تاسې حق (د محمد نبوت) حال داچې تاسې پوهیږئ (په دې خلطولو او پټولو) . او وویل یوی طائفې

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ

مِّنْ	اَهْلِ	الْكِتٰبِ	اٰمِنُوْا	بِالَّذِيْٓ	اُنْزِلَ	عَلَى الَّذِيْنَ
له	اهل	کتابو	چې ایمان راوړئ	په هغه (قرآن)	چې نازل کړی سوی دی	په هغو کسانو

له اهل کتابو (بلې طائفې ته) چې ایمان راوړئ په (قرآن)! چې نازل کړی سوی دی په هغو کسانو

اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٧٢﴾

اٰمَنُوْا	وَجْهَ	النَّهَارِ	وَاكْفُرُوْٓا	اٰخِرَهٗ	لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُوْنَ
چې مؤمنان دی	په اول د	ورځې کښې	او کافران سئ	په آخر د ورځې کښې	له پاره د دی چې دوی	(له ایمانه) وګرځی

چې مؤمنان دی په اول د ورځې کښې او کافران سئ په آخر د ورځې کښې له پاره د دې چې دوی (له ایمانه) وګرځی.

وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ۭ قُلْ اِنَّ الْهُدٰى

وَلَا	تُؤْمِنُوْٓا	اِلَّا	لِمَنْ	تَبِعَ	دِيْنَكُمْ	قُلْ	اِنَّ الْهُدٰى
او مه	منئ تاسې	مګر	دهغه چا چې	متابعت ئې کړی وی	د دین ستاسې	وواېه (محمده)	بیشکه هدایت

او مه منئ تاسې مګر د هغه چا چې متابعت ئې کړی وی د دین ستاسې، وواېه (ای محمده!) بیشکه هدایت (حق دین)

هُدَى اللّٰهِ ۙ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ

هُدَى	اللّٰهِ	اَنْ يُّؤْتٰٓى	اَحَدٌ	مِّثْلَ	مَآ	اُوْتِيْتُمْ
هم دا هدایت	دالله دئ	او داچې ولې ورکړی سی	یو چاته	په مثل	دهغو	چې درکړی سوی دی تاسې ته

هم دا هدایت د الله (اسلامی دین دی)، او دا چې ولې ورکړی سی یو چا ته په مثل د هغو چې درکړی سوی دی تاسې ته

وَقَالَتْ طَّآىِٕفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ...لنه تفسیر: په زړه سره غواړي خلګ د اهل کتابو څخه دا کار چې تاسي د دین حق څخه ګمراه کي نه ګمراه کوي مګر خپل ځانونه دګمراه کولو په ګناه کي یې اخته کوی او خبر نه دي وربانـدي ای اهل کتابو ولي کفر کوی دهغه ایتونو سره چي په تورات او انجیل کي پرنبوت محمدي ﷺ باندي دلالت کوي ځکه چي دنبي کریم ﷺ دنبوت څخه انکار کول د دغه ایتونو درواغجن کول دي چي کفر دی حالانکه تاسي په خپله ژبه سره اقرار کوی چي دغه ایتونه حق دي داخویي ملامت کول دي په ګمراه کولو باندي: مخکي اوس د دوی پر ګمراهی باندي دوی ملامت کوي فرمایي چي ای اهل کتابو ولي خلط کوی واقعي مضمون یعني نبوت محمدیه د غیر واقعي یعني عبارت بدل سوي یا تفسیر فاسد سره او ولي پټوی واقعي خبري حالانکي تاسي وربانـدي پوه یاست چي موږ حق خبره پټوو: او دانتم تشهدون او انتم تعلمون څخه دا مطلب ځوک نسي اخیستلای چي که دوی ته علم نه وای یا یه اقرار ونه کړي نو د دوی لپاره به کفر جایزوای:

(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١٥٥)

www.jamairahmani.org

اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ۗ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللهِ

اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ	عِنْدَ	رَبِّكُمْ	قُلْ	اِنَّ	الْفَضْلَ	بِيَدِ	اللهِ
او حجت قائم کړي او غالب سي پر تاسي	په نزد	درب ستاسي	ووايه	چي بیشکه!	فضل	په قدرت	دالله کښي دی

او حجت قائم کړي او غالب سي پر تاسي په نزد د رب ستاسي، ووايه (محمده!) چي بیشکه! فضل په قدرت د الله کښي دی

يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ يَّخْتَصُّ

يُؤْتِيْهِ	مَنْ يَّشَآءُ	وَاللهُ	وَاسِعٌ	عَلِيْمٌ	يَّخْتَصُّ
ورکوی ئی هغه	هغه چاته چي اراده وکړي	او الله	پراخ دی (رحمت، فضل او احسان د ده)	ښه عالم دی	خاصوی

ورکوی ئی هغه چا ته چي اراده وکړي او الله پراخ دی (رحمت، فضل او احسان د ده) ښه عالم دی. خاصوی

بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٤﴾

بِرَحْمَتِهٖ	مَنْ يَّشَآءُ	وَاللهُ	ذُو الْفَضْلِ	الْعَظِيْمِ
په مهربانی خپلی سره	هغه څوک چي اراده وکړي	او الله	څښتن د فضل	ډیر لوی دی (پر مؤمنانو باندی)

په مهربانی خپلی هغه څوک چي اراده وکړي او الله څښتن (خاوند) دفضل (مهربانی) ډیر لوی دی. (پر مؤمنانو باندی)

وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ

وَمِنْ	اَهْلِ	الْكِتٰبِ	مَنْ	اِنْ	تَأْمَنْهُ	بِقِنْطَارٍ	يُّؤَدِّهٖٓ
او ځینی	له اهل	دکتابو	هغه دی	که	امین کړی ته دی	په ډیر مال باندی	نو بیرته به وسپاری دا (مال)

او ځینی له اهل د کتابو هغه څوک دی که امین کړی ته دی په ډیر مال باندی نو بیرته به وسپاری دا (مال)

اِلَيْكَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَأْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖٓ

اِلَيْكَ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	اِنْ	تَأْمَنْهُ	بِدِيْنَارٍ	لَّا يُؤَدِّهٖٓ
تاته	او ځینی له دوی څخه	هغه دی	که	امین کړی ته هغه	په دینار باندی	نو اداء به نه کړی دی دا دینار

تا ته او ځینی له دوی څخه هغه دی که امین کړی ته هغه په دینار باندی نو اداء به نه کړی دی دا دینار

اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

اِلَيْكَ	اِلَّا	مَا دُمْتَ	عَلَيْهِ	قَآئِمًا	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ
تاته	مګر	که ئی ته همیشه	په ده	ولاړ	دغه (خیانت)	په سبب د دی دی چي بیشکه دوی

تاته مګر که ئی ته همیشه په ده ولاړ (له پاره د غوښتلو)، دغه (په امانت کی خیانت) په سبب د دی دی چي بیشکه دوی

وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ
دیو غیر مسلم دښو صفتونو تعریف کول جایز دی: په دې ایت کي دځینو خلګو په امانتداری کیدو باندي صفت سوی دی که څه هم ددې ځینو څخه مراد هغه اهل کتاب دي چي ایمان یي راوړی وو نوددوی په تعریف کولو کي خو څه اشکال نسته لیکن که خاص مومنان ور څخه مرادنه وي بلکه مطلق اهل کتاب مراد وي چي غیر مسلمانان په دې کي هم شامل دي نو په دې صورت کي دا سوال پیدا کیږي چي دکافرخو څه عمل مقبول نه وي نو بیا ددوی دمدح صفت کولو څخه فایده څه ده .؟ جواب یي دادی چي دیو شي مقبول کیدل جلا خبره ده او مدح کول یي جلا خبره ده په مدح کولو سره دا نه لازمیږي چي دغه کار دي دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد مقبول هم وی ددې څخه دا هم ښوول مقصود دي چي ښه خبره که څه هم دکافر وي خو په یوه درجه کي ښه هم ده چي فایده یي په دې دنیا کي نیک نامي ده او په اخرت کي دعذاب کمی ددې بیان څخه دا خبره هم په ډاګه کیږي چي اسلام دتعصب او تنګ نظری څخه کار نه اخلي الخ.
(معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١٥٨)

www.jamairahmani.org

قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

قَالُوْا	لَيْسَ	عَلَيْنَا	فِي الْاُمِّيّٖنَ	سَبِيْلٌ	وَيَقُوْلُوْنَ	عَلَى	اللّٰهِ
وويل	نسته	پر موږ باندې	په (حق) د دې اميانو کښې	هيڅ ګناه	او وائي دوی	پر	الله

(کتابيانو) وويل نسته پر موږ باندې په (حق) د دې اميانو کښې هيڅ ګناه، او وائي دوی (کتابيان) پر الله

الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝٧٥ بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ

الْكَذِبَ	وَهُمْ	يَعْلَمُوْنَ	بَلٰى	مَنْ	اَوْفٰى	بِعَهْدِهٖ
دروغ	حال دا چې دوی	پوهيږي	بلکه سته	هر څوک	چې وفا وکړي	په عهد خپل

دروغ (په دې دعوی کښې) حال دا چې دوی پوهيږي (پخپلو درواغو). بلکه سته! هر څوک چې وفا وکړي په عهد خپل

وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝٧٦ اِنَّ الَّذِيْنَ

وَاتَّقٰى	فَاِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُتَّقِيْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ
او پرهيزګاري وکړي	نو بيشکه!	الله	دوست ګڼي	پرهيزګاران	بيشکه!	هغه کسان

او پرهيزګاري وکړي (ځان وساتي له خيانته او کفره) نو بيشکه! الله دوست ګڼي پرهيزګاران. بيشکه! هغه کسان

يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ

يَشْتَرُوْنَ	بِعَهْدِ	اللّٰهِ	وَاَيْمَانِهِمْ	ثَمَنًا	قَلِيْلًا	اُولٰٓئِكَ
چې اخلی دوی	په عهد	د الله باندې	او په (دروغو) قسمونو خپلو باندې	قيمت	لږ	دغه کسان

چې پيرې (بدل اخلی) دوی په عهد د الله باندې او په (دروغو) قسمونو خپلو باندې قيمت لږ، دغه کسان

لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ

لَا خَلَاقَ	لَهُمْ	فِي	الْاٰخِرَةِ	وَلَا يُكَلِّمُهُمُ	اللّٰهُ	وَلَا يَنْظُرُ
نسته هيڅ برخه	د دوی دپاره	په	آخرت کښې	او نه به خبرې وکړي له دوی سره	الله (په خوښی)	او نه به وګوری

نسته هيڅ برخه د دوی دپاره په آخرت کښې او نه به خبرې وکړي له دوی سره الله (په خوښی) او نه به وګوری

اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۠ وَلَهُمْ

اِلَيْهِمْ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	وَلَا	يُزَكِّيْهِمْ	وَلَهُمْ
دوی ته	په ورځې	د قيامت کښې	او نه به	پاک کړي دوی (الله له کفره څخه	او (سته) دوی ته

دوی ته (الله په رحم سره) په ورځې د قيامت کښې او نه به پاک کړي دوی (الله له کفره) او (سته) دوی ته

بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى..عهد دهغه خبري نوم دی چي ددوو فريقو په مينځ کي ديوبل سره په خبرواترو کي مقرره سي: چي پرهغه باندي دواړو فريقو لره قايم او سيدل ضروري وي په خلاف دوعدې څخه چي هغه يوازي ديوه طرف څخه وي دعهد پوره کولو په قرآن کريم او حديث شريف کي ډير تاکيد راغلی دی چنانچي په دې لوړ ايت کي هم دعهد په خلاف ورزی کولو پنځه زورني ذکر دي اول دوی ته به دجنت دنعمتونو څخه څه حصه نه رسيږي په يوه حديث شريف کي نبي کريم ﷺ ارشاد فرمايي چي کم سړی ددرواغو دقسم په ذريعه دمسلمان حق ووهي نو ده دخپل ځان لپاره اور واجب کی راوي عرض وکی چي که هغه شی معمولي هم وي نو بيا به دده لپاره اور واجب وي؟ ده ﷺ وفرمايل که څه هم هغه ددرختي شنه نباخله ولي نه وي. دوهم الله جَلَّ جَلَالُهٗ به په خوشحالي خبري ورسره نه کوي. دريم او الله جَلَّ جَلَالُهٗ به دته دقيامت په ورځ درحمت په نظر سره ونه ګوري. څلورم الله جَلَّ جَلَالُهٗ به دده ګناهونه معاف نه کي پنځم اوددوی لپاره به دردناک عذاب وي: (معارف القرآن ج ۱ پ ۳ ص ۱۵۹)

www.jamairahmani.org

عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ۝٧٧ وَاِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيۡقًا يَّلۡوٗنَ

عَذَابٌ	اَلِيۡمٌ	وَاِنَّ	مِنۡهُمۡ	لَفَرِيۡقًا	يَّلۡوٗنَ
عذاب	دردناک	او بيشکه!	ځينې له دوی څخه	خامخا يو فريق دی	چې اړوی دوی

عذاب درد ناک. او بيشکه! ځينې له دوی څخه خامخا يو فريق دی چې اړوی دوی

اَلۡسِنَتَهُمۡ بِالۡكِتٰبِ لِتَحۡسَبُوۡهُ مِنَ الۡكِتٰبِ وَمَا هُوَ

اَلۡسِنَتَهُمۡ	بِالۡكِتٰبِ	لِتَحۡسَبُوۡهُ	مِنَ الۡكِتٰبِ	وَمَا	هُوَ
ژبې خپلې په (لوستلو د)	کتاب کښې	له پاره د دې چې وګڼئ تاسې هغه	له کتاب څخه	حال دا چې نه دی	دا

ژبې خپلې په (لوستلو د) کتاب کښې له پاره د دې چې وګڼئ تاسې هغه له کتاب (حق منزله څخه) حال دا چې نه دی دا

مِنَ الۡكِتٰبِ ۚ وَيَقُوۡلُوۡنَ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ

مِنَ الۡكِتٰبِ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	هُوَ	مِنۡ	عِنۡدِ	اللّٰهِ	وَمَا	هُوَ
له کتاب (منزل) څخه	او وائی دوی	چې دا	له	جانبه د	الله دی	حال دا چې نه دی	دا

(محرف عبارتونه) له کتاب (منزل) څخه، او وائی دوی چې دا (محرف عبارتونه) له (جانبه د) الله دی حال دا چې نه دی دا

مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ۚ وَيَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ وَهُمۡ

مِنۡ	عِنۡدِ	اللّٰهِ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	عَلَى	اللّٰهِ	الۡكَذِبَ	وَهُمۡ
له	جانبه د	الله	او وائی دوی	په	الله باندې	دروغ	حال دا چې

(محرف عبارتونه راغلی) له (جانبه د) الله، او وائی دوی (کتابيان) په الله باندې دروغ حال دا چې

يَعۡلَمُوۡنَ ۝٧٨ مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنۡ يُّؤۡتِيَهُ اللّٰهُ الۡكِتٰبَ

يَعۡلَمُوۡنَ	مَا	كَانَ	لِبَشَرٍ	اَنۡ	يُّؤۡتِيَهُ	اللّٰهُ	الۡكِتٰبَ
پوهيږی دوی	نه	ښائی	هيڅ بشر ته	چې	ورکړی ده ته	الله	کتاب

پوهيږی دوی (پخپلو دروغ ويلو) نه ښائی هيڅ بشر ته چې ورکړی ده ته الله کتاب

وَالۡحُكۡمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوۡلَ لِلنَّاسِ كُوۡنُوۡا عِبَادًا لِّيۡ

وَالۡحُكۡمَ	وَالنُّبُوَّةَ	ثُمَّ	يَقُوۡلَ	لِلنَّاسِ	كُوۡنُوۡا	عِبَادًا لِّيۡ
او حکمت (شرعی احکام)	او نبوت	بيا	ووائی	خلګو ته	چې سئ تاسې	بندګان ما لره

او حکمت (شرعی احکام) او نبوت بيا ووائی خلګو ته چې سئ تاسې بندګان ما لره (عبادت کوونکی) ما لره

مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنۡ يُّؤۡتِيَهُ اللّٰهُ.. دپيغمبرانو دپاکی يو دليل: دنجران وطن څخه په راغلي ډلې او جماعت کي ځينو يهودو او نصاراوو ويلي وه چي ای محمد ﷺ آيا ته دا غواړي چي موږ ستا دغه شان عبادت شروع کړو لکه څنګه چي نصاراوو دعيسی علیه السلام چي زوی دمريمي دی عبادت کوی؟ نو ده ﷺ وفرمايل چي پناه غواړم په خدای ﷻ سره دغير الله دعبادت کولو څخه چي يا زه دغير الله عبادت وکړم او يا نور دې ته راوبلم الله ﷻ موږ ددې کار لپاره نه يو راليږلي نو په دې باندې دا ايت رانازل سو: يعني کم بنده ته چي الله ﷻ کتاب حکمت او قوت دفيصلي ورکي او د پيغمبری لويه مرتبه ورلره ورکي چي دی دالله ﷻ پيغام په صحيح طريقه سره ورسوي او بيا دی خلګ دالله ﷻ دبندګی څخه اړوي دخپل ځان يا دنورمخلوق بندګان ور څخه جوړ وي ددې خو به دا مطلب سي چي الله ﷻ ځوک دکم منصب (مرتبې) لايق ګڼلی وو اوراليږلي يي وو هغه په واقع کي دهغه لايق نه وو حالانکه دا خبره خلاف دحقيقت ده.
(معارف القرآن ج ١ پ٣ ص١٦١)

www.jamairahmani.org

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلٰكِنۡ كُوۡنُوۡا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنۡتُمۡ

مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	وَلٰكِنۡ	كُوۡنُوۡا	رَبّٰنِيّٖنَ	بِمَا	كُنۡتُمۡ
بې له	الله ﷻ	وليكن	سئ تاسي	عالمان (الله والا)	په سبب د دی	چي يئ تاسي

بې له الله ﷻ، و ليكن (وائي چي) سئ تاسي عالمان په سبب د دی چي يئ تاسي

تُعَلِّمُوۡنَ الۡكِتٰبَ وَبِمَا كُنۡتُمۡ تَدۡرُسُوۡنَ ﴿۷۹﴾

تُعَلِّمُوۡنَ	الۡكِتٰبَ	وَبِمَا	كُنۡتُمۡ	تَدۡرُسُوۡنَ
چي ښوونه کوئ (خلکو ته)	د کتاب	او په سبب د دی	چي يئ تاسي	چي تدريس کوئ

چي ښوونه کوئ (خلکو ته) کتاب (شرعي احکام) او په سبب د دی چي يئ تاسي چي تدريس کوئ.

وَلَا يَاۡمُرَكُمۡ اَنۡ تَتَّخِذُوا الۡمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرۡبَابًا ؕ اَيَاۡمُرُكُمۡ

وَلَا	يَاۡمُرَكُمۡ	اَنۡ	تَتَّخِذُوا	الۡمَلٰٓئِكَةَ	وَالنَّبِيّٖنَ	اَرۡبَابًا	اَيَاۡمُرُكُمۡ
او نه	کوی امر تاسي ته	د دی چي	ونيسئ تاسي	ملائيکي	او انبياء	خدايان	آيا امر کوی (الله يا نبي) تاسي ته

او نه کوی امر تاسي ته (الله يا نبي) د دی چي ونيسئ تاسي ملائيکي او انبياء خدايان آيا امر کوی (الله يا نبي) تاسي ته

بِالۡكُفۡرِ بَعۡدَ اِذۡ اَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿۸۰﴾ ؑ وَاِذۡ اَخَذَ

ع ٨ ١٢

بِالۡكُفۡرِ	بَعۡدَ اِذۡ	اَنۡتُمۡ	مُّسۡلِمُوۡنَ	وَاِذۡ	اَخَذَ
په کفر سره	وروسته له دی نه	چي يئ تاسي	مسلمانان	او (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت	چي واخيست

په کفر سره وروسته له دی نه چي يئ تاسي مسلمانان. او (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چي واخيست

اللّٰهُ مِيۡثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيۡتُكُمۡ مِّنۡ كِتٰبٍ وَّحِكۡمَةٍ

اللّٰهُ	مِيۡثَاقَ	النَّبِيّٖنَ	لَمَآ	اٰتَيۡتُكُمۡ	مِّنۡ	كِتٰبٍ	وَّحِكۡمَةٍ
الله	عهد محکم	له ټولو انبياؤ	چي خامخا هغه شی	چي درکړم زه تاسي ته	چي	هغه کتاب	او حکمت دی

الله عهد محکم له ټولو انبياؤ چي خامخا هغه شی چي درکړم زه تاسي ته چي هغه کتاب او حکمت (شرعي احکام) دی

ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمۡ

ثُمَّ	جَآءَكُمۡ	رَسُوۡلٌ	مُّصَدِّقٌ	لِّمَا	مَعَكُمۡ
بيا	راسي تاسي ته	رسول (محمد)	چي مصدق (رښتيا کوونکی) دی	د هغه (کتاب)	چي له تاسي سره دی

بيا راسي تاسي ته رسول (محمد) چي مصدق (رښتيا کوونکی) دی د هغه کتاب چي له تاسي سره دی

وَاِذۡ اَخَذَ اللّٰهُ مِيۡثَاقَ النَّبِيّٖنَ.. دالله ﷻ دری

عهدونه: الله ﷻ دخپلو بندگانو څخه درې قسمه عهدونه اخيستي دي ديوه عهد ذکر په سورت اعراف کي سوی دی په (أَلَسۡتُ بِرَبِّكُم) سره ددې عهد مقصد داوو چي ټول بني نوع مخلوق انسان دخدای ﷻ په سته والي او عام والي باندي عقيده وساتي ځکه چي دمذهب ټوله ابادي پر دې بنياد باندي ده تر څو پوري چي داعقيده نه وي په مذهبي ميدان کي دعقل او فکر لار ښوول هيڅ فايده نه سي رسولی ددې زيات تفصيل به ان شاءالله پر خپل ځای باندي راسي: دوهم ذکر دعهد په (واذاخذ الله ميثاق الذين اوتو الكتب لتبيّننّه للنّاس ولاتكتمونه) سره سوی دی دغه عهد يوازي داهل کتابو دعلماوو څخه اخيستل سوی دی چي دوی به حق نه پټوي بلکه په صاف او واضح طريقه سره به يي بيانوي. دريم عهد او د هغه بيان په (واذاخذ الله ميثاق النبيّن لما آتيتكم من كتب ورحمة) سره سوی دی چي دغه عهد الله ﷻ دانبياوو څخه اخيستی دی چي بيا به يي بيان مخ ته راسي.
(معارف القرآن ج١ پ٣ ص١٦٣)

www.jamairahmani.org

لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ

لَتُؤْمِنُنَّ	بِهٖ	وَلَتَنْصُرُنَّهٗ	قَالَ	ءَاَقْرَرْتُمْ
نو هرو مرو به ایمان راوړئ تاسی خامخا	په هغه	او خامخا مدد به کوئ تاسی ورسره	وویل (الله)	آیا اقرار وکړ تاسی په دغه

نو هرومرو به ایمان راوړئ تاسی خامخا په هغه او خامخا مدد به کوئ تاسی ورسره وویل (الله دوی ته) آیا اقرار وکړ تاسی

وَاَخَذْتُمْ عَلٰی ذٰلِكُمْ اِصْرِیْ قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوْا

وَاَخَذْتُمْ	عَلٰی	ذٰلِكُمْ	اِصْرِیْ	قَالُوْٓا	اَقْرَرْنَا	قَالَ	فَاشْهَدُوْا
او واخیسته تاسی	پر	دی	ټینګه وعده زما	وویل دوی	اقرار وکړ موږ په دی	وفرمایل (الله)	نو شاهدان اوسئ

په دغه او واخیسته (قبوله کړه) تاسی پر دی ټینګه وعده زما؟ وویل دوی اقرار وکړ موږ (په دی) ، وفرمایل (الله) نو شاهدان اوسئ

وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿٨١﴾ فَمَنْ تَوَلّٰی بَعْدَ ذٰلِكَ

وَاَنَا	مَعَكُمْ	مِّنَ	الشّٰهِدِیْنَ	فَمَنْ	تَوَلّٰی	بَعْدَ	ذٰلِكَ
او زه هم	له تاسی سره	له	شاهدانو څخه یم	نو هر څوک چی	بیرته وګرځید	وروسته	له دی (عهده)

او زه هم له تاسی سره له شاهدانو څخه یم. نو هر څوک چی بیرته وګرځید وروسته له دی (دایمان او نصرت عهده)

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ اَفَغَیْرَ دِیْنِ اللّٰهِ یَبْغُوْنَ

فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْفٰسِقُوْنَ	اَفَغَیْرَ	دِیْنِ	اللّٰهِ	یَبْغُوْنَ
نو دغه کسان	هم دوی	فاسقان دی	آیا نو غیر	له دین	د الله	څنی غواړی

نو دغه (شاګرځوونکی کسان) هم دوی فاسقان دی. آیا نو غیر له دین د الله څنی غواړی (دوی بل دین)

وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا

وَلَهٗٓ	اَسْلَمَ	مَنْ	فِی	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	طَوْعًا
حال دا چی (خاص) الله ته	غاړه ایښی ده	هر هغه	چی په	آسمانونو کښی دی	او په ځمکه کښی دی	په خوښه

حال دا چی (خاص) الله ته غاړه ایښی ده هر هغه چی په آسمانونو کښی دی (له علویاتو) او په ځمکه کښی دی په خوښه

وَّكَرْهًا وَّاِلَیْهِ یُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ

وَّكَرْهًا	وَّاِلَیْهِ	یُرْجَعُوْنَ	قُلْ	اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ	وَمَآ	اُنْزِلَ
یا په زوره	او بیا (خاص) هم ده ته	بیرته بیولی کیږی	وواېه	چی ایمان راوړی دی موږ	په الله	او په هغه	چي نازل کړی سوی دی

یا په زوره او بیا (خاص) هم دی ته بیرته بیولی کیږی. وواېه چی ایمان راوړی دی موږ په الله او په هغه کتاب چی نازل کړی سوی دی

لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ
په دې اياتونو کي دا خبره ښکاره بيان سويده: چي الله ﷻ دټولو انبياوو څخه دا پخه وعده واخيسته چي کله په تاسي کي تر يوه نبي وروسته بل نبي راسي چي په يقين سره دمخکنيو پيغمبرانو اوددوی دکتابونو تصديق کوونکی وي يعني هغوی ته رښتيني وايي نو داولنې لپاره دا ضروري ده چي ددې وروسته نبي په رښتينوالي او نبوت باندي په خپله هم ايمان راوړي او نورو ته هم ددې ښوونه وکړي دقرآن کريم ددې کلي قاعدې او عامې قاعدې څخه درڼا ورځ په شان دا خبره په ډاګه کيږي چي الله ﷻ به دمحمد ﷺ په باره کي هم داسي وعده دانبياوو څخه اخيستي وي لکه چي علامه سبکي په خپله رسالة کي فرمايي چي په ايت کي درسول الله څخه مراد محمد ﷺ دی بل يو داسي نبي نه دی تير سوی چي دهغه څخه الله ﷻ ددوی دذات او صفاتو په باره کي دتاييد او مدد او په دوی باندي دايمان راوړلو وعده نه وي اخيستې نو معلومه سول چي دنبي کريم ﷺ نبوت عام دی تر قيامته پوري به وي.
(معارف القرآن ج ١ پ٣ ص ١٦٤)

عَلَيۡنَا وَمَآ اُنۡزِلَ عَلٰۤى اِبۡرٰهِيۡمَ وَاِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ

عَلَيۡنَا	وَمَآ	اُنۡزِلَ	عَلٰۤى	اِبۡرٰهِيۡمَ	وَاِسۡمٰعِيۡلَ	وَاِسۡحٰقَ
پر موږ (چې قرآن دی)	او پر هغو	چې نازلې کړې سوې دي	پر	ابراهيم	او (پر) اسماعيل	او (پر) اسحق

پر موږ (چې قرآن دی) او پر هغو چې نازلې کړې سوي دي پر ابراهيم او (پر) اسماعيل او (پر) اسحق

وَيَعۡقُوۡبَ وَالۡاَسۡبَاطِ وَمَاۤ اُوۡتِيَ مُوۡسٰى وَعِيۡسٰى

وَيَعۡقُوۡبَ	وَالۡاَسۡبَاطِ	وَمَاۤ	اُوۡتِيَ	مُوۡسٰى	وَعِيۡسٰى
او (پر) يعقوب	او (پر) اولاده (د دوی) باندی	او (پر) هغو	چې ورکړې سوې دي	موسى ته	او عيسى ته

او (پر) يعقوب او (پر) اولاده (د دوی) باندی او (پر) هغو چې ورکړې سوې دي موسى ته (تورات) او عيسى ته (انجيل)

وَالنَّبِيُّوۡنَ مِنۡ رَّبِّهِمۡ ۚ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ ۫

وَالنَّبِيُّوۡنَ	مِنۡ	رَّبِّهِمۡ	لَا نُفَرِّقُ	بَيۡنَ	اَحَدٍ	مِّنۡهُمۡ
او نورو انبياؤ ته	له	جانبه د رب د دوی	نه کوو فرق	په مينځ	د هيڅ يوه	د دوی

او نورو انبياؤ ته (چې نور آيتونه دي) له (جانبه د) رب د دوی (حال داچې) نه کوو فرق په مينځ د هيڅ يوه د دوی

وَنَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۸۴﴾ وَمَنۡ يَّبۡتَغِ غَيۡرَ الۡاِسۡلَامِ

وَنَحۡنُ	لَهٗ	مُسۡلِمُوۡنَ	وَمَنۡ	يَّبۡتَغِ	غَيۡرَ	الۡاِسۡلَامِ
او موږ (خاص)	الله ته	غاړه ايښودونکي يو	او هر څوک	چې غواړي	غير	له اسلامه

او موږ (خاص) الله ته غاړه ايښودونکي يو. او هر څوک چې غواړي غير له اسلامه (چې توحيد او د الله احکامو ته انقياد دی)

دِيۡنًا فَلَنۡ يُّقۡبَلَ مِنۡهُ ۚ وَهُوَ فِى الۡاٰخِرَةِ مِنَ

دِيۡنًا	فَلَنۡ يُّقۡبَلَ	مِنۡهُ	وَهُوَ	فِى الۡاٰخِرَةِ	مِنَ
بل دين	نو له سره به ونه منل سي	له ده څخه	حال داچې وی به دی	په آخرت کښې	له

بل دين نو له سره به ونه منل سي له ده څخه، حال داچې وی به دی په آخرت کښې له

الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۸۵﴾ كَيۡفَ يَهۡدِى اللّٰهُ قَوۡمًا كَفَرُوۡا بَعۡدَ

الۡخٰسِرِيۡنَ	كَيۡفَ	يَهۡدِى	اللّٰهُ	قَوۡمًا	كَفَرُوۡا	بَعۡدَ
زيانکارانو	څرنګه به	سمه صافه لاره ښئي	الله	هغه قوم ته	چې کافران سوي دي	وروسته له

زيانکارانو . څرنګه به سمه صافه لاره ښئي الله (بلکه نه ښئي هغه) قوم ته چې کافران سو ی دی وروسته له

وَمَنۡ يَّبۡتَغِ غَيۡرَ الۡاِسۡلَامِ دِيۡنًا.. داسلام پيژندل او په دې سره خلاصون

حاصلول: داسلام لفظي معنى دحکم منل او فرمانبرداري ده او په اصطلاح کې خاص دهغه دين دحکم منلونوم اسلام دی کم چې الله ﷻ دخپلو پيغمبرانو په ذريعه دانسانانو دهدايت لپاره راليږلی دی ځکه چې ددين اصول دټولو انبياوو په شريعتونوکې يو دې : بيا لفظ داسلام کله ددې عام مفهوم مطلب لپاره استعماليږي او کله يوازې ددې آخرې شريعت لپاره ويل کيږي کم چې پر خاتم الانبياء ﷺ باندې نازل سوې دې په قرآن کريم کې ورڅخه دواړه مطلبه اخيستل سوي دې او ددې دواړولپاره استعمال سوی دی .دټيرو پيغمبرانو خپل ځان ته مسلمان ويل او خپل امت ته مسلمان امت ويل هم دقرآن په اياتونو سره ثابت دې او ددې نوم دخاتم الانبياء ﷺ په امت سره خالص والی هم ذکر دی (هو سمّاکم المسلمين من قبل وفي هذا) لنډه داچې هر خدايي دين چې دکم نبي اورسول په ذريعه دنيا ته راغلی دی هغه ته هم اسلام ويل کيږي او دامت محمديه لپاره ديو خاص لقب په طور سره هم استعماليږي.

(معارف القرآن ج١پ٣ ص١٦٦)

www.jamairahmani.org

اِيۡمَانِهِمۡ وَشَهِدُوۡٓا اَنَّ الرَّسُوۡلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ

اِيۡمَانِهِمۡ	وَشَهِدُوۡٓا	اَنَّ	الرَّسُوۡلَ	حَقٌّ	وَّجَآءَ	هُمُ
ايمان راوړلو د دوی	حال دا چې شاهدی ورکړې ده دوی	په دې چې بيشکه!	رسول	حق دی	او راغلی دی	دوی ته

ايمان راوړلو د دوی حال دا چې شاهدی ورکړې ده دوی په دې چې بيشکه رسول حق دی او راغلی دی دوی ته

الۡبَيِّنٰتُ وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۸۶﴾ اُولٰٓئِكَ

الۡبَيِّنٰتُ	وَاللّٰهُ	لَا يَهۡدِى	الۡقَوۡمَ	الظّٰلِمِيۡنَ	اُولٰٓئِكَ
معجزی ښکاره	او الله	نه کوی هدايت	قوم	ظالمانو ته	دغه کسان

معجزی ښکاره، او الله نه کوی هدايت (نه ښئی سمه صافه لاره) قوم ظالمانو ته (چې اسلام په کفر بدلوی) . دغه کسان

جَزَآؤُهُمۡ اَنَّ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةَ اللّٰهِ وَالۡمَلٰٓئِكَةِ

جَزَآؤُهُمۡ	اَنَّ	عَلَيۡهِمۡ	لَعۡنَةَ	اللّٰهِ	وَالۡمَلٰٓئِكَةِ
جزا د دوی دا ده	چې بيشکه!	پر دوی دی	لعنت	د الله	او (لعنت) د ملائيکو (چې بيزاره دی د دوی څخه)

جزا د دوی دا ده چې بيشکه! پر دوی لعنت د الله دئ (چې لرې کوی دوی له رحمت خپل) او (لعنت) د ملائيکو

وَالنَّاسِ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۸۷﴾ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ الۡعَذَابُ

وَالنَّاسِ	اَجۡمَعِيۡنَ	خٰلِدِيۡنَ	فِيۡهَا	لَا يُخَفَّفُ	عَنۡهُمُ	الۡعَذَابُ
او (لعنت) د خلکو	د ټولو	حال دا چې تل به وی دوی	په دغه کښې	نه به سپکاوه سی	له دوی څخه	عذاب

او (لعنت) د خلکو د ټولو. حال دا چې تل به وی دوی په دغه (لعنت يا اور) کښې، نه به سپکاوه سی له دوی څخه عذاب

وَلَا هُمۡ يُنۡظَرُوۡنَ ﴿۸۸﴾ اِلَّا الَّذِيۡنَ تَابُوۡا

وَلَا	هُمۡ	يُنۡظَرُوۡنَ	اِلَّا	الَّذِيۡنَ	تَابُوۡا
او نه به	دوی ته	مهلت ورکړ سی	مګر	هغه کسان	چې توبه ئې وښکله (وکښله)

(د دوزخ) او نه به دوی ته مهلت ورکړ سی (د توبې). مګر هغه کسان چې توبه ئې وښکله (وکښله) (اسلام ته راوګرځيدل)

مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ وَاَصۡلَحُوۡا ۟ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۸۹﴾

مِنۡۢ بَعۡدِ	ذٰلِكَ	وَاَصۡلَحُوۡا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ
وروسته له	دی	او نيک ئې کړه (عملونه خپل)	نو بيشکه!	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډير رحم والا دی

وروسته له دی (ارتداده) او نيک ئې کړه (عملونه خپل) نو بيشکه! الله ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډير رحم والا دی.

وَشَهِدُوۡٓا اَنَّ الرَّسُوۡلَ حَقٌّ

لنډ تفسير: اول ددين څخه د مرتد سوو هغه خلګو بيان دی چې پر کفر باندي ولاړ وه او دا کفريي هدايت ګڼی کله چې د دوی عقيده يا دعوی داوه چې الله ﷻ موږ ته اوس هدايت فرمايلی دی نو په دې وجه د دوی په بدوالي بيانولو کي ددي هدايت نستوالی هم بيانوي فرمايي چي الله ﷻ به داسي خلګو ته څنګه هدايت وکي چي کافران سوي دي وروسته تر ايمان راوړلو په زړه سره او وروسته تر خپل دې اقرار په ژبه سره چي رسول ﷺ په دعوی ده رسالت کي رښتينی دی او وروسته تر دې چي دوی ته ښکاره دليلونه د اسلام د حق والي رسيدلي وه او الله ﷻ داسي بې ادبه خلګو ته هدايت نه کوي دا مطلب نه دی چي داسي خلګو ته هيڅ ځای هم د اسلام توفيق نه ورکوي بلکه مقصود د دوی ددې لوړې ذکر سوي دعوی نفي کول دي چي دوی به ويل چي موږ چي اسلام پرې ايښی دی او دا طريقه مو اختياره کړې ده دا موږ ته خدای ﷻ هدايت کړی دی الله ﷻ د دوی ددې خبرې رد وکړی چي داسي نه ده :

(معارف القرآن ج۱ پ۳ ص۱۶۸)

www.jamairahmani.org

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ

اِنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بَعْدَ	اِيْمَانِهِمْ	ثُمَّ
بيشكه!	هغه كسان	چي كافران سوي دي	وروسته	له ايمان راوړلو د دوي	بيا ئي

بيشكه! هغه كسان (له يهودو) چي كافران سوي دي (په انجيل او عيسى) وروسته له ايمان راوړلو د دوي، بيا ئي

ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

ازْدَادُوْا	كُفْرًا	لَّنْ تُقْبَلَ	تَوْبَتُهُمْ	وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ
زياتوالى وكړ	په كفر كښي	له سره به نه قبليږي	توبه د دوي	او دغه كسان	هم دوي

زياتوالى وكړ په كفر كښي (په نه منلو د قرآن او محمد) له سره به نه قبليږي توبه د دوي، او دغه كسان هم دوي

الضَّآلُّوْنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا

الضَّآلُّوْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَمَاتُوْا
گمراهان دي	بيشكه!	هغه كسان	چي كافران سوي دي	او مړه سوي دي

گمراهان دي. بيشكه! هغه كسان چي كافران سوي دي او مړه سوي دي

وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ

وَهُمْ	كُفَّارٌ	فَلَنْ يُّقْبَلَ	مِنْ	اَحَدِ	هِمْ
حال دا چي دوي	كافران دي	نو له سره به قبول نسي	له	يوه	د دوي څخه

حال دا چي دوي كافران دي نو له سره به قبول نسي له يوه د دوي څخه

مِّلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ

مِّلْءُ	الْاَرْضِ	ذَهَبًا	وَّلَوِ	افْتَدٰى	بِهٖ	اُولٰٓئِكَ
په ډكوالي	د مځكي	سره زر	او اگر كه	فديه وركړي دي	په دغه (تول زر) سره	دغه كسان

په ډكوالي د مځكي سره زر، او اگر كه فديه وركړي دي په دغه (تول زر) سره، دغه كسان (چي پر كفر مړه دي)

لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٩١﴾

لَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	وَّمَا	لَهُمْ	مِّنْ نّٰصِرِيْنَ
سته دوي لره	عذاب	دردناك	او نسته	د وي لره	هيڅ مددگاران

سته دوي لره عذاب د دردناك او نسته دوي لره هيڅ مددگاران (چي مرسته ورسره وكړي)

كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا...لنډ تفسير: نو ددې نفي خلاصه دا سوه چي كم سړى د كفر بې ډبه لاره اختياره كړي هغه د الله ﷻ پر هدايت باندي نه دى په دې وجه هغه داسي نه سي ويلاى چي ما ته خداى هدايت كړى دى ځكه چي د هدايت دغه لاره نه ده بلكه داسي خلگ يقيني گمراهان دي او دداسي خلگو سزا داده چي پر دوى د الله ﷻ لعنت هم دى او د فرشتو لعنت هم دى او د ډيرو خلگو هم. غرض د ټولو او بيا هغه لعنت به په داسي طور سره وي چي دى به د هميشه هميشه لپاره په دې لعنت كي اوسي او كله چي ددې لعنت اثر جهنم دى نو مطلب داسو چي دى به د هميشه لپاره په جهنم كي وي او دده څخه به عذاب هم نه سپكول كيږي او نه به تر داخليدو مخكي ده ته تر څه ميعاده پوري مهلت وركول كيږي :مخ ته بيا د هغه خلگو بيان دى چي بيا مسلمان سي دوى بيا ددې حكم څخه جلا كوي يعني مگر البتّه كم خلگ چي توبه وباسي ددې كفر څخه وروسته يعني مسلمانان سي او خوله او زړه يې سره برابر سي منافقان نه وي الله ﷻ يې بخښي. (معارف القرآن ج ١ پ ٣ ص ١٦٨)

ع ۹ / ۱۷

www.jamairahmani.org

لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰى تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ

لَنۡ تَنَالُوا	الۡبِرَّ	حَتّٰى	تُنۡفِقُوۡا	مِمَّا	تُحِبُّوۡنَ
لەسرەبەپیدانەکړی تاسی	نیکی	ترهغه پوری	چی خرڅ کړئ تاسی	څنی له هغو شیانو	چی ستاسی خوښ وی

لەسرەبەونەمومئ تاسی (پورە) نیکی ترهغه پوری چی خرڅ کړئ تاسی (پەلاره د الله) څنی له هغو شیانو چی ستاسی خوښ وی

وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ شَىۡءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيۡمٌ ﴿۹۲﴾ كُلُّ الطَّعَامِ

وَمَا	تُنۡفِقُوۡا	مِنۡ	شَىۡءٍ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	بِهٖ	عَلِيۡمٌ	كُلُّ	الطَّعَامِ
او هغه چی	خرڅوئ (ئی) تاسی	له	یوه شی	پس بیشکه!	الله	په هغه	ښه عالم دی	ټول	طعام

اوهغه چی خرڅوئ (ئی) تاسی له یوه شی پس بیشکه! الله په هغه (هم) ښه عالم دی. ټول طعام (دخوړلو شیان)

كَانَ حِلًّا لِّبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسۡرَآءِيۡلُ عَلٰى

كَانَ	حِلًّا	لِّبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ	اِلَّا	مَا	حَرَّمَ	اِسۡرَآءِيۡلُ	عَلٰى
وو	حلال	بنی اسرائیلو ته	مگر	هغه چی	حرام کړی وو	آسرائیل (یعقوب)	پر

وو حلال بنی اسرآئیلو (څامنو د یعقوب) ته مگر هغه (طعامونه) چی حرام کړی وو آسرائیل (یعقوب) پر

نَفۡسِهٖ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ تُنَزَّلَ التَّوۡرٰٮةُ ؕ قُلۡ فَاۡتُوۡا

نَفۡسِهٖ	مِنۡ قَبۡلِ	اَنۡ	تُنَزَّلَ	التَّوۡرٰٮةُ	قُلۡ	فَاۡتُوۡا
ځان خپل	پخوا له هغه	چی	نازل کیده	تورات	ووایه (محمده)	نو راوړئ تاسی

ځان خپل (د اوښانو له غوښو او شودو) پخوا له هغه چی نازل کیده تورات، ووایه(ای !محمده! دوی ته) نو راوړئ تاسی

بِالتَّوۡرٰٮةِ فَاتۡلُوۡهَاۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنِ

بِالتَّوۡرٰٮةِ	فَاتۡلُوۡهَاۤ	اِنۡ	كُنۡتُمۡ	صٰدِقِيۡنَ	فَمَنِ
تورات	پس وئی وی وایاست تاسی هغه	که	یئ تاسی	صادقان (رښتنی)	پس هر چا چی

(صحیح) تورات پس وئی لولئ تاسی (دخپل صدق له پاره) که یئ تاسی صادقان (رښتنی). (نو فرمائی الله) پس هر چاچی

افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓـئِكَ

افۡتَرٰى	عَلَى	اللّٰهِ	الۡكَذِبَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	ذٰلِكَ	فَاُولٰٓـئِكَ
وتړل	پر	الله	دروغ	وروسته له	هغه	پس دغه کسان

وتړل په الله دروغ وروسته له هغه پس دغه کسان (چی حق پریږدی او باطل خوښوی ،

لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰى تُنۡفِقُوۡا

ذکرسوی ایت او دصحابه کرامو عمل: دمدیني منورې په انصارو کي تر ټولو زیات مالدار حضرت ابوطلحة ض وو مسجد نبوي ته بالکل مخامخ او متصل دده باغ وو په دې باغ کي یو څاه وو د (بیرحا) په نامه سره یادیدی اوس ددغه باغ پر ځای یوه آبادي جوړه سوې ده چي اصطفاء منزل ورته وایي چي دمدیني منورې زیارت کوونکي اوسیدنه په ده کښي کوي البتّه ددې په شمال مشرقي کنج کي دغه بیرحا په همدې نوم سره تر اوسه موجود دی نبي کریم ﷺ به کله کله دې باغ ته تشریف وړی او دبیرحا څاه اوبه به یي چیښلې دده ﷺ ددې څاه اوبه خوښې وې دحضرت ابوطلحة رضی الله عنه دا باغ ډیر قیمتي او تر وتازه وو ده رضی الله عنه ته دا باغ په خپل ټول جایداد کي تر ټولو زیات خوښ وو ددې ایت په نازلیدو باندي دی دنبي کریم ﷺ دپه خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکی چي زما په ټول جایداد کي ماته گران تر ټولو دبیرحا باغ دی زه داد الله جل جلاله په لاره کي خرڅ کول غواړم او خوښه ستاسي ده نبي کریم ﷺ وفرمایل پر خپلو خپلوانو یې خرڅ کړی ده هم پر خپلوانو باندي خرڅ او خیرات کړی.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۲)

www.jamairahmani.org

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ۗ فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ

هُمُ	الظّٰلِمُوْنَ	قُلْ	صَدَقَ	اللّٰهُ	فَاتَّبِعُوْا	مِلَّةَ
هم دوی دی	ظالمان	ووایه (محمده! دوی ته)	رښتیا فرمایلی دی	الله	نو متابعت وکړئ تاسی	د دین

هم دوی دی ظالمان، ووایه (ای محمده! دوی ته) رښتیا فرمایلی دی الله نو متابعت وکړئ تاسی د دین

اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۵﴾ اِنَّ

اِبْرٰهِيْمَ	حَنِيْفًا	وَمَا	كَانَ	مِنَ	الْمُشْرِكِيْنَ	اِنَّ
د ابراهیم	چي حنیف ؤ	او نه	ؤ دی	له	مشرکانو څخه	بیشکه!

د ابراهیم چي حنیف ؤ (په یوه لوری ؤ یعنی له هر باطله حق ته مائل ؤ) او نه ؤ دی له مشرکانو . بیشکه!

اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ

اَوَّلَ	بَيْتٍ	وُّضِعَ	لِلنَّاسِ	لَلَّذِيْ	بِبَكَّةَ
اوله	کوټه	چي جوړه سوی ده	خلګو ته	خامخا هم دا ده	چي په مکه کښی ده

رومبنی کوټه (بیت الله) چي جوړه سوی ده (له ټولو نه پخوا) خلګو ته خامخا (هغه کوټه) هم دا ده چي په مکه کښی ده.

مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۶﴾ فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ

مُبٰرَكًا	وَّهُدًى	لِّلْعٰلَمِيْنَ	فِيْهِ	اٰيٰتٌ	بَيِّنٰتٌ	مَّقَامُ
حال دا چي برکت ناکه	او لاره ښوونکی ده	خلګو ته	(سته) په دی کوټه کښی	آثار	ښکاره	مقام

حال دا چي برکت ناکه او لاره ښوونکی ده خلګو ته. (سته) په دی کوټه کښی آثار ښکاره (ځینی ئی) مقام

اِبْرٰهِيْمَ ۚ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ

اِبْرٰهِيْمَ	وَمَنْ	دَخَلَهٗ	كَانَ	اٰمِنًا	وَ	لِلّٰهِ	عَلَى	النَّاسِ	حِجُّ
د ابراهیم دی	او هر څوک چي	ننوت په دی کعبه کښی	نو سی به	په امان کښی	او	الله لره	پر	خلګو	حج

د ابراهیم دی، او هر څوک چي ننوت په دی (کعبه) کښی نو سی به په امان کښی. او (واجب دی) الله لره پر خلګو حج

الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ

الْبَيْتِ	مَنِ	اسْتَطَاعَ	اِلَيْهِ	سَبِيْلًا	وَمَنْ	كَفَرَ	فَاِنَّ
د (دی) بیت (الله) دی	پر هغه	چي قدرت لری	طرف د ده ته	د لاری	او هر څوک چي	کافر سو	نو بیشکه!

د (دی) بیت (الله) دی پر هغه چي قدرت لری طرف د ده ته د لاری ، او هر څوک چي کافر سو (وئی نه مانه) نو بیشکه!

اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ...دکعبې شریفي

فضيلت : په دې ذکر سوي ايت کي دټولي دنيا تر ځايونو تر دې چي دټولو مسجدونو په مقابله کي دبيت الله يعني دکعبې شريفي دشرافت او ښه والي بيان دی او دا شرافت او ښه والی په څو وجو سره دی **اول** :په دې وجي سره چي ددنيا دټولو رښتينو ځايونو دعبادت څخه په ټولو کي اولنی دعبادت ځای دی. **دوهم** دا چي برکت لرونکی دی **دريم**: داچي دی دټولي دنيا لپاره هدايت او رهنمايي ذريعه ده دايت دالفاظو خلاصه داده چي تر ټولو اولنی کور چي دالله ﷻ له طرفه دخلګو لپاره مقرر سوی دی هغه په مکه کي دی ددې مطلب دادی چي په دنيا کي تر ټولو اولنی عبادت خانه کعبه ده ددې دا صورت هم کيدای سي چي ددنيا په ټولو کورونو کي اولنی کور دعبادت لپاره جوړ سوی وي تر دې وړاندي نه کمه عبادت خانه جوړه سوي وه او نه دا وسيدو کور حضرت آدم عليه السلام دالله ﷻ نبي دی دهغه دشان څخه دا ليري خبره نه ده چي هغه دې اول وار دخپل کور څخه دمخه دالله ﷻ کور جوړ کړی وي.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۹)

www.jamairahmani.org

اللهُ غَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ۝٩٧ قُلْ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ

اللهُ	غَنِیٌّ	عَنِ	الْعٰلَمِیْنَ	قُلْ	یٰۤاَهْلَ	الْكِتٰبِ	لِمَ
الله	بی پروا دی	له	ټولو مخلوقاتو	وو ایه (ای محمده!)	ای اهل	د کتابونو!	ولی

الله بی پروا دی له ټول عالم څخه (له هر چا او هر شی څخه) . وو ایه (ای محمده!) ای اهل د کتابونو! ولی

تَكْفُرُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ۖ وَ اللّٰهُ شَهِیْدٌ عَلٰی مَا تَعْمَلُوْنَ ۝٩٨

تَكْفُرُوْنَ	بِاٰیٰتِ	اللّٰهِ	وَ	اللّٰهُ	شَهِیْدٌ	عَلٰی	مَا	تَعْمَلُوْنَ
کافران کیږئ تاسی	په آیتونو	د الله	او	الله	ښه شاهد دی	پر	هغو کارونو	چی تاسی ئی کوئ

کافران (منکران) کیږئ تاسی په آیتونو د الله او الله ښه شاهد دی پر هغو کارونو (هم) چی تاسی ئی کوئ.

قُلْ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ

قُلْ	یٰۤاَهْلَ	الْكِتٰبِ	لِمَ	تَصُدُّوْنَ	عَنْ	سَبِیْلِ	اللّٰهِ
وو ایه (ای محمده!)	چی ای اهل	دکتابونو!	ولی	تاسی منع کوئ	له	لاری	د الله څخه

وو ایه (ای محمده!) چی ای اهل د کتابونو! ولی تاسی منع کوئ (اړوئ) له لاری د الله څخه

مَنْ اٰمَنَ تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا وَّ اَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَ مَا اللّٰهُ

مَنْ	اٰمَنَ	تَبْغُوْنَهَا	عِوَجًا	وَّ اَنْتُمْ	شُهَدَآءُ	وَ مَا	اللّٰهُ
هغه څوک	چی ایمان ئی راوړی	لټوئ تاسی لاری د الله ته	کوږوالی	حال دا چی تاسی یئ	شاهدان	او نه دی	الله

هغه څوک چی ایمان ئی راوړی لټوئ تاسی لاری د الله ته کوږوالی (عیب) حال دا چی تاسی یئ شاهدان، او نه دی الله

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝٩٩ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ

بِغَافِلٍ	عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ	یٰۤاَیُّهَا	الَّذِیْنَ	اٰمَنُوْۤا	اِنْ
بی خبره	له هغه شی څخه	چی تاسو ئی کوئ	ای	هغو کسانو	چی ایمان ئی راوړی دی	که تاسی

بی خبره له هغه شی څخه چی تاسو ئی کوئ. ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) که تاسی

تُطِیْعُوْا فَرِیْقًا مِّنَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ یَرُدُّوْكُمْ

تُطِیْعُوْا	فَرِیْقًا	مِّنَ	الَّذِیْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	یَرُدُّوْكُمْ
حکم ومنئ	دیوه فریق	له	هغو کسانو	چی ورکړی سوی دی دوی ته	کتاب	نو بیرته به وګرځوی تاسی

حکم ومنئ د یوه فریق له هغو کسانو چی ورکړی سوی دی دوی ته کتاب نو بیرته به وګرځوی تاسی

قُلْ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ.. (شان نزول) یو یهودي چي شمّاس زوی دقیس ؤ، ده د مسلمانانو سره ډیره کینه او حسد درلودی، ده په یوه مجلس کي دانصارو ددووقبیلو اوس او خزرج په مینځ کي ډیر اتفاق او جمع والی ولیدی نو دکیني څخه ډیر بي ارامه سو او په دوی کي داختلاف غورځولو په فکر کي سو اخر دا خبره یي جوړه کړه چي یو سړي ته یي وویل چي په دې دواړو قبیلو کي چي تر اسلام مخکي یو لوی جنګ وودوی په مابین کي راروان وو، او ددې جنګ سره تعلق لرونکي چي کم فخریه اشعار دي، هغه اشعار دي ددوی په مجلس کي وویل سي، دا ووچي هغه اشعار وویل سوه او ددې په ویلو سره یو اوربل سو او ددوی په مینځ کي دخبرو تکرار شروع سو تر دې چي موقع او وخت دجنګ لپاره بیا مقرر سو نبي کریم ﷺ خبر سو نو ددوی خواه ته یي تشریف راوړی اووې فرمایل داڅه جهالت دی ؟ زما په موجودګی کي اوبیا دمسلمانیدو او دیو بل سره دمتفق کیدو باوجود دا کمه ناپوهي ده؟ ټول پوه سوه چي دادشیطان حرکت دی هغه وو چي غاړه په غاړه سوه او ډیر یي وژړل نو دا ایاتونه نازل سول.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۲۰)

www.jamairahmani.org

بَعۡدَ اِيۡمَانِكُمۡ كٰفِرِيۡنَ ﴿۱۰۰﴾ وَ كَيۡفَ تَكۡفُرُوۡنَ وَ اَنۡتُمۡ

بَعۡدَ	اِيۡمَانِكُمۡ	كٰفِرِيۡنَ	وَ	كَيۡفَ	تَكۡفُرُوۡنَ	وَ اَنۡتُمۡ
وروسته له	ايمانه ستاسو	كافران	او	څرنګه به تاسي	كافران كيږئ	او تاسي چي يئ

وروسته له ايمانه ستاسو كافران. او څرنګه به تاسي كافران كيږئ او تاسي چي يئ

تُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيۡكُمۡ رَسُوۡلُهٗ ؕ وَمَنۡ

تُتۡلٰى	عَلَيۡكُمۡ	اٰيٰتُ	اللّٰهِ	وَ فِيۡكُمۡ	رَسُوۡلُهٗ	وَمَنۡ
لوستی شي	پر تاسي	آيتونه	د الله	او دی په تاسي كښې	رسول د الله	او هر څوک

لوستی شي پر تاسي آيتونه د الله او دی په تاسي كښې رسول د الله، او هر څوک

يَّعۡتَصِمۡ بِاللّٰهِ فَقَدۡ هُدِىَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۱۰۱﴾ ع

يَّعۡتَصِمۡ	بِاللّٰهِ	فَقَدۡ	هُدِىَ	اِلٰى	صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِيۡمٍ
چي منګولي خښي كړي	د الله په دين	نو په تحقيق	لاره وښودله سوه ده ته	په طرف	دلاري	سمي

چي منګولي خښي كړي (د الله په دين) نو په تحقيق لاره وښودله سوه ده ته په طرف د لاري سمي

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوۡتُنَّ

يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا	اللّٰهَ	حَقَّ	تُقٰتِهٖ	وَلَا تَمُوۡتُنَّ
ای	هغو كسانو	چي ايمان ئې راوړی دی	وبيريږئ	له الله څخه	په حق	دبيری د ده	او مه مرئ!

ای هغو كسانو چي ايمان ئې راوړی دی وبيريږئ له الله څخه په حق د بيری د ده! او مه مرئ!

اِلَّا وَاَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿۱۰۲﴾ وَاعۡتَصِمُوۡا بِحَبۡلِ اللّٰهِ جَمِيۡعًا

اِلَّا	وَ اَنۡتُمۡ	مُّسۡلِمُوۡنَ	وَاعۡتَصِمُوۡا	بِحَبۡلِ	اللّٰهِ	جَمِيۡعًا
مګر	په دی حال چي يئ تاسي	مسلمانان	او منګولي ولګوئ	په رسۍ	د الله (چي قرآن دی)	ټول

مګر په دی حال چي يئ تاسي مسلمانان (موحدان). او منګولي ولګوئ (مؤمنانو) په رسۍ د الله (چي قرآن دی) ټول

وَّلَا تَفَرَّقُوۡا ۖ وَاذۡكُرُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ اِذۡ كُنۡتُمۡ

وَّلَا تَفَرَّقُوۡا	وَاذۡكُرُوۡا	نِعۡمَتَ	اللّٰهِ	عَلَيۡكُمۡ	اِذۡ	كُنۡتُمۡ
او مه سره مختلف كيږئ	او ياد كړئ تاسي	نعمت	د الله	پر تاسي	كله چي	وئ تاسي

او مه سره مختلف كيږئ (وروسته له اسلامه). او ياد كړئ تاسي (مؤمنانو) نعمت (احسان) د الله پر تاسي كله چي وئ تاسي

وَاعۡتَصِمُوۡا بِحَبۡلِ اللّٰهِ جَمِيۡعًا.. د مسلمانانو د اجتماعي قوت دوه اصول دي تقوی او اتفاق: په لوړو ذكر سوو دوو اياتونو كي په اولني ايت كي اولنی اصول او په دوهم ايت كي دوهم اصول ښوول سوی دی: **اولنی اصول** چي دې ايت وښوول هغه دا دی چي د الله ﷻ څخه د بيريدو يعني د هغه د ناخوښه شيانو څخه د ځان ساتلو پورا كوشش كول چي د الله ﷻ د حق مطابق وي: لفظ د تقوی په عربي ژبه كي اصلي د خلاصيدو او پرهيز كولو په معنی سره راځي نو ترجمه يي بيريدل هم په دې مناسبت سره كول كيږي چي د كمو شيانو څخه د ځان ساتلو امر وركړه سوی دی هم د غه شيان د بيري وي يا دا چي په دې سره د الله ﷻ د عذاب خطره ده نو دغه شيان د بيري شی دي او د دې تقوی څو درجي دي ادنی درجه يي د كفر او شرک څخه ځان ساتل دي د دې معنی په لحاظ سره هر يو مسلمان ته متقي ويل كيږي كه څه هم په ګناه كي مبتلا وي د دې معنی لپاره هم په قرآن كريم كي څو ځايه لفظ د متقين او تقوی راغلی دی د نور تفصيل لپاره معارف القرآن ته رجوع وكړی.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۲۳)

ع ۱۰

www.jamairahmani.org

اَعۡدَآءً فَاَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوۡبِكُمۡ فَاَصۡبَحۡتُمۡ بِنِعۡمَتِهٖۤ

اَعۡدَآءً	فَاَلَّفَ	بَيۡنَ	قُلُوۡبِكُمۡ	فَاَصۡبَحۡتُمۡ	بِنِعۡمَتِهٖۤ
دښمنان	نو الفت ئې پیدا کړه	په مینځ	د زړونو ستاسی کښې	نو وګرځیدئ تاسی	په نعمت د الله سره

دښمنان نو الفت (مینه) ئې پیدا کړه په مینځ د زړونو ستاسی کښې نو وګرځیدئ تاسی په نعمت د الله سره

اِخۡوَانًا ۚ وَكُنۡتُمۡ عَلٰى شَفَا حُفۡرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنۡقَذَكُمۡ

اِخۡوَانًا	وَكُنۡتُمۡ	عَلٰى	شَفَا	حُفۡرَةٍ	مِّنَ	النَّارِ	فَاَنۡقَذَكُمۡ
(اسلامی) ورونه	او وئ تاسی	په	غاړه	دکندی	له	اوره	نو خلاص ئې کړئ تاسی

(اسلامی) ورونه، او وئ تاسی په غاړه د کندی له اوره (د دوزخ په سبب د ګمراهی او کفر) نو خلاص ئې کړئ تاسی

مِّنۡهَا ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمۡ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۰۳﴾

مِّنۡهَا	كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمۡ	اٰيٰتِهٖ	لَعَلَّكُمۡ	تَهۡتَدُوۡنَ
له هغه (اور)	همداسی	بیانوی	الله	تاسی ته	دلائل خپل	له پاره د دی چی تاسی	په صافه لاره ثبات او دوام پیدا کړی

له هغه (اور) همداسی بیانوی الله تاسی ته دلائل (دقدرت) خپل له پاره د دی چی تاسی په صافه لاره ثبات او دوام و مومئ!

وَلۡتَكُنۡ مِّنۡكُمۡ اُمَّةٌ يَّدۡعُوۡنَ اِلَى الۡخَيۡرِ وَيَاۡمُرُوۡنَ

وَلۡتَكُنۡ	مِّنۡكُمۡ	اُمَّةٌ	يَّدۡعُوۡنَ	اِلَى	الۡخَيۡرِ	وَيَاۡمُرُوۡنَ
او وی دی (تل)	له تاسی	یوه ډله	چی بولی (خلک)	په طرف	دخیر	او امر (حکم) کوی (خلګوته)

او وی دی (تل) له تاسی یوه ډله چی بولی (خلک) په طرف د خیر (اسلام) او امر (حکم) کوی (خلګوته)

بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

بِالۡمَعۡرُوۡفِ	وَيَنۡهَوۡنَ	عَنِ الۡمُنۡكَرِ	وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ
په معروف (نیکی) سره	او منع کوی (خلګ)	له منکر (بدی) څخه	او دغه (کسان)	هم دوی دی

په معروف (نیکی) سره او منعه کوی (خلګ) له منکر (بدی) څخه او دغه (آمرین بالمعروف ناهین عن المنکر) هم دوی دی

الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿۱۰۴﴾ وَلَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ تَفَرَّقُوۡا

الۡمُفۡلِحُوۡنَ	وَلَا تَكُوۡنُوۡا	كَالَّذِيۡنَ	تَفَرَّقُوۡا
په مراد رسیدلی	او مه کیږئ	په شان د هغو کسانو	چی سره جلا (جدا) سول

په مراد رسیدلی. او مه کیږئ تاسی په شان د هغو کسانو چی سره جلا (جدا) سول

فَاَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوۡبِكُمۡ.. د الله ﷻ د انعام پر ځان باندي یاد کی: چي کله تاسي دیوه اوبل دښمنان واست هغه ستاسي په زړونو کي الفت واچوی پس تاسي په دي انعام سره دیو اوبل ورونه ورونه سو است او تاسي د دوږخ د کندي پر غاړه واست نو هغه تاسي د دي څخه خلاص کړاست یعني د صدیوا و پیړیّو دښمني او کیني یه د رڅخه لیري کړي الله ﷻ د اسلام او د نبي کریم ﷺ په برکت سره ورونه ورونه کړاست چي په دي سره ستاسي دین او دنیا برابره سوه او داسي دوستي موجوړه سوه چي دښمن د رڅخه په بیره کي سواو دا د ورورولي یوکیدل د خدای ﷻ دومره لوی نعمت دی چي که د دي ږپاره د دنیا ټولي خزانې خرڅي کړی سي نو هم دانه سي حاصلیدلای یعني په مال او دولت سره لاس ته نه راځي د شان نزول په واقعه کي چي کمو شریرو خلګو اوس او خزرج قبیلې ته کم جنګ را یاد کړی وو په دوی کي یي فساد را پورته کول غوښتل په ذکر سوي ایت کي د دي مکمل علاج وسو او د اسلام په ذریعه یي د دوی څخه د خلاصون بیان وفرمایي.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۳۱)

www.jamairahmani.org

وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ

وَاخْتَلَفُوْا	مِنْۢ بَعْدِ	مَا	جَآءَهُمُ	الْبَيِّنٰتُ	وَاُولٰۗىِٕكَ
او اختلاف ئې وکړې د دين په اصولو کښې	وروسته له	هغه چې	راغلی ؤ دوی ته	دلائل ښکاره	او دا کسان

او اختلاف (جګړې) ئې وکړې د دين په اصولو کښې وروسته له هغه چې راغلی ؤ دوی ته دلائل ښکاره او دا (مختلفان مقرر دی)

لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۰۵﴾ يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ

لَهُمْ	عَذَابٌ	عَظِيْمٌ	يَّوْمَ	تَبْيَضُّ	وُجُوْهٌ	وَّتَسْوَدُّ
دوی ته	عذاب دی	ډیر لوی	په هغه ورځ	چې سپین به سی	مخونه (دمؤمنانو)	او تور به سی

دوی ته عذاب ډیر لوی (د دوزخ) دی. په هغه ورځ چې سپین به سی (ځینې) مخونه (دمؤمنانو) او تور به سی (ځینې)

وُجُوْهٌ ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ ۣ اَكَفَرْتُمْ

وُجُوْهٌ	فَاَمَّا	الَّذِيْنَ	اسْوَدَّتْ	وُجُوْهُهُمْ	اَكَفَرْتُمْ
مخونه (دکافرانو)	پس هر څه	هغه کسان	چې تور سوی دی	مخونه د دوی	آیا کافران سوی یئ تاسی

مخونه (دکافرانو)، پس هر څه هغه کسان چې تور سوی دی مخونه د دوی (نو وبه ویل سی دوی ته) آیا کافران سوی یئ تاسی

بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰۶﴾

بَعْدَ	اِيْمَانِكُمْ	فَذُوْقُوا	الْعَذَابَ	بِمَا	كُنْتُمْ	تَكْفُرُوْنَ
وروسته	له ایمان راوړلو ستاسی	نو وڅکئ	عذاب	په سبب د دی	چې وئ تاسی	چې کافران کیدلئ

وروسته له ایمان راوړلو ستاسی؟ نو وڅکئ عذاب په سبب د دی چې وئ تاسی چې کافران کیدلئ

وَاَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ۭ

وَاَمَّا	الَّذِيْنَ	ابْيَضَّتْ	وُجُوْهُهُمْ	فَفِيْ	رَحْمَةِ	اللّٰهِ
او هر څه	هغه کسان	چې سپین سوی دی	مخونه د دوی	نو وی به دوی	په رحمت	د الله کښې

او هر څه هغه کسان چې سپین سوی دی مخونه د دوی نو وی به دوی په رحمت د الله کښې

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ

هُمْ	فِيْهَا	خٰلِدُوْنَ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	اللّٰهِ	نَتْلُوْهَا	عَلَيْكَ
چې دوی به	په هغه کښې	تل وی	دا (چې تیر سول)	آیتونه	د الله دی	موږئ وایو	پر تا باندی

چې دوی به په هغه کښې تل وی (په جنت کښې). دا (چې تیر سول) آیتونه د الله دی موږئ لولو پر تا باندی (ای محمده!)

يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ: دمخ دسپین والي اوتوروالي څخه څه مراد دي؟ دمخ دسپين والي اوتوروالي ذکر په قرآن کريم کي په څو ځايه بلکي په ډيرو ځايوکي سوی دی مثلا (ويوم القيمة ترى الذين كذبوا على الله وجوههم مسودة (الزمر) وجوه يومئذ ناضرة الى ربّها ناظرة (القيامة) وجوه يومئذ مسفرة ضاحكة مستبشرة ووجوه يومئذ عليها غبرة ترهقها قترة (عبس) په دغه اياتونو کي ديوي معنى ډير الفاظ ذکر سوي دي يعني (بياض او سواد، غبرة، اوقترة، او نضرة): دجمهورو مفسرينو په نزد دسپينوالي څخه مراد دايمان دنور سپينوالی دی يعني دمومنانو مخونه به دايمان په نورسره روښانه او دډيري خوشحالی څخه به خندانه اوخوشحاله وي اودتوروالي څخه مراد د کفرتوروالی دی يعني د کافرانو پر مخانو باندي به دکفر توروالی خپور سوی وي اولوړ به ور باندي دفسق اوفجور تاريکياني راخپري وي چي ښه به يي تور او په تياره کي کړي وي: الله جل جلاله دي موږ اوتاسي په سپينو مخانو والاکي راپورته او شمار کړي ددغه تفسير شريف په برکت او فيض او نورانيت سره. (معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۴۴)

www.jamairahmani.org

بِالۡحَقِّ ؕ وَ مَا اللّٰهُ يُرِيۡدُ ظُلۡمًا لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۰۸﴾ وَ لِلّٰهِ مَا فِي

بِالۡحَقِّ	وَ مَا	اللّٰهُ	يُرِيۡدُ	ظُلۡمًا	لِّلۡعٰلَمِيۡنَ	وَ	لِلّٰهِ	مَا فِي
په حقه سره	او نه دی	الله	چې اراده به کوی	د ظلم	له پاره د مخلوقاتو	او	(خاص) الله لره دی	هر هغه څه چې په

په حقه سره ، او نه دی الله چې اراده به کوی د ظلم له پاره د عالميانو. او (خاص) الله لره دی هر هغه څه چې په

السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الۡاَرۡضِ ؕ وَ اِلَى اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۱۰۹﴾ ع

السَّمٰوٰتِ	وَ مَا	فِي	الۡاَرۡضِ	وَ اِلَى	اللّٰهِ	تُرۡجَعُ	الۡاُمُوۡرُ
آسمانونو کښې دی	او هر هغه	چې په	ځمکه کښې دی	او خاص	الله ته	بیرته ګرځول کیږی	ټول کارونه

آسمانونو کښې دی او هر هغه څه چې په ځمکه کښې دی، او (خاص) الله ته بیرته ګرځول کیږی کرد (ټول) کارونه .

كُنۡتُمۡ خَيۡرَ اُمَّةٍ اُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَاۡمُرُوۡنَ

كُنۡتُمۡ	خَيۡرَ	اُمَّةٍ	اُخۡرِجَتۡ	لِلنَّاسِ	تَاۡمُرُوۡنَ
يئ تاسی	خير (بهتر)	امت	چې ايستلی سوی دی	د پاره د خلکو	چې حکم کوئ تاسی (هر چاته)

يئ تاسی (ای محمدی امته!) خير (بهتر د هر هغه) امت چې ايستلی سوی دی د پاره د خلکو ، چې حکم کوئ تاسی (هرچاته)

بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ تَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ وَ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ ؕ

بِالۡمَعۡرُوۡفِ	وَتَنۡهَوۡنَ	عَنِ	الۡمُنۡكَرِ	وَ تُؤۡمِنُوۡنَ	بِاللّٰهِ
په معروف (نيکئ) سره	او منع کوئ تاسی	له	منکر (بدئ) څخه	او ايمان لرئ	په الله باندی

په معروف (نيکئ) سره، او منع کوئ تاسی (هرڅوک) له منکر (بدئ) څخه، او ايمان لرئ په الله باندی

وَ لَوۡ اٰمَنَ اَهۡلُ الۡكِتٰبِ لَكَانَ خَيۡرًا لَّهُمۡ ؕ مِنۡهُمُ

وَلَوۡ	اٰمَنَ	اَهۡلُ	الۡكِتٰبِ	لَكَانَ	خَيۡرًا	لَّهُمۡ	مِنۡهُمُ
او که	ايمان راوړی وی	اهل	د کتابونو	خامخا به وُ	خير (بهتر)	دوی لره	څخه له دوی څخه

او که ايمان راوړی وی اهل د کتابونو (په قرآن او محمد نو) خامخا به وُ (دا ايمان بهتر) خير دوی لره ځينی له دوی څخه

الۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَ اَكۡثَرُهُمُ الۡفٰسِقُوۡنَ ﴿۱۱۰﴾ لَنۡ يَّضُرُّوۡكُمۡ

الۡمُؤۡمِنُوۡنَ	وَ اَكۡثَرُهُمُ	الۡفٰسِقُوۡنَ	لَنۡ يَّضُرُّوۡكُمۡ
مؤمنان دی	او زيات دوی	فاسقان دی	له سره به ضرر ونه رسوی تاسی ته (دغه فاسقان)

مؤمنان دی، او زيات د دوی فاسقان دی (نافرمانان متمردان په کفر). له سره به ضرر ونه رسوی تاسی ته (دغه فاسقان)

ع ۱۱

كُنۡتُمۡ خَيۡرَ اُمَّةٍ اُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ (دامت محمدي په امتونوکي دښه والي يوځووجي) قرآن کريم دامت محمدي پرنورو امتونو دښه والي څو وجې په ډيروآيتونوکي بيان کړي دي ددې سلسلې تر ټولومهم آيت په سورت بقره کي تيرسوی دی (وکذلک جعلناکم امة وسطا) هلته ددې ايت تفسير او په امتونوکي دښه والي لويه وجه ددې امت معتدل مزاجي او بيادژوندپه هراړخ کي ددې امت داعتدال تفضيل (فضيلت) په دوهمه پاره کي بيان سوی دی په دې ايت کي دامت محمدي پر نورو امتونو دښه والي وجه دابيان سوي ده چي داامت دالله ﷻ مخلوق ته دنفع رسولو لپاره پيداکړی سوی دی اودده ترټولولويه نفع داده چي دالله ﷻ دمخلوق د روحاني او اخلاقي اصلاح فکر ددې امت منصبي فريضه ده او دتيرو ټولو امتونو څخه زيات دامر بالمعروف او نهي عن المنکر پوره والی ددغه امت په ذريعه سره سوی دی که څه هم دامر بالمعروف اونهي عن المنکر فريضه پر تيرو امتونو باندي هم لازم وه چي تفصيل يي په صحيح احاديثو کي ذکر دی.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۴۷)

www.jamairahmani.org

اِلَّآ اَذًىؕ وَاِنۡ يُّقَاتِلُوۡكُمۡ يُوَلُّوۡكُمُ الۡاَدۡبَارَ ۟ ثُمَّ

اِلَّآ اَذًى	وَاِنۡ	يُّقَاتِلُوۡكُمۡ	يُوَلُّوۡكُمُ	الۡاَدۡبَارَ	ثُمَّ
مګر په (لږ) ربړولو	او که	جنګ وکړي دوی له تاسي سره	نو وبه ګرځوي دوی تاسي ته	شاوي	بیا به

مګر په (لږ) ربړولو (تکلیفولو دړبی) او که جنګ وکړي دوی له تاسي سره نو وبه ګرځوي دوی تاسي ته شاوي بیا به

لَا يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾ ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ اَيۡنَ مَا ثُقِفُوۡۤا

لَا يُنۡصَرُوۡنَ	ضُرِبَتۡ	عَلَيۡهِمُ	الذِّلَّةُ	اَيۡنَ مَا	ثُقِفُوۡۤا
له دوی سره مرسته ونه کړه سي	مقرر کړی سو	په دوی باندي	ذلت (خواري)	په هر ځای کښې	چي پیدا کړل سي دوی

له دوی سره مرسته ونه کړه سي. مقرر کړی سو په دوی باندي ذلت (خواري) په هر ځای کښې چي وموندل سي دوی

اِلَّا بِحَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوۡ

اِلَّا	بِحَبۡلٍ	مِّنَ	اللّٰهِ	وَ حَبۡلٍ	مِّنَ	النَّاسِ	وَبَآءُوۡ
مګر	په رسۍ	د	الله	او په رسۍ	د	خلګو	او وګرځیدل (اخته سول) دوی

مګر (چي منګولې ولګوی) په رسۍ د الله او په رسۍ د خلګو (پناه د مسلمانانو)، او وګرځیدل (اخته سول) دوی

بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الۡمَسۡكَنَةُؕ ذٰلِكَ

بِغَضَبٍ	مِّنَ	اللّٰهِ	وَضُرِبَتۡ	عَلَيۡهِمُ	الۡمَسۡكَنَةُ	ذٰلِكَ
په غضب	له جانبه	د الله	او مقرره کړ سو	پر دوی باندي	مسکنت (محتاجي)	دا (محتاجي)

په غضب (قهر) له (جانبه د) الله او مقرره کړ سو پر دوی باندي مسکنت (محتاجي) دا (محتاجي)

بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقۡتُلُوۡنَ

بِاَنَّهُمۡ	كَانُوۡا	يَكۡفُرُوۡنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَ يَقۡتُلُوۡنَ
په سبب د دې دی چي بیشکه دوی	وو	چي کافران کیدل	په آیتونو	د الله	او وژل به ئې

په سبب د دې دی چي بیشکه! دوی وو چي کافران کیدل په آیتونو (احکامو) د الله او وژل به ئې

الۡاَنۡۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوۡا وَّكَانُوۡا

الۡاَنۡۢبِيَآءَ	بِغَيۡرِ حَقٍّ	ذٰلِكَ	بِمَا	عَصَوۡا	وَّكَانُوۡا
انبیاء	په ناحقه سره	دا کفر او قتل	په هغه سبب ؤ	چي سرکښي کوله دوی	او وو دوی

انبیاء (لکه: شعیب، یحیی، زکریا او نور) په ناحقه سره، دا کفر او قتل په هغه سبب ؤ چي سرکښي کوله دوی او وو دوی

ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ

(پر یهودو باندي د ذلت او غضب مطلب) ذلت غورځول سوی دی پر دوی باندي هر ځای چي هم دوی پیدا کړه سي مګر هو په دوو ذریعو سره دوی د ذلت څخه خلاصیدای سي یو د داسي ذریعې په سبب چي د الله ﷻ د طرفه څخه وي او بل د داسي ذریعې په سبب چي د انسانانو له طرفه څخه وي د الله ﷻ د طرفه څخه ذریعه دا ده چي یو کتابي غیر مسلم د الله ﷻ په عبادت کي په خپله طریقه داسي مشغول او مصروف وي چي د مسلمانانو سره په جنګ او جګړه نه وي نو دغه به په جهاد کي نه قتلیږي که څه هم چي دده دا کافرانه عبادت به په آخرت کي په هیڅ کار ورنه سي او دغه شان نابالغه کتابي کوچنی یا ښځه ده چي دوی هم د الله ﷻ په امن کي دي د اسلامي شریعت په بنا سره دوی هم په جهاد کي نه سي قتل کیدای: او د مسلمانانو د طرفه څخه ذریعه معاهده او صلح ده کمه چي د مسلمانانو سره وسي ځکه چي په اسلامي شریعت کي چي دچا سره صلح وسي هغه هم په امن کي دی او قتلول یې بیا نه دي رواه.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۴۷)

www.jamairahmani.org

يَعۡتَدُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾ لَيۡسُوۡا سَوَآءً ؕ مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ اُمَّةٌ

يَعۡتَدُوۡنَ	لَيۡسُوۡا	سَوَآءً	مِنۡ	اَهۡلِ	الۡكِتٰبِ	اُمَّةٌ
چي له حدودو به تيريدل	نه دي دوی	برابر	ځيني د	اهل	د كتابو نو	يوه فرقه ده

چي له حدودو به تيريدل. نه دي دوی (ټول اهل د كتاب سره) برابر ځيني د اهل دكتابو نو يوه فرقه ده

قَآئِمَةٌ يَّتۡلُوۡنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيۡلِ وَهُمۡ يَسۡجُدُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾

قَآئِمَةٌ	يَّتۡلُوۡنَ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	اٰنَآءَ	الَّيۡلِ	وَهُمۡ	يَسۡجُدُوۡنَ
چي سمه ولاړه ده	چي وائي دوی	آيتونه	دالله	په ساعتونو	د شپي	حال داچي	دوی سجدی كوی

چي سمه ولاړه ده (په حق باندی) چي لولی دوی آيتونه د الله په ساعتونو د شپي حال دا چي دوی سجدی كوی

يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَيَاۡمُرُوۡنَ

يُؤۡمِنُوۡنَ	بِاللّٰهِ	وَالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ	وَيَاۡمُرُوۡنَ
ايمان راوړی	په الله باندی	او په ورځی	آخری (قيامت) باندی	او امر (حكم) كوی (خلگوته)

ايمان راوړی په الله باندی او په ورځی آخری ، (دقيامت) باندی او امر (حكم) كوی (خلگوته)

بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ وَيُسَارِعُوۡنَ فِي

بِالۡمَعۡرُوۡفِ	وَيَنۡهَوۡنَ	عَنِ	الۡمُنۡكَرِ	وَيُسَارِعُوۡنَ	فِي
په معروف (نيكی) سره	او منع كوی (خلگ)	له	منكر (بدئ) ځنی	او تلوار كوی	په

په معروف (نيكی) سره او منع كوی (خلگ) له منكر (بدئ) ځنی او تلوار كوی په

الۡخَيۡرٰتِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿۱۱۴﴾ وَمَا يَفۡعَلُوۡا

الۡخَيۡرٰتِ	وَاُولٰٓئِكَ	مِنَ	الصّٰلِحِيۡنَ	وَمَا	يَفۡعَلُوۡا
ښو كارونو كښي	او دغه كسان	له	صالحانو ځنی دی	او هر څه	چي كوی دوی

ښو كارونو كښي (تاخير نه كوی) او دغه كسان له صالحانو ځنی دی. او هر څه چي كوی دوی

مِنۡ خَيۡرٍ فَلَنۡ يُّكۡفَرُوۡهُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِالۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۱۵﴾

مِنۡ	خَيۡرٍ	فَلَنۡ يُّكۡفَرُوۡهُ	وَ	اللّٰهُ	عَلِيۡمٌۢ	بِالۡمُتَّقِيۡنَ
له	خيره	پس له سره به ناقدری و نه كړی سی د هغه	او	الله	ښه عالم دی	پر (احوالو) د پرهيزګارانو

له خيره (ښه) پس له سره به ضائع نه كړی دوی له (ثواب د) هغه كار او الله ښه عالم دی پر (احوالو) د پرهيزګارانو (هم).

لَيۡسُوۡا سَوَآءً ؕ مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ... لنډ تفسير: دغه اهل كتاب ټول برابر نه دي بلكي په دې اهل كتابو كي يو جماعت هغه هم دی كم چي پر دين حق باندي قايم دی او دالله جَلَّ جَلَالُهٗ ايتونه يعني قرآن كريم وايي دشپې په وختونو كي اودوی لمونځ هم كوي او په الله جَلَّ جَلَالُهٗ او په ورځ د قيامت هم پوره پوره ايمان لري او نورو خلگو ته نيك كارونه ښيي او دبدو كارو څخه يي منع كوي او نيكو كارونو ته منډي وهي او دا خلگ دالله جَلَّ جَلَالُهٗ په نزد په نيك بختو خلگو كي شمارل كيږي او دا خلگ چي كم نيك كار كوي د هغه دثواب څخه به محرومه نه كړل سي او الله جَلَّ جَلَالُهٗ تقواى داره خلگ ښه پيژني او دا خلگ تقوى داره دي نو دوعدې مطابق دښې جزا الايق دي بيشكه كم خلگ چي كافران سوي دي هيڅكله به په كاررانه سي ددوی مال او نه اولاد دالله تعالى دعذاب په مقابله كي يوه ذره هم او دغه كسان دوږخ والادي او دوی به هميشه هميشه په دې كي اوسيږي هيڅكله به ورڅخه خلاص نه وي او دا ذلت به ددوی دايمي په برخه وي.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۵۲)

www.jamairahmani.org

اِنَّ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا لَنۡ تُغۡنِیَ عَنۡهُمۡ اَمۡوَالُهُمۡ وَلَاۤ

اِنَّ	الَّذِیۡنَ	كَفَرُوۡا	لَنۡ تُغۡنِیَ	عَنۡهُمۡ	اَمۡوَالُهُمۡ	وَلَاۤ
بیشکه!	هغه کسان	چې کافران سوی دی	له سره به دفعه نه کړی	له دوی څخه	مالونه د دوی	او نه

بیشکه! هغه کسان چې کافران سوی دی له سره به دفعه نه کړی له دوی څخه مالونه د دوی او نه اولاد د دوی

اَوۡلَادُهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ شَیۡـًٔا ؕ وَاُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ

اَوۡلَادُهُمۡ	مِّنَ	اللّٰهِ	شَیۡـًٔا	وَاُولٰٓئِكَ	اَصۡحٰبُ	النَّارِ
اولاد د دوی	له (عذابه)	د الله	هیڅ شی	او دغه کسان	صاحبان	د اور (دوزخ دی)

له (عذابه) د الله هیڅ شی! او دغه کسان صاحبان د اور (دوزخ دی).

هُمۡ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا یُنۡفِقُوۡنَ فِیۡ هٰذِهِ

هُمۡ	فِیۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	مَثَلُ	مَا یُنۡفِقُوۡنَ	فِیۡ	هٰذِهِ
دوی به	په هغه (اور) کښې	تل وی	مثال	د هغه مال چې خرڅوی ئې	په	دی

دوی به په هغه (اور) کښې تل وی (بې انتهاء). مثال د هغه مال چې خرڅوی (ئې کافران د الله په لاره) په دی

الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا كَمَثَلِ رِیۡحٍ فِیۡهَا صِرٌّ اَصَابَتۡ حَرۡثَ

الۡحَیٰوةِ	الدُّنۡیَا	كَمَثَلِ	رِیۡحٍ	فِیۡهَا	صِرٌّ	اَصَابَتۡ	حَرۡثَ
ژوندانه	د دنیا کښې	په شان	د هغه باد دی	چې وی په دی باد کښې	ډیره یخنی	چې ورسیږی	کښت د

ژوندانه د دنیا کښې په شان د مثال د هغه باد دی چې وی په دی باد کښې ډیره یخنی (یا اور) چې ورسیږی (دا باد) کښت د

قَوۡمٍ ظَلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ فَاَهۡلَكَتۡهُ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ

قَوۡمٍ	ظَلَمُوۡۤا	اَنۡفُسَهُمۡ	فَاَهۡلَكَتۡهُ	وَمَا	ظَلَمَهُمُ	اللّٰهُ
یوه قوم ته	چې ظلم ئې کړی دی	پر ځانونو خپلو	پس هلاک کړی دغه کښت	او نه دی	ظلم کړی پر دوی باندی	الله

یوه قوم ته چې ظلم ئې کړی دی پر ځانونو خپلو پس هلاک کړی دغه کښت (فصل) او نه دی ظلم کړی پر دوی باندی الله

وَلٰكِنۡ اَنۡفُسَهُمۡ یَظۡلِمُوۡنَ ﴿۱۱۷﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

وَلٰكِنۡ	اَنۡفُسَهُمۡ	یَظۡلِمُوۡنَ	یٰۤاَیُّهَا	الَّذِیۡنَ	اٰمَنُوۡا
ولیکن	پر ځانو خپلو	ظلم کوی دوی	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی

ولیکن پر ځانو خپلو ظلم کوی دوی (په کفر سره). ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا (شان نزول) د مدینې منورې په اطرافو کې چې کم یهود آباد وه د دوی سره د اوس او د خزرج قبیلو د خلګو د پخواه څخه دوستې را روانه وه او جلا جلا هم د دې قبیلې د خلګو به د دې خلګو سره دوستانه تعلقات وه او د قبیلو په حیثیت سره هم دوی او یهود دیو بل ګاونډیان او حلیف ملګري وه نو کله چې د اوس او خزرج قبیلې مسلمانانې سوې نو د دې څخه وروسته به هم دوی د یهودو سره خپل پخوانې تعلقات ساتل او د دوی خلګ به د خپلو یهودي دوستانو سره هم په دغه محبت او خلوص سره یو ځای کیدل لیکن د یهودیانو چې د خاتم الانبیاء ﷺ سره او د دوی د راوړې دین سره کمه دښمني وه په دې وجه دوی د داسې سړي سره د خلوص محبت ساتلو ته تیار نه وه چا چې دا دعوت قبول کړی وو دوی په ظاهر کې د انصارو سره خو هغه تعلقات ساتل کم چې د مخکې څخه راروان وه لیکن په زړونو کې اوس دوی د هغوی دښمنان سوي وه او د دې ظاهري دوستې څخه به یې نا جایزه فایده اخیسته او د مسلمانانو په مابین کې به یې د دښمنی اچولو کوششونه کول الله ﷻ دا ایاتونه را نازل کړه:
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۵۴)

www.jamairahmani.org

لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَأْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ؕ

لَا تَتَّخِذُوْا	بِطَانَةً	مِّنْ دُوْنِكُمْ	لَا يَأْلُوْنَكُمْ	خَبَالًا
مه نيسئ تاسي	دوستان د راز	غير له تاسي (مؤمنانو)	هيڅ کمی نه کوی دوی له تاسی سره	د فساد

مه نيسئ تاسي دوستان د راز غير له تاسي (مؤمنانو) هيڅ کمی نه کوی دوی له تاسو سره دفساد (اوضرر رسولو)

وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ۚ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۖ

وَدُّوْا	مَا عَنِتُّمْ	قَدْ بَدَتِ	الْبَغْضَآءُ	مِنْ	اَفْوَاهِهِمْ
دوست گڼی دوی	هغه څه چي په مشقت کښې اچوی تاسي	په تحقيق ښکاره سوی دی	بغض او دښمنی	له	خلو د دوی څخه

دوست گڼی دوی ضرر ستاسی، په تحقيق ښکاره سوی دی بغض او دښمنی له خلو د دوی څخه

وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ؕ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ

وَمَا	تُخْفِيْ	صُدُوْرُهُمْ	اَكْبَرُ	قَدْ	بَيَّنَّا	لَكُمُ	الْاٰيٰتِ
او هغه بغض	چي پټوی ئې	سينې د دوی	ډير لوی دی	په تحقيق	بيان کړی دی موږ	تاسي ته	علامې

او هغه بغض چي پټوی ئې سينې (زړونه) د دوی ډير لوی دی په تحقيق بيان کړی دی موږ تاسي ته علامې

اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ هٰۤاَنْتُمْ اُولَآءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَ

اِنْ	كُنْتُمْ	تَعْقِلُوْنَ	هٰۤاَنْتُمْ	اُولَآءِ	تُحِبُّوْنَهُمْ	وَ
که يئ	تاسي	چي عقل چلوئ پکښې	او ورئ خبردار سئ تاسي	هغه کسان يئ	چي دوستي کوئ له دوی سره	او

که يئ تاسي چي عقل چلوئ پکښې (پوهيږئ). واورئ خبردار سئ! تاسي هغه کسان يئ چي دوستي کوئ له دوی سره او

لَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ وَاِذَا لَقُوْكُمْ

لَا يُحِبُّوْنَكُمْ	وَتُؤْمِنُوْنَ	بِالْكِتٰبِ	كُلِّهٖ	وَاِذَا	لَقُوْكُمْ
نه کوی دوستي دوی له تاسي سره	او تاسي ايمان لرونکی يئ	پر کتابونو	ټولو	او کله چي	يو ځای سی دوی له تاسي سره

نه کوی دوستي دوی له تاسي سره او تاسي ايمان لرونکی يئ پر ټولو کتابونو، او کله چي يو ځای سی دوی له تاسي سره

قَالُوْۤا اٰمَنَّا ۖۚ وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ

قَالُوْۤا	اٰمَنَّا	وَاِذَا	خَلَوْا	عَضُّوْا	عَلَيْكُمُ	الْاَنَامِلَ	مِنَ
نو وائی دوی	ايمان مو راوړی دی	او کله چي	يوازی سی دوی	نو چيچي دوی	په تاسي باندی	سرونه د گوتو	له

نو وائی دوی ايمان مو راوړی دی، او کله چي يوازی سی دوی نو چيچي دوی په تاسي باندی سرونه د گوتو له

بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ.. دبطانة معنى ده ولي، دوست، رازدار، اوپټ رازلرونکی،: دکالو دننه استر کم چي دبدنه سره منبتی وي هغه ته هم بطانة وايي داد بطن څخه جوړ دی چي دظهر خلاف ددې استعمال په هر شي کي کيږي ښکاره طرف ته ظهر او دننه طرف ته بطن وايي او دکالو لوړي حصي ته ظهاره او دننه او لاندي حصې ته کمه چي دبدن سره منبتي وي لکه استر او نور دې ته بطانه وايي لکه څنگه چي موږ په خپله ژبه کي وايو چي هغه خو دده جامه او اغوستن او لاندي استر دی يعني ډير يي خوښ دی دغه شان دبطانة الثوب څخه په طور داستعارې ولي دوست اومعتمد چي دزړه دخبرو رازدار وي دده لپار دبطانة لفظ استعماليږي دعربي لغت په مشهور کتاب لسان العرب کي دبطانه معنی داسي سوي ده چي بطانه هغه دوست ته ويل کيږي چي دزړه او رازدار دوست وي او دده په معاملو کي دخل کوونکی وي چي په خپلو معاملاتو کي ورڅخه دی مشورې اخلي نو امر دی مسلمانانو ته چي کفار خپل رازداره اعتماد والا او دمشورې قابل مه جوړوی الخ. :
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۵۵)

www.jamairahmani.org

الْغَيْظِ ۭ قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ

الْغَيْظِ	قُلْ	مُوْتُوْا	بِغَيْظِكُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيْمٌ	بِذَاتِ
(ډيره) قهره	ووايه	مره سئ!	په قهر (اوبغض) خپل سره	بيشكه! چي	الله	عالم دى	په هغو (خبرو هم)

(ډيره) قهره، ووايه(اى محمده) مره سئ! په قهر (او بغض) خپل سره، بيشكه! چي الله عالم دى په هغو (خبرو هم)

الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾ اِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۡ وَاِنْ

الصُّدُوْرِ	اِنْ	تَمْسَسْكُمْ	حَسَنَةٌ	تَسُؤْهُمْ	وَاِنْ
چي په سينو كښى دى	كه	ورسيږى تاسى ته	كومه ښيګڼه	نو خپه كوى دوى	او كه

چي په سينو (زړونو) كښى دى . كه ورسيږى تاسى ته كومه ښيګڼه نو خپه كوى دوى او كه

تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَّفْرَحُوْا بِهَا ۭ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا

تُصِبْكُمْ	سَيِّئَةٌ	يَّفْرَحُوْا	بِهَا	وَاِنْ	تَصْبِرُوْا	وَتَتَّقُوْا
ورسيږى تاسى ته	كومه بدى	نو خوشحاليږى دوى	په سبب د هغه	او كه	صبر وكړئ تاسى	او ځان وساتئ تاسى

و رسيږى تاسى ته كومه بدى نو خوشحاليږى دوى په سبب د هغه ، او كه صبر وكړئ تاسى او ځان وساتئ تاسى

لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ

لَا يَضُرُّكُمْ	كَيْدُهُمْ	شَيْـًٔا	اِنَّ	اللّٰهَ	بِمَا	يَعْمَلُوْنَ
نو ضرر به نه رسوى تاسى ته	مكر فريب د دوى	هيڅ شى	بيشكه!	چي الله	په هغو	كارونو چي دوى (ئې) كوى

نو ضرر به نه رسوى تاسى ته مكر، فريب د دوى هيڅ شى، بيشكه! چي الله په هغو كارونو چي دوى (ئې) كوى (هم)

مُحِيْطٌ ﴿۱۲۰﴾ وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ

مُحِيْطٌ	وَاِذْ	غَدَوْتَ	مِنْ	اَهْلِكَ	تُبَوِّئُ	الْمُؤْمِنِيْنَ
ښه احاطه كوونكى دى	او چي	راووتى ته په اول د ورځى كښى	له	كوره خپله	چي تياروله دى	مؤمنانو ته

ښه احاطه كوونكى دى. او (ياد كړه محمده!) چي راووتى ته په اول د ورځى كښى له كوره خپله چي تياروله دى مؤمنانو ته

مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾ اِذْ هَمَّتْ

مَقَاعِدَ	لِلْقِتَالِ	وَ	اللّٰهُ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ	اِذْ هَمَّتْ
ځايونه	له پاره د جنګ	او	الله	ښه اوريدونكى دى	ښه عالم دى	كله چي قصد وكړ

(په احد كښى) ځايونه له پاره د جنګ او الله ښه اوريدونكى دى ښه عالم دى . كله چي قصد وكړ

ع ۱۲ ۱۳

وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ

ځو ضروري امور : دذكر سوي ايت دتفسير څخه اول دا ضروري ده چي داحد دغزا دواقعاتو هريو اړخ وښوول سي او واضحه سي په رمضان المبارك كي په سنه ۲ هجري كي دبدر په مقام باندي دقريشو دفوج او دمسلمانانو مجاهدينو په مينځ كي جنګ وسو چي دمكې دكفارو څخه په كښي اويا ۷۰ تنه نامداره كسان مړه سوه او دومره ور څخه ژوندي ګرفتاره سوه په دې تباه كوونكي او ذليله شكست سره چي په حقيقت كي دالله ﷻ دعذاب اولنى حصه وه دقريشو دبدل اخيستو جذبه راپورته سوه كم سرداران چي مړه وه دهغوى خپلوانو ټولو عربو ته غيرت وروړاندي كړى پيغورونه يي وركړه او دا معاهده يي وكړه چي تر څو پوري مونږ دمسلمانانو څخه ددې بدل وانخلو پر ارامه به نه كښينو او دمكې خلګو ته يي خواست وكړى چي ددوى تجارتي قافلې چي كم مال دشام څخه راوړى دى هغه دي په دې مهم كاربانداي خرڅ سي چي دمحمد ﷺ او دده دملګرو څخه دخپلو مړو بدل واخلي ټولو دا خبره منظوره كړه (پاته بيان پر را روان مخ باندي)

www.jamairahmani.org

طَآئِفَتٰنِ مِنۡكُمۡ اَنۡ تَفۡشَلَا ۙ وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

طَآئِفَتٰنِ	مِنۡكُمۡ	اَنۡ	تَفۡشَلَا	وَاللّٰهُ	وَلِيُّهُمَا	وَعَلَى	اللّٰهِ
دوو طائفو	له تاسی	د دی خبری چې	بی زړه سی دوی	حال دا چې الله	ولي (مددګار) د دوی ؤ	او خاص پر	الله دی

دوو طائفو له تاسی د دی خبری چې بی زړه سی دوی (له جنګه) حال دا چې الله ولي (مددګار) د دوی ؤ او خاص پر الله دی

فَلۡيَتَوَكَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۲۲﴾ وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدۡرٍ

فَلۡيَتَوَكَّلِ	الۡمُؤۡمِنُوۡنَ	وَلَقَدۡ	نَصَرَكُمُ	اللّٰهُ	بِبَدۡرٍ
نو توکل وکړی	مؤمنان	په تحقیق	مرسته کړی وه له تاسی سره	الله	په بدر کښی

نو توکل وکړی مؤمنان او خامخا په تحقیق مرسته (مدد) کړی وه له تاسی سره الله په (جنګ) د بدر کښی

وَاَنۡتُمۡ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذۡ

وَاَنۡتُمۡ	اَذِلَّةٌ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	لَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ	اِذۡ
حال دا چې تاسی	کمزوری وئ	نو ویریږئ	له الله څخه	له پاره د دی	چې شکر وکړئ تاسی	کله چې

حال دا چې تاسی کمزوری وئ نو ویریږئ له الله څخه له پاره د دی چې شکر وکړئ تاسی. (یاد کړه ای محمده!) کله چې

تَقُوۡلُ لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ اَلَنۡ يَّكۡفِيَكُمۡ اَنۡ يُّمِدَّكُمۡ رَبُّكُمۡ

تَقُوۡلُ	لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ	اَلَنۡ يَّكۡفِيَكُمۡ	اَنۡ يُّمِدَّكُمۡ	رَبُّكُمۡ
ویل تا	مؤمنانو ته	چې آیا کافی به نه سی ستاسی	دا چې مرسته وکړی له تاسی سره	رب ستاسی

ویل تا مؤمنانو ته چې آیا کافی (بس) به نه سی ستاسی دا چې مرسته (مدد) وکړی له تاسی سره رب ستاسی

بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الۡمَلٰٓئِكَةِ مُنۡزَلِيۡنَ ﴿۱۲۴﴾ بَلٰۤى ۙ اِنۡ

بِثَلٰثَةِ	اٰلٰفٍ	مِّنَ	الۡمَلٰٓئِكَةِ	مُنۡزَلِيۡنَ	بَلٰۤى	اِنۡ
په دری	زرو	له	ملائیکو	چې رالیږلی سوی وی	هو !	(دری زره بس کیږی!) که

په دری زرو له ملائیکو چې رالیږلی سوی وی (له آسمانه). هو ! (دری زره بس کیږی!) که

تَصۡبِرُوۡا وَتَتَّقُوۡا وَيَاۡتُوۡكُمۡ مِّنۡ فَوۡرِهِمۡ هٰذَا

تَصۡبِرُوۡا	وَتَتَّقُوۡا	وَيَاۡتُوۡكُمۡ	مِّنۡ فَوۡرِهِمۡ هٰذَا
تاسی صبر وکړئ	او ویریږئ	او راسی مشرکان پر تاسی	په دغه ساعت (بی له ټاله یو ناڅاپه)

تاسی صبر وکړئ او ویریږئ (له الله) او راسی مشرکان پر تاسی په دغه ساعت (بی له ټاله یو ناڅاپه)

وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدۡرٍ

د تیر مخ پاته بیان دلته

وګوری: د هجرت په دریم کال قریشو د مکې سره د نورو قبایلو پر مدینې منورې باندي د حملي کولو اراده وکړه او په دغه غرض سره راووتل تر دې پوري چي ښځې هم ورسره راوتلي وې د دې لپاره چي د موقع پر ځای باندي سړو ته غیرت وروراندي کړي او د په شاکیدو څخه یې منع کړي کم وخت چي دادرې زره لښکر په پوره وسلې سره د مدینې منورې څخه درې څلور میله لیرې داحد د غره په خواه کې خیمې ودرولې وایې ړول نونبي کریم ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه مشوره واخیسته د ده ﷺ رایه مبارکه دا وه چي د مدینې د ننه څخه به د دښمن مقابله په ډیره زیاتي اسانی سره وسي د باندي به نه وروزو دا اوله موقع وه چي د رئیس المنافقین عبد الله بن ابی (چي په مسلمانانو کي شامل وو) څخه هم مشوره واخیستل سوه چي د ده مشوره د نبي کریم ﷺ د رایې سره موافقه وه مګر ځیني باجذبه مسلمانان کمو ته چي د بدر په غزا کي شرکت نه وو حاصل سوی او د شهادت شوق بې ارامه کړي وه هغوی زور لګوی چي مونږ ته د باندي وتل او مقابله کول په کار ده الخ

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۶۱)

www.jamairahmani.org

الربع

يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ بِخَمۡسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الۡمَلٰٓئِكَةِ

يُمۡدِدۡكُمۡ	رَبُّكُمۡ	بِخَمۡسَةِ	اٰلٰفٍ	مِّنَ الۡمَلٰٓئِكَةِ
مرسته به وکړي له تاسي سره	رب ستاسي	په پنځو	زرو سره	له ملائيکو

مرسته (مدد) به وکړي له تاسي سره رب ستاسي په پنځو زرو سره له ملائيکو

مُسَوِّمِيۡنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشۡرٰى لَكُمۡ

مُسَوِّمِيۡنَ	وَمَا	جَعَلَهُ	اللّٰهُ	اِلَّا	بُشۡرٰى	لَكُمۡ
چي علامي لرونکي به وي	او نه ده	ګرځولی دا مرسته	الله	مګر	لپاره د خوشحالتيا	ستاسي

چي علامي لرونکي به وي. او نه ده ګرځولی الله دا مرسته مګر لپاره د خوشحالتيا ستاسي

وَلِتَطۡمَئِنَّ قُلُوۡبُكُمۡ بِهٖ وَمَا النَّصۡرُ اِلَّا مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ

وَلِتَطۡمَئِنَّ	قُلُوۡبُكُمۡ	بِهٖ	وَمَا	النَّصۡرُ	اِلَّا	مِنۡ	عِنۡدِ	اللّٰهِ
او له پاره د دې چي تسکين پيدا کړي	زړونه ستاسي	په دې سره	او نه ده	مرسته	مګر	له	جانبه د	الله

او له پاره د دې چي تسکين ومومي زړونه ستاسي په دې سره او نه ده مرسته مګر له (جانبه د) الله

الۡعَزِيۡزِ الۡحَكِيۡمِ ﴿۱۲۶﴾ لِيَقۡطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا

الۡعَزِيۡزِ	الۡحَكِيۡمِ	لِيَقۡطَعَ	طَرَفًا	مِّنَ الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡۤا
چي ښه غالب قوي دی	ښه حکمت والا	څکه چي هلاک کړي	ځيني	له هغو کسانو	چي کافران سوي دي

چي ښه غالب قوي دی ښه حکمت والا . (الله کومک درکړ) څکه چي هلاک کړي ځيني له هغو کسانو چي کافران سوي دي

اَوۡ يَكۡبِتَهُمۡ فَيَنۡقَلِبُوۡا خَآئِبِيۡنَ ﴿۱۲۷﴾ لَيۡسَ لَكَ مِنَ

اَوۡ يَكۡبِتَهُمۡ	فَيَنۡقَلِبُوۡا	خَآئِبِيۡنَ	لَيۡسَ	لَكَ	مِنَ
يائي ذليل کړي دوئ	پس بيرته ولاړ سي	محروم	نسته	تا لره	له

يا ئي ذليل (خوار وزار) کړي دوئ پس بيرته ولاړ سي (په ماتي سره) محروم. نسته تا لره له

الۡاَمۡرِ شَيۡءٌ اَوۡ يَتُوۡبَ عَلَيۡهِمۡ اَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَاِنَّهُمۡ

الۡاَمۡرِ	شَيۡءٌ	اَوۡ يَتُوۡبَ	عَلَيۡهِمۡ	اَوۡ	يُعَذِّبَهُمۡ	فَاِنَّهُمۡ
امره	هيڅ شي	يا به رجوع وکړي	په دوی باندي	يا	په عذابوي (الله) دوی	پس بيشکه! دوی

امره هيڅ شي يا به رجوع وکړي (الله په قبلولو د توبي سره) په دوی باندي يا به عذابوي (الله) دوی پس بيشکه! دوی

يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ بِخَمۡسَةِ اٰلٰفٍ ..دملايکو دامداد راليږلو حکمت او اصل مقصد او دملايکو په شمار کي دمختلف شمار بيانولو حکمت : دلته دانسان په طبيعت کي داسو ال راپيداکيږي چي الله ﷻ خو يل ملايکوته دومره طاقت ورکړی دی چي دپوره ښار تخته چپه اړولای سي لکه دلوط ﷺ دقوم مځکه يوازي جبرائيل امين ﷺ چپه اړولي وه نو بيا دملايکو لښکر ليږلو ته څه ضرورت وو ؟ او دا رنګه دا چي کله ملايکي ميدان ته راغلي وي نو بيا خو پکار وه چي يو کافر هم خلاص نه وای پاته سوی نو ددې جواب خو په خپله قرآن کريم په دې ايت کي ورکړی دی (وما جعله الله الاّ بشرى) چي دملايکو دليږلو څخه دجنګ ميدان فتح کول مقصود نه وو بلکي دجهاد کوونکو مسلمانانو تسلي او دزړه مضبوط والی او دفتح زيري ورکول وو څخه مقصود وو لکه ددې ايت دالفاظو څخه دا خبره واضحه کيږي (الا بشرى او لتطمئنّ به قلوبكم) چي دا دفرښتو راتګ دفتح دزيري لپاره وو او ستاسي دزړونو داطمينان لپاره وو : تفصيل په معارف القرآن کي وګوری. (معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۷۱)

www.jamairahmani.org

ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

ظٰلِمُوْنَ	وَلِلّٰهِ	مَا فِي	السَّمٰوٰتِ	وَمَا فِي	الْاَرْضِ
ظالمان دی	او (خاص) الله لره دی	هر هغه چې په	آسمانونو کښې دی	او هر څه چې	په مځکه کښې دی

ظالمان دی. او (خاص) الله لره دی هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی او هر څه چې په مځکه کښې دی

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ

يَغْفِرُ لِمَنْ	يَّشَآءُ	وَيُعَذِّبُ	مَنْ يَّشَآءُ	وَ	اللّٰهُ
بخښنه کوی الله هر هغه ته	چې اراده وفرمائی دبخښنې ئې	او په عذابوی الله	هر چا ته چې اراده وفرمائی دعذاب ئې	او	الله

بخښنه کوی الله هر هغه ته چې اراده وفرمائی د بخښنې ئې او په عذابوی الله هر چاته چې اراده وفرمائی دعذاب ئې او الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا

غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَاْكُلُوا	الرِّبٰوٓا
ښه بخښونکی	ډیر رحم والا دی	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی	مه خورئ	سود !

ښه بخښونکی ډیر رحم والا دی. ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی (ای ! مؤمنانو !) مه خورئ سود !

اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً وَّاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۳۰﴾

اَضْعَافًا	مُّضٰعَفَةً	وَّاتَّقُوا	اللّٰهَ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ
په دی حال چې دوه چنده	پر دوه چنده وی	او ووېرېږئ	له الله	ښائی چې تاسې	په مراد ورسیږئ

په دی حال چې دوه چنده پر دوه چنده (وی)، او ووېرېږئ له الله ښائی چې په مراد به ورسیږئ (دالله د قهره به خلاص سئ).

وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَاَطِيْعُوا

وَاتَّقُوا	النَّارَ	الَّتِيْٓ	اُعِدَّتْ	لِلْكٰفِرِيْنَ	وَاَطِيْعُوا
او ووېرېږئ	له اوره	هغه چې	تیار کړی سوی دی	لپاره د کافرانو	او حکم ومنئ

او ووېرېږئ! له اوره هغه چې تیار کړی سوی دی له پاره د کافرانو . او حکم ومنئ

اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ وَسَارِعُوْٓا اِلٰى

اللّٰهَ	وَالرَّسُوْلَ	لَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُوْنَ	وَسَارِعُوْٓا	اِلٰى
دالله	او د رسول (د الله)	لپاره د دی چې	پر تاسی رحم وکړی سی	او تلوار وکړئ	په طرف د

دالله او (حکم ومنئ!) د رسول (دالله) له پاره د دی چې پر تاسی رحم وکړی سی. او تلوار وکړئ په طرف د

ع ۱۳ / ۴

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا.. په دغه ایت کي الله جل جلاله د سود د خوړلو او دهغه حراموالی او دهغه څخه منع بیان کړي ده: او دمنعي دبیان سره یي د (اضعافا مضعفة) یعني دوچنده پر دوچنده قید هم لګولی دی دا په حقیقت کي دحراموالي قید نه دی بلکي د سود د ناکاروالي دښکاره والي لپاره دی ځکه چي په بل ایت کي مطلق دربو د حراموالي بیان په سختی او تاکید سره راغلی دی چي تفصیل یي په سورت بقره کي تیر سوی دی او د (اضعافا مضعفة) په ذکر کي دې طرف ته هم اشاره کیدای سي چي د چاچي سود خوړل عادت وي نو برابره خبره ده که دی داصلاحي سود مرکب څخه یعني د سود د ر سود څخه پرهیز م وکي خو دسود څخه حاصله سوې ګټه کله چي دوباره په سود چلوي نو خامخا اضغاف مضاعف جوړیږي که څه هم دسود خورو خلګو په اصطلاح کي دې ته سود مرکب یعني سود درسود نه وایي ددې حاصل دادی چي هریو سود آخر اضعاف مضاعف جوړیږي چي سوچ ناروا ه دی.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۷۳)

www.jamairahmani.org

مَغۡفِرَةٍ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ جَنَّةٍ عَرۡضُهَا السَّمٰوٰتُ

مَغۡفِرَةٍ	مِّنۡ رَّبِّكُمۡ	وَ	جَنَّةٍ	عَرۡضُهَا	السَّمٰوٰتُ
مغفرت	د رب ستاسی	او	د جنت	چې پلنوالی دهغه	(لکه پلنوالی د) آسمانونو

هغه اعمالو چې سبب دمغفرت د رب ستاسی او (سبب د دخول د) جنت (دی)، چې پلنوالی دهغه (لکه پلنوالی د) آسمانونو

وَالۡاَرۡضُ ۙ اُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ۝١٣٣ الَّذِيۡنَ يُنۡفِقُوۡنَ فِي

وَالۡاَرۡضُ	اُعِدَّتۡ	لِلۡمُتَّقِيۡنَ	الَّذِيۡنَ	يُنۡفِقُوۡنَ	فِي
او مځکی دی	تیار کړی سوی دی دغه	لپاره د پرهیزګارانو	هغه کسان	چې نفقه ورکوی	په

او مځکی دی، تیار کړی سوی دی دغه (جنت) له پاره دپرهیزګارانو . هغه کسان چې نفقه ورکوی په (مال دالله په نامه)

السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالۡكٰظِمِيۡنَ الۡغَيۡظَ وَالۡعَافِيۡنَ عَنِ

السَّرَّآءِ	وَالضَّرَّآءِ	وَ	الۡكٰظِمِيۡنَ	الۡغَيۡظَ	وَ	الۡعَافِيۡنَ	عَنِ
خوښۍ	او تکلیف	او	چې ځغمونکی د	قهر دی	او	عفوه کوونکی دی	له

خوښۍ او تکلیف او چې ځغمونکی د قهر دی (سره له قدرته) او عفوه کوونکی دی له

النَّاسِ ؕ وَ اللّٰهُ يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۝١٣٤ وَالَّذِيۡنَ اِذَا

النَّاسِ	وَ	اللّٰهُ	يُحِبُّ	الۡمُحۡسِنِيۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	اِذَا
خلګو	او	الله	خوښوی	نیکی کوونکی	او هغه کسان	کله چې

خلګو (چې پرې وکړی زیاتی او ظلم) او الله خوښوی نیکی کوونکی. او هغه کسان کله چې

فَعَلُوۡا فَاحِشَةً اَوۡ ظَلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ ذَكَرُوا اللّٰهَ

فَعَلُوۡا	فَاحِشَةً	اَوۡ ظَلَمُوۡۤا	اَنۡفُسَهُمۡ	ذَكَرُوا	اللّٰهَ
وکړی دوی	کوم لویه ګناه	یا ظلم وکړی دوی	پر ځانونو خپلو باندی	نو یاد کړی دوی	الله

وکړی دوی کوم لویه ګناه یا ظلم وکړی دوی پر ځانونو خپلو باندی (په کولو د ورو ګناهونو) نو یاد کړی دوی الله

فَاسۡتَغۡفَرُوۡا لِذُنُوۡبِهِمۡ ۚ وَ مَنۡ يَّغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ اِلَّا

فَاسۡتَغۡفَرُوۡا	لِذُنُوۡبِهِمۡ	وَ مَنۡ	يَّغۡفِرُ	الذُّنُوۡبَ	اِلَّا
پس مغفرت وغواړی دوی	لپاره د ګناهونو خپلو	او څوک دی	چې مغفرت کوی	د (ټولو) ګناهونو	مګر

پس مغفرت وغواړی دوی له پاره دګناهونو خپلو او څوک دی چې مغفرت کوی د (ټولو) ګناهونو ، مګر

وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ..مختصر تفسیر

یو شی چې دلته دغور کولو قابل دی هغه دادی چې الله ﷻ مغفرت پر جنت باندي وړاندي کړی دی په دي کي کیدای سي چې دي طرف ته اشاره وي چې د جنت حاصلول د مغفرت څخه بغیر ممکن نه دي ځکه چې انسان که ټول عمر هم نیکي کوي او دګناهونو څخه ځان ساتي بیا هم دده ټول عملونه د جنت بدل نه سي کیدای جنت ته بوتلونکی صرف یو شی دی او هغه دالله ﷻ مغفرت او د هغه فضل دی نبي کریم ﷺ فرمایي چې (سدّدوا وقاربوا وابشروا فانه لن يدخل الجنة احد عمله قالوا ولا انت يا رسول الله قال ولا انا الا ان يتغمدني الله برحمته) یعني راستي او حق لاره اختیاره کړی درمیانه لاره اختیاره کړی او دالله ﷻ دفضل زیری حاصل کړی دیوه سړي عمل دی جنت ته نه سي رسولی خلګو پوښتنه وکړه او ستا عمل هم یارسول الله ؟ده مبارک وفرمایل زما عمل هم ما جنت ته نه سي رسولی مګر دا چې ما الله ﷻ په خپل رحمت کي پټ کړي : خلاصه دا چې بیله دالله ﷻ دفضله څخه هیڅوک جنت ته نه سي تللای خو عمل کول هم ضروري دی.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۷۹)

www.jamairahmani.org

اللّٰهُ ۚ وَلَمۡ يُصِرُّوۡا عَلٰى مَا فَعَلُوۡا وَهُمۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۳۵﴾

اللّٰهُ ۚ	وَلَمۡ يُصِرُّوۡا	عَلٰى	مَا فَعَلُوۡا	وَهُمۡ	يَعۡلَمُوۡنَ
الله	او نه کوی مداومت دوی	پر	هغه ګناه چی کړی ده دوی	حال دا چی دوی	پوهیږی

(مغفرت ئی کوی) الله ، او نه کوی مداومت دوی پر هغه ګناه چی کړی ده دوی حال دا چی دوی پوهیږی

اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ وَجَنّٰتٌ

اُولٰٓئِكَ	جَزَآؤُهُمۡ	مَّغۡفِرَةٌ	مِّنۡ	رَّبِّهِمۡ	وَ	جَنّٰتٌ
هم دا (متقیان)	جزاء د دوی	مغفرت دی	له (جانبه)	رب د دوی	او	جنتونه دی

هم دا (متقیان) جزاء د دوی مغفرت دی له (جانبه د) رب د دوی او جنتونه دی

تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ؕ وَنِعۡمَ اَجۡرُ

تَجۡرِىۡ	مِنۡ تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ	خٰلِدِيۡنَ	فِيۡهَا	وَنِعۡمَ	اَجۡرُ
چی بهیږی	لاندی له هغو	ویالی	چی تل به وی دوی	په هغو کښی	او ښومره ښه دی	اجر (مزدوری)

چی بهیږی لاندی له هغو ویالی چی تل به وی دوی په هغو (جنتونو) کښی ، او ښومره ښه دی اجر (مزدوری)

الۡعٰمِلِيۡنَ ﴿۱۳۶﴾ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ سُنَنٌ ۙ فَسِيۡرُوۡا

الۡعٰمِلِيۡنَ	قَدۡ خَلَتۡ	مِنۡ قَبۡلِكُمۡ	سُنَنٌ	فَسِيۡرُوۡا
دعمل کوونکو	په تحقیق تیری سوی دی	پخوا له تاسی	ډیری طریقی	نو وګرځئ ! تاسی

دعمل کوونکو . په تحقیق تیری سوی دی پخوا له تاسی ډیری طریقی (دکفارو د هلاک) نو وګرځئ! (تګ وکړئ!) تاسی

فِى الۡاَرۡضِ فَانۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۱۳۷﴾

فِى الۡاَرۡضِ	فَانۡظُرُوۡا	كَيۡفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الۡمُكَذِّبِيۡنَ
په مځکه کښی	پس وګورئ	چی څرنګه	ؤ	عاقبت	دنسبت کوونکو د دروغو

په مځکه (جهان) کښی پس وګورئ! چی څرنګه ؤ عاقبت (انجام) دنسبت کوونکو د دروغو (رسولانو ته).

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوۡعِظَةٌ لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۳۸﴾

هٰذَا	بَيَانٌ	لِّلنَّاسِ	وَهُدًى	وَّمَوۡعِظَةٌ	لِّلۡمُتَّقِيۡنَ
دا (قرآن)	بیان دی	له پاره د خلګو	او هدایت	او موعظت دی	پرهیزګارانو ته

دا (قرآن) بیان دی له پاره د (ټولو) خلګو او هدایت (لارښوونه) او موعظت (نصیحت) دی پرهیزګارانو ته

اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ..... دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه دبزرګی یو

حکایت : دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه یوه واقعه ده چي یو سړي په ډک بازار کي دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په حق کي بدورد وویل حضرت امام اعظم صاحب رحمة الله علیه غصه ونیول او ده ته یي هیڅ نه وویل چي کورته راغی نو په یوه مجمه کي ډیري روپی کښیښولي او ددغه سړي کورته یي تشریف یوړی په دروازه کي ورته اواز وکی هغه سړی دباندي راووتی نو د مبارک هغه دپیسو مجمه ورته وړاندي کړه او ورته یي وفرمایل چي تا نن پرما ډیر لوی احسان کړی دی تا ماته خپلي نیکی راکړې زه ددې احسان په بدله کي تاته دا تحفه پیش کوم د امام صاحب رحمة الله علیه ددې معاملي ځخه دهغه پرزړه دومره اثر وسوچي دآینده لپاره یي ددې بدخویي ځخه دهمیشه لپاره توبه وکښه دامام صاحب رحمة الله علیه ځخه یي معافي وغوښته او دامام صاحب په شاګردانو کي شامل سو او په مستقبل کي ورځخه یو لوی عالم جوړ سو ځکه الله جل جلاله فرمایي **اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ** دغه بزرګان ددغه صفتونو مالکان وه ځکه الله جنت ورته ورکی :

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۸۷)

www.jamairahmani.org

وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ

وَلَا تَهِنُوْا	وَلَا تَحْزَنُوْا	وَاَنْتُمُ	الْاَعْلَوْنَ	اِنْ	كُنْتُمْ
او مه سستيږئ تاسي	او مه خپه کيږئ تاسي	او هم دا تاسي	غالبان يئ	كه	يئ تاسي

او مه سستيږئ تاسي! او مه خپه کيږئ تاسي! او هم دا تاسي غالبان يئ كه يئ تاسي

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ

مُّؤْمِنِيْنَ	اِنْ	يَّمْسَسْكُمْ	قَرْحٌ	فَقَدْ	مَسَّ	الْقَوْمَ
مؤمنان	كه	ورسيږي تاسي ته	زخم	نو په تحقيق	رسيدلى دى	قوم (دكفارو) ته

مؤمنان (په حقه سره). كه ورسيږي تاسي ته زخم نو په تحقيق رسيدلى دى قوم (د كفارو) ته

قَرْحٌ مِّثْلُهٗ وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ

قَرْحٌ	مِّثْلُهٗ	وَتِلْكَ	الْاَيَّامُ	نُدَاوِلُهَا	بَيْنَ	النَّاسِ
زخم	په شان د زخم ستاسي	او دا	ورځى دى	اړوو راړووئى موږ	په مينځ	د خلكو كښې

(هم) زخم په شان د زخم ستاسي، او دا ورځى دى (دژوندون) اړوو راړووئى موږ (په وار) په مينځ د خلكو كښې،

وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ

وَلِيَعْلَمَ	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَيَتَّخِذَ	مِنْكُمْ	شُهَدَآءَ
او له پاره د دى چي معلوم كړى	الله	هغه كسان	چي ايمان لرونكى دى	او ونيسى	له تاسي	شهيدان

او له پاره د دى چي معلوم كړى الله هغه كسان چي ايمان لرونكى دى ، او ونيسى (الله) له تاسي شهيدان،

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

وَاللّٰهُ	لَا يُحِبُّ	الظّٰلِمِيْنَ	وَلِيُمَحِّصَ	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ
او الله	نه خوښوى	ظالمان	او (دپاره د دى) چي پاك او صاف كړى	الله	(له گناه) هغه كسان

او الله نه خوښوى ظالمان (كافران). او (بل دپاره د دى چي پاك او صاف كړى) الله (له گناه) هغه كسان

اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا

اٰمَنُوْا	وَيَمْحَقَ	الْكٰفِرِيْنَ	اَمْ	حَسِبْتُمْ	اَنْ	تَدْخُلُوا
چي ايمان لرونكى دى	او هلاك كړى	كافران	آيا	گمان كوئ تاسي	ددى چي	ننه به وځئ

چي ايمان لرونكى دى او هلاك كړى (الله) كافران. (بلكه) آيا گمان كوئ تاسي ددى چي ننه به وځئ

وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ... داحد دغزا واقعه په دې سورت کي په خپل تفصيل سره تيره سوه: په دې کي دا خبره معلومه سويده چي په دې جهاد کي مسلمانانو دځينو کوتاهيو له وجي دابتدايي فتحي څخه وروسته شکست وخوړ اويا (۷۰) صحابه کرام رضي الله عنهم په شهادت ورسيدل او نبي کريم صلى الله عليه وسلم زخمي سو مگر ددې ټولو خبرو څخه وروسته الله جل جلاله دجنگ پانه بدله کړه او دښمن وروسته سو ددې عارضي ماتي درې سببونه وه اول دا چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم چي کم حکم غشو ويشتونکو ته ورکړی وودوی دځينو سببونو په وجه پر دې قايم پاته نه سوه ځکه چي په دې باره کي اختلاف رايي وسوي چا ويل چي موږ ته دلته قايم پاته کيدل پکار دي او ټولو ته په غنيمت راټولو کي شريک کيدل پکار دي او ډيرو ويل چي اوس دلته زموږ پاته کيدو ته هيڅ ضرورت نسته تلل پکار دي او ټولو ته په غنيمت راټولولو کي شريک کيدل پکار دي نو اولنی سبب يي په خپل مينځ کي جگړه وه دوهم اودريم سبب يي په معارف القرآن تفسير کي وگوری.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۹۰)

www.jamairahmani.org

الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ

الْجَنَّةَ	وَلَمَّا يَعْلَمِ	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	جٰهَدُوْا	مِنْكُمْ	وَيَعْلَمَ
جنت ته	حال دا چي معلوم کړي به نه وي	الله	هغه کسان	چي جهاد ئې کړی دی	له تاسې څنې	او معلوم کړي (الله)

جنت ته حال دا چي معلوم کړي به نه وي الله، هغه کسان چي جهاد ئې کړی دی له تاسې څنې او معلوم کړي (الله)

الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٤٢﴾ وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ

الصّٰبِرِيْنَ	وَلَقَدْ	كُنْتُمْ	تَمَنَّوْنَ	الْمَوْتَ	مِنْ قَبْلِ
صابران	او خامخا په تحقیق	وئ تاسې	چي آرزو به مو کوله	دمرګ	پخوا له هغه

صابران (ثابتان په سختیو کښې). او خامخا په تحقیق وئ تاسې چي آرزو به مو کوله د مرګ پخوا له هغه

اَنْ تَلْقَوْهُ ۠ فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿١٤٣﴾ وَمَا

اَنْ	تَلْقَوْهُ	فَقَدْ	رَاَيْتُمُوْهُ	وَاَنْتُمْ	تَنْظُرُوْنَ	وَمَا
چي	تاسې پیښیدئ پر دغه	نو په تحقیق	ولیدله تاسې دا (مرګ)	حال دا چي تاسې	(ورته) کتل	او نه دی

چي تاسې پیښیدئ پر دغه (مرګ) نو په تحقیق ولیدل تاسې دا (مرګ) حال دا چي تاسې (ورته) کتل. او نه دی

مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ

مُحَمَّدٌ	اِلَّا	رَسُوْلٌ	قَدْ خَلَتْ	مِنْ قَبْلِهِ	الرُّسُلُ
محمد	مګر	یو رسول (دالله)	په تحقیق تیر سوي دي	له ده نه پخوا	رسولان

محمد مګر (دی) یو رسول (دالله)، په تحقیق تیر سوي دي له ده نه پخوا (ډیر) رسولان،

اَفَاۡئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ؕ وَمَنْ

اَفَاۡئِنْ	مَّاتَ	اَوْ قُتِلَ	انْقَلَبْتُمْ	عَلٰٓى	اَعْقَابِكُمْ	وَمَنْ
آیا نو که	مړ سي	یا شهید کړی سي	نو بیرته به وګرځئ تاسې	پر	پوندو خپلو (کفرته)	او هر څوک چي

آیا نو که مړ سي (محمد) یا شهید کړی سي (محمد) نو بیرته به وګرځئ تاسې پر پوندو خپلو (کفرته)، او هر څوک چي

قَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا ؕ وَسَيَجْزِي

قَلِبْ	عَلٰى	عَقِبَيْهِ	فَلَنْ يَّضُرَّ	اللّٰهَ	شَيْئًا	وَسَيَجْزِي
بیرته وګرځید	په	پوندو خپلو	نو له سره به زیان ونه رسوی	الله ته	هیڅ شی	او ژر به جزا ورکړي

بیرته وګرځید، په پوندو خپلو (کفرته) نو له سره به زیان ونه رسوی الله ته هیڅ شی، او ژر به جزا ورکړي

ع ١٤ / ٥

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ.. داحد په غزا کي چي دعارضي ماتي په وخت کي هرکله چا داخبره مشهوره کړه: چي نبي کريم ﷺ وفات سو نو دغه وخت چي پر صحابه کرامو څه تير سوه او تيرېدل يي پکار وه ددې لږ او معمولي شان اندازه کول هم دهر سړي لپاره اسان کارنه دی ددې لږو ډيره اندازه هغه څوک کولای سي چاته چي داصحابو رضی الله عنهم پرهغوی د ځان قربانولو او دهغوی سره دعشق او ميني څه اندازه معلومه وي چاته چي دا پوره معلومه وي چي دا هغه حضرات دي چا چي دنبي کريم ﷺ په محبت کي خپل مال او خپل اولاد او خپل ځانونه او هرڅه قربانول ددنيا دټولو څخه لويه نيک بختي ګڼله او په عملي طور سره يي ددې ثبوت هم ورکړی دی دنبي کريم ﷺ ددې عاشقانو په غوږونو کي چي کله دا خبر پرېوتی چي دی وفات سو نو ددوی دهوش او حواسو حال به څه وو؟ او خاص بيا هغه وخت چي دجنګ ميدان هم ګرم دی او دفتح څخه وروسته دماتي خوړو منظره دسترګو په وړاندي ده هغه ووچي دمسلمانانو پښې وښوييد بالله ﷻ دتسلی لپاره دا آياتونه را نازل کړل:
(معارف القرآن ج ٢ پ ۴ ص ٩۴)

www.jamairahmani.org

اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا

اللّٰهُ	الشّٰكِرِيْنَ	وَمَا كَانَ	لِنَفْسٍ	اَنْ	تَمُوْتَ	اِلَّا
الله	شکرګزاروته	او نسته هيڅ	نفس لره	دا چي	مړسی	مګر

الله شکرګزاروته (داسلام په نعمت). او نسته هيڅ نفس لره دا چي مړسی مګر

بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا

بِاِذْنِ	اللّٰهِ	كِتٰبًا	مُّؤَجَّلًا	وَمَنْ	يُّرِدْ	ثَوَابَ	الدُّنْيَا
په اذن	دالله سره	چي ليکلی سوی دی	په يوه مقرر وخت کښې	او هر څوک	چي غواړي	ثواب	د دی دنيا

په اذن (حکم) دالله سره چي ليکلی سوی دی (دامرګ) په يوه مقرر وخت کښې ، او هر څوک چي غواړي ثواب د دی دنيا

نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ

نُؤْتِهٖ	مِنْهَا	وَمَنْ	يُّرِدْ	ثَوَابَ	الْاٰخِرَةِ	نُؤْتِهٖ	مِنْهَا
نو وربه کړو موږ هغه ته	له هم دغه	او هر څوک	چي غواړي	ثواب	دآخرت	نو وربه کړو موږ هغه ته	له هم دغه

نو وربه کړو موږ هغه ته له هم دغه (دنيوی بدل)، او هر څوک چي غواړي ثواب د آخرت نو وربه کړو موږ هغه ته له هم دغه

وَسَنَجْزِى الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ

وَسَنَجْزِى	الشّٰكِرِيْنَ	وَكَاَيِّنْ	مِّنْ	نَّبِيٍّ	قٰتَلَ	مَعَهٗ
او ژر به جزا (ثواب) ورکړو موږ	شکرګزاروته	او ډير	له	انبياؤ ځني وو	چي جنګيدلی وو	د دوی سره په مرسته

او ژر به جزا (ثواب) ورکړو موږ شکرګزارو (احسان منونکو) ته. او ډير له انبياؤ ځني وو چي د دوی سره په مرسته جنګيدلی وو

رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ

رِبِّيُّوْنَ	كَثِيْرٌ	فَمَا وَهَنُوْا	لِمَآ	اَصَابَهُمْ	فِيْ	سَبِيْلِ
الله والا	ډير	نو هيڅ قدر به نه سستيدل هغوی	له سببه	دهغه تکليفه چي رسيدلی به ؤ دوی ته	په	لاره

رباني سړي (دالله طالبان) ډير نو هيڅ قدر به نه سستيدل هغوی له سببه د هغه تکليفه چي رسيدلی به ؤ دوی ته په لاره

اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

اللّٰهِ	وَمَا	ضَعُفُوْا	وَمَا	اسْتَكَانُوْا	وَ	اللّٰهُ	يُحِبُّ
د الله کښې	او نه به	ضعيفان کيدل	او نه به	سرټيټوه دوی (دښمن ته)	او	الله	خوښوی

د الله کښې او نه به ضعيفان کيدل (په جنګ کښې) او نه به سرټيټوه دوی (دښمن ته) ، او الله خوښوی

وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ

دخدايي خلګو په جهاد کي شرکت: په دغه ذکر سوو اياتونو کي دتيرو انبياوو عليهم السلام سره په جهاد کي دشريک سوو خدايي خلقو په جنګ کي دثابت قدمی او دمصيبتونو او سختيو څخه دنه بيريدو او دنه کمزوری کيدو بيان کولو څخه وروسته يي ددوی ديوه بل عظيم الشانه صفت بيان دا رنګه فرمايلی دی چي هغوی دخپلي دې بي مثاله قرباني سره هم دالله جل جلاله په دربار کي څو دعاګاني کولې اول دا چي زموږ تير ګناهونه معاف کړې. دوهم دا چي په دې موجوده جهاد کي زموږ څخه څه کوتاهي سوې وي هغه هم را معاف کړې. دريم داچي موږ پر ثابت قدمی باندي قايمه وساتې ثلورم داچي موږ پر دښمنانو باندي غالبه کړې په دغه دعاګانو کي دمسلمانانو لپاره څو مهم هدايات دي: اول داچي په خپل يو نيک عمل باندي ناز کول نه دي پکار بلکي په هر حال کي دالله جل جلاله څخه مغفرت او پرنيک عمل باندي دقايم پاته کيدو دعا کول پکار دي ځکه چي په حقيقت کي دده دا عمل هم د الله جل جلاله دفضل او کرم نتيجه ده نه دده خپل کمال (معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۹۸)

www.jamairahmani.org

الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٤٦﴾ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا

الصّٰبِرِيْنَ	وَمَا	كَانَ	قَوْلَهُمْ	اِلَّآ	اَنْ	قَالُوْ	ا رَبَّنَا
صبر كوونكي	او نه	وه	وينا د دوى	مگر	داچي	ويل دوى	اى! ربه زمونږ!

صبر كوونكي. او نه وه وينا د دوى مگر داچي ويل دوى اى! ربه زمونږ!

اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ

اغْفِرْ لَنَا	ذُنُوْبَنَا	وَاِسْرَافَنَا	فِيْٓ	اَمْرِنَا	وَ ثَبِّتْ
مغفرت وكړه موږته د	گناهونو زمونږ	او له حده تيريدل زمونږ!	په (دى)	كار زمونږ كښي	او ثابت (ټينگ كړه)

مغفرت وكړه موږ ته د گناهونو زمونږ! او له حده تيريدل زمونږ! په (دى) كار زمونږ كښي او ثابت (ټينگ كړه)

اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٤٧﴾ فَاٰتٰىهُمُ

اَقْدَامَنَا	وَانْصُرْنَا	عَلَى	الْقَوْمِ	الْكٰفِرِيْنَ	فَاٰتٰىهُمُ
قدمونه زمونږ	او مرسته وكړه له موږ سره	پر	قوم	كافرانو !	نو وركړى دوى ته

قدمونه زمونږ (په طاعت خپل كښي) ! او مرسته (مدد) وكړه له موږ سره پر قوم كافرانو! نو وركړى دوى ته

اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ۭ وَاللّٰهُ

اللّٰهُ	ثَوَابَ	الدُّنْيَا	وَحُسْنَ	ثَوَابِ	الْاٰخِرَةِ	وَ	اللّٰهُ
الله	ثواب	د دنيا	او ښه	ثواب	دآخرت	او	الله

الله ثواب د دنيا او ښه ثواب د آخرت، او الله

يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٤٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ

يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنْ
خوښوى	نيكي كوونكي	اى	هغو كسانو	چي ايمان ئې راوړى دى	كه

خوښوى نيكي كوونكي (په دنيا كښي په نعمت او په عقبا كښي په جنت). اى هغو كسانو چي ايمان ئې راوړى دى كه

تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ

تُطِيْعُوا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	يَرُدُّوْكُمْ	عَلٰٓى	اَعْقَابِكُمْ
اطاعت وكړئ تاسي	دهغو كسانو	چي كافران سوى دى	نو بيرته به وگرځوى دغه تاسي	په	پوندو ستاسي (كفرته)

اطاعت وكړئ تاسي دهغو كسانو چي كافران سوى دى نو بيرته به وگرځوى دغه (كفار) تاسي په پوندو ستاسي (كفر ته)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا.. داحد په غزا كي دمسلمانانو په عارضي ماتي خوړل: او دنبي كريم ﷺ دوفات دخبر په خپريدو سره چي كله منافقينو دجنگ پانه او نقشه بدله وليده نو دشرارت كولو موقعه ورته په لاس ورغله مسلمانانو ته يي خبري شروع كړي چي هر كله اوس دى ﷺ پاته نه سو نو موږ بايد خپل زوړ دين اختياره كړو چي په دې سره به داټولي جگړي ختمي سي په دغه سره دمنافقينو خباثت او دمسلمانانو سره بدي او دښمني ظاهره ده او ظاهره سوه په دې وجه په ذكر سوي ايت كي مسلمانانو ته هدايت سوى دى چي ددې دښمنانو خبرو ته دي غوږونه نه ايږدي او دوى دي په خپله څه مشوره كي نه شريكوي او نه دي ددوى مشوره مني نو لكه څنگه چي په تيرو اياتونوكي دخدايي خلگو دتابعدارى كولو هدايت وو په دغه ايت كي بيا دمنافقينو او داسلام د مخالفينو پرمشورو دنه عمل كولو او د دوى څخه دځان ساتلو هدايت الله ﷻ وخپلو مخلصو بندگانوته وركړى دى. الله ﷻ دي دعمل توفيق رانصيب كړي.

(معارف القرآن ج ٢ پ ۴ ص ١٠٠)

ع ١٥

www.jamairahmani.org

فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿١٤٩﴾ بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ

فَتَنْقَلِبُوْا	خٰسِرِيْنَ	بَلِ	اللّٰهُ	مَوْلٰىكُمْ	وَهُوَ	خَيْرُ
نو وبه گرځئ تاسی	زیانکاران	بلکه	الله	مولی مرسته کوونکی ستاسی دی	او هم دی	خورا ښه

نو وبه گرځئ تاسی زیانکاران. بلکه الله مولی مرسته کوونکی، (دوست لرونکی) ستاسی دی او هم دی خورا ښه

النّٰصِرِيْنَ ﴿١٥٠﴾ سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

النّٰصِرِيْنَ	سَنُلْقِيْ	فِيْ	قُلُوْبِ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
دټولو مرسته کوونکو دی	ژربه وغورځوو موږ	په	زړونو	دهغو کسانو کښې	چې کافران سوی دی

د ټولو مرسته کوونکو دی. ژربه وغورځوو موږ په زړونو د هغو کسانو کښې چې کافران سوی دی

الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا

الرُّعْبَ	بِمَآ	اَشْرَكُوْا	بِاللّٰهِ	مَا لَمْ يُنَزِّلْ	بِهٖ	سُلْطٰنًا
رعب (بیره)	په سبب	د شریک نیولو د دوی	په الله سره	هغه شی چې نه دی نازل کړی (الله)	په هغه	کوم برهان (دلیل)

رعب (هیبت، بیره) په سبب د شریک نیولو د دوی په الله سره هغه شی چې نه دی نازل کړی (الله) په هغه کوم برهان (دلیل)

وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۚ وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٥١﴾ وَلَقَدْ

وَمَاْوٰىهُمُ	النَّارُ	وَبِئْسَ	مَثْوَى	الظّٰلِمِيْنَ	وَلَقَدْ
او ځای دهستوګنې د دوی	اور دی	او بد	ځای د هستوګنې	د ظالمانو دی	او خامخا په تحقیق

او ځای د هستوګنې د دوی اور (دوزخ) دی، او بد ځای د هستوګنې د ظالمانو دی (دا اور د دوزخ). او خامخا په تحقیق

صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا

صَدَقَكُمُ	اللّٰهُ	وَعْدَهٗ	اِذْ	تَحُسُّوْنَهُمْ	بِاِذْنِهٖ	حَتّٰٓى اِذَا
رښتیا کړه تاسی ته	الله	وعده خپله	په هغه وخت کښې	کله چې وژل تاسی دوی کافران	په اذن د (الله) سره	تر هغه وخته پوری

رښتیا کړه تاسی ته الله وعده خپله په هغه وخت کښې کله چې وژل تاسی کافران په اذن (حکم) د الله سره، تر هغه وخته پوری

فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْ بَعْدِ مَآ

فَشِلْتُمْ	وَتَنَازَعْتُمْ	فِى	الْاَمْرِ	وَعَصَيْتُمْ	مِّنْ بَعْدِ مَآ
چې بې زړه سوئ تاسی	او سره مخالف سوئ	په	امر (دنبې) کښې	او نافرمانی وکړه تاسی	له هغه وروسته

چې بې زړه سوئ تاسی او (خپلو منځونو کی) سره مخالف سوئ په امر (دنبې) کښې او نافرمانی وکړه تاسی. له هغه وروسته

سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ دالله ﷻ په نزد دصحابه کرامو ﷺ لوړ مقام اوورسره رعایتونه: داظاهره خبره ده چې داحد په غزا کې دځینو صحابه کرامو ﷺ څخه دراېي غلطي سوې وه چې په تیرو ډیرو آیا تونو کې خبرداری اودآینده لپاره دخپل حال داصلاح کولودهدایتونو سلسله راروانه ده لیکن سره ددې زورنو او خبرداریو بیا هم دصحابه کرامو ﷺ سره دالله ﷻ مهربانیانې دکتلو قابلي دي اول خو یې (لیبتلیکم) وفرمایل دایې ښکاره کړل چې ددې عارضي ماتې خوړو کم صورت چې راپیښ سوی دی دا په طور دسزا نه دی بلکې دامتحان لپاره دی بیا یې په صافو لفظونو کې ددې خطادمعافی اعلان وکړی (ولقد عفا عنکم) په الفاظو سره په ذکر سوې ایت کې ارشاد سوی دی چې دغه وخت صحابه کرام ﷺ دوې ډلې سوې ځینو دنیاغوښته اوځینې یوازې دآخرت طلب گاره وه جواب دادی چې دا خونه سې کیدای چې خالص ددنیا طلب دوی کوی بلکې دغه دمال تصرف ته الله ﷻ د دنیا طلب کول وویل ځکه چې الله ﷻ دخپل رسول ﷺ دملګرو زړونه هم ددې څخه پاک ساتل وغوښتل **فافهم بهذا المقام فانه من مزلة الاقدام** (معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۱۰۲)

www.jamairahmani.org

اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا

اَرٰىكُمْ	مَّا	تُحِبُّوْنَ	مِنْكُمْ	مَّنْ	يُّرِيْدُ	الدُّنْيَا
چې دروښود (الله) تاسی ته	هغه شی	چې تاسی خوښوئ	ځينی له تاسی	هغه دی	چې خوښوی	دنيا

چې دروښود تاسی ته (الله) هغه شی چې تاسی خوښوئ، ځينی له تاسی هغه دی چې خوښوی دنيا (داژوند لږخسيس)

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ

وَمِنْكُمْ	مَّنْ	يُّرِيْدُ	الْاٰخِرَةَ	ثُمَّ	صَرَفَكُمْ	عَنْهُمْ
او ځينی ستاسی	هغه دی	چې خوښوی	آخرت	بيا (الله)	وګرځولئ تاسی	له کافرانو څخه

او ځينی ستاسی هغه دی چې خوښوی آخرت، بيا (الله) وګرځولئ تاسی له کافرانو څخه (په تيښته سره)

لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ

لِيَبْتَلِيَكُمْ	وَلَقَدْ	عَفَا	عَنْكُمْ	وَ	اللّٰهُ	ذُوْ فَضْلٍ
له پاره د دی چې وازموئی تاسی	او خامخا په تحقيق	عفوه وکړه	(الله) تاسی ته	او	الله	څښتن د لوی فضل دی

له پاره د دی چې وازموئی تاسی، او خامخا په تحقيق عفوه وکړه (الله) تاسی ته، او الله څښتن د لوی فضل دی

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵۲﴾ اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ

عَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	اِذْ تُصْعِدُوْنَ	وَلَا تَلْوٗنَ	عَلٰٓى اَحَدٍ
پر	مؤمنانو باندی	هغه وخت چې تلئ منډی وهلی تاسی	او نه مو کتل	هيڅ چا ته

پر مؤمنانو باندی. (ياد کړئ) هغه وخت چې تلئ منډي وهلی تاسی (بيرته مو شاګرځوله) او نه مو کتل هيچا ته

وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ

وَّالرَّسُوْلُ	يَدْعُوْكُمْ	فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ	فَاَثَابَكُمْ	غَمًّا	بِغَمٍّ
حال دا چې رسول	بللئ تاسی	وروسته ستاسی	نو سزائی درکړه تاسی ته	د يو غم	په سبب د بل غم

حال دا چې رسول (دالله محمد) بللئ تاسی وروسته ستاسی. نو سزا ئی درکړه تاسی ته يو غم په سبب د بل غم

لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ؕ

لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا	عَلٰى	مَا فَاتَكُمْ	وَلَا	مَآ	اَصَابَكُمْ
له پاره د دی چې خپه نه سئ تاسی	په	هغه شی چې پاتی سو له تاسی	او نه په	هغه شی	چې ورسيد تاسی ته

له پاره د دی چې خپه نه سئ تاسی په هغه شی چې پاتی سو له تاسی (له غنيمت څخه) او نه په هغه شی چې ورسيد تاسی ته

اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ. په اولني ايت کي دځه صحابه کرامو رضی الله عنهم دميداني جنګ پريښوولو ذکر دی: او په خپله دنبي کريم صلی الله عليه وسلم په اواز باندي نه راتلل او پردي دنبي کريم صلی الله عليه وسلم غمجن کيدل اوددي غم په بدله کي آخر دصحابه کرامو رضی الله عنهم غمجن کيدل ذکر دی او داحاديثو په روايتونوکي دي چي حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه دوی ته اواز وکی نو دوی راجمع سول ددي توجيه او تطبيق صاحب دروح المعاني داسي کړی دی چي اول رسول الله صلی الله عليه وسلم اواز وکی چي ټولو صحابه وو رضی الله عنهم نه وو اوريدلی او ډير ليري نه وو تللی نو دغه وخت حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه چغه وکړه نو هغه ټولو واوريده او جمع سوه په بيان القرآن کي حضرت حکيم الامت رحمة الله عليه فرمايي چي اصلي وجه دبيري دا خبر وو چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم شهيد سو دده صلی الله عليه وسلم په بللو سره په دې خبره کي خو څه شک نه وو او که اواز رسيدلی هم وي خو دی صلی الله عليه وسلم يي پيژندلی نه وو بيا چي کله کعب بن مالک رضی الله عنه چغه وکړه نو دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دژوندي والي ذکر وسو هغه وو چي ټولو ته تسلي وسوه راغله.

(معارف القرآن ج۲ پ ۴ ص ۱۰۷)

www.jamairahmani.org

وَ اللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

وَ	اللّٰهُ	خَبِيْرٌۢ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ	ثُمَّ	اَنْزَلَ	عَلَيْكُمْ	مِّنْۢ بَعْدِ
او	الله	ښه خبردار دی	په هغه شی چی تاسی ئی کوئ	بیا ئی	نازل کړ	پر تاسی باندی	وروسته له دی

او الله ښه خبردار دی په هغه شی چی تاسی ئی کوئ. بیا ئی نازل کړ پر تاسی باندی وروسته له دی

الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ ۙ

الْغَمِّ	اَمَنَةً	نُّعَاسًا	يَّغْشٰى	طَآئِفَةً	مِّنْكُمْ ۙ
غمه	امن	پرکالی د خوب	چی لاندی ئی کړه	یوه طائفه	له تاسی

غمه امن (بیغمی) پرکالی د خوب چی لاندی ئی کړه یوه طائفه له تاسی (چی مؤمنان وو)

وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ

وَطَآئِفَةٌ	قَدْ	اَهَمَّتْهُمْ	اَنْفُسُهُمْ	يَظُنُّوْنَ	بِاللّٰهِ
او بله طائفه وه	په تحقیق	په فکر کښی غورځولی ؤ دوی	نفسونو د دوی	چی گمانونه به کول دوی	په الله باندی

او بله طائفه وه (چی منافقان ؤ) په تحقیق په فکر کښی غورځولی ؤ دوی نفسونو د دوی چی گمانونه به کول دوی په الله باندی

غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ؕ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ ؕ

غَيْرَ الْحَقِّ	ظَنَّ	الْجَاهِلِيَّةِ	يَقُوْلُوْنَ	هَلْ	لَّنَا	مِنَ	الْاَمْرِ	مِنْ	شَيْءٍ
ناحقه	(لکه) گمان	د جاهلیت	وائی دوی	چی آیا	سته موږ لره	له	امره	څه	برخه

ناحقه (لکه) گمان د جاهلیت، وائی دوی چی آیا سته موږ لره له امره (د نصرت له کاره) څه برخه؟ (هیڅ نسته).

قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ يُخْفُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ مَّا

قُلْ	اِنَّ	الْاَمْرَ	كُلَّهٗ	لِلّٰهِ ؕ	يُخْفُوْنَ	فِيْٓ	اَنْفُسِهِمْ	مَّا
ووایه (محمده)	بیشکه	امر	ټول	(خاص) الله لره دی	پټوی دوی	په	نفسونو خپلو کښی	هغه

ووایه (ای محمده! دوی ته چی) بیشکه امر ټول خاص الله لره دی، پټوی دوی (منافقان) په نفسونو (زړونو) خپلو کښی هغه

لَا يُبْدُوْنَ لَكَ ؕ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ

لَا يُبْدُوْنَ	لَكَ	يَقُوْلُوْنَ	لَوْ	كَانَ	لَنَا	مِنَ الْاَمْرِ	شَيْءٌ
چی نه ئی درښکاروی	تاته	وائی دغه	که چیری	وی	موږ لره	له امره	یو شی

(خبری) چی نه ئی درښکاروی تاته (ای محمده!) وائی دغه (منافقان) که چیری وی موږ لره له امره یو شی

يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ... دالله جَلَّ جَلَالُهٗ په نزد دصحابه کرامو رضی الله عنهم لوړ مقام او ددوی پر خطا گانو باندي دعفوي بي مثاله نمونه: داحد په غزا کي چي کم لغزشونه او خطاگاني دځینو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه صادري سوي وي دغه په خپل ذات کي ډيري لويي او سختي وي پر کمه مورچه باندي چي پنځوسو اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته حکم د کښېنستلو سوی ووچي پر دوی چي هر څه حال تیریږي خو ددې ځایه به نه ښوري دهغوی ډیر شمیر ددغه ځاي څخه وښوریدی که څه هم چي دښوریدو سبب ددوی دغه اجتهادي غلطي وه چي اوس فتح سوي ده او ددې حکم دپوره کولو وخت پاته نه سواو را کښته کیدل او دټولو مسلمانانو سره شریکیدل پکار دي لیکن په حقیقت کي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دواضح حکم او هدایاتو څخه خلاف وو ددې قصور او خطا په نتیجه کي دمیدان جنگ څخه دتیښتي غلطي ور څخه سوي وه که څه هم په دي کي دیو تاویل څخه کار اخیستل سوی وو لکه علامه زجاج رحمة الله علیه چي داخبره بیان کړي ده: **والتفصیل في معارف القران)**

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۰۸)

www.jamairahmani.org

مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ

مَّا قُتِلْنَا	هٰهُنَا	قُلْ	لَّوْ	كُنْتُمْ	فِيْ	بُيُوْتِكُمْ	لَبَرَزَ
نو نه به وو ژلی سوی	موږ دلته	وو وايه (ای محمده)	كه	وی تاسی	په	كورونو خپلو كښی	خامخا به راوتلی وو

نو نه به وو ژلی سوی موږ دلته. نو وو وايه (ای محمده!) كه وی تاسی په كورونو خپلو كښی (نو) خامخا به راوتلی وو

الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ۚ وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ

الَّذِيْنَ	كُتِبَ	عَلَيْهِمُ	الْقَتْلُ	اِلٰى	مَضَاجِعِهِمْ	وَلِيَبْتَلِيَ	اللّٰهُ
هغه كسان	چی مقرر سوی ؤ	په دوی باندی	وژل	طرف	د ځايو د پريوتلو خپلو	او د پاره د دی چی وازموئی	الله

هغه كسان چی مقرر سوی ؤ په دوی باندی وژل طرف د ځايو د پريوتلو خپلو ، او (په احد كښی) دپاره د دی چی وازموئی الله

مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ

مَا فِيْ	صُدُوْرِكُمْ	وَلِيُمَحِّصَ	مَا فِيْ	قُلُوْبِكُمْ	وَ اللّٰهُ
هغه شی چی په	سينو ستاسی كښی دی	او د پاره د دی چی ښكاره كړی	هغه شی چی په	زړونو ستاسی كښی دی	او الله

هغه شی چی په سينو ستاسی كښی دی، او د پاره د دی چی ښكاره كړی (الله) هغه شی چی په زړونو ستاسی كښی دی او الله

عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ

عَلِيْمٌۢ	بِذَاتِ	الصُّدُوْرِ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	تَوَلَّوْا	مِنْكُمْ
ښه عالم دی	په هغو خبرو چی	په سينو كښی پرتی دی	بيشكه!	هغه كسان	چی وګرځيدل دوی	له تاسی څخه

ښه عالم دی په هغو خبرو چی په سينو كښی پرتی دی. بيشكه! هغه كسان (له تاسی) چی وګرځيدل دوی (له جنګ)

يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ

يَوْمَ	الْتَقَى	الْجَمْعٰنِ	اِنَّمَا	اسْتَزَلَّهُمُ	الشَّيْطٰنُ
په هغی ورځی كښی	چی مخامخ سول سره	دواړه فوځونه	بيشكه! هم دا خبره ده	چی ښويولی وو دوی	شيطان

په هغی ورځی كښی چی مخامخ سول سره دواړه فوځونه بيشكه! هم دا خبره ده چی ښويولی وو دوی شيطان

بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

بِبَعْضِ	مَا	كَسَبُوْا	وَلَقَدْ	عَفَا	اللّٰهُ	عَنْهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ
په سبب د ځينو	هغو ګناهونو	چی كړی وو دوی	او خامخا په تحقيق	عفوه كړی ده	الله	له دوی نه	بيشكه!	الله

په سبب (د شامت) د ځينو هغو ګناهونو چی كړی وو دوی، او خامخا په تحقيق عفوه كړی ده الله له دوی نه بيشكه! الله

وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ؕ..

په دې تولو اياتونو كي دا خبره ښه په وضاحت سره مخ ته راغله: چي د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په دربار كي د خپل رسول ﷺ د ملګرو سره د مينې محبت ته هغه مقام حاصل دی چي سره د دومره لويو خطاګانو كولو بيا هم د دوی سره د عفوي او درګذر څخه بلكي د لطف او كرم معامله يي وفرمايله دا معامله خو يوازي الله جَلَّ جَلَالُهٗ او قرآني اياتونو بيان كړي ده د غه ډول يوه معامله د حضرت حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه د حضور ﷺ په مخكي پيښه سوه ده د مكي مشركينو ته د مسلمانانو د حالاتو متعلق يو خط ليكلی وو هر كله چي نبي كريم ﷺ ته د وحي په ذريعه سره دا حقيقت ښكاره سو او خط ونيول سو نو صحابه كرام رضي الله عنهم حاطب بن ابی بلتعه رضي الله عنه ته سخت په قهر سول فاروق اعظم رضي الله عنه عرض وكړی چي ماته اجازه راكړی چي د ده ځټ ووهم په توره سره ليكن نبي كريم ﷺ ته معلومه وه چي دی منافق نه دی مخلص مومن دی ليكن دا د ده څخه غلطي سوي ده هغه يي معاف كړی او وي فرمايل چي دی د اهل بدرو څخه دی:

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۱۱۰)

www.jamairahmani.org

١٦ ع ٧

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَكُوۡنُوۡا...لنډ تفسير:

اى ايماندارو تاسي دهغه خلگو په شان مه كيږى كم چي په حقيقت كي كافران دي كه څه هم په ظاهره داسلام دعوى كوي او وايي دخپلو هم نسبو ياهم مشربو وروڼو په نسبت كله چي هغه خلق په مځكه كي سفر كوي او هلته اتفاقا مړه سى يا دغه خلق يو ځاى غازيان جوړيږي او په تقديرسره په دي كي قتل سي نو دغه منافقان وايي چي كه دا خلق زموږ سره واى په سفر او غزا كي نه تلاى نونه به مړه كيده او نه به قتل كيده دا خبره ددوى پر زړه او ژبه ځكه راځي ددى لپاره چي الله ﷻ دا خبره ددوى د زړونو لپاره سبب د افسوس كړي يعني ددې قسم خبرو نتيجه دافسوس څخه ماسواه هيڅ نسته او مړه كول او ژوندى كول خو خاص الله ﷻ كوي كه په سفر كي وي او كه په كور كي وي كه په جنگ كي وي او كه په امن كي وي او الله ﷻ هغه خبيراو بصيرذات دى چي هر څه تاسي كوى هغه مويني او هغه دالله ﷻ څخه پټ نه دي او نه هم پټيدى سي دهغه څخه هيڅ شى.

(معارف القرآن ج ٢ پ ۴ ص ١١٢)

غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ﴿۱۵۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَكُوۡنُوۡا

غَفُوۡرٌ	حَلِيۡمٌ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	لَا تَكُوۡنُوۡا
ښه مغفرت كوونكى	ښه تحمل كوونكى دى	اى	هغو كسانو	چي ايمان ئى راوړى دى	مه كيږئ تاسي (لكه)

ښه مغفرت كوونكى (دخطياتو) ښه تحمل كوونكى دى. اى هغو كسانو چي ايمان ئى راوړى دى مه كيږئ تاسي لكه

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَقَالُوۡا لِاِخۡوَانِهِمۡ اِذَا ضَرَبُوۡا فِي

الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	وَقَالُوۡا	لِاِخۡوَانِهِمۡ	اِذَا	ضَرَبُوۡا	فِي
هغه كسان	چي كافران سوى دى	او ويل به دوى	په ورونو خپلو كښى	كله به چي	سفرته وتل دوى	په

هغه كسان چي كافران سوى دى. او ويل به دوى په (حق د) ورونو خپلو كښى، كله به چي سفر ته وتل دوى په

الۡاَرۡضِ اَوۡ كَانُوۡا غُزًّى لَّوۡ كَانُوۡا عِنۡدَنَا مَا مَاتُوۡا

الۡاَرۡضِ	اَوۡ كَانُوۡا	غُزًّى	لَّوۡ كَانُوۡا	عِنۡدَنَا	مَا	مَاتُوۡا
مځكه كښى	يا به وو دوى	غزا كوونكى	كه چيرى وى دوى	په نزد زموږ كښى	نو نه	به وو مړه سوى دوى

مځكه (په ملك) كښى يا به وو دوى غزا كوونكى كه چيرى وى دوى په نزد زموږ كښى نو نه به وو مړه سوى دوى

وَمَا قُتِلُوۡا ۚ لِيَجۡعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسۡرَةً فِي قُلُوۡبِهِمۡ ؕ

وَمَا قُتِلُوۡا	لِيَجۡعَلَ	اللّٰهُ	ذٰلِكَ	حَسۡرَةً	فِي	قُلُوۡبِهِمۡ
او نه به قتل كړى سوى وو دوى	دپاره د دى چي وگرځوى	الله	دا (گمان)	حسرت	په	زړونو د دوى كښى

او نه به قتل كړى سوى وو دوى، دپاره د دى چي وگرځوى الله دا (گمان) حسرت (افسوس، ارمان) په زړونو د دوى كښى

وَاللّٰهُ يُحۡيٖ وَيُمِيۡتُ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۱۵۶﴾

وَاللّٰهُ	يُحۡيٖ	وَيُمِيۡتُ	وَ	اللّٰهُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِيۡرٌ
او الله	ژوندى كول	او مړه كول كوى	او	الله	پر هغو شيانو	چي تاسي ئى كوئ	ښه ليدونكى دى

او الله ژوندى كول او مړه كول كوى او الله پر هغو (ټولو) شيانو چي تاسي ئى كوئ ښه ليدونكى دى.

وَلَئِنۡ قُتِلۡتُمۡ فِي سَبِيۡلِ اللّٰهِ اَوۡ مُتُّمۡ لَمَغۡفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ

وَلَئِنۡ	قُتِلۡتُمۡ	فِي	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	اَوۡ مُتُّمۡ	لَمَغۡفِرَةٌ	مِّنَ	اللّٰهِ
او قسم دى خامخا	كه ووژلى سوئ تاسي	په	لاره	د الله كښى	يا مړه سوئ تاسي	نو خامخا مغفرت	له جانبه	د الله

او قسم دى خامخا كه ووژلى سوئ تاسي په لاره د الله كښى يا مړه سوئ تاسي (په لاره د الله) نو خامخا مغفرت له جانبه د الله

www.jamairahmani.org

وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٌ مِّمَّا يَجۡمَعُوۡنَ ﴿۱۵۷﴾ وَلَئِنۡ مُّتُّمۡ اَوۡ قُتِلۡتُمۡ

وَرَحۡمَةٌ	خَيۡرٌ	مِّمَّا	يَجۡمَعُوۡنَ	وَلَئِنۡ	مُّتُّمۡ	اَوۡ قُتِلۡتُمۡ
او رحمت	خیر دی	له هغو	چی دوی ئی جمع کوی	او قسم دی که	مړه سوئ تاسی	یا ووژلی سوئ تاسی

او رحمت (مهربانی) خیر (ډیر ښه) دی له هغو چی دوی ئی جمع کوی . او قسم دی که مړه سوئ تاسی یا ووژلی سوئ تاسی

لَاِالَى اللّٰهِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۱۵۸﴾ فَبِمَا رَحۡمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنۡتَ

لَاِالَى	اللّٰهِ	تُحۡشَرُوۡنَ	فَبِمَا	رَحۡمَةٍ	مِّنَ	اللّٰهِ	لِنۡتَ
نو خامخا به	الله ته	راجمع کړی سئ تاسی	نو په سبب	د رحمت	د	الله	نرمی کوی ته

نو خامخا به الله ته راجمع کړی سئ تاسی (ټول). نو (یوازی) په سبب د رحمت د الله نرمی کوی ته

لَهُمۡ ۚ وَلَوۡ كُنۡتَ فَظًّا غَلِيۡظَ الۡقَلۡبِ لَانۡفَضُّوۡا مِنۡ

لَهُمۡ	وَلَوۡ	كُنۡتَ	فَظًّا	غَلِيۡظَ	الۡقَلۡبِ	لَانۡفَضُّوۡا	مِنۡ
دوی ته	او که	وی ته	بد خوی	سخت	زړه	نو خامخا به تار په تار سوی وو	له

دوی ته او که وی ته (ای محمده!) بد خوی سخت زړه نو خامخا به تار په تار سوی وو (اصحاب) له

حَوۡلِكَ ۠ فَاعۡفُ عَنۡهُمۡ وَاسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ وَشَاوِرۡهُمۡ

حَوۡلِكَ	فَاعۡفُ	عَنۡهُمۡ	وَاسۡتَغۡفِرۡ	لَهُمۡ	وَشَاوِرۡهُمۡ
شاوخوا ستا څخه	نو عفوه وکړه	له دوی څخه	او مغفرت وغواړه	دوی ته	او مشوره وکړه له دوی سره

چاپیره ستا څخه نو عفوه وکړه له دوی څخه او مغفرت وغواړه (له الله) دوی ته او مشوره وکړه له دوی سره (محمده! په کار)

فِى الۡاَمۡرِ ۚ فَاِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

فِى الۡاَمۡرِ	فَاِذَا	عَزَمۡتَ	فَتَوَكَّلۡ	عَلَى	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ
په امر کښی	نو کله دی	چی ټینګه اراده وکړه	نو توکل وکړه	پر	الله باندی	بیشکه!	الله

امر کښی نو کله دی چی ټینګه اراده وکړه (ای محمده! دیوه کار کولو ته) نو توکل (اعتماد) وکړه پر الله باندی، بیشکه! الله

يُحِبُّ الۡمُتَوَكِّلِيۡنَ ﴿۱۵۹﴾ اِنۡ يَّنۡصُرۡكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ

يُحِبُّ	الۡمُتَوَكِّلِيۡنَ	اِنۡ	يَّنۡصُرۡكُمُ	اللّٰهُ	فَلَا غَالِبَ
خوښوی	توکل کوونکی	که	مرسته وکړی له تاسی سره	الله	نو نسته غالب

خوښوی توکل کوونکی . که مرسته وکړی له تاسی سره الله (لکه چی په بدر کښی ئی وکړه) نو نسته (هیڅ) غالب

فَبِمَا رَحۡمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنۡتَ لَهُمۡ ۚ.. دمرشد او مربي خاص صفتونه: صحابه کرام ﷺ دنبي کريم ﷺ داسي عاشقان وه چي دی ﷺ يي تر خپلو ځانونو او مالونو زيات خوږ ګڼی ددوی څخه چي به کله دده ﷺ دحکم خلاف يوه خطا وسوه نو يو طرف ته دابيره وه چي که دا حضرات په خپله دې خطا باندي خبردار سي نو ددې تکليف به تر حد دومره زيات سي چي زړه او دماغ به يي کار پرېږدي يا به درحمت څخه مايوسه سي ددې علاج يي په تير ايت کي دا وښووی چي (اصابكم غما بغمّ) دخطا سزا درلره په دنيا کي درکړه سوه او دآخرت سزا درته معاف سوه دوهم طرف ته نبي کريم ﷺ ددې خطا او غلطی په وجه زخمي سو چي په دې سره ورته جسماني تکليف هم ورسيدی او روحاني تکليف خو دمخکي څخه لا وو نو ددې جسماني او روحاني تکليف درسيدو دوجي څخه دا احتمال چي دنبي کريم ﷺ په زړه مبارک کي خړوالی پيدا سي چي دوی ته دهدايت او تلقين په لاره کي بنديز جوړ سي نو په دې وجه نبي کريم ﷺ ته دا تعليم ورکول وه چي ددوی خطاګاني معاف کوه (معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۱۴)

www.jamairahmani.org

لَكُمْ ۚ وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ

لَكُمْ	وَاِنْ	يَّخْذُلْكُمْ	فَمَنْ	ذَا الَّذِيْ	يَنْصُرُكُمْ
پر تاسی باندی	او كه	مرسته ونه فرمائی له تاسی سره	نو څوك دى	هغه چى	مرسته به وكړى له تاسی سره

پر تاسی باندی او كه مرسته ونه فرمائی له تاسی سره (الله) نو څوك دى هغه چى مرسته به وكړى له تاسی سره

مِّنْ بَعْدِهٖ ۗ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٦٠﴾ وَمَا كَانَ

مِّنْ بَعْدِهٖ	وَعَلَى	اللّٰهِ	فَلْيَتَوَكَّلِ	الْمُؤْمِنُوْنَ	وَمَا	كَانَ
وروسته له هغه	او خاص پر	اللّٰه دى	پس توكل وكړى	مؤمنان	او نه	ښائى

وروسته له هغه (خذلان د) الله ؟ (هيڅوك نشته!) او خاص پر الله دى پس توكل وكړى مؤمنان. او نه ښائى

لِنَبِيٍّ اَنْ يَّغُلَّ ۚ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَاْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ

لِنَبِيٍّ	اَنْ	يَّغُلَّ	وَمَنْ	يَّغْلُلْ	يَاْتِ	بِمَا غَلَّ	يَوْمَ
هيڅ نبى ته	چى	پټ كړى	او هر څوك چى	څه شى پټوى	نو رابه سى	په هغه سره چى ده پټ كړى وى	په ورځى

هيڅ نبى ته چى څه شى پټ كړى، او هر څوك چى څه شى پټوى نو رابه سى (دا پټوونكى) په هغه سره چى ده پټ كړى وى په ورځى

الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ

الْقِيٰمَةِ	ثُمَّ	تُوَفّٰى	كُلُّ	نَفْسٍ	مَّا	كَسَبَتْ	وَهُمْ
د قيامت كښى	بيا به	پوره وركړى سى	هر	نفس ته	هغه	عمل چى كړى وى ده	او پر دوى به

د قيامت كښى، بيا به پوره وركړى سى هر نفس ته (جزا د) هغه عمل چى كړى وى ده او پر دوى به

لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦١﴾ اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْۢ بَآءَ بِسَخَطٍ

لَا يُظْلَمُوْنَ	اَفَمَنِ	اتَّبَعَ	رِضْوَانَ	اللّٰهِ	كَمَنْۢ بَآءَ	بِسَخَطٍ
ظلم ونه كړى سى	آيا نو هغه څوك	چى متابعت كوى	د رضا مندى	دالله	په شان د هغه چا دى چى بيرته راسى	په قهر سره

ظلم ونه كړى سى. آيا نو هغه څوك چى متابعت كوى د رضا مندى د الله په شان د هغه چا دى چى بيرته راسى په قهر سره

مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ

مِّنَ	اللّٰهِ	وَمَاْوٰىهُ	جَهَنَّمُ	وَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	هُمْ
له (طرفه د)	الله	او ځاى د ده	دوزخ دى	او بد	ځاى د وورتلو دى (دا دوزخ)	دوى لره

له (طرفه د) الله او ځاى د ده دوزخ دى، او بد ځاى د ورتلو دى (دا دوزخ) . دوى لره

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّغُلَّ ۚ

دغنيمت په مال كي غلا كول لويه ګناه ده: ديو نبي څخه دداسي ګناه احتمال هم نسته پاته سوه دغه ايت ديوې خاص واقعې په باره كي راغلی دی ددې په ځنګ كي دغلول يعني دغنيمت دمال دغلا مسئله هم راغلـه : دترمذي شريف درو ايت مطابق واقعه داده چي دبدر په جهاد كي په مال غنيمت كي يو پټو ورک سو ځيني خلګو وويل چي شايد نبي كريم ﷺ به اخيستی وي داسي خبره كوونكي كه منافقان وي نو بيا خو څه ليري خبره نه ده او داهم ممكنه ده چي څوک ناپوه مسلمان وي نو دهغوی به داګمان وو چي نبي كريم ﷺ ته ددې اجازه او اختيار سته په دې باندي دا آيت نازل سو چي غلول يعني په مال غنيمت كي يي خيانت ته لويه ګناه وويل او دقيامت په ورځ يي ددې سخته سزا ذكر كړي ده او دا چي ديو نبي متعلق دا ګمان كول چي ده به دا ګناه كړې وي دايو لوي او عبث تور پوري كول دي ځكه چي داهل سنت والجماعة عقيده داده چي پيغمبران دهري ګناه څخه كه صغيره وي او كه كبيره وي پاک دي.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۳۲)

www.jamairahmani.org

دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾ لَقَدْ

دَرَجٰتٌ	عِنْدَ	اللّٰهِ	وَ	اللّٰهُ	بَصِيْرٌ	بِمَا يَعْمَلُوْنَ	لَقَدْ
درجې دی	په نزد	د الله کښې	او	الله	ښه لیدونکی دی	په هغو شیانو چې دوی (ئې) کوی	خامخا په تحقیق سره

درجې دی په نزد د الله کښې او الله ښه لیدونکی (عالم) دی په هغو شیانو (هم) چې دوی (ئې) کوی . خامخا په تحقیق سره

مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ

مَنَّ	اللّٰهُ	عَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	اِذْ بَعَثَ	فِيْهِمْ	رَسُوْلًا	مِّنْ
احسان کړی دی	الله	پر	مؤمنانو باندی	کله چې مبعوث کړ	په دوی	کښې رسول	له

احسان کړی دی الله پر مؤمنانو باندی کله چې مبعوث کړ (راولیږه الله) په دوی (مؤمنانو) کښې رسول له

اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ

اَنْفُسِهِمْ	يَتْلُوْا	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتِهٖ	وَيُزَكِّيْهِمْ	وَيُعَلِّمُهُمُ
نفس (جنس) د دوی څخه	چې وایئ	پر دوی باندی	آیتونه د الله	او پاکوی دوی	او ښئی دوی ته

نفس د دوی څخه، چې لولی (دغه رسول) پر دوی باندی آیتونه د الله او پاکوی دوی او ښئی دوی ته

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ

الْكِتٰبَ	وَالْحِكْمَةَ	وَاِنْ	كَانُوْا	مِنْ قَبْلُ	لَفِيْ	ضَلٰلٍ
کتاب (قرآن)	او حکمت	او بیشکه!	وو دوی	(له دی نه) په خوا	هرومرو په	ګمراهی

کتاب (قرآن) او حکمت (شرعی احکام) او بیشکه! وو دوی (له دی نه) په خوا هرومرو په ګمراهی

مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ

مُّبِيْنٍ	اَوَلَمَّآ	اَصَابَتْكُمْ	مُّصِيْبَةٌ	قَدْ	اَصَبْتُمْ
ښکاره کښې	آیا کله	چې درورسید تاسی ته	یو مصیبت	چې په تحقیق سره	رسولی ؤ تاسی

ښکاره کښې آیا کله چې در ورسید تاسی ته یو مصیبت چې په تحقیق سره رسولی ؤ تاسی

مِّثْلَيْهَا ۙ قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا ؕ قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ؕ

مِّثْلَيْهَا	قُلْتُمْ	اَنّٰى هٰذَا	قُلْ	هُوَ	مِنْ عِنْدِ	اَنْفُسِكُمْ
دوه چنده له دی غمه	نو وویل تاسی	له کومه دا غم راغی موږته	وو ایه (محمده)	چې دا	له جانبه	دنفسونو ستاسی دی

دوه چنده له دی غمه نو وویل تاسی له کومه دا غم راغی موږته؟ وو ایه (محمده!) چې دا له جانبه د نفسونو ستاسی دی

اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ دنبي كريم ﷺ وجود مبارک پر ټول انسانيت باندي تر ټولولوی احسان دی:

ددې مضمون يو آيت تقريبا په دې الفاظو سره په سورت بقرې کې راغلی دی چې تفصيل او تشريح يې هلته تيره سوې ده دلته په دې آيت کې يو لفظ زيات دی (لقد من الله على المومنين) يعني نبي كريم ﷺ يې دنيا ته راوليږی نو دا الله ﷻ پر مومنانو باندې لوی احسان کړی دی ددې په باره کې خو اول دا خبره دفکر كولو قابله ده چې نبي كريم ﷺ دقران دتصريح مطابق رحمة للعالمين دی او دټول مخلوق لپاره ددوی وجود لوی احسان دی او دلته يې يوازې دمسلمانانو لپاره وفرمايل؟ دا داسې دې لکه څنګه چې يې قرآن کريم لره (هدی للمتقين) فرمايلې دې او حال دا چې دقرآن کريم دټول عالم لپاره هدايت کيدل دنورو آياتونو څخه ثابت دي ليکن په ځينو ځايونو کې يې دا دمتقيانو سره خاص کړی دی ددې وجه په دواړو ځايونو کې په شريکه سره يوه ده هغه دا چې ددغه نعمت عظمی څخه يوازې فايده مومنانو او متقيانو حاصله کړه:
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۱۳۳)

نصف

www.jamairahmani.org

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۶۵﴾ وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ

اِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	وَمَآ	اَصَابَكُمْ	يَوْمَ
بيشكه!	الله	پر	هر	شی باندی	ښه قادر دی	او هغه	چی در رسيدلی دی تاسی ته	په هغی ورځی کښی

بیشکه! الله پر هر شی باندی (چی اراده وفرمائی) ښه قادر دی. او هغه (غم) چی دررسیدلی دی تاسی ته په هغی ورځی کښی

الْتَقَى الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۶۶﴾

الْتَقَى	الْجَمْعٰنِ	فَبِاِذْنِ	اللّٰهِ	وَلِيَعْلَمَ	الْمُؤْمِنِيْنَ
چی سره يو ځای سوی وو	دوه فوځونه	پس هغه په حکم سره وو	د الله	او له پاره د دی ؤ چی معلوم کړی	(الله) مؤمنان

چی سره یو ځای سوی وو دوه فوځونه پس هغه په اذن سره وو د الله او له پاره د دی ؤ چی معلوم کړی (الله) مؤمنان،

وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ۚۖ وَقِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوْا

وَلِيَعْلَمَ	الَّذِيْنَ	نَافَقُوْا	وَقِيْلَ	لَهُمْ	تَعَالَوْا	قَاتِلُوْا
او له پاره د دی ؤ چی معلوم کړی	هغه کسان	چی نفاق ئی کړی ؤ	او وویلی سوه	دغو ته	چی راځئ	غزا وکړئ (د احد)

او (بل) له پاره د دی ؤ چی معلوم کړی (الله) هغه کسان چی نفاق ئی کړی ؤ، او وویلی سو دغو ته چی راځئ غزا وکړئ

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِ ادْفَعُوْا ۭ قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا

فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اَوِ ادْفَعُوْا	قَالُوْا	لَوْ نَعْلَمُ	قِتَالًا
په لاره	د الله کښی	يا مدافعه وکړئ!	نو وويل دی (منافقانو)	که موږ پوهيدی	په جنګ

په لاره د الله کښی یا مدافعه وکړئ! نو وویل دی (منافقانو) که موږ پوهیدی په جنګ

لَّاتَّبَعْنٰكُمْ ۭ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَىٕذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ

لَّاتَّبَعْنٰكُمْ	هُمْ	لِلْكُفْرِ	يَوْمَىٕذٍ	اَقْرَبُ	مِنْهُمْ
نو خامخا به موږ متابعت کړی ؤ ستاسی	دوی	کفر ته	په دغی ورځی کښی	ډير نژدی وو	له دوی څخه

نو خامخا به موږ متابعت کړی ؤ ستاسی، دوی کفر ته په دغی ورځی کښی ډیر نژدی وو له دوی څخه

لِلْاِيْمَانِ ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ

لِلْاِيْمَانِ	يَقُوْلُوْنَ	بِاَفْوَاهِهِمْ	مَّا لَيْسَ	فِيْ
په نسبت سره د ايمان	وائی دوی (منافقان)	په خولو خپلو سره	هغه چی نسته (پری تصديق)	په

په نسبت سره د ایمان، وائی دوی (منافقان) په خولو خپلو سره هغه (خبری) چی نسته (پری تصدیق) په

وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ داحد په واقعه کي مسلمانانو ته عارضي ماته او دقتل او زخم دمصيبتونو راپيښيدو ځيني سببونه او حکمتونه: په تيرو آياتونو کي څو ځايه ددې مضمون ذکر راغلی دی دلته يي بيا په زيات وضاحت سره بيان کړی دی ځکه چي مسلمانانو ته ددې واقعې ډير سخت غم او پريشاني وه ترڅو دي چي دځينو حضراتو پر ژبه باندي دا هم راغله (اَنّٰى هٰذَا ؟) چي دا مصيبت پر موږ دکمه راپريوتی ؟ په داسي حال کي چي موږ دنبي کريم ﷺ سره په جهاد کي شريک يو په ذکر سوي ايت کي اول وار دا خبره ور په ياد کړه چي څومره مصيبت پر تاسي نن پريوتلی دی ددې دوه چنده ستاسي پر مخالفينو باندي ددې څخه مخکي دبدر په غزا کي پريوتلی وو ځکه چي داحد په غزا کي اويا مسلمانان شهيدان سوي وه او دبدر په غزاکي دمشرکينو اويا تنه سرداران قتل سوي وه او اويا گرفتاره سوي وه او د مسلمانانو په لاس ورغلي وه او مقصد ددې يادولو دا وو چي د مسلمانانو دا موجوده تکليف او غم هير سي او يو قسم تسلي ورته حاصله سي :
(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۱۳۴)

www.jamairahmani.org

قُلُوۡبِهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُوۡنَ ﴿١٦٧﴾ اَلَّذِيۡنَ قَالُوۡا

قُلُوۡبِهِمۡ	وَ	اللّٰهُ	اَعۡلَمُ	بِمَا	يَكۡتُمُوۡنَ	اَلَّذِيۡنَ	قَالُوۡا
زړونو د دوی	او	الله	ښه پوه دی	په هغه څه	چې پټوی ئې دوی	هغه (منافقان)	چې ويل ئې په

زړونو د دوی کښې، او الله ښه پوه دی په هغه څه (هم) چې پټوی ئې دوی. هغه (منافقان) چې ويل ئې په (حق د)

لِاِخۡوَانِهِمۡ وَقَعَدُوۡا لَوۡ اَطَاعُوۡنَا مَا قُتِلُوۡا ؕ قُلۡ

لِاِخۡوَانِهِمۡ	وَقَعَدُوۡا	لَوۡ	اَطَاعُوۡنَا	مَا قُتِلُوۡا	قُلۡ
ورونو خپلو کښې	حال دا چې دوی ناست وو	که	دوی زموږ خبرې منلې وی	نو نه به وو وژل سوی	ووايه

ورونو خپلو کښې حال دا چې دوی (پخپله) ناست وو (له جنګه) که دوی زموږ خبرې منلې وی نو نه به وو وژل سوی، ووايه

فَادۡرَءُوۡا عَنۡ اَنۡفُسِكُمُ الۡمَوۡتَ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿١٦٨﴾

فَادۡرَءُوۡا	عَنۡ اَنۡفُسِكُمُ	الۡمَوۡتَ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	صٰدِقِيۡنَ
نو لرې کړئ تاسی	له نفسونو خپلو څخه	مرګ	که يئ تاسی	صادقان

(ای محمده! دوی ته) نو لرې کړئ تاسی له نفسونو (ځانونو) خپلو څخه مرګ که يئ تاسی صادقان.

وَلَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ اَمۡوَاتًا

وَلَا تَحۡسَبَنَّ	الَّذِيۡنَ	قُتِلُوۡا	فِيۡ سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	اَمۡوَاتًا
او له سره ګمان مه کوی!	پر هغو کسانو	چې وژل سوی دی دوی	په لاره	د الله کښې	د مړو (مړه دی)

او له سره ګمان مه کوی! پر هغو کسانو چې وژل سوی دی دوی په لاره د الله (جهاد او طاعت) کښې د مړو (مړه دی)،

بَلۡ اَحۡيَآءٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُوۡنَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِيۡنَ بِمَآ

بَلۡ اَحۡيَآءٌ	عِنۡدَ رَبِّهِمۡ	يُرۡزَقُوۡنَ	فَرِحِيۡنَ	بِمَآ
بلکه ژوندی دی	په نزد د رب خپل	رزق ورته ورکولی سی	په دی حال کښې چې خوشحاله دی دوی	په هغه شی باندی

بلکه ژوندی دی په نزد د رب خپل رزق ورته ورکولی سی په دی حال کښې چې خوشحاله دی دوی په هغه شی باندی

اٰتٰـهُمُ اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ ۙ وَيَسۡتَبۡشِرُوۡنَ بِالَّذِيۡنَ

اٰتٰـهُمُ	اللّٰهُ	مِنۡ فَضۡلِهٖ	وَيَسۡتَبۡشِرُوۡنَ	بِالَّذِيۡنَ
چې ورکړی دی دوی ته	الله	له فضله خپله	او خوشحاليږی دوی	(په راتلو د) هغو کسانو باندی

چې ورکړی دی دوی ته الله له فضله خپله او خوشحاليږی دوی (په راتلو د) هغو کسانو باندی

وَلَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا

د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په لاره کې د شهيدانو خاص فضيلتونه :

په دې ايت کې د شهيدانو د خاصو فضيلتونو بيان دی او په صحيح احاديثو کې هم ددې ډير زيات تفصيل راغلی دی امام قرطبي رحمة الله عليه فرمايلي دي چې د شهيدانو هم درجې او هم حالات مختلف دي په دې وجه د احاديثو په روايتونو کې چې کم مختلف روايتونه راغلي دي هغه د مختلفو حالاتو په اعتبار سره دي دلته د شهيدانو اولنی فضيلت ښه والی خو دا بيان سوی دی چې هغه مړه نه دي بلکې د هميشه ژوند مالکان سوي دي دلته دا خبره د ښه فکر کولو قابله ده چې په ظاهره کې د دوی مړه کيدل او په قبر کې ښخيدل خو ليدل کيږي نو بيا د قرآن په ډيرو اياتونو کي دوی ته د مړه نه ويلو او مړه نه ګڼلو کم هدايات چې راغلي دي ددې څه مطلب دی ؟ جواب مختصر دادی چې شهيدانو ته د الله ج له طرفه څخه د جنت رزق حاصليږي او رزق ژوندي سړي ته ورکول کيږي نو معلومه سوه چې دوی ته يو خاص قسم ژوند د دغه وخت څخه حاصليږي چې د عامو مړو څخه يې حيثيت لوړ دی دا حيثيت څنګه دی؟ دا ژوند څنګه دی ؟ د دې په حقيقت يو الله جَلَّ جَلَالُهٗ ښه خبر دی الخ :

(معارف القرآن ج٢ پ٤ ص١٣٥)

www.jamairahmani.org

لَمۡ يَلۡحَقُوۡا بِهِمۡ مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ ۙ اَلَّا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ

لَمۡ يَلۡحَقُوۡا بِهِمۡ	مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ	اَلَّا خَوۡفٌ	عَلَيۡهِمۡ
چې لا نه دي رسيدلى دوى ته هغو پورې	وروسته د دوى څخه په دې شان سره	چې نه به وى ويره	پر دوى باندې

چې لا نه دي رسيدلى دوى ته هغو پورې وروسته د دوى څخه په دې شان سره چې نه به وى (هيڅ قسم) ويره په دوى باندې

وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿١٧٠﴾ يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ بِنِعۡمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

وَلَا هُمۡ	يَحۡزَنُوۡنَ	يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ	بِنِعۡمَةٍ	مِّنَ	اللّٰهِ
او نه به وى (هيچيرى) دوى	غمجن کيږى	خوشحاليږى دوى	په نعمت سره	له جانبه	د الله

او نه به وى (هيچيرى) دوى غمجن کيږى (د ثواب په نقصان سره) . خوشحاليږى دوى په نعمت سره له جانبه د الله

وَفَضۡلٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيۡعُ اَجۡرَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٧١﴾

وَفَضۡلٍ	وَّاَنَّ	اللّٰهَ	لَا يُضِيۡعُ	اَجۡرَ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ
او فضل سره	او بيشکه!	الله	نه ضائع کوى	اجر	د مؤمنانو

او (د ده په) فضل سره او (په دې سره چې) بيشکه الله نه ضائع کوى اجر د مؤمنانو (بلکه پوره ئې ورکوى).

اَلَّذِيۡنَ اسۡتَجَابُوۡا لِلّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ مِنۡۢ بَعۡدِ مَاۤ

اَلَّذِيۡنَ	اسۡتَجَابُوۡا	لِلّٰهِ	وَالرَّسُوۡلِ	مِنۡۢ بَعۡدِ مَاۤ
هغه کسان	چې حکم ئې منلى دى	د الله	او د رسول (د الله)	پس له هغه

هغه کسان چې حکم ئې منلى دى د الله او (حکم ئې منلى دى د) رسول (د الله) پس له هغه

اَصَابَهُمُ الۡقَرۡحُ ۛؕ لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوۡا مِنۡهُمۡ وَاتَّقَوۡا

اَصَابَهُمُ	الۡقَرۡحُ	لِلَّذِيۡنَ	اَحۡسَنُوۡا	مِنۡهُمۡ	وَاتَّقَوۡا
چې رسيدلى ؤ دوى ته	زخم	سته له پاره د هغو کسانو	چې نيکى ئې کړې ده	له دوى نه	او پرهيزګارى ئې کړې ده

چې رسيدلى ؤ دوى ته زخم (تکليف) سته له پاره د هغو کسانو چې نيکى ئې کړې له دوى نه او پرهيزګارى ئې کړې ده

اَجۡرٌ عَظِيۡمٌ ﴿١٧٢﴾ ۚ اَلَّذِيۡنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ

اَجۡرٌ	عَظِيۡمٌ	اَلَّذِيۡنَ	قَالَ	لَهُمُ	النَّاسُ	اِنَّ	النَّاسَ
اجر	ډير لوى	هغه کسان دى	چې وويل	دوى ته	خلکو	چې بيشکه!	خلک (د مکى)

(له مخالفته) اجر ډير لوى. هغه کسان دى چې وويل دوى ته (ځينو) خلکو چې بيشکه! خلک (د مکى)

ع ١٧ ٨

يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ بِنِعۡمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

دوى چي کم خپل تعلق داران په دنيا کي پري ايښي وه: دهغو په باره کي به دوى ته دا خوشخبري وي چي په دنيا کي اوسي نيک عملونه او جهاد به کوي نو دوى ته به هم دلته په راتلو سره دا نعمتونه او درجې ورسيږي امام سدي رحمة الله عليه فرمايي چي د شهيد څوک کم خپل دوست چي کله مړ کيږي نو شهيد ته د اول څخه ددې خبر ورکول کيږي چي فلانى سړى اوس ستاسي خواه ته راروان دى دى په دې سره داسي خوشحاله کيږي لکه څنګه چي په دنيا کي ديو ليري پروت دوست په راتلو او دهغه سره په ملاقات خوشحاله کيږي : دآيت شان نزول دادى چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو رض ته وفرمايل چي هر کله داحد په واقعه کي ستاسي وړونه شهيدان سول نو الله جل جلاله ددوى روحونه دشنو مرغانو په جسم کي واچول او آزاد يي کړل دوى دجنت د باغونو او دميوو څخه خپل رزق حاصلوي او بيا هغه قنديلونو ته راځي کم چي الله ج ددوى لپاره تر عرش لاندي زړولي دي دوى چي دا ارام اونعمتونه وليدل نو يي وويل چي زموږ خپلوان به څوک په موږ خبر کړي الخ نو الله جل جلاله دا ايت را نازل کړى (معارف القرآن ج٢ پ۴ ص ١٣۶)

www.jamairahmani.org

قَدۡ جَمَعُوۡا لَکُمۡ فَاخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ اِیۡمَانًا ۖ وَّقَالُوۡا

قَدۡ	جَمَعُوۡا	لَکُمۡ	فَاخۡشَوۡهُمۡ	فَزَادَهُمۡ	اِیۡمَانًا	وَّقَالُوۡا
په تحقیق سره	راټول سوی دی	ستاسی (دجنګ) لپاره	نو بیرېږئ له دوی څخه	پس لا زیات کړ دوی ته	ایمان د دوی	او وویل دوی

په تحقیق سره راټول سوی دی ستاسی (دجنګ) لپاره نو بیرېږئ له دوی څخه پس لا زیات کړ ایمان د دوی او وویل دوی

حَسۡبُنَا اللّٰهُ وَنِعۡمَ الۡوَکِیۡلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانۡقَلَبُوۡا بِنِعۡمَةٍ

حَسۡبُنَا	اللّٰهُ	وَنِعۡمَ	الۡوَکِیۡلُ	فَانۡقَلَبُوۡا	بِنِعۡمَةٍ
بس دی موږ ته	الله	او څومره ښه	وکیل دی	نو بیرته راوګرځیدل (دامؤمنان)	په نعمت سره

بس دی موږ ته الله او څومره ښه وکیل دی (کار جوړونکی) . نو بیرته راوګرځیدل (دامؤمنان) په نعمت سره

مِّنَ اللّٰهِ وَفَضۡلٍ لَّمۡ یَمۡسَسۡهُمۡ سُوۡٓءٌ ۙ وَّاتَّبَعُوۡا

مِّنَ	اللّٰهِ	وَفَضۡلٍ	لَّمۡ یَمۡسَسۡهُمۡ	سُوۡٓءٌ	وَّاتَّبَعُوۡا
له جانبه د	الله	او فضل	چې ونه رسیده دوی ته	هیڅ بدی	او تابعان سول دوی

له (جانبه د) الله او (په) فضل (رحمت سره له الله) چې ونه رسیده دوی ته هیڅ بدی او تابعان سول دوی

رِضۡوَانَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ ذُوۡ فَضۡلٍ عَظِیۡمٍ ﴿۱۷۴﴾ اِنَّمَا ذٰلِکُمُ

رِضۡوَانَ	اللّٰهِ	وَ	اللّٰهُ	ذُوۡ فَضۡلٍ	عَظِیۡمٍ	اِنَّمَا	ذٰلِکُمُ
درضا مندی	د الله	او	الله	څښتن د فضل	ډیر لوی دی	بیشکه!	دا سړی

د رضا مندی د الله ، او الله څښتن (مالک) د فضل (احسان رحمت) ډیر لوی دی. بیشکه! دا سړی

الشَّیۡطٰنُ یُخَوِّفُ اَوۡلِیَآءَهٗ ۪ فَلَا تَخَافُوۡهُمۡ وَخَافُوۡنِ

الشَّیۡطٰنُ	یُخَوِّفُ	اَوۡلِیَآءَهٗ	فَلَا	تَخَافُوۡهُمۡ	وَخَافُوۡنِ
شیطان دی	چې بیروی تاسی	له دوستانو خپل څخه	نو مه	بیرېږئ تاسی له کفارو !	او وبیرېږئ زما څخه

شیطان دی چې بیروی تاسی (ای مؤمنانو) له دوستانو خپله (چې کفار دی) نو مه بیرېږئ تاسی له کفارو! او وبیرېږئ زما څخه

اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۷۵﴾ وَلَا یَحۡزُنۡكَ الَّذِیۡنَ

اِنۡ	کُنۡتُمۡ	مُّؤۡمِنِیۡنَ	وَلَا یَحۡزُنۡكَ	الَّذِیۡنَ
که	یئ تاسی	مؤمنان (په حق سره)	او نه دی غمجن کړی تا	هغه کسان

که یئ تاسی مؤمنان (په حق سره). او نه دی غمجن کړی تا هغه کسان

وَّقَالُوۡا حَسۡبُنَا اللّٰهُ وَنِعۡمَ الۡوَکِیۡلُ... په دغه ایاتونو کي داحد د غزا سره تعلق لرونکي یوې بلي غزا ذکر دی: چي دحمراء الاسد دغزا په نامه سره یادیږي حمراء الاسد دمديني منورې څخه په اته میله کي لیري پروت دیو ځای نوم دی ددې غزا واقعه داده چي کله دمکي کافران داحد دميدان څخه واپس سوه نو چي تر یو څه لاري پوري ولاړه په لاره کي ورته پر دې خبره باندي افسوس ورغی چي موږ سره دغالبه کیدو بیاهم بیرته را واپس سو ؟ موږ لره پکاروه چي په جمع ټول ورغلي وای او مسلمانان مو ټول ختم کړي وای او دې خیال دومره اثر پر وکی چي مديني منورې ته یي بیا دواپس کیدو اراده سوه لیکن الله جل جلاله د دوی پر زړونو باندي رعب واچوی او سیده مکې مکرمې ته واپس سول لیکن ځینو مسافرو ته کم چي مديني منورې ته روان وه دا یي ورته وویل چي تاسي ولاړ سی په یوه طریقه سره دمسلمانانو په زړونو کي زموږ رعب واچوی چي هغوی بیرته راروان دي نبي کریم ﷺ ته دوحي په ذریعه داخبرراورسیدی نو تر حمراء الاسد مقامه پوري په دوی پسي ورغی : (روح المعاني ابن جریر)

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص۱۳۸)

www.jamairahmani.org

يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۗ

يُسَارِعُوْنَ	فِي الْكُفْرِ	اِنَّهُمْ	لَنْ يَّضُرُّوا	اللّٰهَ	شَيْـًٔا
چې منډې وهي دوی	په جانب د کفر	بیشکه! دوی به	له سره هیڅ ضرر نه رسوی	الله ته	د هیڅ شی

چې منډې وهي دوی په جانب د کفر بیشکه دوی به له سره هیڅ ضرر نه رسوی الله ته د هیڅ شی،

يُرِيْدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ

يُرِيْدُ	اللّٰهُ	اَلَّا يَجْعَلَ	لَهُمْ	حَظًّا	فِي	الْاٰخِرَةِ	وَلَهُمْ
اراده لری	الله	ددی چې مقرر نه کړی	د دوی له پاره	هیڅ برخه	په	آخرت کښې	او (مقرر) دی دوی لره

اراده لری الله د دې چې مقرر نه کړی د دوی له پاره هیڅ برخه (نعمت) په آخرت کښې او (مقرر) دی دوی لره

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ

عَذَابٌ	عَظِيْمٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	اشْتَرَوُا	الْكُفْرَ
عذاب	ډیر لوی	بیشکه!	هغو کسانو	چې اخیستی ئې دی	کفر

عذاب ډیر لوی. بیشکه! هغو کسانو چې پیرودلی (بدل کړی ئې دی) ئې د ی کفر

بِالْاِيْمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۷﴾

بِالْاِيْمَانِ	لَنْ يَّضُرُّوا	اللّٰهَ	شَيْـًٔا	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ
په ایمان سره	له سره به ضرر نه رسوی دوی	الله	ته هیڅ شی	او (مقرر دی) دوی ته	عذاب	درد ناک

په ایمان سره له سره به ضرر نه رسوی دوی الله ته هیڅ شی او (مقرر دی) دوی ته عذاب دردناک (د دوزخ)

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا اَنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ خَيْرٌ

وَلَا يَحْسَبَنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْۤا	اَنَّمَا	نُمْلِيْ	لَهُمْ	خَيْرٌ
او نه دی گمان کوی	هغه کسان	چې کافران سوی دی	چې بیشکه!	دا چې مهلت ورکوو موږ	دوی ته	خیر (غوره) دی

او نه دې گمان کوی هغه کسان چې کافران سوی دی چې بیشکه! دا چې مهلت ورکوو موږ دوی ته خیر (غوره) دی

لِّاَنْفُسِهِمْ ؕ اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْۤا اِثْمًا ۚ

لِّاَنْفُسِهِمْ	اِنَّمَا	نُمْلِيْ	لَهُمْ	لِيَزْدَادُوْۤا	اِثْمًا
له پاره د ځانونو د دوی	بیشکه! هم دا خبره ده	چې تل مهلت ورکوو موږ	دوی ته	له پاره د دې چې زیاته کړی دوی	گناه

له پاره د ځانونو د دوی بیشکه! هم دا خبره ده چې تل مهلت ورکوو موږ دوی ته له پاره د دې چې زیاته کړی دوی گناه

وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ.. لنډ تفسير:

په دغه ذکرسوو آياتونو کي نبي کريم ﷺ ته تسلي ده چي ته دې کفارو په کارونو باندي خفه او زړه ماتی کيږی مه دوی هيڅ نقصان نه سي دررسولی په آخر آيت کي ددې خيال جواب دی چي په ظاهره خو په دنيا کي دا کفار ښه پټ او ماړه او مالدار دي نو پر دوی به قهر او غضب څنګه نازل سي؟ الله جل جلاله يي جواب داسي بيا نوي چي ستاسي لپاره دي هغه خلګ دغم سبب جوړ نه سي کم چي په تلواره سره په کفر والا خبرو کي ور پريوزي لکه منافقينو چي لږ غوندي دمسلمانانو ډله کمزوري وليده نو ښکاره په ښکاره يي دکفر خبري کول شروع کړې لکه چي په ذکر سوو واقعاتو کي ذکر سوي دي يقينا دغه خلګ دالله جل جلاله دين ته يوه ذره ضرر هم نه سي رسولای په دې وجه تالره پر دې ګرد سره غم کول نه دي پکار چي ددوی په دې حرکتونو سره به دالله جل جلاله دين کمزوری سي او د دوی پر جهنم وتلو ته هم تاسي ډير غم مه کوی ځکه چي داددوی دوږخ ته تلل الله جل جلاله ته په تکويني ډول سره منظوره وه.
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۴۴)

www.jamairahmani.org

وَلَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ ﴿۱۷۸﴾ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ عَلٰى

وَلَهُمۡ	عَذَابٌ	مُّهِيۡنٌ	مَا كَانَ	اللّٰهُ	لِيَذَرَ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	عَلٰى
او (مقرر) دی دوی ته	عذاب	سپکونکی	نه دی	الله	چی پریږدی	مؤمنان	پر

او (مقرر) د ی د وی ته عذاب سپکونکی. نه دی الله چی پریږدی مؤمنان په

مَا اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ حَتّٰى يَمِيۡزَ الۡخَبِيۡثَ مِنَ الطَّيِّبِ ؕ وَمَا

مَا اَنۡتُمۡ	عَلَيۡهِ	حَتّٰى	يَمِيۡزَ	الۡخَبِيۡثَ	مِنَ	الطَّيِّبِ	وَمَا
هغه حال چی یئ تاسی	پر هغه	تر څو	چی جلا کړی	نا پاکه	له	پاکه څنی	او نه

هغه حال (داختلاط) چی یئ تاسی (ای خلکو) پر هغه تر څو چی جلا کړی (الله) نا پاکه له پاکه څنی، او نه

كَانَ اللّٰهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى الۡغَيۡبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجۡتَبِىۡ

كَانَ	اللّٰهُ	لِيُطۡلِعَكُمۡ	عَلَى	الۡغَيۡبِ	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	يَجۡتَبِىۡ
دی	الله	چی خبر کاندی تاسی	په	غیب باندی	و لیکن	الله	غوره کوی

دی الله چی خبر کاندی تاسی په غیب باندی چی (د منافقانو تمیز دی له مخلصانو څخه) ولیکن الله غوره کوی

مِنۡ رُّسُلِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ۖ فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنۡ

مِنۡ	رُّسُلِهٖ	مَنۡ يَّشَآءُ	فَاٰمِنُوۡا	بِاللّٰهِ	وَرُسُلِهٖ	وَاِنۡ
له	رسولانو خپلو څخه	هغه څوک چی اراده وفرمائی	نو ایمان ولرئ تاسی	پر الله	او پر رسولانو د الله	او که

له رسولانو خپلو څخه چی اراده وفرمائی، نو ایمان (یقین) ولرئ تاسی (ای! مؤمنانو) پر الله او پر رسولانو د الله او که

تُؤۡمِنُوۡا وَتَتَّقُوۡا فَلَكُمۡ اَجۡرٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۷۹﴾ وَلَا يَحۡسَبَنَّ

تُؤۡمِنُوۡا	وَتَتَّقُوۡا	فَلَكُمۡ	اَجۡرٌ	عَظِيۡمٌ	وَلَا يَحۡسَبَنَّ
په ایمان قائم پاتی اوسئ	او پرهیزگاری وکړئ	پس دی تاسی ته	اجر	ډیر لوی	او گمان دی نه کوی له سره

په ایمان (یقین) قائم پاتی اوسئ! او پرهیز گاری وکړئ پس دی تاسی ته اجر ډیر لوی (په جنت کښی). او گمان دی نه کوی

الَّذِيۡنَ يَبۡخَلُوۡنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ هُوَ خَيۡرًا

الَّذِيۡنَ	يَبۡخَلُوۡنَ	بِمَآ	اٰتٰهُمُ	اللّٰهُ	مِنۡ	فَضۡلِهٖ	هُوَ	خَيۡرًا
هغه کسان	چی بخیلی کوی دوی	په هغه شی	چی ورکړی دی دوی ته	الله	له	فضله خپله	چی دا بخل	خیر دی

له سره هغه کسان چی بخیلی کوی دوی په هغه شی چی ورکړی دی دوی ته الله له فضله خپله چی دا بخل خیر (غوره) دی

مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ.

په مومن او منافق کي فرق دوحي پر ځای په عملي ډول کولو کي حکمت: په دې آیت کي دا ارشاد دی چي په مخلص مومن او منافق کي دفرق لپاره الله ﷻ داسي حادثې او مشکلات پیدا کوي په کمو سره چي په عملي ډول سره دمنافقینو نفاق ښکاره سي او دا فرق داسي هم کیدای سوچي په ذریعه دوحي یې د منافقینو نومونه ښوولي وای مگر دحکمت په تقاضا سره یې داسي ونه کړل دالله ﷻ دکارونو پوره حکمتونه خو هغه ﷻ ته معلوم دي دلته یو حکمت دا هم کیدای سوای چي مسلمانانو ته په ذریعه دوحي وښوول سي چي فلانی منافق دی نو مسلمانانو ته به دده سره دتعلقاتو دختمولو لپاره یو واضح داسي دلیل نه وای چي هغه منافقینو هم منلای او قناعت یې پر کولای بلکي دوی به ویلای چي تاسي درواغ وایاست موږ خو رښتیني او پاخه مسلمانان یو بر خلاف ددې څخه چي په عملي طورسره یې فرق وسي چي دامتحان او مصیبت په وخت کي منافقین وتښتیدل او مخلص مؤمنان پاته سول.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۴۷)

www.jamairahmani.org

لَّهُمْ ؕ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ؕ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ

لَّهُمْ	بَلْ	هُوَ	شَرٌّ لَّهُمْ	سَيُطَوَّقُوْنَ	مَا	بَخِلُوْا	بِهٖ
دوی ته	بلکه	دا	شر دی دوی ته	ژربه په غاړه کښې ورته امیل کړسی	هغه چې	بخیلی کړی ده دوی	په هغه شی کښې

دوی ته، بلکه دا (بخل) شر دی دوی ته، ژر به په غاړه کښې ورته امیل کړسی هغه چې بخیلی کړی ده دوی په هغه شی کښې

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	وَ	لِلّٰهِ	مِيْرَاثُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَ	اللّٰهُ	بِمَا
په ورځې	د قیامت	او خاص	الله لره دی	میراث	دآسمانونو	او د مځکی	او	الله	پر هغو

په ورځې د قیامت، او خاص الله لره دی میراث د آسمانونو او د مځکی، او الله پر هغو (کارونو هم)

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۱۸۰ لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا

تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرٌ	لَقَدْ	سَمِعَ	اللّٰهُ	قَوْلَ	الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا
چې کوئ (ئی) تاسی	ښه خبردار دی	خامخا په تحقیق سره	اوریدلی ده	الله	خبره	دهغو کسانو	چې ویلی ئی وه

چې کوئ (ئی) تاسی ښه خبردار دی. خامخا په تحقیق سره اوریدلی ده الله خبره دهغو کسانو چې ویلی ئی وه

اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّ نَحْنُ اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا

اِنَّ	اللّٰهَ	فَقِيْرٌ	وَّ	نَحْنُ	اَغْنِيَآءُ	سَنَكْتُبُ	مَا قَالُوْا
بیشکه!	الله	فقیر دی	او	موږ	غنیان یو	ژربه موږ لیکلی وساتو	هغه خبری چې دوی ویلی دی

بیشکه! الله فقیر دی او موږ غنیان یو (چې له موږه قرض غواړی)، ژر به موږ لیکلی وساتو هغه خبری چې دوی ویلی دی

وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا

وَقَتْلَهُمُ	الْاَنْۢبِيَآءَ	بِغَيْرِ حَقٍّ	وَّنَقُوْلُ	ذُوْقُوْا
او وژل (دنیکونو) د دوی	انبیاؤ لره	په ناحقه سره	او وبه وایو موږ (دوی ته)	چې وڅکئ

او وژل (دنیکونو) د دوی انبیاؤ لره، په ناحقه سره (پخپل اعتقاد سره هم) او وبه وایو موږ (دوی ته چې) وڅکئ

عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۱۸۱ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ

عَذَابَ	الْحَرِيْقِ	ذٰلِكَ	بِمَا	قَدَّمَتْ	اَيْدِيْكُمْ	وَاَنَّ
عذاب	د اور سوځیدونکی	دا (عذاب)	په سبب د هغه دی	چې پخوا لیږلی دی	لاسونو ستاسی	او بیشکه!

عذاب د اور سوځیدونکی!. دا (عذاب) په سبب د هغه دی چې پخوا لیږلی دی لاسونو ستاسی او بیشکه!

سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ. دبخل تعریف او پردې باندې دسزا تفصیل: دبخل شرعي معنی داده چې کم شی دالله ﷻ په لاره کي خرڅول دچا پر ذمه واجب وي او هغه خرڅ نه کي. په دې وجه بخل حرام دی او پر دې باندې ددوږخ دسختي سزا وعید دی او پرکمو موقعو چي خرڅ کول واجب نه وي بلکي مستحب وي هغه په دې حرام بخل کي داخل نه دی البتّه دعامي معنی په اعتبار سره دی ته هم بخل ویل کیږي دا قسم بخل حرام نه دی مګر ښه هم نه دی دبخل په معنی کي یو بل لفظ هم په احادیثو کي راغلی دی یعني (شُحّ) ددې تعریف دادی چې دده پر ذمه کم خرڅ کول واجب وي هغه نه ادا کوي او پردې سربیره نور هم دمال دزیاتولو په حرص کي لګیا وي دا تر بخل نور هم زیات جرم دی په دې وجه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي (لایجتمع شحّ وایمان فی قلب رجل مسلم ابدا) رواه النسایي: چي شح او ایمان دیو مسلمان سړي په زړه کي نه سي جمع کیدای: او دکم شي بخل چي ده په دنیا کي کړی وي هغه به دقیامت په ورځ دده دغاړي طوق سي. (معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۵۱)

ع ۱۸ ۹

www.jamairahmani.org

اللّٰهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ ۝١٨٢ اَلَّذِيۡنَ قَالُوۡۤا اِنَّ اللّٰهَ

اللّٰهَ	لَيۡسَ	بِظَلَّامٍ	لِّلۡعَبِيۡدِ	اَلَّذِيۡنَ	قَالُوۡۤا	اِنَّ	اللّٰهَ
چي الله	نه دی	ظلم کوونکی	په بندګانو	هغه کسان	چي وائی	بیشکه!	الله

چي الله نه دی ظلم کوونکی په بندګانو. هغه کسان چي وائی بیشکه! الله

عَهِدَ اِلَيۡنَاۤ اَلَّا نُؤۡمِنَ لِرَسُوۡلٍ حَتّٰى يَاۡتِيَنَا بِقُرۡبَانٍ

عَهِدَ	اِلَيۡنَاۤ	اَلَّا نُؤۡمِنَ	لِرَسُوۡلٍ	حَتّٰى	يَاۡتِيَنَا	بِقُرۡبَانٍ
پیغام کړی دی	موږ ته	چي ایمان به نه راوړو موږ	په هیڅ رسول	تر هغه پوری	چي راوړی موږ ته	قربانی

پیغام کړی دی موږ ته چي ایمان به نه راوړو موږ په هیڅ رسول تر هغه پوری چي راوړی موږ ته (هسی) قربانی

تَاۡكُلُهُ النَّارُ ؕ قُلۡ قَدۡ جَآءَكُمۡ رُسُلٌ مِّنۡ قَبۡلِىۡ

تَاۡكُلُهُ	النَّارُ	قُلۡ	قَدۡ	جَآءَكُمۡ	رُسُلٌ	مِّنۡ قَبۡلِىۡ
چي ئې وخوری هغه	اور	وواېه	چي په تحقیق	راغلی وو تاسی ته	(ډیر) رسولان	پخوا له ما نه

چي ئې وخوری هغه اور، وواېه (ای محمده! دوی ته) چي په تحقیق راغلی وو تاسی ته (ډیر) رسولان پخوا له ما نه

بِالۡبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِىۡ قُلۡتُمۡ فَلِمَ قَتَلۡتُمُوۡهُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ

بِالۡبَيِّنٰتِ	وَبِالَّذِىۡ	قُلۡتُمۡ	فَلِمَ	قَتَلۡتُمُوۡهُمۡ	اِنۡ	كُنۡتُمۡ
په ښکاره ؤ معجزو	او په هغه شی سره	چي ويلی دی تاسی	نو ولی	ووژل (نیکونو) ستاسی هغوی	که	یئ تاسی

په ښکاره ؤ معجزو او په هغه شی سره چي ويلی دی تاسی، نو ولی ووژل (نیکونو) ستاسی هغوی که یئ تاسی

صٰدِقِيۡنَ ۝١٨٣ فَاِنۡ كَذَّبُوۡكَ فَقَدۡ كُذِّبَ رُسُلٌ

صٰدِقِيۡنَ	فَاِنۡ	كَذَّبُوۡكَ	فَقَدۡ	كُذِّبَ	رُسُلٌ
صادقان	پس که	نسبت د دروغو وکړی دوی ته	پس په تحقیق نسبت	د دروغو کړی سوی ؤ	ډیرو رسولانو ته

صادقان. پس که نسبت د دروغو وکړی دوی ته (ای محمده!) پس په تحقیق نسبت د دروغو کړی سوی ؤ ډیرو رسولانو ته

مِّنۡ قَبۡلِكَ جَآءُوۡ بِالۡبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالۡكِتٰبِ الۡمُنِيۡرِ ۝١٨٤

مِّنۡ قَبۡلِكَ	جَآءُوۡ	بِالۡبَيِّنٰتِ	وَالزُّبُرِ	وَالۡكِتٰبِ	الۡمُنِيۡرِ
پخوا له تا	چي راغلی وو دوی	په ښکاره ؤ معجزو	او په صحیفو	او په کتاب	روښان

پخوا له تا چي راغلی وو دوی په ښکاره ؤ معجزو او په صحیفو (د شرعی احکامو) او په کتاب روښان.

فَلِمَ قَتَلۡتُمُوۡهُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ... په کفر او ګناه سره په زړه راضي کيدل هم لويه ګناه ده: دلته دا خبره دليدو قابله ده چي دنبي کريم ﷺ او دقران مخاطب دمديني منورې يهود دي او دانبياوو ع دقتل واقعه د دوی څخه ډيره مخکي دحضرت يحي او حضرت زکريا عليهما السلام دزمانی ده نو په دې ايت کي يي دانبياوو عليهم السلام دقتل دجرم نسبت دوی ته څنګه وکی؟ وجه داده چي دمديني منورې يهود دخپلو تيرو يهوديانو پر دغه کار باندي راضي او خوشحاله وه نو په دې وجه دوی هم دقاتلانو په حکم کي شمار سول: امام قرطبي رحمة الله عليه په خپل تفسير کي فرمايلي دي چي دا ډيره مهمه مسئله ده چي په کفر راضي کيدل هم په کفر او ګناه کي داخل دي دنبي کريم ﷺ يو ارشاد ددې زيات وضاحت کوي ده ﷺ فرمايلي دي چي هر کله پر مځکه يوه ګناه کيږي نو کم سړی چي هلته موجود وي ليکن ددې ګناه مخالفت کوي نو دی داسي دی لکه هلته چي موجود نه وي يعني په کښي شريک نه دی او کم سړی که څه هم دګناه په ځای کي نه وي ليکن په راضي وي هغه که څه هم څني ليري وي خو دی په کښي شريک دی:
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص۱۵۳)

www.jamairahmani.org

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ

كُلُّ	نَفْسٍ	ذَآئِقَةُ	الْمَوْتِ ۗ	وَاِنَّمَا	تُوَفَّوْنَ	اُجُوْرَكُمْ
هريو	نفس	څکونکی	د مرګ دی	او بيشکه! هم دا خبره ده	چې پوره به درکړی سی تاسی ته	اجرونه ستاسی

هريو نفس څکونکی (دخوند) د مرګ دی، او بيشکه! هم دا خبره ده چې پوره به درکړی سی تاسی ته اجرونه ستاسی

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ

يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	فَمَنْ	زُحْزِحَ	عَنِ	النَّارِ	وَاُدْخِلَ	الْجَنَّةَ
په ورځ	د قيامت کښې	نو هر څوک	چې لرې کړی سو	له	اوره	او داخل کړی سو	جنت ته

په ورځ د قيامت کښې، نو هر څوک چې لرې کړی سو له اوره (د دوزخ) او داخل کړی سو جنت ته

فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿١٨٥﴾

فَقَدْ	فَازَ	وَمَا	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَآ	اِلَّا	مَتَاعُ	الْغُرُوْرِ
نو په تحقيق	مراد ئې پيدا کړ	او نه دی	ژوندون	د دنيا	مګر	پنګه (سامان)	د غوليدولو

نو په تحقيق مراد ئې وموند (بريالی سو)، او نه دی ژوندون د دنيا (لږ خسيس) مګر سامان د غوليدولو.

لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ۗ وَلَتَسْمَعُنَّ

لَتُبْلَوُنَّ	فِيْٓ	اَمْوَالِكُمْ	وَ	اَنْفُسِكُمْ	وَلَتَسْمَعُنَّ
قسم دی چې خامخا وبه ازمويل سئ تاسی	په	مالونو خپلو	او	په ځانونو خپلو	او خامخا به واورئ تاسی

قسم دی چې خامخا وبه ازمويل سئ تاسی هرومرو په مالونو خپلو (په زکوة) او په ځانونو خپلو (په جهاد) او خامخا به واورئ تاسی

مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ

مِنَ الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	وَمِنَ	الَّذِيْنَ
له هغو کسانو	چې ورکړی سوی دی دوی ته	کتاب	له تاسی څخه پخوا	او له	هغو کسانو

بالضرور له هغو کسانو چې ورکړی سوی دی دوی ته کتاب له تاسی څخه پخوا او له هغو کسانو

اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ۗ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا

اَشْرَكُوْٓا	اَذًى	كَثِيْرًا	وَاِنْ	تَصْبِرُوْا	وَتَتَّقُوْا
چې شريکان نيسي	ضرر (بد ويل)	ډير	او که	صبر وکړئ	او پرهيزګاری وکړئ تاسی

چې شريکان نيسي (په الله پوری) ضرر (بد ويل) ډير، او که صبر وکړئ او پرهيزګاری وکړئ تاسی (له بدو کارونو)

لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ... داخرت فکر دټولوغمونو علاج او شبهاتو جواب دی: په دغه ايت کي الله جل جلاله دا حقيقت واضح کړی دی چي که چيري په يوځای کي کافران غلبه هم وکي او ددنيا عيش او عيشرت ورته پوره هم ورسيږي او مسلمانانو ته ددي بر عکس څه مصيبتونه او مشکلات او ددنيا داسبابو تنګي راپيښه هم سي نو دانه دتعجب خبره ده او نه دغمجن کيدو ځکه چي ددي حقيقت څخه يو مذهب او مشرب والاو هم يو فلسفي انکار نه سي کولای چي ددنيا غم او راحت خو ديو څو ورځو دی نو حيوان هم دمرګ څخه نه سي خلاصيدلای او ددنيا راحت او مصيبت اکثره په دنيا کي دحالاتو په بدليدو سره ختميږي او که فرض کړه په دنيا کي بدل نه سي نو په مرګ سره خو دټولو خاتمه يقيني ده دهوښيار سړي دا کار نه دی چي ددي څو ورځو دراحت او غم په فکر کي اخته سي بلکي دمرګ څخه دوروسته ژوند فکر په کار دی چي هلته به څه کيږي بلکي عقلمند سړي دالله جل جلاله په نزد هم هغه دی چي دآخرت لپاره سرمايه ولري.
(معارف القرآن ج۲پ۴ص ۱۵۴)

www.jamairahmani.org

فَإِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾ وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ

فَإِنَّ	ذٰلِكَ	مِنْ	عَزْمِ	الْأُمُوْرِ	وَإِذْ	أَخَذَ	اللّٰهُ	مِيْثَاقَ
نو بیشکه!	دا	د	همت له	کارونو څخه دی	او هغه وخت	چې واخیست	الله	عهد محکم

نو بیشکه! دا (صبر او تقوی) د همت له کارونو څخه دی. او (یاد کړه) هغه وخت چې واخیست الله عهد محکم

الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ

الَّذِيْنَ	أُوْتُوا	الْكِتٰبَ	لَتُبَيِّنُنَّهٗ	لِلنَّاسِ
له هغو کسانو څخه	چې ورکړې سوې دی دوی ته	کتاب	چې خامخا به بیانوئ تاسی دا (کتاب)	خلکو ته

له هغو کسانو څخه چې ورکړې سوې دی دوی ته کتاب چې خامخا به بیانوئ تاسی هرومرو دا (کتاب) خلکو ته

وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا

وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ	فَنَبَذُوْهُ	وَرَآءَ	ظُهُوْرِهِمْ	وَاشْتَرَوْا
او نه به ئې پټوئ تاسی	نو وغورځاوه دوی دا (کتاب)	وروسته	له شاؤ خپلو	او وائی خیست

او نه به ئې پټوئ تاسی نو وغورځاوه دوی دا (کتاب) وروسته له شاؤ خپلو او وائی خیست

بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ لَا تَحْسَبَنَّ

بِهٖ	ثَمَنًا	قَلِيْلًا	فَبِئْسَ	مَا يَشْتَرُوْنَ	لَا تَحْسَبَنَّ
په (عوض د) دی	قیمت	لږ	نو بد دی	هغه شی چې دوی ئې پیری (اخلی)	له سره مه کوه گمان (محمده!)

په (عوض د) دی (کتاب) قیمت لږ نو بد دی هغه شی چې دوی ئې پیری (اخلی). له سره مه کوه گمان (ای محمده!)

الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ أَتَوْا وَّيُحِبُّوْنَ أَنْ يُّحْمَدُوْا بِمَا

الَّذِيْنَ	يَفْرَحُوْنَ	بِمَآ أَتَوْا	وَّيُحِبُّوْنَ	أَنْ	يُّحْمَدُوْا	بِمَا
په هغو کسانو	چې خوشحالیږی	په هغه کار چې کړی دی دوی	او مینه کوی دوی	په دی چې	وستایل سی دوی	په هغه کار

په هغو کسانو چې خوشحالیږی په هغه کار چې کړی دی دوی او مینه کوی دوی په دی چې وستایل سی دوی په هغه کار

لَمْ يَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ

لَمْ يَفْعَلُوْا	فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ	بِمَفَازَةٍ	مِّنَ	الْعَذَابِ
چې نه وی کړی دوئ	پس له سره مه گڼه ته دوی	په ځای د خلاصیدلو	له	عذاب

چې نه وی کړی پس له سره مه گڼه ته دوی په ځای د خلاصیدلو له عذاب (بلکه په دوزخ کښې دی)

لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ... ددین علم پټول حرام دي او په ناکړي عمل باندي خپل صفت غوښتل بد او ناکاره دی:

په دغه ذکر سوو درو آیاتونو کي داهل کتابو دعالمانودوه جرمونه او دهغوی دسزا بیان دی او دا چي دوی ته داحکم سوی وو چي دالله ﷻ په کتاب کي کم احکام راغلي دي دا ټول به دخلگو په مخکي بیله کمي او زیاتي بیانوي او یو حکم به نه پټوي مګر دوی دخپلو دنیوي غرضونو او نفساني طمعو په خاطر ددې عهد او قول پرواه ونه کړه ډیر احکام یې دخلگو څخه پټ کړل: دوهمه دا چي دوی به نیک عمل ګرد سره نه کوی او غوښتل به یې چي بیله دعمل کولو څخه دي ددوی تعریف وسي: دتورات دحکمونو دپټولو واقعه خو په صحیح بخاري شریف کي نقل سوې ده چي نبي کریم ﷺ دیهودو څخه دیوې خبري پوښتنه وکړه چي آیا داخبره په تورات کي سته ؟ نو دغو خلګو هغه پټه کړه او کمه چي په تورات کي وه دهغه خلاف یي بیان کړه او په خپل دغه عمل باندي خوشحاله کیدل چي موږ خو بیا دوی درخطا یستلو پردې باندي دغه آیت نازل سو.
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۵۷)

www.jamairahmani.org

إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دآیت شان نزول

نقل دي چي حضرت عطا ابن ابي رباح دحضرت عايشي رض خواته تشريف يووى او وې ويل چي دنبي كريم ﷺ په حالاتو كي چي كم شى تر ټولو زيات عجيبه تاسي ليدلى وي هغه ماته وواياست نو حضرت عايشي رضي الله عنها و فرمايل دهغه ﷺ دكم شان پوښتنه به ته كوې دهغه ﷺ خو هريو شان عجيبه شى وو البتّه يوه عجيبه واقعه درته بيانوم هغه داده چي نبي كريم ﷺ يوه شپه زما سره تشريف فرما وو او په بستر كي زما سره دننه وو بيا يي وفرمايل چي اجازه راكړه چي زه دخپل پروردگار عبادت وكړم دبسترې څخه را پورته سو اودس يي وكړى بيا دلمانځه لپاره ودريدى او په قيام كي يي دومره وژړل چي دده اوښكي پر سينه مباركه راتوى سوې بيا يي ركوع وفرمايله او په دې كي يه هم دومره وژړل بيا يي سجده وكړل په دې كي يي هم دومره وژړل بيا يي سر لوړ كى او زيات يي وژړل تر دي چي سهار سو حضرت بلال رضي الله عنه راغى او ده مبارك ته يي دلمانځه خبر وركى بلال پوښتنه ځني وكړه چي تاسي ولي دومره ژاړى ده مبارك وفرمايل چي څنګه زه شكر گذار جوړ نه سم او حال داچي ننه شپه پرما دا اياتونه نزل سوي دي الخ.

(معارف القرآن ج۲ پ ۴ ص ۱۶۱)

ع ۱۹/۱۰

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۸۸﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	وَلِلّٰهِ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ
او (مقرردى) دوى لره	عذاب	درد رسوونكى	او خاص الله لره دى	سلطنت	دآسمانونو

او مقرر دى دوى لره عذاب درد رسوونكى. او خاص الله لره دى سلطنت د آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۸۹﴾ إِنَّ فِيْ خَلْقِ

وَالْاَرْضِ	وَاللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	إِنَّ	فِيْ	خَلْقِ
او مځكى	او الله	پر	هر	شى باندى	ښه قادر دى	بيشكه!	په	پيداكولو

او مځكى او الله پر هر شى باندى (چي اراده ئى وكړى) ښه قادر دى. بيشكه! په پيدا كولو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاخْتِلَافِ	الَّيْلِ	وَالنَّهَارِ
دآسمانونو	او مځكى كښى	او په اختلاف	دشپى	او ورځى كښى

د آسمانونو او مځكى كښى او په اختلاف د شپې او ورځى كښى

لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾ الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا

لَاٰيٰتٍ	لِّاُولِي	الْاَلْبَابِ	الَّذِيْنَ	يَذْكُرُوْنَ	اللّٰهَ	قِيٰمًا
خامخا دلائل دى	لپاره د خاوندانو	د عقلونو	دغه (عاقلان)	هغه كسان دى چي يادوى	الله	په ولاړى

خامخا دلائل دى لپاره د خاوندانو د (خالصو) عقلونو. دغه (عاقلان) هغه كسان دى چي يادوى الله په ولاړى

وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ

وَّقُعُوْدًا	وَّعَلٰى	جُنُوْبِهِمْ	وَيَتَفَكَّرُوْنَ	فِيْ خَلْقِ
او په ناستى	او په	اړخونو خپلو (چي پراته وى)	او فكر كوى دوى	په پيدا ايښت

او په ناستى او په اړخونو خپلو (چي پراته وى)، او فكر كوى دوى په پيدا ايښت

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	رَبَّنَا	مَا خَلَقْتَ	هٰذَا	بَاطِلًا
د آسمانونو	او مځكى كښى	اى ربه زموږ!	نه دى پيدا كړى تا	دا (مخلوقات)	عبث (بى حكمته)

د آسمانونو او مځكى كښى (نو وائى) اى ربه زموږ! نه دى پيدا كړى تا دا مخلوقات عبث (بى حكمته)

www.jamairahmani.org

سُبۡحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾ رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنۡ

سُبۡحٰنَكَ	فَقِنَا	عَذَابَ	النَّارِ	رَبَّنَآ	اِنَّكَ	مَنۡ
نسبت د پاکی دی تاته	نو وساته موږ	له عذابه	د اور ځخه	ای ربه زموږ!	بیشکه! ته	هرڅوک

نسبت د پاکی دی تاته (له ټولو عیبونو) نو وساته موږ له عذابه د اور (د دوزخ ځخه)!.ای ربه زموږ! بیشکه! ته هرڅوک

تُدۡخِلِ النَّارَ فَقَدۡ اَخۡزَيۡتَهٗ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيۡنَ مِنۡ

تُدۡخِلِ	النَّارَ	فَقَدۡ	اَخۡزَيۡتَهٗ	وَمَا	لِلظّٰلِمِيۡنَ	مِنۡ
چی داخل کړی	اورته	نو په تحقیق	رسوا کړتا هغه	او نسته	ظالمانو ته	هیڅ

چی داخل کړی اور (دوزخ) ته نو په تحقیق رسوا کړتا هغه (ای ربه!)، او نسته ظالمانو ته هیڅ

اَنۡصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيًا يُّنَادِىۡ

اَنۡصَارٍ	رَبَّنَآ	اِنَّنَا	سَمِعۡنَا	مُنَادِيًا	يُّنَادِىۡ
مددګاران	ای ربه! زموږ	بیشکه !موږ	واوریده (ږغ)	دیوه آواز کوونکی	بلل ئی (خلګ)

مددګاران (دعذاب په دفع کښی). ای ربه! زموږ بیشکه موږ واوریده (غږ) دیوه آواز کوونکی بلل ئی (خلګ)

لِلۡاِيۡمَانِ اَنۡ اٰمِنُوۡا بِرَبِّكُمۡ فَاٰمَنَّا ۖ رَبَّنَا فَاغۡفِرۡ لَنَا

لِلۡاِيۡمَانِ	اَنۡ	اٰمِنُوۡا	بِرَبِّكُمۡ	فَاٰمَنَّا	رَبَّنَا	فَاغۡفِرۡ	لَنَا
ایمان ته	(داسی) چی	ایمان راوړئ	په رب خپل	نو ایمان راوړ موږ	ای ربه زموږ	نو مغفرت وکړه	موږ ته

ایمان ته (داسی) چی ایمان راوړئ! په رب خپل نو ایمان راوړ موږ، ای ربه زموږ! نو مغفرت وکړه موږ ته

ذُنُوۡبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الۡاَبۡرَارِ ﴿۱۹۳﴾ ج

ذُنُوۡبَنَا	وَكَفِّرۡ	عَنَّا	سَيِّاٰتِنَا	وَتَوَفَّنَا	مَعَ الۡاَبۡرَارِ
ګناهونه زموږ	او لری کړه	له موږ	ګناهونه زموږ	او وفات کړه موږ	سره له ډلی د نیکانو

ګناهونه (لوی) زموږ! او لری کړه له موږ ګناهونه (واړه) زموږ! او وفات کړه موږ سره له ډلی د نیکانو.

رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدۡتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ

رَبَّنَا	وَاٰتِنَا مَا	وَعَدۡتَّنَا	عَلٰى	رُسُلِكَ	وَلَا تُخۡزِنَا	يَوۡمَ
ای ربه زموږ	او راکړه موږ لره هغه	چی وعده دی کړی ده تا له موږ سره	په	رسولانو خپلو	او مه رسوا کوه موږ	په ورځی

ای ربه زموږ! او راکړه موږ لره هغه چی وعده دی کړی ده تا له موږ سره په (ژبو د) رسولانو خپلو او مه رسوا کوه موږ په ورځی

سُبۡحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

دادوهم درخواست دی چي ای الله موږ داخرت درسوايي څخه وساتي:

ځکه چي څوک تا جهنم ته داخل کی هغه دټول جهان په مخکي رسوا سو ځيني عالمانو ليکلي دي چي په ميدان حشر کي به رسوايي يو دا سي عذاب وي چي انسانان به دا خواهش وکي چي کاشکي دی جهنم ته وغورځول سي خو چي ددې بدوکارونو شهرت يي دمحشر دخلقو په مخکي نه وای سوی

دريم درخواست دادی چي موږ ستا دطرفه څخه راغلی اعلان يعني دمحمد ﷺ اواز واوريدی او پر دې مو ايمان راوړی نو ته زموږ لوی ګناهونه را معاف کړې او زموږ پر عيبونو او بدو باندي پرده واچوې او موږ ته دنيکو خلګو سره مرګ راکړې يعني دنيکانو په ټولی کي موږ شامل کړې دا درې درخواستونه خو دعذاب او تکليف او ضرر څخه دخلاصيدو لپاره وه مخ ته ځلورم درخواست دفايدو او نفعو حاصلولو متعلق دی چي دپيغمبرانو په ذريعه چي کمه وعده تا دجنت دنعمتونو زموږ سره فرمايلې ده هغه موږ ته داسي راکړې چي په قيامت کي رسوايي هم نه وي.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۶۸)

www.jamairahmani.org

الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾ فَاسْتَجَابَ

الْقِيٰمَةِ	اِنَّكَ ؕ	لَا تُخْلِفُ	الْمِيْعَادَ	فَاسْتَجَابَ
د قيامت کښې	بيشکه! ته	نه کوې مخالفت	له وعدې (خپلې څخه)	پس قبولې کړې

د قيامت کښې، بيشکه! ته (اې ربه) نه کوې مخالفت له وعدې (خپلې) څخه. پس قبولې کړې

لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَاۤ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ

لَهُمْ	رَبُّهُمْ	اَنِّيْ	لَاۤ اُضِيْعُ	عَمَلَ	عَامِلٍ	مِّنْكُمْ	مِّنْ ذَكَرٍ
دوی لره (دا دعاوې)	رب د دوی	بيشکه! زه	نه ضائع کوم	عمل	د هيڅ عمل کوونکي	له تاسې څخه	که نارينه وي

دوی لره (دا دعاوې) رب د دوی بيشکه! زه نه ضائع کوم عمل د هيڅ عمل کوونکي له تاسې څخه که نارينه وي

اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا

اَوْ اُنْثٰى ۚ	بَعْضُكُمْ	مِّنْۢ بَعْضٍ	فَالَّذِيْنَ	هَاجَرُوْا
يا ښځه وي	ځينې ستاسې دي	له ځينو نورو	او هغه کسان	چې هجرت کړې دې دوی

يا ښځه وي، ځينې ستاسې دي له ځينو نورو، او هغه کسان چې هجرت کړې دې دوی

وَاُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَقٰتَلُوْا

وَاُخْرِجُوْا	مِنْ	دِيَارِهِمْ	وَاُوْذُوْا	فِيْ سَبِيْلِيْ	وَقٰتَلُوْا
او ايستلې سوې دي	له	کورونو خپلو	او ضرر رسول سوې دې دوی ته	په لاره زما کښې	او جنګونه ئې کړې دي

او ايستلې سوې دې دوی له کورونو خپلو او ضرر رسولې سوې دې دوی ته په لاره زما کښې او جنګونه ئې کړې دي

وَقُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ

وَقُتِلُوْا	لَاُكَفِّرَنَّ	عَنْهُمْ	سَيِّاٰتِهِمْ	وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ
او وژل سوې دي	نو خامخا به لرې کړم هرومرو	له دوی څخه	ګناهونه د دوی	او خامخا به داخل کړم دوی

او وژل سوې دي (په غزا کښې) نو خامخا به لرې کړم هرومرو له دوی څخه ګناهونه د دوی او خامخا به داخل کړم دوی

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ

جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	ثَوَابًا	مِّنْ	عِنْدِ
په جنتونو کښې	چې بهيږې	له لاندې د هغو	وياله	په جزا ورکولو (نيکو) سره	له	نزده

په جنتونو کښې چې بهيږې له لاندې د (ماڼيو او ونو د) هغو وياله، په جزا ورکولو (نيکو) سره له نزده

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ

په تيرو اياتونو کي دصالحانو مومنانو دځودعاګانو ذکر وو: په ذکر سوي اولني ايت کي ددغه دعاګانو دقبوليت ذکر دی او ددوی دنيکو عملونو دلوی اجر بيان دی په دوهم او دريم ايتونو کي دا هدايت دی چي دکفارو په ظاهري عيش او عشرت مال او دولت او په دنيا کي په ګرځيدو او راګرځيدو دي مسلمانان نه خطاوزي ځکه چي داد يو څو ورځومزې او خوندونه دي اوبيا به هميشه دوی ته عذاب او سزاوي ګوري په څلورم ايت کي بيا دتقوی دارو مسلمانانو لپاره دجنت دلازواله نعمتونو وعده ده او په پنځم آيت کي په خصوصيت سره دهغه مسلمانانو دلوی اجر ذکر دی کم چي اول اهل کتاب وه بيا مسلمانان سوه (لنكفرنّ عنهم سيئاتهم) يعني دالله ﷻ په حقوقو کي چي کمه کوتاهي ځني سوې وي هغه به الله ﷻ معاف کړي البته دبنده دحق غوښتنه به وي وجه يه داده چي په حديث شريف کي نبي کريم ﷺ دقرض استثناء کړې ده چي قرض او پور نه معاف کيږي چي تر څو يه خپل مستحق ته نه وي رسولی يا الله ﷻ هغه شخص دده څخه راضي کي دا بيا دالله ﷻ فضل دی.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۴ ص ۱۷۲)

www.jamairahmani.org

اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ عِنۡدَهٗ حُسۡنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ

اللّٰهِ	وَ	اللّٰهُ	عِنۡدَهٗ	حُسۡنُ	الثَّوَابِ	لَا يَغُرَّنَّكَ
دالله	او	الله	په نزد د ده دی	ښه	ثواب (نیکه جزا)	نه دی تیر باسی له سره تا

د الله او الله په نزد د ده دی ښه ثواب (نیکه جزا). نه دی تیر باسی له سره تا (ای سامعه!)

تَقَلُّبُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فِى الۡبِلَادِ ؕ ﴿۱۹۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيۡلٌ ۟

تَقَلُّبُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	فِى	الۡبِلَادِ	مَتَاعٌ	قَلِيۡلٌ
تلل راتلل	دهغو کسانو	چی کافران سوی دی	په	ښارونو کښی	فائده ده	لږه

تلل راتلل دهغو کسانو چی کافران سوی دی (او تصرف د دوی) په ښارونو کښی (دا) فائده ده لږه

ثُمَّ مَاۡوٰٮهُمۡ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئۡسَ الۡمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾ لٰكِنِ الَّذِيۡنَ

ثُمَّ	مَاۡوٰٮهُمۡ	جَهَنَّمُ	وَبِئۡسَ	الۡمِهَادُ	لٰكِنِ	الَّذِيۡنَ
پس (له مرګه)	ځای د دوی	دوزخ دی	او بد	ځای د هستوګنی دی	لیکن	هغه کسان

پس (له مرګه) ځای د دوی دوزخ دی، او بد ځای د هستوګنی دی (دا دوزخ). لیکن هغه کسان

اتَّقَوۡا رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنّٰتٌ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ

اتَّقَوۡا	رَبَّهُمۡ	لَهُمۡ	جَنّٰتٌ	تَجۡرِىۡ	مِنۡ تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ
چی بیریږی دوی	له ربه خپله	سته دوی لره	جنتونه چی	بهیږی	له لاندی د هغو	ویالی

چی بیریږی دوی له ربه خپله سته دوی لره جنتونه چی بهیږی له لاندی د (ونو او ماڼیو د) هغو ویالی

خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا نُزُلًا مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ؕ وَمَا عِنۡدَ اللّٰهِ

خٰلِدِيۡنَ	فِيۡهَا	نُزُلًا	مِّنۡ	عِنۡدِ	اللّٰهِ	وَمَا	عِنۡدَ	اللّٰهِ
تل به وی دوی	په هغو کښی	په دی حال کښی چی میلمستیا ده	له	جانبه	الله	او هغه چی	په نزد	دالله د

تل به وی دوی په هغو (جنتونو) کښی، په دی حال کښی چی میلمستیا ده له (جانبه) د الله، او هغه چی په نزد د الله دی

خَيۡرٌ لِّلۡاَبۡرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ لَمَنۡ يُّؤۡمِنُ بِاللّٰهِ

خَيۡرٌ	لِّلۡاَبۡرَارِ	وَاِنَّ	مِنۡ اَهۡلِ	الۡكِتٰبِ	لَمَنۡ	يُّؤۡمِنُ	بِاللّٰهِ
خیر دی	له پاره د نیکانو	او بیشکه!	ځینی له اهل	دکتاب	خامخا هغه څوک دی	چی ایمان لری	پر الله

خیر (ډیر غوره) دی له پاره د نیکانو. او بیشکه! ځینی له اهل د کتاب خامخا هغه څوک دی چی ایمان لری پر الله

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا.. **لنډ تفسير**: ای دحق طالبه تا دي ددې کافرانو دکسب او معاش یا دسیلونو لپاره ګرځیدل راګرځیدل په غلطی کي وانه چوي ځکه چي دا یو څوورځي پسرلی دی چي دمرګ سره به ددوی نوم هم نښه پاته نه سي او بیا ددوی دورتلو ځای د همیشه لپاره دوږخ دی او هغه ډیر بد دارام ځای دی لیکن په دوی کي هم کم خلګ چي دخدای ﷻ څخه بیریږي او مسلمان او فرمانبرداره سي ددوی لپاره جنتي باغونه دي چي تر محلاتو لاندي به یي نهرونه او ولې بهیږي دوی به په دې باغونو کي همیشه همیشه اوسیږي دا به میلمستیا وي دالله ﷻ دطرفه څخه اوکم شیان چي دخدای ﷻ سره دي دکمو چي دا اوس ذکر وسو یعني جنتونه او باغونه او نور داسي دا دنیکو بندګانو لپاره په څو وجوښه دي دکفارو ددې څو ورځو ترعیشونو او خوشحالیو ځکه چي دا خوشحالی به یو څورځې وروسته ټولي نیستي سي او نتیجه او انجام بیا ددغو خوشحالیو همیشه همیشه غمونه دي الله ﷻ دي موږ او تاسي ددې بد حاله څخه وساتي.
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۷۱)

الثلثة

www.jamairahmani.org

وَمَآ اُنۡزِلَ اِلَيۡكُمۡ وَمَآ اُنۡزِلَ اِلَيۡهِمۡ

وَمَآ	اُنۡزِلَ	اِلَيۡكُمۡ	وَمَآ	اُنۡزِلَ	اِلَيۡهِمۡ
او پر هغه (قرآن)	چې نازل کړی سوی دی	تاسی ته	او پر هغه (تورات او انجیل)	چې نازل کړی سوی دی	دوی ته

او پر هغه (قرآن) چې نازل کړی سوی دی تاسی ته، او پر هغه تورات او انجیل چې نازل کړی سوی دی دوی ته

خٰشِعِيۡنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشۡتَرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ

خٰشِعِيۡنَ	لِلّٰهِ	لَا يَشۡتَرُوۡنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	ثَمَنًا	قَلِيۡلًا
حال دا چې بیریدونکی دی	الله لره	نه پیری (نه اخلی)	په آیتونو	د الله	قیمت	لږ

حال دا چې بیریدونکی (متواضع) دی الله لره نه پیری (نه اخلی دوی) په آیتونو د الله قیمت لږ.

اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اُولٰٓئِكَ	لَهُمۡ	اَجۡرُهُمۡ	عِنۡدَ	رَبِّهِمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ
هم دغه کسان	دی دوی لره	اجر د دوی	په نزد	د رب د دوی	بیشکه! چې	الله

هم دغه کسان (مقرر) دی دوی لره اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی، بیشکه! چې الله

سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ ۝١٩٩ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا

سَرِيۡعُ	الۡحِسَابِ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوا
دیر ژر دی	حساب	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی

دیر ژر دی حساب (د ده یعنی دیر ژر حساب اخلی). ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی

اصۡبِرُوۡا وَصَابِرُوۡا وَرَابِطُوۡا ۣ

اصۡبِرُوۡا	وَصَابِرُوۡا	وَرَابِطُوۡا
صبر کوئ	او ټینګ اوسئ په صبر	او محکم اوسئ

صبر کوئ (په طاعت، مصیبت او له معصیته) او ټینګ اوسئ! په صبر (دکفارو په مقابل کښې) او محکم اوسئ!

وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ۝٢٠٠ ع

وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	لَعَلَّكُمۡ	تُفۡلِحُوۡنَ
او ویریږئ!	له الله	له پاره د دی	چې په مراد ورسیږئ

(په اسلامی سرحداتو کښې) او ویریږئ! له الله له پاره د دی چې په مراد ورسیږئ

ع ۲۰ / ۱۱

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اصۡبِرُوۡا

په دغه ایت کي مسلمانانو ته ددرو شیانو وصیت سوی دی: صبر، مصابره، او مرابطه، او ځلورم شی تقوی ده چي ددې درو سره لازمه ده: د صبر لفظي معنی تړل او بندول دي او د قرآن او سنت په اصطلاح کي صبر دې ته وايي چي نفس پر هغه شیانو باندي چي نفس يې نه غواړي بر قراره وساتل سي او ددې درې قسمونه دي.

اول: **صبر پر طاعاتو باندي:** یعني د کومو شیانو چي الله ﷻ او دهغه رسول حکم کړی دی دهغو پایبندي کول که څه هم پر نفس باندي هر څومره ګرانه وي

دوهم: **صبر دګناه څخه:** یعني د کومو شیانو څخه چي الله ﷻ او دهغه رسول منع فرمايلي ده هغه که نفس ته هر څومره خوښ او خوندناک وي خو نفس ددې څخه منع کول.

دريم: **صبر پر مصیبتونو** یعني پر مصیبت او تکلیف باندي صبر کول تر حد څخه زیات نه پریشانه کیدل او ټول تکلیفونه او غمونه او پریشانی د الله ﷻ له طرفه څخه ګڼل نفس بې کنټروله کیدو ته نه پریښوول خاص بیا پر تقدير باندي اعتراض نه کول.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۷۳)

www.jamairahmani.org

أياتونه ۱۷۶ | ۴ سُوْرَةُ النِّسَآءِ مَدَنِيَّةٌ ۹۲ | ۷ کوعوي ۲۴

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمُ الَّذِىۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ

يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	اتَّقُوۡا	رَبَّكُمُ	الَّذِىۡ	خَلَقَكُمۡ	مِّنۡ
ای	خلکو	(تل) ويريږئ	له ربه خپله !	هغه (رب)	چې پيدائې کړئ تاسې	له

ای ! خلکو (تل) ويريږئ له ربه خپله ! هغه (رب) چې پيدا ئې کړئ تاسې له

نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا

نَّفۡسٍ	وَّاحِدَةٍ	وَّخَلَقَ	مِنۡهَا	زَوۡجَهَا	وَبَثَّ	مِنۡهُمَا
نفسه	يوه شخه	او پيدا ئې کړه	له دې (نفسه)	جوړه د ده	او هوارئې کړل	له دې دواړو شخه

نفسه يوه شخه (چې آدم عليه السلام دی) او پيدا ئې کړه له دې (نفسه) جوړه د ده (حواء) او خپاره ئې کړل له دې دواړو شخه

رِجَالًا كَثِيۡرًا وَّنِسَآءً‌ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِىۡ تَسَآءَلُوۡنَ

رِجَالًا	كَثِيۡرًا	وَّنِسَآءً	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	الَّذِىۡ	تَسَآءَلُوۡنَ
سړی	ډير	او ښځې	او ويريږئ	له الله	هغه (الله)	چې سؤال کوئ تاسې يو تر بله

سړی ډير او ښځې (ډيرې)، او ويريږئ له الله هغه (الله) چې سؤال کوئ تاسې يو تر بله

بِهٖ وَالۡاَرۡحَامَ‌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيۡبًا ‏۝۱ وَاٰتُوا

بِهٖ	وَالۡاَرۡحَامَ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَلَيۡكُمۡ	رَقِيۡبًا	وَاٰتُوا
په (نامه د) ده سره	او (له پريکولو) دخپلوی شخه	بيشکه !	الله	دی	پر تاسې	ساتونکی	اوورکړئ

په (نامه د) ده سره او (ويريږئ له پريکولو) دخپلوی شخه، بيشکه! الله دی پر تاسې ساتونکی . او ورکړئ

الۡيَتٰمٰٓى اَمۡوَالَهُمۡ‌ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الۡخَبِيۡثَ بِالطَّيِّبِ‌

الۡيَتٰمٰٓى	اَمۡوَالَهُمۡ	وَلَا تَتَبَدَّلُوا	الۡخَبِيۡثَ	بِالطَّيِّبِ
يتيمانو ته	مالونه د دوی	او بدل مه اخلئ تاسې	خبيث (بد، حرام مال!)	په طيب (ښه، حلال مال!)

يتيمانو ته مالونه د دوی (پس له رشده) او بدل مه اخلئ تاسې خبيث (بد، حرام مال!) په طيب (ښه، حلال مال!)

النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمُ
يعني ای خلقو دخپل رب ﷻ دمخالفت شخه
ويريږئ : او شايد داوجه ده چې نبي کريم ﷺ به دا ايت دنکاح په خطبه کې وايه او دنکاح په خطبه کې ددې ويل سنت دي په دې کې دا خبره هم دپام وړده دچې خطاب يې په (ياأيهاالناس) سره فرمايلی دی چې ټول انسانان په کښې شامل دي سړي وي او که ښځې او دقرآن دنزول دوخت وي يا راتلونکي تر قيامته پوري پيدا کيدونکي وي بيا يې دحکم سره د (اتقوا ربکم) دالله ﷻ په ښه او پاکو نومونو کې لفظ درب اختيار کی چې دتقوی دحکم علت او حکمت طرف ته يي په کښې اشاره وفرمايله چې کم ذات ستاسې پرورش او پالنه کوي او دچا دربوبيت دشان نښې او نښانې چې انسان دخپل ژوند په هر ګړي او وخت کې په ښکاره ويني نو دده مخالفت او سرکشي به څومره خطرناکه وي ددې سره يې درب ديو خاص شان ذکر وکی چې ده په خپل حکمت او رحمت سره تاسې پيدا کړي ياست بيا دپيدا کولو او موجودو لو مختلف صورتونه کيدای سي خو په دوی کې وتاسې ته يو خاص او ښايسته صورت درکړی.
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۱۷۷)

www.jamairahmani.org

وَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تُقۡسِطُواْ فِي الۡيَتٰمٰى ... ديتيمانو انجونو دحقونو ضايع كولو

بنديز : دجاهليت په زمانه كي به چي دكومو خلگو په پالنه كي يتيماني انجوني وې نو كمي چي به په صورت او شكل كي ښې وې يا به ددوى په ملكيت كي څه مال او جايداد وو نو اوليااو مشرانو به يې داسي كول چي يا به يې په خپله ورسره نكاح كول او يا به يې دخپلو اولادونو سره ددوى نكاح كوله او په خپله رضا به يې ورلره كم تر كم مهر مقرروى او په خپله خوښه به يې ورسره سلوك كوى ځكه چي هم دوى به يې ولي او ساتونكي وه پلار به يې نه وو چي دحقونو سمه او پوره ساتنه يې وركړې واى او په خپله ساتنه كي يې ددې په مناسب او ښه ځاى كي نكاح كړې واى : دحضرت عايشې ؓ څخه روايت دى چي چي درسالت په زمانه كي ديوه سړي په ولايت كي يوه يتيمه انجلۍ وه اودده يو باغ وو چي په هغه كي داانجلۍ هم شريكه وه دغه سړي ددغې انجلۍ سره پخپله نكاح وكړه او پرځاى د دى چي مهروركړي دهغې دباغ حصه يې هم په خپل قبضه كي واخيسته نوپردې داايت نازل سو. (معارف القرآن ج۲پ۴ص ۱۸۴)

وَلَا تَاۡكُلُوۡۤا اَمۡوَالَهُمۡ اِلٰۤى اَمۡوَالِكُمۡ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوۡبًا

وَلَا تَاۡكُلُوۡۤا	اَمۡوَالَهُمۡ	اِلٰۤى	اَمۡوَالِكُمۡ	اِنَّهٗ	كَانَ	حُوۡبًا
او مه خورئ تاسي	مالونه د دوى	له	مالونو خپلوسره	بيشكه! دا	ده	ګناه

او مه خورئ تاسي مالونه د دوى (ديتيمانو ګډ) له مالونو خپلوسره ، بيشكه! دا (ديتيمانو دمال خوړل) ده ګناه

كَبِيۡرًا ۝۲ وَاِنۡ خِفۡتُمۡ اَلَّا تُقۡسِطُوۡا فِى الۡيَتٰمٰى

كَبِيۡرًا	وَاِنۡ	خِفۡتُمۡ	اَلَّا تُقۡسِطُوۡا	فِى	الۡيَتٰمٰى
لويه	او كه	وبيريږئ تاسي	چه به ونه كړئ سئ عدل انصاف	په	(حق د) يتيمانو كښې

لويه. او كه وبيريږئ تاسي چه به ونه كړئ سئ عدل انصاف په (حق د) يتيمانو كښې

فَانۡكِحُوۡا مَا طَابَ لَـكُمۡ مِّنَ النِّسَآءِ مَثۡنٰى وَثُلٰثَ

فَانۡكِحُوۡا	مَا	طَابَ	لَـكُمۡ	مِّنَ	النِّسَآءِ	مَثۡنٰى	وَثُلٰثَ
نو په نكاح سره واخلئ تاسي	هغى	ښځى چه خوښى وى	تاسو ته	له	ښځو	دوى دوى	او درى درى

نو په نكاح سره واخلئ تاسي (نورى) هغى ښځى چه خوښى (حلالى) وى تاسو ته له ښځو دوى دوى او درى درى

وَرُبٰعَ‌ ۚ فَاِنۡ خِفۡتُمۡ اَلَّا تَعۡدِلُوۡا فَوَاحِدَةً اَوۡ مَا مَلَـكَتۡ

وَرُبٰعَ	فَاِنۡ	خِفۡتُمۡ	اَلَّا تَعۡدِلُوۡا	فَوَاحِدَةً	اَوۡ مَا	مَلَـكَتۡ
او څلور څلور	نو كه (بيا)	وبيريږئ تاسي	چى عدل په ونه كړئ سئ	نو يوه	يا هغه وينځى	چى مالكان سوى دى

او څلور څلور، نو (بيا كه) وبيريږئ تاسي چى عدل (انصاف برابرى) په ونه كړئ سئ نو يوه (اصيله كوئ) يا هغه وينځى

اَيۡمَانُكُمۡ‌ ؕ ذٰ لِكَ اَدۡنٰٓى اَلَّا تَعُوۡلُوۡا ؕ‏ ۝۳ وَاٰتُوا النِّسَآءَ

اَيۡمَانُكُمۡ	ذٰ لِكَ	اَدۡنٰٓى	اَلَّا تَعُوۡلُوۡا	وَاٰتُوا	النِّسَآءَ
د هغو ښى لاسونه ستاسى	دا	ښه نژدى ده	دى ته چى ظلم ونه كړئ تاسى	او وركوئ تاسى	ښځو (خپلو) لره

چى مالكان سوى دى د هغو ښى لاسونه ستاسى. دا ښه نژدى ده دى ته چى ظلم ونه كړئ تاسى او وركوئ تاسى ښځو (خپلو) لره

صَدُقٰتِهِنَّ نِحۡلَةً‌ ؕ فَاِنۡ طِبۡنَ لَـكُمۡ عَنۡ شَىۡءٍ مِّنۡهُ

صَدُقٰتِهِنَّ	نِحۡلَةً	فَاِنۡ	طِبۡنَ	لَـكُمۡ	عَنۡ	شَىۡءٍ	مِّنۡهُ
مهرونه د دوى	په وركړه د خوشحالى سره	نو كه	راضى سوى دا	تاسى ته	له كوم	شى	له دى (مهره)

مهرونه د دوى په وركړه د خوشحالى سره. نو كه راضى سوى دا (ښځى) تاسى ته (په بخښنه) له كوم شى له دى (مهره)

www.jamairahmani.org

نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِيْٓـًٔا مَّرِيْٓـًٔا ④ وَلَا تُؤْتُوا

نَفْسًا	فَكُلُوْهُ	هَنِيْٓـًٔا	مَّرِيْٓـًٔا	وَلَا تُؤْتُوا
د نفس خپل	نو خورئ تاسی دغه شی	په داسی حال کښې چې خوندور	حلال بې ضرره وی	او مه ورکوئ تاسی

د نفس خپل نو خورئ تاسی دغه شی په داسی حال کښې چې خوندور حلال بې ضرره وی. او مه ورکوئ تاسی

السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِيْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِيٰمًا وَّ ارْزُقُوْهُمْ

السُّفَهَآءَ	اَمْوَالَكُمُ	الَّتِيْ	جَعَلَ	اللّٰهُ	لَكُمْ	قِيٰمًا	وَّ ارْزُقُوْهُمْ
بې عقلانو ته	مالونه خپل	هغه چې	ګرځولی دی	الله	د پاره د تاسی	سبب د ګزران	او روزی ورکوئ دوی ته

بې عقلانو ته مالونه خپل هغه چې ګرځولی دی الله د پاره د تاسی سبب د ګزران او روزی ورکوئ دوی ته

فِيْهَا وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ⑤

فِيْهَا	وَاكْسُوْهُمْ	وَقُوْلُوْا	لَهُمْ	قَوْلًا	مَّعْرُوْفًا
په دی مالونو کښې	او جامې ورکوئ دوی ته	او وواییئ	دوی ته	خبره	معروفه (نیکه)

په دی مالونو کښې او جامې ورکوئ دوی ته او وواییئ دوی ته خبره معروفه (نیکه، پسته، معقوله)

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ

وَابْتَلُوا	الْيَتٰمٰى	حَتّٰٓى	اِذَا	بَلَغُوا	النِّكَاحَ	فَاِنْ	اٰنَسْتُمْ
او وازمویئ تاسی	یتیمان	ترهغه پورې	کله چې	ورسیږی دوی	نکاح ته	نو که	پیدا کړه تاسی

او وازمویئ تاسی یتیمان ترهغه پورې کله چې ورسیږی دوی (حد ، د) نکاح ته، نو که وموندہ تاسی

مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ

مِّنْهُمْ	رُشْدًا	فَادْفَعُوْٓا	اِلَيْهِمْ	اَمْوَالَهُمْ
له هغو نه	هوښیاری	نو وسپارئ تاسی	هغوی ته	مالونه د هغوی

له هغو نه هوښیاری (په معاملاتو او د مال په ساتنه کښې) نو وسپارئ تاسی هغوی ته مالونه د هغوی !

وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ۭ وَمَنْ كَانَ

وَلَا تَاْكُلُوْهَآ	اِسْرَافًا	وَّبِدَارًا	اَنْ	يَّكْبَرُوْا	وَمَنْ	كَانَ
او مه خورئ تاسی دا (مالونه)	په اسراف سره	او په تلوار سره	چې	دوی به لوی سی	او هر څوک	چې وی

او مه خورئ تاسی دا (مالونه) په اسراف سره او په تلوار سره چې دوی به لوی سی (نو وا به ئې خلی)، او هر څوک چې وی

وَلَا تُـؤْتُوا السُّـفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ... مـال دژونـد سرمایه ده او دديې حفاظت په کار دی: په دغه آیتونو کې يې يو طرف تـه دمال اهمیـت او پـه انسـاني ژوند کې يې ددې لوی دخل بیان کې زړونو تـه يې ددې دحفاظت دعوت ورکی بل طرف ته يې دمال دحفاظت متعلـق ديـوې عـامې کوتـاهی اصلاح وفرمایله هغه دا چې ځيني خلګ دطبعي محبت او دمينې دغلبې په وجه بې تجربې او نابالغه کوچنيانو تـه او ناپوهه ښځوته خپل مالونه حوالـه کـوي چې لازمي نتيجه يې دمال بربادي او ډيره ژر تنګدستي اوغربت دی دقرآن مفسـر حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما بیان فرمايي چې دقرآن مجيد په دې ايت کې دالاربنوونه ده چې خپل پوره مال کم عقله کوچنيانو او ښځوته پـه سپارلوسره ځانونه مه محتاجه او مفلسه کـوی بلکـې الله ﷻ تاسـې منتظمان او ساتونکي جوړ کړي ياست نو مال په خپل حفاظت کې وساتې په قـدر دضـرورت يـې د دوی پرجـامو اوخـوراک باندې خرڅ کوی او که يې چيـرې غوښـتنه کولـه نومعقوله خبره ورته وکړی چې آزار هم نـه سي دوی.
(معارف القرآن ۲ پ ۴ ص ۲۰۲)

www.jamairahmani.org

غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ

غَنِيًّا	فَلْيَسْتَعْفِفْ	وَمَنْ	كَانَ	فَقِيرًا	فَلْيَأْكُلْ
مال داره	نو ښائی چي ځان پاک وساتي	او هر څوک	چي وی	فقير	نو خوري دی له دی مال څخه

مال داره نو ښائی ځان پاک وساتي (ديتيمانو له مالونو څخه) ، او هر څوک چي وی فقير نو خوري دی له دی مال څخه

بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا

بِالْمَعْرُوفِ	فَإِذَا	دَفَعْتُمْ	إِلَيْهِمْ	أَمْوَالَهُمْ	فَأَشْهِدُوا
په معروفه سره	نو کله چي	ورکړئ تاسي	دغو (يتيمانو) ته	مالونه د دوی	نو شاهدان ونيسئ تاسي

په معروفه (په ښه توګه) سره ، نو کله چي ورکړئ (وسپارئ) تاسي دغو (يتيمانو) ته مالونه د دوی نو شاهدان ونيسئ تاسي

عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا ﴿٦﴾ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ

عَلَيْهِمْ	وَكَفَىٰ	بِاللَّهِ	حَسِيبًا	لِلرِّجَالِ	نَصِيبٌ
پر دوی باندی	او کافی دی	الله په دی حال کښې	چي ښه حساب (کوونکی دی).	سته نارينه ؤ لره	برخه د دوی

پر دوی باندی او کافی (بس) دی الله په دی حال کښې چي ښه حساب (کوونکی دی). سته نارينه ؤ لره نصيب د دوی

مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ

مِمَّا تَرَكَ	الْوَالِدَانِ	وَالْأَقْرَبُونَ	وَلِلنِّسَاءِ	نَصِيبٌ
له هغه ماله چي پريښي وی	مور او پلار	او خپلوانو	او سته ښځو لره	نصيب (برخه)

له هغه ماله چي پريښي وی مور او پلار او خپلوانو او سته ښځو لره (هم لوئی وی که وړی) نصيب (برخه)

مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ

مِمَّا تَرَكَ	الْوَالِدَانِ	وَالْأَقْرَبُونَ	مِمَّا قَلَّ	مِنْهُ	أَوْ كَثُرَ
له هغه ماله چي پريښي وی	مور او پلار	او خپلوانو	هغه چي لږ وی	له دی ماله	او که ډير وی

له هغه ماله چي پريښي وی مور او پلار او خپلوانو هغه (مبلغ) چي لږ وی له دی ماله او که ډير وی،

نَصِيبًا مَفْرُوضًا ﴿٧﴾ وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو

نَصِيبًا	مَفْرُوضًا	وَإِذَا	حَضَرَ	الْقِسْمَةَ	أُولُو
نصيب (برخه)	مقرر کړی سوی	او کله چي	حاضر سی	قسمت (دميراث) ته	خاوندان

نصيب (برخه) مقرر کړی سوی (له طرفه د الله څخه). او کله چي حاضر سی قسمت (دميراث) ته خاوندان

وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ.. **دکم يتيم ولي چي فقير او محتاجه وي:** اوبله کمه ذريعه يي دژوند نه وي نو دی ديتيم دمال څخه په يو مناسب مقدار سره خوړلای سي چي ضروري حاجتونه يي په پوره کيدای سي:

(مسئله) مفتي صاحب رحمة الله عليه فرمايي چي ددې آيت څخه يو فقهي ضابطه او اصول معلوم سوه هغه دا چي کم خلګ داوقافو ساتونکي وي يا د مسجدونو او مدرسو ناظمان دي يا دمسلمان حکومتونو دادارو ذمه داره وي يا دغه شان دنورو ملکي يا ملي خدمتونو چي پوره کول يي فرض کفايه وي پر دې باندي دی ماموره وي ددې صاحبانو لپاره ښه او غوره داده چي که ددوی سره خپله څه ګذاره وي چي دخپلو کوچنيانو ضروري خرڅونه پوره کولای سي نو ددې ادارو او دحکومت دبيت المال څخه دي نه اخلي ليکن که خپله ګذاره يي نه کيږي او دکار او کسب کولو په وخت کي په دې کارونو کي مشغوله وي نو پر قدر دضرورت دی ددې ادارو څخه مال اخيستی سي بې احتياطي به نه کوي او ددې بې احتياطی مخ نيوی بيله الله جل جلاله دبيري څخه هيڅوک نه سي کولای:
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۰۶)

www.jamairahmani.org

الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ

الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى	وَالْمَسٰكِيْنُ	فَارْزُقُوْهُمْ	مِّنْهُ
د خپلوی	او یتیمان	او مسکینان	نو روزی ورکوئ تاسی دوی لره	له هغه (میراثه)

د خپلوی (چي وارثان نه وی) او یتیمان او مسکینان نو روزی ورکوئ تاسی دوی لره له هغه (میراثه)

وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ⑧ وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ

وَقُوْلُوْا	لَهُمْ	قَوْلًا	مَّعْرُوْفًا	وَلْيَخْشَ	الَّذِيْنَ
او ووایئ تاسی	دوی ته	خبره	معروفه (په نبه توگه)	او ودی ییریږی	هغه وصیان

او ووایئ تاسی دوی ته خبره معروفه (په نبه توگه). او ودی ییریږی هغه وصیان

لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ

لَوْ تَرَكُوْا	مِنْ خَلْفِهِمْ	ذُرِّيَّةً	ضِعٰفًا	خَافُوْا	عَلَيْهِمْ
که پریږدی دوی	وروسته تر ځانونو خپلو	اولاد	ضعیفان	ییریږی به دوی	پر دغو (اولادونو)

که پریږدی دوی پس له (مرگه) خپل اولاد ضعیفان (نو) ییریږی به دوی په دغو (اولادونو)

فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ⑨ اِنَّ الَّذِيْنَ

فَلْيَتَّقُوْ	اللّٰهَ	وَلْيَقُوْلُوْا	قَوْلًا	سَدِيْدًا	اِنَّ	الَّذِيْنَ
پس ودی ییریږی دوی	د الله څخه	او ودی وائی دوی ته	خبره	سمه خوږه	بیشکه!	هغه کسان

پس ودی ییریږی دوی د الله څخه او ودی وائی دوی ته خبره سمه خوږه. بیشکه! هغه کسان

يَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَأْكُلُوْنَ فِيْ

يَأْكُلُوْنَ	اَمْوَالَ	الْيَتٰمٰى	ظُلْمًا	اِنَّمَا	يَأْكُلُوْنَ	فِيْ
چي خوری دوی	مالونه	د یتیمانو	په ظلم سره	خبره دا ده	چي خوری دوی	په

چي خوری دوی مالونه د یتیمانو په ظلم سره (بی له شرعی اذنه) خبره دا ده چي خوری دوی په

بُطُوْنِهِمْ نَارًا ۭ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ⑩ يُوْصِيْكُمُ

بُطُوْنِهِمْ	نَارًا	وَسَيَصْلَوْنَ	سَعِيْرًا	يُوْصِيْكُمُ
(ډکو) گیډو خپلو سره	اور	او ژر به ورسیږی دوی	اور سخت ته	حکم کوی تاسی ته

(ډکو) گیډو خپلو سره اور، او ژر به ورسیږی (ننه به وځی) دوی اور سخت ته. حکم کوی تاسی ته

ع ۱۲

اِنَّ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى..څو شرعي مسائل

مسئله: دمړي دبدن کالي هم په ترکه او میراث کي شامل دي هغه دتقسیم څخه پرته هم دغسي خیرات کول نه دي رواه او په ځینو علاقو کي دمړي داستعمال داوسپني یا دژړواو یا دبل شي لوښي دمال دتقسیم څخه بغیر هم دغسي وفقیرانو ته ورکول کیږي حال دادی چي په دي کي دتولو نابالغو او غیر حاضرو کسانو او وراثانو حق ستده دی :اول دي مال تقسیم سي او دمړي اولاد ، ښځي ،مور ، اوپلار، او خوندوته دي او کومو کوموو ارثانو ته چي شرعا حق رسیږي هغوی ته دي ورکي تر دې وروسته په خپله خوښی سره چي کم سړي غوښته دخپلي خپلي حصي څخه دي په مړي پسې خیرات کړي خو دایوازي بالغان کولای سي دنابالغه اجازت هم په شریعت کي معتبر نه دی او کم وارث چي غیر حاضروي دهغه په حصه کي هم دهغه داجازت څخه بغیر تصرف جایز نه دی نور هم دي ته ورته ناجایزه رسمونه او رواجونه په عرف کي ډیر دي مسلمانان مکلفه دي خصوصا اهل علم چي پر دغه شیانو باندي پوره رد وکړي. :
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۱۷)

www.jamairahmani.org

اللّٰهُ فِیْۤ اَوْلَادِكُمْ ۗ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ ۚ فَاِنْ

اللّٰهُ	فِیْۤ	اَوْلَادِكُمْ	لِلذَّكَرِ	مِثْلُ	حَظِّ	الْاُنْثَیَیْنِ	فَاِنْ
اللہ	په	اولاد ستاسی کښی	چی سته نارینه لره	په مثل	د برخی	د دوو ښځو	نو که

اللہ په (حق د میراث د) اولاد ستاسی کښی چی سته نارینه لره (له میراثه) په مثل د برخی د دوو ښځو، نو که

كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَیْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ

كُنَّ	نِسَآءً	فَوْقَ	اثْنَتَیْنِ	فَلَهُنَّ	ثُلُثَا	مَا تَرَكَ
وو دا	(اولاد خالص) ښځی	پورته له	دوو ښځو	نو (سته) دوی لره	دوه ثلثه	دهغه مال چی پریښی وی

وو دا (اولاد خالص) ښځی پورته له دوو ښځو (یا دوی) نو (سته) دوی لره دوه ثلثه (دوی دریمی برخی) دهغه مال چی پریښی وی

وَاِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ؕ وَلِاَبَوَیْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ

وَاِنْ	كَانَتْ	وَاحِدَةً	فَلَهَا	النِّصْفُ	وَلِاَبَوَیْهِ	لِكُلِّ	وَاحِدٍ
او که	وه دا	یوه	نو هغی لره	نصف	او سته مور او پلار د ده ته	له پاره	د هریوه

او که وه دا (مولوده لور) یوه نو هغی لره نصف (نیمائی د ترکی دی) ، او سته مور او پلار د ده ته له پاره د هریوه

مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ لَّمْ

مِّنْهُمَا	السُّدُسُ	مِمَّا	تَرَكَ	اِنْ كَانَ	لَهٗ	وَلَدٌ	فَاِنْ	لَّمْ
له دی دواړو	سدس	له هغه مال	چی پریښی وی	که وی	مړی لره	ولد	نو که	نه

له دی دواړو سدس (شپږمه برخه) له هغه مال چی پریښی وی (مړی) که وی مړی لره ولد (زوی یا لور) نو که نه

یَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗۤ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ فَاِنْ كَانَ

یَكُنْ لَّهٗ	وَلَدٌ	وَّوَرِثَهٗۤ	اَبَوٰهُ	فَلِاُمِّهِ	الثُّلُثُ	فَاِنْ	كَانَ
وی ده لره	ولد	حال دا چی میراث اخلی له ده	مور او پلار د ده	نو دی مور د ده لره	ثلث	نو که	وی

وی ده لره ولد حال دا چی میراث اخلی له ده (مړی څخه یوائی) مور او پلار د ده نو دی مور د ده لره ثلث (دریمه)، نو که وی

لَهٗۤ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ مِنْۢ بَعْدِ وَصِیَّةٍ یُّوْصِیْ

لَهٗۤ	اِخْوَةٌ	فَلِاُمِّهِ	السُّدُسُ	مِنْۢ بَعْدِ	وَصِیَّةٍ	یُّوْصِیْ
مړی لره	وروڼه (یا خویندی)	نو سته مور د ده لره	سدس	پس له	وصیت څخه	چی وصیت وکړی میت

مړی لره وروڼه (یا خویندی) نو سته مور د ده لره سدس (د ترکی شپږمه برخه) پس له وصیت څخه چی وصیت وکړی میت

لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ ۚ.. پر میراث باندي مخکني حقونه:

دشریعت دا اصول دي چي دمړي دمال څخه اول دشریعت مطابق دده دکفن دفن خرڅونه پوره کړي په داسي طریقه سره چي فضول خرچي او زیات مصرفونه نه وي په کښي او نه بخیلي پکښي وي. تر دې وروسته دي دده قرضونه اداء کړی سي او که یي قرضونه دومره ډیروه چي دده ټول مال پکښي ختمیدی یا تر دې مال لا هم زیات وه نو نه به یي میراث خور ته څه رسیږي او نه به یي وصیت پر ځای کیږي او که دقرض داداء کولو څخه وروسته څه مال پاته سو یا قرضونه بالکل نه وه نو که ده څه وصیت کړی وي او هغه وصیت دګناه نه وي نو اوس چي کم څه موجود دي دهغه په دریمه حصه کي دغه وصیت نافذه کیږي ددریمي حصي دمال څخه زیات وصیت کول مناسب نه دي او دوارثانو دمحرومه کولو په نیت سره وصیت کول ګناه هم ده. دقرض داداء کولو څخه وروسته به په دریمه حصه کي وصیت پوره کړی سي او پاته مال به پر وارثانو دشریعت دمقررو اصولو موافق تقسیم کړی سي. (معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۲۱)

www.jamairahmani.org

بِهَآ اَوۡ دَيۡنٍ ؕ اٰبَآؤُكُمۡ وَاَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُوۡنَ اَيُّهُمۡ

بِهَآ	اَوۡ دَيۡنٍ	اٰبَآؤُكُمۡ	وَاَبۡنَآؤُكُمۡ	لَا تَدۡرُوۡنَ	اَيُّهُمۡ
په هغه سره	يا پس د پوره څخه	پلرونه ستاسي	او ځامن ستاسي	نه پوهيږئ تاسي	چي کوم يو له دوی

په هغه سره يا پس (له اداء کولو) د پوره څخه، پلرونه ستاسي او ځامن ستاسي نه پوهيږئ تاسي چي کوم يو له دوی

اَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعًا ؕ فَرِيۡضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

اَقۡرَبُ	لَكُمۡ	نَفۡعًا	فَرِيۡضَةً	مِّنَ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ
زيات نژدی دی	تاسی ته	له جهته د نفعی	مقرره برخه	له (جانبه)	د الله	بيشکه!	چی الله	دی

زيات نژدی دی تاسی ته له جهته د نفعی، (دا برخی فرض سوی دی) مقرره برخه له (جانبه) د الله، بيشکه! چی الله دی

عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ⑪ وَلَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ اَزۡوَاجُكُمۡ

عَلِيۡمًا	حَكِيۡمًا	وَلَكُمۡ	نِصۡفُ	مَا تَرَكَ	اَزۡوَاجُكُمۡ
ښه عالم	ښه حکمت والا	او ستاسي ته	نيم	د هغه مال چي پريښی دی	ښځو ستاسي

ښه عالم ښه حکمت والا . او ستاسي ته نيم د هغه مال چي پريښی دی ښځو ستاسي

اِنۡ لَّمۡ يَكُنۡ لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَاِنۡ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ

اِنۡ لَّمۡ	يَكُنۡ	لَّهُنَّ	وَلَدٌ	فَاِنۡ	كَانَ	لَهُنَّ	وَلَدٌ	فَلَكُمُ	الرُّبُعُ
که نه	وی	دی ښځو لره	ولد	نو که	وی	دی ښځو لره	ولد	نو تاسی لره سته	(څلورمه) برخه

که نه وی دی ښځو لره ولد (لور، زوی) نو که وی دی ښځو لره ولد نو تاسی لره سته (څلورمه) برخه

مِمَّا تَرَكۡنَ مِنۡۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُّوۡصِيۡنَ بِهَآ

مِمَّا	تَرَكۡنَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	وَصِيَّةٍ	يُّوۡصِيۡنَ	بِهَآ
له هغه ماله	چي پريښی وی دی ښځو	پس (له اداء کولو)	د وصيت څخه	چي وصيت کړی وی	په هغه سره

له هغه ماله چي پريښی وی دی ښځو پس (له اداء کولو) د وصيت څخه چي وصيت کړی وی (دی ښځو) په هغه سره

اَوۡ دَيۡنٍ ؕ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡتُمۡ اِنۡ لَّمۡ يَكُنۡ لَّكُمۡ وَلَدٌ ۚ

اَوۡ دَيۡنٍ	وَلَهُنَّ	الرُّبُعُ	مِمَّا	تَرَكۡتُمۡ	اِنۡ لَّمۡ يَكُنۡ	لَّكُمۡ	وَلَدٌ
يا وروسته تر ورکولو د پور	او سته دی ښځو لره	څلورمه برخه	له هغه مال چي	چي پريښی وی تاسی	که نه وی	تاسی لره	ولد

يا وروسته تر ورکولو د پور او سته دی ښځو لره څلورمه برخه له هغه مال چي پريښی وی تاسی که نه وی تاسی لره ولد (زوی،لور)

وَلَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ اَزۡوَاجُكُمۡ.. دخاوند او ښځي حصه : په دي لوړو ليکو کي دخاوند او دښځي حصي مقرر سوي دي او اول يي دخاوند حصه وښووله شايد چي ددي دمخه کولو وجه داوي چي دده اهميت ښکاره کول مقصودوي ځکه چي دښځي تر وفات وروسته خاوند دبل کور سړی سي او تفصيل ددي دادی که دغه مړي سوي ښځي اولاد نه درلودی نو خاوند ته به وروسته تر قرض او وصيت د پوره کولو ددي مړي ښځي په مال کي نيمه حصه رسيږي او پاته نيمه به يي نورو وارثانو ته رسيږي لکه مور ،او پلار ،خور ،او ورور، به دقاعدي موافق خپله خپله حصه اخلي او که دي مړي ښځي اولاد پاته کړی وي بيا نو برابره ده که يو وي که ډير وي هلک وي او که انجلی ددي خاوند څخه يي وي او که دبل څخه يي وي نو په دي صورت کي به دي خاوند ته ددي ښځي تر قرض او وصيت پوره کولو وروسته څلورمه حصه مال ورکول کيږي او پاته دري حصي به پر نورو وارثانو تقسيم کيږي د ميراث داصولو موافق.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۲۶)

www.jamairahmani.org

فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْ بَعْدِ

فَإِنْ	كَانَ	لَكُمْ	وَلَدٌ	فَلَهُنَّ	الثُّمُنُ	مِمَّا	تَرَكْتُمْ	مِّنْ بَعْدِ
نو كه	ؤ	تاسي لره	ولد	نو دى ښځو لره	اتمه	له هغه ماله	چي پرېښې وى تاسي	پس له

نو كه ؤ تاسي لره ولد نو دى ښځو لره ثمن (اتمه برخه) له هغه ماله چي پرېښى وى تاسي پس له

وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ

وَصِيَّةٍ	تُوصُونَ	بِهَا	أَوْ دَيْنٍ	وَإِنْ	كَانَ	رَجُلٌ	يُورَثُ
ادا كولو د وصيت	چي وصيت كوئ تاسي	په هغه سره	يا ادا كولو د پور	او كه	ؤ	يو سړى	چي ميراث ترى وړل كيږى

ادا كولو د وصيت چي وصيت كوئ تاسي په هغه سره يا پس له ادا كولو د دين ، او كه ؤ يو سړى چي ميراث ترى وړل كيږى

كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ

كَلَالَةً	أَوِ امْرَأَةٌ	وَلَهُ	أَخٌ	أَوْ أُخْتٌ	فَلِكُلِّ	وَاحِدٍ
كلاله	يا ښځه وه	حال داچي وى دى مړى لره	ورور	يا خور	پس سته	هر يوه لره

كلاله (بى زويه بى پلاره) يا ښځه وه (كلاله) حال داچي وى دى مړى لره (يو اخيافى) ورور يا خور پس سته هر يوه لره

مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَٰلِكَ فَهُمْ

مِّنْهُمَا	السُّدُسُ	فَإِنْ	كَانُوا	أَكْثَرَ	مِنْ ذَٰلِكَ	فَهُمْ
له دى ورور او خوره	سدس (شپږمه)	نو كه	وو	زيات	له دغه	نو دوى ټول سره

له دى (اخيافى) ورور او خوره سدس (شپږمه)، نو كه وو زيات له دغه (يو ورور او خور ښځه) نو دوى ټول سره

شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ دَيْنٍ

شُرَكَاءُ	فِي	الثُّلُثِ	مِنْ بَعْدِ	وَصِيَّةٍ	يُوصَىٰ	بِهَا	أَوْ دَيْنٍ
شريكان دى	په	دريمه كښى	وروسته له	وصيت چي	وصيت كولى سى	په هغه سره	يا پس (له)پوره

شريكان دى په ثلث (دريمى) كښى وروسته له (اداء كولو د) وصيت چي وصيت كولى سى په هغه سره يا پس (له)پوره

غَيْرَ مُضَارٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ⑫

غَيْرَ مُضَارٍّ	وَصِيَّةً	مِّنَ	اللَّهِ	وَ	اللَّهُ	عَلِيمٌ	حَلِيمٌ
په دى حال كښى چي نقصان ونه رسوى	وصيت	له (جانبه)	د الله	او	الله	ښه عالم دى	ډير تحمل والا

په دى حال كښى چي نقصان ونه رسوى نورو ته، وصيت له الله (وصيت كوى الله تاسى ته) او الله ښه عالم دى ډير تحمل والا

وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ

كَلَالَةً دكلاله ميراث : په دغه ليكوكي دكلاله ميراث بيان سوى دى دكلاله ډير تعريفونه سوي دي چي علامه قرطبي رحمة الله عليه په خپل تفسير كي نقل كړي دي مشهور تعريف يي دادى چي په لنډ تفسير كي ذكر دي چي دمړي نه اصول وي او نه يي فروع وي هغه كلاله ده صاحب دروح المعاني ليكي چي كلاله په اصل كي مصدر دى او دكلال معنى ده ستړى كيدل چي پر ضعف باندي دلالت كوي دپلار او زوى ښخه ماسوانورو قريبانو ته كلاله ويل كيږي ځكه چي دغه قرابت دپلار او زوى دقرابت په نسبت كمزورى وي بيا دكلاله اطلاق پر هغه مړي وسو دچا ښخه چي نه اولاد پاته وي او نه پلار او پر هغه وارث يي هم اطلاق وسوچي دمړي پلار او زوى نه وي دلغت په اعتبار سره چي يي كم اشتقاق وښووى ددي تقاضاداده چي لفظ د (ذو) دي دلته مقدر وي او كلاله به په معنى دذو كلالة واخلو يعني كمزورى قرابت والا بيا پر هغه ميراثي مال هم د ده اطلاق وسو چي داسي مړى يي پرېږدي چي زوى او پلار يي نه وي.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۲۷)

www.jamairahmani.org

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ

تِلْكَ	حُدُوْدُ	اللّٰهِ	وَمَنْ	يُّطِعِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	يُدْخِلْهُ
دا	حکمونه	دالله دی	او هر څوک	چې ومنی حکم	د الله	او د رسول د ده	نو داخل به کړي الله دغه

دا حکمونه دالله دی، او هر څوک چې ومنی حکم د الله او د رسول د ده نو داخل به کړي الله دغه (مطیع په هسې)

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْھٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ

جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْھٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا
په جنتونو کښې	چې بهیږی	لهلاندی د هغو	ویالی	همیشه به وی	په دی کښې

جنتونو کښې چې بهیږی لهلاندی د (ماڼیو او ونو د) هغو ویالی همیشه به وی (دوی) په دی (جنتونو) کښې،

وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑬ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

وَذٰلِكَ	الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ	وَمَنْ	يَّعْصِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ
او دا	مراد پیداکول دی	ډیرلوی	او هر څوک	چې نافرمانی کوی	دالله	او درسول د ده

او دا مراد موندل (بری) دی ډیرلوی، او هر څوک چې نافرمانی کوی دالله او د رسول د ده

وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۠

وَيَتَعَدَّ	حُدُوْدَهٗ	يُدْخِلْهُ	نَارًا	خَالِدًا	فِيْهَا
او وځی	لهحدودو د الله	نو داخل به کړی دغه	اورته	چې همیشه به وی	په هغه کښې

او وځی لهحدودو د الله نو داخل به کړي (الله) دغه (معتدی) اورته چې همیشه به وی (دی) په هغه (اور د دوزخ) کښې

وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ⑭ وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ

وَلَهٗ	عَذَابٌ	مُّهِيْنٌ	وَالّٰتِيْ	يَاْتِيْنَ	الْفَاحِشَةَ	مِنْ
او (سته) ده ته	عذاب	ډیر سپکونکی	او هغه ښځې	چې راځی	فاحشه ته	له

او (سته) ده ته عذاب ډیر سپکونکی. او هغه ښځې چې راځی فاحشه (دزنا قبیح کار) ته له

نِّسَاۗىِٕكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ

نِّسَاۗىِٕكُمْ	فَاسْتَشْهِدُوْا	عَلَيْهِنَّ	اَرْبَعَةً	مِّنْكُمْ	فَاِنْ
ښځو ستاسی	نو شاهدان وغواړئ	پر دوی باندی	څلورتنه	لهتاسی	نو که

ښځو ستاسی نو شاهدان وغواړئ (ای قاضیانو) پر دوی باندی څلورتنه لهتاسی (مسلمانانو څخه) نو که

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

دمیراث نور حکمونه:

مسلمان دکافر وارث نه سي جوړیدی که څه هم دمیراث تقسیم پر نسبي خپلولی باندي اینښوول سوی دی لیکن په دې کي ځني شیان داخل نه دي اول دا چي دچا څخه میراث اخیستل کیږي او هغه څوک چي میراث ورڅخه اخلي ددواړو دینونه به جلا جلا نه وي نو په دې وجه یو مسلمان دکافر څخه او کافر دمسلمان څخه میراث نه سي وړی برابره خبره ده که هر څومره نسبي قرابت هم ور سره ولري نبي کریم ﷺ فرمایي چي (لایرث المسلم الکافر ولاالکافر المسلم) مشکوة ص ۲۶۳ یعني مسلمان دکافر او کافر دمسلمان میراث نه سي وړلای لیکن که یو سړی داول څخه مسلمان وو بیا (نعوذ بالله) کافراومرتد سونو که داسي سړی مړسو یا قتل سو نو دده هغه مال چي داسلام په زمانه کي یې گټلی وودده مسلمانانو وارثانو ته به رسیږي اوکم مال چي یې تر مرتده کیدوو روسته گټلی وي هغه به په بیت المال کي جمع کیږي چاته به نه رسیږي هم دغه دشریعت حکم دی.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۳۲)

ع٢ ١٣

www.jamairahmani.org

شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ

شَهِدُوْا	فَاَمْسِكُوْهُنَّ	فِي الْبُيُوْتِ	حَتّٰى	يَتَوَفّٰهُنَّ
شاهدی وویله	نو بندی کړئ تاسی دا (ښځی)	په کوټو کښی	تر هغه پوری	چی وفاتی کاندی دوی

شاهدی وویله (شاهدانو پر زنا) نو بندی کړئ تاسی دا (ښځی) په کوټو کښی تر هغه پوری چی وفاتی کاندی دوی

الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾ وَالَّذٰنِ

الْمَوْتُ	اَوْ يَجْعَلَ	اللّٰهُ	لَهُنَّ	سَبِيْلًا	وَالَّذٰنِ
مرګ	یا وګرځوی	الله	دوی لره	کومه لاره د (خلاص له دی بنده)	او هغه دواړه سړی

مرګ یا وګرځوی (مقرر کړی) الله دوی لره کومه لاره د (خلاص له دی بنده). او هغه دواړه سړی

يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا

يَاْتِيٰنِهَا	مِنْكُمْ	فَاٰذُوْهُمَا	فَاِنْ	تَابَا	وَاَصْلَحَا
چی راځی دی ته	له تاسی	نو ایذاء ورسوئ دوی ته!	نو که	توبه ویستله دی دواړو	او اصلاح وکړه دواړو

چی راځی دی (قبیح کار ته) له تاسی نو ایذاء ورسوئ دوی ته! نو که توبه ویستله دی دواړو او اصلاح کړ دواړو (عمل خپل)

فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا

فَاَعْرِضُوْا	عَنْهُمَا	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	تَوَّابًا	رَّحِيْمًا	اِنَّمَا
نو څنګ وکړئ تاسی	له دی دواړو څخه	بیشکه!	چی الله	دی	ښه توبه قبلوونکی	ډیر رحم والا	بیشکه!

نو څنګ وکړئ تاسی له دی دواړو څخه، بیشکه! چی الله دی ښه توبه قبلوونکی ډیر رحم والا. بیشکه! (قبول د)

التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ

التَّوْبَةُ	عَلَى	اللّٰهِ	لِلَّذِيْنَ	يَعْمَلُوْنَ	السُّوْٓءَ	بِجَهَالَةٍ	ثُمَّ
(قبول د) توبی	پر	الله دی	دپاره د هغو کسانو	چی کوی دوی	ناکاره (بدی)	په ناپوهی سره	بیا

توبی په الله دی دپاره د هغو کسانو چی کوی دوی ناکاره (بدی) په ناپوهی سره (په دی حال چی په شان د ناپوهانو وی)، بیا

يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ

يَتُوْبُوْنَ	مِنْ قَرِيْبٍ	فَاُولٰٓئِكَ	يَتُوْبُ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ ؕ
توبه وباسی دوی	په نژدی زمانه کښی	نو دغه کسان	رجوع به کوی په رحمت سره	الله	پر دوی باندی

توبه وباسی دوی په نژدی زمانه کښی ، نو دغه کسان رجوع به کوی په رحمت سره الله په دوی باندی،

اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ

دتوبې تعريف او حقيقت

دلته يوه خبره دابيانيږي: چي توبه څه ته وايي؟ اوددې څه حقيقت اوڅه درجه ده امام غزالي رحمة الله عليه په احياءالعلوم کې فرمايي چي دګناه کولودري درجې دي اول دا چي هيڅ ګناه يي هم نه وي کړې داد ملايکو خاصيت دی يا دانبياء عليهم السلام دوهمه درجه داده چي ګناهونه کوي او هميشه والی هم باندي جاري وي هيڅکله هم پر دې باندي پښيماني او دپريښوولو خيال ورته نه راځي دا درجه دشيطانانو ده دريم مقام دانسانانودی چي ګناه ورڅخه کيږي او فورا پر پښيمانه کيږي او دآينده لپاره ددې دپريښوولو پوخ قصد کوي ددې څخه معلومه سوه چي دګناه کيدو څخه وروسته توبه نه کښل دا خالص دشيطانانو کار دی په دې وجه په اجماع اواتفاق دامت سره توبه فرض ده دقرآن مجيد داارشاددی (يأأيها الذين آمنوا توبوا الى الله توبة نصوحا عسى ربّكم ان يكفر عنكم سيئاتكم ويدخلكم جنت تجري من تحتها الانهر) چي ای مسلمانانو توبه وکاږی رښتيني توبه نو دا څه عجيبه نه ده چي الله جل جلاله ستاسي ګناهونه معاف کړي الخ.
معارف القرآن ج۲پ۴ص۲۴۳)

www.jamairahmani.org

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧﴾ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ

وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلِيمًا	حَكِيمًا	وَلَيْسَتِ	التَّوْبَةُ	لِلَّذِيْنَ
او دی	الله	ښه عالم	ښه حکمت والا	او نسته	قبول د توبې	لپاره د هغو کسانو

او دی الله ښه عالم ښه حکمت والا . او نسته (وعده د قبول د) توبې لپاره د هغو کسانو

يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ

يَعْمَلُوْنَ	السَّيِّاٰتِ	حَتّٰٓى	اِذَا	حَضَرَ	اَحَدَهُمُ	الْمَوْتُ
چې کوی دوی	ګناهونه	تر هغه پورې	چې	حاضر سی	یو د دوی ته	(اسباب د) مرګ

چې کوی دوی ګناهونه تر هغه پورې چې حاضر سی یو د دوی ته (اسباب د) مرګ

قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ

قَالَ	اِنِّيْ	تُبْتُ	الْـٰٔنَ	وَلَا الَّذِيْنَ	يَمُوْتُوْنَ	وَهُمْ
نو وائې	چې بیشکه!	ما توبه ویسته	اوس	او نه د پاره د هغو کسانو	چې دوی مره سی	حال دا چې دوی

نو وائې چې بیشکه! ما توبه ویسته او س او نه (قبلیدی سی توبه) د پاره د هغو کسانو چې دوی مره سی حال دا چې دوی

كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٨﴾ يٰٓاَيُّهَا

كُفَّارٌ	اُولٰٓئِكَ	اَعْتَدْنَا	لَهُمْ	عَذَابًا	اَلِيْمًا	يٰٓاَيُّهَا
کافران وی	دغه کسان	تیار کړی دی	موږ دوی ته	عذاب	درد ناک	ای!

کافران وی، دغه کسان (چې د کفر په حالت کښې مری) تیار کړی دی موږ دوی ته عذاب دردناک. ای !

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا يَحِلُّ	لَكُمْ	اَنْ	تَرِثُوا	النِّسَآءَ
هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی	نه دی حلال	تاسی لره	دا چې	په میراث به اخلئ تاسی	ښځې

هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی نه دی حلال تاسی لره دا (کار) چې په میراث به اخلئ تاسی ښځې

كَرْهًا ۚ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ

كَرْهًا	وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ	لِتَذْهَبُوْا	بِبَعْضِ	مَآ
په زور سره	او مه منع کوئ تاسی دا (ښځې)	لپاره د دې چې یوسئ تاسی	ځینې	د هغه مال

په زور سره ، او مه منع کوئ تاسی دا (ښځې) له پاره د دې چې یوسئ (ترې واخلئ) تاسی ځینې د هغه مال

لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا... تر اسلام مخکې پر ښځو د کیدونکو ظلمونو بندول

په دغه ایاتونو کې د هغه ظلمونو د بندیز بیان سوی دی چې تر اسلام مخکې پر دې نازک قسم یعنې ښځو باندې کیدل په دې کې یو ډیر لوی ظلم دا وو چې نارینه وو به ځانونه د ښځو د مال او جان مالکان ګڼل ښځه چې به چا په نکاح واخیسته نو ده به یې د روح او جان هم خپل ځان مالک ګڼی او د خاوند تر مرګ وروسته چې څنګه به وارثانو د دې د خاوند د مال ځانونه مالکان ګڼل دغسې به یې د دې ښځې هم خپل ځانونه مالکان ګڼل که یې غوښتلای نو په خپله به یې نکاح ورسره کوله یا به یې د بل څخه مال واخیستی او هغه ته به یې په نکاح ورکړه د خاوند زوی چې د بلې ښځې څخه به وو هغه به هم په نکاح اخیستله نو چې دوی یې د روح لا ځانونه مالکان ګڼل نو په مال کې خو بیخې هیڅ خبره لا هم نه وه هغه خو د دوی وو چې د دوی وو نو په دغه طریقه سره د جاهلیت په زمانه کې پر ښځو باندې مختلف مختلف په سوونو ظلمونه کیدل اسلام دغه ظلمونه بند او وغندل.

(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۴۸)

www.jamairahmani.org

اٰتَیْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ اَنْ یَّاْتِیْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ

اٰتَیْتُمُوْهُنَّ	اِلَّآ	اَنْ	یَّاْتِیْنَ	بِفَاحِشَةٍ	مُّبَیِّنَةٍ
چې ورکړي وي تاسې دوی ته	مګر	چې	راسي دوی	فاحش کار ته	ښکاره

چې ورکړي وي تاسې دوی ته (په مهر کښې) مګر چې راسي (وکړي) دوی فاحشه (زنا) ښکاره،

وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰٓى

وَعَاشِرُوْهُنَّ	بِالْمَعْرُوْفِ	فَاِنْ	كَرِهْتُمُوْهُنَّ	فَعَسٰٓى
او ګزران کوئ تاسې له دوی سره	په نیکي طریقې سره	پس که	خوښې نه وی ستاسې دا ښځې	نو (صبر وکړئ)

او ګزران کوئ تاسې (ای میړو) له دی (ښځو) سره په نیکي طریقې سره! پس که خوښې نه وی ستاسې دا ښځې

اَنْ تَكْرَهُوْا شَیْـًٔا وَّیَجْعَلَ اللّٰهُ فِیْهِ خَیْرًا كَثِیْرًا ⑲

اَنْ تَكْرَهُوْا	شَیْـًٔا	وَّیَجْعَلَ	اللّٰهُ	فِیْهِ	خَیْرًا	كَثِیْرًا
ښائي چې نه به خوښوئ تاسې	یو شې	حال دا چې ګرځولې به وی	الله	په دی شې کښې	خیر	ډیر

نو (صبر وکړئ) ښائي چې نه به خوښوئ تاسې یو شې حال دا چې ګرځولې به وی الله په دی شې کښې خیر ډیر.

وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَّاٰتَیْتُمْ

وَاِنْ	اَرَدْتُّمُ	اسْتِبْدَالَ	زَوْجٍ	مَّكَانَ	زَوْجٍ	وَّاٰتَیْتُمْ
او که	اراده وکړه تاسې	د بدلولو	دیوې ښځې	په ځای	دبلې ښځې	حال دا چې ورکړې وی تاسې

او که اراده وکړه تاسې د بدلولو د یوې ښځې په ځای د بلې ښځې (یوه طلاقه او بله نکاح کړی) حال دا چې ورکړې وی تاسې

اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَیْـًٔا

اِحْدٰىهُنَّ	قِنْطَارًا	فَلَا تَاْخُذُوْا	مِنْهُ	شَیْـًٔا
یوې ته د دوی	ډیر مال	نو مه اخلئ تاسې	له هغه مال څخه	هیڅ شې

یوې ته د دوی ډیر مال (په مهر کښې هم) نو مه اخلئ تاسې (ای میړونو) له هغه مال څخه هیڅ شې

اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِیْنًا ⑳ وَكَیْفَ

اَتَاْخُذُوْنَهٗ	بُهْتَانًا	وَّاِثْمًا	مُّبِیْنًا	وَكَیْفَ
آیا اخلئ به تاسې دغه (مال)	په ناحقه	او په ګناه	ښکاره (ظلم ظاهر سره)	او څرنګه به

آیا اخلئ به تاسې دغه (مال) په ناحقه او په ګناه ښکاره (ظلم ظاهر سره). او څرنګه به

اِلَّآ اَنْ یَّاْتِیْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ... داهغه ځینې صورتونه دي چې خاوند وښځې ته ورکړی مهریانور بیرته اخیستلای سي: معنی یې داده چې که دښځې څخه کم ښکاره بیکاره حرکت داسې وسي چې دهغه په وجه سړی په طلاق ورکولو مجبوره سي نو په داسې صورت کې باک نسته چې که خاوند تر هغه وخته پوري طلاق نه ورکوي تر څو پوري چې دا ښځه دده ورکړی مهر او نور واپس نه کي یا واجب الاداء مهر معاف نه کي او دلته دلفظ فاحشة یعني (بد نابنایسته) حرکت څخه مراد دحضرت ابن عباس رضی الله عنه او حضرت عایشة رضی الله عنها او حضرت ضحاک رحمة الله علیه او نورو په نزد دخاوند نافرماني او دخاوند سره بدزباني کول دي او دابو قلابه رحمة الله علیه او حسن بصري رحمة الله علیه په نزد دفاحشة څخه مراد دلته بې حیایي او زنا مراد ده نو معنی یې داسوه چې که ددې ښځو څخه دبې حیایي کار وسي او یا دوی په نافرمانی او بد زبانی سره راتلل کوي نو خاوند ته داحق حاصل دی چې خپل ورکړی مهر واپس ځني واخلي او دا تر هغه وخته په خپل نکاح کې بنده وساتي. (معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۵۰)

www.jamairahmani.org

تَأۡخُذُوۡنَهٗ وَقَدۡ اَفۡضٰى بَعۡضُكُمۡ اِلٰى بَعۡضٍ وَّاَخَذۡنَ

تَأۡخُذُوۡنَهٗ	وَقَدۡ	اَفۡضٰى	بَعۡضُكُمۡ	اِلٰى بَعۡضٍ	وَّاَخَذۡنَ
آخلئ تاسی هغه مال	حال داچي په تحقيق سره	رسيدلی دی	ځينی له تاسی	ځينو (نورو) ته	او اخيستی دی

آخلئ تاسی هغه مال حال داچي په تحقيق سره رسيدلی دی ځينی له تاسی ځينو (نورو) ته او اخيستی دی (ښځو)

مِنۡكُمۡ مِّيۡثَاقًا غَلِيۡظًا ﴿٢١﴾ وَلَا تَنۡكِحُوۡا مَا نَكَحَ

مِنۡكُمۡ	مِّيۡثَاقًا	غَلِيۡظًا	وَلَا تَنۡكِحُوۡا	مَا نَكَحَ
له تاسی څخه	عهد	کلک	او مه اخلئ تاسی په نکاح سره	هغه چي نکاح کړی دی

له تاسی څخه عهد کلک (په حق کښی). او مه اخلئ تاسی په نکاح سره هغه (ښځی) چي نکاح کړی دی

اٰبَآؤُكُمۡ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

اٰبَآؤُكُمۡ	مِّنَ	النِّسَآءِ	اِلَّا	مَا	قَدۡ سَلَفَ	اِنَّهٗ	كَانَ
پلرونو ستاسی	له	ښځو	مګر	هغه چي	پخوا له دی تير سوی دی	بيشکه! چي	دا (کار) دی

پلرونو ستاسی له ښځو مګر هغه چي پخوا له دی تير سوی دی، بيشکه! چي دا (کار) دی

فَاحِشَةً وَّمَقۡتًا ؕ وَسَآءَ سَبِيۡلًا ﴿٢٢﴾ حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ

فَاحِشَةً	وَّمَقۡتًا	وَسَآءَ	سَبِيۡلًا	حُرِّمَتۡ	عَلَيۡكُمۡ
فاحش	او ډير مبغوض	او بده (ده دا)	لاره (عرف ته)	حرامی کړی سوی دی	پر تاسی

فاحش (ډير ناکاره) او ډير مبغوض (شرعی ته)، او بده (ده دا) لاره (عرف ته). حرامی کړی سوی دی پر تاسی

اُمَّهٰتُكُمۡ وَبَنٰتُكُمۡ وَاَخَوٰتُكُمۡ وَعَمّٰتُكُمۡ وَخٰلٰتُكُمۡ

اُمَّهٰتُكُمۡ	وَبَنٰتُكُمۡ	وَاَخَوٰتُكُمۡ	وَعَمّٰتُكُمۡ	وَخٰلٰتُكُمۡ
میندی ستاسی	او لونی ستاسی	او خويندی ستاسی	او عمی ستاسی	او خالی ستاسی

میندی ستاسی او لونی ستاسی او خويندی ستاسی او عمی (تروريانی) ستاسی او خالی (توريانی) ستاسی

وَبَنٰتُ الۡاَخِ وَبَنٰتُ الۡاُخۡتِ وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِىۡۤ

وَبَنٰتُ	الۡاَخِ	وَبَنٰتُ	الۡاُخۡتِ	وَاُمَّهٰتُكُمُ	الّٰتِىۡۤ
او لونی	د ورور (ستاسی)	او لونی	د خور (ستاسی)	او میندی ستاسی	هغه چي

او لونی د ورور (وريری ستاسی) ، او لونی د خور (خورځی ستاسی) او میندی ستاسی هغه چي

وَلَا تَنۡكِحُوۡا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمۡ.. په دې ایاتونو کي دمحرماتو یعني دهغه ښځو دتفصيل بيان دی: دکومو سره چي نکاح حرامه ده بیا ځني محرماتي هغه دي چي په هيځ حال کي حلالي نه دي هغه ته دهميشه لپاره حرامي ويل کيږي او ځيني هغه محرماتي دي چي هميشه نه دي حرامي بلکي په ځينو حالاتو کي ورسره نکاح کول رواه ده دا اول درې قسمونه یعني محرّمات نسبي ، محرمات رضاعي ، محرمات بالمصاهرة ، داده هميشه لپاره حرامي دي او آخري يو قسم چي (دپنځمي سيپاري دسر څخه يي بيان شروع دی) دادبل په نکاح کي ښځي دي دوی تر هغه وخته پوري حرامي دي تر څو پوري چي دوی دبل په نكاح کي وي: وَلَا تَنۡكِحُوۡا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمۡ دجاهليت په زمانه کي په دې کي هيڅ باک نه وو او دپلار تر مرگ وروسته به دده ښځه زوی په نکاح کوله په دغه ايت کي الله ﷻ ددې بې شرمی او بې حيايي دکار څخه منع وفرمايله او دغه عمل يي دالله ﷻ يعني دخپل ذات دناراضی سبب وبولی : تفصيل په معارف القرآن کي وگوری.
(معارف القرآن ج۲ پ۴ ص ۲۵۴)

۳۱۴

www.jamairahmani.org

اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَاُمَّهٰتُ

اَرْضَعْنَكُمْ	وَاَخَوٰتُكُمْ	مِّنَ الرَّضَاعَةِ	وَاُمَّهٰتُ
تی ئی درکړی وی تاسی ته	او خویندی ستاسی	له جهته د تی رودلو	او میندی

تی ئی درکړی وی تاسی ته، او خویندی ستاسی له جهته د تی رودلو، او میندی

نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ

نِسَآئِكُمْ	وَرَبَآئِبُكُمُ	الّٰتِيْ	فِيْ حُجُوْرِكُمْ	مِّنْ نِّسَآئِكُمُ
د ښځو ستاسی	او پرکټیانی (بچندری) ستاسی	هغه چې	په غیږ ستاسی کښې دی	له ښځو ستاسی

د ښځو ستاسی او پرکټیانی ستاسی هغه چې په غیږو (په پرورش) ستاسی کښې دی، له ښځو ستاسی

الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ

الّٰتِيْ	دَخَلْتُمْ	بِهِنَّ	فَاِنْ	لَّمْ تَكُوْنُوْا	دَخَلْتُمْ	بِهِنَّ
هغه چې	دخول کړی وی تاسی	له دوی سره	پس که	نه وئ تاسی چې	دخول کړی دی تاسی	له دوی سره

هغه چې دخول (مجامعت) کړی وی تاسی له دوی سره پس نه وئ تاسی چې دخول (مجامعت) کړی دی تاسی له دوی سره

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ

فَلَا	جُنَاحَ	عَلَيْكُمْ	وَحَلَآئِلُ	اَبْنَآئِكُمُ	الَّذِيْنَ
نو نسته	هیڅ ګناه	پر تاسی باندی	او ښځې	د زامنو ستاسی	هغه چې

نو نسته هیڅ ګناه پر تاسی باندی (په نکاح) د پرکټیو کښې (بچندر) او ښځې د زامنو ستاسی هغه چې

مِنْ اَصْلَابِكُمْ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ

مِنْ	اَصْلَابِكُمْ	وَاَنْ	تَجْمَعُوْا	بَيْنَ	الْاُخْتَيْنِ
له	شاګانو ستاسی دی	او چې	جمع وکړئ	په مینځ	د دوه ؤ خویندو کښې (په نکاح کښې)

له شاګانو ستاسی (پیدا) دی، او (حرامی کړی سوی دی پر تاسی باندی) چې جمع وکړئ په مینځ د دوه ؤ خویندو کښې

اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٢٣﴾

اِلَّا	مَا قَدْ	سَلَفَ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا
مګر	هغه چې په تحقیق	پخوا تیری سوی دی	بیشکه!	چې الله	دی	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا

مګر هغه چې په تحقیق پخوا تیری سوی دی، بیشکه! چې الله دی ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا.

اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ.. د تي رودلو يا درضاعت مسئله: يعني دکومو ښځو چي تاسي شيدې رودلي يا چيښلي وي دغه هم دمور په حکم کي دي نکاح ورسره حرامه ده لږ شيدې وي او که ډيري يوواريي چيښلي وي او که ډير وارونه خو رضاعت په ثابتيږي او حرمت په راځي دې ته فقهاء رحمة الله عليهم حرمت رضاعت وايي البتّه دومره خبره ياد ساتل په کار دي چي درضاعت حراموالى دکوچنيوالي په زمانه کي په شيدو چيښلو سره راځي دنبي کريم ﷺ ارشاددى (انما الرضاعة من المجاعة) يعني درضاعت حراموالى دهغه وخت دشيدو په چيښلو سره ثابتيږي په کم وخت کي چي دکوچني نشو اونما په شيدوسره وي او دامودہ دامام صاحب رحمة الله عليه په نزدباندي دکوچني دپيدا کيدو څخه تر دوونيمو کالو پوري ده او دنورو فقهاوو رحمة الله عليهم په نزدچي امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهم هم په کښي شامل دي تر دوو کالوپوري ده اوپردې دامام محمد رحمة الله عليه فتوى هم ده که تر دې عمر وروسته يوه هلک يا انجلى ديوې ښځي تى ورودى حرمت نه ثابتيږي.
معارف القرآن ج٢ پ۴ ص ٢٥٥)

www.jamairahmani.org

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

وَّالْمُحْصَنٰتُ	مِنَ النِّسَآءِ	اِلَّا	مَا	مَلَكَتْ	اَيْمَانُكُمْ
او (حرامي کړی سوی دی پرتاسی) میړوښی له	له ښځو	مګر	هغه چي	مالکان سوی دی	راسته لاسونه ستاسی

او (حرامي کړی سوی دی پرتاسی) میړوښی له ښځو مګر هغه چي مالکان سوی دی (دهغو) ښی لاسونه ستاسی،

كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ

كِتٰبَ	اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	وَاُحِلَّ	لَكُمْ	مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ
(په) کتاب	دالله کښی دی	پرتاسی باندی	او حلالي کړی سوی دی	تاسی ته هغه	چي پرته له دوی څخه دی

(په) کتاب دالله کښی دی پر تاسی باندی، او حلالي کړی سوی دی تاسی ته (ټولی) چي پرته (علاوه) له دوی څخه دی

اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ

اَنْ	تَبْتَغُوْا	بِاَمْوَالِكُمْ	مُّحْصِنِيْنَ	غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ
چي	طلب وکړئ تاسی	په مالونو خپلو	په دی حال کښی چي ساتونکی سی	نه زنا کوونکی

چي طلب وکړئ تاسی (دهغو) په مالونو خپلو (مهر) په دی حال کښی چي ساتونکی سی، نه زنا کوونکی.

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ

فَمَا	اسْتَمْتَعْتُمْ	بِهٖ مِنْهُنَّ	فَاٰتُوْهُنَّ	اُجُوْرَهُنَّ
پس هر هغه ښځه	چي نفع واخیسته تاسی	په هغی سره له دوئ څخه	نو ورکړئ تاسی دوی ته	مهرونه د دوی

پس هر هغه ښځه چي نفع واخیسته تاسی په هغی سره له دوئ څخه نو ورکړئ تاسی دوی ته مهرونه د دوی په دی حال کښی

فَرِيْضَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ

فَرِيْضَةً	وَلَا جُنَاحَ	عَلَيْكُمْ	فِيْمَا	تَرٰضَيْتُمْ	بِهٖ	مِنْۢ بَعْدِ
چي فرض کړی سوی دی	او نسته ګناه	پر تاسی باندی	په هغه شی کښی	چي راضی سوی یئ تاسی	په هغه باندی	پس له

چي فرض کړی سوی دی او نسته ګناه پر تاسی باندی په هغه شی کښی چي راضی سوی یئ تاسی په هغه باندی پس له

الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ

الْفَرِيْضَةِ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَلِيْمًا	حَكِيْمًا	وَمَنْ	لَّمْ يَسْتَطِعْ
مقررولو (دمهر)	بیشکه!	چي الله	دی	ښه عالم	ډیر حکمت والا	او هغه څوک	چي توان نه لری

مقررولو (دمهر) بیشکه! چي الله دی ښه عالم ډیر حکمت والا. او هغه څوک چي توان نه لری

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ

يعني خاوندانو والا ښځي يی هم حرامي کړي دي:

تر څو پوري چي يوه ښځه دچا په نکاح کي وي بل سړی ددې سره نکاح نه سي کولای ددې څخه په واضح ډول دامعلومه سوه چي دېوې ښځي په يوه وخت کښي ډير خاوندان نه سي کيدلای ددې دور ځيني جاهلان او بې دينه خلګ وايي چي کله نارينه وو ته تر يوې زياتي ښځو کولو اجازت دی نو ښځو ته هم تر يوه د زياتو خاوندانو اجازه ورکول پکار ده دغه غوښتنه او مطالبه ددغه آيت شريف څخه بالکل خلاف ده، داسي دجهالت خبري کوونکي خلګ په دغه نه پوهيږي چي دسړي لپاره دښځو ډيروالی خو يو نعمت دی چي په هر ملت او مذهب کښي خو جايز ګڼل سوی دی او د انسان تاريخ پر دې شاهد دی ليکن دښځي لپاره په يوه وخت کي تر يوه زيات خاوندان کيدل ددې ښځي لپاره يو مصيبت دی او کم دوه خلګ چي ديوي ښځي لپاره خاوندان جوړسي دهغو لپاره څومره شرم او عار دی اوهمدغه شان دکوچني دنسب د ثابتيدو لپاره هم کمه لاره پاته نه سوه:

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۲)

www.jamairahmani.org

مِنۡكُمۡ طَوۡلًا اَنۡ يَّنۡكِحَ الۡمُحۡصَنٰتِ الۡمُؤۡمِنٰتِ

مِنۡكُمۡ	طَوۡلًا	اَنۡ	يَّنۡكِحَ	الۡمُحۡصَنٰتِ	الۡمُؤۡمِنٰتِ
له تاسی	له جهته د غناء	د دی چی	په نکاح واخلي	ازادی	مؤمنی ښځی

له تاسی له جهته د غناء د دی چی په نکاح واخلی اصیلی مؤمنی ښځی

فَمِنۡ مَّا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُكُمۡ مِّنۡ فَتَيٰتِكُمُ الۡمُؤۡمِنٰتِ ؕ

فَمِنۡ مَّا	مَلَكَتۡ	اَيۡمَانُكُمۡ	مِّنۡ	فَتَيٰتِكُمُ	الۡمُؤۡمِنٰتِ ؕ
نو له هغو ښځو	چی مالکان سوی دی	ښی لاسونه ستاسی	له	وینځو ستاسی	چی مؤمنی وی

نو (په نکاح دی واخلی) له هغو ښځو چی مالکان سوی دی (دهغو) ښی لاسونه ستاسی له وینځو ستاسی چی مؤمنی وی

وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِاِيۡمَانِكُمۡ ؕ بَعۡضُكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡضٍ ۚ

وَ	اللّٰهُ	اَعۡلَمُ	بِاِيۡمَانِكُمۡ	بَعۡضُكُمۡ	مِّنۡۢ بَعۡضٍ ۚ
او	الله ته	ښه معلوم دی	ایمان ستاسی	ځینی ستاسی	له ځینو نورو یئ!

او الله ته ښه معلوم دی ایمان ستاسی ځینی ستاسی له ځینو نورو یئ! (یعنی ټول د یوه پلار آدم اولاده یئ!)

فَانۡكِحُوۡهُنَّ بِاِذۡنِ اَهۡلِهِنَّ وَاٰتُوۡهُنَّ اُجُوۡرَهُنَّ

فَانۡكِحُوۡهُنَّ	بِاِذۡنِ	اَهۡلِهِنَّ	وَاٰتُوۡهُنَّ	اُجُوۡرَهُنَّ
نو په نکاح واخلئ وینځی	په اجازه	د خاوندانو د دوی	او ورکوئ تاسی دوی ته	مهرونه د دوی

نو په نکاح واخلئ (د بل چا) وینځی په اذن (حکم) د خاوندانو د دوی او ورکوئ تاسی دوی ته مهرونه د دوی

بِالۡمَعۡرُوۡفِ مُحۡصَنٰتٍ غَيۡرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ

بِالۡمَعۡرُوۡفِ	مُحۡصَنٰتٍ	غَيۡرَ مُسٰفِحٰتٍ	وَّلَا مُتَّخِذٰتِ
په ښه وجه سره	چی وی دوی عفیفی ساتلی سوی	چی نه وی زنا کوونکی په ښکاره	او نه وی نیوونکی

په معروف (په ښه وجه) سره چی وی دوی عفیفی ساتلی سوی له زنا چی نه وی زنا کوونکی په ښکاره او نه وی نیوونکی

اَخۡدَانٍ ۚ فَاِذَاۤ اُحۡصِنَّ فَاِنۡ اَتَيۡنَ بِفَاحِشَةٍ

اَخۡدَانٍ	فَاِذَاۤ	اُحۡصِنَّ	فَاِنۡ	اَتَيۡنَ	بِفَاحِشَةٍ
د پټو یارانو	نو کله چی	میړوښی (واده) کړی سوی دوی	پس که	راتله وکړه دوی	په فاحشه (زنا) سره

د پټو یارانو، نو کله چی میړوښی (واده) کړی سوی دوی پس که راتله وکړه دوی په فاحشه (زنا) سره

طَوۡلًا اَنۡ يَّنۡكِحَ الۡمُحۡصَنٰتِ

طـول قـدرت او غنـاء تـه ویل کیږي: دآیت مطلب دادی چي دچا چي دآزادو ښځو سره دنکاح کولو قدرت نه وي یا ور سره دومره سامان نه وي نو دمومنو مینځیانو سره نکاح کولای سي، ددې څخه معلومه سوه چي تر څو پوري چي ممکنه وي دآزادي ښځي سره نکاح کول پکاردي دمینځي سره دي نکاح نه کوي او که خامخا دمینځي سره نکاح کول غواړي نو بیا دي دمومني مینځي سره کوي دحضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دامذهب دی که چیری دآزداي ښځي سره یي دنکاح قدرت وي نو دمینځي سره نکاح کول یا دکتابي مینځي سره نکاح کول مکروه ده او دحضرت امام شافعي رحمة الله علیه او دنورو امامانو رحمة الله علیهم په نزد چي څوک دآزادي ښځي سره دنکاح دکولو قدرت لري نو دمینځو سره نکاح کول حرام دي ورته او دکتابي مینځي سره نکاح کول خو دوی مطلقا حرام بولي پر هر حال دآزاد سړي لپاره دمینځي سره دنکاح کولو څخه ځان ساتل ښه دي او که مجبوره وي نو بیا دي دمومني مینځي سره نکاح وکړي.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۰)

www.jamairahmani.org

فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَى الۡمُحۡصَنٰتِ مِنَ الۡعَذَابِ‌ؕ ذٰلِكَ

ذٰلِكَ	مِنَ الۡعَذَابِ	الۡمُحۡصَنٰتِ	عَلَى	مَا	نِصۡفُ	فَعَلَيۡهِنَّ
دا	له عذابه	اصيلو ښځو باندى دى	په	د هغه چي	نصف	نو دى په دوى باندى

نو دى په دوى باندى نصف د هغه چي په اصيلو ښځو باندى دى له عذابه دا (په نكاح اخيستل دوينځو)

لِمَنۡ خَشِىَ الۡعَنَتَ مِنۡكُمۡ‌ؕ وَاَنۡ تَصۡبِرُوۡا خَيۡرٌ لَّكُمۡ‌ؕ وَ اللّٰهُ

وَ اللّٰهُ	خَيۡرٌ لَّكُمۡ	تَصۡبِرُوۡا	وَاَنۡ	مِنۡكُمۡ‌ؕ	الۡعَنَتَ	خَشِىَ	لِمَنۡ
او الله	خير دى تاسى ته	صبر وكړئ تاسى	او داچي	له تاسى څخه	له ضرره	چي بيريږى	دپاره د هغه چا دى

دپاره د هغه چا دى چي بيريږى له ضرره له تاسى څخه او داچي صبر وكړئ تاسى (له وينځو) خير دى تاسى ته او الله

غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۲۵ يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمۡ وَيَهۡدِيَكُمۡ

وَيَهۡدِيَكُمۡ	لَكُمۡ	لِيُبَيِّنَ	اللّٰهُ	يُرِيۡدُ	رَّحِيۡمٌ	غَفُوۡرٌ
او وښيي تاسى ته	تاسى ته	چي بيان كړى	الله	اراده لرى	ډير رحم والا	ښه مغفرت كوونكى دى

ښه مغفرت كوونكى دى ډير رحم والا. اراده لرى الله چي بيان كړى تاسى ته (شرعى احكام) او وښيي تاسى ته

سُنَنَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ وَيَتُوۡبَ عَلَيۡكُمۡ‌ؕ وَ اللّٰهُ

وَ اللّٰهُ	عَلَيۡكُمۡ	وَيَتُوۡبَ	مِنۡ قَبۡلِكُمۡ	الَّذِيۡنَ	سُنَنَ
او الله	پر تاسى باندى	او رجوع وكړى په رحمت سره	چي پخوا له تاسى وو	د هغو كسانو	لاره

لاره د هغو كسانو چي پخوا له تاسى وو ، او رجوع وكړى په رحمت سره پر تاسى باندى او الله

عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ۲۶ وَ اللّٰهُ يُرِيۡدُ اَنۡ يَّتُوۡبَ عَلَيۡكُمۡ‌ قف

عَلَيۡكُمۡ‌ قف	اَنۡ يَّتُوۡبَ	يُرِيۡدُ	اللّٰهُ	وَ	حَكِيۡمٌ	عَلِيۡمٌ
پر تاسى باندى	چي رجوع وكړى په رحمت سره	اراده لرى	الله	او	ښه حكمت والا	ښه عالم دى

ښه عالم دى ښه حكمت والا . او الله اراده لرى چي رجوع وكړى په رحمت سره پر تاسى باندى

وَيُرِيۡدُ الَّذِيۡنَ يَتَّبِعُوۡنَ الشَّهَوٰتِ اَنۡ تَمِيۡلُوۡا مَيۡلًا

مَيۡلًا	تَمِيۡلُوۡا	اَنۡ	الشَّهَوٰتِ	يَتَّبِعُوۡنَ	الَّذِيۡنَ	وَيُرِيۡدُ
په كږيدلو	كاږه سئ تاسى	د دى چي	د شهواتو	چي متابعت كوى	هغه كسان	او اراده لرى

او اراده لرى هغه كسان چي متابعت كوى د شهواتو د دى چي كاږه سئ تاسى (د حق له لارى څخه) په كږيدلو ډيرو

ذٰلِكَ لِمَنۡ خَشِىَ الۡعَنَتَ

فايده: دلوړو اياتونو په تفسير كښي چي كوم دمينځيانو او مريانو ذكر راغلى دى ددي څخه مراد شرعي مينځه او مريي دي كم چي دجهاد په نتيجه كښي به مسلمانانو مجاهدينو يو كافر سړى يا كافره ښځه په قيد كښي دځان سره بوتلل او دمومنانو امير به جهاد كوونكوته په تقسيم كښي وركړل دابنديان به مريان او مينځي جوړيدل او بيا به د دوى نسل هم غلامان وه (خو ځيني صورتونه ورڅخه مستثنى هم وه چي تفصيل يي دفقهي په كتابونو كي موجود دى) دكوم وخت څخه چي مسلمانانو په شرعي ډول سره جهاد كول پري ايښي دي او دخپل جهاد او صلح او جنګ دار او مدار يي ددين ددښمنانو په اشارو باندي ايښى دى دغير شرعي اصولو پابنده سوي دي دهغه وخت څخه دمريانو او مينځو څخه هم محرومه سوي دي دغه موجوده نوكران او مزدوران نارينه او په كورونو كښي خدمت كوونكي نوكراني ښځي مينځي او مريان نه دي دوى شرعا آزاد دي په ځينو علاقو كښي كوچنيان خرڅول كيږي او مريان ځني جوړيږي دا ټوله حرام دي.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۲)

ع ۱

www.jamairahmani.org

عَظِيۡمًا ﴿۲۷﴾ يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ يُّخَفِّفَ عَنۡكُمۡ ۚ وَخُلِقَ

عَظِيۡمًا	يُرِيۡدُ	اللّٰهُ	اَنۡ يُّخَفِّفَ	عَنۡكُمۡ	وَخُلِقَ
ډیرو لویو او لری سره	اراده لری	الله	د دی چې سپک کړی	له تاسې څخه	او پیدا کړی سوی دی

ډیرو لویو او لری سره. اراده لری الله د دی چې سپک کړی (بار) له تاسې څخه، او پیدا کړی سوی دی

الۡاِنۡسَانُ ضَعِيۡفًا ﴿۲۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَاۡكُلُوۡۤا

الۡاِنۡسَانُ	ضَعِيۡفًا	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	لَا تَاۡكُلُوۡۤا
انسان	ضعیف	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئی راوړی دی	مه خورئ تاسې

انسان ضعیف (کمزوری)، ای هغو کسانو چې ایمان ئی راوړی دی مه خورئ تاسې!

اَمۡوَالَـكُمۡ بَيۡنَكُمۡ بِالۡبَاطِلِ اِلَّاۤ اَنۡ تَكُوۡنَ تِجَارَةً

اَمۡوَالَـكُمۡ	بَيۡنَكُمۡ	بِالۡبَاطِلِ	اِلَّاۤ اَنۡ	تَكُوۡنَ	تِجَارَةً
مالونه د یو بل	په خپل مینځ کښی	په ناروا سره	مګر که	وی دا	تجارت

مالونه د یو بل په منځونو کښی په ناروا سره! مګر (خورئ یی) که وی دا (مالونه چې خورئ ئی اموال د) تجارت

عَنۡ تَرَاضٍ مِّنۡكُمۡ ۚ وَلَا تَقۡتُلُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

عَنۡ تَرَاضٍ	مِّنۡكُمۡ	وَلَا تَقۡتُلُوۡۤا	اَنۡفُسَكُمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ
په خوښی سره	له تاسو نه	او مه وژنئ تاسې سره	ځانونه خپل	بیشکه!	چې الله

(چې صادروی) په خوښی سره له تاسو نه، او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل، بیشکه! چې الله

كَانَ بِكُمۡ رَحِيۡمًا ﴿۲۹﴾ وَمَنۡ يَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ عُدۡوَانًا

كَانَ	بِكُمۡ	رَحِيۡمًا	وَمَنۡ	يَّفۡعَلۡ	ذٰلِكَ	عُدۡوَانًا
دی	پر تاسې باندی	ډیر مهربان	او هر څوک چې	وکړی	دغه	په تیریدلو سره له حقه

دی پر تاسې باندی ډیر مهربان. او هر څوک چې وکړی دغه (تیر منهیات) په تیریدلو سره له حقه

وَّظُلۡمًا فَسَوۡفَ نُصۡلِيۡهِ نَارًا ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيۡرًا ﴿۳۰﴾

وَّظُلۡمًا	فَسَوۡفَ	نُصۡلِيۡهِ	نَارًا	وَكَانَ	ذٰلِكَ	عَلَى	اللّٰهِ	يَسِيۡرًا
او په ظلم سره	نو ژر به موږ	داخل کړو دی	اورته	او دی	دا	پر	الله	باندی ډیر آسان

او په ظلم (تعدی) سره نو ژر به موږ داخل کړو دی اور (دوزخ) ته او دی دا (اورته د دوی ننه ایستل) پر الله باندی ډیر آسان.

يٰۤاَيُّهَا الَّـذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَاۡكُلُوۡۤا: لکه څنګه چې په باطله طریقه دبل مال خوړل جایز نه دي همدا شان خپل مال هم په باطله طریقه خوړل جایز نه دي:
دآیت مبارکه په الفاظو کې د (اَمۡوَالَـكُمۡ بَيۡنَكُمۡ) لفظ راغلی دی چې معنی یې داده (خپل مال په خپل مینځ کښې) په دې کې داخبره په اتفاق دمفسرینو داخله ده چې څوک چې دی خپل مال هم په ناجایزه طریقه سره نه خوري مثلا چې په داسې کارونو کښې یې خرڅ کوی چې شرعا ګناه یابې ځایه اسراف وي نو دا هم ددې آیت په وجه سره منع او ناجایز دي په آیت کښې د (لَا تَاۡكُلُوۡۤا) لفظ راغلی دی چې معنی یې ده (مه خوری) لیکن دعامې محاورې په اعتبار سره ددې معنی داده چې دنورو په مال کښې بې ځایې او په ناحقه ډول سره هیڅ قسم تصرف مه کوی برابره خبره ده که دخوړلو او چیښلوشی وي او که داستعمال وي په عام عرف کښې د یو چاپه مال کښې تصرف کولو ته خوړل وایې که څه هم هغه شی دخوراک نه وي په دې کښې غلا، لوټ مار، غصب، خیانت، رشوت، سود، او خمار، ټولي فاسدې معاملې داخلې دي:
(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۶)

www.jamairahmani.org

إِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ

إِنْ	تَجْتَنِبُوْا	كَبَآئِرَ مَا	تُنْهَوْنَ	عَنْهُ	نُكَفِّرْ
كه	ځان وساتئ تاسي	له لويو د هغه ګناهونو څخه	چې منع کولی شئ تاسي	له هغو څخه	نو لرې به کړو موږ

كه ځان وساتئ تاسي له لويو د (هغو) ګناهونو څخه چې منع کولی شئ تاسي له هغو څخه نو لرې به کړو موږ

عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿٣١﴾

عَنْكُمْ	سَيِّاٰتِكُمْ	وَنُدْخِلْكُمْ	مُّدْخَلًا	كَرِيْمًا
له تاسي څخه	ګناهونه ستاسي	او ننه به باسو موږ تاسي	په ځای د ننوتلو	ډير ښه کښي

له تاسي څخه (صغيره) ګناهونه ستاسي او ننه به باسو موږ تاسي په ځای ډير ښه کښي (جنت ته) .

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۭ

وَلَا تَتَمَنَّوْا	مَا فَضَّلَ	اللّٰهُ	بِهٖ بَعْضَكُمْ	عَلٰى بَعْضٍ
او ارمان (آرزو) مه کوئ تاسي	دهغه شي چې غوره ګرځولی دی	الله	په هغه شي سره ځينې له تاسي	پر ځينو نورو

او ارمان مه کوئ تاسي دهغه شي چې غوره ګرځولی دی الله په هغه شي سره ځينې له تاسي پر ځينو نورو

لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ۭ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ

لِلرِّجَالِ	نَصِيْبٌ	مِّمَّا	اكْتَسَبُوْا	وَلِلنِّسَآءِ	نَصِيْبٌ
سته نارينه ؤ لره	نصيب (برخه)	په سبب د هغه عمل	چې کړی وی دوی	او سته ښځو لره	نصيب (برخه)

سته نارينه ؤ لره نصيب (برخه) په سبب د هغه عمل چې کړی وی دوی او سته ښځو لره نصيب (برخه)

مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۭ وَسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

مِّمَّا	اكْتَسَبْنَ	وَسْئَلُوا	اللّٰهَ	مِنْ فَضْلِهٖ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ
په سبب د هغه عمل	چې کړی وی دوی	او سؤال کوئ تاسي	له الله	له فضل د ده	بيشکه !	چې الله	دی

په سبب د هغه عمل چې کړی وی دوی او سؤال کوئ تاسي له الله څخه له فضل د ده (او مهرباني) ، بيشکه! چې الله دی

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿٣٢﴾ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ

بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيْمًا	وَلِكُلٍّ	جَعَلْنَا	مَوَالِيَ	مِمَّا	تَرَكَ
پر هر شي	ښه عالم	او د پاره د هر يوه	ګرځولی دی موږ	وارثان	له هغه چې	پريښی وی

پر هر شي ښه عالم (ډير دانا). او د پاره د هر يوه (له نارينه ؤ او ښځو) ګرځولی دی موږ وارثان له هغه چې پريښی وی

(اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ) د ګناهونو دوه قسمونه: ددې آيت څخه معلومه سوه چې ګناهونه دوه قسمه دي کبيره يعني لوی ګناهونه او صغيره يعني کوچني ګناهونه او دا هم معلومه سوه که يو سړی همت وکړي او دلويو ګناهونو څخه ځان وساتي نو د الله ﷻ وعده ده چې دده کوچني ګناهونه به هغه په خپله معاف کړي او د کبيره ګناهونو څخه په ځان ساتلو کښي دا هم داخله ده چې ټول فرايض او واجبات به اداء کوي ځکه چې ديوه فرض يا واجب د اداء کولو پريښوول په خپله کبيره ګناه ده نو حاصل دا سو چې کم سړی ددې خبرې پوره اهتمام وکړي چې ټول فرايض او واجبات اداء کوي او د ټولو کبيره ګناهونو څخه ځان ساتي نو الله ﷻ به دده کوچني ګناهونه معاف کړي او درګذر به ورته وکړي: او د کفارې مطلب دادی چې دده په نيکو عملونو به دده صغيره ګناهونه ختم کړي او حساب به ورته پرېږدي او پر ځای د عذاب به ورته ثواب ورکړي او پر ځای د جهنم به ورته جنت ورکړی لکه چې په احاديثو کې چې دا مضمون راغلی دی.

(معارف القرآن ج ٢ پ ۵ ص ٢٠)

www.jamairahmani.org

الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ۭ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ

الْوَالِدٰنِ	وَالْاَقْرَبُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	عَقَدَتْ	اَيْمَانُكُمْ
مور او پلار	او نورو اقاربو	او هغه کسان	چي غوټه سوي دي	قسمونه ستاسي

مور او پلار او نورو اقاربو (خپلوانو) او هغه کسان چي غوټه سوي دي قسمونه ستاسي (په دوستی د دوی)

فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

فَاٰتُوْهُمْ	نَصِيْبَهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ
نو ورکوئ	نصيب (برخه) د دوی	بيشکه! چي	الله	دی	پر	هر	شي باندی

نو ورکوئ نصيب (برخه) د دوی بيشکه! چي الله دی پر هر شي باندی

شَهِيْدًا ۟ۧ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ

٥ ع٨ ٢

شَهِيْدًا	اَلرِّجَالُ	قَوّٰمُوْنَ	عَلَى	النِّسَآءِ	بِمَا	فَضَّلَ
ښه خبردار	سړي	حاکمان دی	پر	ښځو باندی	په سبب د دی	چي فضيلت ورکړی دی

ښه خبردار. سړي حاکمان (مقرر سوی) دی پر ښځو باندی په سبب د دی چي فضيلت (لوئی) ورکړی دی

اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ۭ

اللّٰهُ	بَعْضَهُمْ	عَلٰى	بَعْضٍ	وَّبِمَآ	اَنْفَقُوْا	مِنْ	اَمْوَالِهِمْ
الله	ځيني د دوی ته	پر	ځينو نورو باندی	او په سبب د دی	چي نفقه کوی دوی	له	مالونو خپلو

الله ځيني د دوی ته پر ځينو نورو باندی او په سبب د دی چي نفقه (لګښت) کوی دوی (پردغو ښځو) له مالونو خپلو

فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ

فَالصّٰلِحٰتُ	قٰنِتٰتٌ	حٰفِظٰتٌ	لِّلْغَيْبِ	بِمَا	حَفِظَ
نو هغه ښځي چي نيکی دی	حکم منونکی دی	ساتونکی دی	په غياب د ميړونو	په سبب د هغه	چي ساتلی دی

نو هغه ښځي چي نيکی دی حکم منونکی دی ساتونکی دی په غياب (غيب) د ميړونو (خپلو) په سبب د هغه چي ساتلی دی

اللّٰهُ ۭ وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي

اللّٰهُ	وَالّٰتِيْ	تَخَافُوْنَ	نُشُوْزَهُنَّ	فَعِظُوْهُنَّ	وَاهْجُرُوْهُنَّ	فِي
الله	او هغه ښځي	چي بيريږی تاسی	له سرکشی د دوی څخه	نو نصيحت وکړئ دوی ته	او پريږدئ تاسی دوی	په

الله (دوی)، او هغه ښځي چي بيريږی تاسی له سرکشی د دوی څخه نو نصيحت وکړئ دوی ته او پريږدئ تاسی دوی په

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ... نارينه پر ښځو باندي حاکمان دي په دوو وجهو سره : يوه هغه وجه ده چي ده الله جل جلاله ورکړه ده او دچادعمل په دې کي دخل نسته دوهمه کسبي وجه ده چي عمل لره په کښې دخل سته نو. **اوله وجه** يي داسي وښووله **بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ** يعني الله جل جلاله په دنيا کښي په خپل خاص حکمت او مصلحت سره يوه ته پر بل باندي لويي اوبرتري ورکړي ده څوک يي افضل او څوک يي مفضول جوړ کړی دی يعني (پرده بل شی ښه کړی سوی) لکه يو خاص کور الله جل جلاله خپل کور بيت الله او قبله مقرره کړه او بيت المقدس ته يي خاص فضيلت ورکړی دغه ډول دنارينه وو حاکميت هم يو خدای ورکړی شی دی چي دنارينه وو کم کوشش او عمل يا دښځو کوتاهي او بې عملي لره څه دخل په کښي نسته : **دوهمه وجه:** يي کسبي او اختياري ده چي سړی خپل مال پر ښځه باندي خرڅ کوي مهرادا ءکوي او ددې ټولو ضروریاتو ذمه داري سرته رسوي په دغه دوو وجهو سره يي دوی حاکمان کړي دي پرښځو باندي.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۳۳)

www.jamairahmani.org

اَلۡمَضَاجِعِ وَاضۡرِبُوۡهُنَّ‌ۚ فَاِنۡ اَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُوۡا

اَلۡمَضَاجِعِ	وَاضۡرِبُوۡهُنَّ	فَاِنۡ	اَطَعۡنَكُمۡ	فَلَا تَبۡغُوۡا
په ځای د خوب کې	او ووهئ تاسې دوی	نو که	اطاعت ئې وکړ تاسو ته	نو مه لټوئ تاسې

ځای د خوب کې (که په نصیحت سمې نسوی) او ووهئ تاسې دوی، نو که اطاعت ئې وکړ تاسو ته نو مه لټوئ تاسې

عَلَيۡهِنَّ سَبِيۡلًا‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيۡرًا ﴿۳۴﴾ وَاِنۡ

عَلَيۡهِنَّ	سَبِيۡلًا	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَلِيًّا	كَبِيۡرًا	وَاِنۡ
پر دوی باندی	لاره	بیشکه!	الله	دی	ډیر پورته	ډیر لوی	او که

پر دوی باندی لاره (دضرر او اذیت) بیشکه! الله دی ډیر پورته ډیر لوی (له ټولو اشیاؤ). او که

خِفۡتُمۡ شِقَاقَ بَيۡنِهِمَا فَابۡعَثُوۡا حَكَمًا مِّنۡ اَهۡلِهٖ

خِفۡتُمۡ	شِقَاقَ	بَيۡنِهِمَا	فَابۡعَثُوۡا	حَكَمًا	مِّنۡ	اَهۡلِهٖ
ییریږئ تاسی	له مخالفت څخه	په مینځ د میړه او ښځی کښی	نو ورولیږئ	یو انصاف کوونکی	له	خپلوانو د دی سړی

ییریږئ تاسی له مخالفت څخه په مینځ د میړه او ښځی کښی نو ورولیږئ (مقرر کړئ تاسی) یو منصف له خپلوانو د دی سړی

وَحَكَمًا مِّنۡ اَهۡلِهَا‌ۚ اِنۡ يُّرِيۡدَاۤ اِصۡلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ

وَحَكَمًا	مِّنۡ	اَهۡلِهَا	اِنۡ يُّرِيۡدَاۤ	اِصۡلَاحًا	يُّوَفِّقِ	اللّٰهُ
او بل انصاف کوونکی	له	خپلوانو د دی ښځی څخه	که اراده لری دغه	د اصلاح	نو موافقت به پیدا کړی	الله

او بل منصف له خپلوانو د دی ښځی څخه، که اراده لری دغه (زوجین) د اصلاح نو موافقت به پیدا کړی الله

بَيۡنَهُمَا‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا خَبِيۡرًا ﴿۳۵﴾ وَاعۡبُدُوا اللّٰهَ

بَيۡنَهُمَا	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَلِيۡمًا	خَبِيۡرًا	وَاعۡبُدُوا	اللّٰهَ
د دغو په مینځ کښی	بیشکه!	الله	دی	ښه عالم	ښه خبردار	او عبادت کوئ تاسی	د الله

د دغو (زوجینو) په مینځ کښی بیشکه! الله دی ښه عالم ښه خبردار. او عبادت کوئ تاسی د الله!

وَلَا تُشۡرِكُوۡا بِهٖ شَيۡـئًا وَّبِالۡوَالِدَيۡنِ اِحۡسَانًا وَّبِذِى

وَلَا تُشۡرِكُوۡا	بِهٖ	شَيۡـئًا	وَّبِالۡوَالِدَيۡنِ	اِحۡسَانًا	وَّبِذِى
او مه شریکوئ تاسی	له ده سره	هیڅ شی	او له مور او پلار سره	په نیکی کولو	او له خاوندانو

او مه شریکوئ تاسی له ده سره هیڅ شی! او (نیکی کوئ) له مور او پلار سره په نیکی کولو او له خاوندانو

وَاضۡرِبُوۡهُنَّ فَاِنۡ اَطَعۡنَكُمۡ: نافرمانه ښځه او دهغې داصلاح طریقه:
دلته دهغه ښځو ذکر دی کومي چي دخپلو خاوندانو نافرماني دي او یادکومو ښځه چي دخپل خاوند په حق کښي کوتاهیاني کیږي قرآن کریم ددوی داصلاح لپاره پرلپسي درې طریقي بیان کړي دي او ښوولي دي اوفرمایي چي (واللّٰتی تخافون نشوزهنّ فعظوهنّ واهجروهنّ فی المضاجع واضربوهنّ) یعني دښځوله طرفه څخه که دنافرمانی بیره وي نو اوله درجه داصلاح یې داده چي په نرمی سره دې خاوند پوه کړي خو که په دي پوهولو باندي څه ونه سوه نو دوهمه درجه یې داصلاح داده چي ددوی بستره دځانه څخه جلا کړي چي دوی ستاسي په خفګان پوه سي او ددغه بدعمله به راوګرځي: دقرآن کریم په الفاظو کي د (فی المضاجع) لفظ دی ددې څخه فقهاوو رحمهم الله دا مطلب را ایستلی دی چي جدایي به یوازي په بستره کښي وي دځای جدایي به نه کوي چي وطاق هم بدل کړي ځکه چي په دې کښي دزیات خفګان او فساد بیره ده چي نوربه هم خوابدی زیات سي، ښه داده چي صرف بستره ځینی جداء سئ:
(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص۳۵)

www.jamairahmani.org

الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِى الْقُرْبٰى

الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى	وَالْمَسٰكِيْنِ	وَالْجَارِ	ذِى الْقُرْبٰى
دخپلوی سره	او یتیمانو سره	او له مسکینانو سره	او له همسایه گانو سره	چی قریب وی

دخپلوی سره او (نیکی کوئ!) د یتیمانو سره او له مسکینانو سره او له همسایه گانو سره چی قریب وی

وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ

وَالْجَارِ	الْجُنُبِ	وَالصَّاحِبِ	بِالْجَنْۢبِ	وَابْنِ السَّبِيْلِ
او له همسایه سره	چی لیری وی	او له هغه ملگری سره	چی په څنگ کښی وی	او له مسافره سره

او له همسایه سره چی بعید وی، او له هغه ملگری سره چی په څنگ کښی وی او له مسافره سره

وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ

وَمَا	مَلَكَتْ	اَيْمَانُكُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	مَنْ كَانَ
او له هغو	سره چی مالکان وی	ښی لاسونه ستاسی	بیشکه! چی	الله	نه خوښوی	هغه څوک چی وی

او له هغو (وینځو، مریو) سره چی مالکان وی (ورله) ښی لاسونه ستاسی، بیشکه! چی الله نه خوښوی هغه څوک چی وی

مُخْتَالًا فَخُوْرَا ۟ۙ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ

مُخْتَالًا	فَخُوْرًا	الَّذِيْنَ	يَبْخَلُوْنَ	وَيَاْمُرُوْنَ
کبر کوونکی	ډیر فخر کوونکی	هغه کسان	چی بخیلی کوی دوی	او امر کوی

کبر کوونکی ډیر فخر کوونکی. هغه کسان چی بخیلی کوی دوی او امر کوی

النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُوْنَ مَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ

النَّاسَ	بِالْبُخْلِ	وَيَكْتُمُوْنَ	مَاۤ اٰتٰهُمُ	اللّٰهُ	مِنْ
(نورو) خلگو ته	په بخیلی سره	او پټوی دوی	هغه شی چی ورکړی دی دوی ته	الله	له

(نورو) خلگو ته (هم) په بخیلی سره او پټوی دوی هغه شی چی ورکړی دی دوی ته الله له

فَضْلِهٖ ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۟ۚ

فَضْلِهٖ	وَاَعْتَدْنَا	لِلْكٰفِرِيْنَ	عَذَابًا	مُّهِيْنًا
مهربانی خپلی	او تیار کړی دی موږ	کافرانو ته	عذاب	سپکوونکی

مهربانی خپلی او تیار کړی دی موږ کافرانو ته عذاب سپکوونکی.

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ
دیتیم او مسکین حق: په دریم نمبر کي د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی **وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ** چي دیتیمانو او مسکینانو سره ښه سلوک کوی دمسکینانو او یتیمانو دحقوقو پوره بیان که څه هم دسورت په شروع کښي راغلی دی لیکن بیا دوی دقریبانو سره ذکر کول دې طرف ته اشاره کوي چي دلاوارثه کوچنیانو او بې چاره خلگو کومک کول هم داسي ضروري وگڼی لکه دخپلو قریبانو کومک چي کوی په څلورم نمبر کښي ارشاد فرمايي **وَالْجَارِ ذِى الْقُرْبٰى** او په پنځم نمبر کښي ارشاد دی **وَالْجَارِ الْجُنُبِ** دجار معنی ده همسایه: په دې آیت کښي ددې دوو قسمونو بیان سوی دی یو جار ذی القربی او بل جار جنب ددې دواړه قسمونو په تشریح او تفسیر کښي دصحابه کرامو رضي الله عنهم قولونه مختلف دي عام مفسرین وايي چي دجار ذی القربی څخه مراد هغه همسایه دی چي ستا دکور سره یي متصل کور وي او دجار جنب څخه هغه همسایه مراد دی چي ستا دکور څخه يي په يو څه فاصله کښي کور وي.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۴۶)

www.jamairahmani.org

وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ

وَالَّذِيْنَ	يُنْفِقُوْنَ	اَمْوَالَهُمْ	رِئَآءَ	النَّاسِ	وَلَا يُؤْمِنُوْنَ
او نه (خوښوي الله) هغه کسان	چي خرڅوي دوی	مالونه خپل	له پاره د ښوونی	خلګو ته	او نه لري ايمان

او نه (خوښوي الله) هغه کسان چي خرڅوي دوی مالونه خپل له پاره د ښوونی خلګو ته او نه لري ايمان

بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا

بِاللّٰهِ	وَلَا بِالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	وَمَنْ	يَّكُنِ	الشَّيْطٰنُ	لَهٗ	قَرِيْنًا
په الله باندی	او نه په ورځ	آخری (دقيامت) باندی	او هر څوک	چي وی	شيطان	ده لره	ملګری

په الله باندی او نه په ورځ آخری (دقيامت) باندی او هر څوک چي وی شيطان ده لره ملګری

فَسَآءَ قَرِيْنًا ﴿۳۸﴾ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ

فَسَآءَ	قَرِيْنًا	وَمَاذَا	عَلَيْهِمْ	لَوْ اٰمَنُوْا	بِاللّٰهِ
نو بد	ملګری دی	او څه نقصان به ؤ	په دی کفارو	که ايمان راوړی وی دوی	په الله

نو بد ملګری دی (داشيطان). او څه نقصان به ؤ په دی کفارو (باندی) که ايمان راوړی وی دوی په الله

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	وَاَنْفَقُوْا	مِمَّا	رَزَقَهُمُ	اللّٰهُ	وَكَانَ	اللّٰهُ
او په ورځ	آخره باندی	او خرڅ کړی وی دوی	ځينی دهغه شی	چي روزی ورکړی ده دوی لره	الله	او دی	الله په

او په ورځ آخره (دقيامت) باندی او خرڅ کړی وی دوی ځينی دهغه شی چي روزی کړی دی دوی لره الله او دی الله په

بِهِمْ عَلِيْمًا ﴿۳۹﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ

بِهِمْ	عَلِيْمًا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَظْلِمُ	مِثْقَالَ	ذَرَّةٍ	وَاِنْ
دوی باندی	ښه عالم	بيشکه! چي	الله	نه کوی ظلم	په اندازه	د يو ی ذری	او که وی

(ټولو اعمالو د) دوی باندی (هم) ښه عالم. بيشکه! چي الله نه کوی ظلم په اندازه د يو ی ذری او که وی

تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۴۰﴾

تَكُ	حَسَنَةً	يُّضٰعِفْهَا	وَيُؤْتِ	مِنْ	لَّدُنْهُ	اَجْرًا	عَظِيْمًا
دا	نيکی	دوه چنده به کړی هغه	او وربه کړی	له	نزده خپله	ثواب	ډير لوی

دا (ذره) نيکی (نو) دوه چنده به کړی هغه (نيکی) او وربه کړی (محسن ته الله تفضلا) له نزده خپله ثواب ډير لوی.

وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ

په دغه څو لفظو سره الله جل جلاله د تکبر کوونکو يو بل صفت وښووی: چي دا خلګ د الله جل جلاله په لاره کښي په خپله هم خرڅ نه کوي او نورو ته هم دبخل ترغيب ورکوي البتّه خلګو ته دځان دښوولو لپاره خرڅ کوي او کله چي دا خلګ په الله جل جلاله او په ورځ دآخرت ايمان نه لري په دي وجه د الله جل جلاله درضاء او دآخرت دثواب په نيت دخرڅ کولو خوګر سره پوښتنه نه پيدا کيږي داسي خلګ دشيطان ملګري دي نو په دي وجه د دوی انجام به هم هغه وي کم چي دشيطان دی ځکه چي دوی دهغه ملګري سول: ددې آيت څخه دا هم معلومه سوه چي لکه څنګه چي په واجبو حقونوکي کوتاهي کول بخل کول عيب او نقصان دی دغه ډول کم خلګ چي دځان ښوولو لپاره او په بې مقصده ځايونو کښي خرڅونه کوي دا هم ډير بيکاره دي هغه خلګ چي خالص د الله جل جلاله درضاء لپاره يي نه کوي بلکي خلګو ته ځانونه ښوول غواړي دهغوی عمل د الله جل جلاله په نزد قبول نه دی او په حديث شريف کي يي دې ته شرک ويلي دی:

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۵۱)

www.jamairahmani.org

فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ

فَكَيْفَ	اِذَا	جِئْنَا	مِنْ كُلِّ	اُمَّةٍ	بِشَهِيْدٍ	وَّجِئْنَا	بِكَ
نو څرنګه به وی	په هغه وخت کښې	چې راولو موږ	له هر	یوه امت څخه	یو شاهد	او راولو موږ	تا

نو څرنګه (حال) به وی په هغه وخت کښې چې راولو موږ له هر یوه (پخوانی) امت څخه یو شاهد او راولو موږ تا (محمده!)

عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

عَلٰى	هٰٓؤُلَآءِ	شَهِيْدًا	يَوْمَئِذٍ	يَّوَدُّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
پر	دغه (محمدی امت باندی)	شاهد	په دغه ورځ کښې به	آرزو کوی	هغه کسان	چې کافران سوی وو

پر دغه (محمدی امت باندی) شاهد. په دغه ورځ کښې به آرزو کوی هغه کسان چې کافران سوی وو

وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ

وَعَصَوُا	الرَّسُوْلَ	لَوْ تُسَوّٰى	بِهِمُ	الْاَرْضُ
او نافرمانی ئی کړې وه	له رسوله	دا چې کاشکی هواره کړې سوې وې	پر دوی باندی	مځکه

او نافرمانی ئی کړې وه له رسوله دا چې کاشکی هواره کړې سوې وې پر دوی باندی مځکه او نه

وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ﴿٤٢﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا

وَلَا يَكْتُمُوْنَ	اللّٰهَ	حَدِيْثًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَقْرَبُوا
او نه به پټوی دوی	له الله څخه	هیڅ خبره	ای !	هغو کسانو	چې ایمان ئی راوړی دی	مه نژدې کیږئ تاسی

او نه به پټوی دوی له الله څخه هیڅ خبره. ای ! هغو کسانو چې ایمان ئی راوړی دی مه نژدې کیږئ تاسی

الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ

الصَّلٰوةَ	وَاَنْتُمْ	سُكٰرٰى	حَتّٰى	تَعْلَمُوْا	مَا تَقُوْلُوْنَ
لمانځه ته	حال دا چې تاسی	مستېئ	تر هغه پورې	چې پوه سئ تاسی	پر هغه شی چې وایئ تاسی

لمانځه ته حال دا چې تاسی مستېئ (له نشې) تر هغه پورې چې پوه سئ تاسی پر هغه شی چې (یې) وایئ تاسی

وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِىْ سَبِيْلٍ حَتّٰى

وَلَا جُنُبًا	اِلَّا	عَابِرِىْ	سَبِيْلٍ	حَتّٰى
او نه په داسی حال کی چې تاسی جنب اوسئ	مګر	په هغه حال کښې چې اوسی تیریدونکی	د لاری	تر هغه پورې

او نه په داسی حال کی چې تاسی جنب اوسئ مګر په هغه حال کښې چې اوسی تیریدونکی د لاری تر هغه پورې

فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ په دغه مبارکو الفاظو سره الله (جلّ جلاله) داخرت دمیدان نقشه وړاندي کړه: او دقریشو کافرانو ته زورنه هم ورکوي چي ددغه خلګو به دقیامت په ورځ څنګه حال وي کله چي دحشر په میدان کښي دهر یوه امت نبی دخپل امت پر نیکو او بدو عملونو باندي په طور دشاهد پیش کړی سي او تاسي یعني نبي کریم ﷺ به هم په ډول دشاهد پر خپل امت باندي حاضر سي او خاص بیا ددې کفارو او مشرکینو په باره کښي به په خدایي عدالت کښي شاهدي ورکړي چي دوی ښکاره ښکاره معجزې لیدلي او بیایي هم ایمان نه راوړی په بخاري شریف کښي روایت دی چي نبي کریم ﷺ عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ته وفرمایل چي ماته قرآن واوروه حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه عرض وکړی چي تاسي زما څخه اوریدل غواړی او حال داچي قرآن پر تاسي نازل سوی دی نو نبی کریم ﷺ فرمایل چي هو! ووایه، دی فرمایي چي ما سورت نساء شروع کړی کله چي دغه ایت ته راورسیدم نوده وفرمایل بس کړه او چي ما دته وکتل تر سترګو یي اوښکي بهیدلي:
(معارف القرآن ج۲ پ۵ص۵۳)

ع ۶

www.jamairahmani.org

تَغۡتَسِلُوۡا ؕ وَاِنۡ كُنۡتُمۡ مَّرۡضٰۤى اَوۡ عَلٰى سَفَرٍ اَوۡ جَآءَ

تَغۡتَسِلُوۡا	وَاِنۡ	كُنۡتُمۡ	مَّرۡضٰۤى	اَوۡ عَلٰى	سَفَرٍ	اَوۡ جَآءَ
چي تاسي غسل وكړئ	او كه	وئ تاسي	مريضان	يا په	سفر باندي	يا راسي

چي تاسي غسل وكړئ! او كه وئ تاسي مريضان (رنځوران) يا په سفر باندي يا راسي

اَحَدٌ مِّنۡكُمۡ مِّنَ الۡغَآئِطِ اَوۡ لٰمَسۡتُمُ النِّسَآءَ

اَحَدٌ مِّنۡكُمۡ	مِّنَ الۡغَآئِطِ	اَوۡ لٰمَسۡتُمُ	النِّسَآءَ
يو له تاسي	له بيديانه (قضاى حاجت څخه)	يا جماع وكړئ تاسي	د ښځو سره

يو له تاسي له بيديا (له بولو) نه يا جماع وكړئ تاسي دښځو سره نو ونه

فَلَمۡ تَجِدُوۡا مَآءً فَتَيَمَّمُوۡا صَعِيۡدًا طَيِّبًا فَامۡسَحُوۡا

فَلَمۡ تَجِدُوۡا	مَآءً	فَتَيَمَّمُوۡا	صَعِيۡدًا	طَيِّبًا	فَامۡسَحُوۡا
نو پيدا نه كړي تاسي	اوبه	نو اراده وكړي تاسي	مخ د مځكى	پاكي ته	نو مسحه وكړئ تاسي

مومئ تاسي او به نو اراده وكړي تاسي مخ د مځكى (خاورى) پاكي ته نو مسحه وكړئ تاسي

بِوُجُوۡهِكُمۡ وَاَيۡدِيۡكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوۡرًا ﴿۴۳﴾

بِوُجُوۡهِكُمۡ	وَاَيۡدِيۡكُمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَفُوًّا	غَفُوۡرًا
په مخونو خپلو	او په لاسو خپلو	بيشكه!	الله	دى	ښه عفو كوونكى	ښه مغفرت كوونكى

په مخونو خپلو او په (دواړو) لاسو خپلو (تر څنګلو پورى)، بيشكه! الله دى ښه عفو كوونكى ښه مغفرت كوونكى

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ اُوۡتُوۡا نَصِيۡبًا مِّنَ الۡكِتٰبِ

اَلَمۡ تَرَ	اِلَى الَّذِيۡنَ	اُوۡتُوۡا	نَصِيۡبًا	مِّنَ	الۡكِتٰبِ
آيا نه دى كتلى تا	هغو كسانو ته	چي وركړى سوى ده دوى ته	څه برخه	له	كتابه

آيا نه دى كتلى تا هغو كسانو ته چي وركړى سوى ده دوى ته څه برخه له كتابه

يَشۡتَرُوۡنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ تَضِلُّوا السَّبِيۡلَ ﴿۴۴﴾ ط

يَشۡتَرُوۡنَ	الضَّلٰلَةَ	وَيُرِيۡدُوۡنَ	اَنۡ	تَضِلُّوا	السَّبِيۡلَ
چي اخلى دوى	ضلالت (ګمراهي)	او اراده لرى دوى	د دى	چي وركه كړئ تاسي	لاره

چي پيرى (اخلى) دوى ضلالت (ګمراهي په عوض د هدايت) او اراده لرى دوى د دى چي وركه كړئ تاسي (هم) لاره

وَاِنۡ كُنۡتُمۡ مَّرۡضٰۤى اَوۡ عَلٰى سَفَرٍ دتيمم حكم يو انعام دى چي ددې امت خصوصيت دى: د الله جَلَّ جَلَالُهُ خومره لوى احسان دى چي داودس او پاكى لپاره يي يو داسي شى داوبو قايم مقام مقرركړى دى چي په حاصلولو كښي ترا اوبو زيات آسانه دى او ښكاره خبره ده چي مځكه او خاوره هر ځاى موجوده ده په حديث شريف كښي راغلي دي چي دا آساني يوازي ددې امت خاصيت دى او دا يوازي ددي امت ته ور كړه سوى دى. دتيمم ضروري مسئلي تاسي دفقهي په كتابونو كښي وګورى: الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي كه تاسي كم عذر لرى ناجوړي ياست چي داوبو استعمال درته تاوان كوي لكه چي مخ ته به راسي او يا په حالت كښي دسفر ياست يعني اوبه نه درسيږي نو په دي دواړو عذرونو سره دتيمم اجازت دى تاسي ته او دتيمم اجازت خاص په دغه عذرو پسي نه دى ترلى بلكي دا عذرونه عام دي مثلا يو شخص په تاسي كښي دكوچني اودس مات څخه راسي يا دلوى اودس مات څخه فارغ سي او اوبه نه وي ورسره او نه هم نژدې وي چي فقهاوو يي اندازه بيان كړي ده نو په داسي حالت كښي تاسي ته تيمم رواه دى:

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص۵۶)

www.jamairahmani.org

وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِاَعۡدَآئِكُمۡ‌ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَّكَفٰى بِاللّٰهِ

وَاللّٰهُ	اَعۡلَمُ	بِاَعۡدَآئِكُمۡ	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ	وَلِيًّا	وَّكَفٰى	بِاللّٰهِ
او الله	ښه عالم دی	په دښمنانو ستاسی	او کافی دی	الله	دوست	او کافی دی	الله

او الله ښه عالم دی په دښمنانو ستاسی، او کافی (بس) دی الله ولی او کافی (بس) دی الله

نَصِيۡرًا ۝۴۵ مِنَ الَّذِيۡنَ هَادُوۡا يُحَرِّفُوۡنَ الۡكَلِمَ عَنۡ

نَصِيۡرًا	مِنَ الَّذِيۡنَ	هَادُوۡا	يُحَرِّفُوۡنَ	الۡكَلِمَ	عَنۡ
مددگار	ځینی له هغو کسانو	چی یهودان سوی دی	اړوی دوی	خبری	له

مددگار (ستاسی). ځینی له هغو کسانو چی یهودان سوی دی اړوی دوی خبری له

مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوۡلُوۡنَ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَاسۡمَعۡ

مَّوَاضِعِهٖ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	سَمِعۡنَا	وَعَصَيۡنَا	وَاسۡمَعۡ
ځایو د دی ښخه	او وائی دغه (یهودان)	واوریدله موږ	او ونه مانه موږ	او واوره (ته)

ځایو د دی (خبرو) ښخه او وائی دغه (یهودان) واوریدله موږ (وینا ستا) او ونه مانه موږ (حکم ستا) او واوره (ته)

غَيۡرَ مُسۡمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّۢا بِاَلۡسِنَتِهِمۡ وَطَعۡنًا فِى الدِّيۡنِ‌ؕ وَلَوۡ

غَيۡرَ مُسۡمَعٍ	وَّرَاعِنَا	لَيًّۢا	بِاَلۡسِنَتِهِمۡ	وَطَعۡنًا	فِى الدِّيۡنِ	وَلَوۡ
چی نه ئی اورولی سوی	او راعنا	په تاوولو	د ژبو خپلو	او په عیب ویلو سره	په دین کښی	او که

په داسی حال کښی چی نه ئی اورولی سوی او راعنا په تاوولو د ژبو خپلو او په عیب ویلو سره په دین کښی، او که

اَنَّهُمۡ قَالُوۡا سَمِعۡنَا وَاَطَعۡنَا وَاسۡمَعۡ وَانۡظُرۡنَا لَـكَانَ

اَنَّهُمۡ	قَالُوۡا	سَمِعۡنَا	وَاَطَعۡنَا	وَاسۡمَعۡ	وَانۡظُرۡنَا	لَـكَانَ
بیشکه! دوی	ویلی وی	واوریده موږ	او ومانه موږ	او واوره	او نظر لره پر موږ	نو خامخا به ؤ

بیشکه! دوی ویلی وی واوریده موږ (وینا ستا) او ومانه (حکم ستا) او واوره او نظر لره پر موږ نو خامخا به ؤ

خَيۡرًا لَّهُمۡ وَاَقۡوَمَ ۙ وَلٰـكِنۡ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفۡرِهِمۡ

خَيۡرًا	لَّهُمۡ	وَاَقۡوَمَ	وَلٰـكِنۡ	لَّعَنَهُمُ	اللّٰهُ	بِكُفۡرِهِمۡ
خیر	دوی ته	او ډیره سمه	ولیکن	لری کړی دی دوی	الله	په سبب د کفر د دوی

خیر دوی ته او ډیره سمه (دا وینا) ولیکن لری کړی دی دوی الله (د خپل رحمت ښخه) په سبب د کفر د دوی

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ اُوۡتُوۡا نَصِيۡبًا مِّنَ الۡكِتٰبِ

لنډ تفسیر: ای مخاطبه آیا تا دغه خلگ ونه لیده یعني داخلگ دلیدلو قابل دي وگوره اوتعجب وکړه کومو ته چي دکتاب الله یعني دتورات دعلم یوه لویه حصه رسیدلې وه یعني دتورات علم لري اوسره ددې چي دغه خلگ گمراهي یعني کفر اختیار وي او په خپله خو گمراهان دي مگر دوی دا غواړي چي تاسي هم دبرابرۍ لاري ښخه واړوي او تاسي هم بې لاري سی یعني قسم قسم پلانونه ددې کوي او تاسي ته که ددې خلگو تراوسه پوري خبر نه وي نو څه وسوه الله ﷻ ستاسي دغه دښمنان ښه پیژني ځکه یي تاسي ته وښوول نو تاسي ورښخه ځانونه وساتی او ددوی دمخالفت حال مو واوریدی نو زیات په فکر کښي مه پریوزی ځکه چي الله ﷻ ستاسي پوره ملگری دی چي ستاسي دمصلحتونو رعایت کوي او الله ﷻ ستاسي لپاره پوره کومکي دی چي ددوی دضررونو ښخه به تاسي ساتي او داخلگ دچا چي ذکر وسو دیهودو ښخه دي او دوی په تورات کښي لفظي او معنوي تحریف کوي یعني اړوي یي دخپله ځایه ښخه (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۵۸)

www.jamairahmani.org

فَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ اِلَّا قَلِيۡلًا ۝٤٦ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ

فَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ	اِلَّا	قَلِيۡلًا	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اُوۡتُوا	الۡكِتٰبَ
پس نه راوړی ایمان	مگر	لږ خلک	ای!	هغو کسانو	چې ورکړی سوی دی دوی ته	کتاب

پس نه راوړی ایمان (له دغو یهودانو) مگر لږ خلک. ای! هغو کسانو چې ورکړی سوی دی دوی ته کتاب (ای! کتابیانو!)

اٰمِنُوۡا بِمَا نَزَّلۡنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمۡ

اٰمِنُوۡا	بِمَا	نَزَّلۡنَا	مُصَدِّقًا	لِّمَا	مَعَكُمۡ
ایمان راوړئ تاسی	په هغه	چې نازل کړی دی موږ	حال دا چې تصدیق کوونکی دی	د هغه کتاب	چې ستاسی سره دی

ایمان راوړئ تاسی! په هغه (قرآن) چې نازل کړی دی موږ حال دا چې تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب چې تاسی سره دی

مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ نَّطۡمِسَ وُجُوۡهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰۤى اَدۡبَارِهَاۤ

مِّنۡ قَبۡلِ	اَنۡ	نَّطۡمِسَ	وُجُوۡهًا	فَنَرُدَّهَا	عَلٰۤى	اَدۡبَارِهَاۤ
پخوا له هغه	چې	هوار کړو موږ	ډیر مخونه	نو وگرځوو دا	په	شاگانو د دوی

پخوا له هغه چې هوار کړو موږ ډیر مخونه نو وگرځوو دا (هوار مخونه) په شاگانو د دوی

اَوۡ نَلۡعَنَهُمۡ كَمَا لَعَنَّاۤ اَصۡحٰبَ السَّبۡتِ ؕ وَكَانَ اَمۡرُ اللّٰهِ

اَوۡ نَلۡعَنَهُمۡ	كَمَا	لَعَنَّاۤ	اَصۡحٰبَ	السَّبۡتِ	وَكَانَ	اَمۡرُ	اللّٰهِ
یا پخوا له دی چې لعنت وکړو پر دوی	لکه چې	لعنت کړی وو	په اصحابو	د شنبې	او دی	امر	د الله

یا پخوا له دی چې لعنت وکړو پر دوی لکه چې لعنت کړی وو موږ په اصحابو (دورځی) د شنبې او دی امر (حکم) د الله

مَفۡعُوۡلًا ۝٤٧ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغۡفِرُ اَنۡ يُّشۡرَكَ بِهٖ وَيَغۡفِرُ

مَفۡعُوۡلًا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَغۡفِرُ	اَنۡ	يُّشۡرَكَ	بِهٖ	وَيَغۡفِرُ
کیدونکی	بیشکه	چې الله	نه بخښي	دا چې	شریک ونیولی سی	له الله سره	او بخښي

کیدونکی (خامخا). بیشکه! چې الله نه بخښي دا چې شریک ونیولی سی له الله سره او بخښي هغه (گناه)

مَا دُوۡنَ ذٰلِكَ لِمَنۡ يَّشَآءُ ۚ وَمَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ

مَا دُوۡنَ	ذٰلِكَ	لِمَنۡ	يَّشَآءُ	وَمَنۡ	يُّشۡرِكۡ	بِاللّٰهِ
هغه چې کم وی	له شرکه	هغه چاته	چې اراده وفرمائی	او هر هغه څوک	چې شریک ونیسی	له الله سره

هغه چې ښکته وی له شرکه (لویه وی که وړه) هغه چاته چې اراده وفرمائی او هر هغه څوک چې شریک ونیسی له الله سره

فَنَرُدَّهَا عَلٰۤى اَدۡبَارِهَاۤ

فایده: د الله ﷻ دغه قول چې ویه فرمایل (فَنَرُدَّهَا عَلٰۤى اَدۡبَارِهَاۤ) چپه به کړو دوی د شا طرف ته په دغه چپه کولو کښې دوه احتماله دي اول دا چې د مخ نقش او نگار به یې ورخراب کړو ټول مخ به یې د شا طرف ته ورچپه کړو او دا هم کیدای سي چې مخان یې د ښتې په شان هوار کړو او دا موجوده مخونه یې د ښتې طرف ته ونه گرځوو :

فایده: دلته دا سوال پیدا کیږي چې د مخ خرابول او مسخ کول کله وسوه ؟ ځیني وایي چې دا عذاب به تر قیامت مخکې پر یهودو باندې وي ځیني وایي دا عذاب ځکه واقع نسو چې په دوی کښې ځینو خلکو ایمان راوړی وو حضرت حکیم الامت تهانوي رحمة الله علیه فرمایي چې زما په نزد خو د سره دغه سوال نه واقع کیږي ځکه چې په قرآن شریف کښې یو لفظ داسي نسته چې د هغه څخه دا معلومه سي چې که مو ایمان رانه وړی نو د مخانو خرابولو او مسخ کولو عذاب به خامخا واقع کیږي بلکې دا احتمال دی یعني که د دوی جرم ته وکتل سي نو دوی د دغه سزا لایقان دي او که عذاب ورنه کړی نو دا الله رحمت دی (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۶۱)

www.jamairahmani.org

فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا ﴿۴۸﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ

فَقَدِ	افْتَرٰٓى	اِثْمًا	عَظِيْمًا	اَلَمْ تَرَ	اِلَى الَّذِيْنَ	يُزَكُّوْنَ
نو په تحقيق سره	ويبي تړل	دروغ	لوى	آيا ندى کتلي تا	هغو کسانو ته	چي پاکوى دوى

نو په تحقيق سره ويبي تړل (په الله) دروغ لوى (او وئى کړه) گناه ډيره لويه. آيا ندى کتلي تا هغو کسانوته چي پاکوى دوى

اَنْفُسَهُمْ ؕ بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّىْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ

اَنْفُسَهُمْ	بَلِ	اللّٰهُ	يُزَكِّىْ	مَنْ	يَّشَآءُ	وَلَا يُظْلَمُوْنَ
ځانونه خپل	بلکه	(خاص) الله	پاکوى	هغه څوک	چي اراده وفرمائي	او ظلم به ونه کړى سى پر دوى

ځانونه خپل بلکه (خاص) الله پاکوى هغه څوک چي اراده وفرمائي (دپاکى ئې) او ظلم به ونه کړى سى پر دوى

فَتِيْلًا ﴿۴۹﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

فَتِيْلًا	اُنْظُرْ	كَيْفَ	يَفْتَرُوْنَ	عَلَى	اللّٰهِ
په اندازه (دهغه نرى پردى چي دخرما دمندکى په چاوده کى وى)	وگوره	چي څرنگه	تړى دوى	په	الله باندى

په اندازه د يوه نرى تار (هم). وگوره (اى! محمده) چي څرنگه تړى دوى په الله باندى

الْكَذِبَ ؕ وَكَفٰى بِهٖٓ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۰﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ

الْكَذِبَ	وَكَفٰى	بِهٖٓ	اِثْمًا	مُّبِيْنًا	اَلَمْ تَرَ	اِلَى الَّذِيْنَ
دروغ	او کافى	دى دا	گناه	ښکاره	آيا نه دى کتلي تا	هغو کسانو ته

دروغ او کافى (بس) دى دا (دروغ) گناه ښکاره. آيا نه دى کتلي تا هغو کسانو ته

اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ

اُوْتُوْا	نَصِيْبًا	مِّنَ الْكِتٰبِ	يُؤْمِنُوْنَ	بِالْجِبْتِ
چي ورکړى سوى ده دوى ته	برخه	له کتاب څخه	ايمان راوړى دوى	په بت

چي ورکړى سوى ده دوى ته برخه له کتاب څخه ايمان راوړى دوى په بت

وَالطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ

وَالطَّاغُوْتِ	وَيَقُوْلُوْنَ	لِلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	هٰٓؤُلَآءِ
او په شيطان	او وايي دوى	په حق دهغو کسانو کښى	چي کافران سوى دى	دا (کفار)

او په شيطان او وايي دوى په حق دهغو کسانو کښى چي کافران سوى دى دا (کفار)

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ خپل صفتونه کول او دعيبونو څخه دځان دپاکولو دعوى نه ده روا: دالله ﷻ داقول دى اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ يهودو به خپل ځان ته پاک ويل نو په دې خبره الله ﷻ په دې آيت کښي ددوى بدوالى بيان کړى او وې فرمايل چي لږ دې خلگو ته وگورى چي خپله پاکي بيانوي پردوى باندي تعجب کول پکاردي ددې څخه معلومه سوه چي چاته د خپل ځان پاکي بيانول جايزنه ده او دامنع په درو وجهوسره راغلې ده. اول: دخپل صفت سبب اکثره تکبر وي نو په حقيقت کښي دامنع دتکبر دوجهي ده دوهم: په دې وجه سره چي دخاتمې حال الله ﷻ ته ښه معلوم دى چي په تقوى او پاکى سره کيږي که يا په دې وجه خپل ځان پاک ښوول دالله ﷻ دبيري څخه خلاف خبره ده: اودريم: په دې وجه سره چي اكثره په دې دعوى دخلگو داگمان پيداسي چي دا سړى دالله ﷻ په نزدځکه مقبول دى چي دى دټولو عيبونو اونقصانونو څخه پاک دى، حال دادى چي دادرواغ دي ځکه چي په بنده کښي خو ډير عيبونه سته: (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۶۳)

ربع

www.jamairahmani.org

اَهۡدٰى مِنَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا سَبِيۡلًا ۞٥١ اُولٰٓـئِكَ الَّذِيۡنَ لَعَنَهُمُ

اَهۡدٰى	مِنَ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	سَبِيۡلًا	اُولٰٓـئِكَ	الَّذِيۡنَ	لَعَنَهُمُ
ښه لاره پیداکوونکی دی	له	هغو کسانو څخه	چې مؤمنان دی	له جهته د لارې	دا	هغه کسان دی	چې لعنت کړی دی

ښه لاره موندونکی دی له هغو کسانو څخه چې مؤمنان دی له جهته د لارې. دا هغه کسان دی چې لعنت کړی دی (په دوی)

اللّٰهُ ؕ وَمَنۡ يَّلۡعَنِ اللّٰهُ فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ نَصِيۡرًا ۞٥٢

اللّٰهُ	وَمَنۡ	يَّلۡعَنِ	اللّٰهُ	فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ	نَصِيۡرًا
الله	او هر هغه څوک	چې لعنت وکړي	الله	نو له سره به پیدا نه کړې ده لره	کوم مددګار

الله او هر هغه څوک چې لعنت (پرې) وکړي الله نو له سره نه مومې (ته) ده لره کوم مددګار.

اَمۡ لَهُمۡ نَصِيۡبٌ مِّنَ الۡمُلۡكِ فَاِذًا لَّا يُؤۡتُوۡنَ النَّاسَ

اَمۡ لَهُمۡ	نَصِيۡبٌ	مِّنَ	الۡمُلۡكِ	فَاِذًا	لَّا يُؤۡتُوۡنَ	النَّاسَ
آیا سته یهودانو ته	څه برخه	له	ملکه	نو په دغه وخت کښې به	ورنه کړې دوی	خلګو ته

آیا سته یهودانو ته څه برخه له ملکه (له سلطنته)؟ نو په دغه وخت کښې به ورنه کړې دوی خلګو ته (په اندازه)

نَقِيۡرًا ۞٥٣ اَمۡ يَحۡسُدُوۡنَ النَّاسَ عَلٰى مَاۤ

نَقِيۡرًا	اَمۡ يَحۡسُدُوۡنَ	النَّاسَ	عَلٰى	مَاۤ
د نقیر (هغه ډېرنرۍ شی چې د خرما دمندکی په نرۍ چاوده کی وی)	بلکه آیا حسد کوی دوی	دخلګو سره	پر	هغه شی

دنقیر (هغه ډېرنرۍ شی چې دخرما دمندکی په نرۍ چاوده کی وی). بلکه آیا حسد کوی دغه (یهودان) دخلګو سره پرهغه شی

اٰتٰٮهُمُ اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ ۚ فَقَدۡ اٰتَيۡنَاۤ اٰلَ اِبۡرٰهِيۡمَ الۡـكِتٰبَ وَالۡحِكۡمَةَ

اٰتٰٮهُمُ	اللّٰهُ	مِنۡ فَضۡلِهٖ	فَقَدۡ	اٰتَيۡنَاۤ	اٰلَ	اِبۡرٰهِيۡمَ	الۡـكِتٰبَ	وَالۡحِكۡمَةَ
چې ورکړی دی هغو ته	الله	له فضل خپل	نو په تحقیق	ورکړی دی موږ	اولادی	دابراهیم ته	کتاب	او حکمت

چې ورکړی دی هغو ته الله له فضل خپل، نو په تحقیق ورکړی دی موږ اولادی د ابراهیم ته کتاب، او حکمت (شرعی علوم)

وَاٰتَيۡنٰهُمۡ مُّلۡكًا عَظِيۡمًا ۞٥٤ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ اٰمَنَ بِهٖ

وَاٰتَيۡنٰهُمۡ	مُّلۡكًا	عَظِيۡمًا	فَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ	اٰمَنَ	بِهٖ
او ورکړی دی موږ دوی ته	سلطنت	ډیر لوی	نو ځینی له دغو یهودانو	هغه دی	چې ایمان ئی راوړی	په محمد

او ورکړی دی موږ دوی ته سلطنت ډیر لوی. نو ځینی له دغو یهودانو هغه دی چې ایمان ئی راوړی په محمد

وَمَنۡ يَّلۡعَنِ اللّٰهُ فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ نَصِيۡرًا:

دالله جل جلاله دلعنت مستحق کوم کسان دي؟: د دې ایت څخه معلومیږي چې پرچا دالله جل جلاله لعنت وي دهغه هیڅوک کومکي نه وي اوس دفکر کولو قابله خبره داده چې دالله جل جلاله دلعنت وړ کسان څوک دي؟ په یوه حدیث شریف کښې ارشاد دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر سود ورکوونکي او خوړونکي او سود لیکونکي او پر دې دشاهدي ورکوونکي پر ټولو باندي لعنت کړی دی او دوی ټوله په ګناه کښې برابر دي په یوه بل حدیث شریف کښې راځي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل کم سړی چې دلوط علیه السلام دقوم غوندي عمل کوي او دهغو دکار په شان کار کوي هغه لعنتي دی یعني دسړي سره بدکار کوونکي کسان: بیا فرمایي چي الله جل جلاله پر غله باندي لعنت کړی دی کم چي دهګی او رسی په شان دکوچني شي دغلا څخه هم منع نه کوي چي په بدله کښې دده لاس پري کیږي په یوه بل حدیث شریف کښې ارشاد دی چي الله جل جلاله لعنت کړی دی پر سود خوړونکي او سود ورکوونکي باندي او پرهغه ښځو چي پرخپل جسم باندي خالونه ایږدي (معارف القرآن ج ٢ پ٥ ص ٦٦)

www.jamairahmani.org

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ صَدَّ عَنۡهُ ؕ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيۡرًا ﴿۵۵﴾

وَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ	صَدَّ عَنۡهُ	وَكَفٰى	بِجَهَنَّمَ	سَعِيۡرًا
او ځینې له دغو	هغه دی	چې ځنګ ئې کړی دی له محمد ﷺ څخه	او بس دی	دوزخ (دکفارو دعذاب دپاره)	بليدونکی اور

او ځینې له دغو هغه دی چې ځنګ ئې کړی دی له محمد ﷺ څخه او بس دی دوزخ (دکفارو دعذاب دپاره) جوش وهونکی اور

اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِنَا سَوۡفَ نُصۡلِيۡهِمۡ نَارًا ؕ كُلَّمَا

اِنَّ الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	بِاٰيٰتِنَا	سَوۡفَ	نُصۡلِيۡهِمۡ	نَارًا	كُلَّمَا
بیشکه! هغه کسان	چې کافران سوی دی	په آیتونو زموږ	ژر به	ننه باسو موږ دوی	اور ته	هر کله چې

بیشکه! هغه کسان چې کافران (منکران) سوی دی په آیتونو زموږ ژر به ننه باسو موږ دوی اور ته، هر کله چې

نَضِجَتۡ جُلُوۡدُهُمۡ بَدَّلۡنٰهُمۡ جُلُوۡدًا غَيۡرَهَا لِيَذُوۡقُوا

نَضِجَتۡ	جُلُوۡدُهُمۡ	بَدَّلۡنٰهُمۡ	جُلُوۡدًا	غَيۡرَهَا	لِيَذُوۡقُوا
پاخه سی	پوستکی د دوی	بدلوو موږ دوی ته	پوستکی	غیر له هغو	له پاره د دی چې وڅکی دوی

پاخه سی (وسوځیږی) پوستکی د دوی (په اور کښی نو) بدلوو موږ دوی ته پوستکی غیر له هغو، له پاره د دی چې وڅکی دوی

الۡعَذَابَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيۡزًا حَكِيۡمًا ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيۡنَ

الۡعَذَابَ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَزِيۡزًا	حَكِيۡمًا	وَالَّذِيۡنَ
عذاب	بیشکه!	الله	دی	ښه غالب قوی	لوی حکمت والا	او هغه کسان

(تل ترتله نوی نوی) عذاب. بیشکه! چې الله دی ښه غالب قوی لوی حکمت والا. او هغه کسان

اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ

اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	سَنُدۡخِلُهُمۡ	جَنّٰتٍ	تَجۡرِىۡ
چې ایمان ئې راوړی دی	او کړی ئې دی	ښه (عملونه)	ژر به ننه باسو موږ دوی	په جنتو کښی	چې بهیږی

چې ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) ژر به ننه باسو موږ دوی په (هغو) جنتو کښی چې بهیږی

مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ لَهُمۡ فِيۡهَاۤ

مِنۡ	تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ	خٰلِدِيۡنَ	فِيۡهَاۤ	اَبَدًا	لَهُمۡ	فِيۡهَاۤ
له	لاندی د دوی	ویالی	همیشه به وی	وی به دوی په دغو کښی	تل	وی به دوی ته	په دی جنتو کښی

له لاندی د (ماڼیو او ونو) د دوی ویالی همیشه به وی به دوی په دغو کښی تل، وی به دوی ته په دی جنتو کښی

اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِنَا سَوۡفَ: دحضرت معاذ رضی الله عنه تفسیر: دی ددغه آیت (كلما نضجت جلودهم بدّلنهم جلودا) په تفسیر کښي فرمايي چې ددوی څرمني وسوځي نو بدلي به کړی سي او دا کار به دومره په تیزی سره کیږي چې په یوه ګړي کښي به یې سل واره څرمن بدلیږي او حضرت حسن بصري رحمة الله علیه فرمايي (تأكل النار كل يوم سبعين الف مرّة كلما اكلتهم قيل لهم عودوا فيعودون كما كانو) یعني اور به په یوه ورځ کښي اویازره واره دوی وخوري کله چې دوی وخوري نو دوی ته به وویل سي چې بیا پر اول حالت سی نو دوی بیا پر اول حالت سي: او په یو بل حدیث شریف کښي راځي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل (انّ اهون اهل النار عذابا يوم القيمة رجل فى اخمص قدميه جمرتان يغلي منهما دماغه كما يغلى المرجل بالقمقم) چې په دوږخیانو کښي به تر ټولو کم دعذاب په اعتبار سره هغه سړی وي دچا په تلو کښي به د اور سکروټي وي چې ددې په وجه به دده دماغ دکټوي په شان سره جوش کوي: رواه البخاري ومسلم بحواله ترغيب وترهيب: (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۷۱)

www.jamairahmani.org

اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ۝۵۷ اِنَّ اللّٰهَ

اَزْوَاجٌ	مُّطَهَّرَةٌ	وَّنُدْخِلُهُمْ	ظِلًّا	ظَلِيْلًا	اِنَّ	اللّٰهَ
ښځې	پاکې کړې سوې	او ننه باسو موږ دوی	په سيورو	گڼو	بیشکه	الله

ښځې پاکې کړې سوې (له ټولو ناپاکيو شخه)، او ننه باسو موږ دوی په گڼو سيورو (په دائمی نعمت او راحت). بیشکه! الله

يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ وَاِذَا حَكَمْتُمْ

يَاْمُرُكُمْ	اَنْ تُؤَدُّوا	الْاَمٰنٰتِ	اِلٰٓى اَهْلِهَا	وَاِذَا	حَكَمْتُمْ
امر کوی تاسی ته	د دی چی وسپارئ تاسی	امانتونه	اهل د اماناتو ته	او کله چی	حکم کوئ تاسی

امر کوی په تاسی (ای مؤمنانو) د دی چی وسپارئ تاسی امانتونه اهل د اماناتو ته او کله چی حکم کوئ تاسی

بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا

بَيْنَ	النَّاسِ	اَنْ	تَحْكُمُوْا	بِالْعَدْلِ	اِنَّ	اللّٰهَ	نِعِمَّا
په منځ	د خلگو کښې	نو چې	حکم وکړئ	په انصاف سره	بیشکه	الله	ښه شی دی هغه

په منځ د خلگو کښې نو (امر کوی الله چی) حکم وکړئ په انصاف سره! بیشکه! الله ښه شی دی هغه

يَعِظُكُمْ بِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۝۵۸ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

يَعِظُكُمْ	بِهٖ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	سَمِيْعًا	بَصِيْرًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
چې پند درکوی تاسی ته	په هغه سره	بیشکه چې	الله	د ی	ښه اوریدونکی	او ښه لیدونکی	ای	هغو کسانو

چې پند درکوی تاسی ته په هغه سره ، بیشکه! چې الله د ی ښه اوریدونکی او ښه لیدونکی . ای! هغو کسانو

اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي

اٰمَنُوْٓا	اَطِيْعُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوا	الرَّسُوْلَ	وَاُولِي
چې ایمان ئې راوړی دی	حکم ومنئ تاسی	د الله!	او حکم ومنئ تاسی	د رسول	او د خاوندانو

چې ایمان ئې راوړی دی (ای مؤمنانو!) حکم ومنئ تاسی د الله! او حکم ومنئ تاسی د رسول (دالله) او د خاوندانو

الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ

الْاَمْرِ	مِنْكُمْ	فَاِنْ	تَنَازَعْتُمْ	فِيْ	شَيْءٍ	فَرُدُّوْهُ	اِلَى	اللّٰهِ
دحکم	له تاسی	نو بیا که	جګړه وکړه تاسی	په	یو شی کښې	نو وګرځوی تاسی دا (کار)	طرف د	الله ته

دحکم له تاسی (حاکمانو، او مشرانو!)، نو بیا که جګړه وکړه تاسی په یو شی کښې نو وګرځوئ تاسی دا (کار) طرف د الله ته

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ... دامانت داداء کولو تاکید: یعني الله جل جلاله تاسي ته حکم کوي چي امانتونه وخپل اهل ته ورسوی یعني دهغو ومستحقینو ته. ددې حکم مخاطب داهم کیدای سي چي عام مسلمانان دي وي او داهم احتمال دی چي خاص امیران اوحاکمان دي وي او زیاته ښکاره خبره داده چي هر هغه سړی يي مخاطب دی څوک چي دامانتونو امين وي په دي کښي عوام هم داخل دي اوحاکمان هم داخل دي: اوس حاصل ددې ارشاد دادی چي دچا په لاس کښي چي کوم امانت وي پر ده لازم ده چي دغه امانت وخپل مستحق ته ورسوي نبي كريم ﷺ دامانتونو داداء کولو ډير تاکيد فرمايلی دی، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چي ډيره کمه به داسي سوې وي چي نبي کريم ﷺ به خطبه ويله او په هغي کښي دي دا الفاظ نه وي: لا ايمان لمن لا امانة له ولا دين لمن لا عهد له. چي په چا کښي امانت داري نه وي په هغه کښي ايمان نسته او په چا کښي چي دوعدې پابندي نه وي په هغه کښي دين نه وي (رواه البيهقي في شعب الايمان) (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۷۶)

www.jamairahmani.org

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّـــــذِيْنَ
يَزْعُمُوْنَ ....دايتونوشان

نزول : ددې آيتونو دنزول يوه خاص واقعه ده دهغه تفصيل دادى چي بشر نومي يومنافق وو دده ديو يهودي سره جګړه جوړه سوه يهودي وويل درځه چي ولاړسو په محمد ﷺ باندي به دا فيصله و کړو ليکن بشر منافق داخوښه نه کړه بلکي کعب ابن اشرف يهودي ته تلل او په هغه يي دفيصلي کولو وړانديز وکړی کعب ابن اشرف ديهودو سردار وو او دنبي کريم ﷺ او دمسلمانانو سخت دښمن وو داعجيبه خبره وه چي يهودي خپل سردار پريښوو ي په نبي کريم ﷺ يي فيصله کول خوښول او ځان ته مسلمان ويونکي بشر منافق دحضور ﷺ پر ځاي ديهودي سردار فيصله خوښوي ليکن رازپه دې کښي دا وو چي ددې دواړو دا يقين وو چي نبي کريم ﷺ به فيصله په حقه اوانصاف سره کوي دی ﷺ دچا رعايت او لحاظ هيڅ نه کوي دحق په مقابل کي او يهودي په دې جګړه کښي پر حقه وو ، په دې وجه دده دخپل سردار کعب ابن اشرف څخه زيات اعتماد پر نبي کريم ﷺ وو (پاته پرراروان مخ باندي وګوری ...)

وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

وَالرَّسُوْلِ	اِنْ	كُنْتُمْ	تُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ
او رسول ته	كه	يئ تاسي	چي ايمان لرئ تاسي	په الله	او په ورځي	آخرى باندى

(دالله كتاب ته) او رسول ته (درسول الله حديث ته) كه يئ تاسي چي ايمان لرئ تاسي په الله او په ورځي آخرى (قيامت) باندى،

ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿٥٩﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ

٨ ع ٥

ذٰلِكَ	خَيْرٌ	وَّ اَحْسَنُ	تَاْوِيْلًا	اَلَمْ تَرَ	اِلَى الَّذِيْنَ
دغه	خير دى	او ډيره ښه ده	د عاقبت له جهته	آيا نه دى كتلى تا	هغو كسانو ته

دغه (رجوع الله او رسول ته) خير (ډير غوره) او ډيره ښه ده د عاقبت له جهته. آيا نه دى كتلى تا هغو كسانو ته

يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ

يَزْعُمُوْنَ	اَنَّهُمْ	اٰمَنُوْا	بِمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	وَمَآ
چي دعوى كوى دوى	چي بيشكه! دوى	ايمان راوړى دى	په هغه	چي نازل كړى سوى دى	تاته	او په هغو

چي دعوى كوى دوى چي بيشكه! دوى ايمان راوړى دى په هغه (قرآن) چي نازل كړى سوى دى تاته او په هغو

اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ

اُنْزِلَ	مِنْ قَبْلِكَ	يُرِيْدُوْنَ	اَنْ	يَّتَحَاكَمُوْٓا	اِلَى	الطَّاغُوْتِ	وَقَدْ
چي نازل كړى سوى دى	پخوا له تاته	اراده لرى دوى	چي	وروړى خصومت خپل	طرف	د شيطان ته	او په تحقيق

چي نازل كړى سوى دى پخوا له تاته (اى محمده!) اراده لرى دوى چي وروړى خصومت خپل په طرف د شيطان او په تحقيق

اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ

اُمِرُوْٓا	اَنْ	يَّكْفُرُوْا	بِهٖ	وَيُرِيْدُ	الشَّيْطٰنُ	اَنْ يُّضِلَّهُمْ
حكم كړى سوى دى دوى ته	چي	كافر دى سي دوى	په ده سره	او اراده لرى	شيطان	دا چي گمراه كړى دوى

حكم كړى سوى دى دوى ته چي كافر دى سي دوى په ده سره (و يى نه منى) او اراده لرى شيطان دا چي گمراه كړى دوى

ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا ﴿٦٠﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ

ضَلٰلًا	بَعِيْدًا	وَاِذَا	قِيْلَ	لَهُمْ	تَعَالَوْا	اِلٰى مَآ	اَنْزَلَ
په گمراهى	لرى سره	او كله چي	وويل سى	دوى ته	راځئ!	طرف د هغه ته	چي نازل كړى دى

په گمراهى لرى سره (له حقه). او كله چي وويل سى دوى (منافقانو) ته راځئ! طرف د (حكم د) هغه ته چي نازل كړى دى

www.jamairahmani.org

اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ

اللّٰهُ	وَاِلَى	الرَّسُوْلِ	رَاَيْتَ	الْمُنٰفِقِيْنَ	يَصُدُّوْنَ	عَنْكَ
الله	او طرف د	رسول (دده) ته	نو گورې به ته	منافقان	چې گرځي به	له تا

الله (یعني قرآن ته) او طرف (حکم د) رسول (د ده) ته نو گورې به ته منافقان چې گرځي به له تا (له ډيرې دښمنۍ)

صُدُوْدًا ﴿٦١﴾ فَكَيْفَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ بِمَا

صُدُوْدًا	فَكَيْفَ	اِذَآ	اَصَابَتْهُمْ	مُّصِيْبَةٌ	بِمَا
په گرځيدلو سره	نو څه به وي (حال د دوی)	کله چې	ورسيږي دوی ته	کوم مصيبت	په سبب د هغو

په گرځيدلو سره. نو څه به وي (حال د دوی) کله چې ورسيږي دوی ته کوم مصيبت په سبب د هغو (گناهونو)

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۖ بِاللّٰهِ اِنْ اَرَدْنَآ

قَدَّمَتْ	اَيْدِيْهِمْ	ثُمَّ	جَآءُوْكَ	يَحْلِفُوْنَ	بِاللّٰهِ	اِنْ اَرَدْنَآ
چې وړاندې ليږلې دي	لاسونو د دوی	بيا به	راسي دوی تاته	چې قسمونه به خوری	په الله	چې اراده نه وه کړې موږ

چې وړاندې ليږلې دي لاسونو د دوی بيا به راسي دوی ته (ای محمده!) چې قسمونه به خوری په الله چې اراده نه وه کړې موږ

اِلَّآ اِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ﴿٦٢﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ

اِلَّآ	اِحْسَانًا	وَّتَوْفِيْقًا	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	يَعْلَمُ	اللّٰهُ
مگر	د ښيگڼې	او موافقت	دغه (منافقان)	هغه کسان دي	چې معلوم دي	الله ته

مگر د ښيگڼې (اصلاح) او موافقت (د جگړه کوونکو). دغه (منافقان) هغه کسان دي چې معلوم دي الله ته

مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۗ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ

مَا فِيْ	قُلُوْبِهِمْ	فَاَعْرِضْ	عَنْهُمْ	وَعِظْهُمْ	وَقُلْ
هغه شی چې په	زړونو د دوی کښې دی	نو څنگ (تغافل) وکړه!	له دوی څخه	او پند و نصيحت وکړه دوی ته	او ووايه (محمده!)

هغه شی (هم) چې په زړونو د دوی کښې دی نو څنگ (تغافل) وکړه! له دوی څخه او پند و نصيحت وکړه دوی ته او ووايه

لَّهُمْ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيْغًا ﴿٦٣﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ

لَّهُمْ	فِيْٓ	اَنْفُسِهِمْ	قَوْلًا	بَلِيْغًا	وَمَآ	اَرْسَلْنَا	مِنْ	رَّسُوْلٍ
دوی ته	په	حق د نفسونو د دوی کښې	خبره	بليغه (تاثيرناکه)	او نه دی	ليږلی موږ	هيڅ	رسول

دوی ته په حق د نفسونو د دوی کښې خبره بليغه (تاثيرناکه). او نه دی ليږلی موږ هيڅ رسول

(دتير مخ پاته حصه دلته وگوری) بشر منافق پر ناحقه وو په دې وجه هغه پوهيدی چې دا فيصله به زما خلاف وي که څه هم زه ځان ته مسلمان وايم او دی يهودي دی دخبرو اترو څخه وروسته دواړه په دې راضي سول چې نبي كريم ﷺ ته ولاړ سي او په هغوی دا فيصله وکړي نو دعوه حضور ﷺ ته پيش سوه ده ﷺ د معاملې تحقيق وکړی نو حق ديهودي ثابت سو او دهغه په حق کښې فيصله وروکړه او بشر چې په ظاهره مسلمان وو هغه ناکامه سو نو په دې وجه دی په فيصله راضي نه سو او يوه نوي لار يې راويسته چې په هر شان چې وي دا يهودي په دې راضي کړي چې موږ دواړه دحضرت عمر رضي الله عنه طرف ته ولاړ سو او فيصله په هغه وکړو يهودي دا قبوله کړه راز په دې کښې دا وو چې بشر په دې پوه وو چې حضرت عمر دکفارو په معامله کښې سخت دی، دی به ديهودي په حق کښې دفيصلې کولو پر ځای زما په حق کښې فيصله وکړي پر هر حال دادواړه اوس حضرت عمر رضي الله عنه ته راغلل يهودي حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ته پوره واقعه بيان کړه :

(پاته پر راروان مخ باندي وگوری ...)

www.jamairahmani.org

اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ

اِلَّا	لِيُطَاعَ	بِاِذۡنِ	اللّٰهِ ؕ	وَلَوۡ	اَنَّهُمۡ	اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا	اَنۡفُسَهُمۡ
مګر	ددې له پاره چې حکم و مانه سی د ده	په حکم	د الله سره	او که	بیشکه! دغه	کله چې ظلم وکړی دوی	پر ځانونو خپلو

مګر د دې له پاره چې حکم و مانه سی د ده په اذن (حکم) د الله سره او که بیشکه! دغه کله چې ظلم وکړی دوی پر ځانونو خپلو

جَآءُوۡكَ فَاسۡتَغۡفَرُوا اللّٰهَ وَاسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ الرَّسُوۡلُ

جَآءُوۡكَ	فَاسۡتَغۡفَرُوا	اللّٰهَ	وَاسۡتَغۡفَرَ	لَهُمُ	الرَّسُوۡلُ
راغلی وی تاته	پس مغفرت غوښتی وی دوی	له الله	او مغفرت غوښتی وی	دوی ته	رسول (د الله هم)

راغلی وی تاته پس مغفرت غوښتی وی دوی له الله او مغفرت غوښتی وی دوی ته رسول (د الله هم)

لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيۡمًا ﴿۶۴﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ

لَوَجَدُوا	اللّٰهَ	تَوَّابًا	رَّحِيۡمًا	فَلَا	وَرَبِّكَ	لَا يُؤۡمِنُوۡنَ
نو خامخا به پیدا کړی وای دوی	الله	ښه قبلوونکی د توبې	ډیر رحم والا	پس قسم دی	په رب ستا چې	نه مؤمنان کیږی دوی

نو خامخا به موندلی ؤ دوی الله ښه قبلوونکی د توبې ډیر رحم والا. پس قسم دی په رب ستا چې نه مؤمنان کیږی دوی

حَتّٰى يُحَكِّمُوۡكَ فِيۡمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُوۡا

حَتّٰى	يُحَكِّمُوۡكَ	فِيۡمَا	شَجَرَ	بَيۡنَهُمۡ	ثُمَّ	لَا يَجِدُوۡا
ترهغه پورې	چې حکم کړی دوی تا	په هغه (جګړه کښې)	چې پیښه سوی ده	په مینځ د دوی کښې	بیا	پیدا نه کړی دوی

تر هغه پورې چې حکم (منصف) کړی دوی تا په هغه جګړه کښې چې پیښه سوی ده په مینځ د دوی کښې بیا ونه مومی دوی

فِيۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُوۡا تَسۡلِيۡمًا ﴿۶۵﴾

فِيۡۤ	اَنۡفُسِهِمۡ	حَرَجًا	مِّمَّا	قَضَيۡتَ	وَيُسَلِّمُوۡا	تَسۡلِيۡمًا
په	نفسونو خپلو کښې	خپګان	له هغه شی	چې حکم کړی وو تا	او (ویی) منی دوی په	منلو سره

په نفسونو (زړونو) خپلو کښې خپګان (ناراضی) له هغه شی چې حکم (فیصله) کړی وه تا او (ویی) منی دوی په منلو سره.

وَلَوۡ اَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ اَنِ اقۡتُلُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ اَوِ اخۡرُجُوۡا

وَلَوۡ	اَنَّا	كَتَبۡنَا	عَلَيۡهِمۡ	اَنِ	اقۡتُلُوۡۤا	اَنۡفُسَكُمۡ	اَوِ اخۡرُجُوۡا
او که په تحقیق	موږ	فرض کړی وی	پر دغو	داچې	مړه کړئ تاسی	ځانونه خپل!	یا ووځئ تاسی

او که په تحقیق موږ فرض کړی وی پر دغو (مدعیانو د ایمان) دا چې مړه کړئ تاسی ځانونه خپل! یا ووځئ تاسی

(دتیر مخ پاته حصه دلته وګورئ) چې ددې دعوې فیصله موږ ته نبي کریم ﷺ راکړې ده خو بشر پر دې فیصلې نه دی راضي او اطمینان نه باندې لري نو یې ځکه فیصله تاسي ته راوړه حضرت عمر ﷺ دبشر څخه پوښتنه وکړه چې داخبره صحیح ده نو بشر اقرار وکړی چې هو .. حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه وفرمایل چې ښه دی یو واري لږ ودریږی زه راځم کورته ولاړی او یوه توره یې راواخیسته او دمنافق کار یې ورخلاص کړی یعني قتل یې کړی او بیا یې وفرمایل (کوم سړی چې دنبي کریم ﷺ په فیصله راضي نه وي دهغه هم دغه فیصله ده) دغه واقعه په دغه تفصیل سره روح المعاني په روایت دثعلبي او ابن حاتم دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي ده: او عامو مفسرینو داهم نقل کړي دي چې تر دې وروسته ددغه مقتول وارثانو دحضرت عمر رضي الله عنه خلاف دادعوه هم داخله کړه چې ده یو مسلمان بغیر دشرعي دلیل څخه وژلی دی او دهغه دمسلمان دثابتولو لپاره یې مختلفي بهاني جوړي کړي چې دی مسلمان وو: (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۸۵)

www.jamairahmani.org

مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ۭ وَلَوْ اَنَّهُمْ

مِنْ	دِيَارِكُمْ	مَّا فَعَلُوْهُ	اِلَّا	قَلِيْلٌ	مِّنْهُمْ	وَلَوْ اَنَّهُمْ
له	کورونو خپلو	نو نه به ؤ کړی دوی هغه	مګر	لږو	کسانو له دوی	او که په تحقیق دوی

له کورونو! خپلو! نو نه به ؤ کړی دوی هغه (قتل او جلا) مګر لږو کسانو له دوی څخه او که په تحقیق دوی

فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ

فَعَلُوْا	مَا	يُوْعَظُوْنَ	بِهٖ	لَكَانَ	خَيْرًا	لَّهُمْ	وَاَشَدَّ
کړی وی	هغه	چې پند ورکاوه سی دوی ته	په هغه سره	نو خامخا به ؤ	دا کار خیر	دوی ته	او ډیر به کلک ؤ

کړی وی هغه چې پند ورکاوه سی دوی ته په هغه سره نو خامخا به ؤ دا کار خیر (ډیر غوره) دوی ته او ډیر به کلک ؤ

تَثْبِيْتًا ﴿٦٦﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٦٧﴾

تَثْبِيْتًا	وَّاِذًا	لَّاٰتَيْنٰهُمْ	مِّنْ لَّدُنَّآ	اَجْرًا	عَظِيْمًا
له جهته د محکموالی	او په دغه وخت کښې	به خامخا ورکړی ؤ موږ دوی ته	له خپله درباره	اجر	ډیر لوی

له جهته د محکموالی (د ایمان)، او په دغه وخت کښې به خامخا ورکړی ؤ موږ دوی ته (خاص) له خپله درباره اجر ډیر لوی.

وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٦٨﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ

وَّلَهَدَيْنٰهُمْ	صِرَاطًا	مُّسْتَقِيْمًا	وَمَنْ	يُّطِعِ	اللّٰهَ
او خامخا به برابر کړی ؤ موږ دوی	لارې	سمې ته	او هر څوک چې	حکم ومنی	د الله

او خامخا به برابر کړی (بیولی) ؤ موږ دوی لارې سمې ته. او هر څوک چې حکم ومنی د الله

وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

وَالرَّسُوْلَ	فَاُولٰٓئِكَ	مَعَ الَّذِيْنَ	اَنْعَمَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ
او د رسول (د الله)	نو دغه کسان	به له هغو سره وی	چې انعام کړی دی	الله	پر دوی باندی

او د رسول (د الله) نو دغه کسان به له هغو سره وی (په جنت کښې) چې انعام کړی دی الله پر دوی باندی

مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ

مِّنَ النَّبِيّٖنَ	وَالصِّدِّيْقِيْنَ	وَالشُّهَدَآءِ	وَالصّٰلِحِيْنَ
چې انبیاء دی	او صدیقان دی	او شهیدان دی	او صالحان دی

چې انبیاء دی او صدیقان دی او شهیدان دی او صالحان دی ،

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ

دجنت درجې به دعملونو په اعتبار سره وي: کوم کسان چې په هغه ټولو شیانو باندې عمل کوي دکمو دکولو حکم چې الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ودوی ته ورکړی دی او دهغه ټولو شیانو څخه ځان ساتي دکومو دکولو څخه چې الله ﷻ او دهغه رسول منع کړې دی، نو دعمل په اعتبار سره به ددوی مختلفي درجې وي داولي درجې خلګو ته به الله ﷻ دانبیاوو علیهم السلام سره په جنت کښې په لوړو ځایونو کښې ځای ورکړي اوددوهمي درجې خلګو ته به، دهغه خلګو سره ځای ورکړي چې تر انبیاوو وروسته دي کومو ته چې صدیقین ویل کیږي یعني هغه لوی صحابه کرام کومو چې بغیر دکوم چون او چرا څخه په اول وار کي ایمان قبول کړی دی لکه ابوبکر صدیق رضي الله عنه بیا به ددریمي درجې خلګ دشهیدانو حضراتو سره وي شهیدان هغه خلګ دي چاچي دالله ﷻ په لاره کښې خپل ځانونه اومالونه قربان کړي وي بیا دڅلورمي درجې خلګ به دصالحانو سره وي او صالحان هغه خلګ دي چې په خپل ظاهراو باطن کښې دنیکو عملونو پابنده وي:
(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۹۴)

www.jamairahmani.org

(يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا مهمي فايدي:
ددې آیت په اوله حصه کښي يي دجهاد لپاره دوسلې دراجمع کولو حکم وکړی او په دوهمه حصه کښي يي دجهاد دکولو حکم وکړی ددې څخه دا يوه خبره خو دا معلومه سوه کمه چي يي په ډيرو ځايونو کښي واضح کړي ده چي ظاهري اسباب اختيارول دتوکل منافي نه دي. دوهمه: خبره ورڅخه دا معلومه سوه چي دلته دوسلې دجمع کولو حکم خو يي وکړی ليکن دا وعده يي نه ده کړې چي ددې په وجه به تاسي خامخا محفوظ ياست، ددې څخه اشاره دې طرف ته وسوه چي داسبابو اختيارول يوازي دزړه داطمينان لپاره وي که نه فی نفسه په دې کښي کمه نفعه او نقصان نسته لکه چي ارشاد دی (قل لن يصيبنا الا ما كتب الله لنا) يعني ای نبي تاسي ووایاست چي موږ ته څه تکليف نه رسيږي مګر هغه چي زموږ لپاره مقدر سوي وي. دريم: په دې ايت کښي اول د جهاد دتياری حکم ورکول سوی دی تر دې وروسته ددې لپاره دوتلو طريقه وښوول سوه چي د هغه لپاره يي دوې جملې ذکر کړي دي:
(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۰۱)

وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿٦٩﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ

وَحَسُنَ	اُولٰٓئِكَ	رَفِيْقًا	ذٰلِكَ	الْفَضْلُ	مِنَ	اللّٰهِ
او ښه دی	دغه کسان	له جهته د رفاقته	دا (چې ښه ملګری دی)	فضل دی	له (جانبه د)	الله څخه

او ښه دی دغه کسان له جهته د رفاقته (چې ښه ملګری دی). دا (ملګرتيا) فضل (احسان، رحمت) دی له (جانبه د) الله څخه

وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿٧٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا ۹ ع ۱۱ ۲

وَكَفٰى	بِاللّٰهِ	عَلِيْمًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	خُذُوْا
او کافی دی	الله	ښه پوه	ای!	هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی	واخلئ تاسی

او کافی دی الله ښه پوه. ای! هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی (ای مؤمنانو) واخلئ تاسی

حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ﴿٧١﴾ وَاِنَّ

حِذْرَكُمْ	فَانْفِرُوْا	ثُبَاتٍ	اَوِ انْفِرُوْا	جَمِيْعًا	وَاِنَّ
وسلې خپلې	بیا ووځئ تاسی	ډلې ډلې	یا ووځئ تاسی	ټول سره یوځای	او بیشکه!

وسلې خپلې (یا ځان د کفارو وساتئ) بیا ووځئ تاسی (غزا ته) ډلې ډلې یا ووځئ تاسی کرد (ټول) سره یو ځای. او بیشکه!

مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ

مِنْكُمْ	لَمَنْ	لَّيُبَطِّئَنَّ	فَاِنْ	اَصَابَتْكُمْ	مُّصِيْبَةٌ	قَالَ
ځینی له تاسی	خامخا هغه څوک دی	چې خامخا تاخیر به کوی	نو که	ورسیږی تاسی ته	کوم مصیبت	نو وایی

ځینی له تاسی خامخا هغه څوک دی چې خامخا تاخیر به کوی، نو که ورسیږی تاسی ته کوم مصیبت نو وایی

قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿٧٢﴾

قَدْ	اَنْعَمَ	اللّٰهُ	عَلَيَّ	اِذْ لَمْ اَكُنْ	مَّعَهُمْ	شَهِيْدًا
دا په تحقیق سره	انعام کړی دی	الله	پر ما باندی	ځکه چې نه وم (زه)	له دوئ سره	حاضر (په جهاد کښی)

دا په تحقیق سره انعام (فضل، احسان) کړی دی الله پر ما باندی ځکه چې نه وم (زه) له دوی سره حاضر (په جهاد کښی)

وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ

وَلَئِنْ	اَصَابَكُمْ	فَضْلٌ	مِّنَ	اللّٰهِ	لَيَقُوْلَنَّ	كَاَنْ
او که	ورسیږی تاسی ته	فضل	له (طرفه د)	الله	نو خامخا به وایی هرومرو	چې ګواکی

او که ورسیږی تاسی ته فضل له (طرفه د) الله نو خامخا به وایی هرومرو دا (مختلف منافق) چې ګواکی

www.jamairahmani.org

لَّمۡ تَكُنۢ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيۡتَنِيۡ كُنۡتُ مَعَهُمۡ

لَّمۡ تَكُنۢ	بَيۡنَكُمۡ	وَبَيۡنَهٗ	مَوَدَّةٌ	يّٰلَيۡتَنِيۡ	كُنۡتُ	مَعَهُمۡ
نه وه په	مینځ ستاسی	او په مینځ د ده کښی	هیڅ دوستی	ای کاشکی	زه وی	له دوی سره

نه وه په مینځ ستاسی او په مینځ د ده کښی هیڅ دوستی (او وایی به) ای کاشکی زه (هم) وی له دوی سره

فَاَفُوۡزَ فَوۡزًا عَظِيۡمًا ﴿۷۳﴾ فَلۡيُقَاتِلۡ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ

فَاَفُوۡزَ	فَوۡزًا	عَظِيۡمًا	فَلۡيُقَاتِلۡ	فِيۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ
نو بریالی سوی به وم	په بری	ډیر لوی سره	پس جنګ دی وکړی	په	لاره	د الله کښی

نو بریالی (کامیاب) سوی به وم په بری ډیر لوی سره (له غنائمو) . پس جنګ دی وکړی په لاره د الله کښی

الَّذِيۡنَ يَشۡرُوۡنَ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا بِالۡاٰخِرَةِ ؕ وَمَنۡ

الَّذِيۡنَ	يَشۡرُوۡنَ	الۡحَيٰوةَ	الدُّنۡيَا	بِالۡاٰخِرَةِ	وَمَنۡ
هغه کسان	چی خرخوی دوی	ژوند	دنیوی	په آخرت	او هر څوک چی

هغه کسان چی خرخوی دوی حیات دنیوی (ژوند لږ خسیس) په آخرت او هر څوک چی

يُّقَاتِلۡ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ فَيُقۡتَلۡ اَوۡ يَغۡلِبۡ فَسَوۡفَ

يُّقَاتِلۡ	فِيۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	فَيُقۡتَلۡ	اَوۡ يَغۡلِبۡ	فَسَوۡفَ
جنګ وکړی	په	لاره	د الله کښی	پس شهید کړی سی	یا غالب سی	نو ژر به

جنګ وکړی په لاره د الله کښی (د دین د ترقی له پاره) پس شهید کړی سی یا غالب (غازی او کامیاب سی) نو ژر به

نُؤۡتِيۡهِ اَجۡرًا عَظِيۡمًا ﴿۷۴﴾ وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَاتِلُوۡنَ فِيۡ

نُؤۡتِيۡهِ	اَجۡرًا	عَظِيۡمًا	وَمَا لَكُمۡ	لَا تُقَاتِلُوۡنَ	فِيۡ
ورکړو موږ ده ته	اجر	ډیر لوی	او څه مانع ده تاسی ته	چی جنګ نه کوئ تاسی	په

ورکړو موږ ده ته اجر ډیر لوی (چی جنت دی). او څه مانع ده تاسی ته چی جنګ نه کوئ تاسی په

سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَالۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ

سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	وَالۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ	مِنَ الرِّجَالِ	وَالنِّسَآءِ
لاره	د الله کښی	او په (خلاصولو) د ضعیفانو کښی	چی سړی دی	او ښځی دی

لاره د الله کښی (د دین د ترقی له پاره) او په (خلاصولو) د ضعیفانو کښی چی سړی دی او ښځی دی

وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَاتِلُوۡنَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ.... دمظلوم فریا درسي داسلام یوه مهمه فریضه ده: په مکه مکرمه کښي داسي کمزوري مسلمانان پاته سوي وه چي د بدن دکمزوری او دسامان دلږوالي په وجه یي هجرت نه سو کولای او وروسته بیا کافرانو هم دوی نه پریښوول او قسم قسم تکلیفونه یي ورکول چي داخلګ داسلام څخه بیرته راوګرځي په دې حضراتو کښي دځینو نومونه هم په تفسیرونو کښي ذکر دي مثلا ابن عباس رضي الله عنه ، اوددوی مور بي بي رضي الله عنها ، او سلمه ابن هشام رضي الله عنه ولید ابن ولید رضي الله عنه او ابوجندل بن سهل رضي الله عنه. دې حضراتو دخپل ایمان دپوخوالي په وجه ددوی ظلمونه زغمل او پر اسلام باندي ښه کلک ولاړوه البتّه دالله جل جلاله څخه به یي ددې ظلمونو څخه دخلاصولو لپاره برابري دعاګاني کولي آخر الله جل جلاله ددوی دعاګاني قبولي کړې او مسلمانانو ته یي حکم ورکړی چي جهاد وکړی او دوی دکافرانو دزور زیاتي څخه را خلاص کړی او دا کار یي داسلام او دمسلمانانو یوه اهمه او دوخت فریضه وبلله او مسلمانانو عملي هم کړله (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۰۳)

www.jamairahmani.org

اِنَّ كَيۡدَ الشَّيۡطٰنِ كَانَ ضَعِيۡفًا دشيطان تدبير ضعيف دى: په دې آيت كښي الله ﷻ وښوول چي دشيطان تدبيرونه بيكاره او ضعيفه دي په دې وجه داده مومنانو هيڅ هم نسي خرابولاى نو مومنانو ته پكار دي چي دشيطان ددوستانو يعني كافرانو سره په جنگ كولو كښي سستي ونه كړي ځكه چي ددوى كومكي الله ﷻ دى او كافرانو ته به دشيطان تدبير هيڅ فايده ورنه كړي، لكه چي په جنگ بدر كښي داسي وسول چي اول شيطان دكافرانو په مخكي لوى لوى لاپي ويشتلي او دوى ته يي مكمل يقين وركړى چي (لاغالب لكم اليوم) نن ورځ تاسي هيڅوک نه سي مغلوبه كولاى ځكه چي (انّى جار لكم) يعني زه ستاسي كومكي يم: زه به دخپل ټول لښكر سره ستاسي كومک كوم كله چي جنگ شروع سو نو دى دخپل لښكر سره كه څه هم ورمخ ته سو ليكن كله چي ده وليدل چي دمسلمانانو دكومک لپاره ملايكي راورسيدې نو ده خپل تدبير ناكامه وليدى او تښتيدل يي شروع كړل ميدان او كافران يي پريښوول او په تيښته بريالى سو:
(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۰۴)

وَ الۡوِلۡدَانِ الَّذِيۡنَ يَقُوۡلُوۡنَ رَبَّنَاۤ اَخۡرِجۡنَا مِنۡ هٰذِهِ

وَ الۡوِلۡدَانِ	الَّذِيۡنَ	يَقُوۡلُوۡنَ	رَبَّنَاۤ	اَخۡرِجۡنَا	مِنۡ	هٰذِهِ
او هلكان دى	هغه كسان	چي وايي دوى	اى! ربه زموږ	وباسه موږ	له	دى

او هلكان دى هغه كسان چي وايي دوى اى! ربه زموږ وباسه موږ له دى

الۡقَرۡيَةِ الظَّالِمِ اَهۡلُهَا ۚ وَاجۡعَلۡ لَّنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ وَلِيًّا ۚ

الۡقَرۡيَةِ	الظَّالِمِ	اَهۡلُهَا	وَاجۡعَلۡ	لَّنَا	مِنۡ	لَّدُنۡكَ	وَلِيًّا
كلى ښخه	چي ظالمان دى	اوسيدونكى دهغى	او وګرځوه	موږ ته	له	خپله درباره	كوم ولي

كلى (دمكى) ښخه! چي ظالمان دى، اوسيدونكى دهغى او وګرځوه موږ ته له خپله درباره كوم ولي (حامى، ساتونكى)،

وَّاجۡعَلۡ لَّنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ نَصِيۡرًا ؕ۝۷۵ اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

وَّاجۡعَلۡ	لَّنَا	مِنۡ	لَّدُنۡكَ	نَصِيۡرًا	اَلَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا
او وګرځوه	موږ ته	له	خپله درباره	كوم مددګار!	هغه كسان چي	ايمان لرونكى دى

او وګرځوه موږ ته له خپله درباره كوم مدد ګار!. هغه كسان چي ايمان لرونكى دى

يُقَاتِلُوۡنَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا يُقَاتِلُوۡنَ

يُقَاتِلُوۡنَ	فِيۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	وَالَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	يُقَاتِلُوۡنَ
جنګ كوى دوى	په	لاره	دالله كښي	او هغه كسان	چي كافران سوى دى	جنګ كوى دوى

جنګ كوى دوى په لاره د الله كښي (د دين د ترقى له پاره) او هغه كسان چي كافران سوى دى جنګ كوى دوى

فِيۡ سَبِيۡلِ الطَّاغُوۡتِ فَقَاتِلُوۡۤا اَوۡلِيَآءَ الشَّيۡطٰنِ ۚ اِنَّ

فِيۡ	سَبِيۡلِ	الطَّاغُوۡتِ	فَقَاتِلُوۡۤا	اَوۡلِيَآءَ	الشَّيۡطٰنِ	اِنَّ
په	لاره	دشيطان كښي	نو جنګ وكړئ تاسي	له دوستانو	دشيطان سره	بيشكه!

په لاره د شيطان كښي نو جنګ وكړئ تاسي له دوستانو د شيطان سره!، بيشكه!

كَيۡدَ الشَّيۡطٰنِ كَانَ ضَعِيۡفًا ۝۷۶ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ

كَيۡدَ	الشَّيۡطٰنِ	كَانَ	ضَعِيۡفًا	اَلَمۡ	تَرَ اِلَى	الَّذِيۡنَ
چي مكر	دشيطان	دى	ضعيف	آيا نه دى	كتلى تا	هغو كسانو ته

چي مكر د شيطان دى ضعيف. آيا نه دى كتلى تا (نه دى رسيدلى تا ته حال د ا) هغو كسانو

ربع

www.jamairahmani.org

كُفُّوٓا اَيۡدِيَكُمۡ وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ **شان نزول:** په مکه مکرمه کي تر هجرت مخکښي به کافرانو مسلمانان ډير آزارول مسلمانانو حضور ﷺ ته شکايت وکړی او اجازه يي غوښته چي موږ دکفارو سره جنګ کووا و ددوی څخه ددي ظلم بدله اخلوخو نبي کريم ﷺ به مسلمانان دجنګ څخه منع کول چي ماته تر اوسه دجنګ حکم نه دی سوی بلکي دصبر او معافی حکم دی، او فرمايل به يي چي دلمانځه او زکوة کم حکم چي تاسي ته سوی دی هغه برابر کوی ځکه چي ترڅو پوري انسان دخدای ﷻ په اطاعت کي په خپل نفس باندي دجهاد کولو او دبدني تکليفونو سره او دخپل مال په خرڅ کولو باندي اموخته سوی نه وی، نو ده ته جهاد کول او دخپل روح ورکول ډيرګران کار وي دا خبره مسلمانانو قبوله کړې وه، بيا تر هجرت وروسته کله چي مسلمانانو ته دجهاد حکم وسونو دوی ته خوشحاليدل په کار وه چي زموږ غوښتنه قبوله سوه ليکن ځيني کسان بياهم دکفارو څخه بيريدل لکه دالله ﷻ دعذاب څخه اودا يي وويل کاشکي يوڅو ورځي لا داد جهاد حکم ځنډيدلی وای نو دا آيت نازل سو.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۰۷)

قِيۡلَ لَهُمۡ كُفُّوٓا اَيۡدِيَكُمۡ وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

قِيۡلَ	لَهُمۡ	كُفُّوٓا	اَيۡدِيَكُمۡ	وَاَقِيۡمُوا	الصَّلٰوةَ	وَاٰتُوا
چي وويل سوه	دوی ته	ونيسئ تاسي	لاسونه خپل	او قائموئ تاسي	لمونځ	او ورکوئ تاسي

چي وويل سو دوی ته ونيسئ تاسي لاسونه خپل (له جنګه په مکه کی) او قائموئ (سم اداء کوی) تاسي لمونځ او ورکوئ !

الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ الۡقِتَالُ اِذَا فَرِيۡقٌ

الزَّكٰوةَ	فَلَمَّا	كُتِبَ	عَلَيۡهِمُ	الۡقِتَالُ	اِذَا	فَرِيۡقٌ
زکوة	نو کله چي	فرض کړ سو	پر دوی باندی	جنګ	په دی وخت کښی	يوه ډله

تاسي زکوة!، نو کله چي (په مدينه کښی) فرض کړ سو په دوی باندی (له کفارو سره) جنګ په دی وخت کښی يوه ډله

مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ النَّاسَ كَخَشۡيَةِ اللّٰهِ اَوۡ اَشَدَّ خَشۡيَةً ۚ

مِّنۡهُمۡ	يَخۡشَوۡنَ	النَّاسَ	كَخَشۡيَةِ	اللّٰهِ	اَوۡ	اَشَدَّ	خَشۡيَةً
له دوی څخه	بيريدله	له خلګو څخه	په شان د بيری	له الله څخه	بلکه	ډير زيات	له جهته د بيری

له دوی څخه بيريدله له خلګو نه په شان د بيری (د دوی) له الله څخه بلکه ډير زيات له جهته د بيری

وَقَالُوۡا رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا الۡقِتَالَ ۚ لَوۡلَآ اَخَّرۡتَنَآ

وَقَالُوۡا	رَبَّنَا	لِمَ	كَتَبۡتَ	عَلَيۡنَا	الۡقِتَالَ	لَوۡ	لَآ اَخَّرۡتَنَآ
او ويي ويل دوی	ای ربه زموږ	ولی دی	فرض کړ	په موږ باندی	جنګ!	ولی دی	وروسته نه کړو موږ تا

او ويي ويل دوی ای ربه زموږ! ولی دی فرض کړ په موږ باندی جنګ! ولی دی وروسته نه کړو موږ تا

اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيۡبٍ ؕ قُلۡ مَتَاعُ الدُّنۡيَا قَلِيۡلٌ ۚ وَالۡاٰخِرَةُ خَيۡرٌ

اِلٰٓى	اَجَلٍ	قَرِيۡبٍ	قُلۡ	مَتَاعُ	الدُّنۡيَا	قَلِيۡلٌ	وَالۡاٰخِرَةُ	خَيۡرٌ
ترهغی	نيټی	نژدی پوری	وو ايه	متاع (فائده)	د دی دنيا	ډيره لږه ده	او آخرت ډير	غوره دی

ترهغی نيټی نژدی پوری، وو ايه (ای محمده!) متاع (فائده) د دی دنيا ډيره لږه ده او آخرت ډير غوره دی

لِّمَنِ اتَّقٰى ۟ وَلَا تُظۡلَمُوۡنَ فَتِيۡلًا ۝٧٧ اَيۡنَ مَا

لِّمَنِ		وَلَا تُظۡلَمُوۡنَ	فَتِيۡلًا	اَيۡنَ مَا
هغه چاته چي	بيريږئ	او ظلم به ونه کړی سی پر تاسي	ديوه ډير نری تار	هر چيرته چي

هغه چاته چي بيريږئ (له الله څخه)، او ظلم به ونه کړی سی پر تاسي (په اندازه) ديوه ډير نری تار. هر چيرته چي

www.jamairahmani.org

تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ

تَكُوْنُوْا	يُدْرِكْكُّمُ	الْمَوْتُ	وَلَوْ	كُنْتُمْ	فِيْ	بُرُوْجٍ
او سئ تاسی	پیدا به کړی تاسی لره	مرګ	اګر که	اوسئ تاسی	په	برجونو ډیرو لوړو

اوسئ تاسی وبه مونیسی تاسی لره مرګ اګر که اوسئ تاسی په برجونو (په کلاګانو، ماڼیو) ډیرو لوړو

مُّشَيَّدَةٍ ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ

مُّشَيَّدَةٍ	وَاِنْ	تُصِبْهُمْ	حَسَنَةٌ	يَّقُوْلُوْا	هٰذِهٖ	مِنْ
محکمو مضبوطو کړی سویو کښی	او که	ورسیږی دوی ته	څه نیکی	نو وایی دوی	دا (نیکی)	له

محکمو مضبوطو کړی سویو کښی، او که ورسیږی دوی ته څه نیکی (لکه پراخی) نو وایی دوی دا (نیکی) له

عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ

عِنْدِ	اللّٰهِ	وَاِنْ	تُصِبْهُمْ	سَيِّئَةٌ	يَّقُوْلُوْا	هٰذِهٖ	مِنْ
جانبه د	الله ده	او که	ورسیږی دوی ته	څه بدی	نو وایی دوی	دا (بدی)	له

(جانبه د) الله ده او که ورسیږی دوی ته څه بدی (لکه قحط) نو وایی دوی دا (بدی) له

عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ

عِنْدِكَ	قُلْ	كُلٌّ	مِّنْ	عِنْدِ	اللّٰهِ	فَمَالِ	هٰٓؤُلَآءِ	الْقَوْمِ
جانبه ستا ده	ووایه	دا ټول	له	جانبه د	الله دی	پس څه سبب دی	دی	قوم لره

جانبه ستا ده، ووایه (ای محمده! دوی ته) دا ټول (خیر او شر) له جانبه د الله دی پس څه سبب دی دی قوم لره

لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿۷۸﴾ مَآ اَصَابَكَ مِنْ

لَا يَكَادُوْنَ	يَفْقَهُوْنَ	حَدِيْثًا	مَآ	اَصَابَكَ	مِنْ
چی نه دی نژدی (دی ته)	چی پوه سی دوی	په هیڅ خبره باندی	هر هغه شی چی	ورسید تاته (ای انسانه!)	له

چی نه دی نژدی (دی ته) چی پوه سی دوی په هیڅ خبره باندی. هر هغه شی چی ورسید تاته (ای انسانه!) له

حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ وَمَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ

حَسَنَةٍ	فَمِنَ	اللّٰهِ	وَمَآ	اَصَابَكَ	مِنْ سَيِّئَةٍ	فَمِنْ
نیکی څخه	نو (هغه) له	الله دی	او هر هغه شی	چی ورسید تاته	له بدی څخه	نو (هغه) له

نیکی څخه نو (هغه) له (جانبه د) الله دی او هر هغه شی چی ورسید تاته (ای انسانه!) له بدی څخه نو (هغه) له

مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ.. دلته دحسنة څخه مراد دالله ﷻ نعمت دی: په دې آيت سره يې اشاره ودې خبرې ته وکړه چې انسان ته کوم نعمت رسيږي هغه دده کوم حق نه دی بلکې خاص دالله ﷻ فضل وي. برابره خبره ده انسان چی هر څومره عبادت وکړي په دې سره دی د نعمت مستحق کيدای نه سي ځکه چې دعبادت توفيق هم دالله ﷻ دطرفه څخه دی او بيا دالله ﷻ نعمتونه څومره بې حسابه دي په دې لږ غوندې محدود عبادت او طاعت سره څنګه حاصليدای سي اوبيا خاص چې زموږ عبادت هم درب العلمين دباچهي لايق نه دی په يوه حديث شريف کښې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي (ما احد يدخل الجنة الا برحمة الله قيل ولا انت يارسول الله قال ولا انا) متفق عليه په حواله دتفسير مظهري: يعنې ماسوا دالله ﷻ دفضله څخه څوک جنت ته نه سي تللای چا پوښتنه وکړه چې يارسول الله چې تاسې هم دالله ﷻ دفضله څخه بغير نه سی تللای؟ دده وفرمايل چې هو! .. زه هم دالله ﷻ دفضله څخه بغير جنت ته نه سم تللای (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۱۱)

www.jamairahmani.org

نَّفْسِكَ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

نَّفْسِكَ	وَاَرْسَلْنٰكَ	لِلنَّاسِ	رَسُوْلًا	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ
(جانبه) نفس ستا دی	او لیږلی ئی موږ ته	دپاره د (ټولو) خلګو	رسول	او بس دی	الله

(جانبه) نفس ستا دی، او لیږلی ئی موږ ته (ای محمده!) دپاره د (ټولو) خلګو رسول او بس دی الله

شَهِيْدًا ۝٧٩ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ

شَهِيْدًا	مَنْ يُّطِعِ	الرَّسُوْلَ	فَقَدْ	اَطَاعَ	اللّٰهَ	وَمَنْ
شاهد	هر چا چې حکم ومانه	د رسول	نو په تحقیق چې	حکم ئی ومانه	د الله	او هرڅوک

شاهد (په رسالت ستا ای محمده!). هر چا چې حکم ومانه د رسول (دالله) نو په تحقیق چې حکم ئی ومانه د الله، او هرڅوک

تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۝٨٠ ۭ وَيَقُوْلُوْنَ

تَوَلّٰى	فَمَآ	اَرْسَلْنٰكَ	عَلَيْهِمْ	حَفِيْظًا	وَيَقُوْلُوْنَ
چې وګرځید	پس نه ئی	لیږلی موږ ته	په دوی باندی	ساتونکی	او وایی دوی

چې وګرځید (له اطاعته، ای محمده!) پس نه ئی لیږلی موږ ته په دوی باندی ساتونکی . او وایی دوی (زموږ کارستا)

طَاعَةٌ ۡ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ

طَاعَةٌ	فَاِذَا	بَرَزُوْا	مِنْ عِنْدِكَ	بَيَّتَ	طَآئِفَةٌ	مِّنْهُمْ
طاعت دی	نو کله چې	راووځی دوی	ستا له خوا څخه	نو دشپی (په مشوره وایی)	یو وډله	له دوی

طاعت دی نو کله چې راووځی دوی ستا له خوا څخه نو دشپی (په مشوره وایی) یو وډله له دوی

غَيْرَ الَّذِىْ تَقُوْلُ ۭ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ

غَيْرَ الَّذِىْ	تَقُوْلُ	وَاللّٰهُ	يَكْتُبُ	مَا	يُبَيِّتُوْنَ
غیر له هغی خبری څخه	چې وایی ئی	او الله	لیکی	هغه خبری چې	د شپی ئی (په مشوره سره وائی)

غیر له هغی خبری څخه چې وایی ئی (دا طائفه تاته) او الله لیکی هغه خبری چې د شپی ئی (په مشوره سره دوئ وائی)

فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

فَاَعْرِضْ	عَنْهُمْ	وَتَوَكَّلْ	عَلَى	اللّٰهِ	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ
نو په څنګ سه ته	له دوی څخه	او توکل (اعتماد) وکړه	په	الله باندی	او بس دی	الله

نو په څنګ سه ته! له دوی څخه (او تری تغافل وکړه ته!) او توکل (اعتماد) وکړه په الله باندی ! او بس دی الله

فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ کله چې به منافقین دنبي کریم ﷺ مخ ته راغلل : نو ویل به یي چې موږ ستاسي حکم قبول کړی دی او کله چې به بیرته دده مبارک دمجلسه څخه ولاړل نو دده د نافرمانی کولو مشورې به یي کولې په دې سره به نبي کریم ﷺ ته سخت خفګان رسیدی نو الله ﷻ دته ښوونه وکړه چې ددوی پرواه مه کوه تاسي خپل کار دالله ﷻ په توکل باندي کوی، ځکه چې هغه ستاسي لپاره کافي دی ددې څخه معلومه سوه چې کوم سړی دخلګو راهنما او پیشواه وي دی به تر قسم قسم سختیّو تیریږي خلګ به قسم قسم الزامونه پر سر ورترپي او کله به یي ددوستی په شکل کښي دښمني هم کوي ددې ټولو خبرو سره سره راهنما ته پکاردي چې په محکمه اراده ثابت قدمي او دالله ﷻ په توکل خپل کار جاري وساتي که دده لاراو منزل اونیت صحیح وي خامخا به کامیابه کیږي ددې ښه مثال نن سبا زموږ ستاسي دټولني خدمت کوونکي ځیني علماء دي چې دخدای لپاره خدمت کوي خو بیا هم په ځینو الزامو سره یي خلګ بدناموي : اللهم اهدنا الی صراط مستقیم :
معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۱۳)

www.jamairahmani.org

وَ كِيْلًا ﴿٨١﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ؕ وَلَوْ كَانَ مِنْ

وَ كِيْلًا	اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ	الْقُرْاٰنَ	وَلَوْ	كَانَ	مِنْ
وکيل	آيا نو فکر غورنه کوی دوی	په‌دی قرآن کښی	او که	وی (دا قرآن)	له

وکيل (کارجوړوونکی). آيا نو فکر غورنه کوی دوی په‌دی قرآن کښی او که‌وی (دا قرآن) له

عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿٨٢﴾

عِنْدِ	غَيْرِ	اللّٰهِ	لَوَجَدُوْا	فِيْهِ	اخْتِلَافًا	كَثِيْرًا
جانبه	د غير	د الله څخه	نو خامخا پيدا کړی به‌ؤ (دوی)	په‌هغه کښی	اختلاف	ډير

جانبه د غير د الله څخه نو خامخا موندلی به‌ؤ (دوی) په‌هغه کښی اختلاف ډير.

وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا

وَاِذَا	جَآءَهُمْ	اَمْرٌ	مِّنَ	الْاَمْنِ	اَوِ الْخَوْفِ	اَذَاعُوْا
او کله چې	راسی دی (منافقانو) ته	کوم امر	له	له امن (نصرت)	يا (کوم خبر له) ويری	نو مشهوروی دوی

او کله چې راسی دی (منافقانو) ته کوم امر (خبره) له امن (نصرت) يا (کوم خبر له) ويری نو مشهوروی دوی

بِهٖ ؕ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ

بِهٖ	وَلَوْ رَدُّوْهُ	اِلَى	الرَّسُوْلِ	وَاِلٰٓى	اُولِى الْاَمْرِ	مِنْهُمْ
هغه	او که‌دوی ورورسولی وی دا	طرف د	رسول ته	او طرف د	حاکمانو خپلو ته	له‌دوی څخه

هغه (خبر)، او که‌دوی ورسولی (اوړيښبی) وی دا خبر (طرف د) رسول ته‌او (طرف د) حاکمانو خپلو ته‌له‌دوی څخه

لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ

لَعَلِمَهُ	الَّذِيْنَ	يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ	مِنْهُمْ	وَلَوْلَا	فَضْلُ	اللّٰهِ
نو خامخا معلوم به‌وای دا کار	هغو کسانو ته	چې تحقيق کولای سی د هغه	له‌دوی ځنې	او که‌نه‌وی	فضل	د الله

نو خامخا معلوم به‌وی، (تدبير) د دی کار هغو کسانو ته چې ايستلی سئ ښه‌د بد و څخه له‌دوی ځنې ، او که‌نه‌وی فضل د الله

عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٨٣﴾

عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهٗ	لَاتَّبَعْتُمُ	الشَّيْطٰنَ	اِلَّا	قَلِيْلًا
پرتاسی	او رحمت د ده	نو خامخا به‌متابعت کړی ؤ تاسی	د شيطان	مګر	لږو

پرتاسی او رحمت د ده (په‌نزول د قرآن) نو خامخا به‌متابعت کړی ؤ تاسی د شيطان مګر (نه‌به‌ؤ کړی له‌تاسی څخه) لږو

وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ.. شان نزول:

علامه ابن کثير رحمة الله عليه ددې ايت په اړوند دواقعو دنقل کولو وروسته فرمايي چې ددې ايت په شان نزول کښي دحضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه دحديث ذکر کول پکار دي هغه دا چې حضرت عمر رضي الله عنه ته داخبر ورسيدی چې نبي کريم ﷺ خپلو بيبيانو ته طلاق ورکړی دی، نو دی دخپل کور څخه راووتی مسجد ته راغلی چې دروازي ته راورسيدی نو ده واوريدل چې په مسجد کښي دننه خلګ هم داخبري کوي، ده چې داواوريدل نو وې فرمايل چې ددې خبري تحقيق په کار دی، نو دی نبي کريم ﷺ ته ورسيد او پوښتنه يي ځني وکړه چې يارسول الله آيا تاسي خپلو بيبيانو ته طلاق ورکړی دی ؟ ده ﷺ وفرمايل چې نه ما طلاق نه دی ورکړی حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې تر دې تحقيق وروسته زه مسجد ته راغلم او پر دروازه ودريدم دا اعلان مي وکړی چې نبي کريم ﷺ خپلو بيبيانو ته طلاق نه دی ورکړی دا تاسي څه وايياست دادرواغ خبره ده نو پر دې باندي دا ايت نازل سو:

(معارف القرآن ج ٢ پ ٥ ص ١١٦)

www.jamairahmani.org

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ

فَقَاتِلْ	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	لَا تُكَلَّفُ	اِلَّا	نَفْسَكَ
نو جنګ کوه ته	په	لاره	د الله کښې	نه ئې مکلف کړې سوی ته	مګر	په حق د ځان خپل

نو جنګ کوه ته په لاره د الله کښې نه ئې مکلف کړې سوی ته مګر په حق د ځان خپل

وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ

وَحَرِّضِ	الْمُؤْمِنِيْنَ	عَسَى	اللّٰهُ	اَنْ يَّكُفَّ	بَاْسَ	الَّذِيْنَ
او تیزوه	مؤمنان	نژدې ده چې	الله	بنده کړي (سختي د)	جنګ	دهغو کسانو

او تیزوه مؤمنان (په جهاد او ورترغیبوه یې!)، نژدې ده چې الله بنده کړي (سختي د) جنګ

كَفَرُوْا ۭ وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّ اَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿٨٤﴾

كَفَرُوْا	وَ	اللّٰهُ	اَشَدُّ	بَاْسًا وَّ	اَشَدُّ	تَنْكِيْلًا
چې کافران سوي دي	او	الله	ډیر سخت دی	له جهته د هیبت	او ډیر سخت دی	له جهته د عذاب ورکولو

دهغو کسانو چې کافران سوي دي او الله ډیر سخت دی له جهته د هیبت، جنګ او ډیر سخت دی له جهته د عذاب ورکولو .

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ

مَنْ	يَّشْفَعْ	شَفَاعَةً	حَسَنَةً	يَّكُنْ	لَّهٗ	نَصِيْبٌ	مِّنْهَا
او هر څوک	چې سپارښت وکړي	سپارښت	نیک	نو وي به	ده لره	یوه برخه (ثواب)	په سبب د هغه سره

او هر څوک چې سپارښت وکړي سپارښت نیک (له شرعي سره سم) نو وي به ده لره یوه برخه (دثواب) په سبب دهغه سره ،

وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۭ

وَمَنْ	يَّشْفَعْ	شَفَاعَةً	سَيِّئَةً	يَّكُنْ	لَّهٗ	كِفْلٌ	مِّنْهَا
او هر څوک	چې سپارښت وکړي	سپارښت	ناکاره	نو وي به	ده لره	یو بار	په سبب دهغه سره

او هر څوک چې سپارښت وکړي سپارښت ناکاره (له شرعي خلاف) نو وي به ده لره یو بار (برخه د ګناه) په سبب دهغه سره

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿٨٥﴾ وَاِذَا حُيِّيْتُمْ

وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	مُّقِيْتًا	وَاِذَا	حُيِّيْتُمْ
او دی	الله	پر	هر	شی	قدرت لرونکی	او هر کله چې	دعاوکړه سی تاسی ته

او دی الله پر هر شی باندی قدرت لرونکی (نو وربه کړي جزا هر چالره په عمل د ده سره). او هر کله چې دعا وکړه سی تاسی ته

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا تُكَلَّفُ.... شان نزول:

کله چې د احد غزا د شوال یعني دکوچني اختر په میاشت کښې وسوه نو نبي کریم ﷺ په ذي قعده کښې دکفارو دوعدې مطابق بدر ته دمقابلې لپاره تلل وغوښتل (چې تاریخ لیکونکي ورته بدر صغری وایي) په دغه وخت کښې ځینو خلګو دتازه زخمونو دوجې او ځینو بیا دآوازو دوجې څه تأمل او ځنډ وکړی په تلو کښې نو پردې باندې دغه راتلونکي آیاتونه رانازل سول چې په دې کښې نبي کریم ﷺ ته دا هدایت وکړی چې که چیرې دغه تازه مسلمانان دجنګ څخه بیرېږي نو تاسي یوازې په خپل سرسره وجنګ ته وروزی الله ﷻ ستاسي کومک کوونکی دی. په دغه هدایت سره نبي کریم ﷺ داویا ملګروسره کوچني بدر ته تشریف یووی دکم وعده چې دابوسفیان سره داحد تر غزا وروسته سوې وه الله د ابوسفیان او دهغه دملګرو په زړونو کښې دمسلمانانو رعب اوبیره ورواچوله او هیڅوک مقابلې ته را نه غلی الله ﷻ دخپل ارشاد موافق دکافرانو جنګ بند کړی او دوی په خیر راورسیدل.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۱۹)

www.jamairahmani.org

نصف

بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَا ۗ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ

بِتَحِيَّةٍ	فَحَيُّوا	بِأَحْسَنَ	مِنْهَآ	أَوْ رُدُّوهَا	إِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ
په یوه دعا سره	نو تاسی هم دعا وکړئ	په دعا ښه سره	له هغی څخه	یا وروګرځوئ هم هغه	بیشکه!	الله	چې دی

په یوه دعا سره نو تاسی هم دعا وکړئ (هغه ته) په دعا ښه سره له هغی څخه یا وروګرځوئ هم غه (وینا) بیشکه چې الله دی

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ اَللّٰهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ

عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	حَسِيبًا	اَللّٰهُ	لَآ إِلٰهَ	إِلَّا	هُوَ
پر	هر	شی باندی	ښه حساب کوونکی	الله	نشته هیڅ لایق د عبادت	مګر	یوازی هم دی دی

پر هر شی باندی ښه حساب کوونکی (نو د رسره حساب کوی). او نشته هیڅ لایق د عبادت مګر یوازی هم دی دی

لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۗ وَمَنْ

لَيَجْمَعَنَّكُمْ	إِلٰى يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	لَا رَيْبَ	فِيهِ	وَمَنْ
خامخا راجمع به کړی هرومرو تاسی	ورځی	د قیامت ته	چې نشته هیڅ شک	په هغی کښی	او څوک دی

خامخا راجمع به کړی هرومرو تاسی ورځی د قیامت ته چې نشته هیڅ شک په هغی (ورځی یا په دی جمع) کښی او څوک دی

أَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيثًا ﴿٨٧﴾ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِينَ

أَصْدَقُ	مِنَ	اللّٰهِ	حَدِيثًا	فَمَا لَكُمْ	لَكُمْ	فِي	الْمُنٰفِقِينَ
ډیر رښتنی	له	الله څخه	له جهته د خبری	نو څه سوی دی	تاسی ته	په (معامله)	د منافقانو کښی

ډیر رښتنی له الله څخه له جهته د خبری؟ (هیڅ څوک نشته!). نو څه سوی دی تاسی ته په (معامله) د منافقانو کښی

ع ۸

فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوا ۚ أَتُرِيدُونَ

فِئَتَيْنِ	وَ	اللّٰهُ	أَرْكَسَهُمْ	بِمَا	كَسَبُوا	أَتُرِيدُونَ
چې دوی ډلی (سوی یئ)	او	الله	بیرته ګرځولی دی دوی	په سبب	د هغو بدو اعمالو چې کړی دی دوی	آیا اراده لرئ تاسی

چې دوی ډلی (سوی یئ) او الله بیرته ګرځولی دی دوی په سبب د هغو بدو اعمالو چې کړی دی دوی آیا اراده لرئ تاسی

أَنْ تَهْدُوا مَنْ أَضَلَّ اللّٰهُ ۖ وَمَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ

أَنْ	تَهْدُوا	مَنْ	أَضَلَّ	اللّٰهُ	وَمَنْ	يُضْلِلِ	اللّٰهُ
د دی چې	چې په سمه لار برابر کړئ تاسی	هغه څوک	چې ګمراه کړی دی	الله	او هر څوک چې	ګمراه کړی	الله

د دی چې په سمه صافه لار برابر کړئ تاسی هغه څوک چې ګمراه کړی دی الله او هر څوک چې ګمراه کړی الله

فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَا.. اسلامي سلام دټولو نورو قومونو تر سلام غوره دی: ددنیا په هر تهذیب یافته قوم کښي ددې رواج دی چې کله دیو بل سره یوځای کیږي نو یوه کلمه دیو بل سره دالفت او محبت لپاره وایي لیکن چې موازنه وسي نو معلومه به سي چې اسلامي سلام چې څومره جامع دی دومره بل یو نه دی، ځکه چې په دي کښي یوازي دمحبت اظهار نه دی بلکي ددې سره سره په کښي دمحبت حق اداء کول هم دي چې دالله ﷻ څخه داسوال کوي چې ای الله ته دی دټولو آفتونو اوغمونو څخه سلامت وساتې او بیا دعاء هم دعربو په شکل سره یوازي دژوند پاته کیدو نه ده بلکي دپاک ژوند دعاء ده یعني دټولو آفتونو او دردونو څخه دمحفوظ پاته کیدو اوددې سره سره ددې خبرې اظهار هم دی چې موږ اوتاسي ټول دالله ﷻ محتاجه یو یوبل ته کمه نفع بغیر دهغه داجازت څخه نسو رسولای، ددې معنی په اعتبار سره یعنی دا کلمه یو عبادت هم دی او خپل مسلمان ورور ته دخدای دیادولو ذریعه هم ده او دیو مسلمان خیر خواهي هم په کښي ده.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۲۵)

www.jamairahmani.org

فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا

فَلَنْ	تَجِدَ لَهٗ	سَبِيْلًا	وَدُّوْا	لَوْ تَكْفُرُوْنَ	كَمَا	كَفَرُوْا
پس نه به	پیداکړې ده دوه ته	هیڅ لاره	دوست ګڼي دوی	که تاسي کافران سئ	لکه چې	کافران سوي دي دوی

پس نه به مومې ده ته هیڅ لاره (دهدایت). دوست ګڼي دوی که تاسي (هم) کافران سئ لکه چې کافران سوي دي دوی

فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى

فَتَكُوْنُوْنَ	سَوَآءً	فَلَا	تَتَّخِذُوْا	مِنْهُمْ	اَوْلِيَآءَ	حَتّٰى
نوسئ تاسي او دوی	برابر	نو مه	نیسئ تاسي	له دوی څخه	دوستان	ترڅو چې

نو سئ تاسي او دوی (ټول سره) برابر (په کفر کښې) نو مه نیسئ تاسي له دوی څخه دوستان ترڅو چې

يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ

يُهَاجِرُوْا	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	فَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَخُذُوْهُمْ	وَ	اقْتُلُوْهُمْ
هجرت وکړي دوی	په	لاره	دالله کښې	نو که	وګرځیدل دوی	نو ونیسئ تاسي دوی	او	وئ وژنئ تاسي دوی

هجرت وکړي په لاره د الله کښې نو که وګرځیدل دوی (له لاری د الله) نو ونیسئ تاسي دوی او وئ وژنئ تاسي دوی

حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٨٩﴾

حَيْثُ	وَجَدْتُّمُوْهُمْ	وَلَا تَتَّخِذُوْا	مِنْهُمْ	وَلِيًّا	وَّلَا نَصِيْرًا
هر چیرې چې	پیداکړل تاسي دوی	او مه نیسئ تاسي (هیڅوک)	له دوی څخه	دوست	او نه مددګار

هر چیرې چې ومو ندل تاسي دوی او مه نیسئ تاسي (هیڅوک) له دوی څخه دوست او نه مددګار.

اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

اِلَّا	الَّذِيْنَ	يَصِلُوْنَ	اِلٰى	قَوْمٍ	بَيْنَكُمْ	وَبَيْنَهُمْ
مګر	هغه کسان	چې وتړي دوی ځانونه خپل	هغه	قوم ته چې	په مینځ ستاسي	او په مینځ د دوی کښې

مګر هغه کسان چې وتړي دوی ځانونه خپل (او امان راوړي) هغه قوم ته چې په مینځ ستاسي او په مینځ د دوی کښې

مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ

مِّيْثَاقٌ	اَوْ جَآءُوْكُمْ	حَصِرَتْ	صُدُوْرُهُمْ
عهد پیمان وی	یا راسي دوی تاسي ته	حال دا چې تنګې سوې وي	سینې (زړونه) د دوی

عهد پیمان وی یا راسي دوی تاسي ته حال دا چې تنګې سوې وی سینې (زړونه) د دوی (او بد ګڼي له دی نه)

وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا... ددرو مختلفو ډلو بیان او ددوی حکمونه: کله چې تاسي ددې مرتدینو حالت ولیدی بیا تاسي ته څه وسول چې ددې منافقینو په باره کښې اختلاف درایي کوی، دوې ډلې کیږي چې یوه ډله اوس هم دوی ته مسلمانان وایي حال دادی چې الله جل جلاله دوی ښکاره کفر طرف ته واپس کړل ددوی، دبد عمل په سبب دغه بد عمل دوجي دمرتد کیدو څخه دار اسلام پریښوول سره دقدرته چې په دغه وخت کښې دار اسلام ته هجرت نه کول په مثل داقرار نه کولو په اسلام باندي وو او دکفر ښبانه وه او په حقیقت کښې دوی اول هم نه وه مسلمانان سوي او په دې وجه یې دوی ته منافقین وویل، ایا تاسي خلګ ایا هغې ډلې چاته چې ددار اسلام پریښوول دکفرښبانه کیدل معلوم نه دي، ددې اراده لری چې داسي خلګوته هدایت وکړی کوم چې الله جل جلاله په ګمراهي کښې اچولي دي کله چې دوی ګمراهي اختیاره کړه لکه چې دا دالله جل جلاله عادت دی چې بنده دکوم کار قصد وکړي نو الله جل جلاله هغه کار پیداکړي.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ص ۱۳۰)

www.jamairahmani.org

اَنۡ يُّقَاتِلُوۡكُمۡ اَوۡ يُقَاتِلُوۡا قَوۡمَهُمۡ ؕ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ

اَنۡ يُّقَاتِلُوۡكُمۡ	اَوۡ يُقَاتِلُوۡا	قَوۡمَهُمۡ ؕ	وَلَوۡ شَآءَ	اللّٰهُ
چي جنګ وکړي له تاسي سره	يا جنګ وکړي دوی	د قوم خپل سره	او که اراده کړې وی	الله

چي جنګ وکړي له تاسي سره يا جنګ وکړي دوی د قوم خپل سره (ستاسي په مرسته) او که اراده کړې وی الله

لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقٰتَلُوۡكُمۡ ۚ فَاِنِ اعۡتَزَلُوۡكُمۡ

لَسَلَّطَهُمۡ	عَلَيۡكُمۡ	فَلَقٰتَلُوۡكُمۡ	فَاِنِ	اعۡتَزَلُوۡكُمۡ
نو خامخا زورور کړي به ئې وی دوی	په تاسي	نو خامخا به جنګيدل له تاسي سره	نو که	څنګ وکړ دوی له تاسي

نو خامخا زورور کړي به ئې وی دوی په تاسي نو خامخا به جنګيدل له تاسي سره نو که څنګ وکړ دوی له تاسي

فَلَمۡ يُقَاتِلُوۡكُمۡ وَاَلۡقَوۡا اِلَيۡكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ

فَلَمۡ يُقَاتِلُوۡكُمۡ	وَاَلۡقَوۡا	اِلَيۡكُمُ	السَّلَمَ	فَمَا	جَعَلَ	اللّٰهُ
پس و نه کړ جنګ دوی له تاسي سره	او د روړاندې کړه دوی	تاسی ته	روغه	نو نه ده	ګرځولی	الله

پس و نه کړ جنګ دوی له تاسي سره او د روړاندې کړه دوی تاسی ته روغه نو نه ده ګرځولی الله

لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيۡلًا ۝٩٠ سَتَجِدُوۡنَ اٰخَرِيۡنَ يُرِيۡدُوۡنَ

لَكُمۡ	عَلَيۡهِمۡ	سَبِيۡلًا	سَتَجِدُوۡنَ	اٰخَرِيۡنَ	يُرِيۡدُوۡنَ
تاسي ته	پر دوی	هيڅ لار	ژر به پيدا کړي تاسي	يو بل قوم	چي اراده به لري دوی

تاسي ته پر دوی هيڅ لار (د نيولو او وژلو او مال اخيستولو). ژر به و مومئ تاسي يو بل (قوم) چي اراده به لري دوی

اَنۡ يَّاۡمَنُوۡكُمۡ وَيَاۡمَنُوۡا قَوۡمَهُمۡ ؕ كُلَّمَا رُدُّوۡۤا اِلَى الۡفِتۡنَةِ

اَنۡ يَّاۡمَنُوۡكُمۡ	وَيَاۡمَنُوۡا	قَوۡمَهُمۡ	كُلَّمَا	رُدُّوۡۤا	اِلَى	الۡفِتۡنَةِ
د دی چي په امان سی له تاسي	او په امان سی	له قومه خپله	هر کله	چي وبلل سی	دوی	فتنی ته

د دی چي په امان سی له تاسي (هم) او په امان سی له قومه خپله (هم)، هر کله چي وبلل سی دوی فتنی (فساد، کفر) ته

اُرۡكِسُوۡا فِيۡهَا ۚ فَاِنۡ لَّمۡ يَعۡتَزِلُوۡكُمۡ وَيُلۡقُوۡۤا

اُرۡكِسُوۡا	فِيۡهَا	فَاِنۡ	لَّمۡ يَعۡتَزِلُوۡكُمۡ	وَيُلۡقُوۡۤا
نو بيرته ګرځاوه شي	په هغه کښې	بيا که	نسول په څنګ دوی له تاسي څخه	او د روړاندې ئې نه کړه

نو بيرته ګرځاوه شي په هغه فساد کښې، بيا که نسول په څنګ دوی له تاسي څخه او د روړاندې ئې نه کړه

اَنۡ يُّقَاتِلُوۡكُمۡ اَوۡ يُقَاتِلُوۡا قَوۡمَهُمۡ ؕ ددوهمي ډلي

کافرانو بيان : مګر په دي کفارو کښي کوم خلګ چي داسي دي چي ستاسي سره په روغه باندي او سيدل غواړي چي ددې دوې طريقي دي: يوه دا چي په واسطه دصلحي وي يعني دداسي خلګو سره يوځای سی چې وعده وکړې چي ستاسي او دهغو په مينځ کښي عهد او صلح وي لکه بنو مدلج چي ددوی سره صلح وسوه، نو ددوی چي دچا سره عهد وو هغوی هم په دې استثناء کښي راغلل نو بني مدلج خو په طريقه اولی سره ورڅخه مستثنی سول يا دوهمه طريقه داده چي بې له واسطي دصلحي وي داسي چي په خپله تاسي ته په داسي حالت کښي راسي چي ددوی زړه ستاسي سره او دخپل قوم سره هم دجنګ څخه تنګ وي، نو نه دخپل قوم سره، ستاسي دجنګ کولو لپاره ملګرتيا کوي او نه ستاسي سره ملګري کيږي چي دخپل قوم سره جنګ کوي بلکي ددوی سره هم صلح ساتي او ستاسي سره هم نو په دغه دواړو طريقو کښي چي په هره طريقه سره صلح وساتي دوی دقتل څخه مستثنی دي.
(معارف القرآن ج٢ پ ٥ ص ١٣١)

www.jamairahmani.org

اِلَيۡكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوۡۤا اَيۡدِيَهُمۡ فَخُذُوۡهُمۡ

اِلَيۡكُمُ	السَّلَمَ	وَيَكُفُّوۡۤا	اَيۡدِيَهُمۡ	فَخُذُوۡهُمۡ
تاسی ته	روغه	او بند ئی نه کړه	لاسونه خپل	نو نیسئ تاسی دوی

تاسی ته روغه او بند ئی نه کړ لاسونه خپل (له جنګه) نو نیسئ تاسی دوی (او بندی کوئ یی)

وَاقۡتُلُوۡهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوۡهُمۡ ؕ وَاُولٰٓـئِكُمۡ جَعَلۡنَا

وَاقۡتُلُوۡهُمۡ	حَيۡثُ	ثَقِفۡتُمُوۡهُمۡ	وَاُولٰٓـئِكُمۡ	جَعَلۡنَا
او ووژنئ تاسی دوی	په هر ځای کښی	چې پیدا کړی تاسی دوی	او داتولی	ګرځولی دی موږ

او ووژنئ تاسی دوی په هر ځای کښی چې پیدا کړی تاسی دوی، او داتولی ګرځولی دی موږ

لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطٰنًا مُّبِيۡنًا ﴿۹۱﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٍ اَنۡ

لَكُمۡ	عَلَيۡهِمۡ	سُلۡطٰنًا	مُّبِيۡنًا	وَمَا	كَانَ	لِمُؤۡمِنٍ	اَنۡ
تاسی لره	پر دوی باندی	برهان	ښکاره	او نه	ښایی هیڅ	مؤمن ته	دا چې

تاسی لره پر دوی باندی برهان (دلیل) ښکاره. او نه ښایی هیڅ مؤمن ته (یا نه دی د مؤمن کار) دا چې

يَّقۡتُلَ مُؤۡمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنۡ قَتَلَ مُؤۡمِنًا خَطَـًٔا

يَّقۡتُلَ	مُؤۡمِنًا	اِلَّا	خَطَـًٔا	وَمَنۡ	قَتَلَ	مُؤۡمِنًا	خَطَـًٔا
مړ کړی	مؤمن	مګر	په خطا سره	او هر څوک چې	مړ کړی	کوم مؤمن	په خطا سره

مړ کړی (بل) مؤمن مګر په خطا سره، او هر څوک چې مړ کړی کوم مؤمن په خطا سره

فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهۡلِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ

فَتَحۡرِيۡرُ	رَقَبَةٍ	مُّؤۡمِنَةٍ	وَّدِيَةٌ	مُّسَلَّمَةٌ	اِلٰٓى اَهۡلِهٖۤ	اِلَّاۤ	اَنۡ
نو آزادول	دغاړې (دمریی)	مؤمن	او دیت دی	سپارلی سوی	اهل (وارثانو) د مقتول ته	مګر	دا که

نو (سته پر قاتل) آزادول د غاړې (دمریی) مؤمن او (بل) دیت دی سپارلی سوی اهل (وارثانو) د مقتول ته مګر دا که

يَّصَّدَّقُوۡا ؕ فَاِنۡ كَانَ مِنۡ قَوۡمٍ عَدُوٍّ لَّـكُمۡ وَهُوَ مُؤۡمِنٌ

يَّصَّدَّقُوۡا	فَاِنۡ	كَانَ	مِنۡ	قَوۡمٍ	عَدُوٍّ لَّـكُمۡ	وَهُوَ	مُؤۡمِنٌ
معاف کړی دا	پس که	و	له	قومه	چې دښمن وی تاسی لره	حال دا چې	دا مؤمن وی

معاف کړی دا (وارثان دغه قاتل) پس که و (دامقتول) له قومه چې دښمن وی تاسی لره حال دا چې دا (مقتول) مؤمن وی

ع ۱۲ ۹

وَيَكُفُّوۡۤا اَيۡدِيَهُمۡ فَخُذُوۡهُمۡ ددريمي دلي

كافرانويـيان : الله ﷻ فرمايي ځيني به كافران هم وي چي تاسي ته ضرر ځيني ورسيږي يعني ددوى به دا حالت معلوم وي چي دچم لپارهغوى دا هم غواړي چي ستاسي څخه هم بي خطره واوسي او دخپل قوم څخه هم بې خطره واوسي او ددې سره كله چي هم دوى ښكاره مخالفين دشرارت اوفساد طرف ته متوجه كوي يعني دمسلمانانو سره يې جنګ ته هڅوي نو دوى په دستې په دې شرارت كښې ورلوېږي يعني دمسلمانانو سره جنګ ته تياريږي او ددغه دوكې او چم صلح ماتوي نو داخلګ كه صلح ماته كړي اوستاسي څخه يعني ستاسي دجنګ څخه منع نه سي اونه ستاسي سره دسلامتيا رويه او طريقه اختياره كړي او نه خپل لاسونه ستاسي دمقابلې څخه بندوي ددې تولو الفاظو مطلب دتيرو په شان سره يودى يعني چي صلح ماته كړي نو تاسي هم دوى نيسي او قتلوي يې كم ځای چي دوى پيدا كړئ او موږ تاسي ته پردوى باندي صفا حجت دركړى دى چي په هغه سره ددوى قتلول ښكاره دي.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص۱۰۷)

www.jamairahmani.org

فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ وَاِنۡ كَانَ مِنۡ قَوۡمٍۭ بَيۡنَكُمۡ

فَتَحۡرِيۡرُ	رَقَبَةٍ	مُّؤۡمِنَةٍ	وَاِنۡ	كَانَ	مِنۡ	قَوۡمٍۭ	بَيۡنَكُمۡ
نو آزادول	دغاړې	(دمريي) مؤمن	او كه	وُ	دا مقتول	له قومه	چي په مينځ ستاسى

نو (ستهٔ پر قاتل تش) آزادول دغاړې (دمريي) مؤمن (بى له ديته) او كهٔ وُ دا مقتول له قومه چي په مينځ ستاسى

وَبَيۡنَهُمۡ مِّيۡثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهۡلِهٖ وَتَحۡرِيۡرُ

وَبَيۡنَهُمۡ	مِّيۡثَاقٌ	فَدِيَةٌ	مُّسَلَّمَةٌ	اِلٰٓى اَهۡلِهٖ	وَتَحۡرِيۡرُ
او په مينځ د هغه قوم كښې	عهد وى	نو ديت	ورسپارلى سوى	اهل (وارثانو) دمقتول ته	او (بل) آزادول

او په مينځ دهغه قوم كښې عهد وى نو (ستهٔ پر قاتل) ديت ورسپارلى سوى اهل (وارثانو) د مقتول ته او (بل) آزادول

رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ فَمَنۡ لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ

رَقَبَةٍ	مُّؤۡمِنَةٍ	فَمَنۡ	لَّمۡ يَجِدۡ	فَصِيَامُ	شَهۡرَيۡنِ
دغاړې (دمريي)	مؤمن دى	پس هر څوك چي	پيدانهٔ كړى	نو روژه نيول	د دوو مياشتو دى

دغاړې (دمريي) مؤمن دى، پس هر څوك چي ونهٔ مومى (مريي يا مال چي پرى مريي واخلى) نو روژه نيول د دوو مياشتو دى

مُتَتَابِعَيۡنِ ۡ تَوۡبَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ﴿۹۲﴾ وَمَنۡ

مُتَتَابِعَيۡنِ	تَوۡبَةً	مِّنَ	اللّٰهِ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلِيۡمًا	حَكِيۡمًا	وَمَنۡ
پرله پسى	توبه	له (جانبهٔ)	الله	او دى	الله	بنه عالم	لوى حكمت والا	او هر څوك چي

پرله پسى توبه له (جانبهٔ) الله ، او دى الله بنه عالم (په ټولو احوالو) لوى حكمت والا. او هر څوك چي

يَّقۡتُلۡ مُؤۡمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيۡهَا وَغَضِبَ

يَّقۡتُلۡ	مُؤۡمِنًا	مُّتَعَمِّدًا	فَجَزَآؤُهٗ	جَهَنَّمُ	خٰلِدًا	فِيۡهَا	وَغَضِبَ
مړ كړى كوم	مؤمن	په قصد سره	نو جزا د ده	دوزخ دى	چي تل به وى دى	په هغه كښې	او غضب كړى دى

مړ كړى كوم مؤمن په قصد سره ، نو جزا د ده دوزخ دى چي تل به وى دى په هغه (دوزخ) كښې او غضب (قهر) كړى دى

اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيۡمًا ﴿۹۳﴾

اللّٰهُ	عَلَيۡهِ	وَلَعَنَهٗ	وَاَعَدَّ لَهٗ	عَذَابًا	عَظِيۡمًا
الله	په ده باندى	اولړى كړى دى (الله) دا (قاتل) له خپل رحمت څخه	او تيار كړى دى ده ته	عذاب	ډير لوى

الله په ده باندى او لړى كړى دى (الله) دا (قاتل) له خپل رحمت څخه او تيار كړى دى ده ته عذاب ډير لوى.

فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ وَاِنۡ كَانَ مِنۡ...

دقتل دري قسمونه او ددي شرعي حكم:

اول قتل عمد: يعني په قصد سره يو څوك وژل. قتل عمد دې ته وايي چي په ښكاره سره دداسي آلې په ذريعه سره واقع سي چي داوسپني وي يا په پريكولو كښي داندامونو د اوسپني دآلې په شان وي لكه تيره بانس يا تيره ډبره او نور: **دوهم قسم شبه عمد**: چي په قصد سره خووي خو په داسي آلې سره نه وي چي اجزاء په پرې كيږي. **دريم قسم قتل خطاء**: يا خو په قصد او گمان سره دليري څخه يو سړی داخپل ښكار حيوان ،حربي ،او يا كافروگڼي او په نښه يي كړي يا په نښه كړی يي حيوان وي خو ومښلي پر انسان باندي په دې كښي دخطاء څخه مراد غير قصدا دى نو دوهم او دريم دواړه قسمونه په دې كښي راغلل په دواړو كي ديت هم دى او گناه هم ليكن په دې دواړو كارونو كښي دا دواړه قسمونه مختلف دي، ددوهم قسم ديت سل اوښان دي څلور قسمه او ددريم قسم ديت سل اوښان دي پنځه قسمونه اوكه نغدي وركوي نو لس زره دراهم شرعي يا زرديناره شرعي دي: تفصيل دفقهي په كتابو كښي دى:

(معارف القرآن ج۲پ۵ص۱۳۷)

www.jamairahmani.org

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِىۡ سَبِيۡلِ

يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡۤا	اِذَا	ضَرَبۡتُمۡ	فِىۡ	سَبِيۡلِ
ای	هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی	کله چې	سفر کوئ تاسې	په	لاره

ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی کله چې سفر کوئ تاسې په لاره

اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوۡا وَلَا تَقُوۡلُوۡا لِمَنۡ اَلۡقٰٓى اِلَيۡكُمُ السَّلٰمَ

اللّٰهِ	فَتَبَيَّنُوۡا	وَلَا تَقُوۡلُوۡا	لِمَنۡ	اَلۡقٰٓى	اِلَيۡكُمُ	السَّلٰمَ
دالله کښې	نو ښه تحقیق وکړئ	او مه وایئ تاسې	هغه چاته	چې درواچوی	تاسې ته	سلام

د الله کښې (جهاد ته) نو ښه تحقیق وکړئ او مه وایئ تاسې هغه چاته چې در واچوی تاسې ته سلام

لَسۡتَ مُؤۡمِنًا ۚ تَبۡتَغُوۡنَ عَرَضَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا فَعِنۡدَ اللّٰهِ

لَسۡتَ	مُؤۡمِنًا	تَبۡتَغُوۡنَ	عَرَضَ	الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا	فَعِنۡدَ اللّٰهِ
چې نه ئې ته	مؤمن	غواړی تاسې	مال	د دی حیات	دنیوی	پس د الله سره دی

چې نه ئې ته مؤمن، غواړی تاسې مال (اسباب) د دی حیات دنیوی (ژوندون لړ خسیس) پس د الله سره دی

مَغَانِمُ كَثِيۡرَةٌ ؕ كَذٰلِكَ كُنۡتُمۡ مِّنۡ قَبۡلُ فَمَنَّ اللّٰهُ

مَغَانِمُ	كَثِيۡرَةٌ	كَذٰلِكَ	كُنۡتُمۡ	مِّنۡ قَبۡلُ	فَمَنَّ	اللّٰهُ
غنیمتونه	ډیر	همداسی	وئ تاسی	پخوا له دی	نو فضل وکړ	الله

غنیمتونه ډیر، همداسی وئ تاسی پخوا له دی نو فضل وکړ الله

عَلَيۡكُمۡ فَتَبَيَّنُوۡا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرًا ﴿٩٤﴾

عَلَيۡكُمۡ	فَتَبَيَّنُوۡا	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	خَبِيۡرًا
په تاسی	نو ښه تحقیق کوئ!	بیشکه!	الله	دی	په هغه څه چې	تاسی (یئ) کوئ	ښه خبردار

په تاسی نو ښه تحقیق کوئ! بیشکه! الله دی په هغه څه چې تاسی (یی) کوئ ښه خبردار. (نو پری جزا درکوی).

لَا يَسۡتَوِى الۡقٰعِدُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ غَيۡرُ اُولِى

لَا يَسۡتَوِى	الۡقٰعِدُوۡنَ	مِنَ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	غَيۡرُ	اُولِى
نه دی برابر (الله ته)	کښېنستونکی	له	مؤمنانو څخه	بی له	خاوندانو

نه دی برابر (الله ته) کښېنستونکی (په کورکښې) له مؤمنانو څخه (له جهاده) بی له خاوندانو

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا ضَرَبۡتُمۡ... دمسلمان ګڼلو لپاره یوازي نښانې داسلام کافي دي دباطن لټول جایز نه دي: په ذکر سوو درو ایاتونو کښي په اول آیت کښي داښوونه سوي ده چي کوم سړی ځان مسلمان ښکاره کړي نو یوه مسلمان لره داجایز نه دي چي بغیر دتحقیق څخه دهغه دا وینا نفاق وګڼي، ددې آیت دنزول سبب څه داسي واقعاتي دي چي په هغه کښي دځینو صحابه کرامو څخه څه داسي خطاء سوې وه لکه چي دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل دي چي دقبیله بنو سلیم یو سړی دصحابه کرامو دیوې ډلې سره یو ځای سو، پرداسي موقع باندي چي دا حضرات جهادته روان وه، دې سړي خپلې بزې څرولې و اصحابو ته یئ سلام وکړی چي دا په عمل کښي ددې خبري اظهار ووچي زه مسلمان یم صحابه کرامو داسي وګڼله چي دا وخت دی محض دخپل، ځان اومال دساتلو لپاره دوکه او چم کوي نو هغوی دی قتل کړی او دهغه بزې یې دغنیمت مال مقرر کړی، دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښي یې حاضر کړی، ځکه نو دا آیت نازل سو او دواقعې دپوره تحقیق کولو امر یې ورکړی.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۴۱)

www.jamairahmani.org

الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ

الضَّرَرِ	وَالْمُجٰهِدُوْنَ	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	بِاَمْوَالِهِمْ
دعذره	او جهاد كوونكى	په	لاره	دالله كښې	په مالونو خپلو سره

دعذره او جهاد كوونكى په لاره د الله كښې (د دين د ترقى لپاره) په مالونو خپلو سره

وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ

وَاَنْفُسِهِمْ ؕ	فَضَّلَ	اللّٰهُ	الْمُجٰهِدِيْنَ	بِاَمْوَالِهِمْ
او په ځانونو خپلو سره	فضيلت وركړى دى	الله	جهاد كوونكو ته	په (لګولو د) مالونو خپلو سره

او په ځانونو خپلو سره فضيلت وركړى دى الله جهاد كوونكو ته په (لګولو د) مالونو خپلو سره

وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ

وَاَنْفُسِهِمْ	عَلَى	الْقٰعِدِيْنَ	دَرَجَةً	وَكُلًّا	وَّعَدَ	اللّٰهُ
او ځانونو خپلو سره	پر	كښيناستونكو باندى	په درجه كښې	او له ټولو سره	وعده كړى ده	الله

او (په جارولو د) ځانونو خپلو سره پر كښيناستونكو باندى (له معذرته) په درجه كښې، او له ټولو سره وعده كړى ده الله

الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا

الْحُسْنٰى	وَفَضَّلَ	اللّٰهُ	الْمُجٰهِدِيْنَ	عَلَى	الْقٰعِدِيْنَ	اَجْرًا
دښى جزا (جنت)	او فضيلت وركړى دى	الله	جهاد كوونكو ته	پر	كښيناستونكو	په اجر

د ښى جزا (جنت)، او فضيلت وركړى دى الله جها د كوونكو ته پركيناستونكو (له معذرته) په اجر

عَظِيْمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

عَظِيْمًا	دَرَجٰتٍ	مِّنْهُ	وَمَغْفِرَةً	وَّرَحْمَةً	وَكَانَ	اللّٰهُ
ډيرلوى سره	چې مرتبې دى	له (جانبه د) الله	او مغفرت دى	او رحمت دى	او دى	الله

ډيرلوى سره چې مرتبې دى له (جانبه د) الله او مغفرت دى او رحمت دى، او دى الله

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا	اِنَّ	الَّذِيْنَ	تَوَفّٰىهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ
ښه بخښونكى	ډير رحم والا	بيشكه!	هغه كسان	چې وفات كړى وى دوى لره	ملائيكو (دمرګ)

ښه بخښونكى (دخطياتو) ډير رحم والا. بيشكه! هغه كسان چې وفات كړى وى دوى لره ملائيكو (دمرګ)

وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ..دجهاد په اړوند

احكام: دلته دجهاد څه احكام ذكر سوي دي هغه دا چي كوم خلګ بغير دكمى معذورى څخه په جهاد كښي نه شريک كيږي، دوى دهغه خلګو سره نسي برابريدلاى كم چي دالله ﷻ په لاره كښي په خپل ځان او مال سره جهاد كوي بلكه الله ﷻ جهاد كوونكولره پرغيرُ جهاد كوونكو باندي لوړه درجه او ښه والى وركړى دى، ددې سره يي داهم وفرمايل چي الله ﷻ د جهاد كوونكو اوغير جهاد كوونكو دواړوفرقوسره دښې بدلې وعده كړې ده جنت او مغفرت به دواړوته حاصل وي فرق به يوازي په درجوكښي وي، دتفسير شريف عالمان فرمايي چي ددې آيت څخه معلومه سوه چي په عاموحالاتو كښي جهاد فرض كفايي دى چي ځيني خلګ يي اداءكړي نو دباقي مسلمانانو غاړي په خلاصيږي په دې شرط چي كوم خلګ په جهاد كښي شريک وي هغه ددې لپاره پوره وي او كه هغوى پوره نه وي نو ددوى پرشا او خواه مسلمانانوهم فرض كيږي، چي دمجاهدينو كومک وكړي په مال او ځان سره.
(معارف القرآن ج٢ پ٥ص ١٤٤)

ع ١٣/١٠

www.jamairahmani.org

ظَالِمِيٓ اَنۡفُسِهِمۡ قَالُوۡا فِيۡمَ كُنۡتُمۡ ؕ قَالُوۡا

ظَالِمِيٓ	اَنۡفُسِهِمۡ	قَالُوۡا	فِيۡمَ	كُنۡتُمۡ	قَالُوۡا
چي وي دوی ظلم کوونکي	په ځانونو خپلو	وايي ورته	په کوم حال کښې	وئ تاسې	وائي دوی

په داسې حال کښې چې وي دوی ظلم کوونکي په ځانونو خپلو وايي ورته (ملائيکې) په کوم حال کښې وئ تاسې، وائي دوی

كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِيۡنَ فِي الۡاَرۡضِ ؕ قَالُوۡۤا اَلَمۡ تَكُنۡ اَرۡضُ اللّٰهِ

كُنَّا	مُسۡتَضۡعَفِيۡنَ	فِي	الۡاَرۡضِ	قَالُوۡۤا	اَلَمۡ تَكُنۡ	اَرۡضُ	اللّٰهِ
چې وو موږ	ضعيفان کړې سوی	په	مځکه کښې	وايي	چې آيا نه وه	مځکه	د الله

چې وو موږ ضعيفان کړې سوي په مځکه کښې (د کفارو په لاس بيا ملائيکې ورته) وايي چې آيا نه وه مځکه د الله

وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوۡا فِيۡهَا ؕ فَاُولٰٓئِكَ مَاۡوٰىهُمۡ

وَاسِعَةً	فَتُهَاجِرُوۡا	فِيۡهَا	فَاُولٰٓئِكَ	مَاۡوٰىهُمۡ
فراخه	پس هجرت کړې وی تاسې	په دې (مځکه کښې)	نو دا (تارکان د هجرت)	ځای د دوی

فراخه پس هجرت کړې وی تاسې په دې (مځکه کښې) نو دا (تارکان د هجرت) ځای د دوی

جَهَنَّمُ ؕ وَسَآءَتۡ مَصِيۡرًا ۙ ﴿۹۷﴾ اِلَّا الۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ مِنَ

جَهَنَّمُ	وَسَآءَتۡ	مَصِيۡرًا	اِلَّا	الۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ	مِنَ
دوزخ دی	او ناکاره	ځای د ورتلو دی	مګر	هغه چې په ربښتيا سره ضعيفان دی	له

دوزخ دی، او ناکاره ځای د ورتلو دی (دا دوزخ). مګر (نه به عذابيږي) هغه چې په ربښتيا سره ضعيفان دی له

الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالۡوِلۡدَانِ لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ حِيۡلَةً

الرِّجَالِ	وَالنِّسَآءِ	وَالۡوِلۡدَانِ	لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ	حِيۡلَةً
نارينه ؤ	او له ښځو	او له هلکانو	چې نه توانيږي (او نه لری هيڅ)	حيله (تدبير)

نارينه ؤ او له ښځو او له هلکانو چې نه توانيږي (او نه لری هيڅ) حيله (تدبير)

وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ سَبِيۡلًا ﴿۹۸﴾ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ

وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ	سَبِيۡلًا	فَاُولٰٓئِكَ	عَسَى	اللّٰهُ
او نه پيژني دوی	لاره	پس دا عاجزان (چې دی)	ښايي چې	الله

او نه پيژني دوی لاره. پس دا عاجزان (چې دی) ښايي چې الله (يعنی هيله ده له الله څخه)

ظَالِمِيٓ اَنۡفُسِهِمۡ قَالُوۡا فِيۡمَ كُنۡتُمۡ .... دهجرت پيژندګلوي او تعريف:
په دغه ځلورو آياتونو کښې الله جَلَّ جَلَالُهُ دهجرت دفضيلتونو او حکمونو بيان کړی دی، هجرت په لغت کښې دهجران او هجر په معنی کښې دی يعني ديوشي څخه بيزاره کيدل او پريښوول يي، او په عامو محاورو کښې دهجرت لفظ دوطن دپريښوولو لپاره ويل کيږي. دشريعت په اصطلاح کښې دارالکفر پريښوول او دارالاسلام ته تللو ته هجرت ويل کيږي (روح المعاني) او ملاعلي قاري په شرح کي دمشکوة فرمايي چي يو وطن ددينی وجوهو پر بناء پريښوول هم په هجرت کښې دي (مرقـات ص ۳۹ ج ۱) دسورت حشر په دغه آيت کښې (الذين اخرجوا من ديارهم واموالهم) کم چي دمهاجرينو او اصحابو په باره کښې نازل سوی دی ددي څخه معلومه سوه چي که ديوه ملک کفار مسلمانان ددوی دمسلمانيدو په وجه په زور سره وباسي نو دا هم په هجرت کي داخل دي، ددي تعريف دهجرت مفهوم ډير فراخه او وسيع سو په کم کښې چي ډير کسان ددغه سعادت حاصليدونکي جوړيداي سي. (معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۴۷) مکتبه حبيبيه

www.jamairahmani.org

اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿٩٩﴾ وَمَنْ

اَنْ يَّعْفُوَ	عَنْهُمْ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَفُوًّا	غَفُوْرًا	وَمَنْ
چي عفوه وكړي	له دوى نه	او دى	الله	نبه عفوه كوونكى	نبه بخښونكى	او هر څوك چي

چي عفوه وكړي له (ګناهونو د) دوى نه او دى الله نبه عفوه كوونكى (دمعذرانو) نبه بخښونكى. او هر څوك چي

يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا

يُّهَاجِرْ	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	يَجِدْ	فِي الْاَرْضِ	مُرٰغَمًا	كَثِيْرًا
وطن پرېږدی	په	لاره	دالله كښي	نو پيدا به كړي	په مځكه كښي	دآرامي ځايونه	ډير

وطن پرېږدی (او لاړ سی) په لاره د الله كښي نو وبه مومي (دی) په مځكه كښي ، د آرامي ځايونه ډير

وَّسَعَةً ۚ وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ

وَّسَعَةً	وَمَنْ	يَّخْرُجْ	مِنْ	بَيْتِهٖ	مُهَاجِرًا	اِلَى	اللّٰهِ
او پراخي	او هرڅوك چي	ووځي	له	كوره خپله	په داسي حال كښي چي هجرت كوونكى وى	طرف د	الله

او پراخي (د روزي)، او هرڅوك چي ووځي له كوره خپله په داسي حال كښي چي هجرت كوونكى وى طرف د الله

وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ۗ

وَرَسُوْلِهٖ	ثُمَّ	يُدْرِكْهُ	الْمَوْتُ	فَقَدْ	وَقَعَ	اَجْرُهٗ	عَلَى	اللّٰهِ
او رسول ته	بيا	پيدا كړي دى	مرګ	نو په تحقيق	واقع سو	اجر (ثواب) د ده	پر	الله باندى

او رسول ته بيا وومومي (لاندى كړي) دى مرګ (بهر له كوره) نو په تحقيق واقع سو اجر (ثواب) د ده پر الله باندى

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٠٠﴾ وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ

وَكَانَ	اللّٰهُ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا	وَاِذَا	ضَرَبْتُمْ	فِي	الْاَرْضِ
او دى	الله	نبه بخښونكى	ډير رحم والا	او كله چي	سفر كوئ تاسي	په	مځكه كښي

او دى الله نبه بخښونكى (دخطياتو) ډير رحم والا. او كله چي سفر كوئ تاسي په مځكه (په ملكونو) كښي

فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ اِنْ

فَلَيْسَ	عَلَيْكُمْ	جُنَاحٌ	اَنْ	تَقْصُرُوْا	مِنَ	الصَّلٰوةِ	اِنْ
پس نسته	پر تاسي هيڅ	ګناه (وبال)	په دى كښي	چي لنډوالي وكړئ تاسي	له	لمانځه	كه

پس نسته پر تاسي هيڅ ګناه (وبال) په دى كښي چي لنډوالي وكړئ تاسي له لمانځه ، كه

ع ۱۴

وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ... دهجرت فضيلتونه:

په قرآن كريم كښي لكه ښنګه چي دجهاد په اړوند آيتونه خپاره واره دي نو دغه ډول دهجرت ذكر هم دقرآن كريم په اكثرو سورتونو كښي ځاى پرځاى ډير وارونه راغلى دى چي دا ټول آيتونه راجمع كړه سي نو ددې څخه بيا معلوميږي چي دهجرت په اياتونو كي درې قسمه مضمونونه دي. اول دهجرت فضيلتونه ، دوهم يي ددنيا او آخرت بركتونه ، دريم سره دقدرته دادارالكفر څخه دهجرت په نه كولو دعذاب وي. اول مضمون يي دهجرت فايدې دسورت بقره په يوآيت كي دي هغه (انّ الذين آمنوا وهاجروا وجاهدوافى سبيل الله اولئك يرجون رحمت الله والله غفور رحيم) يعني هغه څوك چي ايمان راوړى او چاچي دالله ﷻ په لاره كښي هجرت او جهاد وكړى دوى دالله ﷻ اميدواره دي، او الله ﷻ ډير لوى بخښونكى او مهربانه دى. دوهم آيت په سورت توبه كښي دى. (يعني كوم خلګ چي ايمان راوړى اوچاچي دالله ﷻ په لاره كي هجرت او جهاد وكړى دوى دالله ﷻ سره په لويه درجه كښي دي الخ.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۴۷)

www.jamairahmani.org

خِفۡتُمۡ اَنۡ يَّفۡتِنَكُمُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ؕ اِنَّ الۡكٰفِرِيۡنَ

خِفۡتُمۡ	اَنۡ يَّفۡتِنَكُمۡ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	اِنَّ	الۡكٰفِرِيۡنَ
بیریدئ تاسی	له دی چی په فتنه کښی به واچوی تاسی	هغه کسان	چی کافران سوی دی	بیشکه! چی	کافران

بیریدئ تاسی له دی چی په فتنه کښی به واچوی تاسی هغه کسان چی کافران سوی دی بیشکه! چی کافران

كَانُوۡا لَكُمۡ عَدُوًّا مُّبِيۡنًا ﴿۱۰۱﴾ وَاِذَا كُنۡتَ فِيۡهِمۡ

كَانُوۡا	لَكُمۡ	عَدُوًّا	مُّبِيۡنًا	وَاِذَا	كُنۡتَ	فِيۡهِمۡ
دی	تاسی لره	دښمنان	ښکاره	او کله چی	اوسی ته	په دوی کښی

دی تاسی لره دښمنان ښکاره. او کله چی اوسی ته (ای محمده!) په دوی کښی (دښمنانو دیریری په وخت) پس اقامت وکړی ته

فَاَقَمۡتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلۡتَقُمۡ طَآئِفَةٌ مِّنۡهُمۡ مَّعَكَ

فَاَقَمۡتَ	لَهُمُ	الصَّلٰوةَ	فَلۡتَقُمۡ	طَآئِفَةٌ	مِّنۡهُمۡ	مَّعَكَ
پس اقامت وکړی ته	دوی ته	دلمانځه	پس ودی دریږی	یوه طائفه	له دوی څخه	له تا سره

دوی ته د لمانځه پس ودی دریږی یوه طائفه له دوی څخه له تا سره

وَلۡيَاۡخُذُوۡۤا اَسۡلِحَتَهُمۡ ۟ فَاِذَا سَجَدُوۡا فَلۡيَكُوۡنُوۡا مِنۡ

وَلۡيَاۡخُذُوۡۤا	اَسۡلِحَتَهُمۡ	فَاِذَا	سَجَدُوۡا	فَلۡيَكُوۡنُوۡا	مِنۡ
او وادی خلی دا (لمونځ کوونکی)	وسلی خپلی	نو کله چی	سجده وکړه	پس سی د ی دوی	له

او وادی خلی دا (لمونځ کوونکی) وسلی خپلی نو کله چی سجده وکړه پس سی دی دوی له

وَّرَآئِكُمۡ ۪ وَلۡتَاۡتِ طَآئِفَةٌ اُخۡرٰى لَمۡ يُصَلُّوۡا

وَّرَآئِكُمۡ	وَلۡتَاۡتِ	طَآئِفَةٌ	اُخۡرٰى	لَمۡ يُصَلُّوۡا
وروسته ستاسی	او را دی سی	طائفه	بله	چی نه وی کړی لمونځ دوی

وروسته ستاسی او رادی سی طائفه بله چی نه وی کړی لمونځ دوی

فَلۡيُصَلُّوۡا مَعَكَ وَلۡيَاۡخُذُوۡا حِذۡرَهُمۡ

فَلۡيُصَلُّوۡا	مَعَكَ	وَلۡيَاۡخُذُوۡا	حِذۡرَهُمۡ
پس لمونځ دی وکړی دوی	له تاسره	او وادی خلی دوی (هم اسباب د)	بیداری خپلی (او دځان د مدافعی له دښمنه)

پس لمونځ دی وکړی دوی له تاسره او وادی خلی دوی (هم اسباب د) بیداری خپلی (او دځان د مدافعی له دښمنه)

وَاِذَا كُنۡتَ فِيۡهِمۡ فَاَقَمۡتَ لَهُمُ... دسفراو قصر حکمونه:

مسئله : کوم سفر چي تر درو منزلو کم وي (یعني تر اته څلوېښت میلونو(۴۸) او یا تر اته اویا کیلومترو (۷۸)) په هغه سفر کښي لمونځ پوره کول کیږي د قصر لمونځ به نه کوي. **مسئله** : او کله چي سفر ختم کړي منزل ته ورسیږي نو که هلته یي اراده د پنځلسو ورځو د کم پاته کېد ووه بیا هم مسافر دی څلور رکعته لمونځ فرض به دوه رکعته کوي، دي ته قصر وايي او که د پنځلسو ورځو یا تر دې دزیاتو ورځو د پاته کېدو اراده یي وه په یوه کلي کښي نو هغه به یي وطن د اقامت سي هلته به قصر نه کوي بلکي د اصلي وطن په شان به پوره لمونځ کوي.

مسئله : قصر یوازي د دروو ختونو په لمانځه کښي دی د ماښام او د سهار په لمانځه کښي نسته او په وترو او په سنتو کښي هم قصر نسته.

مسئله : په سفر کښی که بیره نه وي هم به لمونځ په قصر سره کوي.

مسئله : ځیني خلگ د پوره لمونځ پر ځای په قصر کولو کښي په زړه کښي د گناه وسوسه پیدا کوي دا صحیح نه ده ځکه چي قصر هم د شریعت حکم دی.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۵۳)

www.jamairahmani.org

وَاَسۡلِحَتَهُمۡ ۚ وَدَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَوۡ تَغۡفُلُوۡنَ عَنۡ

وَاَسۡلِحَتَهُمۡ ۚ	وَدَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	لَوۡ تَغۡفُلُوۡنَ	عَنۡ
او وسلې خپلې	خوښه ده	دهغو کسانو	چې کافران سوي دي	که په يو ډول سره غافلان سئ تاسي	له

او وسلې خپلې خوښه ده هغو کسانو چې کافران سوي دي (دا) که په يو ډول (طريقه) سره غافلان سئ تاسي له

اَسۡلِحَتِكُمۡ وَاَمۡتِعَتِكُمۡ فَيَمِيۡلُوۡنَ عَلَيۡكُمۡ مَّيۡلَةً

اَسۡلِحَتِكُمۡ	وَاَمۡتِعَتِكُمۡ	فَيَمِيۡلُوۡنَ	عَلَيۡكُمۡ	مَّيۡلَةً
وسلو خپلو څخه	او له اسبابو نو خپلو څخه	څو حمله وکړي دوي	پر تاسي باندي	حمله

وسلو خپلو څخه او له اسبابو نو خپلو څخه څو حمله وکړي دوي پر تاسي باندي حمله

وَّاحِدَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ اِنۡ كَانَ بِكُمۡ اَذًى مِّنۡ

وَّاحِدَةً	وَلَا جُنَاحَ	عَلَيۡكُمۡ	اِنۡ	كَانَ	بِكُمۡ	اَذًى	مِّنۡ
يوه	او نسته هيڅ ګناه	پر تاسي باندي	که چيري	وي	په تاسي باندي	څه ضرر	له

يوه. اونسته هيڅ ګناه (وبال) پر تاسي باندي که چيري وي په تاسي باندي څه ضرر (تکليف) له

مَّطَرٍ اَوۡ كُنۡتُمۡ مَّرۡضٰۤى اَنۡ تَضَعُوۡۤا اَسۡلِحَتَكُمۡ ۚ وَخُذُوۡا

مَّطَرٍ	اَوۡ	كُنۡتُمۡ	مَّرۡضٰۤى	اَنۡ	تَضَعُوۡۤا	اَسۡلِحَتَكُمۡ	وَخُذُوۡا
باران	يا	وئ تاسي	ناجوړه	چې	کښيږدئ تاسي	وسلې خپلې	او ونيسئ

باران يا وئ تاسي ناجوړه چې کيږدئ تاسي وسلې خپلې، او ونيسئ (په هر حال کښې)

حِذۡرَكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابًا مُّهِيۡنًا ﴿۱۰۲﴾

حِذۡرَكُمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	اَعَدَّ	لِلۡكٰفِرِيۡنَ	عَذَابًا	مُّهِيۡنًا
اسباب ديداري خپلې	بيشکه!	الله	تيار کړي دي	دپاره د کافرانو	عذاب	سپکوونکی

اسباب ديداري خپلې بيشکه! الله تيار کړي دي دپاره د کافرانو عذاب سپکوونکی.

فَاِذَا قَضَيۡتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذۡكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوۡدًا

فَاِذَا	قَضَيۡتُمُ	الصَّلٰوةَ	فَاذۡكُرُوا	اللّٰهَ	قِيٰمًا	وَّقُعُوۡدًا
بيا کله چې	اداء کړئ تاسي	لمونځ	نو ياد وئ تاسي	الله	په ولاړه	او په ناستې

بيا کله چې اداء کړئ تاسي لمونځ نو ياد وئ تاسي الله په ولاړې او په ناستې

وَدَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَوۡ تَغۡفُلُوۡنَ... په مخکني آيت کښي دا راغله چي الله جَلَّ جَلَالُهُ وفرمايل (واذا كنت فيهم فاقمت لهم الصلوة) يعني کله چي ته په دوی کښي موجود يي ددې آيت څخه داګڼل نه دي پکار چي ګوندي اوس دبيري دلمانځه حکم نسته ځکه چي دنبي کريم ﷺ ذات اوس موجود نه دی په موږ کښي. اصلي خبره داده چي دا شرط دهغه وخت په اعتبار سره بيان سوی دی. ځکه چي دنبي کريم ﷺ په موجودګی کښي بل سړی بيله عذره امام جوړيدای نه سو تر ده ﷺ وروسته اوس چي څوک امام وي هغه دده ﷺ قايم مقام دی او هغه به دبيري لمونځ وقوم ته ورکوي، دټولو امامانو په نزد دبيري لمونځ دنبی کريم ﷺ وروسته هم جاري دی منسوخ نه دی.
مسئله : لکه دانسان څخه دبيري په وخت کښي چي دبيري کوم لمونځ جايز دی دغه ډول که دزمري يا افعي مار اود نورو شيانو بيره وي نو دغه وخت هم جايز دی. **مسئله** : په ايت کښي ددواړو ډلو ديوه يوه رکعت ذکر راغلی دی ددوهم رکعت دکولو طريقه په حديث شريف کښي راغلي ده. (معارف القرآن ج۲ پ ۵ ص۱۵۴)

www.jamairahmani.org

وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ اِنَّ

وَّعَلٰى	جُنُوْبِكُمْ	فَاِذَا	اطْمَاْنَنْتُمْ	فَاَقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ	اِنَّ
او پر	اړخونو خپلو	پس کله چې	په آرام سوئ	نو قائموئ تاسی	لمونځ،	بیشکه! چې

او پر اړخونو خپلو ، پس کله چې په آرام سوئ! نو قائموئ تاسی (سم اداء کوئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ، بیشکه! چې

الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿١٠٣﴾

الصَّلٰوةَ	كَانَتْ	عَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	كِتٰبًا	مَّوْقُوْتًا
لمونځ	دی	پر	مؤمنانو باندی	فرض کړی (مقرر) سوی	په معلومو اوقاتو کښی

لمونځ دی پر مؤمنانو باندی فرض کړی (مقرر) سوی په معلومو او قاتو کښی.

وَلَا تَهِنُوْا فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ

وَلَا تَهِنُوْا	فِيْ	ابْتِغَآءِ	الْقَوْمِ	اِنْ	تَكُوْنُوْا	تَاْلَمُوْنَ
او سستی مه کوئ!	په	طلب (تعقیب او جنګ)	د قوم د کفارو کښی	که	یئ تاسی چې	دردمن کیږئ!

او سستی (بی همتی) مه کوئ! په طلب (تعقیب او جنګ) د قوم د کفارو کښی ، که یئ تاسی چې دردمن کیږئ !

فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا

فَاِنَّهُمْ	يَاْلَمُوْنَ	كَمَا	تَاْلَمُوْنَ	وَتَرْجُوْنَ	مِنَ	اللّٰهِ	مَا
نو بیشکه!	دوی دردمن کیږی	همغسی چې	تاسی دردمن کیږئ!	او هیله لرئ تاسی	له (جانبه د)	اللّٰه	دهغه

نو بیشکه! دوی (هم) دردمن کیږی همغسی چې تاسی دردمن کیږئ! او هیله (امید) لرئ تاسی له (جانبه د) اللّٰه دهغه

لَا يَرْجُوْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٠٤﴾ ع اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ

لَا يَرْجُوْنَ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلِيْمًا	حَكِيْمًا	اِنَّآ	اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ
چې نه لری دوی امید	او دی	اللّٰه	ښه عالم	ښه حکمت والا	بیشکه!	موږ نازل کړی دی	تا ته (ای محمده!)

چې نه لری دوی (کفار) امید ، (یی) او دی اللّٰه (په هر شی) ښه عالم ښه حکمت والا. بیشکه! موږ نازل کړی دی تا ته

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ

الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ	لِتَحْكُمَ	بَيْنَ	النَّاسِ	بِمَآ
کتاب (قرآن)	په حقه سره	دپاره د دی چې حکم وکړی ته	په مینځ	دخلګو کښی	په هغه طریقه سره

(محمده) کتاب (قرآن) په حقه سره دپاره د دی چې حکم وکړی ته (ای محمده!) په مینځ د خلګو کښی په هغه طریقه سره

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ...دا ایاتونو شان نزول: دغه را روان ذکرسوي اوه ایاتونه دیوي خاصي واقعي سره تعلق لري لیکن دقرآن دعامي طریقي موافق کوم هدایات چي په دې سلسله کښي ورکړل سوي دي هغه ددې واقعې سره خاص نه دي بلکه دټولو موجوده او آینده راتلونکو مسلمانانو لپاره عام دي او ډیري بنیادي او فروعي مسئلي دي. اول واقعه واوری بیا په دي کښي چي کم هدایات او مسئلي دي پرهغوی باندي غور او فکر وکړی واقعه داده چي په مدینه منوره کښي یو خاندان دبنو ابیرق په نامه سره مشهوروو په دوی کښي یو سړی ووچي نوم یي بشیر یا طعمه وو په اختلاف درواياتو. دحضرت قتاده بن نعمان رضی الله عنه د اکا په کور کښي سوری اوغار جوړ کړی او غلایي ورڅخه وکړه اودا هم په روایاتو کښي راغلي دي چي دا سړی منافق وو په مدینه منوره کښي اوسیدی د صحابه کرامو رضی الله عنهم په سپکاوي کښي به یي شعرونه لیکل او دپردیو په نومونو سره به یي خپرول اودغلا صورت داسي وسو (پاته قصه په راروان مخ باندي وګوری

ع ١٥ ١٢

www.jamairahmani.org

اَرٰىكَ اللّٰهُ ۚ وَلَا تَكُنۡ لِّلۡخَآئِنِيۡنَ خَصِيۡمًا ﴿۱۰۵﴾ وَّاسۡتَغۡفِرِ

اَرٰىكَ	اللّٰهُ	وَلَا تَكُنۡ	لِّلۡخَآئِنِيۡنَ	خَصِيۡمًا	وَّاسۡتَغۡفِرِ
چي ښوولي ده تاته	الله	او مه کیږه له جانبه	خیانتګرو	جګړه کوونکی	او مغفرت وغواړی

چي ښوولي ده تاته الله! او مه کیږه له جانبه د خیانتګرو جګړه کوونکی (دبی ګناهوسره). او مغفرت وغواړی

اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿۱۰۶﴾ وَلَا تُجَادِلۡ عَنِ

اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	غَفُوۡرًا	رَّحِيۡمًا	وَلَا تُجَادِلۡ	عَنِ
له الله	بیشکه! چي	الله	دی	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا دی	او مه کوه جګړه	له (طرفه د)

له الله، بیشکه! چي الله دی ښه مغفرت کوونکی (دخطیاتو) ډیر رحم والا دی. او مه کوه جګړه له (طرفه د)

الَّذِيۡنَ يَخۡتَانُوۡنَ اَنۡفُسَهُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنۡ كَانَ

الَّذِيۡنَ	يَخۡتَانُوۡنَ	اَنۡفُسَهُمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	مَنۡ	كَانَ
هغو کسانو	چي خیانت کوی دوی	له ځانونو خپلو سره	بیشکه! چي	الله	نه خوښوی	هر هغه څوک	چي وی

هغو کسانو چي خیانت کوی دوی له ځانونو خپلو سره بیشکه! چي الله نه خوښوی هر هغه څوک چي وی

خَوَّانًا اَثِيۡمًا ﴿۱۰۷﴾ يَّسۡتَخۡفُوۡنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسۡتَخۡفُوۡنَ

خَوَّانًا	اَثِيۡمًا	يَّسۡتَخۡفُوۡنَ	مِنَ	النَّاسِ	وَلَا يَسۡتَخۡفُوۡنَ
ډیر خیانت کوونکی	ګنهګار	چي پټوی دوی	له	خلکو څخه	او نه ئی پټوی (نه شرمیږی)

ډیر خیانت کوونکی ګنهګار چي پټوی دوی (له شرمه دا خیانت) له خلکو څخه او نه ئی پټوی (نه شرمیږی)

مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمۡ اِذۡ يُبَيِّتُوۡنَ مَا لَا يَرۡضٰى

مِنَ	اللّٰهِ	وَهُوَ	مَعَهُمۡ	اِذۡ يُبَيِّتُوۡنَ	مَا	لَا يَرۡضٰى
له	الله څخه	حال دا چي الله	له دوی سره دی	کله چي د شپي تدبیرونه تړی دوی	هغه چي	نه ئی خوښی (الله)

له الله څخه حال دا چي الله (تل) له دوی سره دی (په خپل علم) کله چي د شپي تدبیرونه تړی دوی هغه چي نه ئی خوښوی (الله)

مِنَ الۡقَوۡلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ مُحِيۡطًا ﴿۱۰۸﴾

مِنَ	الۡقَوۡلِ	وَكَانَ	اللّٰهُ	بِمَا	يَعۡمَلُوۡنَ	مُحِيۡطًا
له	خبرو څخه	او دی	الله	پر هغو	چي کوی (ئی) دوی	چاپیره دی

له خبرو څخه، او دی الله پر هغو (کارونو) چي کوی (ئی) دوی محیط (چاپیریدونکی په علم او قدرت سره).

(دتیر مخ پاته قصه دلته وګوری) چي دهجرت په اوله زمانه کښي به عامو مسلمانانو په لوږه اوتنده اوتنګی سره وخت تیروی اوددوی عام خوراک داوربشو اوړه وه یا خرماوي یا دغنمو اوړه چي ډیر کم به پیدا کیدل او په مدینه منوره کښي به نه وه، دشام دملک څخه چي به کله راغله نو خلګو به دمیلمنو لپاره یا دکوم بل خاص ضرورت لپاره به یي اخیستل حضرت رفاعه رضی الله عنه هم دغه ډول دغنمو اوړه اخیستي وه اوپه یوه بوری کښي ایښي وه په دې بوری کښي یو څه اسلحه او نور شیان هم ایښي وه، او په یوه کوچنی غوندي خونه کښي یي محفوظ ایښي وه.ابن ابیرق ،بشیر ، یاطعمه دغه شیان لیدلي وه نو غار یي ورپسي وکښی او دابوری یي راویستله حضرت رفاعه رضی الله عنه چي سهار دا ولیدل نو خپل وراره حضرت قتادة رضی الله عنه ته راغی او په دې غلا باندي یي خبر کړی ټولو په محله کښي تلاشي شروع کړه، ځینو خلګو وویل چي نن شپه موږ ولیدل چي دبنوابیرق په کور کښي اور بلیدی زموږ داخیال دی چي دوی ډوډی پخولي بنوابیرق ته چي کله دا راز ښکاره سو. (پاته قصه پرراروان مخ باندي وګوری)

www.jamairahmani.org

هَآنۡتُمۡ هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلۡتُمۡ عَنۡهُمۡ فِي الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا

هَآنۡتُمۡ	هٰٓؤُلَآءِ	جٰدَلۡتُمۡ	عَنۡهُمۡ	فِي	الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا
واورئ خبردار سئ تاسی	ای هغو کسانو	چې جګړه کوئ	له (طرفه) دوی	په	دی ژوند	دنیوی کښی

واورئ خبردار سئ! تاسی ای هغو کسانو چې جګړه کوئ له (طرفه) دوی په دی حیات د نیوی (ژوندون لږ خسیس) کښی

فَمَنۡ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنۡهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ اَمۡ مَّنۡ

فَمَنۡ	يُّجَادِلُ	اللّٰهَ	عَنۡهُمۡ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	اَمۡ	مَّنۡ
پس څوک دی	چې جګړه به وکړی	له الله سره	له (طرفه) دغو	په ورځی	د قیامت کښی	بلکه آیا	څوک دی

پس څوک دی چې جګړه به وکړی له الله سره له (طرفه) دغو (خیانتګرو) په ورځی د قیامت کښی بلکه آیا څوک دی

يَّكُوۡنُ عَلَيۡهِمۡ وَكِيۡلًا ۝۱۰۹ وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ سُوۡٓءًا اَوۡ يَظۡلِمۡ

يَّكُوۡنُ	عَلَيۡهِمۡ	وَكِيۡلًا	وَمَنۡ	يَّعۡمَلۡ	سُوۡٓءًا	اَوۡ يَظۡلِمۡ
چې وی به	د دوی	وکیل	او هر څوک چې	وکړی	یو ګناه	یا ظلم وکړی

چې وی به (د قیامت په ورځی کښی) د دوی وکیل (ساتونکی؟). او هر څوک چې وکړی یو ګناه یا ظلم وکړی

نَفۡسَهٗ ثُمَّ يَسۡتَغۡفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ۝۱۱۰

نَفۡسَهٗ	ثُمَّ	يَسۡتَغۡفِرِ	اللّٰهَ	يَجِدِ	اللّٰهَ	غَفُوۡرًا	رَّحِيۡمًا
په خپل ځان	بیا	مغفرت وغواړی	له الله څخه	(نو) پیدا کوی	الله	ډیر مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا

په خپل ځان بیا مغفرت وغواړی له الله څخه (نو) مومی الله ډیر مغفرت کوونکی (دخطیاتو) ډیر رحم والا.

وَمَنۡ يَّكۡسِبۡ اِثۡمًا فَاِنَّمَا يَكۡسِبُهٗ عَلٰى نَفۡسِهٖ وَكَانَ

وَمَنۡ	يَّكۡسِبۡ	اِثۡمًا	فَاِنَّمَا	يَكۡسِبُهٗ	عَلٰى	نَفۡسِهٖ	وَكَانَ
او هر څوک چې	وکړی	ګناه	نو بیشکه!	هم دا خبره ده چې کوی دا (ګناه)	په	ځان خپل باندی	او دی

او هر څوک چې وکړی ګناه نو بیشکه! هم دا خبره ده چې کوی دا (ګناه) په ځان خپل باندی او دی

اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ۝۱۱۱ وَمَنۡ يَّكۡسِبۡ خَطِيۡٓئَةً اَوۡ اِثۡمًا ثُمَّ

اللّٰهُ	عَلِيۡمًا	حَكِيۡمًا	وَمَنۡ	يَّكۡسِبۡ	خَطِيۡٓئَةً	اَوۡ اِثۡمًا	ثُمَّ
الله	ښه عالم	ښه حکمت والا	او هر څوک چې	وکړی	یو وړه ګناه	یا یو لویه ګناه	بیا

الله ښه عالم ښه حکمت والا. او هر څوک چې وکړی یو وړه ګناه یا یو لویه ګناه بیا

(دتیر مخ پاته قصه دلته وګوری) نو په خپله راغی او وي وویل چي داکار دلبید بن سهل دی حضرت لبید رضي الله عنه خو ټولو پیژندی چي مخلص مسلمان او نیک بزرګ وودی چي کله خبر سو نو یئ توره ویستله راغلی او وي وویل چي غلا اوس زما پر سرتاوان سوې ده اوس به زه داتوره تر هغه وخته نه ایږدم ترڅو چي ددې غلا حقیقت نه وي معلوم سوی، بنو ابیرق ورته په پټه وویل چي ته بیغمه اوسه ستا نوم هیڅوک نه سي اخیستی او نه داکار ستا دی په بعضي روایاتو کښي دي چي بنو ابیرق داغلا پریوه یهودي تاوان کړه او داهوښیاري یئ وکړه چي د اوړو په بوری کښي یو کوچنی سوری وکړی چي ددې څخه وړه توییدل او درفاعه دکور څخه دیهودي تر کوره پوري دوړونښاني پیدا سوې تر مشهوره کیدو وروسته غلا سوې اسلحه یې هم دیهودي په کور کښي کښیښوول او دتلاشی په وخت کښي هغه دیهودي دکوره څخه راووتل یهودي قسم واخیستی چي دا اسلحه خو ابن ابیرق ماته راکړیده اوس معامله دیهودي او ابن ابیرق سره جوړه سوه. (پاته قصه پرراروان مخ باندي وګوری)

www.jamairahmani.org

يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿١١٢﴾ ع

يَرْمِ	بِهٖ	بَرِيْٓـًٔا	فَقَدِ	احْتَمَلَ	بُهْتَانًا	وَّاِثْمًا	مُّبِيْنًا
ولي	په‌دی (ګناه) سره	کوم پاک سړی	پس په تحقیق	بارئی کړه	ډیر غټ دروغ	او ګناه	ښکاره

ولي (متهم کړی) په‌دی (ګناه) سره کوم پاک سړی پس په تحقیق بارئی کړ (پرځان‌خپل) ډیر غټ دروغ او ګناه ښکاره

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ

وَلَوْلَا	فَضْلُ	اللّٰهِ	عَلَيْكَ	وَرَحْمَتُهٗ	لَهَمَّتْ	طَّآئِفَةٌ
او که‌چیرې	نه‌وی فضل	د الله	پر تا باندی	او رحمت د ده	نو خامخا قصد کړی ؤ	یوی طائفی

او که‌چیرې نه‌وی فضل (احسان) د الله پر تا باندی او رحمت (مهربانی) د ده نو خامخا قصد کړی ؤ یو ی طائفی

مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا

مِّنْهُمْ	اَنْ يُّضِلُّوْكَ	وَمَا	يُضِلُّوْنَ	اِلَّآ	اَنْفُسَهُمْ	وَمَا
له‌دوی	د دی چی تیر باسی تا	او نه	تیر باسی دوی	مګر	ځانونه خپل	او نسی

له‌دوی د دی چی تیر باسی تا ، او نه تیر باسی دوی مګر ځانونه خپل او نسی

يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

يَضُرُّوْنَكَ	مِنْ شَيْءٍ	وَاَنْزَلَ	اللّٰهُ	عَلَيْكَ	الْكِتٰبَ
ضرر رسولی تاته	دهیڅ شی	او نازل کړی دی	الله	پر تا باندی (ای محمده!)	کتاب

ضرر رسولی تاته دهیڅ شی، او نازل کړی دی الله پر تا باندی (ای محمده!) کتاب

وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ

وَالْحِكْمَةَ	وَعَلَّمَكَ	مَا	لَمْ تَكُنْ	تَعْلَمُ	وَكَانَ	فَضْلُ
او حکمت	او درښوولی ئی دی تاته	هغه چی	ته نه‌وی	پوهیدلی (پری)	او دی	فضل

او حکمت (شرعی احکام، عمیق اسرار) او درښوولی ئی دی تاته هغه (خبری) چی ته نه‌وی پوهیدلی (پری) او دی فضل

اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿١١٣﴾ لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ

اللّٰهِ	عَلَيْكَ	عَظِيْمًا	لَا خَيْرَ	فِيْ	كَثِيْرٍ	مِّنْ	نَّجْوٰىهُمْ
د الله	پر تا باندی	ډیر لوی	نسته هیڅ خیر	په	ډیرو کښی	له	پټو خبرو د دوی څخه

د الله پر تا باندی ډیر لوی. نسته هیڅ خیر په ډیرو کښی له پټو خبرو (مشورو) د دوی څخه

(دتیر مخ پاته قصه دلته وګـــوری) بلــي خواتــه دحضـــرت رفاعـــه رضی الله عنه او حضـرت قتـادة رضی الله عنه غالبـه ګمان دا ووچي دغه کار او چـالاکي دابـن ابیـرق ده حضـرت قتـاده رضی الله عنه دنبـي کریم صلی الله علیه وسلم مجلس ته راغی او دغــلا دواقعـــي او دتفتیش په سلسله کښي یي پر بنو ابیرق دغالب ګمان ذکر وکړی بنو ابیرق چـي خبـر ســو نـــو دنبـي کریم صلی الله علیه وسلم پـه خدمت کښي حاضـــر ســو دحضــرت رفاعـــه رضی الله عنه او حضــرت قتـادة رضی الله عنه شـکایت یـي وکړی، چي بغیر دشرعي ثبوت څخه یي غلا پر موږ را اړولې ده حال دادی چي غلا سوی مال دیهودي پر کـــور پیدا ســــوی دی، تاسـي صلی الله علیه وسلم یـي منع کړی چي زمـوږ پـر سـر یـي نـه راتړپـي اودعـــوه دي پـــه یهـودي بانـدي وکـړي پـه ظـــاهري حـــالاتو او نښانو سره دنبي کریم صلی الله علیه وسلم هـم دې طـرف تـه مـیلان راغلـــی وو چـــي داکـــار دیهودي دی، پر بني ابیرق الزام صـحیح نه دی تر دي چي په ځیني روایاتو کښي راغلـــي دي چـــي نبـــي کـریم صلی الله علیه وسلم اراده وکـړه چي پـر یهـودي دغـلا حدجاري کـړي او لاس یـي پـري کـړل سي، خو کله چی حضرت قتـاده رضی الله عنه دنبي کـریم صلی الله علیه وسلم پـه خـدمت کښـي حاضـر سو. (پاته قصه پرراروان مخ بانـــــدي وګـــوری)

www.jamairahmani.org

اِلَّا مَنۡ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوۡ مَعۡرُوۡفٍ اَوۡ اِصۡلَاحٍۢ بَيۡنَ

اِلَّا	مَنۡ	اَمَرَ	بِصَدَقَةٍ	اَوۡ مَعۡرُوۡفٍ	اَوۡ اِصۡلَاحٍۢ	بَيۡنَ
مګر	دهغه چا چي	امر کوي	په صدقه کولو	يا په معروف (نيک کار)	يا په اصلاح (روغه)	په مينځ

مګر دهغه چا چي امر کوي په صدقه کولو يا په معروف (نيک کار) يا په اصلاح (روغه) په مينځ

النَّاسِؕ وَمَنۡ يَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ ابۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ اللّٰهِ

النَّاسِ	وَمَنۡ	يَّفۡعَلۡ	ذٰلِكَ	ابۡتِغَآءَ	مَرۡضَاتِ	اللّٰهِ
دخلکو	او هر څوک چي	وکړي	دغه	دپاره د غوښتني	درضا	د الله

دخلکو ، او هر څوک چي وکړي دغه (صدقه، معروف، اصلاح) دپاره د غوښتني درضا (خوښي) د الله

فَسَوۡفَ نُؤۡتِيۡهِ اَجۡرًا عَظِيۡمًا ﴿۱۱۴﴾ وَمَنۡ يُّشَاقِقِ

فَسَوۡفَ	نُؤۡتِيۡهِ	اَجۡرًا	عَظِيۡمًا	وَمَنۡ	يُّشَاقِقِ
پس ژر به	ورکړو موږ دده ته	اجر (ثواب)	ډير لوی	او هر څوک	چي مخالفت کوي

پس ژر به ورکړو موږ دده ته اجر (ثواب) ډير لوی. او هر څوک چي مخالفت کوي

الرَّسُوۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الۡهُدٰى وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ

الرَّسُوۡلَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	مَا تَبَيَّنَ	لَهُ	الۡهُدٰى	وَيَتَّبِعۡ	غَيۡرَ
له رسوله	وروسته	له هغه چي ښکاره سوه	دده ته	سمه لاره	او تابع سی (لاړسی)	بی له

له رسوله وروسته له هغه چي ښکاره سوه دده ته سمه لاره او تابع سی (لاړسی) بی له

سَبِيۡلِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصۡلِهٖ جَهَنَّمَؕ

سَبِيۡلِ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	نُوَلِّهٖ	مَا تَوَلّٰى	وَنُصۡلِهٖ	جَهَنَّمَ
لاری	دمؤمنانو	نو وبه ګرځوو موږدی	هغه لوری ته چي دی ورګرځيدلی دی	او داخل به کړو موږدی	جهنم ته

لاری د مؤمنانو نو وبه ګرځوو موږدی هغه لوری ته چي دی ورګرځيدلی دی او داخل به کړو موږدی جهنم (دوزخ) ته،

وَسَآءَتۡ مَصِيۡرًا ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغۡفِرُ اَنۡ يُّشۡرَكَ بِهٖ

وَسَآءَتۡ	مَصِيۡرًا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَغۡفِرُ	اَنۡ يُّشۡرَكَ	بِهٖ
او بد ځای	دورتلو دی	بيشکه!	الله	نه کوی مغفرت	داچي شريک ونيول سی	له ده سره

او بد ځای دورتلو دی (دا دوزخ) . بيشکه! الله نه کوی مغفرت (نه بخښي) دا چي شريک ونيول سی له ده سره

(دتير مخ پاته قصه دلته وګورى) نونبی کريم ﷺ ورته وفرمايل چي تاسي بيله دليله او ثبوته پر يو مسلمانه کورني باندي دغلا الزام لګوی حضرت قتادة رضي الله عنه په دې معامله کښي ډير خفه سو، او افسوس يي وکړی چي کاشکي په دې معامله کښي موږ نبي کريم ﷺ نه وای خبر کړی که څه هم چي زما مال تللی دی او حضرت رفاعه رضي الله عنه ته چي معلومه سوه چي نبي کريم ﷺ داسي فرمايلي دي، نو ده هم صبر اختياره کړی او وي فرمايل چي (والله المستعان)، پر دې معاملي لا څه وخت نه وو تير سوی چي دقرآن کريم يوه مستقله رکوع په دې باره کښي رانازله سوه او نبي کريم ﷺ ته يي د واقعي حقيقت راښکاره کړی او دداسي معاملو په اړوند يي عام هدايتونه وښوول قرآن کريم دابيرق غلا ښکاره کړه او يهودي يي خلاص کړی نودا بن ابيرق قبيله مجبوره سوه غلا کړی مال يي د ده ﷺ په خدمت کښي حاضر کړی، حضرت رفاعة رضي الله عنه ته يي ورکړی هغه ټوله وقف کړی بشير ابن ابيرق وتښتيدی او مکې ته ولاړی دمشرکينو سره يوځای سو اول منافق وو اوس ښکاره کافر سو آخر تر ديوال لاندي سو مړسو. (معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۵۷)

ع ۱۷ / ۱۴

www.jamairahmani.org

وَيَغۡفِرُ مَا دُوۡنَ ذٰلِكَ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَمَنۡ

وَيَغۡفِرُ	مَا دُوۡنَ	ذٰلِكَ	لِمَنۡ	يَّشَآءُ	وَمَنۡ
او مغفرت کوی	هغه چې ښکته وی	لەدی	هغه چاته	چې اراده وفرمائی د (مغفرت ئی)	او هر څوک چې

او مغفرت کوی (بخښی) هغه (گناه) چې ښکته وی لەدی هغه چاته چې اراده وفرمائی د (مغفرت ئی)، او هر څوک چې

يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيۡدًا ﴿۱۱۶﴾ اِنۡ يَّدۡعُوۡنَ

يُّشۡرِكۡ	بِاللّٰهِ	فَقَدۡ	ضَلَّ	ضَلٰلًاۢ	بَعِيۡدًا	اِنۡ يَّدۡعُوۡنَ
شریک ونیسی	لەالله سره	نو په تحقیق	گمراه سوی دی	په گمراهی	لری	نه بولی دوی

شریک ونیسی لەالله سره نو په تحقیق گمراه سوی دی په گمراهی لری. نه بولی دوی (عبادت نه کوی دامشرکان)

مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اِلَّاۤ اِنٰثًا ۚ وَاِنۡ يَّدۡعُوۡنَ اِلَّا شَيۡطٰنًا مَّرِيۡدًا ﴿۱۱۷﴾ لَّعَنَهُ

مِنۡ دُوۡنِهٖۤ	اِلَّاۤ	اِنٰثًا	وَاِنۡ يَّدۡعُوۡنَ	اِلَّا	شَيۡطٰنًا	مَّرِيۡدًا	لَّعَنَهُ
بی الله څخه	مگر	دښځو	او نه بولی	مگر	دشیطان	سرکښ	چې لری کړی ئی دی

بی الله څخه مگر دښځو او نه بولی (عبادت نه کوی دوی) مگر د شیطان سرکښ چې لری کړی ئی دی

اللّٰهُ ۘ وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيۡبًا مَّفۡرُوۡضًا ﴿۱۱۸﴾

اللّٰهُ	وَقَالَ	لَاَتَّخِذَنَّ	مِنۡ	عِبَادِكَ	نَصِيۡبًا	مَّفۡرُوۡضًا
الله	او وویل (شیطان)	چې خامخا به ونیسمه هرومرو زه	له	بندگانو ستا څخه	یوه برخه	مقرره کړی سوی

الله (لەرحمت خپله) او وویل (شیطان) چې خامخا به ونیسمه هرومرو زه (ای الله!) لەبندگانو ستا څخه یوه برخه مقرره کړی سوی

وَّلَاُضِلَّنَّهُمۡ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَاٰمُرَنَّهُمۡ

وَّلَاُضِلَّنَّهُمۡ	وَلَاُمَنِّيَنَّهُمۡ	وَلَاٰمُرَنَّهُمۡ
او زه به خامخا گمراه کړم دوی	او خامخا زه به په باطلو امیدو کښی واچوم دوی	او خامخا زه به امر وکړم دوی ته

او زه به خامخا گمراه کړم دوی او خامخا زه به په باطلو امیدو کښی خامخا واچوم دوی او خامخا زه به امر وکړم دوی ته

فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الۡاَنۡعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ

فَلَيُبَتِّكُنَّ	اٰذَانَ	الۡاَنۡعَامِ	وَلَاٰمُرَنَّهُمۡ	فَلَيُغَيِّرُنَّ
چې پس هرومرو څیروی به دوی خامخا	غوږونه	د چارپایانو	او زه به خامخا امرورکړم دوی ته	پس هرومر تغیر به ورکړی دوی

چې پس هرومرو څیروی به دوی غوږونه د چارپایانو او زه به خامخا امر ورکړم دوی ته پس هرومرو تغیر به ورکړی دوی

وَيَغۡفِرُ مَا دُوۡنَ ذٰلِكَ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ.... **یوه شبه او دهغې جواب**: دلته ځینی خلگ داسي شبه کوي چي سزا دعمل پر قدر په کار ده مشرک او کافرچي کوم جرم دکفر او شرک کړی دی دایي دعمر په یوه محدوده موده کښي کړی دی نو سزایي غیر محدوده او دایمي ولي سوه؟ **جواب**: دادی چي څوک کفر او شرک همیشه کوي نو هغه دا جرم نه گڼي بلکه نیکي یي گڼي په دې وجه دده قصد او اراده دا وي چي همیشه به پر دې حال قایم وي او چي کله تر مرگه پوري دی پر دې حال قایم پاته سو نو دخپل اختیار تر حده پوري ده همیشه جرم وکړی نو په دې وجه دده سزا همیشه سوه.

دظلم درې قسمونه: **اول قسم**: هغه دی چي اللهﷻ به یي هیڅکله ونه بخښي. **دوهم قسم**: هغه دی چي دهغه بخښنه به وسي او **دریم قسم**: هغه دی چي دهغه بدله اللهﷻ بغیر داخیستو څخه نه پریږدي. اول قسم ظلم شرک دی. دوهم قسم ظلم دا اللهﷻ په حقونوکښي کوتاهي کول دي او دریم قسم ظلم دبندگانو دحقونو مخالفت کول دي. ابن کثیر په حواله دمسند بزار. (معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۶۷)

www.jamairahmani.org

خَلَقَ اللّٰهِ ؕ وَمَنۡ يَّتَّخِذِ الشَّيۡطٰنَ وَلِيًّا مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ فَقَدۡ خَسِرَ

خَسِرَ	فَقَدۡ	اللّٰهِ	مِّنۡ دُوۡنِ	وَلِيًّا	الشَّيۡطٰنَ	يَّتَّخِذِ	وَمَنۡ	اللّٰهِ ؕ	خَلَقَ
زيانٔی وکړ	نو په تحقيق	الله	بی له	دوست	شيطان	ونيسی	او هر څوک چی	دالله ته	پيدابنت

پيدابنت د الله ته ، او هر څوک چی ونيسی شيطان دوست بی له الله نو په تحقيق زيانٔی وکړ

خُسۡرَانًا مُّبِيۡنًا ﴿۱۱۹﴾ يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيۡهِمۡ ؕ وَمَا

وَمَا	وَيُمَنِّيۡهِمۡ	يَعِدُهُمۡ	مُّبِيۡنًا	خُسۡرَانًا
او نه کوی	اوپه باطلو اميدونو کښی غورځوی دوی	وعده کوی (شيطان) له دوی سره	ښکاره	زيان

زيان ښکاره. وعده کوی (شيطان) له دوی سره او په باطلو اميدونو کښی غورځوی دوی. او نه کوی

يَعِدُهُمُ الشَّيۡطٰنُ اِلَّا غُرُوۡرًا ﴿۱۲۰﴾ اُولٰٓئِكَ مَاۡوٰىهُمۡ جَهَنَّمُ

جَهَنَّمُ	مَاۡوٰىهُمۡ	اُولٰٓئِكَ	غُرُوۡرًا	اِلَّا	الشَّيۡطٰنُ	يَعِدُهُمُ
جهنم (دوزخ) دی	ځای د دوی	دغه (تابعان د شيطان)	په فريب	مکر	شيطان	وعده له دوی سره

وعده له دوی سره شيطان مکر په فريب دغه (تابعان د شيطان) ځای د دوی جهنم (دوزخ) دی

وَلَا يَجِدُوۡنَ عَنۡهَا مَحِيۡصًا ﴿۱۲۱﴾ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

وَعَمِلُوا	اٰمَنُوۡا	وَالَّذِيۡنَ	مَحِيۡصًا	عَنۡهَا	وَلَا يَجِدُوۡنَ
او کړی ئی دی	چی ايمان ئی راوړی دی	او هغه کسان	هيڅ ځای د تيښتی	له دی دوزخه	او نه به پيدا کړی دوی

او نه به مومی دوی له دی دوزخه هيڅ ځای د تيښتی (اوخلاصی) . او هغه کسان چی ايمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی

الصّٰلِحٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

تَحۡتِهَا	مِنۡ	تَجۡرِیۡ	جَنّٰتٍ	سَنُدۡخِلُهُمۡ	الصّٰلِحٰتِ
لاندی د دوی	له	چی بهيږی	په جنتونو کښی	داخل کړو موږ دوی	ښه (عملونه) نو ژر به

ښه (عملونه) نو ژر به داخل کړو موږ دوی په جنتونو کښی چی بهيږی له لاندی (دمانيو او ونو) د دوی

الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَآ اَبَدًا ؕ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنۡ

وَمَنۡ	حَقًّا	اللّٰهِ	وَعۡدَ	اَبَدًا	فِيۡهَآ	خٰلِدِيۡنَ	الۡاَنۡهٰرُ
او څوک دی	حقه	الله	وعده کړی ده	تل ترتله	دوی په دغو کښی	چی هميشه به وی	ويالی

ويالی چی هميشه به وی دوی په دغو (جنتونو) کښی تل ترتله ، وعده کړی ده الله حقه (وعده)، او څوک دی

اُولٰٓئِكَ مَاۡوٰىهُمۡ جَهَنَّمُ..

دشرک حقيقت : دشرک حقيقت دادی چي دالله ﷻ څخه ماسوا يو څوک مخلوق په عبادت کي يا په محبت کي يا په تعظيم کي دالله ﷻ سره برابرو ګڼل سي قران کريم دمشرکينو هغه خبري کمه چي به دوی جهنم ته په رسيدو سره وايي داسي نقل کړي دي (تالله ان کنّا لفی ضلال مبين اذنسويکم برب العلمين) قسم دی په خدای ﷻ چي موږ په ښکاره ګمراهي کي وو کله چي موږ تاسي دالله ﷻ چي رب العلمين دی برابر کړي واست ښکاره خبره ده چي دمشرکينو خو داعقيده نه وه چي زموږ داجوړي سوي ډبري ددې جهان پيداکوونکي دي او مالکان يي دي بلکي دوی دنورو غلط فهميو په وجه دوی په عبادت کي يا محبت اوتعظيم کي دالله ﷻ سره برابر کړي وه دغه وجه وه چي دوی يي جهنم ته ورسول : (فتح الملهم) معلومه سوه چي دالله ﷻ په خاصو صفتونو خالق ،رازق ، قادرمطلق ، په پټو ښکاره وو عالم اونوروکي يو څوک دالله ﷻ سره برابرګڼل شرک دی الله ﷻ دي موږ او تاسي ځيني وساتي.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۶۷)

www.jamairahmani.org

اَصۡدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيۡلًا ﴿۱۲۲﴾ لَيۡسَ بِاَمَانِيِّكُمۡ وَلَاۤ اَمَانِيِّ

اَصۡدَقُ	مِنَ	اللّٰهِ	قِيۡلًا	لَيۡسَ	بِاَمَانِيِّكُمۡ	وَلَاۤ اَمَانِيِّ
زیات رشتیا	له	الله نه	په خبره کښې	نه دی	پر امیدونو ستاسی	او نه پر امیدونو

زیات صادق له الله نه په خبره (او وعده) کښې. نه دی (ثواب او عقاب مرتب) پر امیدونو ستاسی او نه پر امیدونو

اَهۡلِ الۡكِتٰبِ ؕ مَنۡ يَّعۡمَلۡ سُوۡٓءًا يُّجۡزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدۡ لَهٗ

اَهۡلِ	الۡكِتٰبِ	مَنۡ يَّعۡمَلۡ	سُوۡٓءًا	يُّجۡزَ بِهٖ	وَلَا يَجِدۡ لَهٗ
د اهل	دکتاب	هرڅوک چې وکړی	ناکاره کار	نو جزا به ورکړه سی ده ته په هغه سره	نه به پیدا کړی دغه (ګنهکار) دځان دپاره

د اهل دکتاب هرڅوک چې وکړی ناکاره کار نو جزا به ورکړه سی ده ته په هغه سره نه به مومی دغه (ګنهګار) دځان دپاره

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيۡرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	وَلِيًّا	وَّلَا نَصِيۡرًا	وَمَنۡ	يَّعۡمَلۡ	مِنَ	الصّٰلِحٰتِ
بی له	الله څخه	هیڅ ولی	او نه مددګار	او هرڅوک	چې عمل وکړی	له (ځینو)	نیکو (کارونو)

بی له الله څخه هیڅ ولی (دوست) او نه مددګار. او هرڅوک چې عمل وکړی له (ځینو) نیکو (کارونو)

مِنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى وَهُوَ مُؤۡمِنٌ فَاُولٰٓـئِكَ يَدۡخُلُوۡنَ الۡجَـنَّةَ

مِنۡ ذَكَرٍ	اَوۡ اُنۡثٰى	وَهُوَ	مُؤۡمِنٌ	فَاُولٰٓـئِكَ	يَدۡخُلُوۡنَ	الۡجَـنَّةَ
له نارینهؤ	او له ښځو	حال داچې دی	مؤمن وی	نو دغه (نیکو کاران)	داخل به سی	په جنت کښې

له نارینهؤ او له ښځو حال داچې دی مؤمن وی نو دغه (نیکو کاران) داخل به سی په جنت کښې

وَلَا يُظۡلَمُوۡنَ نَقِيۡرًا ﴿۱۲۴﴾ وَمَنۡ اَحۡسَنُ دِيۡنًا

وَلَا يُظۡلَمُوۡنَ	نَقِيۡرًا	وَمَنۡ	اَحۡسَنُ	دِيۡنًا
او ظلم به ونسی په دوی	د نقیر (هغه ډیر نری شی چې دخرما دمندکی په نری چاوده کی وی)	او څوک دی	ډیر غوره	له جهته د دین

او ظلم به ونسی په دوی دنقیر (هغه ډیر نری شی چې دخرما دمندکی په نری چاوده کی وی). او څوک دی ډیر غوره له جهته د دین

مِّمَّنۡ اَسۡلَمَ وَجۡهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحۡسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ

مِّمَّنۡ	اَسۡلَمَ	وَجۡهَهٗ	لِلّٰهِ	وَهُوَ	مُحۡسِنٌ	وَّاتَّبَعَ	مِلَّةَ
له هغه چا چې	ایښی ئی وی	مخ خپل	(خاص) الله ته	حال داچې دی	نیکوکار وی	او متابعت ئی کړی وی	د ملت

له هغه چا چې ایښی ئی وی مخ خپل (خاص حکم د) الله ته حال داچې دی نیکو کار وی او متابعت ئی کړی وی د ملت (دین)

لَيۡسَ بِاَمَانِيِّكُمۡ وَلَاۤ اَمَانِيِّ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ ؕ

دمسلمانانو او اهل کتابو په مابین کي پر یوه اوبل دفخر خبري کول: په دې ایاتونو کي اول دیوې محاورې او خبرو اترو ذکر دی چي دمسلمانانو او اهل کتابو په مینځ کي سوې دی او بیا پر دې خبرو اترو باندې حکیمانه فیصله ده دواړو فرقوته دهدایت صحیح لار وښوول سوه. په آخر کي یې دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد دمقبول کیدو او بهتره کیدو یو معیار وښووی چي که دا مخ ته کښیښوول سي نو هیڅکله به انسان په غلطی او ګمراهی کي اخته نسي. حضرت قتادة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چي یو وخت دیو څو مسلمانانو او اهل کتابو په مابین کي پر یوه او بل دفخر خبري شروع سوې اهل کتابو وویل چي موږ تر تاسي بهتره او شریف یو ځکه چي زموږ نبي ستاسي تر نبي مخکي دی او زموږ کتاب ستاسي تر کتاب مخکي دی مسلمانانو وویل چي موږ تر تاسي بهتره یو ځکه چي زموږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاتم النبیین دی او زموږ کتاب آخري کتاب دی چي مخکني کتابونه یې منسوخ کړي دي. پر دې داآیاتونه رانازل سوه (معارف القرآن ج ٢ پ ٥ ص ١٧٠)

www.jamairahmani.org

إِبۡرٰهِيۡمَ حَنِيۡفًا ۭ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ إِبۡرٰهِيۡمَ خَلِيۡلًا ﴿۱۲۵﴾ وَلِلّٰهِ

إِبۡرٰهِيۡمَ	حَنِيۡفًا	وَاتَّخَذَ	اللّٰهُ	إِبۡرٰهِيۡمَ	خَلِيۡلًا	وَلِلّٰهِ
د ابراهيم	حال داچې دی حنيف ؤ	او نيولی دی	الله	ابراهيم	دوست	او (خاص) الله لره دی

د ابراهيم حال داچې دی حنيف ؤ (مائل ؤ له باطله حق ته) او نيولی دی الله ابراهيم دوست. او (خاص) الله لره دی

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ

مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الۡاَرۡضِ	وَكَانَ	اللّٰهُ	بِكُلِّ	شَيۡءٍ
هر هغه شيان چې	په آسمانونو کښې دی	او هر هغه شيان چې	په مځکه کښې دی	او دی	الله	پر هر	شی

هر هغه شيان چې په آسمانونو کښې دی او هر هغه شيان چې په مځکه کښې دی . او دی الله پر هر شی

مُّحِيۡطًا ﴿۱۲۶﴾ ع وَيَسۡتَفۡتُوۡنَكَ فِي النِّسَآءِ ۭ قُلِ اللّٰهُ

ع ۱۸ / ۱۵

مُّحِيۡطًا	وَيَسۡتَفۡتُوۡنَكَ	فِي	النِّسَآءِ	قُلِ	اللّٰهُ
ښه احاطه کوونکی	طلب د فتوی کوی دوی له تانه	په	باب د ښځو کښې	ووايه چې	الله

ښه احاطه کوونکی. طلب د فتوی کوی دوی له تانه په باب (دميراث د) ښځو کښې ووايه چې الله

يُفۡتِيۡكُمۡ فِيۡهِنَّ ۙ وَمَا يُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ فِي الۡكِتٰبِ

يُفۡتِيۡكُمۡ	فِيۡهِنَّ	وَمَا	يُتۡلٰى	عَلَيۡكُمۡ	فِي	الۡكِتٰبِ
فتوی درکوی تاسی ته	په (باب د) دوی کښې	او هغه شی چې	لوستلی سی	پر تاسی	په	کتاب (قرآن) کښې

فتوی (حکم) درکوی تاسی ته په (باب د) دوی کښې (او بل د) هغه شی چې لوستلی شی پر تاسی په کتاب (قرآن) کښې

فِي يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِي لَا تُؤۡتُوۡنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ

فِي يَتٰمَى	النِّسَآءِ	الّٰتِي	لَا تُؤۡتُوۡنَهُنَّ	مَا	كُتِبَ	لَهُنَّ
په (باب د) يتيمانو	ښځو کښې	هغه چې	نه ورکوئ تاسی دوی ته	هغه (ميراث)	چې فرض کړی سوی دی	دوی ته

په (باب د) يتيمانو ښځو کښې هغه چې نه ورکوئ تاسی دوی ته هغه (ميراث) چې فرض کړی سوی دی دوی ته

وَتَرۡغَبُوۡنَ اَنۡ تَنۡكِحُوۡهُنَّ وَالۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ مِنَ الۡوِلۡدَانِ ۙ وَاَنۡ

وَتَرۡغَبُوۡنَ	اَنۡ تَنۡكِحُوۡهُنَّ	وَالۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ	مِنَ الۡوِلۡدَانِ	وَاَنۡ
او مينه کوئ تاسی	دی ته چې په نکاح کړئ تاسی دوی	او (حکم درکوی الله) دضعيفانو کښې	له وړو هلکانو څخه	او چې

او مينه کوئ تاسی دی کار ته چې په نکاح کړئ تاسی دوی او (حکم درکوی الله په حق) دضعيفانو کښې له وړو هلکانو نه او چې

وَيَسۡتَفۡتُوۡنَكَ فِي النِّسَآءِ.

دکورني ژوند په اړه دقران کريم ښوهدايتونه:

په راروانو آياتونو کي الله جَلَّ جَلَالُهُ دکورني ژوند دترخي او سختي ډډي په اړوند هدايتونه ورکړي دي چي ددې اوږد ژوند په مختلفو دورونو کي هرې جوړې ته کله ناکله مخ ته راځي هغه ده ، ديوه اوبل ښځه خفګيان او خوابدی او دا يوداسي شی دی چي که په صحيح اصولو سره ددې مخنيوی و نه سي نو نه يوازي دا چي دښځي اوخاوند لپاره دنيا جهنم جوړيږي بلکه ډير ځله داکورنی خفګيان دخاندانونو او قبيلو په مابين کي هم سبب دجنګ او جګړو ګرځي قرآن کريم دښځي او دسړي ددواړو دجذباتو او احساساتو لحاظ وساتی هري يوي فرقي ته يي دژوند داسي نظام ورکی چي په دې باندي دعمل کولو په نتيجه کي دانسان کور دجنت نمونه جوړيدای سي کورنی تريخوالی به په محبت او راحت بدل سي او که دناچاری ښځه کم ځای جلاوالي ته نوبت ورسيږي نو هغه به هم په ښه طريقه سره په روغه او صلحه سره وي عداوت اودښمني به نه وي په کښي (معارف القرآن ج۲ پ۵ ص۱۷۶)

www.jamairahmani.org

تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ

تَقُوْمُوْا	لِلْيَتٰمٰى	بِالْقِسْطِ	وَمَا	تَفْعَلُوْا	مِنْ	خَيْرٍ	فَاِنَّ
ودریږئ تاسی	په حق د یتیمانو کښې	په عدل سره	او هر څه چې	کوئ تاسی	له	خیر	پس بیشکه!

ودریږئ تاسی په حق د یتیمانو کښې په عدل (انصاف) سره، او هر څه چې کوئ تاسی له خیر (نیکی) پس بیشکه!

اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿١٢٧﴾ وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا نُشُوْزًا

اللّٰهَ	كَانَ	بِهٖ	عَلِيْمًا	وَاِنِ	امْرَاَةٌ	خَافَتْ	مِنْۢ	بَعْلِهَا	نُشُوْزًا
چې الله	دی	پرهغه	ښه عالم	او که کومه	ښځه	بیریده	له	میړه خپله	دسرکشي

چې الله دی پرهغه ښه عالم. او که کومه ښځه بیریده له میړه خپله د سرکشی (دحقوقو په منع او د صحبت په ترک)

اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا

اَوْاِعْرَاضًا	فَلَا	جُنَاحَ	عَلَيْهِمَآ	اَنْ	يُّصْلِحَا
یا د مخ گرځولو	پس نشته	هیڅ ګناه	پر دغو دواړو	په دی کښې	چې صلح وکړی دوی

یا د مخ گرځولو (له مجلسه او خبرو) پس نشته هیڅ ګناه پر دغو دواړو په دی کښې چې صلح وکړی دوی

بَيْنَهُمَا صُلْحًا ؕ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ؕ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ

بَيْنَهُمَا	صُلْحًا	وَالصُّلْحُ	خَيْرٌ	وَاُحْضِرَتِ	الْاَنْفُسُ
پخپلو منځونو کښې	یو شان صلح	او صلح کول	خیر دی	او حاضر کړی سوی دی	نفسونو ته

پخپلو منځونو کښې یو شان صلح، او صلح کول خیر (ډیر غوره) دی، او حاضر کړی سوی دی نفسونو ته

الشُّحَّ ؕ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا

الشُّحَّ	وَاِنْ	تُحْسِنُوْا	وَتَتَّقُوْا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	بِمَا
حرص	او که	نیکی وکړئ تاسی	او پرهیزوکړئ تاسی	نو بیشکه! چې	الله	دی	په هغه شی

حرص، او که نیکی وکړئ تاسی! (له خپلو ښځوسره) او پرهیز وکړئ تاسی نو بیشکه چې الله دی په هغه شی

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١٢٨﴾ وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ

تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرًا	وَلَنْ	تَسْتَطِيْعُوْٓا	اَنْ تَعْدِلُوْا	بَيْنَ
چې کوی ئی تاسی	ښه خبردار	او له سره به	طاقت رانه وړئ تاسی	د دی چې عدل وکړئ	په مینځ

چې کوی ئی تاسی (له محبته او خصومته) ښه خبردار. او له سره به طاقت رانه وړئ تاسی د دی چې عدل وکړئ په مینځ

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا... دښځي او خاوند په جګړه کي نوروته بې ضرورته دخل کول مناسب نه دي: په تفسير مظهري کي دي چي دلته الله ﷻ (ان يصلحا بينهما صلحا) فرمايلي دي يعني ښځه او خاوند دي په خپل مينځ کي په يو ډول سره صلح وکړي په دې کي د (بينهما) دلفظ څخه دې طرف ته اشاره راوزي چي دښځي او خاوند په معاملو کي ښه داده چي بل دريم کس دخل ونه کړي دوى دواړه دي په خپله په خپل مينځ کي پريوه خبره باندي جوړسي ځکه چي ددريم کس په مداخلت کي ځيني وختونه صلح کول ګران سي او که صلح هم وسي نو ددواړو طرفونو عيبونه به د دريم کس مخ ته ښکاره سي اوددې څخه ځان ساتل ددواړو لپاره ګټه ده:او بيا الله ﷻ فرمايي چي په داسي حالت کي چي ښځي ستا دکنټرولہ څخه وزي او په دې وجه يي حقونه نه سی اداء کولای ازادول يي غواړی نو تاته دا حق هم حاصل دی چي آزاده يي کړې او دښځو په ځينو رواه غوښتنو او دهغو په پوره کولو ور سره صلح کول هم جايز دي.
(معارف القرآن ج ٢ پ ۵ ص١٧٨)

www.jamairahmani.org

النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ

النِّسَآءِ	وَلَوْ	حَرَصْتُمْ	فَلَا تَمِيْلُوْا	كُلَّ	الْمَيْلِ
د ښځو خپلو کښې	اګر که	ډیر حرص وکړئ تاسی	نو مه ګرځوی تاسی	په کامل	مخ ګرځولو سره

د ښځو خپلو کښې اګر که ډیر حرص وکړئ تاسی (عدل ته) نو مه ګرځوی تاسی (له یوی ښځی) په کامل مخ ګرځولو سره

فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ؕ وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ

فَتَذَرُوْهَا	كَالْمُعَلَّقَةِ	وَاِنْ	تُصْلِحُوْا	وَتَتَّقُوْا	فَاِنَّ
چې پس پریږدئ تاسی دا	په شان د ځوړندی سوی	او که	اصلاح وکړئ تاسی	او پرهیز وکړئ	نو بیشکه! چې

چې پس پریږدئ تاسی دا (ښځه) په شان د ځوړندی سوی، او که اصلاح وکړئ تاسی او پرهیز وکړئ (له ظلمه) نو بیشکه

اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۲۹﴾ وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا

اللّٰهَ	كَانَ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا	وَاِنْ	يَّتَفَرَّقَا	يُغْنِ	اللّٰهُ	كُلًّا
الله	دی	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا	او که	سره بیل سول دواړه	نو بې پروا به کاندی	الله	هر یو له دوی څخه

چې الله دی ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا. او که سره بیل سول دواړه نو بې پروا به کاندی الله هر یو له دوی څخه

مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿۱۳۰﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي

مِّنْ	سَعَتِهٖ	وَكَانَ	اللّٰهُ	وَاسِعًا	حَكِيْمًا	وَلِلّٰهِ	مَا فِي
له	فراخی خپل	او دی	الله	فراخ (پراخ)	ښه حکمت والا	او (خاص) الله لره دی	هر هغه شیان چې په

له فراخی خپلی او دی الله فراخ (رحمت د ده پراخ) تدبیر والا (ښه حکمت والا). او (خاص) الله لره دی هر هغه شیان چې په

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ

السَّمٰوٰتِ	وَمَا فِي	الْاَرْضِ	وَلَقَدْ	وَصَّيْنَا	الَّذِيْنَ
آسمانونو کښې دی	او هر هغه شیان چې	په مځکه کښې دی	او خامخا په تحقیق	حکم کړی دی موږ	هغو کسانو ته

آسمانونو کښې دی او هر هغه شیان چې په مځکه کښې دی او خامخا په تحقیق حکم کړی دی موږ هغو کسانو ته

اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ

اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	وَاِيَّاكُمْ	اَنِ اتَّقُوا	اللّٰهَ
چې ورکړی سوی دی دوی ته	کتاب	پخوا له تاسی	او تاسی ته	د دی چې وبیرېږئ!	له الله

چې ورکړی سوی دی دوی ته کتاب پخوا له تاسی او (هم خاص حکم کړی دی موږ) تاسی ته د دی چې وبیرېږئ! له الله

فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا.... پرغیر اختیاري کارو نیول

نسته: دکورني ژوند ښه کولو لپاره او همیشه پاته کولو دپاره چي قرآن کریم په دغه موجوده ایاتونو کي کم هدایتونه دواړوفریقو ته ورکړي دي په دغه ایاتونو کي یو هم دادی (ولن تستطیعوا ان تعدلوا بین النساء) یعني دواړو ډلوته یي یوخاص هدایت فرمایلی دی هغه داچي که یو سړی په نکاح کي تر یوې زیاتي ښځي لري نو قرآن کریم دسورت نساء په شروع کي دته دا هدایت وکی چي دټولو ښځو په مینځ کي دي عدل اوبرابری ساتي او دا کار پر ده باندي فرض دی او که دچا داخیال وي چي دافرض به زه اداء نه کړای سم نو دته پکار دي چي تر یوي زیاتي ښځي دي نه کوي دالله ﷻ داارشاد دی (فأن خفتم ان لاتعدلوا فواحدة او ماملکت ایمانکم) یعني که ستاسي سره دابیره وي چي برابري به ونه کړای سونوبیا پر یوي صبر کوی او نبي کریم ﷺ په خپل عمل او قول سره دبیبیانو په مابین کي دعدل اوبرابری ډیر په تاکید سره حکم کړی دی او پر خلاف یي دسخت عذاب سزا اورولي ده.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۸۱)

www.jamairahmani.org

وَاِنۡ تَكۡفُرُوۡا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي

وَاِنۡ	تَكۡفُرُوۡا	فَاِنَّ	لِلّٰهِ	مَا فِي	السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي
او كه	تاسي كافران سئ	نو بيشكه!	خاص الله لره دى	هر هغه شيان چې په	آسمانونو كښې دى	او هغه شيان	چې په

او كه تاسي كافران سئ! نو بيشكه! خاص الله لره دى هر هغه شيان چې په آسمانونو كښې دى او هغه شيان چې په

الۡاَرۡضِؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيۡدًا (١٣١) وَلِلّٰهِ مَا فِي

الۡاَرۡضِؕ	وَكَانَ	اللّٰهُ	غَنِيًّا	حَمِيۡدًا	وَلِلّٰهِ	مَا	فِي
مځكه كښې دى	او دى	الله	غنى	ښه ستايلى سوى	او خاص الله لره دى	هغه شيان چې	په

مځكه كښې دى او دى الله غنى (ډير بې پروا له هر چا او هر شى) ښه ستايلى سوى. او خاص الله لره دى هغه شيان چې په

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيۡلًا (١٣٢)

السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي	الۡاَرۡضِؕ	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ	وَكِيۡلًا
آسمانونو كښې دى	او هغه شيان چې	په	مځكه كښې دى	او بس دى	الله	وكيل

آسمانونو كښې دى او هغه شيان چې په مځكه كښې دى او بس دى الله وكيل (ښه كارجوړوونكى).

اِنۡ يَّشَاۡ يُذۡهِبۡكُمۡ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاۡتِ بِاٰخَرِيۡنَؕ وَكَانَ

اِنۡ يَّشَاۡ	يُذۡهِبۡكُمۡ	اَيُّهَا	النَّاسُ	وَيَاۡتِ	بِاٰخَرِيۡنَ	وَكَانَ
كه اراده وفرمائى	نو بوبه ځى تاسي	اى	خلكو!	او رابه ولى	نور خلك	او دى

كه اراده وفرمايي نو بوبه ځى تاسي (په موت سره) اى خلكو! او را به ولى نور خلك (په پيدا كولو سره)، او دى

اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيۡرًا (١٣٣) مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ ثَوَابَ

اللّٰهُ	عَلٰى	ذٰلِكَ	قَدِيۡرًا	مَنۡ	كَانَ	يُرِيۡدُ	ثَوَابَ
الله	پر	دغه	ښه قادر	هر څوك چې	وى	چې وغواړى	ثواب (بدل)

الله پر دغه (اعدام او ايجادهم) ښه قادر (او پوره قدرت لرى). هر څوك چې وى چې وغواړى ثواب (بدل)

الدُّنۡيَا فَعِنۡدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِؕ وَكَانَ اللّٰهُ

الدُّنۡيَا	فَعِنۡدَ	اللّٰهِ	ثَوَابُ	الدُّنۡيَا	وَالۡاٰخِرَةِ	وَكَانَ	اللّٰهُ
د دى دنيا	نو دى په نزد	د الله	ثواب	د دنيا	او (ثواب) د آخرت	او دى	الله

د دى دنيا نو دى په نزد د الله ثواب (بدل) د دنيا او (ثواب) د آخرت، او دى الله

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ... يو څو ضروري فايدې: لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ

يعني دالله ﷻ دپاره دي د آسمانونو او دمځكي ټول مخلوقات دلته يي داالفاظ درې واره تكرار كړه او بيا بيا يي راوړي دي په. اول: سره يي فراخي او وسعت مقصود دى چي دهغه سره دهيڅ شي كمي نسته. په دوهم سره يي بي نيازي او بې حاجتي بيانول مقصود دي چي دهغه سره دهيڅ چا پرواه نسته كه تاسي منكره سى نو ستاسي پرواه هم نه لري. په دريم آيت كي يي داخبره واضحه كړي ده چي الله ﷻ پر دې قادر دى چي تاسي ټول فنا كړي او ددنيا څخه تاسي پورته كړي او نور حكم منونكي او فرمانبرداره خلگ به پيدا كړي په دې سره هم دالله ﷻ استغناء او بې حاجتي ښه ښكاره سوه او نافرمانو ته زورنه او بيره سوه. الله ﷻ فرمايي چي زما په ملكيت كي دي كم شيان چي په مځكه او آسمانونو كي دي نو دداسي مالك حكمونه منل ډير ضروري دي او دحكم منلو دا خطاب تاسي ته نه دى بلكي تر تاسي مخي خلگو ته هم وو.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۸۵)

www.jamairahmani.org

ع ۱۹ ۸ ۲۶

سَمِيۡعًۢا بَصِيۡرًا ﴿۱۳۴﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ

سَمِيۡعًا	بَصِيۡرًا	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	كُوۡنُوۡا	قَوّٰمِيۡنَ
ښه اوريدونکی	ښه ليدونکی	ای	هغو کسانو	چې ايمان ئې راوړی دی	او سئ تاسې	تل محکم ولاړ

ښه اوريدونکی ښه ليدونکی. ای هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی اوسئ تاسې تل محکم ولاړ!

بِالۡقِسۡطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوۡ عَلٰۤى اَنۡفُسِكُمۡ اَوِ الۡوَالِدَيۡنِ

بِالۡقِسۡطِ	شُهَدَآءَ	لِلّٰهِ	وَلَوۡ	عَلٰۤى	اَنۡفُسِكُمۡ	اَوِ الۡوَالِدَيۡنِ
په انصاف سره	شاهدان	دپاره د الله	اګر که وی (دا شاهدی)	پر	نفسونو ستاسې	يا په والدينو

په انصاف سره شاهدان (خاص) دپاره د الله اګر که وی (دا شاهدی) پرنفسونو ستاسې يا په والدينو

وَالۡاَقۡرَبِيۡنَ‌ۚ اِنۡ يَّكُنۡ غَنِيًّا اَوۡ فَقِيۡرًا فَاللّٰهُ اَوۡلٰى

وَالۡاَقۡرَبِيۡنَ	اِنۡ يَّكُنۡ	غَنِيًّا	اَوۡ فَقِيۡرًا	فَاللّٰهُ	اَوۡلٰى
يا په اقاربو	که وی دغه	غنی	او يا فقير	نو الله	ډير خير غوښتونکی دی

(مور او پلار) يا په اقاربو (خپلوانو ستاسې)، که وی دغه غنی (شتمن) او يا فقير (محتاج) نو الله ډير خير غوښتونکی دی

بِهِمَا‌ قف فَلَا تَتَّبِعُوا الۡهَوٰٓى اَنۡ تَعۡدِلُوۡا‌ ۚ وَاِنۡ تَلۡوٗۤا

بِهِمَا	فَلَا	تَتَّبِعُوا	الۡهَوٰٓى	اَنۡ	تَعۡدِلُوۡا	وَاِنۡ	تَلۡوٗۤا
پر دوی	نو مه کوئ	تاسې متابعت	د هوا	کله چې	انصاف کوئ تاسې	او که	واړوی تاسې

پر دوی (له تاسې څخه) نو مه کوئ تاسې متابعت هوا (د نفساني خواهشونو) کله چې انصاف کوئ تاسې، که واړوی تاسې

اَوۡ تُعۡرِضُوۡا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرًا ﴿۱۳۵﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

اَوۡ تُعۡرِضُوۡا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ	خَبِيۡرًا	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ
يا څنګ وکړی تاسې	نو بيشکه	الله	دی	پر هغه شي چې کوئ (يې) تاسې	ښه خبردار	ای	هغو کسانو

يا څنګ وکړی تاسې (له شاهدی څخه) نو بيشکه الله دی پر هر هغه شي چې کوئ (يې) تاسې ښه خبردار. ای! هغو کسانو

اٰمَنُوۡۤا اٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَالۡكِتٰبِ

اٰمَنُوۡۤا	اٰمِنُوۡا	بِاللّٰهِ	وَرَسُوۡلِهٖ	وَالۡكِتٰبِ
چې ايمان ئې راوړی دی	خالص کړئ تاسې ايمان خپل	پر الله	او رسول د ده	او په کتاب (قرآن)

چې ايمان ئې راوړی دی ثابت او خالص کړئ تاسې ايمان (يقين) خپل پر الله او رسول د ده (محمد) او په کتاب (قرآن)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ. په دنيا کي دپيغمبرانو او اسماني کتابونو د ليږلو اصلي مقصد عدل او انصاف قايمول دي او په دې سره ددنيا امن قايميدی سي:

د سورت نساء په دې آيت کي ټولو مسلمانانو ته پر عدل او انصاف د قايم پاته کيدو او دربښتيني شاهدی ورکولو هدايت سوی دی او کم شيان چې د عدل په قايمولو کي يا د رښتيني شاهدی په مخکي بنديز جوړيږي هغه يې ډير په زړه راکښونکي طريقه سره ليري کړي دي ددې مضمون يو آيت په سورت مايده کي راروان دی د دواړو مضمون بلکي الفاظ هم تقريبا يو ډول دي او د سورت حديد د آيت څخه معلوميږي چې دنيا ته د حضرت آدم عليه السلام د خليفه جوړولو او راليږلو او بيا تر ده وروسته نور پيغمبران عليهم السلام پر له پسي په حيثيت د الله جل جلاله د خليفګانو د راليږلو او ددوی سره د ډيرو کتابونو او صحيفو د نازلولو مهم مقصد دا وو چې په دنيا کي انصاف او ددې په ذريعه امن او امان قايم وي او هر انسان دې ده خپل اختيار په دايره کي انصاف خپل شعار جوړ کړي.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص ۱۸۶)

www.jamairahmani.org

الَّذِیۡ نَزَّلَ عَلٰی رَسُوۡلِهٖ وَالۡكِتٰبِ الَّذِیۡۤ اَنۡزَلَ مِنۡ قَبۡلُ ؕ

الَّذِیۡ	نَزَّلَ	عَلٰی	رَسُوۡلِهٖ	وَالۡكِتٰبِ	الَّذِیۡۤ	اَنۡزَلَ	مِنۡ قَبۡلُ
هغه چي	نازل کړی دی	پر	رسول خپل باندی	اوپر کتاب	هغه چي	نازل کړی دی	پخوا

چي تو ته تو ته ئی نازل کړی دی پر رسول خپل (محمد) باندی او پر هغه کتاب چي تول ئی یو ځل نازل کړی دی پخوا

وَمَنۡ یَّكۡفُرۡ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالۡیَوۡمِ

وَمَنۡ	یَّكۡفُرۡ	بِاللّٰهِ	وَمَلٰٓئِكَتِهٖ	وَكُتُبِهٖ	وَرُسُلِهٖ	وَالۡیَوۡمِ
او هر څوک چي	کافر سی	پر الله	او پر ملائیکو د دغه (الله)	او پر کتابونو د دغه (الله)	اوپررسولانو ددغه (الله)	او پر ورځی

او هر څوک چي کافر سی پر الله او پر ملائیکو د دغه (الله) او پر کتابونو د دغه (الله) او پر رسولانو د دغه (الله) او پر ورځی

الۡاٰخِرِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِیۡدًا ﴿۱۳۶﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

الۡاٰخِرِ	فَقَدۡ	ضَلَّ	ضَلٰلًاۢ	بَعِیۡدًا	اِنَّ الَّذِیۡنَ	اٰمَنُوۡا
آخری	نو په تحقیق	گمراه سوی دی	په گمراهی	لری سره	بیشکه! هغه کسان	چي ایمان ئی راوړی دی

آخری (قیامت) نو په تحقیق گمراه سوی دی په گمراهی لری سره (له حقه). بیشکه! هغه کسان چي ایمان ئی راوړی دی

ثُمَّ كَفَرُوۡا ثُمَّ اٰمَنُوۡا ثُمَّ كَفَرُوۡا ثُمَّ ازۡدَادُوۡا كُفۡرًا

ثُمَّ	كَفَرُوۡا	ثُمَّ اٰمَنُوۡا	ثُمَّ كَفَرُوۡا	ثُمَّ ازۡدَادُوۡا	كُفۡرًا
بیا	کافران سوی دی	بیا ئی ایمان راوړی دی	بیا کافران سوی دی	بیا زیات سوی دی	له جهته د کفره

بیا کافران سوی دی بیا ئی ایمان راوړی دی بیا کافران سوی دی بیا زیات سوی دی له جهته د کفره

لَّمۡ یَكُنِ اللّٰهُ لِیَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِیَهۡدِیَهُمۡ سَبِیۡلًا ﴿۱۳۷﴾ؕ بَشِّرِ

لَّمۡ یَكُنِ	اللّٰهُ	لِیَغۡفِرَ	لَهُمۡ	وَلَا لِیَهۡدِیَهُمۡ	سَبِیۡلًا	بَشِّرِ
نه دی	الله	چي مغفرت وکړی	دوی ته	او نه دا چي وښیی دوی ته	سمه صافه لاره	زیری ورکړه

نه دی الله چي مغفرت وکړی دوی ته او نه دا چي وښیی دوی ته سمه صافه لاره. زیری ورکړه (ای! محمده)

الۡمُنٰفِقِیۡنَ بِاَنَّ لَهُمۡ عَذَابًا اَلِیۡمَا ﴿۱۳۸﴾ الَّذِیۡنَ

الۡمُنٰفِقِیۡنَ	بِاَنَّ	لَهُمۡ	عَذَابًا	اَلِیۡمَا	الَّذِیۡنَ
منافقانو ته	په دی چي بیشکه! سته	دوی ته	عذاب	دردناک	هغه کسان

منافقانو ته په دی چي بیشکه! سته دوی ته عذاب دردناک. هغه کسان

اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ثُمَّ..

ضروري فايدي او لنډ

تفسير: دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دغه قول اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ثُمَّ ددي څخه مراد منافقين دي او ځيني فرمايي چي ددي څخه مراد يهود دي او داآيت ديهودو په شان کي نازل سوی دی چي اول يي ايمان راوړی او بيا يي دگيلگي عبادت شروع کړی کافران سول بيا يي توبه وکښه مومنان سول بيا دحضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَام دنبوت څخه منکره سول کافران سول تر دي وروسته يي دنبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم درسالت څخه انکار وکړی په کفر کښي يي ترقي کړه :(روح المعاني) نو الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرمايي ای مومنانو يعني کوموچي اجمالي ايمان راوړی دی دمومنانو په ډله کي داخل سوي دي تاسي دضروري عقيدو تفصيل واوری چي عقيده لري په الله جَلَّ جَلَالُهٗ په ذات او صفاتو سره يي او دهغه د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم پر رسالت باندي او دهغه دکتاب په حق والي باندي کم کتاب چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ پر خپل رسول باندي نازل کړی دی او پر هغه کتابونو باندي چي تر نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مخکي پر نورو انبياوو باندي نازل سوي دي الخ.

(معارف القرآن ج ۲ پ۵ ص ۱۹۳)

www.jamairahmani.org

يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَيَبْتَغُوْنَ

يَتَّخِذُوْنَ	الْكٰفِرِيْنَ	اَوْلِيَآءَ	مِنْ دُوْنِ	الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ	اَيَبْتَغُوْنَ
چې نيسي دوى	كافران	دوستان (خپل)	بې له	مؤمنانو	آيا لټوى دا (منافقان)

چې نيسي دوى كافران دوستان (خپل) بې له مؤمنانو ،

عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ﴿۱۳۹﴾ وَقَدْ

عِنْدَهُمُ	الْعِزَّةَ	فَاِنَّ	الْعِزَّةَ	لِلّٰهِ	جَمِيْعًا	وَقَدْ
په نزد د دى (كفارو)	عزت	پس بيشكه!	عزت	خاص الله لره دى	ټول	او په تحقيق سره

آيا لټوى دا (منافقان) په نزد د دى (كفارو) عزت پس بيشكه! عزت خاص الله لره دى ټول. او په تحقيق سره

نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

نَزَّلَ	عَلَيْكُمْ	فِي الْكِتٰبِ	اَنْ	اِذَا	سَمِعْتُمْ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ
نازل كړى دى (الله)	پر تاسى	په كتاب كښې	دا حكم	هر كله چې	واوريدل تاسى	آياتونه	د الله

نازل كړى دى (الله) پر تاسى په كتاب (قرآن) كښې دا حكم هر كله چې واوريدل تاسى آياتونه د الله

يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ

يُكْفَرُ بِهَا	بِهَا	وَيُسْتَهْزَاُ	بِهَا	فَلَا تَقْعُدُوْا	مَعَهُمْ
چې كفر كولى سى	په دى آيتونو	او مسخرى كولى سى	په هغو پورى	نو مه كښينى تاسى	له دوى سره

چې كفر (او انكار) كولى سى په دى آيتونو او مسخرى كولى سى په هغو پورى نو مه كښينئ (كښينى) تاسى له دوى سره

حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖٓ ۖ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ

حَتّٰى	يَخُوْضُوْا	فِيْ	حَدِيْثٍ	غَيْرِهٖٓ	اِنَّكُمْ	اِذًا	مِّثْلُهُمْ
تر هغه پورى	چې مشغول سى دوى	په	خبره	بله كښې	په تحقيق تاسى به	په دى وخت كښې	دهغو په شان سئ !

تر هغه پورى چې مشغول سى دوى په خبره بله كښې (كه نه) په تحقيق تاسى به (هم) په دى وخت كښې دهغو په شان سئ !

اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴿۱۴۰﴾

اِنَّ	اللّٰهَ	جَامِعُ	الْمُنٰفِقِيْنَ	وَالْكٰفِرِيْنَ	فِيْ	جَهَنَّمَ	جَمِيْعًا
بيشكه !	چې الله	يو ځاى كوونكى دى	د منافقانو	او د كافرانو په	په	جهنم كښې	د ټولو

(په ګناه كښې) بيشكه! چې الله يو ځاى كوونكى دى د منافقانو او د كافرانو په جهنم (دوزخ) كښې د ټولو .

اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ

عــزت خـاص دالله ﷻ څخه غوښتل په كار دي :

يعني دكفارو او مشركينو سره ددوستانه تعلقاتو ساتلو اوددوى سره ديو ځاى كيدو مقصد په عام ډول سره داوي چې ددوى دظاهري عزت او قوت څخه دمتاثره كيدو په وجه داخيال پيدا سي كه ددوى سره دوستي و كړه سي نوموږ ته به هم داسي قوت او عزت حاصل سي : ددوى څخه الله ﷻ ددې عبث خيال حقيقت داسي واضح كړى چې تاسي ددوى په ذريعه عزت حاصلول غواړى او حال دادى چې ددوى سره په خپله عزت نسته عزت دكم معنى چې غلبه او قوت دى هغه يوازي دالله ﷻ دپاره خاص دى او په مخلوق كي چې كله چاته څه قوت او غلبه رسيږي هغه ټول دالله ﷻ وركړل سوي وي نو دا به څومره بې عقلي وي چې دعزت حاصلولو لپاره دعزت اصلي مالك او عزت وركوونكى خو خفه كړى سي او دهغه ددښمنانو په ذريعه دعزت حاصلولو كوشش كول كيږي او حال داچي عزت يوازي دالله ﷻ او دهغه رسول ﷺ او مسلمانانو ته حاصل دى.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ ص۱۹۶)

www.jamairahmani.org

الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ

الَّذِيْنَ	يَتَرَبَّصُوْنَ	بِكُمْ	فَاِنْ	كَانَ	لَكُمْ	فَتْحٌ	مِّنَ	اللّٰهِ
هغه منافقان	چې هميشه منتظر دي	تاسې ته	نو كه	وُ	تاسې ته	برى	له (لورى)	د الله

هغه منافقان چې هميشه منتظر دي (د حوادثو) تاسې ته، نو كه وُ تاسې ته برى له (لورى) د الله

قَالُوْٓا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ

قَالُوْٓا	اَلَمْ	نَكُنْ	مَّعَكُمْ	وَاِنْ	كَانَ	لِلْكٰفِرِيْنَ	نَصِيْبٌ
نو وايي دا (منافقان چې)	آيا نه	وو موږ	له تاسې سره	او كه	وه	كافرانو ته	برخه (دبرى)

نو وايي دا (منافقان مسلمانانو ته) چې آيا نه وو موږ له تاسې سره؟ او كه وه كافرانو ته برخه (دبرى)

قَالُوْٓا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ

قَالُوْٓا	اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ	عَلَيْكُمْ	وَنَمْنَعْكُمْ	مِّنَ
نو وايي دا (منافقان چې)	آيا غالب سوي نه وو موږ	پر تاسې	او (آيا) و مو نه ژغورلئ	تاسې له

نو وايي دا (منافقان كفاروته) چې آيا غالب سوي نه وو موږ پر تاسې او (آيا) و مو نه ژغورلئ تاسې له

الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلَنْ يَّجْعَلَ

الْمُؤْمِنِيْنَ	فَاللّٰهُ	يَحْكُمُ	بَيْنَكُمْ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	وَلَنْ يَّجْعَلَ
مؤمنانو څخه	نو الله	به فيصله وكړي	په مينځ ستاسې كښې	په ورځې	د قيامت كښې	او له سره به و نه كړځوي

مؤمنانو څخه؟، نو الله به فيصله وكړي په مينځ ستاسې كښې په ورځې د قيامت كښې، او له سره به

اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ۝١٤١ ۧ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

ع ۲۰ ۱۷

اللّٰهُ	لِلْكٰفِرِيْنَ	عَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	سَبِيْلًا	اِنَّ	الْمُنٰفِقِيْنَ
الله د پاره	د كافرانو	پر	مؤمنانو باندې	هيڅ لاره	بيشكه! چې	منافقان

و نه كرځوي الله د پاره د كافرانو پر مؤمنانو باندې هيڅ لاره (د حجت او د برى).   بيشكه! چې منافقان

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْٓا

يُخٰدِعُوْنَ	اللّٰهَ	وَهُوَ	خَادِعُهُمْ	وَاِذَا	قَامُوْٓا
ټګي كوي	له الله سره	او الله	سزا وركوونكى دى د دوى د ټګۍ	او هركله چې	پاڅيږي دغه (منافقان)

ټګي كوي له الله سره او الله سزا وركوونكى دى د دوى د ټګۍ، او هر كله چې پاڅيږي دغه (منافقان)

فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ.. فايده: په تفسير بحر محيط كې علامه ابو حيان ليكلي دي چې د كمې خبرې په ژبې سره ويل گناه ده د دې په غوږونو سره اوريدل هم گناه ده او پر دې باندې يې دا شعر نقل كړى دى (وسمعک صن عن السماع القبيح ++ كصون اللسان عن النطق به) يعنې خپل غوږونه د بدې خبرې د اوريد څخه وساته لكه څنگه چې ژبه د بدې خبرې د ويلو څخه ساتې دوهمه خبره د سورت انعام په آيت كې دا زياته ده چې كه څه وخت په هيره سره يا په بې خبرى سره يو سړى په داسې مجلس كې شريک سې چې هلته د الله ﷻ د احكامو سپكاوى او يا د قرآن كريم غلط تفسير كيږي او يا بدعات رااېستونكي خلگ وي او بيا يې په خيال كې را سي نو فورا دې ولاړ سي تر خيال راتلو وروسته دې د ظالمانو سره نه كښيني د سورت نساء او سورت انعام په دواړو اياتونو كې دا فرمايلي دي چې تر څو پورې دغه خلگ په دغه عبثو خبرو كې مشغول وي تر هغه وخته پورې د دوى په مجلس كې كښيناستل حرام دي. (معارف القرآن ج ۲ پ ۵ ص ۱۹۸)

www.jamairahmani.org

اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَ لَا يَذْكُرُوْنَ

اِلَى الصَّلٰوةِ	قَامُوْا	كُسَالٰى	يُرَآءُوْنَ	النَّاسَ	وَ	لَا يَذْكُرُوْنَ
لمانځه ته	نو پاڅيږي	سست کاهلان	ښيئ دوی	خلګو ته	او	نه يادوی دوی

لمانځه ته نو پاڅيږی سست کاهلان ښيئ دوی خلګو ته (ځان خپل چي موږ هم مسلمانان يو) او نه يادوی دوی

اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۴۲﴾ مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ

اللّٰهَ	اِلَّا	قَلِيْلًا	مُّذَبْذَبِيْنَ	بَيْنَ	ذٰلِكَ
الله	مګر	ريا ی يادول لږ	په دی حال کښي چي دوی متحيران متردد دان دی	په مينځ	د دغه کښي

الله مګر ريا ی يادول لږ. په دی حال کښي چي دوی متحيران مترددان دی په مينځ د دغه (ايمان او کفر) کښي

لَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

لَآ اِلٰى	هٰٓؤُلَآءِ	وَلَآ	اِلٰى	هٰٓؤُلَآءِ	وَمَنْ	يُّضْلِلِ	اللّٰهُ
نه پر طرف	د دغو (مؤمنانو)	او نه بيخی	په طرف	د هغو (کفارو)	او هر څوک چي	ګمراه (ئی) کړی	الله

(بيخی) نه پر طرف د دغو (مؤمنانو دی) او نه بيخی په طرف د هغو (کفارو) دی ، او هر څوک چي ګمراه (ئی) کړی الله

فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۱۴۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا

فَلَنْ تَجِدَ	لَهٗ	سَبِيْلًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَتَّخِذُوا
نو له سره به پيدانه کړی ته	د ده ته	لاره (دحق)	ای	هغو کسانو	چي ايمان ئی راوړی دی	مه نيسئ ! تاسی

نو له سره به نه مومی ته ده ته لاره (دحق). ای هغو کسانو چي ايمان ئی راوړی دی، مه نيسئ ! تاسی

الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ اَتُرِيْدُوْنَ

الْكٰفِرِيْنَ	اَوْلِيَآءَ	مِنْ دُوْنِ	الْمُؤْمِنِيْنَ	اَتُرِيْدُوْنَ
کافران	دوستان (خپل)	بی له	مؤمنانو ځنې	آيا اراده لرئ تاسی

کافران دوستان (خپل) بی له مؤمنانو ځنې، آيا اراده لرئ تاسی (ای مؤمنانو)

اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۱۴۴﴾

اَنْ	تَجْعَلُوْا	لِلّٰهِ	عَلَيْكُمْ	سُلْطٰنًا	مُّبِيْنًا
د دی چي	پيدا کړئ	الله لره	پرخانونو خپلو	دليل (حجت صريح الزام)	ښکاره

د دی چي پيدا کړئ الله لره پر تاسی برهان (حجت صريح الزام) ښکاره.

وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ لنډ تفسير:

بيشکه منافقين خلګ دايمان په ښکاره کولو کي چل بازي کوي دالله ﷻ سره او ددوی داچل دالله ﷻ څخه پټ نه سي پاته کيدای که څه هم چي ددوی عقيده دالله ﷻ سره دچل بازی نه کولو ده خو ددوی دا کاروايي مشابه ده ددي سره لکه ددوی چي داعقيده وي حال دادی چي الله ﷻ ددوی دچل بازی دسزا دوی ته ورکولو والا دی او کله چي په زړه کي ددوی ايمان ګر سره نسته نو په دي وجه لمونځ فرض نه ګڼي او نه په کښي دثواب عقيده ساتي په دې وجه کله چي لمانځه ته دريږي نو ډير په سستی سره دريږي ځکه چي خوشحالي خو په عقيده او اميد سره پيدا کيږي يوازي خلګو ته خپل ځانونه لمونځ کوونکي ښيي چي دوی يه مسلمان وګڼي او کله چي داسي په نامه سره لمونځ کوي په دې وجه په لمانځه کي دالله ﷻ ذکر په ژبه سره نه کوي مګر ډير لنډ يعني دغه منافقين محض دلمانځه صورت جوړوي چي دلمانځه نوم په کښي راسي او دخلګو اشتباه ليري سي.

(معارف القرآن ج۲ پ۵ص ۲۰۰)

www.jamairahmani.org

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ

إِنَّ	الْمُنٰفِقِيْنَ	فِي	الدَّرْكِ	الْاَسْفَلِ	مِنَ	النَّارِ	وَلَنْ
بیشکه!	منافقان دي	په	طبقه	ډېره کښته کښې	له	اوره	او له سره به نه

بیشکه! منافقان دي په طبقه ډېره کښته کښې له اوره (د دوزخ) او له سره به نه

تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا ﴿۱۴۵﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا

تَجِدَ لَهُمْ	نَصِيْرًا	اِلَّا	الَّذِيْنَ	تَابُوْا	وَاَصْلَحُوْا
پیدا کړې ته دوی ته	مددګار	مګر	هغه کسان چي	توبه وباسي	او اصلاح کړي

مومې ته دوی ته مددګار (د عذابه خلاصوونکی). مګر هغه کسان چي توبه وباسي (له نفاقه) او اصلاح کړي (اعمال خپل)

وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ

وَاعْتَصَمُوْا	بِاللّٰهِ	وَاَخْلَصُوْا	دِيْنَهُمْ	لِلّٰهِ	فَاُولٰٓئِكَ	مَعَ
او منګلې خښې کړي	په (دين د) الله	او خاص کړي	دين خپل	خاص الله لره	نو دغه به وي	سره له

او منګلې خښې کړي په (دين د) الله او خاص کړي دين خپل (له ريا او ښودنې) خاص الله لره نو دغه به وي سره له

الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا

الْمُؤْمِنِيْنَ	وَسَوْفَ	يُؤْتِ	اللّٰهُ	الْمُؤْمِنِيْنَ	اَجْرًا
مؤمنانو	او ژر به	ورکړي	الله	(ټولو) مؤمنانو ته	ثواب

مؤمنانو (په دارینو کښې) او ژر به ورکړي الله (ټولو) مؤمنانو ته (په دنيا او په عقبی کښې) ثواب

عَظِيْمًا ﴿۱۴۶﴾ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ

عَظِيْمًا	مَا يَفْعَلُ	اللّٰهُ	بِعَذَابِكُمْ	اِنْ	شَكَرْتُمْ
ډير لوی	څه به کوی	الله	په عذاب ستاسي	که	شکر وباسئ تاسي

ډير لوی. څه به کوی الله په عذاب ستاسي (او ولې به عذاب درکوی تاسي ته؟) که شکر وباسئ تاسي

وَاٰمَنْتُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

وَاٰمَنْتُمْ	وَكَانَ	اللّٰهُ	شَاكِرًا	عَلِيْمًا
او ايمان يقين ولرئ تاسي	او دی	الله	شکر قبلوونکی	ښه عالم (پر ټولو شيانو)

او ايمان يقين ولرئ تاسي او دی الله شکر قبلوونکی ښه عالم (پر ټولو شيانو).

وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ...

د الله ﷻ د دغه قول څخه دا معلومه سوه چي الله ﷻ ته هغه عمل د قبول وړ دی چي د رياء څخه پاک وي او محضي د هغه لپاره وي ځکه چي د مخلص معنی فقهاوو دا بيان کړې ده. (الذی يعمل لله لايحبّ ان يحمد الناس عليه) بحواله تفسير مظهري: يعني مخلص سړی هغه دی چي عمل محض د الله ﷻ د رضا د پاره کوي او د اخبره نه خوښوي چي خلګ د ده صفت پر دغه عمل باندي وکړي. (معارف القرآن ج ۲ پ ۲ص ۲۰۲)

مکتبه حبيبيه: الله ﷻ دي موږ او تاسي ته په ټولو نيکو اعمالو کي اخلاص او للهيت او خپله رضا رانصيب کړي خصوصا د دين د خدمت کولو په لړۍ کي چي دا يو ډير حساس ميدان دی د دغه ميدان د سپرو اشخاصو لپاره او الله ﷻ دي موږ ته زموږ د اکابرينو د اخلاص په شان اخلاص او للهيت رانصيب کړي خصوصا لکه علماء ديوبند چي په خپل دور کي ودې دين ته تجديد ورکړی او د اسي يو شعبه يې نه پرېښوول چي په هغې کي تر خپله وسه د هغې حق نه وي اداء کړی او په عملي ميدان کي هم د دوی اخلاص نن ښکاره دی. از مرتب عفی عنه

www.jamairahmani.org

لَا یُحِبُّ اللّٰہُ الۡجَہۡرَ بِالسُّوۡٓءِ مِنَ الۡقَوۡلِ اِلَّا مَنۡ ظُلِمَ ؕ

لَا یُحِبُّ	اللّٰہُ	الۡجَہۡرَ	بِالسُّوۡٓءِ	مِنَ الۡقَوۡلِ	اِلَّا	مَنۡ	ظُلِمَ
نه خوښوی	الله	ښکاره ویل	دبدی	خبری	مګر	له هغه چا	چې ظلم پری سوی وی

نه خوښوی الله ښکاره ویل د بدی خبری مګر (ښکاره ویل) له هغه چا چې ظلم پری سوی وی ،

وَ کَانَ اللّٰہُ سَمِیۡعًا عَلِیۡمًا ﴿۱۴۸﴾ اِنۡ تُبۡدُوۡا خَیۡرًا

وَ کَانَ	اللّٰہُ	سَمِیۡعًا	عَلِیۡمًا	اِنۡ	تُبۡدُوۡا	خَیۡرًا
او دی	الله	ښه اوریدونکی	ښه عالم	که	ښکاره کوئ تاسی	خیر

او دی الله ښه اوریدونکی (دټولو اقوالو) ښه عالم (په پټو او ښکاره ؤ) . که ښکاره کوئ تاسی خیر (نیکی، طاعت)

اَوۡ تُخۡفُوۡہُ اَوۡ تَعۡفُوۡا عَنۡ سُوۡٓءٍ فَاِنَّ اللّٰہَ کَانَ عَفُوًّا

اَوۡ تُخۡفُوۡہُ	اَوۡ تَعۡفُوۡا	عَنۡ سُوۡٓءٍ	فَاِنَّ	اللّٰہَ	کَانَ	عَفُوًّا
یا پټوئ دغه خیر	یا عفوه کوئ	له بدی	نو بیشکه!	الله	(هم) دی	ښه عفوه کوونکی دی

یا پټوئ دغه (خیر) یا عفوه کوئ! له بدی (چې ظلم دی) نو بیشکه! الله (هم) دی ښه عفوه کوونکی

قَدِیۡرًا ﴿۱۴۹﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ یَکۡفُرُوۡنَ بِاللّٰہِ وَ رُسُلِہٖ

قَدِیۡرًا	اِنَّ	الَّذِیۡنَ	یَکۡفُرُوۡنَ	بِاللّٰہِ	وَ رُسُلِہٖ
ښه قادر	بیشکه!	هغه کسان	چې کافران کیږی	پر الله	او پر رسولانو د الله

ښه قادر (په عذاب د ظالم او ثواب د مظلوم او نورو). بیشکه! هغه کسان چې کافران کیږی پر الله او پر رسولانو د الله

وَ یُرِیۡدُوۡنَ اَنۡ یُّفَرِّقُوۡا بَیۡنَ اللّٰہِ وَ رُسُلِہٖ وَ یَقُوۡلُوۡنَ

وَ یُرِیۡدُوۡنَ	اَنۡ	یُّفَرِّقُوۡا	بَیۡنَ	اللّٰہِ	وَ رُسُلِہٖ	وَ یَقُوۡلُوۡنَ
او اراده لری دوی	چې	تفریق (بیلتون) وکړی	په مینځ	د الله	او رسولانو د الله	او وایی دوی

او اراده لری (غواړی) دوی چې تفریق (بیلتون) وکړی په مینځ د الله او رسولانو د الله او وایی دوی

نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٍ وَّ نَکۡفُرُ بِبَعۡضٍ ۙ وَّ یُرِیۡدُوۡنَ اَنۡ

نُؤۡمِنُ	بِبَعۡضٍ	وَّ نَکۡفُرُ	بِبَعۡضٍ	وَّ یُرِیۡدُوۡنَ	اَنۡ
چې موږ ایمان راوړو	پر ځینو	او کافران کیږو	پر ځینو	او اراده لری (غواړی) دوی	چې

چې موږ ایمان راوړو پر ځینو او کافران (منکران) کیږو پر ځینو (نورو رسولانو) او اراده لری (غواړی) دوی چې

لَا یُحِبُّ اللّٰہُ الۡجَہۡرَ بِالسُّوۡٓءِ مِنَ الۡقَوۡلِ.... ددنیا څخه دظلم اوزور دختمولو یوقانون دی: په دغه ایاتونو کي په اولني او دوهم آیت کي ددنیا څخه دظلم اوزور دختمولو یوقانون دی: لیکن دعامي دنیا دقوانینو په شان نه دی چي حیثیت یي یوازي امیرانه وي بلکي درغبت پیداکولو او بیرولو په انداز کي یوقانون دی چي په دې کي یو طرف ته ددې اجازه ورکړې ده چي پر کم سړي ظلم وسو نو مظلوم ددغه ظلم شکایت یا یوه عدالت ته رجوع کولای سي چي داعین عدل او دانصاف تقاضا ده او دجرمونود بندولو یوه ذریعه ده لیکن دسورت نحل په ایت کي ددې سره یو قید هم ذکر دی (وان عاقبتم فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به ولئن صبرتم لهو خیر الصّابرین) یعني که یوسړي پر تاسي ظلم وکړي نو تاسي هم دده دظلم بدله اخیستی سی مګر شرط دادی چي څومره ظلم او زیاتی هغه کړی وي په بدله کي تر هغه زیات ونسي که نه نو تاسي به ظالمان سی ددې حاصل دادی چي دظلم په بدله کي دظلم اجازت نسته بلکي دظلم بدله به په انصاف سره اخیستل کیږي.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۲)

www.jamairahmani.org

يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ

يَتَّخِذُوا	بَيْنَ	ذٰلِكَ	سَبِيلًا	اُولٰٓئِكَ	هُمُ
ونيسي	په مينځ	ددې (كفر او اسلام كښې)	يوه لاره	دغه (تفريق كوونكي)	هم دوى

ونيسي په مينځ د دې (كفر او اسلام كښې) يوه لاره دغه (تفريق كوونكي). هم دوى

الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿١٥١﴾

الْكٰفِرُوْنَ	حَقًّا	وَاَعْتَدْنَا	لِلْكٰفِرِيْنَ	عَذَابًا	مُّهِيْنًا
كافران دي	په حقه سره	او تيار كړي دي موږ	له پاره د كافرانو	عذاب	ډير سپكوونكى (د دوزخ)

كافران دي (په كمال د كفر او) په حقه سره ، او تيار كړي دي موږ له پاره د كافرانو عذاب ډير سپكوونكى (د دوزخ) .

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ

وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	بِاللّٰهِ	وَرُسُلِهٖ	وَلَمْ	يُفَرِّقُوْا	بَيْنَ	اَحَدٍ
او هغه كسان	چې ايمان ئې راوړى دى	پر الله	او پر رسولانو د (الله)	او نه دى	كړى دوى تفريق	په مينځ	د هيڅ يوه كښې

او هغه كسان چې ايمان ئې راوړى دى پر الله او پر (ټولو) رسولانو د (الله) او نه دى كړى دوى تفريق په مينځ د هيڅ يوه كښې

مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

مِّنْهُمْ	اُولٰٓئِكَ	سَوْفَ	يُؤْتِيْهِمْ	اُجُوْرَهُمْ	وَكَانَ	اللّٰهُ
له دوى ځخه	دغه	ژر به	وركړي (الله) دوى ته	اجرونه د دوى	او دى	الله

له دوى ځخه (په نه منلو سره) دغه ژر به وركړي (الله) دوى ته اجرونه (ثوابونه) د دوى او دى الله

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٥٢﴾ يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ

غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا	يَسْـَٔلُكَ	اَهْلُ	الْكِتٰبِ	اَنْ	تُنَزِّلَ
ښه مغفرت كوونكى	ډير رحم والا	سوال كوى له تا (اى محمده!)	اهل	د كتاب	د دى چې	نازل كړې ته

ښه مغفرت كوونكى (دخطياتو) ډير رحم والا. سوال كوى له تاه (اى محمده!) اهل د كتاب (يهودان) د دى چې نازل كړې ته

عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ سَاَلُوْا مُوْسٰٓى اَكْبَرَ

عَلَيْهِمْ	كِتٰبًا	مِّنَ	السَّمَآءِ	فَقَدْ	سَاَلُوْا	مُوْسٰٓى	اَكْبَرَ
پر دوى	كتاب	له	آسمانه	نو په تحقيق	سوال كړى وو دوى	له موسى ځخه	ډير لوى

پر دوى (لكه تورات) كتاب له آسمانه نو په تحقيق سوال كړى وو دوى (پلرونو د دغو يهودانو) له موسى ځخه ډير لوى

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا...

دنجات دار او مدار پر اسلام دى په مخالف مذهب كي نجات نسي كيداى: دقران كريم دغي ښكاره فيصلي دهغه خلگو بي لاري او كوږوالى په ښه ډول سره ښكاره كړى چي دنورو مذهبونو دخلگو سره درواداري دپاره خپل مذهب او مذهبي عقيدي په ډالى كي وركول غواړي او دقرآن او دسنت دښكاره فيصلو خلاف دنورو مذهبونو خلگوته دا ښوول غواړي چي دمسلمانانو په نزد نجات او خلاصون يوازي په اسلام پوري پيوست نه دى يهودي پر خپل مذهب او عيسايي پر خپل مذهب په پاته كيدو كي هم نجات پيدا كولاى سي او حال دادى چي دغه خلگ دټولو رسولانو ځخه يالږ تر لږه دځينو رسولانو ځخه خو منكر دي چي ددوى دكافر كيدو او ددوږخي كيدو دغه آيت اعلان كړى دى په دې كي هيڅ شک نسته چي اسلام دغير مسلمو سره دعدل او انصاف همدردى او خيرخواهى احسان او روا دارى په معامله كي خپل مثال نه لري ليكن هغه خپل ملكيت دى مذهبي اصول اوعقيدي زموږ ملكيت نه دي چي هر چاته يي وركړو: (معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۴)

ع ۲۱

www.jamairahmani.org

مِنْ ذٰلِكَ فَقَالُوْٓا اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْهُمُ

مِنْ	ذٰلِكَ	فَقَالُوْٓا	اَرِنَا	اللّٰهَ	جَهْرَةً	فَاَخَذَتْهُمُ
له	دغه	پس ويلي وو دوی	چي وښيه موږ ته	الله	ښکاره (مخامخ)	نو ونيول دوی

له دغه (سواله) پس ويلي وو دوی (موسی ته) چي وښيه موږ ته الله ښکاره (مخامخ) نو ونيول دوی

الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا

الصّٰعِقَةُ	بِظُلْمِهِمْ	ثُمَّ	اتَّخَذُوا	الْعِجْلَ	مِنْۢ بَعْدِ	مَا
صاعقه (تندر)	په سبب د ظلم د دوی	بيا	ونيوه دوی	ګيلګی (په خدائی سره)	پس له هغه	چي

صاعقه (تندر) په سبب د ظلم د دوی بيا ونيوه دوی خسی (په خدائی سره) پس له هغه چي

جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ ۚ وَاٰتَيْنَا مُوْسٰی

جَآءَتْهُمُ	الْبَيِّنٰتُ	فَعَفَوْنَا	عَنْ	ذٰلِكَ	وَاٰتَيْنَا	مُوْسٰی
راغلی دوی ته	ښکاره معجزی	پس عفوه وکړه موږ	له	دی (ګناه)	او ورکړی وو	موږ موسی ته

راغلی دوی ته ښکاره معجزی (په توحيد) پس عفوه وکړه (تير سو) موږ له دی ګناه ، او ورکړی وه موږ موسی ته

سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ

سُلْطٰنًا	مُّبِيْنًا	وَرَفَعْنَا	فَوْقَهُمُ	الطُّوْرَ	بِمِيْثَاقِهِمْ
دليل	ښکاره	او پورته کړی ؤ	برسيره پر دوی	طور	دپاره د وعدی د دوی

غلبه صريحه (برهان ښکاره) . او پورته کړی ؤ بر سيره پر دوی (غر د) طور دپاره د (قبول د کلکی) وعدی د دوی

وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا

وَقُلْنَا	لَهُمُ	ادْخُلُوا	الْبَابَ	سُجَّدًا	وَّقُلْنَا
او ويلي وو موږ	دوی ته	چي ننوځئ	په دروازی (دايليا دښار)	سجده کوونکی	او ويلي وو موږ

او ويلي وو موږ دوی ته چي ننوځئ! په دروازی (د ايليا دښار) سجده کوونکی او ويلی وو موږ

لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا

لَهُمْ	لَا تَعْدُوْا	فِي	السَّبْتِ	وَاَخَذْنَا	مِنْهُمْ	مِّيْثَاقًا
دوی ته	چي مه تيريږی له (حده)	په	(ورځی د) شنبی کښی	او اخيستی وه موږ	له دوی څخه	وعده

دوی ته چي مه تيريږی له (حده) په (ورځی د) شنبی کښی (دماهيانو په ښکار سره) او اخيستی وه موږ له دوی څخه وعده

فَقَالُوْٓا اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً

شان نزول: ديهودو څه سرداران دنبي کريم ﷺ ومجلس ته راغلل او دا مطالبه يي دنبي کريم ﷺ څخه وکړه چي لکه څنګه پر موسی علیه السلام باندي ليکل سوی کتاب داسمان څخه نازل سوی وو دغه ډول ته هم يو کتاب داسمان څخه موږ ته راوړه نو موږ به هم ايمان راوړو ددوی دا مطالبه ددي لپاره نه وه چي دوی په زړه سره ايمان راوړل غوښتل او دا ددوی يو شرط وو بلکي دضد او عناد دوجي به يي څه ناڅه عذرونه پيش کول الله جل جلاله دايت را نازل کړی او نبي کريم ﷺ يي داصلي حقيقت څخه خبر کی او تسلي يه ورلره ورکړه چي په حقيقت کي دا قوم داسي دی چي دالله جل جلاله رسولان آزاروي او دالله جل جلاله خلاف دبغاوت کولو دپاره تر لويو لالوی حرکتونه هم کوي ددوی پلرونو او نيکونو دحضرت موسی علیه السلام څخه تردي دلويو خبرو مطالبه کړې وه هغه دا چي موږ ته الله جل جلاله په ډاګه راوښيه پر دغه بې ادبی دآسمانه څخه يوه بريښنا راغله او دوی يي وسوزل او هلاک يي کړل نو دا هغه نافرمانه قوم دی (معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٧)

www.jamairahmani.org

غَلِيۡظًا ﴿١٥٤﴾ فَبِمَا نَقۡضِهِمۡ مِّيۡثَاقَهُمۡ وَ كُفۡرِهِمۡ

غَلِيۡظًا	فَبِمَا	نَقۡضِهِمۡ	مِّيۡثَاقَهُمۡ	وَ كُفۡرِ	هِمۡ
محکمه	پس په سبب	دماتولو د دوی	دکلک عهد خپل	او په سبب د کفر	د دوی

محکمه (مضبوط قول). پس (په سزا ورسولی سول دوی) په سبب د ماتولو د دوی دکلک عهد خپل او په سبب د کفر د دوی

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتۡلِهِمُ الۡاَنۡۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقٍّ وَّقَوۡلِهِمۡ قُلُوۡبُنَا

بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَ قَتۡلِهِمُ	الۡاَنۡۢبِيَآءَ	بِغَيۡرِ حَقٍّ	وَّقَوۡلِهِمۡ	قُلُوۡبُنَا
په آیتونو	دالله باندی	او په وژلو د دوی	انبیاؤ لره	په ناحقه	او په ویلو د دوی	چی زړونه زموږ

په آیتونو دالله باندی او په وژلو د دوی انبیاؤ لره په ناحقه (په خپلی عقیدی سره هم) او په ویلو د دوی چی زړونه زموږ

غُلۡفٌ ؕ بَلۡ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ

غُلۡفٌ	بَلۡ	طَبَعَ	اللّٰهُ	عَلَيۡهَا	بِكُفۡرِهِمۡ	فَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ
په پردو کښی پټ دی	بلکه	مهر وهلی دی	الله	په زړونو د دوی	په سبب د کفر د دوی	پس ایمان نه راوړی دوی

په پردو کښی پټ دی، بلکه مهر (دغفلت) وهلی دی الله په زړونو د دوی په سبب د کفر د د دوی پس ایمان نه راوړی دوی

اِلَّا قَلِيۡلًا ﴿١٥٥﴾ ص وَّبِكُفۡرِهِمۡ وَقَوۡلِهِمۡ عَلٰى مَرۡيَمَ بُهۡتَانًا

اِلَّا	قَلِيۡلًا	وَّبِكُفۡرِ	هِمۡ	وَقَوۡلِهِمۡ	عَلٰى	مَرۡيَمَ	بُهۡتَانًا
مگر	لږ (د دوی)	او په سبب د کفر	د دوی	او په ویلو د دوی	پر	مریمی	دروغ

مگر لږ (د دوی). او په سبب د کفر د (نیکونود) دوی او (په سبب د) ویلو د دوی پر مریمی دروغ

عَظِيۡمًا ﴿١٥٦﴾ لا وَّقَوۡلِهِمۡ اِنَّا قَتَلۡنَا الۡمَسِيۡحَ عِيۡسَى ابۡنَ

عَظِيۡمًا	وَّقَوۡلِهِمۡ	اِنَّا	قَتَلۡنَا	الۡمَسِيۡحَ	عِيۡسَى	ابۡنَ
ډیر غټ	او په ویلو د دوی	بیشکه!	وژلی دی موږ	مسیح	عیسی	زوی

ډیر غټ (دزنا). او (په سبب د) ویلو د دوی (داسی چی) بیشکه! وژلی دی موږ مسیح عیسی زوی

مَرۡيَمَ رَسُوۡلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوۡهُ وَمَا صَلَبُوۡهُ وَلٰكِنۡ

مَرۡيَمَ	رَسُوۡلَ	اللّٰهِ	وَمَا قَتَلُوۡهُ	وَمَا صَلَبُوۡهُ	وَلٰكِنۡ
د مریمی	رسول	دالله	حال دا چی نه ؤ وژلی دوی دغه	او نه پر دار کړی ؤ دوی هغه (یقینا)	ولیکن

دمریمی رسول د الله (په گمان خپل)، حال دا چی نه ؤ وژلی دوی دغه (عیسی) نه پر دار کړی ؤ دغه (یقینا) ولیکن

وَمَا قَتَلُوۡهُ وَمَا صَلَبُوۡهُ

یهودو ته اشتباه څنګه

وریپیښه سوه: ددغه آیت په تفسیر کي دتفسیر شریف امام امام ضحاک رحمة الله علیه فرمايي چي قصه داسي پیښه سوه چي کله یهودو دحضرت مسیح علیه السلام دقتل کولو اراده وکړه نو دده حواریان یو ځای ته جمع سول حضرت مسیح علیه السلام هم ددوی خواته تشریف راوړی ابلیس دیهودو هغه خلګو ته کم چي دحضرت عیسی علیه السلام دقتل کولو دپاره تیارولاړ وه دحضرت عیسی علیه السلام ادرس اوپته وروښوول او ځلورو زرو (۴۰۰۰) کسانو پر هغه ځای شااوخوا محاصره وکړه حضرت عیسی علیه السلام خپلو حواریانو ته وویل چي په تاسي کي کم سړی دې ته تیار دی چي دباندي ووزي او قتل دي کړی سي او بیا په جنت کي زما سره وي په دوی کي یوه نفر ددې غرض دپاره ځان پیش کړی نو د علیه السلام هغه ته خپل قمیص اولنګوټه ورکړه او بیا پر دغه سړي دده مبارک مشابهت واچول سو او کله چي هغه دباندي راووتی نو یهودو هغه ټینګ کړی او په دار یي کړی او حضرت عیسی علیه السلام آسمانو ته پورته کړی سو (قرطبي).

(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۱۰)

www.jamairahmani.org

شُبِّهَ لَهُمْ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ

شُبِّهَ	لَهُمْ	وَاِنَّ	الَّذِيْنَ	اخْتَلَفُوْا	فِيْهِ	لَفِيْ	شَكٍّ
مشتبه کړی سو	دوی ته	او بیشکه!	هغه کسان	چې اختلاف کړی دی دوی	په عیسی کښې	خامخا په	شک کښې دی

مشتبه کړی سو دوی ته ، او بیشکه! هغه کسان چې اختلاف کړی دی دوی په (حق د) عیسی کښې خامخا په شک کښې دی

مِّنْهُ ۭ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ

مِّنْهُ	مَا لَهُمْ	بِهٖ	مِنْ عِلْمٍ	اِلَّا	اتِّبَاعَ	الظَّنِّ	وَمَا قَتَلُوْهُ
په (شان) د ده کښې	نسته دوی ته	په (شان) د ده کښې	هیڅ علم	مګر	تش متابعت	د ګمان	او نه ؤ وژلی دوی عیسی

په (شان) د ده کښې نسته دوی ته په (شان) د ده کښې هیڅ علم مګر تش متابعت د ګمان (خپل) او نه ؤ وژلی دوی

يَقِيْنًا ۝١٥٧ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝١٥٨

يَقِيْنًا	بَلْ	رَّفَعَهُ	اللّٰهُ	اِلَيْهِ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَزِيْزًا	حَكِيْمًا
یقینی	بلکه	پورته کړی ؤ دی	الله	طرف خپل ته	او دی	الله	ښه قوی غالب	ښه حکمت والا

عیسی (په وژلو یقینی سره). بلکه پورته کړی ؤ دی الله طرف خپل ته، او دی الله ښه قوی غالب ښه حکمت والا .

وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ

وَاِنْ	مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ	اِلَّا	لَيُؤْمِنَنَّ	بِهٖ
او نسته	هیڅوک له اهل د کتابه	مګر	قسم دی خامخا چې ایمان به راوړی دوی	په وخت د نزول د عیسی پر عیسی

او نسته هیڅوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرومرو چې ایمان به راوړی دوی خامخا په وخت د نزول د عیسی پر عیسی

قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ۝١٥٩

قَبْلَ	مَوْتِهٖ	وَيَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	يَكُوْنُ	عَلَيْهِمْ	شَهِيْدًا
مخکې تر	مرګ د ده څخه	او په ورځ	د قیامت کښې	به وی (عیسی)	پر دوی باندی	شاهد .

مخکې تر مرګه د ده څخه او په ورځ د قیامت کښې به وی (عیسی) پر دوی باندی شاهد .

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ

فَبِظُلْمٍ	مِّنَ	الَّذِيْنَ	هَادُوْا	حَرَّمْنَا	عَلَيْهِمْ	طَيِّبٰتٍ
نو په سبب د ظلم	له	هغو کسانو	چې یهودان دی	حرام کړل موږ	پر دوی باندی	پاک شیان

نو په سبب د ظلم له هغو کسانو چې یهودان دی حرام کړل موږ پر دوی باندی طیبات (هغه ډیر پاک شیان).

وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ.. دقران کریم په دې ایت کې داخبره ښوول سوې ده :

چې داخلګ که څه هم چې داوخت دحضرت عیسی ؑ پر نبوت صحیح عقیده او ایمان نه لري لیکن کله چې دی ؑ قیامت ته نژدې راکښته سي داسمانه څخه نو دا ټول اهل کتاب به پرده ایمان راوړي نصارى خو به ټوله په صحیح عقیده سره ایمان راوړي او په یهودوکي چې څوک مخالفت وکړي قتل به کړه سي او پاته به مسلمانان سي دغه وخت به کفر دخپلو ټولو قسمونو سره ددنیا څخه ختم سي او پر دې دنیا به یوازې داسلام حکمراني راسي دحضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې عیسی ؑ به دیوه عادل حکمران او باچا په صورت کې خامخا راکښته سي هغه به دجّال او خنزیر قتل کړي صلیب به مات کړي او دغه وخت به عبادت یوازې دپروردګار عالم جل جلاله وي تر دې وروسته ابوهریرة ؓ وفرمایل که تاسي غواړی نو دقرآن کریم دغه آیت هم وواياست چې په دغه کې هم داحقیقت ذکر سوی دی

(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ١٢)

www.jamairahmani.org

أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ كَثِيْرًا ﴿١٦٠﴾

أُحِلَّتْ	لَهُمْ	وَبِصَدِّهِمْ	عَنْ	سَبِيْلِ	اللهِ	كَثِيْرًا
چي حلال كړى سوي وو	دوى ته	او (په سبب د) اړولو د دوى	له	لاري	د الله څخه	ډير (خلګ)

چي حلال كړى سوي وو دوى ته او (په سبب د) اړولو (منع كولو) د دوى له لاري د الله څخه ډير (خلګ).

وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ وَاَكْلِهِمْ اَمْوَالَ

وَّاَخْذِهِمُ	الرِّبٰوا	وَقَدْ نُهُوْا	عَنْهُ	وَاَكْلِهِمْ	اَمْوَالَ
او د اخيستلو د دوى	سود	حال دا چي په تحقيق منع كړى سوي وو دوى	له دغه (سوده)	او د خوړلو د دوى	مالونه

او د اخيستلو د دوى سود (له خلګو نه) حال دا چي په تحقيق منع كړى سوي وو دوى له دغه (سوده) او د خوړلو د دوى مالونه

النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ

النَّاسِ	بِالْبَاطِلِ	وَاَعْتَدْنَا	لِلْكٰفِرِيْنَ	مِنْهُمْ
د خلګو	په ناحقه سره چي رشوت او نور ناروا شيان دى	او تيار كړى دى موږ	له پاره د كافرانو	له دوى څخه

د خلګو په ناحقه سره چي رشوت او نور ناروا شيان دى، او تيار كړى دى موږ له پاره د كافرانو له دوى څخه عذاب

عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٦١﴾ لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ

عَذَابًا	اَلِيْمًا	لٰكِنِ	الرّٰسِخُوْنَ	فِي	الْعِلْمِ	مِنْهُمْ
عذاب	ډير دردناك	ليكن هغه (كسان)	چي پاخه دى	په	علم كښى	له دوى څيني

ډير درد ناك. ليكن هغه (كسان) چي پاخه دى په علم كښى له دوى څيني

وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ

وَالْمُؤْمِنُوْنَ	يُؤْمِنُوْنَ	بِمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	وَمَآ	اُنْزِلَ
او ايمان لرونكى	ايمان لرى	په هغه	چي نازل كړى سوى دى	تا ته	او پر هغو	چي نازل كړى سوى دى

او ايمان لرونكى ايمان لرى په هغه (كتاب) چي نازل كړى سوى دى تا ته او (ايمان لرى) پر هغو چي نازل كړى سوى دى

مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

مِنْ قَبْلِكَ	وَالْمُقِيْمِيْنَ	الصَّلٰوةَ	وَالْمُؤْتُوْنَ	الزَّكٰوةَ
پخوا له تا څخه	او سم قائم كوونكى	د لمانځه	او هغه كسان چي وركوونكى دى	زكات لره

پخوا له تا څخه او (ايمان راوړى پر ټولو انبياؤ) سم قائم كوونكى د لمانځه او هغه كسان چي وركوونكى دى زكات لره

لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ

په لوړو اياتونوكي دهغه يهودو ذكر ووچي پر خپل كفر باندي قايم وه : اوپه لوړو ذكرسوو بدو عملونو كي اختــه وه مخ تـه دهغو صاحبانو بيان دى چي اهل كتـاب وه او كله چي نبي كـريم ﷺ مبعـوث سـو او هغـه صفتونه كم چي پـه تـورات كـي راغلـي وه دده مبارك پـه شان كي ددوى پـه كتـابونو كـي دوى دغـه صفتونه پـه نبي كـريم ﷺ كـي پـوره پـوره وليـدل نـو ايمـان يـي راوړى لكـه حضـرت عبـدالله ابـن سـلام رضي الله عنه او اسـيد رضي الله عنه او ثعلبـه رضي الله عنه پـه دي اياتونو كـي ددي حضراتو تعريـف سـوى دى الله ﷻ داسـي فرمـايي لـيكن پـه دي يهـودو كـي چي كـم خلـګ په علم دين كي پاخه يعني ددي په موافق عمل كولو كـي محكمـه دي او دي محكموالي پر دوى باندي حق ښكاره او دحق قبلول آسان كړل كم چي مخ ته يي اصول او فروع ذكر دي او كم چي پـه دوى كي ايمان راوړونكـي دي چي پـه دي كتاب هم ايمان راوړي چي تاتــه راوليـږل سـواو پرمخكنيـو كتـابونو هـم ايمـان لـري لكـه تـورات او انجيـل الـــخ نوداسـي خلګوتــه الله ﷻ لـوى اجرونــه وركـوي.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ١٦)

www.jamairahmani.org

ع ٢٢ / ٢

وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ اُولٰٓئِكَ

وَالْمُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	اُولٰٓئِكَ
او ایمان راوړونکی دی	په الله	او په ورځی	آخری	دغه (کسان)

او ایمان راوړونکی په الله او په ورځی آخری (چی قیامت دی) دغه (کسان چی د صحیح ایمان او صالح عمل لرونکی دی)

سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١٦٢﴾ اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ

سَنُؤْتِيْهِمْ	اَجْرًا	عَظِيْمًا	اِنَّآ	اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ	كَمَآ
ژر به ورکړو موږ دوی ته	ثواب	ډیر لوی	بیشکه! چی موږ	وحی مو کړی ده	تاته (محمده!)	لکه چی

ژر به ورکړو موږ دوی ته ثواب ډیر لوی. بیشکه! چی موږ وحی مو کړی ده تاته (ای محمده!) لکه چی

اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ وَاَوْحَيْنَآ

اَوْحَيْنَآ	اِلٰى نُوْحٍ	وَّالنَّبِيّٖنَ	مِنْۢ بَعْدِهٖ	وَاَوْحَيْنَآ
وحی کړی وه موږ	نوح ته	او (نورو) انبیاؤ ته	پس له ده	او وحی کړی وه موږ

وحی کړی وه موږ نوح ته او (نورو) انبیاؤ ته پس له ده او (لکه چی) وحی کړی وه موږ

اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ

اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ	وَاِسْمٰعِيْلَ	وَاِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ	وَالْاَسْبَاطِ
ابراهیم ته	او اسماعیل ته	او اسحق ته	او یعقوب ته	او اولادی (دیعقوب) ته

ابراهیم ته او اسماعیل ته او اسحق ته او یعقوب ته او اولادی (د یعقوب) ته

وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ

وَعِيْسٰى	وَاَيُّوْبَ	وَيُوْنُسَ	وَهٰرُوْنَ	وَسُلَيْمٰنَ
او عیسٰی ته	او ایوب ته	او یونس ته	او هارون ته	او سلیمٰن ته

او عیسٰی ته او ایوب ته او یونس ته او هارون ته او سلیمٰن ته

وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ

وَاٰتَيْنَا	دَاوٗدَ	زَبُوْرًا	وَرُسُلًا	قَدْ	قَصَصْنٰهُمْ
او ورکړی ؤ موږ	داؤد ته	زبور	او (لیږلی وو موږنو) رسولان چی	په تحقیق سره	قصه کړی ده موږ د دوی

او ورکړی ؤ موږ داؤد ته زبور او (لیږلی وو موږ نور داسی) رسولان چی په تحقیق سره قصه کړی ده موږ د دوی

اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ... ددغه ایت ځخه داهم معلومه سوه: چي وحي خاص دالله ﷻ حکم او دهغه پیغام دی چي پیغمبرانو ته لیږل کیږي او پر تیرو پیغمبرانو علیهم السلام چي ځنګه دالله ﷻ وحي نازلي سوي دي دغه ډول پر حضرت خاتم الانبیاء ﷺ باندي هم الله ﷻ خپلي وحي رالیږلي دي نو ځوک چي هغه مني دا به هم خامخا مني او چا چي ددې ځخه انکار وکی ګواکي دټولو انبیاوو علیهم السلام دوحیو ځخه يي انکار وکی او دحضرت نوح علیه السلام او تر ده دمخکنیو سره دمشابهت وجه شایددا وي چي دحضرت آدم علیه السلام په وخت کي کمي وحي شروع سوي وي نو دغه وخت بالکل ابتدايي حالت وو په حضرت نوح علیه السلام ددې تکمیل وسو ګواکي اول حالت محض دتعلیم ابتدايي حالت وو دحضرت نوح علیه السلام په زمانه کي دغه حالت پوره سو او ددې قابل سو چي ددوی امتحان واخیستل سي او فرمانبردارو ته انعام او نافرمانو ته سزا ورسیږي لکه چي داولوالعزمو پیغمبرانو علیهم السلام سلسله هم دنوح علیه السلام دوخت ځخه شروع سوه.

(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ١٨)

www.jamairahmani.org

عَلَيۡكَ مِنۡ قَبۡلُ وَرُسُلًا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَ

عَلَيۡكَ	مِنۡ قَبۡلُ	وَرُسُلًا	لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ	عَلَيۡكَ
پر تا (محمده!)	پخوا له دی څخه	او (ليږلي وو موږ) رسولان	چی نه مو دی کړی قصی دهغوی	پر تا

پر تا (ای محمده!) پخوا له دی څخه او (ليږلي وو موږ نور داسی) رسولان چی نه مو دی کړی قصی دهغوی پر تا

وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوۡسٰى تَكۡلِيۡمًا ﴿١٦٤﴾ رُسُلًا مُّبَشِّرِيۡنَ

وَكَلَّمَ	اللّٰهُ	مُوۡسٰى	تَكۡلِيۡمًا	رُسُلًا	مُّبَشِّرِيۡنَ
او کلام کړی دی	الله	دموسیٰ سره	په کلام کولو	او (ليږلي مو دی) رسولان چی	زيری کوونکی دی

او کلام کړی دی الله له موسیٰ سره په کلام کولو. او (ليږلي مو دی) رسولان چی زيری کوونکی دی (مؤمنانو ته په جنت)

وَمُنۡذِرِيۡنَ لِئَلَّا يَكُوۡنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌۢ بَعۡدَ

وَمُنۡذِرِيۡنَ	لِئَلَّا يَكُوۡنَ	لِلنَّاسِ	عَلَى	اللّٰهِ	حُجَّةٌۢ	بَعۡدَ
او بيرونکی دی	له پاره د دی چی پاتی نسی	خلکو ته	پر	الله باندی	هيڅ حجت	وروسته له

او بيرونکی دی (دکفارو په جحيم) له پاره د دی چی پاتی نسی خلکو ته پر الله باندی هيڅ حجت (دليل، عذر) وروسته له

الرُّسُلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيۡزًا حَكِيۡمًا ﴿١٦٥﴾ لٰكِنِ اللّٰهُ يَشۡهَدُ

الرُّسُلِ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَزِيۡزًا	حَكِيۡمًا	لٰكِنِ	اللّٰهُ	يَشۡهَدُ
(ليږلو) درسولانو	او دی	الله	ښه غالب قوی	ښه حکمت والا	ليکن	الله	شاهدی لولی

(ليږلو) د رسولانو، او دی الله ښه غالب قوی ښه حکمت والا. ليکن الله شاهدی لولی (اظهار اقرار کوی)

بِمَاۤ اَنۡزَلَ اِلَيۡكَ اَنۡزَلَهٗ بِعِلۡمِهٖ ۚ وَالۡمَلٰٓئِكَةُ

بِمَاۤ	اَنۡزَلَ	اِلَيۡكَ	اَنۡزَلَهٗ	بِعِلۡمِهٖ	وَالۡمَلٰٓئِكَةُ
په هغه شی	چی نازل کړی ئی دی	تاته (محمده!)	چی نازل کړی ئی دی دا	په علم خپل سره	او ملائيکی هم

په هغه شی چی نازل کړی ئی دی تاته (ای محمده!) چی نازل کړی ئی دی دا په علم خپل سره، او ملائيکی هم

يَشۡهَدُوۡنَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيۡدًا ﴿١٦٦﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

يَشۡهَدُوۡنَ	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ	شَهِيۡدًا	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا
شاهدی لولی	او بس دی	الله	حق ظاهر کوونکی	بيشکه !	هغه کسان	چی کافران سوی دی

شاهدی لولی (په نبوت ستا) او بس دی الله حق ظاهر کوونکی (شاهد). بيشکه! هغه کسان چی کافران سوی دی

رُسُلًا مُّبَشِّرِيۡنَ وَمُنۡذِرِيۡنَ ... الله جَلَّ جَلَالُهُ پيغمبران عليهم السلام برابر راوليږل: چي مومنانو ته خوشخبري واوروي او کافران وبيروي ددې دپاره چي دقيامت په ورځ دخلګو داعذر پاته نه سي چي موږ ته ستا خوښه او دبل خوښه معلومه نه وه که معلومه وای نو خامخا به موږ وربانديعمل کولای نو کله چي الله جَلَّ جَلَالُهُ پيغمبرانو عليهم السلام لره معجزې ورکړې راويي ليږل او پيغمبرانو عليهم السلام حقه لاره وښووله نو اوس دحق دين په قبلولو کي دهيڅ چا عذر نه اوريدل کيږي دالله جَلَّ جَلَالُهُ وحي يو داسي قطعي دليل دی چي ددې په وړاندي بل دليل نه چليږي بلکي ټول دليلونه ختم سي او دادالله جَلَّ جَلَالُهُ حکمت او تدبير دی: دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ديهوديوه ډله دنبي کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره سوه ده صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي په خدای جَلَّ جَلَالُهُ قسم دی تاسي په يقين سره پوهيږی چي زه دخدای جَلَّ جَلَالُهُ رسول يم نو دوی ددې څخه انکار وکړی پر دغه باندي دا ايت رانازل سو (لكن الله يشهد بما انزل اليک) چي الله جَلَّ جَلَالُهُ ستا دنبوت شاهدي ورکوي.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٢٠)

www.jamairahmani.org

وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿١٦٧﴾

وَصَدُّوْا	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	قَدْ	ضَلُّوْا	ضَلٰلًا	بَعِيْدًا
او منع کړې ئې دی	له	لارې	د الله څخه	په تحقيق سره	ګمراه سوي دي	په ګمراهي	ډېرې لرې سره

او اړولي منع کړي ئې دي (خلګ) له لارې د الله (اسلام) څخه په تحقيق سره ګمراه سوي دي په ګمراهي ډېرې لرې سره

إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ

إِنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَظَلَمُوْا	لَمْ	يَكُنِ	اللّٰهُ	لِيَغْفِرَ	لَهُمْ
بيشکه!	هغه کسان	چې کافران سوي دي	او ظلم ئې کړې دی	نه	دی	الله	چې مغفرت وکړي	دوی ته

بيشکه! هغه کسان چې کافران سوي دي او ظلم ئې کړې دی ، نه دی الله چې مغفرت وکړي دوی ته

وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿١٦٨﴾ إِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ	طَرِيْقًا	إِلَّا	طَرِيْقَ	جَهَنَّمَ	خٰلِدِيْنَ
او نه چې وښيي دوی ته	سمه صافه لاره	مګر	لاره	د دوزخ	چې هميشه به وي دوی

او نه چې وښيي دوی ته سمه صافه لاره . مګر (وبه ښيي دوی ته) لاره د دوزخ چې هميشه به وي دوی

فِيْهَآ أَبَدًا وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٦٩﴾ يٰٓأَيُّهَا

فِيْهَآ	أَبَدًا	وَكَانَ	ذٰلِكَ	عَلَى	اللّٰهِ	يَسِيْرًا	يٰٓأَيُّهَا
په هغه کښې	تل ترتله	او دی	دغه	پر	الله باندې	ډير آسان	ای

په هغه کښې تل ترتله (بی انتها بلا انقطاع) او دی دغه (ادخال او خلود فی النار) پر الله باندې ډير آسان. ای

النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ

النَّاسُ	قَدْ	جَآءَكُمُ	الرَّسُوْلُ	بِالْحَقِّ	مِنْ	رَّبِّكُمْ
خلګو	په تحقيق	راغلی دی تاسی ته	رسول (محمد)	په حق سره	له	رب ستاسی

خلګو! په تحقيق راغلی دی تاسی ته رسول (محمد) په حق (قرآن يا اسلام) سره له (طرفه د) رب ستاسی

فَآمِنُوْا خَيْرًا لَّكُمْ وَإِنْ تَكْفُرُوْا فَإِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي

فَآمِنُوْا	خَيْرًا	لَّكُمْ	وَإِنْ	تَكْفُرُوْا	فَإِنَّ	لِلّٰهِ	مَا	فِي
نو ايمان راوړئ	خير دی	تاسی ته	او که	کافران سوی يئ تاسی	پس بيشکه!	خاص الله لره دی	هغه شيان	چې په

نو ايمان راوړئ خير دی تاسی ته، او که کافران سوی يئ تاسی پس بيشکه! خاص الله لره دی هغه شيان چې په

يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ... ديهودو داعتراضاتوجواب:

او دنبوت محمدي ﷺ دثابتولو څخه وروسته اوس دټولي دنيا خلګو ته خطاب فرمايي چي ستاسي نجات په دې کي دی چي دمحمد ﷺ پر نبوت ايمان راوړی اوداسي فرمايي ای ټولو دجهان خلګو تاسي ته دې رسول ﷺ رېښتيني خبره يعني رښتيني دعوه او رښتينی دليل راوړی دی ستاسي درب ده طرفه څخه ييي تشريف راوړی دی نو ددې صحيح دليل چي پردعوه باندي ثابت دی دا مقتضی ده چي تاسي په ده او څه چي دی فرمايي په ټولو يقين لری کوموچي مخکي لا يقين راوړی دی هغه دي پردې قايم اوسي او چاچي نه دی راوړی هغه دي اوس اختياره کي دا به ستاسي لپاره ښه وي ځکه چي نجات به پيدا کړي او که تاسي منکران سواست نو ستاسي نقصان دی دالله ﷻ هيڅ تاوان نه دی ځکه چي دالله ﷻ ملکيت دی دا هرڅه چي په اسمانونو او مځکو کي موجود دي نو داسي لوی او عظيم الشان مالک ته به څه تاوان رسيږي خپل خير غواړی الله ﷻ په تاسي ښه خبر دی.

(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٢٠)

www.jamairahmani.org

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧٠﴾

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلِيْمًا	حَكِيْمًا
آسمانونو کښې دی	او مځکه کښې دی	او دی	الله	ښه عالم	ډیر حکمت والا

آسمانونو کښې دی او (هغه شیان چې په) مځکه کښې دی ، او دی الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ډیر حکمت والا.

يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى

يٰۤاَهْلَ	الْكِتٰبِ	لَا تَغْلُوْا	فِيْ	دِيْنِكُمْ	وَلَا تَقُوْلُوْا	عَلَى
ای اهل !	دکتابو	مه کوئ! تاسی مبالغه	په	دین ستاسی کښې	او مه وایئ تاسی	پر

ای اهل د کتابو ! مه کوئ! تاسی مبالغه (تجاوز له حدود) په دین ستاسی کښې او مه وایئ تاسی پر

اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ

اللّٰهِ	اِلَّا	الْحَقَّ	اِنَّمَا	الْمَسِيْحُ	عِيْسَى	ابْنُ	مَرْيَمَ	رَسُوْلُ
الله	مګر	حق	بیشکه! هم دا خبره ده	چې مسیح	عیسٰی	زوی	د مریمې	رسول

الله مګر (ویل) حق (رشتیا) ، بیشکه! هم دا خبره ده بله نه ده چې مسیح عیسٰی زوی د مریمې رسول

اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰهَاۤ اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ فَاٰمِنُوْا

اللّٰهِ	وَكَلِمَتُهٗ	اَلْقٰهَاۤ	اِلٰى مَرْيَمَ	وَرُوْحٌ	مِّنْهُ	فَاٰمِنُوْا
د الله دی	او کلمه د ده ده	چې غورځولې ده (الله) دغه کلمه	مریمې ته	او روح دی	له جانبه د الله	نو ایمان راوړئ

د الله دی او (داسی) کلمه د ده ده، چې غورځولې ده (الله) دغه کلمه مریمې ته او روح دی له جانبه د الله نو ایمان راوړئ

بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ؕ اِنْتَهُوْا خَيْرًا

بِاللّٰهِ	وَرُسُلِهٖ	وَلَا تَقُوْلُوْا	ثَلٰثَةٌ	اِنْتَهُوْا	خَيْرًا
په الله	او په رسولانو د ده	او مه وایئ تاسی (داسی چې معبودان)	درې دی	منع سئ تاسی	خیر دی

په الله او په رسولانو د ده (الله) او مه وایئ تاسی (داسی چې معبودان) درې دی، منع سئ تاسی ، خیر دی

لَّكُمْ ؕ اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ سُبْحٰنَهٗۤ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ

لَّكُمْ	اِنَّمَا	اللّٰهُ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	سُبْحٰنَهٗ	اَنْ يَّكُوْنَ	لَهٗ	وَلَدٌ
تاسی ته	بیشکه هم دا خبره ده	چې الله	حق معبود	یو دی	پاکی ده ده لره	له دې چې سی	ده ته	ولد (نسبت)

تاسی ته ، بیشکه! هم دا خبره ده چې الله حق معبود یو دی (بې شریکه بې عیبه) پاکی ده ده لره له دې چې سی ده ته ولد ،

اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ... په دغه ایت کي الله ﷻ عیسی علیه السلام ته کلمه وویل: او دا یې وښوول چې عیسی علیه السلام د الله ﷻ کلمه ده د تفسیر شریف لیکونکو د دغه لفظ مختلفي معناوي بیان کړي دي: امام غزالي (رح) فرمايي چې د یوه کوچني پر پیدا ایښت باندي دوه شیان عوامل وي او کار پرکوي. اول: عامل نطفه ده او دوهم: عامل د الله ﷻ کلمه ده (کُنْ) فرمایل دي یعني پیدا سه: تر دغه دوو عاملانو وروسته بیا دغه کوچنی په وجود کي راځي د حضرت عیسی علیه السلام په پیدا ایښت کي چي کله اولنی عامل نیستي دی په دې وجه یې د دوهم عامل طرف ته د ده د پیدا ایښت نسبت وکړی او د ته یې کلمة الله وویل چي مطلب یې دا دی چي دی علیه السلام د مادي (ظاهري) اسبابو د واسطي څخه پرته یوازي په کلمه د کن سره پیدا سوی دی په دې سورت کي د (القها) معنی دا سوه چي الله ﷻ دا کلمه حضرت مریمې (رض) ته ورسول چي د دې په نتیجه کي حضرت عیسی علیه السلام پیدا سو او دې دنیا ته یې سترګي مبارکي روښي کړې نور هم تفسیرونه په دې اړه موجود دي. (معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٢٢)

www.jamairahmani.org

ع ٢٣

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ

لَهٗ	مَا	فِي	السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي	الْاَرْضِ	وَ كَفٰى	بِاللّٰهِ
خاص ده ته دی	هر هغه څه چې	په	آسمانونو کښې دی	او هر هغه څه چې	په	ځمکه کښې دی	او بس دی	الله

خاص ده ته دی هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی (له علوياتو) او هر هغه څه چې په ځمکه کښې دی او بس دی الله

وَكِيْلًا ﴿١٧١﴾ لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ

وَكِيْلًا	لَنْ يَّسْتَنْكِفَ	الْمَسِيْحُ	اَنْ	يَّكُوْنَ	عَبْدًا	لِّلّٰهِ
وكيل	له سره ننگ نه کوی	مسيح	له دې څخه	چې سی	بنده	د پاره د الله

وكيل (كار جوړوونكى) . له سره ننگ (او عار) نه كوی مسيح له دې څخه چې سی بنده د پاره د الله

وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ

وَ لَا الْمَلٰٓئِكَةُ	الْمُقَرَّبُوْنَ	وَمَنْ	يَّسْتَنْكِفْ	عَنْ	عِبَادَتِهٖ
او نه ملائيكى	چې مقربى دى	او هر هغه	چې ننگ وكړی	له	عبادت د دغه څخه

او نه ملائيكى چې مقربى دى (د الله له بندگى څخه)، او هر هغه چې ننگ (او عار) وكړی له عبادت د دغه (الله) څخه

وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿١٧٢﴾ فَاَمَّا

وَيَسْتَكْبِرْ	فَسَيَحْشُرُهُمْ	هُمْ	اِلَيْهِ	جَمِيْعًا	فَاَمَّا
او تكبر لوئى وكړی	نو ژر به راجمع كړی (الله)	دوی	طرف خپل ته	ټول	پس هغه

او تكبر لوئى وكړی نو ژر به راجمع كړی (الله) دوی طرف خپل ته ټول (لپاره د جزا وركولو) پس هغه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوْا	الصّٰلِحٰتِ	فَيُوَفِّيْهِمْ
كسان	چې ايمان ئې راوړی دی	او كړی ئې دی	ښه (عملونه)	پس پوره به وركړی (الله) دوی ته

كسان چې ايمان ئې راوړی دی او كړی ئې دی ښه (عملونه) پس پوره به وركړی (الله) دوی ته

اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

اُجُوْرَهُمْ	وَيَزِيْدُهُمْ	مِّنْ	فَضْلِهٖ	وَاَمَّا	الَّذِيْنَ
اجرونه د دوی	او زيات به وركړی دوی ته	له	مهربانی خپلې	او هر څه	هغه كسان

اجرونه د دوی او زيات به (هم) وركړی دوی ته له مهربانی خپلې، او هر څه هغه كسان

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ... دسنتو اوبدعت حدونه: نبي كريم ﷺ په عبادتونو او معاملو كي او دژوند په ټولو طريقو كي دخپلي وينا او عمل په ذريعه ددرميانه روی حدونه مقرر كړي دي چي دديې څخه شاته كيدل كوتاهي او مخ ته كيدل گمراهي ده په دې وجه ده ﷺ بدعتونه او نوي كارونه ډير په سختى سره منع كړي دي ارشاد فرمايي (كلّ بدعة ضللة وكلّ ضللة فى النّار) يعني هريو بدعت گمراهي ده او دهري گمراهى انجام دوږخ دی. دبدعت تعريف: بدعت هغه شي ته وايي چي دنبي كريم ﷺ په وينا او عمل كي ښكاره يا په اشاره سره موجود نه وي حضرت شاه ولي الله رحمة الله عليه ليكلي دي چي په اسلام كي بدعت ځكه سخت جرم مقرر سوی دی چي دا ددين دبدليدو لاره ده په تيرو امتونو كي داسي وسوه چي دوی په خپل كتاب او درسول په تعليماتو كي دخپل طرف څخه زياتی وكی او هر يوه راتلونكي نسل په دې كي پر مخ زياتوب كوی تر دې چي بيا درك نه معلوميدی چي اصلي دين كم يو دی او دخلگو زياتوبونه په كښي كم دي؟.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٢٨)

www.jamairahmani.org

اسۡتَنۡكَفُوۡا وَاسۡتَكۡبَرُوۡا فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۙ

اسۡتَنۡكَفُوۡا	وَاسۡتَكۡبَرُوۡا	فَيُعَذِّبُهُمۡ	عَذَابًا	اَلِيۡمًا
چې ننګ (او عار) ئې کړی وی	او تکبر (لوئی) ئې کړی وی	نو عذاب به ورکړی دوی ته (الله)	عذاب	دردناک

چې ننګ (او عار) ئې کړی وی او تکبر (لوئی) ئې کړی وی نو عذاب به ورکړی دوی ته (الله) عذاب دردناک

وَّلَا يَجِدُوۡنَ لَهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيۡرًا ﴿۱۷۳﴾

وَّلَا يَجِدُوۡنَ	لَهُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	وَلِيًّا	وَّلَا نَصِيۡرًا
او نه پیداکوی دوی	ځان ته	بې له	الله	هیڅ دوست	او نه هیڅ مددګار

او نه مومی دوی ځان ته بې له الله هیڅ دوست (نافع په آفاتو کښې) او نه هیڅ مددګار (دافع د عذاب).

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمۡ بُرۡهَانٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ

يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	قَدۡ	جَآءَكُمۡ	بُرۡهَانٌ	مِّنۡ	رَّبِّكُمۡ
ای	خلقو !	په تحقیق	راغلی دی تاسی ته	برهان	له (طرفه د)	رب ستاسی

ای خلقو ! په تحقیق راغلی دی تاسی ته برهان (دلیل، سند، حجت) له (طرفه د) رب ستاسی

وَاَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكُمۡ نُوۡرًا مُّبِيۡنًا ﴿۱۷۴﴾ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

وَاَنۡزَلۡنَاۤ	اِلَيۡكُمۡ	نُوۡرًا	مُّبِيۡنًا	فَاَمَّا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا
او نازل کړی دی موږ	تاسی ته	نور (رڼا)	واضح ښکاره	پس هر څه	هغه کسان	چې ایمان ئې راوړی دی

او نازل کړی دی موږ تاسی ته نور (رڼا) واضح ښکاره چې (قرآن دی) پس هر څه هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی

بِاللّٰهِ وَاعۡتَصَمُوۡا بِهٖ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِىۡ رَحۡمَةٍ مِّنۡهُ

بِاللّٰهِ	وَاعۡتَصَمُوۡا	بِهٖ	فَسَيُدۡخِلُهُمۡ	فِىۡ	رَحۡمَةٍ	مِّنۡهُ
په الله	منګولې ئې ښخې کړی دی	په ده	نو ژر به داخل کړی (الله) دوی	په	رحمت کښې	چې له جانبه د ده دی

په الله منګولې ئې ښخې کړی دی په (دین د) ده نو ژر به داخل کړی (الله) دوی په رحمت کښې چې له جانبه د ده دی

وَفَضۡلٍ ۙ وَّيَهۡدِيۡهِمۡ اِلَيۡهِ صِرَاطًا مُّسۡتَقِيۡمًا ﴿۱۷۵﴾ؕ

وَفَضۡلٍ	وَّيَهۡدِيۡهِمۡ	اِلَيۡهِ	صِرَاطًا	مُّسۡتَقِيۡمًا
او په مهربانی کښې	او هدایت به وکړی دوی ته	خپل لوری ته	لاره	سمه صافه

او په مهربانی کښې او هدایت به وکړی (وبه ښیی الله) دوی ته خپل لوری ته لاره سمه صافه.

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمۡ بُرۡهَانٌ... دبرهان څخه څه مراد دی ؟: داقول دالله جَلَّ جَلَالُهُ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمۡ بُرۡهَانٌ دبرهان لفظي معنی دلیل دی ددې څخه مراد دنبي کریم ﷺ پاک ذات دی حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چې دنبي کریم ﷺ دپاک ذات څخه يې په لفظ دبرهان سره تعبير وفرمايي چې دده ﷺ ذات مبارک او دده ﷺ کریمانه اخلاق او دده ﷺ معجزې او پر ده ﷺ دکتاب نازلیدل دا ټول شیان دده ﷺ دنبوت او دده ﷺ درسالت ښکاره دلیلونه دي چې ددې په لیدو سره بل دلیل ته حاجت نه پاته کیږي نو داسي ګڼل پکار دي چې دده ﷺ ذات په خپله يو مجسم (جسم لرونکی) دلیل دی او دنور څخه مراد قرآن مجید دی لکه چې دسورت مایده ددې آیت څخه هم معلومیږي (قد جآءکم من الله نور وکتب مبین) یعني تاسي ته دالله جَلَّ جَلَالُهُ دطرفه څخه يو روښانه شی راغلی دی او هغه يو کتاب واضح یعني قرآن دی (بيان القرآن) په دغه مقام کي يو علمي اشکال کيږي اهل علم حضرات دي په معارف القرآن کي وګوري.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۳۱)

www.jamairahmani.org

يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ اِنِ امْرُؤٌا

يَسْتَفْتُوْنَكَ	قُلِ	اللّٰهُ	يُفْتِيْكُمْ	فِي	الْكَلٰلَةِ	اِنِ	امْرُؤٌا
طلب د فتوى كوى دوى له تانه	نو ووايه چي	الله	فتوى دركوى تاسي ته	په	كلالى كښي	كه	يو سړى

طلب د فتوى كوى دوى له تانه نو ووايه (محمده!) چي الله فتوى دركوى تاسي ته په (ميراث د) كلالى كښى، كه يو سړى

هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَهٗٓ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ

هَلَكَ	لَيْسَ	لَهٗ	وَلَدٌ	وَّلَهٗٓ	اُخْتٌ	فَلَهَا	نِصْفُ	مَا	تَرَكَ
مړسى	چي نه وى	ده لره	زوى	او وى ده لره	يوه خور	نو (مقرر) دى دى ته	نصف	دهغه مال	چي پريښى وى

مړسى چي نه وى ده لره زوى (او نه پلار) او وى ده لره يوه خور نو (مقرر) دى دى ته نصف دهغه مال چي پريښى وى (مړی)

وَهُوَ يَرِثُهَآ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ

وَهُوَ	يَرِثُهَآ	اِنْ	لَّمْ	يَكُنْ	لَّهَا	وَلَدٌ	فَاِنْ	كَانَتَا	اثْنَتَيْنِ
او دا ورور	ميراث وړى له دى خور څخه	كه	نه	وى	دى لره	زوى	نو كه	وى دا خويندى	دوى

او دا ورور ميراث وړى له دى خور څخه كه نه وى دى لره زوى، نو كه وى دا خويندى دوى (يا زياتى)

فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ وَاِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا

فَلَهُمَا	الثُّلُثٰنِ	مِمَّا	تَرَكَ	وَاِنْ	كَانُوْٓا	اِخْوَةً	رِّجَالًا
نو مقرر دى دواړو ته	دوه ثلثان	له هغه ماله	چي پريښى دى	او كه	وو دا (وارثان)	ورونه او خويندى	نارينه

نو مقرر دى دواړو ته دوه ثلثان له هغه ماله چي پريښى دى (مړی) ، او كه وو دا (وارثان) ورونه او خويندى نارينه

وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ يُبَيِّنُ اللّٰهُ

وَّنِسَآءً	فَلِلذَّكَرِ	مِثْلُ	حَظِّ	الْاُنْثَيَيْنِ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ
او ښځى	پس مقرر دى هر نارينه ته	په اندازه	د برخى	د دوو ښځو	بيانوى	الله

او ښځى پس مقرر دى هر نارينه ته په اندازه د برخى د دوو ښځو ، بيانوى الله

لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٧٦﴾ ع

لَكُمْ	اَنْ	تَضِلُّوْا	وَ	اللّٰهُ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيْمٌ
تاسى ته	چي	گمراه نه سئ تاسى	او	الله	په هر	شى	ښه عالم دى

تا سى ته (احكام د ميراث) چي گمراه (او خطا) نه سئ تاسى ، او الله په هر شى ښه عالم دى

ع ٢٤

ضروري فايدي: دالله جل جلاله داقول چي يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ) دلته دكلاله دحكم او دده دسبب دنزول دبيانولو څخه ځو خبري معلومي سوې اوله دا چي لکه څنگه چي اول يي (وان تكفروا فان لله ما فى السموات وما فى الارض) وفرمايل تر دې وروسته يي په طريقه دمثال داهل كتابو حال ذكر كړى وو دغه ډول يي دارشاد (فاما الذين آمنوا بالله واعتصموا به) څخه وروسته يي درسول الله صلى الله عليه وسلم داصحابو حال په ډول دمثال سره ذكر كړى ددې لپاره چي دوحى څخه دمخ اړوونكو گمراهي او بدى اودوحى دتابعدارى كوونكو حقوالى اوښه والى په ښه ډول سره ښكاره سي: ددې تر مخه دوهمه خبره داښكاره سوه چي اهل كتابو خو دا غضب وكى چي دالله جل جلاله دپاک ذات سره يي شريک او داولاد په شان نامناسبه كارخپل ايمان جوړ كى او دالله جل جلاله دوحى څخه يي مخالفت وكى او درسول الله صلى الله عليه وسلم داصحابو داحالت دى چي دايمان او عباداتو اصول خو پريږده په جزيي معاملو كي به يي هم دوحى انتظار كوى.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٣٣)

www.jamairahmani.org

اٰياتونه ١٢٠ ۵ سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ ١١٢ ركوعي ١٦

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډېر زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَوۡفُوۡا بِالۡعُقُوۡدِ ؕ اُحِلَّتۡ لَـكُمۡ

يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡۤا	اَوۡفُوۡا	بِالۡعُقُوۡدِ	اُحِلَّتۡ	لَـكُمۡ
ای	هغو کسانو	چې ايمان ئې راوړی دی	پوره کړی تاسې	تول عهدونه	حلال کړی سوی دی	تاسې ته

ای هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی پوره کړی تاسې تول عهدونه حلال کړی سوی دی تاسې ته

بَهِيۡمَةُ الۡاَنۡعَامِ اِلَّا مَا يُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ غَيۡرَ مُحِلِّى

بَهِيۡمَةُ	الۡاَنۡعَامِ	اِلَّا	مَا	يُتۡلٰى	عَلَيۡكُمۡ	غَيۡرَ مُحِلِّى
چارپايان	دخارويو	مګر	هغه چې	لوستی به سی	په تاسې باندی	حال دا چې نه ئې تاسې حلال ګڼونکی

چارپايان د خارويو ، مګر (حلال نه دی) هغه چې لوستی به سی په تاسې باندی حال دا چې نه ئې تاسې حلال ګڼونکی

الصَّيۡدِ وَاَنۡتُمۡ حُرُمٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحۡكُمُ مَا يُرِيۡدُ ① يٰۤاَيُّهَا

الصَّيۡدِ	وَاَنۡتُمۡ	حُرُمٌ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَحۡكُمُ	مَا	يُرِيۡدُ	يٰۤاَيُّهَا
دښکار	حال دا چې تاسې	احرام تړونکې يئ	بيشکه!	الله	حکم کوی	د هر هغه څه	چې اراده وفرمايي	ای!

دښکار حال دا چې تاسې احرام تړونکې يئ! بيشکه! الله حکم کوی د هر هغه څه چې اراده وفرمايي. ای !

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تُحِلُّوۡا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهۡرَ

الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	لَا تُحِلُّوۡا	شَعَآئِرَ	اللّٰهِ	وَلَا الشَّهۡرَ
هغو کسانو	چې ايمان ئې راوړی دی	مه ګڼی حلال	نخښې	دالله	او مه (بې عزته کوئ) مياشتې

هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی مه ګڼی حلا ل (مه بې حرمته کوئ) نخښې دالله او مه (بې عزته کوئ) مياشتې

الۡحَـرَامَ وَلَا الۡهَدۡىَ وَلَا الۡقَلَۤائِدَ وَلَاۤ آٰمِّيۡنَ

الۡحَـرَامَ	وَلَا الۡهَدۡىَ	وَلَا الۡقَلَۤائِدَ	وَلَاۤ آٰمِّيۡنَ
حرمت والا	او مه هغه ساکښ چې دکعبې هديه وی	او نه پټه داره حيوان	او مه قصد کوونکی (ورتلونکی)

حرمت والا او مه هغه ساکښ چې د کعبې هديه وی او نه هغه (هديه) چې په غاړه ئې قلادی وی ، او مه قصد کوونکی (ورتلونکی)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَوۡفُوۡا..
ای مومنـــانو خپلي معاهدې پوره کوی : په دې کي اول په (يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا) سره خطاب وکی دمضمون داهميت طرف ته يې توجه راوګرځوله چي په دې کي کم حکم دی دا عين دايمان تقاضاده تر دې وروسته يې حکم وفرمايي اَوۡفُوۡا بِالۡعُقُوۡدِ ؕ لفظ دعقود دعقد جمع ده چي لفظي معنی يې تړل دي او کمه معاهده چي ددوو تنو يا دوو ډلوپه مينځ کي وتړل سي دې ته هم عقد ويل کيږي په دې وجه په معنی دوعد او عهود باندي سو : دتفسير امام ابن جرير رحمة الله عليه دمفسرينو صحابه وو او تابعينو پر دې باندي اجماع نقل کړي ده امام جصاص رحمة الله عليه فرمايي چي عقد وويل سي يا عهد او معاهده ددې اطلاق پر يو داسي معامله باندي کيږي په کمه کي چي دووډلو په راتلونکي زمانه کي ديوه کار دکولو يا پرېښوولو پابندی پر يوه او بل باندي اچولی وی او دواړه په اتفاق سره ددې پابند سوی وی زموږ په اصطلاح کی ددې نوم معاهده ده په دې وجه ددې جملې خلاصه دا سوه چي اوس ديو بل سره دمعاهدو او وعدو پوره کول لازمي او ضروري دي (معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ٣٧)

www.jamairahmani.org

الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا

الْبَيْتَ الْحَرَامَ	يَبْتَغُوْنَ	فَضْلًا	مِّنْ	رَّبِّهِمْ	وَرِضْوَانًا	وَاِذَا
دکور حرمت والا ته	حال داچې غواړي دوی	فضل	له (جانبه)	رب خپل	او (د ده) خوښي	او کله چې

دکور حرمت والا ته حال داچې غواړي دوی فضل له (جانبه) رب خپل او (د ده) خوښي او کله چې

حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ

حَلَلْتُمْ	فَاصْطَادُوْا	وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ	شَنَاٰنُ	قَوْمٍ	اَنْ
(له احرامه) حلال سوئ	پس ښکار کوئ تاسي	او نه دي باعث کړي تاسي	دښمني	دیوه قوم (له پاره)	د دي

(له احرامه) حلال سوئ پس ښکار کوئ تاسي ، او نه دي باعث کړي تاسي دښمني د یوه قوم (له پاره) د دي

صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا

صَدُّوْكُمْ	عَنِ	الْمَسْجِدِ	الْحَرَامِ	اَنْ	تَعْتَدُوْا
چي منع کړي یاست دوی تاسي	له	مسجد	الحرام څخه	په دي چي	تاسي به تجاوز وکړئ

چي منع کړي یاست دوی تاسي لره له مسجد حرام څخه په دي چي تاسي به تجاوز وکړئ (پرهغو په انتقام اخیستلو)

وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۪ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ

وَتَعَاوَنُوْا	عَلَى	الْبِرِّ	وَالتَّقْوٰى	وَلَا تَعَاوَنُوْا	عَلَى	الْاِثْمِ
او مرسته کوئ تاسي یو تر بله	په	نیک کار	او تقوی کښي	او مه کوئ تاسي مرستي یو تر بله	پر	ګناه

او مرسته (مدد) کوئ تاسي یو تر بله په نیک کار او تقوی کښي او مه کوئ تاسي مرستي یو تر بله پر ګناه

وَالْعُدْوَانِ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ②

وَالْعُدْوَانِ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	شَدِيْدُ	الْعِقَابِ
او پر ظلم	او بیریږئ تاسي	له الله څخه	بیشکه!	چي الله	دیر سخت دی	عذاب

او پر عدوان (ظلم تجاوز)، او بیریږئ تاسي له الله څخه بیشکه! چي الله ډیر سخت دی عذاب (د ده متخلفینو لره).

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ

حُرِّمَتْ	عَلَيْكُمُ	الْمَيْتَةُ	وَالدَّمُ	وَلَحْمُ	الْخِنْزِيْرِ	وَمَآ
حرام کړی سوی دی	پر تاسي	(خوراک) دمردار	او (دبهیدونکي) ويني	او دغوښي	د خنزیر	او د هغه

حرام کړی سوی دی پر تاسي (خوراک) دمردار (حیوان) او (دبهیدونکي) ويني او دغوښي د خنزیر او د هغه

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ... نبي کريم ﷺ ديوزر ۱۰۰۰ صحابه کرامو سره دعمرې دپاره احرام وتړی: او مکې مکرمې ته روان سو چي مکې مکرمې ته نژدې دحديبيې مقام ته ورسيدل نو مکې والاوو ته يي خبر ورکی چي موږ دځه جنګ دپاره نه بلکي دعمرې کولو دپاره راغلو موږ ته اجازت راکی دمکې مشرکينو اجازت ورنه کی او په ډيرو سختو او ګرانو شرايطو سره يي داسي معاهده وکړه چي داوخت به ټول خپل احرامونه خلاص کړی او واپس سی په راتلونکي کال به عمرې ته داسي راسی چي وسله به درسره نه وي يوازي به درې ورځې دلته پاته کيږی او عمره به کوی بيرته به ځی او نور هم داسي ډير شرطونه وه چي دهغومنل په ظاهره دمسلمانانو دوقار او عزت څخه خلاف وه دنبي کريم ﷺ په حکم باندي ټول مطمئن سول او بيرته ولاړل بيا په اووم کال دهجرت کي دوباره ددغه شرطونو دپابندی سره يي دغه قضا عمره اداء کړه ددغه ناخوښه شرطو دصحابه کرامو په زړونو کي دمکې دمشرکينو دطرف څخه ډير نفرت او بغض پيدا سو.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۴۱)

الربع

www.jamairahmani.org

أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ

أُهِلَّ	لِغَيْرِ	اللّٰهِ	بِهٖ	وَالْمُنْخَنِقَةُ	وَالْمَوْقُوْذَةُ
چې آواز کړې سوې وي	بې له (نامه)	د الله	په هغه باندې	او دخپه کړې سوې	او کوتک وهلې سوې

چې آواز کړې سوې وي بې له (نامه) د الله (دبل شي) په هغه باندې (ذبحې په وخت) او دخپه کړې سوې او کوتک وهلې سوې

وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا

وَالْمُتَرَدِّيَةُ	وَالنَّطِيْحَةُ	وَمَآ	اَكَلَ	السَّبُعُ	اِلَّا	مَا
او غورځېدلې	او دڅيرې سوې په وهلو دښکر	او دهغه	چې خوړلې وي	ځناوران	مګر	هغه

او غورځېدلې (له پاسه ژورې ته) او دڅيرې سوې په وهلو دښکر او دهغه چې خوړلې وي ځناوران مګر (روا دي) هغه

ذَكَّيْتُمْ ۙ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ

ذَكَّيْتُمْ	وَمَا	ذُبِحَ	عَلَى النُّصُبِ	وَاَنْ
چې حلال (ئې) کړئ تاسې	او هغه چې	حلال کړې سوې وي	په نامه د کوم ممنوع ځای يا شي	او دا چې

چې حلال (ئې) کړئ تاسې، او (حرام دي) هغه چې حلال کړې سوې وي (په نامه د کوم ممنوع ځای يا شي) او دا چې

تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ؕ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ؕ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ

تَسْتَقْسِمُوْا	بِالْاَزْلَامِ	ذٰلِكُمْ	فِسْقٌ	اَلْيَوْمَ	يَئِسَ	الَّذِيْنَ
تقسيم وکړئ تاسې	په غشو د قمار سره	دغه	فسق دی	نن ورځ	نا اميده سول	هغه کسان چې

تقسيم وکړئ تاسې په غشو د قمار سره، دغه (تير محرمات) فسق دی، نن ورځ نا اميده سول هغه کسان چې

كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ؕ

كَفَرُوْا	مِنْ	دِيْنِكُمْ	فَلَا	تَخْشَوْهُمْ	وَاخْشَوْنِ
کافران سوي دي	له	دين ستاسې	نو مه	بيريږئ له دغو	او وبيريږئ له ما څخه

کافران سوي دي له (ابطال له د) دين ستاسې نو مه بيريږئ له دغو (کفارو څخه) او وبيريږئ له مانه (چې ستاسې خالق يم)

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ

اَلْيَوْمَ	اَكْمَلْتُ	لَكُمْ	دِيْنَكُمْ	وَاَتْمَمْتُ	عَلَيْكُمْ
نن ورځ	مکمل (پوره) کړ ما	تاسې ته	دين ستاسې	او تمام پوره مې کړ	پر تاسې

نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسې ته دين ستاسې، او تمام پوره مې کړ پر تاسې

وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ دلته د حرامو شيانو بيان دی. **خلورم:** شی چې الله ﷻ په دغه ايت کې حرام کړې دی هغه حيوانان دي چې د غير الله ﷻ د نامه د پاره مقرر کړه سوي وي بيا که د ذبح په وخت کې پر ده هم د غير الله نوم واخيستل سي نو دا ښکاره شرک دی او دا حيوان په اتفاق سره د مردار په حکم کې دي لکه چې د عربو مشرکينو به د خپلو بتانو په نامه باندې ذبحه کوله يا يو جاهل بې ديو چا پير يا فقير په نامه باندې ذبح کوی او که په وخت کې د ذبحې يې نوم دالله ﷻ واخيستی ليکن حيوان يې د غير الله په نامه نذر کړی وو او د غير الله د رضا د پاره يې ذبح کړی نو جمهورو فقهاوو دا هم تر **وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ** لاندې حرام کړې دی **(پنځم)** منخنقه يعني هغه حيوان حرام دی چې د غاړې دخپه کيدو په وجه مړسي يا په خپله په يو شي يا يو ځای کې ومښلي او په ساه بندې سره مړسي که څه هم چې منخنقه او موقوذه هم په مرداره کې داخل دي ليکن په جاهليت کې به يې دا حلال ګڼل نو ځکه د دوی ذکر يې جلا وکی.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٥٤)

www.jamairahmani.org

نِعۡمَتِيۡ وَرَضِيۡتُ لَكُمُ الۡاِسۡلَامَ دِيۡنًا‌ؕ فَمَنِ اضۡطُرَّ

نِعۡمَتِيۡ	وَرَضِيۡتُ	لَكُمُ	الۡاِسۡلَامَ	دِيۡنًا	فَمَنِ	اضۡطُرَّ
خپل نعمت	او غوره کړ ما	تاسی ته	اسلام	له جهته د دين	نو هرڅوک چې	اړ سو (خوراک د حرام شي ته)

خپل نعمت (د دين په اکمال) او غوره کړ ما تاسی ته اسلام له جهت د دين ، نو هر څوک چې اړ سو (خوراک د حرام شي ته)

فِيۡ مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثۡمٍ‌ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۳

فِيۡ	مَخۡمَصَةٍ	غَيۡرَ	مُتَجَانِفٍ	لِّاِثۡمٍ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ
په	لوږه کښې	حال دا چې نه وی	مائل	ګناه ته	پس بیشکه!	الله	ښه مغفرت کوونکی دی	ډیر رحم والا

په لوږه کښې حال دا چې نه وی مائل ګناه ته پس بیشکه! الله ښه مغفرت کوونکی دی (د خطیاتو) ډیر رحم والا

يَسۡـئَلُوۡنَكَ مَاذَاۤ اُحِلَّ لَهُمۡ‌ؕ قُلۡ اُحِلَّ لَكُمُ

يَسۡـئَلُوۡنَكَ	مَاذَاۤ	اُحِلَّ	لَهُمۡ	قُلۡ	اُحِلَّ	لَكُمُ
پوښتنه کوی دوی له تانه	چې کوم شي	حلال کړی سوی دی	دوی ته	وو‌ایه	حلال کړی سوی دی	تاسی ته

پوښتنه کوی دوی له تانه (ای محمده!) چې کوم شي حلال کړی سوی دی دوی ته؟ وو‌ایه حلال کړی سوی دی تاسی ته

الطَّيِّبٰتُ‌ۙ وَمَا عَلَّمۡتُمۡ مِّنَ الۡجَوَارِحِ مُكَلِّبِيۡنَ

الطَّيِّبٰتُ	وَمَا	عَلَّمۡتُمۡ	مِّنَ	الۡجَوَارِحِ	مُكَلِّبِيۡنَ
طیبات (پاک شیان)	او هغه چې	ښوونه کړې وی ورته تاسی	له	ښکار کوونکو څخه	چې ښوونه کوونکی اوسئ تاسی

طیبات ، او هغه چې ښوونه کړې وی ورته تاسی له ښکار کوونکو (حیواناتو یا مرغانو) څخه چې ښوونه کوونکی اوسئ تاسی

تُعَلِّمُوۡنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ‌ فَكُلُوۡا مِمَّاۤ اَمۡسَكۡنَ

تُعَلِّمُوۡنَهُنَّ	مِمَّا	عَلَّمَكُمُ	اللّٰهُ	فَكُلُوۡا	مِمَّاۤ	اَمۡسَكۡنَ
چې ښوونه وکړئ تاسی ورته	له هغه څخه	چې ښوولی دی تاسی ته	الله	پس خورئ تاسی	له هغه ښکاره	چې نیولی وی

چې ښوونه وکړئ تاسی ورته له هغه څخه چې ښوولی دی تاسی ته الله پس خورئ تاسی له هغه ښکاره چې نیولی وی

عَلَيۡكُمۡ وَاذۡكُرُوا اسۡمَ اللّٰهِ عَلَيۡهِ‌ وَاتَّقُوا اللّٰهَ‌ؕ اِنَّ

عَلَيۡكُمۡ	وَاذۡكُرُوا	اسۡمَ	اللّٰهِ	عَلَيۡهِ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ
تاسی ته	او یاد وئ تاسی	نوم	د الله	په (حلالولو د) هغه	او وېرېږئ تاسی	له الله	بیشکه!

تاسی ته او یادوئ تاسی نوم د الله په (حلالولو د) هغه (ښکار کی که ژوندی مو پیدا کړی) او ویریږئ تاسی له الله بیشکه!

يَسۡـئَلُوۡنَكَ مَاذَاۤ اُحِلَّ لَهُمۡ

په دغه سوال او جواب کي د ښکار سپي باز وغیره حکم: په دغه ذکر سوي سوال او جواب کي د ښکار سپي باز او نورو په ذریعه د ښکار د حلالیدو د پاره څلور شرطونه ذکر سوي دي اول دا چي سپی یا باز پوه کړل سوي وي او تعلیم ورلره ورکړل سوي وي او د پوهولو یي دا اصول مقرر کړي دي چي کله تا سپی په ښکار پسي ورایله کی نو هغه ښکار نیسي او تاسي ته یي راوړی په خپله یي نه خوري او د باز دپاره یي دا اصول مقرر کړي دي چي کله تاسي دی بیرته راغواړی نو دی فورا راځي که څه هم چي په ښکار پسي روان وي نو کله چي دا ښکاري حیوان داسي برابر سي نو ددې څخه ثابته سوه چي دی کم ښکار کوي دا ستاسي دپاره کوي د خپل ځان دپاره یي نه کوي اوس به نو ددې ښکاري حیوان ښکار به ستاسي ښکار ګڼل کیږي او که کم وخت ددې تعلیم څخه خلاف کار وکړی مثلا سپی په خپله د خپل ښکار په خوراک شروع وکړي یا باز ستاسي په راغوښتلو را نه سي نو اوس دغه ښکار ستاسي ښکار نه سو نو په دې وجه ددې خوړل نه دي جایز.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۶۴)

www.jamairahmani.org

اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿٤﴾ اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ

اللّٰهَ	سَرِيْعُ	الْحِسَابِ	اَلْيَوْمَ	اُحِلَّ	لَكُمُ	الطَّيِّبٰتُ
الله	ډېر چابک دی	حساب د ده	نن ورځ	حلال کړی سوی دی	تاسی ته	ټول طیبات

الله ډېر چابک دی حساب د ده. نن ورځ حلال کړی سوی دی تاسی ته ټول طیبات (پاکیزه شیان)

وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ

وَطَعَامُ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	حِلٌّ	لَّكُمْ
او طعام	دهغو کسانو	چې ورکړې سوی دی دوی ته	کتاب	حلال دی	تاسي ته

او (هر قسم) طعام دهغو کسانو چې ورکړې سوی دی دوی ته کتاب حلال دی تاسی ته

وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۫ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ

وَطَعَامُكُمْ	حِلٌّ	لَّهُمْ	وَالْمُحْصَنٰتُ	مِنَ	الْمُؤْمِنٰتِ
او طعام ستاسی	حلال دی	دوی ته	او پاک لمنی اصیلی ښځی	له	مؤمنانو ښځو څخه

او (هر قسم) طعام ستاسی حلال دی دوی ته او (حلالی دی تاسی ته بی میره) پاک لمنی اصیلی ښځی له مؤمنانو ښځو څخه

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ

وَالْمُحْصَنٰتُ	مِنَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلِكُمْ
او پاک لمنی اصیلی ښځی	له	هغو کسانو	چې ورکړې سوی دی دوی ته	کتاب	له تاسی په خوا

او پاک لمنی (بی میره) اصیلی ښځی له هغو کسانو چې ورکړې سوی دی دوی ته کتاب له تاسی په خوا

اِذَاۤ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ

اِذَاۤ	اٰتَيْتُمُوْهُنَّ	اُجُوْرَهُنَّ	مُحْصِنِيْنَ	غَيْرَ	مُسٰفِحِيْنَ
کله چې	ورکړې دغو ته	مهرونه دوی	حال دا چې نکاح کوونکي یئ تاسی	نه	زنا کوونکی

کله چې ورکړې دغو (ښځو) ته مهرونه د دوی ، حال دا چې نکاح کوونکی یئ تاسی نه زنا کوونکی (ښکاره)

وَلَا مُتَّخِذِيْۤ اَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ

وَلَا مُتَّخِذِيْۤ	اَخْدَانٍ	وَمَنْ	يَّكْفُرْ	بِالْاِيْمَانِ	فَقَدْ
او نه نیوونکی	دیارانو	او هر څوک	چې کافر سو	په ایمان	پس په تحقیق

او نه نیوونکی دیارانو (په پټه سره) او هر څوک چې کافر (منکر) سو په ایمان پس په تحقیق

اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ... يعني نن ستاسي دپاره حلال سول ټول پاک شيان: دنن څخه مراد هغه ورځ ده په کمه کي چي دا ايت او تر دي مخکي آيتونه نازل سوي دي يعني دحجةالوداع دهجرت په لسم کال دعرفات په ورځ : مطلب دادی چي لکه څنګه چي ستاسي دپاره نن ستاسي دين مکمل کړه سو او دالله ﷻ نعمت پر تاسي پوره سو دغه ډول دالله ﷻ پاکيزه شيان چي دمخکي څخه هم ستاسي دپاره حلال وه دهميشه دپاره حلال مقرر سوه او ددې منسوخ کيدو احتمال ختم سو ځکه چي دوحي سلسله پر ختميدو باندي ده په دې جمله کي دطيباتو دحلاليدو بيان دی او په يوه بل آيت کي داسي ارشاد فرمايي **(يحلّ لهم الطيبت ويحرّم عليم الخبائث)** يعني حلالوی ددوی دپاره طيبات او حراموی پر دوی باندي خبائث په دې کي دطيبات په مقابله کي يي خبائث ذکر کړل ددواړو لفظونو حقيقت يي ښکاره کی په لغت کي طيبات پاک صاف او خوندناکو شيان ته ويل کيږي او خبائث مردارو اوخرابو شيانو ته ويل کيږي. (معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ٦٧)

www.jamairahmani.org

ع-٥

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ.... اى مومنانو کله چي تاسي لمانځه ته پورته سى: يعني دلمونځ کولو اراده وکړى او ستاسي دغه وخت اودس نه وي نو اودس کوى يعني خپل مخان مينځى او خپل لاسونه تر څنګلو پوري مينځى او پر خپلو سرونو باندي لانده لاسونه راتيروى او خپلي پښي هم تر بجلکو پوري مينځى او که تاسي دجنابت په حالت کي ياست نو تر لمانځه مخکي ټول بدن پاک کړى او که تاسي ناجوړي ياست او داوبو استعمال درته ضرر رسوي يا په حالت کي دسفر وى او اوبه نه پيدا کيږي لکه چي مخ ته راځي نو دادعذر حالت سو يا که دمرض او سفر عذر هم نه وي بلکي دغسي اودس يا غسل مات سي داسي چي مثلا په تاسي کي يوسړى دتشو بولو يا غټو بولو دحاجت څخه فارغ سى راسى چي په دي سره اودس ماتيږى يا تاسي خپلو ښځو ته نژدې سى چي غسل وربانديڅ اوړي او بيا اوبه درته پيدا نه سي نو تاسي په پاکه مځکه سره تيمم کوى يعني خپل مخان او لاسونه مسح کوى ددې مځکي په جنس سره.

(معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ٨٨)

حَبِطَ عَمَلُهٗ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝٥ يٰٓاَيُّهَا

حَبِطَ	عَمَلُهٗ	وَهُوَ	فِي	الْاٰخِرَةِ	مِنَ	الْخٰسِرِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا
ضائع سو	عمل دده	او دى به	په	آخرت کښې	له	زيانکارانو څخه وى	اى

ضائع (باطل) سو عمل دده او دى په آخرت کښې له زيانکارانو څخه وى. اى

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِذَا	قُمْتُمْ	اِلَى الصَّلٰوةِ	فَاغْسِلُوْا
هغو کسانو	چې ايمان ئې راوړى دى	کله چې	پاڅيږئ تاسى	لمانځه ته (او بې اودسه يئ)	نو ووينځئ تاسى

هغو کسانو چې ايمان ئې راوړى دى کله چې پاڅيږئ تاسى لمانځه ته (او بې اودسه يئ) نو ووينځئ تاسى

وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا

وُجُوْهَكُمْ	وَاَيْدِيَكُمْ	اِلَى	الْمَرَافِقِ	وَامْسَحُوْا
مخونه خپل	او لاسونه خپل	تر	څنګلو پورى	او مسح وکړئ تاسى

مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو پورى (سره له څنګلو) او مسح وکړئ تاسى

بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ

بِرُءُوْسِكُمْ	وَاَرْجُلَكُمْ	اِلَى	الْكَعْبَيْنِ	وَاِنْ	كُنْتُمْ
په سرونو خپلو	او (ووينځئ تاسى) پښې خپلې	تر	بجلکو پورى	او که	وئ تاسى

په سرونو خپلو او (ووينځئ تاسى) پښې خپلې تر بجلکو پورى (سره له پړکيو). او که وئ تاسى

جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ

جُنُبًا	فَاطَّهَّرُوْا	وَاِنْ	كُنْتُمْ	مَّرْضٰٓى	اَوْ عَلٰى	سَفَرٍ
جنبان	نو ښه ځان پاک کړئ!	او که	وئ تاسى	مريضان	يا په	سفر (کښې وئ)

جنبان (يعنى په جنابت کښې) نو ښه ځان پاک کړئ! او که وئ تاسى مريضان يا په سفر (کښې وئ)

اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ

اَوْ جَآءَ	اَحَدٌ	مِّنْكُمْ	مِّنَ	الْغَآئِطِ	اَوْ لٰمَسْتُمُ	النِّسَآءَ
يا راغى	يو له	تاسى	له	ځايه د بولو څخه	يا جماع وکړئ تاسى	له ښځو سره

يا راغى يو له تاسى له ځايه د بولو څخه (يعنى بې اودسه سوئ) يا جماع وکړئ تاسى له ښځو سره

www.jamairahmani.org

فَلَمۡ تَجِدُوۡا مَآءً فَتَيَمَّمُوۡا صَعِيۡدًا طَيِّبًا فَامۡسَحُوۡا

فَلَمۡ تَجِدُوۡا	مَآءً	فَتَيَمَّمُوۡا	صَعِيۡدًا	طَيِّبًا	فَامۡسَحُوۡا
نو پيدا نه کړئ تاسی	اوبه	نو قصد وکړئ تاسی	دخاورې	پاکې	نو مښئ تاسی

نو ونه مومئ تاسی اوبه نو قصد وکړئ تاسی د خاورې پاکې نو (ووهئ لاسونه دوه ځلی په مځکه او) مښئ تاسی

بِوُجُوۡهِكُمۡ وَاَيۡدِيۡكُمۡ مِّنۡهُ ؕ مَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيَجۡعَلَ

بِوُجُوۡهِكُمۡ	وَاَيۡدِيۡكُمۡ	مِّنۡهُ	مَا يُرِيۡدُ	اللّٰهُ	لِيَجۡعَلَ
(دا لاسونه) په مخونو خپلو	او لاسونو خپلو	له هغې (خاورې) څخه	اراده نه لرې	الله	چې مقرر کړی

(دا لاسونه) په مخونو خپلو او لاسونو خپلو له هغې (خاورې) څخه، اراده نه لرې الله چې مقرر کړی

عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ حَرَجٍ وَّلٰكِنۡ يُّرِيۡدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ

عَلَيۡكُمۡ	مِّنۡ	حَرَجٍ	وَّلٰكِنۡ	يُّرِيۡدُ	لِيُطَهِّرَكُمۡ	وَلِيُتِمَّ
پر تاسی	څه	حرج	او لیکن	اراده لرې	چې پاک کړی تاسی	او د دی لپاره چې پوره کړی

پر تاسی څه حرج (تنګوالی یا سختی)، او لیکن اراده لرې (الله د دی) چې پاک کړی تاسی او د دی لپاره چې پوره کړی

نِعۡمَتَهٗ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۝٦ وَاذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ

نِعۡمَتَهٗ	عَلَيۡكُمۡ	لَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ	وَاذۡكُرُوۡا	نِعۡمَةَ
(الله) نعمت خپل	پر تاسی	له پاره د دی چې	شکر ګزار سئ!	او یاد کړئ تاسی	نعمت

(الله) نعمت (احسان) خپل پر تاسی له پاره د دی چې تاسی شکر ګزار سئ!. او یاد کړئ تاسی نعمت (احسان، رحمت)

اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيۡثَاقَهُ الَّذِىۡ وَاثَقَكُمۡ بِهٖۤ

اللّٰهِ	عَلَيۡكُمۡ	وَمِيۡثَاقَهُ	الَّذِىۡ	وَاثَقَكُمۡ	بِهٖۤ
د الله	پر تاسی	او عهد محکم د الله	هغه چې	محکموالی کړی دی له تاسی سره	په هغه سره

د الله پر تاسی، او (یاد کړئ) عهد محکم د الله هغه (عهد) چې محکموالی کړی دی (الله) له تاسی سره په هغه سره

اِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَاَطَعۡنَا وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌ

اِذۡ قُلۡتُمۡ	سَمِعۡنَا	وَاَطَعۡنَا	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيۡمٌ
کله چې وویل تاسی	واورېده موږ	او ومو منه	او وېرېږئ	له الله	بیشکه! چې	الله	ښه عالم دی

کله چې وویل تاسی واورېده موږ (وینا ستا) او ومو منه (فرمان ستا) او وېرېږئ له الله بیشکه !چې الله ښه عالم دی

وَاذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ (لنډ تفسير)

الله ﷻ ته دا منظوره ده چې خپل انعامات پر تاسي مکمل کړي او دایي مکمل هم کړل پر تاسي چي بدني او قلبي پاکوالی دی چي فایده یي رضا او قرب دی چي تر ټولو نعمتونو لوی نعمت دی ددې دپاره چي تاسي ددې مهرباني شکر اداء کړی په شکر کي امتثال هم داخل دی او تاسي خلګ د الله ﷻ انعام چي پر تاسي باندي یي کړی دی یاد کړی چي په دې کي لوی انعام دادی چي ستاسي دفلاح طریقې یي ستاسي دپاره رواه کړې او دهغه دا عهد هم یاد کړی دکم چي ستاسي سره معاهده سوي ده کله چي تاسي ددې التزام هم کړی وو چي دعهد اخیستو په وخت کي تاسي ویلي وه چي موږ دا احکام واورېدل او ومو منل ځکه چي د اسلام راوړلو په وخت کي هر سړي ددې خبري عهد کوی او د الله ﷻ دمخالفت څخه بیرېږي بیشکه الله ﷻ دزړونو په خبرو پوره خبر لري په دې وجه چي کم کار کوی نو په اخلاص او عقیده سره یي کوی یوازي دمنافقانو په شان دا غسي شکل مه جوړوی.

(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٨٩)

www.jamairahmani.org

بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ⑦ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُوۡنُوۡا

بِذَاتِ	الصُّدُوۡرِ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	كُوۡنُوۡا
په خبرو	د سينو	اى	هغو كسانو	چې ايمان ئې راوړى دى	اوسئ تاسې

په خبرو د سينو. اى هغو كسانو چې ايمان ئې راوړى دى اوسئ تاسې

قَوّٰمِيۡنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالۡقِسۡطِ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَاٰنُ

قَوّٰمِيۡنَ	لِلّٰهِ	شُهَدَآءَ	بِالۡقِسۡطِ	وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ	شَنَاٰنُ
محكم ولاړ	له پاره د الله	شاهدان	په انصاف سره	او نه دې باعث كړې تاسې	دښمنى

محكم ولاړ، له پاره د الله (اوسئ تاسې!) شاهدان په قسط (عدل او انصاف) سر، او نه دې باعث كړې تاسې دښمنى

قَوۡمٍ عَلٰۤى اَلَّا تَعۡدِلُوۡا ؕ اِعۡدِلُوۡا ۟ هُوَ اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰى ۫

قَوۡمٍ	عَلٰۤى	اَلَّا تَعۡدِلُوۡا	اِعۡدِلُوۡا	هُوَ	اَقۡرَبُ	لِلتَّقۡوٰى
د يوه قوم	په دې باندې	چې عدل انصاف به ونه كړئ تاسې	عدل وكړئ تاسې	هم دا	ډير نژدې دى	پرهيزګارۍ ته

د يوه قوم په دې باندې چې عدل انصاف به ونه كړئ تاسې، عدل وكړئ تاسې! هم دا (عدل) ډير نژدې دى تقوىٰ ته

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيۡرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ⑧ وَعَدَ اللّٰهُ

وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	خَبِيۡرٌۢ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	وَعَدَ	اللّٰهُ
او وېرېږئ تاسې	له الله	بيشكه! چې	الله	ښه خبردار دى	په هغو اعمالو	چې كوئ ئې تاسې	وعده كړې ده	الله

او وېرېږئ تاسې له الله، بيشكه چې الله ښه خبردار دى په هغو اعمالو چې كوئ ئې تاسې. وعده كړې ده الله

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ وَّاَجۡرٌ

الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	لَهُمۡ	مَّغۡفِرَةٌ	وَّاَجۡرٌ
له هغو كسانو سره	چې ايمان ئې راوړى دى	او كړې ئې دي	ښه (عملونه)	دوى ته	مغفرت	او اجر

له هغو كسانو سره چې ايمان ئې راوړى دى او كړې ئې دي ښه (عملونه) دوى ته مغفرت او اجر

عَظِيۡمٌ ⑨ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَاۤ اُولٰٓئِكَ

عَظِيۡمٌ	وَالَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	وَكَذَّبُوۡا	بِاٰيٰتِنَاۤ	اُولٰٓئِكَ
ډير لوى	او هغه كسان چې	كافران سوي دي	او نسبت د دروغو ئې كړى دى	آياتو زموږ ته	هم دغه كسان دي

ډير لوى (په جنت كښې). او هغه كسان چې كافران سوي دي او نسبت د دروغو ئې كړى دى آياتو زموږ ته هم دغه كسان دي

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ.. د عدل او انصاف مقام: كم سړى چې پر انصاف ولاړ وي هغه د الله ﷻ د پاره ولاړ وي او كم سړى چې د الله ﷻ د پاره ولاړ وي هغه به خامخا انصاف كوي ليكن د خپل نفس او دوستانو خپلوانو د رعايت په مقام كي د اخيال راتلاى سي چې د دې تعلقاتو ساتنه كول هم د الله ﷻ د پاره ده په دې وجه يې هلته لفظ د قسط مخكي راوړى دي طرف ته يې ښوونه وكړه چې هغه رعايت د الله ﷻ د پاره نه سي كيداى كم چې د عدل او انصاف څخه خلاف وي او په سورت مايده كي د دښمنانو سره د عدل او انصاف كولو حكم وركول وونو هلته يې لفظ د الله ﷻ مخكي راوړى او انساني فطرت او جذبات يې د مغلوب كيدو څخه وايستل چې تاسي خلګ د الله ﷻ د پاره ولاړ ياست چې د دې لازمي نتيجه دا ده چې د دښمنانو سره هم انصاف كوي لنډه دا ده چې د سورت نساء او مايده په دواړو آياتونو كي د دوو شيانو طرف ته ښوونه ده چې عدل كه د دوستانو سره وي او كه د دښمنانو سره وي بايد وسي.

(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٩١)

www.jamairahmani.org

اَصۡحٰبُ الۡجَحِیۡمِ ⑩ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتَ

اَصۡحٰبُ	الۡجَحِیۡمِ	یٰۤاَیُّهَا	الَّذِیۡنَ	اٰمَنُوا	اذۡكُرُوۡا	نِعۡمَتَ
صاحبان	د دوزخ	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی	یاد کړئ تاسې	احسان

صاحبان (ملګری د اور) د دوزخ. ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی یاد کړئ تاسې احسان

اللّٰهِ عَلَیۡكُمۡ اِذۡ هَمَّ قَوۡمٌ اَنۡ یَّبۡسُطُوۡۤا اِلَیۡكُمۡ

اللّٰهِ	عَلَیۡكُمۡ	اِذۡ	هَمَّ قَوۡمٌ	اَنۡ	یَّبۡسُطُوۡۤا	اِلَیۡكُمۡ
دالله	چې پر تاسې (دی)	کله چې قصد وکړ	یوه قوم	د دې چې	راوغځوی دوی	تاسې ته

د الله چې پر تاسې (دی) کله چې قصد وکړ یوه قوم د دې چې راوغځوی دوی تاسې ته

اَیۡدِیَهُمۡ فَكَفَّ اَیۡدِیَهُمۡ عَنۡكُمۡ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَعَلَی

اَیۡدِیَهُمۡ	فَكَفَّ	اَیۡدِیَهُمۡ	عَنۡكُمۡ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَعَلَی
لاسونه خپل	نو منع کړل	لاسونه د دوی	له تاسې څخه	او ویریږئ تاسې	له الله څخه	او خاص په

لاسونه خپل (او تاسې مره کړی) نو منع کړل الله لاسونه د دوی له تاسې څخه، او ویریږئ تاسې له الله څخه، او خاص په

اللّٰهِ فَلۡیَتَوَكَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ⑪ وَلَقَدۡ اَخَذَ اللّٰهُ

ع ٢

اللّٰهِ	فَلۡیَتَوَكَّلِ	الۡمُؤۡمِنُوۡنَ	وَلَقَدۡ	اَخَذَ	اللّٰهُ
الله	خامخا توکل دی وکړی	مؤمنان	او خامخا په تحقیق	اخیستی ده	الله

الله خامخا توکل دی وکړی مؤمنان. (چې الله کافی دی). او خامخا په تحقیق اخیستی ده الله

مِیۡثَاقَ بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ ۚ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ اثۡنَیۡ عَشَرَ

مِیۡثَاقَ	بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ	وَبَعَثۡنَا	مِنۡهُمُ	اثۡنَیۡ عَشَرَ
وعده محکمه	له بنی اسرائیلو	او ولیږل موږ	له دوی څخه	دوولس

وعده محکمه له بنی اسرائیلو (اولادی د یعقوب څخه)، او ولیږل موږ له دوی څخه دوولس

نَقِیۡبًا ؕ وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّیۡ مَعَكُمۡ ؕ لَئِنۡ اَقَمۡتُمُ الصَّلٰوةَ

نَقِیۡبًا	وَقَالَ	اللّٰهُ	اِنِّیۡ	مَعَكُمۡ	لَئِنۡ	اَقَمۡتُمُ	الصَّلٰوةَ
مشران	او وفرمایل	الله	بیشکه! زه	له تاسې سره یم	خامخا که	قایم کړئ تاسې	لمونځ

(تنه) مشران، او وفرمایل الله (اسرائیلو ته) بیشکه! زه له تاسې سره یم، خامخا که قایم کړئ تاسې (سم اداء کړی) لمونځ

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اذۡكُرُوۡا... په یوه جهاد کې نبي کریم ﷺ او صحابه کرامو (رضي الله عنهم) پر یوه ځای باندي واړول: صحابه کرام خواره واره سول په خپلو ځایونو کې په ارام سول نبي کریم ﷺ یوازي تر یوې درختي لاندي په ارام سو او خپله وسله یې پر یوې درختي باندي وځړوله په دښمنانو کې یوه کلیوال دغنیمت موقع وګڼله او په پټه راغی دنبي کریم ﷺ پر توره یې قبضه وکړه اوتوره یې ورباندي راویسته او وې ویل (من یمنعک مني) وایه چي اوس به دي څوک زما څخه خلاص کړي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل الله جل جلاله مي خلاصوي کلیوال بیا هغه کلمه وویل (من یمنعک منی) هغه ﷺ بیا په بې فکری سره وفرمایل (الله جل جلاله) دوه درې واره دغسي خبري سره وسوې چي غیبي قدرت پر هغه سړي دومره رعب واچوی چي دی مجبوره سو اوتوره یې په تیکي کې واچوله دغه وخت نبي کریم ﷺ صحابه راوغوښتل اوواقعه یې ورته بیان کړه هغه کلیوال ناست وو نبي کریم ﷺ ورته هیڅ ونه ویل.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ٩٧)

www.jamairahmani.org

وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ

وَاٰتَيْتُمْ	الزَّكٰوةَ	وَاٰمَنْتُمْ	بِرُسُلِيْ	وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ
او ورکړئ تاسي	زکوة	او ایمان راوړی تاسي	په رسولانو زما	او مدد وکړئ تاسي د دوی

او ورکړئ تاسي زکوة او ایمان راوړی (یقین وکړی) تاسي په رسولانو زما او مدد (اوتعظیم) وکړئ تاسي د دوی

وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ

وَاَقْرَضْتُمُ	اللّٰهَ	قَرْضًا	حَسَنًا	لَّاُكَفِّرَنَّ	عَنْكُمْ
او قرض ورکړئ تاسي	الله ته	قرض	نیک	خامخا لرې به کړم زه هرومرو	له تاسي څخه

او قرض ورکړئ تاسي الله ته قرض نیک خامخا لرې به کړم زه هرومرو له تاسي څخه

سَيِّاٰتِكُمْ وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

سَيِّاٰتِكُمْ	وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ	تَحْتِهَا
ګناهونه ستاسي	او خامخا داخل به کړم هرومرو زه تاسي	جنتونو ته	چي بهیږي	له	لاندې د هغو

ګناهونه ستاسي او خامخا داخل به کړم هرومرو زه تاسي جنتونو ته چي بهیږي له لاندې د (ونو او ماڼيو د) هغو

الْاَنْهٰرُ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ

الْاَنْهٰرُ	فَمَنْ	كَفَرَ	بَعْدَ	ذٰلِكَ	مِنْكُمْ	فَقَدْ	ضَلَّ
ویالې	نو هر څوک چي	کافر سو	وروسته	له دې	له تاسي څخه	په تحقیق	ورکه کړی ئې ده

ویالې، نو هر څوک چي کافر سو وروسته له دې (وعدې) له تاسي څخه نو په تحقیق ورکه کړی ئې ده

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ⑫ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ

سَوَآءَ	السَّبِيْلِ	فَبِمَا	نَقْضِهِمْ	مِّيْثَاقَهُمْ	لَعَنّٰهُمْ
سمه صافه	لاره	نو په سبب	دماتولو د دوی	دکلکی وعدی خپلې	لعنت وکړموږ پر دوی

سمه صافه لاره (دحق). نو په سبب د ماتولو د دوی د کلکی وعدی خپلې لعنت وکړ موږ پر دوی

وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ

وَجَعَلْنَا	قُلُوْبَهُمْ	قٰسِيَةً	يُحَرِّفُوْنَ	الْكَلِمَ	عَنْ
او ګرځولی دی موږ	زړونه د دوی	سخت	چي اړوي دوی	کلمې	له

او ګرځولی دی موږ زړونه د دوی سخت، چي اړوي (لرې کوي) دوی کلمې (دتورات خصوصا محمدی صفتونه) له

وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ... په دغه ایت کي الله ﷻ دا ښوولې ده:
چي داعهد او میثاق اخیستل یوازي دمسلمانانو دپاره خاص نه وبلکي تر دوی مخکي دنورو امتونو څخه هم داسي قسم وعدې اخیستل سوې وي مګر دوی په خپل عهد او میثاق کي پوره ونه ختل په دې وجه پر دوی قسم قسم عذابونه مسلط کړل سوه ارشاد فرمایي چي الله ﷻ دبني اسرائیلو څخه چي پردوولسو خاندانو نوباندي مشتمل وه ددوی دهر یوه خاندان څخه یې یویو سردار واخیستی او دې سردارانوهر یوه دخپل خپل خاندان دطرفه څخه دا ذمه داري قبوله کړه چي زه اوزما ټول خاندان به دالله ﷻ ددې میثاق او وعدې پابندي کوو دغه ډول دې دوولسو سردارانو د بني اسرائیلو دټول قوم ذمه داري واخیسته ددوی ذمه داري دا وه چي په خپله ددې وعدې پابندي وکړي او په خپل خاندان باندي یې هم وکړي. دلته دا خبره ده یادولو وړده چي دعزت او فضیلت په معامله کي د اسلام اصول خو دادي چي دلته د اخلاقو او صدق پوښتنه کیږي نه دنسب او دنبایست:
(معارف القرآن ج۲ پ ۶ ص ۹۸)

www.jamairahmani.org

مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۚ

مَّوَاضِعِهٖ	وَنَسُوْا	حَظًّا	مِّمَّا	ذُكِّرُوْا	بِهٖ
ځايونو خپلو	او هيره كړى ده دوى	برخه اخيستل	له هغه شي	چې پند وركړى سوى ؤ دوى ته	په هغه سره

ځايونو خپلو ، او هيره كړى ده دوى (غټه) برخه اخيستل له هغه شي چې پند وركړى سوى ؤ دوى ته په هغه سره

وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ

وَلَا تَزَالُ	تَطَّلِعُ	عَلٰى	خَآئِنَةٍ	مِّنْهُمْ	اِلَّا	قَلِيْلًا	مِّنْهُمْ
او هميشه به ئى ته	چې خبريږى	په	كوم خيانت	له دى (يهودانو څخه)	مگر	لږ (كسان)	له دوى څخه

او هميشه به ئى ته (محمده!) چې خبريږى په كوم خيانت له دى (يهودانو څخه) مگر لږ (كسان) له دوى څخه

فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٣﴾

فَاعْفُ	عَنْهُمْ	وَاصْفَحْ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ
نو عفوه وكړه	له دوى نه	او مخ وگرځوه	بيشكه! چې	الله	خوښوى	احسان كوونكى

نو عفوه وكړه (اى محمده!) له دوى نه او مخ وگرځوه (له دوى څخه) بيشكه! چې الله خوښوى احسان كوونكى.

وَمِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى اَخَذْنَا مِيْثَاقَهُمْ فَنَسُوْا

وَمِنَ	الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّا	نَصٰرٰٓى	اَخَذْنَا	مِيْثَاقَهُمْ	فَنَسُوْا
او ځينې	له هغو كسانو	چې وايي دوى	بيشكه! موږ	نصرانيان يو	اخيستى ؤ موږ	محكم عهد د دوى	نو هيره كړه دوى

او ځينو له هغو كسانو ځنى چې وايي دوى بيشكه! موږ نصرانيان يو اخيستى ؤ موږ محكم عهد د دوى نو هيره كړه دوى

حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۪ فَاَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ

حَظًّا	مِّمَّا	ذُكِّرُوْا	بِهٖ	فَاَغْرَيْنَا	بَيْنَهُمُ
برخه اخيستل	له هغه شي	چې پند وركړى سوى ؤ دوى ته	په هغه سره	نو واچاوه موږ	په مينځ د دوى كښې

(غټه) برخه اخيستل له هغه شي چې پند وركړى سوى ؤ دوى ته په هغه سره نو واچاوه موږ په مينځ د دوى كښې

الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ

الْعَدَاوَةَ	وَالْبَغْضَآءَ	اِلٰى	يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	وَسَوْفَ	يُنَبِّئُهُمُ	اللّٰهُ
عداوت	او بغض	تر	ورځې	د قيامته پورى	او ژر به	خبر وركړى دوى ته	الله

عداوت (دښمنى) او بغض (كينه) تر ورځې د قيامته پورى او ژر به خبر وركړى دوى ته الله

وَمِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى ... په عيسايو فرقو كي ديوه سر سره دښمني: په دې ايت كي الله ﷻ دعيسايانو دعهد ماتولو دا سزا بيان كړې ده چي ددوى په مينځ كي گډوډ كيدل بغض او عداوت غورځول سوى دى چي تر قيامته به پوري دغه ډول وي پر دې باندي دنن سبا دعيسايانو دحالاتو څخه دا شبه پيدا كيږي چي دوى خو ټوله متحد دي په ښكاره سره او ايت وايي چي په دوى كي اختلاف سته **جواب:** دادى چي دا حال دهغو خلگو بيان سوى دى كم چي واقعي عيسايان دي او دعيسايي مذهب پابند دي او كوموچي خپل مذهب پري ايښى دى دهريان جوړ سوي دي دوى په حقيقت كي دعيسايانو دفهرست څخه خارج دي كه څه هم دوى خپل ځان ته عيسايان وايي په داسي خلگو كي كه دغه مذهبي گډوډوالى او دښمني نه وي نو ددې آيت سره منافي نه دى ځكه چي گډوډوالى او دښمني او اختلاف خو دمذهب پر بنياد باندي وو كله چي مذهب پاته نسو نو اختلاف هم پاته نسو او په آيت كي بيان دهغه خلگو دى چي دمذهب په لحاظ سره نصارا او عيسايان دي ددوى اختلاف او گډوډوالى خو مشهور او معلوم دى (معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ١٠٦)

www.jamairahmani.org

بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿١٤﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ

بِمَا	كَانُوْا	يَصْنَعُوْنَ	يٰٓاَهْلَ	الْكِتٰبِ	قَدْ	جَآءَكُمْ
په هغو کارونو چې	وو دوی	چې کول به ئې	ای	اهل د کتابو !	په تحقيق	درغلی دی تاسی ته

په هغو کارونو چې وو دوی چې کول به ئې. ای اهل د کتابو ! په تحقيق درغلی دی تاسی ته

رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ

رَسُوْلُنَا	يُبَيِّنُ	لَكُمْ	كَثِيْرًا	مِّمَّا	كُنْتُمْ	تُخْفُوْنَ	مِنَ
رسول زموږ	چې بيانوی	تاسی ته	ډير	له هغو شيانو	چې وئ تاسی	چې پټول به مو	له

رسول زموږ (محمد) چې بيانوی (ښکاروی) تاسی ته ډير له هغو شيانو چې وئ تاسی چې پټول به مو له

الْكِتٰبِ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۬ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ

الْكِتٰبِ	وَيَعْفُوْا	عَنْ	كَثِيْرٍ	قَدْ	جَآءَكُمْ	مِّنَ	اللّٰهِ	نُوْرٌ
کتاب	او عفوه کوی	له	ډيرو	په تحقيق	درغلی دی تاسی ته	له	الله ﷻ	نور (رڼا)

کتابه (دتورات او انجيل څخه) او عفوه کوی له ډيرو (شيانو)، په تحقيق درغلی دی تاسی ته له (طرفه د) الله ﷻ نور رڼا

وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ

وَّ كِتٰبٌ	مُّبِيْنٌ	يَّهْدِيْ	بِهِ	اللّٰهُ	مَنِ	اتَّبَعَ	رِضْوَانَهٗ
او کتاب	بيانوونکی	چې هدايت کوی	په (هريوه) له دی سره	الله	هغه چاته	چې تابع وی	درضاء د ده

او کتاب مبين(محمد او قرآن) . چې هدايت کوی په (هريوه) له دی سره الله هغه چا ته چې تابع وی د رضاء د ده

سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ

سُبُلَ	السَّلٰمِ	وَيُخْرِجُهُمْ	مِّنَ	الظُّلُمٰتِ	اِلَى النُّوْرِ
لاری	د سلامتی ته	او باسی دوی	له	تيارو څخه	نور ته

لاری د سلامتی ته او باسی دوی له تيارو (دکفر، شک، جهل) څخه نور (رڼا د ايمان، يقين علم)

بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٦﴾ لَقَدْ

بِاِذْنِهٖ	وَيَهْدِيْهِمْ	اِلٰى	صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ	لَقَدْ
په حکم خپل	او هدايت کوی دوی ته	په (طرف د)	لار	سمی صافی	خامخا په تحقيق

په اذن (حکم) خپل او هدايت (ښوونه) کوی دوی ته (په طرف د) لاری سمی صافی (دتوحيد). خامخا په تحقيق

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا.. په دغه اياتونو کي الله ﷻ دنصاراوو ديوه قول رد کړی دی : هغه داسي قول دی چي د دوی ديوې فرقې عقيده ده يعني دا چي حضرت مسيح عليه السلام معاذالله بعينه الله تعالى دی ليکن رد په داسي شکل اودليل سره سوی دی چي دټولو فرقو باطلي عقيدې رد کوي هر څومره چي دتوحيد څخه خلافي دي برابره خبره ده که دخدای دزوی والي عقيده وي په دې سره دټولو رداو باطلوالی وسو او دلته دحضرت مسيح عليه السلام او دهغه دمور په ذکر کولو کي دوه حکمتونه کيدای سي اول خو داچي دحضرت مسيح عليه السلام د الله ﷻ په وړاندي داعجز چي نه دی خپل ځان دالله ﷻ څخه خلاصولای سي او نه خپله مور دکمي خدمت چي شريف زوی تر خپل روح لا هم زيات خوښوی : دوهم داچي په دې کي دهغه فرقې دخيال هم رد وسو کمه چي حضرت مريمي (رض) په درو خدايانو کي يو خدای مني : دبيضاوي شريف په حاشيه کي ليکلي دي چي نصاری په اصل کي درې فرقې وي يوه نسطوريه ،بله يعقوبيه ، بله ملکانيه ،او دټولو عقيدې هم سره متفاوتي وي چي مسيح يئ دخدای زوی ، د خدای شريک ، او دريم دخدايانو يه څخه يه بلی.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ١٠٨)

www.jamairahmani.org

كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۭ قُلْ

كَفَرَ	الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ	الْمَسِيْحُ	ابْنُ	مَرْيَمَ	قُلْ
كافران سوى دى	هغه كسان	چي وايي دوى	بيشكه!چې	الله	هم دا	مسيح	زوى	د مريمې دى	ووايه

كافران سوى دى هغه كسان چي وايي دوى بيشكه! چې الله هم دا مسيح زوى د مريمې دى، ووايه (اى محمده !نصرانيانوته)

فَمَنْ يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ

فَمَنْ	يَّمْلِكُ	مِنَ	اللّٰهِ	شَيْـًٔا	اِنْ	اَرَادَ	اَنْ	يُّهْلِكَ
نو څوک به	مالک سی	له	الله څخه	ديوه شي	كه	اراده وفرمايي (الله)	د دى چي	هلاک كړي

نو څوک به مالک سی (د منعی) له الله څخه د يوه شي؟ كه اراده وفرمايي (الله) د دى چي هلاک كړي

الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ

الْمَسِيْحَ	ابْنَ	مَرْيَمَ	وَاُمَّهٗ	وَمَنْ	فِي	الْاَرْضِ
مسيح	زوى	دمريمې	او مور د ده	او هومره خلک	چي په	مځكه كښې دى

مسيح زوى د مريمې او مور د ده او هومره خلک چي په مځكه كښې دى

جَمِيْعًا ۭ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ

جَمِيْعًا	وَ	لِلّٰهِ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا	بَيْنَهُمَا
گرد سره تول	او	خاص الله لره دى	سلطنت	دآسمانونو	او د مځكې	او دهغو شيانو	چي په مينځ د دوى كښې دى

گرد سره تول، او خاص الله لره دى ملک (سلطنت) د آسمانونو او د مځكې او د هغو شيانو چي په مينځ د دوى كښې دى

يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ⑰

يَخْلُقُ	مَا	يَشَاۗءُ	وَ	اللّٰهُ	عَلٰي	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيْرٌ
پيدا كوى (الله)	هغه چي	اراده وفرمايي	او	الله	پر	هر	شي باندى	ښه قادر دى

پيدا كوى (الله) هغه چي اراده وفرمايي د (پيداكولو يې)، او الله پر هر شي باندى ښه قادر دى .

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰۗؤُا اللّٰهِ

وَقَالَتِ	الْيَهُوْدُ	وَالنَّصٰرٰى	نَحْنُ	اَبْنٰۗؤُا	اللّٰهِ
او ويل	يهودانو	او نصرانيانو	چي موږ	ځامن	د الله يو

او ويل يهودانو او نصرانيانو چي موږ ځامن د الله يو

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ پـه دغـه ايت كي دحضـرت مسـيح عليه السلام او دمريمي بي بي مرګ په ډول دفرض ذكر كړى دى
: حـال دادى چـي دقـرآن دنازليـدو پـه وخـت كـي دحضـرت مريمـي بـي بـي مـرګ محض فرضـي نه وو بلكي واقـع سـوى وو ددې وجه په اصل كـي دحضـرت عيسـى عليه السلام مـرګ پـه ډول دفـرض ذكـر كـول وو نـو دمور دمرګ ذكر يـي هـم پـه دې ضـمن كـي وكـى كـه څـه هـم چـي ددې مـرګ واقـع سـوى وو.اوداهـم كيـداى سـي چـي مـراد داوي چـي لكه څنګـه چـي پـر حضـرت مريمـي بانـدي مـوږ مـرګ راوسـتلى دى پـر حضـرت مسـيح او پـر نورټـول مخلـوق بانـدي هـم مـرګ راوستل زموږپه قبضه كي دي او پـه **يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ** كـي دعيسـاـيانو ددې باطلي عقيـدې بـاطلول دي ځكـه چـي دحضـرت مسيح عليه السلام څخه پـه خدايي جوړولـو كـي ددوى اصـلي منشا داده چي دده پـه پيـدا ينبـت كـي دټـولي دنيـا دقاعـدو څخـه خلاف بغير دپلار څخـه يـوازي دمـور څخه سوى دى كه دى بنده واى نـو دقاعـدي موافـق دمـور اوپـلار دواړو پـه ذريعـه سره سـوى واى پـه دغـه جملـه كـي الله جل جلاله ددې شـبهي جـواب وركـى (معارف القرآن ج ٢ پ٦ص ١٠٩)

www.jamairahmani.org

وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ

وَاَحِبَّآؤُهٗ	قُلْ	فَلِمَ	يُعَذِّبُكُمْ	بِذُنُوْبِكُمْ	بَلْ	اَنْتُمْ
او دوستان د ده يو	وواييه	نو ولې	په عذابوی (الله) تاسی	په سبب د ګناهونو ستاسی	بلکه	تاسی يئ

او دوستان د ده يو، وواييه (ای محمده) نو ولې په عذابوی (الله) تاسی په سبب د ګناهونو ستاسی؟ بلکه تاسی يئ

بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ

بَشَرٌ	مِّمَّنْ	خَلَقَ	يَغْفِرُ	لِمَنْ	يَّشَآءُ	وَيُعَذِّبُ
يو بشر	دهغو مخلوقاتو څخه	چې الله پيدا کړی دی	مغفرت کوی	هغه چاته	چې اراده وفرمايي	او عذابوی

يو بشر دهغو مخلوقاتو څخه چې الله پيدا کړی دی ، مغفرت کوی (الله) هغه چاته چې اراده وفرمايي او عذابوی

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا

مَنْ	يَّشَآءُ	وَ	لِلّٰهِ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا
هغه څوک	چې اراده وفرمايي	او	خاص الله لره دی	سلطنت	دآسمانونو	او دمځکی	او دهغو شيانو چې

هغه څوک چې اراده وفرمايي ، او خاص الله لره دی سلطنت د آسمانونو او د مځکی او د هغو شيانو چې

بَيْنَهُمَا ؕ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ

بَيْنَهُمَا	وَاِلَيْهِ	الْمَصِيْرُ	يٰۤاَهْلَ	الْكِتٰبِ	قَدْ	جَآءَكُمْ
په مينځ ددوی کښې دی	او خاص هم ده ته دی	بيا ورتلل	ای اهل	دکتابو !	په تحقيق درغلی دی	تاسی ته

په مينځ د دوی کښې دی او خاص هم ده ته دی بيا ورتلل. ای اهل د کتابو ! په تحقيق درغلی دی تاسی ته

رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ اَنْ تَقُوْلُوْا

رَسُوْلُنَا	يُبَيِّنُ	لَكُمْ	عَلٰى	فَتْرَةٍ	مِّنَ	الرُّسُلِ	اَنْ تَقُوْلُوْا
رسول زموږ	بيانوی	تاسی ته	په	انقطاع	د	رسولانو کښې	چې بيا چيرې ونه وايئ تاسی

رسول زموږ (محمد) بيانوی تاسی ته (شرعی احکام) په وخت د معطل کيدو د رسولانو کښې چې بيا چيرې ونه وايئ تاسی

مَا جَآءَنَا مِنْۢ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ ز فَقَدْ جَآءَكُمْ

مَا جَآءَنَا	مِنْ	بَشِيْرٍ	وَّلَا	نَذِيْرٍ	فَقَدْ	جَآءَكُمْ
چې نه ؤ راغلی موږ ته	هيڅ	زيری کوونکی	او نه	بيروونکی	نو په تحقيق	راغی تاسی ته

(په قيامت کښی) چې نه ؤ راغلی موږ ته هيڅ زيری کوونکی او نه بيروونکی نو په تحقيق راغی تاسی ته

يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ.. (دفترت د زماني تحقيق) حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي دحضرت موسى عليه السلام او عيسى عليه السلام تر مابين يو زر او اوه سوه (١٧٠٠كلونه تير سوي دي په دې ټوله زمانه کي برابر انبيا راتلل په دې وخت کي هيڅکله هم فترت نه دى سوى يوازي په بني اسرائيلو کي يوخو کسان انبياء الله جل جلاله رااستولي وه او په غير دبني اسرا ئيلو کي ددې څخه لا هم ډير دي بيا دحضرت عيسى عليه السلام د پيدا کيدو څخه وروسته دنبي کريم صلى الله عليه وسلم تر راتلو پوري په دې مينځ کي پنځه سوه کاله تير سوى دي په دغه دوران کي دانبياوو سلسله بنده وه په دې وجه دې زماني ته دفترت زمانه وايي تر دې مخکي هيڅکله هم دومره زمانه دانبياوو دراليږلو څخه خالي نه وه پاته سوې . دحضرت عيسى عليه السلام او حضرت موسى عليه السلام په درمياني زمانه کي نور هم مختلف روايتونه دي چي تر دې کمى او زياتى مو دې په کښي بيان سوى دي ليکن پر اصلي مقصد باندي ددې هيڅ تاثير نه لويږي. (معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ١١٠ مکتبه حبيبيه :

www.jamairahmani.org

٤٨٧

بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ۚ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ وَإِذْ قَالَ

بَشِيْرٌ	وَّنَذِيْرٌ	وَ	اللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	وَإِذْ	قَالَ
زيرى كوونكى	او بيرووونكى	او	الله	پر	هر	شي	ښه قادر دى	او هغه وخت	چې وويل

زيرى كوونكى او بيرووونكى ، او الله په هر شي (چې اراده وفرمايي) ښه قادر دى. او هغه وخت چې وويل

مُوسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ

مُوسٰى	لِقَوْمِهٖ	يٰقَوْمِ	اذْكُرُوْا	نِعْمَةَ	اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	إِذْ
موسىٰ	قوم خپل ته	اى قومه	ياد كړئ تاسى	نعمت	دالله	پر تاسى باندى	كله چې

موسىٰ قوم خپل ته اى قومه (زما) ياد كړئ تاسى نعمت (احسان) د الله پر تاسى باندى كله چې

جَعَلَ فِيْكُمْ أَنْبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰكُمْ مَّا

جَعَلَ	فِيْكُمْ	أَنْبِيَآءَ	وَجَعَلَكُمْ	مُّلُوْكًا	وَّاٰتٰكُمْ	مَّا
وګرځول	په تاسى كښې	انبياء	او وګرځول له تاسى څخه	باچايان	او دريئ كړ تاسى ته	هغه چې

وګرځول (الله) په تاسى كښې (ډير) انبياء او وګرځول (الله) په تاسى كښې باچايان او دريئ كړ تاسى ته هغه چې

لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا

لَمْ يُؤْتِ	أَحَدًا	مِّنَ	الْعٰلَمِيْنَ	يٰقَوْمِ	ادْخُلُوا
نه يئ وركړى ؤ	هيچ يوه ته	له	خلقو	اى قومه (زما)	ننوځئ تاسى

نه ئى وركړى ؤ هيچ يوه ته له خلقو (دزمانى ستاسى). اى قومه (زما) ننوځئ تاسى

الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا

الْأَرْضَ	الْمُقَدَّسَةَ	الَّتِيْ	كَتَبَ	اللّٰهُ	لَكُمْ	وَلَا تَرْتَدُّوْا
مځكى	پاكى كړى سوى ته	هغه مځكه	چې مقرره كړى ده	الله	تاسى ته	او بيرته مه ځئ تاسى

مځكى پاكى كړى سوى ته هغه مځكه چې مقرره كړى ده الله تاسى ته او بيرته مه ځئ تاسى

عَلٰى أَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾ قَالُوْا

عَلٰى	أَدْبَارِكُمْ	فَتَنْقَلِبُوْا	خٰسِرِيْنَ	قَالُوْا
په	شاؤخپلو	نو وبه ګرځئ تاسى	زيان كاران	وويل دغو

په شاؤ خپلو (له جهاده) نو وبه ګرځئ تاسى زيان كاران (په سعى خپلى). وويل دغو (بنى اسرائيلو)

وَإِذْ قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ.. كله چې فرعون او دده لښکر په درياب كې غرق سو: او حضرت موسى او دده قوم بني اسرائيلو د فرعون دغلامۍ څخه خلاصى پيدا كړې د مصر د حكومت مالكان سول نو الله ﷻ دخپل زيات انعامات او ددوى دنيكني وطن د شام حكومت هم ددوى په قبضه كې ديرته وركولو اراده وكړه او دې دپاره يې ددوى ته په ذريعه د موسى عليه السلام داحكم وركړى چې ددوى د جهاد په نيت سره مقدسي مځكي يعني ملك شام ته داخل سي او ددې سره دا خوشخبري هم ورته واورول سوه چې په دې جهاد كې به فتح ددوى وي الله ﷻ دا مقدسه مځكه ددوى په حصه كې ليكلي ده دغه به خامخا دوى ته ملاويږي ليكن بني اسرائيل دخپل طبعي خصوصيت په وجه سره د الله ﷻ دانعاماتو د فرعون غرقيدل او د مصر حكومت فتح كيدل او نورو سترګو دليدو سره بيا هم په وعده او ميثاق پوره ونه ختل او د شام د جهاد حكم چې ورته د الله ﷻ له طرفه ورته وسو دا حكم يې ونه منى او ضد يې وكړى كينيستل.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ١١٥)

www.jamairahmani.org

يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا

يٰمُوْسٰٓى	اِنَّ	فِيْهَا	قَوْمًا	جَبَّارِيْنَ	وَاِنَّا	لَنْ نَّدْخُلَهَا
اى موسٰى !	بیشکه!	په دى ځمکه کښې	یو قوم دى	ډیر زورور	او بیشکه! موږ	له سره نه ننوځو په دغې ځمکې کښې

اى موسٰى! بیشکه! په دى ځمکه کښې یو قوم دى ډیر زورور (قوى) او بیشکه! موږ له سره نه ننوځو په دغې ځمکې کښې

حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾

حَتّٰى	يَخْرُجُوْا	مِنْهَا	فَاِنْ	يَّخْرُجُوْا	مِنْهَا	فَاِنَّا	دٰخِلُوْنَ
تر هغه پورې	چې ووځى دوى	له دى	نو که	ووځى دوى	له دى ځايه	نو بیشکه!	موږ ننوتونکى یو

تر هغه پورى چې ووځى دوى له دى (ځمکى نه) نو که ووځى دوى له دى ځایه (بې له جنګه) نو بیشکه موږ ننوتونکى یو .

قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ

قَالَ	رَجُلٰنِ	مِنَ	الَّذِيْنَ	يَخَافُوْنَ	اَنْعَمَ	اللّٰهُ
وویل	دوو سړیو	له	هغو کسانو	چې ېیریدل (له الله څخه)	چې انعام کړی ؤ	الله

وویل دوو سړیو له هغو کسانو چې ېیریدل (له الله څخه) چه انعام (احسان) کړی ؤ الله

عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ

عَلَيْهِمَا	ادْخُلُوْا	عَلَيْهِمُ	الْبَابَ	فَاِذَا	دَخَلْتُمُوْهُ
په دوی دواړو	چې ورننوځئ	پر دوی	په دروازه کښې	نو کله چې	ورننوتئ تاسی دروازې ته

په دوی دواړو چې ورننوځئ پر دوی (حمله کوونکی) په دروازه کښې ، نو کله چې ورننوتئ تاسی دروازې ته

فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ۬ وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ

فَاِنَّكُمْ	غٰلِبُوْنَ	وَعَلَى	اللّٰهِ	فَتَوَكَّلُوْٓا	اِنْ	كُنْتُمْ
نو بیشکه! هم دا تاسی	به غالبان یئ	او (خاص) پر	الله	پس توکل وکړئ تاسی	که	یئ تاسی

نو بیشکه! هم دا تاسی به غالبان یئ . او (خاص) پر الله پس توکل وکړئ تاسی ! که یئ تاسی

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا

مُّؤْمِنِيْنَ	قَالُوْا	يٰمُوْسٰٓى	اِنَّا	لَنْ نَّدْخُلَهَآ	اَبَدًا
مؤمنان	وویل دغو (بنی اسرآئیلو)	اى موسٰى	بیشکه! چې موږ	له سره نه ننوځو دی ښار ته	هیڅکله

مؤمنان .وویل دغو (بنی اسرآئیلو) اى موسٰى بیشکه! چې موږ له سره نه ننوځو دی ښار ته

يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ.. په دې ذکر سوي ايت کي ددې خبري بيان دى : چي ددې خبري سره سره بيا هم بني اسرائيلو دخپلي معلومي سرکښى او کوږ طبعى په وجه سره دا حکم هم ونه منى بلکي جضرت موسى عليه السلام ته يې وويل چي اى موسى پر دې ملک باندي خو ډېرو زورورو قومي خلګو قبضه ده موږ به تر هغه پوري دغه ملک ته داخل نه سوتر څو پوري چي دغه خلګ هلته قبضه کوونکي وي البتّه که دوى يوې خواته ورڅخه ولاړل نو بيشکه چي بيا به موږ هلته ولاړ سو ددې واقعه کمه چي دتفسير داامامانو حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه عکرمه رحمة الله عليه اوعلي ابن ابي طلحة رضي الله عنه اونورو څخه نقل ده داده چي دغه وخت پر شام او بيت المقدس باندي دعمالقه دقوم قبضه وه چي دعاديانو دقوم يو ښاخ او ډير غټ جوسه ناک او دهيبت ناک قد او قامت خلګ وه دکومو سره چي دجهاد کولو او دبيت المقدس فتح کولو حکم حضرت موسى عليه السلام اودده قوم ته سوى وو ليکن قوم يې دالله جل جلاله دغه حکم ونه منى دبزدلى او کم همتى دوجې څخه.
(معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ١١٩)

www.jamairahmani.org

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِيْ. دقوم انتهايي بې وفايي او دحضرت موسی عليه السلام صبر او ثابت قدمي: دبني اسرائيل قوم ته تير حالات او واقعات او ددوی سره دالله جل جلاله او دحضرت موسی عليه السلام د معاملو معاينه کوونکي او نظر کوونکي که په سرسري ډول سره هم دا ځان ته راوړاندي کړي چي دبني اسرائيلو قوم دصديوراهيسي په غلامی دفرعون کي په قسم قسم ذلتونو او عذابونو کي اخته وو دحضرت موسی عليه السلام دتعليم او برکت په وجه خدای جل جلاله دکم ځای څخه کم ځای ته ورسول ددوی دسترګو په وړاندي دالله جل جلاله دکامل قدرت ځنګه ځنګه نښاني ښکاره سوې فرعون او دفرعون قوم په خپل دربار کي دحضرت موسی عليه السلام او دحضرت هارون عليه السلام دلاسه شکست وخوړی په کوموجادوګرانو چي ددوی باوروو هغو اوس په حضرت موسی عليه السلام باندي ايمان راوړی او دحضرت موسی عليه السلام سره سول او بيا ددغه فرعون څخه الله جل جلاله په خپل کامل قدرت سره ټول محلونه او مکانات ددوی څخه خالي کړل او دبني اسرائيلو په مخکي يي په ذلت سره په درياب کي غرق کړه.
(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۱۲۳)

مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا

مَّا دَامُوْا	فِيْهَا	فَاذْهَبْ	اَنْتَ	وَرَبُّكَ	فَقَاتِلَآ	اِنَّا	هٰهُنَا
خو چي وي دغه	په دې کښې	پس ځه	ته	او رب ستا	نو جنګ وکړئ تاسي دواړه	بيشکه! موږ	دلته

خو چي وي دغه (عمالقه) په دې کښې پس ځه ته او (ځي دې) رب ستا نو جنګ وکړئ تاسي دواړه بيشکه! موږ دلته

قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِيْ وَاَخِيْ

قٰعِدُوْنَ	قَالَ	رَبِّ	اِنِّيْ	لَآ اَمْلِكُ	اِلَّا	نَفْسِيْ	وَاَخِيْ
ناست يو	وويل (موسیٰ)	ای ربه (زما)	بيشکه! زه	مالک نه يم	مګر	د ځان خپل	او د ورور خپل

ناست يو وويل (موسیٰ) ای ربه (زما) بيشکه زه مالک نه يم (اختيار نه لرم) مګر د ځان خپل او د ورور خپل چي (هارون دی)

فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قَالَ فَاِنَّهَا

فَافْرُقْ	بَيْنَنَا	وَبَيْنَ	الْقَوْمِ	الْفٰسِقِيْنَ	قَالَ	فَاِنَّهَا
نو بيلتون وکړه	په مينځ زموږ	او په مينځ	دقوم	فاسقانو کښې	نو وفرمايل	پس بيشکه! دغه

نو بيلتون (جدائي) وکړه په مينځ زموږ او په مينځ د قوم فاسقانو کښې. نو وفرمايل (الله) پس بيشکه! دغه (مقدسه مځکه)

مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ فِي

مُحَرَّمَةٌ	عَلَيْهِمْ	اَرْبَعِيْنَ	سَنَةً	يَتِيْهُوْنَ	فِي
حرامه کړې سوې ده	پر دوی باندې	څلويښت	کاله	چي حيران سرګردان ګرځي دوی	په

حرامه کړې سوې ده پر دوی باندې (نو ځي هغی ته) څلويښت کاله چي حيران سرګردان ګرځي دوی په (هم دې)

الْاَرْضِ ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ وَاتْلُ

الْاَرْضِ	فَلَا	تَاْسَ	عَلَى	الْقَوْمِ	الْفٰسِقِيْنَ	وَاتْلُ
مځکه کښې	نو مه	خپه کيږه	پر	قوم	فاسقانو	او ولوله

مځکه کښې، نو مه خپه کيږه پر قوم فاسقانو (وتونکي له فرمانه). او ولوله (ای محمده!)

عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا

عَلَيْهِمْ	نَبَاَ	ابْنَيْ	اٰدَمَ	بِالْحَقِّ	اِذْ	قَرَّبَا	قُرْبَانًا
پر دغو (بني اسرائيلو)	خبر	د دواړو ځامنو	د آدم	په حقه سره	کله چي	نژدې کړه دواړو	قرباني

پر دغو (بني اسرائيلو) خبر د دواړو ځامنو د آدم (چي هابيل او قابيل وو) په حقه سره کله چي نژدې کړه دواړو قرباني

ع ۷ ۸

www.jamairahmani.org

فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ۭ قَالَ

فَتُقُبِّلَ	مِنْ	اَحَدِهِمَا	وَلَمْ يُتَقَبَّلْ	مِنَ	الْاٰخَرِ	قَالَ
نو قبول کړ سو	له	یوه د دی دواړو څخه	او قبوله نسوه	له	بله	وویل (قابیل)

نو قبول کړ سو (پسه) له یوه د دی دواړو څخه (هابیل) او قبوله نسوه (دغنمو ستری) له بله (قابیل) ، وویل (قابیل)

لَاَقْتُلَنَّكَ ۭ قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ ٢٧

لَاَقْتُلَنَّكَ	قَالَ	اِنَّمَا	يَتَقَبَّلُ	اللّٰهُ	مِنَ	الْمُتَّقِيْنَ
چی خامخا به ووژنم تا	وویل (هابیل)	چی بیشکه! هم دا خبره ده	چی قبلوی (قربانی)	الله	له	پرهیزګارانو څخه

چی خامخا به ووژنم تا هرومرو (ای هابیله!)، وویل (هابیل) چی بیشکه! هم دا خبره ده چی قبلوی الله له پرهیزګارانو څخه.

لَىِٕنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ

لَىِٕنْ	بَسَطْتَّ	اِلَيَّ	يَدَكَ	لِتَقْتُلَنِيْ	مَآ	اَنَا	بِبَاسِطٍ
قسم دی خامخا	که دی راوغځاوه تا	ماته	لاس خپل	د دی چی ته ووژنی ما	نو نه یم	زه	غځوونکی

قسم دی خامخا که دی راوغځاوه تا (ای قابیله) ماته لاس خپل دپاره د دی چی ته ووژنی ما نو نه یم زه غځوونکی

يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّىْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ٢٨

يَّدِيَ	اِلَيْكَ	لِاَقْتُلَكَ	اِنِّىْٓ	اَخَافُ	اللّٰهَ	رَبَّ	الْعٰلَمِيْنَ
د لاس خپل	تاته	چی ووژنم تا	بیشکه! زه	بیریږم	له الله	چی رب	د (ټولو) عالمیانو دی

د لاس خپل تا ته چی ووژنم تا بیشکه! زه بیریږم له الله چی رب (دټولو) عالمیانو دی .

اِنِّىْٓ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْۗاَ بِاِثْمِيْ وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ اَصْحٰبِ

اِنِّىْٓ	اُرِيْدُ	اَنْ	تَبُوْۗاَ	بِاِثْمِيْ	وَاِثْمِكَ	فَتَكُوْنَ	مِنْ	اَصْحٰبِ
په تحقیق زه	اراده لرم	د دی چی	رجوع وکړی ته	په ګناه د (وژلو) زما	او په ګناه خپلی	نو سی به ته	له	صاحبانو

په تحقیق زه اراده لرم د دی چی رجوع وکړی (اخته سی) ته په ګناه د (وژلو) زما او په ګناه خپلی نو سی به ته له صاحبانو

النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰۗؤُا الظّٰلِمِيْنَ ۝ ٢٩ فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ

النَّارِ	وَذٰلِكَ	جَزٰۗؤُا	الظّٰلِمِيْنَ	فَطَوَّعَتْ	لَهٗ	نَفْسُهٗ
د اور	او هم دا اوردی	جزا	دظالمانو	نو بنائسته کړ	دغه (قابیل) ته	نفس د ده

د اور (د دوزخ) او هم دا (اور) دی جزا د ظالمانو . نو بنائسته کړ دغه (قابیل) ته (اماره) نفس د ده

وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ۭ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ۭ...يعني دوی دواړو دالله ﷻ دپاره خپله خپله قرباني پيش کړه: ليکن ديوه قرباني قبوله سوه او دبل ده قبوله نه سوه لفظ دقربان دعربي لغت په اعتبار سره هغه شي ته ويل کيږي کم چي يو چاته دنژديکت ذريعه جوړول کيږي او دشرعي په اصطلاح کي هغه ذبحي او نورو ته ويل کيږي چي دالله ﷻ دنژديکت د حاصلو لو لپاره وکړل سي ددي قرباني پيش کولو کمه واقعه چي په صحيح او قوي سندونو سره نقل ده داده چي کله حضرت آدم عليه السلام او حضرت حواه دنيا ته راغلل او دکوچنيانو دپيدا کيدو سلسله شروع سوه نو دهر يوه حمل څخه به ددوی دوه کوچنيان پيدا کيدل يو هلک اوبله انجلی دغه وخت چي دحضرت آدم عليه السلام په اولاد کي دخوندو او وړونو څخه ماسواه نور څوک نه وه او دخور او ورور په مينځ کي نکاح نه سوای کيدای نو الله ﷻ ددغه وخت دضرورت په لحاظ سره دحضرت آدم عليه السلام په شريعت کي داخصوصي حکم جاري کی چي ديوه حمل څخه چي هلک او انجلی پيدا سي. (پاته قصه پرراروان مخ وګورى)

نصف

www.jamairahmani.org

فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ... د تیر مخ پاته قصه دلته وګوری: هغه به په خپل مینځ کې حقیقي ورور او خور ګڼل کیږي او ددوی په مینځ کې به نکاح حرامه وي لیکن دیوه حمل څخه پیدا سوی هلک به دبل حمل څخه دپیدا سوي انجلی حقیقي ورور نه ګڼل کیږي او ددوی په مینځ کې به نکاح جایزه وي لیکن وسوه داسې چې داولني هلک قابیل سره چې کمه انجلی پیدا سوې وه هغه ښایسته او ښکلې وه او دهغه بل هلک هابیل سره چې کمه انجلی پیدا سوې وه هغه بدرنګه وه کله چې دنکاح وخت راغی نو دقاعدې موافق دهابیل سره پیدا سوې بدرنګه انجلی دقابیل په حصه کې راغله نو په دې سره قابیل خفه سو او دهابیل دښمن سو او پر دې خبره یې زور ولګوی چې زما سره کمه انجلی پیدا سوې ده هغه دې ماته په نکاح کې راکړه سي حضرت آدم عليه السلام دشرعي قاعدې موافق دا خبره قبوله نه کړه او دهابیل او قابیل په مینځ کې داختلاف لیري کولو دپاره دا طریقه اختیاره کړه چې تاسي دواړه خپلې خپلې قرباني دالله جل جلاله په حضور کې پیش کړی: (پاته قصه پر راروان مخ وګوری)

قَتَلَ اَخِيْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۳۰﴾

قَتَلَ	اَخِيْهِ	فَقَتَلَهٗ	فَاَصْبَحَ	مِنَ	الْخٰسِرِيْنَ
وژل	د ورور د ده	بیا وواژه (قابیل) دغه	نو وګرځید	له	زیان کارانو

وژل د ورور د ده (چې هابیل ؤ) بیا وواژه (قابیل) دغه (هابیل) نو وګرځید له زیان کارانو .

فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِي الْاَرْضِ لِيُرِيَهٗ كَيْفَ

فَبَعَثَ	اللّٰهُ	غُرَابًا	يَّبْحَثُ	فِي	الْاَرْضِ	لِيُرِيَهٗ	كَيْفَ
نو ولیږه	الله	یو کارغه	چې کیندنه ئې کوله	په	مځکه کښې	لپاره د دې چې وښیې دغه ته	چې څرنګه

نو ولیږه الله یو کارغه چې کیندنه ئې کوله په مځکه کښې لپاره د دې چې وښیې دغه (قابیل) ته چې څرنګه

يُوَارِيْ سَوْءَةَ اَخِيْهِ ؕ قَالَ يٰوَيْلَتٰۤى اَعَجَزْتُ اَنْ

يُوَارِيْ	سَوْءَةَ	اَخِيْهِ	قَالَ	يٰوَيْلَتٰۤى	اَعَجَزْتُ	اَنْ
پټه کړی	جثه	د ورور خپل	وویل (قابیل)	ای افسوسه زما راشه دغه دی وخت دی	آیا عاجزوم زه	له دی چې

پټه کړی جثه د ورور خپل (هابیل)، وویل (قابیل) ای افسوسه زما راشه دغه دی وخت دی آیا عاجزوم زه له دی چې

اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِيَ سَوْءَةَ اَخِيْ

اَكُوْنَ	مِثْلَ	هٰذَا	الْغُرَابِ	فَاُوَارِيَ	سَوْءَةَ	اَخِيْ
کیدی	په شان	د دی	کارغه	نو پټه کړی به می وه	جثه	د ورور خپل

کیدی په شان د دی کارغه (په پوهه کښې) نو پټه کړی به می وه جثه د ورور خپل

فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۛ كَتَبْنَا

فَاَصْبَحَ	مِنَ	النّٰدِمِيْنَ	مِنْ	اَجْلِ	ذٰلِكَ	كَتَبْنَا
نو وګرځید	له	پښیمانی کوونکو څخه	په	سبب	د دی (قتل)	لیکلی وو موږ

نو وګرځید (قابیل په دی قتل دهابیل سره) له پښیمانی کوونکو څخه. په سبب د دی (قتل) لیکلی وو (حکم کړی ؤ) موږ

عَلٰى بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًاۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ

عَلٰى	بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ	اَنَّهٗ	مَنْ	قَتَلَ	نَفْسًا	بِغَيْرِ	نَفْسٍ
پر	بنی اسرائیلو	چې بیشکه! شان دادی	هر څوک چې	ووژنی	یو نفس	بی له	بل نفس څخه

پر بنی اسرائیلو چې بیشکه! شان دا دی هر څوک چې ووژنی یو نفس بی له (عوض، بدل د) بل نفس څخه

www.jamairahmani.org

اَوۡ فَسَادٍ فِي الۡاَرۡضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ

اَوۡ فَسَادٍ	فِي	الۡاَرۡضِ	فَكَاَنَّمَا	قَتَلَ	النَّاسَ
(یا بی) له فساده	په	مځکه کښې	نو ګواکې	وژلی ئې دی	خلک

(یا بی) له فساده په مځکه کښې نو ګواکې وژلی ئې دی خلک

جَمِيۡعًا ؕ وَمَنۡ اَحۡيَاهَا فَكَاَنَّمَاۤ اَحۡيَا النَّاسَ

جَمِيۡعًا	وَمَنۡ	اَحۡيَاهَا	فَكَاَنَّمَا	اَحۡيَا	النَّاسَ
ټول	او هرچاچې	ژوندی کړو دغه	نو ګواکې	ژوندی کړی ئې دی	خلک

ټول، او هرچا چې ژوندی کړو دغه (یو نفس چې سبب سی د ژوندون یې) نو ګواکې ژوندی کړی ئې دی خلک

جَمِيۡعًا ؕ وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا بِالۡبَيِّنٰتِ ثُمَّ اِنَّ

جَمِيۡعًا	وَلَقَدۡ	جَآءَتۡهُمۡ	رُسُلُنَا	بِالۡبَيِّنٰتِ	ثُمَّ	اِنَّ
ټول	او خامخا په تحقیق	راغلي وو دوی ته	رسولان زموږ	په حکمونو ښکاره	بیا	په تحقیق سره

ټول، او خامخا په تحقیق راغلي وو دوی ته رسولان زموږ په حکمونو ښکاره بیا په تحقیق سره

كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ بَعۡدَ ذٰلِكَ فِي الۡاَرۡضِ لَمُسۡرِفُوۡنَ ﴿۳۲﴾

كَثِيۡرًا	مِّنۡهُمۡ	بَعۡدَ	ذٰلِكَ	فِي	الۡاَرۡضِ	لَمُسۡرِفُوۡنَ
ډیر	له دوی څخه	پس له	دی	په	مځکه کښې	خامخا مسرفان دی

ډیر له دوی څخه پس له دی (راتلو د رسولانو هم) په مځکه کښې خامخا مسرفان (له حده تیریدونکی) دی.

اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيۡنَ يُحَارِبُوۡنَ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ وَيَسۡعَوۡنَ

اِنَّمَا	جَزٰٓؤُا	الَّذِيۡنَ	يُحَارِبُوۡنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوۡلَهٗ	وَيَسۡعَوۡنَ
بیشکه! هم داخبره ده	چې جزا	د هغو کسانو	چې جنګ کوی دوی	له (دوستانو) د الله	او درسول د ده سره	او کوښښ کوی دوی

بیشکه! هم داخبره ده چې جزا د هغو کسانو چې جنګ کوی دوی له (دوستانو) د الله او درسول د ده سره او سعی کوی دوی

فِي الۡاَرۡضِ فَسَادًا اَنۡ يُّقَتَّلُوۡۤا اَوۡ يُصَلَّبُوۡۤا اَوۡ تُقَطَّعَ

فِي الۡاَرۡضِ	فَسَادًا	اَنۡ	يُّقَتَّلُوۡۤا	اَوۡ	يُصَلَّبُوۡۤا	اَوۡ	تُقَطَّعَ
په مځکه کښې	له پاره د فساد	چې	دوی ووژلی سی	یا	دی په دار کړسی	یا	دی پرې کړی سی

په مځکه کښې له پاره د فساد چې دوی ووژلی سی یا دی په دار کړسی یا دی پرې کړی سی

وَمَنۡ اَحۡيَاهَا فَكَاَنَّمَاۤ اَحۡيَا النَّاسَ... د تیر مخ پاته **قصه دلته وګورئ**: دچا قرباني چې قبوله سوه داانجلی به هغه ته ورکول کیږي ځکه چې د حضرت آدم علیه السلام دایقین وو چې دهغه چا قرباني به قبلیږي چې دچا حق وي یعني دهابیل په دغه زمانه کي د قرباني دقبلیدو دغه یوه ښکاره نښه وه چې د آسمان څخه به یو اور راتلی او قرباني به یي خوړه او کمه چې به اورونه خوړه نو دا به دنه قبلیدو علامه وه اوس داسي پیښه سوه چې دهابیل سره پسونه اوبزې وي ده یو ښایسته چاغ پسه قرباني کړی قابیل زمیندارہ سړی وو ده څه غله غنم او نور یي دقرباني دپاره پیش کړه اوس داسي و سوه چې دقانون موافق د آسمانه څخه اورراغی او دهابیل قرباني یه وخوړه او دقابیل قرباني پر خپل ځای هم داسي پاته سوه په دې باندي دقابیل قهر او غصه نوره هم راوپاریده نو دده څخه صبر ونه سو او په ښکاره ډول سره یي وخپل وروړته وویل چې نوربه دي وژنم هابیل پر ځای ددي چې قهر وکړي نو یه په نرمی سره ورته وویل چې دالله جل جلاله قانون دادی چې هغه دپرهیزګارانو عمل قبلوي.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۱۳۱)

www.jamairahmani.org

أَيۡدِيۡهِمۡ وَأَرۡجُلُهُمۡ مِّنۡ خِلَافٍ أَوۡ يُنۡفَوۡا مِنَ

أَيۡدِيۡهِمۡ	وَأَرۡجُلُهُمۡ	مِّنۡ خِلَافٍ	أَوۡ يُنۡفَوۡا	مِنَ
لاسونه دوی	او پښې د دوی	سره مخالفې	يا دې وشړلې سي	له

لاسونه د دوی او پښې د دوی سره مخالفې (ښی لاس او کيڼه پښه يا برعکس) يا دې وشړلې سي له

الۡأَرۡضِ ذٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٌ فِي الدُّنۡيَا وَلَهُمۡ فِي

الۡأَرۡضِ	ذٰلِكَ	لَهُمۡ	خِزۡيٌ	فِي	الدُّنۡيَا	وَلَهُمۡ	فِي
مځکې	دا (مذکوره جزا)	دغو (غلو) ته	رسوايي ده	په	دنيا کښې	او دغو (غلو) ته	په

مځکې دا (مذکوره جزا) دغو (غلو) ته رسوايي ده په دنيا کښې او (شته) دغو (غلو) ته په

الۡأٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا الَّذِيۡنَ تَابُوۡا مِنۡ قَبۡلِ

الۡأٰخِرَةِ	عَذَابٌ	عَظِيۡمٌ	إِلَّا	الَّذِيۡنَ	تَابُوۡا	مِنۡ قَبۡلِ
آخرت کښې	عذاب دی	ډير لوی	مګر	هغه کسان	چې توبه وباسي	پخوا له هغه څخه

آخرت کښې عذاب ډير لوی. مګر هغه کسان چې توبه وباسي پخوا له هغه څخه

أَنۡ تَقۡدِرُوۡا عَلَيۡهِمۡ فَاعۡلَمُوۡا أَنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿٣٤﴾

ع ٥ ٨ ٩

أَنۡ	تَقۡدِرُوۡا	عَلَيۡهِمۡ	فَاعۡلَمُوۡا	أَنَّ	اللّٰهَ	غَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ
چې	قادر سی (تاسی)	پر هغو باندی	نو پوه سئ په دی	چې بيشکه!	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډير رحم والا دی

چې قادر سی (تاسی) پر هغو باندی نو پوه سئ په دی چې بيشکه! الله ښه مغفرت کوونکی ډير رحم والا دی.

يٰٓأَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابۡتَغُوۡٓا إِلَيۡهِ

يٰٓأَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا	اللّٰهَ	وَابۡتَغُوۡٓا	إِلَيۡهِ
ای	هغو کسانو	چې ايمان ئې راوړی دی	وېرېږئ تاسې	له الله	او طلب کړئ!	ده ته

ای هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی وېرېږئ تاسې! له الله او طلب کړئ! ده ته

الۡوَسِيۡلَةَ وَجَاهِدُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِهٖ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿٣٥﴾

الۡوَسِيۡلَةَ	وَجَاهِدُوۡا	فِيۡ	سَبِيۡلِهٖ	لَعَلَّكُمۡ	تُفۡلِحُوۡنَ
وسيله	او جهاد وکړئ	په	لاره د ده کښې	له پاره د دی چې	په مراد ورسيږی

وسيله (په طاعت سره) او جهاد وکړئ په لاره د ده کښې له پاره د دی چې په مراد ورسيږی (خلاص شئ له عذابونو).

ذٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٌ فِي الدُّنۡيَا... دلته داخبره پېژندل ضروري ده: چي اسلامي شريعت دخاصو خاصو جرمونوځخه پرته دسزاګانو دپاره کمه خاصه اندازه نه ده مقرکړې بلکي دقاضي په اختيار کي يې ورکړې ده چي دهري زماني او هر ځای او هر چاپيريال په لحاظ سره چي څنګه او څومره سزا دجرم دمخنيوي دپاره ضروري ګڼي هغه دي جاري کړي دا هم جايزه ده چي دهر ځای او هري زماني اسلامي حکومت دشرعي قاعدو تر لحاظ ساتلو لاندي دقاضيانو په اختياراتو باندي پايبندي ولګوي او دجرمونو دسزاګانو يوه خاصه اندازه مقرر کړې ده او ددې يې پايبند کړې لکه چي په تيرو قرنونوکي داسي سويده او داوخت په ټولو ملکونو کي داطريقه رواج ده اوس پوه سی چي دکومو جرمونو کمه سزا قرآن او سنت نه ده مقررکړې بلکي دحاکمانورايي ته پرېښې ده دغه سزاګانوته دشريعت په اصطلاح کي (تعزيرات) وايي اودکوموجرمونو سزاګاني چي قرآن او سنت مقرري کړي دي هغه پردوه قسمه دي يو هغه چي دالله جَلَّ جَلَالُهٗ حق په کښي غالبه وي هغه ته حدوايي او چي دبنده حق په کښي غالبه وي دهغې سزاته قصاص وايي.
(معارف القرآن ج ٢ ې ٦ ص ١٣٦)

www.jamairahmani.org

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا

إِنَّ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	لَوْ أَنَّ	لَهُمْ	مَّا	فِي	الْأَرْضِ	جَمِيعًا
بیشکه!	هغه کسان	چې کافران سوي دي	که وي	دوي ته	هغه	چې په	مځکه کښې دي	ټول

بیشکه! هغه کسان چې کافران سوی دی که وی دوی ته هغه (اقسام اموال) چې په مځکه کښې دی ټول

وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

وَمِثْلَهُ	مَعَهُ	لِيَفْتَدُوا	بِهِ	مِنْ	عَذَابِ	يَوْمِ	الْقِيَامَةِ
او په قدر د دې نور	له دې سره شي	د پاره د دې چې فدیه ورکړي دوی	په هغه سره	له	عذابه	د ورځې	د قیامت څخه

او په قدر د دی نور (هم) له دی سره شی د پاره د دی چې ځان خلاص کړی دوی په هغه سره له عذابه د ورځې د قیامت څخه

مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيدُونَ

مَا	تُقُبِّلَ	مِنْهُمْ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ	يُرِيدُونَ
نو	قبوله به نه کړه سی	له دوی څخه	او دوی ته	عذاب	ډیر دردناک	اراده به کوی دوی

نو قبوله به نه کړه سی (دا فدیه) له دوی څخه او دوی ته عذاب ډیر دردناک. اراده به کوی (غواړی به) دوی

أَن يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنْهَا ۖ

أَنْ	يَخْرُجُوا	مِنَ	النَّارِ	وَمَا	هُمْ	بِخَارِجِينَ	مِنْهَا
چې	ووځي دوی	له	اوره	حال دا چې نه به	وي دوی	وتونکی	له هغه اوره

چې ووځی دوی له اوره (د دوزخ) حال دا چې نه به وی دوی وتونکی له هغه اوره

وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ

وَلَهُمْ	عَذَابٌ	مُّقِيمٌ	وَالسَّارِقُ	وَالسَّارِقَةُ
او دوی ته	عذاب	دائم	او غل (نارینه)	او غله (ښځه)

او دوی ته عذاب دائم. او غل (نارینه) او غله (ښځه)

فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللَّهِ ۗ

فَاقْطَعُوا	أَيْدِيَهُمَا	جَزَاءً	بِمَا	كَسَبَا	نَكَالًا	مِّنَ	اللَّهِ
نو پرې کړئ تاسی	لاسونه د دوی	د پاره د جزا	د هغه عمل	چې کړی دی دواړو	لپاره د عبرت (تنبیه)	(له جانبه)	د الله

نو پرې کړئ تاسی لاسونه د دوی (دواړو) د پاره د جزا د هغه عمل چې کړی دی دواړو د تنبیه له پاره له جانبه د الله

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا.. یعني دغلا کوونکي سړي او غلاکوونکي ښځي لاس پرې کړی: ددوی دکار په بدله کي او الله جل جلاله زورور حکمت والا دی: دلته دا خبره دفکر کولو قابله ده چي دقرآن په حکمونو کي په عام ډول سره خطاب ونارینه وو ته وي او ښځي هم په هغه کي تبعا شاملي وي لمونځ، روژه، حج، زکوة، او په ټولو احکامو کي دقرآن او سنت دغه اصول دي لیکن دغلا په سزا کي او دزنا په سزا کي یي یوازي دنارینه وو پر ذکر کولو باندي بس ونه کړی بلکي دواړه قسمونه یي جلا جلا ذکر کړل او حکم یي وفرمایي ددې وجه داده چي دا معامله دحدودو ده چي په معمولي غوندي شبه باندي ساقطیږي په دې وجه یي دښځو ذکر جلا وکی او وضاحت یي وفرمایي: دوهمه خبره چي دذکر کولو قابله ده داده چي دسرقې دلفظ لغوي معنی او شرعي تعریف څه دی؟ په قاموس کتاب کي دي چي یو سړی دبل چا مال دیوه محفوظ ځای څخه بغیر دهغه داجازت څخه واخلي دې ته سرقه یعني غلا وایي دا یې شرعي تعریف دی.
(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۱۴۹)

www.jamairahmani.org

وَ اللّٰهُ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ۝٣٨ فَمَنۡ تَابَ مِنۡۢ بَعۡدِ ظُلۡمِهٖ

وَ	اللّٰهُ	عَزِيۡزٌ	حَكِيۡمٌ	فَمَنۡ	تَابَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	ظُلۡمِهٖ
او	الله	ډیر قوی دی	ښه حکمت والا	نو هر چا چې	توبه وویسته	وروسته له	ظلم خپل

او الله ډیر قوی دی ښه حکمت والا. نو هر چا چې توبه وویسته (له بدو کارونو) وروسته له ظلم خپل

وَاَصۡلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوۡبُ عَلَيۡهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝٣٩

وَاَصۡلَحَ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	يَتُوۡبُ	عَلَيۡهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ
او اصلاح ئې کړ عمل خپل	پس بیشکه!	الله	رجوع کوی	په دی	بیشکه!	الله	ډیر مغفرت والا دی	ښه مهربان دی

او اصلاح ئې کړ عمل خپل پس بیشکه! الله رجوع کوی (په رحمت سره) په دی بیشکه! الله ډیر مغفرت والا دی ښه مهربان دی

اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ يُعَذِّبُ

اَلَمۡ	تَعۡلَمۡ	اَنَّ	اللّٰهَ	لَهٗ	مُلۡكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	يُعَذِّبُ
آیا نه	پوهیږی	چې بیشکه!	الله (خاص) دی	د ده ته	سلطنت	د آسمانونو	او د ځمکی	په عذابوی (الله)

آیا نه پوهیږی (ای محمده!) چې بیشکه! الله (خاص) دی د ده ته ملک (سلطنت) د آسمانونو او د ځمکی په عذابوی (الله)

مَنۡ يَّشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

مَنۡ	يَّشَآءُ	وَيَغۡفِرُ	لِمَنۡ	يَّشَآءُ	وَ	اللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ
هر هغه څوک	چې اراده وفرمائی	او مغفرت کوی	هر هغه چاته	چې اراده وفرمائی	او	الله	پر	هر

هر هغه څوک چې اراده وفرمائی (د عذاب ئې) او مغفرت کوی هر هغه چاته چې اراده وفرمائی او الله پر هر

شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۝٤٠ يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوۡلُ لَا يَحۡزُنۡكَ الَّذِيۡنَ

شَىۡءٍ	قَدِيۡرٌ	يٰۤاَيُّهَا	الرَّسُوۡلُ	لَا يَحۡزُنۡكَ	الَّذِيۡنَ
شی باندی	ښه قادر دی	ای	رسوله (محمده!)	په غم کښی دی نه آچوی تا	(فعل د) هغو کسانو

شي باندی ښه قادر دی. ای (زما) رسوله (محمده!) په غم کښی دی نه آچوی تا (فعل د) هغو کسانو

يُسَارِعُوۡنَ فِى الۡكُفۡرِ مِنَ الَّذِيۡنَ قَالُوۡۤا اٰمَنَّا

يُسَارِعُوۡنَ	فِى	الۡكُفۡرِ	مِنَ	الَّذِيۡنَ	قَالُوۡۤا	اٰمَنَّا
چې تلوار کوی	په	کفر کښی	له	هغو کسانو	چې ویل دوی	ایمان راوړی دی موږ

چې جلتی (ځغلی) کوی په کفر کښی له هغو کسانو چې ویل دوی ایمان راوړی دی موږ (تش)

يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوۡلُ لَا يَحۡزُنۡكَ الَّذِيۡنَ...د ذکر سوو ایتونو د نزول سبب دوې واقعې دي : کمې چې دنبي کريم ﷺ په مبارک وخت کي دمديني منورې په شا او خوا کي په اوسيدونکو يهودو قبيلو کي رامينځ ته سوي وي يوه واقعه دقتل او قصاص ده او بله واقعه دزنا اودهغې دسزاه ده : داخبره خو دهيڅ تاريخ پيژندونکي څخه پټه نه ده چي تر اسلام مخکي هر ځای او په هره طبقه کي او په هره ځمکه کي دظلم او زياتي حکومت وو قوي به کمزوری عزت مند به يي بې عزته غلام جوړوی دزوره وراو عزتمند دپاره قانون يو ډول وو او دکمزوري او بې عزته دپاره به بل ډول قانون وو لکه چي نن هم خپل ځان ته مهذب او متمدن ويونکو په ډيرو ملکونوکي دتور او سپين قانون جلا کړی دی : پر انسانيت احسان کوونکي رسول ﷺ چي راغی دافرقونه يي ورک کړل او دانسانانو دحقونو دبربری اعلان يي وکی او انسان ته يي دانسان او سړيتوب سبق ورکی او هغه په تاريکوکي ډوب قوم يي ورڼا ته راويستی اودهميش دپاره يي دعدل او انصاف سبق ورکړی.

(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ١٥٨)

www.jamairahmani.org

بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ ۚ وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۚ

بِاَفْوَاهِهِمْ	وَلَمْ تُؤْمِنْ	قُلُوْبُهُمْ	وَمِنَ	الَّذِيْنَ	هَادُوْا
په خولو خپلو	حال دا چې ایمان نهٔ راوړی	زړونو د دوی	او ځینی	له هغو کسانو	چې یهودیان دی

په خولو خپلو حال دا چې ایمان نهٔ راوړی زړونو د دوی ، او ځینی له هغو کسانو چې یهودیان دی

سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ لَمْ يَاْتُوْكَ ۭ

سَمّٰعُوْنَ	لِلْكَذِبِ	سَمّٰعُوْنَ	لِقَوْمٍ	اٰخَرِيْنَ	لَمْ يَاْتُوْكَ
ډیر اوریدونکی دی	دپاره د دروغو ویلو	ډیر اوریدونکی دی	قوم	بل ته	چې نه دی راغلی تاته

ډیر اوریدونکی دی (دخبرو ستا) دپاره د دروغو ویلو ډیر اوریدونکی دی قوم بل ته چې نه دی راغلی تاته

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوْلُوْنَ

يُحَرِّفُوْنَ	الْكَلِمَ	مِنْۢ بَعْدِ	مَوَاضِعِهٖ	يَقُوْلُوْنَ
آړوی دوی	کلمی	وروسته	له هغو ځایونو خپلو څخه	وائی دغه

آړوی دوی کلمی (دتورات) وروسته له هغو ځایونو خپلو څخه، وائی دغه (دخیبر یهودیان خپلو لیږلیو سویو ته)

اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ۭ

اِنْ	اُوْتِيْتُمْ	هٰذَا	فَخُذُوْهُ	وَاِنْ	لَّمْ تُؤْتَوْهُ	فَاحْذَرُوْا
که	درکړی سی تاسی ته	دا	نو واېې خلئ	او که	نه سو درکړی تاسی ته دا	نو ویریږئ تاسی

که درکړی سی تاسی ته دا (محرف حکم) نو واېې خلئ! (او وئی منئ) او که نه سو درکړی تاسی ته دا نو ویریږئ تاسی

وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا ۭ

وَمَنْ	يُّرِدِ	اللّٰهُ	فِتْنَتَهٗ	فَلَنْ	تَمْلِكَ	لَهٗ	مِنَ اللّٰهِ	شَيْـــًٔا
او هر هغه څوک	چې اراده وکړی	الله	دفتنی ئې	نو له سره به	مالک نسی ته	د ده لپاره	دالله نه	د هیڅ شی

او هر هغه څوک چې اراده وکړی الله دفتنی ئې نو له سره به مالک نسی ته (محمده!) د ده لپاره له الله نه د هیڅ شی،

اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ۭ لَهُمْ

اُولٰۗىِٕكَ	الَّذِيْنَ	لَمْ يُرِدِ	اللّٰهُ	اَنْ	يُّطَهِّرَ	قُلُوْبَهُمْ	لَهُمْ
دغه	همغه کسان دی	چې اراده نه ده فرمایلی	الله	ددی چې	پاک کړی	زړونه د دوی	سته دوی ته

دغه (یهودان او منافقان) همغه کسان دی چې اراده نه ده فرمایلی الله (د دی) چې پاک کړی زړونه د دوی سته دوی ته

وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۚ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ..

ومديني منورې ته دنبي كريم ﷺ تر راتلو مخكي:

دمديني منورې په اطرافو كي دوې قبيلي آبادي وي چي يوه قبيله بنو قريظه نوميده او بله بنو نضير په دوی كښې بنو نضير دقوت او شوكت او دعزت او دولت په اعتبار سره تر بنو قريضه زيات وه دې خلگو به په مخه پر بنو قريضه ظلم كوی او دوی به چار او ناچاره دغسي زغمی تر دې چي بنو نضيرو بنو قريظه پر دغه باندي مجبوره كړل چي كه دبنو نضيرو كم سړی دبنو قريضه كم سړی قتل كړي نو دده قصاص يعني دجان اخيستلو حق به دوی ته نه وي بلكي يوازي اويا (٧٠) وسقه خرماوي به دده ته دويني دقيمت په ډول ادا كول كيږي (وسق دعربي وزن يوه پيمانه ده چي زموږ دوزن په اعتبار سره پنځه منه او اوولس سيره ده) دپاكستان دمن په اعتبار سره: او كه معامله ددې برعكس وای چي دبنو قريضه يوه سړي يوه څوك دبنو نضيرو څخه مړكي نو قانون به داوي چي دغه قاتل به قتلول كيږي هم او دويني قيمت به هم ورځخه اخيستل كيده او هغه به هم دبنو نضيرو تر ويني دوه چنده : (پاته قصه پر راروان مخ كښې وګورى)

www.jamairahmani.org

فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٤١﴾

فِي	الدُّنْيَا	خِزْيٌ	وَّلَهُمْ	فِي	الْاٰخِرَةِ	عَذَابٌ	عَظِيْمٌ
په	دنیا کښی	ذلت	او ستہ دوی ته	په	آخرت کښی	عذاب	ډیر لوی

په دنیا کښی ذلت (شرمنده ګی) او ستہ دوی ته په آخرت کښی عذاب ډیر لوی.

سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ؕ فَاِنْ جَآءُوْكَ

سَمّٰعُوْنَ	لِلْكَذِبِ	اَكّٰلُوْنَ	لِلسُّحْتِ	فَاِنْ	جَآءُوْكَ
ډیر اوریدونکی دی	لہ پارہ د دروغ ویلو	ډیر خوړونکی دی	د حرامو	نو که	راغلل دوی تا ته

(دوی) ډیر اوریدونکی (جاسوسی کوونکی دی) لہ پارہ د دروغ ویلو ډیر خوړونکی دی د حرامو نو که راغلل دوی تا ته

فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَاِنْ تُعْرِضْ

فَاحْكُمْ	بَيْنَهُمْ	اَوْ	اَعْرِضْ	عَنْهُمْ	وَاِنْ	تُعْرِضْ
نو حکم وکړه	په مینځ د دوی کښی	یا	مخ وګرځوه	له دوی څخه	او که	مخ وګرځوی

نو حکم (پریکړه) وکړه په مینځ د دوی کښی یا مخ وګرځوه له دوی څخه، او که مخ وګرځوی

عَنْهُمْ فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ

عَنْهُمْ	فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ	شَيْـًٔا	وَاِنْ	حَكَمْتَ	فَاحْكُمْ
له دوی څخه	نو له سره به ضرر ونه رسوی دوی تاته	د هیڅ شی	او که	حکم دی کوی	نو حکم وکړه

له دوی څخه نو له سره به ضرر ونه رسوی دوی تاته د هیڅ شی او که حکم (پریکړه) دی کوله نو حکم (پریکړه) وکړه

بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٤٢﴾

بَيْنَهُمْ	بِالْقِسْطِ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُقْسِطِيْنَ
په مینځ د دوی کښی	په عدل سر	بیشکه!	الله	دوست ګنی	عدل کوونکی

په مینځ د دوی کښی په عدل (انصاف) سره بیشکه! الله دوست ګنی عدل کوونکی.

وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ

وَكَيْفَ	يُحَكِّمُوْنَكَ	وَعِنْدَهُمُ	التَّوْرٰىةُ	فِيْهَا	حُكْمُ
او څرنګه به	حکم وګرځوی دوی تا	حال دا چې په نزد د دوی	تورات دی	چې (سته) په هغه کښی	حکم

او څرنګه به حکم وګرځوی دوی تا (ای محمده) حال دا چې په نزد د دوی تورات دی چې (سته) په هغه کښی حکم

(د تیر مخ پاته قصه دلته وګوری) فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ او یوازي دا هم نه بلکي ددې سره دا هم وه چې که ددوی څخه به یي ښځه قتل کړې وه نو دبنو قریضه وو څخه به سړی قتل کیدی او که سړی به یي قتل سوی وای نو دوه سړي به دبنو قریضه قتلیدل او که دبنو نضیر څخه به یي غلام او مر یي قتل سوی وای نو په بدله کي به دبنو قریضه آزاد سړی قتل کیدی او که دبنو نضیرو د سړو څخه یي یو لاس پرې کړی وای نو دبنو قریضه د سړو دوه لاسونه پرې کیدل او که به یو غوږ وو نو دوه غوږونه به یي پرې کیدل دا هغه قانون وو چې تر اسلام مخکي په دې دواړو قبیلو کي رواج وو او بنو قریضه دخپلي کمزوری په وجه ددې پر منلو باندي مجبوره وه کله چې نبي کریم ﷺ هجرت وکړی او مدیني منورې ته یي تشریف راوړی او مدینه یو دارالاسلام جوړه سوه نو دادواړي قبیلي لا په اسلام کي نه وي داخلي سوي او نه هم دکمي معاهدې پر بنا داسلامي حکمونو پابنده وه خو داسلام عامي آساني یي دلیري څخه لیدلې خو آخر اسلام ددوی دا ظالمانه قانون په عادلانه قانون بدل کړی هغه ظلم او وحشت یي ختم کی.
(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۱۵۸)

www.jamairahmani.org

٦ ع ٩ ١٠

اللّٰهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ

اللّٰهِ	ثُمَّ	يَتَوَلَّوْنَ	مِنْۢ بَعْدِ	ذٰلِكَ	وَمَآ	اُولٰٓئِكَ
د الله	بيا	ګرځي دوی	پس له	هغه	او نه دي	دغه کسان له سره

د الله بيا ګرځي دوی (له هغه حکم ستا څخه) پس له هغه (چې دوی ته حکم وګرځولی) ، او نه دي دغه کسان له سره

بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٣﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى

بِالْمُؤْمِنِيْنَ	اِنَّآ	اَنْزَلْنَا	التَّوْرٰىةَ	فِيْهَا	هُدًى
باور کوونکي	بيشکه! موږ	نازل کړې مو دی	تورات	په هغه کښې	هدايت دی

باور کوونکي . بيشکه! موږ نازل کړې مو دی تورات (چې سته) په هغه کښې هدايت (لار ښوونه حق ته)

وَّنُوْرٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ

وَّنُوْرٌ	يَحْكُمُ	بِهَا	النَّبِيُّوْنَ	الَّذِيْنَ	اَسْلَمُوْا	لِلَّذِيْنَ
او رڼا	حکم به کاوه	په هغه سره	انبياؤ	هغو چې	حکم منونکي وو دوی (دالله)	هغو کسانو ته

او رڼا ، حکم به کاوه په هغه سره انبياؤ (دبنی اسرآئيلو) هغو چې حکم منونکي وو دوی (دالله) هغو کسانو ته

هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوْا

هَادُوْا	وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ	وَالْاَحْبَارُ	بِمَا	اسْتُحْفِظُوْا
چې يهوديان وو	او رباني عارفانو	او عالمانو (د دوی)	په سبب د هغه شي	چې طلب د حفاظت ئې سوی ؤ له دوی څخه

چې يهوديان وو او رباني عارفانو او عالمانو (د دوی)، په سبب د هغه شي چې طلب د حفاظت ئې سوی ؤ له دوی څخه

مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ

مِنْ كِتٰبِ	اللّٰهِ	وَكَانُوْا	عَلَيْهِ	شُهَدَآءَ	فَلَا	تَخْشَوُا	النَّاسَ
چې کتاب	دالله دی	او وو دوی	په هغه باندی	شاهدان	نو مه	ېيريږئ تاسی	له خلکو څخه

چې کتاب د الله دی او وو دوی په هغه باندی شاهدان، نو مه ېيريږئ تاسی له خلګو څخه (په اظهار او اجراء د حق کښې)

وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ وَمَنْ

وَاخْشَوْنِ	وَلَا تَشْتَرُوْا	بِاٰيٰتِيْ	ثَمَنًا	قَلِيْلًا	وَمَنْ
او ويريږئ له ما	او مه اخلئ تاسی	په آيتونو زما	قيمت	لږ	او هر چا چې

او ويريږئ له ما (په پټولو د حق کښې) او مه پيرئ (مه اخلئ) تاسی په آيتونو زما قيمت لږ، او هر چا چې

(اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ.. دذکر سوو ايتونو څخه په اولني ايت کښې الله ﷻ ارشاد فرمايي: (اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ) يعني موږ خپل کتاب تورات راليږلی دی چې په دې کې دحق طرف ته راهنمايي او يو خاص نور وو په دې کې ددې خبري طرف ته اشاره وسوه چې نن کم دتورات شريعت منسوخ کړه کيږي په دې کي دتورات کم نقصان نسته بلکي دزماني دبدليدو په سبب سره داحکامو دبدلون تر ضرورت لاندي دا سي وکړل سوه که نه وي نو تورات هم زموږ نازل کړه سوی کتاب دی په دې کي دبني اسرآئيلو دپاره اصولي هدايات هم ذکر دي او يو خاص نور هم دی چې په روحاني ډول سره ددوی پر زړونو تاثير کوي تر دې وروسته ارشاد فرمايي (يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ) يعني تورات موږ ددې دپاره نازل کړی وو چې تر څو پوري دده شريعت منسوخ نه کړل سي تر هغه وخته پوري به راتلونکي انبياء اوددوی نائبين خدايي خلګ او عالمان ټول ددې تورات موافق فيصلي کوي.

(معارف القرآن ج٢ پ٦ ص ١٧٧)

www.jamairahmani.org

لَّمۡ يَحۡكُمۡ بِمَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا

لَّمۡ يَحۡكُمۡ	بِمَآ	اَنۡزَلَ	اللّٰهُ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الۡكٰفِرُوۡنَ	وَكَتَبۡنَا
ونه کړ حکم	په هغه شی	چی نازل کړی دی	الله	نو دغه کسان	هم دوی دی	کافران	او ليکلی وو موږ

ونه کړ حکم په هغه شی چی نازل کړی دی الله نو دغه کسان هم دوی دی کافران او ليکلی (فرض کړی) وو موږ

عَلَيۡهِمۡ فِيۡهَآ اَنَّ النَّفۡسَ بِالنَّفۡسِ وَالۡعَيۡنَ

عَلَيۡهِمۡ	فِيۡهَآ	اَنَّ	النَّفۡسَ	بِالنَّفۡسِ	وَالۡعَيۡنَ
پر دغو (يهودانو)	په دی (تورات) کښی	چی بيشکه!	نفس دی ووژلی سی	(په بدل دبل) نفس کښی	او سترګه دی

پر دغو (يهودانو) په دی (تورات) کښی چی بيشکه! نفس دی ووژلی سی (په بدل دبل) نفس کښی او سترګه دی

بِالۡعَيۡنِ وَالۡاَنۡفَ بِالۡاَنۡفِ وَالۡاُذُنَ

بِالۡعَيۡنِ	وَالۡاَنۡفَ	بِالۡاَنۡفِ	وَالۡاُذُنَ
په (بدل دبلی) سترګی	او پوزه دی	په (بدل دبلی) پوزی	او غوږ دی

(ړنده سی) په (بدل دبلی) سترګی او پوزه دی (پريکړه سی) په (بدل دبلی) پوزی او غوږ دی (پريکړی سی)

بِالۡاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالۡجُرُوۡحَ قِصَاصٌ

بِالۡاُذُنِ	وَالسِّنَّ	بِالسِّنِّ	وَالۡجُرُوۡحَ	قِصَاصٌ
په (بدل د بل) غوږ	او غاښ دی	په (بدل دبل) غاښ کښی	او زخمونه	قصاص (بدل) دی برابر

په (بدل د بل) غوږ او غاښ دی (وويستلی سی) په (بدل دبل) غاښ کښی او پرهارونه قصاص (بدل) د ی برابر،

فَمَنۡ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَمَنۡ لَّمۡ يَحۡكُمۡ بِمَآ

فَمَنۡ	تَصَدَّقَ	بِهٖ	فَهُوَ	كَفَّارَةٌ	لَّهٗ	وَمَنۡ	لَّمۡ يَحۡكُمۡ	بِمَآ
نو هر چا چی	عفوه وکړه	د دی قصاص	نو دغه عفوه	کفاره دده	ده ته	او هر چا چی	ونه کړ حکم	په هغه شی

نو هر چا چی عفوه وکړه د دی قصاص نو دغه عفوه کفاره ده ده ته، او هرچا چی ونه کړ حکم په هغه شی

اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿٤٥﴾ وَقَفَّيۡنَا عَلٰٓی اٰثَارِهِمۡ

اَنۡزَلَ	اللّٰهُ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الظّٰلِمُوۡنَ	وَقَفَّيۡنَا	عَلٰٓی اٰثَارِهِمۡ
چی نازل کړی دی	الله	نو دغه کسان	هم دوی دی	ظالمان	او وليږه موږ	پر پلو د دوی - وروسته له دغو انبياؤ

چی نازل کړی دی الله نو دغه کسان هم دوی دی ظالمان. او وليږه موږ پر پلو د دوی وروسته له دغو انبياؤ

وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيۡهَآ اَنَّ النَّفۡسَ.. دقصاص

داحکامو بيان: الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرمايي چي موږ دااحکام په تورات کي نازل کړي دي ارشاد فرمايي (وكتبنا عليهم فيها انّ النفس بالنفس) يعني موږ يهودوته او ددوی دپاره په تورات کي دقصاص دا حکم نازل کړی ووچي دنفس په بدله کي نفس دسترګي په بدله کي سترګه دپزي په بدله کي پزه دغوږ په بدله کي غوږ دغاښ په بدله کي غاښ او دخاص زخمونوبيا بدله ده : دبنوقريظه او بنو نضير کمه دعوه چي نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته پيش سوې وه چي بنو نضيرو دخپل قوت او شوکت په وجه بنوقريضه دې ته مجبور کړي وه چي که دبنونضيرو کم سړی ددوی ديوه سړي دلاسه قتل سي نوقصاص به يي هم دنفس په بدله کي نفس اخيستل کيږي او پر دې سربيره ديت به هم اخيستل کيږي او که معامله برعکس وسي چي دبنونضيرو دسړي دلاسه دبنو قريضه سړی مړسي نو قصاص به نه وي يوازي ديت به اخيستل وي او هغه به هم دبنو نضيرو په نيمايي باندي وي په دغه آيت کي الله جَلَّ جَلَالُهٗ ددوی دغلا څخه پرده پورته کړه چي په تورات کي هم د قصاص اوديت دبرابري احکام موجود وه.
(معارف القرآن ج ٢ پ ٦ ص ١٧٩)

www.jamairahmani.org

بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ

بِعِيْسَى	ابْنِ	مَرْيَمَ	مُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ	يَدَيْهِ	مِنَ	التَّوْرٰىةِ
عيسٰی	زوی	د مریمی	حال داچې باورکوونکی ؤ	دهغه کتاب	چې پخوا	له‌ده‌ؤ	له	تورات

عیسٰی زوی د مریمی حال داچې مصدق (رښتیا کوونکی) ؤ دهغه کتاب چې پخوا له‌ده‌ؤ له تورات

وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ وَّمُصَدِّقًا

وَاٰتَيْنٰهُ	الْاِنْجِيْلَ	فِيْهِ	هُدًى	وَّنُوْرٌ	وَّمُصَدِّقًا
او ورکړې ؤ موږ ده ته	انجیل	(حال دا) چې په هغه کښې	هدایت ؤ	او رڼا وه	او داچې تصدیق کوونکی ؤ

او ورکړې ؤ موږ ده (عیسٰی) ته انجیل (حال دا) چې په هغه کښې هدایت ؤ (حق ته) او نور وه او حال داچې مصدق ؤ

لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٦﴾

لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ	مِنَ	التَّوْرٰىةِ	وَهُدًى	وَّمَوْعِظَةً	لِّلْمُتَّقِيْنَ
دهغه کتاب	چې پخوا له‌ده‌ؤ	له	تورات	او هدایت ؤ	او موعظه (پند) ؤ	دپاره د پرهیزګارانو

د هغه کتاب چې پخواؤ د ده له تورات او هدایت (لاربوونکی) ؤ او موعظه (پند) ؤ د پاره د پرهیزګارانو.

وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ

وَلْيَحْكُمْ	اَهْلُ	الْاِنْجِيْلِ	بِمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ	فِيْهِ
او حکم دی وکړی	اهل	د انجیل	په هغه شی چې	نازل کړی دی	الله	په هغه کښې

او (فرمایلی ؤ الله) حکم دی وکړی اهل (عالمان) د انجیل په هغه شی چې نازل کړی دی الله په هغه (انجیل) کښې

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾

وَمَنْ	لَّمْ يَحْكُمْ	بِمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْفٰسِقُوْنَ
او هرچا چې	ونه کړ حکم	په هغه شی	چې نازل کړی دی	الله	نو دغه کسان	هم دوی دی	فاسقان

او هرچا چې ونه کړ حکم په هغه شی چې نازل کړی دی الله نو دغه کسان هم دوی دی فاسقان.

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

وَاَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ	مُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ
او نازل کړی دی موږ	تاته	کتاب (قرآن)	په حقه سره	چې باورکوونکی دی	دهغه چې	په مخ د ده کښې

او نازل کړی دی موږ تاته (ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره چې مصدق (حق ګڼونکی) دی دهغه چې په مخ د ده کښې

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ... په دغه ایت کي الله جَلَّ جَلَالُهُ نبي کریم ﷺ ته خطاب کوي : چې موږ پرتاباندي قرآن نازل کړی دی چې تر ځان دمخکي کتابونو تورات او انجیل تصدیق هم کوي او ددوی محافظ هم دی ځکه چې کله تورات والاوو په تورات کي او انجیل والاوو په انجیل کي تحریف (ادلون اوبدلون) وکی نو قرآن کریم دهغو محافظ او نګران ثابت سو چې ددوی دتحریفاتو پرده یي څیري کړه حق او حقیقت یي ښکاره کی او دتورات او انجیل اصلي تعلیمات نن هم دقرآن په ذریعه په دنیا کي باقي دی که څه هم چې په خپله دتورات وارثانو او دده پیروي کوونکو مدعیانو ددې شکل داسي خراب کړی دی چې دحق اوباطل جلا کول ناممکن سوي دي او په آخر کي یي نبي کریم ﷺ ته هغه حکم ورکړی کم چې دتورات والاو انجیل والاوو ته ورکړل سوی وو چې ستاسي احکام او فیصلې تولي دالله جَلَّ جَلَالُهُ دنازل کړو احکامو موافق کیدل پکاردي او داخلګ چې په تا باندي دخپلو خواهشاتو فیصلې کول غواړي ددوی دمکر څخه خبرداره اوسه.
(معارف القرآن ج۲پ۶ص ۱۸۰)

www.jamairahmani.org

مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ

مِنَ	الْكِتٰبِ	وَمُهَيْمِنًا	عَلَيْهِ	فَاحْكُمْ	بَيْنَهُمْ
له	كتابونو څخه	او ساتونكى دى	پر هغه	نو حكم كوه	په مينځ د دغو (كتابيانو)

له كتابونو څخه او ساتونكى دى پر (مضامينو د) هغه. نو حكم كوه (اى محمده) په مينځ د دغو (كتابيانو)

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ

بِمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ	وَلَا تَتَّبِعْ	اَهْوَآءَهُمْ	عَمَّا	جَآءَكَ
په هغه شى	چې ليږلى دى	الله	او مه كوه متابعت	د آرزوګانو د دوى	له هغه شى څخه	چې راغلى دى تاته

په هغه شى چې ليږلى دى الله (تاته)، او مه كوه متابعت د آرزوګانو د دوى (او مه اوړه) له هغه شى څخه چې راغلى دى تاته

مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا وَلَوْ شَآءَ

مِنَ	الْحَقِّ	لِكُلٍّ	جَعَلْنَا	مِنْكُمْ	شِرْعَةً	وَّمِنْهَاجًا	وَلَوْ	شَآءَ
له	حق څخه	هر چا ته	مقرر كړې موږ	له تاسې	يو شريعت	او لار روښانه	او كه	اراده فرمايلې وى

له حق څخه، هر چاته مقرر كړې موږ له تاسې يو شريعت (اصول) او لاره روښانه او كه اراده فرمايلې وى

اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ

اللّٰهُ	لَجَعَلَكُمْ	اُمَّةً	وَّاحِدَةً	وَّلٰكِنْ	لِّيَبْلُوَكُمْ	فِيْ مَآ
الله	خامخا به ئې ګرځولي وئ تاسې	امت	يو	او مګر ځكه چې	وازمويي تاسې	په هغه كښې

الله نو خامخا به ئې ګرځولي وئ تاسې امت يو او مګر ځكه چې وازمويي تاسې په هغه كښې

اٰتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ

اٰتٰىكُمْ	فَاسْتَبِقُوا	الْخَيْرٰتِ	اِلَى	اللّٰهِ	مَرْجِعُكُمْ
چې تاسې ته ئې دركړې دى	پس وړاندى سئ تاسې يو تر بله	نيكيو ته	طرف د	الله ته	بيرته ورتله دى ستاسې

چې تاسې ته ئې دركړې دى پس وړاندى سئ تاسې يو تر بله نيكيو ته، (خاص) طرف د الله ته بيرته ورتله دى ستاسې د ټولو

جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۝٤٨

جَمِيْعًا	فَيُنَبِّئُكُمْ	بِمَا	كُنْتُمْ	فِيْهِ	تَخْتَلِفُوْنَ
د ټولو	نو خبر به كړي تاسې	په هغه چې	وئ تاسې	چې په هغه كښې	به مو اختلاف كاوه

نو خبر به كړي تاسې (په قيامت كښې) په هغه چې وئ تاسې چې په هغه كښې به مو اختلاف كاوه.

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا.....

موږ هرې طبقې د پاره يو خاص شريعت او يوه خاصه طريقه د عمل جوړه كړېده: چې په دې كې سره ددې چې اصول (يعني بنيادونه) شريك او متفق يعني د ټولو دا يو دول دي البتّه فروعي احكام يې د مصلحت په وجه مختلف دي او كه الله ﷻ غوښتلاى نو هغه ته هيڅ ګرانه نه وه چې تاسي ټول يې يو امت او يو ملت جوړ كړي واى د ټولو يو كتاب او يو شريعت واى ليكن الله ﷻ دا ځكه خوښه نه كړه چې خلګ وازمايي چې كم خلګ دي چې د عبادت د حقيقت څخه ځان خبروي او هر وخت حكم منلو ته غاړې ايږدي چې كم حكم ورته ورسيږي د هغه تعميل كوي چې كم نوى كتاب يا نوى شريعت راځي د هغه تابعداري كوي او مخكنى كتاب او شريعت كه يې هر څومره خوښ وي او د پلار او نيكه د مذهب په وجه كه د دې پاته كول كه د ده ته هر څومره ګران وي خو بيا هم هر وخت يې غوږ ايښى وي د حكم منلو ته تياروي او څوک بيا هغه دي چې ددې حقيقت څخه يې ځان غافله كړى وي د الله ﷻ حكم ته غاړې نه ايږدي.

(معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ١٨١)

www.jamairahmani.org

وَاَنِ احۡكُمۡ بَيۡنَهُمۡ بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ

وَاَنِ	احۡكُمۡ	بَيۡنَهُمۡ	بِمَاۤ	اَنۡزَلَ	اللّٰهُ	وَلَا تَتَّبِعۡ	اَهۡوَآءَهُمۡ
او چي	حکم کوه	په مينځ د دوی کښې	په هغه شي	چي نازل کړی دی	الله	او مه کوه متابعت	د آرزوګانو د دوی

او چي حکم کوه ! په مينځ د دوی کښې په هغه شي چي نازل کړی دی الله او مه کوه متابعت د آرزوګانو د دوی

وَاحۡذَرۡهُمۡ اَنۡ يَّفۡتِنُوۡكَ عَنۡۢ بَعۡضِ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ

وَاحۡذَرۡهُمۡ	اَنۡ	يَّفۡتِنُوۡكَ	عَنۡۢ	بَعۡضِ	مَاۤ	اَنۡزَلَ	اللّٰهُ
او بيره کوه! له دوی څخه	چي	وا (نه)ړوی تا	له	ځيني	هغه شي څخه	چي نازل کړی دی	الله

او بيره کوه! (ځان ساته) له دوی څخه چي وا (نه) ړوی تا له ځيني هغه شي څخه چي نازل کړی دی الله

اِلَيۡكَ‌ؕ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاعۡلَمۡ اَنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ

اِلَيۡكَ	فَاِنۡ	تَوَلَّوۡا	فَاعۡلَمۡ	اَنَّمَا	يُرِيۡدُ	اللّٰهُ	اَنۡ
تاته (ای محمده!)	نو که	وګرځيدل دوی	پس پوه سه	چي بيشکه! هم داخبره ده	چي اراده لري	الله	چي

تاته (ای محمده!) نو که وګرځيدل دوی پس پوه سه (ته ای محمده!) چي بيشکه! هم داخبره ده چي اراده لري الله چي

يُّصِيۡبَهُمۡ بِبَعۡضِ ذُنُوۡبِهِمۡ‌ؕ وَاِنَّ كَثِيۡرًا مِّنَ النَّاسِ

يُّصِيۡبَهُمۡ	بِبَعۡضِ	ذُنُوۡبِهِمۡ	وَاِنَّ	كَثِيۡرًا	مِّنَ	النَّاسِ
ورسوی دوی ته	په سبب د ځينو	ګناهونو د دوی	او بيشکه!	چي ډير	له	خلګو څخه

ورسوی دوی ته په سبب د ځينو ګناهونو د دوی، او بيشکه! چي ډير له خلګو څخه

لَفٰسِقُوۡنَ ﴿۴۹﴾ اَفَحُكۡمَ الۡجَاهِلِيَّةِ يَبۡغُوۡنَ‌ؕ وَمَنۡ اَحۡسَنُ

لَفٰسِقُوۡنَ	اَفَحُكۡمَ	الۡجَاهِلِيَّةِ	يَبۡغُوۡنَ	وَمَنۡ	اَحۡسَنُ
خامخا فاسقان دی	آيا پس حکم	د جاهليت	غواړی دوی	او څوک	ډير ښه دی

خامخا فاسقان دی . آيا پس حکم د جاهليت غواړی دوی ؟ او څوک ډير ښه دی

مِنَ اللّٰهِ حُكۡمًا لِّقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ﴿۵۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

مِنَ	اللّٰهِ	حُكۡمًا	لِّقَوۡمٍ	يُّوۡقِنُوۡنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ
له	الله څخه	له جهته د حکم	هغه قوم ته	چي يقين لری	ای	هغو کسانو

له الله څخه له جهته د حکم هغه قوم ته چي يقين لری (په الله يعني هيڅوک نه دی). ای هغو کسانو

وَلَا تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ وَاحۡذَرۡهُمۡ لنډ تفسير:

خطاب نبي کريم ﷺ ته دی چي ددې اهل کتابو دخپل مينځ په معاملو کي کله چي يي ستاسي مجلس ته راوړي ددغه ليږل سوي کتاب موافق فيصله کوه او ددوی د شريعت څخه خلاف په خواهشاتو او فرمايشاتو باندي آينده هم عمل مه کوه لکه تر اوسه پوري چي دي نه دی کړی او ددوی څخه يعني ددوی ددې خبري څخه آينده هم دتير په شان احتياط کوه چي دوی تا دخدای ﷻ دليږل سوي يوه حکم څخه بل طرف ته نه کړي که څه هم چي ددې خو هيڅ احتمال نسته مګر دځان د ساتلو قصد کول هم ثواب دی بيا هم که سره دواضح کيدو دقرآن اودده دفيصلې حق ثابتيدو هم که دا خلګ دقرآن څخه او ستا دفيصلې څخه چي موافقه دقرآن ده ډډه کوله نو دا يقين وکړی چي بس خدای ﷻ ته منظوره ده چي ددوی دځيني جرمونو په وجه په دنيا کي دوی ته سزا ورکړي او دغه ځيني جرم فيصله نه منل دي او دقرآن دحق والي نه منلو سزا به پوره په آخرت کي ورکول کيږي.

(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۱۷۷)

www.jamairahmani.org

اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ ۘ

اٰمَنُوْا	لَا تَتَّخِذُوا	الْيَهُوْدَ	وَالنَّصٰرٰٓى	اَوْلِيَآءَ
چې ایمان ئې راوړی دی	مه نیسئ تاسی	یهودیان	او نصرانیان	دوستان!

چې ایمان ئې راوړی دی مه نیسئ تاسی یهودیان او نصرانیان دوستان!

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ

بَعْضُهُمْ	اَوْلِيَآءُ	بَعْضٍ	وَمَنْ	يَّتَوَلَّهُمْ	مِّنْكُمْ	فَاِنَّهٗ
ځینې د دوی	دوستان دی	د ځینو نورو	او هر چا چې	دوستي وکړه له دوی سره	له تاسی ځنې	نو بیشکه! چې دی له

(دوی یو تر بله) ځینې د دوی دوستان دی د ځینو نورو او هر چا چې دوستي وکړه له دوی سره له تاسی ځنې نو بیشکه! چې دی له

مِنْهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۵۱

مِنْهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ	الظّٰلِمِيْنَ
هم دوی ځنې دی	بیشکه!	الله	هدایت نه کوی	قوم	د ظالمانو ته

هم دوی ځنې دی، بیشکه! الله هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته (چې ظلم کوی په ځانونو خپلو په دوستی کولو دکفارو سره)

فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ

فَتَرَى	الَّذِيْنَ	فِيْ	قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ	يُّسَارِعُوْنَ	فِيْهِمْ
نو وبه وینې ته	هغه کسان چې	په	زړونو د دوی کښې	مرض دی	چې ځغلی به	په دوی کښې

نو وبه وینې ته هغه کسان چې په زړونو د دوی کښې مرض (رنځ د نفاق) دی چې ځغلی به په (دوستی د) دوی کښې

يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰٓى اَنْ تُصِيْبَنَا دَاۗىِٕرَةٌ ۭ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ

يَقُوْلُوْنَ	نَخْشٰٓى	اَنْ	تُصِيْبَنَا	دَاۗىِٕرَةٌ	فَعَسَى	اللّٰهُ	اَنْ
وائی به دوی	بیریږو له دی څخه	چې	وبه رسیږی موږ ته	کومه حادثه	نو نژدی ده	چې الله	به

وائی به دوی بیریږو له دی څخه چې وبه رسیږی موږ ته کومه حادثه، نو نژدی ده چې الله به

يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰي مَآ

يَّاْتِيَ	بِالْفَتْحِ	اَوْ	اَمْرٍ	مِّنْ	عِنْدِهٖ	فَيُصْبِحُوْا	عَلٰي	مَآ
راتله وکړی	په بری	یا	یو حکم	له	خپل جانبه	نو وبه ګرځی دوی	په	هغه شی چې

راتله وکړی په بری یا (به راوړی بل) یو حکم له خپل جانبه نو وبه ګرځی دوی په هغه شی چې

لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ. په اولني ایت کي دا ښوول سوې ده : بلکي مسلمانانو ته دا حکم سوی دی چي دوی دي دیهودو او نصاراوو سره موالات (یعني ژوره دوستي) نه کوي لکه دعامو غیرمسلمو او یهودو او نصاراوو په خپله دا قانون دی چي دوی ژوره دوستي یوازي دخپل قوم سره ساتي دمسلمانانو سره دا معامله نه کوي.

شان نزول : امام ابن جریر رحمة الله علیه روایت کوي چي دا آیت په یوه خاصه واقعه کي نازل سوی دی هغه دا چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم کله چي په مدینه منوره کي تشریف فرما سونو دمدینې داطرافو دیهودو او نصاراوو سره یې دا فیصله وکړه چي دوی به دمسلمانانو سره نه په خپله جنګ کوي او نه به دجنګ کوونکي قوم کومکیان جوړیږي بلکي دمسلمانانو سره به یو ځای کیږي او دهغوی مقابله به کوي دغه ډول به مسلمانان نه ددوی سره جنګ کوي او نه به ددوی خلاف دیو بل قوم سره کومک کوي بلکي دمخالف سره به مقابله کوي یو څه موده دامعاهده ددواړو طرفو څخه قایمه وه (پاته قصه پر راروان مخ وګوری)

www.jamairahmani.org

اَسَرُّوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ ﴿٥٢﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ

اَسَرُّوْا	فِيْٓ	اَنْفُسِهِمْ	نٰدِمِيْنَ	وَيَقُوْلُ	الَّذِيْنَ
پټ کړی دی دوی	په	نفسونو خپلو کښې	پښیمانه	او وائی به	هغه کسان

پټ کړی دی دوی په نفسونو خپلو کښې پښیمانه. او وائی به هغه کسان

اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ

اٰمَنُوْٓا	اَهٰٓؤُلَآءِ	الَّذِيْنَ	اَقْسَمُوْا	بِاللّٰهِ	جَهْدَ
چې مؤمنان دی	آیا دا	هغه کسان دی	چې قسمونه کول دوی	په الله	سخت

چې مؤمنان دی آیا دا هغه کسان دی چې قسمونه کول دوی په الله سخت

اَيْمَانِهِمْ اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا

اَيْمَانِهِمْ	اِنَّهُمْ	لَمَعَكُمْ	حَبِطَتْ	اَعْمَالُهُمْ	فَاَصْبَحُوْا
قسمونه خپل	چې بیشکه! دوی	خامخا له تاسی سره دی	باطل سول	عملونه د دوی	نو وګرځیدل دوی

قسمونه خپل چې بیشکه! دوی خامخا له تاسی سره دی (نو فرمائی الله) باطل سول عملونه د دوی نو وګرځیدل دوی

خٰسِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ

خٰسِرِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مَنْ	يَّرْتَدَّ	مِنْكُمْ
زیانکاران	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئې راوړی دی	هر څوک چې	مرتد سو	له تاسی څخه

زیانکاران. ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی هر څوک چې مرتد سو (وګرځید) له تاسی څخه

عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗٓ

عَنْ	دِيْنِهٖ	فَسَوْفَ	يَاْتِي	اللّٰهُ	بِقَوْمٍ	يُّحِبُّهُمْ	وَيُحِبُّوْنَهٗٓ
له	دینه خپل څخه	نو ژر به	راولی	الله	داسی یو قوم	چې محبت کوی له هغو سره	او محبت کوی دوی له الله سره

له دین خپل څخه نو عنقریب به راولی الله داسی یو قوم چې محبت کوی (الله) له هغوی سره او محبت کوی دوی له الله سره

اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ يُجَاهِدُوْنَ

اَذِلَّةٍ	عَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	اَعِزَّةٍ	عَلَى	الْكٰفِرِيْنَ	يُجَاهِدُوْنَ
متواضع او مهربان به وی	پر	مؤمنانو	غالب زبردست به وی	پر	کافرانو باندی	جهاد به کوی دوی

متواضع او مهربان به وی پر مؤمنانو غالب زبردست به وی پر کافرانو باندی جهاد به کوی دوی

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ (د تیرمخ پاته قصه دلته وګوری)

لیکن یهودیان دخپل سازش خويي او اسلام دښمنی په وجه پر دي معاهده زیات قایم نه سوه پاته او دمسلمانانو خلاف يي دمکې دمشرکینو سره سازش وکړی دوی ته يي خپلي قلعي ته درابللو دپاره خط ولیکی نبي کریم ﷺ ته چي کله دا سازش معلوم سو نو ده ﷺ ددوی دمقابلي دپاره دمجاهدینو يوه دلګی ولیږله دبنو قريظه دي یهودیانوخو يوه طرف ته دمکې دمشرکینو سره دا سازش کوی او بل طرف ته په مسلمانانو کي ننوتلي وه او دډيرو مسلمانانو سره يه ددوستی معاهدې کړي وي او دغه ډول به يي دمسلمانانو خلاف دمشرکینو دپاره دجارسوسی کار کوی په دي وجه دا ذکر سوی ایت را نازل سو چي نور دي مسلمانان ديهودو او نصاراوو ددوستی څخه منع سي ددې دپاره چي دمسلمانانو دخاصو خبرونو درک دوی ته معلوم نه سي نو هغه وو چي صحابه کرامو رضی الله عنهم نور په ډاګه ددوی سره خپلې دوستی او روابط ختم کړل او ددې اعلان يي وکی.

(معارف القرآن ج ۲ پ ۶ ص ۱۸۸)

الثلثة

www.jamairahmani.org

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ

فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	وَلَا يَخَافُوْنَ	لَوْمَةَ لَآئِمٍ	ذٰلِكَ	فَضْلُ
په	لاره	دالله	او نه به بيريږی دوی	له ملامتياد هيڅ ملامت کوونکی	دا (مذکوره صفات)	فضل

په لاره د الله کښې او نه به بيريږی دوی له ملامتيا د هيڅ ملامت کوونکی ، دا (مذکوره صفات) فضل

اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾ اِنَّمَا

اللّٰهِ	يُؤْتِيْهِ	مَنْ	يَّشَآءُ	وَاللّٰهُ	وَاسِعٌ	عَلِيْمٌ	اِنَّمَا
دالله دی	ورکوی ئی	هغه چاته	چې اراده وکړی	او الله	فراخ دی رحمت د ده	ښه عالم دی	بيشکه! هم دا خبره ده

د الله دی ورکوی ئی هغه چاته چې اراده وکړی او الله فراخ دی رحمت او فضل د ده ښه عالم دی. بيشکه! هم دا خبره ده

وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ

وَلِيُّكُمُ	اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	الَّذِيْنَ
چې دوست ستاسی	خاص الله	او رسول د ده دی	او هغه کسان دی	چې مؤمنان دی	هغه کسان دی

چې دوست ستاسی (خاص) الله او رسول د ده دی او هغه کسان دی چې مؤمنان دی هغه کسان دی

يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿٥٥﴾

يُقِيْمُوْنَ	الصَّلٰوةَ	وَيُؤْتُوْنَ	الزَّكٰوةَ	وَهُمْ	رٰكِعُوْنَ
چې قائموی	لمونځ	او ورکوی	زکوة	او هم دوی	رکوع کوونکی دی

چې قائموی (سم اداء کوی) لمونځ او ورکوی زکوة او هم دوی رکوع (عاجزی) کوونکی دی .

وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ

وَمَنْ	يَّتَوَلَّ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	فَاِنَّ
او هر څوک چې	دوستی کوی	له الله سره	او له رسول د ده سره	او له هغو کسانو سره	چې مؤمنان دی	نو بيشکه! چې

او هر څوک چې دوستی کوی له الله سره او له رسول د ده سره او له هغو کسانو سره چې مؤمنان دی نو بيشکه! چې

ع ۸/۱۲

حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٥٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

حِزْبَ	اللّٰهِ	هُمُ	الْغٰلِبُوْنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
ډله	دالله	هم دوی دی	غالبان (برلاسي)	ای	هغو کسانو	چې ايمان ئی راوړی دی

ډله د الله هم دوی دی غالبان (برلاسي). ای هغو کسانو چې ايمان ئی راوړی دی

وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ... دلته الله ﷻ د صحابه کرامو ﷺ يو صفت دا بيان کړی دی: چې دوی د دين د قايم ساتلو او د حق د کلمې د لوړولو په کوشش کې د کمې ملامتی پرواه نه کوي چې فکر وکړل سي نو معلومه به سي چې ديوه تحريک د چلوونکي په لاره کښې دوه قسمه شيان حايل کيږي اول د مخالفت قوت او زور دوهم د خپلو طعن او ملامتيا او په تجربه سره معلومه سويده چې کم خلگ د تحريک د چلولو دپاره قصد وکړي او پورته سي او په اکثرو حالاتو کي د مخالف قوت څخه خو نه مغلوبه کيږي د قيد زخم ،بند ،او ويني هر څه تکليف برداشت کوي ليکن د خپلو د طعن ملامتيا او بدوردو ويلو څخه د لويو لويو قصد لرونکو په قدمونو کي هم خطراځي نو شايد په دې وجه الله ﷻ په دې ځاى کي د دې د اهميت د زياتولو د پاره پر دې باندي بس والی و کړی چي دا خلگ د چا د ملامت کولو پرواه نه ساتي او خپل جهاد او مجاهده دواړه د الله ﷻ په لار کي او د الله ﷻ د رضا د پاره په پوره عزم او همت سره ساتي.
(معارف القرآن ج۲ پ ۶ ص ۱۹۲)

www.jamairahmani.org

لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ

لَا تَتَّخِذُوْا	الَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا	دِيْنَكُمْ	هُزُوًا	وَّلَعِبًا	مِّنَ
مه نيسئ	هغه كسان	چي نيولې دى دوى	دين ستاسې	مسخره	او لوبې	له

مه نيسئ! هغه كسان چي نيولې دى دوى دين ستاسې مسخره او لوبې له

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ

الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	وَالْكُفَّارَ
هغو كسانو څخه	چي وركړې سوى دى دوى ته	كتاب	پخوا له تاسې څخه	او (مه نيسئ) كافران

هغو كسانو څخه چي وركړې سوى دى دوى ته كتاب پخوا له تاسې څخه او (مه نيسئ) كافران

اَوْلِيَآءَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِذَا

اَوْلِيَآءَ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنْ	كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ	وَاِذَا
دوستان	او ويريږئ	له الله څخه	كه	يئ تاسې	مؤمنان	او كله چي

دوستان او ويريږئ له الله څخه (په ترك د دوستى د كفارو كښې) كه يئ تاسې مؤمنان (په ربنتيا سره). او كله چي

نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ۭ ذٰلِكَ

نَادَيْتُمْ	اِلَى الصَّلٰوةِ	اتَّخَذُوْهَا	هُزُوًا	وَّلَعِبًا	ذٰلِكَ
بړغ كوئ تاسې	لمانځه ته	نو نيسي دوى هغه	مسخرى	او لوبې	دا (مسخرى)

بړغ كوئ تاسې (او خلك رابولئ) لمانځه ته (يعنى اذان كوئ!) نو نيسي دوى هغه (لمونځ يا اذان) مسخرى او لوبې دا

بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

بِاَنَّهُمْ	قَوْمٌ	لَّا يَعْقِلُوْنَ	قُلْ	يٰٓاَهْلَ	الْكِتٰبِ
په سبب د دې چي بيشكه! دوى	يو قوم دى	چي هيڅ عقل نه لرى	وو ايه	چي اى اهل	دكتاب

مسخرى په سبب د دې چي بيشكه! دوى يو قوم دى چي هيڅ عقل نه لرى. وو ايه (اى محمده!) چي اى اهل د كتاب !

هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا

هَلْ تَنْقِمُوْنَ	مِنَّآ	اِلَّآ	اَنْ	اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ	وَمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْنَا
آيا عيب گڼئ تاسې	له موږه	مگر	په دې سبب چي	ايمان راوړى دى موږ	پر الله	او پر هغه كتاب	چي نازل سوى دى	موږ ته

آيا عيب گڼئ تاسې له موږه مگر په دې سبب چي ايمان راوړى دى موږ پر الله او پر هغه كتاب چي ليږلى سوى دى موږ ته

وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ.... كم كسان چي دتيرو ذكر سوو اياتونو په حكمونو عمل وكړي: او دغير مسلمو دژوري دوستى څخه ځان وساتي او يوازي الله ﷻ او دهغه درسول ﷺ او ايمانداران خپل دوستان وګرځوي نو فتح نصرت او پردنيا باندي دغالبه راتلو زيرى دوى ته وركړه سوى دى او فرمايي چي (ومن يتولّ الله ورسوله والذين آمنوا فأنّ حزب الله هم الغلبون) او دتاريخ او سيرت واقعاتو داثابته كړه او هر دسترګو خاوند هم وليدل چي صحابه كرامو رضي الله عنهم پر دغه اياتو باندي عمل وكړى نو پر ټولو باندي غالبه سول كم طاقت چي ددوى سره ټكروهى هغه ذره ذره سوداولني خليفه حضرت صديق اكبر رضي الله عنه په مقابله كي دملك دننه فتنې اوبغاوتونه راپورته سول نو الله ﷻ دى پر ټولو باندي غالبه كې دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه په مقابله كي ددنيا لوى لوى طاقتونه قيصر او كسرى راغلل نو الله ﷻ دهغوى نوم او نښان ورك كې او بيا تر ده وروسته خلفاء او مسلمانانو چي دااياتونه عملي كړه نو هميشه برى او فتح ددوى په نصيب وو : يا الله موږ ته هم پر دغه آياتو باندي دعمل كولو توفيق رانصيب كړې .
(معارف القرآن ج٢ پ٦ ص١٩٧)

www.jamairahmani.org

وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ قُلْ هَلْ

وَمَآ اُنْزِلَ	مِنْ قَبْلُ	وَاَنَّ	اَكْثَرَ	كُمْ	فٰسِقُوْنَ	قُلْ	هَلْ
او پر هغو چې ليږل سوی دی	پخوا	او چې بيشکه!	زيات	له تاسی	فاسقان دی	ووايه	آيا

او پر هغو چې ليږل سوی دی پخوا (له دی نه) او چې بيشکه! زيات له تاسی فاسقان دی. ووايه (محمده! دوی ته) آيا

اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ مَنْ

اُنَبِّئُكُمْ	بِشَرٍّ	مِّنْ ذٰلِكَ	مَثُوْبَةً	عِنْدَ	اللّٰهِ	مَنْ
خبر کړم تاسی په	ډير بد	له دی	له جهته دجزا	په نزد	د الله	هغه څوک دی

خبر کړم تاسی په (هغه چاچې) ډير بد (عيب لری) له دی له جهته دجزا په نزد د الله (ډير بد) هغه څوک دی

لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ

لَّعَنَهُ	اللّٰهُ	وَغَضِبَ	عَلَيْهِ	وَجَعَلَ	مِنْهُمُ	الْقِرَدَةَ
چې لعنت کړی دی پر هغه	الله	او غضب ئې کړی دی	پرهغه	او ګرځولی ئې دی	له ځينو د دوی څخه	بيزوګان

چې لعنت کړی دی پرهغه الله او غضب ئې کړی دی پرهغه او ګرځولی ئې دی له ځينو د دوی څخه بيزوګان

وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا

وَالْخَنَازِيْرَ	وَعَبَدَ	الطَّاغُوْتَ	اُولٰٓئِكَ	شَرٌّ	مَّكَانًا
او خنزيران	او بندګی ئې کړی ده	دشيطان	هم دا (ملعونان)	ډير بد دی	له جهته د ځای

او خنزيران او (هغه کسان دی چې) بندګی ئې کړی ده د شيطان هم دا (ملعونان) ډير بد دی له جهته د ځای

وَّاَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

وَّاَضَلُّ	عَنْ	سَوَآءِ	السَّبِيْلِ	وَاِذَا	جَآءُوْكُمْ	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا
او ډير ګمراه دی	له	سمی صافی	لاری	او کله چې	راسی تاسی ته	وائی دوی	چې ايمان راوړی دی موږ

او ډير ګمراه دی له سمی صافی لاری (دحق دين څخه). او کله چې راسی تاسی ته وائی دوی چې ايمان راوړی دی موږ

وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ

وَقَدْ	دَّخَلُوْا	بِالْكُفْرِ	وَهُمْ	قَدْ	خَرَجُوْا	بِهٖ
حال دا چې په تحقيق	ننوتلی دی دوی	په کفر سره	او دوی	په تحقيق	وتلی هم دی	په کفر سره

حال دا چې په تحقيق ننوتلی دی دوی په کفر سره او دوی په تحقيق وتلی هم دی په کفر سره

وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ

په اکثرکم فاسقون : کي الله ﷻ يهودو او نصارا وو ته په خطاب کي دټولو پر ځای اکثره دايمان څخه خارج فرمايلي دي ددې وجه داده چي په دوی کي څه خلګ داسي هم وه چي په هر حال کي مومنان پاته سوي دي ترڅو پوري چي دنبي کريم ﷺ بعثت نه وو سوی دوی دتورات اوانجيل داحکامو تابع وه او په دوی باندي يي ايمان وو کله چي نبي کريم ﷺ مبعوث سواوقرآن نازل سو نو پرده ﷺ يي هم ايمان راوړی :(**په تبليغ اودعوت کي دمخاطب لحاظ**) دلته په **قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ** کي چي يي کم حال ديوه مثال په انداز کي دداسي خلګو بيان کړی دی پر کوموچي دالله ﷻ لعنت او غضب دی ددې مصداق په حقيقت کي هم دغه مخاطب وو ددې ځای وو چي پر دوی يي دلزام لګولی وای چي تاسي داسي واياست ليکن قرآن کريم دبيان طرزبدل کي ده يوه مثال په صورت کي يي بيان کی چي په دې کي يي دپيغمبرانو ددعوت يوه خاصه طريقه وښووله چي دبيان عنوان داسي اختيارول پکار دي چي مخاطب وربانـدي په غصه کيږي نه.

(معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ٢٠٠)

www.jamairahmani.org

وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا كَانُوۡا يَكۡتُمُوۡنَ ﴿٦١﴾ وَتَرٰى كَثِيۡرًا

وَ	اللّٰهُ	اَعۡلَمُ	بِمَا	كَانُوۡا	يَكۡتُمُوۡنَ	وَتَرٰى	كَثِيۡرًا
او	الله	ښه عالم دی	په هغه چې	وو دوی	چې پټول (به ئې له نفاقه)	او ته به وینې	ډیر

او الله ښه عالم (ښه خبر) دی په هغه چې وو دوی چې پټول (به ئې له نفاقه). او ته به وینې ډیر

مِّنۡهُمۡ يُسَارِعُوۡنَ فِى الۡاِثۡمِ وَالۡعُدۡوَانِ وَاَكۡلِهِمُ

مِّنۡهُمۡ	يُسَارِعُوۡنَ	فِي	الۡاِثۡمِ	وَالۡعُدۡوَانِ	وَاَكۡلِهِمُ
له دغو (منافقانو) څخه	چې منډې به وهي	په	ګناه کښې	او په ظلم کښې	او په خوراک د دوی

له دغو (منافقانو) څخه چې منډې به وهي په ګناه کښې او په ظلم کښې او په خوراک د دوی

السُّحۡتَ‌ؕ لَبِئۡسَ مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿٦٢﴾

السُّحۡتَ	لَبِئۡسَ	مَا	كَانُوۡا	يَعۡمَلُوۡنَ
حرامو لره	خامخا بد دی	هغه کار	چې وو دوی	چې کاوه ئې

حرامو لره (لکه رشوت) خامخا بد دی هغه کار چې وو دوی چې کاوه ئې.

لَوۡلَا يَنۡهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوۡنَ وَالۡاَحۡبَارُ عَنۡ قَوۡلِهِمُ الۡاِثۡمَ

لَوۡلَا يَنۡهٰهُمُ	الرَّبّٰنِيُّوۡنَ	وَالۡاَحۡبَارُ	عَنۡ	قَوۡلِهِمُ	الۡاِثۡمَ
ولې نه منع کوی دوی	رباني عارفان	او عالمان	له	ویلو د دوی	دګناه

ولې نه منع کوی دوی رباني عارفان او عالمان له ویلو د دوی د ګناه (د دروغو خبرو)

وَاَكۡلِهِمُ السُّحۡتَ‌ؕ لَبِئۡسَ مَا كَانُوۡا يَصۡنَعُوۡنَ ﴿٦٣﴾ وَقَالَتِ

وَاَكۡلِهِمُ	السُّحۡتَ	لَبِئۡسَ	مَا	كَانُوۡا	يَصۡنَعُوۡنَ	وَقَالَتِ
او له خوړلو د دوی	د حرامو	خامخا ډیر بد دی	هغه کار	چې وو دوی	چې کاوه ئې	اوو وایی

او له خوړلو د دوی د حرامو (لکه رشوت او سود) خامخا ډیر بد دی هغه کار چې وو دوی چې کاوه ئې. او وایی

الۡيَهُوۡدُ يَدُ اللّٰهِ مَغۡلُوۡلَةٌ‌ ؕ غُلَّتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ

الۡيَهُوۡدُ	يَدُ	اللّٰهِ	مَغۡلُوۡلَةٌ	غُلَّتۡ	اَيۡدِيۡهِمۡ
یهودیان	لاس	د الله	بند کړی سوی دی	تړلې دی وی	لاسونه د هم دوی

یهودیان لاس د الله بند کړی سوی دی (یعنې موږ ته هیڅ نه راکوی) تړلې دی وی لاسونه د هم دوی

وَتَرٰى كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ يُسَارِعُوۡنَ... په ذکر سوو ایاتونو کي په اول ایت کي: اکثره د یهودو د غورځیدلو اخلاقو او د عمل د بربادی ذکر دی چې اوریدونکي ور څخه نصیحت واخلي او ددې کارونو او ددې د اسبابو څخه ځان وساتی که څه هم چې په عام ډول سره د یهودو دا حال وو لیکن په دوی کي څه ښه خلګ هم وه قرآن کریم د دوی د مستثنی کولو د پاره لفظ د (کثیراً) استعمال کی او ظلم و زیاتی او حرام خوري دواړه که څه هم چې په لفظ د (اثم) یعني د ګناه په معنی کي داخل دي لیکن ددې دواړو قسمونو ګناه تباه کاري او ددې په وجه سره د پوره امن او اطمینان د بربادی د ښکاره کولو د پاره یې په خاص ډول سره د دوی ذکر جلا کی: او په تفسیر روح المعاني اونورو کي دي چې ددې خلګو په اړوند په دې عنوان اختیارولو سره چې په منډه پر ګناهونو ورلویږي قرآن کریم دې طرف ته اشاره وفرمایله چې دا خلګ ددې بدو خویونو مجرمان دي او دوی داسې ددې بدو خویو سره اموخته سوي دي چې بې ارادې ځنې کیږي.
(معارف القرآن ج۲ پ ۶ ص ۲۰۱)

www.jamairahmani.org

وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ

وَلُعِنُوْا	بِمَا	قَالُوْا	بَلْ	يَدٰهُ	مَبْسُوْطَتٰنِ	يُنْفِقُ
او لعنت کړی سوی دي پر دوی	په سبب د هغه	چي وائی دوی	بلکه	دواړه لاسونه د ده	غځولی (کشاده) دي	روزی ورکوی

او لعنت کړی سوی دي پر دوی په سبب د هغه چي وائی دوی بلکه دواړه لاسونه د ده غځولی (کشاده) دي روزی ورکوی

كَيْفَ يَشَآءُ ۭ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

كَيْفَ	يَشَآءُ	وَلَيَزِيْدَنَّ	كَثِيْرًا	مِّنْهُمْ	مَّآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ
هر رنګه	چي اراده وفرمائی	او خامخا زیاتوی هرومرو	ډیرو ته	له دوی څخه	هغه چي	نازل کړی سوی دی	تاته

هر رنګه چي اراده وفرمائی او خامخا زیاتوی هرومرو ډیرو ته له دوی څخه هغه (قرآن) چي نازل کړی سوی دی تاته

مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۭ وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ

مِنْ	رَّبِّكَ	طُغْيَانًا	وَّكُفْرًا	وَاَلْقَيْنَا	بَيْنَهُمُ	الْعَدَاوَةَ
له	رب ستا	سرکښي	او کفر	او غورځولی دی موږ	په مینځ د دوی کښي	عداوت (دښمنی)

له رب ستا سرکښي او کفر، او غورځولی دی موږ په مینځ د دوی کښي عداوت (دښمنی)

وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۭ كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا

وَالْبَغْضَآءَ	اِلٰى	يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	كُلَّمَآ	اَوْقَدُوْا	نَارًا
او بغض (نفرت)	تر	ورځی	دقیامت پوری	هرکله چي	بلاوه دوی	اور

او بغض (نفرت) تر ورځی د قیامت پوری، هرکله چي بلاوه دوی اور

لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ

لِّلْحَرْبِ	اَطْفَاَهَا	اللّٰهُ	وَيَسْعَوْنَ	فِي	الْاَرْضِ
د جنګ	مړکاوه به هغه (اور)	الله	او سعیه کوی (ځغلی) دوی	په	مځکه کښي

د جنګ (د رسول الله دنو) مړکاوه به هغه (اور) الله او سعیه کوی (ځغلی) دوی په مځکه کښي

فَسَادًا ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ۝٦٤ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ

فَسَادًا	وَ	اللّٰهُ	لَا يُحِبُّ	الْمُفْسِدِيْنَ	وَلَوْ	اَنَّ	اَهْلَ
له پاره د فساد اچولو	او	الله	نه خوښوی	فساد کوونکی	او که	بیشکه!	اهل

له پاره د فساد اچولو او الله نه خوښوی فساد کوونکی. او که بیشکه! اهل

بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ...

د یهودو د یوې سپين سترګی جواب: واقعه داسي وه چي الله ﷻ دمديني منورې يهود ډير مالدار او فراخـی والا جوړکړي وه مګر کله چي نبي کريم ﷺ مديني منورې ته تشريف راوړی او د حضور ﷺ دعوت دوی ته ورسيدی نو دې ظالمانو دخپلي قومي سرداری او دخپلو جاهلي رواجونو په وجه دحاصليدونکو شکرانو په خاطر ددې حق دعوت څخه مخ واړوی او د نبي کريم ﷺ مخالفت يي وکی نو ددې په سزا کي الله ﷻ پر دوی باندي دنيا هم تنګه کړه او دوی تنګ دسته سول نو پر دې باندي ددې نالايقو دخُلو څخه داسي کلمات وتل شروع سول چي (معاذالله) دخدای ﷻ په خزانه کي کمي راغی يا الله ﷻ بخل اختياره کی ددې په جواب کي يي په دې آيت کي ارشاد فرمايي چي لاسونه خو ددې ويونکو بند دی او پردوی لعنت دی چي تاثير يي په آخرت کي عذاب او په دنيا کي به دذلت او رسوايي په صورت کي ښکاره سي دالله ﷻ لاس خو دهميشه دپاره خلاص دی دده سخا او کرم هميشه دی.

(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۲۰۸)

www.jamairahmani.org

الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

الْكِتٰبِ	اٰمَنُوْا	وَاتَّقَوْا	لَكَفَّرْنَا	عَنْهُمْ	سَيِّاٰتِهِمْ
د كتابو	ايمان راوړي وی په (محمد)	او پرهيزګاري كړي وی	نو خامخا لري كړي به وی موږ	له دوی څخه	ګناهونه د دوی

دكتابو ايمان راوړي وی په (محمد) او پرهيزګاري كړي وی نو خامخا لري كړي به وی موږ له دوی څخه ګناهونه د دوی

وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا

وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ	جَنّٰتِ	النَّعِيْمِ	وَلَوْ	اَنَّهُمْ	اَقَامُوا
او خامخا ننويستلي وه به موږ دوی	جنتونو	دنعمتونو ته	او كه	بيشكه! دوی	درولي وی

او خامخا ننويستلي وه به موږ دوی جنتونو د نعمتونو ته. او كه بيشكه! دوی درولي وی (احكام د)

التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ

التَّوْرٰىةَ	وَالْاِنْجِيْلَ	وَمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْهِمْ	مِّنْ	رَّبِّهِمْ
د تورات	او انجيل	او هغه	چي نازل كړي سوی دی	دوی ته	له (جانبه د)	رب د دوی

د تورات او انجيل او هغه (كتاب) چي نازل كړي سوی دی دوی ته له (جانبه د) رب د دوی (د محمد په وسيله)

لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ

لَاَكَلُوْا	مِنْ	فَوْقِهِمْ	وَمِنْ	تَحْتِ	اَرْجُلِهِمْ	مِنْهُمْ
نو خامخا خوړلي به ئی	له	پاسه (دسرونو) خپلو	او له	لاندی	د پښو خپلو	ځيني له دوی څخه

نو خامخا خوړلي به ئی (ميوی) له پاسه (دسرونو) خپلو او (غلی) له لاندی د پښو خپلو (دمځكی څخه) ځيني له دوی څخه

اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٦﴾ ع

اُمَّةٌ	مُّقْتَصِدَةٌ	وَكَثِيْرٌ	مِّنْهُمْ	سَآءَ	مَا	يَعْمَلُوْنَ
يو امت دی	مقتصد	او ډير	له دوی څخه	بد دی	هغه كار	چي كوی ئی دوی

يو امت دی مقتصد (منصف او ميانه تلونكی)، او ډير له دوی څخه بد دی هغه كار چي كوی ئی دوی.

يٰاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ

يٰاَيُّهَا	الرَّسُوْلُ	بَلِّغْ	مَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	مِنْ	رَّبِّكَ
ای	رسوله (زما)	ورسوه	هغه شی چي	نازل كړي سوی دی	تاته	له (جانبه د)	رب ستا

ای رسوله (زما) ورسوه (ته تول) هغه شی چي نازل كړي سوی دی تاته له (جانبه د) رب ستا

وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ... دالله جل جلاله په حكمونو باندي پوره عمل څنګه كيداى سي؟

په دې آيت كي ددی ايمان او دخدای جل جلاله دبيري څه ذكر دی پر كم چي يي ددنيوي بركتونو د آرام اوراحت وعده په تيرايت كي كړي ده او تفصيل يي دادی چي تورات او انجيل او تر دې وروسته كم آخري كتاب قرآن چي راليږل سوی دی دا قايم كړی دلته دعمل كولو پر ځاى يي لفظ داقامت يعني قايم كولو راوړی مراد دادی چي ددوی پر تعليماتو باندي پوره پوره صحيح عمل به هلته وي چي نه پكښي كوتاهي او كمی وي او نه زياتی وي لكه څنګه چي يوي ستني ته ولاړه هغه وخت ويل كيږي كله چي هغه يوه طرف ته كږه نه وي سيده ولاړه وي : ددې خلاصه داسوه چي يهود كه نن هم دتورات او انجيل او قرآن كريم په هداياتو باندي ايمان راوړي او په دوی پوره پوره عمل دهداياتو موافق وكړي نه په عملي كوتاهي كي اخته وي او نه په غُلُو او زياتي كي چي دځانه څخه جوړ سوي شيان دين جوړ كړي نو دآخرت دوعده سوو نعمتونو مستحقين به وګرځي.

(معارف القرآن ج٢ پ ٦ ص ٢٠٩)

ع۹ ۱۴

www.jamairahmani.org

وَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ

وَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ	فَمَا بَلَّغۡتَ	رِسَالَتَهٗ	وَ	اللّٰهُ	يَعۡصِمُكَ	مِنَ
او که دې ونه کړې	نو نه دې رسولې تا	هيڅ پيغام د ده	او	الله	ساتی تا	له (شره)

او که دې ونه رساوه (ټول) نو نه دې رسولی تا هيڅ پيغام د ده او الله ساتی تا له (دشره)

النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۶۷﴾ قُلۡ

النَّاسِ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهۡدِى	الۡقَوۡمَ	الۡكٰفِرِيۡنَ	قُلۡ
خلګو	بيشکه!	الله	نه بيايي	قوم	کافرانو ته	ووايه ته (ای !محمده)

خلګو بيشکه الله نه بيايي (سمه لاره) قوم کافرانو ته. ووايه ته (ای محمده!)

يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَسۡتُمۡ عَلٰى شَىۡءٍ حَتّٰى تُقِيۡمُوا التَّوۡرٰىةَ

يٰۤاَهۡلَ	الۡكِتٰبِ	لَسۡتُمۡ	عَلٰى	شَىۡءٍ	حَتّٰى	تُقِيۡمُوا	التَّوۡرٰىةَ
چې ای	کتابيانو	نه يئ تاسی	پر	هيڅ شی	ترهغه پورې	چې قائم کړئ تاسی	(احکام) دتورات

چې ای کتابيانو ، نه يئ تاسی پر هيڅ شی (له حقه دينه) تر هغه پورې چې قائم کړئ تاسی (احکام) د تورات

وَالۡاِنۡجِيۡلَ وَمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكُمۡ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ ؕ وَلَيَزِيۡدَنَّ

وَالۡاِنۡجِيۡلَ	وَمَاۤ	اُنۡزِلَ	اِلَيۡكُمۡ	مِّنۡ	رَّبِّكُمۡ	وَلَيَزِيۡدَنَّ
او انجيل	او هغه	چې نازل کړی سوی دی	تاسو ته	له	ربه ستاسی	او خامخا زياتوی هرومرو

او انجيل او هغه (کتاب) چې نازل کړی سوی دی تاسو ته له (لوری د) ربه ستاسی ، او خامخا زياتوی هرومرو

كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ مَّاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ طُغۡيَانًا

كَثِيۡرًا	مِّنۡهُمۡ	مَّاۤ	اُنۡزِلَ	اِلَيۡكَ	مِنۡ	رَّبِّكَ	طُغۡيَانًا
ډيرو ته	له دوی څخه	هغه شی	چې نازل کړی سوی دی	تاته	له جانبه	د رب ستا	سرکشي

ډيرو ته له دوی څخه هغه شی چې نازل کړی (ليږلی) سوی دی تاته له جانبه د رب ستا سرکشي

وَّ كُفۡرًا ۚ فَلَا تَاۡسَ عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۶۸﴾

وَّ كُفۡرًا	فَلَا	تَاۡسَ	عَلَى	الۡقَوۡمِ	الۡكٰفِرِيۡنَ
او کفر	نو مه	خپه کيږه	پر	قوم	کافرانو

او کفر نو مه خپه کيږه (او افسوس مه کوه) پر قوم کافرانو .

قُلۡ يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَسۡتُمۡ عَلٰى شَىۡءٍ... اهل کتابو ته دالله ﷻ دشريعت دتابعداری ښوونه: په اول آيت کي يي اهل کتابو يهودو او نصاراوو ته دالله ﷻ دشريعت دتابعداری هدايت اوښوونه په دې عنوان سره وفرمايل سوه چي که تاسي دشريعت پابندي ونه کړه نو تاسي هيڅ نه ياست مطلب دادی چي داسلامي شريعت څخه بغير ستاسي ټول کمالونه او علمونه عبث دي تاسي ته الله ﷻ يو فطري کمال دادرکړی دی چي دانبياء اولادونه ياست دوهم دتورات او انجيل علمي کمالات هم تاسي ته حاصل دي په تاسي کي ډير خلګ درويش خو يه هم دي مجاهدې او رياضتونه کوي خواری کاږي مګر ددې ټولو شيانو قدر او قيمت دالله ﷻ په نزد صرف پر دې باندي موقوف دی چي تاسي دخدای ﷻ دشريعت تابعداري وکړی ددې څخه بغير نه څه نسبي ښه والی پکار درځي او نه علمي تحقيقونه ستاسي دنجات سامان تيارولی سي او نه ستاسي مجاهدې اورياضتونه او خواری چي بې معنی يي کاږی.
(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۲۱۴)

www.jamairahmani.org

إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ

إِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَالَّذِيْنَ	هَادُوْا	وَالصّٰبِئُوْنَ
بیشکه!	هغه کسان	چې ایمان ئې راوړی دی	او هغه کسان	چې یهودیان دی	او (فرقه د) ترسایانو

بیشکه! هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی او هغه کسان چې یهودیان دی او (فرقه د) ترسایانو

وَالنَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ

وَالنَّصٰرٰى	مَنْ	اٰمَنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	وَعَمِلَ
او نصرانیانو	هر څوک	چې ایمان راوړی	په الله	او په ورځ	آخره	او عمل وکړی

او نصرانیانو (د دوی حکم هم داسی دی) هر څوک چې ایمان راوړی په الله او په ورځ آخره او عمل وکړی

صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَقَدْ

صَالِحًا	فَلَا	خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ	وَلَا	هُمْ	يَحْزَنُوْنَ	لَقَدْ
نیک (عمل)	نو نشته	(هیڅ قسم) ویره	پر دوی باندی	او نه به	دوی	خپه کیږی	خامخا په تحقیق

نیک (عمل) نو نشته (هیڅ قسم) ویره پر دوی باندی او نه به دوی (هیڅکله) خپه کیږی. خامخا په تحقیق

اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ

اَخَذْنَا	مِيْثَاقَ	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	وَاَرْسَلْنَآ	اِلَيْهِمْ
اخیستی ده موږ	وعده ټینګه	له بنی اسرائیلو څخه	او لیږلی وو موږ	دغو (بنی اسرائیلو) ته

اخیستی ده موږ وعده ټینګه له بنی اسرائیلو (اولادی د یعقوب) څخه، او لیږلی وو موږ دغو (بنی اسرائیلو) ته

رُسُلًا ۭ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ۙ

رُسُلًا	كُلَّمَا	جَآءَهُمْ	رَسُوْلٌۢ	بِمَا	لَا تَهْوٰٓى	اَنْفُسُهُمْ
رسولان	هرکله چې به	راغی دوی ته	کوم رسول	په هغه سره	چې نه خوښاوه	نفسونو د دوی

رسولان ، هرکله چې به راغی دوی ته کوم رسول په هغه (شرعی حکم) سره چې نه خوښاوه نفسونو د دوی

فَرِيْقًا كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوْٓا

فَرِيْقًا	كَذَّبُوْا	وَفَرِيْقًا	يَّقْتُلُوْنَ	وَحَسِبُوْٓا
ځینی رسولان ئې	دروغجن وګڼل	او ځینی رسولان به ئې	وژل	او ګمان کړی ؤ دغو (بنی اسرائیلو)

ځینی رسولان (لکه موسیٰ او عیسیٰ) ئې دروغجن وګڼل او ځینی رسولان به ئې وژل. او ګمان کړی ؤ دغو (بنی اسرائیلو)

وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ وَالنَّصٰرٰى

دالله ﷻ په نزد دښه والي دار او مدار په نیک عمل سره دی: ددې دواړو اياتونو دمضمون خلاصه داده چې زموږ په دربار کې دچا نسبي ،وطني او قومي ښه والی هیڅ نه دی کم سړی چې پوره فرمانبرداري نیکه عقیده او نیک عمل اختیار کړی برابره خبره ده که دی مخکي هر څنګه چې وي زموږ په نزد مقبول او دده خدمت دقدر لایق دی او دا ښکاره خبره ده چې دقرآن دنزول څخه وروسته پوره فرمانبرداري په مسلمانانو کیدوکي ده ځکه چې په تیرو کتابونو تورات او انجیل کي هم ددې خبري ښوونه موجوده ده او قرآن کریم خو سراسر ددې دپاره نازل سو په دې وجه دقرآن دنازلیدو او دنبي کریمﷺ دراتلو څخه وروسته په قرآن کریم او نبي کریمﷺ باندې دایمان راوړو څخه بغیر نه دتورات او انجیل تابعداري صحیح کیدای سي نه دزبور کتاب نو مطلب دآیت به داسي چې په ټولو قومونو کي چې کم مسلمانان سي په آخرت کي به دنجات او ثواب او نعمتونو مستحق وي.

(معارف القرآن ج۲ پ ۶ ص ۲۱۶)

www.jamairahmani.org

اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَصَمُّوْا ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

اَلَّا تَكُوْنَ	فِتْنَةٌ	فَعَمُوْا	وَصَمُّوْا	ثُمَّ	تَابَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ
د دی چی نه به وی	هیڅ فتنه	پس ړانده سول	او کاڼه سول	بیا	رجوع وکړه	الله	پر دوی باندی

د دی چی نه به وی هیڅ فتنه پس ړانده سول او کاڼه سول بیا رجوع (په رحمت سره) وکړه الله پر دوی باندی

ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ۭ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا

ثُمَّ	عَمُوْا	وَصَمُّوْا	كَثِيْرٌ	مِّنْهُمْ	وَ	اللّٰهُ	بَصِيْرٌۢ	بِمَا
بیا	ړانده سول	او کاڼه سول	ډیر	له دوی څخه	او	الله	ښه لیدونکی دی	په هغو کارونو

بیا (دوهم ځلی) ړانده او کاڼه سول ډیر له دوی څخه او الله ښه لیدونکی (عالم) دی په هغو کارونو (هم)

يَعْمَلُوْنَ ۝ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

يَعْمَلُوْنَ	لَقَدْ	كَفَرَ	الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ
چی کوی (یی) دوی	خامخا په تحقیق	کافران سوی دی	هغه کسان	چی وائی دوی	چی بیشکه!	الله	هم دغه

چی کوی (یی) دوی. خامخا په تحقیق کافران سوی دی هغه کسان چی وائی دوی چی بیشکه! الله هم دغه

الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۭ وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ اعْبُدُوا

الْمَسِيْحُ	ابْنُ	مَرْيَمَ	وَقَالَ	الْمَسِيْحُ	يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ	اعْبُدُوا
مسیح	زوی	د مریمی دی	او ویل به	مسیح	چی ای بنی اسرآئیلو	عبادت کوئ تاسی

مسیح زوی د مریمی دی او ویل به مسیح چی ای بنی اسرآئیلو عبادت کوئ تاسی

اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ۭ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ

اللّٰهَ	رَبِّيْ	وَرَبَّكُمْ	اِنَّهٗ	مَنْ	يُّشْرِكْ	بِاللّٰهِ	فَقَدْ
دالله	چی رب زما	او رب ستاسی دی	بیشکه! شان دادی	هر چا چی	شریک ونیوی	له الله سره	نو په تحقیق

د (یوائی هغه) الله چی رب زما او رب ستاسی دی ، بیشکه شان دا دی هر چا چی شریک ونیوی له الله سره ، نو په تحقیق

حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ۭ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ

حَرَّمَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	الْجَنَّةَ	وَمَاْوٰىهُ	النَّارُ	وَمَا	لِلظّٰلِمِيْنَ
حرام کړی دی	الله	په دغه باندی	جنت	او ځای د ده	اور دی	او نسته	ظالمانو ته

حرام کړی دی الله په دغه (مشرک) باندی جنت او ځای د ده اور (د دوزخ دی) او نسته ظالمانو ته

ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا... دبني اسرائيلو وعده ماتول: يعني کله چي به بني اسرآئيلو ته ددوی رسول څخه حکم راوړی چي ددوی دخواهش موافق به نه وونو لوظ او قول به يي مات کی دخدای ﷻ سره به يي غداري شروع کړه دالله ﷻ په پيغمبرانو کي يي ځيني دروا غجن کړل ځيني يي قتل کړل دا خو ددوی په الله ﷻ دايمان او نيک عمل حال وو په ورځ دآخرت دايمان اندازه يي ددې څخه وکړی چي دومره سخت ظلمونه او دباغيانو کارونه يي کول او بې فکره کيدل به چي گواکي ددې کارونو به هيڅ وبال پر دوی نه پريوزي او دظلم او بغاوت خراب انجام به هيڅکله دوی ځان ته نه مخکي کوي په دې خيال کولو سره دخدای ﷻ دنبنو او دخدای ﷻ دکلام څخه بالکل ړانده او کاڼه سول اوداسي ناشوني کارونه يي شروع کړل چي ځيني پيغمبران يي قتل کړل او ځيني يي قيد کړل آخر پر دوی باندي الله ﷻ بخت نصر مسلط کړی بيا ديوې ډيري اوږدې مودې څخه وروسته دفارس باچهانو دوی دبخت نصر دقيد څخه آزاد کړل الخ.
(معارف القرآن ج۲ پ ۶ ص ۲۲۰)

www.jamairahmani.org

مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۷۲﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ

مِنْ	اَنْصَارٍ	لَقَدْ	كَفَرَ	الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّ	اللّٰهَ	ثَالِثُ
هيڅ	مدد كوونكى	خامخا په تحقيق	كافران سوي دي	هغه كسان	چي وائي دوي	چي بيشكه!	الله	دريم

هيڅ مدد كوونكى . خامخا په تحقيق كافران سوي دي هغه كسان چي وائي دوي چي بيشكه! الله دريم

ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا

ثَلٰثَةٍ	وَمَا	مِنْ	اِلٰهٍ	اِلَّآ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	وَاِنْ	لَّمْ يَنْتَهُوْا
له دريو څخه دى	حال داچي	نسته	(بل) هيڅ لائق د عبادت	مګر	معبود	يو	او كه	منع نه سول دوى

له دريو (معبودانو) څخه دى ، حال داچي نسته (بل) هيڅ لائق د عبادت مګر (خوسته) معبود يو او كه وانه وښتل دوى

عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ

عَمَّا	يَقُوْلُوْنَ	لَيَمَسَّنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْهُمْ	عَذَابٌ
له هغي خبرى	چي وائى	نو خامخا وبه رسيږى هرومرو	هغه كسانو ته	چي كافران سوي دى	له دوى څني	عذاب

له هغي خبرى چي وائى نو خامخا وبه رسيږى هرومرو هغو كسانو ته چي كافران (پاتي) سوي دى له دوى څني عذاب

اَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَاللّٰهُ

اَلِيْمٌ	اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ	اِلَى اللّٰهِ	وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ	وَ	اللّٰهُ
درد ناک	آيا نو توبه نه كوى دوى	الله ته	او غواړى بخښنه له ده څخه	او	الله

دردناک آيا نو توبه نه كوى دوى الله ته او غواړى بخښنه له ده څخه (له دى بدى وينا) او الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۷۴﴾ مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ

غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	مَا	الْمَسِيْحُ	ابْنُ	مَرْيَمَ	اِلَّا	رَسُوْلٌ
ښه مغفرت كوونكى	ډير مهربان دى	نه دى	مسيح	زوى	دمريمي	مګر	يو رسول دى

ښه مغفرت كوونكى ډير مهربان دى. نه دى مسيح زوى د مريمي مګر يو رسول دى

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا

قَدْ	خَلَتْ	مِنْ قَبْلِهِ	الرُّسُلُ	وَاُمُّهٗ	صِدِّيْقَةٌ	كَانَا
په تحقيق	تير سوي دي	پخواله ده څخه	رسولان	او مور د ده	صديقه وه	وو دوى دواړه

په تحقيق تير سوي دي پخواله ده څخه (نور ډير) رسولان او مور د ده صديقه (ډيره رښتني) وه وو دوى دواړه

اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ داالله جَلَّ جَلَالُهٗ دا قول يعني (انّ الله ثالث ثلثة) يعني حضرت مسيح عليه السلام ، روح القدس او الله جل جلاله يا مسيح ، مريم ، او الله جل جلاله دري واړه خدايان دي (العياذ بالله) په دي درې واړو كي يو الله بيا دا درې دى او دغه يو درې دي دعيسايانو عامه عقيده داده او دا دعقل او هدايت څخه خلاف عقيده په ګول مول عبارتونو سره اداء كوي او كله چي څوک په پوه نه سي نو وايي چي دا دعقل څخه لوړه خبره ده :فوايد عثماني)

(دمسيح عليه السلام دخدايي ترديد) الله جل جلاله فرمايي (قد خلت من قبله الرسل) يعني لكه څنګه چي نور پيغمبران دنيا ته راغلل او څو ورځي دلته واوسيدل بيا ولاړل په دوى كي هميشه پاته كيدل او بقا نه وه كمه چي دخداى جل جلاله شان دى دغه شان دحضرت مسيح عليه السلام چي ددوى په شان يو انسان دى دلته هم هميشه پاته كيدل او بقاء حاصل نه وه په دې وجه الله نسي كيداى چي لږ فكر وسي چي څوک خوراک او چيښاک ته محتاجه وي ايا هغه خداى جوړيداى سي ؟ ځكه چي احتياج لري.

(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۲۲۲)

www.jamairahmani.org

قُلۡ يٰٓاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَا تَغۡلُوۡا فِىۡ دِيۡنِكُمۡ...

دبني اسرائيلو کوږوالي دوهـم اړخ: دالله ﷻ داقول چي (قل يا أهل الكتب لاتغلوا فى دينكم) په تيرو آيتونو کي دبني اسرآئيلو دسرکښی او ددوی دظلم او زياتي بيان سوی وو چي دالله ﷻ دراليږل سوی رسول چي ددوی دپاره يي دهميشه ژوند پيغام او ددوی ددنيا اوآخرت دبرابرولو دستورالعمل يي راوړی وو ددوی دقدر او مرتبې دپيژندلو او دتعظيم او تکريم کولو پر ځای دوی ددوی سره بد سلوک کړی وو چي ځيني پيغمبران يي دروا غجن کړل او ځيني يي قتل کړل په ذکر سوو اياتونو کي يي ددې بني اسرآئيلو دکږيدو دوهم اړخ ښوولی دی چي داجاهلان يا خودسرکښی او نافرماني پر هغه غاړه باندي وه چي دالله ﷻ رسولان يي درواغجن کړل او ځيني يي قتل کړل او يا دګمراهی او کږيدو هغه غاړي ته ورسيدل چي درسولانو په تعظيم کي يي غلو وکړه دوی يي خدايان جوړ کړل (لقد كفر الذين قالوا انّ الله هو المسيح ابن مريم) يعني دغه بني اسرائيل کافران سوه چا چي دا وويل چي الله ﷻ دعيسی ابن مريم نوم دی:
(معارف القرآن ج٢ پ٦ ص ٢٢٦)

يَاۡكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنۡظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الۡاٰيٰتِ ثُمَّ

يَاۡكُلٰنِ	الطَّعَامَ	اُنۡظُرۡ	كَيۡفَ	نُبَيِّنُ	لَهُمُ	الۡاٰيٰتِ	ثُمَّ
چی خوړه به ئی	طعام	وګوره	څرنګه	بیانوو موږ	دوی ته	دلائل (دتوحید)	بیا

چی خوړه به ئی طعام وګوره څرنګه بیانوو موږ دوی ته دلائل (د توحید) بیا

اُنۡظُرۡ اَنّٰى يُؤۡفَكُوۡنَ ﴿٧٥﴾ قُلۡ اَتَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

اُنۡظُرۡ	اَنّٰى يُؤۡفَكُوۡنَ	قُلۡ	اَتَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ
وګوره	کوم خواته دوی اړولی روان دی	ووایه	آیا عبادت کوئ تاسی	بی له	الله څخه

وګوره (دوی ته) چی څرنګه چپ کاوه شی دوی (له حقه). ووایه (ای محمده!) آیا عبادت کوئ تاسی بی له الله څخه

مَا لَا يَمۡلِكُ لَـكُمۡ ضَرًّا وَّلَا نَفۡعًا ؕ وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيۡعُ

مَا	لَا يَمۡلِكُ	لَـكُمۡ	ضَرًّا	وَّلَا نَفۡعًا	وَ	اللّٰهُ	هُوَ	السَّمِيۡعُ
دهغه شی	چی مالک نه دی	دپاره ستاسی	د ضرر	او نه د نفع	او	الله	هم دی	ښه اوریدونکی

دهغه شی چی مالک نه دی دپاره ستاسی د (دفع کولو د) ضرر او نه د (رسولو د) نفع او الله هم دی ښه اوریدونکی

الۡعَلِيۡمُ ﴿٧٦﴾ قُلۡ يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَا تَغۡلُوۡا فِىۡ دِيۡنِكُمۡ

الۡعَلِيۡمُ	قُلۡ	يٰۤاَهۡلَ	الۡكِتٰبِ	لَا تَغۡلُوۡا	فِىۡ	دِيۡنِكُمۡ
ښه عالم	ووایه (محمده)	چی ای اهل	دکتابو	مه کوئ تجاوز	په (خبره)	د دین خپل کښی

ښه عالم. ووایه (ای محمده!) چی ای اهل د کتابو مه کوئ تجاوز په (خبره) د دین خپل کښی

غَيۡرَ الۡحَـقِّ وَلَا تَتَّبِعُوۡۤا اَهۡوَآءَ قَوۡمٍ قَدۡ ضَلُّوۡا

غَيۡرَ الۡحَـقِّ	وَلَا تَتَّبِعُوۡۤا	اَهۡوَآءَ	قَوۡمٍ	قَدۡ	ضَلُّوۡا
په ناحقه سره	او مه کوئ متابعت	دچټی خواهشونو	دقوم	چی په تحقیق	ګمراه سوی دی

په ناحقه سره او مه کوئ متابعت د چټی (بیکاره) خواهشونو د (هغه) قوم چی (له ډیره جهله) په تحقیق ګمراه سوی دی

مِنۡ قَبۡلُ وَاَضَلُّوۡا كَثِيۡرًا وَّضَلُّوۡا عَنۡ سَوَآءِ السَّبِيۡلِ ﴿٧٧﴾ ع

مِنۡ قَبۡلُ	وَاَضَلُّوۡا	كَثِيۡرًا	وَّضَلُّوۡا	عَنۡ	سَوَآءِ	السَّبِيۡلِ
په خوا (له دی نه)	او ګمراهان کړی دی دوی	ډیر (خلګ)	او ګمراه سوی دی دوی	له	سمی	صافی لاری

په خوا (له دی نه) او ګمراهان کړی دی دوی ډیر (خلګ) او ګمراه سوی دی دوی له سمی صافی لاری.

ع ١٠ / ١٤

www.jamairahmani.org

لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ

لُعِنَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْۢ	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	عَلٰى	لِسَانِ
لعنت کړی سوی دی	په هغو کسانو	چې کافران سوی دی	له	بني اسرائیلو	په	ژبه

لعنت کړی سوی دی په هغو کسانو چې کافران سوی دی له بني اسرائیلو خځه په ژبه

دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا

دَاوٗدَ	وَعِيْسَى	ابْنِ	مَرْيَمَ	ذٰلِكَ	بِمَا	عَصَوْا	وَّكَانُوْا
د داؤد سره	او عیسٰی	زوی	د مریمی	دا	په سبب د دی ؤ	چې نافرمانی ئی کوله	او وو دوی

د داؤد سره او (په ژبه د) عیسٰی زوی د مریمی، دا (لعنت پر دوی) په سبب د دی ؤ چې نافرمانی ئی کوله او وو دوی

يَعْتَدُوْنَ ۞ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ

يَعْتَدُوْنَ	كَانُوْا	لَا يَتَنَاهَوْنَ	عَنْ	مُّنْكَرٍ
چې تیریدل به	وو دوی	چې یو بل به ئی سره نه منع کول	له	هغه بد عمله

چې تیریدل به (به حدودو د الله). وو دوی چې یو بل به ئی سره نه منع کول له هغه بد عمله

فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۞ تَرٰى كَثِيْرًا

فَعَلُوْهُ	لَبِئْسَ	مَا	كَانُوْا	يَفْعَلُوْنَ	تَرٰى	كَثِيْرًا
چې کاوه به دوی هغه	خامخا بد ؤ	هغه کار	چې وو دوی	چې کاوه به ئی	ته به وینې	ډیر

چې کاوه به دوی هغه (قسم دی) خامخا بد ؤ هغه کار چې وو دوی چې کاوه به ئی، ته به وینې ډیر

مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ

مِّنْهُمْ	يَتَوَلَّوْنَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَبِئْسَ	مَا	قَدَّمَتْ
له دوی	چې دوستی به کوی	له هغو کسانو سره	چې کافران سوی دی	بیا خامخا بد ؤ	هغه شی	چې پخوا لیږلی ؤ

له دوی چې دوستی به کوی له هغو کسانو سره چې کافران سوی دی، بیا (قسم دی) خامخا بد ؤ هغه شی چې پخوا لیږلی ؤ

لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ

لَهُمْ	اَنْفُسُهُمْ	اَنْ	سَخِطَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ	وَفِي	الْعَذَابِ
دوی ته	ځانو د دوی	د دی چې	په غضب سو	الله	پر دوی	او په	عذاب کښې

دوی ته ځانو د دوی (چې هغه شی موجب ؤ) د دی چې په غضب سو الله پر دوی او په عذاب کښې

كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ... الله ﷻ ته درسیدو طریقه: حقیقت دادی چې دټول جهان او په دې کې چې څومره موجودات دي د دې ټولو خالق او مالک صرف یو الله ﷻ دی دهغه ملکیت دی او دهغه حکم دی دده حکم منل پر هر یوه انسان باندې لازم دي لیکن مجبوره دخاورو جوړ انسان په خپل مادي تیرو او پستو کې گیر دی دده تولو رسایي دغه پاک ذات ته یا دده داحکامو او هدایاتو وه معلومولو ته به څنگه وي الله ﷻ په خپل فضل سره ددې دپاره دوې واسطې مقررې کړې چې ددوی په ذریعه سره انسان ته دالله ﷻ دخوښ او ناخوښ حکم او منع علم وسي یو **خپل کتابونه**، چې دانسان دپاره دقانون او هدایت نامې حیثیت لري **دوهم**: خپل داسې خاص اومقبول او مقرب بندگان کم چې الله ﷻ په بني آدمو کې خوښ کړل او دوی یې دخپل خوښ او ناخوښ عملي نمونه او دخپل کتاب عملي شرح جوړه کړه راویه لیږل چې ددین په اصطلاح کې ورته رسول یا نبي ویل کیږي هغه الله ﷻ ددوی داصلاح دپاره راولیږل.
(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۲۲۷)

www.jamairahmani.org

هُمۡ خٰلِدُوۡنَ ﴿٨٠﴾ وَلَوۡ كَانُوۡا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِىِّ

هُمۡ	خٰلِدُوۡنَ	وَلَوۡ	كَانُوۡا	يُؤۡمِنُوۡنَ	بِاللّٰهِ	وَالنَّبِىِّ
دوی به	تل وی	او که	وی دوی	چی ایمان ئی راوړی وی	پر الله	او نبی

دوی به تل وی. او که وی دوی چی ایمان ئی راوړی وی (دزړه نه) پر الله او نبی (محمد یا موسٰی)

وَمَآ اُنۡزِلَ اِلَيۡهِ مَا اتَّخَذُوۡهُمۡ اَوۡلِيَآءَ وَلٰـكِنَّ كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ

وَمَآ	اُنۡزِلَ	اِلَيۡهِ	مَا	اتَّخَذُوۡهُمۡ	اَوۡلِيَآءَ	وَلٰـكِنَّ	كَثِيۡرًا	مِّنۡهُمۡ
او په هغه کتاب	چی نازل سوی دی	ده ته	نو نه به	وو نیولی دوی دا مشرکان	دوستان	او لیکن	ډیر	له دوی ځنی

او په هغه کتاب چی نازل سوی دی ده ته نو نه به وو نیولی دوی دا مشرکان دوستان، او لیکن ډیر (کسان) له دوی ځنی

فٰسِقُوۡنَ ﴿٨١﴾ لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِيۡنَ اٰمَنُوا

فٰسِقُوۡنَ	لَتَجِدَنَّ	اَشَدَّ	النَّاسِ	عَدَاوَةً	لِّلَّذِيۡنَ	اٰمَنُوا
فاسقان دی	خامخا پیدا به کړی ته	ډیر سخت	له ټولو خلګو	له جهته د عداوت	له هغه کسانو سره	چی مؤمنان دی

فاسقان دی. خامخا مومی به ته ډیر سخت له ټولو خلګو، له جهته د عداوت (دښمنی) له هغه کسانو سره چی مؤمنان دی

الۡيَهُوۡدَ وَالَّذِيۡنَ اَشۡرَكُوۡا ۚ وَلَتَجِدَنَّ اَقۡرَبَهُمۡ

الۡيَهُوۡدَ	وَالَّذِيۡنَ	اَشۡرَكُوۡا	وَلَتَجِدَنَّ	اَقۡرَبَهُمۡ
یهودیان	او هغه کسان چی	مشرکان دی	او خامخا پیدا به کړی ته	ډیر نژدی له ګردو خلګو څخه

یهودیان او (بل) هغه کسان چی مشرکان دی ، او خامخا مومی به ته ډیر نژدی له ګردو (ټولو) خلګو څخه

مَّوَدَّةً لِّلَّذِيۡنَ اٰمَنُوا الَّذِيۡنَ قَالُوۡۤا اِنَّا نَصٰرٰى ؕ ذٰلِكَ

مَّوَدَّةً	لِّلَّذِيۡنَ	اٰمَنُوا	الَّذِيۡنَ	قَالُوۡۤا	اِنَّا	نَصٰرٰى	ذٰلِكَ
له جهته د دوستی	له هغو کسانو سره	چی مؤمنان دی	هغه کسان چی	وائی	بیشکه! موږ	نصارٰی یو	دا (دوستی)

له جهته د دوستی له هغو کسانو سره چی مؤمنان دی هغه کسان چی وائی بیشکه! موږ نصارٰی یو ، دا (دوستی)

بِاَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيۡسِيۡنَ وَرُهۡبَانًا وَّاَنَّهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ ﴿٨٢﴾

بِاَنَّ	مِنۡهُمۡ	قِسِّيۡسِيۡنَ	وَرُهۡبَانًا	وَّاَنَّهُمۡ	لَا يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ
په سبب د دی ده چی بیشکه!	ځینی له دوی	ربنتنی عالمان	او زاهدان پوهان دی	او بیشکه!	چی دوی نه کوی تکبر او لوئی

په سبب د دی ده چی بیشکه! ځینی له دوی ربنتنی عالمان، او زاهدان پوهان دی او بیشکه! چی دوی نه کوی تکبر او لوئی

وَلَوۡ كَانُوۡا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِىِّ.. دبني اسرائيلو

بد انجام: بني اسرآئيل کم چي دافراط او تفريط په ګمراهی کي مبتلا وه چي پردوی باندي دالله ﷻ لعنت سوی دی اول دحضرت داود عليه السلام په ژبه سره چي ددوی شکلونه مسخ سول او خنزيران ورڅخه جوړ سول بيا دحضرت عيسی عليه السلام په ژبه سره دالعنت پر دوی باندي مسلط سو چي په دنيا کي بيزوګان سول او ځيني تفسير ليکونکي فرمايي چي دلته دمقام په مناسبت صرف ددوو پيغمبرانو په ژبو پردوی دلعنت ذکر دی ليکن حقيقت دادی چي پردوی دلعنت ابتداء دحضرت موسی عليه السلام څخه سويده او انتهاء يي پر حضرت خاتم الانبياء ﷺ سويده دغه شان پرله پسي دڅلورو پيغمبرانو عليهم السلام پر ژبو پردې خلګو باندي لعنت مسلط سوی دی چا چي دپيغمبرانو مخالفت کړی دی يا يي دوی عليهم السلام تر حدزيات کړل دخدای ﷻ سره يي په صفاتو کي شريک کړل :په آخري دواړو اياتونو کي دکفارو سره دجوړې دوستی او وروړولی منع اوددې دتباه کوونکو نتيجو بيان دی :
(معارف القرآن ج۲ پ۶ ص ۲۲۸)

www.jamairahmani.org

وَإِذَا سَمِعُوْا مَآ أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى أَعْيُنَهُمْ

وَإِذَا	سَمِعُوْا	مَآ	أُنْزِلَ	إِلَى	الرَّسُوْلِ	تَرٰٓى	أَعْيُنَهُمْ
او کله چې	واوري دوی	هغه	چې نازل سوی دی	طرف د	رسول ته	ویني به ته	سترګی د دوی

او کله چې واوري دوی هغه (کلام د الله قرآن) چې نازل سوی دی طرف د رسول ته (نو) ویني به ته سترګی د دوی

تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُولُونَ رَبَّنَآ

تَفِيضُ	مِنَ	الدَّمْعِ	مِمَّا	عَرَفُوا	مِنَ	الْحَقِّ	يَقُولُونَ	رَبَّنَآ
چې بهیږی	له	اوښکو	له جهته د دی	چې وپیژانده دوی	له	حقو (خبرو د الله)	وائی دوی	ای ربه زموږ

چې بهیږی له اوښکو له جهته د دی چې وپیژانده دوی له حقو (خبرو د الله) وائی دوی ای ربه زموږ

آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

آمَنَّا	فَاكْتُبْنَا	مَعَ الشّٰهِدِينَ	وَمَا	لَنَا	لَا نُؤْمِنُ	بِاللّٰهِ
ایمان راوړی دی موږ	نو ولیکه موږ	له شاهدانو	او څه باعث دی	پر موږ	چې نه به راوړو ایمان	په الله

ایمان راوړی دی موږ (په قرآن او رسول) نو ولیکه موږ له شاهدانو او څه باعث دی پر موږ چې نه به راوړو ایمان په الله

وَمَا جَآءَنَا مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ أَنْ يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ

وَمَا	جَآءَنَا	مِنَ	الْحَقِّ	وَنَطْمَعُ	أَنْ	يُدْخِلَنَا	رَبُّنَا	مَعَ
او په هغه	چې راغلی دی موږ ته	له	حق څخه	حال دا چې طمع لرو	د دی چې	داخل به کړی موږ	رب زموږ	سره له

او په هغه چې راغلی دی موږ ته له حق څخه حال دا چې طمع (امید) لرو د دی چې داخل به کړی موږ رب زموږ سره له

الْقَوْمِ الصّٰلِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوا جَنّٰتٍ

الْقَوْمِ	الصّٰلِحِينَ	فَأَثَابَهُمُ	اللّٰهُ	بِمَا	قَالُوا	جَنّٰتٍ
قوم	صالحانو	پس بدل ورکړ دوی ته	الله	په سبب د هغه	چې ویلی وه دوی	جنتونه

قوم صالحانو (چې محمدی امت دی په جنت کښې). پس بدل ورکړ دوی ته الله په سبب د هغه چې ویلی وه دوی جنتونه

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذٰلِكَ جَزَآءُ

تَجْرِي	مِنْ	تَحْتِهَا	الْأَنْهٰرُ	خٰلِدِينَ	فِيهَا	وَذٰلِكَ	جَزَآءُ
چې بهیږی	له	لاندی د دوی	ویالی	چې تل به وی دوی	په هغو کښی	او دا (جنت)	جزاء

چې بهیږی له لاندی (د ونو او ماڼیو) د دوی ویالی چې تل به وی دوی په هغو کښی او دا (جنت) جزاء

وَإِذَا سَمِعُوْا مَآ أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ.. دځینو اهل کتابو حق پرستي: په دې ایاتونو کي دمسلمانانو سره ددښمنی یا دوستی په معیار سره دهغه اهل کتابو ذکر سوی دی چي دخپلي حق پرستی او دخدای ﷻ څخه دبیري په وجه يي دمسلمانانو سره بغض او دښمني نه لرله لیکن ددې صفتونو خلګ په یهودو کي ډیر کم بلکي نیست وه لکه حضرت عبدالله ابن سلام رضي الله عنه اونور په نصاراوو کي نسبتاً دداسي خلګو شمیر زیات وو خاص بیا دنبي کریم ﷺ په مبارک وخت کي دحبشو پاچا نجاشي اوددغه ځای په حاکمانو او عوامو کي دداسي خلګو شمیر زیات وو او په دې سبب سره چي کله دمکې مکرمې مسلمانان دقریشو دظلمونو څخه تنګ سول نو نبي کریم ﷺ دوی ته دحبشې طرف ته دهجرت کولو مشوره ورکړه او وې ویل چي ما اوریدلي دي چي دحبشو پاچاه نه په خپله ظلم کوي او نه بل ظلم کولو ته پریږدي په دې وجه تاسي دځه وخت دپاره هلته ولاړسی په دې مشوره عمل کوونکي صحابه کرام رضي الله عنهم اول ځل یوولس کسه وه او حبشې ته وو تل هجرت یي وکړی (معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص٢) مکتبه حبیبیه :

www.jamairahmani.org

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ

الْمُحْسِنِيْنَ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَكَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَآ
د محسنانو ده	او هغه کسان	چې کافران سوی دی	او نسبت د دروغ‌ئې کړی دی	آیتونو زموږ ته

د محسنانو (نیکی کوونکو) ده. او هغه کسان چې کافران سوی دی او نسبت د دروغ‌ئې کړی دی آیتونو زموږ ته

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا

اُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ	الْجَحِيْمِ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تُحَرِّمُوْا
هم دغه کسان	صاحبان	دجحیم دی	ای	هغو کسانو	چې ایمان‌ئې راوړی دی	مه حراموئ تاسی

هم دغه کسان صاحبان د جحیم (ملګری د دوزخ) دی. ای هغو کسانو چې ایمان‌ئې راوړی دی مه حراموئ تاسی

طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

طَيِّبٰتِ	مَآ	اَحَلَّ	اللّٰهُ	لَكُمْ	وَلَا تَعْتَدُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ
پاک لذیذ	له هغو شیانو چې	حلال کړی دی	الله	له پاره ستاسی	او مه کوئ تیری تاسی	بیشکه!	چې الله

پاک لذیذ له هغو شیانو چې حلال کړی دی الله له پاره ستاسی او مه کوئ تیری تاسی بیشکه! چې الله

لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا

لَا يُحِبُّ	الْمُعْتَدِيْنَ	وَكُلُوْا	مِمَّا	رَزَقَكُمُ	اللّٰهُ	حَلٰلًا
نه خوښوی	تیریدونکی له حدودو	او خورئ تاسی	له هغه شی څخه	چې رزق درکړی دی تاسی ته	الله	حلاله

نه خوښوی تیریدونکی له حدودو. او خورئ تاسی له هغه څیزه چې رزق درکړی دی تاسی ته الله (چې) حلاله

طَيِّبًا ۪ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ

طَيِّبًا	وَّاتَّقُوا	اللّٰهَ	الَّذِيْٓ	اَنْتُمْ	بِهٖ	مُؤْمِنُوْنَ	لَا يُؤَاخِذُكُمُ
پاکیزه	او وبیریږی له	الله څخه	هغه	چې تاسی	پری	ایمان لرونکی یئ	نه نیسی تاسی

پاکیزه (ده) او وبیریږی له الله څخه هغه (الله) چې تاسی پری ایمان لرونکی یئ!. نه نیسی تاسی

اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ

اللّٰهُ	بِاللَّغْوِ	فِيْٓ	اَيْمَانِكُمْ	وَلٰكِنْ	يُّؤَاخِذُكُمْ	بِمَا	عَقَّدْتُّمُ
الله	په لغوه سره	په	قسمونو ستاسی کښی	ولیکن	نیسی تاسی	په هغه سره	چې کلک کړی وی تاسی

الله په لغوه سره په قسمونو ستاسی کښی. ولیکن نیسی تاسی په (ماتولو د) هغه (عهد) سره چې کلک کړی وی تاسی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا يوحلال شي لره دحرام مقررولو درې درجې

درجې: يوحلال شي لره دحرام مقررولو درې درجې دي اول: داچې په عقيده سره دا حرام ګڼي: دوهم: دا چې په وينا سره دغه شی ځان ته حرام کي مثلا قسم وخوري چې يخي اوبه به نه چيښم يا فلانی قسم حلال شی به نه خورم: دريم: داچې عقيده او وينا هيڅ هم نه وي سوي محض عملي دهميشه دپاره ديوحلال شي دپرېښوولو قصد وکړی په اولني صورت کښي که ددغه شي حلالوالی په قطعي دليلونو سره ثابت وي نوددې په حرام ګڼلو سره به دالله ﷻ دقانون په ړاګه دخلاف کولو په وجه سره به دی کافر سي او په دوهم صورت کي که دقسم دالفاظو په ويلو سره يي دغه شی پر ځان حرام کړی نو قسم به يي وسي او دقسم ډير الفاظ دي: په دوی کي يو مثال دادی چې مثلا په ړاګه ووايي چې په الله ﷻ مي دي قسم وي چې دافلانی شی به نه خورم ددې حکم دادی چې بې ضرورته داسي قسم خوړل ګناه ده بايد قسم مات کي او کفاره ورکي. ددريم حکم دادی که يي داپريښوول دحلال شي ثواب ګڼی نو بدعت دی او که يه نيت دثواب نه وي بلکي يوه بله وجه وي نوحرج نسته:
(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۶)

ع ۱

www.jamairahmani.org

اَلْاَيْمَانَۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ

اَلْاَيْمَانَ	فَكَفَّارَتُهٗٓ	اِطْعَامُ	عَشَرَةِ	مَسٰكِيْنَ	مِنْ	اَوْسَطِ
قسمونه	نو كفاره د دى	طعام وركول دى	لسو	مسكينانو ته	له	اوسطى (درجى)

قسمونه (پر هغه په قصد دزړه سره) نو كفاره (د ماتولو) د دى (قسم) طعام وركول دى لسو مسكينانو ته له اوسطى (درجى)

مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ

مَا	تُطْعِمُوْنَ	اَهْلِيْكُمْ	اَوْ	كِسْوَتُهُمْ	اَوْ
دهغو خوړو	چي طعام وركوئ تاسى	كورنيو خپلو ته	يا	جامي وركول دى دوى ته	يا

دهغو خوړو چي طعام وركوئ تاسى (په هغه سره) كورنيو خپلو ته يا جامي وركول دى (لسو مسكينانو) ته يا

تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍؕ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍؕ ذٰلِكَ

تَحْرِيْرُ	رَقَبَةٍ	فَمَنْ	لَّمْ يَجِدْ	فَصِيَامُ	ثَلٰثَةِ	اَيَّامٍ	ذٰلِكَ
آزادول د	يو مرئ دى	نو هر څوك چي	پيدا نه كړي	نو روژه نيول	د درو	ورځو دى	دا

آزادول د (يوى) غاړى دى (د مرئى) نو هر څوك چي ونه مومي (له دغو درو واړو څخه) نو روژه نيول د درو ورځو دى دا

كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْؕ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْؕ

كَفَّارَةُ	اَيْمَانِكُمْ	اِذَا	حَلَفْتُمْ	وَاحْفَظُوْٓا	اَيْمَانَكُمْ
كفاره	دقسمونو ستاسى ده	كله چي	قسم ياد كړئ تاسى	او ساتئ تاسى	قسمونه خپل

(مذكوره شيان) كفارت د قسمونو ستاسى دى كله چي قسم ياد كړئ تاسى او ساتئ تاسى قسمونه خپل (دهر قسم نقصان څخه)

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾

كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمْ	اٰيٰتِهٖ	لَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ
هم داسى	بيانوى	الله	تاسى ته	آيتونه خپل	لپاره د دى	چي شكر وكاږئ

هم داسى بيانوى الله تاسى ته آيتونه خپل له پاره د دى چي شكر وكاږئ (په دى نعمت، احسان او شرعى بيان)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ

يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنَّمَا	الْخَمْرُ	وَالْمَيْسِرُ	وَالْاَنْصَابُ
اى	هغو كسانو	چي ايمان ئى راوړى دى	بيشكه! هم داخبره ده	چي شراب	او قمار	او بتان

اى هغو كسانو چي ايمان ئى راوړى دى بيشكه! هم دا خبره ده چي شراب او قمار او بتان

فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ دقسم خوړلو څو صورتونه او ددي متعلق حكمونه: په دې آيت كي دقسم خوړلو دېو څو صورتونو بيان دى.

خلاصه دټولو داده چي كه چا په تيره واقعه باندي قصدا په دروغو سره قسم وخوړى دي ته دفقهاوو په اصطلاح كي يمين غموس وايي ځكه چي دغموس معنى ده ډوبوونكى دا قسم بنده په ګناه او وبال كي ډوبوي: **دوهم صورت** دادى چي پر تيره واقعه باندي چي دى يي په خپل نزد رښتيني ګڼي قسم وخوري او په واقع كي هغه غلطه وي مثلا په څه ذريعه معلومه سوي وي چي فلانى سړى راغلى دى او دى په دې خبره يقين وكي قسم وخوري چي هغه راغلى دى او بيا معلومه سي چي داقسم دواقعې خلاف دى هغه نه دى راغلى دې ته يمين لغوه وايي دغه ډول كه بې ارادې دژبې څخه دقسم لفظ ووزي نو دې ته هم يمين لغوه ويل كيږي ددې حكم دادى چي په دې كي نه كفاره سته او نه ګناه: **دريم صورت** دادى چي په راتلونكي كي د يوه كارپر كولو يانه كولو قسم واخلي دې ته يمين منعقده وايي ددې دماتولو په صورت كي كفاره لازميږي او كله كله ګناه هم وي. (معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۹)

www.jamairahmani.org

وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ

وَالْاَزْلَامُ	رِجْسٌ	مِّنْ	عَمَلِ	الشَّيْطٰنِ	فَاجْتَنِبُوْهُ
او غشي	پليت دي	له	كار	دشيطان څخه دي	نو ځان وساتئ تاسي له دي څخه

او غشي (دفال، داخلور واره تول) پليت دي له كار د شيطان څخه دي نو ځان وساتئ تاسي له دي څخه

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝٩٠ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ

لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ	اِنَّمَا	يُرِيْدُ	الشَّيْطٰنُ	اَنْ	يُّوْقِعَ
له پاره د دي	چي نجات پيدا كړئ تاسي	بيشكه! چي هم داخبره ده	غواړي	شيطان	چي	واچوي

له پاره د دي چي نجات ومومئ تاسي (په دي ځان ساتلو سره). بيشكه! چي هم داخبره ده ، غواړي شيطان چي واچوي

بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ

بَيْنَكُمُ	الْعَدَاوَةَ	وَالْبَغْضَآءَ	فِي	الْخَمْرِ	وَالْمَيْسِرِ
په مينځ ستاسي كښي	عداوت	او بغض	په (ځښلو)	دشرابو كښي	او قمار كښي

په مينځ ستاسي كښي عداوت (دښمني) او بغض (كينه) (په ځښلو) د شرابو كښي او (كولو د) قمار كښي

وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ

وَيَصُدَّكُمْ	عَنْ	ذِكْرِ	اللّٰهِ	وَعَنِ	الصَّلٰوةِ	فَهَلْ	اَنْتُمْ
او واړوي تاسي	له	ياده	دالله	او له	لمانځه څخه	نو آيا	يئ تاسي

او واړوي تاسي له ياده د الله او له لمانځه څخه نو آيا يئ تاسي

مُّنْتَهُوْنَ ۝٩١ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ

مُّنْتَهُوْنَ	وَاَطِيْعُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوا	الرَّسُوْلَ	وَاحْذَرُوْا
منع كيدونكي	او ومنئ تاسي	الله	او ومنئ تاسي	رسول	او وساتئ تاسي

منع كيدونكي. او ومنئ تاسي (حكم د) الله او ومنئ تاسي (حكم د) رسول (د الله) او وساتئ تاسي (ځان د مخالفته)

فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا

فَاِنْ	تَوَلَّيْتُمْ	فَاعْلَمُوْٓا	اَنَّمَا	عَلٰى	رَسُوْلِنَا
پس كه	وګرځيدلئ تاسي له احكامو د دوی	نو پوه سئ چي	بيشكه! هم داخبره ده	چي پر	رسول زموږ

پس كه وګرځيدلئ تاسي له احكامو د دوی نو پوه سئ چي بيشكه! هم دا خبره ده چي پر رسول زموږ (محمد)

اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ... دشرابو او قماربدني او روحاني فسادونه: دآيت دشان نزول او تردي وروسته راتلونكي آيت څخه داسي معلوميږي چي په دې آيت كي اصل مقصود ددرو شيانو دحراموالي او فسادونو بيانول دي يعني شراب، او قمار ، او انصاب ، يعني بتان او دبتانو ذكر يي ددې سره يوځاى ځكه كړى دى چي اور يدونكي په دې پوه سي چي دشرابو او قمار جرم داسي سخت دى لكه بت پرستي: دابن ماجه شريف په يوه حديث كى نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي (شارب الخمر كعابد الوثن) يعني دشرابو چيښونكى داسي مجرم دى لكه دبت عبادت كوونكى او په ځينو رواياتو كى داسي راغلي دي (شارب الخمر كعابد اللات والعزّى) يعني دشرابو چيښونكى داسي دى لكه دلات اوعزى عبادت كوونكي: خلاصه دخبري داسوه چي دلته دشرابو او خمار دسخت حراموالي او ددوى د جسماني او د روحاني خرابيو بيان دى اول يي روحاني اومعنوي خرابى د رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ په الفاظو كي بيان كړى.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۱۴)

www.jamairahmani.org

الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٩٢﴾ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

الْبَلٰغُ	الْمُبِيْنُ	لَيْسَ	عَلَى	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
هم دا رسونه ده	ښکاره	نشته	پر	هغو کسانو	چي ايمان ئې راوړی دی	او کړی ئې وی

هم دا رسونه (دپيغام) ده ښکاره. نشته پر هغو کسانو چي ايمان ئې راوړی وی او کړی ئې وی

الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا

الصّٰلِحٰتِ	جُنَاحٌ	فِيْمَا	طَعِمُوْٓا	اِذَا مَا	اتَّقَوْا	وَّاٰمَنُوْا
ښه (عملونه)	هيڅ ګناه	په هغه شی کښې	چی خوړلی دی دوی	کله چی	ځانونه وساتی	او ټينګ وی په ايمان کښې

ښه(عملونه)هيڅ ګناه په هغه شی کښې چی خوړلی دی دوی کله چی دراتلونکو ښخه ځان وساتی او ټينګ وی په ايمان کښې

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ۭ

وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	ثُمَّ	اتَّقَوْا	وَّاٰمَنُوْا	ثُمَّ	اتَّقَوْا	وَّاَحْسَنُوْا
او کوی	ښه (عملونه)	بيا	ځان ټينګ کړی	او ايمان راوړی	بيا	پرهيز کوی	او احسان کوی

او کوی ښه (عملونه) بيا ځان ټينګ کړی (له محرماتو) او ايمان راوړی بيا پرهيز کوی (له شبهاتو) او احسان کوی (له خلکو سره)

ع ١٢

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٩٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

وَ	اللّٰهُ	يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
او	الله	خوښوی	نيکی کوونکی	ای	هغو کسانو	چی ايمان ئې راوړی دی

او الله خوښوی نيکی کوونکی (نو ښه جزا ورکوی). ای هغو کسانو چی ايمان ئې راوړی دی

لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ

لَيَبْلُوَنَّكُمُ	اللّٰهُ	بِشَيْءٍ	مِّنَ الصَّيْدِ	تَنَالُهٗٓ	اَيْدِيْكُمْ
خامخا ازمويی تاسی هرومرو	الله	په يوه شی	د ښکاره	چی رسيږی هغو ته	لاسونه ستاسی

خامخا ازمويی تاسی هرومرو الله په يوه شی له ښکاره چی رسيږی (ځينو د) هغو ته لاسونه ستاسی (چی واړه دی)

وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ

وَرِمَاحُكُمْ	لِيَعْلَمَ	اللّٰهُ	مَنْ	يَّخَافُهٗ	بِالْغَيْبِ	فَمَنِ
او نيزی ستاسی	دپاره د دی چی ښکاره کړی	الله	هغه څوک	چی ويريږی له ده	په غيب سره	نو هر هغه

او نيزی ستاسی (چی غټ دی) دپاره د دی چی ښکاره (معلوم) کړی الله هغه څوک چی ويريږی له ده په غيب سره نو هر هغه

اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

تحقيق کوونکو ليکلي دي: چي دتقوی (يعني ددين دضررونو ښخه دځان ساتلو) څو درجې دي او دايمان اوديقين مرتبې هم په لحاظ دقوت او ضعف په تفاوت سره دي دتجربې او شرعي دليلونو ښخه ثابته ده چي څومره انسانان په ذکر و فکر ،نيک عمل او دالله ﷻ په لاره کي په جهاد کي ترقي کوي دومره دخدای ﷻ ښخه بيره او دهغه دلويي او جلال په تصور سره زړه آباد او ايمان او يقين مضبوط او محکمه کيږي د الله ﷻ طرف ته درسيدو دمرتبې ددې ترقی او عروج طرف ته په دې ايت کي دتقوی او ايمان په بيا بيا مکرر کولو سره اشاره فرمايي او دسلوک په آخري مقام احسان او ددې په فايده خبرداری فرمايي (فوايدعثماني)

مسئله: ښکار کم چي په حرم کي او په احرام کي حرام دی دا عام دی برابره خبره ده که داسي حيوان وي چي غوښي يي خوړل کيږي او که غوښي يي نه خوړل کيږي حرام وي ځکه چي حکم په دغه آيت کي مطلق راغلی دی.

(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٢١)

www.jamairahmani.org

اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۹۴﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اعْتَدٰى	بَعْدَ ذٰلِكَ	فَلَهٗ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
چې له حده تيرى وكړى	پس له دى	نو دى ده ته	عذاب	دردناك	اى	هغو كسانو

چې له حده تيرى وكړى پس له دى نو دى ده ته عذاب دردناك. اى هغو كسانو

اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ وَمَنْ قَتَلَهٗ

اٰمَنُوْا	لَا تَقْتُلُوا	الصَّيْدَ	وَاَنْتُمْ	حُرُمٌ	وَمَنْ	قَتَلَهٗ
چې ايمان ئې راوړى دى	مه وژنئ تاسى	ښكار	حال داچې تاسى	محرمان اوسئ	او هرهغه	چې ووژنى دا

چې ايمان ئې راوړى دى مه وژنئ تاسى ښكار حال داچې تاسى محرمان اوسئ او هرهغه چې ووژنى دا (ښكار)

مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ

مِنْكُمْ	مُّتَعَمِّدًا	فَجَزَآءٌ	مِّثْلُ	مَا	قَتَلَ	مِنَ	النَّعَمِ	يَحْكُمُ
له تاسى څخه	په قصد سره	نو بدل دى	په مثل	دهغه چې	وژلى دى	له	چارپايانو څخه	چې حكم به كوى

له تاسى څخه په قصد سره نو (پرى) بدل دى په مثل د هغه چې وژلى (يى) دى له چارپايانو څخه چې حكم به كوى

بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًاۢ بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ

بِهٖ	ذَوَا عَدْلٍ	مِّنْكُمْ	هَدْيًا	بٰلِغَ	الْكَعْبَةِ	اَوْ كَفَّارَةٌ
په هغه سره	دوه خاوندان دعدل	له تاسى څنې	په دى حال چې هغه د نذر په ډول	ورسولى شى	كعبى ته	يا پرى كفاره ده

په هغه سره دوه خاوندان د عدل له تاسى څنې په دى حال چې هغه د نذر په ډول ورسولى شى كعبى ته يا پرى كفاره ده

طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ وَبَالَ

طَعَامُ	مَسٰكِيْنَ	اَوْ عَدْلُ	ذٰلِكَ	صِيَامًا	لِّيَذُوْقَ	وَبَالَ
طعام	دمسكينانو	يا برابرى	دهغه	روژه نيول دى	لپاره د دى چې وڅكى	سختى

طعام د مسكينانو يا په برابرى د هغه (طعام) روژه نيول دى له پاره د دى چې وڅكى سختى

اَمْرِهٖ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ

اَمْرِهٖ	عَفَا	اللّٰهُ	عَمَّا	سَلَفَ	وَمَنْ	عَادَ	فَيَنْتَقِمُ	اللّٰهُ
دعمل خپل	عفوه كړى ده	الله	له هغه شى	چې پخوا تيرسوى دى	او هرهغه	چې بيرته وكرځيده	نو بدل به واخلى	الله

دعمل خپل عفوه كړى ده الله له هغه شى چې پخوا تير سوى دى او هر هغه چې بيرته وكرځيده نو بدل به واخلى الله

وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ...

يو څو شرعي مسائل:

مسئله: ښكار (يعني صيد) هغه حيوانانو ته ويل كيږي چې وحشيان وي عادتاً دانسانانو په خواه كي نه اوسي وروسته كم حيوان چې پيدا ينبني دكورونو دساتني وي لكه پسونه، بزي، غواګاني، اوښان، ددوى ذبح كول او خوړل رواه دي.

مسئله: البته كم چې په دليل سره مستثنى سوي دي او دهغوى نيول او قتلول رواه دي لكه ددرياب دحيوانانو ښكار په دي قول سره دالله ﷻ (احلّ لكم صيد البحر) او ځيني دوچي حيوانان لكه كارغه، تپوس، شرموښ، مار، لړم او چيچونكى سپى دغه شان هغه درنده چي په خپله حمله كوي پرچا باندي ددوى قتل هم رواه دى په حديث شزيف كي ددوى داستثناء ذكر راغلى دى ددي څخه معلومه سوه چي په (الصيد) كي الف لام عهدي دى: **مسئله**: كم حلال ښكار چي داحرام څخه بغير او دحرم څخه بهر اوسي ددي خوړل محرم لره جايز دي هر كله چي دى دده په قتل كي دنورو مددكوونكى يا اشاره كوونكى يا ښوونكى نه وي په حديث شريف كي هم داسي راغلي دي.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۲۱)

www.jamairahmani.org

مِنۡهُ وَ اللّٰهُ عَزِيۡزٌ ذُو انۡتِقَامٍ ﴿٩٥﴾ اُحِلَّ لَكُمۡ صَيۡدُ الۡبَحۡرِ

مِنۡهُ	وَ	اللّٰهُ	عَزِيۡزٌ	ذُو	انۡتِقَامٍ	اُحِلَّ	لَكُمۡ	صَيۡدُ	الۡبَحۡرِ
له ده څخه	او	الله	ښه قوي غالب دی	څښتن	د بدل اخيستو دی	حلال کړی سوی دی	تاسی ته	ښکار	د دریاب

له ده څخه او الله ښه قوي غالب دی څښتن (خاوند) د بدل اخيستو دی. حلال کړی سوی دی تاسی ته ښکار د دریاب

وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمۡ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيۡكُمۡ

وَطَعَامُهٗ	مَتَاعًا	لَّكُمۡ	وَلِلسَّيَّارَةِ	وَحُرِّمَ	عَلَيۡكُمۡ
او طعام د دریاب	لپاره د نفع اخيستو	ستاسی	او د پاره د مسافرانو	او حرام کړی سوی دی	په تاسی

او طعام د دریاب لپاره د نفع اخيستو ستاسی او دپاره د (نورو) مسافرانو او حرام کړی سوی دی په تاسی

صَيۡدُ الۡبَرِّ مَا دُمۡتُمۡ حُرُمًا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيۡۤ اِلَيۡهِ

صَيۡدُ	الۡبَرِّ	مَا دُمۡتُمۡ	حُرُمًا	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	الَّذِيۡۤ	اِلَيۡهِ
ښکار	د وچې	څو چې اوسئ تاسی	احرام تړونکی	او وبیرېږئ تاسی	له الله	هغه چې	هم ده ته به

ښکار د وچې څو چې اوسئ تاسی محرمان او وبیرېږئ تاسی له الله هغه چې هم ده ته به

تُحۡشَرُوۡنَ ﴿٩٦﴾ جَعَلَ اللّٰهُ الۡكَعۡبَةَ الۡبَيۡتَ الۡحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ

تُحۡشَرُوۡنَ	جَعَلَ	اللّٰهُ	الۡكَعۡبَةَ	الۡبَيۡتَ	الۡحَرَامَ	قِيٰمًا	لِّلنَّاسِ
ورټول کړل سئ تاسی	ګرځولی ده	الله	کعبه	چې کوټه د ه	د بزرګی	د قیام	له پاره د خلکو

ورټول کړل سئ تاسی. ګرځولی ده الله کعبه چې کوټه ده د بزرګی (او عبادت) د قیام (او انتظار) له پاره د خلکو

وَالشَّهۡرَ الۡحَرَامَ وَالۡهَدۡیَ وَالۡقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعۡلَمُوۡۤا

وَالشَّهۡرَ	الۡحَرَامَ	وَالۡهَدۡیَ	وَالۡقَلَآئِدَ	ذٰلِكَ	لِتَعۡلَمُوۡۤا
او میاشته	بزرګه	او مذبوحه نذر سوی کعبی ته	او آمیل داره چارپایان	دا	دپاره د دی چې پوه سئ تاسی

او میاشته بزرګه (هم) او مذبوحه نذر سوی کعبی ته (هم) او آمیل داره چارپایان دا دپاره د دی چې پوه سئ تاسی

اَنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ

اَنَّ	اللّٰهَ	يَعۡلَمُ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الۡاَرۡضِ
چې بیشکه!	الله	عالم دی	په هر هغه شی	چې دی په آسمانونو کښی	او په هر هغه شی چې	دی په مځکه کښی

چې بیشکه! الله عالم دی په هر هغه شی چې دی په آسمانونو کښی او په هر هغه شی چې دی په مځکه کښی

اُحِلَّ لَكُمۡ صَيۡدُ الۡبَحۡرِ وَطَعَامُهٗ... يوځو شرعي مسائل: **مسئله**: د حرم په ښکار لکه څنګه چې قصدا په قتلولو سره جزاء لازمه ده دغه شان په خطاء او په هيره سره هم جزاء واجبه ده. **مسئله**: لکه څنګه چې په اول وار سره جزاء واجب ده دغه شان په دوهم او دريم وار قتلولو سره هم واجب ده. **مسئله**: د جزاء مطلب دادی چې په کم وخت او په کم ځای کي دا حيوان قتل سوی دی ښه خو داده چې په دوو عادلانو سړو سره او دا هم جايز ده چې په يوه عادل سړي سره د دغه حيوان د قيمت اندازه ولګوي بيا په هغه کي تفصيل دادی چې دغه قتل سوی حيوان که غير ماکول وي يعني غوښه يي نه خوړل کيږي نو د هغه قيمت به د يوې بزې تر قيمت زيات نه واجبيږي او که دغه حيوان د خوراک وو نو څومره اندازه چې ولګول سوه هغه به ټوله واجب وي او په دواړو حالاتو کي مخکي دلره په درو صورتونو کي اختيار دی که غواړي نو په دغه قيمت دي يو حيوان د قرباني د شرطو موافق واخلي او د حرم په حدودو کي دي دننه ذبح کړي او يا د هغه د قيمت برابر غله واخلي پر فقيرانو باندي دي تقسيم کړي او يا روژه نيول د هر نيم صاع په بدل کي (معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٢٢)

www.jamairahmani.org

وَ اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٩٧﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

وَاَنَّ	اللّٰهَ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيْمٌ	اِعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	شَدِيْدُ
او بیشکه!	الله	په هر	شی باندی	ښه عالم دی	پوه سئ تاسی	چی بیشکه!	الله	ډیر سخت دی

او بیشکه! الله په هر شی باندی ښه عالم دی. پوه سئ تاسی چی بیشکه الله ډیر سخت دی

الْعِقَابِ وَ اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٨﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ

الْعِقَابِ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	مَا	عَلَى	الرَّسُوْلِ	اِلَّا الْبَلٰغُ
عذاب د ده	او بیشکه!	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډیر مهربان دی	نسته	په (ذمه)	رسول زما	مګر رسونه ده

عذاب د ده او بیشکه! الله ښه مغفرت کوونکی ډیر مهربان دی. نسته په غاړه (په ذمه) د رسول زما مګر رسونه (د پیغام) ده

وَ اللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَ مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٩٩﴾ قُلْ

وَ	اللّٰهُ	يَعْلَمُ	مَا	تُبْدُوْنَ	وَمَا	تَكْتُمُوْنَ	قُلْ
او	الله	عالم دی	په هغه شی	چی ښکاره کوئ ئی تاسی	او په هغه شی	چی پټوئ ئی تاسی	ووایه (ای محمده!)

او الله عالم دی په هغه شی (هم) چی ښکاره کوئ ئی تاسی او په هغه شی (هم) چی پټوئ ئی تاسی. ووایه (ای محمده!)

لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَ الطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ

لَّا يَسْتَوِي	الْخَبِيْثُ	وَالطَّيِّبُ	وَلَوْ	اَعْجَبَكَ	كَثْرَةُ	الْخَبِيْثِ
نه برابریږی	خبیث	او طیب	اګر که ښه	درښکاره سی تاته	ډیر والی	د خبیث

نه برابریږی خبیث (ناپاک) او طیب (پاک) اګر که ښه درښکاره سی تاته ډیر والی د خبیث (ناپاکه)،

فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٠﴾

فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	يٰٓاُولِي	الْاَلْبَابِ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ
نو ویریږئ تاسی	له الله	ای خاوندانو	د عقلونو	له پاره د دی چی تاسی	نجات پیدا کړئ

نو ویریږئ تاسی له الله ای خاوندانو د (صافو) عقلونو له پاره د دی چی تاسی نجات و مومئ.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ

يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَسْئَلُوْا	عَنْ	اَشْيَآءَ	اِنْ	تُبْدَ	لَكُمْ
ای	هغو کسانو	چی ایمان ئی راوړی دی	مه کوئ تاسی پوښتنی	له	شیانو	که	ښکاره کړ سی	تاسی ته

ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی مه کوئ تاسی پوښتنی له (هغو) شیانو که ښکاره کړ سی تاسی ته

قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ... په عربي ژبه کي طيب او خبيث دوه متقابل لفظونه دي: طيب دهر شي ښه کره او غوره ته وايي او خبيث دهر شي ردي او خراب ته وايي په دې ايت کي داکثرو مفسرينو رحمة الله عليهم په نزد دخبيث څخه مراد حرام يا ناپاک دي او دطيب څخه مراد حلال او پاک دي دآيت معنی دا سوه چي دالله جل جلاله په نزد بلکي دهر روغ عقل په نزد پاک او ناپاک يا حلال اوحرام برابر يدای نه سي .دلته لفظ دخبيث او طيب دخپل عاموالي په اعتبار سره حرام او حلال مال او دولت لره شامل دي ،اوښو او بدو انسانانولره هم شامل دي او ښواوبدوعملونو او اخلاقو لره هم شامل دي مطلب دآيت واضح دی چي ديو عقل سليم په نزد نيک او بد ښه او ناکاره برابر نه دي ددې فطري قانون موافق دالله جل جلاله په نزد حلال او حرام يا مردار او پاک شيان برابر نه دي مخ ته الله جل جلاله ارشاد فرمايي وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ يعني که څه هم ځيني وخت ليدونکو ته دخراب او خبيثو شيانو ډيروالی څه عجيبه معلوميږي.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص٢٩)

ع ١٣

www.jamairahmani.org

تَسُؤۡكُمۡ ۚ وَاِنۡ تَسۡـَٔلُوۡا عَنۡهَا حِيۡنَ يُنَزَّلُ الۡقُرۡاٰنُ

تَسُؤۡكُمۡ	وَاِنۡ	تَسۡـَٔلُوۡا	عَنۡهَا	حِيۡنَ	يُنَزَّلُ	الۡقُرۡاٰنُ
خپه به کړی تاسی	او که	پوښتنی وکړئ تاسی	له هغو	په داسی وخت کښی	چی نازل کاوه سی	قرآن

خپه به کړی تاسی (هغه ځواب) او که پوښتنی وکړئ تاسی له (حاله) د هغو په داسی وخت کښی چی نازل کاوه سی قرآن

تُبۡدَ لَكُمۡ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَنۡهَا ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ﴿۱۰۱﴾ قَدۡ

تُبۡدَ	لَكُمۡ	عَفَا	اللّٰهُ	عَنۡهَا	وَاللّٰهُ	غَفُوۡرٌ	حَلِيۡمٌ	قَدۡ
ښکاره به کړی سی	تاسی ته	عفوه کړی ده	الله	له هغو	او الله	ښه بخښونکی	ډیر تحمل والا دی	په تحقیق

ښکاره به کړی سی تاسی ته عفوه کړی ده الله له هغو او الله ښه بخښونکی ډیر تحمل والا دی په تحقیق

سَاَلَهَا قَوۡمٌ مِّنۡ قَبۡلِكُمۡ ثُمَّ اَصۡبَحُوۡا بِهَا كٰفِرِيۡنَ ﴿۱۰۲﴾

سَاَلَهَا	قَوۡمٌ	مِّنۡ قَبۡلِكُمۡ	ثُمَّ	اَصۡبَحُوۡا	بِهَا	كٰفِرِيۡنَ
پوښتنه کړی وه د داسی خبرو	یو قوم	پخوا له تاسی	بیا	وګرځیدل	پری	کافران

پو ښتنه کړی وه د داسی خبرو یو قوم پخوا له تاسی بیا وګرځیدل پری کافران (منکران) .

مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنۡۢ بَحِيۡرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيۡلَةٍ وَّلَا حَامٍ ۙ

مَا جَعَلَ	اللّٰهُ	مِنۡ	بَحِيۡرَةٍ	وَّلَا	سَآئِبَةٍ	وَّلَا	وَصِيۡلَةٍ	وَّلَا حَامٍ
نه دی رواوکړی	الله	هیڅ	بحیری	او نه	سائبی	او نه	وصیلی	او نه حام

نه دی روا کړی الله هیڅ بحیری او نه سائبی او نه وصیلی او نه حام (د جاهلیت د زمانی د خلګو حرام کړی حیوانات)

وَّلٰكِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ ؕ

وَّلٰكِنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	يَفۡتَرُوۡنَ	عَلَى	اللّٰهِ	الۡكَذِبَ
ولیکن	هغه کسان	چی کافران سوی دی	تړی دوی	پر	الله	دروغ (بهتان)

ولیکن هغه کسان چی کافران سوی دی تړی دوی پر الله دروغ (بهتان)

وَاَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۰۳﴾ وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡا اِلٰى مَاۤ

وَاَكۡثَرُهُمۡ	لَا يَعۡقِلُوۡنَ	وَاِذَا	قِيۡلَ	لَهُمۡ	تَعَالَوۡا	اِلٰى مَاۤ
او ډیر له دوی څخه	نه پوهیږی	او کله چی	وویل سی	دوی ته	چی راسئ تاسی	هغه شی ته

او ډیر له دوی څخه نه پوهیږی (په حق او باطل). او کله چی وویل سی دوی ته چی راسئ تاسی هغه شی ته

وَاِنۡ تَسۡـَٔلُوۡا عَنۡهَا حِيۡنَ يُنَزَّلُ....دبې ضرورته پوښتنو څخه منع : په دې اياتونو کي په دې خبره خبرداری ورکول سوی دی چي دځينو خلګو داالله ﷻ په حکمونو کي بې ضرورته دباريکيولتولواو تروريښته دخرمني ايستلو شوق وي او کم حکمونه چي ورکول سوي نه وي دهغه متعلق بغير دڅه حاجت او ضرورته سوالونه کوي په دې آيت کي دوی ته دا ښوونه ورکول سوې ده چي دوی دي داسي سوالونه نه کوي چي په جواب کي يي پردوی څه سخته راځي يا دپټو رازونو په ښکاره کيدو سره ددوی رسوايي وسي : ددې اياتو شان نزول دادی چي کله دحج دفرضيت اياتونه رانازل سول نو اقرع ابن حابس رضي الله عنه پوښتنه وکړه چي ايا هر کال حج زموږ پر ذمه فرض دی ؟ نبي کريم ﷺ ددې سوال جواب ورنه کی نو هغه بيا بيا سوال وکی نبي کريم ﷺ خاموشه وو چي ده په دريم وار بيا سوال وکی نو دغه وخت نبي کريم ﷺ دته په زورني سره خبرداری ورکی چي که ما ستاسي په جواب کي هو ويلي وای نو بيا به هر کال پر تاسي باندي حج واجب وای الخ.
(معارف القرآن ج۳ پ۷ ص۳۲)

www.jamairahmani.org

اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوۡلِ قَالُوۡا حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا

اَنۡزَلَ	اللّٰهُ	وَاِلَى	الرَّسُوۡلِ	قَالُوۡا	حَسۡبُنَا	مَا	وَجَدۡنَا
چې نازل کړې دی	الله	او پر طرف	د رسول	نو وائی دوی	بس دی موږ ته	هغه دین	چې پیدا کړی دی موږ

چې نازل کړې دی الله او (راسئ) په لوری (دحکم) د رسول نو وائی دوی بس دی موږ ته هغه دین چې پیدا کړی دی موږ

عَلَيۡهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوۡ كَانَ اٰبَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ شَيۡـًٔا

عَلَيۡهِ	اٰبَآءَنَا	اَوَلَوۡ	كَانَ	اٰبَآؤُهُمۡ	لَا يَعۡلَمُوۡنَ	شَيۡـًٔا
پر هغه (دین)	پلرونه خپل	آیا اګر که	وو	پلرونه د دوی	چې نه به پوهیدل	په هیڅ شی

پر هغه (دین) پلرونه خپل آیا (بس دی دوی ته) اګر که وو پلرونه د دوی چې نه به پوهیدل په هیڅ شی

وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۰۴﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ ۚ

وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	عَلَيۡكُمۡ	اَنۡفُسَكُمۡ
او نه به ئی لاره پیدا کول (له حق ته)	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئی راوړی دی	لازمه ونیسئ پر ځانونو	اصلاح د نفسونو خپلو

او نه به ئی لاره موندله (حق ته). ای هغو کسانو چې ایمان ئی راوړی دی لازمه ونیسئ پر ځانونو اصلاح د نفسونو خپلو

لَا يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ اِذَا اهۡتَدَيۡتُمۡ ؕ اِلَى اللّٰهِ

لَا يَضُرُّكُمۡ	مَّنۡ	ضَلَّ	اِذَا	اهۡتَدَيۡتُمۡ	اِلَى	اللّٰهِ
زیان نه رسوی تاسی ته	هغه څوک چې	ګمراه سوی دی	کله چې	په سمه صافه لاره اوسئ تاسی	طرف	د الله ته

زیان نه رسوی تاسی ته (ګمراهی د) هغه چا چې ګمراه سوی دی کله چې په سمه صافه لاره اوسئ تاسی طرف د الله ته

مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيۡعًا فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۰۵﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

مَرۡجِعُكُمۡ	جَمِيۡعًا	فَيُنَبِّئُكُمۡ	بِمَا	كُنۡتُمۡ	تَعۡمَلُوۡنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ
بیرته ورتلل ستاسی دی	د ټولو	نو خبر به کړی تاسی	په هغو عملونو	چې وئ تاسی	چې کول به مو	ای	هغو کسانو

بیرته ورتلل ستاسی دی د ټولو ، نو خبر به کړی تاسی په هغو عملونو چې وئ تاسی چې کول به مو. ای هغو کسانو

اٰمَنُوۡا شَهَادَةُ بَيۡنِكُمۡ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الۡمَوۡتُ حِيۡنَ

اٰمَنُوۡا	شَهَادَةُ	بَيۡنِكُمۡ	اِذَا	حَضَرَ	اَحَدَكُمُ	الۡمَوۡتُ	حِيۡنَ
چې ایمان ئی راوړی دی	شهادت	په مینځ ستاسی کښی	کله چې	حاضر سی	یوه د ستاسی ته	مرګ	په وخت

چې ایمان ئی راوړی دی شهادت په مینځ ستاسی کښی کله چې حاضر سی یوه د ستاسی ته مرګ په وخت

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ ۚ دخلګو داصلاح فکر کوونکوته یوه تسلي :
په دغه آیت کي دخلګو داصلاح په فکر کي خپل هر څه قربانوونکوته تسلي ورکړه سوي ده چي کله تاسي دتبلیغ او تعلیم په حق اداء کولو کي په خپل طاقت سره کوشش وکی او دنصیحت او خیرخواهی حق مو اداء کی نو بیا هم که څوک پر ګمراهی یا غلط کاری باندي پاته سي نو تاسي دده فکر مه کوی په دې حالت کي دنورو دګمراهی یا غلط کاری به ستاسي هیڅ نقصان نه وي ارشاد فرمايي (يا أيّها الذين آمنوا عليكم انفسكم لا يضرّكم من ضلّ اذا هتديتم) يعني ای مسلمانانو تاسي خپل فکر کوی کله چي تاسي پر نیکه لار روان یاست نو څوک چي ګمراه دي دهغه څخه ستاسي هیڅ نقصان نسته ددې آیت دظاهري الفاظو څخه خو داسي ګڼل کیږي چي هر یوه انسان لره خو یوازي دخپل عمل او خپلي اصلاح فکر کافي دی نورخلګ چي هر څه کوي هغه ته دفکر کولو ضرورت نسته جواب دادی چي ددې جواب خپله نبي کریم ﷺ ورکړی دی (یعني د کوشش کولو باوجود که بیا هم خلګ نه سمیده نو پر تاسي باندي هیڅ ګناه نسته)
(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۳۸)

www.jamairahmani.org

الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ غَيْرِكُمْ

الْوَصِيَّةِ	اثْنٰنِ	ذَوَا	عَدْلٍ	مِّنْكُمْ	اَوْ	اٰخَرٰنِ	مِنْ غَيْرِكُمْ
دوصیت کښی	د دوتنو دی	چی دواړه خاوندان	د عدل وی	له تاسی څخه	یا	دوه تنه نور شاهدان	غیر له تاسی

د وصیت کښی (شهادت) د دوو تنو دی چی دواړه خاوندان د عدل وی له تاسی څخه یا دوه تنه نور شاهدان غیر له تاسی

اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ

اِنْ	اَنْتُمْ	ضَرَبْتُمْ	فِي	الْاَرْضِ	فَاَصَابَتْكُمْ	مُّصِيْبَةُ
که	تاسی	سفر مو کاوه	په	مځکه کښی	بیا ورسیږی تاسی ته	مصیبت

(مسلمانانو یعنی د غیر مسلم) که تاسی سفر مو کاوه په مځکه کښی بیا ورسیږی تاسی ته مصیبت

الْمَوْتِ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ

الْمَوْتِ	تَحْبِسُوْنَهُمَا	مِنْ بَعْدِ	الصَّلٰوةِ	فَيُقْسِمٰنِ	بِاللّٰهِ
دمرګ	چی بند وئ به تاسی دغه دواړه	وروسته له	لمانځه	نو قسم دی وکړی دواړه	په الله

د مرګ (هسی دوه تنه نور) چی بند وئ به تاسی دغه دواړه وروسته له لمانځه (د مازدیګر) نو قسم دی وکړی دواړه په الله

اِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى وَلَا نَكْتُمُ

اِنِ	ارْتَبْتُمْ	لَا نَشْتَرِيْ	بِهٖ	ثَمَنًا	وَّلَوْ	كَانَ	ذَا	قُرْبٰى	وَلَا نَكْتُمُ
که	شکمن یئ تاسی	نه اخلو	په دی قسم سره	مال	اګر که	وی	دا خاوند	دخپلوی	او نه پټوو موږ

که شکمن یئ تاسی نه اخلو په دی قسم سره مال اګر که وی دا (مشهود له) خاوند دخپلوی (هم) او نه پټوو موږ

شَهَادَةَ اللّٰهِ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ۝۱۰۶ فَاِنْ عُثِرَ

شَهَادَةَ	اللّٰهِ	اِنَّآ	اِذًا	لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ	فَاِنْ	عُثِرَ
شاهدی	دالله	بیشکه !موږ	په وخت دپټولو د شهادت کی	خامخا له ګناهګارانو به یو	نو که	اطلاع حاصله کړه سوه

شاهدی د الله بیشکه! موږ په وخت د پټولو د شهادت کښی خامخا له ګناهګارانو به یو. نو که اطلاع حاصله کړه سوه

عَلٰٓى اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّآ اِثْمًا فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ

عَلٰٓى	اَنَّهُمَا	اسْتَحَقَّآ	اِثْمًا	فَاٰخَرٰنِ	يَقُوْمٰنِ	مَقَامَهُمَا	مِنَ
پر دی	چی بیشکه! دا دواړه	مستحق سوی دی	د ګناه	نو نور دوه شاهدان دی	ودریږی	پر ځای د دی دواړو	له

پر دی چی بیشکه! دا دواړه مستحق سوی دی د ګناه نو نور دوه شاهدان دی ودریږی پر ځای د دی دواړو له

اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ **شان نزول:**

دذکر سوي آیت دنزول واقعه داده چي بدیل نامي یوسړی چي مسلمان وو ددوو سړیانو تمیم ،او عدي سره چي دغه وخت نصرانیان وه دتجارت په غرض شام ته ولاړی چي شام ته ورسیدل نو بدیل ناروغه سو ده دخپل مال ټوله فهرست ولیکی او په خپل اسبابو کي یي کښیښووی او خپل دواړه ملګري یي په خبر نه کړل چي مرض یي زیات سو نوده دي دواړوملګرو ته وصیت وکی چي زما ټول سامان به زما وارثانو ته ورسوی دوی چي ټول سامان راوړی وارثانو ته یي حواله کړی خو دسپينو زرو یوه پیاله یي چي دسروزرو ملمع کاري په کښي سوې وه یا وربانديي ګل کاري سوې وه ددې اسبابو څخه ویسته وارثانوته په اسبابو کي فهرست په لاس ورغی دوی ددغه دوو نصرانیانو څخه پوښتنه وکړه چي مړي خو به ددې ماله څه مال نه وي خرڅ کړی یا یي په خپل علاج کي خو به نه وي لګولی ؟ دوی دواړو وویل چي نه آخر دا معامله دنبي کریم ﷺ عدالت ته پیش سوه چونکي دوارثانو سره شاهدان نه وه. (پاته قصه پر راروان مخ وګوری)

www.jamairahmani.org

الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ

الَّذِيْنَ	اسْتَحَقَّ	عَلَيْهِمُ	الْاَوْلَيٰنِ	فَيُقْسِمٰنِ	بِاللّٰهِ
هغو كسانو	چې ثابت سوی دی	پر هغو	چې قريبان وی مړی ته	نو قسم دی وکړی دا دواړه	په الله

هغو كسانو چې ثابت سوی دی پر هغو چې (وصيت يا شاهدی) قريبان وی مړی ته نو قسم دی وکړی دا دواړه په الله

لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعْتَدَيْنَآ ۖ اِنَّآ

لَشَهَادَتُنَآ	اَحَقُّ	مِنْ	شَهَادَتِهِمَا	وَمَا اعْتَدَيْنَآ	اِنَّآ
چې خامخا شاهدی زموږ	ښه حقه ده	له	شاهدی د هغو څخه	او څه تجاوز مو نه دی کړی	بيشکه! موږ

چې خامخا شاهدی زموږ ښه حقه (او رښتيا) ده له شاهدی د هغو څخه او څه تجاوز مو نه دی کړی بيشکه! موږ

اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى

اِذًا	لَّمِنَ	الظّٰلِمِيْنَ	ذٰلِكَ	اَدْنٰٓى	اَنْ	يَّاْتُوْا	بِالشَّهَادَةِ	عَلٰى
په دغه وخت کښې	خامخا له	ظالمانو به يو	دا	ډير نږدې دی	دی ته چې	راتله وکړی دوئ	په شاهدی سره	په

په دغه وخت کښې خامخا له ظالمانو به يو. دا ډير نږدې دی دی ته چې راتله وکړی دا (شاهدان) په شاهدی سره په

وَجْهِهَآ اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ۭ

وَجْهِهَآ	اَوْ يَخَافُوْٓا	اَنْ	تُرَدَّ	اَيْمَانٌ	بَعْدَ	اَيْمَانِهِمْ
هغه شان چې حق دی د دی	او چې ويريږی دوی	له دی څخه	چې بيرته به رد کړل سی	قسمونه	پس له	قسمونو د دغو

هغه شان چې حق دی د دی او چې ويريږی دوی له دی نه چې بيرته به رد کړل سی قسمونه پس له قسمونو د دغو

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِی الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ ع

وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاسْمَعُوْا	وَ	اللّٰهُ	لَا يَهْدِی	الْقَوْمَ	الْفٰسِقِيْنَ
او ويريږئ تاسی	له الله	او واورئ تاسی	او	الله	نه ښيي سمه صافه لاره	قوم	فاسقانو ته

او ويريږئ تاسی له الله او واورئ تاسی (دالله حکم دزړه په غوږو سره) او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته

يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ ۭ قَالُوْا

يَوْمَ	يَجْمَعُ	اللّٰهُ	الرُّسُلَ	فَيَقُوْلُ	مَاذَآ	اُجِبْتُمْ	قَالُوْا
هغه ورځ	چې جمع به کړی	الله	ټول رسولان	پس وبه وائی	چې څه	جواب درکړی سوی وو تاسی ته	وبه وائی (ټول رسولان)

هغه ورځ چې جمع به کړی الله ټول رسولان پس وبه وائی (الله) چې څه جواب درکړی سوی وو تاسی ته ، وبه وائی (ټول رسولان)

الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْاَوْلَيٰنِ.... دتير مخ پاته قصه دلته وګوری:

نودواړو نصرانيانو قسم واخيستی چې موږ دمړي په مال کي هيڅ قسم خيانت نه دی کړی او نه ورڅخه موږ څه شی پټ کړی دی آخر په قسم باندي فيصله ددوی په حق کي وسوه څه وخت وروسته خبره په ډاګه سوه چې هغه پياله دوی په مکه مکرمه کي پر يو زرګر باندي خرڅه کړي وه کله چي ددوی څخه پوښتنه وسوه نو دوی وويل چي دا موږ ددغه مړي څخه اخيستي وه خو چونکي زموږ سره داخيستو شاهدان نه وه نو مخکي موږ ځکه ددې ذکر ونه کی چي موږ درواغجن نه سو دمړي وارثانو بيا نبي کريم ﷺ ته رجوع وکړه اوس دمخکني معاملې برعکس داخيستو دعوی کوونکي مدعيان منکره سوه او شاهدي په کښي موجوده نه وه په دې وجه دوارثانو څخه دووسړيانو چي مړي ته ډير نږدې وه قسم واخيستی چي پياله دمړي ملکيت وو او دواړه نصرانيان په خپل قسم کي درواغجن سول نو په کم قيمت چي دوی پياله خرڅه کړی وه هغه قيمت يي وارثانو ته ورکړی او داایاتونه رانازل سول.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۴۲)

ع ۱۴

www.jamairahmani.org

لَا عِلْمَ لَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۱۰۹﴾ اِذْ قَالَ اللّٰهُ

لَا عِلْمَ لَنَا	اِنَّكَ	اَنْتَ	عَلَّامُ	الْغُيُوْبِ	اِذْ	قَالَ	اللّٰهُ
نشته هيڅ علم موږ ته	بيشکه!	ته چې ئې	لوی عالم	په غيبو	هغه وخت چې	وبه فرمائی	الله

نشته هيڅ علم موږ ته بيشکه! ته چې ئې لوی عالم په غيبو . (ياد کړئ) هغه وخت چې وبه فرمائی الله

يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِيْ عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ ۘ

يٰعِيْسَى	ابْنَ	مَرْيَمَ	اذْكُرْ	نِعْمَتِيْ	عَلَيْكَ	وَعَلٰى	وَالِدَتِكَ
ای عيسٰی	زوی	دمريمې	ياد کړه	احسان زما	پر تا	او په	مور ستا

ای عيسٰی زوی د مريمې ياد کړه احسان زما پر تا او په مور ستا (چې غوره کړی مې وه پر ښځو د زمانې خپلې)

اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۣ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ

اِذْ	اَيَّدْتُّكَ	بِرُوْحِ	الْقُدُسِ	تُكَلِّمُ	النَّاسَ	فِي	الْمَهْدِ
کله چې	قوت مې درکړی ؤ تاته	په روح (جبرئيل)	القدوس سره	چې خبرې به دې کولې	له خلکو سره	په	ځانګو کښې

کله چې قو ت مې درکړی ؤ تاته په روح القدوس سره چې خبرې به دې کولې له خلکو سره په مهد (د مور په غيږ) کښې

وَكَهْلًا ۚ وَاِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ

وَكَهْلًا	وَاِذْ	عَلَّمْتُكَ	الْكِتٰبَ	وَالْحِكْمَةَ	وَالتَّوْرٰىةَ
او په حال د کهولت کښې	او کله چې	مې درزده کړ تاته	کتاب	او حکمت	او تورات

او په حال د کهولت (پوره عمر کښې) ، او کله چې مې درزده کړ تاته کتاب (ليکل) او حکمت او تورات

وَالْاِنْجِيْلَ ۚ وَاِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِيْ

وَالْاِنْجِيْلَ	وَاِذْ	تَخْلُقُ	مِنَ	الطِّيْنِ	كَهَيْئَةِ	الطَّيْرِ	بِاِذْنِيْ
او انجيل	او کله	چې جوړه به دې کړ	له	ختو ځنې	په مثل د صورت	د مرغه	په حکم زما

او انجيل او کله چې جوړه به دې کړله له ختو ځنې په مثل د صورت د مارغه (مرغه) په اذن (حکم) زما

فَتَنْفُخُ فِيْهَا فَتَكُوْنُ طَيْرًاۢ بِاِذْنِيْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ

فَتَنْفُخُ	فِيْهَا	فَتَكُوْنُ	طَيْرًا	بِاِذْنِيْ	وَتُبْرِئُ	الْاَكْمَهَ
پس پو کول به دې	په هغه صورت کښې	پس سو به هغه	مرغه	په حکم زما	او روغول به دې	مورزادی ړوند

پس پو کول به دې په هغه صورت کښې پس سو به هغه (هيئت) مارغه (مرغه) په اذن زما او روغول به دې مورزادی ړوند

اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ..په محشر کي دپنځو شيانو پوښتنه:

لنډه دا چي په دې آيت کي الله ﷻ د قيامت د هيبتناک منظر يوه لړه غوندي ننداره خپلو بندګانو ته ورښوول چي د حساب او کتاب په ميدان کي د الله ﷻ د ټولو څخه زيات نېه او مقبول رسولان ولاړ دي او لړزيږي نو چي د نورو به څه حال وي ؟ په دې وجه د دغي ورځي فکر د نن څخه په کار دی او د عمر فرصت د دغه ورځي د تياری د پاره غنيمت ګڼل پکار دي د ترمذي شريف په يوه حديث کي دي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي د يوه سړي قدم به په محشر کي تر هغه وخته پوري مخ ته ونه ښوري تر څو چي د دې څخه د پنځو شيانو پوښتنه نه وي سوې

اول: دا چي خپل لوی عمر او شپي او ورځي دي په څه کي تيري کړې ؟

دوهم: دا چي خاص بيا د ځوانی زمانه چي د قوت او د طاقت زمانه وه دا دي په څه کي مصرف کړه؟

دريم: دا چي مال دي د کمه ځايه وګټی حلال که حرام ؟

څلورم: دا چي چيری دي مصرف کی په رواه کي او که په نارواه کي ؟

پنځم: دا چي په خپل علم دي تر کمي اندازې عمل وکی ؟

(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٥٢)

www.jamairahmani.org

وَالۡاَبۡرَصَ بِاِذۡنِیۡ ۚ وَاِذۡ تُخۡرِجُ الۡمَوۡتٰی بِاِذۡنِیۡ ۚ

وَالۡاَبۡرَصَ	بِاِذۡنِیۡ	وَاِذۡ	تُخۡرِجُ	الۡمَوۡتٰی	بِاِذۡنِیۡ
او برګ (پیس)	په حکم زما	او کله چې	را ایستل به دې	مړی	په حکم زما

او برګ (د پیس په مرض اخته) په اذن (حکم) زما او کله چې را ایستل به دې مړي (دقبرو څخه) په حکم زما

وَاِذۡ کَفَفۡتُ بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ عَنۡکَ اِذۡ جِئۡتَهُمۡ بِالۡبَیِّنٰتِ

وَاِذۡ	کَفَفۡتُ	بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ	عَنۡکَ	اِذۡ	جِئۡتَهُمۡ	بِالۡبَیِّنٰتِ
او کله چې	مې بند کړې	(شرد) بني اسرائيلو	له تا څخه	کله چې	راوړې وه تا دوی ته	واضح دلائل

او کله چې مې بند کړې (شر د) بني اسرائيلو له تا څخه (ای عیسٰی) کله چې راوړې ؤ تا دوی ته واضح دلائل

فَقَالَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡهُمۡ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۱۱۰﴾

فَقَالَ	الَّذِیۡنَ	کَفَرُوۡا	مِنۡهُمۡ	اِنۡ هٰذَاۤ	اِلَّا	سِحۡرٌ	مُّبِیۡنٌ
نو وویل	هغو کسانو	چې کافران سوي وو	له دوی څخه	چې نه دی دغه معجزی ستا	مګر	سحر دی	ښکاره

نو وویل هغو کسانو چې کافران سوي وو له دوی څخه چې نه دی دغه معجزی ستا مګر سحر دی ښکاره (هر چاته)

وَاِذۡ اَوۡحَیۡتُ اِلَی الۡحَوَارِیّٖنَ اَنۡ اٰمِنُوۡا بِیۡ وَبِرَسُوۡلِیۡ ۚ

وَاِذۡ	اَوۡحَیۡتُ	اِلَی الۡحَوَارِیّٖنَ	اَنۡ	اٰمِنُوۡا	بِیۡ	وَبِرَسُوۡلِیۡ
او کله چې	په زړونو کښې مې وړ واچول	مخلصو ملګرو ته	چې	ایمان راوړئ تاسي	په ما	او په رسول زما (عیسٰی)

او کله چې په زړونو کښې مې وړ واچول حواریونو ته چې ایمان راوړئ تاسي په ما (الله) او په رسول زما (عیسٰی)

قَالُوۡۤا اٰمَنَّا وَاشۡهَدۡ بِاَنَّنَا مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾ اِذۡ

قَالُوۡۤا	اٰمَنَّا	وَاشۡهَدۡ	بِاَنَّنَا	مُسۡلِمُوۡنَ	اِذۡ
(نو) وویل حواریونو	چې ایمان مو راوړی دی	او شاهد او سه په دې چې	بیشکه! موږ	مسلمانان یو	کله چې

(نو) وویل حواریونو چې ایمان مو راوړی دی او شاهد اوسه (ای عیسٰی) په دې چې بیشکه! موږ مسلمانان یو کله چې

قَالَ الۡحَوَارِیُّوۡنَ یٰعِیۡسَی ابۡنَ مَرۡیَمَ هَلۡ یَسۡتَطِیۡعُ رَبُّکَ اَنۡ

قَالَ	الۡحَوَارِیُّوۡنَ	یٰعِیۡسَی	ابۡنَ	مَرۡیَمَ	هَلۡ	یَسۡتَطِیۡعُ	رَبُّکَ	اَنۡ
وویل	مخلصو ملګرو	چې ای عیسٰی	زوی	د مریمې	آیا	توان لري	رب ستا	چې

وویل حواریونو چې ای عیسٰی زوی د مریمې آیا قبلوی رب ستا (داسوال) چې

وَاِذۡ تُخۡرِجُ الۡمَوۡتٰی بِاِذۡنِیۡ ۚ

پر حضرت عیسیٰ ؑ دخو خاصو انعاماتو ذکر: په دې اياتونو کې چې کم دحضرت عیسی ﷺ دسوال جواب ذکر سوی دی تر دې مخکښې دهغو خاصو انعاماتو ذکردی چې په خاص طور سره پر حضرت عیسی ﷺ باندې سوي وه او دمعجزو په شکل کې ده ته ورکول سوي وه په دې ټولو کې يې يو طرف ته دخاصو انعاماتو او بل طرف ته دجواب طلبی منظر ونسوی او دبني اسرآئيلو دې دواړو قومونو ته يې خبرداری ورکی په کومو کې چې يوه دده سپکاوی وکی او قسم قسم تهمتونه يې وربانده ولګول ازار يې ورته ورسوی او دوهم قوم دی خدای يا دخدای زوی جوړ کی دانعاماتو په ذکر کولو سره يې اول قوم او په سوال او جواب سره يې دوهم ته خبرداری ورکی: دلته چې يې دکمو انعامونو په تفصيل سره ذکر کړی دی په دې کې يوه جمله زياته دغور کولو قابله ده چې په دې ايت کې ارشاد سوی ده (تکلم النّاس فی المهد وکهلاً) یعني يوه خاصه معجزه کمه چې حضرت عیسی ﷺ ته ورکړه سوه هغه داده چې ته به دخلګو سره په وړوکوالي کې هم خبرې کوې الخ. (معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۵۴)

www.jamairahmani.org

يُّنَزِّلَ عَلَيۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ؕ قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنۡ

يُّنَزِّلَ	عَلَيۡنَا	مَآئِدَةً	مِّنَ	السَّمَآءِ	قَالَ	اتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنۡ
نازل کړی	پر موږ	ډک دسترخوان	له	آسمانه	وویل (عیسیٰ)	وبیریږئ	له الله	که

نازل کړی پر موږ ډکی خونچی له (طرفه د) آسمانه، وویل (عیسیٰ) وبیریږئ له الله (په داسی سوالونو کښی) که

كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿١١٢﴾ قَالُوۡا نُرِيۡدُ اَنۡ نَّاۡكُلَ مِنۡهَا وَتَطۡمَئِنَّ

كُنۡتُمۡ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	قَالُوۡا	نُرِيۡدُ	اَنۡ	نَّاۡكُلَ	مِنۡهَا	وَتَطۡمَئِنَّ
یئ تاسی	مؤمنان	وویل دوی	اراده لرو موږ	چی	وخورو	له دغی (خونچی)	او مطمئن سی

یئ تاسی مؤمنان. وویل (حواریونو) اراده لرو موږ (په دغه سوال سره) چی وخورو له دغی (خونچی) او مطمئن سی

قُلُوۡبُنَا وَنَعۡلَمَ اَنۡ قَدۡ صَدَقۡتَنَا وَنَكُوۡنَ عَلَيۡهَا مِنَ

قُلُوۡبُنَا	وَنَعۡلَمَ	اَنۡ	قَدۡ	صَدَقۡتَنَا	وَنَكُوۡنَ	عَلَيۡهَا	مِنَ
زړونه زموږ	او پوه سو موږ	په دی	چی په تحقیق	رښتیا ویلی وه تا موږ ته	او وسو موږ	پر دی (خونچی)	له

زړونه زموږ او پوه سو موږ په دی چی په تحقیق رښتیا ویلی ؤ تا موږ ته او وسو موږ پر دی (خونچی) له

الشّٰهِدِيۡنَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيۡسَى ابۡنُ مَرۡيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَاۤ اَنۡزِلۡ

الشّٰهِدِيۡنَ	قَالَ	عِيۡسَى	ابۡنُ	مَرۡيَمَ	اللّٰهُمَّ	رَبَّنَاۤ	اَنۡزِلۡ
شاهدانو څخه	وویل	عیسیٰ	زوی	دمریمی	ای الله!	ربه زموږ	رانازله کړه

شاهدانو څنی. وویل عیسیٰ زوی د مریمی ای الله! ربه زموږ را نازله (رانبکته) کړه

عَلَيۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوۡنُ لَنَا عِيۡدًا لِّاَوَّلِنَا

عَلَيۡنَا	مَآئِدَةً	مِّنَ	السَّمَآءِ	تَكُوۡنُ	لَنَا	عِيۡدًا	لِّاَوَّلِنَا
پر موږ باندی	ډک دسترخوان	له (طرفه د)	آسمانه	چی سی	موږ ته	اختر	لپاره د مخکنیو زموږ

پر موږ باندی ډکه خونچه له (طرفه د) آسمانه چی سی موږ ته اختر له پاره د ړومبنیو زموږ

وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنۡكَ ۚ وَارۡزُقۡنَا وَاَنۡتَ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ ﴿١١٤﴾

وَاٰخِرِنَا	وَاٰيَةً	مِّنۡكَ	وَارۡزُقۡنَا	وَاَنۡتَ	خَيۡرُ	الرّٰزِقِيۡنَ
او د ورستنیو زموږ	او دلیل	له تانه	او روزی راکړه موږ ته	او هم ته ئی	غوره	د روزی ورکوونکو

او د ورستنیو زموږ او دلیل له تانه (ستا پر قدرت) او روزی راکړه موږ ته او هم ته ئی (خیر) غوره د روزی ورکوونکو.

قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنۡ كُنۡتُمۡ
مومن لره دمعجزو طلب
کول نه دي پکار: دغه
قول دالله ﷻ چي
اتَّقُوا اللّٰهَ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ
کله چي حواريانو دحضرت
عيسی ؑ څخه داسمان
څخه ددسترخوان
دنازليدو مطالبه وکړه نو
دوی په جواب کي
وفرمايل چي که تاسي
ايمان داره ياست نو
دالله ﷻ څخه وبيريږی
ددي څخه معلومه سوه چي
ايماندار بنده ته دا
مناسبه نه ده چي دی دا
قسم فرمايش وکي او
خدای ﷻ وازمايي او
دالله ﷻ څخه دخرق عادت
شيانو غوښتنه وکړي
بلکي دلره پکار دي چي
رزق او نور په هغه ذريعه
وغواړي کمي طريقې چي
الله ﷻ مقرري کړي دي:
پاته سوه داخبره چي ايا
هغه دسترخوان داسمانه
څخه نازل سوی وو که يا ؟
په دې باره کي دعلماوو
اختلاف دی جمهور علماء
فرمايي چي نازل سوی وو
لکه دترمذي شريف په
حديث کي ددې ثبوت سته
چي دغه دسترخوان
دآسمانه څخه نازل سو په
دې کي غوښه اوډوډی وه
او په دې حديث شريف کي
داهم دي چي ځينو خلګو
په دې کي خيانت وکی او
دآينده دپاره يي ذخيره کړه
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٥٧)

الربع

www.jamairahmani.org

قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ

قَالَ	اللّٰهُ	اِنِّيْ	مُنَزِّلُهَا	عَلَيْكُمْ	فَمَنْ	يَّكْفُرْ	بَعْدُ	مِنْكُمْ
وفرمايل	الله	زه	نازل كوونكى يم د دى دسترخوان	پر تاسو	نو هر څوک چي	ناشكرى وكړى	وروسته	له تاسى څنى

وفرمايل الله زه نازل كوونكى يم د دى خونچي پر تاسو، نو هر څوک چي ناشكرى وكړي وروسته له تاسى څنى

فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۱۵﴾

فَاِنِّيْٓ	اُعَذِّبُهٗ	عَذَابًا	لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ	اَحَدًا	مِّنَ	الْعٰلَمِيْنَ
نو بيشكه! زه	عذاب وركوم هغه ته	داسى عذاب	چي نه به يې عذابوم په هغه سره	بل هيڅ يو	له (نورو)	مخلوقاتو

نو بيشكه! زه عذاب وركوم هغه ته داسى عذاب چي نه به يې عذابوم په هغه سره بل هيڅ يو له (نورو) مخلوقاتو .

ع ۱۵ / ۵

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ

وَاِذْ	قَالَ	اللّٰهُ	يٰعِيْسَى	ابْنَ	مَرْيَمَ	ءَاَنْتَ	قُلْتَ	لِلنَّاسِ
او كله چي	ووېل	الله	اى عيسىٰ	زوى	د مريمى	آيا تا	ويلي ؤ	خلكو ته

او كله چي ووېل الله اى عيسىٰ زوى د مريمى ! آيا تا ويلي ؤ خلكو ته

اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالَ سُبْحٰنَكَ

اتَّخِذُوْنِيْ	وَاُمِّيَ	اِلٰهَيْنِ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	قَالَ	سُبْحٰنَكَ
چي ونسيئ ما	او مورزما	خدايان	بى له	الله څخه	وبه وائى (عيسىٰ)	چي پاكى ده تالره

چي ونسيئ ما او مورزما (دواړه) خدايان بى له الله څخه، وبه وائى (عيسىٰ) چي پاكى ده تالره (اى الله! له شريكه)

مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ ۗ بِحَقٍّ ؕ اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ

مَا يَكُوْنُ	لِيْٓ	اَنْ	اَقُوْلَ	مَا	لَيْسَ	لِيْ	بِحَقٍّ	اِنْ	كُنْتُ	قُلْتُهٗ
نه ده لايقه	ما ته	دا چي	ووايم زه	هغه خبره	چي نسته	ما ته	حق	كه	وم زه	چي ويلى مى وى دا خبره

نه ده لايقه ما ته دا چي ووايم زه هغه خبره چي نسته ماته حق (د ويلو دهغى) كه وم زه چي ويلى مى وى دا خبره

فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا

فَقَدْ	عَلِمْتَهٗ	تَعْلَمُ	مَا	فِيْ	نَفْسِيْ	وَلَآ اَعْلَمُ	مَا
نو په تحقيق	معلومه به وه تاته هغه خبره	تا ته معلوم دى	هر هغه شى	چي په	نفس زما كښى دى	او نه پوهيږمه زه	په هغه شى

نو په تحقيق معلومه به وه تاته هغه خبره تاته معلوم دى هر هغه شى چي په نفس زما كښى دى او نه پوهيږمه زه په هغه شى

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ...اهمي

فايدى: الله جَلَّ جَلَالُهٗ په هر څه پوه دى نو د حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام څخه سوال ددي دپاره نه كوى چي معلومه ورته نه ده بلكى ددى مقصود دده قوم نصارا وولره ملامتول او زورنه وركول دى چي تاسى څوک الله منى هغه په خپله ستاسي دعقيدى خلاف دخپلى بندگى اقرار كوى او ستاسي دبهتان څخه پاک دى. غرض دا چي حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام په اولنى عرض سره چي (سبحنک الخ) دى په هغه كى خپله پاكي ددرې خدايانو دعقيدې لرونكو څخه او په دوهم عرض (وكنت عليهم) كي خپله پاكي ددوى ددې عقيدې دمفصل سبب دپيژندني څخه او په دريم عرض (ان تعذّبهم) كي خپله پاكي ددوى په باره كي دڅه تحريک كولو څخه ظاهره كړه او دا مقصود وو دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دعيسى عَلَيْهِ السَّلَام سره دخبرو وروسته په دي كي كفاروته پوره زورنه وي ددوى په ناپوهي چي دقيامت په ورځ به يې ډير زيات حسرت وي په خپلي ناكامى باندي او ذليله وناكامه به هم وي.

(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٦٠)

مكتبه حبيبيه :

www.jamairahmani.org

فِيْ نَفْسِكَ ۭ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝١١٦ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا

فِيْ نَفْسِكَ	اِنَّكَ	اَنْتَ	عَلَّامُ	الْغُيُوْبِ	مَا قُلْتُ	لَهُمْ	اِلَّا
چې په ذات ستاسې کښې دی	بیشکه! ته	هم دا ته ئې	لوی عالم	پر غیبو	نه دی ویلی ما	دوی ته	مګر

چې په ذات ستا کښې دی (له معلوماتو)، بیشکه! ته هم دا ته ئې لوی عالم پر غیبو. نه دی ویلی ما دوی ته (هیڅ شی) مګر

مَآ اَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنْتُ

مَآ	اَمَرْتَنِيْ	بِهٖٓ	اَنِ	اعْبُدُوا	اللّٰهَ	رَبِّيْ	وَرَبَّكُمْ	وَكُنْتُ
هغه چې	تا امر کړی ؤ ما ته	په هغه سره	چې	عبادت کوئ تاسې	د الله	د رب زما	او رب ستاسې	او ومه زه

هغه چې تا امر (حکم) کړی ؤ ما ته په هغه سره چې عبادت کوئ تاسې د الله د رب زما او رب ستاسې او ومه زه

عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ ۚ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ

عَلَيْهِمْ	شَهِيْدًا	مَّا دُمْتُ	فِيْهِمْ	فَلَمَّا	تَوَفَّيْتَنِيْ	كُنْتَ
پر دوی باندی	حاضر	تر څو چې ومه زه	په دوی کښې	پس کله چې	ونیولم تا زه کامل	نو وی ته

پر دوی باندی خبردار تر څو چې ومه زه په دوی کښې پس کله چې ونیولم تا زه کامل (په بیولو سره آسمان ته) نو وی ته

اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ۭ وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝١١٧

اَنْتَ	الرَّقِيْبَ	عَلَيْهِمْ	وَاَنْتَ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	شَهِيْدٌ
هم دا ته	څارونکی	پر دوی	او ته	پر	هر	شی باندی	ښه حاضر ښه خبردار ئې

هم دا ته نګران (خبردار) پر دوی او ته پر هر شی باندی ښه حاضر ښه خبردار ئې.

اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ

اِنْ	تُعَذِّبْهُمْ	فَاِنَّهُمْ	عِبَادُكَ	وَاِنْ	تَغْفِرْ	لَهُمْ	فَاِنَّكَ
که	عذاب ورکړې ته دوی ته	نو بیشکه! دوی	بندګان ستا دی	او که	بخښنه وکړې	دوی ته	نو بیشکه! ته

که عذاب ورکړې ته (ای الله!) دوی ته نو بیشکه! دوی بندګان ستا دی او که بخښنه وکړې دوی ته نو بیشکه! ته

اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝١١٨ قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ

اَنْتَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	قَالَ	اللّٰهُ	هٰذَا	يَوْمُ	يَنْفَعُ
هم دا ته	ئې ښه غالب سوی	لوی حکمت والا	وبه فرمائی	الله	دا	ورځ د دی ده	چې نفع به رسوی

هم دا ته ئې ښه غالب سوی لوی حکمت والا. وبه فرمائی الله (په قیامت کښې) دا ورځ د دی ده چې نفع به رسوی

فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ۭ

په دې ایت سره د حضرت عیسی ؑ د مرګ: او آسمان ته د پورته کولو څخه په انکار باندي دلیل نه سي نیول کیدای ځکه چې داخبري د قیامت دورځي دي او دغه وخت به د آسمان څخه تر راکښته کیدو وروسته ده ته حقیقي مرګ حاصل سوی وي لکه چي په یوه حدیث شریف کي نقل دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي کله د قیامت ورځ سي نو پیغمبران علیهم السلام او د دوی امتونه به راوغوښتل سي بیا به حضرت عیسی ؑ راوغوښتل سي بیا به الله جل جلاله د ته خپل نعمتونه ورپه یاد کړي اونژ دي به یي کي وبه فرمایي ورته چي ای عیسی زوی د مریمي (اذکر نعمتی علیک وعلی والدتک) تر دې چي وبه فرمایي (أأنت قلت للنّاس اتخذونی وامی الهین) حضرت عیسی ؑ به انکار وکړي چي پروردګاره مانه دي ویلي بیا به د نصاراوو څخه پوښتنه وکړي نو داخلګ به ووایي چي ها ده موږ ته دا حکم کړی وو تر دې وروسته به دوی دوږخ ته کش کړل سي. (معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۶۰)

www.jamairahmani.org

الصّٰدِقِيۡنَ صِدۡقُهُمۡ ؕ لَهُمۡ جَنّٰتٌ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

الصّٰدِقِيۡنَ	صِدۡقُهُمۡ	لَهُمۡ	جَنّٰتٌ	تَجۡرِىۡ	مِنۡ	تَحۡتِهَا
صادقینو ته	رښتیا د دوی	(مقرر) دی دوی ته	جنتونه	چی بهیږی	له	لاندی د هغو

صادقینو ته صدق د دوی ، (مقرر) دی دوی ته (هسی) جنتونه چی بهیږی له لاندی (د ونو او ماڼیو) د هغو

الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ رَضِىَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُوۡا

الۡاَنۡهٰرُ	خٰلِدِيۡنَ	فِيۡهَاۤ	اَبَدًا	رَضِىَ	اللّٰهُ	عَنۡهُمۡ	وَرَضُوۡا
ویالی	تل به وی دوی	په هغه کښی	همیشه	راضی سوی دی	الله	له دوی څخه	او راضی دی دوئ

ویالی تل به وی دوی په هغه کښی همیشه راضی سوی دی الله له دوی څخه (په طاعت سره) او راضی دی دوئ

عَنۡهُ ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ﴿۱۱۹﴾ لِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ

عَنۡهُ	ذٰلِكَ	الۡفَوۡزُ	الۡعَظِيۡمُ	لِلّٰهِ	مُلۡكُ	السَّمٰوٰتِ
له الله څخه	دا	بری دی	ډیر لوی	خاص الله لره دی	ملک (سلطنت)	د آسمانونو

له الله څخه (په مونده لو د ثواب) دا بری دی ډیر لوی. خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د آسمانونو

وَالۡاَرۡضِ وَمَا فِيۡهِنَّ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۲۰﴾ ع

وَالۡاَرۡضِ	وَمَا	فِيۡهِنَّ	وَهُوَ	عَلٰى	كُلِّ	شَىۡءٍ	قَدِيۡرٌ
او د ځمکی	او دهغو شیانو	چی په دوی کښی دی	او الله	پر	هر	شی باندی	ښه قادر دی

او د ځمکی او د هغو شیانو چی په دوی کښی دی او الله پر هر شی باندی (چی اراده ئی وفرمائی) ښه قادر دی.

ع ۲/۵

ایاتونه ۱٦۵ ٦ سُوۡرَةُ الۡاَنۡعَامِ مَكِّيَّةٌ ۵۵ رکوعي ۲۰

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِىۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ

اَلۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ	الَّذِىۡ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ
ټولی ثناوی او ستاینی	خاص الله لره دی	هغه الله لره	چی پیدا کړی ئی دی	آسمانونه	او ځمکه

ټولی (ګردی) ثناوی او ستاینی (صفتونه) خاص هغه الله لره دی چی پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه

لَهُمۡ جَنّٰتٌ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ... په عام طور سره دواقعې موافق خبري ته صدق (رشتیا) ویل کیږي: او دواقع څخه خلاف خبري ته کذب (درواغ) ویل کیږي لیکن د قرآن او سنت څخه معلومیږي چې درواغ او رشتیا عام دي وینا او کار دواړو لره شامل دي لکه چې په دې حدیث شریف کي دواقع څخه خلاف کار ته درواغ ویل سوي دي (من تحلى بما لم يعط كان كلابس ثوبي زور) مشكوة یعني که څوک ځان په داسي کالو سره ښایسته کړي چې دلره نه وي ورکول سوي یعني دیو داسي صفت یا عمل دعوی وکړي چې په ده کي نه وي نو ګواکي ده ددرواغو دوې جامې واغوستلي په یوه بل حدیث شریف کي یې په ډاګه او په پټه یو ډول لمونځ کوونکي ته رښتینی بنده ویلی دی ارشاد دی (ان العبد اذا صلى فى العلانية فأحسن وصلّى فى السرّ فأحسن قال الله تعالى هذا عبدى حقا) یعني څوک چې په ښکاره ښه لمونځ کوي او دی یې په پټه هم داسي ښه کوي نو دداسي سړي په باره کي الله ﷻ فرمایي دازما رښتینی بنده دی. (معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ٦۳)

www.jamairahmani.org

وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۬ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ①

وَجَعَلَ	الظُّلُمٰتِ	وَالنُّوْرَ	ثُمَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِرَبِّهِمْ	يَعْدِلُوْنَ
او پیدا کړې ئې دی	تیاری	او رڼا	بیا	هغه کسان	چې کافران سوی دی	په رب خپل سره	برابروی

او پیدا کړې ئې دی تیاری او رڼا بیا (هم) هغه کسان چې کافران سوی دی په رب خپل سره برابروی (نورشیان په عبادت کی)

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى اَجَلًا ۭ وَاَجَلٌ

هُوَ	الَّذِيْ	خَلَقَكُمْ	مِّنْ	طِيْنٍ	ثُمَّ	قَضٰى	اَجَلًا	وَاَجَلٌ
دغه	هغه ذات دی	چې پیدا کړی ئې تاسی	له	خټو	پس له هغه	مقرر کړی ئې دی	یو وخت	او یو موده

دغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا کړی ئې تاسی له خټو پس له هغه مقرر کړی ئې دی یو وخت (له پاره د مرګ) او یو موده

مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ② وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ

مُّسَمًّى	عِنْدَهٗ	ثُمَّ	اَنْتُمْ	تَمْتَرُوْنَ	وَهُوَ	اللّٰهُ	فِي	السَّمٰوٰتِ
معلومه ده	په نزد د الله	بیا	هم تاسی	شک کوئ	او هم دی دی	الله	په	آسمانونو کښی

معلومه ده (دقیامت) په نزد د الله بیا هم تاسی شک کوئ. او هم دی دی الله (مستحق دعبادت) په آسمانونو کښی

وَفِي الْاَرْضِ ۭ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا

وَفِي	الْاَرْضِ	يَعْلَمُ	سِرَّكُمْ	وَجَهْرَكُمْ	وَيَعْلَمُ	مَا
او په	مځکه کښی	عالم دی	په پټ (حال) ستاسی	او په ښکاره (حال) ستاسی	او عالم دی الله	په هغو

او په مځکه کښی عالم دی په پټ (حال) ستاسی او (عالم دی الله) په ښکاره (حال) ستاسی او عالم دی الله په هغو

تَكْسِبُوْنَ ③ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا

تَكْسِبُوْنَ	وَمَا تَاْتِيْهِمْ	مِّنْ اٰيَةٍ	مِّنْ	اٰيٰتِ	رَبِّهِمْ	اِلَّا
چې کوئ (ئې) تاسی	او نه راځی دی (کفارو) ته	هیڅ کوم	له	آیتونو	د رب د دوی	مګر

چې کوئ (ئې) تاسی. او نه راځی دی (کفارو) ته هیڅ کوم له آیتونو د رب د دوی مګر

كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ④ فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا

كَانُوْا	عَنْهَا	مُعْرِضِيْنَ	فَقَدْ	كَذَّبُوْا	بِالْحَقِّ	لَمَّا
وی دوی	له هغه څخه	مخ ګرځوونکی	نو په تحقیق	نسبت د دروغو وکړ دوی	حق ته	کله

وی دوی له هغه څخه مخ ګرځوونکی. نو په تحقیق نسبت د دروغو وکړ دوی حق ته کله

ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ دسورت انعام خواص او فضایل: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چي دسورت انعام يو خصوصيت دادی چي داټول سورت بغير ديو ځواياتونو څخه په يوه وخت په مکه مکرمه کي نازل سوی دی چي اويا زره (٧٠٠٠٠) ملايکي ورسره تسبيح ويونکي راغلي وي دتفسير شريف په امامانو کي دمجاهد، کلبي، قتاده، رحمة الله عليهم اونورو هم دغه وينا ده: ابواسحق اسفرايني رحمة الله عليه فرمايي چي دا سورت دتوحيد پرټولو اصولو او قاعدو مشتمل دی او دا سورت دالحمد څخه شروع دی په دي کي داخبرداری ورکړی دی چي ټول صفتونه خاص الله جل جلاله لره دي او مراد ددي خبر څخه خلګو ته دحمد تعليم ورکول دي او دتعليم په دې خاص طرز کي دې طرف ته اشاره ده چي هغه دچا دحمد او صفت محتاج نه دی که څوک يي حمد يعني ثنا او صفت کوي او که يي نه کوي هغه دخپلو ذاتي کمالاتو په اعتبار سره خود پخوده صفت کړل سوی او محمود دی او دا صفت بيانول خپله دبيانوونکي بنده دپاره دايمي او ابدي سعادت دی.
(معارف القرآن ج٣ پ ٧ ص٦٥)

www.jamairahmani.org

جَآءَهُمْ ۚ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ اَنْۢبَٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ

جَآءَهُمْ	فَسَوْفَ	يَأْتِيهِمْ	اَنْۢبَٰٓؤُا	مَا	كَانُوْا	بِهٖ
راغلی دوی ته	نو ژر به	راسی دوی ته	خبرونه	دهغه شی	چی وو دوی	په هغه پسی یئ

راغلی دوی ته نو ژر به راسی (ظاهر به سی) دوی ته اخبار (حقیقت) د هغه شی چی وو دوی چی پری

يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٥ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ

يَسْتَهْزِءُوْنَ	اَلَمْ يَرَوْا	كَمْ	اَهْلَكْنَا	مِنْ قَبْلِهِمْ	مِّنْ قَرْنٍ
ټوکی کولی	آیا نه دی کتلی دوی	چی څومره	هلاک کړی دی موږ	په خوا له دوی څخه	له پیړیو څني

خندل به ئی. آیا نه دی کتلی دوی چی څومره (ډیره) هلاک کړی دی موږ په خوا له دوی نه له پیړیو څني

مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ وَاَرْسَلْنَا

مَّكَّنّٰهُمْ	فِي	الْاَرْضِ	مَا	لَمْ نُمَكِّنْ	لَّكُمْ	وَاَرْسَلْنَا
چی ښه قوت ورکړی ؤ موږ دوی ته	په	ځمکه کښې	دومره قوت	چی نه مو دی درکړی	تاسی ته	او اورولی مو وو موږ

چی ښه قوت ورکړی ؤ موږ دوی ته په ځمکه کښې دومره قوت چی نه مو دی درکړی تاسی ته او رالیږلی کړئ ؤ موږ

السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ مِّدْرَارًا ۖ وَّجَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ تَجْرِيْ مِنْ

السَّمَآءَ	عَلَيْهِمْ	مِّدْرَارًا	وَّجَعَلْنَا	الْاَنْهٰرَ	تَجْرِيْ	مِنْ
له آسمان څخه	پر دوی	باران پر له پسی اوریدونکی	او ګرځولی مو وی	ویالی	چی بهیدلی	له

له آسمان څخه پر دوی باران پر له پسی اوریدونکی او ګرځولی مو وی ویالی چی بهیدلی له

تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ

تَحْتِهِمْ	فَاَهْلَكْنٰهُمْ	بِذُنُوْبِهِمْ	وَاَنْشَاْنَا	مِنْۢ بَعْدِ	هِمْ
لاندی د دوی	نو هلاک کړل موږ دوی	په سبب د ګناهونو د دوی	او پیدا کړل موږ	وروسته	له دوی څخه

لاندی د (ماڼیو او ونو د) دوی نو هلاک کړل موږ دوی په سبب د ګناهونو د دوی او پیدا کړل موږ وروسته له دوی نه

قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝٦ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ

قَرْنًا	اٰخَرِيْنَ	وَلَوْ	نَزَّلْنَا	عَلَيْكَ	كِتٰبًا	فِيْ قِرْطَاسٍ
قومونه (پیړی)	نور	او که	نازل کړی وی موږ	پر تا	کتاب	پر کاغذ

دقرن نور. او که نازل کړی وی موږ پر تا کتاب (لیکلی) پر کاغذ

اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ... په دغه ایاتونو کي الله جل جلاله ددغه منکرینو کفارو مخ: خپل شا او خوا حالاتو او د تیري زماني تاریخي واقعاتو طرف ته راوګرځوی دوی ته یي دعبرت او نصیحت حاصلولو موقع ورکړیده بیشکه ددنیا تاریخ تر عبرتونو زیات اثر کوونکی وعظ دی دیو حکیم دا جمله ډیره ښه ده چي(دنیا یو بهترین کتاب دی) (او زمانه یو بهترین استاذ دی) دا وجه ده چي دقرآن کریم یوه لویه حصه قصي او تاریخونه دي لیکن په عام طور سره غافله انسان ددنیا تاریخ ته هم دیو وخت تیرولو او تفریحي شغل څخه زیات حیثیت او مقام نه دی ورکړی بلکي دوعظ او حکمت ښه کتاب یي هم دخپل غفلت او ګناه یوه ذریعه جوړه کړه تیري قصي او واقعات یا خواوس دخوب راوستونکي دواه پرځای استعمالول کیږي یا دخالي وخت دتیرولو او زړه لوبولو دپاره یوه مشغله ورڅخه جوړه سویده شاید په دي وجه(یعني دپند دپاره) قرآن کریم ددنیا تاریخ دعبرت او نصیحت دپاره اخیستي دي نه دعامي دنیا دتاریخي او دقصو د کتابونو په شان چي په هغوی کي قصه بیانول مقصود وي.
(معارف القرآن ج٣ پ ٧ ص ٧٢)

www.jamairahmani.org

فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ

فَلَمَسُوْهُ	بِاَيْدِيْهِمْ	لَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا	سِحْرٌ
پس مس کړی وی دوی دا کتاب	په لاسونو خپلو	نو خامخا ویلی به وو	هغو کسانو	چی کافران سوی دی	چی نه دی دا	مګر	خو جادو

پس مس کړی وی دوی دا کتاب په لاسونو خپلو نو خامخا ویلی به وو هغو کسانو چی کافران سوی دی چی نه دی دا مګر خو سحر

مُّبِيْنٌ ۞۷ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۭ وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا

مُّبِيْنٌ	وَقَالُوْا	لَوْ	لَآاُنْزِلَ	عَلَيْهِ	مَلَكٌ	وَلَوْ	اَنْزَلْنَا	مَلَكًا
ښکاره	او ویل به کفارو	ولی	نه نازلیږی	په دغه (محمد)	پرښته	او که	نازله کړی وی موږ	پرښته

(کوږی) دی ښکاره. او ویل به (کفارو) ولی نه نازلیږی په دغه (محمد) پرښته او که نازله کړی وی موږ پرښته (ملائکه)

لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ۞۸ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا

لَّقُضِيَ	الْاَمْرُ	ثُمَّ	لَا يُنْظَرُوْنَ	وَلَوْ	جَعَلْنٰهُ	مَلَكًا
نو خامخا فیصله سوی به وه	خبره	بیا به	مهلت نه وو ورکړی سوی	او که	ګرځولی وی موږ دا رسول	پرښته

نو خامخا فیصله سوی به وه خبره بیا به مهلت نه وو ورکړی سوی. او که ګرځولی وی موږ دا رسول پرښته

لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ ۞۹

لَّجَعَلْنٰهُ	رَجُلًا	وَّلَلَبَسْنَا	عَلَيْهِمْ	مَّا يَلْبِسُوْنَ
نو خامخا ګرځولی به وه موږ دغه پرښته	سړی	او موږ به شبهه غورځولی وائی	پر دوی	همغه کومه شبهه چی ئی اوس کوی

نو خامخا ګرځولی به وه موږ دغه پرښته سړی او خامخا په شبهه کښی به اچولی وو موږ دوی په همغسی اشتباه کښی

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ

وَلَقَدِ	اسْتُهْزِئَ	بِرُسُلٍ	مِّنْ قَبْلِكَ	فَحَاقَ
او خامخا په تحقیق	مسخری کړی سوی دی	په رسولانو	چی پخوا وو له تانه	نو چاپیر او محیط سو

چی اوس پکښی پراته دی، او خامخا په تحقیق مسخری کړی سوی دی په رسولانو چی پخوا وو له تانه نو چاپیر او محیط سو

ع ۷ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۞۱۰

بِالَّذِيْنَ	سَخِرُوْا	مِنْهُمْ	مَّا كَانُوْا	بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ
په هغو کسانو پوری	چی مسخری ئی کولی	په دوی پوری	هغه چی وو دوی	چی په هغه پوری به ئی مسخری کولی.

په هغو کسانو پوری چی مسخری ئی کولی په دوی پوری هغه چی وو دوی چی په هغه پوری به ئی مسخری کولی.

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ...ددې ایت دنزول

واقعه: عبدالله بن امیّه نضربن حارث او نوفل بن خالد یووار جمع سول دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سول او دا مطالبه یې پیش کړل چې موږ پر تا هغه وخت ایمان راوړو کله چې ته دآسمان څخه یو کتاب راوړې اوددې سره څلور ملایکې هم راسې چې ددې خبرې شاهدي ورکې چې داد الله ﷻ کتاب دی او دهغه دطرفه څخه راغلی دی او دا چې ته دالله ﷻ رسول یې: ددې جواب یو خو الله ﷻ داورکی چې دا په غفلت کې ډوب داسې مطالبې کوي چې خپل مرګ او هلاکت ته بلنه ورکوي ځکه چې دالله ﷻ قانون داسې دی چې کله یو قوم دیوه پیغمبر څخه یوه خاصه معجزه وغواړي او دالله ﷻ دطرفه څخه ددوی غوښتل سوي معجزه وښوول سي نو که دوی بیا هم ایمان را نه وړی او دایمان او داسلام په راوړلو کې یې ځنډ وکی نو بیادوی دعام عذاب په ذریعه هلاکول کیږي او بل دا چې دې قوم دا مطالبه هم دنیک نیتی څخه نه ده کړې بلکې دضد پر بنا به یې کوله الخ.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۷۵)

www.jamairahmani.org

قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ

قُلْ	سِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ	ثُمَّ	انْظُرُوْا	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُكَذِّبِيْنَ
وواﻳﻪ	وگرځئ تاسي	په مځكه كښي	بيا	وگورئ	چي څرنگه	ؤ	بده خاتمه	د دروغجن كوونكو

وواﻳﻪ (اى محمده!) وگرځئ تاسي په مځكه كښي بيا وگورئ چي څرنگه ؤ عاقبت د دروغجن كوونكو (درسولانو)

قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ قُلْ لِّلّٰهِ

قُلْ	لِّمَنْ	مَّا	فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	قُلْ	لِّلّٰهِ
وواﻳﻪ	چي چالره دى	هغه شيونه	چي په	آسمانونو كښي	او په مځكه كښي دى	وواﻳﻪ	چي خاص الله لره دى

وواﻳﻪ (اى محمده!) چي چالره دى هغه شيونه چي په آسمانونو كښي او په مځكه كښي دى وواﻳﻪ چي خاص الله لره دى

كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۭ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ

كَتَبَ	عَلٰى	نَفْسِهِ	الرَّحْمَةَ	لَيَجْمَعَنَّكُمْ	اِلٰى	يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	لَا رَيْبَ
لازم كړى دى الله	پر	نفس خپل	رحمت	خامخا تول به كړي خامخ هرومروا تاسي	په	ورځ	دقيامت كي	چي نشته هيڅ شك

لازم كړى دى الله پر نفس خپل رحمت خامخا تول به كړي (الله) هرومرو تاسي په ورځ د قيامت كښي چي نشته هيڅ شك

فِيْهِ ۭ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٢ وَلَهٗ

فِيْهِ	اَلَّذِيْنَ	خَسِرُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	فَهُمْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَلَهٗ
په هغي كښي	هغه كسان	چي زيان ئي رسولى دى	ځانونو خپلو ته	نو دوى	ايمان نه راوړي	او خاص دغه الله لره دى

په هغي كښي هغه كسان چي زيان ئي رسولى دى ځانونو خپلو ته نو دوى ايمان نه راوړي. او خاص دغه (الله) لره دى

مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ۭ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝١٣ قُلْ

مَا	سَكَنَ	فِي	الَّيْلِ	وَالنَّهَارِ	وَهُوَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ	قُلْ
هغه شيونه	چي اوسيږي	په	شپه كښي	او په ورځ كښي	او هم دغه دى	ښه اوريدونكى	ښه عالم	وواﻳﻪ

هغه شيونه چي اوسيږي په شپه كښي او په ورځ كښي او هم دغه (الله) دى ښه اوريدونكى ښه عالم. وواﻳﻪ (محمده!)

اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ

اَغَيْرَ	اللّٰهِ	اَتَّخِذُ	وَلِيًّا	فَاطِرِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَهُوَ
چي آيا بى له	الله	ونيسم زه	دوست مددگار	چي پيدا كوونكى	دآسمانونو	او دمځكى دى	حال دا چي دغه

چي آيا بى له الله ونيسم زه (بل ولى) دوست مددگار؟ چي پيدا كوونكى د آسمانونو او دمځكى دى حال دا چي دغه (الله)

قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ پـه دغـه ايت كي دكفارو څخه سوال سوى دى: چي دآسمان او دمځكـي او ددوى تولـو كايناتو مالك څوك دى؟ بيا پـه خپله دنبي كريمﷺ پـه ژبـه مباركـه سـره داجواب ارشاد فرمايي چي دټولو مالك الله ﷻ دى دكفارو دجواب انتظار كولـو پـر ځاى پـه خپلـه دجواب وركولو وجه داده چـي داجـواب دمكـي دكفارو پـه نـزد هم منل سويدى دوى كه څه هم په شرك او بت پرستى كي اختـه وه مگر دمځكـي او آسمـان او دټولـو كاينـاتو مالـك يـي خـاص الله ﷻ گڼي: لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ دالى لفظ يا خو فـى پـه معنى دى او مراد دادى چي الله ﷻ بـه ټـول اولـين او آخرين دقيامت پـه ورځ جمع كي او يا جمع كول پـه قبرونو كي ورڅخه مـراد دي نـو مطلـب بـه داسي چي ترقيامته پوري به الله ﷻ تولـه انسانان پـه قبرو كي راجمع كي تـر دي چـي دقيامـت پـه ورځ بـه تولـه ژوندي راپورتـه كړل سـي: او دا هـم الله ﷻ ليكلـي دي چـي ديـو حـديث شـريف صـريح مضـمون دى چـي الله ﷻ فرمـايي زمـا رحمـت بـه زمـا پرغضـب غالـبه وي.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٧٧)

www.jamairahmani.org

يُطۡعِمُ وَلَا يُطۡعَمُ ؕ قُلۡ اِنِّيۡۤ اُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ اَوَّلَ مَنۡ

يُطۡعِمُ	وَلَا يُطۡعَمُ	قُلۡ	اِنِّيۡۤ	اُمِرۡتُ	اَنۡ	اَكُوۡنَ	اَوَّلَ	مَنۡ
روزی ورکوی	او ده ته روزی نسی ورکولی	ووایه	بیشکه! زه	حکم سوی دی ماته	چې	سم	اول	دهغو

روزي ورکوی (ټولو مخلوقاتو ته) او ده ته روزي نسي ورکولی ووایه (محمده!) بیشکه! زه مامور یم چې سم اول دهغو

اَسۡلَمَ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۱۴﴾ قُلۡ اِنِّيۡۤ اَخَافُ

اَسۡلَمَ	وَلَا تَكُوۡنَنَّ	مِنَ	الۡمُشۡرِكِيۡنَ	قُلۡ	اِنِّيۡۤ	اَخَافُ
چې غاړه ئې ایښې ده	او چې مه کیږه	له سره	له مشرکانو څخه	ووایه (محمده!)	بیشکه! زه	ببریږم

چې غاړه ئې ایښې ده او چې مه کیږه له سره له مشرکانو څخه. ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه! زه ببریږم

اِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّيۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿۱۵﴾ مَنۡ يُّصۡرَفۡ

اِنۡ	عَصَيۡتُ	رَبِّيۡ	عَذَابَ	يَوۡمٍ	عَظِيۡمٍ	مَنۡ	يُّصۡرَفۡ
که	نافرماني وکړم	له رب خپله	له عذابه	دورځې	ډیرې لوئې څخه	هرهغه څوک چې	چپ کړی سی

که نافرماني وکړم له رب خپله له عذابه د ورځې ډیرې لوئې څخه (چې قیامت دی) . هرهغه څوک چې چپ کړی سی

عَنۡهُ يَوۡمَئِذٍ فَقَدۡ رَحِمَهٗ ؕ وَذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡمُبِيۡنُ ﴿۱۶﴾ وَاِنۡ

عَنۡهُ	يَوۡمَئِذٍ	فَقَدۡ	رَحِمَهٗ	وَذٰلِكَ	الۡفَوۡزُ	الۡمُبِيۡنُ	وَاِنۡ
له عذابه	په دې ورځ کښې	نو په تحقیق	رحم کړی دی (الله) په ده	او دا	بری دی	ښکاره	او که

له عذابه په دې ورځ کښې نو په تحقیق رحم (مهرباني) کړی ده (الله) په ده او دا (مهرباني) بری دی ښکاره. او که

يَّمۡسَسۡكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ؕ وَاِنۡ

يَّمۡسَسۡكَ	اللّٰهُ	بِضُرٍّ	فَلَا كَاشِفَ	لَهٗۤ	اِلَّا	هُوَ	وَاِنۡ
ورسوی تاته	الله	څه سختي	نو نسته هیڅ لرې کوونکی	دهغه	مګر	هم دی دی	او که

ورسوی تاته الله څه سختي نو نسته هیڅ لرې کوونکی دهغه مګر هم دی دی او که

يَّمۡسَسۡكَ بِخَيۡرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۷﴾ وَهُوَ الۡقَاهِرُ

يَّمۡسَسۡكَ	بِخَيۡرٍ	فَهُوَ	عَلٰى	كُلِّ	شَيۡءٍ	قَدِيۡرٌ	وَهُوَ	الۡقَاهِرُ
ور سوی تاته	څه خیر	نو دی	پر	هر	شی	ښه قادر دی	او هم دی	زورور دی

ورسوی تاته څه خیر نو دی پر هر شی (چې اراده وفرمائی) ښه قادر دی او هم دی غالب

قُلۡ اِنِّيۡۤ اَخَافُ اِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّيۡ په ذکر سوو ایاتونو کي په اولني ایت کي الله جل جلاله دکفر او شرک څخه دځان نه ساتلو والا ته دعذاب یو خاص انداز بیان کړی دی چې نبي کریم ﷺ ته حکم ورکول سو چې ته خلګو ته ووایه چې که فرض کړه زه هم دخپل رب دحکم خلاف وکړم نو مالره هم په قیامت کي دعذاب بیره ده دا ښکاره خبره ده چې نبي کریم ﷺ دهري ګناه څخه معصوم او پاک دی ددوی څخه نافرماني دسره کیدای نسي لیکن دوی ته یي په نسبت کولو سره امت ته داښوول مقصود دي چې ددې حکم په خلاف ورزی کولو باندي چي کله دانبیاوو نبي نسي معاف کیدلای نو بل چاته څه مجال دی تر دې وروسته الله جل جلاله فرمايي (من يصرف عنه يومئذ فقد رحمه) یعني دمحشر دورځي عذاب ډیر هیبتناک او سخت دی دکم سړي څخه چې داعذاب لیري سونو پوه سی چي پرده دالله جل جلاله لوی رحمت وسو (وذلک الفوز المبين) یعني دالویه او ښکاره کامیابي ده دلته دکامیابی څخه مراد جنت ته داخلیدل دي الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته رانصیب کړي.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۸۱)

www.jamairahmani.org

فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿١٨﴾ قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ

فَوْقَ	عِبَادِهٖ	وَهُوَ	الْحَكِيْمُ	الْخَبِيْرُ	قُلْ	اَيُّ	شَيْءٍ	اَكْبَرُ
لوړ	پربندګانو خپلو	او هم دی	ښه حکمت والا دی	ښه خبردار دی	ووایه	چې کوم	یو شی	لوی دی

زورور دی دپاسه د بندګانو خپلو او هم دی ښه حکمت والا ښه خبردار دی له هر شی . ووایه چې کوم یو شی لوی دی

شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ شَهِيْدٌۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۫ وَاُوْحِيَ اِلَيَّ

شَهَادَةً	قُلِ	اللّٰهُ	شَهِيْدٌۢ	بَيْنِيْ	وَبَيْنَكُمْ	وَاُوْحِيَ	اِلَيَّ
له جهته د شاهدی	ووایه	چې الله	ښه شاهد دی	زما	او ستاسی په مینځ کښې	او وحی کړی سوی ده	ماته

له جهته د شاهدی ؟ ووایه چې الله ښه شاهد دی زما او ستاسی په مینځ کښې، او وحی کړی سوی ده ماته

هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَئِنَّكُمْ

هٰذَا	الْقُرْاٰنُ	لِاُنْذِرَكُمْ	بِهٖ	وَمَنْۢ	بَلَغَ	اَئِنَّكُمْ
دا	قرآن	له پاره د دی چې وبیروم	تاسی په دی سره	او هغه څوک چې	ورورسیږی	آیا بیشکه! تاسی

دا قرآن له پاره د دی چې وبیروم (خبردار کړم) تاسی په دی سره او هغه څوک چې ورورسیږی ده ته دا قرآن، آیا بیشکه! تاسی

لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ قُلْ لَّآ اَشْهَدُ ۚ قُلْ

لَتَشْهَدُوْنَ	اَنَّ	مَعَ	اللّٰهِ	اٰلِهَةً	اُخْرٰى	قُلْ	لَّآ اَشْهَدُ	قُلْ
خامخا شاهدی لولیئ	په دی	چې سته سره	د الله	خدایان	نور	ووایه	زه خو شاهدی نه ورکوم	ووایه

خامخا شاهدی لولیئ په دی چې سته سره د الله خدایان نور؟ ووایه (ای محمده!) زه خو شاهدی نه ورکوم، ووایه

اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿١٩﴾

اِنَّمَا	هُوَ اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	وَّاِنَّنِيْ	بَرِيْٓءٌ	مِّمَّا	تُشْرِكُوْنَ
خبره هم دا ده	چې الله دی معبود	یو	او بیشکه! زه	بیزاریم	له هغو شیونو	چې شریکان کوئ ئې تاسی

خبره هم دا ده چې الله دی معبود یو او بیشکه! زه بیزاریم له هغو شیونو چې شریکان کوئ ئې تاسی (له الله سره) .

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ

اَلَّذِيْنَ	اٰتَيْنٰهُمُ	الْكِتٰبَ	يَعْرِفُوْنَهٗ	كَمَا	يَعْرِفُوْنَ	اَبْنَآءَهُمْ
هغه کسان	چې ورکړی دی موږ دوی ته	کتاب	پیژنی دوی دا (رسول)	لکه چې	پیژنی دوی	ځامن خپل

هغه کسان چې ورکړی دی موږ دوی ته کتاب پیژنی دوی دا (رسول) لکه چې پیژنی دوی ځامن خپل

قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ..

شان نزول: یوواري داهل مکه وو یو وفد او جماعت نبي کریم ﷺ ته راغی او ورته یې وویل چې ته کمه دعوی کوې چې زه دالله رسول یم پر دې باندې ستا شاهد څوک دی ؟ ځکه چې موږ یو داسې سړی پیدا نه کړی چې ستا تصدیق وکړي حال دا دی چې موږ دیهودو او نصاراوو څخه ددې په تحقیق کې پوره کوشش وکی پر دې باندې دا آیت رانازل سو (قل ايّ شئ اكبر شهادة قل الله) یعني ته ووایه چې تر الله ﷻ زیات دچا شهادت دی چې دهغه په قبضه کې ټول جهان دی د هغه په لاس کې نفع او ضرر دی بیا تاسې وو ایاست چې زما او ستاسې په مینځ کې الله ﷻ شاهد دی او دالله ﷻ د شاهدی څخه مراد هغه معجزې او ښکاره آیتونه دي چې الله ﷻ و نبي کریم ﷺ ته دحق رسول کیدو متعلق ورکړي وي په دې وجه ددې څخه وروسته خطاب اهل مکه وو ته دی چې تر دې شاهدی وروسته هم تاسې ددې خلاف ددې خبرې شاهدي ورکوی چې الله شریک لري نوزه ددې شاهدي نه ورکوم.

(معارف القرآن ج٣ پ ٧ ص ٨٣)

www.jamairahmani.org

ع ٢ ٨

اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَمَنْ

اَلَّذِيْنَ	خَسِرُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	فَهُمْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَمَنْ
هغه کسان	چې زيان ئې رسولی دی	ځانونو خپلو ته	نو دوی	ايمان نه راوړی	او څوک دی

هغه کسان چې زيان ئې رسولی دی ځانونو خپلو ته نو دوی ايمان نه راوړی. او څوک دی

اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ

اَظْلَمُ	مِمَّنِ	افْتَرٰى	عَلَى	اللّٰهِ	كَذِبًا	اَوْ كَذَّبَ	بِاٰيٰتِهٖ	اِنَّهٗ
ډير ظالم	له هغه چا چې	وتړی	پر	الله	دروغ	يا نسبت د دروغو کوی	آيتونو د ده ته	بيشکه! شان دادی

ډير ظالم له هغه چا چې وتړی پر الله دروغ يا نسبت د دروغو کوی آيتونو د ده ته؟ (بلکه نشته!) بيشکه! شان دادی

لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢١﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ

لَا يُفْلِحُ	الظّٰلِمُوْنَ	وَيَوْمَ	نَحْشُرُهُمْ	جَمِيْعًا	ثُمَّ	نَقُوْلُ
چې خلاصی نه پيدا کوی	ظالمان	او هغه ورځ چې	راجمع به کړو دوی	ټول	بيا به	ووايو

چې خلاصي نه مومی ظالمان. او (ياده کړه) هغه ورځ چې راجمع به کړو دوی (عابدان او معبودان) ټول بيا به ووايو (زجرا)

لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٢٢﴾

لِلَّذِيْنَ	اَشْرَكُوْٓا	اَيْنَ	شُرَكَآؤُكُمُ	الَّذِيْنَ	كُنْتُمْ	تَزْعُمُوْنَ
هغو کسانو ته	چې شرک ئې کړی دی	چې چيرته دی	شريکان ستاسی	هغه چې	وئ تاسی	چې ګڼل به مو

هغو کسانو ته چې شرک ئې کړی دی چې چيرته دی ؟ شريکان ستاسی هغه چې وئ تاسی چې ګڼل به مو (د الله شريکان).

ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا

ثُمَّ	لَمْ	تَكُنْ	فِتْنَتُهُمْ	اِلَّآ	اَنْ	قَالُوْا	وَ	اللّٰهِ	رَبِّنَا
بيا به	نه	وی	فتنه د دوی	مګر	دا چې	وائی به دوی	چې قسم دی	په الله	چې رب زموږ دی

بيا به نه وی (عاقبت د) فتنی د دوی مګر دا چې وائی به دوی چې قسم دی په الله چې رب زموږ دی

مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿٢٣﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ

مَا كُنَّا	مُشْرِكِيْنَ	اُنْظُرْ	كَيْفَ	كَذَبُوْا	عَلٰٓى	اَنْفُسِهِمْ	وَضَلَّ
چې نه وو موږ	مشرکان	وګوره	څرنګه	دروغ ئې وويل	پر	ځانونو خپلو	او ورک سوله

چې نه وو موږ مشرکان. وګوره (ای محمده!) څرنګه دروغ ئې وويل پر ځانونو خپلو او ورک سوله

اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ حضرت عبدالله بن سلام رضی الله عنه چي اول يهودي وو بيا مسلمان سو: حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه دده څخه پوښتنه وکړه يوه ورځ چي الله جل جلاله په قرآن شريف کي خبر ورکړی دی چي تاسي خلګ زموږ رسول الله صلی الله علیه وسلم داسي پيژنی لکه خپل اولاد ددې څه وجه ده ؟ عبدالله بن سلام رضی الله عنه ورته وفرمايل چي هو موږ نبي کريم صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله په بيان کړو صفتونو باندي پيژنو کم چي الله جل جلاله په تورات کي بيان کړي دي په دې وجه ددې علم موږ ته حاصل دی په يقيني او قطعي طور سره په خلاف دخپل اولاد سره چي په دې کي شبه کيدای سي چي دا زموږ اولاد دی هم او که نه دی حضرت زيد بن سعنه رضی الله عنه چي د اهل کتابو څخه دی ده نبي کريم صلی الله علیه وسلم دتورات او انجيل په بيان کړو صفتونو سره وپيژندی يوازي يو صفت داسي وو چي دهغه تصديق د ته مخکي نه وو سوی تر امتحان کولو وروسته يي تصديق وسو هغه دا چي ددې نبي حلم او بردباري به پر قهر او غصي باندي غالبه وي دا صفت يي هم تجربه کړی مسلمان سو.

(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٨٥)

www.jamairahmani.org

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ

عَنْهُمْ	مَّا	كَانُوْا	يَفْتَرُوْنَ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	يَّسْتَمِعُ	اِلَيْكَ
له دوی څخه	هغه چې	وو دوی	چې ترل به ئې دروغ	او ځنې له كفارو	هغه څوك دی	چې غوږ نيسي	تاته

له دوی څخه هغه چې وو دوی چې ترل به ئې دروغ. او ځنې له كفارو هغه څوك دی چې غوږ نيسي تاته

وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ

وَجَعَلْنَا	عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	اَكِنَّةً	اَنْ يَّفْقَهُوْهُ	وَفِيْٓ	اٰذَانِهِمْ
او اچولی دی موږ	پر	زړونو د دوی	پردې	چې ونه پوهيږی دوی په دی (قرآن)	او په	غوږونو د دوی كښې

او اچولی دی موږ په زړونو د دوی پردې چې ونه پوهيږی دوی په دی (قرآن) او په غوږونو د دوی كښې

وَقْرًا ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ؕ حَتّٰٓى

وَقْرًا	وَاِنْ	يَّرَوْا	كُلَّ اٰيَةٍ	لَّا يُؤْمِنُوْا	بِهَا	حَتّٰٓى
دروندوالی	او كه	ووينی دوی	هره نښه	ايمان نه راوړی دوی	پر هغه	تر هغه پوری

دروندوالی (كوڼوالی) او كه ووينی دوی ټول دلائل (دقدرت نو بيا هم) ايمان نه راوړی دوی پر هغه، ترهغه پوری

اِذَا جَآءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ

اِذَا جَآءُوْكَ	يُجَادِلُوْنَكَ	يَقُوْلُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِنْ هٰذَآ	اِلَّآ
كله چې راسی دوی تاته	چې جګړې كوی له تا سره	وائی	هغه كسان	چې كافران سوی دی	نه دی دا قرآن	مګر

كله چې راسی دوی تاته چې جګړې كوی له تا سره وائی هغه كسان چې كافران سوی دی نه دی دا قرآن مګر

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ

اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ	وَهُمْ	يَنْهَوْنَ	عَنْهُ	وَيَنْـَٔوْنَ	عَنْهُ
باطلی قصی دی	دپخوانيو خلګو	او دا كسان	منع كوی	له رسوله	او لری كيږی	له ده

باطلی قصی دی د پخوانيو خلګو. او دا كسان منع كوی (خلګ) له رسوله او (په خپله هم) لری كيږی له ده څخه

وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا

وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ	اِلَّآ	اَنْفُسَهُمْ	وَمَا يَشْعُرُوْنَ	وَلَوْ تَرٰٓى	اِذْ وُقِفُوْا
او نه هلاكوی دوی	مګر	ځانونه خپل	او نه پوهيږی دوی	او كه ووينی ته	كله چې ودرولی سی دوی

او نه هلاكوی دوی مګر ځانونه خپل او نه پوهيږی دوی. او كه ووينی ته (ای محمده!) كله چې ودرولی سی دوی

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ.. درواغ ويل كبيره اوسخته ګناه ده:

كفار به دقيامت په ورځ هم دالله ﷻ په حضور كې درواغ ووايي او دشرك څخه به انكار وكړي او دادرواغ ددوی عادت ګرځيدلي وه اودا چې يووار عادت سول نو بيا نه پاته كيږي تر دې چې كمو خلګو په دنيا كې دمسلمانانو سره په درواغو قسمونه اخيستل دلته يې هم اخلي او دخدای ﷻ دټول مخلوق په مخكې يې رسوايي لاهم وسوه په قران كريم او په حديث شريف كې پر درواغو ويلو باندې دسخت عذاب وعده او زورنه راغلې ده په قرآن كريم كې ځای پر ځای پردرواغجن دلعنت الفاظ راغلي دي او نبي كريم ﷺ فرمايي چې ددرواغو څخه ځان وساتئ ځكه چې درواغجن دفاجرانو ملګری دی او درواغجن او فاجر به دواړه جهنم ته ځي. اودنبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې هغه عمل څه دی چې په هغه سره بنده دوږخ ته ځي ﷺ وفرمايل چې هغه عمل درواغ دي او بل حديث شريف دی چې بنده تر هغه وخته نسي مومن كيدای چې ترڅو پوري يې درواغ نه وي پرې ايښي. (معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٩٢)

www.jamairahmani.org

عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ

عَلَى	النَّارِ	فَقَالُوْا	يٰلَيْتَنَا	نُرَدُّ	وَلَا نُكَذِّبَ	بِاٰيٰتِ
پر	اور	نو وبه وائی دوی	ای کاشکی موږ	بیا بوتلی سو	او نه به کړو تکذیب	په آیتونو

پر اور (دوزخ، د پل صراط پر سر) نو وبه وائی دوی ، ای کاشکی موږ بیا بو تلی سو (دنیا ته) او نه به کړو تکذیب په آیتونو

رَبِّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ

رَبِّنَا	وَنَكُوْنَ	مِنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	بَلْ	بَدَا	لَهُمْ	مَّا كَانُوْا	يُخْفُوْنَ
د رب خپل	او سو به موږ	له	مؤمنانو	بلکه	ظاهر سو	دوی ته	هغه چی وو دوی	چی پټول به ئی

د رب خپل او سو به موږ له مؤمنانو . بلکه ظاهر سو دوی ته هغه چی وو دوی چی پټول به ئی

مِنْ قَبْلُ ۭ وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا

مِنْ قَبْلُ	وَلَوْ	رُدُّوْا	لَعَادُوْا	لِمَا	نُهُوْا
پخوا	او که	بیرته بوتله سی دوی	نو خامخا به بیا هم راوګرځی دوی	همغه شی ته	چی منع کړی سوی وه دوی

پخوا او که بیرته بوتله سی دوی نو خامخا به بیا هم راوګرځی دوی همغه شی ته چی منع کړی سوی وه دوی

عَنْهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿٢٨﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا

عَنْهُ	وَاِنَّهُمْ	لَكٰذِبُوْنَ	وَقَالُوْٓا	اِنْ هِيَ	اِلَّا	حَيَاتُنَا	الدُّنْيَا
له هغه شی څخه	او بیشکه ! دوی	هرومرو دروغجنان دی	او وائی دوی	نه دی ژوندون	مګر	هم دا ژوندون زموږ	دنیوی

له هغه شی څخه او بیشکه ! دوی هرو مرو دروغجنان دی. او وائی دوی نه دی ژوندون مګر هم دا ژوندون زموږ دنیوی

وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ۭ

وَمَا نَحْنُ	بِمَبْعُوْثِيْنَ	وَلَوْ	تَرٰٓى	اِذْ	وُقِفُوْا	عَلٰى رَبِّهِمْ
او نه یو موږ	بیا راپاڅولی سوی	او که	ووینی ته	هغه وخت چی	ودرولی سی دوی	رب خپل ته

او نه یو موږ بیا راپاڅولی سوی . او که ووینی ته (ای محمده!) هغه وخت چی ودرولی سی دوی رب خپل ته

قَالَ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ۭ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ۭ

قَالَ	اَلَيْسَ	هٰذَا	بِالْحَقِّ	قَالُوْا	بَلٰى	وَرَبِّنَا
فرمائی به (الله)	آیا نه دی	دا	په حقه سره؟	وبه وائی دوی	هو ! حق دی !	قسم مو دی په رب خپل

فرمائی به (الله) آیا نه دی دا (دوهم ژوندون) په حقه سره ؟ وبه وائی دوی هو ! حق دی ! قسم مو دی په رب خپل

فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ.. داسلام دري بنيادي اصول دي توحيد ، رسالت ، داخرت **عقيده:** باقي ټولي عقيدې تردې دريو لاندي داخلي دي او دا هغه اصول دي کم چي انسان ده دخپل حقيقت او دژوند دمقصد څخه خبردار کوي ده په ژوند کي انقلاب راولي او دی پريوه سيده او صفا لار برابروي په دوی کي هم په عملي طور سره دآخرت عقيده او په دې کي دحساب او کتاب جزاء او سزا عقيده يوه داسي انقلابي عقيده ده چي دانسان دهريوه عمل مخ يو خاص طرف ته راګرځوي دغه وجه ده چي دقرآن کريم ټول مضامين ددې درو واړو عقيدو پر شا او خوا ګرځي په راروانو ذکر سوو اياتونو کي دآخرت دسوال او جواب هلته داوږدو سختو دثواب عذاب او ددنيا دناپايداری حقيقت بيان سوی دی هغه داسي چي کله مجرمين دقيامت په ورځ ددوږخ پر غاړه باندي ودرول سي او دوی هغه عذاب ووينې نو داارزو به وکړي چي کاشکي بيا موږ دنيا ته وليږل سونو بيا به هلته دالله ﷻ داياتونو تکذيب نه کوو الخ.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٩٥)

www.jamairahmani.org

ع ٣ / ٩

وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ.

دحديث په روايتونو كي دي چي دقيامت په ورځ به دنيكو خلكو عملونه ددوی سپرلی جوړ سي:

او دبدكارو بدعملونه به ددروند بار په شكل كي ددوی پر سرونو باندي بار سي دلته داخبره په خاص طور سره دذكر كولو قابله ده چي كافران او فاجران به دحشر په ميدان كي دخپل ځان دخلاصون دپاره دبيري او بدحواسي سره مختلفي خبري وكړي كله به په درواغو سره قسمونه اخلي كله به ارزوګاني كوي چي موږ بيا دنيا ته واپس سو مګر دابه هيڅوک نه وايي چي موږ اوس ايمان راوړو او اوس به نيک عمل كوو ځكه چي حقيقت به په يقيني توګه سره دوی ته ښكاره سي چي دآخرت كور دعمل كور نه دی او دابه هم ورته معلومه وي چي دايمان صحيح والی هغه وخت وي چي ايمان په غيبو باندي وي تر ليدلو وروسته تصديق خو دخپلو ليدلو دعمل تصديق دی دخدای ﷻ او درسول ﷺ تصديق نه دی او بل طرف ته دا دمجبوری منل دي يعني عذابونه او وعيدونه يي وليدل ايمان راوړي او دالله ﷻ ته دمنلو وړنه دی

(معارف القرآن ج٣ پ ٧ ص٩٧)

قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ۝٣٠ قَدْ

قَالَ	فَذُوقُوا	الْعَذَابَ	بِمَا	كُنتُمْ	تَكْفُرُونَ	قَدْ
وفرمائی (الله)	پس وڅکئ تاسي	دا عذاب	په سبب د دی	چي وئ تاسي	چي کافران سوی وئ	په تحقيق

(نو بیا به) وفرمائی (الله) پس وڅکئ تاسي دا عذاب په سبب د دی چي وئ تاسي چي کافران سوی وئ. په تحقيق

خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمُ السَّاعَةُ

خَسِرَ	الَّذِينَ	كَذَّبُوا	بِلِقَاءِ	اللَّهِ	حَتَّىٰ	إِذَا	جَاءَتْهُمُ	السَّاعَةُ
زیان کاران سوی دی	هغه کسان	چي دروغ ګڼلی	ملاقات	له الله سره	تر هغه پوری	کله چي	راسی دوی ته	قیامت

زیان کاران سوی دی هغه کسان چي دروغ ګڼلی ملاقات له الله سره ، تر هغه پوری کله چي راسی دوی ته قیامت

بَغْتَةً قَالُوا يَا حَسْرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطْنَا فِيهَا وَهُمْ

بَغْتَةً	قَالُوا	يَا حَسْرَتَنَا	عَلَىٰ	مَا	فَرَّطْنَا	فِيهَا	وَهُمْ
ناڅاپه	وائی به دوی	ای افسوسه زموږ	په	هغه شی	چي تقصیر کړی ؤ موږ	په دنیا کښی	حال دا چي دوی به

ناڅاپه (نو) وائی به دوی ای افسوسه زموږ په هغه شي چي تقصیر کړی ؤ موږ په دنیا کښی حال دا چي دوی به

يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَىٰ ظُهُورِهِمْ ۚ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ ۝٣١

يَحْمِلُونَ	أَوْزَارَهُمْ	عَلَىٰ	ظُهُورِهِمْ	أَلَا	سَاءَ	مَا	يَزِرُونَ
واخلي	بارونه د ګناهونو خپلو	پر	شاؤ خپلو	واورئ خبردار سئ	چي بد دی	هغه شی	چي په شائي ګرځوی دوی

واخلي بارونه د ګناهونو خپلو پر شاؤ خپلو واورئ خبردار سئ چي بد دی هغه شی چي په شائي ګرځوی دوی.

وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۖ وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ

وَمَا الْحَيَاةُ	الدُّنْيَا	إِلَّا	لَعِبٌ	وَلَهْوٌ	وَلَلدَّارُ	الْآخِرَةُ
او نه دی ژوند	دنیوی	مګر	لوبی	او ساعتیری	او خامخا کور	آخرنی

او نه دی حیات دنیوی (ژوندون لږ خسیس) مګر لوبی (دهلکانو) او ساعتیری (دلیونیانو) دی او خامخا کور آخرنی

خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝٣٢ قَدْ نَعْلَمُ

خَيْرٌ	لِّلَّذِينَ	يَتَّقُونَ	أَفَلَا تَعْقِلُونَ	قَدْ	نَعْلَمُ
خیر دی	دپاره د هغو کسانو	چي پرهیزګاری کوی	نو آیا عقل نه چلوئ تاسي	په تحقيق	موږ پوهیږو

خیر (بهتر) دی دپاره دهغو کسانو چي پرهیزګاری کوی نو آیا عقل نه چلوئ تاسي . په تحقيق موږ پوهیږو

www.jamairahmani.org

اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِىْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ

اِنَّهٗ	لَيَحْزُنُكَ	الَّذِىْ	يَقُوْلُوْنَ	فَاِنَّهُمْ	لَا يُكَذِّبُوْنَكَ	وَلٰكِنَّ
بیشکه! شان دادی	چې خامخا خپه کوی تا	هغه شی	چې وائی دوی	نو بیشکه دوی	نه کوی تکذیب ستا	و لیکن

بیشکه! شان دادی چې خامخا خپه کوی تا (محمده) هغه شی چې وائی دوی نو بیشکه دوی نه کوی تکذیب ستا ولیکن

الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ

الظّٰلِمِيْنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	يَجْحَدُوْنَ	وَلَقَدْ	كُذِّبَتْ	رُسُلٌ
دا ظالمان	په آیتونو	د الله	انکار کوی	او خامخا په تحقیق	دروغجن بللی سوی دی	ډیر رسولان

دا ظالمان په آیتونو د الله انکار کوی. او خامخا په تحقیق دروغجن بللی سوی دی ډیر رسولان

مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰى مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰٓى

مِّنْ قَبْلِكَ	فَصَبَرُوْا	عَلٰى	مَا كُذِّبُوْا	وَاُوْذُوْا	حَتّٰٓى
پخوا له تا نه	نو صبر به ئی کاوه	پر	دروغجن بلل کیدلو	او ضرر رسیدلو	ترهغه پوری

پخوا له تا نه نو صبر به ئی کاوه پر دروغجن بلل کیدلو او ضرر رسیدلو ترهغه پوری

اَتٰىهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ

اَتٰىهُمْ	نَصْرُنَا	وَلَا مُبَدِّلَ	لِكَلِمٰتِ	اللّٰهِ	وَلَقَدْ	جَآءَكَ
چې راغله دوی ته	مرسته زموږ	او نسته هیڅ اړوونکی	دکلماتو	د الله	او خامخا په تحقیق	راغلی دی تاته

چې راغلی دوی ته مرسته (مدد) زموږ او نسته هیڅ اړوونکی د کلماتو د الله او خامخا په تحقیق راغلی دی تاته

مِنْ نَّبَاِى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٤﴾ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ

مِنْ	نَّبَاِى	الْمُرْسَلِيْنَ	وَاِنْ	كَانَ	كَبُرَ	عَلَيْكَ
له	حالاتو	د رسولانو	او که	وی	چې سخت وی	پرتا باندی

له حالاتو د (تیرو) رسولانو. او که وی چې سخت وی پر تا باندی

اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى الْاَرْضِ

اِعْرَاضُهُمْ	فَاِنِ	اسْتَطَعْتَ	اَنْ	تَبْتَغِىَ	نَفَقًا	فِى	الْاَرْضِ
مخ گرځول د دوی	پس	که توان لری ته	چې	ولټوی ته	کوم سوری	په	مځکی کښی

مخ گرځول د دوی پس که توان لری ته چې ولټوی ته کوم سوری (سرنګ) په مځکی کښی

فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ. په ذکر سوو ایاتونو کي په اولني ایت کي چي يي کم فرمايلي دي: فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ يعني داكفار په حقيقت كي تا نه دروا غجن كوي بلكي دالله ﷻ اياتونه درواغجن كوي ددې واقعه داسي ده چي يوارد قريشو كافرانو دوه سرداران اخنس ابن شريق او ابوجهل يوځای سول نو اخنس دابوجهل څخه پوښتنه وكړه چي ای ابوالحكم (په عربو كي ابوجهل دابوالحكم په نامه سره يادیدی په اسلام كي دده دكفر اوعناد په سبب ورته دابوجهل لقب وركړه سو) دلته موږ دواړه یوازي یوزما او ستا خبري بل دریم کس نه اوري ماته دمحمد ابن عبدالله په باره کي خپل صحيح خيال راوښیه چي ته دی رښتيا ګڼي او که درواغجن؟ ابوجهل په الله ﷻ باندي قسم واخيستی او وې وويل چي بيشکه دی رښتینی دی ده په ټول عمر كي هيڅ درواغ نه دي ويلي ليكن خبره داده چي دقريشو دقبيلې په يوه ښاخ بنوقصی كي ټولي خوبياني او صفتونه راغلل باقي قريش خالي پاته كيږي نودا موږ نه سوبرداشتولی ځكه مومخالفت شروع كی.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۱۰۴)

www.jamairahmani.org

اَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

اَوْ سُلَّمًا	فِي	السَّمَآءِ	فَتَاْتِيَهُمْ	بِاٰيَةٍ	وَلَوْ	شَآءَ	اللّٰهُ
يا كومه زينه	په	آسمان	نو راوړې ته دوى ته	كومه معجزه	او كه	اراده كړې وى	الله

يا كومه زينه په (طرف د) آسمان نو راوړې ته دوى ته كومه معجزه او كه اراده كړې وى الله (دهدايت د دوى)

لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّمَا

لَجَمَعَهُمْ	عَلَى	الْهُدٰى	فَلَا	تَكُوْنَنَّ	مِنَ	الْجٰهِلِيْنَ	اِنَّمَا
نو هرومرو به ئې راټول كړې وو دوى ټول	په	سمه صافه لاره	پس له سره	مه كيږې	له	ناپوهانو څخه	بيشكه!

نو هرومرو به ئې راټول كړې وو دوى ټول په سمه صافه لاره پس له سره مه كيږې له ناپوهانو څخه. بيشكه!

يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ ؕ وَالْمَوْتٰى يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ

يَسْتَجِيْبُ	الَّذِيْنَ	يَسْمَعُوْنَ	وَالْمَوْتٰى	يَبْعَثُهُمُ	اللّٰهُ	ثُمَّ	اِلَيْهِ
قبلوى بلنه ستا	هغه كسان	چې اورى	او مړى	به راولاړ كړى دوى	الله	بيا	خاص هم ده ته به

قبلوى بلنه ستا (ايمان ته) هغه كسان چې اورى او مړى به راولاړ كړى (ژوندى) الله بيا خاص هم ده ته به

يُرْجَعُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

يُرْجَعُوْنَ	وَقَالُوْا	لَوْلَا نُزِّلَ	عَلَيْهِ	اٰيَةٌ	مِّنْ	رَّبِّهٖ
ورستى سى دوى	او وائى كفار	ولى نه نازلاوه سى	په دغه باندى	كومه معجزه	له (جانبه)	رب د ده

ورستى سى دوى. او وائى كفار ولى نه نازلاوه سى په دغه (محمد) باندى كومه معجزه له (جانبه د) رب د ده

قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

قُلْ	اِنَّ	اللّٰهَ	قَادِرٌ	عَلٰٓى	اَنْ	يُّنَزِّلَ	اٰيَةً	وَّلٰكِنَّ	اَكْثَرَهُمْ
ووايه	بيشكه!	الله	قادر دى	په	دى خبره	چې نازل كړى	معجزه	ليكن	اكثره كسان له دوى څنى

ووايه (اى محمده!) بيشكه! الله قادر دى په دى خبره چې نازل كړى معجزه ليكن اكثره كسان له دوى څنى

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ

لَا يَعْلَمُوْنَ	وَمَا	مِنْ	دَآبَّةٍ	فِي	الْاَرْضِ	وَلَا	طٰٓئِرٍ	يَّطِيْرُ
نه پوهيږى	او نسته	هيڅ	حيوان تلونكى	په	مځكه كښى	او نه هيڅ	مارغه	چې الوځى

نه پوهيږى. او نسته هيڅ حيوان خوځيدونكى تلونكى په مځكه كښى او نه هيڅ مارغه (مرغه) چې الوځى

تفسير

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ.. ددې ايت څخه معلومه سوه چې دقيامت په ورځ به دانسانانو سره ټول حيوانان هم ژوندي كيږي

دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دقيامت په ورځ به ټول حيوانان او مرغان هم دوباره ژوندي كيږي او دالله جل جلاله ترانصاف لاندي به هريو په خپله جزارسيږي او دالله جل جلاله انصاف تر دې اندازې پوري دى چې كه يو ښكرور حيوان بې ښكرو حيوان په دنيا كي وهلي وي نونن به دهغه بدل دده څخه اخيستل كيږي (دغه ډول به دنورو حيوانانو ديوبل سره دظلم بدل اخيستل كيږي) او كله چې ددوى ديو بل څخه حقونه اودظلمونو بدلې واخيستل سي نوحكم به ورته وسي چې ټول خاوري سي نو ټول حيوانان به دغه وخت دخاورو غوندي سي دا به هغه وخت وي چې كافران به ووايي (يليتنى كنت ترابا) يعني كاشكي زما سره هم دا معامله وسي اوزه خاوري سوى واى اودجهنم دعذاب څخه خلاص سوى واى او په يوه بل حديث شريف كي هم دغه ته ورته مضمون راغلى دى.
(معارف القرآن ج٣ پ٧ ص١٠٥)

www.jamairahmani.org

بِجَنَاحَيۡهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمۡثَالُكُمۡ ؕ مَا فَرَّطۡنَا فِي الۡكِتٰبِ

بِجَنَاحَيۡهِ	اِلَّآ	اُمَمٌ	اَمۡثَالُكُمۡ	مَا فَرَّطۡنَا	فِي	الۡكِتٰبِ
په دواړو وزرونو خپلو	مګر	امتونه دي	په شان ستاسي	نه دي پريښي موږ	په	کتاب کښي (لوح محفوظ)

په دواړو وزرونو خپلو مګر (ټول سره) امتونه (مخلوقات) دي په شان ستاسي نه دي پريښي موږ په کتاب کښي

مِنۡ شَيۡءٍ ثُمَّ اِلٰي رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُوۡنَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا

مِنۡ شَيۡءٍ	ثُمَّ	اِلٰي رَبِّهِمۡ	يُحۡشَرُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	كَذَّبُوۡا	بِاٰيٰتِنَا
هيڅ شی	بيا به	رب خپل ته	ورټول کړی سی	او هغه کسان	چي دروغ ئی ګڼی	آيتونه زموږ

هيڅ شی (بلکه ټول ليکلی دی موږ)، بيا به (دا ټول) رب خپل ته ورټول کړی سی. او هغه کسان چي دروغ ئی ګڼی آيتونه زموږ

صُمٌّ وَّبُكۡمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ؕ مَنۡ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضۡلِلۡهُ ؕ

صُمٌّ	وَّبُكۡمٌ	فِي	الظُّلُمٰتِ	مَنۡ	يَّشَاِ	اللّٰهُ	يُضۡلِلۡهُ
کاڼه دی	او ګونګيان دی	په	تيارو کښی دی	او هر چاته چي	اراده وفرمائی	الله	نو ګمراه کوی ئی هغه لره

کاڼه دی او ګونګيان دی په تيارو کښی دی (دکفر او جهل) او هر چا ته چي اراده وفرمائی الله نو ګمراه کوی ئی

وَمَنۡ يَّشَاۡ يَجۡعَلۡهُ عَلٰي صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿٣٩﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتَكُمۡ

وَمَنۡ	يَّشَاۡ	يَجۡعَلۡهُ	عَلٰي	صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِيۡمٍ	قُلۡ	اَرَءَيۡتَكُمۡ
او هر چاته چي	اراده وفرمائی	نو ګرځوی هغه	په	سمه صافه	لاره	وواية (ای محمده!)	خبر راکړئ ماته

او هر چا ته چي اراده وفرمائی نو ګرځوی هغه په سمه صافه لاره (دحقی) . وواية (ای محمده!) خبر راکړئ ماته

اِنۡ اَتٰىكُمۡ عَذَابُ اللّٰهِ اَوۡ اَتَتۡكُمُ السَّاعَةُ اَغَيۡرَ اللّٰهِ

اِنۡ	اَتٰىكُمۡ	عَذَابُ	اللّٰهِ	اَوۡ اَتَتۡكُمُ	السَّاعَةُ	اَغَيۡرَ	اللّٰهِ
که	راسی تاسی ته	عذاب	دالله	يا راسی پر تاسی	قيامت	آيا بی له	الله

که راسی تاسی ته عذاب د الله يا راسی پر تاسی قيامت آيا بی له الله

تَدۡعُوۡنَ ۚ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿٤٠﴾ بَلۡ اِيَّاهُ تَدۡعُوۡنَ

تَدۡعُوۡنَ	اِنۡ	كُنۡتُمۡ	صٰدِقِيۡنَ	بَلۡ	اِيَّاهُ	تَدۡعُوۡنَ
بل څوک به بولئ تاسی	که	يئ تاسی	صادقان	بلکه	خاص هم دغه الله	بولئ تاسی

بل څوک به بولئ تاسی ، که يئ تاسی صادقان (رښتيني په خپله وينا کښی) . بلکه خاص هم دغه الله بولئ تاسی

مَا فَرَّطۡنَا فِي الۡكِتٰبِ مِنۡ شَيۡءٍ ثُمَّ اِلٰي.. لنډ تفسير

الله ﷻ دلته فرمايي چي موږ په خپل کتاب لوح محفوظ کي هيڅ شی کم چي تر قيامته پوري راتلونکی دی يا کيدونکی دی بې ليکلونه دی پرې ايښی که څه هم الله ﷻ ته دليکلو هيڅ ضرورت نه وو دده علم ازلي هرڅه لره چاپيره کوونکي کافي دی ليکن دليکلو په ذريعه په ضبط کي راوستل عام فهم او پوهی ته ډير نژ دي دی بيا دډي څخه وروسته په خپل مقرر وخت به ټول انسانان او حيوانان دخپل رب مخ ته جمع سي مخ ته بيا نبي کريم ﷺ ته دتسلی مضمون دی او کم خلګ چي زموږ اياتونه درواغ بولي دغه خلګ الله ﷻ فرمايي دحق داوريدو څخه کاڼه غوندي دي او دحق دويناه څخه ګونګيان غوندي دي او دډي په وجه سره په قسم قسم تيارو کي راښينګ دي ځکه چي هر يو کفر ځان ته يوه تياره ده او په دوی کي مختلف قسم کفرونه راجمع دي بيا دډي اقسامو دکفر بيا بيا مکرر کول جلا جلا تيارې دي خو بيا هم هدايت او ګمراهي د الله ﷻ په لاس کي ده.

(معارف القرآن ج٣ پ٧ص١٠٣)

www.jamairahmani.org

فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَتَنْسَوْنَ مَا

فَيَكْشِفُ	مَا	تَدْعُوْنَ	اِلَيْهِ	اِنْ	شَآءَ	وَتَنْسَوْنَ	مَا
بیا لری کوی الله له تاسی	هغه	چی بولئ تاسی (الله)	دهغه دپاره	که	اراده وفرمايي	او هیروئ تاسی	هغه

بیا لری کوی الله له تاسی هغه (مصیبت) چی بولئ تاسی (الله) دهغه دپاره که اراده وفرمايي او هیروئ تاسی هغه

تُشْرِكُوْنَ ۝٤١ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ

۴ ع ۱۱ ۱۰

تُشْرِكُوْنَ	وَلَقَدْ	اَرْسَلْنَآ	اِلٰٓى اُمَمٍ	مِّنْ قَبْلِكَ
چی شریکوئ ئی تاسی	او خامخا په تحقیق	استولی وو موږ	ډیرو امتونو ته	پخوا له تانه

چی شریکوئ ئی تاسی (له الله سره). او خامخا په تحقیق استولي وو موږ (رسولان) ډیرو امتونو ته پخوا له تانه

فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ۝٤٢

فَاَخَذْنٰهُمْ	بِالْبَاْسَآءِ	وَالضَّرَّآءِ	لَعَلَّهُمْ	يَتَضَرَّعُوْنَ
نو ونیول موږ دوی	په سختیو	او تکلیفونو سره	دپاره د دی چی دوی	زاری عاجزی وکړی .

نو ونیول موږ دوی په سختیو او تکلیفونو سره دپاره د دی چی دوی زاری عاجزی وکړی .

فَلَوْلَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ

فَلَوْلَآ	اِذْ	جَآءَهُمْ	بَاْسُنَا	تَضَرَّعُوْا	وَلٰكِنْ	قَسَتْ
نو ولی	کله چی	راغی دوی ته	عذاب زموږ	عاجزی ونه کړه دوی	او لیکن	سخت سوی ؤ

نو ولی کله چی راغی دوی ته عذاب زموږ عاجزی ونه کړه دوی (چی تری لری سوی وی عذاب) او لیکن سخت سوی ؤ

قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٤٣ فَلَمَّا

قُلُوْبُهُمْ	وَزَيَّنَ	لَهُمُ	الشَّيْطٰنُ	مَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	فَلَمَّا
زړونه د دوی	او ښایسته کړی وه	دوی ته	شیطان	هغه کارونه	چی وو دوی چی کول به ئی	پس کله چی

زړونه د دوی او ښایسته کړی وه دوی ته شیطان هغه کارونه چی وو دوی چی کول به ئی. پس کله چی

نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ

نَسُوْا	مَا	ذُكِّرُوْا	بِهٖ	فَتَحْنَا	عَلَيْهِمْ	اَبْوَابَ	كُلِّ
هیر کړی دوی	هغه شی	چی پند ورکړی سوی ؤ دوی ته	په هغه سره	نو راخلاصی کړی موږ	پر دوی باندی	دروازی	د هر

هیر کړی دوی هغه شی چی پند ورکړی سوی ؤ دوی ته په هغه سره نو وپرانیست موږ پر دوی باندی دروازی د هر

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ... په ذکر سوو ایاتونو کي الله ﷻ دتیرو امتونو واقعات: او پر دوی جاري کیدونکی دقدرت قانون بیان کړی دی ارشاد فرمايي (وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ ....) یعني موږ تر تا مخکي هم خپل رسولان دنورو امتونو طرف ته ولیږل او په دوه قسمه مو ددوی امتحان واخیستی اول مو ورباندي سختی او تکلیفونه واچول چي که ددي څخه وبیریږي او دالله ﷻ طرف ته به راوګرځي کله چي هغوی په دې کي ناکامه سول اوپر ځای ددې چي دالله ج طرف ته راګرځیدلي وای او دسرکښی څخه منع سوي وای ښه په نافرمانی او سرکښی کي اخته سوله نو اوس موږ ددوی بل قسم امتحان اخیستل شروع کړی اوپردوی مو ددنیا او دعیش او عشرت دروازې راخلاصي کړې او ددنیا دژوند متعلق مو دوی ته هر څه ورکړل چي شاید داخلګ نعمتونه ووینیي او خپل نعمت ورکوونکي اواحسان کوونکی وپیژني او په دې شان سره دوی ته خدای ورپه یاد سي لیکن په دې امتحان کي هم دوی ناکامه سول چي سبب یي هلاکت ددوی سو.
(معارف القرآن ج۳ پ۷ص۱۰۸)

www.jamairahmani.org

شَیۡءٍ ؕ حَتّٰۤی اِذَا فَرِحُوۡا بِمَاۤ اُوۡتُوۡۤا اَخَذۡنٰهُمۡ بَغۡتَةً

شَیۡءٍ	حَتّٰۤی	اِذَا	فَرِحُوۡا	بِمَاۤ	اُوۡتُوۡۤا	اَخَذۡنٰهُمۡ	بَغۡتَةً
قسم نعمت	تر هغه پوری	کله چی	خوشحال سی دوی	پر هغو شیانو	چی ورکړی سوی وو دوی ته	نو ونیول موږ دوی	ناڅاپه

قسم نعمت تر هغه پوری کله چی خوشحال سی دوی پر هغو شیانو چی ورکړی سوی وو دوی ته نو ونیول موږ دوی ناڅاپه

فَاِذَا هُمۡ مُّبۡلِسُوۡنَ ﴿۴۴﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ الۡقَوۡمِ الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡا ؕ

فَاِذَا	هُمۡ	مُّبۡلِسُوۡنَ	فَقُطِعَ	دَابِرُ	الۡقَوۡمِ	الَّذِیۡنَ	ظَلَمُوۡا
پس ناڅاپه په دی وخت کښی	دوی	نا امیده سی	نو پری کړی سو	بیخ	دقوم	هغه قوم	چی ظلم ئی کړی ؤ

پس ناڅاپه په دی وخت کښی دوی نا امیده سی. نو پری کړی سو بیخ د قوم هغه (قوم) چی ظلم ئی کړی ؤ

وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۴۵﴾ قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ اِنۡ

وَالۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ	رَبِّ	الۡعٰلَمِیۡنَ	قُلۡ	اَرَءَیۡتُمۡ	اِنۡ
او ټولی ثناوی صفتونه	خاص الله لره دی	چی پالونکی	د ټولو عالمیانو دی	ووایه (ای محمده!)	خبر راکړئ ماته	که

او ټولی ثناوی او صفتونه خاص الله لره دی چی پالونکی د ټولو عالمیانو دی. ووایه (ای محمده!) خبر راکړئ ماته که

اَخَذَ اللّٰهُ سَمۡعَکُمۡ وَاَبۡصَارَکُمۡ وَخَتَمَ عَلٰی قُلُوۡبِکُمۡ مَّنۡ

اَخَذَ	اللّٰهُ	سَمۡعَکُمۡ	وَاَبۡصَارَکُمۡ	وَخَتَمَ	عَلٰی	قُلُوۡبِکُمۡ	مَّنۡ
واخلی	الله	قوت داوریدلو ستاسی	او لیدلو ستاسی	او مهر ولګوی الله	پر	زړونو ستاسی	(نو بل) کوم

واخلی الله (قوت د) اوریدلو ستاسی او (قوت د) لیدلو ستاسی او مهر ولګوی الله پر زړونو ستاسی (نو بل) کوم

اِلٰهٌ غَیۡرُ اللّٰهِ یَاۡتِیۡکُمۡ بِهٖ ؕ اُنۡظُرۡ کَیۡفَ نُصَرِّفُ

اِلٰهٌ	غَیۡرُ	اللّٰهِ	یَاۡتِیۡکُمۡ	بِهٖ	اُنۡظُرۡ	کَیۡفَ	نُصَرِّفُ
معبود دی	بی له	الله څخه	چی بیرته تاسی ته راوړی	هغه	وګوره	چی څرنګه موږ	راز راز بیانوو

معبود دی بی له الله څخه چی بیرته راوړی (درکړی) تاسی ته هغه. وګوره (محمده) چی څرنګه موږ راز راز بیانوو

الۡاٰیٰتِ ثُمَّ هُمۡ یَصۡدِفُوۡنَ ﴿۴۶﴾ قُلۡ اَرَءَیۡتَکُمۡ اِنۡ اَتٰىکُمۡ عَذَابُ

الۡاٰیٰتِ	ثُمَّ	هُمۡ	یَصۡدِفُوۡنَ	قُلۡ	اَرَءَیۡتَکُمۡ	اِنۡ	اَتٰىکُمۡ	عَذَابُ
نښی	بیا	دوی	ګرځی	ووایه (ای محمده!)	خبر راکړئ ماته	که	راسی تاسی ته	عذاب

دلائل بیا (هم) دوی (تری) څنګ کوی. ووایه (ای محمده!) خبر راکړئ ماته که راسی تاسی ته عذاب

حَتّٰۤی اِذَا فَرِحُوۡا بِمَاۤ اُوۡتُوۡۤا اَخَذۡنٰهُمۡ.. دحضرت عبادة بن صامت رضی الله عنهما څخه روایت دی: چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي کله چي الله جل جلاله دیو قوم پريښسوول او زیاتول وغواړي نو دوه صفتونه په دوی کښي راپیدا کړي یو په هر کار کي اعتدال او میانه روي. دوهم حیا او پاک دامني. یعني دخلاف حق شیانو داستعمال څخه ځان ساتی او کله چي الله جل جلاله دیو قوم هلاکول اوبربادول وغواړي نو پردوی باندي دخیانت دروازې را خلاصي کړي یعني دوی دخپلو خیانتونو اوبدعملونو وباوجود په دنیا کي کامیاب په نظر راځي: او په بل حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي کله تاسو دا ووینی چي پرچاباندي دنعمت اودولت باران دی اوحال داوي چي دی په خپلو ګناهونو او نافرمانیو کي بوخت وي نو پوه سه چي دده سره استدراج کیږي (یعني الله جل جلاله دګناه په کولو کي وخت ورکوي او بیا یه بیرته راتینګوي اودده داعیش اوعشرت دده په سخت عذاب کي دنیولو یوه نښانه ده رواه ابن کثیر رحمة الله علیه.

(معارف القرآن ج۳ پ ۷ ص ۱۱۱)

www.jamairahmani.org

اللّٰهِ بَغۡتَةً اَوۡ جَهۡرَةً هَلۡ يُهۡلَكُ اِلَّا الۡقَوۡمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿٤٧﴾

اللّٰهِ	بَغۡتَةً	اَوۡ جَهۡرَةً	هَلۡ	يُهۡلَكُ	اِلَّا	الۡقَوۡمُ	الظّٰلِمُوۡنَ
د الله	ناڅاپه	يا ښکاره	آيا	هلاک به کړی سی په دغه عذاب سره بل څوک	مګر	قوم	ظالمان

د الله ناڅاپه (دشپې) يا ښکاره (دورځې) آيا هلاک به کړی سی په دغه عذاب سره بل څوک؟ مګر قوم ظالمان.

وَمَا نُرۡسِلُ الۡمُرۡسَلِيۡنَ اِلَّا مُبَشِّرِيۡنَ وَمُنۡذِرِيۡنَ‌ۚ فَمَنۡ

وَمَا	نُرۡسِلُ	الۡمُرۡسَلِيۡنَ	اِلَّا	مُبَشِّرِيۡنَ	وَمُنۡذِرِيۡنَ	فَمَنۡ
او نه	ليږو موږ	رسولان	مګر	زيری کوونکی	او ويروونکی	پس هر چا چې

او نه ليږو موږ رسولان مګر زيری کوونکی (مؤمنانو ته په نعيم سره) او ويروونکی (کفارو ته په جحيم سره) پس هر چا چې

اٰمَنَ وَاَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿٤٨﴾

اٰمَنَ	وَاَصۡلَحَ	فَلَا	خَوۡفٌ	عَلَيۡهِمۡ	وَلَا	هُمۡ	يَحۡزَنُوۡنَ
ايمان راوړ	او اصلاح ئې کړ عمل خپل	نو نسته	هيڅ ويره	په دوی باندی	او نه	به دوی	خپه کيږی

ايمان راوړ او اصلاح ئې کړ نو نسته (هيڅ قسم) ويره په دوی باندی او نه به دوی (هيڅکله) خپه کيږی.

وَالَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الۡعَذَابُ بِمَا كَانُوۡا

وَالَّذِيۡنَ	كَذَّبُوۡا	بِاٰيٰتِنَا	يَمَسُّهُمُ	الۡعَذَابُ	بِمَا	كَانُوۡا
او هغه کسان	چې نسبت د دروغو کوی دوی	آيتونو زموږ ته	وبه رسيږی دوی ته	عذاب	په سبب د هغه	چې وو دوی

او هغه کسان چې نسبت د دروغو کوی دوی آيتونو زموږ ته وبه رسيږی دوی ته عذاب په سبب د هغه چې وو دوی

يَفۡسُقُوۡنَ ﴿٤٩﴾ قُلۡ لَّاۤ اَقُوۡلُ لَكُمۡ عِنۡدِىۡ خَزَآئِنُ اللّٰهِ

يَفۡسُقُوۡنَ	قُلۡ	لَّاۤ اَقُوۡلُ	لَكُمۡ	عِنۡدِىۡ	خَزَآئِنُ	اللّٰهِ
چې فسق به ئې کاوه	ووايه	چې نه وايم زه	تاسی ته	چې زما سره	خزانې	د الله دی

چې فسق به ئې کاوه. ووايه (ای محمده!) چې نه وايم زه تاسی ته چې زما سره خزانې د الله دی (چې درکړم تاسی ته هر څه)

وَلَاۤ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ وَلَاۤ اَقُوۡلُ لَكُمۡ اِنِّىۡ مَلَكٌ‌ۚ اِنۡ اَتَّبِعُ

وَلَاۤ اَعۡلَمُ	الۡغَيۡبَ	وَلَاۤ اَقُوۡلُ	لَكُمۡ	اِنِّىۡ	مَلَكٌ	اِنۡ اَتَّبِعُ
او نه پوهيږم	په غيب باندی	او نه وايم	تاسی ته	چې په تحقيق زه	پرښته يم	نه کوم پيروی

او نه (وايم چې زه) پوهيږم په غيب باندی او نه وايم تاسی ته چې په تحقيق زه پرښته يم نه کوم پيروی (دهيڅ شی)

قُلۡ لَّاۤ اَقُوۡلُ لَكُمۡ عِنۡدِىۡ خَزَآئِنُ.. دعربو دکفارو دطرف څخه دفرمايشي معجزو معاندانه مطالبه:

دمکې دکفارو په مخکې دنبي کريم ﷺ بې شميره معجزې او دالله ﷻ واضح دليلونه ښکاره سوي وه دنبي کريم ﷺ په حالت ديتيمی کې دنياته تشريف راوړل دليکلو ويلو څخه بالکل بوازې پاته کيدل په داسې مځکه کې پيدا کيدل دکمې چې شا او خواته چې هم نه څوک عالم وو او نه علمي مرکز دعمر شريف څلويښت کلونه يې دغه ډول محض دامې والې په حالت کې دټولې مکې والاوو په مخکې تيريدل بيا ترڅلويښتو کالو وروسته ناڅاپه ددوی په ژبه مبارکه دداسې عقل حيرانوونکي حکيمانه کلام جاري کيدل دکم فصاحت او بلاغت چې دعربو ټولو بليغانو ته چيلنج ورکې دهميشه دپاره يې ددوی پرخلو باندې مهر ولګوی دکم چې معناوی دحکمت څخه ډکې دی او ترقيامته پورې دانساني ضرورتونو خيال په کښې ساتل سوی دی ددې سره سره يې دکامل انسان دژوند يو داسې عملې نظام پيش کی د کم څخه چې دانسان عقل او دماغ عاجزه دی.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۱۱۴)

www.jamairahmani.org

ع٥

اِلَّا مَا یُوْحٰۤی اِلَیَّ ؕ قُلْ هَلْ یَسْتَوِی الْاَعْمٰی وَالْبَصِیْرُ ؕ

اِلَّا	مَا	یُوْحٰۤی	اِلَیَّ	قُلْ	هَلْ	یَسْتَوِی	الْاَعْمٰی	وَالْبَصِیْرُ
مګر	دهغه شی	چې وحی کړی سوی ده	ماته	ووایه	آیا	برابر کیدی سی	ړوند	او لیدونکی

مګر دهغه شی چې وحی کړی سوی ده ماته (دهغه) ووایه (ای محمده) آیا برابر کیدی سی ړوند او لیدونکی؟

اَفَلَا تَتَفَکَّرُوْنَ ۟ وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِیْنَ یَخَافُوْنَ اَنْ

اَفَلَا تَتَفَکَّرُوْنَ	وَاَنْذِرْ	بِهِ	الَّذِیْنَ	یَخَافُوْنَ	اَنْ
آیا نو فکر نه کوئ تاسی	او ویروه	په دی وحی سره	هغه کسان	چې ویریږی دوی له دی	چې

آیا نو فکر (غور) نه کوئ تاسی. او ویروه (ای محمده!) په دی وحی سره هغه کسان چې ویریږی دوی له دی چې

یُّحْشَرُوْۤا اِلٰی رَبِّهِمْ لَیْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِیٌّ

یُّحْشَرُوْۤا	اِلٰی رَبِّهِمْ	لَیْسَ	لَهُمْ	مِّنْ دُوْنِهٖ	وَلِیٌّ
تول به کړل سی دوی	رب خپل ته	په داسی حال چې نه وی	دوی ته	بی له دغه (الله)	هیڅ ولی دوست

تول به کړل سی دوی رب خپل ته په داسی حال چې نه وی دوی ته بی له دغه (الله) هیڅ ولی دوست

وَّلَا شَفِیْعٌ لَّعَلَّهُمْ یَتَّقُوْنَ ۟ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ

وَّلَا شَفِیْعٌ	لَّعَلَّهُمْ	یَتَّقُوْنَ	وَلَا تَطْرُدِ	الَّذِیْنَ	یَدْعُوْنَ
او نه شفاعت کوونکی	دپاره د دی چې دوی	وساتی ځانونه	او مه شړه	هغه کسان چې	بولی دوی

او نه شفاعت کوونکی دپاره د دی چې دوی وساتی ځانونه. او مه شړه هغه کسان چې بولی دوی (عبادت کوی د)

رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ مَا عَلَیْكَ

رَبَّهُمْ	بِالْغَدٰوةِ	وَالْعَشِیِّ	یُرِیْدُوْنَ	وَجْهَهٗ	مَا	عَلَیْكَ
رب خپل	په اول د ورځی	او په آخر د ورځی کښی	چې غواړی دوی په دی عبادت سره	رضاء د ذات د الله	نسته	په تا

رب خپل په اول د ورځی او په آخر د ورځی کښی چې غواړی دوی په دی عبادت سره رضاء د ذات د الله، نسته په تا

مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَیْهِمْ مِّنْ

مِنْ	حِسَابِهِمْ	مِّنْ	شَیْءٍ	وَّمَا	مِنْ	حِسَابِكَ	عَلَیْهِمْ	مِّنْ
له	حسابه د دوی	هیڅ	شی	او نه	له	حسابه ستا	په دوی	هیڅ

له حسابه (داعمالو) د دوی هیڅ شی او نه له حسابه (دعمل) ستا په دوی هیڅ

وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِیْنَ یَخَافُوْنَ اَنْ یُّحْشَرُوْا.... په دغه ایت کي نبي کریم ﷺ ته داهدایت دالله جل جلاله دطرفه ورکول سوی دی: چي ددي واضحو دلیلونو اوښکاره بیانونو څخه وروسته هم که داخلګ دخپل ضد څخه راونه ګرځي نوددوی سره بحث او مباحثه پریږده او کم چي اصلي کار دی درسالت یعني تبلیغ په دې کښي مشغول سه اودتبلیغ اوبیرولو مخ دهغه خلګو طرف ته راوګرځوه کم چي په قیامت کي دالله جل جلاله په مخکي دپیش کیدو او حساب اوکتاب عقیده لري لکه مسلمانان یا لږ تر لږه چي ددې څخه منکر نه دي په طور داحتمال خو لږ تر لږه داخطره ورسره سته چي شاید زموږ دعملونو زموږ څخه حساب واخیستل سي: لنډه داچي دقیامت متعلق درې قسمه خلګ دي اول: هغه چي په یقیني طور یي عقیده لري دوهم: هغه چي په تردد کي دي دریم: هغه چي بالکل منکره دي او دتبلیغ اوبیرولو حکم انبیاوو علیهم السلام ته که څه هم ددې درې واړو طبقو دپاره عام دی لیکن په اولي فرقي کي یي داثر دقبلولو زیات امیدوو ځکه یي هغه خاص ذکر کړه.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ١١٨)

www.jamairahmani.org

شَيۡءٍ فَتَطۡرُدَهُمۡ فَتَكُونَ مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۵۲﴾ وَ كَذٰلِكَ فَتَنَّا

شَيۡءٍ	فَتَطۡرُدَهُمۡ	فَتَكُوۡنَ	مِنَ	الظّٰلِمِيۡنَ	وَ كَذٰلِكَ	فَتَنَّا
شي	نو چي وشړې ته دوی	پس سې به ته	له	ظالمانو څخه	او هم دارنګه	ازمويلي دی موږ

شي نو چي وشړې ته دوی پس سې به ته له ظالمانو څخه. او هم دارنګه ازمويلي دی موږ

بَعۡضَهُمۡ بِبَعۡضٍ لِّيَقُوۡلُوۡۤا اَهٰۤؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ

بَعۡضَهُمۡ	بِبَعۡضٍ	لِّيَقُوۡلُوۡۤا	اَهٰۤؤُلَآءِ	مَنَّ	اللّٰهُ	عَلَيۡهِمۡ
ځينې د دی امت	په ځينو	له پاره د دی چي ووائی	آيا هم دا	فضل کړی دی	الله	پر دوی

ځينې (غنيان) د دی امت په ځينو (نورو فقيرانو) له پاره د دی چي ووائی آيا هم دا (خواران) فضل کړی دی الله پر دوی

مِّنۡۢ بَيۡنِنَا ؕ اَلَيۡسَ اللّٰهُ بِاَعۡلَمَ بِالشّٰكِرِيۡنَ ﴿۵۳﴾ وَاِذَا

مِّنۡۢ بَيۡنِنَا	اَلَيۡسَ	اللّٰهُ	بِاَعۡلَمَ	بِالشّٰكِرِيۡنَ	وَاِذَا
په مينځ زموږ کښې	آيا نه دی	الله	ښه عالم	په شکر کوونکو	او کله چي

په مينځ زموږ کښې (په هدايت سره) آيا نه دی الله ښه عالم په شکر کوونکو. او کله چي

جَآءَكَ الَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلۡ سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ

جَآءَكَ	الَّذِيۡنَ	يُؤۡمِنُوۡنَ	بِاٰيٰتِنَا	فَقُلۡ	سَلٰمٌ	عَلَيۡكُمۡ
راسی تاته	هغه کسان	چي تصديق کوونکی دی	په آيتونو زموږ	نو ووايه	سلام دی	پر تاسی

راسی تاته (محمده!) هغه کسان چي تصديق کوونکی دی په آيتونو زموږ نو ووايه (محمده دوی ته) سلام دی پر تاسی

كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنۡ عَمِلَ مِنۡكُمۡ

كَتَبَ	رَبُّكُمۡ	عَلٰى	نَفۡسِهِ	الرَّحۡمَةَ	اَنَّهٗ	مَنۡ	عَمِلَ	مِنۡكُمۡ
ليکلی دی	رب ستاسی	پر	ځان خپل	رحمت	بيشکه! شان دا دی	هر څوک چي	وکړی	له تاسی ځنی

ليکلی (لازم کړی) دی رب ستاسی پر ځان خپل رحمت بيشکه! شان دا دی هر څوک چي وکړی له تاسی ځنی

سُوۡٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنۡۢ بَعۡدِهٖ وَاَصۡلَحَ ۙ فَاَنَّهٗ غَفُوۡرٌ

سُوۡٓءًۢا	بِجَهَالَةٍ	ثُمَّ	تَابَ	مِنۡۢ بَعۡدِهٖ	وَاَصۡلَحَ	فَاَنَّهٗ	غَفُوۡرٌ
بدی	په ناپوهی سره	بيا	توبه وکړی	پس له هغی	او اصلاح ئی کړی عمل خپل	نو بيشکه! الله	ښه بخښونکی

بدی په ناپوهی سره بيا توبه وکړی پس له (کولو د) هغی (بدی) او اصلاح وکړی نو بيشکه! الله ښه بخښونکی

فَتَطۡرُدَهُمۡ فَتَكُوۡنَ مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ

د تکبر او جاهليت ليري کول او د عزت او ذلت اسلامي معيار په اسلام کي دامير او غريب هيڅ امتياز او فرق نسته:

کمو خلګو چي دد ې سره چي انسان دی او انسانيت يي ونه پيژندی بلکي انسان يي دد نيا په مختلفو حيوانانو کي يو هوښيار حيوان وګڼی کم چي نور حيوانان خپل تابع او تر خپل حکم لاندي راوستل خپل خدمت يي ورڅخه واخيستی د دوی په نزد دانسان د پيدايش منشاء دد ې څخه ماسواه نسي کيدای چي دی د يو حيوان په شان، خوړل، چيښل، او بيده کيدل، وينسيدل او نور د حيواناتو جذبات استعمالول د خپل ژوند مقصد وګڼی او کله چي دژوند مقصد يوازي داوي نو داهم ښکاره خبره ده چي په د ې دنيا کي دښه او بد لوی او کوچني، عزت اوبې عزتی، شرافت او ذلت، پيژندو معيار هم داکيدای سي چي دچا سره دخوراک او چيښاک اخيستو استعمالولو سامان زيات وي هغه کامياب عزتمند او شريف دی او دچا سره چي داکم وي هغه بې عزته ذليل او نامراده وي: حالانکي بې بنياده ده داخبره.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۱۲۱)

www.jamairahmani.org

رَّحِيۡمٌ ﴿۵۴﴾ وَ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الۡاٰيٰتِ وَلِتَسۡتَبِيۡنَ سَبِيۡلُ

رَّحِيۡمٌ	وَ كَذٰلِكَ	نُفَصِّلُ	الۡاٰيٰتِ	وَلِتَسۡتَبِيۡنَ	سَبِيۡلُ
ډیر مهربان دی	او همداسی	په تفصیل سره بیانوو	آیتونه	او د پاره د دی چی ښکاره سی	لاره

ډیر مهربان دی. او همداسی په تفصیل سره بیانوو آیتونه او د پاره د دی چی ښکاره سی (حق او ظاهر سی) لاره

الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۵۵﴾ قُلۡ اِنِّىۡ نُهِيۡتُ اَنۡ اَعۡبُدَ الَّذِيۡنَ

الۡمُجۡرِمِيۡنَ	قُلۡ	اِنِّىۡ	نُهِيۡتُ	اَنۡ	اَعۡبُدَ	الَّذِيۡنَ
دګناه کارانو	ووایه	چی بیشکه! زه	منع کړی سوی یم	له دی نه	چی عبادت وکړم	دهغو شیانو

دګناه کارانو. ووایه (ای محمده!) چی بیشکه! زه منع کړی سوی یم له دی نه چی عبادت وکړم دهغو شیانو

تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ‌ؕ قُلۡ لَّاۤ اَتَّبِعُ اَهۡوَآءَكُمۡ‌ۙ قَدۡ

تَدۡعُوۡنَ	مِنۡ	دُوۡنِ	اللّٰهِ	قُلۡ	لَّاۤ اَتَّبِعُ	اَهۡوَآءَكُمۡ	قَدۡ
چی عبادت کوئ تاسی	چی	غیر دی	له الله	ووایه	چی متابعت نه کوم زه	دخواهشونو ستاسی	په تحقیق به

چی عبادت کوئ تاسی، چی غیر دی له الله، ووایه (محمده) چی متابعت نه کوم زه دخواهشونو ستاسی په تحقیق به

ضَلَلۡتُ اِذًا وَّمَاۤ اَنَا مِنَ الۡمُهۡتَدِيۡنَ ﴿۵۶﴾ قُلۡ اِنِّىۡ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنۡ

ضَلَلۡتُ	اِذًا	وَّمَاۤ	اَنَا	مِنَ	الۡمُهۡتَدِيۡنَ	قُلۡ	اِنِّىۡ	عَلٰى	بَيِّنَةٍ	مِّنۡ
ګمراه سم زه	په دغه وخت کښی	او نه به یم	زه	له	لاری پیدا کوونکو څخه	ووایه	بیشکه! زه	پر	ښکاره دلیل یم	له

ګمراه سم زه په دغه وخت کښی او نه به یم زه له لاری موندونکو څخه. ووایه (محمده) بیشکه زه په ښکاره دلیل یم له

رَّبِّىۡ وَكَذَّبۡتُمۡ بِهٖ‌ؕ مَا عِنۡدِىۡ مَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ بِهٖ‌ؕ اِنِ الۡحُكۡمُ

رَّبِّىۡ	وَكَذَّبۡتُمۡ	بِهٖ	مَا	عِنۡدِىۡ	مَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ	بِهٖ	اِنِ الۡحُكۡمُ
ربه خپله	او تاسی دروغ ګڼلی دی	هغه دلیل	نسته	زما سره	هغه چی غواړئ تاسی په تلوار سره	هغه	نه دی حکم

ربه خپله او تاسی دروغ ګڼلی دی هغه دلیل نسته زما سره هغه چی غواړئ تاسی په تلوار سره هغه نه دی حکم

اِلَّا لِلّٰهِ‌ؕ يَقُصُّ الۡحَـقَّ وَهُوَ خَيۡرُ الۡفٰصِلِيۡنَ ﴿۵۷﴾ قُلۡ لَّوۡ اَنَّ

اِلَّا	لِلّٰهِ	يَقُصُّ	الۡحَـقَّ	وَهُوَ	خَيۡرُ	الۡفٰصِلِيۡنَ	قُلۡ	لَّوۡ اَنَّ
مګر	خاص الله ته دی	بیانوی	حق	او دی	خیر	دفیصله کوونکو دی	ووایه	که په تحقیق وی

مګر (خاص) الله ته دی بیانوی حقه (خبره) او دی خیر (بهتر) د فیصله کوونکو دی. ووایه (محمده) که په تحقیق وی

ع ٦ ۵ ۱۲

قُلۡ اِنِّىۡ نُهِيۡتُ اَنۡ اَعۡبُدَ الَّذِيۡنَ.. **لنډ تفسير:** دلته بیا خطاب نبي کریم ﷺ ته دی چي ای زمانبي ته دې عنادګرو کفاروته ووایه چي ماته دالله ﷻ دطرفه څخه داامر سوی چي زه عبادت ونه کړم دهغو بتانو او معبودانو دکمو چي تاسي عبادت کوی چي دالله ﷻ یووالی مو پرې ایښی دی اوددوی دګمراهی دطریقې دښکاره کولو دپاره ووایه چي زه ستاسي دباطلو خیالاتو تابعداري هم نه کوم څکه چي که نعوذبالله زه داسي وکړم نو په دغه حالت کي به بې لاري سم او په نیکه لار تلونکو کي به نه سم او ته دوی ته داهم ووایه چي زما سره خوپر دې دین اسلام دحقوالي یو دلیل کافي موجود دی چي زما درب دطرف څخه ماته راکول سوی دی یعني قرآن مجید چي زما معجزه ده زما رښتینوالی په کښي کیږي او تاسي بې وجې دادرواغ کوی او تاسي دا وایاست چي که دادین اسلام حق وي نو پرموږ دې دآسمانه څخه کاڼي راووریږي یادي بل څه سخت عذاب را ته راسي حالانکي داسي غوښتني ستاسي دحماقت او بېعقلی علامه ده چي په خپل لاس هلاکت غواړی.
(معارف القرآن ج۳ پ۷ ص۱۳۱)

www.jamairahmani.org

عِنۡدِیۡ مَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ بِهٖ لَقُضِیَ الۡاَمۡرُ بَیۡنِیۡ وَبَیۡنَكُمۡ ؕ

عِنۡدِیۡ	مَا	تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ	بِهٖ	لَقُضِیَ	الۡاَمۡرُ	بَیۡنِیۡ	وَبَیۡنَكُمۡ
زما سره	هغه شی	چی تاسی په تلوار سره غواړئ	هغه	خامخا فیصله سوی به وه	کار	په مینځ زما	او په مینځ ستاسی کښی

زما سره هغه شی چی تاسی په تلوار سره غواړئ هغه خامخا فیصله شوی به وه کار په مینځ زما او په مینځ ستاسی کښی

وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِالظّٰلِمِیۡنَ ۞ ٥٨ وَعِنۡدَهٗ مَفَاتِحُ الۡغَیۡبِ لَا یَعۡلَمُهَاۤ

وَ	اللّٰهُ	اَعۡلَمُ	بِالظّٰلِمِیۡنَ	وَعِنۡدَهٗ	مَفَاتِحُ	الۡغَیۡبِ	لَا یَعۡلَمُهَاۤ
او	الله	ښه عالم دی	په ظالمانو	او خاص هم د هغه الله سره دی	کلی ګانی دخزانی	دغیبو	نه پوهیږی په هغو

او الله ښه عالم دی په ظالمانو. او خاص هم د هغه الله سره دی کلی ګانی (کنجیانی) د خزانی دغیب چی نه پوهیږی په هغو

اِلَّا هُوَ ؕ وَیَعۡلَمُ مَا فِی الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ ؕ وَمَا تَسۡقُطُ

اِلَّا	هُوَ	وَیَعۡلَمُ	مَا فِی	الۡبَرِّ	وَالۡبَحۡرِ	وَمَا تَسۡقُطُ
مګر	هم دی	او پوهیږی الله	په هغه	چی په وچه کښی	او په دریاب کښی دی	او نه لویږی

مګر هم دی او پوهیږی الله په هغه چی په وچه کښی او په دریاب کښی دی او نه لویږی

مِنۡ وَّرَقَةٍ اِلَّا یَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِیۡ ظُلُمٰتِ الۡاَرۡضِ وَلَا رَطۡبٍ

مِنۡ	وَّرَقَةٍ	اِلَّا	یَعۡلَمُهَا	وَلَا حَبَّةٍ	فِیۡ	ظُلُمٰتِ	الۡاَرۡضِ	وَلَا رَطۡبٍ
هیڅ	یو پاڼه	مګر	چی عالم دی په هغه الله	او نه دانه	په	تیارو	دمځکی کښی	او نه دی هیڅ لوند

هیڅ یوه پاڼه (له ونی) مګر چی عالم دی په هغه الله او نه دانه په تیارو د مځکی کښی او نه دی هیڅ لوند

وَّلَا یَابِسٍ اِلَّا فِیۡ كِتٰبٍ مُّبِیۡنٍ ۞ ٥٩ وَهُوَ الَّذِیۡ

وَّلَا یَابِسٍ	اِلَّا	فِیۡ	كِتٰبٍ	مُّبِیۡنٍ	وَهُوَ	الَّذِیۡ
او نه هیڅ وچ	مګر	په	کتاب	مبین کښی	او الله	هغه (لوی ذات) دی

او نه هیڅ وچ مګر په کتاب مبین (لوح محفوظ) کښی. او الله هغه (لوی ذات) دی

یَتَوَفّٰىكُمۡ بِالَّیۡلِ وَیَعۡلَمُ مَا جَرَحۡتُمۡ بِالنَّهَارِ ثُمَّ

یَتَوَفّٰىكُمۡ	بِالَّیۡلِ	وَیَعۡلَمُ	مَا	جَرَحۡتُمۡ	بِالنَّهَارِ	ثُمَّ
چی وفاتوی تاسی	په شپه کښی	او پوهیږی	په هر هغه	چی کسب کړی وی تاسی	په ورځی کښی	بیا

چی وفاتوی تاسی په شپه کښی او پوهیږی په هر هغه څه چی کسب کړی وی تاسی په ورځی کښی بیا

وَعِنۡدَهٗ مَفَاتِحُ الۡغَیۡبِ لَا یَعۡلَمُهَاۤ اِلَّا هُوَ ؕ دقران په اصطلاح کي علم غیب اوعام قدرت مطلقه یوازي دالله جل جلاله خاص صفت کیدای سي هیڅ مخلوق په دې کي دالله جل جلاله سره شریک نسته : دلفظ غیب څخه مراد هغه شیان دي چي لاتراوسه په وجود کي نه وي راغلي یا خوراغلي وي خو الله جل جلاله وربandي ځوک خبر کړی نه وي (تفسیر مظهري) داول قسم مثال هغه ټول حالات اوواقعات دي چي دقیامت سره تعلق لري یا په کایناتو کي په راتلونکي وخت کي مخ ته دراتلونکو واقعاتو سره تعلق لري مثلا چي ځوک به څه به څه وخت او په کم ځای کي پیداسي څه څه کارونه به کوي په خپل عمر کي به کم ځای مري او کم ځای به ښځیږي رزق به چاته او څومره او څه وخت حاصلیږي باران به څه وخت کم ځای اوڅومره کیږي : اوددوهم قسم مثال هغه حمل دی چي دکمي ښځي په رحم کي یي وجود نیولی دی مګردانه ده معلومه چي هلک دی که انجلی ښایسته دی اوکه بدرنګه دغه ډول نور داسي شیان چي په وجودکي راغلي وي لیکن دخلګو دنظر څخه غایب وي. (معارف القرآن ج۳ پ۷ص۱۳۴)

www.jamairahmani.org

يَبۡعَثُكُمۡ فِيۡهِ لِيُقۡضٰٓى اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ

يَبۡعَثُكُمۡ	فِيۡهِ	لِيُقۡضٰٓى	اَجَلٌ	مُّسَمًّى	ثُمَّ	اِلَيۡهِ	مَرۡجِعُكُمۡ
راپورته کوی تاسی	په دغه کښې	چې پوره کړی سی	اجل	مقرره سوی	بیا	خاص هم دده ته	بیرته ورتلل ستاسی دی

پاڅوی تاسی (له خوبه) په دغه (ورځ) کښې چې پوره کړی سی اجل مقرره سوی، بیا خاص هم دده ته بیرته ورتلل ستاسی دی

ثُمَّ يُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۞ وَهُوَ الۡقَاهِرُ فَوۡقَ

ثُمَّ	يُنَبِّئُكُمۡ	بِمَا	كُنۡتُمۡ	تَعۡمَلُوۡنَ	وَهُوَ	الۡقَاهِرُ	فَوۡقَ
بیا	به خبر کړی تاسی	په هغه څه	چې وئ تاسی	چې کول به مو	او هم دی دی	غالب	دپاسه

بیا به خبر کړی (الله) تاسی په (جزاء) دهغه څه چې وئ تاسی چې کول به مو. او هم دی دی غالب د پاسه

عِبَادِهٖ وَيُرۡسِلُ عَلَيۡكُمۡ حَفَظَةً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ

عِبَادِهٖ	وَيُرۡسِلُ	عَلَيۡكُمۡ	حَفَظَةً	حَتّٰٓى	اِذَا	جَآءَ	اَحَدَكُمُ
په بندګانو خپلو	او لیږی	پر تاسی	ساتونکی	تر هغه پوری	کله چې	راسی	یو ستاسی ته

په بندګانو خپلو او لیږی پر تاسی ساتونکی (ملائیکی) تر هغه پوری کله چې راسی یو ستاسی ته

الۡمَوۡتُ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُوۡنَ ۞ ثُمَّ رُدُّوۡۤا

الۡمَوۡتُ	تَوَفَّتۡهُ	رُسُلُنَا	وَهُمۡ	لَا يُفَرِّطُوۡنَ	ثُمَّ	رُدُّوۡۤا
مرګ	قبضوی روح د ده	لیږلی سوی ملائیکی	او دوی	هیڅ کوتاهی نه کوی	بیا به	بیرته وروستل سی دوی

مرګ قبضوی روح د ده لیږلی سوی او دوی هیڅ تقصیر نه کوی (دامر پرځای کولو کښې). بیا به نه بیرته وروستل سی دوی

اِلَى اللّٰهِ مَوۡلٰٮهُمُ الۡحَـقِّ ؕ اَلَا لَهُ الۡحُكۡمُ وَهُوَ اَسۡرَعُ

اِلَى	اللّٰهِ	مَوۡلٰٮهُمُ	الۡحَـقِّ	اَلَا	لَهُ	الۡحُكۡمُ	وَهُوَ	اَسۡرَعُ
طرف	دالله ته	چې مولی د دوی دی	حق	خبردار سئ	خاص هم دده ته دی	حکم	او هم دی	دیر تیز دی

طرف د الله ته چې مولی (مالک) د دوی دی حق (عادل) واورئ! خبردار سئ! خاص هم دده ته دی حکم او هم دی ډیر تیز دی

الۡحٰسِبِيۡنَ ۞ قُلۡ مَنۡ يُّنَجِّيۡكُمۡ مِّنۡ ظُلُمٰتِ الۡبَرِّ

الۡحٰسِبِيۡنَ	قُلۡ	مَنۡ	يُّنَجِّيۡكُمۡ	مِّنۡ	ظُلُمٰتِ	الۡبَرِّ
له ټولو حسابګرو	وو ایه (محمده!)	څوک	به خلاص کړی تاسی	له	تیارو	دوچې

له ټولو حسابګرو. وو ایه (ای محمده!) څوک به خلاص کړی تاسی له تیارو د بر (وچې)

يَبۡعَثُكُمۡ فِيۡهِ لِيُقۡضٰٓى اَجَلٌ مُّسَمًّى... يعني الله ﷻ په هره شپه ستاسي روح په يو قسم سره قبضه كوي: او بيا سهار تاسى ژوندي راپورته كوي چي ستاسي مقرره عمر پوره كي او بيا ټوله ورځ چي تاسي څه كوى دغه ټول دهغه په علم كي دي داد الله ﷻ كامل قدرت دى چي دانسان دژوند او دمرګ او دمرګ څخه وروسته ددوباره ژوندي كيدو يوه نمونه هره ورځ دده په مخكي راولي. په حديث شريف كي يي دي خوب ته دمرګ ورور ويلى دى او دا حقيقت دى چي خوب دبنده قوتونه داسي بيكاره كوي لكه مرګ. په آيت كي الله ﷻ دخوب او دده څخه وروسته دبيدارى مثال پيش كړى دى انسان يي په دې خبر كړى دى چي لكه څنګه چي هره شپه او هر سهار يو سړى پر خپل ځان دمړ او دژوندي كيدو يو مثالويني دغه ډول ددې ټول عالم په جمع مرګ او بيا په جمع سره ژوندي كيدل وګڼه كم ته چي قيامت ويل كيږي كم ذات چي پر دې باندي قادر دى دهغه دكامل قدرت څخه دغه هم ليري نه ده چي پس له مرګه مړو راژوندي كړي (معارف القرآن ج٣ پ٧ ص١٤١)

٧ ع ٥ ١٣

www.jamairahmani.org

قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ... دا يت

مطلب دادی : چي الله ﷻ دمکي مشرکینو لره ددوی پرغلطو کارونو باندي دخبرورکولو او ددوی دخبردارکولو دپاره نبي کریم ﷺ ته حکم وکی چي دی ددغه خلګو شخه پوښتنه وکړي چي په وچه اودریابي سفرونوکي چي کله دوی په یومصیبت کي راګیر سي او دغه وخت تولہ بتان هیر کړي یوازي الله ﷻ رابولي کله په ډاګه دخپل عاجزی اعتراف کوي او کله په زړه زړه کي ددې اعتراف کوي چي ددې مصیبت شخه ماسواء دالله ﷻ شخه بل شوک خلاصون نسي راکولای اوددې خیال سره داوعده هم کوي چي که الله ﷻ موږ ددې مصیبت شخه خلاص کړو نو موږ به شکر او حق پیژندل اختیاره کړو یعني دالله ﷻ شکرګذاره به سو اودی به خپل کار سازه ګڼو او بل هیڅوک به دده سره نه شریکوو ځکه چي کله زموږ په مصیبت کي دوی موږ ته په کار رانغله نو بیا به ولي ددوی عبادت کوو نو اوس تاسي ددغه کفارو شخه پوښتنه وکړی الخ.

(معارف القرآن ج۳ پ۷ ص۱۴۳)

وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً لَئِنْ اَنْجٰنَا مِنْ هٰذِهٖ

وَالْبَحْرِ	تَدْعُوْنَهٗ	تَضَرُّعًا	وَّخُفْيَةً	لَئِنْ	اَنْجٰنَا	مِنْ	هٰذِهٖ
او د دریاب	دعاء کوئ تاسی د الله شخه	په ښکاره	او په پټه سره	که	خلاص کړی (الله) موږ	له	دی تیارو شخه

او د بحر (دریاب شخه) دعاء کوئ تاسی د الله نه په ښکاره او په پټه سره که خلاص کړی (الله) موږ له دی تیارو شخه

لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا

لَنَكُوْنَنَّ	مِنَ الشّٰكِرِيْنَ	قُلِ	اللّٰهُ	يُنَجِّيْكُمْ	مِّنْهَا
نو هرومرو سو به موږ خامخا	له شکر ایستونکو شخه	ووایه	چی الله	خلاصوی تاسی	له دی

نو هرومرو سو به موږ خامخا له شکر ایستونکو شخه. ووایه (ای محمده!) چی الله خلاصوی تاسی له دی

وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ

وَمِنْ	كُلِّ	كَرْبٍ	ثُمَّ	اَنْتُمْ	تُشْرِكُوْنَ	قُلْ	هُوَ	الْقَادِرُ
او له	هری	سختی شخه	بیا	هم تاسی	شریکوئ	ووایه	هم دغه (الله)	قادر دی

او له هری سختی شخه بیا هم (پس له دغه نجاته) تاسی شریکوئ نور دالله سره. ووایه (ای محمده!) هم دغه (الله) قادر دی

عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ

عَلٰٓى	اَنْ	يَّبْعَثَ	عَلَيْكُمْ	عَذَابًا	مِّنْ	فَوْقِكُمْ	اَوْ	مِنْ
په	دی	چی ولیږی	پر تاسی	عذاب	له	پاسه ستاسی	یا	له

په دی چی ولیږی په تاسی عذاب له پاسه ستاسی (لکه دلوط قوم او اصحاب فیل) یا له

تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ

تَحْتِ	اَرْجُلِكُمْ	اَوْ يَلْبِسَكُمْ	شِيَعًا	وَّيُذِيْقَ	بَعْضَكُمْ
لاندی	دپښو ستاسی	یا ګډ کړی تاسی	فرقی فرقی	او ورو څکوی (الله)	ځینو ستاسی ته

لاندی د پښو ستاسی (لکه فرعونیان او قارون) یا ګډ کړی تاسی فرقی فرقی او ورو څکوی (الله) ځینو ستاسی ته

بَاْسَ بَعْضٍ ۭ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ

بَاْسَ	بَعْضٍ	اُنْظُرْ	كَيْفَ	نُصَرِّفُ	الْاٰيٰتِ	لَعَلَّهُمْ
جنګ	دځینو	وګوره	څرنګه	رازراز بیانوو موږ	آیتونه (خپل)	له پاره د دی چی دوی

جنګ (او سختی) دځینو (نورو) وګوره (ای محمده) څرنګه راز راز بیانوو موږ آیتونه (خپل) له پاره د دی چی دوی

www.jamairahmani.org

يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۭ قُلْ لَّسْتُ

يَفْقَهُوْنَ	وَكَذَّبَ	بِهٖ	قَوْمُكَ	وَهُوَ	الْحَقُّ	قُلْ	لَّسْتُ
پوهسی	او دروغ وباله	دا قرآن	قوم ستا	حال داچې دغه	حق دی	ووایه	نه یم زه

پوهسی. او دروغ وباله دا قرآن (یا دغه عذاب) قوم ستا (یعنی قریشو) حال داچې دغه حق دی ووایه (محمده) نه یم زه

عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٧﴾

عَلَيْكُمْ	بِوَكِيْلٍ	لِكُلِّ نَبَاٍ	مُّسْتَقَرٌّ	وَّسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ
په تاسی	وکیل	هری خبری ته	یو وخت مقرر دی	او ژر به	وپوهیږئ تاسی

په تاسی وکیل (ساتونکی) هری خبری ته یو وخت مقرر دی او ژر به (پری) وپوهیږئ تاسی.

وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ

وَاِذَا	رَاَيْتَ	الَّذِيْنَ	يَخُوْضُوْنَ	فِيْٓ	اٰيٰتِنَا	فَاَعْرِضْ
او کله چې	ووینی ته	هغه کسان	چې جګړې کوی	په	آیتونو زموږ کښې	نو مخ واړوه

او کله چې ووینی ته هغه کسان چې جګړې کوی په آیتونو زموږ کښې نو مخ واړوه

عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ۭ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ

عَنْهُمْ	حَتّٰى	يَخُوْضُوْا	فِيْ	حَدِيْثٍ	غَيْرِهٖ	وَاِمَّا	يُنْسِيَنَّكَ
له دوی څخه	ترهغی پوری	چې مشغول سی دوی	په	خبرو	غیر له قرآن څخه	او که	هیر کړله تا څخه

له دوی څخه ترهغی پوری چې مشغول سی دوی په خبرو (نورو کښې) غیر له قرآن څخه او که هیر کړله تا څخه (دا اعراض)

الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ

الشَّيْطٰنُ	فَلَا تَقْعُدْ	بَعْدَ	الذِّكْرٰى	مَعَ	الْقَوْمِ
شیطان	نو مه کښینه	وروسته	له یادیدلو (د دی منعی)	سره	له قوم

شیطان نو مه کښینه وروسته له یادیدلو (د دی منعی) سره له قوم

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ

الظّٰلِمِيْنَ	وَمَا	عَلَى	الَّذِيْنَ	يَتَّقُوْنَ	مِنْ	حِسَابِهِمْ	مِّنْ
ظالمانو	او نسته	پر	هغو کسانو	چې پرهیزګاری کوی	له	حسابه د دغو څخه	هیڅ

ظالمانو. او نسته پر هغو کسانو چې پرهیزګاری کوی له حسابه د دغو څخه هیڅ

وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۭ دمسلمانانو بد عملي هم دالله ﷻ دعذاب سبب ګرځي: دمشکوة شریف حدیث دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله ﷻ فرمایي زه الله یم زما څخه ماسواه بل څوک لایق دعبادت نسته زه دټولو بادشاهانو مالک او بادشاه یم دټولو بادشاهانو زړونه زما په لاس کي دي کله چي زما بندګان زما فرمانبرداري کوي نو زه ددوی دحاکمانو او بادشاهانو په زړونو کي شفقت او رحمت ورواچوم او کله چي زما بندګان زما نافرماني کوي نو زه ددوی دحاکمانو په زړونو کي سختي راولم نو هغوی پر دوی هر قسم عذابونه راولي په دې وجه تاسي خپلو حاکمانو او امیرانو ته په بدو ردوویلو کي خپل وخت مه ضایع کوی دخپل عمل دبرابرولو په فکر کي سی چي ستاسي ټول کارونه برابر کړم دغه ډول په یوه بل حدیث شریف کي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي کله چي الله ﷻ دیوه حاکم او امیر خیر وغواړي نوده لره ښه وزیر او ښه نایب ورکي که ده امیر څخه هیریږي دی یې ورپه یادوي او کله چي امیر صحیح کار وکي هغه یې تایید کوي او چي دهغه بدي وغواړي نوناکاره وزیران دده ماتحتان کي.
(معارف القرآن ج٣ پ ٧ ص١٥٠)

www.jamairahmani.org

شَيْءٍ وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ الَّذِيْنَ

شَيْءٍ	وَّلٰكِنْ	ذِكْرٰى	لَعَلَّهُمْ	يَتَّقُوْنَ	وَذَرِ	الَّذِيْنَ
شی	وليکن	پند ورکول دی	دپاره د دی چي	ځان وساتی دوی	او پريږده ته	هغه کسان

شی (له ګناه) وليکن (دوی باندی) پند ورکول دی دپاره د دی چي ځان وساتی دوی. او پريږده ته هغه کسان

اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ

اتَّخَذُوْا	دِيْنَهُمْ	لَعِبًا	وَّلَهْوًا	وَّغَرَّتْهُمُ	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَا	وَذَكِّرْ
چي ګرځولی دی دوی	دين خپل	لوبی	او عبث	او غره کړی دی دوی لره	ژوند	دنيوی	او پند ورکوه ته

چي ګرځولی دی دوی دين خپل لوبی او عبث او غره کړی (غولولی) دی دوی لره حيات دنيوی او پند ورکوه ته

بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖ لَيْسَ لَهَا

بِهٖٓ	اَنْ تُبْسَلَ	نَفْسٌۢ	بِمَا	كَسَبَتْ	لَيْسَ	لَهَا
په دغه (قران سره)	څو (ونه) سپارل سی	هيڅ نفس	په سبب د هغه عمل	چي کړی ئی وی	حال دا چي نه وی	دغه نفس ته

په دغه (قرآن سره) څو (ونه) سپارل سی (هلاکت ته) هيڅ نفس په سبب د هغه عمل چي کړی ئی وی. حال دا چي نه وی دغه نفس

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ

مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	وَلِيٌّ	وَّلَا شَفِيْعٌ	وَاِنْ	تَعْدِلْ	كُلَّ	عَدْلٍ	لَّا يُؤْخَذْ
بی له	الله څخه	کومولی	او نه شفاعتګر	او که	فديه ورکړی	هر قسم	فديه	نو وابه نه خيستی سی

ته بی له الله څخه کومولی (دوست) او نه شفاعتګر او که فديه ورکړی (دا نفس) هر قسم فديه نو وابه نه خيستی شی

مِنْهَا ۭ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا بِمَا كَسَبُوْا ۚ

مِنْهَا	اُولٰۗىِٕكَ	الَّذِيْنَ	اُبْسِلُوْا	بِمَا	كَسَبُوْا
له ده څخه	دا (مذکورين)	هغه کسان دی	چي سپارلی سوی دی	په سبب د هغه کارونو	چي کړی دی دوی

له ده څخه دا (فديه) دا (مذکورين) هغه کسان دی چي سپارلی سوی دی (هلاکت ته) په سبب د هغو کارونو چي کړی دی دوی،

لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ ع

لَهُمْ	شَرَابٌ	مِّنْ	حَمِيْمٍ	وَّعَذَابٌ	اَلِيْمٌۢ	بِمَا	كَانُوْا	يَكْفُرُوْنَ
ستهدوی لره	څښنل	له	ډيرو ګرمو اوبو	او عذاب دی	دردناک	په سبب دد	چي وو دوی	چي کافران کيدل

ستهدوی لره څښنل له ډيرو ګرمو اوبو او عذاب دی دردناک په سبب د دی چي وو دوی چي کافران کيدل

ع ٨
١٤

وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا په دغه ايت کي لفظ د (ذر) د: وزر: څخه جوړ دی: چي ددې معنی ده ديوشي څخه ناراضه کيدل او پريښوول يي: دايت مبارکه معنی داده چي تاسي داسي خلګ پاته کي کمو چي خپل دين لهو اولعب جوړ کړی دی يعني مشغله اولوبه يه جوړه کړيده ددې دوې معناوي کيدای سي يوه داچي کم حق دين يعني اسلام دوی ته ليږل سوی دی دايي لهو اولعب جوړ کړی دی يعني ټوکي او مسخري ورپوري کوي: دوهمه داچي دوی اصلي دين پرې ايښی دی دخپل دين څخه يي لهو اولعب جوړکړی دی ددواړو معناوو مطلب تقريبا يو دی تردې وروسته ارشاد فرمايي (وغرّتهم الحيوة الدنيا) يعني دوی ددنيا دې څو ورځي ژوند په غرور او دوکه کي اچولي دي دايي ددوی دمرض اصلي سبب بيان کی چي ددوی دا ټوله سرکښي او نافرماني هم په دې سبب سره ده چي دوی ددنيا په دې څوورځي ژوندون باندي عاشقان دي او آخرت يي هير کړی دی که دآخرت او قيامت عقيده يي وای نو هيڅکله به يي دا حرکتونه نه وای کړي. (معارف القرآن ج٣ پ٧ ص١٦٤)

www.jamairahmani.org

قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا

قُلْ	اَنَدْعُوْا	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	مَا	لَا يَنْفَعُنَا	وَلَا يَضُرُّنَا
ووايه	آيا عبادت وکړو	غير له	الله څخه	هغه شی ته	چې نه نفع رسولی سی موږ ته	او نه تاوان رسولی سی موږ ته

ووايه (ای محمده!) آيا عبادت وکړو موږ غير له الله څخه هغه شی ته چې نه نفع رسولی سی موږ ته او نه تاوان رسولی سی موږ ته

وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ

وَنُرَدُّ	عَلٰٓى	اَعْقَابِنَا	بَعْدَ	اِذْ	هَدٰىنَا	اللّٰهُ
او بيرته وګرځولی سو موږ	په	پوندو خپلو (شرک) ته	وروسته	له هغه	چې سمه صافه لاره وښووله موږ ته	الله

او بيرته وګرځولی سو موږ په پوندو خپلو (شرک) ته وروسته له هغه چې سمه صافه لاره وښووله موږ ته الله

كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ فِى الْاَرْضِ حَيْرَانَ لَهٗٓ اَصْحٰبٌ

كَالَّذِى	اسْتَهْوَتْهُ	الشَّيٰطِيْنُ	فِى	الْاَرْضِ	حَيْرَانَ	لَهٗٓ	اَصْحٰبٌ
په شان د هغه سړي	چې بيولی وی دی	پيريانو	په	مځکه کښې	په داسی حال کښې چې حيران وی	ده لره	ملګری وی

په شان د هغه سړي چې بيولی وی دی پيريانو په مځکه کښې په داسی حال کښې چې حيران وی، ده لره ملګری وی

يَّدْعُوْنَهٗٓ اِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ

يَّدْعُوْنَهٗٓ	اِلَى	الْهُدَى	ائْتِنَا	قُلْ	اِنَّ	هُدَى	اللّٰهِ
بولی دوی دا سړي	په لوری	دسمی صافی لاری	چې راسه موږ ته	ووايه	چې بيشکه!	هدايت	دالله

بولی دوی دا سړي (له ډيره شفقته) په لوری دسمی صافی لاری چې راسه موږ ته. ووايه چې بيشکه! هدايت د الله

هُوَ الْهُدٰى ؕ وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَاَنْ

هُوَ	الْهُدٰى	وَاُمِرْنَا	لِنُسْلِمَ	لِرَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	وَاَنْ
هم دا دی	هدايت	او امر کړی سوی دی موږ ته	چې اسلام راوړو	رب	د تمامو مخلوقاتو ته	او بل په دی

هم دا دی هدايت (نه نور) او امر کړی سوی دی موږ ته چې اسلام راوړو رب (پالونکی) د تمامو عالميانو ته. او بل په دی

اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ؕ وَهُوَ الَّذِىْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٢﴾

اَقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ	وَاتَّقُوْهُ	وَهُوَ	الَّذِىْٓ	اِلَيْهِ	تُحْشَرُوْنَ
چې قائموئ تاسی	لمونځ	او ويريږئ تاسی له دغه څخه	او دغه (الله)	هغه ذات دی	چې ده ته به	ورټول کړل سئ تاسی

چې قائموئ تاسی لمونځ او ويريږئ تاسی له دغه څخه او دغه (الله) هغه ذات دی چې ده ته به ورټول کړل سئ تاسی

لَهٗٓ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗٓ اِلَى الْهُدَى مسلمان لره پکار دي چي د ناکاره ماحول او صحبت څخه ځان راوساتي: داخبره په تجربه سره ثابته ده چي بيکاره ماحول او صحبت دانسان دپاره تر زهرو هم بد تر دی دقرآن او حديث دبې شميره وضاحتونو څخه هم ددې څخه منع کول ثابت دي او داهم يقيني ده چي چي دانسان په ټولو جرمونو کي اخته کوونکي شيان دده ناکاره ملګري او ناکاره ماحول دی چي په دې کي دمبتلو څخه وروسته دانسان اول خو په خلاف طبع او دضمير څخه په خلاف قسم بدو کي اخته سي او بيا چي کله ورسره عادت سي نو پوهيږي وربانديي هم نه چي داګواکي زه بدکوم بلکي دی بيا بدی ته نيکي وايي او نيکی ته بدي وايي لکه چي په يوه حديث شريف کي دنبي دکريم ﷺ ارشاد مبارک دی چي کله يو سړی اول په ګناه کي اخته کيږي نو دده پر زړه يو تور تکی لګيږي داسي لکه پر سپينه جامه چي ولګيږي او هر سړی دا بده ګڼي او آخر چي کله ورسره عادي سي بيا يي پروا نه لري او نتيجه يي داسي چي زړه يي تک تور سي الخ.

(معارف القرآن ج۳ پ۷ ص۱۶۶)

الثلثة

www.jamairahmani.org

وَاِذْقَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ... تردغه مخکي اياتونو کي دبت پرستي دپريښوولو او دخدا پرستي ددعوت بيان وو:

په دغه اياتونو کي ددغه حق دعوت دتاييد بيان دی کم چي په طبعي طور سره دعربوزړونوته خوښيږي هغه داچي حضرت ابراهيم عليه السلام دټولو عربو مشر نيکه دی او په دې وجه په ټولو عربو کي دده تعظيم دهميشه څخه راغلی دی په دې اياتونو کي دحضرت ابراهيم عليه السلام دهغه مناظرې ذکر دی کمه چي ده دبت پرستی اونجوم پرستی خلاف دخپل قوم سره کړې وه او بيا يي ټولو ته دتوحيد سبق ورکی په اولني ايت کي دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلار آزر ته وويل چي تاسي په خپلو لاسو باندي جوړکړي بتان خپل معبودان جوړ کړيدي زه تا او ستا ټول قوم په ګمراهی کي وينم: مشهوره داده چي ازر دحضرت ابراهيم عليه السلام دپلار نوم دی او اکثره تاريخ ليکونکو دده نوم تارخ ښوولی دی او دا چي آزر دده لقب دی اوامام رازي رحمة الله عليه او ديوه جماعت عالمانو ويناه داده چي دحضرت ابراهيم عليه السلام دپلار نوم تارخ او داکا نوم يي آزر دی او اکا ته هم پلار ويل کيږي په عربي محاوروکي. (معارف القرآن ج٣ پ٧ ص١٧٠)

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۭ وَيَوْمَ يَقُوْلُ

وَهُوَ	الَّذِيْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	بِالْحَقِّ	وَيَوْمَ	يَقُوْلُ
او دغه (الله)	همغه ذات دی	چی پیدا کړی ئی دی	آسمانونه	او مځکه	په حقه سره	او هغه ورځ	چی وبه وائی

او دغه (الله) همغه ذات دی چی پیدا کړی ئی دی آسمانونه او مځکه په حقه سره او (یاده کړه) هغه ورځ چی وبه وائی

كُنْ فَيَكُوْنُ ڛ قَوْلُهُ الْحَقُّ ۭ وَلَهُ الْمُلْكُ

كُنْ	فَيَكُوْنُ	قَوْلُهُ	الْحَقُّ	وَلَهُ	الْمُلْكُ
چی موجود سه	نو موجود به سی	خبره د دغه (الله)	حقه ده	او خاص دغه (الله) لره دی	سلطنت

(الله هر شی ته) چی موجود شه! (پیدا سه!) نو موجود به سی خبره د دغه (الله) حقه ده او خاص دغه (الله) لره دی ملک

يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ ۭ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۭ وَهُوَ

يَوْمَ	يُنْفَخُ	فِي الصُّوْرِ	عٰلِمُ	الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ	وَهُوَ
په هغه ورځ کښی	چی پوکی وکړ سی	په صور کښی	عالم دی (الله)	په ټولو پټو	او ښکاره ؤ	او هم دی دی

په هغه ورځ کښی چی پوکی وکړ سی په صور (شپیلی) کښی عالم دی (الله) په ټولو پټو او ښکاره ؤ او هم دی دی

الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝٧٣ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا

الْحَكِيْمُ	الْخَبِيْرُ	وَاِذْ	قَالَ	اِبْرٰهِيْمُ	لِاَبِيْهِ	اٰزَرَ	اَتَتَّخِذُ	اَصْنَامًا
ښه حکمت والا	خبردار	او هغه وخت	چی وویل	ابراهیم	پلار خپل ته	آزر ته	آیا نیسی ته	بتان

ښه حکمت والا خبردار. او (یاد کړه) هغه وخت چی وویل ابراهیم پلار خپل آزر ته آیا نیسی ته بتان

اٰلِهَةً ۚ اِنِّىْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝٧٤ وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ

اٰلِهَةً	اِنِّىْٓ	اَرٰىكَ	وَقَوْمَكَ	فِيْ	ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ	وَكَذٰلِكَ	نُرِيْٓ
په خدائی سره	بیشکه!	چی زه وینم تا	او قوم ستا	په	ګمراهی	ښکاره کښی	او هم دارنګه	ښیو موږ

په خدائی سره ، بیشکه! چی زه وینم تا او قوم ستا په ګمراهی ښکاره کښی. او هم دا رنګه ښیو موږ

اِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ

اِبْرٰهِيْمَ	مَلَكُوْتَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَلِيَكُوْنَ	مِنَ
ابراهیم ته	عجائبات	دآسمانونو	او د مځکی	او لپاره د دی چی سی	له

ابراهیم ته عجائبات د آسمانونو او د مځکی او له پاره د دی چی سی له

www.jamairahmani.org

الْمُوْقِنِيْنَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ

الْمُوْقِنِيْنَ	فَلَمَّا	جَنَّ	عَلَيْهِ	الَّيْلُ	رَاٰ	كَوْكَبًا	قَالَ
يقين كوونكو	نو كله چي	تياره سوه	پهٔ ده باندی	شپه	نو وليد (ابراهيم)	يو ستوری	ويی ويل

يقين كوونكو . نو كله چي تياره سوه پهٔ ده باندی شپه نو وليد (ابراهيم) يو ستوری، ويی ويل

هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ﴿٧٦﴾

هٰذَا	رَبِّيْ	فَلَمَّآ	اَفَلَ	قَالَ	لَآ اُحِبُّ	الْاٰفِلِيْنَ
دا	رب زما دی	نو كله چي	غروب ئی وكړ	وويل	چي زه دوست نه ګڼم	غروب كوونكی

دا رب زما دی (ستاسی پهٔ زعم سره) نو كله چي غروب ئی وكړ (غائب سو) وويل چي زه دوست نه ګڼم غروب كوونكی

فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ

فَلَمَّا	رَاَ الْقَمَرَ	بَازِغًا	قَالَ	هٰذَا	رَبِّيْ	فَلَمَّآ	اَفَلَ	قَالَ	لَئِنْ
پس كله چي	وليده سپوږمی راختونكی	ځليدونكی	وويل	دا	رب زما دی	نو كله چي	غروب ئی وكړ	وويل	قسم دی

پس كله چي وليده (ابراهيم) سپوږمی راختونكی ځليدونكی وويل دا رب زما دی نو كله چي غروب ئی وكړ وويل قسم دی

لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ﴿٧٧﴾ فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ

لَّمْ يَهْدِنِيْ	رَبِّيْ	لَاَكُوْنَنَّ	مِنَ	الْقَوْمِ	الضَّآلِّيْنَ	فَلَمَّا	رَاَ الشَّمْسَ
كه هدايت ونه كړی ماته	رب زما	نو هرومرو به ګرځم ضرور	له	قومه	ګمراهانو	بيا كله چي	وليد لمر

كه هدايت ونه كړی ماته رب زما نو هرومرو به ګرځم ضرور له قومه ګمراهانو . بيا كله چي وليد (ابراهيم) لمر

بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ

بَازِغَةً	قَالَ	هٰذَا	رَبِّيْ	هٰذَآ	اَكْبَرُ	فَلَمَّآ	اَفَلَتْ	قَالَ
ځليدونكی	وويل	دا دی	رب زما	دا	لوی دی	پس كله چي	غروب وكړ	وويل (ابراهيم)

راختونكی وويل دا دی رب زما دا (له‌نورو څخه) لوی دی، پس كله چي (لمر هم) غروب وكړ (غائب سو) وويل (ابراهيم)

يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٨﴾ اِنِّيْ وَجَّهْتُ

يٰقَوْمِ	اِنِّيْ	بَرِيْٓءٌ	مِّمَّا	تُشْرِكُوْنَ	اِنِّيْ	وَجَّهْتُ
ای قومه زما	بيشكه! زه	بيزاره يمه	له‌هغو شيانو	چي تاسی (ئی) شريكوئ	بيشكه! ما	ګرځولی می دی

ای قومه زما بيشكه! زه يم بيزار له‌هغو شيانو چي تاسی (ئی) شريكوئ (له‌الله‌سره). بيشكه‌ما ګرځولی می دی

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ پـه تبليـغ او دعـوت كـي دحكمـت څخـه كاراخيستل دانبيـاوو عليهم السلام سـنت دی :فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ :يعنـي يـوه شـپه چي كله تياره خپره سوه او پريـوه ستوري يـه نظر پريوتی نو خپل قوم ته يي داورولو دپاره وويل چي دا ستوری زمـا رب دی مطلـب يـي داوو چـي ستاسـي دعقيـدو او خيالاتو پـه بنا سره دازما او ستاسـي رب يعنـي پـالونكی دی اوس پـه لـږ وخت كـي بـه ددي حقيقت وويـنـی نـو لـږ سـاعت وروسـتـه هغـه ولويـدی نو حضرت ابراهيم عليه السلام تـه پر خپـل قـوم دحجت ښـكاره كولو موقـع پـه لاس ورغلـه او وی فرمايـل (لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ) دآفلين دغه لفظ داُفُول څخـه جوړ دی چي معنـی يي ده غـروب كيـدل يعنـي لويـدل مطلـب دادی چي زه دلويـدونكو شيانو سـره محبـت نـه سـاتم او ځوک چي خدای يا معبود جوړول كيږي ښكاره خبره ده چي هغه دزيات محبت او عظمت مستحق پـه كار دی مولانـا رومـي رحمة الله عليه دغه واقع پـه يو شـعر كي وايـي. (خليل آسا درملک يقـين زن) (نـوائي لااحـبّ الافلـين زن).
(معارف القرآن ج٣ پ ٧ ص١٧٢)

www.jamairahmani.org

وَجۡهِيَ لِلَّذِيۡ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ حَنِيۡفًا وَّمَآ اَنَا

وَجۡهِيَ	لِلَّذِيۡ	فَطَرَ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	حَنِيۡفًا	وَّمَآ	اَنَا
مخ خپل	هغه ذات ته	چي پيدا کړي ئی دی	آسمانونه	او مځکه	حال دا چي مايل يم	او نه يم	زه

مخ خپل هغه ذات ته چي پيدا کړي ئی دی آسمانونه او مځکه حال دا چي مايل يم له باطله وحق ته او نه يم زه

مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿٧٩﴾ وَحَآجَّهٗ قَوۡمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوۡٓنِّيۡ فِي

مِنَ	الۡمُشۡرِكِيۡنَ	وَحَآجَّهٗ	قَوۡمُهٗ	قَالَ	اَتُحَآجُّوۡٓنِّيۡ	فِي
له	مشرکانو	او جګړه وکړه له ده سره	قوم د ده	وويل	آيا جګړه کوئ تاسی له ما سره	په

له مشرکانو. او جګړه وکړه له ده سره قوم د ده (په توحيد کښی) وويل (ابراهيم) آيا جګړه کوئ تاسی له ما سره په

اللّٰهِ وَقَدۡ هَدٰىنِ ؕ وَلَآ اَخَافُ مَا تُشۡرِكُوۡنَ

اللّٰهِ	وَقَدۡ	هَدٰىنِ	وَلَآ اَخَافُ	مَا	تُشۡرِكُوۡنَ
په الله کښی	حال دا چي په تحقيق	هدايت کړی دی ماته	او نه بيريږم له	هغو چي	تاسی ئی شريکان کوئ

(وحدانيت د) الله کښی حال دا چي په تحقيق هدايت کړی (الله) ماته. او نه بيريږم له هغو چي تاسی ئی شريکان کوئ

بِهٖٓ اِلَّآ اَنۡ يَّشَآءَ رَبِّيۡ شَيۡـًٔا ؕ وَسِعَ رَبِّيۡ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًا ؕ

بِهٖٓ	اِلَّآ	اَنۡ	يَّشَآءَ	رَبِّيۡ	شَيۡـًٔا	وَسِعَ	رَبِّيۡ	كُلَّ شَيۡءٍ	عِلۡمًا
له الله سره	مګر	چي	اراده وفرمائی	رب زما	د شی	احاطه کړی ده	رب زما	په ټولو شيانو	له جهته د علم

له الله سره مګر چي اراده وفرمائی رب زما د څه، احاطه کړی ده رب زما په ټولو شيانو له جهته د علم

اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿٨٠﴾ وَكَيۡفَ اَخَافُ مَآ اَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُوۡنَ

اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ	وَكَيۡفَ	اَخَافُ	مَآ	اَشۡرَكۡتُمۡ	وَلَا تَخَافُوۡنَ
آيا نو تاسی پند نه آخلئ	او څرنګه به	بيريږم زه	له هغو	چي شريکان کړی دی تاسی	او نه بيريږئ تاسی له دی

آيا نو تاسی پند نه آخلئ. او څرنګه به بيريږم زه له هغو (بتانو) چي شريکان کړی دی تاسی (له الله سره) او نه بيريږئ تاسی له دی

اَنَّكُمۡ اَشۡرَكۡتُمۡ بِاللّٰهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهٖ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطٰنًا ؕ

اَنَّكُمۡ	اَشۡرَكۡتُمۡ	بِاللّٰهِ	مَا	لَمۡ يُنَزِّلۡ	بِهٖ	عَلَيۡكُمۡ	سُلۡطٰنًا
چي بيشکه! تاسی	شريک کړی دی	له الله سره	هغه شی	چي نه دی راليږلی	په (شريک کولو) دهغه	پر تاسی	هيڅ دليل

چي بيشکه! تاسی شريک کړی دی له الله سره هغه شی چي نه دی راليږلی (الله) په (شريک کولو) دهغه پر تاسی هيڅ برهان

وَحَآجَّهٗ قَوۡمُهٗ قَالَ اَتُحَآجُّوۡٓنِّيۡ فِي اللّٰهِ

داسلامي تبليغ کوونکو دپاره ښوونيز هدايتونه:

دحضرت ابراهيم عليه السلام دمناظرې په دې طرز کې دعالمانو او تبليغ کوونکو دپاره يو څو مهم هدايتونه دي: اول: دا چې دقومونو په تبليغ او اصلاح کې نه هر ځای سختي مناسب ده او نه هر ځای نرمي بلکه دهر يوه يوه موقع او يوحد دی لکه چې دبت پرستی په معامله کې حضرت خليل الله عليه السلام سخت الفاظ استعمال کړي دي ځکه چې ددوی ګمراهي ښکاره وه او دنجوم پرستی په معامله کې داسي سخت الفاظ نه دي استعمال کړي بلکه په يو خاص تدبير سره يې دمعاملې حقيقت دخلګو ذهنونو ته کښته کړيدی ځکه چې دستورو بې بسي اوناچاري دومره ښکاره نه وه څومره چې دبتانو وه ددې څخه معلومه سوه چې عوام که په څه داسي غلطی کې اخته وي چې غلطي او ګمراهي يې په عامو نظرونو کې په ډاګه نه وي نو عالم او مبلغ لره په کار دي چې دسختی پر ځای ددوی دشکونو او شبهو ليرې کولو تدبير وکي او دنرمی څخه دي کار واخلي.
(معارف القرآن ج٣پ٧ص١٧٥)

www.jamairahmani.org

فَاَیُّ الۡفَرِیۡقَیۡنِ اَحَقُّ بِالۡاَمۡنِ ۚ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۱﴾

فَاَیُّ الۡفَرِیۡقَیۡنِ	اَحَقُّ	بِالۡاَمۡنِ	اِنۡ	كُنۡتُمۡ	تَعۡلَمُوۡنَ
نو کومه یوه له دی دواړو ډلو څخه	مستحقه او لایقه ده	په امن سره	که	یئ تاسی	چی پوهیږئ

نو کومه یوه له دی دواړو ډلو څخه مستحقه او لایقه ده په امن سره (له عذابه د الله وو وایئ) که یئ تاسی چی پوهیږئ.

اَلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَلَمۡ یَلۡبِسُوۡۤا اِیۡمَانَهُمۡ بِظُلۡمٍ اُولٰٓئِكَ

اَلَّذِیۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَلَمۡ	یَلۡبِسُوۡۤا	اِیۡمَانَهُمۡ	بِظُلۡمٍ	اُولٰٓئِكَ
هغه کسان	چی ایمان ئی راوړی دی	او نه دی	ګډ کړی دوی	ایمان خپل	له ظلم (نقصان سره)	دغه کسان

هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او نه دی ګډ کړی دوی ایمان خپل له ظلم (نقصان سره چی شرک دی) . دغه کسان

لَهُمُ الۡاَمۡنُ وَهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۸۲﴾ ع وَتِلۡكَ حُجَّتُنَاۤ اٰتَیۡنٰهَاۤ

لَهُمُ	الۡاَمۡنُ	وَهُمۡ	مُّهۡتَدُوۡنَ	وَتِلۡكَ	حُجَّتُنَاۤ	اٰتَیۡنٰهَاۤ
هم دوی لره سته	امن	او هم دوی دی	پیدا کوونکی	او دا	دلیل زموږ دی	چی ورکړی ؤ موږ هغه

هم دوی لره سته امن (له عذابه) او هم دوی دی لار موندونکی. او دا (چی تیر سو) دلیل زموږ دی چی ورکړی ؤ موږ هغه

اِبۡرٰهِیۡمَ عَلٰی قَوۡمِهٖ ؕ نَرۡفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنۡ نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

اِبۡرٰهِیۡمَ	عَلٰی	قَوۡمِهٖ	نَرۡفَعُ	دَرَجٰتٍ	مَّنۡ نَّشَآءُ	اِنَّ	رَبَّكَ
ابراهیم ته	په	قوم د ده چی پر دوی غالب سی	پورته کوو	موږ درجی	هر چاته چی اراده وفرمایو	بیشکه!	رب ستا

ابراهیم ته په (مقابله د) قوم د ده چی پر دوی غالب سی پورته کوو موږ درجی هر چاته چی اراده وفرمایو بیشکه! رب ستا

حَكِیۡمٌ عَلِیۡمٌ ﴿۸۳﴾ وَوَهَبۡنَا لَهٗۤ اِسۡحٰقَ وَیَعۡقُوۡبَ ؕ كُلًّا

حَكِیۡمٌ	عَلِیۡمٌ	وَوَهَبۡنَا	لَهٗۤ	اِسۡحٰقَ	وَیَعۡقُوۡبَ	كُلًّا
ډیر حکمت والا دی	ښه عالم	او ورکړی موږ	ابراهیم ته	اسحٰق	او یعقوب	ټولو ته

ډیر حکمت والا دی ښه عالم (په ټولو احوالو). او وبانبه موږ ابراهیم ته اسحٰق او یعقوب ټولو ته

هَدَیۡنَا ۚ وَنُوۡحًا هَدَیۡنَا مِنۡ قَبۡلُ وَمِنۡ ذُرِّیَّتِهٖ دَاوٗدَ

هَدَیۡنَا	وَنُوۡحًا	هَدَیۡنَا	مِنۡ	قَبۡلُ	وَمِنۡ ذُرِّیَّتِهٖ	دَاوٗدَ
هدایت کړی ؤ موږ	او نوح ته	مو هدایت کړی ؤ	له	پخوا	او اولادی د ده څخنی	داؤد

هدایت کړی ؤ موږ ، او نوح ته مو هدایت کړی ؤ له پخوا او (هدایت مو کړی ؤ) اولادی د ده څخنی داؤد

ع ۹ / ۱۲ / ۱۵

اَلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَلَمۡ یَلۡبِسُوۡۤا اِیۡمَانَهُمۡ ... په دغه ایاتونوکي په اول ایت کي دا مضمون ارشاد سوی دی: چي دعذاب څخه په امن او اطمینان یوازي هغه څوک کیدای سي کومو چي په الله ﷻ ایمان راوړی وي او بیا یي په خپل ایمان کي هیڅ ظلم نه وي کړی: په حدیث شریف کي راځي چي کله دا آیت رانازل سو نو صحابه کرام رضي الله عنهم وبیریدل او عرض یي کوی چي یارسول الله په موږ کي څوک داسي دی چي ظلم یي نه وي کړی پر خپل ځان باندي په ذریعه دګناه سره او په دې آیت کي خو دعذاب څخه دامن کیدو داشرط دی چي دایمان سره یي څه ظلم نه وي کړی نو بیا زموږ دنجات لاره څه ده؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چي تاسي دآیت په مطلب صحیح نه یاست پوه سوي په ایت کي دظلم څخه مراد شرک دی لکه چي په بل آیت کي ارشاد دی (انّ الشرک لظلم عظیم) په دې وجه دآیت مراد دادی چي چي کم څوک ایمان راوړي او بیا په دې کي دالله ﷻ په ذات او صفاتو کي یو څوک شریک جوړ نه کړي دی دعذاب څخه په امن دی او هدایت پیدا کوونکی دی.

(معارف القرآن ج۳ پ۷ ص۱۷۸)

www.jamairahmani.org

وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ

وَسُلَيْمٰنَ	وَاَيُّوْبَ	وَيُوْسُفَ	وَمُوْسٰى	وَهٰرُوْنَ
او سليمان ته	او ايوب	او يوسف ته	او موسىٰ	او هارون ته

او سليمان ته او ايوب او يوسف ته او موسىٰ او هارون ته

وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى

وَكَذٰلِكَ	نَجْزِى	الْمُحْسِنِيْنَ	وَزَكَرِيَّا	وَيَحْيٰى	وَعِيْسٰى
او هم داسى	بدل وركوو موږ	محسنانو (ته)	او زكريا	او يحيىٰ ته	او عيسىٰ

او هم داسى بدل وركوو موږ محسنانو (نيكو كارانو ته). (هدايت مو كړى ؤ) زكريا او يحيىٰ ته او عيسىٰ

وَاِلْيَاسَ ؕ كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ

وَاِلْيَاسَ	كُلٌّ	مِّنَ	الصّٰلِحِيْنَ	وَاِسْمٰعِيْلَ	وَالْيَسَعَ
او الياس ته	دوى ټول دى	له	صالحانو څخه	او اسماعيل	او اليسع ته

او الياس ته دوى ټول دى له صالحانو څخه او (هدايت مو كړى ؤ) اسماعيل او اليسع ته

وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ

وَيُوْنُسَ	وَلُوْطًا	وَكُلًّا	فَضَّلْنَا	عَلَى	الْعٰلَمِيْنَ	وَمِنْ
او يونس	او لوط ته	او داټولو ته	فضيلت وركړى ؤ موږ	پر	تمامو مخلوقاتو	او څينو ته له

او يونس او لوط ته او داټولو ته فضيلت وركړى ؤ موږ پر تمامو عالميانو . او (فضيلت مو وركړى ؤ) څينو ته له

اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ

اٰبَآئِهِمْ	وَذُرِّيّٰتِهِمْ	وَاِخْوَانِهِمْ	وَاجْتَبَيْنٰهُمْ
پلرونو د دوى	او له اولادى د دوى	او له ورونو د دوى	او غوره كړى وو موږ دا ټول انبياء

پلرونو د دوى او له اولادى د دوى او له ورونو د دوى، اوغوره كړى وو موږ دا ټول انبياء

وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٨٧﴾ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ

وَهَدَيْنٰهُمْ	اِلٰى صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ	ذٰلِكَ	هُدَى	اللّٰهِ
او لار ښوونه كړې وه موږ دوى لره	لارى	سمى صافى ته	دا	هدايت	د الله دى

او لار ښوونه كړې وه موږ دوى لره لارى سمى صافى ته . دا (دين د انبياؤ) هدايت د الله دى

وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ

دانبياوو عليهم السلام دنومونو مبارك فهرست: دلته الله جل جلاله داوولسو انبياوو عليه السلام دنومو فهرست بيان كړى دى چي په دي كي ځيني دحضرت ابراهيم عليه السلام نيكونه او پلرونه دي او اكثره دده اولادونه دي او ځيني يي ورونه او وريرونه دي په دې اياتونو كي خو يوه طرف ته ددې حضراتو په هدايت باندي كيدل ،صالحان كيدل ، په نيكه لاره كيدل بيان سوي دي اودا ښوول سوي دي چي دوى الله جل جلاله دخپل دين دخدمت دپاره منتخب كړي وه او دا خدمت يي څني قبول كى اوبل طرف ته يي دا ښوولي دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام دالله جل جلاله په لاره كي خپل پلار ،اوخاندان ، او وطن ،پرې ايښى وو نو الله جل جلاله دآخرت لوړي درجې او هميشه او بې مثاله راحتونه اول په دنيا كي هم ده ته تر خپل خاندان ښه خاندان او تر وطن ښه وطن وركړى اودالوى شرافت يي ورته وركى چي دحضرت ابراهيم عليه السلام وروسته تر قيامته پوري ټومره انبياء او رسولان عليهم السلام چي راغلي دي هغه ټول دده په اولاد كي دي الخ.
(معارف القرآن ج٣ پ ٧ ص١٨٠)

www.jamairahmani.org

يَهۡدِيۡ بِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ ؕ وَلَوۡ اَشۡرَكُوۡا

يَهۡدِيۡ	بِهٖ	مَنۡ	يَّشَآءُ	مِنۡ	عِبَادِهٖ	وَلَوۡ	اَشۡرَكُوۡا
چې لاربنوونه فرمائی	په دی سره	هغه چاته	چې اراده وفرمائی	له	بندګانو خپلو څخه	او که	شریک کړی وی دوی

چې لاربنوونه فرمائی (الله) په دی سره هغه چاته چې اراده وفرمائی له بندګانو خپلو څخه او که شریک کړی وی دوی داالله سره

لَحَبِطَ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۸۸﴾ اُولٰٓـئِكَ الَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ

لَحَبِطَ	عَنۡهُمۡ	مَّا	كَانُوۡا	يَعۡمَلُوۡنَ	اُولٰٓـئِكَ	الَّذِيۡنَ	اٰتَيۡنٰهُمُ
نو خامخا به ضایع سوی وی	له دوی څخه	هغه عمل	چې وو دوی	چې کاوه به ئی	دغه	هغه کسان دی	چې ورکړی دی موږ دوی ته

نو خامخا به ضایع سوی وی له دوی نه هغه عمل چې وو دوی چې کاوه به ئی. دغه هغه کسان دی چې ورکړی دی موږ دوی ته

الۡكِتٰبَ وَالۡحُكۡمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنۡ يَّكۡفُرۡ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدۡ

الۡكِتٰبَ	وَالۡحُكۡمَ	وَالنُّبُوَّةَ	فَاِنۡ	يَّكۡفُرۡ	بِهَا	هٰٓؤُلَآءِ	فَقَدۡ
کتابونه	او حکمت	او پیغمبری	پس که	کافر سی	په دی	دغه (کافران)	پس په تحقیق

کتابونه او حکمت او پیغمبری، پس که کافر سی په دی آیاتونو دقرآن دغه (کافران د مکی) پس په تحقیق

وَّكَّلۡنَا بِهَا قَوۡمًا لَّيۡسُوۡا بِهَا بِكٰفِرِيۡنَ ﴿۸۹﴾ اُولٰٓـئِكَ الَّذِيۡنَ

وَّكَّلۡنَا	بِهَا	قَوۡمًا	لَّيۡسُوۡا	بِهَا	بِكٰفِرِيۡنَ	اُولٰٓـئِكَ	الَّذِيۡنَ
مقرر کړی دی موږ	په (ایمان او عمل) د دی	داسی یو قوم	چې نه دی دوی	په دی	کافران	دغه	هغه کسان دی

مقرر کړی دی موږ په (ایمان او عمل) د دی داسی یو قوم (ټولګی) چې نه دی دوی په دی کافران. دغه هغه کسان دی

هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰٮهُمُ اقۡتَدِهۡ ؕ قُلۡ لَّاۤ اَسۡـئَلُكُمۡ عَلَيۡهِ

هَدَى	اللّٰهُ	فَبِهُدٰٮهُمُ	اقۡتَدِهۡ	قُلۡ	لَّاۤ اَسۡـئَلُكُمۡ	عَلَيۡهِ
چې هدایت کړی دی	الله (دوی ته)	نو په طریقه د دوی	اقتداء وکړه	وواېه	چې زه نه غواړم له تاسی	په دغه

چې هدایت کړی دی الله (دوی ته) نو په طریقه د دوی اقتداء وکړه (محمده) وواېه چې زه نه غواړم له تاسی پر دغه پند

اَجۡرًا ؕ اِنۡ هُوَ اِلَّا ذِكۡرٰى لِلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۹۰﴾ وَمَا قَدَرُوا

اَجۡرًا	اِنۡ	هُوَ	اِلَّا	ذِكۡرٰى	لِلۡعٰلَمِيۡنَ	وَمَا قَدَرُوا
څه اجر	نه دی	دا (قرآن)	مګر	یوازی ذکر دی	له پاره د ټولو مخلوقاتو	او نه دی کړی تعظیم دغو

څه اجر (مزدوری) نه دی دا (قرآن) مګر یوازی ذکر (پند، وعظ) دی له پاره د ټولو عالمیانو. او نه دی کړی تعظیم دغو یهودو

اُولٰٓـئِكَ الَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ په دغه اوولسو انبیاوو کي چي دکمو فهرست دلته بیان سوی دی: یو حضرت نوح علیه السلام دی چي دحضرت ابراهیم علیه السلام نیکه دی باقي ټولو ته یي دده اولاد فرمایلي دي (ومن ذريّته داود وسليمن) په دې کي یو اشکال خو دحضرت عیسی علیه السلام په باره کي کیږي چي دی بغیر دپلار څخه پیدا سوی دی نو دی خود ابراهیم علیه السلام دلور په اولاد کي راغی نه دزوی په اولاد کي نو ده ته بیا اولاد ویل څنګه صحیح کیږي؟ ددې جواب عامو علماوو او فقهاوو دا ورکړی دی چي لفظ دذریت دواړو ته شامل دی که دزوی څخه وي او که دلور څخه وي او دلیل یې په دې سره نیولی دی چي حضرات حسنین رضی الله عنهما دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په اولاد کي داخل دي او حال دادی چي دوی دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دلور اولادونه دي نه دزوی: بل سوال دلوط علیه السلام متعلق پیدا کیږي چي دی خود ابراهیم علیه السلام اولاد نه دی وراره یې دي جواب دادی چي په عرف او محاوره کي اکا ته پلار اووراره ته هم زوی ویل کیږي نو اشکال او اعتراض ختم سو.
(معارف القرآن ج۳ پ۷ ص۱۸۱)

٤٢٠

www.jamairahmani.org

اِذۡ قَالُوۡا مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ دغه ايت مباركه دهغه خلكو په جواب كي راغلي دى: چا چي داويلي وه چي الله ﷻ هيڅكله هم پر يوه بشر باندي څه كتاب نه دى نازل كړى دادكتابونو اورسولانو سلسله او معامله بالكل غلطه ده ددې خبري كوونكي كه دمكې بت پرست وه لكه چي ابن كثير رحمة الله عليه فرمايي نومعامله ښكاره ده چي دوى دهيڅ كتاب او دنبي قايل نه وه او كه يهود وه لكه چي نورو تفسير ليكونكو اختياره كړيده نوبيا ددوى داسي وينا محض غصه او خبره ها خوا او دې خواته كول وو چي په خپله ددوى دمذهب څخه هم خلاف وه. دامام بغوي رحمة الله عليه په روايت كي دي چي په دې وجه يهود هم دهغه سړي څخه ناراضه سول چا چي داخبره كړې وه او ددې غلطى په وجه يي هغه دمذهبي پيشوايي دعهدې څخه ليري كى په دې آيت كي حق تعالى ﷻ نبي كريم ﷺ ته فرمايي چي كمو خلگو دا بې هوده خبره وكړه دوى الله ﷻ دپيژندو په ډول نه دى پيژندلى كه نه بيا يه دا ببباكه خبره نه كوله. (معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ١٨٩)

اللّٰهَ حَقَّ قَدۡرِهٖۤ اِذۡ قَالُوۡا مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ

اللّٰهَ	حَقَّ	قَدۡرِهٖۤ	اِذۡ	قَالُوۡا	مَاۤ اَنۡزَلَ	اللّٰهُ	عَلٰى	بَشَرٍ
دالله	په حق	دتعظيم د ده سره	كله چي	وويل دوى	چي نه دى نازل كړى	الله	پر	هيڅ بشر باندى

د الله په حق د تعظيم د ده سره كله چي وويل دوى چي نه دى نازل كړى الله پر هيڅ بشر (انسان) باندى

مِّنۡ شَىۡءٍ ؕ قُلۡ مَنۡ اَنۡزَلَ الۡكِتٰبَ الَّذِىۡ جَآءَ بِهٖ

مِّنۡ	شَىۡءٍ	قُلۡ	مَنۡ	اَنۡزَلَ	الۡكِتٰبَ	الَّذِىۡ	جَآءَ	بِهٖ
هيڅ	شى	ووايه	چا	نازل كړى ؤ	كتاب	هغه چي	راوړى ؤ	هغه

هيڅ شى، ووايه (اى محمده!) چا نازل كړى ؤ كتاب هغه چي راوړى ؤ هغه

مُوۡسٰى نُوۡرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجۡعَلُوۡنَهٗ قَرَاطِيۡسَ

مُوۡسٰى	نُوۡرًا	وَّهُدًى	لِّلنَّاسِ	تَجۡعَلُوۡنَهٗ	قَرَاطِيۡسَ
موسىٰ	حال دا چي نور	او هدايت دى	دپاره د خلكو	چي گرځوئ تاسى هغه	پاڼه پاڼه

موسىٰ حال دا چي نور (رڼا) او هدايت دى د پاره د خلكو چي گرځوئ تاسى هغه (كتاب) پاڼه پاڼه

تُبۡدُوۡنَهَا وَتُخۡفُوۡنَ كَثِيۡرًا ۚ وَعُلِّمۡتُمۡ مَّا لَمۡ تَعۡلَمُوۡۤا

تُبۡدُوۡنَهَا	وَتُخۡفُوۡنَ	كَثِيۡرًا	وَعُلِّمۡتُمۡ	مَّا	لَمۡ تَعۡلَمُوۡۤا
ښكاروئ ئې هغه	او پټوئ تاسى	ډيرى	او ښوولى سوى دى تاسى ته	هغه	چي پوه نه وئ

ښكاروئ ئې هغه او پټوئ تاسى ډيرى. او ښوولى سوى دى تاسى ته هغه (احكام د تورات) چي پوه نه وئ

اَنۡتُمۡ وَلَاۤ اٰبَآؤُكُمۡ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرۡهُمۡ فِىۡ خَوۡضِهِمۡ

اَنۡتُمۡ	وَلَاۤ اٰبَآؤُكُمۡ	قُلِ	اللّٰهُ	ثُمَّ	ذَرۡهُمۡ	فِىۡ	خَوۡضِهِمۡ
(پرى) تاسى	او نه پلرونه ستاسى	ووايه	چي الله	بيا	پريږده دوى چي	په	خرافاتو خپلو كښى

(پرى) تاسى او نه پلرونه ستاسى، ووايه (اى محمده!) چي الله (نازل كړى ؤ) بيا پريږده دوى چي په خرافاتو خپلو كښى

يَلۡعَبُوۡنَ ﴿٩١﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ

يَلۡعَبُوۡنَ	وَهٰذَا	كِتٰبٌ	اَنۡزَلۡنٰهُ	مُبٰرَكٌ	مُّصَدِّقُ
لوبى كوى	او دا (قرآن)	كتاب دى	چي نازل كړى دى موږ هغه	بركتناك	تصديق كوونكى

لوبى كوى. او دا قرآن كتاب دى چي نازل كړى دى موږ هغه بركتناك تصديق كوونكى

www.jamairahmani.org

الَّذِیۡ بَیۡنَ یَدَیۡهِ وَلِتُنۡذِرَ اُمَّ الۡقُرٰی وَمَنۡ

الَّذِیۡ	بَیۡنَ	یَدَیۡهِ	وَلِتُنۡذِرَ	اُمَّ	الۡقُرٰی	وَمَنۡ
دهغه (کتابونو) دی	چي وړاندی	لهدهدی	او دپاره ددی	چي وبيروی ته	اصل دټولو کليو	او هغه چي

دهغه (کتابونو) دی چي وړاندی لهدهدی او دپاره د دی چي وبيروی ته اصل د ټولو (کلو) يعنی اهل مکه او هغه چي

حَوۡلَهَا ؕ وَالَّذِیۡنَ یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ یُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ

حَوۡلَهَا	وَالَّذِیۡنَ	یُؤۡمِنُوۡنَ	بِالۡاٰخِرَةِ	یُؤۡمِنُوۡنَ	بِهٖ
چاپيردی لهدی	او هغه کسان	چي ايمان ئی راوړی دی	په آخرت	ايمان لري دوی	په دغه

چاپير دی له دی او هغه کسان چي ايمان ئی راوړی دی په آخرت ايمان لری دوی په دغه (قرآن يا په محمد)

وَهُمۡ عَلٰی صَلَاتِهِمۡ یُحَافِظُوۡنَ ﴿۹۲﴾ وَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنِ

وَهُمۡ	عَلٰی	صَلَاتِهِمۡ	یُحَافِظُوۡنَ	وَمَنۡ	اَظۡلَمُ	مِمَّنِ
حال داچي هم دوی	په	لمونځونو خپلو	ساتنه کوی	او څوک دی	ډير ظالم	له هغه چانه

حال داچي هم دوی په لمونځونو خپلو ساتنه کوی. او څوک دی ډير ظالم؟ له هغه چانه

افۡتَرٰی عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا اَوۡ قَالَ اُوۡحِیَ اِلَیَّ وَلَمۡ یُوۡحَ

افۡتَرٰی	عَلَی	اللّٰهِ	کَذِبًا	اَوۡ قَالَ	اُوۡحِیَ	اِلَیَّ	وَلَمۡ یُوۡحَ
چي تړی	پر	الله	دروغ	يا وائی چي	وحی کړی سوی ده	ماته	حال داچي وحی نه وی کړی سوی

چي تړی پر الله دروغ يا وائی چي وحی کړی سوی ده ماته حال داچي وحی نه وی کړی سوی

اِلَیۡهِ شَیۡءٌ وَّمَنۡ قَالَ سَاُنۡزِلُ مِثۡلَ مَاۤ اَنۡزَلَ

اِلَیۡهِ	شَیۡءٌ	وَّمَنۡ	قَالَ	سَاُنۡزِلُ	مِثۡلَ	مَاۤ	اَنۡزَلَ
ده ته	دهيڅ شی	او هغه چي	وايی	ژر به نازل کړم	په مثل	دهغه کتاب	چي نازل کړی دی

ده ته د هيڅ شی او هغه چي وايی ژر به نازل کړم (وبه ليکم له ځانه) په مثل د هغه کتاب چي نازل کړی دی

اللّٰهُ ؕ وَلَوۡ تَرٰۤی اِذِ الظّٰلِمُوۡنَ فِیۡ غَمَرٰتِ الۡمَوۡتِ

اللّٰهُ	وَلَوۡ	تَرٰۤی	اِذِ	الظّٰلِمُوۡنَ	فِیۡ	غَمَرٰتِ	الۡمَوۡتِ
الله	او که	ووينی ته	پههغه وخت کښی	چي ظالمان	په	سختيو	دمرګ کښی وی

الله او که ووينی ته (ای محمده!) ظالمان يعنی کافران په هغه وخت کښی چي ظالمان په سختيو دمرګ کښی وی

وَلِتُنۡذِرَ اُمَّ الۡقُرٰی وَمَنۡ حَوۡلَهَا ؕ... په دغه ايت کي الله جل جلاله ارشاد فرمايي: چي لکه څنګه چي تورات دوی دالله جل جلاله دطرفه څخه نازل سوی مني دغه ډول داقرآن هم موږ نازل کړی دی او دده دحق والي او رښتينوالي دپاره دوی لره دا شهادت کافي دی چي قرآن دهغه ټولو شيانو رښتينوالی کوي کم چي په تورات او انجيل کي نازل سوي دي او تر تورات اوانجيل څخه وروسته دده دنازلولو ضرورت په دې وجه پيښ سو چي دا دواړه کتابونه خو دبني اسرائيلو دپاره راليږل سوي وه ددې بل ښاخ چي بني اسمعيل ورته وايي اوعرب دي په (امّ القرى) يعني مکه مکرّمه او ددې په شا اوخوا کي اوسيږي ددوی دهدايت دپاره څه خاص پيغمبر او کتاب تر اوسه پوري نه وو راغلی اوس قرآن ددوی دپاره خصوصاً او دټول مخلوق دپاره عموماً نازل سوی دی مکي معظمې ته قرآن کريم (امّ القرى) فرمايلي دي يعني دتمامو ښارونو او کلو بيخ او بنياد: ددې وجه داده چي دتاريخي رواياتو موافق چي په ابتداء دپيدايش کي دمځکي ابتداء ددغه ځايه څخه سوې ده. (معارف القرآن ج ۳ پ ۷ ص ۱۹۰)

www.jamairahmani.org

وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

وَالْمَلٰٓئِكَةُ	بَاسِطُوْٓا	اَيْدِيْهِمْ	اَخْرِجُوْٓا	اَنْفُسَكُمْ
حال داچې ملائيکې	غځوونکې وي	دلاسونو خپلو	راوباسئ تاسي	ارواح خپل

حال داچې ملائيکې (دعذاب) غځوونکې وي دلاسونو خپلو (نو وائې دوی ته چې) راوباسئ تاسي ارواح خپل

اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ

اَلْيَوْمَ	تُجْزَوْنَ	عَذَابَ	الْهُوْنِ	بِمَا	كُنْتُمْ	تَقُوْلُوْنَ
نن ورځ	به جزا درکړه سي تاسي ته	عذاب	سپکوونکی	په سبب دهغه	چې وئ تاسي	چې ويل به مو

نن ورځ به جزا درکړه سي تاسي ته عذاب سپکوونکی په سبب د هغه چې وئ تاسي چې ويل به مو

عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٩٣﴾

عَلَى	اللّٰهِ	غَيْرَ الْحَقِّ	وَكُنْتُمْ	عَنْ	اٰيٰتِهٖ	تَسْتَكْبِرُوْنَ
پر	الله	ناحقه	او وئ تاسي	چې له	آيتونو د ده څخه	به مو تکبر کاوه

پر الله (وينا) ناحقه او وئ تاسي چې له آيتونو د ده څخه به مو تکبر کاوه. (او نه به مو منل نو وبه کورئ يوه قبيحه منظره).

وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ

وَلَقَدْ	جِئْتُمُوْنَا	فُرَادٰى	كَمَا	خَلَقْنٰكُمْ	اَوَّلَ	مَرَّةٍ
او خامخا په تحقيق	راغلی يئ تاسي موږته	يوازی يوازی	لکه	چې پيدا کړی مو وئ تاسي	اول	ځلی

او خامخا په تحقيق راغلی يئ تاسي موږته يوازی يوازی لکه چې پيدا کړی مو وئ تاسي اول ځلی

وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ

وَّتَرَكْتُمْ	مَّا	خَوَّلْنٰكُمْ	وَرَآءَ	ظُهُوْرِكُمْ	وَمَا	نَرٰى	مَعَكُمْ
او پريښودل تاسي	هغه	چې درکړې ؤ موږ تاسي ته	وروسته	دشاوو خپلو	او نه	وينو موږ	له تاسي سره

او پريښودل تاسي (په دنيا کښې) هغه (شيان) چې درکړې ؤ موږ تاسي ته وروسته د شاوو خپلو او نه وينو موږ له تاسي سره

شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ؕ

شُفَعَآءَكُمُ	الَّذِيْنَ	زَعَمْتُمْ	اَنَّهُمْ	فِيْكُمْ	شُرَكٰٓؤُا
شفاعت کوونکی ستاسي	هغه چې	ګمان کاوه تاسي	چې بيشکه دوی	په (تربيه) ستاسي کښې	شريکان دی

شفاعت کوونکی ستاسي هغه چې ګمان کاوه تاسي چې بيشکه دوی په (استحقاق دعبادت کی) ستاسي کښې شريکان دی

وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ

لنډ تفسير: الله جل جلاله فرمايي دظالمانو حال به داوي چې که ته دوی هغه وخت وګورې نو ډير هيبتناک حالت به ووينې کله چې دا ظالمان خلګ دکم چې ذکر په ايت کي وسو (چې يا خو دنبوت څخه مطلق منکره وي لکه لوړ چې دهغو بيان راغی په دغه قول کي دالله جل جلاله (ماانزل الله على بشر الخ) او دځينو وېناه بياداوه چې بشر هم نبي کيدای سي؟ اويا به يه ويل چې پر ما باندي وحي راځي حال دادی چې ده ته هيڅ خبره هم دوحي نه ده راغلې لکه مسيلمه کذاب او نور) نو دوی به دمرګ په روحاني سختيو باندي مبتلاوي او دمرګ ملايکي چې دملک الموت ملګري دي ددوی دروح دايستلو دپاره ورته دا وايي چې ها ژر خپل روحونه راوباسي کم ځای خلاص خلاص ګرځيد است ګوری نن دمرګ سره في الحال به تاسي ته دذلت سزا درکول کيږي يعني داسي چې بدني تکليف به هم په کښي وي او روحاني تکليف اوذلت به هم په کښي وي په دې سبب چې تاسي به دالله جل جلاله په باره کي غلطي ويناوي کولې.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ١٨٥)

www.jamairahmani.org

ع ١٤ ١١ ١٧

لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٩٤﴾ ع

لَقَدْ	تَّقَطَّعَ	بَيْنَكُمْ	وَضَلَّ	عَنْكُمْ	مَّا	كُنْتُمْ	تَزْعُمُوْنَ
خامخا په تحقیق	پرې سو	په مینځ ستاسې کښې	او ورک سو	له تاسې څخه	هغه شې چې	وئ تاسې	چې ګڼل به مو

خامخا په تحقیق پرې سو هغه پیوند چې په مینځ ستاسې کښې او ورک سو له تاسې څخه هغه شې چې وئ تاسې چې ګڼل به مو.

اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ؕ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ

اِنَّ	اللّٰهَ	فَالِقُ	الْحَبِّ	وَالنَّوٰى	يُخْرِجُ	الْحَيَّ	مِنَ	الْمَيِّتِ
بیشکه!	الله	چوونکی	د دانې دی	او دزړې (دمندکې)	راباسي	ژوندې	له	مړې

بیشکه! الله چوونکی (څیروونکی) د دانې دی (په ایستلو دتیغ سره) او د زړې (نیالګی سره) راباسي ژوندې له مړې

وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٩٥﴾

وَمُخْرِجُ	الْمَيِّتِ	مِنَ	الْحَيِّ	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	فَاَنّٰى	تُؤْفَكُوْنَ
او ایستونکی	دمړې دی	له	ژوندې	دغه	الله دی	نو کوم طرف ته	ګرځولی سئ تاسې؟

او ایستونکی د مړې دی له ژوندې (لکه وچه دانه له شین ډکی) دغه الله دی نو کوم طرف ته ګرځولی سئ تاسې؟

فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ

فَالِقُ	الْاِصْبَاحِ	وَجَعَلَ	الَّيْلَ	سَكَنًا	وَّالشَّمْسَ
چوونکی	دسبا دی	او ګرځولې ئې ده	شپه	آرامځی	او لمر

چوونکی (دړنا) دسبا دی او ګرځولې ئې ده شپه آرامځی او (ګرځولی ئې دی) لمر

وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٩٦﴾

وَالْقَمَرَ	حُسْبَانًا	ذٰلِكَ	تَقْدِيْرُ	الْعَزِيْزِ	الْعَلِيْمِ
او سپوږمی	(نښې د) حساب	دغه	اندازه کول دی	د ښه غالب	ښه عالم

او سپوږمی (نښې د) حساب (دپاره د اوقاتو) دغه اندازه کول دی د ښه غالب (قوي په انفاذ د احکامو) ښه عالم.

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ لِتَهْتَدُوْا بِهَا فِيْ ظُلُمٰتِ

وَهُوَ	الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمُ	النُّجُوْمَ	لِتَهْتَدُوْا	بِهَا	فِيْ	ظُلُمٰتِ
او دغه	همغه دی	چې پیدا کړې ئې دی	تاسې ته	ستورې	له پاره د دې چې لاره پیدا کړئ	په هغو سره	په	تیارو

او دغه (الله) همغه (ذات) دی چې پیدا کړې ئې دی تاسې ته ستورې له پاره د دې چې لاره و مومئ په هغو سره په تیارو

اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى
په دغه ایت کي الله ﷻ
ارشاد فرمایي: (اِنَّ اللّٰهَ
فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى)
یعني الله ﷻ څیروونکی
دی ددانې او دمندکي په
دې کي دقدرت یوه
حیرانوونکي کارروایي
ښوول سویده چي وچه دانه
او مندکه وچوي ددې
ددننه څخه شین بوټی
رایستل دهغه ذات کاردی
چي دکایناتو پیدا
کوونکی دی دانسان
دمحنت او کوشش په دې
کي هیڅ دخل نسته
دکروندګر دټول کوشش
خلاصه داده چي فقط
ددانې او مندکي دننه څخه
چي کم تیغ دالله ﷻ په
قدرت سره راوزي دی
ددغه تیغ څخه منع
کوونکي او مضر شیان
لیري کوي مځکه دیوي او
نورو په ذریعه سره نرمول
بیا ورته سرّه اچول او اوبه
ورکول دي ددې ټولو
کارونو اثر تر زیات لازیات
دادی چي دراوتونکي
نازک تیغ په لاره کي بندیز
پاته نه سي باقي اصل کار
چي دانه او مندکه چول
اوددې څخه دبوټي تیغ
راایستل اوبیا په دې کي
رنګ په رنګ عجیبه پاڼي
راوتل چي دانسان عقل
اودماغ دهغه دیوې پاڼي
یایوې څانګي جوړولو
څخه لاهم عاجزدی:
فسبحان الله اماعظم شانه.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ١٩٣)

www.jamairahmani.org

الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۭ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٩٧﴾

الْبَرِّ	وَالْبَحْرِ	قَدْ	فَصَّلْنَا	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ
دوچې كښې	او بحر كښې	په تحقيق	ښكاره بيان كړى دى موږ	آيتونه	دپاره (دهغه) قوم	چې پوهيږي

د بر (وچې كښې) او بحر (درياب) كښې په تحقيق ښكاره بيان كړى دى موږ آيتونه د پاره (دهغه) قوم چې پوهيږي.

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ

وَهُوَ	الَّذِيْٓ	اَنْشَاَكُمْ	مِّنْ	نَّفْسٍ	وَّاحِدَةٍ	فَمُسْتَقَرٌّ
او دغه (الله)	هغه ذات دى	چې پيدا كړي ئې يئ تاسي	له	نفس	يوه ثخه	نو سته ځاى د قرارى

او دغه (الله) هغه ذات دى چې پيدا كړي ئې يئ تاسي (ټول) له نفس يوه ثخه (آدم دى) نو (سته تاسي ته يو) ځاى د قرارى

وَّمُسْتَوْدَعٌ ۭ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿٩٨﴾

وَّمُسْتَوْدَعٌ	قَدْ	فَصَّلْنَا	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّفْقَهُوْنَ
او يو ځاى د امانت دى	په تحقيق	ښكاره بيان كړى دى موږ	آيتونه	له پاره د هغه قوم	چې ښه پوهيږي

او يو ځاى د امانت (د مور په نس يا په قبر) په تحقيق ښكاره بيان كړى دى موږ آيتونه له پاره د هغه قوم چې ښه پوهيږي

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ

وَهُوَ	الَّذِيْٓ	اَنْزَلَ	مِنَ	السَّمَاۗءِ	مَاۗءً	فَاَخْرَجْنَا	بِهٖ	نَبَاتَ
او دغه	هغه (ذات) دى	چې نازلې كړې ئې دى	له (طرفه د)	آسمانه	اوبه	نو را ايستلى دى موږ	په دې سره	زرغونه

او دغه (الله) هغه (ذات) دى چې نازلې كړې ئې دى له (طرفه د) آسمانه اوبه نو را ايستلى دى موږ په دې سره زرغونه

كُلِّ شَيْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ

كُلِّ	شَيْءٍ	فَاَخْرَجْنَا	مِنْهُ	خَضِرًا	نُّخْرِجُ	مِنْهُ
دهر	شى	نو را ايستلى دى موږ	له هغه ثخه	شين كښت	چې بيا راباسو موږ	له دى ثخه

دهر شى نو را ايستلى دى موږ له هغه (زرغونه) ثخه شين (كښت فصل) چې بيا راباسو موږ له دى (شنه ډكى) ثخه

حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ

حَبًّا	مُّتَرَاكِبًا	وَمِنَ	النَّخْلِ	مِنْ	طَلْعِهَا	قِنْوَانٌ
دانى	يو په بل سورى	او له	خرما ثخه	له	غلافه (دوږى) دهغى ثخه	وږى

دانى يو په بل سورى او له (جنسه له) خرما ثخه (داسى خرماچى راووځى) له غلافه (د وږى) دهغى ثخه وږى

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ مستقر دقرار ثخه جوړ دى:
مستقر هغه ځاى ته وايي چي دكم شي دپاره ځاى دقرار وي او مستودع دوديعت ثخه جوړ دى چي معنى يه ده چي يوشى ديوچا سره په عارضي طورباندي دثوورځو دپاره كښيږدي نو مستودع هغه ځاى ته ويل كيږي كم ځاى چي يوشى په عارضي طور سره دثوورځو دپاره كښيښوول سي. يعني الله هغه ذات دى چا چي انسان ديو جان حضرت آدم عليه السلام ثخه پيدا كړى دى بيا دده دپاره يي يو مستقر (يعني تر يوي مودې پوري داوسيدو يوځاى جوړ كړى دى) او يو مستودع (يعني ديو ثو ورځو دپاته كيدو ځاى ورته جوړكړى دى: دعلماوو په دغه الفاظو اودهغو په تعبير او تفسير كي مختلفي ويناګاني كړي دي (١) چا ويلي دي چي مستودع دمور ګيډه ده او مستقر دادنياده (٢) چا ويلي دي چي مستودع قبر دى او مستقر دآخرت كوردى: داخويوه نمونه وه نور هم دلته په دغه ځاى كي دعلماوو مختلف قولونه دي په تفسير مظهري كي يه كتى سي.
(معارف القرآن ج٣ پ٧ ص١٩٧)

www.jamairahmani.org

دَانِيَةٌ ۙ وَّ جَنّٰتٍ مِّنۡ اَعۡنَابٍ وَّالزَّيۡتُوۡنَ وَالرُّمَّانَ

دَانِيَةٌ	وَّ جَنّٰتٍ	مِّنۡ	اَعۡنَابٍ	وَّالزَّيۡتُوۡنَ	وَالرُّمَّانَ
نژدی	او باغونه	له	انګورو	او زیتون	او انار

نژدی (مځکی ته یا یو د بل سره) او (راباسو) باغونه له انګورو او زیتون او انار په دی حال چی یو له بل سره

مُشۡتَبِهًا وَّ غَيۡرَ مُتَشَابِهٍ ؕ اُنۡظُرُوۡۤا اِلٰى ثَمَرِهٖۤ اِذَاۤ

مُشۡتَبِهًا	وَّ غَيۡرَ	مُتَشَابِهٍ	اُنۡظُرُوۡۤا	اِلٰى	ثَمَرِهٖۤ	اِذَاۤ
په دی حال چی یو له بل سره مشابه وی	او نه وی	مشابه	وګورئ تاسی	طرف	د میوی دهری ونی ته	کله چی

مشابه وی (په پاڼو کښی) او نه وی متشابه (لکه بیل وی په خوند کی) وګورئ تاسی طرف د میوی دهری ونی ته کله چی

اَثۡمَرَ وَيَنۡعِهٖ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكُمۡ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۹۹﴾

اَثۡمَرَ	وَيَنۡعِهٖ	اِنَّ	فِىۡ	ذٰلِكُمۡ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوۡمٍ	يُّؤۡمِنُوۡنَ
میوه ونیسی	او پوخوالی دهغی ته	بیشکه!	په	دغو کښی	خامخا دلائل دی	له پاره د هغه قوم	چی ایمان لری

میوه ونیسی او پوخوالی دهغی ته بیشکه! په دغو (تیرو ټولو) کښی خامخا دلائل دی له پاره د هغه قوم چی ایمان لری.

وَجَعَلُوۡا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الۡجِنَّ وَخَلَقَهُمۡ وَخَرَقُوۡا لَهٗ بَنِيۡنَ

وَجَعَلُوۡا	لِلّٰهِ	شُرَكَآءَ	الۡجِنَّ	وَخَلَقَهُمۡ	وَخَرَقُوۡا	لَهٗ	بَنِيۡنَ
او مقرر کړی دی دوی	الله ته	شریکان	پیریان	حال دا چی پیدا کړی دی (الله) دغه	او جوړوی	دپاره د الله	زامن

او مقرر کړی دی (کفارو) الله ته شریکان جنیان (جنات) حال دا چی پیدا کړی دی (الله) دغه او تړی دپاره د الله زامن

وَبَنٰتٍۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ ؕ سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوۡنَ ﴿۱۰۰﴾ ع

وَبَنٰتٍۢ	بِغَيۡرِ	عِلۡمٍ	سُبۡحٰنَهٗ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا	يَصِفُوۡنَ
او لوڼی	بیله	علمه او سنده	پاکی ده الله لره	او ډیر پورته دی (شان د ده)	له هغو چی	بیانوی دوی

او لوڼی بی له علمه (له خپل جهالت څخه) پاکی ده الله لره او ډیر پورته دی (شان دده) له هغو چی بیانوی (ئی ورته) دوی

بَدِيۡعُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ اَنّٰى يَكُوۡنُ لَهٗ وَلَدٌ

بَدِيۡعُ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	اَنّٰى	يَكُوۡنُ	لَهٗ	وَلَدٌ
بی له نمونی پیدا کوونکی	دآسمانونو	او دمځکی دی	څرنګه به	وی	ده ته	زوی، لور

(الله) بی له نمونی پیدا کوونکی د آسمانونو او د مځکی دی څرنګه به وی ده ته زوی، لور

وَّجَنّٰتٍ مِّنۡ اَعۡنَابٍ وَّالزَّيۡتُوۡنَ وَالرُّمَّانَ

ددغه ایت په مضامینوکي دیو عجیبه ترتیب رعایت دی: هغه دادی چي دلته ددرې قسمه کایناتوذکر دی دمځکي ، داسمانونو ،اوددې دواړو دمینځ په فضاکي دپیداکیدونکو شیانو ،او بیان یي شروع کړی دی دمځکي څخه چي دامور ته ډیره نژدې ده اوبیایي ددې دوی حصې کړې یوبیان دمځکي څخه دراشنه کیدونکو سبزو،درختو ، باغونو، دوهم دحیواناتو انسانانواو ځناورو : اول یي مخکي کړل چي دا په نسبت ددې نورو ښکاره دي او ددوهم معامله چي پر روح موقوفه ده باریکه ده چنانچي دنطفې مختلفي مرحلې دطبیبانو په نزد معلومي دي او مخصوصي دي په خلاف دبوټو او شینکیو دلوئیدواوترقي کولو اونور چي داپه عام طور سره په مشاهده کي راځي :بیا یي دآسماني فضا دکایناتو ذکر وکی سهار، ماښام ، بیا یي پورته اسماني کاینات ذکر کړل لمر ،سپوږمی ،ستوري ،بیا چونکي دمځکي شیان زیات لیدل کیږي دایي دوباره مکرر کړل او مضمون یي پر دغه باندي ختم کی.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٧ ص ٢٠٠)

ع ١٢ ١٨

www.jamairahmani.org

وَلَمۡ تَكُنۡ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ؕ وَخَلَقَ كُلَّ شَیۡءٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ

وَلَمۡ تَكُنۡ	لَّهٗ	صَاحِبَةٌ	وَخَلَقَ	كُلَّ	شَیۡءٍ	وَهُوَ	بِكُلِّ
حال داچي نسته	ده ته	هيڅ ښځه	او پيدا کړی دی (الله)	هر	شي	او هم دی	پر هر

حال داچي نسته ده ته هيڅ ښځه او پيدا کړی دی (الله) هر شي او هم دی پر هر

شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ﴿١٠١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمۡ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ

شَیۡءٍ	عَلِیۡمٌ	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبُّكُمۡ	لَاۤ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	خَالِقُ
شی	ښه عالم دی	هم دغه	الله دی	رب ستاسی	نسته	هيڅ معبود	مګر	هم دی	پيدا کوونکی دی

شی ښه عالم (ښه دانا) دی. هم دغه الله دی رب ستاسی، نسته هيڅ معبود (لايق د عبادت) مګر هم دی، پيدا کوونکی دی

كُلِّ شَیۡءٍ فَاعۡبُدُوۡهُ ۚ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ وَّكِیۡلٌ ﴿١٠٢﴾

كُلِّ	شَیۡءٍ	فَاعۡبُدُوۡهُ	وَهُوَ	عَلٰی	كُلِّ	شَیۡءٍ	وَّكِیۡلٌ
د هر	شی	نو عبادت کوئ د دغه	او هم دی	پر	هر	شی	وکيل دی

د هر شی نو عبادت کوئ د دغه (الله يوازی) او هم دی پر هر شی وکيل (ساتونکی کار جوړوونکی) دی.

لَا تُدۡرِكُهُ الۡاَبۡصَارُ ۫ وَهُوَ یُدۡرِكُ الۡاَبۡصَارَ ۚ وَهُوَ اللَّطِیۡفُ

لَا تُدۡرِكُهُ	الۡاَبۡصَارُ	وَهُوَ	یُدۡرِكُ	الۡاَبۡصَارَ	وَهُوَ	اللَّطِیۡفُ
نسی موندلی هغه لره	سترګی	او الله	مومی	سترګی	او هم دی	نهايت باريک بين دی

نسی موندلی هغه لره (او احاطه نسی کولی) پر الله سترګی او الله مومی سترګی (وينی ئی) او هم دی نهايت لطيف

الۡخَبِیۡرُ ﴿١٠٣﴾ قَدۡ جَآءَكُمۡ بَصَآئِرُ مِنۡ رَّبِّكُمۡ ۚ فَمَنۡ اَبۡصَرَ

الۡخَبِیۡرُ	قَدۡ	جَآءَكُمۡ	بَصَآئِرُ	مِنۡ	رَّبِّكُمۡ	فَمَنۡ	اَبۡصَرَ
ښه خبردار دی	په تحقيق	راغلی دی تاسی ته	واضح دلائل	له طرفه	د رب ستاسی	نو هر څوک چي	ووينی

ښه خبردار دی. (ووايه ای محمده!) په تحقيق راغلی دی تاسی ته واضح دلائل له طرفه د رب ستاسی نو هر څوک چي ووينی

فَلِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ عَمِیَ فَعَلَیۡهَا ؕ وَمَاۤ اَنَا عَلَیۡكُمۡ بِحَفِیۡظٍ ﴿١٠٤﴾

فَلِنَفۡسِهٖ	وَمَنۡ	عَمِیَ	فَعَلَیۡهَا	وَمَاۤ	اَنَا	عَلَیۡكُمۡ	بِحَفِیۡظٍ
نو نفع ئی د خپل ځان ده	او هر څوک چي	ړوند سو	په ده دی	او نه يم	زه	پر تاسی	ساتونکی

نو نفع ئی د خپل ځان ده او هرڅوک چي ړوند سو له دغه دلايلو څخه په ده (بار) دی او نه يم زه په تاسی ساتونکی.

لَا تُدۡرِكُهُ الۡاَبۡصَارُ ۫ وَهُوَ یُدۡرِكُ الۡاَبۡصَارَ

دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دليدلو مسئله:

انسان دالله جَلَّ جَلَالُهٗ زيارت کولای سي که يا ؟ په دې مسئله کي دټولو عالمانو اهل السنت والجماعت عقيده داده چي په دې دنيا کي دالله جَلَّ جَلَالُهٗ د ذات ليدل اوزيارت نسي کيدلای: وجه داده چي حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ کله چي دادرخواست وکی چي (ربّ ارنی) ای زماربه په ما باندي خپل زيارت وکه نو په جواب کي دالله جَلَّ جَلَالُهٗ د طرفه څخه ارشاد وسو (لن ترانی) ته هيڅکله ما نه سي ليدلی ظاهره خبره ده چي کله حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته داجواب حاصليږي نوبيا دبل پيري او انسان څه مجال دی ؟ البتّه په آخرت کي مومنانو ته دالله جَلَّ جَلَالُهٗ زيارت کيدل په صحيح او قوي متواترو احاديثو سره ثابت دي او په خپله په قرآن کريم کي موجود دي (وُجوه يومئذ ناضرة) الی ربّها ناظرةٌ) دقيامت په ورځ به ډير مخونه تر او تازه وي او خوشحاله به وي او دخپل رب طرف ته به ګوري البتّه کفار او مشرکين به په دغه ورځ دالله جَلَّ جَلَالُهٗ د زيارت څخه په پرده کي او محروم وي نور بيان په معارف القرآن کي وګوری.

(معارف القرآن ج۳ پ۷ ص ۲۰۴)

www.jamairahmani.org

وَ كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ

وَ كَذٰلِكَ	نُصَرِّفُ	الْاٰيٰتِ	وَلِيَقُوْلُوْا	دَرَسْتَ
او همداسی	راز راز بیانوو موږ	آیتونه	او لپاره د دی چي ووائی دوی	زده کړی دی تا

او همداسی راز راز بیانوو موږ آیتونه او لهپاره د دی چي ووائی دغه (کفار چي) لوستلی زده کړی دی دا قرآن

وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿١٠٥﴾ اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ

وَلِنُبَيِّنَهٗ	لِقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ	اِتَّبِعْ	مَآ	اُوْحِيَ
اولپاره د دی چي واضح بیان کړو دا قرآن	لهپاره د دغه قوم	چي پوهیږي	پیروی کوه	د دغه حکم	چي وحی کړی سوی دی

اوله پاره د دی چي واضح بیان کړو دا قرآن لهپاره د دغه قوم چي پوهیږي. پیروی کوه (محمده!) د دغه حکم چي وحی کړی سوی دی

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٦﴾

اِلَيْكَ	مِنْ	رَّبِّكَ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	وَاَعْرِضْ	عَنِ	الْمُشْرِكِيْنَ
تاته	له	رب ستا	نسته هیڅ	لایق د عبادت	مګر	هم دی	او مخ ګرځوه	له	مشرکانو

تاته له رب ستا نسته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی ، او مخ ګرځوه له مشرکانو .

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكُوْا ۭ وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ

وَلَوْ	شَآءَ	اللّٰهُ	مَآ اَشْرَكُوْا	وَمَا جَعَلْنٰكَ	عَلَيْهِمْ	حَفِيْظًا
او که	اراده فرمایلي وی	الله	نو شرک به نه وی کړی دوی	او نه ئی ګرځولي موږ ته	پر دوی	ساتونکی

او که اراده فرمایلي وی الله نو شرک به نه وی کړی دوی، او نه ئی ګرځولي موږ ته پر دوی ساتونکی

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿١٠٧﴾ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

وَمَآ اَنْتَ	عَلَيْهِمْ	بِوَكِيْلٍ	وَلَا تَسُبُّوا	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ
او نه ئی ته	پردوی	وکیل	او کنځل مه کوئ	هغو (معبودانو) ته	چي عبادت کوی دغه (کفار دهغو)

او نه ئی ته پر دوی وکیل. او کنځل مه کوئ هغو (معبودانو) ته چي عبادت کوی دغه (کفار دهغو)

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًاۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ كَذٰلِكَ

مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	فَيَسُبُّوا	اللّٰهَ	عَدْوًا	بِغَيْرِ	عِلْمٍ	كَذٰلِكَ
بی له	الله	نو کنځل به وکړی دوی	الله ته	په ناحقه سره	بی له	پوهی	په شان د دغه

بی له الله نو کنځل به وکړی دوی (هم) الله ته په ناحقه سره بی له پوهی (له خپل جهالته) ، په شان د دغه

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

شان نزول د ایت مبارکه :

دابن جریر رحمة الله علیه دروایت موافق دديْ آیت شان نزول دادی چي کله دنبي کریم ﷺ اکا ابو طالب دمرګ په مرض کي وو نو دقریشو مشرک سرداران کم چي دنبي کریم ﷺ په دښمنی او آزار رسولو کي لګیدلي وه او دقتل سازشونه يي کول ددوی سره دا فکر سو چي دابوطالب وفات به زموږ دپاره یوه مشکله مسئله جوړه سي ځکه چي تر ديْ وروسته که موږ محمد ﷺ قتل کي نو دا به زموږ دعزت او شرافت څخه خلاف وي ځکه چي خلګ به وايي دابوطالب په مخکي يي ورسره هيڅ نه سوای کولای او دهغه تر مرګ وروسته یوازي په لاس ورغی نو قتل يي کړی په ديْ وجه اوس وخت دی چي موږ یو ځای سوا و په خپله دابوطالب سره څه فیصله کوونکي خبره وکړو نو دوی یو وفد تیار کی او ابوطالب ته يي ورواستوی چي ابوسفیان ،ابوجهل ،عمروبن عاص او نور دقریشو سرداران شامل وه دابوطالب څخه دديْ وفد دملاقات دپاره دوخت اخیستو کار مطّلب نومي. پاته قصه پر راروان مخ وګوری.

www.jamairahmani.org

دتیرمخ پاته قصه دلته

وګورئ: یو سړي ته وسپارل سو هغه دابوطالب څخه وخت واخیستی او دا وفد یې هلته ورسوی وفد ابوطالب ته وویل چې ته زموږ مشر او سردار یې او تاته معلومه ده چې ستا وراره محمد ﷺ موږ ته او زموږ معبودانو ته سخت تکلیف او آزار رسولی دی موږ غواړو چې ته دې راوغواړې او پوه یې کې چې زموږ معبودانو ته بدې ردې نه وایي نو موږ به پر دې صلح وکړو چې هغه په خپل دین چې څنګه غواړي عمل دې کوي څوک چې غواړي معبود دې جوړوي موږ به ورته هیڅ نه وایو ابوطالب رسول الله ﷺ راوغوښتی او ورته یې وویل چې دا ستا دقام سرداران راغلي دي نبي کریم ﷺ دې وفد ته مخاطب سو وی فرمایل چې تاسې خلګ څه غواړئ؟ دوی ورته وویل چې زموږ خواهش دادی چې ته موږ او زموږ معبودان پرېږدې موږ به تا او ستا معبود سره پرېږدو خلاصه داده چې نبي کریم ﷺ دوی ته کلمه طیبه کښېښوول دوی دهغې دویلو څخه انکار وکی اووې ویل چې یا خو زموږ معبودانو ته بدمه وایه که نه وې نو موږ به تاته او ستا خدای ته ښکنځل کوو نو دا آیت نازل سو. (معارف القرآن بتغییر یسیر ج ۳ پ ۷ ص ۲۱۰)

زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ۠ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ مَّرْجِعُهُمْ

زَيَّنَّا	لِكُلِّ	اُمَّةٍ	عَمَلَهُمْ	ثُمَّ	اِلٰى رَبِّهِمْ	مَّرْجِعُهُمْ
ښائسته کړی موږ	هر	امت ته	عمل د دوی	بیا	رب د دوی ته	بیا ورتګ د دوی دی

ښائسته کړی موږ هر امت (فرقی) ته عمل د دوی بیا رب د دوی ته بیا ورتګ د دوی دی (په آخرت کښې)

فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝١٠٨ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ

فَيُنَبِّئُهُمْ	بِمَا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَاَقْسَمُوْا	بِاللّٰهِ
پس خبر به کړي (الله) دوی	په هغه شي	چې وو دوی	چې کاوه به	او قسمونه خوړی دغه	په الله باندی

پس خبر به کړي (الله) دوی په هغه شي چې وو دوی چې کاوه به دوی (په دنیا کې). او قسمونه خوړی دغه (کفار) په الله باندی

جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا

جَهْدَ	اَيْمَانِهِمْ	لَئِنْ	جَآءَتْهُمْ	اٰيَةٌ	لَّيُؤْمِنُنَّ	بِهَا
په ډېرو سختو	قسمونو خپلو سره	چې خامخا که	راغله دوی ته	هغه معجزه	نو هرومرو به ایمان راوړي	پرهغې

په ډېرو سختو قسمونو خپلو سره چې خامخا که راغله دوی ته هغه معجزه چې دوی ئې غواړي نو هرومرو به ایمان راوړي پرې

قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ ۙ اَنَّهَآ

قُلْ	اِنَّمَا	الْاٰيٰتُ	عِنْدَ	اللّٰهِ	وَمَا يُشْعِرُكُمْ	اَنَّهَآ
ووایه	بیشکه! خبره دا ده	چې معجزې	په نزد	د الله دی	او څه شی خبر کړي ئې تاسی	بیشکه! دا معجزې

ووایه (ای محمده!) بیشکه! خبره دا ده چې معجزې په نزد د الله دی او څه شی خبر کړي ئې تاسی بیشکه! دا معجزې

اِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٠٩ وَنُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ كَمَا

اِذَا	جَآءَتْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَنُقَلِّبُ	اَفْـِٕدَتَهُمْ	وَاَبْصَارَهُمْ	كَمَا
کله چې	راسی	نه راوړي ایمان دوی	او آړوو موږ	زړونه د دوی	او سترګی د دوی	لکه چې

کله چې راسی (دوی ته) نه راوړي ایمان دوی. او آړوو موږ زړونه د دوی او سترګی د دوی لکه چې

ع ۱۳ ۱۹ لَمْ يُؤْمِنُوْا بِهٖۤ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّنَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝١١٠ ع

لَمْ يُؤْمِنُوْا	بِهٖۤ	اَوَّلَ	مَرَّةٍ	وَّنَذَرُهُمْ	فِيْ	طُغْيَانِهِمْ	يَعْمَهُوْنَ
ایمان ئې نه دی راوړی	په هغه	اول	واری	او پرېږدو موږ دوی	په	ګمراهی د دوی کښې	حال دا چې دوی متحیران دی

ایمان ئې نه دی راوړی په هغه اول واری او پرېږدو موږ دوی په ګمراهی د دوی کښې حال دا چې دوی متحیران او مترددان دی.

www.jamairahmani.org